

فتح الهداية

هداية

صداقت کتب خانه

وَاللّٰهُ يَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ [القرآن]

فتح الهدايه

پښتو شرح

هدايه

د اول ځل لپاره په آسانه معياري پښتو
د هدايې يوه جامع شرحه

د حديثونو تخريج
د متن بشپړ اعراب
صرفي تحقيق
د لغاتو حل

پر فقهي او ضروري معلوماتو
مشتمله يوه جامع مقدمه

تعيين د قول راجح
د هري جملې تر څنګ ژباړه
د عنواناتو اضافه
صورت د مسئلې

دريم ټوک

كتاب النكاح - فصل فيما تحل به المطلقة

ژباړه او ترتيب:
مولوی حبيب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربيه

صداقت كتب خانه

التقريظ الرابع لشيخ الدعوة والارشاد العالم الصمداني
مولوي اطيع الله صاحب دامت فيضه الجاري

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله وليّ الفقهاءِ العاملينَ القائلِ فِي محكمِ تنزيله: ﴿فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ﴾، والصّلاةُ والسلام على رسوله الأمين قائدِ الغرّ الميامينِ الّذى حَضّ عَلَى التّفقّه فِى الدين فقال: "مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ"، وعَلى اٰله وَصَحْبِه إلى يوم الدين، ومن تبعهم بإحسان من المؤمنين؛ وبعد:

فخيرُ شُغْل المؤمن مَعرفة الحلال من الحرام والصحيح من الفاسد، وحُسْنِ حظّ الفقهاء فعلْمُ الفقه كلُّه مبنىٌ على هٰذا، وعليه ما فيه، وقد صُنّفَتْ وأُلّفَتْ كتبٌ كثيرةٌ فى هٰذا الفنّ يُمكن أنّ لا يُحصيها العدّ لا سيّما فى الفقه الحنفىّ منه. وكتاب الهداية للمرغيناني رَحِمَهُ الله من اعظم الكتب فى الفقه الحنفى ولا يخفىٰ علىٰ أحدٍ من أهل العلمِ منزلتُه وأساسيّتُهُ فى الفقه الحنفىّ؛ فنظراً لأهمّية هٰذا الكتاب قام العلماء بشرحه مرارًا فى القديم والحديث بلُغاتٍ مختلفة إلّا أن كل شارح راعىٰ فى شرحه استعداد الطلبة مِنْ أهل زمانه، فَشَرَحَهُ حسب ذكائهم فى ذاك الزمان كفتح القدير والعناية وغير ذٰلك من الشروحات، أمّا فى عصرنا فنرى الإنحطاط العلمىّ ورغبة الطلبة عن العلم يزداد يوماً فيوماً وتَكْثُرُ البلادةُ ويذهب الذكاءُ فى العلم، ولمّا كان "الهداية" كتابٌ تعمّقتْ معانيه وعباراتُه لا سيّما على طلبة عصرنا هٰذا، اشْتَدّ الاحتياجُ إلى شرحه شرحاً بسيطاً ومُوجَزًا محتويًا علىٰ كلّ ما يحتاج إليه الطالب من: ① إعرابِ العبارة ② والتحقيق الصرفى لصيغه المشكلة ③ وحل مشكل اللغات ④ وتعيين القول الراجح فيه ⑤ وصُوَرِ مسائله بنهجٍ بسيط؛ فكان هٰذا الاحتياج باقياً وخاصةً فى اللغة البشتو، وقد لبّىٰ هٰذا الاحتياجَ الشرحُ المُسمّى "بفتح الهداية" رتّبه أخونا فى الله الفاضل الشابُ صاحبُ القلم حبيب الرحمٰن المدنى "أدام الله خدمته للعلم"، قد قدّم لي نسخةً من هٰذا الشرحِ للنّظر فيه، فسرّحتُ النظر فى بعض مواضع منه؛ فوجدتُه أحسن شرحٍ فى هٰذه اللغة مُعلّلاً بالتحقيق الصرفى وإعرابِ حسن وصُوَرِ مسائلِ بحيث يُمكن أن يستفيد منه الخاصّ والعام، وسيجد القارئُ كل ما وَصَفْتُه فى هٰذا الشرح حينما يطالعه؛ فجزى الله راقمه على هٰذا العمل الشاقّ خير الجزاء، وأفادَ به كُلّ طالبِ خير الإفادة، وأرجوا المولى أن يجعله فى ميزان حسناته إنه سميعٌ قدير، وبالإجابة جدير.

المُصدّق

اطيع الله عفى عنه

خادم الأحاديث النبوية على صاحبها ألف صلوة

في الجامعة الاسلامية علامه تاون چمن

۱۶/ رمضان المبارک/ ۱۴۳۸ ھ

الصورة الأصلية لتقريظ شيخ مولوي اطيع الله صاحب

الحمد لله ولي الفقهاء العاملين القائل في محكم تنزيله: فلولا نفر من كل فرقة منهم طائفة ليتفقهوا في الدين. والصلاة والسلام على رسوله الأمين قائد الغر الميامين الذي حض على التفقه في الدين. فقال من يرد الله به خيراً يفقهه في الدين وعلى اله وصحبه إلى يوم الدين ومن تبعهم بإحسان من المؤمنين. وبعد. فخير شغل المؤمن معرفة الحلال من الحرام والصحيح من الفاسد وهذا حظ الفقهاء فعلم الفقه كله مبني على هذا وفيه ما فيه وقد صنفت وألفت كتب كثيرة في هذا الفن يمكن ان لا يحصيها العد لا سيما في الفقه الحنفي منه. وكتاب الهداية للمرغيناني رحمه الله من أعظم الكتب في الفقه الحنفي ولا يخفى على أحد من أهل العلم منزلته وأساسيته في الفقه الحنفي فنظراً لأهمية هذا الكتاب قام العلماء بشرحه مراراً في القديم والحديث بلغات مختلفة إلا أن كل شارح راعى في شرحه استعداد الطلبة من اهل زمانه فشرحه حسب ذكائهم في ذالك الزمن كفتح القدير والعناية وغير ذالك من الشروحات أما في عصرنا فنرى الإنحطاط العلمي ورغبة الطلبة من العلم يزداد يوما فيوما وتكثر البلادة ويذهب الذكاء في العلم ولما كان كتاب الهداية كتاب تعمقت معانيه وعباراته لا سيما على طلبة عصرنا هذا اشتد الاحتياج إلى شرحه شرحاً بسيطاً وموجزاً محتوياً على كل ما يحتاج اليه الطالب من إعراب العبارة والتحقيق الصرفي لصيغه المشكلة وحل مشكل اللغات وتعيين القول الراجح فيه وصور مسائله بنهج بسيط فكان هذا الاحتياج باقيا وخاصة في اللغة البشتو وقد لبى هذا الاحتياج الشرح المسمى بفتح الهداية رتبه أخونا في الله .... الفاضل الشاب صاحب القلم حبيب الرحمن المدني ادام الله خدمته للعلم قد قدم لي نسخة من هذا الشرح للنظر فيه فسرحت النظر في بعض مواضع منه فوجدته أحسن شرح في هذه اللغة محلى بالتحقيق الصرفي وإعراب حسن وصور مسائل بحيث يمكن ان يستفيد منه الخاص والعام وسيجد القارئ كل ما وصفته في هذا الشرح حينما يطالعه فجزى الله راقمه على هذا العمل الشاق خير الجزاء وأفاد به كل طالب خير الإفادة وأرجو المولى أن يجعله في ميزان حسناته انه سميع قدير وبالإجابة جدير

المصدق أخوكم في الله اطيع الله عفي عنه

خادم الاحاديث النبويه على صاحبها الف صلواة وسلام

في الجامعة الاسلاميه (علامه تناقون) چمن

١٦ رمضان المبارك ١٤٣٩ هج بمطابق [illegible] 2018

فهرس

بَابُ القَسْمِ ۳۵۱

كِتَابُ الرَّضَاعِ ۳۵۸



كِتَابُ النِّكَاحِ

(دا) کتاب د نکاح (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: کله چې مصنف رَحِمَهُ الله له حج او نورو عباداتو څخه فارغ سو، نو اوس د "معاملاتو" په بیان شروع کوي، او د قدوري د متن په خلاف اول د "نکاح" په بیان شروع کوي؛ ځکه نکاح په یوه اعتبار سره "عبادت" دی، او په بل اعتبار سره د خاوند او ښځې په مینځ کې "معامله" ده، عبادت ځکه دی چې نکاح کول د انبیاءِ کرامو یو اهم سنت دی، او په دې سره د انسان نیم دین او ایمان پوره کیږي؛ او معامله ځکه ده چې د دې په ذریعه انسان د ښځې د یوې اهمې حصې (یعني د بُضع) مالک ګرځي، نو کله چې نکاح عبادت هم دی، او معامله هم ده، نو ځکه یې تر عباداتو وروسته ذکر کړه، او تر کتابُ البیوع یې مخکې ذکر کړه، ځکه هغه خالص معاملات دی، د عبادت هیڅ معنیٰ پکښې نسته. (او په قدوري کې کتابُ النکاح تر کتابُ البیوع وروسته ذکر سوی دی).

د نکاح لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د نکاح لغوي معنیٰ ده: "جمع کول، سره یوځای کول".

د نکاح شرعي او اصطلاحي معنیٰ ده: "هُوَ عَقْدٌ يُفِيْدُ مِلْكَ الْمُتْعَةِ"، (یعني نکاح یو داسې عقد دی چې د هغه په ذریعه انسان د ملکِ مُتعه [بضع] مالک کیږي).

څرنګه چې نکاح په لغت کې "ضم" او "جمع کولو" ته وایي او دا معنیٰ په عملي توګه په "وطي" کې سته، نو ځکه نکاح د حقیقت له رویه د وطي په معنیٰ سره استعمالیږي، او څرنګه چې "عقدِ نکاح" د "قدرت علی الوطي" سبب دی، نو ځکه نکاح مجازاً د "عقد" په معنیٰ سره هم استعمالیږي.

د نکاح قسمونه: په شرعي توګه د نکاح درې (۳) قسمونه دي: ① سنتِ مؤکده، ② واجب، ③ مکروه.

که انسان د ښځې پر نفقه او خرچه قادر وي، او د مهر اداء کولو طاقت لري، او پر جماع هم قدرت لري، نو په داسې حال کې نکاح کول سنتِ مؤکده دي.

پر پورتنیو شیانو د قدرت لرلو سره، سره که د انسان خواهشِ او شوق د ښځو طرف ته غالب او ډېر زیات وي، نو په داسې صورت کې نکاح کول واجب دي.

او که په پورتنیو شیانو کې انسان پر یوه شي قدرت نه لري، نو بیا نکاح مکروه ده، یعني په داسې صورت کې نکاح نه کول غوره دي.

صاحب د بدائع علامه کاساني رَحِمَهُ الله د نکاح یو بل قسم هم بیان کړی دی، او هغه دا چي د شهوت د غلبې (یعني د توقان) او په زنا د اخته کېدلو په صورت کي نکاح کول فرض دي.

تاسي دا یو جلا قِسم وګڼئ! یا یې د واجب نکاح مترادف (هَم معنی) وګڼئ!

د نکاح تړلو طریقه

قَالَ فرمایي اَلنِّكَاحُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيجَابِ وَالْقُبُوْلِ نکاح تړل کیږي په ایجاب او قبول سره بِلَفْظَيْنِ د دوو داسي لفظونو په ذریعه يُعَبَّرُ بِهِمَا عَنِ الْمَاضِيْ چي په هغه دواړو لفظونو سره تعبیر کیږي له ماضي صیغې څخه [یعني چي هغه دواړه لفظونه په ماضي صیغه سره بیان کړل سي] لِأَنَّ الصِّيْغَةَ وَإِنْ كَانَتْ لِلْإِخْبَارِ وَضْعًا ځکه د ماضي صیغه که څه هم د "خبر ورکولو" لپاره وضع سوې ده فَقَدْ جُعِلَتْ لِلْإِنْشَاءِ شَرْعًا لیکن په شرعي توګه د انشاء لپاره متعیّنه سوې ده دَفْعًا لِلْحَاجَةِ د حاجت لیري کولو لپاره وَيَنْعَقِدُ بِلَفْظَيْنِ او [همدارنګه] په دوو داسي لفظو سره [هم] تړل کیږي يُعَبَّرُ بِأَحَدِهِمَا عَنِ الْمَاضِيْ چي په یوه سره تعبیر کیږي له ماضي څخه [یعني د ماضي له صیغې څخه] وَبِالْآخَرِ عَنِ الْمُسْتَقْبَلِ او په بل سره [تعبیر کیږي] له مستقبل څخه مِثْلُ: أَنْ يَقُوْلَ مثلاً: [له خاوند او ښځي څخه یو] داسي ووایي زَوِّجْنِيْ زَوِّجْنِيْ (زما سره نکاح وکړه!) فَيَقُوْلُ: زَوَّجْتُكَ او ابل په جواب کي ورته] ووایي: زَوَّجْتُكَ (ما ستا سره نکاح وکړه) لِأَنَّ هٰذَا تَوْكِيْلٌ بِالنِّكَاحِ ځکه چي دا [د زَوِّجْنِيْ ویل] د نکاح وکیل جوړول دي وَالْوَاحِدُ يَتَوَلّٰى طَرَفَيِ النِّكَاحِ او [فقط] یو سړی [هم] وکیل جوړېدای سي د نکاح د دواړو طرفونو [یعني د ایجاب او قبول] عَلٰى مَا نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى لکه [آینده] چي به مورږ د دې هغه بیان وکړو، انشاء الله تعالیٰ.

اللغات: ﴿يَنْعَقِدُ﴾ د اِنفعال مضارع ده: مقرر کېدل، قایمېدل، تړل کېدل. ﴿إِيجَاب﴾ د اِفعال مصدر دی: واجبول، لازمول (دلته څني مراد هغه کلام دی چي د نکاح د عقد په باره کي اول د عاقدینو له طرفه صادر سي). ﴿قَبُوْل﴾ او ﴿قُبُوْل﴾: د سمع مصدر دی: قبلول (قبولول)، منظورول، منل (دلته څني مراد هغه کلام دی چي تر ایجاب وروسته د بل عاقد له طرفه صادر سي). ﴿يُعَبَّرُ﴾ د تفعیل مضارع مجهوله صیغه ده: تعبیرول، بیانول. ﴿إِخْبَار﴾ د إفعال مصدر دی: خبر ورکول (خبرول). ﴿إِنْشَاء﴾ دا هم د إفعال مصدر

دی: پيدا كول، ايجادول (خلقول). ﴿تَوْكِيل﴾ د تفعيل مصدر دی: وكيل جوړول، نايب جوړول (اختيار وركول).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي كله سړی او ښځه د شرعي ګواهانو په حضور كي د ماضي په صيغه سره ايجاب او قبول وكړي، نو د هغو نكاح وتړل سوه (او ښځه د سړي زوجه [ماينه] سوه)، مثلاً سړی ايجاب وكړي او ووايي: "زَوَّجْتُكِ" (ما ستا سره نكاح وكړه)، نو اوس كه ښځه د سړي دا ايجاب قبول كړي او "قَبِلْتُ يا رَضِيْتُ يا زَوَّجْتُ نَفْسِيْ مِنْكَ" د ماضي په صيغه سره ووايي، نو د دواړو په مينځ كي نكاح وتړل سوه، اوس دوی ته خاوند او ښځه (ماينه) ويل كېدای سي، او يو تړلېه ازدواجي تعلقات قايمولای سي.

بِلَفْظَيْنِ: په عبارت كي د "بِلَفْظَيْنِ" په قيد سره و دې طرف ته اشاره ده چي ايجاب او قبول به لفظي وي يعني په خوله سره به ذكر سوي وي، په تحريري ايجاب او قبول سره نكاح نه سي تړل كېدای. يعني د خط او نوشتې په ذريعه په ايجاب او قبول سره نكاح قائميږي.

يعبّربهما عن الماضي: يعني د ايجاب او قبول دواړه لفظونه به فعلِ ماضي وي، بيا نكاح تړل كيږي.

لأن الصيغة إلخ: په دې جمله سره مصنف رَحِمَهُ الله د يو إشكال جواب وركوي، او د جواب په ضمن كي د دې خبري دليل هم بيانوي چي ايجاب او قبول به ولي د ماضي په صيغه سره وي؟، إشكال دا دی چي نكاح د إنشاء له قبيلې څخه ده، ځكه د إنشاء معنیٰ ده: "إِثْبَاتُ مَا لَمْ يَكُنْ ثَابِتًا" (نا ثابت شی ثابتول)، او دا معنیٰ په نكاح كي سته، ځكه چي نكاح يو داسي شی ثابتوي كوم چي تر دې مخكي ثابت نه وي (يعني اِسْتِمْتَاع بِالْمَرْأَةِ) لهذا كله چي په نكاح كي د إنشاء معنیٰ سته، نو بايد د نكاح د انعقاد او تړون لپاره داسي لفظ مقرر سي چي هغه صراحتاً د إنشاء پر معنیٰ دلالت كوي، لېكن تاسو د ماضي صيغه د نكاح د تړلو لپاره مقرره كړې ده، د ماضي صيغه خو د إنشاء لپاره وضع سوې نه ده، بلكي د إخبار لپاره وضع سوې ده، يعني د داسي شي د خبر وركولو لپاره وضع سوې ده چي هغه په تېره زمانه كي واقع سوی وي، او نكاح خو په راروان وخت كي تړل كيږي، نو د ماضي په صيغه سره به د نكاح تړل څرنګه صحيح وي؟

د دې إشكال او اعتراض په جواب كي مصنف رَحِمَهُ الله وايي: "لأن الصيغة وإن كانت ..." يعني موږ هم دا منو چي د ماضي صيغه د إخبار لپاره وضع سوې ده، [illegible] د إنشاء پر معنیٰ باندي د دلالت كولو لپاره په شريعت كي هيڅ صيغه نه ده وضع سوې، او إنشاء ته ضرورت سته.

ځکه چي د إنشاء سره اړوند مسئلو او أحکامو ته هر وخت د خلکو ضرورت پيښيږي، نو د دې ضرورت د مخنيوي لپاره د ماضي صيغه د إنشاء لپاره منتخب او متعين سوه.

د دې خبري چي "ايجاب او قبول به دواړه د ماضي په صيغه سره وي" دويم دليل دا دی چي په قرآن کريم کي هم د ايجاب او قبول لپاره د ماضي صيغه استعمال سوې ده، الله تعالیٰ فرمايي: ﴿فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا﴾ [سورة الأحزاب:٣٧]، په دې آيت کي "زَوَّجْنَا" د ماضي صيغه ده، او په حديث کي هم د ايجاب او قبول لپاره د ماضي صيغه استعمال سوې ده.

وينعقد بلفظين إلخ: د نکاح تړلو دويم شکل دا دی چي د ايجاب او قبول دواړه لفظونه د ماضي په صيغه سره نه وي، بلکي يو د أمر صيغه وي چي هغه ته د مستقبل صيغه وايي، او دويم د فعلِ ماضي صيغه وي، نو په دې صورت کي هم نکاح تړل کيږي، مثلاً له عاقدَينو څخه سړی د امر صيغه استعمال کړي او داسي ووايي: "زَوِّجْنِيْ" (يعني ته خپل ځان زما په نکاح کړه!، او زما سره نکاح وکړه!) او ښځه خپل ځان د هغه په نکاح کړي، نو نکاح وتړل سوه (او ښځه د سړي زوجه سوه).

لأن هٰذا إلخ: له دې ځايه دليل بيانوي چي په دې صورت کي که څه هم دواړه لفظونه د ماضي صيغې نه دي، خو بيا هم د نکاح د صحيح کېدلو دليل دا دی چي "زَوِّجْنِي" ويل ايجاب نه دی، بلکي د نکاح وکيل جوړول دي، ګواکي د "زَوِّجْنِي" په ويلو سره سړي ښځه د خپل نکاح وکيله جوړه کړه، او په نکاح کي يو انسان (شخصِ واحد) له دواړو طرفونو څخه وکيل جوړېدای سي، نو دلته ښځه د نکاح د دواړو طرفونو يعني د ايجاب او قبول دواړو وکيله جوړه سوه، او هغې د ماضي صيغه استعمال کړې ده، نو ګواکي د ايجاب او قبول دواړو لپاره يې د ماضي صيغه استعمال کړه، نو ځکه به په دې صورت کي هم نکاح تړل کيږي. خلاصه دا چي کله په نکاح کي وکيل ماضي صيغه استعمال کړه، نو ګواکي له دواړو طرفونو څخه د ماضي صيغه استعمال سوه، ځکه چي شخصِ واحد د نکاح د دواړو طرفونو متولي او وکيل جوړېدای سي.

لېکن په بيع او شراء کي شخصِ واحد د دواړو طرفونو وکيل نه سي جوړېدای، يعني يوازي يو انسان ايجاب او قبول دواړه نه سي کولای، د دې دليل او تفصيل به په "کتابُ البيوع" کي بيان سي، په "عَلٰى مَا نُبَيِّنُه" سره يې همدې ته اشاره کړې ده.

د نكاح تړلو الفاظ

وَيَنْعَقِدُ [همدارنګه] نکاح تړل کيږي بِلَفْظِ النِّكَاحِ په لفظ سره د نکاح وَالتَّزْوِيجِ وَالْهِبَةِ او [په لفظ سره] د تزويج او هبې وَالتَّمْلِيكِ وَالصَّدَقَةِ او [په لفظ سره] د تمليک او صدقې وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ او ويلي دي امام شافعي رَحِمَهُ الله لَا يَنْعَقِدُ إِلَّا بِلَفْظِ النِّكَاحِ وَالتَّزْوِيجِ چې نکاح نه تړل کيږي مګر په لفظ سره د نکاح او [په لفظ سره] د تزويج لِأَنَّ التَّمْلِيكَ لَيْسَ حَقِيقَةً فِيهِ ځکه چې تمليک خو نه په نکاح کې حقيقت دی وَلَا مَجَازًا عَنْهُ او نه له نکاح څخه مجاز دی ايعني نه حقيقتاً په نکاح کې تمليک سته او نه د مجاز په اعتبار سره] لِأَنَّ التَّزْوِيجَ لِلتَّلْفِيقِ ځکه چې تزويج د تلفيق (مبنلولو) لپاره دی وَالنِّكَاحَ لِلضَّمِّ او نکاح د ضم (يو ځای کولو) لپاره ده وَلَا ضَمَّ وَلَا ازْدِوَاجَ بَيْنَ الْمَالِكِ وَالْمَمْلُوكَةِ أَصْلًا او د مالک او مملوک په مينځ کې نه څه ضم سته او نه ازدواج وَلَنَا او زموږ دليل دا دی أَنَّ التَّمْلِيكَ سَبَبٌ لِمِلْكِ الْمُتْعَةِ فِي مَحَلِّهَا چې تمليک د متعې په محل کې د ملک متعې سبب دی بِوَاسِطَةِ مِلْكِ الرَّقَبَةِ په واسطه سره د ملک رقبې [يعني که څوک د رقبې يعني د مينځې مالک سي نو د دې په سبب سره د ملک متعې يعني د وطي او جماع هم مالک کيږي] وَهُوَ الثَّابِتُ بِالنِّكَاحِ او ملک متعه د نکاح په ذريعه ثابت دی [يعني ملک متعه حقيقتاً په نکاح سره ثابتيږي] وَالسَّبَبِيَّةُ طَرِيقُ الْمَجَازِ او سببيت [هم] د مجاز لاره [او د مجاز علاقه] ده.

اللغات: ﴿تَزْوِيج﴾ د تفعيل مصدر دی: واده ورکول، نکاح ورکول (نکاح تړل)، ﴿هِبَة﴾ تحفه ورکول، هديه ورکول، ﴿تَلْفِيق﴾ د تفعيل مصدر دی: دوه شيان سره مبنلول (لګول)، ﴿ضَمّ﴾ د نصر مصدر دی: يو شی د بل شي سره يو ځای کول (جمع کول)، ﴿اِزْدِوَاج﴾ د افتعال مصدر دی: نکاح، واده، (مبنلول، لګول)، ﴿مِلک متعه﴾ (له ښځي څخه) د نفع اخيستلو ملکيت، يعني د ښځي سره د جماع او وطي کولو حق، د "ملک بِضعه" هم دغه معنیٰ ده، ﴿مِلک رقبه﴾ د غاړي ملکيت، يعني د غلام او مينځي مالک کېدل.

تشريح: په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ الله موږ ته دا راښيي چې په کومو الفاظو سره نکاح تړل کېدای سي، او په کومو الفاظو سره نه سي تړل کېدای سي. نو فرمايي چې زموږ په نېز د نکاح په لفظ

سره، د تزويج په لفظ سره، د هبې په لفظ سره، د تمليک په لفظ سره او د صدقې په لفظ سره نکاح تړل کيږي، مثلاً داسي ووايي: نَكَحْتُ. يا تَزَوَّجْتُ، يا وَهَبْتُ، يا مَلَّكْتُكَ، يا صَدَقْتُكَ، نو په دې الفاظو سره نکاح تړل کيږي، د امام مالک رَحِمَهُ الله قول هم دغه دی.

لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز صرف په دوو لفظونو سره يعني په نکاح او تزويج سره نکاح تړل کېداى سي، له دغه دوو څخه پرته په هبه، تمليک، صدقه او په داسي نورو الفاظو سره د دوی په نېز نکاح نه تړل کيږي.

دليل: د امام شافعي او امام محمد دليل دا دی چي په هر لفظ کي فقط دوه احتماله وي: (١) يا به هغه په خپله حقيقي معنىٰ سره مستعمل وي، (٢) يا به په مجازي معنىٰ سره مستعمل وي، او موږ وينو چي د تمليک لفظ نه د نکاح او تزويج حقيقي معنىٰ ده او نه يې مجازي معنىٰ ده.

حقيقي معنىٰ يې ځکه نه ده چي د نکاح حقيقي معنىٰ دا ده: "ضم او يوځای کول"، همدارنګه د تزويج حقيقي معنىٰ ده: "تلفيق او مبلول"، اوس که چيري تمليک ته يا هبې او نورو الفاظو ته هم دا معنىٰ ورکول سي، نو په دوی کي به ترادُف راسي او دا د حقيقيت او اصليت منافي دي، نو په دې وجه په تمليک او داسي نورو الفاظو سره د نکاح او تزويج حقيقي معنىٰ نه سي اداء کېدلای؛ او مجازي معنىٰ يې ځکه نه ده چي د مجاز لپاره مشاكلت او مجانست في المعاني ضروري دی، او د نکاح، تزويج او تمليک په مينځ کي معناً هيڅ مشاكلت نسته، ځکه چي د مالک او مملوک په مينځ کي منافات او تباين دی، او د تباين سره مناسبت او مشاكلت نه ثابتيږي، حال دا چي د مجاز لپاره دا دواړه خبري ضروري دي، لهذا تمليک او داسي نور الفاظ د نکاح او تزويج مجازي معنىٰ هم کېدلای نه سي، او څرنګه چي په هر لفظ کي فقط همدغه دوه احتماله وي، او په تمليک او نورو کي دا دواړه نسته، نو ځکه به په تمليک او نورو الفاظو سره نکاح نه تړل کيږي.

زموږ دليل: دا دي چي ستاسو دا دعوىٰ صحيح نه ده چي په تمليک او داسي نورو الفاظو کي د نکاح او تزويج مجازي معنىٰ نسته؛ ځکه چي د مجاز له علاقو څخه يوه مهمه علاقه د "سببيت" ده، او په تمليک او نورو الفاظو کي دا علاقه موجوده ده، ځکه چي د ملک رقبه په واسطه سره تمليک (يعني د مينځي مالک کېدل) سبب جوړيږي د ملک متعې، په دې شرط چي مملوک د متعې محل وي، يعني [illegible]

نو ملک متعه خو حقیقتاً په نکاح سره حاصلیږي، مګر په مینځه کې په تملیک سره حاصلیږي، نو ګواکې تملیک د ملک متعې سبب سو، او سببیّت د مجاز علاقه او د مجاز لاره ده. نو ځکه به تملیک او نور الفاظ د نکاح او تزویج مجازي معنیٰ وي، او څرنګه چې په حقیقي معنیٰ لرونکو الفاظو سره یعني په نکاح او تزویج سره نکاح ترل کیږي، نو همداسې به د نکاح په مجازي معنیٰ لرونکو الفاظو یعني په تملیک، هبه او داسې نورو سره هم نکاح ترل کیږي.

هغه الفاظ چې نکاح نه په ترل کیږي

وَيَنْعَقِدُ بِلَفْظِ الْبَيْعِ او په لفظ د "بیع" سره [هم] نکاح ترل کیږي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحیح قول دی لِوُجُودِ طَرِيْقِ الْمَجَازِ ځکه چې [د تملیک په څیر دلته هم] د مجاز لار سته وَلَا يَنْعَقِدُ بِلَفْظِ الْإِجَارَةِ فِي الصَّحِيحِ او نکاح نه ترل کیږي د "إجارې" په لفظ سره د صحیح قول مطابق لِأَنَّهُ لَيْسَ بِسَبَبٍ لِمِلْكِ الْمُتْعَةِ ځکه چې اجاره د ملک متعې سبب نه ده وَلَا بِلَفْظِ الْإِبَاحَةِ وَالْإِحْلَالِ وَالْإِعَارَةِ او نه [نکاح ترل کیږي] په لفظ د "إباحت" او "إحلال" او "اعارې" سره لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې مونږ بیان کړی وَلَا بِلَفْظِ الْوَصِيَّةِ او نه [نکاح ترل کیږي] په لفظ سره د "وصیت" لِأَنَّهَا تُوجِبُ الْمِلْكَ ځکه چې وصیت یو داسې ملکیت ثابتوي مُضَافًا إِلَى مَا بَعْدَ الْمَوْتِ کوم چې منسوب وي تر مرګ وروسته [وخت] ته [یعني وصیت تر مرګ وروسته ملکیت ثابتوي].

اللغات: ﴿إِجَارَةٌ﴾ د إفعال مصدر دی: د کرایې معامله، په کرایه ورکول. ﴿إِبَاحَةٌ﴾ مخکنۍ صیغه ده، روا کول، حلال کول. ﴿إِحْلَالٌ﴾ مخکنۍ صیغه ده: حلال کول. ﴿إِعَارَةٌ﴾ مخکنۍ صیغه ده: په پور ورکول. تملیک المنفعة بلا عوض ("بېله عوضه یوشی ورکول" یعني که یو سړی له بل چا څخه خواست وکړي چې د یو څو وخت لپاره ستا فلانکی شی راکړه! زه به کار (نفع) ځنې واخلم، او بیا هغه بیرته درکوم) که دا بل څوک هغه ته په شي بدل ورکړي نو دې ته إعاره ورکول وايي.

تشریح: په دې عبارت کې هم مصنف رَحِمَهُ الله د نکاح الفاظ بیان کړي دي، فرمايي چې د صحیح قول مطابق د بیع په لفظ سره نکاح ترل کیږي (یعنې که سړی یا ښځه یې ووايي "بِعْتُكَ نَفْسِي" او ولي یې الفاظ "قَبِلْتُ یا نَعَمْ" یا داسې نور د قبولیت الفاظ ووايي نو نکاح ترل کیږي)، ځکه چې د تملیک په څیر د بیع په لفظ کې هم د مجاز طریقه او علاقه موجوده ده، یعني څرنګه چې په تملیک کې د ملک رقبې په واسطه سره ملک متعه ثابتیږي، همدارنګه په بیع کې هم انسان په رانیولو سره د مینځې او داسې

نورو مالک جوړيږي، او د ملک رقبې ملکيت د ملک متعې سبب جوړيږي، او مخکې موږ وويل چې د تمليک په لفظ سره نکاح تړل کيږي (ځکه چې په تمليک کې د مجاز علاقه [سببيّت] سته)، لهذا د بيع په لفظ سره به هم نکاح تړل کيږي.

هو الصحيح: همدا صحيح او متعمد قول، په دې قيد سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د امام ابو بکر اعمش له قول څخه احتراز کړی دی، امام اعمش رَحِمَهُ الله وايي چې د بيع په لفظ سره نکاح نه تړل کيږي، ځکه چې دا لفظ خاص د تمليکُ المال لپاره وضع سوی دی، او په نکاح سره د مال تمليک نه کيږي، نو ځکه به د بيع په لفظ سره نکاح نه تړل کيږي؛ ليکن زموږ له طرفه هغه ته جواب دا دی چې د بيع لفظ خو حقيقتاً د تمليک مال لپاره وضع سوی دی، نه مطلقاً او مجازاً (يعني مجازاً په بيع سره تمليک مراد کېدلای نه سي)، او د نکاح په مسئله کې موږ مجازاً د بيع په لفظ سره نکاح تړل صحيح ګرځولي دي، او په دې سره د بيع پر حقيقي معنیٰ هيڅ اثر او اغېز نه پرېوځي، نو ځکه به د بيع په لفظ سره هم نکاح تړل صحيح وي.

ولاينعقد بلفظ الإجارة إلخ: فرمايي چې د صحيح قول مطابق د إجارې په لفظ سره نکاح نه تړل کيږي، ځکه چې اجاره د ملک متعه سبب نه ده، ځکه چې په اجاره سره انسان د يو شي د عين (ذات) نه مالک کيږي، بلکې د يو څو وخت لپاره له هغه څخه د نفع اخيستلو مالک کيږي، او د جماع حق د اجارې په توګه نه سي ترلاسه کېدای، نو که يو څوک مثلاً مينځه په کرايه واخلي، نو په هغې خدمت کولای سي، ليکن جماع نه سي ور سره کولای، ځکه چې د جماع حق په اجاره او کرايه سره نه سي اخيستل کېدای، هغه فقط د نکاح په ذريعه سره يا د مينځې په ملکيت (ملک رقبه) سره حاصليږي، لهذا د اجارې په لفظ سره د سببيت په توګه ملکِ متعه (يعني نکاح) مرادول صحيح نه دي، نو ځکه به د اجارې په لفظ سره نکاح نه تړل کيږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دلته هم د "صحيح" قيد لګولی دی، په دې سره د هغه مقصد د امام کرخي رَحِمَهُ الله له قول څخه احتراز دی، ځکه چې د امام کرخي په نېز د اجارې په لفظ سره هم نکاح تړل کېدای سي.

ولا بلفظ الإباحة إلخ: فرمايي چې د إباحت، إحلال او إعارې په الفاظو سره هم نکاح نه تړل کيږي، مثلاً ښځه داسې ووايي چې ما خپل ځان ستا لپاره مباح يا حلال کړی، يا تا ته مې خپل ځان په عاريت در کړی، نو په دې سره نکاح نه قايميږي، ځکه چې دا الفاظ د ملک متعې سبب نه دي، إباحت او إحلال خو ځکه د ملکِ متعې سبب نه دي چې په دې لفظ سره بالکل ملکيت نه ثابتيږي، همدا وجه

ده که څوک د بل چا لپاره یو شئ مباح او حلال کړي، نو دا بل څوک د دې شي مالک کېدلای نه سي. لهذا کله چي د إباحت او إحلال په لفظ سره انسان د يو مباح شي هم نه سي مال کېدلای، نو په دې سره به نکاح څرنګه ثابته سي! (نکاح خو د مال په عوض کي د ملک متعې حاصلولو ته وايي)؛ او إعاره هم د ملک متعې سبب نه ده، ځکه که څه هم په إعاره کي تمليکُ المنفعت وي، خو هغه بېله عوضه وي، حالانکي د ملک متعې د تمليک لپاره عوض او مال ضروري دی، او إعاره له دې څخه خالي ده. نو ځکه به د إعارې په لفظ سره هم نکاح نه تړل کيږي.

ولا بلفظ الوصية إلخ: او همدارنګه د وصيت په لفظ سره نکاح نه تړل کيږي، ځکه چي د وصيت په لفظ سره که څه هم ملکيت ثابتيږي، خو هغه تر مرګ وروسته ثابتيږي، او د نکاح تړلو لپاره في الحاله ملکيت ضروري دی، نو ځکه به د نکاح په لفظ سره هم نکاح نه تړل کيږي.

په نکاح کي د ګواهانو حکم

قَالَ فرمايي وَلَايَنْعَقِدُ نِكَاحُ الْمُسْلِمِينَ او نه تړل کيږي نکاح د مسلمانانو إِلَّا بِحُضُورِ شَاهِدَيْنِ مګر په حضور کي د دوو داسي ګواهانو حُرَّيْنِ عَاقِلَيْنِ بَالِغَيْنِ مُسْلِمَيْنِ رَجُلَيْنِ چي دواړه آزاد وي، عاقلان وي، بالغان وي، مسلمانان وي او دواړه نارينه (سړي) وي أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ يا يو سړی او دوې ښځي وي عُدُوْلًا كَانُوا أَوْ غَيْرَ عُدُوْلٍ [برابره ده] هغوی عادلان وي او که نه وي أَوْ مَحْدُوْدِينَ فِي الْقَذْفِ او [برابره ده] که حد پر جاري سوی وي د زنا په تور [تهمت] لګولو کي [او که نه وي] قَالَ [صاحب د هدايې] فرمايي اِعْلَمْ أَنَّ الشَّهَادَةَ شَرْطٌ فِي بَابِ النِّكَاحِ پوه سه! چي د نکاح په باب کي ګواهي شرط ده لِقَوْلِهِ الْكَلِيْلَا[1] ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي لَا نِكَاحَ إِلَّا بِشُهُوْدٍ چي بغير له ګواهانو څخه نکاح نه [منعقد] کيږي وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى مَالِكٍ او دا حديث د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی فِي اِشْتِرَاطِ الْإِعْلَانِ دُوْنَ الشَّهَادَةِ د اعلان په شرط لګولو کي له ګواهۍ څخه بغير [يعني په دې هکله د امام مالک په خلاف حجت دی چي د هغه په نېز د نکاح تړلو په وخت کي ګواهان شرط نه دي] وَلَا بُدَّ مِنْ اِعْتِبَارِ الْحُرِّيَّةِ فِيهَا او په ګواهۍ کي د آزادوالي اعتبار کول ضروري دي [يعني دا ضروري ده چي

---

[1] تخريج: أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه، باب من قال: لا نكاح إلا بولي، حديث رقم: ۵۹۳۲. والبيهقي في السنن الكبرى. باب لا نكاح إلا بولّي، حديث رقم:۱۳۴۲۳.

ګواهان به آزاد وي! لِأَنَّ الْعَبْدَ لَا شَهَادَةَ لَهُ لِعَدَمِ الْوِلَايَةِ ځکه چي غلام د شهادت اهل نه دی د ولايت د نشتوالي په وجه وَلَا بُدَّ مِنِ اعْتِبَارِ الْعَقْلِ وَالْبُلُوغِ او [په ګواهانو کي] د عقل او بلوغ اعتبار کول [هم] ضروري دي لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ بِدُونِهِمَا ځکه چي له عقل او بلوغ څخه بغير ولايت نه ثابتيږي وَلَا بُدَّ مِنِ اعْتِبَارِ الْإِسْلَامِ فِي أَنْكِحَةِ الْمُسْلِمِينَ او د مسلمانانو په نکاح ګانو کي [د ګواهانو] د اسلام اعتبار کول [هم] ضروري دی لِأَنَّهُ لَا شَهَادَةَ لِلْكَافِرِ عَلَى الْمُسْلِمِ ځکه چي د مسلمان په حق کي د کافر ګواهي معتبره نه ده وَلَا يُشْتَرَطُ وَصْفُ الذُّكُورَةِ خو [په ګواهانو کي] د نارينه والي صفت شرط نه دی حَتَّى يَنْعَقِدَ بِحُضُورِ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ تر دې چي د يوه سړي او دوو ښځو په حضور کي [هم] نکاح تړل کيږي وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په دې باره کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَسَتَعْرِفُ فِي الشَّهَادَاتِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او ته به هغه انشاء الله په كتابُ الشهادات کي وپېژنې! [يعني دا اختلاف او دلائل به انشاء الله تا ته په كتابُ الشهادات کي معلوم سي].

اللغات: ﴿حضور﴾ حاضر والی، موجودوالی (موجوديت)، ﴿حُرّ﴾ آزاد، جمع: أَحْرَار، ﴿عُدُوْل﴾ جمع د عَادِلٌ ده: د عدل خاوند، ثقه، ﴿مَحْدُوْد﴾ د نصر اسم مفعول دی: هغه شوک چي د يو جرم په سزا کي حدّ پر جاري سوی وي، ﴿القَذْف﴾ د زنا تهمت (تور)، له محدود فی القذف څخه هغه کس مراد دی چي پر يوې ښځي د زنا تور ولګوي خو هغه ثابت نه کړای سي چي د هغه په وجه حدِّقذف پر ولګول سي. فرمايي که د نکاح تړلو په وخت کي محدود فی القذف کس ناست وي، نو هغه هم کافي دی، ﴿الذُّكُوْرَة﴾ مذکّر کېدل، نر کېدل (نر والی)، نارينه توب.

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله د نکاح د ګواهانو په هکله بحث کوي چي د نکاح لپاره ګواهي شرط ده او د نکاح د تړلو په وخت کي دوه ګواهان ضروري دي چي هغوی به دواړه مسلمانان، آزاد، بالغ، عاقل او په هوښ کي وي، او دواړه به نارينه وي، يا به يو نارينه او دوې ښځي وي، بيا برابره ده، که دوی عادلان وي او که غير عدول (او فاسقان) وي، همدارنګه محدود في القذف وي او که نه وي، په هر حال کي د دوی په ګواهي او حضور کي نکاح صحيح کيږي او منعقد کيږي.

په متن کي تر مسلمين وروسته د بحضور شاهدين په قيد سره د کافرانو له واده او نکاح څخه احتراز دی، ځکه چي د کافرانو د نکاح بندی لپاره ګواهان ضروري نه دي، د دې په خلاف د مسلمانانو د نکاح بندی لپاره ګواهان ضروري دي. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي له ګواهانو څخه بغير نکاح نه تړل کيږي ❶ په دې حديث کي په ښکاره توګه نبي ﷺ د نکاح د تړلو لپاره د ګواهانو وجود ضروري ګرځولی دی، د آيت که

څه هم د قرآني آيت ﴿فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ﴾ د عموم مخالف دی، خو څرنګه چې دا حدیث مشهور دی، او ضابطه دا ده چې په حدیث مشهور سره پر کتابُ الله زیادت کول جائز دي.

دامام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا الله هم دغه مسلک دی چې د نکاح لپاره ګواهان ضروري دی. لېکن دامام مالک رَحِمَهُ الله په نېز ګواهان ضروري نه دي، بلکې دهغه په نېز دنکاح اعلان کول شرط او ضروري دي.

د امام مالک دلیل: امام مالک رَحِمَهُ الله په دې حدیث سره دلیل نیسي: "أَعْلِنُوا النِّكَاحَ وَلَوْ بِالدُّفِ". فرمايي چې په دې حدیث کې رسولُ الله ﷺ د امر په صیغه سره د نکاح د اعلان کولو حکم کړی دی، لهذا په نکاح کې به اعلان شرط وي، او د نکاح انعقاد (تړون) به پر اعلان موقوف وي.

جواب: زموږ له طرفه د امام مالک رَحِمَهُ الله د دلیل جواب دا دی چې په دې حدیث کې صرف د اعلان حکم سوی دی، دا نه دي ذکر سوي چې د نکاح د انعقاد (تړون) لپاره اعلان شرط دی او د نکاح تړون پر اعلان موقوف دی، لهذا په دې حدیث سره خو فقط اعلان ثابتېدای سي، لېکن په دې سره اعلان شرط کېدلای نه سي.

او د شهادت او ګواهی په شرط کولو کې دا (د اعلان) مقصد هم حاصلیږي، لهذا فقط ګواهي به شرط وي، نه اعلان.

ولا بد من اعتبار الحرية إلخ: فرمايي چې د نکاح لپاره د ګواهانو آزادي هم ضروري ده، په دې قید سره د غلام له ګواهی څخه احتراز دی، ځکه چې ګواهي د ولایت له باب څخه ده، او ولایت وايي و "تَنْفِيْذُ الْقَوْلِ عَلَى الْغَيْرِ" ته (يعني پر بل چا حکم او خبره نافذول). او غلام ته خو پر خپل ځان هم ولایت حاصل نه دی. نو پر بل چا به څرنګه د ولایت حقدار سي؟!.

همدارنګه د ګواهانو بالغوالی او عاقل والی هم ضروري دی، ځکه چې له عقل او بلوغت څخه بغیر ولایت ثابتېدای نه سي، او څرنګه چې ګواهي د ولایت له باب څخه ده. نو ځکه ګواهي هم له عقل او بلوغت څخه بغیر بالکل امکان نه لري.

ولا بد من اعتبار الاسلام إلخ: فرمايي چې د مسلمانانو په نکاح کې د ګواهانو مسلمان والی هم ضروري دي، ځکه چې کافر مردود او رټل سوی دی، او د مسلمان په خلاف د هغه ګواهي بالکل معتبره نه ده. لکه څرنګه چې دا آیت د دې تائید کوي: ﴿وَلَنْ يَّجْعَلَ اللهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا﴾.

ولا يشترط إلخ: زموږ په نېز د نکاح لپاره د ګواهانو مذکر کېدل (نر والی) ضروري نه دی، بلکې د يوه سړي او دوو ښځو په حضور کې هم نکاح تړل کېدای سي، لېکن په دې هکله د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی، د هغه په نېز په نکاح کې د ښځو ګواهي معتبر نه ده، بلکې د ګواهانو مذکر کېدل ضروري دي، او د ټولو دلیلونه به انشاء الله په "كتاب الشهادات" کې ذکر سي.

په ګواهۍ کې د فسق اثر

وَلَا تُشْتَرَطُ الْعَدَالَةُ او [په نکاح کې د ګواه] عادل کېدل شرط نه دي حَتّٰى يَنْعَقِدَ بِحَضْرَةِ الْفَاسِقَيْنِ عِنْدَنَا تر دې چې زموږ په نیز د دوو فاسقانو په حضور کې [هم] نکاح تړل کیږي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لَهُ: أَنَّ الشَّهَادَةَ مِنْ بَابِ الْكَرَامَةِ د هغه دليل: دا دی چې ګواهي ورکول د کرامت [استر توب او شرافت] له باب څخه دي وَالْفَاسِقُ مِنْ أَهْلِ الْإِهَانَةِ او فاسق له رذيلانو څخه دی [یعني فاسق له سپکو او لاندې خلکو څخه دی] وَلَنَا أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْوِلَايَةِ او زموږ دلیل دا دی چې فاسق له ولایت لرونکو خلکو څخه دی فَيَكُوْنُ مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ نو ځکه به له ګواهانو څخه [هم] وي وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَمَّا لَمْ يُحْرَمِ الْوِلَايَةَ عَلٰى نَفْسِهِ لِإِسْلَامِهِ او دا په دې وجه چې کله فاسق د خپل اسلام په وجه پر خپل ځان له ولایت څخه محروم نه کړی سو لَا يُحْرَمُ عَلٰى غَيْرِهِ نو پر بل چا به [هم] له ولایت څخه نه محروموول کیږي لِأَنَّهُ مِنْ جِنْسِهِ ځکه چې دا بل څوک [هم] د هغه له جنس څخه دی وَلِأَنَّهُ صَلُحَ مُقَلِّدًا او ځکه چې فاسق [دا] صلاحیت لري چې بل چا ته هار وربه غاړه کړي فَيَصْلُحُ مُقَلَّدًا نو هغه به [په خپله هم] د هار خاوند جوړېدای سي وَكَذَا شَاهِدًا لهذا ګواه به هم جوړېدای سي وَالْمَحْدُوْدُ فِي الْقَذْفِ مِنْ أَهْلِ الْوِلَايَةِ او محدود فی القذف [هم] له ولایت لرونکو خلکو څخه دی فَيَكُوْنُ مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ لهذا هغه به [هم] له ګواهانو څخه وي تَحَمُّلًا د ګواهۍ د برداشتولو [زغملو] په اعتبار سره وَإِنَّمَا الْفَائِتُ ثَمَرَةُ الْأَدَاءِ بِالنَّهْيِ لِجَرِيْمَتِهِ او [د محدود فی القذف په حق کې] فقط د خپل جرم په وجه د قرآني نهي په سبب سره ثمره د اداء فوت ده [یعني فقط ګواهي نه سي اداء کولای، ځکه چې د هغه د مجرم والي په وجه الله تعالی موږ د هغه د ګواهۍ له قبلولو څخه منع کړي یو] فَلَا يُبَالِيْ بِفَوَاتِهِ خو [د ګواهۍ] د اداء په فوتېدلو سره به هیڅ پروا نه کیږي [یعني که څه هم د هغه په حق کې د ګواهۍ اداء کول فوت دي، خو دا هیڅ پروا نه لري، او په دې سره به د نکاح په ګواهۍ کې هیڅ خلل نه راځي] كَمَا فِيْ شَهَادَةِ الْعُمْيَانِ وَابْنَيِ الْعَاقِدَيْنِ لکه د ړندو خلکو او د عاقدینو د زامنو په ګواهۍ کې [چې د ګواهۍ اداء فوتیږي او په هغه هیڅ پروا نه کیږي].

اللغات: ﴿فَاسِق﴾ د نصر او كَرُم له باب څخه اسم فاعل دی: بدکاره سړی، (دلته څخني مراد هغه فاسق دی چې مثلاً د لمونځ پرېښوولو یا د زکاة نه اداء کولو یا د داسې نورو کارونو په وجه فاسق ګرځېدلی وي، لیکن که د دروغو ویلو په وجه فاسق ګرځېدلی وي، نو د هغه ګواهي به بالکل نه قبلیږي، ځکه چې د دروغو په وجه د هغه خبري لري هیڅ اعتبار نسته)، ﴿إِهَانَة﴾ د إفعال مصدر دی: سپکاوی، ذلالت، رذالت. ﴿لَمْ يُحْرَمْ﴾ د ضرب او سمع له باب څخه د جحد

مجهول صيغه ده: محروم کول (محرومول)، منع کول. ﴿مُقَلِّد﴾ په عبارت کې اول "مقلد" د تفعیل له باب څخه اسم فاعل دی او معنیٰ يې ده: هار ور په غاړه کونکی، دلته څنې مراد حاکم (واکمن) دی، ځکه کله چې د يو ځای حاکم يو عالم قاضي جوړوي نو هغه ته هار او امېل ورپه غاړه کوي، نو په دې مناسبت حاکم ته "مُقلِّد" هم وايي. او "مُقَلَّد" د لام په فتحه سره د تفعیل د باب اسم مفعول دی، او معنیٰ يې ده: هغه څوک چې هار ور په غاړه کړی سي، دلته څنې مراد قاضي دي، ځکه د حاکم له طرفه هغه ته هار ور په غاړه کول کيږي، ﴿تَحَمُّلًا﴾ د تفعّل مصدر دی: برداشتول،زغمل، دلته څنې مراد د "گواهي برداشتول" دي، يعني "گواه جوړېدل"، ﴿ثَمَرَةُ الأَدَاء﴾ د گواهي اداء کولو فايده، يعني گواهي نه سي اداء کولای، ﴿لِجَرِيمَتِهِ﴾ په ځينې نسخو کې دا لفظ په حاء سره "حَرِيمَته" دی، خو معتبر "جَرِيمَته" دی، ﴿ابْنَي﴾ د تثنيې صيغه ده: دوه زامن. ﴿عَاقِدَيْن﴾ دا هم د تثنيې صيغه ده: دوه نکاح کونکي، مراد څنې سړی او ښځه ده، ﴿عُمْيَان﴾ جمع د أَعْمٰی ده: ړوند، نابينا.

تشريح: په مخکني عبارت کې ضمناً دا خبره ذکر سوه چې د نکاح لپاره د گواهانو عادل والی او له حد قذف څخه پاکوالی ضروري نه دی، په دې عبارت کې همدغه دوې خبرې په تفصيل سره بيانوي، فرمايي چې زموږ په نېز د نکاح بندی لپاره د گواهانو عادل والی ضروري نه دی، يعني که د غير عادلو گواهانو په مخ کې نکاح وتړل سي، نو هغه نکاح هم صحيح او مقبوله ده.

د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې د گواهانو عادل والی ضروري دی، او د غير عادلو گواهانو په حضور کې نکاح نه سي تړل کېدای (يعني د هغو گواهي معتبره نه ده)، همدا د امام احمد رَحِمَهُ الله قول هم دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چې گواهي قابلِ احترام او د تعظيم لائق ده، لکه څرنگه چې رسولُ الله ﷺ فرمايلي دي: "أَكْرِمُوا الشُّهُوْدَ. فَإِنَّ اللهَ يُحْيِيْ بِهِمُ الْحُقُوْق" (يعني د گواهانو تعظيم او احترام کوی، ځکه چې الله تعالیٰ د همدوی په سبب سره د خلکو حقوق ژوندي ساتي)، دا حديث په واضحه توگه دې خبرې ته اشاره کوي چې گواهي د کرامت او تعظيم له باب څخه ده، نو ځکه به د گواهي أهل او لائق هم هغه انسان وي چې هغه قابل د تعظيم او لائق د احترام وي، او فاسق خو مردود او رذيل وي (او د سپکاوي لائق وي)، نو ځکه هغه د گواهي أهل نه سي کېدای، او نبي کريم ﷺ خو تر دې اندازې فرمايلي دي چې "کله تاسو د فاسق سره مخامخ سئ، نو هغه ته د قهر او غضب په نظر سره گورئ!"، نو کله چې په حديث کې د فاسق و طرف ته د شفقت له نظر څخه منع سوې ده، نو د گواهي په څېر د محترم شي به د هغه مالک جوړول څرنگه صحيح وي!؟

زموږ دليل: دا دی چې د فاسق فسق او فجور صرف د هغه تر ذات پوري محدود دی، نور خلک له هغه څخه مستثنیٰ دي، همدا وجه ده چې د فسق باوجود شريعت هغه له ولايت لرونکو خلکو څخه شمارلی دی يعني د ولايت مالک او د ملکيت خاوند يې گڼلی دی، يعني هغه خپله نکاح په خپله کولای سي (تړلای سي). او د

غلام او مینځي نکاح هم کولای سي، لهذا څرنګه چې د فاسق لپاره ولایت ثابت دی، نو همداسي به د هغه لپاره ګواهي هم ثابته وي او د ګواهۍ أهل به وي.

او فاسق په دې توګه له ولایت لرونکو خلکو څخه دی چې هغه له اسلام څخه وتلی نه دی بلکي هغه په هر حال کي مسلمان دی، او د خپل اسلام په وجه هغه شریعت پر خپل حق له ولایت او ملکیت څخه منع کړی نه دي، او موږ چې د کوم کس په حق کي د هغه ګواهي قبلوو، هغه هم د مسلمان والي په وجه د دې فاسق کس همجنسه دی، لهذا کله چې انسان پر خپل ځان ولایت او ملکیت لري، نو پر خپل همجنسه به یې هم لري.

ولأنه صلح مقلِّدا إلخ: له دې ځایه د دې خبري دویم دلیل ذکر کوي چې "فاسق د ګواهۍ أهل دی"، د دلیل حاصل دا دی چې فاسق حاکم او مقلَّد جوړېدای سي، لکه څرنګه چې حجاج بن یوسف یو ستر فاسق وو خو بیا هم د ملک حاکم جوړ سو، همدارنګه تر خلفاء راشدینو وروسته ډېر لږ حاکمان له فسق و فجور څخه پاک ول، او فاسق حاکم که وغواړي چې یو عالم د ښار قاضي مقرر کړي نو هغه قاضي مقرر کولای سي، لهذا کله چې فاسق حاکم بل څوک قاضي جوړولای سي نو هغه خپله هم قاضي جوړېدای سي، او کله چې فاسق قاضي جوړېدای سي نو ګواه هم جوړېدای سي، ځکه چې قاضي جوړېدل او ګواه جوړېدل یو شي دي او د یوې درختي ښاخونه دي، بلکي قضاوت خو ډېره ستره مرتبه ده، نو کله چې هغه قاضي جوړېدای سي، نو د ګواهۍ په څېر د کوچنۍ مرتبې مالک جوړېدل به په طریقه اولیٰ سره جائز وي، لهذا په نکاح کي به د هغه ګواه جوړول بالکل جائز او صحیح وي.

والمحدود في القذف إلخ: کوم څوک چې پر یوې مُحصِني (پاک لمني) ښځي د زنا تور ولګوي، او بیا په څلورو ګواهانو سره زنا ثابته نه کړي، او د دې په وجه پر هغه د زنا د تور حد جاري کړی سي، دغسي کس ته محدود في القذف وایي، څرنګه چې محدود في القذف هم د خپل اسلام په وجه له ولایت لرونکو خلکو څخه دی، نو ځکه به هغه هم د ګواهۍ أهل وي او له ګواهانو څخه به شمارل کېږي؛ لېکن تاسي په دې خبره ځان پوه کړئ! چې محدود في القذف د ګواهۍ برداشتېدلو (تحمّلِ شهادة) أهل دی، د ګواهۍ اداء کولو أهل نه دی، د ګواهۍ برداشتولو مطلب دا دی چې د ده په موجود والي او حضور کي خو نکاح تړل کېدای سي او ګواه جوړېدای سي (یعني که د نکاح تړلو په وخت کي ناست وي، نو دئ هم کفایت کوي)، لېکن که د قاضي په مخ کي د نکاح په هکله د ګواهۍ اداء کولو نوبت راسي، نو د هغه ګواهي معتبره نه ده، ځکه چې د قرآنِ کریم په دې آیت ﴿وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا﴾ سره هغه د ګواهۍ اداء کولو أهل نه دی.

وإنما القائت إلخ: په دې جملې سره د یو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې کله محدود في القذف نه ولایت لرونکو خلکو څخه دی (یعني د ولایت خاوند دی)، نو باید د ده ګواهي هم د نورو ولایت لرونکو په څېر کامله او پوره وای، مطلب دا چې باید د هغوی په څېر ده ته هم د ګواهۍ اداء کولو حق ورکول سوی وای،

حال دا چي ده ته فقط د تحمّلِ شهادة حق ورکول سوی دی، او له ګواهی اداء کولو څخه محروم سوی دی، آخر د دې څه وجه ده؟

نو د دې سوال په جواب کي فرمايي چي د دغه آيت ﴿وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا﴾ په وجه محدود فی القذف له ګواهی اداء کولو څخه محروم دی، ځکه چي په دې آيت کي په واضحه توګه مسلمانانو ته دا حکم سوی دی چي تاسي د هغو ګواهي مه قبلوئ!، نو ځکه به هغوی د ګواهی اداء کولو أهل نه وي، خو د تحمّلِ شهادة (ګواهی برداشتېدلو او ګواه جوړېدلو) أهل به وي، ځکه چي هغه له ولايت لرونکو خلکو څخه دی، او په دې باره کي هيڅ يو شرعي مانع نسته.

او په دې خبره به هيڅ پروا نه کيږي چي "هغه ګواهي نه سي اداء کولای خو بيا هم ګواه جوړېدای سي" ځکه چي په شريعت کي د دې مثالونه سته چي يو څوک د تحمّل أهل وي خو د اداء أهل نه وي، لکه د ړندو خلکو په ګواهی سره نکاح تړل کېدای سي لېکن هغوی د قاضي په مخ کي ګواهي نه سي اداء کولای، همدارنګه که د عاقدَينو په نکاح کي فقط د هغو دوه زامن ناست وي، نو د هغوی ګواهي معتبره ده او د عاقدَينو نکاح صحيح ده، لېکن که د قاضي په دربار کي د ګواهی اداء کولو ضرورت پيښ سي، نو د عاقدَينو په حق کي د هغو د زامنو ګواهي لره هيڅ اعتبار نسته، لهذا څرنګه چي ړانده خلک او د عاقدَينو زامن فقط د "تحملِ شهادت" أهل دي، همداسي به محدود فی القذف هم فقط د تحملِ شهادت أهل وي، او څرنګه چي دا دوه صنفونه د "اداءِ شهادت" أهل نه دي، همداسي به محدود فی القذف هم د اداءِ شهادت أهل نه وي.

﴿ د ګواهانو د شمېر په هکله کامله نقشه ﴾

څرنګه چي دلته د نکاح د ګواهی په هکله بيان سوی دی، نو غوره ګڼم چي د زنا، قتل، معاملات او د داسي نورو مسئلو د ګواهانو شمېر هم ذکر کړم چي طالب ته د دې علم او خبر هم حاصل سي:

د ګواهانو اته (٨) درجې دي او د نکاح ګواهي پر څلورمه درجه ده چي تفصيل يې په لاندي ډول دی:

شمېر	ګواهي	څومره خلک به يې اداء کوي	د ګواهانو صفت
(١)	د زنا ګواهي	څلور سړي، د ښځو ګواهي معتبره نه ده	ټول به عادله وي
(٢)	د قتل ګواهي	دوه سړي، د ښځو ګواهي معتبره نه ده	دواړه به عادله وي
(٣)	د معاملاتو ګواهي لکه بيع او شراء	دوه سړي، يا يو سړی او دوې ښځي	ټول به عادله وي
(٤)	د نکاح ګواهي	دوه سړي، يا يو سړی او دوې ښځي	عادل او فاسق دواړه کافي دي
(٥)	د مياشتي ګواهي	د روژې لپاره يو سړی، د اختر لپاره دوه سړي	عادل او مستورُ الحال دواړه کافي دي
(٦)	د عيوبُ النساء ګواهي	د دوو ښځو ګواهي، د سړو ګواهي معتبره نه ده	دواړي به عادله وي
(٧)	د وکيل جوړولو ګواهي	د يوه غلام ګواهي هم کافي ده	عادل او غيرِ عادل دواړه کافي دي
(٨)	د هداياوو ګواهي	د کوچني او مينځي ګواهي هم کافي ده	عادل او غيرِ عادل دواړه کافي دي

د ذمیانو په گواهۍ کې د ذمي ښځې سره د مسلمان د نکاح کولو حکم

قَالَ: وَإِنْ تَزَوَّجَ مُسْلِمٌ ذِمِّيَّةً فرمايي: که یو مسلمان د یوې ذمي ښځې سره نکاح وکړي بِشَهَادَةِ ذِمِّيَّيْنِ د دوو ذمیانو په گواهۍ سره جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ❁ نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز [دا نکاح] جائز ده وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ: لَا يَجُوزُ او امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې جائز نه ده لِأَنَّ السَّمَاعَ فِي النِّكَاحِ شَهَادَةٌ ځکه چې په نکاح کې [د ایجاب و قبول] اورېدل گواهي ده وَلَا شَهَادَةَ لِلْكَافِرِ عَلَى الْمُسْلِمِ او د کافر لپاره د مسلمان په خلاف گواهي جائز نه ده فَكَأَنَّهُمَا لَمْ يَسْمَعَا كَلَامَ الْمُسْلِمِ نو داسې سو لکه ذمیانو چې بالکل د مسلمان خبره اورېدلې نه وي وَلَهُمَا: أَنَّ الشَّهَادَةَ شُرِطَتْ فِي النِّكَاحِ عَلَى اعْتِبَارِ إِثْبَاتِ الْمِلْكِ د شیخینو دلیل دا دی: چې په نکاح کې گواهي شرط کړی سوې ده د ملکِ بضع د ثابتولو په اعتبار سره [یعني په نکاح کې د ملکِ بضع (ملکِ مُتعې) د ثابتولو په اعتبار سره گواهي شرط ده] لِوُرُودِهِ عَلَى مَحَلٍّ ذِي خَطَرٍ ځکه چې ملکِ بضع د احترام [او تعظیم] پر مقام واقع ده لَا عَلَى اعْتِبَارِ وُجُوبِ الْمَهْرِ [او] د مهر د وجوب په اعتبار سره [په نکاح کې گواهي] شرط نه ده إِذْ لَا شَهَادَةَ تُشْتَرَطُ فِي لُزُومِ الْمَالِ ځکه چې د مال په واجبولو کې گواهي شرط نه ده وَهُمَا شَاهِدَانِ عَلَيْهَا او هغه دواړه ذمیان [گواهان] د دې ذمي ښځې په خلاف گواهان دي بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَسْمَعَا كَلَامَ الزَّوْجِ په خلاف د هغه صورت کله چې دواړو ذمیانو د خاوند خبره اورېدلې نه وي لِأَنَّ الْعَقْدَ يَنْعَقِدُ بِكَلَامَيْهِمَا ځکه چې عقد [نکاح] د دواړو [زوجینو] په کلام سره تړل کیږي وَالشَّهَادَةُ شُرِطَتْ عَلَى الْعَقْدِ او گواهي پر عقد شرط ده.

اللغات: ﴿تَزَوَّجَ﴾ د تفعّل ماضي ده: نکاح کول، واده کول. ﴿ذِمِّي﴾ هغه کافر ته چې وايي په اسلامي هیواد کې اوسیږي او اسلامي حکومت له هغه څخه جزیه (ټکس) اخلي. ﴿وُرُوْد﴾ د ضرب مصدر دی: راتلل، واقع کېدل، جاري کېدل. ﴿الْمِلْك﴾ له دې څخه مراد ملکِ بضع ده، یعني د ښځې سره د جماع کولو حق. ﴿ذِيْ خَطَر﴾ د احترام والا، لوی (ستر)، یعني ملکِ بضع د احترام او درناوي قابل شی دی.

تشریح: د عبارت تر حل مخکې په دې خبره ځان پوه کړئ! چې په متن کې له ذمي ښځې څخه مراد کتابیه ده، یعني نصراني او یهودي ښځه چې له هغې څخه په دارُ الاسلام کې ټکس (محصول) اخیستل کیږي. ځکه چې د غیرِ کتابیه ښځې سره د مسلمان نکاح جائز نه ده، د عبارت خلاصه دا ده چې که یو مسلمان د یوې

❁ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَاالله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٢٩٧)، وكذا في الهندية (ج:١، ص:٢٦٧). [القول الراجح ج:١، ص:٢٢٤]

يهودي يا نصراني ښځي سره نکاح وکړي د دوو يهوديانو يا د دوو نصرانيانو په حضور کي. نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دا نکاح صحيح او جائز ده. ليکن د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نيز دا نکاح جائز نه ده. همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله او د امام احمد رَحِمَهُ الله قول هم دی.

دليل: د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي په نکاح کي د ګواهي ورکولو مطلب دا دی چي ګواهان فقط ايجاب و قبول واوري، يعني په نکاح کي فقط د ايجاب وقبول اوريدل ګواهي ده. او مخکي تېر سوه چي د کافر ګواهي د مسلمان په حق کي معتبره نه ده، نو ځکه به د يهودي او نصراني ګواهي نه قبليږي، او داسي به ګڼل کيږي چي دوی بالکل د مسلمان ايجاب وقبول اوريدلی نه دی، لهذا کله چي يې اوريدلی نه دی، نو داسي ده لکه بالکل چي يې ګواهي ورکړي نه وي، او ګواهي د نکاح لپاره شرط ده. نو ځکه به د ذميانو (يهودي او نصراني) په ګواهي سره نکاح تړل صحيح نه وي.

د شيخينو دليل: دا دی چي په نکاح کي د ګواهي دوه حيثيته دي: ① دا ګواهي يا د دې لپاره شرط ده چي د سړي لپاره د ښځي ملک بضع ثابت کړی سي، ② يا د دې لپاره شرط ده چي پر سړي د ښځي مهر ثابت کړی سي. که غور وفکر وکړی سي نو دا خبره به ښکاره سي چي ګواهي د ملک بضع د ثابتولو لپاره شرط ده. ځکه چي ګواهي د هغو شيانو د ثابتولو لپاره وي کوم چي محترم (د احترام او درناوي قابل) وي، او بضع هم يو محترم محل دی. او د مهر ثابتولو لپاره ګواهي شرط نه ده. ځکه چي مهر د مال له قبيلې څخه دی، او مال د احترام او تعظيم قابل نه دی، همدا وجه ده که د نکاح په وخت کي د مهر يادونه نه وسي، نو بيا هم نکاح صحيح کيږي، لنډه دا چي په نکاح کي ګواهي د دې لپاره شرط ده چي د سړي (خاوند) لپاره ملک بضع ثابت سي، لهذا دا ګواهي به د مسلمان په حق کي يعني د مسلمان په فايده کي وي، د هغه په مخالفت کي به نه وي، او د مسلمان په حق کي د کافر ګواهي په شريعت کي معتبره ده، نو ځکه به په دې مسئله کي هم د ذميانو ګواهي د مسلمان په حق کي معتبره وي، او نکاح به صحيح وي.

بخلاف ما إلخ: په دې عبارت سره د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله د دليل جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي ستاسو دا خبره صحيح نه ده چي "ذميانو د مسلمان ايجاب وقبول بالکل اوريدلی نه دی"، دا خبره موږ هم منو چي ګواهي يعني د ايجاب و قبول اوريدل د نکاح لپاره شرط دي، او که نه واوريدل سي نو نکاح نه صحيح کيږي، خو په دې مسئله کي حقيقت دا دی چي ذميانو د خاوند او ښځي کلام (ايجاب وقبول) اوريدلی دی، لهذا "اوريدل" به پر "نه اوريدلو" قياسول څرنګه صحيح وي!؟

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دی. کما قال في الهندية: ولو کان الزوج مسلمًا والمرأة ذمية فالنكاح ينعقد بشهادة الذميين. سواء كانا موافقين لها في الملة أو مخالفين. كذا في السراج الوهاج. [القول الراجح ج:۱، ص:۲۴۴]

په نکاح کي د يوه سړي د ګواهۍ بيان

وَمَنْ أَمَرَ رَجُلًا بِأَنْ يُزَوِّجَ ابْنَتَهُ الصَّغِيرَةَ او كه څوک يو سړي ته د خپلي کوچنۍ [نابالغي] لور د نكاح کولو حکم وکړي [يعني که يو څوک يو کس وكيل جوړ کړی چي زما د لور نکاح وتړه!] فَزَوَّجَهَا نو هغه د دې نکاح وکړي [يعني ويې تړي] وَالْأَبُ حَاضِرٌ په داسي حال کي چي پلار [په نكاح کي] حاضر وي بِشَهَادَةِ رَجُلٍ وَاحِدٍ سِوَاهُمَا په ګواهۍ سره د يوه سړي ماسوا له آمر او مأمور څخه [يعني د نكاح په دې مجلس کي له آمر (پلار) او مأمور (وکيل) څخه بغير فقط يو سړی موجود وي] جَازَ النِّكَاحُ نو نکاح جائز ده لِأَنَّ الْأَبَ يُجْعَلُ مُبَاشِرًا لِلْعَقْدِ لِاتِّحَادِ الْمَجْلِسِ ځکه چي د مجلس د يو والي په وجه به پلار [هم] په خپله د نکاح تړونکی ګرځول کيږي وَيَكُونُ الْوَكِيلُ سَفِيرًا وَمُعَبِّرًا او وكيل به د مينځ سړی [درېمګړی] او ترجمان وي فَيَبْقَى الْمُزَوِّجُ شَاهِدًا نو نکاح کونکي [يعني همدغه وكيل] به [د پلار په حضور کي] ګواه پاته سي وَإِنْ كَانَ الْأَبُ غَائِبًا او که پلار غائب وي [د نكاح په مجلس کي حاضر نه وي] لَمْ يَجُزْ نو نکاح جائز نه ده لِأَنَّ الْمَجْلِسَ مُخْتَلِفٌ ځکه چي مجلس مختلف دی فَلَا يُمْكِنُ أَنْ يُجْعَلَ الْأَبُ مُبَاشِرًا نو ممکنه نه ده چي پلار د نکاح تړونکی وګرځول سي وَعَلَى هَذَا إِذَا زَوَّجَ الْأَبُ ابْنَتَهُ الْبَالِغَةَ بِمَحْضَرِ شَاهِدٍ وَاحِدٍ نو بناء پر دغه [پورتنۍ] قاعدې که پلار [فقط] د يوه ګواه په حضور کي د خپلي بالغي لور نكاح وکړي [و تړي] إِنْ كَانَتْ حَاضِرَةً که لور [د نكاح په مجلس کي] حاضر وي جَازَ نو نکاح جائز ده وَإِنْ كَانَتْ غَائِبَةً او که [له مجلس څخه] غائبه وي لَمْ يَجُزْ نو نکاح جائز نه ده.

اللغات: ﴿مُبَاشِرًا﴾ د مفاعلې د باب اسم فاعل دی: په خپله کار کونکی (يعني هغه کس چي په بل چا کار (مثلاً د نکاح تړل) نه وکړي بلکي په خپله يې وکړي)، دلته څني مراد په خپله د نکاح تړونکی دی. ﴿سَفِيرٌ﴾ د نصر له باب څخه د صفتِ مشبه صيغه ده: استازی، دلته څني مراد د مينځ سړی يعني منځګړی او درېمګړی دی. ﴿مُعَبِّرٌ﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: تعبير کونکی، د بل چا د خبرو نقل کونکی، ترجمان. ﴿مُزَوِّجٌ﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: نکاح تړونکی، نکاح ورکونکی (واده ورکونکی).

تشريح: مخکي دا خبره تېره سوه چي د نكاح د روايښت لپاره ګواهي شرط ده، پر دې خبره يوه مسئله تفريع کوي.

صورت د مسئلې: دا دی چې مثلاً زید د خپلې نابالغې لور د نکاح لپاره عُمر وکیل جوړ کړی چې د هغې نکاح وتړه!، عُمر دیوه ګواه (خالد) په مخ کې د حامد سره د نجلۍ نکاح وتړله، په دغه مجلس کې پلار (زید) هم حاضر وو، نو دا نکاح صحیح او جائز ده، ځکه کله چې پلار د نکاح په مجلس کې حاضر دی، نو د مجلس د اتحاد په وجه هغه په خپله د نکاح تړونکی (مُباشر) شمارل کیږي، ځکه چې هغه آمر او مؤکِل (وکیل جوړونکی) دی، او د نکاح په باب کې ټوله حقوق د مؤکِل وطرف ته راجع کیږي او نقل کیږي، نو د وکیل (عُمر) تزویج (د نکاح تړل) به په خپله د پلار (زید) تزویج وي، یعني ګواکې پلار د دوی نکاح وتړله، او وکیل (عُمر) به محض یو سفیر او د پلار د خبرې نقل کونکی وي، لهذا اوس به هغه فقط ګواه پاته سي، او څرنګه چې وکیل (عُمر) دیو بل ګواه (خالد) په مخ کې دا نکاح وتړله، نو خالد به دویم ګواه سي، او د دوو ګواهانو په مخ کې نکاح صحیح کیږي، نو ځکه به په دې مسئله کې هم نکاح صحیح او جائز وي.

وإن کان الأب إلخ: لیکن که پلار (زید) د لور د نکاح په مجلس کې نه وو، نو نکاح نه صحیح کیږي، ځکه کله چې په مجلس کې پلار نسته نو د هغه مجلس مختلف سو، لهذا اوس د وکیل (عُمر) خبره د پلار وطرف ته نه سي نقل کېدای او پلار د نکاح تړونکی نه سي شمارل کېدای، او که شمار کړی سي، نو په دوو مختلفه مجلسو کې به ایجاب وقبول واقع سي او دا صحیح نه دي، لهذا کله چې پلار نکاح تړونکی شمارل کېدای نه سي، نو اوس به وکیل (عُمر) د نکاح تړونکی (مزوّج او مباشر) وي او ګواه به پاته نه سي، او څرنګه چې هغه فقط دیوه ګواه (خالد) په مخ کې دا نکاح تړلې ده، او دیوه ګواه په حضور کې نکاح نه صحیح کیږي، نو ځکه به دا نکاح صحیح او جائز نه وي.

وعلی هٰذا إلخ: دا مسئله هم د مخکنۍ مسئلې په څېر ده، فرمایي چې که پلار فقط دیوه ګواه په حضور کې د خپلې بالغې لور نکاح وتړي، او نجلۍ هم د نکاح په مجلس کې حاضره وي، نو دا نکاح صحیح ده، ځکه کله چې نجلۍ د نکاح په مجلس کې حاضره وي، نو د پلار خبره به د هغې و طرف ته نقل کیږي یعني نجلۍ به په خپله د خپلې نکاح تړونکې شمارل کیږي، ځکه چې هغه عاقله هم ده او بالغه هم ده، او پلار به ګواه پاته سي، او یوه ګواه له مخکې څخه موجود دی، نو دا به دوه ګواهان سي، نو ځکه به نکاح صحیح او جائز وي. او که لور په مجلس کې نه وي، نو نکاح نه صحیح کیږي، ځکه چې پلار ګواه نه سو، بلکې نکاح تړونکی سو، او ګواه فقط یو دی، نو ځکه به نکاح صحیح او جائز نه وي.



فَصْلٌ فِيْ بَيَانِ الْمُحَرَّمَاتِ

(دا) فصل په بيان د هغو ښځو کې دی چې
نکاح کول ورسره حرام وي

تشريح: له "مُحَرَّمَات" څخه مراد هغه ښځي دي چي نکاح ورسره کول حرام او ممنوع وي، څرنګه چي د ښځو د حراموالي مختلف اسباب او بېلابېل عوامل دي، مثلاً بعضي ښځي د قرابت په سبب حرامي وي، او بعضي د مصاهرت او رضاعت په سبب حرامي وي، نو د دې ټولو اسبابو د جلا بيانولو لپاره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله يو مستقل فصل ذکر کوي، او په همدې فصل کي د هغه اسبابو بيان کوي.

﴿ټولي مُحرّمات ښځي په يوه نقشه کي﴾

د عبارت تر شروع مخکي مناسب ګڼم چي د طالبانو د آسانۍ او يادابنت لپاره ټوله مُحرّماتي ښځي په يوه نقشه کي د خپلو اسبابو سره په ترتيب ذکر کړم. لاندي نقشې ته پاملرنه وکړئ!

شمبر	کومي ښځي حرامي دي؟	په کوم سبب حرامي دي؟
(١)	مور، انا، د انا مور، امه (عمه)، خاله لور، لمسۍ (هغه که د زوی لور وي، که د لور، لور وي)، خور، وريره (د ورور لور)، خورزه (د خور لور).	د نسب په وجه حرامي دي
(٢)	خواښې، مرېور (د زوي ماينه)، د لمسي ماينه، مېره (ناسکه مور)، ناسکه انا.	د نکاح په وجه حرامي دي
(٣)	رضاعي مور، رضاعي امه، رضاعي خاله، رضاعي خور، رضاعي لور، رضاعي لمسۍ (يعني د رضاعي لور يا د رضاعي زوی لور).	د رضاع په وجه حرامي دي
(۴)	(په نکاح کي) دوې خوندي سره يوځاى کول، امه او وريره سره يو ځاى کول.	د دوو ښځو د جمع کولو په وجه حرام دي
(۵)	د آزادي ښځي په وجود کي د مينځي سره نکاح کول، همدارنګه د خپلي مينځي سره نکاح کول.	ځکه پر آزادي ښځي مينځه کول حرام دي
(۶)	هغه ښځه چي د بل چا په نکاح کي وي	د بل چا د منکوحې سره نکاح حرامه ده
(٧)	د غلام لپاره د خپلي سيّدي (مشري) سره نکاح حرامه ده	—
(٨)	د کافري او مشرکي ښځي سره نکاح حرامه ده	ځکه له کتابي ښځي څخه بغير د هري کافري ښځي نکاح حرامه ده
(٩)	چي درې طلاقه ورکول سوي وي، د هغې سره نکاح حرامه ده	ځکه چي له حلالې (تحليل) څخه بغير د مطلقة ثلاثه ښځي سره نکاح کول حرام دي

د قرآني مُحرّماتو بیان

قَالَ: لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ فرمايي: حلال [روا] نه دي د سړي لپاره أَنْ يَتَزَوَّجَ بِأُمِّهِ چي نكاح وكړي د خپلي مور سره وَلَا بِجَدَّاتِهِ مِنْ قِبَلِ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ او نه د اناګانو سره د خلګو او ښځو له طرفه ايعني او نه نكاح روا ده د پلارنۍ او مورنۍ انا سره] لِقَوْلِهِ تَعَالَى: حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ.....(الخ) [سورة النساء: ۲۳] ځكه الله تعالیٰ فرمايلي دي: چي ستاسي مندي او لوڼي..... پر تاسو حرامي دي وَالْجَدَّاتُ أُمَّهَاتٌ او اناګاني [هم] مندي دي إِذِ الْأُمُّ هِيَ الْأَصْلُ لُغَةً ځكه په لغت كي اد انسان] و "أصل" ته مور وايي أَوْ ثَبَتَتْ حُرْمَتُهُنَّ بِالْإِجْمَاعِ يا داسي ووايه چي] چي د اناګانو حُرمت په إجماع سره ثابت دی قَالَ: وَلَا بِبِنْتِهِ فرمايي: او نه احلال دي د سړي لپاره چي نكاح وكړي] د خپلي لور سره لِمَا تَلَوْنَا د هغه آيت په وجه چي [اوس] موږ تلاوت كړی وَلَا بِبِنْتِ وَلَدِهِ او نه انكاح كول حلال دي] د خپلي لمسۍ سره وَإِنْ سَفُلَتْ كه څه هم د لاندي درجې وي لِلْإِجْمَاعِ د اجماع په وجه ايعني ځكه چي دا حكم په اجماع سره ثابت دی] وَلَا بِأُخْتِهِ وَلَا بِبَنَاتِ أُخْتِهِ وَلَا بِبَنَاتِ أَخِيهِ او نه انكاح كول حلال دي] د خپلي خور سره او نه د خپلو خورزه ګانو سره او نه د خپلو وريره ګانو سره وَلَا بِعَمَّتِهِ وَلَا بِخَالَتِهِ او نه د خپلي امه سره او نه د خپلي خاله سره لِأَنَّ حُرْمَتَهُنَّ مَنْصُوصٌ عَلَيْهَا فِي هٰذِهِ الْآيَةِ ځكه چي د دوی ټولو حُرمت په دې آيت كي مذكور دی وَتَدْخُلُ فِيهَا الْعَمَّاتُ الْمُتَفَرِّقَاتُ او داخليږي په دې آيت كي متفرّقي [بيلابيلي] امه ګاني وَالْخَالَاتُ الْمُتَفَرِّقَاتُ وَبَنَاتُ الْإِخْوَةِ الْمُتَفَرِّقِينَ او متفرّقي خاله ګاني او متفرّقي وريره ګاني لِأَنَّ جِهَةَ الِاسْمِ عَامَّةٌ ځكه چي جهت [طرف] د لفظ عام دی ايعني په پورتني آيت كي چي كوم د "عَمَّات، خَالَات او بَنَاتُ الْأَخ" الفاظ ذكر سوي دي، دا عام دي، هر ډول امه ګانو، خاله ګانو، وريره ګانو او خورزه ګانو ته شامل دي].

اللغات: ﴿جَدَّات﴾ جمع د "جَدَّةٌ" ده: انا (نيا)، ﴿تَلَوْنَا﴾ د نصر له باب څخه د جمع متكلم ماضي صيغه ده: تلاوت كول. ﴿سَفُلَت﴾ د كرُم د باب ماضي صيغه ده: لاندي كېدل. كښته كېدل. ﴿عَمَّة﴾ امه، جمع: عَمَّات. ﴿جِهَة﴾ طرف (سِمت)، علت، سبب.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره ځان پوه کړئ! چي د ښځو سره د نکاح د حراموالي نهه (۹) اسباب دي: ① قرابت، ② مصاهرت، ③ رضاعت، ④ جمع بين الاختين، ④ د آزادې ښځي په وجود کي د مينځي سره نكاح كول، ⑥ د هغه ښځي سره نكاح كول چي د بل خاوند په عدت (عده) کي وي، ⑦ د كافري او مشركي ښځي سره نكاح كول، ⑧ د خپلي سيّدي سره د غلام نكاح كول، ⑨ د مطلقه ثلاثه سره بغير له تحليله نكاح كول، دا نهه اسباب دي، لكه مخكي چي موږ په نقشه کي په ترتيب سره ذكر كړه، او په كتاب کي هم تقريباً په همدغه ترتيب سره د مُحرّماتو مسئلې بيان سوي دي.

نو فرمايي چي د هر كس لپاره د خپلي مور او د خپلي انا سره نكاح كول حلال او جائز نه دي، انا كه د پلار له طرفه وي او كه د مور له طرفه دواړي په دې حكم کي داخلي دي، همدارنګه د خپلي لور سره هم نكاح كول حلال نه دي؛ ځكه چي قرآن كريم په واضحه توګه د دوی حرمت بيان كړی دی، الله تعالىٰ فرمايي: ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ﴾، په دې آيت کي په ښكاره توګه د منلوا لونو حُرمت بيان سوی دی او د انا ذكر په دې آيت کي نسته، نو د انا حُرمت څرنګه ثابت سو، د دې دوه جوابه وركول سوي دي: ① يو دا چي د "أُم" لغوي معنىٰ ده: "أصل"، او انا په "أصل" کي داخله ده، ځكه انا، نيكه، ورنيكه...إلىٰ آخره، دا ټوله ذانسان په أُصولو کي داخل دي، نو ځكه به د لغوي معنىٰ په اعتبار سره "جِدَّات" هم په "أُم" کي داخل وي او "أُم" په آيت کي ذكر سو دی، لهٰذا د "أُم" په څير به "جِدَّات" هم ابدي او دايمي حرامي وي.

أو ثبتت حرمتهن: ② دويم جواب دا دی چي د انا حُرمت په اجماع سره ثابت دی، يعني پر دې خبره د اسلام له شروع څخه (بلكي د جاهليت له زمانې څخه) د اُمت اجماع سوې ده چي د اناګانو سره نكاح كول حرام دي، او د كتابُ الله په څير اجماع هم د شريعت اصل او بنياد دی، نو ځكه به د انا سره نكاح كول حرام وي.

ولا ببنت ولده إلخ: فرمايي چي څرنګه د انا پر حُرمت د اُمت اجماع او تفاق دی، همدارنګه د لمسيانو سره هم د نكاح كولو پر حُرمت د ټوله اُمت اتفاق دی، نو د دې اتفاق او اجماع په سبب به لمسياني هم په مُحرّماتو کي داخلي وي او د هغوی سره به نكاح كول حرام وي.

ولا بأخته: د دې حاصل دا دی چي د خور، امه، خاله او د وريرې او خورزې سره نكاح كول هم حرام دي؛ ځكه چي د دې ښځو حُرمت هم په دې آيت کي ذكر سوی دی: ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ

وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ﴾، له "بَنَاتُ الأَخ" څخه مراد د ورور لوڼې (يعني وريره ګانې) دي، او له "بَنَاتُ الأُخت" څخه مراد د خور لوڼې (يعني خورزه ګانې) دي.

وتدخل فيها العمات المتفرقات: د دې حاصل دا دی چې په قرآن کې د "عمات، خالات، بناتُ الأخ، بناتُ الأُخت" الفاظ مطلق ذکر سوي دي، نو ځکه به هر قسم امه ګانې، خاله ګانې... او داسې نورې حرامې وي، او د هغوی سره به نکاح کول ناجائز وي.

العمات المتفرقات: امه پر درې قسمه ده: ① حقيقي امه، يعني د پلار سکه خور، چې د پلار سره په پلار او مور دواړو شريکه وي، ② علاتي امه، چې د پلار سره فقط په پلار شريکه وي (کوم ته چې مېرېزی امه وايي)، ③ أخيافي امه، چې د پلار سره فقط په مور شريکه وي (کوم ته چې مورنۍ امه يا ناسکه امه او داسې نور وايي)، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې په پورتنې آيت کې د "عمات" لفظ عام او مطلق دی، نو ځکه دغه درېو سره قسمونو ته شامل دی.

الخالات المتفرقات: خاله هم پر درې قسمه ده: ① حقيقي خاله، د مور سکه خور چې په پلار او مور دواړو ور سره شريکه وي، ② علاتي خاله، چې فقط په پلار ور سره شريکه وي، ③ أخيافي خاله، چې فقط په مور ور سره شريکه وي، د نکاح په حُرمت کې دا درې سره قسمه خاله ګانې شريکې دي، ځکه چې په آيت کې د "خَالات" لفظ عام دی، ټولو ته شامل دی.

بنات الإخوة المتفرقين: وريره هم پر درې قسمه ده: ① حقيقي وريره، يعني د سکه ورور لور، ② علاتي وريره، يعني د مېرېزي ورور لور، ③ أخيافي وريره، د مورني ورور لور (يعني د هغه ورور لور چې د سړي سره فقط په مور شريک وي)، په حرمت کې دا درې سره قسمه وريره ګانې داخلې دي، ځکه چې د "بَنَاتُ الأَخ" لفظ عام دی، ټولو ته شامل دی.

همدارنګه د خورزې (يعني د خور د لور) هم درې قسمه دي، او درې سره قسمه په حرمت کې داخل دي، ځکه چې په آيت کې د "بَنَاتُ الأُخت" لفظ عام دی، ټولو ته شامل دی.

يادونه: مصنف رَحِمَهُ الله فقط "بنات الإخْوَة" (وريره ګانې) ذکر کړي دي، خو ښکاره دې وي چې په دې کې "بنات الأَخَوَات" (خورزه ګانې) هم داخلې دي، ځکه چې دا لفظ "بنات الإخْوَة" دواړو ته شامل دی، او د هر يوه درې قسمونه دي، لکه لوړ چې ذکر سول، او د پورتنې آيت په وجه د ټولو سره نکاح حرامه ده.

د خواښي او داسي نورو د حرمت بيان

قَالَ: وَلَا بِأُمِّ امْرَأَتِهِ فرمايي: او نه [نکاح حلاله ده] د خپلي خواښي سره الَّتِيْ دَخَلَ بِهَا أَوْ لَمْ يَدْخُلْ [برابره ده] د هغې د لور سره يې وطي کړي وي او که نه وي لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى: وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ [النساء: ۲۳] ځکه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: ستاسي د ښځو منډي [پر تاسو حرامي دي] مِنْ غَيْرِ قَيْدِ الدُّخُوْلِ بغير له قيد څخه د دخول [يعني په دې آيت کي د وطي او دخول هيڅ قيد نسته] وَلَا بِبِنْتِ امْرَأَتِهِ الَّتِيْ دَخَلَ بِهَا او نه [نکاح حلاله ده] د خپلي هغه ښځي د لور سره چي د هغې سره يې وطي کړي وي لِثُبُوْتِ قَيْدِ الدُّخُوْلِ بِالنَّصِّ ځکه چي د دخول [او وطي] قيد په آيت سره ثابت دی سَوَاءٌ كَانَتْ فِيْ حِجْرِهٖ برابره ده که هغه لور د ده په پالنه [او روزنه] کي وي أَوْ فِيْ حِجْرِ غَيْرِهٖ يا د بل چا په پالنه کي وي لِأَنَّ ذِكْرَ الْحِجْرِ خَرَجَ مَخْرَجَ الْعَادَةِ ځکه چي [په قرآن کي] د پالني [او روزني] ذکر د عادت په توګه سوی دی لَا مَخْرَجَ الشَّرْطِ نه د شرط په توګه وَلِهٰذَا اكْتَفٰى فِيْ مَوْضِعِ الْإِحْلَالِ بِنَفْيِ الدُّخُوْلِ له همدې کبله يې [په آيت کي] د إحلال پر موقع فقط د دخول [او وطي] پر نفي اکتفاء کړې ده.

اللغات: ﴿أم اِمْرَأَتِه﴾ خپله خواښې، ﴿دَخَلَ﴾ د نصر ماضي ده: داخلېدل، دلته دخول کول او وطي ځني مراد دي، ﴿حِجْر﴾ غېږه، پالنه او روزنه، جمع: حُجُوْر، ﴿إِحْلَال﴾ حلال کول، روا کول.

تشريح: دا عبارت د "حُرمتِ مصاهرت" په باره کي دی، حاصل يې دا دی چي د خواښي سره د همېشه لپاره مطلقاً نکاح کول حرام دي، برابره ده خاوند د هغې د لور سره وطي او کوروالی کړی که نه وي؛ دليل دا دی چي په قرآن کي د خواښي حرمت مطلق ذکر سوی دی، د وطي او دخول هيڅ قيد پکښي نسته، بلکي فقط پر "أُمَّهَاتِ نِسَائِكُمْ" اکتفاء سوې ده، نو ځکه به د خواښي حرمت مطلق وي، هغه که خاوند د خپلي ښځي سره وطي کړي وي که نه وي.

ولا ببنت امرأته التي إلخ: د دې حاصل دا دی چي د سړي لپاره دا هم روا نه دي چي د ربيبه نجلۍ سره نکاح وکړي، ربيبه د ښځي د مخکني مېړه لور ته وايي يعني چي له مخکني مېړه څخه ورپاته وي، د داسي نجلۍ سره په دې شرط نکاح روانه ده چي سړي د هغې د مور سره وطي کړي وي، او که وطي يې نه وي ور سره کړي، نو بيا نکاح روا ده؛ دليل يې دا دی چي قرآن کريم د ربيبه نجلۍ د حکم بيانولو په وخت کي د هغې د مور سره د وطي او دخول کولو قيد هم ذکر کړی دی، الله تعالىٰ فرمايي: ﴿وَرَبَائِبُكُمُ

اللَّاتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ مِنْ نِّسَائِكُمُ اللَّاتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ...(الخ)﴾، نو كله چي په آيت (نص) كي دا حكم د وطي او دخول په قيد سره مقيّد دى، لهذا كه وطي او دخول سوى وي نو نكاح به حرامه وي، كنې حرامه به نه وي.

سواء كانت في حجره الخ: په دې عبارت سره د يو سوال جواب وركوي، هغه دا چي قرآن كريم د دخول د قيد سره د پالني او روزني "حُجُوْر" قيد هم ذكر كړى دى، او د دې مطلب دا كيږي چي د ربيبه نجلى سره د سړي نكاح هغه وخت حرامه ده چي هغه د دې سړى تر پالني او روزني لاندي وي، او كه چيري د مخكني خاوند يا د بل كس په پالنه كي وي، نو بيا نكاح ور سره روا ده، حال دا چي حكم د دې په خلاف دى؟

نو د دې جواب دا دى چي د "حِجْر" قيد اتفاقي او عادي (عُرفي) دى، احترازي نه دى، يعني په عامه توګه عادت او رواج همدا دى چي د داسي نجونو او كوچنيانو پالنه دويم خاوند كوي، ځكه چي ښځه خپل كوچنيان د ځان سره را ولي او اول خاوند ته يې نه پرېږدي، همدا وجه ده چي قرآن كريم (د ربيبه نجلى) سره د نكاح د روايښت (إحلال) په بيان كي فقط د دخول پر نفي اكتفاء كړې ده، د "حِجْر" نفي يې نه دي كړي، لكه چي فرمايي: "فَإِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ"، لهذا كه چيري د دخول د نفي سره د "حِجْر" نفي هم شرط واى، نو تر "دَخَلْتُمْ بِهِنَّ" وروسته به يې د "وَلَسْنَ فِيْ حُجُوْرِكُمْ" قيد هم ذكر واى، لهذا د دغه قيد نه ذكر كېدل د دې خبري ښكاره دليل دى چي دلته د "حِجْر" قيد اتفاقي او عادي دى، احترازي نه دى.

د يو څو نورو محرّماتو بيان

قَالَ: وَلَا بِامْرَأَةِ أَبِيْهِ وَأَجْدَادِهِ فرمايي: او نه [نكاح روا ده] د خپل پلار د ښځي سره [يعني د مېرېزى مور سره] او نه د خپلو نېكه ګانو د ښځو سره [يعني د مېرېزى اناګانو سره] لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ [النساء: ۲۲] ځكه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: د هغو ښځو سره نكاح مه كوئ! چي ستاسو پلرونو نكاح ور سره كړې وي وَلَا بِامْرَأَةِ ابْنِهِ وَبَنِيْ أَوْلَادِهِ او نه [نكاح كول روا دي] د زوى د ښځي سره او نه د لمسيانو د ښځو سره [يعني د خپلو مړندو سره نكاح كول هم حرام دي] لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِيْنَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ [النساء: ۲۳] ځكه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: او

ستاسي د هغو زامنو ښځي کوم چي ستاسو له شا [نسل] څخه وي [هم پر تاسو حرامي دي] وَذِكْرُ الْأَصْلَابِ لِإِسْقَاطِ اعْتِبَارِ التَّبَنِّيْ او [په آيت کي] د "أصلاب" ذکر د متبنّیٰ [نومولي زوی] د ساقطولو لپاره دی لَا لِإِحْلَالِ حَلِيْلَةِ الِابْنِ مِنَ الرَّضَاعَةِ نه د رضاعي زوی د ښځي د حلالوالي لپاره وَلَا بِأُمِّهِ مِنَ الرَّضَاعَةِ وَلَا بِأُخْتِهِ مِنَ الرَّضَاعَةِ او نه [نکاح کول روا] دي د خپلي رضاعي مور سره او نه د خپلي رضاعي خور سره لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِيْ أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ مِنَ الرَّضَاعَةِ [النساء: ۲۳] ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: او ستاسي هغه مندي چي تاسو ته يې شيدې درکړي وي او ستاسي رضاعي خوندي [پر تاسو حرامي دي] وَلِقَوْلِهِ ﷺ: يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ [1] او د نبي کريم ﷺ د دې قول په وجه: کوم شيان چي د نسب په سبب حراميږي هغه د رضاعت په سبب [هم] حراميږي.

اللغات: ﴿أَجْدَاد﴾ جمع د جَدٌّ: نيکه (هغه که د مور له طرفه وي، که د پلار له طرفه)، ﴿حَلَائِل﴾ جمع د حَلِيْلَةٌ ده: ماينه (زوجه). له حَلَائِلُ أَبْنَائِكُم څخه مراد مرندي دي، ﴿أَصْلَاب﴾ جمع د صُلْبٌ ده: شا (ملا)، مراد ځني حقيقي زوی دی (يعني هغه زوی چي د انسان له خپلي ملا څخه وي)، ﴿التَّبَنِّيْ﴾ د تَفَعُّل مصدر دی: مراد ځني نومولی زوی دی، (يعني هغه هلک چي سړي خپل زوی ګرځولی وي، حقيقي زوی يې نه وي)، ﴿رَضَاعَة﴾ له سمع، فتح او ضرب ټولو څخه مصدر دی: د مور شيدې رودل، دلته ځني مراد رضاعي قرابت دی، (د کومي ښځي شيدي چي سړي رودلي وي، هغې ته د ده رضاعي مور وايي، او د رضاعي مور لوڼي د ده رضاعي خوندي کيږي).

تشريح: په دې عبارت کي درې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده چي د انسان لپاره د خپل پلار او نيکه د منکوحه ښځي سره ، په بله وينا د خپلي مېرېزۍ مور او انا سره نکاح کول حرام دي؛ دليل دا آيت دی: ﴿وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ...(إلخ)﴾ (يعني تاسي د خپل پلار د منکوحه ښځو سره نکاح مه کوئ!)، که څه هم په دې آيت کي صراحتاً نيکه نه دي ذکر سوی، خو ضمناً ذکر سوی دی، ځکه چي نيکه هم په "أب" کي داخل دی، ځکه د "أب" لغوي معنیٰ ده: "أصل"، او نيکه هم د انسان له أصولو څخه دی. يا دا چي د نيکه د ښځي پر حرمت اجماع سوې ده، لنډه دا چي هغه حرامه ده، او د روايښت هيڅ ګنجايش پکښې نسته.

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الشهادات، باب الشهادة على الأنساب والرضاع، حديث رقم:۲۶۴۵.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چې د خپل ځوی د ښځې يعني د ميرور سره همدارنګه د لمسي د ښځې سره هم نکاح حرامه ده، دليل دا آيت دی: ﴿وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمْ...(الخ)﴾.

وذكر الأصلاب إلخ: په دې سره د يو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چې په آيت کې د "أصلاب" له قيد څخه دا معلوميږي چې د رضاعي زوی د ښځې سره نکاح روا ده، حال دا چې د هغې سره هم نکاح حرامه ده، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په جواب کې فرمايي چې د "أصلاب" قيد د متبنّیٰ يعني د نوملي زوی د ساقطولو او خارجولو لپاره دی، يعني د متبنّیٰ ښځه په دې حکم کې داخله نه ده بلکې د هغې سره نکاح روا ده، لکه په خپله چې د نبي کريم ﷺ عمل پر دې ګواه دی چې هغه د خپل متبنّیٰ حضرت زيد بن حارثه د ښځې "حضرت زينب ﷺ" سره نکاح وکړه. او دا (د "أصلاب") قيد د رضاعي زوی د ساقطولو لپاره نه دی، ځکه چې په دې حديث "يَحْرُمُ مِنَ الرِّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ" سره رضاعي زوی د نسبي زوی په حکم کې ګرځول سوی دي، له دې څخه معلومه سوه چې د "أصلاب" په قيد سره فقط متبنّیٰ خارج سوی دی، لهذا اعتراض کول صحيح نه دي.

(۳)... دريمه مسئله دا ده چې د رضاعي مور او رضاعي خور سره هم نکاح حرامه او ناجائز ده، د دوی حرمت په قرآن او حديث دواړو سره ثابت دی، حديث خو اوس ذکر سو يعني: "يَحْرُمُ مِنَ الرِّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ"، او قرآني دليل دا آيت دی: ﴿وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ مِنَ الرَّضَاعَةِ﴾.

د دوو خوندو سره د نکاح کولو حکم

وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَ أُخْتَيْنِ نِكَاحًا او نه دې دوې خوندې په [يوه] نکاح کې جمع کوي وَلَا بِمِلْكِ يَمِيْنٍ وَطْئًا او نه دې يې د ملکِ رقبې په ذريعه په وطي کې [جمع کوي] لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ [النساء: ۲۳] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: او [حرام دي دا] چې تاسي دوې خوندې سره جمع کړی وَلِقَوْلِهِ الطَّيْلاً [1]: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ او ځکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: څوک چې پر الله او د آخرت پر ورځې ايمان لري فَلَا يَجْمَعَنَّ مَاءَهُ فِي رَحِمِ أُخْتَيْنِ نو هغه دې [هيڅکله] نه جمع کوي خپلې اوبه د دوو خوندو په رحم کې.

اللغات: ﴿مِلْكِ يَمِيْنٍ﴾ د رقبې ملکيت (د غلام يا مينځې مالک کېدل (يعني چې غلام يا مينځه د انسان په ملکيت کې راسي)، ﴿مَاءٌ﴾ اوبه، مراد څخې مني دي.

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب النكاح، باب رقم:۲۶، حديث رقم:۵۱۰۶ في معناه.

تشريح: دا عبارت د "جمع بين الأختين" د حرمت په باره کې دی، حاصل يې دا دی چې د هيڅ لپاره هم دا روا نه دي چې دوې خوندې په يوه نکاح کې جمع کړي، همدارنګه پر يوه ځای د دوو داسې مينځو مالک کېدل خو صحيح دي چې دواړې سره خوندې وي، لېکن پر يوه ځای د دواړو سره (يعني کله ديوې سره او کله دبلې سره) وطي کول روا نه دی. د دوو خوندو د حرمت دليل د قرآن کريم دا آيت دی: ﴿وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الأُخْتَيْنِ﴾ دی.

او بل دليل دا حديث دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو يعني: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ...(إلخ)".
او د دوو مينځو (خوندو) سره د وطي کولو د حرمت دليل هم دغه حديث دی؛ ځکه په دې حديث کې مطلقاً د دوو خوندو په رحم کې له اوبو جمع کولو (وطي کولو) څخه منع سوې ده، برابره ده که هغوی دواړې مينځې وي او که آزادې وي.

د مينځې د خور سره د نکاح کولو حکم

فَإِنْ تَزَوَّجَ أُخْتَ أَمَةٍ لَهُ قَدْ وَطِئَهَا که [يوسړی] نکاح وکړي د مينځې د خور سره په داسې حال کې چې د مينځې سره يې وطي کړې وي صَحَّ النِّكَاحُ نو نکاح صحيح ده لِصُدُورِهِ مِنْ أَهْلِهِ مُضَافًا إِلَى مَحَلِّهِ ځکه چې نکاح له خپل أهل څخه صادره سوه [او] د خپل محل وطرف ته يې نسبت وسو وَإِذَا جَازَ لَا يَطَأُ الْأَمَةَ او کله چې نکاح جائز ده نو [د دې سړي لپاره حکم دا دی] چې د مينځې سره دي وطي نه کوي وَإِنْ كَانَ لَمْ يَطَأُ الْمَنْكُوحَةَ که څه هم [د هغې] منکوحه [خور] سره يې وطي نه وي کړې لِأَنَّ الْمَنْكُوحَةَ مَوْطُوءَةٌ حُكْمًا ځکه چې منکوحه ښځه د حکم په اعتبار سره وطي کړی سوې ده وَلَا يَطَأُ الْمَنْكُوحَةَ لِلْجَمْعِ او د منکوحې مينځې سره دي [هم] وطي نه کوي [د دوو خوندو] د جمع کېدو په وجه إِلَّا إِذَا حَرَّمَ الْمَوْطُوءَةَ عَلَى نَفْسِهِ بِسَبَبٍ مِنَ الْأَسْبَابِ خو دا چې وطي کړی سوې مينځه په يوه سبب سره پر ځان حرامه کړي فَحِينَئِذٍ يَطَأُ الْمَنْكُوحَةَ نو په دې وخت کې د منکوحه مينځې سره وطي کولای سي لِعَدَمِ الْجَمْعِ ځکه چې [اوس د وطي په اعتبار سره] جمع کېدل نسته [يعني ځکه چې اوس د جمع بين الوطی خرابي نه پېښيږي] وَيَطَأُ الْمَنْكُوحَةَ او د منکوحه مينځې سره وطي کولای سي إِنْ لَمْ يَكُنْ وَطِئَ الْمَمْلُوكَةَ که چيري هغه د مملوکه مينځې سره وطي نه وي کړې لِعَدَمِ الْجَمْعِ وَطْئًا ځکه چې د وطي په اعتبار سره جمع کېدل نسته إِذِ الْمَرْقُوقَةُ لَيْسَتْ مَوْطُوءَةً حُكْمًا ځکه چې مملوکه مينځه

د حکم په اعتبار سره وطي کړی سوې نه ده [يعني مملوکه مينځه د انسان په ملکيت سره وطي کړی سوې نه شمارل کيږي].

اللغات: ﴿صدور﴾ د نصر مصدر دی: صادرېدل، واقع کېدل. ﴿مَوْطُوءَةٌ﴾ د سمع د باب اسم مفعول دی: وطي کړې سوې ښځه. هغه ښځه چي جماع (وطي) ور سره سوي وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که ديو چا په ملکيت کي موطوئه مينځه وي يعني هغه وطي ور سره کړي وي. او بيا هغه د دې موطوئه مينځي د خور سره نکاح وکړي، نو دا نکاح صحيح او جائز ده.

دليل دا دی چي دا نکاح له داسي کس څخه صادره سوې ده چي هغه د نکاح أهليت لري (يعني عاقل او بالغ دی)، همدارنګه د چا سره چي يې نکاح کړې ده هغه اجنبيه (پردی ښځه) ده او د نکاح محل ده. لهذا نکاح يې هم په خپل محل کي واقع سوه، نو ځکه به نکاح صحيح او جائز وي. او تر نکاح وروسته هغه بيا د خپلي موطوئه (مملوکه) مينځي سره وطي نه سي کولای. که څه هم د هغې د منکوحه خور سره يې تر اوسه وطي کړې نه وي، او منکوحه حکماً د موطوئې په درجه کي ده. نو اوس که هغه د مملوکه مينځي سره وطي وکړي، نو د جمع بين الأختين في الوطی خرابي به پېښه سي. کوم چي ناروا او حرامه ده. او د منکوحې مينځي سره د وطي کولو په صورت کي هم پورتنۍ خرابي پېښېږي. نو ځکه د هغې سره هم وطي نه سي کولاي (لنډه دا چي په دې صورت کي هغه نه د مملوکه مينځي سره وطي کولای سي او نه د هغې د خور يعني د منکوحه مينځي سره وطي کولای سي).

لېکن که تر نکاح کولو وروسته خاوند خپله موطوئه (مملوکه) مينځه په يو سبب سره پر ځان حرامه کړي. مثلاً خرڅه يې کړي يا يې بل چا ته هبه کړي او هغه ته يې وسپاري. يا په يو بل سبب سره يې پر ځان حرامه کړي، نو بيا د منکوحه مينځي سره وطي کولای سي، ځکه چي اوس د جمع بين الأختين في الوطی خرابي مينځ ته نه راځي.

او که چيري هغه د مملوکه مينځي سره بالکل وطي کړي نه وي. نو بيا د منکوحه مينځي سره وطي کولای سي، ځکه چي مملوکه مينځه موطوئه نه شمارل کيږي (يعني صرف په ملکيت کي د مينځي په موجود والي سره هغه وطي کړې سوې نه شمارل کيږي. بلکي وطي شرط دي). لهذا دا صورت هم د جمع بين الأختين في الوطی د خرابۍ څخه پاک دی. نو ځکه په دې صورت کي د منکوحې مينځي سره وطي کول صحيح او جائز دي.

د دوو خوندو سره د نکاح کولو یو بل صورت

فَإِنْ تَزَوَّجَ أُخْتَيْنِ فِي عُقْدَتَيْنِ او كه [یو سړی] نکاح وکړي د دوو خوندو سره په دوو عقدونو کي وَلَا يَدْرِيْ أَيَّتُهُمَا أُولَى او خبر نه وي [په دې] چي کومه يوه اوله ده فُرِّقَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمَا نو د خاوند او دوو خوندو په مینځ کي به تفریق کیږي [یعني له خاوند څخه به دواړي خوندي جلا کول کیږي] لِأَنَّ نِكَاحَ إِحْدَاهُمَا بَاطِلٌ بِيَقِيْنٍ ځکه چي په دواړو کي د یوې نکاح په یقیني توګه باطله ده وَلَا وَجْهَ إِلَى التَّعْيِيْنِ او [له دواړو څخه د یوې] د متعیّنولو هیڅ صورت نسته لِعَدَمِ الْأَوْلَوِيَّةِ ځکه چي اول والي نسته [یعني ځکه چي د یوې اول والی (سړي ته) معلوم نه دی] وَلَا إِلَى التَّنْفِيْذِ مَعَ التَّجْهِيْلِ او د جهالت سره د نکاح د نافذولو [هم] هیڅ صورت نسته لِعَدَمِ الْفَائِدَةِ ځکه [په دې کي هیڅ] فایده نسته أَوْ لِلضَّرَرِ یا دا چي [په دې کي] نقصان سته فَتَعَيَّنَ التَّفْرِيْقُ نو په دې وجه [د دوی په مینځ کي صرف] تفریق متعیّن سو وَلَهُمَا نِصْفُ الْمَهْرِ او د دواړو لپاره به نیم مهر واجب وي [یعني هغه سړی به دغه دواړو خوندو نیم مهر ورکوي] لِأَنَّهُ وَجَبَ لِلْأُوْلَى مِنْهُمَا ځکه چي [دا] نیم مهر خو واجب سوی وو د اولي [خور] لپاره وَانْعَدَمَتِ الْأَوْلَوِيَّةُ لِلْجَهْلِ بِالْأَوْلَوِيَّةِ [لیکن داولي خور] ترجیح [او ولایت] معلوم سو په اول والي سره د ناخبرۍ په وجه [یعني ځکه چي سړي ته د یوې اول والی معلوم نه دي چي کومه یوه اوله ده] فَيُصْرَفُ إِلَيْهِمَا نو ځکه به [نیم مهر] دواړو ته ورکول کیږي وَقِيْلَ: لَا بُدَّ مِنْ دَعْوَى كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا أَنَّهَا الْأُوْلَى او یو قول دا دی: چي له دواړو څخه د هري یوې [دا] دعوه کول ضروري دي چي زه اوله یم أَوِ الْاِصْطِلَاحِ یا [د دواړو خوندو] صلح [او اتفاق] کول ضروري دي لِجَهَالَةِ الْمُسْتَحِقَّةِ ځکه چي حقداره [خور] مجهوله ده.

اللغات: ﴿أُوْلَوِيَّة﴾ د الف په "ضمه" سره: له "أُوْلٰى" څخه مشتق دی، معنیٰ یې ده: اول والی، مخکښی والی (أُوْلٰى د مؤنث لپاره راځي؛ ځکه چي د مذکر لپاره أَوَّل استعمالیږي)، ﴿أَوْلَوِيَّة﴾ د الف په "فتحه" سره: له "أَوْلٰى" څخه مشتق دی، معنیٰ یې ده: غوره والی، افضلیت، ترجیح، مراد ځني ولایت او ملکیّت دی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي په دوو جلا عقدونو کې د دوو خوندو سره نکاح وکړي (د دوو عقدونو قيد يې ځکه ولګوی چې که په يوه عقد کې د دوو خوندو سره نکاح وکړي، نو په هغه ګړي د دواړو نکاح باطليږي، ځکه چې په يوه عقد (نکاح) کې د دوو خوندو جمع کول جائز نه دي، لېکن که په دوو جلا عقدونو کې نکاح ورسره وکړي) او دا معلومه نه وي چې د کومې يوې سره يې اول نکاح وکړه (ځکه که دا معلومه وي چې د فلانکۍ سره يې اول نکاح وکړه، نو هغه يې په نکاح کيږي او د دويمې نکاح باطليږي)، نو په داسې صورت کې به قاضي د خاوند او دواړو خوندو په مينځ کې تفريق کوي، او دا تفريق به طلاقِ بائن شمارل کيږي.

دليل يې دا دی چې په دې دواړو کې د يوې نکاح په يقيني توګه جائز ده او د يوې نکاح په يقيني توګه باطله ده، نو اوس د قاضي لپاره دوه صورتونه دي: ① يو دا چې په دواړو خوندو کې يوه متعيّنه کړي او د هغې سره د خاوند نکاح نافذ کړي، ② دويم دا چې د جهالت په وجه د دواړو سره د خاوند نکاح نافذ کړي، لېکن دا دواړه صورتونه ممکن نه دي؛ اول صورت خو په دې وجه ممکن نه دی چې د يوې ښځې په متعيّنولو سره ترجيح بلا مرجح راځي کوم چې صحيح نه دی، دويم صورت ځکه ممکن نه دی چې د دواړو د نکاح په نافذولو کې هيڅ فايده خو نسته بلکې په دې کې (د خوندو) نقصان هم دی، فايده ځکه نسته چې د نکاح مقصد د وطي حلال والی او د أولاد حاصلول دي، لېکن په دې صورت کې هغه يوې ته ور نژدې کېدلای هم نه سي وطي خو هلته پريږده! (ځکه چې په دې صورت کې يوه خور د هغه منکوحه ګرځي او بله يې مملکوکه ګرځي، او د دې حکم مخکې ذکر سو)، لهذا د دواړو د نکاح په نافذولو کې هيڅ فايده نسته، او نقصان په دې توګه دی چې دواړې خوندې به د يوه سړي تر قبضې لاندې اوسيږي او دواړو ته به فقط يوه نفقه ورکول کيږي او دوی به هيچا سره نکاح نه سي کولای، نو دا صورت هم ممکن نه دی، لهذا کله چې دا دواړه صورتونه ناممکن دي، نو له تفريق څخه پرته بله هيڅ لاره نسته، د دوی په مينځ کې به تفريق راوستل کيږي، چې د جمع خرابي او داسې نورې خرابياني مينځ ته رانه سي، او چې دا ښځې (خوندې) يو بل ځای خپله نکاح وکړي او په آزاده ژوند تېر کړي.

ولها نصف المهر الخ: د دې حاصل دا دی چې تر تفريق وروسته به دواړو منکوحه خوندو ته نيم مهر ورکول کيږي، مثلاً که مهر زر (۱۰۰۰) درهمه وو، نو دواړو ته به په ګډه پنځه سوه درهم ورکول کيږي چې د هرې يوې لپاره به دوه نيم سوه (۲۵۰) درهم وي؛ دليل دا دی چې مهر په حقيقت کې د اولې خور لپاره واجب دی (ځکه چې د بلې خور نکاح په يقيني توګه باطله ده)، او څرنګه چې دا تفريق قبل الدخول دی، نو ځکه به اوله خور فقط د نيم مهر حقداره وي، خو څرنګه چې دلته اول والی معلوم نه دی چې کومه يوه اوله ده، لهذا ظاهراً پر هرې يوې د نکاح د صحت او عدمِ صحت حکم

کېدای سي، نو د دوی په مینځ کي ترجیح مشکل ده، نو ځکه به دا نیم مهر دواړو ته په ګډه ورکول کیږي.

وقيل لابد إلخ: د فقیه ابو جعفر او نورو رایه دا ده چي په دغه دواړو خوندو کي هري یوې ته دا دعوه کول پکار دي چي زه اوله منکوحه یم، د دې لپاره چي د قاضي لپاره فیصله کول مشکل سي، او هغه په نیم مهر کي دواړي ګډې او شریکي کړي، یا دا چي دواړي خوندي دي په خپل مینځ کي صلح وکړي او د نیم مهر پر شرکت او ګډون دي راضي سي.

د دوو محرمو ښځو سره د نکاح کولو بیان

وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا او نه دي سره جمع کوي [په یوه نکاح کي] ښځه او د هغې امه أَوْ خَالَتِهَا یا د هغې خاله أَوِ ابْنَةِ أَخِيهَا یا د هغې وريره أَوِ ابْنَةِ أُخْتِهَا یا د هغې خورزه لِقَوْلِهِ الْعَلِيْلاً [1] ځکه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي لَا تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا وَلَا عَلَى خَالَتِهَا وَلَا عَلَى ابْنَةِ أَخِيهَا وَلَا عَلَى ابْنَةِ أُخْتِهَا نه دي په نکاح کیږي ښځه د هغې پر امه او نه پر خاله او نه پر وريرې او نه پر خورزې وَهٰذَا مَشْهُورٌ او دا حدیث مشهور دی يَجُوْزُ الزِّيَادَةُ عَلَى الْكِتَابِ بِمِثْلِهِ [او] په داسي حدیث سره په کتابُ الله باندي زیادت کول جائز دي.

اللغات: ﴿عَمَّة﴾ امه (امکه)، ﴿لَا تُنْكَحُ﴾ د فتح له باب څخه د نفي مجهول صیغه ده: نکاح ور سره کول.

تشریح: مسئله: دا ده که یو سړي د یوې ښځي سره نکاح کړې وي، نو د هغې ښځي په وجود کي د هغې د امه او خاله سره نکاح کول جائز نه دي، همدارنګه د سړي لپاره د هغې د وريرې او خورزې سره نکاح کول جائز نه دي، دلیل پورتنی حدیث دی کوم چي په عبارت کي ذکر سو چي نبي کریم ﷺ له دې څخه منع کړې ده، دا حدیث امام مسلم، امام ابوداو او امام ترمذی روایت کړی دی، او مشهور حدیث دی، د حدیث مضمون که څه هم د قرآن د دې آیت ﴿وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ﴾ [سورة النساء:۲۴]، مخالف دی (ځکه چي په دې آیت کي د ښځي سره د امه، خاله او د داسي نورو د جمع کولو حرمت نه دي ذکر سوی)، خو څرنګه چي دا حدیث مشهور دی، او په حدیثِ مشهور سره په کتابُ الله باندي زیادت جائز دی، او په دې سره هیڅ خرابي مینځ ته نه راځي.

---

[1] تخریج: أخرجه أبوداؤد في كتاب النكاح، باب ما يكره أن يجمع بينهن من النساء، حديث رقم:۲۰۶۵. والترمذی فی کتاب النكاح باب رقم ۳۰: حديث رقم ۱۱۲۶

د پورتنی مسئلې په هکله يوه قاعده او اصول

وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَ امْرَأَتَيْنِ او نه دې جمع کوي [په يوه نکاح کې] داسې دوې ښځې **لَوْ كَانَتْ إِحْدَاهُمَا رَجُلًا** چې که [بالفرض] په دوی کې يوه ښځه نارينه وای **لَمْ يَجُزْلَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ بِالْأُخْرَى** نو جائز به نه وای د سړي لپاره چې د بلې سره نکاح وکړي **لِأَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَهُمَا يُفْضِيْ إِلَى الْقَطِيْعَةِ** ځکه چې د داسې دوو ښځو جمع کول د قطع رحمۍ سبب جوړيږي **وَالْقَرَابَةُ الْمُحَرِّمَةُ لِلنِّكَاحِ مُحَرِّمَةٌ لِلْقَطْعِ** او کوم قرابت چې نکاح حراموي هغه قطع رحمي هم حراموي **وَلَوْ كَانَتِ الْمَحْرَمِيَّةُ بَيْنَهُمَا بِسَبَبِ الرَّضَاعِ** او که د دوی په مينځ کې حُرمت د رضاعت په وجه وه **يَحْرُمُ لِمَا رَوَيْنَا مِنْ قَبْلُ** نو ا د دوی جمع کول ا به د هغه حديث په وجه حرام وي کوم چې موږ مخکې بيان کړی.

اللغات: ﴿قَطِيْعَة﴾ قطع رحمي (وسيله شکول). د قريب سره بد چلندي کول.

تشريح: په دې عبارت کې امام قدوري رَحِمَهُ الله د "جمع بين المرأتين" د حلت او حرمت په حواله سره يوه قاعدۀ کليه بيانوي، قاعده دا ده چې د سړي لپاره هري دوې داسې ښځې په يوه نکاح کې جمع کول حرام دي چې که يوه ښځه له دوی دوو څخه نارينه فرض کړی سي، نو نکاح به يې په خپل مينځ کې حرامه وي. مثلاً يوه وريره وي او بله يې امه وي، نو که وريره نارينه فرض کړی سي نو هغه به وراره سي، او د وراره او امه په مينځ کې نکاح حرامه ده. نو ځکه به وريره او امه په نکاح کې سره جمع کول حرام وي، همدارنګه که امه نارينه فرض کړی سي نو هغه به اکا وي، او د اکا او وريرې په مينځ کې نکاح حرامه ده. همدارنګه د خورزې او خاله مثال دی.

دليل مخکنی حديث دی يعني: "لَا تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا...(الخ)" د همدغه حديث پر بناء مصنف رَحِمَهُ الله دا قاعدۀ کليه بيان کړې ده.

لأن الجمع بينهما يفضي إلخ: عقلي دليل دا دی چې د داسې دوو قريبو ښځو جمع کول د دوی دواړو په مينځ کې د قطع رحمۍ سبب جوړيږي، ځکه چې په دې صورت کې يوه د بلې بَنْ ګرځي، او دا ښکاره خبره ده چې د بُونو په مينځ کې عموماً دښمني (نفرت) وي، او قطع رحمي او دښمني حرامه ده، نو کوم شی چې د دښمنۍ سبب جوړيږي، هغه به هم حرام وي.

ولو كانت المحرمية إلخ: فرمايي که د "جمع بين المرأتين" د حرمت سبب رضاعت وي، نو په دې صورت کې به د هغه حديث وجه د دوی جمع کول حرام وي کوم چې مخکې بيان کړی يعني دا حديث: "يَحْرُمُ مِنَ الرِّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ".

په پورتنۍ قاعده باندې يوه تفريع سوې مسئله

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَجْمَعَ بَيْنَ امْرَأَةٍ وَبِنْتِ زَوْجٍ كَانَ لَهَا مِنْ قَبْلُ او هيڅ حرج نسته په دې کې چې جمع کړي [په يوه نکاح کې] ښځه او د هغې د مخکني خاوند لور [کوم چې يې له دويمې ښځې څخه وي، يعنې د ښځې مېرېزې لور وي] لِأَنَّهُ لَا قَرَابَةَ بَيْنَهُمَا وَلَا رَضَاعَ ځکه چې د دې دواړو په مينځ کې نه قرابت سته او نه رضاعت وَقَالَ زُفَرُ: لَا يَجُوزُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا نکاح جائز نه ده لِأَنَّ ابْنَةَ الزَّوْجِ لَوْ قَدَّرْتَهَا ذَكَرًا ځکه که د (اول) خاوند لور [يعني مېرېزې لور] ته نارينه فرض کړې لَا يَجُوزُ لَهُ التَّزَوُّجُ بِامْرَأَةِ أَبِيهِ نو جائز به نه وي د هغه لپاره د خپل پلار د ښځې سره نکاح کول قُلْنَا: امْرَأَةُ الْأَبِ لَوْ صَوَّرْتَهَا ذَكَرًا موږ جواب ورکوو چې که ته د پلار ښځه [يعني مېرېزې مور] نارينه فرض کړې جَازَ لَهُ التَّزَوُّجُ بِهٰذِهِ نو د هغه لپاره به د دې نجلۍ سره نکاح کول جائز وي وَالشَّرْطُ أَنْ يُصَوَّرَ ذٰلِكَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ او شرط دا دى چې دا [نه جائز کېدل] له هر طرف څخه فرض کړى سي.

اللغات: ﴿قَدَّرْتَ﴾ د تفعيل له باب څخه د واحد مذکر مخاطب ماضي صيغه ده: فرض کول، اندازه کول.
﴿صَوَّرْتَ﴾ مخکنۍ صيغه ده: تصوّر کول، سنجول، فرض کول.

تشريح: په تېر عبارت کې چې د "جمع بين المرأتين" په هکله کومه قاعده بيان سوه، دا مسئله پر هغه قاعدې متفرع سوې ده، حاصل د مسئلې دا دى چې ښځه او د هغې د اول خاوند د بلې ښځې لور په نکاح کې سره جمع کول صحيح او جائز دي، په لنډه توګه دا چې مېرېزې مور او د هغې مېرېزې لور سره جمع کول جائز دي، د مثال په توګه د زيد دوې ښځې په نکاح دي، يوه حفصه او بله فاطمه، او له فاطمې څخه يوه لور هم لري چې د هغې نوم زينب دى، اوس که زيد حفصې ته طلاق ورکړي، نو د خالد لپاره دا جائز دي چې زينب او فاطمه دواړه په نکاح کې سره جمع کړي، ځکه چې د حفصې او زينب په مينځ کې نه قرابت سته او رضاعت.

امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې جائز نه دي، وجه يې دا ده چې که زينب نارينه فرض کړى سي نو هغه به د حفصې مېرېزى زوى سي او د مېرېزي زوى سره د مېرېزې مور نکاح کول حرام دي، نو ځکه به د دوى جمع کول جائز نه وي.

قلنا امرأة الأب إلخ: امام زفر رَحِمَهُ الله ته موږ دا جواب ورکوو چې په پورتنۍ قاعده کې له "نارينه فرض کولو" څخه مراد دا دي چې دواړه طرفه نارينه فرض کړى سي او په دواړو طرفونو کې حُرمت ثابت سي، دلته که څه هم د زينب (يعني د مېرېزې لور) په نارينه فرض کولو سره حُرمت ثابتيږي، لېکن د حفصې (يعني د مېرېزې مور) په نارينه فرض کولو سره حرمت نه ثابتيږي، ځکه که حفصه (مېرېزې مور) نارينه فرض کړى سي نو

حفصه به أجنبي (پردی سړی) وګرځي او د زینب او حفصې به مینځ کي به دا مېړېزتوب بالکل ختم سي، او دواړي به سره أجنبي سي، او دوې أجنبي (پردی) ښځي په نکاح کي جمع کول جائز دي. لهذا په پورتنی مسئله کي به هم د سړی لپاره دا جائز وي چي د ښځي سره د هغې مېرېزی لور په نکاح کي جمع کړي. ځکه چي دلته په دواړو طرفو کي د نکاح حرمت نه ثابتیږي، او د "جمع بين المرأتين" د حرمت شرط دا دی چي په دواړو طرفونو کي به حرمت ثابت وي. والله أعلم بالصواب

په زنا سره د حرمتِ مصاهرت د ثبوت بيان

وَمَنْ زَنٰى بِامْرَأَةٍ او څوک چي د يوې ښځي سره زنا وکړي حَرُمَتْ عَلَيْهِ أُمُّهَا وَبِنْتُهَا نو پر هغه د دې [زانيې] ښځي مور او د هغې لور حرامي سوې وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: اَلزِّنَا لَا يُوْجِبُ حُرْمَةَ الْمُصَاهَرَةِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي زنا حرمتِ مصاهرت نه سي ثابتولای ايعني په زنا سره د خواښي توب حرمت نه ثابتيږي] لِأَنَّهَا نِعْمَةٌ ځکه چي مصاهرت يو نعمت دی فَلَا تُنَالُ بِالْمَحْظُوْرِ لهذا هغه به په حرام شي سره نه حاصليږي وَلَنَا: أَنَّ الْوَطْءَ سَبَبُ الْجُزْئِيَّةِ بِوَاسِطَةِ الْوَلَدِ او زموږ دليل دا دی: چي وطي د بچي په واسطه سره د جزء جوړېدلو سبب دی حَتّٰى يُضَافَ إِلٰى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَمَلًا همدا وجه ده چي [د وطي په سبب پيدا سوی] په دواړو کي د هريوه طرف ته په پوره توګه منسوب کيږي فَيَصِيْرُ أُصُوْلُهَا وَفُرُوْعُهَا كَأُصُوْلِهٖ وَفُرُوْعِهٖ نو ځکه به د زانيې [وطي کړی سوي ښځي] أصول او فروع د زاني د اصولو او فروعو په څير ګرځي وَكَذٰلِكَ عَلَى الْعَكْسِ او همدارنګه به د دې برعکس هم کيږي وَالِاسْتِمْتَاعُ بِالْجُزْءِ حَرَامٌ او فايده اخيستل له [خپل] جزء څخه حرام دي إِلَّا فِي مَوْضِعِ الضَّرُوْرَةِ مګر د ضرورت په ځای کي وَهِيَ الْمَوْطُوْءَةُ او د ضرورت ځای وطي کړی سوې ښځه ده وَالْوَطْءُ مُحَرِّمٌ مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ سَبَبُ الْوَلَدِ او وطي په دې حيثيت سره [د أصولو او فروعو] حراموونکي دي چي وطي د بچي سبب دي لَا مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ زِنَاءٌ نه په دې حيثيت سره چي وطي زنا ده.

اللغات: ﴿مُصَاهَرَة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: د خسر توب او خواښي توب قرابت. د خېښۍ او زومتوب قرابت. ﴿لَا تُنَالُ﴾ د فتح د باب نفي صيغه ده: نه حاصليږي، نه تر لاسه کيږي. ﴿مَحْظُوْر﴾ ممنوع او حرام شی يا کار. ﴿إِسْتِمْتَاع﴾ د استفعال مصدر دی: فايده او نفع اخيستل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې که يو سړي د يوې ښځې سره زنا وکړي نو آيا په دې سره د دوی په مينځ کې حرمتِ مصاهرت ثابتيږي که نه؟ يعني آيا د دې زناکاره سړی (زاني) او زناکاره ښځې (زانيې) اُصول او فروع يو پر بل حراميږي که نه؟ په دې باره کې د فقهاؤ اختلاف دی، د احنافو مذهب دا دی چې په زنا سره حرمتِ مصاهرت ثابتيږي، يعني د زانيې اصول او فروع پر زاني او د زاني اصول او فروع پر زانيې حراميږي، له اصولو څخه مراد مور، انا او داسې نور دي، او له فروعو څخه مراد لور، لمسۍ او داسې نور دي.

د شوافعو مذهب دا دی چې په زنا سره حرمتِ مصاهرت نه ثابتيږي، نو د دوی په نېز د زاني او زانيې اصول او فروع په خپل مينځ کې سره حلال دي (يعني يو د بل سره نکاح کولای سي).

د امام شافعي دليل: دا دی چې د زنا يو حرام کار دی، او الله تعالیٰ په دې آيت: ﴿وَهُوَ الَّذِىْ خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَّصِهْرًا﴾ [سورة الفرقان: ۵۴]. کې مصاهرت او خپښي يو محترم قرابت او غوره نعمت ګرځولی دی، او په يو حرام کار سره نعمت نه سي حاصلېدای، نو ځکه به په زنا سره حرمت مصاهرت نه ثابتيږي، او د زاني او زانيې اصول او فروع به په خپل مينځ کې نه سره حراميږي.

زموږ دليل: دا دی چې په وطي کولو سره سړی د ښځې جزء جوړيږي، او ښځه د سړي جزء جوړيږي، ځکه کله چې د سړي د وطي په سبب کوچنی پيدا سي، نو کوچنی په پوره توګه د دواړو زوی شمارل کيږي، دواړو ته يې نسبت کيږي او ويل کيږي چې دا د فلانکي سړي زوی دی او دا د فلانکۍ ښځې زوی دی، او زوی که نارينه وي، نو پر هغه د موطوئې (زانيې) مور اُصول او فروع حراميږي، او که کوچنی ښځينه وي، نو پر هغه د واطي (زاني) اصول او فروع حراميږي. حاصل دا چې کوچنی د وطي په وجه پيدا کيږي، او د کوچني په وجه ښځه د سړي جزء جوړيږي او سړی د ښځې جزء جوړيږي، او له خپل جزء څخه فايده اخيستل حرام دي، نو ځکه به د زاني او زانيې اُصول او فروع په خپل مينځ کې سره حرام وي، اوس که دغه وطي روا (حلال) او که حرام وي يعني زنا وي، په دواړو سره کوچنی پيدا کيږي او په دواړو سره جزئيت ثابتيږي، نو ځکه به په زنا سره هم حرمتِ مصاهرت ثابتيږي.

إلا في موضع الضرورة: په دې سره د يو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چې کله ښځه د سړي جزء جوړه سو، او سړی د ښځې جزء جوړ سو، او له خپل جزء څخه فايده اخيستل حرام دي، نو تر

یوه کوچني وروسته هم د دغه زانیې ښځي سره د زاني نکاح او وطي حرامېدل پکار دي، حال دا چي حکم د دې په خلاف دی.

نو د دې جواب ورکوي چي اصل خو همدغه دی چي له خپل جزء څخه فایده اخیستل حرام دي، لیکن دلته د سخت ضرورت په وجه د نکاح اجازه ورکول سوې ده هغه دا چي د نکاح مقصد "یعني د اولاد زېږولو سلسله" (توالد او تناسل) ختم نه سي، او دا مسئله داسي ده لکه څرنګه چي پر حضرت ادام علیه السلام تولي لوڼي حرامي وې او حضرت حوا هم د هغه د لوڼو په فهرس کي راتله، خو د توالد او تناسل د ضرورت په وجه هغه له دې حکم څخه مستثنیٰ وه.

جواب: په "والوطئ محرم..." سره د امام شافعي د دلیل جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چي وطي د زنا په حیثیت سره د حرمتِ مصاهرت سبب نه جوړېږي، بلکي په دې حیثیت سره د حرمتِ مصاهرت سبب جوړېږي چي د وطي په وجه هلک پیدا کیږي، نو وطي د ولد قائم مقام دي، برابره ده وطي حلال وي که حرام (یعني زنا) وي، او ولد معصوم او بې قصوره دی، ځکه چي د زاني او زانیې په عمل کي د هغه هیڅ دخل نسته، لنډه دا چي وطي د "من حیث أنه سبب الولد" په وجه د حرمتِ مصاهرت سبب جوړېږي، او څرنګه چي په دې کي هیڅ قباحت او بدي نسته، نو ځکه په دې سره د مصاهرت نعمت حاصلېدای سي. والله أعلم بالصواب

په مسه کولو سره د حرمتِ مصاهرت د ثبوت بیان

وَمَنْ مَسَّتْهُ اِمْرَأَةٌ بِشَهْوَةٍ او کوم سړی چي ښځه په شهوت سره مسه کړي [یعني که ښځه په شهوت سره یو سړی ته لاس ور وړی] حَرُمَتْ عَلَیْهِ أُمُّهَا وَابْنَتُهَا نو پر هغه سړي د دې ښځي مور او لور حرامیږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تَحْرُمُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي نه حرامیږي وَعَلٰی هٰذَا الْخِلَافِ مَسُّهُ اِمْرَأَةً بِشَهْوَةٍ او پر همدغه اختلاف دي مسه کول د سړي د یوې ښځي په شهوت سره [یعني که سړي په شهوت سره یو ښځي ته لاس ور وړي نو هم دغه اختلاف دی] وَنَظَرُهُ إِلٰی فَرْجِهَا او [پر همدغه اختلاف دي] د ښځي شرمګاه ته د سړي کتل [په شهوت سره] وَنَظَرُهَا إِلٰی ذَکَرِهٖ عَنْ شَهْوَةٍ او [پر همدغه اختلاف دي] د سړي و ذکر ته د ښځي کتل په شهوت سره لَهُ: أَنَّ الْمَسَّ وَالنَّظَرَ لَیْسَا فِي مَعْنَی الدُّخُوْلِ د امام شافعي

رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي مسه کول او کتل د دخول [او وطي] په حکم کي نه دي وَلِهٰذَا لَا يَتَعَلَّقُ بِهِمَا فَسَادُ الصَّوْمِ وَالْإِحْرَامِ وَوُجُوبُ الِاغْتِسَالِ همدا وجه ده چي د دې دواړو سره د روژې او احرام فساد او د غسل وجوب نه متعلق کيږي [يعني همدا وجه ده چي په شهوت سره د مسه کولو او کتلو په وجه روژه او احرام نه فاسديږي او غسل نه واجبيږي] فَلَا يُلْحَقَانِ بِهِ نو ځکه به دوی د دخول سره نه لاحق کيږي وَلَنَا: أَنَّ الْمَسَّ وَالنَّظَرَ سَبَبٌ دَاعٍ إِلَى الْوَطْءِ او زموږ دليل دا دی: چي مسه کول او کتل د وطي [او دخول] او طرف ته را بلونکی سبب دی [يعني همدا دواړه انسان د وطي او دخول و طرف ته کشوي او د دې بلنه ورکوي] فَيُقَامُ مُقَامَهُ فِي مَوْضِعِ الِاحْتِيَاطِ نو ځکه به دوی د احتياط په ځای کي د وطي [او دخول] قائم مقام کيږي ثُمَّ الْمَسُّ بِشَهْوَةٍ أَنْ تَنْتَشِرَ الْآلَةُ بيا په شهوت سره مسه کول دا دي چي آله [ذکر] وغوړيږي [او ودريږي] أَوْ تَزْدَادَ انْتِشَارًا يا يې غوړيدل [او دريدل] زيات سي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح [تعريف] دی وَالْمُعْتَبَرُ النَّظَرُ إِلَى الْفَرْجِ الدَّاخِلِ او معتبر دننه فرج ته کتل دي وَلَا يَتَحَقَّقُ ذَلِكَ إِلَّا عِنْدَ اتِّكَائِهَا او دا نه ثابتيږي مګر [د ناستي په حالت کي] د ښځي په تکيه [او ډډه] وهلو سره وَلَوْ مَسَّ فَأَنْزَلَ او که څوک [يوه ښځه] مسه کړي او انزال سي فَقَدْ قِيلَ: إِنَّهُ يُوجِبُ الْحُرْمَةَ نو ويل سوي دي: چي دا حرمتِ مصاهرت ثابتوي وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ لَا يُوجِبُهَا او صحيح قول دا دی چي دا حرمتِ مصاهرت نه ثابتوي لِأَنَّهُ بِالْإِنْزَالِ تَبَيَّنَ أَنَّهُ غَيْرُ مُفْضٍ إِلَى الْوَطْءِ ځکه چي [د هغه] په انزال‌بېدلو سره ښکاره سوه چي [د هغه] دا مسه کول تر وطي پوري رسوونکي نه دي وَعَلَى هٰذَا إِتْيَانُ الْمَرْأَةِ فِي الدُّبُرِ او د ښځي [سره] په مقعد کي وطي کول هم پر دغه اختلاف دي.

اللغات: ﴿فَرْج﴾ د ښځي شرمګاه. ﴿ذَكَر﴾ د نارينه تناسلي آله (غړی). ﴿تَنْتَشِر﴾ د افتعال مضارع ده: غوړيدل. دريدل (ښېغېدل. لګېدل). ﴿إِتِّكَاء﴾ تکيه وهل. دلته ځني مراد د ناستي په حالت کي پر يو شي تکيه وهل دي. ﴿تَبَيَّنَ﴾ د تَفَعُّل د باب ماضي ده: ښکاره کېدل. څرګندېدل. ﴿دُبُر﴾ د شا حصه. مقعد (کونه).

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره ځان پوه کړئ! چي دلته له "مسّ" او "نظر" څخه حلال "مسّ" او حلال "نظر" مراد دي. او د همدې په هکله اختلاف بيان سوی دی. ځکه مخکي ذکر

سوه چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په حرام وطي سره بالکل حرمت مصاهرت نه ثابتیږي، لهذا د هغه په نېز به په حرامو مسه کولو او حرامو کتلو سره څرنګه حرمت مصاهرت ثابت سي!؟

صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی د یوې ښځي سره نکاح وکړي، او طلاق قبل الدخول ورکړی. نو د خاوند لپاره د دغه ښځي مور حلاله ده، لېکن که خاوند تر طلاق ورکولو مخکي دا ښځه په شهوت سره مسه کړي، یا په شهوت سره د هغې و فرج ته وګوري، یا ښځه په شهوت سره خاوند مسه کړي یا د هغه شرمګاه (ذکر) ته وګوري، نو په دې ټولو صورتونو کي د احنافو په نېز حرمت مصاهرت ثابتیږي یعني د خاوند او ښځي أصول او فروع یو پر بل حرامیږي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په هیڅ صورت کي هم حرمت مصاهرت نه ثابتیږي.

د امام شافعي دلیل: دا دی چې "مسه کول" او "کتل" د دخول په حکم کي نه دي، ځکه کوم احکام چې د دخول سره متعلق دي هغه د دې دواړه سره متعلق نه دي، مثلاً د روژې په حالت کي په دخول سره روژه فاسدیږي، همدارنګه إحرام په دخول سره فاسدیږي، او غسل په دخول سره واجبیږي. لېکن په شهوت سره په مسه کولو او کتلو سره نه روژه ماتیږي، نه إحرام فاسدیږي او نه غسل واجبیږي. نو ځکه مسه کول او کتل به د دخول په حکم او معنیٰ سره نه وي، حال دا چې د حرمت مصاهرت د ثبوت لپاره دخول ضروري دی، نو په مسه کولو او کتلو سره به څرنګه حرمت مصاهرت ثابت سي!.

زموږ دلیل: زموږ د احنافو اول دلیل هغه حدیث دی چې په هغه کي د ښځي شرمګاه ته کتل د حرمت مصاهرت سبب ګرځول سوي دي، همدارنګه د ام هاني ﷺ دا روایت دی چې: "مَنْ نَظَرَ إِلَىٰ فَرْجِ اِمْرَأَةٍ حُرِمَتْ عَلَيْهِ أُمُّهَا وَبِنْتُهَا".

دویم دلیل: دا دی چې مسه کول او کتل فقط د دخول په معنیٰ سره نه دي، بلکي د وطي او د دخول وطرف ته داعي هم دي، او قاعده دا ده چې "السَّبَبُ الدَّاعِيْ إِلَى الشَّيْءِ يُقَامُ مَقَامَهُ فِيْ مَوْضِعِ الْاِحْتِيَاط". یعني د یو شي وطرف ته داعي (او رابلونکی) سبب د احتیاط په محل کي د هغه شي قائم مقام کیږي، او څرنګه چې په پورتنۍ مسئله کي مسه کول او کتل داعي إلى الوطی والدخول دي، نو ځکه به هغه هم د دخول قائم مقام منل کیږي او د دخول حکم به پر کیږي، او په دخول سره حرمت مصاهرت ثابتیږي، نو ځکه به په دوی سره هم حرمت مصاهرت ثابتیږي.

ثم أنّ المس إلخ: له دې ځايه صاحب د هدايې د "مسّ بالشهوة" تعريف کوي فرمايي چي "مس بالشهوة" دا دی که له مخکي څخه آله (ذکر) درېدلې او منتشر نه وي، نو په دې "مسّ" سره منتشر او ودرېږي، او که له مخکي څخه منتشر او ولاړ وي، نو په دې سره نور انتشار او سختي پکښې پيدا سي.

ځيني علماؤ د "مس بالشهوة" دا تعريف کړی چي د سړي زړه د ښځي طرف ته مائل سي او جماع يې ته شوق وسي، ليکن صحيح اول قول دی، لکه څرنګه چي صاحب د هدايې په "هو الصحيح" سره اشاره ورته کړې ده.

همدارنګه په "نظر" (کتلو) کي د ښځي دننه (داخلي) فرج ته کتل معتبر دي، دباندېني فرج ته په کتلو سره حرمت مصاهرت نه ثابتيږي، او داخلي (دننی) فرج هغه وخت ليدل کېدای سي چي ښځي د ناستي په حالت کي پر دېوال يا داسي بل شي ځان تکيه کړی وي او پښې يې پورته وي، له دې څخه بغير داخلي فرج نه سي لېدل کېدای.

ولو مس فأنزل إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو سړی ښځه مسه کړي او د مسه کولو په وجه هغه سړی انزال سي، آيا په دې سره حرمت مصاهرت ثابتيږي که نه؟، نو په باره کي يو قول دا دی چي په دې صورت کي هم حرمت مصاهرت ثابتيږي، ځکه کله چي فقط په مسه کولو سره حرمت ثابتيږي، نو په "مسّ مع الإنزال" سره خو په طريقه اولیٰ ثابتيږي، ځکه چي په انزال سره "مسّ" نور مستحکم کيږي، او کله چي يو شی په غيرِ مستحکم شي سره ثابتيږي، نو په مستحکم شي سره به په طريقه اولیٰ ثابتيږي، دا د شمس الاسلام علامه اوزجندی رَحِمَهُ الله او نورو قول دی، او همدا د دوی متفیٰ به قول دی.

لېکن صحيح قول دا دی چي په دې صورت کي حرمت مصاهرت نه ثابتيږي، ځکه چي په شهوت سره مسه کول او کتل په دې وجه د وطي او دخول قائم مقام دي چي وطي او دخول سبب جوړيږي، لېکن کله چي هغه انزال سو، نو د وطي او دخول امکان ختم سو، او دا ښکاره سوه چي دا مسه کول د وطي و طرف ته رسونکي نه دي او د وطي سبب نه جوړيږي، نو ځکه به حرمت مصاهرت هم نه په ثابتيږي.

پر همدې اختلاف د ښځي سره په مقعد کي وطي کول دي، يعني که په داسي وطي سره سړی انزال سي نو زموږ په نېز په دغه وطي سره حرمت مصاهرت نه ثابتيږي، او که انزال نه سي، نو ثابتيږي.

ځکه که انزال نه سي نو دا وطي د دخول فی الفرج سبب جوړيږي، ليکن د علامه شمس الاسلام اوزجندي رَحِمَهُ الله او نورو په نيز مطلقاً د مقعد په وطي سره حرمت مصاهرت ثابتيږي، هغه که سړی انزال سي که نه سي.

د طلاق سوي ښځې په عدت (عده) کې د هغې د خور سره د نکاح کولو حکم

وَإِذَا طَلَّقَ اِمْرَأَةً طَلَاقًا بَائِنًا أَوْ رَجْعِيًا او که يو سړی خپلې ښځې ته طلاقِ بائن يا طلاقِ رجعي ورکړي لَمْ يَجُزْلَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ بِأُخْتِهَا نو دده سړي لپاره جائز نه دي چي د هغې د خور سره نکاح وکړي حَتّٰى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا تر دې چي د هغې عدت [عده] تېره سي [يعني کله چي د هغې عدت زمانه تېره او ختمه سي نو بيا يې د خور سره نکاح کول جائز دي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: إِنْ كَانَتِ الْعِدَّةُ عَنْ طَلَاقٍ بَائِنٍ أَوْ ثَلَاثٍ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي که عدت د طلاقِ بائن يا د دريو طلاقونو وي يَجُوزُ نو [د خور سره يې] نکاح جائز ده لِانْقِطَاعِ النِّكَاحِ بِالْكُلِّيَّةِ إِعْمَالًا لِلْقَاطِعِ ځکه چي قاطعِ نکاح [يعني طلاق] ته په عمل ورکولو سره اوله نکاح په پوره توګه منقطع [ختمه] سوه وَلِهٰذَا لَوْ وَطِئَهَا مَعَ الْعِلْمِ بِالْحُرْمَةِ همدا وجه ده که خاوند د هغې [طلاق سوي ښځې] سره وطي وکړي د وطي په حرمت د خبر والي سره [يعني خاوند په دې خبر وي چي د هغې سره وطي حرام دي، ليکن بيا هم وطي ور سره وکړي] يَجِبُ الْحَدُّ نو حد پر واجبيږي وَلَنَا: أَنَّ نِكَاحَ الْأُولٰى قَائِمٌ زموږ دليل دا دی: چي د اولې ښځې نکاح [تر اوسه] پاته ده لِبَقَاءِ بَعْضِ أَحْكَامِهِ ځکه چي د نکاح ځيني احکام [اوس هم] پاته دي كَالنَّفَقَةِ وَالْمَنْعِ وَالْفِرَاشِ لکه نفقه او منع عن الخروج [له دباندي وتلو څخه ښځه منع کول] او فراش وَالْقَاطِعُ تَأَخَّرَ عَمَلُهُ او د قاطعُ النکاح [طلاق] عمل مؤخّر سو وَلِهٰذَا بَقِيَ الْقَيْدُ او له همدې وجهې قيد [يعني د منع عن الخروج حکم] پاته دی وَالْحَدُّ لَا يَجِبُ عَلٰى إِشَارَةِ كِتَابِ الطَّلَاقِ او د [مبسوط] د "کتابُ الصلاة" د اشارې مطابق حد نه واجبيږي وَعَلٰى عِبَارَةِ كِتَابِ الْحُدُوْدِ يَجِبُ او [د مبسوط] د "کتابُ الحدود" د عبارت مطابق حد واجبيږي لِأَنَّ الْمِلْكَ قَدْ زَالَ فِي حَقِّ الْمِلْكِ ځکه چي مِلکِ نکاح د وطي د حِلّت په حق کي زائل سو فَيَتَحَقَّقُ الزِّنَا نو ځکه په زنا ثابتيږي وَلَمْ يَرْتَفِعْ فِي حَقِّ مَا ذَكَرْنَا او دا ملکِ نکاح پوره ته سوی [زائل سوی] نه دی د هغو شيانو په حق کي کوم چي [اوس] موږ ذکر کړل [يعني نفقه، منع عن الخروج او

فراش] فَيَصِيرُ جَامِعًا نو ځکه به هغه [په يوه نکاح کي د دوو خوندو] جمع کونکي وګرځي.

اللغات: ﴿بَائِن﴾ د ضرب اسم فاعل دی: جلا کونکی طلاق، داسي طلاق چي تر هغه وروسته ښځي ته رجوع نه سي کېدای، بلکي نوې نکاح به تړل کيږي، او "رَجْعِي" هغه طلاق ته وايي چي تر هغه وروسته ښځي ته رجوع کېدای سي، ﴿تَنْقَضِي﴾ د انفعال مضارع ده: تېرېدل (ختمېدل)، پوره کېدل، ﴿اِنْقِطَاع﴾ د انفعال مصدر دی: ختمېدل، درېدل، ﴿بِالْكُلِّيَّة﴾ په پوره توګه (په بشپړه توګه)، بالکل، ﴿اِعْمَالًا﴾ د اِفعال مصدر دی: عمل ور کول، کار پـه کول، ﴿قَاطِع﴾ د فتح اسم فاعل دی: غوڅونکی، ختمونکی، مراد ځني طلاقِ بائن او طلاق ثلاث دی، ځکه چي هغه نکاح ختموي. ﴿النَّفَقَة﴾ خرچه (خرڅه)، ﴿فِرَاش﴾ بستر، بستره، ښځي والی (د چا په نکاح کېدل)، "فرَاش" په أصل کي ښځي ته وايي ځکه چي خاوند پر هغې د پاسه پرېوځي او هغه تر خاوند لاندي وي د بسترې په څېر، دلته ځني مراد د خاوند د ښځي والي وطرف ته نسبت دی يعني د هغه ښځي نسبت اوس هم د خاوند سره پاته دی يعني تر طلاق وروسته هم د هغې نسبت د خاوند وطرف ته کيږي په دې توګه چي که د عدوت په دوران کي له هغې څخه بچی پيدا سي نو دا بچی به د هغه (طلاق ورکونکي) خاوند وي، ﴿تَأَخَّرَ﴾ د تَفَعُّل ماضي ده: ځنډېدل (مؤخر کېدل)، وروسته کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي خپلي ښځي ته طلاقِ بائن يا طلاقِ رجعي ورکړي، نو اوس د دې سړي لپاره د عدت په زمانه کي د هغې د خور سره نکاح جائز ده که نه؟ د احنافو مذهب دا دی چي نکاح ور سره جائز نه ده، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي که دا ښځه د طلاقِ بائن يا د دريو طلاقو په عدت کي وي، نو بيا د هغې د خور سره نکاح جائز ده.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د قاطعِ نکاح (يعني د طلاق بائن يا دريو طلاقو) په وجه نکاح بالکل ختمه سوه، ځکه کله چي قاطع او ختمونکی شی ثابت سي، نو د هغه اثر هم خامخا ثابتيږي، او د نکاح د بالکل ختمېدلو يو دليل دا هم دی چي که خاوند د مطلقه بائنې ښځي سره د عدت په زمانه کي د وطي کولو په حُرمت خبر وي، خو بيا هم وطي ور سره وکړي، نو پر هغه د زنا حد واجبيږي. ښکاره خبره ده چي که نکاح ختمه نه وای نو پر هغه به حد نه واجبېدای، نو د حد واجبېدل د دې خبري دليل دی چي تر طلاقِ بائن يا دريو طلاقو وروسته نکاح بالکل ختميږي، نو ځکه به د هغې د خور سره نکاح کول جائز وي.

زموږ دليل: دا دی چي د معتدې ښځي نکاح د عدت تر ختمېدلو پوري پاته ده، همدا وجه ده چي تر عدت ختمېدلو پوري د ښځي درې احکام باقي پاتيږي: ① اول دا چي تر عدت ختمېدلو پوري پر

خاوند د هغې نفقه لازم ده، ② دويم دا چي خاوند ته دا حق سته چي په دې دوران کي ښځه له دباندي وتلو څخه منع کړي (يعني د عدت په دوران کي خاوند ته د "منع عن الخروج" حق حاصل دی). ③ درېيم دا چي که په دې دوران کي د ښځي کوچنی پيدا سي (تر دوو کالو پوري)، نو دا کوچنی به له دې خاوند څخه ګڼل کيږي، ځکه چي ښځه تر اوسه د خاوند فراش او بستره ده؛ په دې احکامو کي هر يو حکم پر دې خبره دليل دی چي تر اوسه د ښځي نکاح پاته ده، نو که اوس (يعني د عدت په زمانه کي) د هغې د خور سره نکاح وکړي نو "جمع بين الأختين" به لازم سي، نو په دې وجه به د هغې د خور سره نکاح کول حرام او ناجائز وي.

جواب: والقاطع تأخر إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي. هغه وويل چي د قاطع نکاح (طلاق) په وجه نکاح بالکل ختمه سوه. نو جواب ورکوي چي د طلاق عمل د پورتني احکامو په وجه د عدت تر ختمېدو پوري وځنډول سو (ځکه چي د نکاح ټول أحکام هغه وخت ختميږي کله چي عدت ختم سي)، همدا وجه ده چي تر عدت ختمېدو پوري "قيد" هم پاتيږي. د قيد پاتېدلو مطلب دا دی چي خاوند ته دا حق سته چي د عدت په دوران کي ښځه له دباندي وتلو څخه منع کړي، لهذا کله چي د طلاق عمل (چي هغه د نکاح ختمول دي) وځنډېدی. نو د ښځي نکاح پاته ده.

والحد لا يجب على إشارة إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دويم دليل جواب ورکوي. هغه وويل چي د مطلقهٔ بائنه ښځي د عدت په زمانه کي په وطي کولو سره حد واجبيږي. نو د هغه جواب ورکوي چي اول خو موږ دا خبره بالکل نه تسليموو چي په دې وطي سره حد واجبيږي لکه د "مبسوط" په "کتاب الطلاق" کي چي دې ته اشاره سوې ده. او که دا خبره تسليم کړو چي حد واجبيږي لکه د "مبسوط" په "کتاب الحدود" کي چي صراحتاً ذکر سوي دي. نو موږ جواب ورکوو چي حد ځکه واجبيږي چي تر طلاقِ بائن او طلاقِ ثلاث وروسته فقط د وطي په حق کي حلت ختم سو، نو ځکه به هغه وطي زنا ګڼل کيږي او په زنا سره بالکل حد واجبيږي. او دا نه دي ځني مراد چي بالکل نکاح ختمه سوه، ځکه د پورتني ذکر سوو احکامو يعني د نفقې، قيد او فراش په وجه تر اوسه د نکاح او وطي حلت نه دي ختم سوی، لهذا اوس هم من وجه نکاح پاته ده (يعني اوس هم په يوه اعتبار سره نکاح پاته ده)، نو کله چي من وجه نکاح پاته ده، نو د "جمع بين الأختين" د حراموالي په وجه به د دې ښځي د خور سره (د عدت په زمانه کي) نکاح حرامه او ناجائز وي.

د مالک لپاره د مینځې سره د نکاح کولو حکم

وَلَا يَتَزَوَّجُ الْمَوْلَى أَمَتَهُ او نکاح دې نه کوي مالک د خپلې مینځې سره وَلَا الْمَرْأَةُ عَبْدَهَا او نه [مالکه] ښځه د خپل غلام سره لِأَنَّ النِّكَاحَ مَا شُرِعَ إِلَّا مُثْمِرًا بِثَمَرَاتٍ ځکه نکاح په داسې ثمراتو [او احکامو] سره مُثمِره [او مُتعلقه] مشروع سوې ده مُشْتَرَكَةٍ بَيْنَ الْمُتَنَاكِحَيْنِ چې هغه ثمرات [او احکام] د خاوند او ښځې په مینځ کې مشترک دي وَالْمَمْلُوكِيَّةُ تُنَافِي الْمَالِكِيَّةَ او مملوک کېدل [غلامتوب] د مالک کېدلو [مالکتوب] مخالف دي فَيَمْتَنِعُ وُقُوعُ الثَّمَرَةِ عَلَى الشَّرِكَةِ نو ځکه به پر شرکت د ثمرې واقع کېدل ممتنع وي [یعني د شرکت په توګه به د نکاح د ثمرې (حکم) واقع کېدل ناممکن وي].

اللغات: ﴿مَوْلَى﴾ مالک، سیّد، بادار، څښتن (د غلام مالک)، ﴿مُثْمِر﴾ مېوه دار، ګټمن، ﴿ثَمَرَات﴾ فایدې، منافع (ګټې)، ﴿مُثْمِرًا بِثَمَرات﴾ د دې مطلب دا دی چې د خاوند او ښځې تر مینځ ډېر ثمرات (منافع او ګټې) او ډېر احکام سته، کوم چې د مینځې او مالک یا د غلام او مالکې تر مینځ نسته، نو که مالک د خپلې مینځې سره یا مالکه د خپل غلام سره نکاح وکړي، نو معامله به چپه واوړي او غلام او مینځه به مالکان وګرځي، نو په دې وجه د دوی نکاح صحیح نه ده.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې د مالک (مولیٰ) لپاره د خپلې مینځې سره نکاح کول، همدارنګه د مالکې (سیّدې) لپاره د خپل مملوک (غلام) سره نکاح کول جائز نه دي، همدا د ائمه اربعه وو مسلک دی، او پر همدې اجماع ده.

دلیل دا دی چې نکاح پر داسې فوایدو او منافعو مشتمله ده کوم چې د خاوند او ښځې تر مینځ مشترک او تقسیم دي، لکه څرنګه چې یو طرف ته له نکاح څخه خاوند ته دا منافع حاصلیږي: "① قدرت علی الوطی، ② منع عن الخروج، ③ حصول ولد، ④ تربیت، ⑤ رضاعت او داسې نور"، نو په بل طرف کې ښځې ته هم منافع حاصلیږي یعنې: "① مهر، ② نفقه ③ کسوة، ④ د خاوند د مجبوب کېدلو یا عنین کېدلو په صورت کې د نکاح فسخ کولو اختیار او داسې نور". نو د منافعو اشتراک ته په کتلو سره هریو مالک هم دی او مملوک هم دی، او غلام او مینځه فقط مملوک وي، او مملوکیت (غلامتوب) د مالکتوب منافي دي، اوس که مالک د خپلې مینځې سره نکاح وکړي، نو بیا خو هغه د عامو ښځو په څېر له خپل مالک څخه د مهر او نفقې مطالبه کوي او دا د مالکتوب منافي او خلاف دي (ځکه چې مملوک [غلام] له مالک څخه د دې شیانو مطالبه نه کوي)، او که ښځه د خپل غلام سره نکاح وکړي، نو مخکې خو ښځه مالکه (سیّده او حاکمه) وه، لېکن تر نکاح وروسته به غلام د

خاوندتوب په وجه پر خپلي مالکي حاکم جوړ سي او دا د مالکتوب خلاف دي، نو په دې وجه د مالک لپاره د خپلي مينځي سره او د مالکي (سيّدي) لپاره د خپل غلام سره نکاح کول جائز نه دي.

لېکن د آزادي ښځي سره (چي هغه مالکه نه وي) د غلام نکاح د ضرورت په وجه خلافُ القياس جائز ګرځول سوې ده، لهذا په دې هکله فکرمن کېدل او اعتراض کول پکار نه دي.

د يهودي او نصراني ښځي سره د نکاح کولو مسئله

وَيَجُوزُ تَزَوُّجُ الْكِتَابِيَّاتِ او جائز دي نکاح کول د کتابي ښځو سره لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ [المائدة: ٥] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: او پاکي ښځي له اهلِ کتابو ځخه استاسو لپاره حلالي دي! أَيْ الْعَفَائِفُ يعني پاک لمني ښځي وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْكِتَابِيَّةِ الْحُرَّةِ وَالْأَمَةِ او هيڅ فرق نسته د کتابي آزادي ښځي او کتابي مينځي په مينځ کي عَلَى مَا نُبَيِّنُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى لکه څرنګه چي وروسته به موږ انشاء الله [د دې] بيان وکړو.

اللغات: ﴿مُحْصَنَات﴾ د إفعال د باب جمع مؤنث اسم فاعل دی: له زنا او بدلارۍ ځخه پاکي او سپېڅلي ښځي (پاک لمني ښځي)، ﴿عَفَائِف﴾ جمع د عَفِيْفَةٌ ده: پاک لمنځي ښځي.

تشريح: له "کتابيات" ځخه مراد يهودي او نصراني ښځي دي، واحد يې "کتابية" راځي، د دوی سره نکاح کول بېله اختلافه جائز دي، يعني له ائمه اربعه وو ځخه هيڅا په دې کي اختلاف نه دي کړی، او د کتابي آزادي ښځي او کتابي مينځي په مينځ کي هيڅ فرق نسته، لېکن په کتابي مينځي کي د ځينو امامانو ځه اختلاف سته چي هغه به وروسته بيان سي.

د "کتابياتو" سره د نکاح د روايښت دليل د قرآن کريم دا آيت دی: ﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ...﴾، (يعني د اهلِ کتابو [يهودو او نصاراوو]) پاکي او سپېڅلي ښځي ستاسو لپاره حلالي ګرځېدلي دي)، په دې آيت کي د "عَفَائِف" (يعني د پاکوالي او سپېڅلتوب) قيد عادي او اتفاقي دی، د "کتابي ښځي" سره د نکاح د جواز لپاره شرط او ضروري نه دی، خو بايد په ياد مو وي چي که يهودي يا نصراني ښځه د جهنم سبب جوړېدله، نو بيا د هغې نکاح پرېښوول ضروري دي.

علامه ثميري (صاحب د اثمار الهدايې) فرمايي چي د يهودي او نصراني ښځو سره زياتره خلک په عشق مبتلا کيږي، او د خپل عشق پوره کولو لپاره د هغوی سره ودونه کوي، نو د آيت په دې قيد کي (عَفَائِف) کي ودې طرف ته هم اشاره ده چي بايد په نکاح سره ستاسو اراده عشق او حرامکارۍ نه وي، بلکي ستاسو مقصد دا وي چي په دې سره پاکي او عفّت حاصل کړي.

يادونه: د مسلماني ښځي لپاره په هيڅ صورت کي د نصراني او يهودي سړي سره نکاح کول جائز نه دي، لکه څرنګه چي په دې هکله ډېر آثار وارد سوي دي.

د نورو کافرو ښځو سره د نکاح کولو مسئله

وَلَا يَجُوزُ تَزَوُّجُ الْمَجُوسِيَّاتِ او جائز نه دي نکاح کول د مجوسي [آتش پرستو] ښځو سره لِقَوْلِهِ ﷺ: «سُنُّوا بِهِمْ سُنَّةَ أَهْلِ الْكِتَابِ ځکه چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: "تاسي د مجوسو سره د اهلِ کتابو په څير سلوک [او معامله] کوئ! غَيْرَ نَاكِحِي نِسَائِهِمْ وَلَا آكِلِي ذَبَائِحِهِمْ» بغير له نکاح کولو د هغو د ښځو سره او بغير له خوړلو د هغو د ذبح کړي سوي څاروېو" قَالَ: وَلَا الْوَثَنِيَّاتِ فرمايي: او جائز نه دي نکاح کول] د بُت پرستو ښځو سره لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ [البقرة: ٢٢١] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: او تاسو نکاح مه کوئ! د شرک کونکو ښځو سره تر دی چي هغوی ايمان راوړي وَيَجُوزُ تَزَوُّجُ الصَّابِئَاتِ او جائز دي نکاح کول د صابيه ښځو سره إِنْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِدِينٍ [په دې شرط] که هغوی [د يو نبي] پر دين ايمان لري وَيُقِرُّونَ بِكِتَابٍ او د يو [آسماني] کتاب اقرار [او تصديق] کوي لِأَنَّهُمْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ ځکه چي [په دې صورت کي] هغوی له اهلِ کتابو څخه دي وَإِنْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْكَوَاكِبَ [ليکن] که هغوی د ستورو عبادت کوي وَلَا كِتَابَ لَهُمْ او هيڅ [آسماني] کتاب ور سره نه وي لَمْ تَجُزْ مُنَاكَحَتُهُمْ نو [په دې صورت کي] د هغو د ښځو سره نکاح کول جائز نه دي لِأَنَّهُمْ مُشْرِكُونَ ځکه چي [اوس خوهغوی] مشرکين دي وَالْخِلَافُ الْمَنْقُولُ فِيهِ او په دې باره کي چي [زموږ د امامانو] کوم اختلاف نقل سوی دی مَحْمُولٌ عَلَى اشْتِبَاهِ مَذْهَبِهِمْ هغه د دوی [صابئينو] د مذهب پر مشتبه کېدلو باندي محمول دی فَكُلٌّ أَجَابَ عَلَى مَا وَقَعَ عِنْدَهُ نو [زموږ] هر امام د هغه مطابق جواب ورکړی کوم چي د هغه په نېز ثابت سو [يعني زموږ په امامانو کي چي د کوم امام په نېز د صابئينو اهلِ کتابت ثابت سو نو هغه د دې مطابق جواب ورکړی، او د کوم امام په نېز چي د هغو مشرکوالی ثابت سو، نو هغه بيا د همدې مطابق جواب ورکړی] وَعَلَىٰ هٰذَا حِلُّ ذَبِيحَتِهِمْ او د هغو د ذبيحې روا ينبت هم پر دغه اختلاف دی.

اللغات: ﴿سُنُّوا﴾ د نصر له باب څخه د جمع مذکر امرِ حاضر صيغه ده، د دې باب ډېري معناوي دي، چي يو څو معناوي يې دا دي: جاري کول، تاکل، اختيارول، مراد څني سلوک او طريقه اختيارول دي، ﴿سُنَّة﴾ طريقه، خصلت، سلوک، چلند (چلن)، ﴿وَثَنِيَّات﴾ بت پرسته ښځي، ﴿صَابِئَات﴾ لا دينه ښځي (کوم

چي په هيڅ دين ايمان نه لري)، ﴿حِلّ﴾ د ضرب مصدر دی: حلت، حلال کېدل، روا کېدل (روايښت).

تشريح: په دې عبارت کي درې (۳) مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده چي د مجوسي (آتش پرستو) ښځو سره نکاح کول بالاتفاق حرام او نا روا دي؛ دليل د عبارت حديث دی چي "د اهلِ کتابو سره چي کومه معامله تاسو (د جزيې او داسي نورو شيانو په هکله) کوئ، هغه د مجوسو سره هم کوئ!، خو د هغو د ښځو سره نکاح مه کوئ! او د هغو د ذبح کړي سوي حيوان غوښې مه خورئ!"، نو د دې حديث په آخري جزء کي په واضحه توګه د مجوسو له ښځو او ذبيحې څخه منع سوې ده.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چي د بُت پرستو ښځو سره هم نکاح کول حرام او ناجائز دي. دليل دا آيت دی: ﴿وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ﴾.

(۳)... دريمه مسئله دا ده چي د صابيه ښځو سره نکاح جائز ده که نه؟ نو په دې هکله د امامانو اختلاف دی، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز ده، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز ناجائز ده. په حقيقت کي د دوی اختلاف د صابي په تعريف کي دی، امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي صابي هغه کس ته وايي چي پر يو نبي ايمان لري او د يو آسماني کتاب اقرار کوي، نو د دې تعريف مطابق صابي په اهلِ کتابو کي داخل دی، او د کتابي ښځو سره نکاح جائز ده، نو د صابي ښځې سره به هم جائز وي، لېکن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي صابي هغه کس ته وايي چي د ستورو عبادت کوي او د هيڅ آسماني کتاب اقرار نه کوي، نو د دې تعريف مطابق هغه د بت پرستو په حکم کي داخل دی. او د بت پرستو سره نکاح جائز نه ده، نو د صابيې ښځې سره به هم نکاح جائز نه وي.

د احرام په حالت کي د نکاح کولو حکم

قَالَ: وَيَجُوزُ لِلْمُحْرِمِ وَالْمُحْرِمَةِ فرمايي: او جائز دي د احرام تړونکي سړي او د احرام تړونکي ښځي لپاره أَنْ يَتَزَوَّجَا فِي حَالَةِ الْإِحْرَامِ چي نکاح وکړي په حالت د احرام کي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [د احرام په حالت کي نکاح کول] جائز نه دي وَتَزْوِيجُ الْوَلِيِّ الْمُحْرِمِ وَلِيَّتَهُ عَلَى هٰذَا الْخِلَافِ او د محرم ولي لپاره د خپلې مَوْلِيې نجلۍ نکاح کول هم پر دغه اختلاف دي [اله مَوْلِيې څخه مراد هغه ښځه او نجلۍ ده چي د ولي تر ولايت لاندي وي] لَهُ قَوْلُهُ ﷺ: لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ وَلَا

يُنْكِحُ د امام شافعي دليل د نبي كريم ﷺ دا قول دى: چې محرم دې نه [خپله] نكاح كوي او نه دې د بل چا نكاح كوي وَلَنَا مَا رُوِيَ: أَنَّهُ ﷺ تَزَوَّجَ بِمَيْمُوْنَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ او زمونږ دليل هغه روايت دى: چې نبي كريم ﷺ نكاح وكړه د حضرت ميمونې ﷞ سره د احرام په حالت كې وَمَا رَوَاهُ مَحْمُوْلٌ عَلَى الْوَطْءِ او كوم حديث چې امام شافعي روايت كړى دى هغه پر وطي حمل سوى دى.

اللغات: ﴿مُحْرِمٌ﴾ هغه كس چې احرام يې تړلى وي او د احرام په حالت كې وي. ﴿تَزْوِيْج﴾ د تفعيل مصدر دى: د بل چا نكاح كول، نكاح تړل (واده ور كول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چې زمونږ په نيز محرم سړى او ښځه د احرام په حالت كې خپله نكاح هم كولاى سي، او د بل چا نكاح هم تړلاى سي، د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې محرم نه خپله نكاح كولاى سي او نه د بل چا نكاح تړلاى سي، همدا د امام مالك او امام احمد رَحِمَهُمَا الله قول دى.

دليل: د امام شافعي او نورو دليل د حضرت عثمان بن عفان ﷜ دا حديث دى: "الْمُحْرِمُ لَا يَنْكِحُ وَلَا يُنْكِحُ"، (يعني محرم نه خپله نكاح كولاى سي او نه د بل كس نكاح تړلاى سي)، لهذا كله چې په حديث كې محرم كس ته نكاح كولو او تړلو څخه منع سوى دى، نو بيا د محرم لپاره هغه جائز ګڼل د دې حديث مخالفت كول دي، او د حديث مخالفت صحيح نه دى.

زمونږ دليل: زمونږ د احنافو اول دليل هغه حديث دى كوم چې په عبارت كې ذكر سو، د هغه راوي ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دى، ابن عباس فرمايي چې نبي كريم ﷺ د حضرت ميمونې ﷞ سره د احرام په حالت كې نكاح وكړه. د همدغه مضمون مطابق بل حديث د ابو هريره ﷜ په حواله سره په دارِ قطني كې هم ذكر سوى دى. او حضرت عائشې ﷞ هم د دغه مضمون مطابق يو حديث روايت كړى چې د هغه عبارت داسې دى: "تَزَوَّجَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَاحْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ"، او دا ټول حديثونه له مشهورو صحابه وو څخه روايت سوي دي، او دا حقيقت يې ښكاره كړى دى چې رسول الله ﷺ د حضرت ميمونې ﷞ سره د احرام په حالت كې نكاح وكړه. لهذا د امت لپاره به هم د احرام په حالت كې نكاح كول جائز وي.

جواب: وما رواه محمول: د احنافو له طرفه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل څو جوابونه وركول سوي دي:

①... اول جواب دا دى چې د حضرت ابن عباس حديث مثبت دى. او د حضرت عثمان حديث نافي دى، او قاعده دا ده چې "الإِثْبَاتُ مُقَدَّمٌ عَلَى النَّفِي" (يعني اثبات پر نفي مخكې وي). نو ځكه به دلته

هم هغه حديث مقدّم وي او د عمل قابل وي چي په هغه کي اثبات وي، او اثبات د ابن عباس په حديث کي سته، نو ځکه به هغه راجح او د عمل قابل وي (او په هغه به عمل کيږي).

(۲)... دويم جواب دا دی چي د حضرت عثمان په حديث کي له نکاح څخه مراد وطي (او جماع) ده، او د حديث مفهوم دا دی چي د محرم لپاره خو نکاح روا ده لېکن وطي روا نه دي، او موږ هم د دې قائل يو.

(۳)... درېيم جواب دا دی چي د ابن عباس د حديث ټوله روايان ثقه او معتبر دي او د ضبط و إتقان ماهرين دي، او د حضرت عثمان د حديث په سند کي يو راوي "هبه بن وهب" هم دی، او هغه د ابن عباس د حديث له روايانو څخه په علم و فضل او په ضبط و إتقان دواړو کي کم دی، او د تعارض په وخت کي د ثقه او ضابطو راويانو په روايت باندي عمل کيږي.

(۴)... څلورم جواب دا دی چي په دې حديث کي نهي تنزيهي دي، او د حديث مطلب دا دی چي د احرام په حالت کي نکاح کول مکروه او نامناسب دي، لېکن که يو څوک نکاح وکړي نو د هغه نکاح صحيح او جائز ده.

او بيا دا خبره هم سته چي د احرام په حالت کي نور عقود او معاملات مثلاً بيع و شراء صحيح او جائز دي، او نکاح هم يو ډول عقد او معامله ده، نو ځکه به هغه هم صحيح او جائز وي.

يادونه : صاحب د اشرف الهدايې د امام شافعي مسلک ته ميلان کړی دی، او د هغه مسلک يې قوي ګڼلی دی، خو اصلاً د انصاف خبره دا ده چي د احرام په حالت کي نکاح مکروه او نامناسبه ده، لکه زموږ په څلورم جواب کي چي دا خبره ذکره سوه، او علامه ثميري هم د دې تاييد کړی دی، لهذا د امام شافعي مسلک قوي ګڼل پکار نه دي.

د آزاد لپاره د مينځي سره د نکاح مسئله

وَيَجُوزُ تَزَوُّجُ الْأَمَةِ او جائز دي نکاح کول د مينځي سره مُسْلِمَةً كَانَتْ أَوْ كِتَابِيَّةً هغه که مسلمانه مينځه وي او که کتابي مينځه وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ لِلْحُرِّ أَنْ يَتَزَوَّجَ بِأَمَةٍ كِتَابِيَّةٍ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: جائز نه دي د آزاد لپاره چي هغه د کتابي مينځي سره نکاح وکړي لِأَنَّ جَوَازَ نِكَاحِ الْإِمَاءِ ضَرُورِيٌّ عِنْدَهُ ځکه د امام شافعي په نېز د مينځو سره د نکاح روا ېښت د ضرورت پر بناء ثابت دی لِمَا فِيهِ مِنْ تَعْرِيضِ الْجُزْءِ عَلَى الرِّقِّ ځکه چي د مينځي سره په نکاح کولو کي خپل جزء پر غلامتوب وړاندي کول دي ايعني د مينځي سره د نکاح کولو مطلب "خپل بچی غلام جوړول" دي ا وَقَدْ انْدَفَعَتِ الضَّرُورَةُ بِالْمُسْلِمَةِ او دا ضرورت په مسلماني مينځي سره پوره سوانو ځکه به د کتابي مينځي

سره نکاح جائز نه وي ا وَلِهٰذَا جُعِلَ طَوْلُ الْحُرَّةِ مَانِعًا مِنْهُ او له همدې کبله پر آزادې ښځې قدرت لرل د مينځې له نکاح څخه مانع ګرځول سوي دي وَعِنْدَنَا الْجَوَازُ مُطْلَقٌ او زموږ په نېز د نکاح روا ينبت مطلق دی لِإِطْلَاقِ الْمُقْتَضِي د مقتضیٰ د مطلقوالي په وجه ايعني ځکه چي د نکاح د آيتونو مقتضیٰ مطلق ده ا وَفِيهِ او په دې کي ايعني د مينځې سره په نکاح کولو کي ا اِمْتِنَاعٌ عَنْ تَحْصِيْلِ الْجُزْءِ الْحُرِّ د آزاد جزء له حاصلولو څخه منع کېدل دي لَا إِرْقَاقُهُ نه د هغه غلام جوړول وَلَـهُ أَنْ لَا يُحَصِّلَ الْأَصْلَ او د خاوند لپاره جائز دي چي أصل حاصل نه کړي ايعني د هغه لپاره دا جائز دي چي په جماع سره بچی حاصل نه کړي بلکي عزل وکړي ا فَيَكُوْنُ لَهُ أَنْ لَا يُحَصِّلَ الْوَصْفَ نو د هغه لپاره به دا [هم] جائز وي چي وصف [آزاد والی] حاصل نه کړي.

اللغات: ﴿الْأَمَاءِ﴾ جمع د أَمَةٌ ده: مينځه. ﴿تَعْرِيْض﴾ د تفعيل مصدر دی: وړاندي کول، پېشول (اچول، غور ځول). ﴿ضَرُوْرِيٌّ﴾ د ضرورت پر بناء، د مجبوري په وجه. ﴿الرِّق﴾ غلامتوب. ﴿طَوْل﴾ استطاعت (د آزادې ښځې سره د نکاح کولو طاقت). ﴿مُقْتَضِي﴾ تقاضا. ﴿إِرْقَاق﴾ د إفعال مصدر دی: غلام جوړول. ﴿الْأَصْل﴾ مراد څني بچی دی. ﴿الْوَصْف﴾ مراد څني آزاد صفت والا بچی دی (يعني آزاد بچی).

تشريح: مسئله: دا ده چي د آزاد کس لپاره د مينځې سره د نکاح په روا ينبت او نه روا ينبت کي د فقهاؤ اختلاف دی، د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د آزاد کس لپاره د مسلماني مينځې سره نکاح کول صحيح دي، خو د کتابي مينځې سره نکاح کول صحيح او روا نه دي، امام مالک رَحِمَهُ الله هم د دې قائل دی، او همدا د امام احمد رَحِمَهُ الله يو روايت دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د مينځې سره د نکاح روا ينبت د ضرورت په وجه ثابت دی. ځکه چي تر نکاح وروسته د آزاد خاوند او مينځې په جماع سره پيدا سوی کوچنی به د پلار جزء وي. او څرنګه چي د دې کوچني مور مينځه او مملوکه (رقيقه) ده، نو د "الْوَلَدُ يَتْبَعُ الْأُمَّ فِي الْحُرِّيَّةِ وَالرِّقِيَّةِ" د قاعدې پر بناء به دا کوچنی مملوک او رقيق (غلام) وي، او څرنګه چي د ده پلار آزاد او غيرِ مملوک دی، نو په دې وجه د مينځې سره د آزاد کس په نکاح کولو کي د خپل جزء يعني د خپل بچي مملوکتوب (غلامتوب) لازميږي (يعني د مينځې د نکاح کولو مطلب دا دی چي له خپل جزء او له خپل بچي څخه غلام جوړول)، او دا بالکل صحيح نه دی. خو څرنګه چي د مينځې سره نکاح

ضرورتاً ثابته ده، نو ځکه ضرورتاً موږ د دې اجازه ورکړې ده، او دا ضرورت په مسلماني مينځې سره پوره کيږي، نو ځکه به صرف د مسلماني مينځې سره د نکاح کولو اجازه وي، او د کتابي مينځې سره به نکاح جائز نه وي، ځکه د ضرورت په باره کې قاعده دا ده چې: "الضَّرُوْرَةُ تُقَدَّرُ بِقَدْرِهَا" (يعني کوم چې شی چې ضرورتاً ثابت وي، هغه د ضرورت په اندازه ثابتيږي).

له همدې کبله امام شافعي رَحِمَهُ الله پر آزادې ښځې د قدرت لرلو په وخت کې د مينځې سره نکاح کول ناجائز او حرام ګڼلي دي، او د دې آيت په مفهومِ مخالف يې دليل نيولی دی: ﴿وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا أَنْ يَنْكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِنْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ مِنْ فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ﴾ [سورة النساء:٢٥]. د دې آيت مفهومِ مخالف دا دی چې که څوک د آزادې ښځې پر نکاح قدرت لري، نو د هغه لپاره د مسلماني مينځې سره هم نکاح جائز نه ده.

زموږ دليل: زموږ د دليل حاصل دا دی چې په قرآنِ کريم کې د محرّماتو ښځو تر بيان وروسته په ﴿وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذٰلِكُمْ...(إلخ)﴾ سره همدارنګه په ﴿فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ...(إلخ)﴾ سره مطلقاً د نکاح کولو اجازه سوې ده، هغه که د آزادې ښځې سره وي او که د مينځې سره وي، د مسلماني ښځې سره وي او که د کتابي ښځې سره وي، لهذا د قرآن کريم د غه اطلاق او عموم د مسلماني ښځې سره خاصول او مقيد کول جائز او صحيح نه دي.

پاته سو دا چې امام شافعي رَحِمَهُ الله د آيت په مفهومِ مخالف سره دليل نيولی دی، نو د هغه يو جواب دا دی چې زموږ د احنافو په نيز مفهومِ مخالف حجت نه دی، لهذا په دې سره د پورتني دوو آيتونو اطلاق مقيد کول صحيح نه دي. دويم جواب دا دی چې په دې آيت کې د افضل او اولیٰ بيان سوی دی، يعني پر آزادې ښځې د قدرت په وخت کې د مينځې سره نکاح کول افضل او غوره نه دي، لېکن که يې وکړي نو صحيح او روا دي، ناروا نه دي.

<u>وفيه امتناع إلخ</u>: امام شافعي رَحِمَهُ الله په خپل دليل کې وويل چې د مينځې سره د نکاح مطلب "له خپل بچي څخه غلام جوړل" دي، نو د هغه جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چې د مينځې سره د نکاح مطلب دا نه دی، بلکې مطلب يې د آزادې ښځې سره واده نه کول او له آزاد بچي څخه ځان منع کول دي، يعني هغه آزاد بچی حاصلول نه غواړي، او انسان ته دا حق او اجازه سته چې د وطي په وخت

کې عزل وکړي او بالکل له بچي څخه ځان وساتي، نو د دې حق او اجازه خو به په طريقه اولیٰ ورته وي چې هغه د آزاد صفت والا بچې حاصل نه کړي بلکې د غلام صفت والا بچې حاصل کړي، لهذا کله چې د هغه لپاره دا جائز دي، نو د کتابي مينځې سره به نکاح کول هم ورته جائز وي.

پر آزادې ښځې د مينځې سره نکاح کول

وَلَا يَتَزَوَّجُ أَمَةً عَلٰى حُرَّةٍ او نکاح دې نه کوي د مينځې سره پر آزادې ښځې [يعني پر آزادې ښځې دې مينځه نه په نکاح کوي] لِقَوْلِهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تُنْكَحُ الْأَمَةُ عَلَى الْحُرَّةِ ځکه چې نبي کريم فرمايلي دي: نه دې په نکاح کيږي مينځه پر آزادې ښځې وَهُوَ بِإِطْلَاقِهٖ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ او دا حديث د خپل اطلاق په وجه حجت [او دليل] دی د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف فِيْ تَجْوِيْزِهٖ ذٰلِكَ لِلْعَبْدِ په دې کې چې هغه دا صورت جائز ګڼي د غلام لپاره [چې پر آزادې ښځې مينځه په نکاح کړي] وَعَلٰى مَالِكٍ فِيْ تَجْوِيْزِهٖ ذٰلِكَ بِرِضَا الْحُرَّةِ او د امام مالک په خلاف حجت دی په دې کې چې هغه دا صورت جائز ګڼي د آزادې ښځې په رضا سره [يعني د هغه په نيز که د آزادې ښځې خوښه وي نو بيا خاوند پر هغې مينځه په نکاح کولای سي] وَلِأَنَّ لِلرِّقِّ أَثَرًا فِيْ تَنْصِيْفِ النِّعْمَةِ او ځکه چې غلامتوب لره د نعمت په نيمولو کې اثر [او دخل] سته [يعني غلامتوب نعمت نيموي لکه څرنګه چې غلامتوب عقوبت او سزا هم کموي] عَلٰى مَا نُقَرِّرُهٗ فِيْ كِتَابِ الطَّلَاقِ إِنْ شَاءَ اللهُ چې په کتاب الطلاق کې به موږ انشاء الله دا ثابت کړو فَيَثْبُتُ بِهٖ حِلُّ الْمَحَلِّيَّةِ فِيْ حَالَةِ الْإِنْفِرَادِ نو ثابتيږي به د غلامتوب په وجه د محل حلال کېدل د يوازې والي په حالت کې اد دې جملې مطلب دا دی چې د غلامتوب په وجه به د مينځې په حق کې نعمت په دې توګه نيم ګرځي چې که سرې منفرد وي يعني آزاده ښځه يې په نکاح کې نه وي نو د مينځې سره نکاح کول به د هغه لپاره حلال وي] دُوْنَ حَالَةِ الْإِنْضِمَامِ نه په حالت د جمع کېدلو کې [يعني که د هغه نکاح کې آزاده ښځه وي، نو بيا به د مينځې سره نکاح کول د هغه لپاره حلال نه وي، او نه به پر يو ځای د آزادې ښځې او مينځې سره نکاح کول ورته حلال وي] وَيَجُوْزُ تَزَوُّجُ الْحُرَّةِ عَلَيْهَا او جائز دي پر مينځې د آزادې ښځې سره نکاح کول لِقَوْلِهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَتُنْكَحُ الْحُرَّةُ عَلَى الْأَمَةِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې پر مينځې آزاده ښځه په نکاح کېدلای سي وَلِأَنَّهَا مِنَ الْمُحَلَّلَاتِ فِيْ جَمِيْعِ الْحَالَاتِ او ځکه چې آزاده ښځه له حلالو ښځو څخه ده په ټولو حالاتو کې [يعني

په حالت دانفراد کي هم او په حالت دانضمام کي هم] إِذْلَا مُنَصِّفَ فِي حَقِّهَا ځکه چي د آزادي ښځي په حق کي هيڅ نيمونکی شی نسته [لکه د مينځي په حق کي چي غلامتوب نيمونکی دی].

اللغات: ﴿تَنْصِيْف﴾ نيمول، نيمايي کول. ﴿إِنْفِرَاد﴾ د إنفعال مصدر دی: يوازي کېدل (دلته يې مطلب دا دی چي سړی يوازي وي، په نکاح کي يې آزاده ښځه نه وي). ﴿إِنْضِمَام﴾ مخکنی صيغه ده: يوځای کېدل، جمع کېدل (مطلب يې دا دی چي دسړي په نکاح کي آزاده ښځه وي، يا هغه پر يوه ځای آزاده او مينځه سره جمع کول غواړي).

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي، اوله مسئله مختلف فيه ده، او دويمه مسئله له اختلاف څخه پاکه او متفق عليه ده.

(١)... د اولي مسئلې حاصل دا دی چي زموږ په نيز د خاوند لپاره (هغه که آزاد وي که غلام) دا جائز نه دي چي پر آزادي ښځي د مينځي سره نکاح وکړي، برابره ده آزاده ښځه راضي وي که نه وي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي که خاوند آزاد وي نو د هغه لپاره پر آزادي ښځي مينځه کول جائز نه دي، او که خاوند غلام وي نو د هغه لپاره پر آزادي ښځي مينځه کول جائز دي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي پر آزادي ښځي مينځه په نکاح کول په دې وجه ناجائز دي چي کله خاوند آزاد وي نو په دې صورت کي د نکاح مانع ثابتيږي چي هغه د خپل جزء (بچي) غلام او رقيق جوړول دي، ليکن کله چي خاوند غلام دي نو دا مانع نه ثابتيږي، ځکه چي غلام د خپلو ټولو اجزاؤ سره رقيق او غلام دی، نو ځکه به د غلام لپاره پر آزادي ښځي د مينځي سره نکاح کول جائز وي.

د امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د آزادي ښځي رضا شرط ده، يعني که هغه په دې راضي وي نو د خاوند لپاره پر هغې مينځه په نکاح کول جائز دي، خاوند که غلام وي که آزاد وي، او که راضي نه وي نو بيا جائز نه دي.

د امام مالک دليل: دا دی چي پر آزادي ښځي د مينځي سره نکاح کول فقط د آزادي ښځي د حق په وجه ناجائز دي، ليکن کله چي آزاده ښځه په خپله د خپل حق پر ساقطولو راضي وي، نو بيا د ناجائز کېدلو وجه ختمه سوه.

زموږ دليل: هغه حديث دی کوم چي په عبارت ذکر سو يعني: "لَا تُنْكَحُ الْأَمَةُ عَلَى الْحُرَّةِ". په دې حديث کي په واضحه توګه پر آزادي ښځي د مينځي له نکاح څخه منع سوې ده، او څرنګه چي په دې حديث کي د خاوند د غلام والي يا آزاد والي، همدارنګه د آزادي ښځي د رضا او نا راضۍ هيڅ ذکر نه دی سوی، نو په دې وجه دا حديث د امام شافعي او امام مالک دواړو په خلاف حجت او دليل دی.

ولأن للرق إلخ: زمونږ عقلي دا دی چي څرنګه غلامتوب (رقيت) عقوبت (سزا) نيموي، همدارنګه نعمت هم نيموي. مثلاً د زنا په حد کي غلام ته د سلو دُرو پر ځای پنځوس دُرې سزا ورکول کيږي، او د شرابو په حد کي د اتيا دُرو پر ځای څلوېښت دُرې سزا ورکول کيږي، همدارنګه د هغه نعمت هم نيموي. مثلاً د آزاد لپاره څلور ښځي جائز دي، او د غلام لپاره فقط دوې ښځي جائز دي. آزاده ښځه په دريو طلاقو سره مُغلظه کرځي او مينځه په دوو طلاقو سره مُغلظه کرځي، نو کله چي رقيت (غلامتوب) د عقوبت په څير په نعمت کي هم خپل اثر کوي، نو په دې مسئله کي به هم هغه خپل اثر کوي لهذا د مينځي لپاره به فقط د انفراد په حالت کي د خاوند سره نکاح کول جائز وي، نه د انضمام په حالت کي. يعني سړی خو به يوازي د مينځي سره نکاح کولای سي، لېکن د مينځي او آزادي ښځي دواړو سره نکاح کول يا پر آزادي ښځي مينځه په نکاح کول به د هغه لپاره جائز او حلال نه وي.

او د دې په مقابل کي به هغه د انفراد په حالت کي هم د آزادي ښځي سره نکاح کولای سي او په حالت د انضمام کي (يعني چي مينځه يې په نکاح کي وي، نو په دې حالت کي) به هم د هغې سره نکاح کولای سي، لکه څرنګه چي په را روانه مسئله کي د دې وضاحت سوی دی.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چي که له مخکي څخه مينځه ديو چا په نکاح کي وي، نو د هغه لپاره د آزادي ښځي سره د نکاح کولو اجازه سته، او دا مسئله د ائمه اربعه وو په نيز متفق عليه ده، ځکه چي په حديث کي د دې اجازه ورکول سوې ده، حديث دا دی: "وَتُنْكَحُ الْحُرَّةُ عَلَى الْأَمَةِ".

او عقلي دليل دا دی چي آزاده ښځه په ټولو حالاتو کي حلاله ده، د انضمام په حالت کي هم او د انفراد په حالت کي هم. يعني که مينځه په نکاح کي وي نو هم د آزادي ښځي سره نکاح حلاله ده، او که په نکاح کي نه وي نو هم نکاح ور سره حلاله ده، ځکه چي د آزادي ښځي په حق کي يو داسي منصّف (نيمونکی) شی نسته چي د هغې د نکاح نعمت ورنيم کړي، په خلاف د مينځي ځکه چي د هغې په حق کي نيمونکی شی سته چي هغه رقيّت (غلامتوب) دی.

د آزادي ښځي په عدت (عده) کي د مينځي سره د نکاح کولو مسئله

فَإِنْ تَزَوَّجَ أَمَةً عَلَى حُرَّةٍ که [يو سړي] نکاح وکړي د مينځي سره پر آزادي ښځي **فِي عِدَّةٍ مِنْ طَلَاقٍ بَائِنٍ أَوْ ثَلَاثٍ** [د آزادي ښځي] د طلاقِ بائن په عدت کي يا د دريو طلاقو [په عدت کي] **لَمْ يَجُزْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ** ❁ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [د هغه نکاح] جائز نه ده **وَيَجُوزُ عِنْدَهُمَا** او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:٢، ص:٣١٦). [القول الراجح ج:١، ص:٢٢٥]

جائز ده لِأَنَّ هٰذَا لَيْسَ بِتَزَوُّجٍ عَلَيْهَا ځکه چي دا پر آزادي ښځي نکاح کول نه دي ايعني دې ته "پر آزادي ښځي د مينځي په نکاح کول" نه وايي| وَهُوَ الْمُحَرَّمُ او همدا حرام دي وَلِهٰذَا لَوْحَلَفَ لَا يَتَزَوَّجُ عَلَيْهَا همدا وجه ده که هغه قسم وکړي چي پر آزادي ښځي به نکاح نه کوي |يعني که داسي قسم واخلي چي پر آزادي ښځي به مينځه نه په نکاح کوم| لَمْ يَحْنَثْ بِهٰذَا نو هغه په دغه نکاح سره نه حانث کيږي وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ: أَنَّ نِكَاحَ الْحُرَّةِ بَاقٍ مِنْ وَجْهٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د آزادي ښځي نکاح اد عدت په زمانه کي هم| من وجه پاته ده لِبَقَاءِ بَعْضِ الْأَحْكَامِ ځکه چي |عدت په زمانه کي| د نکاح ځيني احکام پاته دي فَيَبْقَى الْمَنْعُ إِحْتِيَاطًا نو د احتياط لپاره به |د عدت په زمانه کي| د نکاح ممانعت |هم| پاته وي بِخِلَافِ الْيَمِيْنِ په خلاف د قسم لِأَنَّ الْمَقْصُودَ أَنْ لَا يُدْخِلَ غَيْرَهَا فِي قِسْمِهَا ځکه چي |په قسم سره د خاوند| مقصد دا دی چي خاوند به د هغې په نوبت کي بله ښځه |يعني مينځه| نه داخلوي.

اللغات: ﴿لَمْ يَحْنَثْ﴾ د سمع له باب څخه د جحد صيغه ده: حانث کېدل (حانثېدل) قسم ماتول، د قسم مخالفت کول، ﴿يَمِيْن﴾ قسم، سوګند، حلف، لوړه، ﴿قِسْم﴾ حصه، نوبت، وار.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو سړي خپلي آزادي ښځي ته طلاق بائن ورکړي يا درې طلاقه ورکړي، نو آيا اوس د هغه لپاره د دې آزادي مُطلّقه ښځي د عدت په زمانه کي د مينځي سره نکاح کول جائز دي که نه؟ په دې باره کي اختلاف دی، امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي جائز دي. او صاحبين فرمايي چي جائز نه دي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د طلاق بائن يا طلاق ثلاث په وجه آزاده ښځه د دې سړي له نکاح څخه ووتله او ملک نکاح زائل سو، نو اوس که دا سړی د مينځي سره نکاح وکړي، نو دا به "پر آزادي ښځي د مينځي په نکاح کول" نه وي (يعني دي ته "پر آزادي ښځي د مينځي سره نکاح کول" نه وايي) او حرام همدغه دي، نو ځکه به د مينځي سره د هغه نکاح کول جائز وي.

ولهذا لوحلف إلخ: صاحبين د خپل دليل په تاييد کي يو مثال ذکر کوي، هغه دا چي که يو سړي قسم واخلي چي زه به پر خپلي آزادي ښځي مينځه نه په نکاح کوم، او بيا هغه دغه آزادي ښځي ته طلاق بائن يا طلاق ثلاث ورکړي او د هغې په عدت کي د مينځي سره نکاح وکړي، نو هغه په خپل قسم کي نه حانثيږي، له دې څخه هم معلومه سوه چي آزاده ښځه د هغه له نکاح څخه وتلې ده. لهذا که هغه د مينځي سره نکاح وکړي، نو دې ته "پر آزادي ښځي د مينځي په نکاح کول" نه وايي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي تر طلاق وروسته هم د دې ښځي نکاح مِنْ وَجْه (په يوه اعتبار سره) پاتـه ده، ځکه چي د نکاح ځيني احکام يعني نفقه، منع عن الخروج او داسي نور تر عدت ختمېدلو پوري پاتېږي، لهذا څرنګه چي د مِنْ کُلِّ وَجْه نکاح پاتېدلو په صورت کي د مينځي سره نکاح کول ناجائز دي، همدارنګه به د مِنْ وَجْه نکاح پاتېدلو په صورت کي هم احتياطاً د مينځي سره نکاح کول ناجائز وي.

بخلاف اليمين إلخ: په دې سره صاحب د هدايې د صاحبينو د مثال جواب ورکوي، فرمايي چي کله سړي قسم وکړي چي پر آزادي ښځي به مينځه نه په نکاح کوم، نو د دې مقصد دا دی چي د آزادي ښځي په واري او نوبت کي به مينځه نه شريکوم، لېکن کله چي دلته هغه (د مينځي سره تر نکاح مخکي) آزادي ښځي ته طلاق ورکړی، او په طلاق سره يې د هغې نوبت ورختم کړی، نو اوس ښکاره خبره ده چي مينځه د هغې سره په نوبت کي نه شريکه کېږي، نو ځکه به دا سړی په خپل قسم کي نه حانث کېږي. (او بل دا چي په قسم کي عُرف معتبر دی، او په عُرف کي تر طلاق بائن يا طلاق ثلاث وروسته د مينځي سره نکاح کولو ته "تزوج الأمة على الحرة" نه وايي).

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، کما قال العلامة الحصکفي رَحِمَهُ الله: وحرة على أمة لا يصح عکسه ولو أم ولد في عدة حرة ولو من بائن (الدر المختار ج:١، ص:٣١٦)، و قال الاستاذ المفتي غلام قادر النعماني: قول الإمام راجح، لأنّ فيه احتياطاً، وهكذا ذكر الامام الكبير قاضيخان. [القول الراجح ج:١، ص:٢٤٥]

د څو ښځو سره نکاح جائز ده؟

وَلِلْحُرِّ او آزاد سړي لره جائز دي أَنْ يَتَزَوَّجَ أَرْبَعًا مِنَ الْحَرَائِرِ وَالْإِمَاءِ چي نکاح وکړي د څلورو آزادو ښځو سره يا د څلور مينځو سره وَلَيْسَ لَهُ او د هغه لپاره [دا] جائز نه دي أَنْ يَتَزَوَّجَ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ چي تر دې له زياتو [ښځو] سره نکاح وکړي لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: « فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ ځکه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: نو نکاح وکړئ! تاسي د هغو ښځو سره چي خوښي وي [يعني حلالي وي] تاسو ته مَثْنٰى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ » [النساء: ٣] د دوو دوو [ښځو] سره او د دريو دريو سره او د څلورو څلورو سره [تفسير کابلي] وَالتَّنْصِيصُ عَلَى الْعَدَدِ يَمْنَعُ الزِّيَادَةَ عَلَيْهِ او د عدد صراحت پر دې زياتوب منع

کوي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَتَزَوَّجُ إِلَّا أَمَةً وَاحِدَةً او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې نکاح دې نه کوي مګر د يوې مينځې سره لِأَنَّهُ ضَرُورِيٌّ عِنْدَهُ ځکه چې د مينځې نکاح د هغه په نيز د ضرورت پر بناء ثابته ده وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا تَلَوْنَا او د امام شافعي په خلاف هغه آيت حجت دی کوم چې موږ تلاوت کړی إِذِ الْأَمَةُ الْمَنْكُوحَةُ يَنْتَظِمُهَا اسْمُ النِّسَاءِ ځکه چې منکوحه مينځې ته [هم] د "نساء" نوم شامل دی [يعني ځکه چې منکوحه مينځه هم په نساء (ښځو) کې داخله ده] كَمَا فِي الظِّهَارِ لکه په ظهار کې.

اللغات: ﴿حَرَائِر﴾ جمع د حُرَّة ده: آزادي ښځې، ﴿طَابَ﴾ خوښېدل، غوره کېدل، ﴿مَثْنٰى﴾ دوې دوې، ﴿ثُلَاث﴾ درې درې، ﴿رُبَاع﴾ څلور څلور، ﴿يَنْتَظِمُهَا﴾ د إفتعال مضارع ده: شاملېدل، په ترتيب کېدل، پېودل کېدل.

تشريح: په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ الله د نکاح د شمېر په هکله بيان کړی دی چې انسان په يوه وخت کې د څو ښځو سره نکاح کولای سي، حاصل يې دا دی چې د احنافو په نيز د آزاد سړي لپاره د څلورو ښځو سره نکاح کول جائز دي، برابره ده هغه ټولې آزادې ښځې وي، يا ټولې مينځې وي، يا اول د دوو مينځو سره نکاح وکړي بيا د دوو آزادو ښځو سره، لنډ دا چې د هغه لپاره د څلورو ښځو سره نکاح کول جائز دي، لېکن تر څلورو د زياتو ښځو سره نکاح کول جائز نه دي.

دليل دا آيت دی: ﴿فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ ...(الخ)﴾، په دې آيت کې الله تعالىٰ مسلمانانو ته د څلورو ښځو سره د نکاح کولو اجازه ورکړې ده، او د "رُبَاع" په لفظ سره يې د څلورو د شمېر صراحت کړی دی، نو ځکه به فقط د څلورو ښځو سره نکاح کول جائز وي، او تر څلورو زياتې ښځې به جائز نه وي.

او د ابن عمر په حديث کې هم له دې څخه منع سوې ده، حديث دا دی: "أَنَّ غِيْلَانَ بِنِ سَلَمَةَ الثَّقَفِيَّ أَسْلَمَ وَلَهُ عَشْرَ نِسْوَةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَأَسْلَمْنَ مَعَهُ. فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ ﷺ أَنْ يَتَخَيَّرَ مِنْهُنَّ أَرْبَعًا" (يعني د جاهليت په زمانه کې د غيلان بن سَلمه لس ښځې وې، لېکن تر اسلام راوړلو وروسته رسول الله ﷺ هغه ته فقط د څلورو ښځو د انتخابولو اجازه ورکړه، او دا حکم يې ورته وکړی چې پاتې ښځې له نکاح څخه وباسه!)، له حديث څخه هم معلومه سوه چې تر څلورو زياتې ښځې په نکاح کول جائز نه دي. (بنايه، عنايه)

د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي پورتنی قانون د آزادو ښځو په هکله صحيح دی يعني سړی له څلورو آزادو ښځو څخه زيات د بلي ښځي سره نکاح نه سي کولای، لېکن په مينځو کي هغه دا قانون نه تسليموي او فرمايي چي سړی تر يوې مينځي وروسته د بلي مينځي سره نکاح نه سي کولای، يعني په مينځو کي د هغه په نېز فقط د يوې مينځي سره د نکاح کولو اجازه سته، نه د څلورو سره.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د مينځو سره نکاح ضرورتاً ثابته ده (لکه مخکي چي په دې باره کي بحث تېر سو)، نو ځکه به د ضرورت په اندازه د مينځو سره نکاح جائز وي، او ضرورت پوره کيږي په يوې مينځي سره، نو ځکه به تر يوې له زياتو مينځو سره نکاح جائز نه وي، لکه څرنګه چي د ضرورت په وخت کي د ومره اندازه مردار حيوان خوړل جائز دي چي په هغه سره انسان ژوندی پاته سي، په ډک نس يا د خوند لپاره د هغه خوړل حرام دي.

والحجة عليه: د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل که څه هم مضبوط دی، خو موږ چي کوم آيت په دليل کي پېش کړی دی هغه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی، ځکه چي په هغه آيت کي د "نساء" لفظ ذکر سوی دی، او "نساء" چي څرنګه آزادو ښځو ته شامل دی، همدارنګه مينځو ته هم شامل دی، لکه څرنګه چي د کفارهٔ ظهار په دې آيت ﴿وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ﴾ کي له "نساء" څخه آزادي ښځي او مينځي دواړه مراد دي، يعني که خاوند د آزادي ښځي سره ظهار وکړي نو هم د ظهار کفاره واجب ده، او که د مينځي سره ظهار وکړي نو هم د ظهار کفاره واجب ده.

د غلام لپاره د څلورو ښځو سره د نکاح کولو حکم

وَلَا يَجُوْزُ لِلْعَبْدِ او جائز نه دي د غلام لپاره أَنْ يَتَزَوَّجَ أَكْثَرَ مِنْ اِثْنَتَيْنِ چي هغه نکاح وکړي تر دوو د زياتو ښځو سره وَقَالَ مَالِكٌ: يَجُوْزُ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جائز دي لِأَنَّهُ فِيْ حَقِّ النِّكَاحِ بِمَنْزِلَةِ الْحُرِّ عِنْدَهُ ځکه چي غلام د نکاح په حق کي د آزاد په درجه کي دی د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز حَتّٰى مَلَكَهُ بِغَيْرِ إِذْنِ الْمَوْلٰى تر دې چي غلام د مولیٰ له اجازت څخه بغير [هم] د نکاح کولو ملکيت [اختيار] لري وَلَنَا: أَنَّ الرِّقَّ مُنَصِّفٌ او زموږ دليل دا دی: چي غلامتوب نيمونکی دی فَيَتَزَوَّجُ الْعَبْدُ اِثْنَتَيْنِ وَالْحُرُّ أَرْبَعًا لهذا غلام به [فقط] د دوو ښځو سره او آزاد کس به د څلورو ښځو سره نکاح کوي إِظْهَارًا لِشَرَفِ الْحُرِّيَّةِ د آزادی د شرافت [او ستر والي] د ښکاره کولو لپاره فَإِنْ طَلَّقَ

الْحُرُّ إِحْدَى الْأَرْبَعِ طَلَاقًا بَائِنًا او که آزاد سړي په خپلو څلورو ښځو کي يوې ښځي ته طلاق بائن وركړي لَمْ يَجُزْلَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ رَابِعَةً نو جائز نه دي د هغه لپاره چي نكاح وكړي د [بلې] څلورمي ښځي سره حَتَّى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا تر دې چي د طلاق کړی سوي ښځي عدت تېر سي وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په دې کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَهُوَ نَظِيْرُ نِكَاحِ الْأُخْتِ فِي عِدَّةِ الْأُخْتِ او دا [نكاح] د خور په عدت کي د هغې د خور سره د نكاح کولو مثل [او مشابه] ده.

اللغات: ﴿حُرِّيَّة﴾ آزادي، ﴿إِحْدَى الْإِرْبَعِ﴾ يوه د څلورو، ﴿تَنْقَضِي﴾ د إنفعال مضارع ده: تېرېدل، ختمېدل، پوره کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي د غلام د نكاح شمېر بيان سوی دی، حاصل يې دا دی چي زموږ په نېز د غلام لپاره فقط د دوو ښځو سره نكاح جائز ده، تر دوو د زياتو ښځو سره جائز نه ده، لېکن د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز د غلام لپاره هم د آزاد په څېر د څلورو ښځو سره نكاح جائز ده.

د امام مالک دليل: دا دی چي د نكاح په حق کي غلام هم د آزاد په څېر دی، ځکه چي نكاح د انسانيت له خواصو څخه ده، او په انسانيت کي آزاد او غلام دواړه برابر دي، ځکه چي دواړه انسانان دي، همدا وجه ده چي غلام ته دا اختيار سته چي د خپل مالک له اجازې څخه بغير خپله نكاح وكړي.

زموږ دليل: دا دی چي دا خبره تر لمر سپينه ده چي رقيّت (غلامتوب) د عقوبت په څېر په نعمت کي هم اثر کوي، يعني لکه څرنګه چي عقوبت (سزا) نيموي همدارنګه نعمت هم نيموي. او نكاح هم يو نعمت دی، نو ځکه به د غلامتوب په دا نعمت هم نيم ګرځي، او د څلورو نيم دوه کيږي، نو ځکه به د غلام لپاره فقط د دوو ښځو سره نكاح کول جائز وي.

علامه عيني رَحِمَهُ الله پر دې موقع يوه مهمه خبره دا هم ليکلې ده چي" حقيقت دا دی چي په شريعت کي نعمتونه د مراتبو په اعتبار سره جلا او مختلف دي، مثلاً د رسولُ الله ﷺ رُتبه تر ټوله انسانيت لوړه ده، نو هغوی ته د نهو (۹) ښځو سره د نكاح کولو اجازه ورکول سوې وه، همدارنګه د غلام په مقابله کي د آزاد رُتبه لوړه او أشرفه ده، نو د آزادوالي د شرافت او لوړوالي د ښکاره کولو په خاطر به د غلام لپاره فقط دوې ښځي جائز وي، کنې د حُريّت (يعني د آزادوالي) شرافت او خصوصيت به ښکاره نه سي. او د حضرت عمر رضي الله عنه دا حديث "لَا يَتَزَوَّجُ الْعَبْدُ أَكْثَرَ مِنْ إِثْنَيْنِ" هم زموږ د مذهب تاييد کوي.

فإن طلق الحرّ إلخ: مصنف رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره يوه بله مسئله بيانوي چې هغه مخکې هم ضمناً تېره سوه، د مسئلې حاصل دا دی چې که آزاد سړي د څلورو ښځو سره نکاح کړې وي، او بيا هغه يوې ښځې ته طلاقِ بائن ورکړي، نو تر څو چې هغه بائنه مُطلّقه ښځه خپل عدت پوره نه کړي، تر هغه وخته پورې د دغه سړي لپاره د بلې ښځې سره نکاح کول جائز نه دي، کنې د ده په نکاح کې به پنځه ښځې جمع سي او دا ناروا دي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ده لپاره د بلې ښځې سره نکاح کول جائز دي، ځکه چې د طلاقِ بائن په وجه هغه ښځه بالکل د ده له نکاح څخه ووتله، لهذا په دې صورت کې د پنځو ښځو اجتماع نه لازميږي.

مخکې د "جمع بين الأختين" په بحث کې چې د مُطلّقه ښځې په عدت کې د هغې د خور سره د نکاح کولو په هکله کومه مسئله ذکر سوه، دا مسئله هم د هغه مسئلې سره مشابه ده.

د زناکارۍ حاملې سره د نکاح کولو حکم

قَالَ: فَإِنْ تَزَوَّجَ حُبْلٰى مِنْ زِنًا فرمايي: که [يو څوک] نکاح وکړي د داسې ښځې سره چې په زنا سره حامله [حملداره] وي جَازَ النِّكَاحُ نو [د هغه] دا نکاح جائز ده وَلَا يَطَؤُهَا حَتّٰى تَضَعَ حَمْلَهَا [ليکن] وطي دې نه ور سره کوي تر دې چې حمل وزېږوي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ ✿ او دا حکم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ: اَلنِّكَاحُ فَاسِدٌ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې نکاح يې فاسده ده وَإِنْ كَانَ الْحَمْلُ ثَابِتَ النَّسَبِ او که حمل ثابتُ النسب وي فَالنِّكَاحُ بَاطِلٌ بِالْإِجْمَاعِ نو نکاح يې باطله ده په اجماع سره لِأَبِيْ يُوْسُفَ: أَنَّ الِامْتِنَاعَ فِي الْأَصْلِ لِحُرْمَةِ الْحَمْلِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې په اصل کې د نکاح ممانعت د حمل د احترام [او درناوي] په وجه دی وَهٰذَا الْحَمْلُ مُحْتَرَمٌ او دا [د زنا] حمل [هم] د احترام قابل دی لِأَنَّهُ لَا جِنَايَةَ مِنْهُ ځکه چې د دې حمل له طرفه هيڅ جرم نسته [ځکه اصل مجرم خو زاني او زانيه ده] وَلِهٰذَا لَمْ يَجُزْ إِسْقَاطُهُ همدا وجه ده چې د دې حمل إسقاط [ساقطول] جائز نه دي وَلَهُمَا: أَنَّهَا مِنَ الْمُحَلَّلَاتِ بِالنَّصِّ د طرفينو دليل دا دی: چې دغه حامله زانيه له حلالو ښځو څخه ده د آيت په وجه [نو ځکه د هغې سره نکاح جائز ده] وَحُرْمَةُ الْوَطْئِ كَيْلَا يَسْقِيَ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ او وطي د دې لپاره [ور سره] حرامي دي چې د خاوند اوبه د بل چا کښت اوبه نه کړي وَالِامْتِنَاعُ فِي ثَابِتِ النَّسَبِ لِحَقِّ صَاحِبِ الْمَاءِ او په ثابتُ النسب کې د نکاح ممانعت د اوبو والا

✿ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٣١٦). [القول الراجح ج:١، ص:٢٤٦]

[يعني د اول خاوند] د حق په وجه دی وَلَا حُرْمَةَ لِلزَّانِيْ او زاني لره هيڅ احترام [او عزت] نسته انو ځکه به د زانيه ښځې سره نکاح جائز وي].

اللغات: ﴿حُبْلٰى﴾ حامله (حملداره)، بلاربه، ﴿تَضَعَ﴾ حمل زيږول، بچی زيږول. ﴿اِمْتِنَاع﴾ د افتعال مصدر دی: منع کېدل، ځان نيول، ﴿جِنَايَة﴾ جُرم، قصور. ﴿إِسْقَاط﴾ د إفعال مصدر دی: حمل ساقطول، ضايع کول، ايله کول. ﴿يَسْقِيْ﴾ د ضرب مضارع ده: اوبه کول، سېرابول. ﴿زَرْع﴾ کښت، فصل، کرهڼه (کرونده).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې که يو سړي د داسي ښځي سره نکاح وکړي چې هغه په زنا سره حامله (حملداره) وي، نو اوس د دې دوه صورتونه دي: ① د هغې حمل به ثابتُ النسب وي. په دې توګه چې هغې ته خاوند طلاق ورکړی وي او هغه د طلاق په عدت (عده) کي وي او په دې دوران کي هغه د يو چا سره زنا وکړي او د زنا په وجه حامله سي (نو دا حمل ثابتُ النسب دی ځکه د عدت په زمانه کي چې حمل ښکاره سي نو د هغه نسب د خاوند (طلاق ورکونکي) سره ثابتيږي)، ② دويم صورت دا دی چې د هغې حمل به ثابت النسب نه وي.

که چيري اول صورت وي يعني حمل يې ثابتُ النسب وي، نو د ټولو امامانو په اتفاق د داسي ښځي سره نکاح کول حرام دي.

او که دويم صورت وي، يعني د حمل نسب يې ثابت نه وي، نو د داسي حاملې سره د نکاح کولو په باره کي د فقهاؤ اختلاف دی، له احنافو څخه طرفين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې د هغې سره نکاح کول جائز دي خو تر وضعُ الحمل (يعني د کوچني تر زيږولو) پوري به وطي نه ور سره کوي. امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې د هغې سره نکاح کول بالکل جائز نه دي، همدا د امام احمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله قول هم دی؛ لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز نکاح هم ور سره جائز ده او وطي هم ور سره جائز دي.

د امام ابو يوسف دليل: قياس دی، هغه دا چې څرنګه په أصل يعني ثابتُ النسب کي د حمل د احترام په وجه نکاح ممنوع ده، همدارنګه به په فرع يعني په غيرِ ثابتُ النسب حمل کي هم د حمل د احترام په وجه نکاح ممنوع وي، ځکه چې د ثابتُ النسب حمل په څېر دغه حمل هم له جرم او جنايت څخه پاک او بې قصوره دی، ځکه ټوله قصور خو د مور (زانيې) او زاني دی. همدا وجه ده چې د دې حمل إسقاط (ساقطول) صحيح نه دي، لهذا کله چې غيرِ ثابتُ النسب حمل هم محترم دی، نو ځکه به د داسي حاملې سره هم نکاح حرامه او ممنوع وي.

د طرفینو دلیل: دا دی چي په قرآني محرّماتو کي د "حامله مِن الزنا" هیڅ ذکر نسته. یعني په قرآن کي چي د کومو محرّماتو ښځو بیان سوی دی، په هغوی کي د داسي حاملې هیڅ یادونه سوې نه ده. نو ځکه به هغه له حلالو ښځو څخه وي، او د "أُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذٰلِكُمْ" په خاطر به د هغې سره هم نکاح کول صحیح او جائز وي.

او که څه هم په قرآني محرّماتو کي حامله ثابتُ النسب ذکر سوې نه ده، خو هغه بیا د دې آیت ﴿وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ أَجَلَهُ﴾ په وجه تر وضعُ الحمل پوري په محرّماتو کي داخله ده. لهذا په دې هکله اعتراض کول پکار نه دي.

وحرمة الوطئ إلخ: دا دیو اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چي کله "حامله من الزنا" له حلالو ښځو څخه ده، او د هغې سره نکاح جائز ده، نو بیا د هغې سره وطي کول ولي جائز نه دي حال دا چي تر نکاح وروسته فوراً وطي روا کیږي.

نو د دې په جواب کي صاحبِ د کتاب فرمایي چي د هغې سره وطي کول ځکه ناجائز او حرام دي چي انسان په خپلو اوبو (مني) سره د بل چا کښت اوبه نه کړي (یعني چي د داسي ښځي رحم ته د سړي اوبه نه ورسیږي کوم چي له بل چا څخه حامله ده)، ځکه چي نبي کریم ﷺ له دې څخه منع کړې ده، فرمایي: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلَا يَسْقِيَنَّ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ". په دې حدیث کي د داسي ښځي له وطي څخه منع سوې ده چي هغه له بل چا څخه حامله وي.

والامتناع في ثابت إلخ: له دې ځایه د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د دلیل جواب ورکوي، حاصل یې دا دی چي غیرِ ثابتُ النسب حمل پر ثابتُ النسب حمل قیاسول صحیح نه دی، ځکه چي په ثابت النسب حمل کي خو د حمل د احترام په وجه نکاح ممنوع نه ده، بلکي هلته د صاحبُ الماء یعني د اول خاوند د حق په وجه نکاح ممنوع ده، او څرنګه چي زاني د خپلي بدکارۍ په وجه د احترام هیڅ حق نه لري، نو ځکه د ده حمل پر ثابتُ النسب حمل قیاسول بالکل صحیح نه دي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دی، کما قال العلامة ابن عابدین رَحِمَهُ الله: والفتویٰ علیٰ قولهما، کما في القهستاني عن المحیط. (رد المحتار ج: ۲، ص: ۳۱۶). [القول الراجح ج: ۱، ص: ۲۴۶]

د قيدي حاملې سره د نکاح کولو حکم

فَإِنْ تَزَوَّجَ حَامِلًا مِنَ السَّبْيِ او که [يو سړي] نکاح وکړي د يوې قيدي حاملې ښځې سره [يعني چې هغه په دارالحرب کي نيول سوې او قيد کړی سوې وي او حملداره وي] **فَالنِّكَاحُ فَاسِدٌ** نو دا نکاح فاسده ده **لِأَنَّهُ ثَابِتُ النَّسَبِ** ځکه چي [د هغې] حمل ثابتُ النسب دی **وَإِنْ تَزَوَّجَ أُمَّ وَلَدِهِ** او که [مالک] د خپلې اُمِ ولد مينځې نکاح وتړي [د بل چا سره] **وَهِيَ حَامِلٌ مِنْهُ** حال دا چي مينځه له هغه [مالک] څخه حامله وي **فَالنِّكَاحُ بَاطِلٌ** نو [د هغې] نکاح باطله ده **لِأَنَّهَا فِرَاشٌ لِمَوْلَاهَا** ځکه چي هغه د خپل مالک فراش ده **حَتَّى يَثْبُتَ نَسَبُ وَلَدِهَا مِنْهُ مِنْ غَيْرِ دَعْوَةٍ** همدا وجه ده چي د هغې د بچي نسب ثابتيږي د نسب له دعوىٰ څخه بغير **فَلَوْ صَحَّ النِّكَاحُ** [لېکن] که نکاح صحيح [او کړ ځول] سي **لَحَصَلَ الْجَمْعُ بَيْنَ الْفِرَاشَيْنِ** نو د دوو فراشو جمع کېدل به لازم سي **إِلَّا أَنَّهُ غَيْرُ مُتَأَكِّدٍ** خو دا فراش مضبوط [او قوي] نه دی **حَتَّى يَنْتَفِيَ الْوَلَدُ بِالنَّفْيِ مِنْ غَيْرِ لِعَانٍ** همدا وجه ده چي بچی منتفي کيږي [د مالک] په نفي کولو سره بغير د لعان څخه **فَلَا يُعْتَبَرُ مَا لَمْ يَتَّصِلْ بِهِ الْحَبَلُ** نو اعتبار به نه کيږي د دې فراش تر څو چي حمل ور سره متصل سوی نه وي [يعني تر څو چي اُم ولد حامله سوې نه وي، تر هغه وخته به د نکاح په ممانعت کي د هغې فراش معتبر نه وي او نکاح به ور سره جائز وي].

اللغات: ﴿السَّبْيِ﴾ قيدي (بندي)، محبوسه او بندي ښځه (په عربي ژبه کي عموماً د بندي سړي لپاره "أَسِيْر" استعماليږي، او د بندي ښځي لپاره "سَبْي" استعماليږي، جمع يې "سُبِيٌّ" راځي، او يو لفظ "السَّبِيّ" راځي دا هم قيدي او بندي ته وايي او د دې جمع بيا "سَبَايَا" راځي)، ﴿أُمِّ وَلَدٍ﴾ (د هلک مور)، د کومي مينځي سره چي مالک (مولىٰ) وطي وکړي او د هغه په سبب له مينځي څخه بچی پيدا سي، او مالک د بچي د نسب دعوه کړې وي (چي دا زما زوی دی) نو داسي مينځي ته "أُمِ ولد" وايي، ﴿فِرَاش﴾ بستر (بستره)، د دې لفظ معنىٰ مخکي تېره سوه، په دې عبارت او را روان عبارت کي له "فراش" څخه مراد هغه اُمِ ولد مينځه ده چي هغه د خپل بچي د نسب په ثابتولو کي د دعوه کولو ته محتاجه نه وي، بلکي بغير له دعوې څخه يې د بچي نسب د مالک سره ثابتيږي (ځکه چي يو ځل مالک د هغې د اول بچي د نسب دعوه کړې وي او د هغه زوی والي يې منلی وی، نو داسي مينځه د خپل مالک فراش کيږي، ليکن که له مالک څخه د مينځي بچی پيدا سوی نه وي او تر اوسه اُمِ ولد جوړه سوې نه وي، نو هغه د خپل مالک فراش کېدلای نه سي.

تشريح: په دې عبارت کي دوې (٢) مسئلې بيان سوي دي:

(١)... اوله مسئله دا ده که يو څوک د داسي حاملې (حملداري) ښځي سره نکاح وکړي چي هغه مسلمانانو په دارُ الحرب کي نيولې وي او دارُ الاسلام ته يې را وستې وي، نو دا نکاح د ټولو امامانو په نېز فاسده ده؛ دليل يې دا دی چي د هغې ښځي د حمل نسب د حربي خاوند سره ثابت دی، او تاسو

مخکې وویل چې د حمل د ثابتُ النسب کېدلو په صورت کې نکاح فاسدیږي. نو ځکه به دلته هم نکاح فاسدیږي.

(۲)... دویمه مسئله دا ده که یو مالک د خپلې اُمِ ولد مینځې سره وطې وکړي او هغه حامله سي. نو اوس مالک ته دا جائز نه دي چې د هغې نکاح د بل چا سره وکړي، او که یې وکړي نو نکاح باطله ده؛ ځکه چې دغه اُمِ ولد د خپل مالک فراش ده. همدا وجه ده چې د هغې د بچې نسب د مالک سره ثابتیږي (که څه هم مالک د بچي د نسب دعوه نه وکړي)، نو اوس که د اُمِ ولد نکاح د بل چا سره صحیح وګڼل سي نو "جمع بين الفراشين" به لازم او ثابت سي، ځکه چې هغه به د اُمِ ولد کېدلو په وجه د خپل مالک فراش هم وي، او د نکاح په وجه به د خاوند فراش هم وي، او "جمع بين الفراشين" باطله ده، ځکه چې د "جمع بين الفراشين" په وجه نسب شکمن کیږي، نو ځکه به نکاح هم باطله وي.

إلا أنه غير متأكد إلخ: په دې سره د یو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چې کله اُمِ ولد د خپل مالک فراش ده، نو باید د غیرِ حمل په صورت کې هم د هغې نکاح باطله وای، ځکه چې د غیرِ حمل په صورت کې "جمع بين الفراشين" نه ثابتیږي.

د دې په جواب کې صاحب د هدایې فرمایي چې اُمِ ولد که څه هم د خپل مالک فراش ده، خو مستحکم او مضبوطه فراش یې نه ده، همدا وجه ده که مالک د هغې د بچې نفي وکړي (یعني له نسب څخه یې انکار وکړي)، نو د لعان څخه بغیر د هغې د بچې نسب منتفي کیږي، حال دا چې که خاوند او مالک د قوي فراش د بچې نفي وکړي نو د لعان کولو څخه بغیر د هغې د بچې نسب نه منتفي کیږي، لهذا معلومه سوه چې دا فراش قوي نه دی، نو ځکه د دغه فراش د تقویت لپاره حمل ضروري وګرځول سو، یعني که اُمِ ولد حامله وي، نو د هغې فراش والي به قوي وي، او د بل چا سره به د هغې نکاح جائز نه وي، لېکن که هغه حامله نه وي، نو د هغې فراش والي به ناقص او ضعیف وي، او ضعیف فراش معتبر نه دی، نو ځکه به په دې صورت کې د بل چا سره د هغې نکاح جائز وي.

د موطوئه (وطي کړل سوې) مینځې سره د نکاح کولو بیان

قَالَ: وَمَنْ وَطِئَ جَارِيَتَهُ ثُمَّ زَوَّجَهَا فرمایي: او کوم څوک چې د خپلې مینځې سره وطې وکړي بیا د هغې نکاح وکړي [د بل چا سره] **جَازَ النِّكَاحُ** نو نکاح یې جائز ده **لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِفِرَاشٍ لِمَوْلَاهَا** ځکه چې هغه مینځه د خپل مالک فراش نه ده **فَإِنَّهَا لَوْ جَاءَتْ بِوَلَدٍ** ځکه که هغه یو بچی وزیږوي **لَا يَثْبُتُ نَسَبُهُ مِنْ غَيْرِ دَعْوَةٍ** نو د هغه نسب نه ثابتیږي [د مالک سره] د نسب له دعوې څخه بغیر **إِلَّا أَنَّ عَلَيْهِ أَنْ يَسْتَبْرِئَهَا** خو دا چې پر مالک مستحب دي چې په مینځې استبراء وکړي **صِيَانَةً لِمَائِهِ** د خپلو اوبو د حفاظت لپاره [یعني چې خپل نسب یې

خوندي پاته سي] وَإِذَا جَازَ النِّكَاحُ او كله چي نكاح جائز ده فَلِلْمَوْلَى أَنْ يَطَأَهَا قَبْلَ الاسْتِبْرَاءِ نو د خاوند لپاره جائز دي چي وطي ور سره وكړي تر استبراء مخكي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وَقَالَ مُحَمَّدٌ*: لَا أُحِبُّ لَهُ أَنْ يَطَأَهَا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي زه د هغه لپاره نه خوښوم چي وطي ور سره وكړي حَتَّى يَسْتَبْرِئَهَا تر دې چي استبراء په وكړي [يعني زه تر استبراء مخكي د خاوند لپاره د مينځي سره وطي كول نه خوښوم] لِأَنَّهُ احْتَمَلَ الشُّغْلَ بِمَاءِ الْمَوْلَى ځكه چي د مالک په اوبو سره [د مينځي د رحم] د مشغولېدلو احتمال سته [يعني دا احتمال سته چي د مينځي رحم به د مالک په نطفه سره مشغول وي يعني د هغې په رحم كي به د مالک نطفې قرار نيولې وي او دا] فَوَجَبَ التَّنَزُّهُ كَمَا فِي الشِّرَاءِ نو ځكه پاكي [او استبراء] ضروري ده لكه څرنګه چي [د مينځي] په رانيولو كي كيږي [يعني لكه كله چي مُشتري يوه مينځه رانيسي نو پر هغه استبراء كول ضروري دي. همدارنګه دلته...] وَلَهُمَا: أَنَّ الْحُكْمَ بِجَوَازِ النِّكَاحِ أَمَارَةُ الْفَرَاغِ دشيخينو دليل دا دی: چي د نكاح د جائز كېدلو حكم [د مينځي د رحم] د خالي والي علامه ده فَلَا يُؤْمَرُ بِالاسْتِبْرَاءِ لَا اسْتِحْبَابًا وَلَا وُجُوبًا نو ځكه به د استبراء حكم نه كيږي نه د استحباب په توګه او نه د وجوب په توګه بِخِلَافِ الشِّرَاءِ په خلاف [د مينځي] د رانيولو لِأَنَّهُ يَجُوزُ مَعَ الشُّغْلِ ځكه چي [د مينځي] رانيول [د رحم] د مشغوليت په وخت كي [هم] جائز دي وَكَذَا إِذَا رَأَى امْرَأَةً تَزْنِي او همدارنګه كه [څوک] يوه ښځه پر زنا كولو ويني فَتَزَوَّجَهَا بيا د هغې سره نكاح وكړي حَلَّ لَهُ أَنْ يَطَأَهَا قَبْلَ أَنْ يَسْتَبْرِئَهَا عِنْدَهُمَا نو د هغه لپاره جائز دي چي تر استبراء مخكي وطي ور سره وكړي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا أُحِبُّ لَهُ أَنْ يَطَأَهَا مَا لَمْ يَسْتَبْرِئْهَا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي زه د هغه لپاره نه خوښوم چي تر استبراء مخكي د مينځي سره وطي وكړي وَالْمَعْنَى مَا ذَكَرْنَا او وجه [دليل] يې هغه دی كوم چي موږ [لږ څه مخكي] ذكر كړی.

اللغات: ﴿صِيَانَةٌ﴾ حفاظت، ساتنه، ژغورنه، ﴿اِسْتِبْرَاء﴾ له "بَرَاءة" څخه مشتق دی: د رحم د خالي والي د يقين لپاره د ښځي تر يوه حيض پوري درېدل ("يعني تر يوه حيض پوري د ښځي سره وطي نه كول د دې لپاره چي په يقيني توګه معلومه سي چي د ښځي رحم خالي دی او نس يې د بل چا په اُوبو سره مشغول نه دی"، دلته يې مطلب دا دی چي كله د چا په ملكيت كي مينځه راسي نو تر يوه حيض پوري دي وطي نه ور سره كوي، بلكي كله چي يې حيض راسي او بيا ختم سي نو وطي دي ور سره وكړي، چي په يقيني توګه معلومه سوي چي په نس كي يې د بل چا

* القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار: وقول محمد رَحِمَهُ الله أقرب إلى الاحتياط وبه نأخذ (ج:٢، ص:٣١٧). [القول الراجح ج:١، ص:٢٤٧]

حمل نسته، ځکه د حيض راتلل د دې خبرې علامه ده چې په نس کې يې حمل نسته)، ﴿التَّنَزُّهُ﴾ د تفعّل مصدر دى: ځان ساتل، احتياط کول، ليرې کېدل، ﴿أَمَارَةٌ﴾ علامت (علامه)، نښه، نښاني، ﴿الشِّرَاء﴾ رانيول.

يادونه: د "أُمِّ وَلَدٍ" او د "فِرَاش" معنیٰ د تېر عبارت په لغاتو کې وګورئ! په عبارت د پوهېدلو لپاره د دوی په معنیٰ پوهېدل ضروري دي.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي، او دواړي مختلف فيه دي:

(۱)...اوله مسئله دا ده که يو سړی د خپلې مينځې سره وطي وکړي، بيا د يو بل چا سره د هغې نکاح وکړي، نو زموږ په نېز د هغې نکاح جائز ده که څه هم استبراء نه وکړي، امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې له يوه حيض څخه تر استبراء مخکې د هغې نکاح جائز نه ده. او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې له دريو حيضو څخه تر استبراء مخکې د هغې نکاح جائز نه ده.

زموږ دليل: دا دی چې دا مينځه د خپل مالک فراش نه ده، ځکه چې د نسب له دعوې څخه بغير د مالک سره د هغې د بچي نسب نه ثابتيږي، لهذا کله چې دا ثابته سوه چې دا مينځه د مالک فراش نه ده، نو د دې نکاح به جائز وي، ځکه چې د نه جواز سبب فراش والی وو (يعني د بل چا سره د مينځې نکاح په دې سبب سره ناجائز وه چې هغه د خپل مالک فراش وه)، او هغه سبب دلته نسته، نو ځکه به يې د بل چا سره نکاح جائز وي، خو تر نکاح مخکې پر مالک استبراء کول مستحب دي، د دې لپاره چې د مالک اوبه محفوظه سي يعني نسب يې خوندي سي.

وإذا جاز النكاح: فرمايي کله چې زموږ په نېز نکاح صحيح او جائز سوه، نو آيا د خاوند لپاره تر استبراء مخکې وطي کول صحيح دي که نه؟ نو په دې باره کې اختلاف دی، شيخين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې صحيح دي، امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې هغه زما په نېز ښه کار نه دی.

د امام محمد دليل: دا دی چې دا احتمال سته چې د هغې رحم به د مالک په اوبو (د مالک په حمل) مشغوله وي، لهذا د دې احتمال د ختمولو لپاره د استبراء په ذريعه د رحم خالي والي او پاکوالی معلومول ضروري دي، لکه څرنګه چې د مينځې د رانيولو په صورت کې تر وطي مخکې پر مُشتري استبراء کول ضروري دي، همدغسې په دې صورت کې هم وطي کول ښه کار نه دی، بلکې استبراء کول ضروري دي.

د شيخينو دليل: دا دی چې کله شريعت د بل چا سره د هغې نکاح جائز وګرځوله، نو دا پر دې خبره دليل دی چې د مينځې نس بالکل له حمل څخه خالي دی، لهذا کله چې رحم خالي دی، نو د استبراء حکم به هم نه ورته کيږي نه په استحبابي او نه په وجوبي توګه.

بخلاف الشراء إلخ: امام محمد رَحِمَهُ الله د مينځې پر شراء (رانيولو) قياس کړی وو، صاحب د کتاب په دې عبارت سره د هغه جواب ورکوي فرمايي چې پر شراء قياس کول صحيح نه دي، ځکه چې د شُغلِ رحم په

وخت کې (يعني کله چې د مينځې په نس کې حمل وي نو) هم مينځه خرڅول او رانيول جائز دي، نو د هغې خرڅول او رانيول د دې خبرې نښه او علامت نه سي کېدلای چې د هغې نس له حمل څخه فارغ او خالي دی، نو ځکه د مينځې د رانيولو په صورت کې استبراء ضروري ده، لېکن د شغلِ رحم په وخت کې نکاح جائز نه ده، نو ځکه به د نکاح جواز د دې خبرې علامت او نښه وي چې د هغې نس له حمل څخه خالي دی.

وکذا إذا رأى إلخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده که سړی يو ښځه پر زنا کولو وويني او بيا د هغې سره نکاح وکړي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَااللہ په نيز په دې صورت کې هم د خاوند لپاره تر استبراء مخکې وطي کول صحيح دي، ځکه چې د نکاح جواز د دې خبرې دليل دی چې د هغې رحم له حمل څخه خالي دی، او د امام محمد رَحِمَهُاللہ په نيز د زنا په وجه د شغل احتمال پيدا سو (يعني دا احتمال پيدا سو چې د زنا په وجه به د هغې په نس کې حمل وي) نو د دغه احتمال د ختمولو لپاره د هغه په نيز په يوه حيض سره استبراء کول واجب او ضروري دي. والله أعلم بالصواب

نکاحِ متعه او نکاحِ مؤقت

وَنِكَاحُ الْمُتْعَةِ بَاطِلٌ او نکاحِ متعه باطله ده **وَهُوَ: أَنْ يَقُولَ لِامْرَأَةٍ** او نکاحِ متعه دا ده: چې سړی يوې ښځې ته ووايي **أَتَمَتَّعُ بِكِ كَذَا مُدَّةً بِكَذَا مِنَ الْمَالِ** چې زه ستا څخه نفع اخلم دومره موده [او] په دومره مال سره **وَقَالَ مَالِكٌ**● **: هُوَ جَائِزٌ** او امام مالک رَحِمَهُاللہ فرمايي: چې نکاحِ متعه جائز ده **لِأَنَّهُ كَانَ مُبَاحًا** ځکه چې [د اسلام په شروع کې] متعه روا وه **فَيَبْقَى إِلَى أَنْ يَظْهَرَ نَاسِخُهُ** نو [دغسې روا] به پاته وي تر هغه وخته پورې چې يو منسوخونکی دليل يې ښکاره سي **قُلْنَا: ثَبَتَ النَّسْخُ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ** موږ وايو: چې د صحابه وو رَضِيَاللہُعَنۡهُمۡ په اجماع سره نسخ ثابته ده **وَابْنُ عَبَّاسٍ صَحَّ رُجُوعُهُ إِلَى قَوْلِهِمْ** او د ابن عباس رَضِيَاللہُعَنۡهُمَا رجوع [هم] صحيح [او ثابته] ده د صحابه وو [د قول] و طرف ته **فَتَقَرَّرَ الْإِجْمَاعُ** نو ځکه اجماع ثابته سوه **وَالنِّكَاحُ الْمُوَقَّتُ بَاطِلٌ** او نکاحِ مؤقت [هم] باطله ده **مِثْلُ أَنْ يَتَزَوَّجَ امْرَأَةً بِشَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ إِلَى عَشَرَةِ أَيَّامٍ** مثلاً [يو سړی] نکاح وکړي د يوې ښځې سره د دوو ګواهانو په ګواهۍ سره تر لسو ورځو پورې **وَقَالَ زُفَرُ**: **هُوَ**

● القول الراجح: قول الامام زفر رَحِمَهُاللہ، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُاللہ: ومقتضى النظر أن يترجح قوله "أى قول زفر رَحِمَهُاللہ" (فتح القدير ج:۳، ص:۱۵۲)، وقال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُاللہ: فى باب النفقة ذكر عشرين مسائل التى يفتى بها بقول زفر، قال فى نظمه: وأيضًا نكاحاً فيه توقيت مدة يصح، وذا التوقيت يجعل مرسلًا. وقال أيضًا: ثم رجح قول زفر رَحِمَهُاللہ بصحة الموقت على معنى أنه ينعقد مؤبدا ويلغو التوقيت..."إلخ" (رد المحتار ج:۲، ص:۳۱۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۲۹)

صَحِيحٌ لَازِمٌ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې نکاحِ مؤقت صحيح او لازم ده لِأَنَّ النِّكَاحَ لَا يَبْطُلُ بِالشُّرُوطِ الْفَاسِدَةِ ځکه چې نکاح په فاسدو شرطونو سره نه فاسديږي وَلَنَا: أَنَّهُ أَتَى بِمَعْنَى الْمُتْعَةِ او زموږ دليل دا دی: چې نکاحِ مؤقت د نکاحِ متعه په معنیٰ سره ده وَالْعِبْرَةُ فِي الْعُقُودِ لِلْمَعَانِي او اعتبار په عقدونو کي معناګانو لره دی وَلَا فَرْقَ بَيْنَ مَا إِذَا طَالَتْ مُدَّةُ التَّأْقِيتِ أَوْ قَصُرَتْ او هيڅ فرق نشته په دې کي چې د تعيين موده اوږده وي يا کمه وي لِأَنَّ التَّأْقِيتَ هُوَ الْمُعَيِّنُ لِجِهَةِ الْمُتْعَةِ ځکه چې همدغه [د مودې] تعيين د متعې جهت [او معنیٰ] معلوموي وَقَدْ وُجِدَ او هغه موجود دی [په نکاحِ مؤقت کي].

اللغات: ﴿أَتَمَتَّعُ﴾ د تَفَعُّل له باب څخه واحد متکلم ماضي صيغه ده: فايده اخيستل، نفع حاصلول. ﴿مُؤَقَّت﴾ د ټاکلي وخت والا، د مقرّر وخت والا. ﴿التَّأْقِيت﴾ د تفعيل مصدر دی: وخت ټاکل، وخت متعينول (معلومول). ﴿عِبْرَة﴾ اعتبار، پند ونصيحت. ﴿عُقُوْد﴾ جمع د "عَقْدٌ" ده: معامله، تړون (يعني د بيع يا يوې بلې معاملې تړون کول). ﴿مَعَانِي﴾ جمع د "مَعْنٰی" ده: مفهوم، معنا. ﴿قَصُرَتْ﴾ د کرُم ماضي ده: کمېدل، لنډېدل، کوچنی کېدل.

تشريح: د اسلام په شروع کي له شرعي او ابدي نکاح څخه پر ته د دوو نورو نکاحګانو رواج وو، لېکن وروسته اسلام دا دواړي نکاحګاني باطلي کړې، او د هغوی پر باطلېدلو د صحابه وو اجماع ثابته سوه. څرنګه چې دا دواړي هم د نکاح په نامه سره بلل کيږي، نو ځکه صاحب د کتاب دلته (په "کتاب النکاح" کي) د هغوی حقيقيت او حکم بيانوي.

نکاحِ متعه: دا ده چې سړی يو ښځي ته داسي ووايي: "أَتَمَتَّعُ بِكِ كَذَا مُدَّةً بِكَذَا مِنَ الْمَالِ" (يعني زه د دومره مال په عوض کي تر دومره ورځو پوري ستا څخه نفع اخيستل غواړم).

نکاحِ مؤقت: دا ده چې انسان ښځي ته داسي ووايي: "أَتَزَوَّجُكِ بِشَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ عَشَرَةَ أَيَّامٍ" (يعني زه د دوو ګواهانو په حضور کي تر لسو ورځو پوري ستا سره نکاح کوم).

د نکاحِ متعه او مؤقت تر مينځ فرق: په نکاحِ متعه او نکاحِ مؤقت کي صرف دا فرق دی چې په نکاحِ مؤقت کي به د "نکاح" يا د "تزويج" لفظ وو (مثلاً: أُنْكِحُكِ، يا أَتَزَوَّجُكِ)، لېکن نکاحِ متعه به د "تمتع" او "استمتاع" په لفظ سره تړل کېده، دويم فرق يې دا دی چې په نکاحِ مؤقت کي به دوه ګواهان شرط وو، لېکن نکاحِ متعه به له ګواهۍ څخه پر ته هم تړل کېده.

تر دې تفصيل وروسته د عبارت حاصل دا دی چې د ټوله اُمت په اجماع او د ټولو فقهاؤ په اتفاق سره نکاحِ متعه باطله ده. صاحب د هدايې که څه هم د امام مالک رَحِمَهُ الله په نیز دا جائز ګڼلې ده. لیکن د هدايې سترو شارحينو مثلاً علامه عيني، صاحب د فتح القدير او داسې نورو ويلي دي چې دا خبره صحيح نه ده چې د امام مالک په نیز متعه جائز ده. دا به يا د کاتب غلطي وي، يا به د مصنف سهوه وي. لنډه دا چې د امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک د نورو امامانو په څېر دی، يعني نکاحِ متعه که څه هم د اسلام په شروع کې جائز وه، ليکن د خيبر په ورځ نبي کريم ﷺ نکاحِ متعه او نکاحِ مؤقت د قيامت تر ورځې پورې حرامه وګرځوله. په خپله امام مالک رَحِمَهُ الله په "موطاء" کې په دې هکله دا حديث نقل کړی دی: "عَنْ عَلِيِ ابْنِ أَبِيْ طَالِبٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ نَهٰى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ وَعَنْ لُحُوْمِ الْحُمرِ الْأَهْلِيَّةِ يَوْمَ خَيْبَرَ" (يعني نبي کريم ﷺ د خيبر په ورځ له نکاحِ متعه او د کورني خره له غوښو څخه منع وکړه)، په دې حديث سره دوې خبرې ښکاره سوې: ① د نکاحِ متعه حرام والی، ② او دويمه خبره دا ښکاره سوه چې نکاحِ متعه د امام مالک رَحِمَهُ الله په نیز هم حرامه ده، ځکه د امام مالک رَحِمَهُ الله عادتِ شريفه دا دی چې خپل په "موطاء" کې هغه روايات بيانوي کوم چې د هغه د مذهب او مطلب مطابق وي، نو په مؤطا کې د دې روايت بيانول په خپله د دې خبرې دليل دی چې د امام مالک په نیز هم متعه حرامه ده.

او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا که څه هم په شروع کې د متعې د حُرمت قائل نه وو، خو وروسته هغه هم له خپل قول څخه رجوع وکړه، او د متعې د حرمت قائل سو، لکه څرنګه چې ابن جابر رضي الله عنه فرمايي: "أن ابْنَ عَبَّاسَ مَا خَرَجَ مِنَ الدُّنْيَا حَتّٰى رَجَعَ عَنْ قَوْلِهٖ فِي الصَّرْفِ وَالْمُتْعَةِ"، لهذا کله چې د هغه رجوع هم ثابته او صحيح ده، نو د متعې پر حرمت د صحابه وو اجماع ثابته سوه.

والنکاح المؤقت باطل إلخ: فرمايي چې د نکاحِ متعه په څېر نکاحِ مؤقت هم بالکل باطله ده، او پر دې هم د ائمه اربعه وو اتفاق دی، ليکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز نکاحِ مؤقت جائز ده (او د توقيت شرط لغو او باطل دی او د همېشه لپاره نکاح منعقد کيږي).

د امام زفر دليل: دا دی چې نکاحِ مؤقت صحيح او لازمه ده، ځکه چې د نکاحِ غيرِ مؤقت په څېر دا هم يو نکاح ده. فقط په دې کې د "معلوم وخت" شرط لګېدلی دی. او د نکاح په هکله قاعده دا ده چې نکاح په فاسد شرط سره نه باطليږي، بلکې په خپله هغه فاسد شرط باطليږي. مثلاً که سړی پر دې شرط د يو ښځې سره نکاح وکړي چې "تر يوې مياشتې وروسته بيا زه تا ته هيڅکله طلاق نه

درکوم"، ښکاره خبره ده چي دا يو فاسد شرط دی، لېکن په دې سره نکاح نه باطليږي، بلکي شرط باطليږي او نکاح صحيح ده، او تر يوې مياشتي وروسته به هم خاوند ته د طلاق ورکولو حق وي.

زموږ دليل: دا دی چي په نکاحِ مؤقت کي د متعې معنیٰ ستہ، ځکه چي د نکاحِ مؤقت مطلب همدا دی چي "زه يو څو ورځي ستا څخه نفع اخلم" او په عقودو کي معنیٰ لره اعتبار دی نه الفاظو لره، مثلاً که يو سړی يو چا ته ووايي چي "زما تر مرګ وروسته ته زما وکيل يې!"، نو تر مرګ وروسته هغه د دې سړي وصي ګرځي (ځکه چي تر مرګ وروسته د وکيل معنیٰ په وصي سره کيږي)، او که يو سړی يو چا ته ووايي چي "ته زما په ژوند کي زما وصي يې!" نو هغه د ده وکيل ګرځي؛ لهذا کله چي په عقودو کي معنیٰ ته اعتبار ورکول کيږي، او نکاحِ مؤقت هم يو عقد دی، او په هغې کي د متعې معنیٰ ستہ، او متعه حرامه ده، نو نکاحِ مؤقت به هم حرامه وي، ځکه چي متعه او مؤقت د معنیٰ په اعتبار سره متحد دي، نو د حکم په اعتبار سره به هم متحد وي.

جواب: د امام زفر د دليل جواب دا دی چي په نکاحِ مؤقت کي "معلوم وقت" فقط شرط نه دی، بلکي د ټوله ايجاب وقبول مدار پر دغه معلوم وخت دی، او خاص تر دغه معلوم وخت پوري ايجاب وقبول منعقد سوي دي؛ او ايجاب و قبول د نکاح رکن دی، نو کله چي په رکن کي د معلوم وخت په وجه فساد راغلی، نو نکاح به هم فاسديږي.

ولا فرق بين إلخ: صاحب د هدايې په دې عبارت سره د حسن بن زياد رَحِمَهُ الله له قول څخه احتراز کوي، هغه ويلي دي چي که په نکاحِ مؤقت کي داسي اوږد وخت (موده) ذکر سي چي تر هغه وخته پوري د انسان ژوندي پاتېدل ناممکن وي، مثلاً دوه سوه کاله ذکر کړي، نو بيا دا نکاح صحيح ده، ځکه چي په دې صورت کي به اوږد وخت د تأبيد او همېشتوب په معنیٰ سره وي، او څرنګه چي ابدي او غيرِ مؤقت نکاح صحيح ده، همدارنګه به دا نکاح هم صحيح وي.

صاحب د هدايې فرمايي چي دا قول صحيح نه دی، او د وخت په زياتولو يا کمولو سره په حکم کي هيڅ فرق نه راځي، ځکه چي د نکاحِ مؤقت د باطلېدلو وجه همدغه معلوم او محدود وخت دی، ځکه چي په دې سره په نکاح کي د مُتعې معنیٰ پيدا کيږي، نور که وخت دوه سوه کاله وټاکل سي او که درې سوه کاله وټاکل سي خو په دا ټاکلو سره وخت مؤقت او معلوم سو او په نکاح کي د مُتعې معنیٰ پيدا سوه، او نکاحِ متعه حرامه ده، نو ځکه به دا نکاح هم حرامه وي.

په يوه عقد کي د دوو ښځو سره د نکاح کولو يو صورت

وَمَنْ تَزَوَّجَ اِمْرَأَتَيْنِ فِي عُقْدَةٍ وَاحِدَةٍ او که يو سړی په يوه عقد کي د دوو ښځو سره نکاح وکړي وَإِحْدَاهُمَا لَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا حال دا چي په هغو کي د يوې ښځي سره نکاح کول د دې سړي لپاره حلال نه وي امثلاً

رضاعي خور يې وي[صَحَّ نِكَاحُ الَّتِيْ يَحِلُّ نِكَاحُهَا نو صحيح سوه د هغه ښځې نكاح چې د هغې [سره د دې سړي] نكاح حلاله ده وَبَطَلَ نِكَاحُ الْأُخْرٰى او باطله سوه د بلې ښځې نكاح لِأَنَّ الْمُبْطِلَ فِيْ إِحْدَاهُمَا ځکه چې باطلونکی سبب فقط په يوې ښځې کې سته بِخِلَافِ مَا إِذَا جَمَعَ بَيْنَ حُرٍّ وَعَبْدٍ فِي الْبَيْعِ په خلاف د هغه صورت چې [يو څوک] آزاد او غلام په بيع کې سره جمع کړي لِأَنَّهُ يَبْطُلُ بِالشُّرُوْطِ الْفَاسِدَةِ ځکه چې بيع په فاسدو شرطونو سره فاسديږي وَقَبُوْلُ الْعَقْدِ فِي الْحُرِّ شَرْطٌ فِيْهِ [همدارنګه] په آزاد کې د عقد قبلول شرط دي په بيع کې [يعني د آزاد او غلام په بيع کې د بيع د عقد او ترون لپاره د آزاد رانيول هم شرط دي، او دا شرط فاسد دی] ثُمَّ جَمِيْعُ الْمُسَمّٰى لِلَّتِيْ يَحِلُّ نِكَاحُهَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ بيا ټوله ټاکل سوی مهر [مهر مسمیٰ] د امام صاحب په نيز د هغه ښځې لپاره دی چې د هغې نکاح [د دې سړي سره] حلاله ده وَعِنْدَهُمَا يُقْسَمُ عَلٰى مَهْرِ مِثْلَيْهِمَا او د صاحبينو په نيز به مهرِ مسمیٰ د دواړو ښځو پر مهرِ مثل تقسيميږي وَهِيَ مَسْأَلَةُ الْأَصْلِ او دا د مبسوط مسئله ده.

اللغات: ﴿عَقْدَةٌ﴾ يو عقد، يوه معامله، ﴿مُبْطِل﴾ د إفعال اسم فاعل دی: باطلونکی، ﴿مسمّٰی﴾ د تفعيل اسمِ مفعول دی: نومول سوی، ټاکل سوی، مقرر سوی، مراد ځني هغه مهر دی کوم چې د نکاح بندي (کوزدې) په وخت کې خاوند او ښځې سره ټاکلی وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی تر يوه عقد لاندې د دوو ښځو سره نکاح وکړي، او په هغو کې د ده لپاره فقط يوه ښځه حلاله وي او بله ورته حرامه وي، هغه که د نسبي قرابت په وجه حرامه وي او که د رضاعت يا داسې نورو اسبابو په وجه حرامه وي، نو د دې صورت حکم دا دی چې کومه يوه د هغه لپاره حلاله وي د هغې سره يې نکاح صحيح ده، او کومه يوه چې حرامه وي د هغې سره يې نکاح باطليږي.

دليل دا دی چې دلته مُبطِل (باطلونکی سبب) فقط په يوه ښځه کې سته، لهذا د هغه اثر به هم فقط د هغه يوې ښځې سره خاص وي او فقط د هغې نکاح به باطليږي، او د بلې نکاح به صحيح وي.

د دې په خلاف که يو څوک په بيع کې آزاد او غلام سره جمع کړي (يعني آزاد او غلام دواړه يو ځای خرڅ کړي)، نو په دې صورت کې د دواړو بيع باطليږي، نه د آزاد بيع صحيح کيږي او نه د غلام. په نکاح او بيع کې وجه د فرق دا ده چې بيع په شرطِ فاسد سره فاسديږي، او نکاح په شرطِ فاسد سره نه فاسديږي بلکې په خپله هغه شرط فاسديږي، لهذا کله چې بيع په شرطِ فاسد سره فاسديږي، او په دې بيع کې هم شرطِ فاسد سته او هغه دا چې پر مُشتري د غلام د رانيولو سره د آزاد د رانيول هم شرط دي يعني هغه به يا دواړه رانيسي يا به دواړه پريږدي، او دا فاسد شرط دی، ځکه چې آزاد د بيع محل نه دی، او هغه نه سي رانيول کېدای، نو ځکه به دا بيع باطليږي.

او د نکاح په مسئله کي که څه هم شرط فاسد سته چي هغه د حلالي ښځي سره د نکاح کولو لپاره پر دغې سړي د حرامي ښځي سره هم نکاح کول شرط دي، خو نکاح په شرط فاسد سره نه باطليږي، بلکي په هغه شرط باطليږي، نو ځکه به د هغه نکاح د حلالي ښځي سره صحيح کيږي او د حرامي ښځي سره به باطليږي.

ثم جميع المسمیٰ الخ: د پورتنی مسئلې په ضمن کي يوه بله مسئله دا ده چي کله په دواړو ښځو کي فقط ديوې سره د سړي نکاح صحيح ده، نو اوس به ټاکل سوی مهر (مهر مسمیٰ) کومي ښځي ته ورکول کيږي، په دې باره کي اختلاف دی:

د امام صاحب رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي ټوله مهر مسمیٰ به هغه ښځي ته ورکول کيږي چي د هغې نکاح صحيح ده يعني حلالي ښځي ته به ورکول کيږي، صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي مهر مسمیٰ به د دواړو ښځو پر مهر مثل تقسيميږي، مثلاً که د حلالي ښځي مهر مثل دوه زره (۲۰۰۰) درهمه وو، او د حرامي ښځي مهر مثل زر (۱۰۰۰) درهمه وو، او دغه سړي د دواړو مهر زر (۱۰۰۰) درهمه ټاکلی وو، نو اوس به له دغه زرو درهمو څخه دري سوه درو دېرش (۳۳۳) درهمه د حرامي ښځي وي، او پاته شپږ سوه شپږ شپيته (۶۶۶) درهمه به د حلالي ښځي وي، ځکه چي د هغې مهر مثل دوچنده دی، او که د دواړو مهر مثل دوه، دوه زره وو، نو بيا به د هري يوې حق پنځه سوه درهمه وي، مطلب دا چي مهر مسمیٰ (ټاکل سوی مهر) به پر دوی دواړو د خپل مهر مثل مطابق تقسيميږي.

يادونه: تر تقسيم وروسته به فقط حلالي ښځي ته خپل حق ورکول کيږي، حرامه ښځه به د دې حقداره نه وي، ځکه د هغې سره بالکل نکاح صحيح نه ده. (أثمار الهداية)

د صاحبينو دليل دا دی چي دغه سړي مهر مسمیٰ د دواړو ښځو په مقابله کي ذکر کړی دی، نو ځکه به د دواړو حق نيم نيم مهر کيږي، خو څرنګه چي ديوې ښځي نکاح فاسد ده، نو ځکه به مهر مسمیٰ د دواړو پر مهر مثل تقسيميږي (او د هري يوې سره چي د سړي نکاح صحيح ده، تر تقسيم وروسته به هغې ته د خپل مهر مثل مطابق مهر مسمیٰ ورکول کيږي).

د امام صاحب دليل دا دی چي کله دغه سړي مهر مسمیٰ د دواړو ښځو لپاره مهر وټاکی، نو ګواکي هغه ټوله مهر پر دواړو تقسيم کړی، خو څرنګه چي دويمه ښځه د نکاح محل نه ده يعني حرامه ده، نو ځکه به د هغې په حق کي تقسيم هم باطل وي، او کله چي تقسيم باطل سو، نو ټوله ټاکلی مهر يعني مهر مسمیٰ به فقط هغه ښځي ته ورکول کيږي چي د هغې سره د دغه سړي نکاح حلاله او جائز ده.

د املاک مرسله او املاک مقيده سره اړوند يوه مسئله

وَمَنِ ادَّعَتْ عَلَيْهِ امْرَأَةٌ او پر کوم سړي چي يوه ښځه [دا] دعوه وکړي أَنَّهُ تَزَوَّجَهَا چي هغه زما سره نکاح کړې ده وَأَقَامَتْ بَيِّنَةً او [پر خپله دعوه] ګواهان پېش کړي فَجَعَلَهَا الْقَاضِي امْرَأَتَهُ بيا قاضي دا ښځه د هغه

ماينه وګرځوي وَلَمْ يَكُنْ تَزَوَّجَهَا حال دا چې هغه د دې سره نکاح کړې نه وي وَسِعَهَا الْمُقَامُ مَعَهُ نو دغه ښځې لره ګنجايش شته د هغه سره د اوسېدلو [يعني هغې ته دا اجازه شته چې د هغه سرې سره اوسېږي] وَأَنْ تَدَعَهُ يُجَامِعُهَا او [د دې خبرې ګنجايش هم شته] چې ښځه هغه پرېږدي چې د دې سره جماع وکړي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او [دا حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ أَوَّلًا او همدا د امام ابو يوسف اول قول دی وَفِي قَوْلِهِ الْآخِرِ وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ ❁ : لَا يَسَعُهُ أَنْ يَطَأَهَا او د امام ابو يوسف په دويم قول کې چې هغه د امام محمد قول دی [دا حکم ذکر سوی دی]: چې سړي لره ګنجايش نسته چې د هغې سره وطي وکړي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّ الْقَاضِيَ أَخْطَأَ الْحُجَّةَ ځکه چې قاضي په حجت کې غلطي کړې ده إِذِ الشُّهُودُ كَذَبَةٌ ځکه چې ګواهان درواغجن دي فَصَارَ كَمَا إِذَا ظَهَرَ أَنَّهُمْ عَبِيدٌ أَوْ كُفَّارٌ نو دا داسې سو لکه ګواهان چې غلامان يا کافران وخېږي [يعني د يوې معاملې په باره کې تر ګواهي ورکولو وروسته معلومه سي چې ګواهان خو آزاد يا مسلمانان نه وه بلکې د يو چا غلامان يا کافران وه] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الشُّهُودَ صَدَقَةٌ عِنْدَهُ د امام صاحب دليل دا دی: چې د قاضي په نېز خو ګواهان رېښتوني دي وَهُوَ الْحُجَّةُ او همدا حجت [او دليل] دی لِتَعَذُّرِ الْوُقُوفِ عَلَى حَقِيقَةِ الصِّدْقِ ځکه چې [د قاضي لپاره] د رښتياوالي په حقيقت خبرېدل ناممکن دي [يعني په حقيقي حال د قاضي واقف کېدل ستونزمن او ناممکن دي] بِخِلَافِ الْكُفْرِ وَالرِّقِّ په خلاف د کفر او غلامتوب لِأَنَّ الْوُقُوفَ عَلَيْهِمَا مُتَيَسِّرٌ ځکه په دې دواړو خبرېدل آسانه دي وَإِذَا ابْتَنَى الْقَضَاءُ عَلَى الْحُجَّةِ او کله چې د فيصلې بنياد [دار ومدار] پر حجت دی وَأَمْكَنَ تَنْفِيذُهُ بَاطِنًا بِتَقْدِيمِ النِّكَاحِ او باطناً د دغه فيصلې نافذول ممکن [هم] دي د نکاح په مخکې منلو سره نَفَذَ قَطْعًا لِلْمُنَازَعَةِ نو نکاح به نافذېږي د جنګ [او شخړې] د ختمولو لپاره بِخِلَافِ الْأَمْلَاكِ الْمُرْسَلَةِ په خلاف د املاک مرسله وو لِأَنَّ فِي الْأَسْبَابِ تَزَاحُمًا ځکه چې [د دعوی] په اسبابو کې مزاحمت دی [يعني اسباب يې بېلابېل دي] فَلَا إِمْكَانَ نو ځکه [د دعوی د نافذولو] هېڅ امکان نسته وَاللهُ أَعْلَمُ او الله زيات خبر دی.

اللغات: ﴿إِدَّعَتْ﴾ د افتعال واحده مؤنثه غائبه ماضي صيغه ده: دعوه کول (دعوی کول)، ﴿بَيِّنَة﴾ ګواهي، حجت او دليل، جمع: بَيِّنَات، ﴿وَسِعَهَا﴾ د سمع د باب ماضي ده: پراخېدل، ګنجايش

❁ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة ابن نجيم المصرى رَحِمَهُ الله: وذكر الفقيه ابو الليث أن الفتوىٰ على قولهما فى أصل المسئلة أعنى عدم النفاذ باطنا فيما ذكر. (البحرالرائق ج:۳، ص:۱۹۹). [القول الراجح ج:۱، ص: ۲۵۱]

کېدل. ﴿الشُّهُوْد﴾ جمع د شَاهِدٌ ده: ګواه، ګواهي ورکونکی (شاهدي اداء کونکی)، ﴿عَبِيْـد﴾ واحد يې "عَبْد" راځي: غلام، ﴿مُتَهَيِّر﴾ د تفعّل اسمِ فاعل دی: آسان.

تشريح: که څه هم په دې عبارت کي صاحب د کتاب يوه مسئله بيان کړې ده، خو د هغې په ضمن کي يې دوې داسي نوري مهمي خبري هم ذکر کړي دي کوم چي د پاملرني او توجه وړ دي، لهذا د عبارت تر حل مخکي يو وار په هغوی ځان پوه کړئ! چي د عبارت په تشريح کي د څه ستونزي سره مخامخ نه سئ.

اوله خبره دا ده چي ملکيتونه يعني "أملاک" پر دوه قسمه دي: ① أملاکِ مُرسله، ② أملاک مُقيده.

املاکِ مُرسله: هغه ملکيتونو ته وايي چي په هغوی کي د ملکيت سبب ذکر نه وي، مثلاً يو څوک دعوه وکړي چي دا غلام زما دی او سبب يې ذکر نه کړی چي دا غلام څنګه زما دی او څرنګه زما په ملکيت کي راغلی، يعني دا خبره ذکر نه کړې چي هغه ما رانيوی، يا يو چا په هديه (تحفه) کي راکړی، يا په وصيت يا وراثت سره مي په ملکيت کي راغلی، مطلب دا چي د ملکيت د سبب هيڅ يادونه نه وکړي. (د مُرسل معنیٰ ده: آزاد او پرېښوول سوی، څرنګه چي په أملاک مرسله کي د ملکيت دپاره بېلابېل اسباب کېدلای سي، نو ځکه "أملاکِ مرسله" يا "اسبابِ مرسله" وَرته وايي).

املاکِ مقيده: دې ته وايي چي په هغوی کي د ملکيت سَبب ذکر سي، مثلاً يو سړی دعوه وکړي چي دا زما غلام دی او ما رانيولی دی، يا چا په هديه کي راکړی دی، يا داسي د ملکيت يو بل سبب ذکر کړي. (دې ته ځکه "أملاک مقيده" وايي چي په دوی کي دا قيد هم ذکر سوی وي چي په کوم سبب سره ملکيت ثابت سوی دی).

دويمه خبره دا ده چي "نفاذ" (يعني د قاضي حکم او فيصله نافذېدل) هم پر دوه قسمه دي: ① نفاذِ ظاهري، ② نفاذِ باطني.

نفاذِ ظاهري: په دنياوي اعتبار سره د يو حکم نافذېدل، مثلاً تر نکاح وروسته پر خاوند د ښځي نفقه لازمېدل او پر ښځي باندي خاوند ته د وطي قدرت حاصلېدل.

نفاذِ باطني: د الله تعالیٰ په نيز د يو حکم نافذېدل يعني د الله په نيز د يو حکم حلال والی ثابتېدل. (دا ټول تفصيلات په کفايه او عنايه کي خاص په همدغه ترتيب سره ذکر دي. په کوم ترتيب سره چي ماأحقر ذکر کړل).

صورت د مسئلې: دا دی که يو ښځي پر يو سړي د دروغو دعوه وکړه او ويې ويل چي دا زما خاوند (مېړه) دی او هغه زما سره واده کړی دی، خاوند انکار وکړی، لېکن ښځي پر هغه ګواهان پېش کړل.

او قاضي صاحب ښځه ربښتوني وګڼله او د هغې په حق کې يې فيصله وکړه او د دغه سړي مابنه (زوجه) يې وګرځوله: نو امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چې د قاضي دا فيصله به هم ظاهراً نافذيږي او هم باطناً. د ظاهراً مطلب دا چې اوس به هغه ښځه د دې سړي سره د ماينې (زوجې) په څير اوسېدلای سي او د باطناً مطلب دا چې دواړه به جماع هم سره کولای سي (لنډه دا چې د قاضي په دغه فيصلې سره ښځه د هغه حقيقي ماينه وګرځېدله)، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول هم داسې وو.

د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې د قاضي دا فيصله به فقط ظاهراً نافذيږي، باطناً به نه نافذيږي، او ښځې ته به د سړي سره فقط د اوسېدلو اجازه وي، وطي او جماع کول به ورته جائز نه وي، همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دويم او آخري قول دی، او همدا د امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمَا الله مسلک دی.

د امام محمد دليل: د امام محمد او امام شافعي دليل دا دی چې کله ګواهان درواغجن او مکرجن دي، نو دا د قاضي غلطي ده چې د دوی ګواهي او شهادت يې دليل وشماری او په هغه سره يې دليل ونيوی، او په دليل او حجت کې غلطي کول باطني نفاذ منع کوي، نو ځکه به دلته هم د قاضي دا فيصله فقط ظاهراً نافذيږي يعني پر خاوند به فقط نفقه واجبيږي، او باطناً به نه نافذيږي يعني د سړي او ښځې لپاره به د وطي حلت نه ثابتيږي.

او دا مسئله بالکل داسې ده لکه قاضي چې د دوو خلکو په ګواهۍ سره يوه فيصله نافذه کړي. وروسته معلومه سي چې ګواهان خو غلامان وو، يا کافران وو، نو په دې وخت کې د قاضي فيصله فقط ظاهراً نافذيږي، باطناً نه نافذيږي، لهذا په پورتنۍ مسئله کې به هم د قاضي فيصله فقط ظاهراً نافذيږي، ځکه چې ګواهان درواغجن او دوکه بازان دي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې قاضي د ظاهري حال مطابق فيصله کوي، او صداقت (ربښتيا والي) يو باطني کار دی چې د هغه په حقيقت خبرېدل مشکل او ناممکن دي، او څرنګه چې دلته په ظاهري توګه ګواهان د قاضي مخته دي، نو ځکه به قاضي د ظاهري حال مطابق فيصله کوي، ځکه چې همدا د قاضي په نيز حجت او دليل دی، او تر حجت ثابتېدلو وروسته پر قاضي فيصله کول لازم دي، حتیٰ که تر حجت ثابتېدلو وروسته قاضي پر ځان فيصله لازم نه وګڼي نو د کفر بيره ور سره تړلې ده، او که يې پر ځان لازم وګڼي خو ټال مټال او تأخير پکښې وکړي نو فاسق ګرځي، لهذا کله چې دلته حجت ثابت سو، نو اوس به د قاضي فيصله هم ظاهراً نافذيږي او هم به باطناً نافذيږي، او د نفقې او سکونت سره به د وطي او جماع حِلت هم ثابتيږي.

بخلاف الكفر إلخ: په دې سره د امام محمد او امام شافعي د دليل جواب ورکوي چې دا مسئله د کفر او غلامتوب پر صورت قياسول صحيح نه دي، ځکه چې کفر او غلامتوب دومره ښکاره نښه او علامت دی چې په هغوی خبرېدل آسانه دي، لېکن په صداقت او رښتياوالي خبرېدل يو ستونزمن او مشکل کار دی، لهذا رښتياوالي او صداقت پر کفر او غلامتوب قياسول صحيح نه دي.

و أمکن تنفيذه باطنا بتقديم إلخ: په دې سره د يو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چې "قضاء" خو "د يو ثابت سوي شي ښکاره کولو او څرګندولو" ته وايي، "د غير ثابت شي ثابتولو" ته نه وايي، او په پورتنۍ مسئله کي خو بالکل نکاح ثابته نه ده بلکي سر تر پايه درواغ ده. نو بيا به باطناً څرنګه فيصله نافذيږي.

د همدې په جواب کي صاحب د هدايې فرمايي چې دلته به اقتضاءً نکاح مخکي منل کيږي. او د قاضي د فيصلې نوعيت به دا وي چې ګواکي قاضي مخکي د دوی نکاح وتړله او بيا يې ثابته کړه او د دوی په مېنځ کي يې د نکاح فيصله وکړه. او د دې فايده به دا وي چې کله په دې توګه د سړي لپاره د وطي حلت ثابت سي. او وطي ور سره وکړي. نو بل وار چې کله هغه له ښځي څخه د وطي مطالبه کوي، نو ښځه به انکار نه سي کولای.

بخلاف الأملاك المرسلة إلخ: په پورتنۍ مسئله کي د ښځي دعوه د أملاک مقيده سره متعلق ده، ځکه چې ښځي دا دعوه کړې ده چې زه د نکاح په ذريعه د دغه سړي ښځه جوړه سوې يم، لهذا کله چې د هغې په دعوه کي سبب ذکر سوی دی، نو ځکه به هغه باطناً هم نافذيږي، او څرنګه په أملاک مرسله کي سبب ذکر سوی نه وي چې په کومه وجه دا شی زما په ملکيت کي راغلی دی، او دا ښکاره خبره ده چې د يو شي د ملکيت ډېر اسباب کېدلای سي، او په دې هکله يو معلومه فيصله نه سي کېدلای، نو همدې وجه به په أملاک مرسله کي د قاضي فيصله فقط ظاهراً نافذيږي، په باطني توګه نه سي نافذېدلای.

مثال يې دا دی چې که يو سړی په يو مينځي دعوه وکړي چې دا مينځه زما ده او د ملکيت سبب يې ذکر نه کړي چې په کوم سبب سره زما په ملکيت کي راغلې ده. او ګواهان هم پر خپله دعوه پېش کړي، نو د هغه په حق کي به د قاضي فيصله فقط ظاهراً نافذيږي نه باطناً، يعني مينځه خو به د هغه وي، لېکن هغه ته به د دې اجازه نه وي چې د مينځي سره وطي او جماع وکړي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم

بَابٌ فِي الْأَوْلِيَاءِ وَالْأَكْفَاءِ

(دا) باب په (بيان د) اولياؤ او اكفاؤ كي دى

تشريح: څرنګه چې د نکاح د روايښت او جواز لپاره د ښځې "حلت" (حلاله کېدل) شرط دې. همدارنګه د "ولي" او "کفو" وجود هم د نکاح لپاره شرط دی، خو څرنګه چې د ښځې حلت د ټولو په اتفاق شرط دی، او د ولايت او کفو په شرطيّت کې څه اختلاف دی، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د متفق عليه شرط بيان (يعني د محرّماتو او محلّلاتو بيان) مخکې وکړی، او تر هغه وروسته اوس د "ولايت" او "کفو" بيان کوي.

ښکاره دې وي چې "أَوْلِيَاء" جمع د "وَلِي" ده، "وَلِي" د "ولايت" څخه مشتق دی، د ولايت معنیٰ ده: "پر بل چا حکم نافذول" (او مشري کول)، څرنګه چې د نکاح ولي هم پر ښځې د نکاح حکم نافذوي، نو ځکه هغه ته "ولي" وايي، "أَكْفَاء" جمع د "كُفُو" ده چې د هغه معنیٰ ده: سيال (برابر)، مثل.

که ښځه خپله نکاح په خپله وکړي؟ (حکم او اختلاف)

وَيَنْعَقِدُ نِكَاحُ الْحُرَّةِ الْعَاقِلَةِ الْبَالِغَةِ بِرِضَاهَا او تړل کيږي نکاح د آزادې عاقلې بالغې ښځې د هغې په رضا سره وَإِنْ لَمْ يَعْقِدْ عَلَيْهَا وَلِيٌّ که څه هم ولي د هغې عقد کړی نه وي [يعني که څه هم ولي د هغې نکاح تړلې نه وي] بِكْرًا كَانَتْ أَوْ ثَيِّبًا هغه که باکره وي که ثيبه وي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ [دا حکم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز [دی] په ظاهر روايت کې وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ لَا يَنْعَقِدُ إِلَّا بِوَلِيٍّ له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه [په غير ظاهر روايت کې] نقل سوي دي: چې له ولي څخه بغير نکاح نه تړل کيږي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَنْعَقِدُ مَوْقُوفًا او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز موقوفاً تړل کيږي وَقَالَ مَالِكٌ وَالشَّافِعِيُّ: لَا يَنْعَقِدُ النِّكَاحُ بِعِبَارَةِ النِّسَاءِ أَصْلًا او امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د ښځو په الفاظو [او جملو] سره بالکل نکاح نه تړل کيږي لِأَنَّ النِّكَاحَ يُرَادُ لِمَقَاصِدِهِ ځکه چې په نکاح سره د نکاح مقاصد مراديږي [يعني له نکاح کولو څخه مراد په خپله نکاح نه وي بلکې د نکاح مقاصد

وي! وَالتَّفْوِيْضُ إِلَيْهِنَّ مُخِلٌّ بِهَا او ښځو ته [د نكاح تړون] سپارل خلل را وستونكي دي په دې مقاصدو كي ايعني كه ښځو ته د نكاح عقد او تړون وسپارل سي نو د نكاح په مقاصدو كي خلل او نقص راځي، ځكه چي ښځي ناقصات العقله دي! إِلَّا أَنَّ مُحَمَّدًا يَقُوْلُ: يَرْتَفِعُ الْخَلَلُ بِإِجَازَةِ الْوَلِيِّ خو امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا خلل د ولي په اجازه سره پورته كيږي وَوَجْهُ الْجَوَازِ: أَنَّهَا تَصَرَّفَتْ فِي خَالِصِ حَقِّهَا او وجه د روايت جواز يې دا ده: چي ښځي خالص په خپل حق كي تصرف كړى دى وَهِيَ مِنْ أَهْلِهِ او هغه د تصرف أهل هم ده لِكَوْنِهَا عَاقِلَةً مُمَيِّزَةً ځكه چي هغه د تميز كونكي عقل څښتنه ده وَلِهٰذَا كَانَ لَهَا التَّصَرُّفُ فِي الْمَالِ همدا وجه ده چي هغې لره په مال كي د تصرّف كولو اختيار سته وَلَهَا اخْتِيَارُ الْأَزْوَاجِ او [همدارنګه] هغې لره د خاوند د انتخابولو اختيار سته وَإِنَّمَا يُطَالِبُ الْوَلِيُّ بِالتَّزْوِيجِ او له ولي څخه فقط په دې وجه د نكاح تړلو مطالبه كيږي كَيْ لَا تُنْسَبَ إِلَى الْوَقَاحَةِ چي ښځه د بې شرمي و طرف ته منسوبه نه سي ثُمَّ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ لَا فَرْقَ بَيْنَ الْكُفْؤِ وَغَيْرِ الْكُفْؤِ بيا په ظاهر روايت كي د كفو او غير كفو تر مينځ هيڅ فرق نسته وَلَكِنْ لِلْوَلِيِّ الِاعْتِرَاضُ فِي غَيْرِ الْكُفْءِ لېكن ولي ته په غير كفو كي د اعتراض حق سته وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ لَا يَجُوزُ فِي غَيْرِ الْكُفْؤِ او له شيخينو رَحِمَهُمَا الله څخه روايت دى: چي په غير كفو كي [بالكل] نكاح جائز نه ده لِأَنَّ كَمْ مِنْ وَاقِعٍ لَا يُرْفَعُ ځكه چي ډېر ځله واقع سوي پيښه [بيا] نه پورته كيږي [يعني زياتره وخت واقع سوې او تړل سوې نكاح بيا نه سي فسخ كېدلاى] وَيُرْوَى رُجُوعُ مُحَمَّدٍ إِلَى قَوْلِهِمَا او نقل سوې ده رجوع د امام محمد رَحِمَهُ الله د شيخينو رَحِمَهُمَا الله و قول ته.

اللغات: ﴿بِكْر﴾ پېغله، هغه ښځه چي د بكارت پرده يې خوندي پاته وي، ﴿ثَيِّب﴾ واده سوې ښځه، هغه ښځه چي د بكارت پرده ليري سوې وي، ﴿تَفْوِيض﴾ د تفعيل مصدر دى: سپارل، ﴿مُخِلٌّ﴾ د تفعيل د باب اسم فاعل دى: خلل اچونكى، نقصان راوستونكى، ﴿وَقَاحَة﴾ د ضرب د باب مصدر دى: بې حيا كېدل، شرم ختمېدل، بې شرمي، ﴿كُفُو﴾ برابر، سيال، مثلاً كه دوه كسان په نسب او كسب (پېشه) كي سره برابر وي نو يو ه ته د هغه بل كفو وايي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی که یو عاقله، بالغه او آزاده ښځه په خپله خوښه او رضا سره نکاح وکړي (هغه که ثیّبه وي که باکره وي)، نو د هغې د نکاح په جواز او روایښت کې د امامانو اختلاف دی، په ظاهر روایت کې د شیخینو مسلک دا دی چې د هغې نکاح صحیح او جائز ده، خو له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه په غیرِ ظاهر روایت کې یو قول دا نقل سوی دی چې له ولي څخه بغیر د ښځې نکاح نه صحیح کیږي، هغه که بالغه وي او که صغیره وي، عاقله وي او که غیرِ عاقله وي.

امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چې د هغې نکاح د ولي پر اجازې موقوفه ده، یعني که ولي اجازه ورکړي، نو صحیح کیږي، کنې نه صحیح کیږي.

امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې د ښځو په عبارت او الفاظو سره بالکل نکاح نه تړل کیږي.

دلیل: د امام مالک او امام شافعي دلیل دا دی چې له نکاح څخه مقصود په خپله نکاح نه ده، بلکې له نکاح څخه مقصود د نکاح مقاصد دي مثلاً: سکونت، ګډژوند، په خپل مینځ کې مینه ومحبت او داسې نور، او څرنګه چې ښځې ناقصُ العقله او قلیلُ الفهمه دي، حرص او تلوار هم پکښې زیات دی، لهذا که هغو ته د نکاح کولو اختیار ورکول سي، نو د نکاح په مقاصدو کې به خلل واقع سي، نو ځکه به د هغو لپاره خپله نکاح په خپله کول صحیح او جائز نه وي.

د امام محمد دلیل: هم تقریباً د امام مالک او امام شافعي د دلیل په څیر دی، خو هغه دا اضافه هم کړې ده چې د ولي په اجازه ورکولو سره د نکاح په مقاصدو کې واقع کېدونکی خلل لیرې کیږي، ځکه ولي هغه وخت اجازه ورکوي چې په نکاح کې څه خلل نه ویني، کنې اجازه نه ورکوي.

د شیخینو دلیل: دا دی چې دغه ښځې صرف په خپل حق کې تصرف کړی دی، او هغه د تصرف أهل هم ده (ځکه چې دومره عقل لري چې د ښه او بد تر مینځ توپیر وکړي)، همدا وجه ده چې هغه په خپل مال کې او د خاوند په انتخابولو کې اختیارمنه ده، یعني هغې ته دا حق سته چې په خپل مال کې تصرّف وکړي او د ځان لپاره خاوند انتخاب کړي، لهذا په نکاح کې به هم د تصرّف کولو حق ورته حاصل وي، او خپله نکاح به په خپله کول د هغې لپاره صحیح وي.

وإنما يطالب إلخ: په دې سره د یو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چې کله ښځه اختیارمنه او صرف په حق کې تصرف کونکې ده، نو بیا په څه وجه له ولي څخه د هغې د نکاح د تړلو مطالبه (غوښتنه) کیږي؟ هغې ته په خپله نکاح تړل پکار دي. نو د دې په جواب کې صاحب د هدایې فرمایي چې دا د دې لپاره چې خلک ښځې ته بې شرمه او بې حیا نه ووایي، ځکه چې د خلکو په

مجلسونو کي شرکت او بې باکي کول د ښځې لپاره شرم او بې غوره ګڼل کيږي، کنې د ښځې لپاره په خپله نکاح تړل بالکل صحيح دي.

ولا فرق بين إلخ: ظاهر روايت دا دی چې د دې ښځې په حق کې د کفو او غير کفو هيڅ فرق نسته، يعني که آزاده، عاقله او بالغه ښځه خپله نکاح د خپل سيال سره وکړي او که د ناسيال سره يې وکړي. په دواړو صورتونو کې يې نکاح صحيح ده، لېکن په ناسيال (غير کفو) کې ولي ته د اعتراض کولو حق سته چې هغه د قاضي مخته اعتراض وکړي، بيا که قاضي ته د هغې نکاح نامناسبه معلومه سي نو نکاح دې ماته کړي، او که مناسبه يې وګڼي نو هغه دې صحيح وګرځوي.

له شيخينو څخه د حسن بن زياد يو روايت دا دی چې په غير کفو کې بالکل د ښځې نکاح نه صحيح کيږي، ځکه کله چې يو وار نکاح وتړل سي، نو بيا د قاضي لپاره د انصاف په رڼا کې د نکاح ماتول مشکل وي، همدارنګه د ښځې او ولي لپاره يې هم فسخ کول مشکل نه بلکې ناممکن وي (خصوصاً زموږ په زمانه کې چې هر طرف ته د ظلم او چالبازۍ سلطنت دی، او په هيڅ ځای کې هم قاضي نه تر سترګو کيږي)، نو غوره همدا ده چې په غير کفو کې د نکاح کولو دروازه بالکل بنده سي.

ويروى رجوع إلخ: د بدائع او داسې نورو کتابونو په يوه روايت کې ذکر سوي دي چې امام محمد رَحِمَهُ الله د شيخينو ظاهر روايت ته رجوع وکړه، يعني مخکې خو هغه د ولي پر اجازه نکاح موقوفه ګڼله، لېکن وروسته هغه له خپل دغه قول څخه ظاهر روايت ته رجوع وکړه چې د ولي له اجازې څخه بغير هم د ښځې نکاح بالکل صحيح ده.

په نکاح کې د ښځې د رضامندۍ بيان

وَلَا يَجُوزُ لِلْوَلِيِّ او جائز نه دي د ولي لپاره إِجْبَارُ الْبِكْرِ الْبَالِغَةِ عَلَى النِّكَاحِ مجبوره کول د باکرې بالغې ښځې په نکاح باندې خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لَهُ الِاعْتِبَارُ بِالصَّغِيرَةِ د هغه دليل پر صغيره قياس دی [يعني امام شافعي باکره بالغه پر کوچنۍ نجلۍ قياسوي] وَهٰذَا او دا ځکه [يعني دا قياس په دې وجه کوي] لِأَنَّهَا جَاهِلَةٌ بِأَمْرِ النِّكَاحِ لِعَدَمِ التَّجْرِبَةِ ځکه چې باکره [هم] د نکاح په معامله کې نا واقفه ده د [خپلې] بې تجربګۍ په وجه وَلِهٰذَا يَقْبِضُ الْأَبُ صَدَاقَهَا بِغَيْرِ أَمْرِهَا همدا وجه ده چې پلار قبضه کولای سي د هغې پر مهر د هغې له حکم [او اجازت] څخه بغير وَلَنَا: أَنَّهَا حُرَّةٌ مُخَاطَبَةٌ او زموږ دليل دا دی: چې هغه آزاده ده او په شرعي حکم مخاطبه ده فَلَا يَكُونُ لِلْغَيْرِ عَلَيْهَا

وِلَايَةٌ لهذا بل چا ته به پر هغې ولايت حاصل نه وي وَالْوِلَايَةُ عَلَى الصَّغِيْرَةِ لِقُصُوْرِ عَقْلِهَا او ولايت پر کوچنۍ نجلۍ د خپل کم عقلۍ په وجه ثابت دی وَقَدْ كَمُلَ بِالْبُلُوْغِ او هغه په بلوغت سره مکمل [بشپړ] سو بِدَلِيْلِ تَوَجُّهِ الْخِطَابِ په دې دليل چي هغې ته [د شريعت] خطاب متوجه سو فَصَارَ كَالْغُلَامِ نو [د هغې مجبوره کول] داسي سو لکه [بالغ] هلک ايعني د هغې مجبوره کول داسي دي لکه د بالغ هلک مجبوره کول] وَكَالتَّصَرُّفِ فِي الْمَالِ او داسي سو لکه [د هغې] په مال کي [په زوره] تصرّف کول وَإِنَّمَا يَمْلِكُ الْأَبُ قَبْضَ الصَّدَاقِ بِرِضَاهَا دَلَالَةً او پلار خو دلالتاً د هغې په رضا سره [د هغې] پر مهر د قبضه کولو مالک کيږي وَلِهٰذَا لَا يَمْلِكُ مَعَ نَهْيِهَا همدا وجه ده چي د هغې په منع کولو سره پلار د مهر نه مالک کيږي.

اللغات: ﴿إِجْبَار﴾ د افعال مصدر دی: مجبورول، په يو چا په زوره يو کار کول. ﴿صَدَاق﴾ مهر. ﴿قُصُوْر﴾ د نصر مصدر دی: ناقصېدل، کمېدل، عاجزه کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز د ولي لپاره دا جائز نه دي چي بالغه باکره ښځه په نکاح باندي مجبوره کړي، او که ولي داسي وکړي، نو نکاح به د هغې پر اجازه موقوفه وي، که هغه نکاح ردّ کړي، نو نکاح باطليږي، کنې صحيح به وي، او که هغه خاموشه (چپه) پاته سي، نو دا به د هغې له طرفه اجازه وي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز بالغه باکره ښځه پر نکاح مجبوره کول جائز دي.

د امام شافعي دليل: قياس دی، يعني امام شافعي بالغه ښځه پر صغيره (کوچنۍ نجلۍ) باندي قياسوي او فرمايي چي د دواړو علت مشترک نابلدتيا او بې تجربګي ده، يعني دوی دواړه په دغه ميدان کي څه تجربه نه لري او د نکاح په معاملاتو نابلده وي، ځکه چي دواړي د څه عملي کړنلاري سره مخامخ سوي نه وي، نو څرنګه چي د بې تجربګۍ او نابلدتيا په وجه صغيره پر نکاح مجبورول جائز دي، همدارنګه به کبيره باکره هم پر نکاح مجبورول جائز وي. د همدغه نابلدتيا او جهالت په وجه پلار د باکرې بالغې لور له اجازت څخه بغير د هغې پر مهر قبضه کولای سي، لهذا په نفسِ جهالت کي بالغه باکره او صغيره دواړي سره برابري دي، نو په حکم کي به هم دواړي برابري وي.

زموږ دليل: دا دي چي دغه بالغه آزاده هم ده او په شرعي احکامو مخاطبه او مکلفه هم ده، نو په دې وجه به بل چا ته دا ولايت حاصل نه وي چي هغه مجبوره کړي.

والولاية على إلخ: په دې عبارت سره زموږ له طرفه امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي چې بالغه پر صغيره قياسول صحيح نه دي، ځکه چې په صغيره کې د خپلې کم عقلۍ په وجه ولي ته د ولايت حق حاصل دی، لېکن کله چې صغيره بالغه سي او د شريعت په احکامو مکلفه سي، نو بيا د هغې عقل هم کامل سي، او هغه د بالغ هلک په څېر سي، او پر بالغ هلک هيچا ته ولايت حاصل نه دی، لهذا پر آزادې بالغې ښځې به هم هيچا ته ولايت حاصل نه وي.

او څرنګه چې بالغه ښځه په خپل مال کې اختيارمنه ده، او پلار په زوره د هغې په مال کې تصرف نه سي کولای، همداسې به د هغې نکاح هم په زوره نه سي کولای.

وإنما يقبض إلخ: په دې سره هم امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي، هغه ويل چې پلار د باکرې بالغې ښځې له اجازت څخه بغير د هغې پر مهر قبضه کولای سي، نو جواب ورکوي چې په دې صورت کې د هغې له طرفه دلالتاً اجازه سته، ځکه کله چې پلار د هغې پر مهر قبضه وکړي او هغه سکوت اختيار کړي هيڅ نه وايي نو دا د هغې له طرفه اجازه سوه، نو ځکه به د هغې له اجازت څخه بغير پر مهر قبضه کول جائز وي، همدا وجه ده که هغه صراحتاً له دې څخه منع وکړي، نو بيا پلار ته دا جائز نه دي چې د هغې پر مهر قبضه وکړي.

له ښځې څخه د نکاح د اجازت غوښتلو بيان

قَالَ: وَإِذَا اسْتَأْذَنَهَا فَسَكَتَتْ فرمايي: او کله چې ولي اجازه وغواړي له باکرې بالغې څخه او هغه چپه [خاموشه] سي أَوْ ضَحِكَتْ يا وخاندي فَهُوَ إِذْنٌ نو دا [د هغې له طرفه د نکاح] اجازه ده لِقَوْلِهِ ﷺ [1]: «الْبِكْرُ تُسْتَأْمَرُ فِي نَفْسِهَا ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: "چې له باکرې څخه به د هغې د ځان په هکله مشوره غوښتل کېږي فَإِنْ سَكَتَتْ فَقَدْ رَضِيَتْ» که هغه چپه پاته سي نو [پوه سه! چې] راضي ده" وَلِأَنَّ جِهَةَ الرِّضَاءِ فِيهِ رَاجِحَةٌ او ځکه چې په سکوت کې د رضامندۍ طرف غالب دی لِأَنَّهَا تَسْتَحْيِيْ عَنْ إِظْهَارِ الرَّغْبَةِ ځکه چې باکره [د نکاح] د خواهش په ښکاره کولو سره شرمېږي لَا عَنِ الرَّدِّ [خو] په انکار کولو سره نه [شرمېږي] وَالضَّحِكُ أَدَلُّ عَلَى الرِّضَا مِنَ السُّكُوتِ او خندا زيات دلالت کونکې ده پر رضامندۍ د سکوت په مقابله کې بِخِلَافِ مَا إِذَا بَكَتْ په خلاف د هغه صورت

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب النكاح، باب استئذان الثّيب في النكاح بالنطق...، حديث رقم: ۶۴. وابو داؤد في كتاب النكاح، باب في الاستيمار، حديث رقم: ۲۰۹۲ - ۲۰۹۴ .

چي کله هغه وژاړي لِأَنَّهُ دَلِيلُ السُّخطِ وَالْكَرَاهَةِ ځکه چي ژړا د ناراضي او ناخوښۍ دليل دی وَقِيلَ: إِذَا ضَحِكَتْ كَالْمُسْتَهْزِئَةِ بِمَا سَمِعَتْ او ويل سوي دي: چي کله داسي وخاندي لکه هغه چي په اورېدل سوې خبره پسخند [ملنډي] وهونکې وي ايعني د پسخند او ملنډو په توګه وخاندي، نه په حقيقي توګه] لَا يَكُونُ رِضًا نو دا خندا به [د هغې له طرفه] رضا نه وي [يعني داسي خندا به د ښځي د رضامندۍ دليل نه ګڼل کيږي] وَإِذَا بَكَتْ بِلَا صَوْتٍ او کله چي بغير له آواز څخه وژاړي [يعني فقط اوښکي يې را توى سي] لَمْ يَكُنْ رَدًّا نو دا ژړا به [د هغې له طرفه] انکار نه وي.

اللغات: ﴿إِسْتَأْذَنَ﴾ د استفعال ماضي ده: اجازه غوښتل، ﴿إِذْن﴾ اجازه، اجازت، ﴿تُسْتَأْمَر﴾ د استفعال له باب څخه واحده غائبه مضارع مجهوله ده: د حکم طلب کول، مشوره او اجازه غوښتل، ﴿السُّخْط﴾ السُّخُط، السَّخَط (درې سره لغات پکښې جائز دي): ناراضي، غصه، ﴿الْكَرَاهَة﴾ نفرت، ناخوښي، ﴿مُسْتَهْزِئَة﴾ د استفعال د باب مؤنث اسمِ فاعل دی: ټوکماره، د پسخند او ملنډو په توګه خبره کونکې ښځه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د باکرې بالغې ښځي ولي له هغې څخه د نکاح اجازه وغواړي، او هغه چپه پاته سي يا وخاندي، نو دا چپ پاتېدل يا خندل د هغې د رضامندۍ او اجازې دليل دی، همدارنګه مُسکا هم د هغې د رضامندۍ دليل دی.

دليل د کتاب حديث دی چي په هغه کي رسولُ الله ﷺ د باکرې ښځي چپ پاتېدل د هغې رضامندي او اجازه ګڼلې ده. عقلي دليل دا دی چي په چپېدلو او خندلو کي د رضامندۍ طرف غالب دی، ځکه چي باکره ښځه د رضا او رغبت په ښکاره کولو سره شرميږي، خو له انکار کولو څخه نه شرميږي، لهذا که هغه په نکاح نارضه وای، نو صفا انکار به يې کړی وای، لېکن انکار نه کول او چپېدل (سکوت) د هغې د رضامندۍ دليل دی. او خندا هم د رضامندۍ دليل دی؛ ځکه خندا او مُسکا په رضامندي باندي تر سکوت زيات دلالت کوي، ځکه چي په سکوت کي د غور او فکر احتمال هم سته (چي کېدای سي ښځه به د نکاح کولو او نه کولو په هکله فکر کوي). خو په خندا کي دا احتمال نسته. ځکه خندا او مسکا فقط تر خوشالېدلو او راضي کېدلو وروسته صادرېږي. نو په دې وجه به خندا تر سکوت زيات د رضامندۍ او اجازت دليل وي.

لېکن د باکرې ښځي ژړل د رضامندۍ دليل نه دی، بلکي د ناخوښۍ او انکار دليل دی.

وقيل إذا ضحكت: يو قول دا دى چي كه تر اجازت غوښتلو وروسته باكره ښځه د استهزاء او پسخند په توګه وخاندي، نو دا د هغې د رضامندۍ دليل نه دى؛ ځكه چي پسخند او ملنډي وهل د ناخوښۍ او انكار دليل دى.

وإذا بكت بلا صوت: د باكرې ښځي ژړل د ناخوښۍ دليل دى، ليكن كه هغه بېله آوازه پټ وژاړي او فقط اوښكي يې وبهيږي، نو دا ژړا د ناخوښۍ او انكار دليل نه دى، بلكي د رضامندۍ او اجازت نښه ده، ځكه چي زياتره د مور وپلار، خويندو او ورونو پر بېلتون بېله اختياره د ښځي اوښكي بهيږي. نو دلته به هم د هغې ژړا پر دغه صورت حمل كيږي، بلكي ځيني وخت خو د ډيري خوشحالۍ پر موقع هم اوښكي بهيږي، لهذا فقط اوښكي تويېدل او بې آوازه ژړل به د ناخوښۍ او انكار دليل نه شمارل كيږي.

له ولي څخه بغير د بل چا د اجازت غوښتلو په وخت كي د ښځي د سكوت (چپتيا) حكم

قَالَ: وَإِنْ فَعَلَ هٰذَا غَيْرُ الْوَلِيِّ فرمايي: او كه دا كار له ولي څخه بغير [بل څوک] وكړي يَعْنِي اسْتَأْمَرَ غَيْرُ الْوَلِيِّ يعني له ولي څخه بغير [بل څوک له باكرې ښځه د نكاح] اجازه وغواړي أَوْ وَلِيٌّ غَيْرُهُ أَوْلَى مِنْهُ يا داسي ولي [د نكاح اجازه ځني وغواړي] چي هغه تر بل ولي [ښځي ته] زيات نژدې وي لَمْ يَكُنْ رِضًا نو [په داسي وخت كي د باكرې ښځي] سكوت رضا نه ده حَتّٰى تَتَكَلَّمَ بِهِ تر دې چي هغه په ژبه سره خپله رضامندي بيان كړي لِأَنَّ هٰذَا السُّكُوْتَ لِقِلَّةِ الْاِلْتِفَاتِ إِلٰى كَلَامِهِ ځكه چي دغه سكوت د توجّه د كمښت په وجه دى د هغه د خبرو وطرف ته [يعني دا باكره په دې وجه چپه ده چي هغه د غيرِ ولي خبري ته توجه نه كوي او هغه ته هيڅ اهميت نه وركوي] فَلَمْ يَقَعْ دَلَالَةً عَلَى الرِّضَا نو ځكه به دا سكوت [د هغې] پر رضامندي دليل نه وي وَلَوْ وَقَعَ فَهُوَ مُحْتَمَلٌ او كه [بيا هم] دليل [ومنل] سي نو دا احتمال لرونكى سكوت دى [يعني احتمالي سكوت دى] وَالْاِكْتِفَاءُ بِمِثْلِهِ لِلْحَاجَةِ او پر داسي احتمالي سكوت د ضرورت په وجه اكتفاء كيږي وَلَا حَاجَةَ فِي حَقِّ غَيْرِ الْأَوْلِيَاءِ او د غيرِ وليانو په حق كي هيڅ ضرورت نسته بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الْمُسْتَأْمِرُ رَسُوْلَ الْوَلِيِّ په خلاف د هغه صورت چي كله اجازه غوښتونكى سړى د ولي قاصد [پيغام رسونكى] وي لِأَنَّهُ قَائِمٌ مَقَامَهُ ځكه چي د ولي قاصد د ولي پر ځاى ولاړ دى وَتُعْتَبَرُ فِي الْاِسْتِئْمَارِ تَسْمِيَةُ الزَّوْجِ عَلٰى وَجْهٍ تَقَعُ بِهِ الْمَعْرِفَةُ او معتبر دي په اجازه غوښتلو كي په داسي طريقه

سره د خاوند ذکر کول چې په هغه سره د خاوند [پوره] پېژندنه وسي ایعني اجازه غوښتونکي ته پکار دي چې د باکرې بالغې په مخکي د خاوند نوم او پوره تعارف بیان کړي[لِتَظْهَرَ رَغْبَتُهَا فِيهِ مِنْ رَغْبَتِهَا عَنْهُ]دا د دې لپاره[چې د خاوند په باره کي د هغې رُغبت [خواهش] د هغې له بې رغبتی څخه ښکاره [او جلا] سي وَلَا تُشْتَرَطُ تَسْمِيَةُ الْمَهْرِ او شرط نه دي [دا جازه غوښتلو په وخت کي] د مهر ذکر کول [ټاکل] هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح قول دی لِأَنَّ النِّكَاحَ صَحِيحٌ بِدُونِهِ ځکه چې نکاح د مهر له ذکر کولو څخه بغیر [هم] صحیح ده.

اللغات: ﴿اِلْتِفَات﴾ د افتعال مصدر دی: توجه، پاملرنه، ﴿تَسْمِيَة﴾ د تفعیل مصدر دی: نوم اخیستل، نومول، ذکر کول (یادول)، ټاکل (مقرر کول)، ﴿وَجْه﴾ طریقه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که له ولي څخه بغیر یو بل څوک له باکرې بالغې ښځې څخه د نکاح اجازه وغواړي یا د نژدې قریب په وجود کي یو لیري قریب (مثلاً د پلار په وجود کي ورور) اجازه ځني وغواړي، نو په دې دواړو صورتونو کي د باکرې بالغې خندا یا چوپتیا (سکوت) د هغې د رضامندۍ او اجازت دلیل نه دی، بلکي د رضا او اجازه ورکولو لپاره په ژبه صراحت کول ضروري دي، لکه د ثیّبې ښځې په باره کي چې هم دغه حکم دی.

دلیل دا دی چې د غیرِ ولي یا د لیري قریب د اجازه غوښتلو په جواب کي سکوت (چوپتیا) د غوږ نه نیولو او پام نه کولو دلیل دی، یعني دا ښځه په دې وجه چوپه ده چې د هغه وخبري ته بالکل هیڅ توجه نه کوي او تر غوږ یې تېروي، نو ځکه به په دغه سکوت سره د ښځې پر رضامندۍ دلیل نیول صحیح نه وي، او که بیا هم د هغې سکوت د رضامندۍ دلیل ومنل سي، نو هم د ناراضۍ او ناخوښۍ احتمال پکښې سته، او داسي احتمالي دلیل او احتمالي جمله فقط د ضرورت په وخت کي دلیل منل کیږي او د ښځې له طرفه اجازه ګڼل کیږي، او د غیرِولي په حق کي هیڅ ضرورت نسته، ځکه چې غیرِ ولي ته په صراحتاً اجازه ورکولو سره ښځه دومره نه شرمیږي څومره چې نژدې ولي ته په صراحتاً اجازه ورکولو سره شرمیږي، نو ځکه به د غیرِ ولي مخته سکوت د هغې د رضامندۍ دلیل نه منل کیږي.

لېکن که له باکرې نجلۍ څخه اجازت غوښتونکی د ولي قاصد (استازی) وي، نو په دې صورت کي د هغې سکوت او خندا د رضامندۍ دلیل منل کیږي، ځکه چې قاصد د ولي نائب او قائم مقام دی، نو ځکه به د دواړو حکم یو وي.

وتعتبرفي الاستيهار إلخ: فرمايي چي په کوم وخت کي له باکرې ښځي څخه د نکاح اجازه غوښتل کيږي، نو د هغې مخته په پوره توگه د خاوند نوم او تعارف بيانول ضروري دي چي په پوره توگ هغې ته خاوند معلوم سي، ځکه چي ښځه تولو ژوند د هغه سره تېروي، نو د خاوند پېژندل او د هغه ښېگڼه او خامي معلومول ضروري دي. او د تعارف او پېژندگلوی تر ذکر کولو وروسته دي د ښځي رغبت او خوښي ته وکتل سي چي آيا ښځه د هغه سره په واده کولو راضي ده، که نه. او بيا دي د هغې د رغبت مطابق فيصله وسي.

لېکن د اجازت غوښتلو په وخت کي د مهر يادونه کول او د مهر اندازه ذکر کول ضروري نه دي، له دې څخه بغير هم نکاح صحيح کيږي، خو که ذکر يې کړي نو ښه خبره ده. صحيح روايت همدا دی.

د نکاح د خبر ورکولو په وخت کي د باکرې ښځي د سکوت حکم

وَلَوْزَوَّجَهَا او که ولي [ديو چاسره] د باکرې نکاح وکړي **فَبَلَغَهَا الْخَبَرُ** [او] بيا باکرې ته [د نکاح] خبر ورسيږي **فَسَكَتَتْ** او هغه چپه [خاموشه] سي **فَهُوَعَلَى مَا ذَكَرْنَا** نو دا حکم د هغه تفصيل مطابق دی کوم چي موږ ذکر کړی **لِأَنَّ وَجْهَ الدَّلَالَةِ فِي السُّكُوتِ لَا يَخْتَلِفُ** ځکه چي په چوپتيا کي د دلالت وجه نه مختلف کيږي **ثُمَّ الْمُخْبِرُإِنْ كَانَ فُضُولِيًّا** بيا که خبر ورکونکی فضولي وي **يُشْتَرَطُ فِيهِ الْعَدَدُ أَوِ الْعَدَالَةُ** نو په هغه کي عدد يا عدالت شرط دی **عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ** ✿ په نېز د امام صاحب رَحِمَهُ الله **خِلَافًا لَهُمَا** په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله **وَلَوْكَانَ رَسُولًا** او که مُخبر د ولي قاصد [پيغام رسونکی] وي **لَا يُشْتَرَطُ إِجْمَاعًا** نو د ټولو په اتفاق [عدد او داسي نور] شرط نه دي **وَلَهُ نَظَائِرُ** او د دې [اختلاف] ډېر مثالونه سته **وَلَوِاسْتَأْذَنَ الثَّيِّبَ** او که [ولي] اجازه غواړي له ثيبې ښځي څخه **فَلَا بُدَّ مِنْ رِضَاهَا بِالْقَوْلِ** نو ضروري دي د هغې قولي رضا مندي [يعني ثيّبه به په قول او خوله (ژبه) سره خپله رضا مندي ښکاره کوي، د هغې سکوت معتبر نه دی] **لِقَوْلِهِ ﷺ** ❶ **: الثَّيِّبُ تُشَاوَرُ** ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي

✿ القول الراجح: قول الامام أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة فخر الدين قاضيخان رَحِمَهُ الله: فإن أخبرها فضولي لا بد من العدد أو العدالة (الخانية ج:١، ص:٣٤٢)، وكذا في رد المحتار (ج:٢، ص:٣٢٤). [القول الراجح ج:١، ص:٢٥٣]

❶ تخريج: أخرجه أحمد في مسنده، حديث رقم: ٧١٣١ في مسند أبي هريرة رضي الله عنه. و كنز العمّال، باب حرف النون، حديث رقم: ٤٥٧٧٧.

دي: چي د ثيّبې سره به مشوره كيږي وَلِأَنَّ النُّطْقَ لَا يُعَدُّ عَيْبًا مِنْهَا او ځکه چي خبره کول ايعني په خوله رضامندي ښکاره کول] د ثيبې په حق کي عيب نه شمارل كيږي وَقَلَّ الْحَيَاءُ بِالْمُمَارَسَةِ او اد مغې] شرم [هم] کم دی د خاوند سره د يوځای کېدلو په وجه فَلَا مَانِعَ مِنَ النُّطْقِ فِي حَقِّهَا نو د هغې په حق کي له خبري کولو څخه هيڅ مانع نسته الکه د باکرې په حق کي چي شرم مانع وو].

اللغات: ﴿فُضُوْلِي﴾ هغه کس چي نه ولي وي او نه د ولي قاصد وي (بلکي يو زايد او اضافي سړی وي). ﴿تُشَاوَرُ﴾ د مفاعلې مضارع مجهوله ده: مشوره کول (مشوره اخيستل). ﴿نُطْق﴾ د ضرب مصدر دی: خبري کول (په خوله خبري کول). ﴿مُمَارَسَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: مشق او تمرين کول، مهارت پيدا کول، کوښښ کول، دلته څني مراد د خاوند سره يو ځای اوسېدل (اختلاط) او د واده په معاملاتو کي مهارت او تجربه لرل دي.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي، د يوې مسئلې تعلق د باکرې ښځي سره دی، او د دويمي تعلق د ثيّبې ښځي سره دی.

(۱)... د اولي مسئلې حاصل دا دی چي که ولي د باکرې ښځي له اجازت څخه بغير د هغې نکاح د يو چا سره وکړي، بيا چي کله هغې ته د نکاح خبر ورسيږي، نو هيڅ نه وايي بلکي چپه پاته سي. نو په دې صورت کي هم هغه تفصيل دی کوم چي مخکي تېر سو، يعني که خبر ورکونکی (مُخبِر) ولي وي يا د ولي قاصد (استازی) وي، نو په دې صورت کي به د باکرې ښځي سکوت او ضحک (خندا) د هغې د رضامندۍ دليل وي، او ژړا به يې د انکار دليل وي، او که مُخبر غير ولي يا ليري قريب وي. نو په دې صورت کي به ښځه په ژبه سره د رضامندۍ خبره کوي، سکوت او ضحک به دليل نه منل کيږي.

دليل دا دی چي په سکوت (او ضحک) کي د رضامندۍ دليل مختلف نه دی. يعني څرنګه چي تر نکاح مخکي د اجازت غوښتلو په وخت کي د باکرې د شرم او حياء په وجه د هغې سکوت د رضامندۍ دليل وو، همدارنګه تر نکاح وروسته به هم د هغې سکوت د شرم او حياء په وجه د رضامندۍ او اجازت دليل وي، ځکه چي وجه د دلالت چي هغه شرم دی په دواړو صورتونو کي يو ډول سته، هيڅ فرق پکښي نسته.

ثم المخبر الخ: بيا که مُخبر ولي نه وي يا د هغه قاصد نه وي، بلکي يو فضولي وي، نو په دې صورت کي د هغه د خبر د معتبر والي لپاره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز عدد يا عدالت شرط دی. يعني خبر

ورکونکي به کم از کم دوه (فضوليان) وي، او که يو وي، نو هغه به عادل وي، کنې خبر به يې نه منل کيږي، لېکن د صاحبينو په نېز نه عدد شرط دی او نه عدالت شرط دی، يعني که مُخبر يو وي که دوه وي، عادل وي که غيرِ عادل وي، په هر صورت کې يې خبر معتبر دی.

او د دې اختلاف ډېر مثالونه سته، مثلاً که يو سړي خپل غلام د تجارت (کاروبار) اجازه ورکړې وي، او بيا بېرته هغه له تجارت څخه منع کړی، يا مثلاً يو څوک خپل وکيل معزوله کړي، نو که غلام ته د منع کېدلو خبر فضولي ورکړي، يا وکيل ته د عزل خبر فضولي ورکړي، نو د امام صاحب په نېز په دې کې عدد يا عدالت شرط دی، يعني که دوه فضوليان يا يو عادل فضولي د دې خبر ورکړي، نو غلام به له تجارت څخه منع کيږي، او وکيل به معزوليږي، او که داسې نه وي، نو بيا به يې خبر ته اعتبار نه ورکول کيږي، لېکن د صاحبينو په نېز هيڅ شرط هم نسته، په هر صورت کې د فضولي خبر معتبر دی، او په هر صورت کې به د فضولي په خبر سره غلام او وکيل خپل له کار څخه لاس اخلي.

ولـو استأذن الثيب إلـخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده که له ثيّبې بالغې ښځې څخه د نکاح اجازه وغوښتل سي، نو د هغې لپاره په خوله سره خپله رضامندي ښکاره کول ضروري دي، د هغې سکوت او ضحک به د رضامندۍ او اجازت دليل نه ګڼل کيږي، دليل دا حديث دی: "الثَّيِبُ تُشَاوَرُ".

"تُشَاوَر" د مفاعلې د باب صيغه ده، او تاسو ته معلومه ده چې د مفاعلې د باب يوه اهمه خاصه اشتراک دی، او څرنګه چې اجازه غوښتونکی کس (سائل) د هغې سره د خبرو په ذريعه د نکاح مشوره کوي او اجازه ځنې غواړي، نو دا به هم د خبرو په ذريعه هغه ته د "هو" يا "نه" مشوره ورکوي، چې له دواړو طرفو څخه اشتراک ثابت سي.

دويم عقلي دليل دا دی چې د ثيّبې لپاره د نکاح مشوره او اجازه ورکول خلک عيب هم نه ګڼي، ځکه چې د خاوند سره د اختلاط او ګډ اوسېدلو په وجه د هغې شرم کم سوی وي، او د باکرې سکوت صرف د دغه علت په وجه (يعني د شرم او حياء په وجه) د رضامندۍ دليل منل کيږي، او دغه علت د ثيبې په حق کې نسته، نو ځکه به د هغې په حق کې سکوت او داسې نور د رضامندۍ دليل نه منل کيږي، بلکې په خوله سره به نُطق کول ضروري وي.

د بکارت زایلېدلو مختلف صورتونه او حکمونه

وَإِذَا زَالَتْ بَكَارَتُهَا بِوَثْبَةٍ أَوْ حَيْضَةٍ او کله چي زائل سي د ښځي [پرده د] بکارت په ټوپ سره یا په حیض سره أَوْ جِرَاحَةٍ أَوْ تَعْنِيسٍ یا په زخم سره یا د ډېر عمر بې واده والي په وجه فَهِيَ فِي حُكْمِ الْأَبْكَارِ نو هغه د باکرې په حکم کي ده [او د اجازه غوښتلو په وخت کي به د هغې سکوت رضامندي منل کیږي] لِأَنَّهَا بِكْرٌ حَقِيقَةً ځکه چي هغه په حقیقت کي باکره ده لِأَنَّ مُصِيبَهَا أَوَّلُ مُصِيبٍ لَهَا ځکه چي هغې ته رسېدونکی [خاوند] به اول رسېدونکي وي هغې لره [یعني د داسي ښځي سره وطي کونکی خاوند اول وار د هغې وطي کونکی دی، تر دې مخکي د هغې سره هیچا وطي کړې نه دي] وَمِنْهُ الْبَاكُورَةُ وَالْبُكْرَةُ او له همدې "بکر" څخه دي: "باکورت" (اوله میوه) او "بُکرة" (اول سهار) [یعني باکورت او بُکره هم د بکر له مادې څخه دي] وَلِأَنَّهَا تَسْتَحْيِي لِعَدَمِ الْمُمَارَسَةِ او ځکه چي هغه حیا کوي د [خاوند سره] د نه یو ځای کېدلو په وجه [یعني تر دې مخکي هغه د هیڅ خاوند سره یو ځای سوې نه وي او د جنسي اړیکو سره مخامخ سوې نه وي. نو ځکه د هغې شرم او حیا د مخکي په څېر پاته وي] وَلَوْ زَالَتْ بَكَارَتُهَا بِزِنًا او که زائل سي د یوې ښځي [پرده د] بکارت په زنا سره فَهِيَ كَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو هغه هم د باکرې په حکم کي ده د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ وَالشَّافِعِيُّ: لَا يُكْتَفَى بِسُكُوتِهَا صاحبین او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله فرمایي: چي د هغې په سکوت به اکتفا نه کیږي لِأَنَّهَا ثَيِّبٌ حَقِيقَةً ځکه چي هغه په حقیقت کي ثیبه ده لِأَنَّ مُصِيبَهَا عَائِدٌ إِلَيْهَا ځکه چي هغې ته رسېدونکی [خاوند] به دویم ځل رسېدونکی وي هغې لره [یعني د هغې سره وطي کونکی خاوند دویم وار د هغې وطي کونکی دي، ځکه تر دې مخکي زاني وطي ور سره کړې دي] وَمِنْهُ الْمَثُوبَةُ وَالْمَثَابَةُ وَالتَّثْوِيبُ او له همدغه [د ثَیِّب له مادې] څخه دي: "مثوبة" (ثواب) او "مثابة" (هغه ځای چي بار بار خلک ورته راځي) او "تثویب" (تر یوه ځل اعلان کولو وروسته بیا اعلان کول) وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ النَّاسَ عَرَفُوهَا بِكْرًا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي خلکو هغه باکره ګڼلې ده فَيَعِيبُونَهَا بِالنُّطْقِ نو په نُطق سره به هغه عیبجنه وګڼي [یعني که هغه

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۲، ص:۳۲۸)، وكذا في الهندية (ج:۱، ص:۲۹).
[القول الراجح ج:۱، ص:۲۵۴]

سکوت اختیار نه کړي بلکې په ژبه سره خپله رضامندي ښکاره کړي، نو خلک به یې ثیبه وګڼي ا فَتَمْتَنِعُ عَنْهُ نو ځکه به هغه له نُطق څخه منع کېږي فَيُكْتَفٰى بِسُكُوْتِهَا او د هغې په سکوت به اکتفا کېږي كَيْلَا تَتَعَطَّلَ عَلَيْهَا مَصَالِحُهَا د دې لپاره چې د هغې مصالح [منافع] پر هغې معطل [او فوت] نه سي بِخِلَافِ مَا إِذَا وُطِئَتْ بِشُبْهَةٍ أَوْ بِنِكَاحٍ فَاسِدٍ په خلاف د هغه صورت کله چې د هغې سره په شبهه یا په نکاح فاسد کې وطي ور سره سوي وي لِأَنَّ الشَّرْعَ أَظْهَرَهُ ځکه چې شریعت دا صورت ښکاره کړی دی حَيْثُ عَلَّقَ بِهٖ أَحْكَامًا په دې توګه چې د دې صورت سره یې [د مهر او داسې نورو] احکام معلق کړي دي أَمَّا الزِّنَا فَقَدْ نُدِبَ إِلٰى سَتْرِهٖ پاته سوه زنا، نو د هغې پټول مستحب دي حَتّٰى لَوْ اُشْتُهِرَ حَالُهَا تر دې که د هغې ښځې حالت [یعنې د هغې زنا کول] مشهوره سي لَا يُكْتَفٰى بِسُكُوْتِهَا نو [بیا] به د هغې په سکوت اکتفا نه کېږي.

اللغات: ﴿بَكَارَةٌ﴾ د پېغلتوب پرده، د بکارت پرده، ﴿وَثْبَةٌ﴾ د ضرب د باب اسم مرة دی: غورځېدل، ټوپ وهل، ﴿تَعْنِيْس﴾ د تفعیل مصدر دی: ډېر عمر بې واده کښېنستل (ډېر وخت بې واده پاتېدل)، سستی کېدل، ﴿مُصِيْب﴾ د افعال اسم فاعل دی: رسېدونکی، نیونکی، حاصلونکی، ﴿بَاكُوْرَةٌ﴾ اوله مېوه (یعنې د درختې هغه مېوه چې تر ټولو مخکې پخه سي)، د هر شي اول، جمع: بَوَاكِيْر، ﴿بُكْرَةٌ﴾ اول سهار (سهار وختې)، ﴿فَيَعِيْبُوْنَ﴾ له ضرب او تفعیل دواړو څخه راځي، د جمع مذکر غائب مضارع صیغه ده: عیب لګول، ﴿تَتَعَطَّلَ﴾ د تفعّل مضارع ده: بېکاره کېدل، ځنډېدل، ختمېدل، ﴿وَطِئَ بِالشُّبْهَةِ﴾ دې ته وایي چې یو سړی د شپې او د تیارې په حالت کې پر پردۍ ښځې د خپلې ښځې (ماینې) ګومان وکړي او وطي ور سره وکړي، په شریعت کې د وطي بالشبهه سره ډېر احکام متعلق دي، یو دا چې دغه پردۍ ښځه به تر دریو حیضو پورې عدت تېروي، وطي کونکی به مهر ورکوي، که د دې وطي په وجه یو کوچنی پیدا سي، نو د هغه نسب به د وطي کونکي سره ثابتېږي، ﴿نِكَاح فَاسِد﴾ فاسده نکاح، مثلاً بېله ګواهانو نکاح وتړل سي، یا یو فاسد شرط پکښې ولګول سي، دې ته "فاسده نکاح" وایي.

تشریح: په دې عبارت کې هم دوې مسئلې بیان سوي دي، اوله مسئله متفق علیه ده او دویمه اختلافي ده.

(۱)... اوله مسئله دا ده که د یو ښځې د بکارت پرده د ټوپ وهلو په وجه زائله سي (وشکېږي)، یا د حیض په وجه، یا د زخم په وجه، یا د ډېر عمر بې واده کېدلو په وجه زائله سي، نو په دې ټولو صورتونو کې هغه ښځه د باکرې په حکم کې ده، یعنې څرنګه چې مخکې د هغې سکوت او ضحک د رضامندۍ دلیل وو، همدارنګه به اوس هم د هغې سکوت او ضحک د رضامندۍ دلیل منل کېږي.

دليل دا دی چې دا ښځه اوس هم په حقيقت کې باکره ده، ځکه چې د "باء، کاف، راء" په ماده کې د اوليّت معنیٰ سته، مثلاً "بُکره" اول سهار ته او "باکوره" هغه مېوې ته وايي چې اول پخه او تياره سي. نو څرنګه چې تر اوسه دغه ښځي ته هم چا لاس ور وړی نه دی او څوک چې هغه ته لاس ور وړي يعني وطي ور سره کوي، هغه به اول وطي کوونکی وي، نو د دغه اوليّت په سبب به اوس هم هغې ته باکره ويل کيږي.

دويم دليل دا دی چې څرنګه دغه ښځه مخکې په خوله او ژبه له اجازت ورکولو څخه شرمېدله، همدارنګه اوس هم شرمېږي، ځکه چې تر اوسه د هيڅ سرهٔ د هغې اختلاط راغلی نه دی، نو د سکوت سبب يعني شرم اوس هم پاته دی، نو ځکه به اوس هم هغه باکره وي او سکوت او ضحک به د هغې په حق کې د رضامندۍ دليل منل کيږي.

ولو زالت بکارتها بزنا إلخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده که د يو ښځي بکارت د زنا او بدکارۍ په وجه زائل سوی وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه هم د باکرې په حکم کې ده، لېکن د صاحبينو او د امام شافعي رَحِمَهُمُ الله په نېز هغه د ثيّبې په حکم کې ده، لهذا د اجازت غوښتلو په وخت کې به د هغې سکوت او ضحک د رضامندۍ او اجازت دليل نه ګڼل کيږي، بلکې په خوله سره به اجازت ورکوي.

دليل: د صاحبينو او د امام شافعي دليل دا دی چې ثيّبه له "ثاء، ياء او باء" څخه را اخيستل سوی لفظ دی. او په دې ماده کې د رجوع او عود (راګرځېدلو) معنیٰ سته، مثلاً د نېک عمل بدله او ثواب ته "مثوبه" وايي، ځکه چې انسان ته د يو عمل ثواب رسېدل داسې دي لکه دويم ځل چې هغه عمل ورته حاصل سي، همدارنګه "مثابه" هغه ځای ته وايي چې خلک بار بار رجوع ورته کوي، لکه څرنګه چې په قرآنِ کريم کې مکې مبارکې ته هم "مثابه" ويل سوي دي ځکه چې خلک بار بار د حج او عمرې لپاره مکې ته راځي. همدارنګه تثويب "اعلام بعد الاعلام" ته وايي.

لنډه دا چې د کومې ښځي بکارت په زنا سره زائل سي، هغه په حقيقت کې ثيبه ده، او د ثيبې په لفظ کې د رجوع او عود معنیٰ سته، نو تر زنا وروسته چې کله خاوند هغې ته ورسيږي يعني وطي ور سره وکړي، نو هغه راجع او عائد دی يعني د دې ښځي سره دويم وار وطي کوونکی دی، ځکه چې هغې مخکې هم يو وار وطي (زنا) کړې ده، نو ځکه به دا ثيبه وي، او د اجازت په هکله به د ثيبې احکام پر جاري کيږي.

بخلاف ما إذا وطئت إلخ: لېکن که د يو باکرې ښځي سره په شبهه وطي وسي يا په نکاحِ فاسد کې وطي ور سره وسي، نو هغه د ټولو په نېز ثيبه ګرځي؛ ځکه چې شريعت د داسې ښځي ثيابت ښکاره کړی دی او پر هغې يې د ثيبې احکام معلق کړي دي.

او پاته سوه زنا، نو حتی الإمکان پر زنا پرده اچول او پټول مستحب دي، همدا وجه ده چې کله د زنا راز ښکاره سي، او په خلکو کې مشهوره سي، نو په هغه وخت کې مونږ هم هغه د بکارت د زوال سبب منو. او پر ښځي د ثيّبې حکم جاري کوو، يعني د هغې سکوت رضامندي او اجازه نه ګڼو، بلکې هغه به په خوله سره اجازه ورکوي.

له نکاح څخه د ښځې د انکار حکم

وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ او که خاوند اباکره ښځي ته اووايي [يعني دعوه وکړي] بَلَغَكِ النِّكَاحُ فَسَكَتِّ چې تا ته د نکاح خبر ورسېدی او ته [په هغه وخت کې] چپه سوې! وَقَالَتْ: رَدَدْتُ او ښځه ووايي: چې ما انکار وکړی فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا نو قول به د ښځي معتبر وي وَقَالَ زُفَرُ: الْقَوْلُ قَوْلُهُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي قول به د سړي معتبر وي لِأَنَّ السُّكُوتَ أَصْلٌ وَالرَّدَّ عَارِضٌ ځکه چې چوپېدل أصل دی او انکار کول يو عارض دی فَصَارَ كَالْمَشْرُوطِ لَهُ الْخِيَارُ إِذَا ادَّعَى الرَّدَّ بَعْدَ مُضِيِّ الْمُدَّةِ نو داسې سو لکه هغه سړی چې تر مودت تېرېدلو وروسته د انکار دعوه وکړي چې د هغه لپاره خيار [اختيار] شرط وي وَنَحْنُ نَقُولُ: إِنَّهُ يَدَّعِي لُزُومَ الْعَقْدِ وَتَمَلُّكَ الْبُضْعِ او موږ وايو: چې خاوند د عقد د لازمېدلو او د بضع د مالک کېدلو دعوه کوي وَالْمَرْأَةُ تَدْفَعُهُ او ښځه دا دعوه دفع کوي [يعني د دې انکار کوي] فَكَانَتْ مُنْكِرَةً نو هغه منکره سوه [او قول د منکر معتبر وي] كَالْمُودَعِ إِذَا ادَّعَى رَدَّ الْوَدِيعَةِ لکه امانت ساتونکی چې کله د امانت واپس کولو دعوه وکړي [نو هغه هم منکر وي او د هغه قول به معتبر وي] بِخِلَافِ مَسْأَلَةِ الْخِيَارِ په خلاف د خيار د مسئلې لِأَنَّ اللُّزُومَ قَدْ ظَهَرَ بِمُضِيِّ الْمُدَّةِ ځکه چې [د عقد] لزوم د مودت د تېرېدلو په وجه ښکاره سو وَإِنْ أَقَامَ الزَّوْجُ الْبَيِّنَةَ عَلَى سُكُوتِهَا او که خاوند د ښځي پر سکوت ګواهان وړاندې کړي ثَبَتَ النِّكَاحُ نو نکاح ثابته سوه لِأَنَّهُ نَوَّرَ دَعْوَاهُ بِالْحُجَّةِ ځکه چې هغه په دليل سره خپله دعوه مضبوطه کړه وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ بَيِّنَةٌ او که د خاوند سره ګواهان نه وي فَلَا يَمِينَ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو پر ښځي قسم ضروري نه دی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَهِيَ مَسْأَلَةُ الِاسْتِحْلَافِ فِي الْأَشْيَاءِ السِّتَّةِ او دا په شپږو شيانو کي د قسم اخيستلو مسئله ده وَسَتَأْتِيكَ فِي الدَّعْوَى إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او هغه به په "کتاب الدعویٰ" کي تا ته راسي، انشاء الله تعالیٰ.

اللغات: ﴿رَدَدْتُ﴾ د نصر له باب څخه د واحد متکلم مضارع صيغه ده: ردول، نه قبلول (انکار کول)، واپس کول. ﴿تَمَلُّک﴾ د تفعّل مصدر دی: مالک کېدل. ﴿بُضْع﴾ د ښځي شرمګاه. مراد ځني د زوجيّت حقوق دي. ﴿مُوْدَع﴾ د افعال اسم مفعول دی: چا ته چې امانت اېښوول سوی وي (امانت

ساتونکی)، ﴿مُفِيق﴾ د ضرب مصدر دی: تېرېدل، ختمېدل، پوره کېدل، ﴿إِسْتِحْلَاف﴾ د استفعال مصدر دی: قسم ځني اخيستل، له بل چا څخه د قسم مطالبه کول (قسم په اخيستل).

تشريح: د مسئلې تر صورت مخکې د "مُدَّعِي" او "مُدَّعٰى عليه" په تعريف او تفصيل ځان پوه کړئ! چې د مسئلې په تشريح کې د څه ستونزې سره مخامخ نه سئ.

څوک چې د "أصل" موافق دعوه وکړي، هغه ته "مُدَّعٰى عليه" وايي، او څوک چې د "أصل" مخالف دعوه وکړي هغه ته "مُدَّعِي" وايي. څوک چې "مُدَّعِي" وي نو پر هغه واجب دي چې د خپلې دعوې د ثبوت لپاره ګواهان پېش کړي، او که د هغه سره ګواهان نه وي، نو له "مُدَّعٰى عليه" څخه به قسم اخيستل کيږي، خو شپږ (۶) شيان داسې دي چې په هغوی کې به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز له "مُدَّعٰى عليه" څخه قسم نه اخيستل کيږي، لېکن د صاحبينو او د ائمه ثلاثه وو په نيز به له "مُدَّعٰى عليه" څخه قسم اخيستل، چې له هغه شپږو شيانو څخه يو شی "نکاح" ده، او نور به د عبارت په آخر کې ذکر سي.

صورت د مسئلې: دا دی که يوه سړي بالغې باکرې ښځې ته ووېل چې ستا ولي زما سره ستا نکاح کړې وه، او کله چې تا ته د نکاح خبر ورسېدی، په هغه وخت کې ته چپه وې، نو ځکه اوس ما او تا خاوند او ښځه (ماينه) يو، لېکن ښځې ووېل چې ما د خبرېدلو په وخت کې فوراً ستا نکاح رد کړه، او زما او ستا په مېنځ کې هيڅ نکاح نسته، او د يوه سره هم ګواهان نه وو، نو په دې صورت کې زموږ په نيز د ښځې قول معتبر دی، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز د سړي قول معتبر دی.

د امام زفر دليل: دا دی چې "سکوت" (چپېدل) أصل دی، ځکه چې سکوت "عدمِ کلام" ته يعني "کلام نه کولو" ته وايي، او په هر شي کې "عدم" يعني "نشتوالی او نه کول" أصل دی. او رد کول (انکار کول) عارض دی او د أصل خلاف دی، او دلته سړي (پر ښځې) د سکوت (کلام نه کولو) دعوه کړې ده (يعني چې تا ته کله د نکاح خبر ورسېدی، نو تا هيڅ کلام او خبره نه وکړه، بلکې سکوت دې اختيار کړی)، لهذا سړی مُدعیٰ عليه سو (ځکه چې هغه د أصل يعني د سکوت دعوه کوي)، او ښځه مُدعي سوه (ځکه چې هغه د نکاح د "ردّولو" دعوه کوي)، او تاسو ته معلومه ده چې که د مُدعي سره ګواهان نه وي، نو د مدعیٰ عليه (او متمسک بالأصل) قول به (د قسم سره) معتبر وي، او دلته سړی مدعیٰ عليه دی، نو ځکه به د هغه قول (د قسم سره) معتبر وي.

او دا مسئله داسې ده لکه مثلاً زيد چې له خالد څخه يو پَسه رانيسي او درې ورځې اختيار واخلي يعني د ځان لپاره درې ورځې اختيار شرط کړي چې که مې غوا خوښه سوه نو بيع به قبوله کړم کنې بيع به ردّ کړم. (کوم څوک چې د ځان لپاره اختيار شرط کړي، هغه ته "مشروط له الخيار" وايي، نو دلته زيد مشروط له الخيار دی) او کله چې درې ورځې تيرې سي نو مشروط له الخيار (زيد) دعوه وکړي چې ما په دې درېو ورځو کې بيع ردّ کړې وه. او خالد ووايي چې ته چپ وې او په دغه مودت کې تا د بيع په هکله هيڅ خبره نه وه کړې، نو په دې مسئله کې به د خالد (بائع) قول معتبر وي او پر زيد (مشتري) به بيع لازم وي، ځکه چې خالد مدعیٰ عليه دی، ځکه چې هغه د سکوت (چپېدلو) دعوه کوي. نو همدارنګه به په پورتنۍ مسئله کې هم د سړي قول معتبر وي، ځکه چې هغه هم مدعیٰ عليه دی او د أصل (سکوت) دعوه کوي.

زموږ دليل: دا دی چې دلته سړی دا دعوه کړې ده چې نکاح وسوه او زه د بضع مالک سوم. او ښځه له دې څخه انکار کوي، يعني د "نکاح نه کېدلو" او د "بضع د نه مالک کېدلو" دعوه کوي، او د "نکاح نه کېدل" او د "بضع نه مالک کېدل" أصل دی (ځکه مخکې موږ ووېل چې په هر شي کې "عدم" أصل دی)، لهذا ښځه مدعیٰ عليه سوه، او سړی مُدعي سو. او د مُدعي سره د ګواهانو د نه موجوديّت په وخت کې د مدعیٰ عليه قول معتبر وي، نو ځکه به دلته هم د ښځې قول معتبر وي.

او دا مسئله بالکل داسې ده لکه مثلاً زيد چې و خالد ته امانت کېښېږدي چې دا د ځان سره وساته! (زيد ته "مُوْدِع" وايي يعني "امانت ايښوونکی" او د "امانت خاوند". او خالد ته "مُوْدَع" وايي يعني "امانت ورته ايښوول سوی" او "د امانت ساتونکی")، بيا يو څو وخت وروسته زيد (د امانت خاوند) راسي او له خالد (مودَع) څخه د خپل امانت غوښتنه وکړي، لېکن هغه ورته ووايي چې ما تا ته خپل امانت درکړی دی. او زيد ووايي چې تا ماته نه دی راکړی، نو دلته به د خالد (مودَع) قول معتبر وي. ځکه چې هغه د ذمې د فراغت (يعني د غاړې خلاصېدلو) دعوه کوي (چې زما پر ذمه ستا امانت نسته هغه ما درکړی دی)، او د ذمې فراغت أصل دی لکه څرنګه چې همدا قاعده ده "الْأَصْلُ فَرَاغُ الذِّمَّة". نو ځکه هغه مدعیٰ عليه سو، او زيد (د امانت خاوند) د ذمې د مشغوليت دعوه کوي (چې ستا پر ذمه اوس هم زما امانت پاته دی)، نو هغه مدعي سو، او قول د مدعیٰ عليه معتبر وي، نو څرنګه چې دلته د مدعیٰ عليه

او متمسک بالأصل (مودَع) قول معتبر دی، همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم د مدعیٰ علیه او متمسک بالأصل (ښځي) قول معتبر وي.

بخلاف مسألة الخیار إلخ: دا د امام زفر رَحِمَهُ الله د قیاس جواب دی، حاصل یې دا دی چي دغه (پورتنۍ) مسئله د خیارِ شرط پر مسئلې قیاسول صحیح نه دي، ځکه چي د خیارِ شرط په مسئله کي پر مشتري ځکه بیع لازم نه ده چي بائع د أصل (سکوت) دعوه کوي نو هغه مدعیٰ علیه سو. بلکي په دې وجه لازم ده چي کله د خیار مودت تېر سي نو په خپله بیع لازمیږي. او هلته مشتري تر دریو ورځو وروسته د بیع د ردّ ولو دعوه کړې ده (یعني د خیارِ شرط تر مودت وروسته هغه دعویٰ کړې ده چي ما بیع ردّ کړې وه)، نو ځکه به نه د هغه قول معتبر وي او نه د بائع، ځکه چي بیع په خپله لازم سوه.

وإن أقام الزوج إلخ: او که په پورتنۍ مسئله کي سړی پر خپله دعوه (یعني د ښځي پر سکوت) گواهان پېش کړي، نو بیا به فقط د سړي قول معتبر وي، ځکه چي هغه مُدعي دی، او گواهان یې هم پېش کړه او په گواهۍ سره یې خپله دعوه مضبوطه کړه.

لېکن که د خاوند سره گواهان نه وي، نو له ښځي (مدعیٰ علیه) څخه به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز قسم نه اخیستل کیږي، ځکه چي دا د نکاح مسئله ده، او نکاح له هغو شپږو شیانو څخه یو شی دی چي په هغوی کي به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له مدعیٰ علیه څخه قسم نه اخیستل کیږي، او د صاحبینو او ائمه ثلاثه وو په نېز به قسم ځني اخیستل کیږي (او په دې مسئله کي راجح قول هم د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دی چي قسم به ځني اخیستل کیږي [القول الراجح ج:۱، ص:۲۵۵]).

شپږ شیان ټوله دا دي: ① نکاح، ② رجعت، ③ فَیْئ فی الإیلاء، ④ استیلاء، ⑤ رقّ، ⑥ ولاء، او علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله ټوله په دې شعر کي جمع کړي دي:

نِكَـاحٌ وَفَيْئَـةُ إِيْلَائِـهِ وَرِقٌّ وَرَجْـعٌ وَلَاءٍ نَسَـبْ
وَدَعْـوَى الْإِمَـاءِ أُمُوْمِيَّـةً فَلَـيْسَ بِهَـا مِـنْ يَمِـيْنٍ وَجَـبْ

د "ولي" تفصیلي بیان (کوم خلک د نکاح د ولایت حق لري؟)

وَيَجُوزُ نِكَاحُ الصَّغِيرِ وَالصَّغِيرَةِ او جائز ده نکاح د کوچني [هلک] او کوچنۍ [نجلۍ] إِذَا زَوَّجَهُمَا الْوَلِيُّ [په دې شرط] چي کله ولي د هغو نکاح کړي وي بِكْرًا كَانَتْ الصَّغِيرَةُ أَوْ ثَيِّبًا [برابره ده] صغیره که باکره وي او که ثیبه وي وَالْوَلِيُّ هُوَ الْعَصَبَةُ او "ولي" عصبه دی ایعني له ولي څخه عصبه مراد دی] وَمَالِكٌ يُخَالِفُنَا فِي غَيْرِ الْأَبِ او امام مالک رَحِمَهُ الله زموږ مخالف دی له پلار څخه بغیر په نورو کي وَالشَّافِعِيُّ فِي غَيْرِ الْأَبِ وَالْجَدِّ او امام شافعي رَحِمَهُ الله ازموږ مخالف دی] له پلار او نیکه څخه بغیر په نورو کي وَفِي الثَّيِّبِ الصَّغِيرَةِ أَيْضًا او په ثیّبه صغیره کي هم [امام شافعي زموږ مخالف دی] وَجْهُ قَوْلِ مَالِكٍ: أَنَّ الْوِلَايَةَ عَلَى الْحُرَّةِ بِاعْتِبَارِ الْحَاجَةِ د امام مالک رَحِمَهُ الله د قول دلیل دا دی: چي پر آزادي ښځي ولایت د ضرورت په وجه ثابت دی وَلَا حَاجَةَ هُنَا لِانْعِدَامِ الشَّهْوَةِ او دلته د شهوت د نشتوالي په وجه هیڅ ضرورت نشته إِلَّا أَنَّ وِلَايَةَ الْأَبِ ثَبَتَتْ نَصًّا بِخِلَافِ الْقِيَاسِ خو د پلار ولایت خلافُ القیاس په حدیث سره ثابت دی وَالْجَدُّ لَيْسَ فِي مَعْنَاهُ او نیکه [من کل وجه] د پلار په معنیٰ سره نه دی فَلَا يُلْحَقُ بِهِ نو ځکه به نیکه د پلار سره نه ملحق کیږي قُلْنَا: لَا بَلْ هُوَ مُوَافِقٌ لِلْقِيَاسِ موږ وایو: چي نه! بلکي ولایت د قیاس موافق دی لِأَنَّ النِّكَاحَ يَتَضَمَّنُ الْمَصَالِحَ ځکه چي نکاح پر ډېرو مصلحتونو [او فوائدو] مشتمله ده وَلَا تَتَوَفَّرُ إِلَّا بَيْنَ الْمُتَكَافِئَيْنِ عَادَةً او عادتاً دا مصلحتونه په پوره توګه نه سي حاصلېدای مګر د دوو کفؤو په مینځ کي وَلَا يَتَّفِقُ الْكُفُؤُ فِي كُلِّ زَمَانٍ او کفو هر وخت نه پیښیږي [یعني د ښځي لپاره برابره کفو هر وخت نه پیدا کیږي] فَأَثْبَتْنَا الْوِلَايَةَ فِي حَالَةِ الصِّغَرِ نو ځکه موږ ولایت ثابت کړی د کوچنیوالي په حالت کي إِحْرَازًا لِلْكُفُؤِ د کفو د حفاظت لپاره [چي کفو محفوظه پاته سي] وَجْهُ قَوْلِ الشَّافِعِيِّ: أَنَّ النَّظَرَ لَا يَتِمُّ بِالتَّفْوِيضِ إِلَى غَيْرِ الْأَبِ وَالْجَدِّ د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قول دلیل دا دی: چي له پلار او نیکه څخه بغیر بل چا ته [د ولایت] په سپارلو سره شفقت [او مصلحت] نه پوره کیږي لِقُصُورِ شَفَقَتِهِ وَبُعْدِ قَرَابَتِهِ د شفقت د کموالي او د قرابت د لیري والي په وجه [یعني د پلار او نیکه له شفقت او قرابت څخه بغیر د بل چا شفقت کم وي او قرابت یې لیري وي] وَلِهَذَا لَا يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ

فِي الْمَالِ او له همدې کبله [دا بل څوک] مالک نه ګرځي په مال کې د تصرف کولو مَعَ أَنَّهُ أَدْنَى رُتْبَةً سره ددې چې مال د کمې درجې شی دی فَلِأَنْ لَا يَمْلِكَ التَّصَرُّفَ فِي النَّفْسِ نو څرنګه به مالک وګرځي په نفس کې د تصرف کولو وَإِنَّهُ أَعْلَى وَأَوْلَى حال دا چې نفس د لوړې درجې او غوره شی دی وَلَنَا: أَنَّ الْقَرَابَةَ دَاعِيَةٌ إِلَى النَّظَرِ او زموږ دليل دا دی: چې قرابت د شفقت وطرف ته بلونکی دی [يعني قرابت د شفقت تقاضا کوي] كَمَا فِي الْأَبِ وَالْجَدِّ لکه په پلار او نيکه کې [چې قرابت د شفقت تقاضا کوي] وَمَا فِيهِ مِنَ الْقُصُورِ أَظْهَرْنَاهُ فِي سَلْبِ وِلَايَةِ الْإِلْزَامِ او په هغه [بل چا] کې چې د شفقت کومه کمې ده هغه موږ د ولايت إلزام په سلبولو کې ښکاره کړې ده [يعني ددې بل چا د شفقت د کمښت علاج دا دی چې د هغه نکاح به لازم نه وي، بلکې تر بلوغت وروسته به نجلۍ ته د نکاح ماتولو اختيار وي] بِخِلَافِ التَّصَرُّفِ فِي الْمَالِ په خلاف په مال کې د تصرف کولو فَإِنَّهُ يَتَكَرَّرُ څکه چې [د مال] تصرف مکّرر کيږي [يعني بار بار په هغه کې تصرف کيږي] فَلَا يُمْكِنُ تَدَارُكُ الْخَلَلِ لهذا [په هغه کې] د خلل تلافي کول ممکن نه دی فَلَا تُفِيدُ الْوِلَايَةُ إِلَّا مُلْزِمَةً نو څکه به فايده من نه وي دغه ولايت [د تصرّف في المال] مګر د إلزام په حالت کې وَمَعَ الْقُصُورِ لَا تَثْبُتُ وِلَايَةُ الْإِلْزَامِ او [د شفقت] د کمښت سره ولايت إلزام نه ثابتيږي وَجْهُ قَوْلِهِ فِي الْمَسْأَلَةِ الثَّانِيَةِ په دويمه مسئله کې د امام شافعي د قول دليل دا دی أَنَّ الثِّيَابَةَ سَبَبٌ لِحُدُوثِ الرَّأْيِ چې ثيّبه کېدل د رايې د پيدا کېدلو سبب دی لِوُجُودِ الْمُمَارَسَةِ [د خاوند سره] د اختلاط کولو په وجه [يعني د مېړه سره د اوسېدلو او يوځای کېدلو په وجه په ثيبه ښځه کې تجربه او رايه پيدا سوې وي] فَأَدَرْنَا الْحُكْمَ عَلَيْهَا تَيْسِيرًا نو څکه موږ د آسانۍ په خاطر پر "ثيابت" حکم مبني کړی [يعني پر ثيبه کېدلو مو حکم جاري او نافذ کړی] وَلَنَا: مَا ذَكَرْنَا او زموږ دليل هغه دی کوم چې موږ اخه مخکې [ذکر کړی] مِنْ تَحَقُّقِ الْحَاجَةِ وَوُفُورِ الشَّفَقَةِ يعني د ضرورت ثابتېدل او د شفقت پوره کېدل [يعني زموږ دليل دا دی چې په صغير او صغيره کې د ولايت ضرورت سته او په پلار او نيکه کې شفقت کامل او پوره دی] وَلَا مُمَارَسَةَ تُحْدِثُ الرَّأْيَ بِدُونِ الشَّهْوَةِ او بېله شهوته اختلاط رايه نه پيدا کوي [يعني نجلۍ چې تر څو بالغه سوې نه وي نو د خاوند په اختلاط او اوسېدلو سره په هغې کې تجربه او رايه نه پيدا کيږي] فَيُدَارُ الْحُكْمُ عَلَى الصِّغَرِ نو څکه به د حکم مدار پر کوچنيوالي وي ثُمَّ الَّذِي يُؤَيِّدُ كَلَامَنَا فِيمَا تَقَدَّمَ قَوْلُهُ

ﷺ ❶ بیا د نبي کریم ﷺ دا قول [هم] زموږ د مخکني کلام تایید کوي «اَلنِّکَاحُ إِلَى الْعَصَبَاتِ» چې نکاح د عصباتو و طرف ته ده [یعني نکاح به عصباتو ته سپارل کیږي] مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ [دا حدیث] بغیر له څه تفصیل څخه [وارد سوی] دی وَالتَّرْتِيْبُ فِي الْعَصَبَاتِ فِي وِلَايَةِ النِّكَاحِ كَالتَّرْتِيْبِ فِي الْإِرْثِ او د نکاح په ولایت کې د عصباتو ترتیب د وراثت د ترتیب په څیر دی وَالْأَبْعَدُ مَحْجُوْبٌ بِالْأَقْرَبِ او لیري عصبه [یعنی لیري ولي] به محروم کیږي د نژدې عصبې په وجه.

اللغات: ﴿عَصَبَةٌ﴾ د میراث په تقسیم کې تر ذوی الفروضو وروسته د پاته مال وارثان. ﴿لَا تَتَوَفَّرُ﴾ د تَفَعُّل نفي صیغه ده: پوره کېدل، ډېر زیاتېدل. ﴿مُتَكَافِئَيْنِ﴾ د تفاعل د باب تثنیه اسم فاعل دی: دوه سیال خلک، دوه کسان چې په نسب او کسب (پېشه) کې سره برابر وي نو یوه ته د هغه بل کفو ویل کیږي. ﴿لَا يَتَّفِقُ﴾ د افتعال د باب نفي صیغه ده: اتفاق کول، موافقت کول، یو کار پېښېدل. ﴿إِحْرَازٌ﴾ د افعال مصدر دی: ساتل، محفوظه کول (خوندي کول). ﴿اَلنَّظَرُ﴾ مصلحت (ښېګڼه)، پالیسي، تدبیر، شفقت. ﴿وَلَايَةُ الْإِلْزَامِ﴾ ولایتِ إلزام: د نکاح لازمېدلو ولایت، یعني تر نکاح ترلو وروسته د نکاح لازمېدل او د ماتېدلو اختیار یې ختمېدل دې ته "ولایتِ إلزام" وایي، او که تر بلوغت وروسته د نکاح د ماتېدلو اختیار وي نو هغه ته "ولایتِ اختیار" او "خیارِ بلوغ" وایي، په پلار او نیکه کې ولایتِ إلزام سته او په نورو ولیانو کې خیارِ بلوغ او ولایتِ إجبار سته، ولایتِ الزام نسته، د "ولایتِ إجبار" مطلب دا دی چې نورو ولیانو ته هم دا حق سته چې صغیر او صغیره پر نکاح مجبوره کړي. ﴿تَدَارُكٌ﴾ د تفاعل مصدر دی: جبران، د خلل او نقصان تلافي کول، د نقصان بدله ورکول (د فوت سوي شي د نقصان عوض ورکول، حق ورپوره کول). ﴿مُمَارَسَةٌ﴾ د مفاعلې مصدر دی: مشق او تمرین کول، مهارت پیدا کول، کوښښ کول، دلته څني مراد د خاوند سره یو ځای اوسېدل (اختلاط) او د واده په معاملاتو کې مهارت او تجربه لرل دي. ﴿مَحْجُوْبٌ﴾ د نصر اسم مفعول دی، حَجَبَ يَحْجُبُ حَجْبًا و حِجَابًا: پټول، منع کول، محرومول.

---

❶ تخریج: لم أجده ذکر الزیلعي فی هذا الحدیث، و لم یجده کثیر من المحققین. او صاحب د اثمار الهدایه هم وایي چې تر ډېر تحقیق وروسته مې دا حدیث پیدا نه کړی، خو دې ته مې نژدې یو دغه "أثر" پیدا کړی: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: إِذَا كَانَ الْعَصَبَةُ أَحَدُهُمْ أَقْرَبَ بِأُمٍّ فَهُوَ أَحَقُّ"، دا اثر هم زموږ د مسلک تائید کوي.

تشریح: په دې اوږده عبارت کې فقط دوې مسئلې بیان سوي دي: ① د ولایت حق کوم خلک لري، ② او د ولایت سبب څه شي دی؟ (یعني دا خلک پر کومو کسانو د ولایت حق لري) او دا دواړه مسئلې مختلف فیه دي.

(۱)... اوله مسئله دا ده چي زموږ په نېز هر ولي ته د ولایت حق سته، هغه که پلار وي که نیکه وي یا یو بل ولي وي، د امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي له پلار څخه بغیر بل هیڅ ولي ته هم د ولایت حق نسته، هغه که نیکه وي یا بل ولي وي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي فقط پلار او انیکه ته د ولایت حق سته، له دوی څخه بغیر بل هیچا ته نسته.

(۲)... دویمه مسئله دا ده چي زموږ په نېز د ولایت د ثبوت سبب صِغر (کوچنیوالی) دی، برابره ده صغیره (کوچنۍ نجلۍ) باکره وي او که ثیبه وي، په هر صورت کي زموږ په نېز ولي ته پر صغیرې د ولایت حق سته، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د ولایت سبب بکارت دی، نو د هغه په نېز ولي ته پر کبیره باکره او پر صغیره باکره د ولایت حق سته، لېکن پر صغیره ثیبه او کبیره ثیبه هغه د ولایت حق نه لري

د امام مالک دلیل: په اوله مسئله کي د امام مالک رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي پر آزاد انسان ولایت کول د ضرورت په وجه ثابت دي، او په صغیر او صغیره کي د شهوت د نشتوالي په وجه هیڅ ضرورت نسته، خو څرنګه چي حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه د حضرت عائشې رضي الله عنها نکاح صرف د شپږو کالو په عمر کي د نبي کریم ﷺ سره وکړه، او نبي کریم ﷺ هغه نکاح جائز وګڼله، نو ځکه په دې واقعې سره صرف پلار ته خلافُ القیاس پر لور د ولایت حق حاصل دی، نیکه ته د ولایت حق نسته، ځکه چي نیکه د پلار په معنیٰ سره نه دی، ځکه د پلار په مقابله کي د نیکه شفقت ناقص او کم وي، نو ځکه به نیکه او داسي نورو اولیاؤ ته د ولایت حق حاصل نه وي.

جواب: قلنا إلخ: د امام مالک د دلیل جواب دا دی چي ولایت خلافُ القیاس ثابت نه دی، بلکي په پوره توګه د قیاس مطابق دی، ځکه چي نکاح پر ډېرو مصالحو او فوائدو مشتمله ده، مثلاً تناسل (بچي پیدا کېدل)، شهوت پوره کېدل او داسي نور، او دا فوائد عموماً د هغه خاوند او ښځي تر مینځ حاصلېدی سي چي دواړه یو د بل کفو او سیال وي، خو څرنګه چي په هره زمانه کي د کفو او سیال پیدا کېدل مشکل دي، نو ځکه د کفو د حفاظت او ساتني په خاطر موږ د کوچني والي په وخت کي پر صغیر او صغیره ولایت ثابت کړی، ځکه که د دوی تر بلوغ پوري انتظار وسي، نو شاید کفو به د لاسه ووځي، یا یوه بله ستونزه به مخته راسي.

د امام شافعي دليل: په اوله مسئله کي د امام شافعي دليل دا دی چي د ولايت دوار ومدار پر شفقت دی. او له پلار او نيکه څخه بغير په نورو وليانو کي شفقت او اُلفت ډېر کم وي، نو ځکه به له پلار او نيکه څخه بغير د بل ولي لپاره ولايت ثابت نه وي، همدا وجه ده چي له پلار او نيکه څخه بغير بل ولي ته د صغير او صغيره په مال کي د تصرّف کولو اجازه نسته، لهذا کله چي د مال په څير کمتره او معمولي شي کي بل ولي ته د تصرّف ولايت حاصل نه دی، نو د نفس په څير بهتره او اعلیٰ شي کي به هغه ته څرنګه ولايت حاصل سي !؟.

زموږ دليل: دا دی چي مطلقاً قرابت د شفقت او رحمت تقاضا کوي، او څرنګه چي له پلار او نيکه څخه بغير په نورو وليانو کي هم د ولايت سبب يعني قرابت موجود دی، نو ځکه به هغو ته هم د ولايت حق حاصل وي، پاته سوه دا خبره چي له پلار او نيکه څخه بغير په نورو وليانو کي شفقت کم وي، نو د دې کمښت علاج موږ داسي کوو چي پلار او نيکه ته خو "ولايتِ اِلزام" او "ولايتِ اِجبار" دواړه ورکوو، يعني د دوی تړل سوې نکاح به تر بلوغ وروسته صغير او صغيره بالکل نه سي ماتولای. او له پلار او نيکه څخه بغير نورو وليانو ته فقط "ولايتِ اِجبار" ورکوو، يعني هغو ته خو به دا حق وي چي د صغير او صغيره نکاح په جبر (په زوره) وکړي، لېکن د هغو نکاح به لازمي او قطعي نه وي. بلکي صغير او صغيره ته به "خيارِ بلوغ" يعني تر بلوغ وروسته د نکاح ماتولو او فسخ کولو اختيار او حق حاصل وي.

جواب: بخلاف التصرّف إلخ: د امام شافعي د دليل جواب دا دی چي ولايتِ نکاح پر تصرف في المال قياسول صحيح نه دي، ځکه چي په مال کي مکرر تصرف کېږي، او لاس په لاس مال سره بدلېږي، نو د صغير او صغيرې لپاره به تر بلوغ وروسته په مال کي د خلل او نقصان تلافي کول ممکن نه وي، ځکه چي د دوی تر بلوغ پوري به خدای خبر کومو خلکو او څومره خلکو ته د دوی مال رسېدلی وي، د دې معلومول او بيا د خلل تدارک او تلافي کول ناممکن دي، نو په دې وجه په تصرف في المال کي فقط "ولايتِ اِلزام" مُفيد دی (ځکه چي په مستقبل کي د خلل تدارک ممکن نه دی)، او مخکي موږ وويل چي له پلار او نيکه څخه بغير بل ولي ته "ولايتِ اِلزام" حاصل نه دی، لهذا له پلار او نيکه څخه بغير به بل ولي ته د تصرف في المال ولايت هم حاصل نه وي.

وجه قوله إلخ: (۲) دويمه مسئله دا وه چي زموږ په نېز د ولايت سبب صغر دی او د امام شافعي په نېز بکارت دی.

د امام شافعي دليل: په دويمه مسئله کي د امام شافعي د دليل حاصل دا دی چي "ثيبه کېدل" (ثيبه والی) د رايي او تجربې د پيدا کېدلو سبب دی، يعني د خاوند سره د اختلاط او جنسي اړيکو په وجه

په ثیّبه کي رایه پیدا سي او په پوره توګه په خپل نفع او نقصان پوه سي، نو پر ثیبې د ولایت کولو هیڅ ضرورت نسته هغه له ولایت څخه مستغني ده. نو ځکه موږ پر "ثیبه کېدلو" حکم ولګوی او دا مو وویل چي تر ثیبه کېدلو وروسته به هیچا ته پر نجلی ولایت حاصل نه وي. هغه که صغیره وي او که کبیره وي.

زموږ دلیل: په دویمه مسئله کي زموږ دلیل دا دی چي په صغیر او صغیره کي د ولایت ضرورت هم ثابت دی، او په پلار او نیکه کي شفقت هم کامل دی، لهذا کله چي په صغیر او صغیره کي د ولایت تقاضا کونکي شیان موجود دي، نو ځکه به پر دوی هم ولایت ثابتیږي.

او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره چي "په صغیره ثیبه کي د ممارست او اختلاط په وجه رایه او تجربه پیدا کیږي" دا خبره موږ نه منو، ځکه که څه هم ممارست رایه او تجربه پیدا کوي خو بېله شهوته ممارست بېکاره دی رایه او تجربه نه سي پیدا کولای، او په صغیره کي خو هیڅ شهوت نسته، لهذا د هغې ممارست او عدمِ ممارست دواړه سره برابر دي، نو ځکه به د ولایت د ثبوت لپاره فقط صغر سبب منل کیږي، نه بکارت.

ثم الذی یروید إلخ: د دې عبارت تعلق د اولي مسئلې سره دی، نه د دویمي مسئلې سره. حاصل یې دا دی چي دا حدیث "اَلنِّکَاحُ إِلَی الْعَصَبَاتِ" هم زموږ د دغه خبري تائید کوي چي له پلار او نیکه څخه بغیر نورو ولیانو ته د ولایت حق سته، ځکه چي په دې حدیث کي د پلار، نیکه او نورو عصباتو (ولیانو) هیڅ فرق ذکر سوی نه دی، نو څرنګه چي پلار او نیکه ته ولایت حاصل دی. همدارنګه به نورو ولیانو ته هم ولایت (ولایتِ إجبار) حاصل وي.

والترتیب فی العصبات إلخ: فرمایي چي د نکاح د ولایت په سلسله کي به د عصباتو هغه ترتیب وي کوم چي په وراثت کي دي. یعني لکه څرنګه چي په وراثت کي اول زوی او لمسی نژدې ولي دی. بیا د پلار نمبر دی. همدارنګه به په نکاح کي هم د ولیانو دغه ترتیب وي. خو باید په یاد مو وي چي په نکاح کي به پلار او نیکه تر زوی او لمسي مخکي کیږي. او د نکاح کولو حق او ولایت به اول پلار او نیکه ته ورکول کیږي. او په نورو ولیانو کي به ترتیب د وراثت په شیر وي.

او د نژدې ولي (عصبه) په موجودیت کي به لیري ولي (عصبه) له ولایت څخه محرومیږي. مثلاً که پلار موجود وي، نو تر هغه لیري ولي یعني نیکه به له ولایت څخه محروم وي. یعني د نجلی د نکاح کولو حق او ولایت به پلار ته حاصل وي. نیکه به له دې ولایت څخه بې برخي وي.

﴿د ټولو عصباتو شمېر او ترتيب په يوه نقشه کې﴾

په وراثت کې د عصباتو ترتيب په لاندې ډول دی:

شمېر	عصبه بنفسه	شمېر	عصبه بنفسه
(۱)	زوی	(۱۰)	بيا په مور و پلار شريک اکا
(۲)	بيا لمسی	(۱۱)	بيا فقط په پلار شريک اکا
(۳)	بيا د زوی لمسی	(۱۲)	بيا په مور و پلار د شريک اکا زوی
(۴)	بيا پلار	(۱۳)	بيا فقط په پلار د شريک اکا زوی
(۵)	بيا نيکه	(۱۴)	بيا د پلار حقيقي اکا يعني چې په پلار او مور دواړو يې شريک وي
(۶)	بيا په مور و پلار شريک ورور (حقيقي ورور)	(۱۵)	بيا د پلار فقط په پلار شريک اکا
(۷)	بيا فقط په پلار شريک ورور	(۱۶)	بيا د پلار د حقيقي اکا زوی
(۸)	بيا په مور و پلار شريک وراره	(۱۷)	بيا د پلار فقط په پلار د شريک اکا زوی
(۹)	بيا فقط په پلار شريک وراره	〃	〃

يادونه: په دې نقشه کې د عصباتو ترتيب بيان سوی دی، خو په نکاح کې به پلار او نيکه تر زوی او لمسي مخکې کيږي، لکه مخکې چې موږ وويل، نو په نکاح کې به اول د پلار نمبر وي، بيا به د نيکه نمبر وي، نور ترتيب به د نقشې مطابق وي يعني تر نيکه وروسته به د زوی نمبر وي......إلى آخره.

د پلار او نيکه د ولايت ځانګړتيا

قَالَ: فَإِنْ زَوَّجَهُمَا الْأَبُ وَالْجَدُّ نو که پلار او نيکه د هغوی دواړو نکاح وکړي [د يو چا سره] يَعْنِي الصَّغِيْرَ وَالصَّغِيْرَةَ يعني د کوچني [نابالغه هلک] او کوچنۍ [نابلغه نجلۍ] نکاح وکړي د يو چا سره [فَلَا خِيَارَ لَهُمَا بَعْدَ بُلُوْغِهِمَا نو تر بلوغ وروسته هغوی دواړو ته [د نکاح ماتولو] اختيار نسته لِأَنَّهُمَا كَامِلَا الرَّأْيِ وَافِرَا الشَّفَقَةِ ځکه چې پلار او نيکه دواړه د پوره رايې او د بشپړ شفقت خاوندان دي فَيَلْزَمُ الْعَقْدُ بِمُبَاشَرَتِهِمَا نو عقد [د نکاح] به لازميږي د پلار او نيکه په کولو سره كَمَا إِذَا بَاشَرَاهُ بِرِضَاهُمَا بَعْدَ الْبُلُوْغِ لکه [په هغه صورت کې چې هم صغير او صغيره ته اختيار نسته] کله چې پلار او نيکه تر بلوغت وروسته د هغوی په رضاء سره نکاح کړې وي وَإِنْ زَوَّجَهُمَا غَيْرُ الْأَبِ وَالْجَدِّ او که له پلار او

نيکه څخه بغير بل ولي [مثلاً ورور] د هغو نکاح وکړي فَلِكُلٍّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْخِيَارُ إِذَا بَلَغَ نو په هغوی کي هريوه ته اختيار ستته کله چي بالغ سي إِنْ شَاءَ أَقَامَ عَلَى النِّكَاحِ وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ که خوښه يې وي نو پر نکاح دي قائم پاته سي او که خوښه يې وي نو نکاح دي ماته کړي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ✿ او دا حکم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: لَا خِيَارَ لَهُمَا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هغوی دواړو ته [اوس هم] هيڅ اختيار نسته اعْتِبَارًا بِالْأَبِ وَالْجَدِّ په پلار او نيکه باندي په قياس کولو سره [يعني امام ابو يوسف بل ولي پر پلار او نيکه قياسوي] وَلَهُمَا: أَنَّ قَرَابَةَ الْأَخِ نَاقِصَةٌ او د طرفينو دليل دا دی: چي د ورور قرابت کم دی وَالنُّقْصَانُ يُشْعِرُ بِقُصُورِ الشَّفَقَةِ او د قرابت کمښت د شفقت د کمښت خبر ورکوي فَيَتَطَرَّقُ الْخَلَلُ إِلَى الْمَقَاصِدِ عَسٰى نو [د نکاح] مقاصدو ته د خلل راتلل ممکن دي [يعني د شفقت د کمښت په وجه د نکاح په مقصد او منفعت کي خلل او نقصان راتلل ممکن دي] وَالتَّدَارُكُ مُمْكِنٌ بِخِيَارِ الْإِدْرَاكِ او د دې [خلل] تلافي ممکنه ده په خيار بلوغ سره وَإِطْلَاقُ الْجَوَابِ فِي غَيْرِ الْأَبِ وَالْجَدِّ يَتَنَاوَلُ الْأُمَّ وَالْقَاضِيَ او [په متن کي] له پلار او نيکه څخه بغير په بل ولي کي د حکم مطلق کېدل مور او قاضي ته [هم] شامل دي هُوَ الصَّحِيحُ مِنَ الرِّوَايَةِ همدا صحيح روايت دی لِقُصُورِ الرَّأْيِ فِي أَحَدِهِمَا ځکه چي له دغه دواړو څخه په يوه کي د رايي کمي ده [چي هغه مور ده] وَنُقْصَانِ الشَّفَقَةِ فِي الْآخَرِ او په بل کي د شفقت کمي ده [چي هغه قاضي دی] فَيَتَخَيَّرُ نو ځکه به اختيار [خيار بلوغ] ورکول کيږي.

اللغات: ﴿فَيَتَطَرَّقُ﴾ د تفعّل مضارع ده: راتلل، لاره لټول. ﴿يُشْعِرُ﴾ د افعال مضارع ده: احساس ورکول، اطلاع او خبر ورکول. ﴿نُقْصَانٌ﴾ د ضرب د باب مصدر دی: کمي (کمښت).

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي، اوله مسئله پر ولايتِ إلزام متفرّع ده. او دويمه مسئله پر ولايتِ إجبار متفرّع ده.

(۱)... د اولي مسئلې حاصل دا دی چي پلار او نيکه ته د ولايتِ إجبار سره ولايتِ إلزام هم حاصل دي (د ولايتِ إجبار مختصر مطلب دا دی چي د پلار او نيکه تړل سوې نکاح په هغه ګړي نافذيږي

✿ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۲، ص:۳۳۱). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۵۶]

لیکن تر بلوغ وروسته یې د ماتولو اختیار سته، او د ولایتِ إلزام مطلب دا دی چې د دوی نکاح لازمیږي تر بلوغ وروسته یې د ماتولو هیڅ اختیار نسته). نو که د صغیر او صغیرې نکاح پلار یا نیکه وکړي، نو دا نکاح لازمیږي، او تر بلوغ وروسته به صغیر او صغیرې ته د نکاح ماتولو هیڅ اختیار (خیارِ بلوغ) حاصل نه وي؛ دلیل دا دی چې اول خو پلار او نیکه ته ولایتِ إلزام حاصل دی. او بل دا چې د نورو ولیانو په نسبت د پلار او نیکه رایه پخه او شفقت یې کامل وي، ځکه چې د دوی په هکله دا خبره یقیني ده چې دوی د صغیره او صغیرې په حق کې هیڅ ډول بې پروایي او غفلت نه کوي، نو ځکه به د دوی نکاح هم نافذیږي او هم به لازمیږي، لکه څرنګه چې په هغه وخت کې هم د دوی نکاح لازمیږي، کله چې دوی تر بلوغ وروسته د صغیر او صغیرې نکاح د هغو په رضا او اجازه سره وکړي.

وإن زوجهما غير الأب: (٢)... د دویمې مسئلې حاصل دا دی چې که له پلار او نیکه څخه بغیر بل ولي (مثلاً ورور) د صغیر او صغیرې نکاح وکړي، نو د طرفینو په نیز خو دا نکاح نافذیږي لیکن لازمیږي نه، او د امام ابویوسف رَحِمَهُ الله په نیز د دغه بل ولي نکاح د پلار او نیکه په څیر هم نافذیږي او هم لازمیږي.

د طرفینو دلیل: دا دی چې د پلار او نیکه په مقابله کې د بل ولي (مثلاً د ورور) قرابت ناقص او کم دی، او ناقص قرابت د ناقص شفقت دلیل دی، ځکه کله چې قرابت کم وي، نو په شفقت کې هم کمي راځي، نو د شفقت د نقصان او کمښت په وجه د بل ولي په نکاح کې د خلل واقع کېدل ممکن دي (ځکه چې د شفقت د کمښت په وجه د هغه په هکله دا امکان سته چې هغه به له غفلت او سستي څخه کار واخلي او د صغیر او صغیرې نکاح به په نالائق ځای کې وکړي)، نو ځکه به د هغه نکاح فقط نافذیږي، خو لازمیږي به نه. او د دې خلل د تلافي او تدارک لپاره به صغیر او صغیرې ته خیارِ بلوغ ورکول کیږي. یعني که تر بلوغ وروسته د هغو دا نکاح خوښه سي نو خپله نکاح دې باقي پرېږدي. او که خوښه یې نه سي نو ماته دې یې کړي.

وإطلاق الجواب إلخ: په دې متن "وَإِنْ زَوَّجَهُمَا ... فَلِكُلٍّ وَاحِدٍ...الخ" کې چې دا خبره ذکر سوه چې له پلار او نیکه څخه بغیر د بل ولي په نکاح کې صغیر او صغیرې ته دا حق سته چې تر بلوغ وروسته د هغه نکاح ماته کړي (یعني د خیارِ بلوغ حق ورته حاصل دی)، نو په دې عبارت "وإطلاق الجواب...إلخ" کې دا خبره بیانوي چې په دغه خیارِ بلوغ کې مور او قاضي هم شامل دي. یعني که دوی د صغیر او صغیرې نکاح وکړي، نو هغه خو نافذیږي، لیکن تر بلوغ وروسته به صغیر او صغیرې ته به دا حق او اختیار وي چې د مور او قاضي تړل سوې نکاح ماته کړي. همدا صحیح روایت دی.

صاحب د هدايې په "هو الصحيح" سره د امام صاحب له يو روايت څخه احتراز کړی دی. او هغه دا چې که قاضي د يوې يتيمې صغيرې نکاح وکړي، نو هغې ته د خيار بلوغ حق نه حاصليږي چې تر بلوغ وروسته نکاح ماته کړي، ځکه چې د قاضي ولايت د پلار د ولايت په څير عام او تام (کامل) دی، او پلار ته ولايتِ إلزام حاصل دی يعني که هغه د صغير او صغيرې نکاح وکړي نو بيا صغير او صغيرې ته د خيارِ بلوغ حق نه حاصليږي بلکي د پلار نکاح پر هغو لازميږي، نو همدارنګه به قاضي (او مور) ته هم ولايتِ إلزام حاصل وي.

د صحيح روايت دليل دا دی چې د ولايتِ إلزام لپاره دوه شيان ضروري دي: ① کامله او پخه رايه، ② کامل شفقت، که دا دواړه شيان موجود وي نو ولايتِ إلزام حاصليږي، او که فقط يو شی موجود وي، نو فقط ولايتِ إجبار حاصليږي، او په قاضي کي فقط يو شی سته چې هغه کامله رايه ده کامل شفقت پکښي نسته، ځکه چې په هغه کي قرابت نسته. او په مور کي هم فقط يو شی سته چې هغه کامل شفقت دی او کامله رايه پکښي نسته، ځکه چې ښځي ناقصاتُ الفهمه دي، لهذا قاضي او مور ته به فقط ولايتِ أجبار حاصليږي، نه ولايتِ إلزام، يعني نکاح خو به يې نافذيږي، لېکن تر بلوغ وروسته به صغير او صغيرې ته د نکاح فسخ کولو (ماتولو) حق او اختيار حاصل وي.

د "خيارِ بلوغ" بيان

وَيُشْتَرَطُ فِيهِ الْقَضَاءُ او په دې [خيارِ بلوغ سره د نکاح په ماتولو] کي [د قاضي] قضاوت شرط دی بِخِلَافِ خِيَارِ الْعِتْقِ په خلاف د خيارِ عتق لِأَنَّ الْفَسْخَ هٰهُنَا لِدَفْعِ ضَرَرٍ خَفِيٍّ ځکه چې دلته [په خيارِ بلوغ کي] د نکاح ماتېدل د پټ ضرر ليري کولو لپاره دي وَهُوَ تَمَكُّنُ الْخَلَلِ او پټ ضرر د خلل ځای نيول دي [يعني له پټ ضرر څخه مراد هغه خلل دی چې د شفقت د نقصان په وجه په نکاح کي راغلی وي] وَلِهٰذَا يَشْمُلُ الذَّكَرَ وَالْأُنْثٰى له همدې وجهي مذکر او مؤنث دواړو ته [خيارِ بلوغ] شامليږي [يعني دواړو ته خيارِ بلوغ حاصليږي] فَجُعِلَ إِلْزَامًا فِي حَقِّ الْآخَرِ لهذا دا [د خلل راتلل] به د بل ولي په حق کي إلزام [تهمت] منل کيږي فَيَفْتَقِرُ إِلَى الْقَضَاءِ نو ځکه به [په دې کي د قاضي] قضاوت ته ضرورت وي وَخِيَارُ الْعِتْقِ لِدَفْعِ ضَرَرٍ جَلِيٍّ او خيارِ عتق د ښکاره [واضح] ضرر د ليري کولو لپاره دی وَهُوَ زِيَادَةُ الْمِلْكِ عَلَيْهَا او هغه پر مينځي د ملک زياتېدل دي وَلِهٰذَا يَخْتَصُّ بِالْأُنْثٰى له همدې وجهي هغه د مؤنث سره خاص دی

فَاعْتُبِرَ دَفْعًا لهذا هغه به دفع مثل کیږي [د زیادةُ الملک لپاره] وَالدَّفْعُ لَا يَفْتَقِرُ إِلَى الْقَضَاءِ او دفع وقضاوت ته محتاج نه ده [یعني په دفع کي د قاضي فیصلې ته ضرورت نشته].

اللغات: ﴿قَضَاء﴾ د قاضي فیصله، قضاوت. ﴿فَسْخ﴾ د فتح مصدر دی: ماتول، ختمول، له منځه وړل. ﴿تَمَكُّن﴾ د تفعّل مصدر دی: ځای نیول، قرار نیول، قدرت حاصلول. ﴿يَفْتَقِرُ﴾ د افتعال مضارع ده: محتاج کېدل، اړېدل. ﴿خِيَارِ عِتْق﴾ منکوحه مینځه چي کله آزاده کړی سي، نو هغې ته د نکاح ماتولو اختیار حاصلیږي، همدغه اختیار ته "خیارِ عتق" وایي. ﴿جَلِي﴾ واضح، ښکاره، روښانه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چه صغیر او صغیره وغواړي چي له پلار او نیکه څخه بغیر د بل ولي نکاح فسخ (ماته) کړي (یعني که صغیر او صغیره د خیارِ بلوغ په وجه خپل نکاح ماتول وغواړي) نو دا نکاح فقط د صغیر او صغیره په ماتولو سره نه ماتیږي، بلکي دوی به د قاضي دربار ته ځي او د هغه په حکم او قضاء سره به نکاح ماتوي.

بخلاف خیار العتق: لیکن په خیارِ عتق کي د نکاح ماتولو لپاره د قاضي قضاوت ضروري نه دی، یعني که یوه مینځه د خپل مالک په نکاح کي وي بیا مالک هغه آزاده کړي، او تر آزادولو وروسته مینځه وغواړي چي نکاح ماته کړي، نو د هغې لپاره د قاضي دربار ته تلل او د هغه په قضاء (فیصلې) سره نکاح ماتول هیڅ ضروري نه دي، بلکي که هغه په خپله نکاح ماته کړي او مالک ته ووایي چي زه ستا سره نکاح ماتوم، نو د هغې نکاح ماته سوه.

د خیارِ بلوغ او خیارِ عتق په مینځ کي د فرق وجه څه ده؟ له دې څخه مخکي تاسي په دې قاعده ځان پوه کړئ! چي له خپل ځان څخه د ضرر دفع کولو لپاره د قاضي قضاء (فیصله) شرط نه ده، لیکن پر بل چا د إلزام (تهمت) لګولو لپاره د قاضي قضاء شرط ده، ځکه چي د إلزام دفع کول د قاضي منصب دی، د عامو خلکو کار نه دی.

نو د خیارِ بلوغ او خیارِ عتق په مینځ کي د فرق وجه دا ده چي په خیارِ بلوغ کي د پټ (خفي) ضرر د دفع کولو لپاره نکاح ماتیږي، یعني له پلار او نیکه څخه پرته د بل ولي د شفقت د کمښت او نقصان په وجه چي په نکاح کي کوم خلل واقع سوی دی، د هغه خلل د لیري کولو لپاره نکاح ماتیږي (دې ته پټ او خفي ضرر ځکه وایي چي دا واضح ضرر او غلطي نه ده، بلکي فقط د دې ضرر وهم سته چي د غه بل ولي به غلط او نا مناسبه ځای نکاح کړې وي نو ځکه دې ته خفي او وهمي ضرر وایي)، او ځرنګه چي دا وهم او خفي ضرر د مذکر او مؤنث (نر او ښځي) دواړو په حق کي واقع کېدای سي، نو

ځکه به دا خيار بلوغ دواړو (يعني بالغ صغير، او بالغې صغيرې دواړو) ته ورکول کيږي. اوس چې تر بلوغ وروسته (په خيارِ بلوغ سره) صغير او صغيره د خفي ضرر په وجه د نکاح ماتول وغواړي، نو د دې مطلب دا دی چې صغير او صغيره پر ولي إلزام (او تهمت) لګوي چې زموږ ولي په نا مناسبه ځای کې زموږ نکاح کړې ده، او إلزام دفع کول د قاضي منصب دی، نو په دې وجه به په خيارِ بلوغ کې د نکاح د ماتولو لپاره د قاضي حکم او قضاء شرط او ضروري وي.

او په خيارِ عتق کې د واضح ضرر د ليرې کولو لپاره نکاح ماتيږي، ځکه چې د مينځې تر آزادولو مخکې مالک فقط د دوو طلاقو مالک وي، لېکن د هغې تر آزادولو وروسته د مالک ملکيت زيات سي او د دريو طلاقو مالک سي، او دا د مينځې په حق کې واضح ضرر دی (پټ او وهمي ضرر نه دی، لکه په خيارِ بلوغ کې چې د بل ولي په حق کې فقط د نامناسبه ځای وهم وو)، او څرنګه چې دغه واضح ضرر د مينځې په حق کې واقع کيږي د غلام په حق کې نه سي واقع کېدلای، نو ځکه به خيارِ عتق فقط مينځې ته ورکول کيږي. اوس چې تر بلوغ وروسته هغه د دغه واضح ضرر په وجه نکاح ماتول وغواړي نو ښکاره خبره ده چې په دې کې پر مالک هيڅ إلزام نسته بلکې په دې کې له خپل ځان څخه ضرر دفع کول دي، او مخکې موږ ويل چې له خپل ځان څخه د ضرر دفع کولو لپاره د قاضي قضاء شرط نه ده، نو ځکه به په خيارِ عتق کې د نکاح ماتولو لپاره د قاضي قضاء شرط او ضروري نه وي.

په "خيارِ بلوغ" کې جهالت (ناخبرتيا) عذر نه دی

ثُمَّ عِنْدَهُمَا إِذَا بَلَغَتْ الصَّغِيرَةُ بيا د طرفينو په نېز چې کله صغيره بالغه سي وَقَدْ عَلِمَتْ بِالنِّكَاحِ په داسې حال کې چې په نکاح خبره وي فَسَكَتَتْ او چوپه سي ايعني په نکاح خبره وي او تر بلوغ وروسته سکوت اختيار کړي ا فَهُوَ رِضًا نو دا اسکوت د هغې له طرفه ارضاء ده ايعني د هغې رضامندي به ګڼل کيږي ا وَإِنْ لَمْ تَعْلَمْ بِالنِّكَاحِ او که په نکاح خبره نه وي فَلَهَا الْخِيَارُ نو هغې ته به اتر هغه وخته ا اختيار وي حَتَّى تَعْلَمَ فَتَسْكُتَ تر دې چې اپه نکاح ا خبره سي او ابيا ا چوپه سي شُرِطَ الْعِلْمُ بِأَصْلِ النِّكَاحِ په أصل نکاح باندې خبرېدل اځکه ا شرط کړی سو لِأَنَّهَا لَا تَتَمَكَّنُ مِنَ التَّصَرُّفِ إِلَّا بِهِ ځکه چې دا اصغيره بالغه ا تصرف کولای نه سي مګر په خبرېدلو سره په اصل نکاح باندې وَالْوَلِيُّ يَتَفَرَّدُ بِهِ او ولي يوازې اهم ا د هغې نکاح کولای سي فَعُذِرَتْ بِالْجَهْلِ نو دا اصغيره بالغه ا به معذوره ګڼل کيږي اپه نکاح ا د ناخبرۍ په وجه وَلَمْ يُشْتَرَطِ الْعِلْمُ بِالْخِيَارِ او په "خيارِ بلوغ" خبرېدل اځکه ا شرط نه کړی سو لِأَنَّهَا تَتَفَرَّغُ لِمَعْرِفَةِ أَحْكَامِ الشَّرْعِ ځکه چې دا اصغيره ا د شرعي احکامو د پېژندلو ازده کولو ا لپاره

ځان فارغولای سي وَالدَّارُ دَارُ الْعِلْمِ او دارُ الإسلام د علم کور دی [يعني هر ځای د زده کړي ذرائع پکښي سته] فَلَمْ تُعْذَرْ بِالْجَهْلِ نو ځکه به معذوره نه ګڼل کيږي [په خيارِ بلوغ] د ناخبرۍ په وجه بِخِلَافِ الْمُعْتَقَةِ په خلاف د آزادي کړی سوي مينځي لِأَنَّ الْأَمَةَ لَا تَتَفَرَّغُ لِمَعْرِفَتِهَا ځکه چي مينځه د شرعي احکامو د پېژندني لپاره ځان نه سي فارغولای [ځکه چي هغه تو له وخت د مالک په خدمت مشغوله وي] فَتُعْذَرُ بِالْجَهْلِ بِثُبُوتِ الْخِيَارِ نو ځکه به معذوره ګڼل کيږي په ثبوتِ خيار د ناخبرۍ په وجه [يعني که هغه په دې خبره نه وي چي زما لپاره خيارِ عتق ثابت دی نو په دې باره کي به هغه معذوره شمارل کيږي].

اللغات: ﴿لَا تَتَمَكَّنُ﴾ د تفعّل نفي صيغه ده: قدرت نه سي حاصلولای (يعني تصرف نه سي کولای)، ﴿يَتَفَرَّدُ﴾ د تفعّل مضارع ده: يوازي کېدل، يو کار يوازي کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د صاحبينو په نيز که صغيره له مخکي څخه خبره وي چي زما نکاح د چا سره سوې ده، او تر بلوغ وروسته هغه خاموشي (سکوت) اختيار کړي، نو دا سکوت به د هغې له طرفه رضامندي او اجازه شمارل کيږي، او بيا به هغې ته د نکاح ماتولو اجازه نه وي، او که هغه له مخکي څخه بالکل په دې خبره نه وي چي زما نکاح سوې ده او که نه، او په همدې ناخبرۍ کي بالغه سي، نو په دې صورت کي به تر هغه وخته د نکاح ماتولو او نه ماتولو اختيار (يعني خيارِ بلوغ) ورته حاصل وي تر څو چي هغه په أصل نکاح خبرېږي، نو کله چي هغه په أصل نکاح خبره سي او په هغه ګړي خاموشي (سکوت) اختيار کړي، نو دا به هم د هغې رضامندي او اجازه ګڼل کيږي، او تر دې وروسته به د هغې لپاره د نکاح ماتولو اجازه نه وي.

شرط العلم بأصل إلخ: فرمايي چي په أصل نکاح د خبرېدلو شرط په دې وجه صاحبينو لګولی دی، ځکه چي ولي يوازي په يوازي (يک تنها) د صغيرې د نکاح مالک دی، يعني د صغيرې له اجازت څخه بغير او د هغې له خبرولو څخه بغير هم د هغې نکاح کولای سي، او صغيرې ته هغه وخت خيارِ بلوغ حاصليږي يعني هغه وخت د نکاح ماتولو او نه ماتولو تصرف کولای سي کله چي هغې ته معلومه وي چي زما نکاح د چا سره سوې ده، له علم او خبر څخه بغير به هغې ته څرنګه خيارِ بلوغ او د تصرّف کولو حق حاصل سي!؟، لهذا په أصل نکاح تر خبرېدلو پوري به هغه معذوره ګڼل کيږي، او کله چي هم هغه په أصل نکاح خبره سي نو په هغه ګړي به هغې ته د خيارِ بلوغ حق حاصليږي.

ولم يشترط العلم: فرمايي چي د صغيرې په حق كې خو د "علم بأصل النكاح" شرط ولګول سو. لېكن د "علم بخيار البلوغ" شرط نه ولګول سو، يعني كه صغيره په دې خبره وي چي زما نكاح د فلانكي سره سوې ده لېكن په دې خبره نه وي چي تر بلوغ وروسته شريعت ما ته د خيارِ بلوغ حق راكړی دی، نو په داسي صورت كي به تر بلوغ وروسته د صغيرې سكوت رضامندي ګڼل كيږي او د هغې په سكوت سره به پر هغې نكاح لازميږي او تر سكوت وروسته به هغې ته خيارِ بلوغ نه وركول كيږي او په دې ناخبرۍ سره به هغه معذوره نه ګڼل كيږي (حال دا چي په أصل نكاح د ناخبرۍ په صورت كي صغيره معذوره ګڼل كيږي، او په هغه وخت كي د هغې سكوت رضامندي ګڼل كيږي كله چي هغه په أصل نكاح خبره سي، د دې څه وجه ده؟)، دا ځكه چي صغيره د دارُ الاسلام اوسېدونكې ده، او په دارُ الاسلام كي هر ځای د زده كړي او ښووني ذرائع سته، او دغه ډول مسئلې په عامه توګه په دارُ الاسلام كي مشهوره وي، او د آزادوالي په وجه صغيره د داسي مسئلو د معلومولو لپاره ځان هم فارغولای سي، نو د دې باوجود كه هغه غفلت او سستي اختيار كړي او دا مسئلي ځان ته معلومي نه كړي، نو معذوره به نه ګڼل كيږي، نو په دې وجه د هغې په حق كي د "علم بخيار البلوغ" شرط لګول سوی نه دی.

بخلاف المعتقة إلخ: د دې په خلاف كه يوه مينځه آزاده سي، او هغه په دې خبره نه وي چي تر آزادۍ وروسته ما ته د نكاح ماتولو اختيار (خيارِ عتق) حاصل دی، نو د هغې سكوت به رضامندي نه ګڼل كيږي يعني كه تر آزادېدلو وروسته هغه سكوت اختيار كړي نو دا به د هغې د رضامندۍ دليل نه ګڼل كيږي (يعني د مالک سره به د هغې نكاح نه لازميږي) بلكي د هغې سكوت به هغه وخت د رضامندۍ دليل ګڼل كيږي كله چي هغه د خيارِ عتق په مسئله خبره سي، د دې وجه دا ده چي مينځه ټوله وخت د خپل مالک په خدمت او چوپړ كي مشغوله وي، نو ممكنه ده چي د دې مسئلو د معلومولو لپاره به يې وخت پيدا كړی نه وي، نو ځكه به معذوره ګڼل كيږي تر دې چي خبره سي، او تر خبرېدولو وروسته به هغې ته د "خيارِ عتق" حق وركول كيږي، او د هغې سكوت او عدمِ سكوت ته به كتل كيږي.

د "خيارِ بلوغ" د باطلېدلو صورتونه

ثُمَّ خِيَارُ الْبِكْرِ يَبْطُلُ بِالسُّكُوتِ بيا د باكرې خيار په چوپېدلو سره باطليږي وَلَا يَبْطُلُ خِيَارُ الْغُلَامِ او د هلک خيار [تر هغه وخته] نه باطليږي مَا لَمْ يَقُلْ رَضِيتُ تر څو چي نه ووايي: رَضِيتُ ازه په دې نكاح راضي يم] أَوْ يَجِيءُ مِنْهُ مَا يُعْلَمُ أَنَّهُ رِضًا يا [تر څو چي] د هغه له طرفه يو داسي شی [إقدام] واقع نه سي

چي له هغه څخه رضاء معلومه سي [چي هلک راضي دی] وَكَذٰلِكَ الْجَارِيَةُ إِذَا دَخَلَ بِهَا الزَّوْجُ قَبْلَ الْبُلُوغِ او همدارنګه د هغه [ثيبه] نجلۍ [خيار باطليږي] کله چي تر بلوغ مخکي خاوند په هغې دخول کړی وي اِعْتِبَارًا لِهٰذِهِ الْحَالَةِ بِحَالَةِ ابْتِدَاءِ النِّكَاحِ په قياسولو سره د دې حالت د نکاح د شروع پر حالت باندي وَخِيَارُ الْبُلُوغِ فِي حَقِّ الْبِكْرِ لَا يَمْتَدُّ إِلٰى آخِرِ الْمَجْلِسِ او "خيار بلوغ" د باکرې په حق کي د مجلس تر آخره پوري نه اوږديږي وَلَا يَبْطُلُ بِالْقِيَامِ فِي حَقِّ الثَّيِّبِ وَالْغُلَامِ او د ثيبې او هلک په حق کي [له مجلس څخه] په ولاړيدلو سره نه باطليږي لِأَنَّهُ مَا ثَبَتَ بِإِثْبَاتِ الزَّوْجِ ځکه چي "خيارِ بلوغ" نه دی ثابت سوی د خاوند په ثابتولو سره بَلْ لِتَوَهُّمِ الْخَلَلِ بلکي د خلل [او ضرر] د وهم په وجه [ثابت سوی دی] فَإِنَّمَا يَبْطُلُ بِالرِّضَا نو ځکه به هغه په رضامندۍ سره باطليږي غَيْرَ أَنَّ سُكُوتَ الْبِكْرِ رِضَا خو د باکرې سکوت [هم] رضامندي ده بِخِلَافِ خِيَارِ الْعِتْقِ په خلاف د "خيارِ عتق" لِأَنَّهُ ثَبَتَ بِإِثْبَاتِ الْمَوْلٰى ځکه چي "خيارِ عتق" د مالک په ثابتولو سره ثابت سوی دی وَهُوَ الْإِعْتَاقُ او هغه آزادول دي [يعني د مالک په آزادولو سره د مينځي لپاره خيارِ عتق ثابت سوی دی] فَيُعْتَبَرُ فِيهِ الْمَجْلِسُ نو ځکه به په هغه کي د مجلس اعتبار کيږي كَمَا فِي خِيَارِ الْمُخَيَّرَةِ لکه څرنګه چي د مُخيّرې ښځي په اختيار کي [د مجلس اعتبار کيږي].

اللغات: ﴿غُلَام﴾ هلک، ځوان، جمع: غِلْمَان، ﴿جَارِيَة﴾ نجلۍ (انجلۍ، جلۍ)، مينځه، جمع: جَارِيَات، ﴿لَا يَمْتَدّ﴾ د افتعال نفي صيغه ده: اوږديدل، کشيدل، (غوړيدل).

تشريح: تر دې مخکي کي چي کوم دا خبره سوه: "وَلِهٰذَا يَشْمُلُ الذَّكَرَ وَالْأُنْثٰى" (چي خيارِ بلوغ مذکر او مؤنث (نر او ښځي) دواړو ته حاصليږي) په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله پر هغه خبري درې مسئلې متفرع کوي:

(۱)... اوله مسئله دا ده که باکرې نجلۍ (صغيرې) ته تر بلوغ وروسته د نکاح خبر ورسيږي چي زما نکاح د فلانکي سره سوې ده، نو په کوم مجلس کي چي نجلۍ په دې خبره سي، که په هغه مجلس کي چپه سي او سکوت اختيار کړي، نو دا سکوت به د هغې له طرفه رضامندي او اجازه ګڼل کيږي، او خيارِ بلوغ به يې ساقطيږي. (۲)... دويمه مسئله دا ده که هلک (صغير) ته تر بلوغ وروسته د نکاح خبر ورسيږي چي زما نکاح د فلانۍ نجلۍ سره سوې ده، نو د هغه په سکوت او چوپيدلو سره به خيارِ

بلوغ نه ساقطيږي، د هغه خيارِ بلوغ به هغه وخت ساقطيږي کله چې په خوله سره ووايي "رَضِيْتُ" (يعني چې زه په دغه نکاح راضي يم) يا يو داسې إقدام وکړي چې په هغه سره د ده رضامندي ښکاره سي، مثلاً ښځې ته مهر ورکړي يا خلکو ته د ډوډۍ دعوت ورکړي يا مثلاً د ښځې سره جماع وکړي. لېکن که هغه په خوله سره يا په يو إقدام سره خپله رضامندي ښکاره نه کړي، نو د هغه خيارِ بلوغ به نه ختميږي، بلکې خيارِ بلوغ به يې تر اوسه پاته وي. (۳)... دريمه مسئله دا ده که يوه نابالغه نجلۍ د يو چا په نکاح کې وي او د هغه په وطي سره ثيّبه ګرځېدلې وي، او وروسته د هغه له نکاح څخه ووځي، بيا ولي د هغې نکاح په ناخبرۍ کې د بل چا سره وکړي او د نکاح خبر هغې ته تر بلوغ وروسته ورسيږي، نو په دې صورت کې به د هغې سکوت د رضامندۍ دليل نه ګڼل کيږي او فقط په سکوت سره به د هغې خيارِ بلوغ نه ساقطيږي ځکه چې هغه ثيّبه ده، بلکې خيارِ بلوغ به يې هغه وخت ساقطيږي کله چې په خوله سره ووايي چې "زه په دې نکاح راضي يم" يا يو داسې اقدام وکړي چې په هغه سره د هغې رضامندي معلومه سي، مثلاً د خاوند مهر قبول کړي يا داسې نور.

دليل: د دې ټولو مسئلو دليل قياس دی، يعني دا مسئلې د نکاح د ابتداء پر حالت باندي قياسول کيږي، يعني څرنګه چې له باکرې بالغې څخه د اجازه غوښتلو په وخت کې د هغې سکوت د رضامندۍ دليل ګڼل کيږي، همداسې به د باکرې صغيرې د خبرېدلو په وخت کې د هغې سکوت تر بلوغ وروسته د رضامندۍ دليل ګڼل کيږي. او خيارِ بلوغ به ځني ساقطيږي.

او لکه څرنګه چې له هلک او ثيبه نجلۍ څخه د اجازه غوښتلو په وخت کې د هغو سکوت د رضامندۍ دليل نه ګڼل کيږي بلکې په خوله سره به د رضامندۍ صراحت کوي، همداسې به د صغير هلک او صغيره ثيبې سکوت تر بلوغ وروسته د رضامندۍ دليل نه ګڼل کيږي او خيارِ بلوغ به يې نه ساقطيږي، بلکې هغوی به په خوله سره د رضامندۍ صراحت کوي يا يو داسې إقدام به کوي کوم چې پر رضامندۍ دلالت کوي.

وخيار البلوغ في حق إلخ: په دې عبارت کې يو بله مسئله بيانوي، هغه دا چې د باکرې په حق کې خيارِ بلوغ د مجلس تر آخره پوري نه پاتيږي، بلکې په کوم مجلس کې چې هغې ته د نکاح خبر ورسيږي نو په هغه مجلس کې به محض د هغې په سکوت سره د هغې خيارِ بلوغ ساقطيږي، همدارنګه که هغه مخکې په نکاح خبره وي نو په کوم مجلس کې چې هغه بالغه سي (يعني د حيض وينه ووينې)، نو د وينې تر ليدلو وروسته به محض د هغې په سکوت سره د هغې خيارِ بلوغ ساقطيږي.

لېکن د هلک او ثيّبې خيارِ بلوغ نه فقط دا چې تر مجلس تر آخره پوري پاتيږي، بلکې د مجلس تر ختمېدلو وروسته به هم د هغو خيارِ بلوغ نه ساقطيږي او تر هغه وخته به پاته وي تر څو چې په خوله سره د رضاء يا انکار صراحت نه وکړي.

لانه ما ثبت...بخلاف خیار العتق إلخ: په دې سره د پورتنۍ مسئلې عقلي دلیل بیانوي، او د دلیل په ضمن کې دوې قاعدې هم بیانوي، تاسو اول په قاعدو ځان پوه کړئ! ځکه چې دا عبارت څه مغلق دی، تر قاعدو وروسته به د دلیل تشریح وسي: (١) اوله قاعده دا ده چې که د نکاح ماتولو اختیار یو چا ته په خپله حاصل نه وي، بلکې د بل چا په ورکولو ورته حاصل سي، نو داسې اختیار فقط د مجلس تر آخره پورې پاتېږي، تر مجلس وروسته ساقطېږي، او که په مجلس کې دننه له داسې اختیار څخه اعراض وسي، نو په مجلس کې دننه هم ساقطېږي. ① د دې اول مثال دا دی چې مثلاً یوه مینځه د مالک په نکاح کې وي او بیا مالک هغه آزاده کړي، نو دا تاسې ته معلومه ده چې تر آزادېدلو وروسته هغې ته خیارِ عتق حاصلېږي (یعنې د نکاح ماتولو اختیار ورته حاصلېږي)، نو څرنګه چې دغه خیارِ عتق بل چا یعنې مالک ورکړی دی (ځکه چې هغه آزاده کړه)، نو ځکه به دا اختیار فقط د مجلس تر آخره پاته وي، که په مجلس کې دننه هغه نکاح ماته او فسخ کړي نو فسخ کول به یې صحیح وي، لېکن که مجلس ختم سي، نو بیا به د هغې دغه اختیار ختمېږي او ساقطېږي. ② دویم مثال دا دی که خاوند ښځې ته د طلاق اختیار ورکړي (یعنې "إِخْتَارِي نَفْسَكِ" ورته ووېل)، نو څرنګه چې دغه اختیار بل چا یعنې خاوند ورکړی دی او په خپله هغې ته نه دی حاصل سوی، نو ځکه به دا اختیار تر همدغه مجلس پورې پاته وي، تر مجلس وروسته به هغې ته د طلاق اختیار نه وي.

(٢) دویمه قاعده دا ده چې کوم اختیار په خپله یو چا ته حاصل وي، د بل چا په ورکولو ورته حاصل نه وي، نو هغه د مجلس سره نه خاص کیږي، بلکې تر مجلس وروسته هم پاتېږي، لکه "خیارِ بلوغ" چې د بل چا په ورکولو سره نه حاصلېږي، بلکې "د ضرر د وهم" دلیرې کولو لپاره په خپله حاصلېږي (د ضرر له وهم څخه مراد دغه وهم دی چې شاید ولي به غلط او نامناسبه ځای نکاح کړې وي، نو د دې نقصان دلیرې کولو لپاره "اختیارِ بلوغ" په خپله حاصلېږي)، نو په دې وجه به دغه اختیار تر مجلس وروسته هم پاته وي.

دلیل: اوس د دلیل تشریح دا ده چې ثَیِّبې ښځې ته خیارِ بلوغ د خاوند په ثابتولو او ورکولو سره نه دی حاصل سوی (همدارنګه هلک ته هم د بل چا په ورکولو سره نه دی حاصل سوی)، بلکې د دې وهم په وجه دوی ته خیارِ بلوغ حاصل دی چې شاید ولي به د دوی نکاح غلط ځای کړې وي او خلل به پکښې واقع سوی وي، نو ګواکې دغه اختیار "خیارِ بلوغ" دوی ته په خپله حاصل سوی او ثابت سوی دی، نو ځکه به تر مجلس وروسته هم اختیار ورته حاصل وي، او تر څو چې په خوله "رَضِيتُ" نه وواېي، تر هغه وخته به یې اختیار نه ساقطېږي، او باکرې ته هم د بل چا په ثابتولو او ورکولو سره خیارِ بلوغ نه دی حاصل سوی، بلکې د پورتني وهم په وجه ورته حاصل دی، خو څرنګه

چې د باکرې سکوت د رضامندۍ دلیل دی، نو په دې وجه که هغه په کوم مجلس کې په نکاح خبره سي او تر خبرېدلو وروسته محض ساکته او خاموشه سي، نو په هغه مجلس کې دننه د هغې خیارِ بلوغ ساقطیږي، او تر مجلس وروسته به هغې ته د خیارِ بلوغ هیڅ حق حاصل نه وي، او هلک او ثیبې ته به تر مجلس وروسته هم د خیارِ بلوغ حق حاصل وي تر هغه وخته پوري کله چې په خوله سره خپله رضامندي ښکاره کړي.

بخلاف خیار العتق إلخ: په دې عبارت کې اوله قاعده او د اولي قاعدې اول مثال بیان سوی دی، یعني که یو چا ته بل څوک اختیار ورکړي یعني د بل چا په ورکولو سره اختیار ورته حاصل سي، نو هغه اختیار فقط د مجلس تر آخره پوري پاتیږي، څرنګه چې مینځې ته هم خیارِ عتق مالک ورکړی دی، نو ځکه به دغه اختیار "خیارِ عتق" فقط تر مجلس پوري محدود وي، تر مجلس وروسته به هغې ته "خیارِ عتق" حاصل نه وي.

کمافي خیار إلخ: په دې عبارت کې دویم مثال بیان سوی دی، چې که خاوند ښځې ته د طلاق اختیار ورکړی، نو څرنګه چې دغه اختیار ښځې ته د بل چا (یعني د خاوند) په ورکولو سره حاصل دی، نو ځکه به دا اختیار فقط د مجلس تر آخره پوري پاته وي، تر مجلس وروسته به هغې ته د طلاق اختیار نه وي.

په "خیارِ بلوغ" سره نکاح فسخ کول طلاق نه شمارل کیږي

ثُمَّ الْفُرْقَةُ بِخِيَارِ الْبُلُوغِ لَيْسَتْ بِطَلَاقٍ بیا په "خیارِ بلوغ" سره جلا کېدل [یعني په خیارِ بلوغ سره نکاح ماتول] طلاق نه دی لِأَنَّهُ يَصِحُّ مِنَ الْأُنْثَى ځکه چې دا فُرقت د ښځې له طرفه [هم] صحیح کیږي وَلَا طَلَاقَ إِلَيْهَا حال دا چې ښځې ته د طلاق اختیار نسته وَكَذَا بِخِيَارِ الْعِتْقِ لِمَا بَيَّنَّا همدارنګه په "خیارِ عتق" سره جلا کېدل [هم طلاق نه دی] د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی بِخِلَافِ الْمُخَيَّرَةِ په خلاف د مخیّرې ښځې لِأَنَّ الزَّوْجَ هُوَ الَّذِيْ مَلَّكَهَا ځکه چې هغه [خپل] خاوند [د طلاق] مالکه کړې ده وَهُوَ مَالِكٌ لِلطَّلَاقِ او خاوند د طلاق مالک دی [یعني خاوند ته د طلاق ورکولو ملکیت حاصل]

اللغات: ﴿فُرْقَةٌ﴾ جلا والی، جلا کېدل (فُرقت)، بېلېدل، بیلتون، ﴿مَلَّکَ﴾ د تفعیل ماضي ده: یو څوک د یو شي مالک جوړول، مالک کول.

تشریح: د مسئلې تر صورت مخکې د طلاق او فسخ نکاح په مطلب ځان پوه کړئ! د طلاق مطلب دا دی چې د خاوند او ښځې په مینځ کې نکاح وسي او تر هغه وروسته فُرقت او طلاق واقع سي، او د

فسخ نکاح (نکاح ماتولو) مطلب دا دی چې ګواکې دوی په مینځ کې بالکل له شروع څخه نکاح سوې نه ده.

صورت د مسئلې: دا دی که له پلار او نیکه څخه بغیر بل ولي د نجلۍ نکاح په کوچنیوالي کې د یو هلک سره کړې وي چې د هغه په وجه نجلۍ ته خیارِ بلوغ حاصل وي، او تر بلوغ وروسته هغه نجلۍ د خیارِ بلوغ په وجه نکاح ماته کړي (فسخ کړي)، نو دا ماتول به طلاق نه شمارل کیږي (یعني دا به نه ویل کیږي چې نجلۍ طلاق واخیستی، بلکې دا به ویل کیږي چې د هلک سره د هغې نکاح بالکل سوې نه ده).

دلیل دا دی چې څرنګه د خیارِ بلوغ په وجه نکاح ماتول او فُرقت اختیارول د نر له طرفه ثابتیدای سي همدارنګه د ښځې له طرفه هم ثابتیدای سي، او که دا ماتول طلاق وشمارل سي، نو د ښځې له طرفه به طلاق واقع سي او دا بالکل صحیح نه دي ځکه چې شریعت په هیڅ ځای کې هم ښځې ته د طلاق واقع کولو اختیار نه دي ورکړی، نو ځکه به دا طلاق نه شمارل کیږي بلکې فسخ نکاح به شمارل کیږي.

څرنګه چې د خیارِ بلوغ په وجه نکاح ماتول طلاق نه دی، نو د دې فایده او نتیجه په دوو صورتونو کې ښکاره کیږي:

①... اول دا چې که تر دخول مخکې نکاح ماته کړی سي (فسخ کړی سي)، نو پر خاوند هیڅ شی نه واجبیږي، که چیري دا ماتول طلاق وای، نو نیم مهر به واجبیدای، ځکه چې تر دخول مخکې په طلاق واقع کیدلو سره پر خاوند نیم مهر واجبیږي.

②... دویم دا چې که تر نکاح ماتولو (فسخ کولو) وروسته ښځه او خاوند بیا نکاح سره وکړي، نو تر دویمې نکاح وروسته به خاوند د دریو طلاقو مالک وي (ځکه چې د فسخ کولو او ماتولو مطلب دا دی چې مخکې بالکل نکاح نسوې نه ده)، که چیري دا ماتول طلاق وای، نو تر دویمې نکاح وروسته به خاوند د دوو طلاقو مالک وای، یعني ښځه به فقط په دوو طلاقو سره مغلظه ګرځیدای ځکه چې یو طلاق مخکې واقع سوی دی. نو په دې دوو نتیجو کې دا خبره څرګنده سوه چې دا ماتول طلاق نه دي بلکې فسخِ نکاح دي.

وكذا بخيار العتق: همدارنګه که د خیارِ عتق په وجه مینځه نکاح ماته کړي، نو دا ماتول به هم فسخ نکاح وي طلاق به نه وي، د مخکني دلیل په وجه، یعني که دا طلاق وشمارل سي، نو د ښځې له طرفه به طلاق واقع سي او دا بالکل صحیح نه دي.

بخلاف المخيرة إلخ: كومي ښځي ته چي خاوند د طلاق اختيار ور كړى وي هغې ته "مُخَيَّرَة" وايي. كه مُخيره ښځه ځان ته طلاق ور كړي، نو دا به طلاق شمارل كيږي، فسخ به نه شمارل كيږي؛ دليل دا دى چي دا طلاق كه څه هم ظاهراً د ښځي له طرفه دى. خو په حقيقت كي د خاوند له طرفه دى. ځكه چي د طلاق اختيار او ملكيت هغې ته خاوند ور كړى دى. نو ګواكي طلاق د خاوند له طرفه واقع سو. نو ځكه به دا طلاق شمارل كيږي.

په "خيارِ بلوغ" كي د توارث مسئله

وَإِنْ مَاتَ أَحَدُهُمَا قَبْلَ الْبُلُوغِ او كه مړ سي يو له خاوند او ښځي څخه مخكي تر بلوغ **وَرِثَهُ الْآخَرُ** نو بل به د هغه وارث كيږي **وَكَذَا إِذَا مَاتَ بَعْدَ الْبُلُوغِ قَبْلَ التَّفْرِيقِ** او همدارنګه [دا بل به وارث كيږي] كله چي يو مړ سي تر بلوغ وروسته [د قاضي] له تفريق [جلا كولو] څخه مخكي **لِأَنَّ أَصْلَ الْعَقْدِ صَحِيْحٌ** ځكه چي أصل عقد [د نكاح] صحيح دى **وَالْمِلْكُ الثَّابِتُ بِهِ** او ملكيت [د بضع] كوم چي په دغه أصل عقد سره ثابت دى **انْتَهٰى بِالْمَوْتِ** هغه په مرګ سره انتهاء ته ورسېدى [يعني په مرګ سره نور مضبوط سو، نو ځكه به وارث كيږي] **بِخِلَافِ مُبَاشَرَةِ الْفُضُولِيِّ** په خلاف د فضولي د [نكاح] كولو **إِذَا مَاتَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ قَبْلَ الْإِجَازَةِ** كله چي يو له خاوند او ښځي څخه مړ سي مخكي تر اجازه وركولو [نو دا بل به د هغه مړه نه وارث كيږي] **لِأَنَّ النِّكَاحَ ثَمَّةَ مَوْقُوفٌ** ځكه چي نكاح هلته [يعني د فضولي په صورت كي] موقوفه ده [د خاوند او ښځي پر اجازه] **فَيَبْطُلُ بِالْمَوْتِ** نو ځكه به په مرګ سره باطليږي **وَهٰهُنَا نَافِذٌ** او دلته [په اوله مسئله كي] نكاح نافذه [او ثابته] ده **فَيَتَقَرَّرُ بِهِ** نو ځكه به په مرګ سره [نوره] ثابتيږي.

اللغات: ﴿تَفْرِيق﴾ د تفعيل مصدر دى: جلا كول، بېلول، د ښځي او خاوند تر مينځ فُرقت را وستل. ﴿إِنْتَهٰى﴾ انتهاء ته رسېدل، او كه په صِله كي يې "عَنْ" رسي، نو معنىٰ يې د "منع كېدلو" راځي. ﴿ثَمَّةَ﴾ هلته.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه له پلار او نيكه څخه بغير بل ولي په كوچنيوالي كي د نجلۍ نكاح ديو هلك سره كړې وي او هغې ته خيارِ بلوغ حاصل وي. او نابېره هلك يا نجلۍ تر بلوغ مخكي مړه سي. يا تر بلوغ وروسته د قاضي تر تفريق مخكي يو مړ سي. نو كوم يو چي پاته سي هغه د مړه وارث كيږي. يعني كه نجلۍ مړه سي نو هلك د هغې وارث كيږي. او كه هلك مړ سي نو نجلۍ د هغه

وارثه کیږي: دلیل دا دی چې د دوی أصل عقد (یعني أصل نکاح) خو صحیح وه او د أصل نکاح په وجه چې کوم ملکیت د دوی په خپل مینځ کې یو پر بله ثابت وو، مرګ هغه ملکیت انتهاء ورسوی یعني نور یې مستحکم او مضبوط کړی، ځکه چې تر مرګ وروسته د نکاح ماتېدلو امکان بالکل ختم سو. ("إِنْتَهٰى بِالْمَوْتِ": د دې جملې مطلب دا دی چې په مرګ سره هغه [د نکاح] ملکیت، مستحکم او کامل سو. لکه موږ چې په پښتو کې هم وایو چې فلانکی سړی په دې کار کې انتهاء ته رسېدلی دی یعني ښه پکښې مستحکم او کامل دی).

بخلاف مباشرة الخ: فضولي هغه سړي ته وايي کوم چې نه ولي وي او نه اجازه ورکول سوې وي (له همدې کبله هغه ته فضولي وايي ځکه چې هغه يو فضول او زائد سړی وي، نه ولي وي او نه مُجاز وي)، نو که يو فضولي د کوچني هلک او نجلۍ نکاح سره کړې وي، نو ښکاره خبره ده چې تر بلوغ وروسته دغه نکاح د هلک او نجلۍ پر اجازه موقوفه ده، لېکن که تر اجازه ورکولو مخکې هلک يا نجلۍ مړه سي، نو يو به د بل نه وارث کيږي؛ دليل دا دی چې د فضولي نکاح د خاوند او ښځې (هلک او نجلۍ) دواړو پر اجازه موقوفه ده (يعني که دواړه اجازه ورکړي نو بيا د هغه نکاح نافذيږي او لازميږي، کنې باطليږي)، او څرنګه چې دلته يو له اجازه ورکولو څخه بغير مړ سوی دی نو ځکه نکاح باطليږي، او کله چې نکاح باطليږي، نو وراثت به هم نه پکښې جاري کيږي.

وههنا نافذ الخ: له دې څخه مراد مخکنی صورت (اوله مسئله) ده يعني کله چې يې د بل ولي په کوچينوالي کې د هلک او نجلۍ نکاح کړې وي، نو د هغه نکاح ثابته او نافذ ده، موقوفه نه ده، نو ځکه به د يوه په مرګ سره نوره ثابتيږي او مضبوطيږي، او وراثت به پکښې جاري کيږي.

د غلام، هلک او لېوني د ولايت حکم

قَالَ: وَلَا وِلَايَةَ لِعَبْدٍ فرمايي: چې د غلام لپاره ولايت نسته وَلَا صَغِيرٍ وَلَا مَجْنُونٍ او نه د کوچني [هلک] او لېوني لپاره ولايت سته لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُمْ عَلٰى أَنْفُسِهِمْ ځکه چې دوی ته پر خپلو ځانو [هم] ولايت نسته فَأَوْلٰى أَنْ لَا يَثْبُتَ عَلٰى غَيْرِهِمْ نو زياته غوره دا ده چې پر نورو يې [هم] ولايت ثابت نه سي وَلِأَنَّ هٰذِهٖ وِلَايَةٌ نَظَرِيَّةٌ او ځکه چې دغه [د نکاح] ولايت پر شفقت [او مصلحت] مبني دی وَلَا نَظَرَ فِي التَّفْوِيْضِ إِلٰى هٰؤُلَاءِ او دوی ته د ولايت په سپارلو کې شفقت [او مصلحت] نسته وَلَا وِلَايَةَ لِكَافِرٍ عَلٰى مُسْلِمٍ او نه يو کافر لره پر مسلمان ولايت سته لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى ځکه چې الله تعالىٰ فرمايلي دي وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا [النساء: ۱۴۱] او هيڅکله به نه وګرځوي الله ﷻ د

کافرانو لپاره پر مؤمنانو هيڅ لاره وَلِهٰذَا لَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ عَلَيْهِ له همدې وجهې د کافر ګواهي د مسلمان په خلاف نه قبليږي وَلَا يَتَوَارَثَانِ او نه يو د بل وارث کېدلای سي أَمَّا الْكَافِرُ فَيَثْبُتُ لَهُ وِلَايَةُ الْإِنْكَاحِ عَلَى وَلَدِهِ الْكَافِرِ کوم چي کافر دی نو د هغه لپاره د خپل کافر زوی د نکاح کولو ولايت ثابت دی لِقَوْلِهِ تَعَالَى ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ [الأنفال: ۷۳] او کافران ځيني د ځينو وليان [او دوستان] دي وَلِهٰذَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ عَلَيْهِ له همدې وجهې د کافر [پلار] ګواهي د کافر [زوی] په خلاف مقبوله ده [همدارنګه ديوه کافر ګواهي د بل کافر په خلاف مقبوله ده] وَيَجْرِيْ بَيْنَهُمَا التَّوَارُثُ او [همدارنګه] د دوی دواړو په مينځ کي وراثت جاري کيږي.

اللغات: ﴿نَظَرِيَّة﴾ پر شفقت بناء، پر مصلحت بناء، (شارحينو يې همدغه دوې معناوي کړې دي)، ﴿لَا يَتَوَارَثَان﴾ د تفاعل نفي صيغه ده: يو د بل وارث کېدل.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي مختصراً په دې خبره ځان پوه کړئ! چي ولايت پر دوه قسمه دی: ① ولايت متعديه، ② ولايت قاصره، د ولايت قاصره مطلب دا دی چي انسان ته فقط پر خپل ځان ولايت حاصل وي، او د ولايت متعديه مطلب دا دی چي انسان ته له خپل ځان څخه بغير پر نورو هم ولايت حاصل وي، ولايت قاصره أصل دی او ولايت متعديه د هغه فرع ده، او قاعده دا ده چي تر څو أصل ثابت سوی نه وي، تر هغه وخته فرع نه ثابتيږي.

اوس د عبارت مطلب دا دی چي غلام، صغير او مجنون ته پر بل چا ولايت (متعديه) حاصل نه دی يعني دا ولايت نه لري چي د بل چا نکاح ورو کړي؛ دليل دا دی چي دوی ته پر خپل ځان ولايت (قاصره) حاصل نه دی کوم چي أصل دی، نو پر نورو به ولايت (متعديه) څنګه ورته حاصل سي کوم چي فرع ده، ځکه کله چي بالکل أصل موجود نه وي، نو فرع به څنګه موجوده سي.

دويم دليل دا دی چي په نکاح کي د ولايت مدار پر شفقت او مصلحت دی، يعني د نکاح په ولي کي شفقت وي او چيري چي مصلحت او ښېګڼه ويني هلته د هلک يا نجلۍ نکاح کوي، او په غلام، کوچني او لېوني کي خو هيڅ شفقت او مصلحت نسته، ځکه کوچنی او لېونی خو بالکل مصلحت او شفقت نه لري، او غلام هم ټوله عمر په خدمت مشغوله وي او دې ته خلاص نه وي چي د مصلحت او شفقت ځای تلاش کړي.

ولا ولاية إلخ: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي هيڅ کافر ته هم پر مسلمان د ولايت حق نسته: ځکه چي قرآن کريم په واضحه توګه دا اعلان کړی دی: "وَلَنْ يَّجْعَلَ اللهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

سَبِيۡلًا". له همدې وجهې د مسلمان په خلاف د کافر ګواهي نه قبلیږي، همدارنګه نه کافر د مسلمان وارث کېدای سي او نه مسلمان د کافر وارث کېدای سي.

لېکن کافر ته پر خپل کافر زوی د نکاح ورکولو ولایت حاصل دی، او د خپل زوی په خلاف د هغه ګواهي هم معتبره او مقبوله ده، او یو د بل وارث کېدلای هم سي، ځکه چي قرآن کریم په دې آیت "وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ" سره د دوی په مینځ کي ولایت ثابت کړی دی، او پورتني درې سره شیان (یعني د نکاح ولایت، ګواهي او وراثت) د ولایت سره تعلق لري، نو ځکه به د کافر پلار او کافر زوی په حق کي او د یوه کافر او بل کافر په حق کي دغه درې سره شیان ثابت وي، او په دې کي د شریعت له طرفه هیڅ منع نسته.

د غیرِ عصباتو د ولایت حکم (او په دې هکله د فقهاؤ اختلاف)

وَلِغَيْرِ الْعَصَبَاتِ مِنَ الْأَقَارِبِ وِلَايَةُ التَّزْوِيجِ او په قریبانو کي د غیرِ عصباتو لپاره [هم] د نکاح ولایت ثابت دی عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ په نېز د امام صاحب رَحِمَهُ الله مَعْنَاهُ: عِنْدَ عَدَمِ الْعَصَبَاتِ د دې مطلب دا دی: چي [کله] عصبات نه وي [او که عصبات وي، نو بیا غیرِ عصباتو لره ولایت نه ثابتیږي] وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی [یعني د امام صاحب مسلک پر استحسان مبني دی، یعني استحسان هم د دې تقاضا کوي] وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا تَثْبُتُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي: چي [په قریبانو کي د غیرِ عصباتو لپاره] ولایت نه ثابتیږي وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا قیاس دی وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه یو روایت [هم] دی وَقَوْلُ أَبِي يُوسُفَ فِي ذَلِكَ مُضْطَرِبٌ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله قول په دې باره کي متردّد [نا ځرګند] دی وَالْأَشْهَرُ أَنَّهُ مَعَ مُحَمَّدٍ او مشهوره دا ده چي هغه د امام محمد رَحِمَهُ الله سره دی لَهُمَا مَا رَوَيْنَا د صاحبینو دلیل هغه حدیث دی کوم چي موږ روایت کړی [یعني: النِّكَاحُ إِلَى الْعَصَبَاتِ] وَلِأَنَّ الْوِلَايَةَ إِنَّمَا تَثْبُتُ او په دې وجه [هم] چي ولایت [ځکه] ثابتیږي صَوْنًا لِلْقَرَابَةِ عَنْ نِسْبَةِ غَيْرِ الْكُفْءِ تا چي قرابت محفوظه سي د غیر کفو له نسبت څخه [یعني د

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، وأبو يوسف رَحِمَهُ الله معه على الأصح، كما ذكر في فتح القدير (ج:٣، ص:١٨٢)، وقال الاستاذ المفتي غلام قادر النعماني: قول الامام استحسان، والاستحسان مقدم في الترجيح على القياس. [القول الراجح ج:١، ص:٢٥٨]

ولايت د ثبوت مقصد دا دی چي ولي خپل نسب او خپل قرابت له غيرِ کفو انسان څخه وساتي] وَإِلَى الْعَصَبَاتِ الصِّيَانَةُ او حفاظت [فقط] عصباتو لره دی [يعني له دغه نسبت څخه فقط عصبات خپل قرابت ساتي. ځکه چي د دې پوره جذبه په عصباتو کي ستهٔ] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْوِلَايَةَ نَظَرِيَّةٌ د امام صاحب دليل دا دی چي ولايت پر شفقت [او مصلحت] مبني دي وَالنَّظَرُ يَتَحَقَّقُ بِالتَّفْوِيضِ إِلَى مَنْ او شفقت وهغه کس ته د ولايت په سپارلو سره ثابتيږي هُوَ الْمُخْتَصُّ بِالْقَرَابَةِ الْبَاعِثَةِ عَلَى الشَّفَقَةِ چي هغه کس د داسي قرابت سره خاص وي کوم چي پر شفقت هڅونکی وي وَمَنْ لَا وَلِيَّ لَهَا او د کومي [آزادي کړی سوي] مينځي چي ولي نه وي يَعْنِي الْعَصَبَةَ مِنْ جِهَةِ الْقَرَابَةِ يعني عصبه د قرابت له لوري إِذَا زَوَّجَهَا مَوْلَاهَا الَّذِي أَعْتَقَهَا که چيري هغه مالک د هغې نکاح وکړي چي هغه دا مينځه آزاده کړې وي جَازَ نو اد هغه] نکاح جائز ده لِأَنَّهُ آخِرُ الْعَصَبَاتِ ځکه چي هغه آخر د عصباتو دی وَإِذَا عُدِمَ الْأَوْلِيَاءُ او کله چي [توله] وليان نيستي سي [مثلاً د يوې ښځي هيڅ ولي هم نه وي] فَالْوِلَايَةُ إِلَى الْإِمَامِ وَالْحَاكِمِ نو [په داسي صورت کي] به ولايت امام [خليفه] او حاکم لره وي لِقَوْلِهِ ﷺ [1] ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي اَلسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ چي باچا [امامُ المسلمين] ولي دی د هغه کس چي هغه لره ولي نه وي.

اللغات: ﴿عَصَبَة﴾ ذوی الفروضو ته له ميراث ورکولو څخه وروسته د پاته سوي ميراث وارثان (يعني تر ذوی الفروضو وروسته چي نور کوم قريبان د ميراث مستحق دي، هغو ته عصبه (عصبات) وايي). ﴿تَزْوِيج﴾ نکاح تړل، نکاح ورکول، واده ورکول. ﴿مُضْطَرِب﴾ د افتعال اسم مفعول دی: متردّد، شکمن. نا څرګند. ﴿صَوْن﴾ او صِيَانَة: د نصر مصدر دی: ساتل، حفاظت کول. خوندي کول. ﴿الْبَاعِثَة﴾ د فتح مؤنث اسم فاعل دی: هڅونکی، پارونکی، جذبه ورکونکی. ﴿سُلْطَان﴾ باچا، جمع: سَلَاطِيْن.

تشريح: په دې عبارت کي درې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده که د يوې ښځي عصبي قريبان (عصبات) نه وي، يا يې عصبات وي، خو ځای او درک يې معلوم نه وي، نو په داسي صورت کي به د کوم کس لپاره ولايت ثابتيږي. يعني څوک به د دې ښځي ولايت کوي؟

---

[1] تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب النكاح، باب في الولي، حديث رقم: ۲۰۸۳.

په دې باره کې د امامانو اختلاف دی، امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې صورت کې به له عصباتو څخه بغیر د ښځې نورو قريبانو لره ولايت ثابتيږي، مثلاً ماما، خاله، امه او داسې نور، د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک د استحسان مطابق دی، لیکن امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې له عصباتو څخه بغير نورو قريبانو لره به ولايت نه ثابتيږي، همدا قياس دی، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مسلک په دې باره کې مذبذب او ناڅرګند دی، خو مشهوره دا ده چې هغه هم د امام محمد رَحِمَهُ الله سره دی.

د صاحبینو دلیل: مخکنی حدیث دی: "اَلنِّكَاحُ إِلَى العَصَبَاتِ" (يعني د نکاح ولايت عصباتو لره دی)، د "النكاح" او د "العصبات" الف لام جنسي دی، مطلب يې دا دی چې جنس د نکاح و جنس د عصباتو لره منسوب دی او له عصباتو څخه بغير د بل قريب لپاره په نکاح کې دخل کول جائز نه دي.

د صاحبینو عقلي دلیل دا دی چې ولايت د قرابت او خاندان (نسب) د حفاظت لپاره وي، (يعني ولي د دې لپاره ولايت کوي چې زما په خاندان کې غيرِ کفو انسان داخل نه سي)، او دا جذبه فقط په عصباتو کې سته چې زموږ په خاندان کې غير کفو کس داخل نه سي، له عصباتو څخه بغير بل قريب په دې خاص پروا نه کوي، نو ځکه به ولايت فقط عصباتو لره حاصل وي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چې د ولايت مدار پر مصلحت (ښېګڼي) او شفقت دی، او شفقت په هر هغه قريب کې موجود وي چې په هغه کې داسې قرابت وي کوم چې د شفقت باعث او مُحرّک وي، نو په کوم چا کې چې داسې قرابت پيدا سي، هغه ته به ولايت حاصل وي او د نکاح کولو حق به لري، برابره ده هغه که عصبه وي او که غيرِ عصبه وي.

او د صاحبینو د حدیث جواب دا دی چې صحیح ده! په دې حدیث کې الف لام د جنس لپاره دی، خو د حديث شريف مطلب هغه نه دی کوم چې ستاسو په نېز دی، بلکې د حديث واضح او صحيح مطلب دا دی چې د عصباتو په موجودوالي کې به بل قريب ته د نکاح ولايت حاصل نه وي، أما که عصبات موجود نه وي نو بيا به نورو قريبانو د ولايت حق حاصل وي، او موږ هم د دې قائل يو.

ومن لاولی إلخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده که د آزادي کړې سوې مینځې هيڅ ولي نه وي، نه له عصباتو څخه او نه له نورو قريبانو څخه، بيا آزادونکی مالک د هغې نکاح وکړي (يعني کوم مالک چې هغه آزاده کړې وي هغه مالک يې د نکاح ولي جوړ سي) نو دا جائز دي، ځکه که عصبه نه وي، نو په آخر کې آزادونکی مالک د غلام او مینځې عصبه ګرځي، نو کله چې هغه عصبه دی، نو د نکاح ولايت به هم هغه ته حاصل وي.

وإذا عدم الأولياء إلخ: (۳)... درېیمه مسئله دا ده که د یو ښځې هیڅ ولي نه وي، نه له عصباتو څخه او نه له نورو قریبانو څخه، یا مثلاً د مینځې آزادونکی مالک هم نه وي، نو په داسې صورت کې د هغې د نکاح ولایت حاکم او امامُ المسلمین (خلیفه) لره ثابتیږي؛ دلیل دا حدیث دی: "السُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ" (یعني کوم څوک چې هیڅ ولي نه لري، د هغه ولي به باچا [امامُ المسلمین] وي). په عبارت کې له حاکم څخه مراد قاضي یا د امامُ المسلمین نائب دی، خو قاضي ته هغه وخت د نکاح ولایت ثابتیږي کله چې امامُ المسلمین د دې اختیار ورکړی وي.

د نږدې ولي د غائبوالي په وخت کې د لیرې لپاره د ولایت حکم

فَإِذَا غَابَ الْوَلِيُّ الْأَقْرَبُ غَيْبَةً مُنْقَطِعَةً نو کله چې غائب سي نږدې ولي د غیبتِ منقطعه په توګه جَازَ لِمَنْ هُوَ أَبْعَدُ مِنْهُ أَنْ يُزَوِّجَ نو جائز دي د لیرې ولي لپاره چې [د صغیر یا صغیرې] نکاح وکړي وَقَالَ زُفَرُ: لَا يَجُوزُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چې جائز نه دي لِأَنَّ وِلَايَةَ الْأَقْرَبِ قَائِمَةٌ ځکه چې د نږدې ولي ولایت [اوس هم] پاته دی لِأَنَّهَا ثَبَتَتْ حَقًّا لَهُ صِيَانَةً لِلْقَرَابَةِ ځکه چې دغه ولایت د قرابت د خوندي کولو لپاره د هغه حق ثابت سوی دی فَلَا تَبْطُلُ بِغَيْبَتِهِ نو د هغه په غائبوالي سره به نه باطلیږي وَلِهَذَا لَوْ زَوَّجَهَا حَيْثُ هُوَ همدا وجه ده که نږدې ولي هلته د ښځې نکاح وکړي چیرې هغه وي جَازَ نو جائز دي وَلَا وِلَايَةَ لِلْأَبْعَدِ مَعَ وِلَايَتِهِ او د نږدې ولي د ولایت په وخت کې لیرې ولي لره [هیڅ] ولایت نسته وَلَنَا: أَنَّ هَذِهِ وِلَايَةٌ نَظَرِيَّةٌ او زموږ دلیل دا دی: چې دا ولایت پر شفقت [او مصلحت] مبني دی وَلَيْسَ مِنَ النَّظَرِ التَّفْوِيضُ إِلَى مَنْ لَا يُنْتَفَعُ بِرَأْيِهِ او دا هیڅ شفقت [او مصلحت] نه دی چې نکاح وسپارل سي و داسې سړي ته چې د هغه له رایې څخه فایده اخیستل کېدای نه سي فَفَوَّضْنَاهُ إِلَى الْأَبْعَدِ نو ځکه موږ هغه لیرې ولي ته وسپاری وَهُوَ مُقَدَّمٌ عَلَى السُّلْطَانِ او لیرې ولي پر باچا مخکې وي كَمَا إِذَا مَاتَ الْأَقْرَبُ لکه څرنګه چې په هغه صورت کې [هم لیرې ولي مخکې وي] کله چې نږدې ولي مړ سي وَلَوْ زَوَّجَهَا حَيْثُ هُوَ فِيهِ او که نږدې ولي هلته د ښځې نکاح وکړي چیرې هغه وي مُنِعَ نو دا ممنوع دي [یعني د دې جواز موږ نه تسلیموو] وَبَعْدَ التَّسْلِيمِ نَقُولُ او تر تسلیمولو وروسته وایو [یعني که بیا هم هغه تسلیم کړو نو د هغه وجه موږ دا بیانوو] لِلْأَبْعَدِ بُعْدُ الْقَرَابَةِ وَقُرْبُ التَّدْبِيرِ

چي ليري ولي ته د قرابت ليري والى او د تدبير نژدېکت حاصل دى وَلِلْأَقْرَبِ عَكْسُهُ او نژدې ولي ته د دې برعکس ايعني د قرابت نژدېکت او د تدبير ليري والى ا حاصل دى فَنَزَلَا مَنْزِلَةَ وَلِيَّيْنِ مُتَسَاوِيَيْنِ نو ځکه انژدې او ليري ولي ا دواړه د دوو مساوي وليانو په درجه کي سول ايعني دواړه په درجه کي برابر سول ا فَأَيُّهُمَا عَقَدَ نَفَذَ لهذا په دوى کي چي هر يو عقد [د نکاح] وکړي هغه به نافذيږي وَلَا يُرَدُّ او نه به ردول کيږي.

اللغات: ﴿أَقْرَب﴾ د كرُم له باب څخه دا سمِ تفضيل صيغه ده: ډېر نژدې، ﴿غَيْبَة مُنْقَطِعَة﴾ په داسي توګه ورکېدل (غائبېدل) چي د مرګ او ژوند خبري چا ته نه وي (تفصيلي تعريف به يې په را روان عبارت کي ذکر سي). ﴿أَبْعَد﴾ دا هم د كرُم له باب څخه داسمِ تفضيل صيغه ده: ډېر ليري، ﴿صِيَانَة﴾ د نصر د باب مصدر دى: ساتل، حفاظت كول، خوندي كول، ﴿نَظَرِيَّة﴾ پر شفقت بناء، پر مصلحت بناء. ﴿تَفْوِيْض﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: سپارل.

تشريح: دا خو تاسو ته معلومه ده چي د نژدې ولي (أَقْرَب) د موجود والي په وخت کي ليري ولي (أَبْعَد) له ولايت څخه محروميږي، او ليري ولي ته هغه وخت د ولايت حق حـ صليږي کله چي نژدې ولي نه وي (لکه مخکي چي دا خبره ضمناً ذکر سوه)، د دې عبارت مسئله پر همدغه خبره متفرّع ده، د مسئلې حاصل دا دى که د صغير يا د صغيرې نژدې ولي يو خوا ته ولاړ سي او د غيبت منقطعه په توګه غائب سي، يعني هيچا ته يې هم د مرګ او ژوند خبر نه وي، نو په داسي صورت کي دَ ليري ولي لپاره د صغير يا صغيرې نکاح کول صحيح او جائز دى. لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي جائز نه دي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په داسي صورت کي باچا (امامُ المسلمين) لره د صغير يا صغيرې د نکاح کولو اجازه سته، د ليري ولي لپاره يې د هغو نکاح کول جائز نه دي.

د امام زفر دليل: دا دى چي د ولايت مقصد دا دى چي نسب او قرابت له غيرِ کفو څخه وساتل سي او دا تر ټولو مخکي د نژدې ولي حق دى، نو تر څو چي هغه ژوندى وي د هغه د ولايت حق به هم ژوندى او باقي وي. او فقط د هغه په غائبوالي سره به د هغه ولايت نه ساقطيږي، همدا وجه ده که نژدې قريب هر څومره ليري وي او هر چيري چي وي د هغه لپاره د صغير يا صغيرې نکاح کول جائز دي. نو معلومه سوه چي د نژدې ولي د غائبوالي په وخت کي هم د هغه د نکاح ولايت باقي پاته دى. نو ځکه به د هغه د غائبوالي په وخت کي ليري ولي لره د نکاح ولايت نه حاصليږي او د هغه لپاره به دا جائز نه وي چي د صغير يا صغيرې نکاح وکړي.

زموږ دليل: دا دی چې د نکاح ولايت د شفقت او مصلحت پر بناء دی يعني چې ولي په خپله رايه د شفقت او مصلحت پر بناء د صغير يا صغيرې د نکاح لپاره مناسب ځای تلاش کړي. او دا معلومه خبره ده چې کله ولي دومره ليرې او غائب وي نو نه د هغه له رايې څخه استفاده کېدای سي او نه له هغه څخه د مناسب ځای د تلاشولو اميد کېدای سي، لهذا هغه ته ولايت سپارل د شفقت او مصلحت خلاف دي، نو ځکه به مجبوراً اوس ليرې ولي ته دا حق ورکول کيږي، ځکه چې اوس هغه نژدې دی، نو هغه به د خپل مصلحت او شفقت پر بناء د نکاح بندوبست کوي.

وهو مقدم إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول رد کوي، حاصل يې دا دی چې څرنګه د نژدې ولي د مړ کېدلو په صورت کي د ليرې قريب حق د باچا له حق څخه مخکي دی، همداسي به د نژدې قريب په غائبوالي (نا موجود والي) کي هم د هغه حق د باچا تر حق مخکي وي او ولايت به هغه لره ثابت وي.

ولو زوجها إلخ: په دې سره د امام زفر رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چې موږ ستا دا خبره نه تسليموو چې "که نژدې ولي هر چيرې وي د هغه لپاره د صغير يا صغيرې نکاح کول جائز دي" بلکي زموږ رايه دا ده چې نکاح يې صحيح نه ده. لهذا دا مسئله زموږ په خلاف په دليل کي وړاندي کول مناسب نه دي. او که بيا هم موږ دغه خبره تسليم کړو چې د غائبوالي په حالت کي د هغه نکاح کول صحيح دي نو د هغه وجه دا ده چې په نژدې ولي او ليرې ولي دواړو کي يوه ښېګڼه هم سته او يوه خرابي هم سته. نو ځکه دواړه په درجه کي برابر سول. په ليرې ولي کي د بُعدِ قرابة خرابي سته (يعني قرابت يې ليرې دی) خو د قُرْبِ تَدْبِيْر ښېګڼه هم پکښې سته (يعني د حاضر والي په وجه د شفقت او مصلحت پر بناء د نکاح تدبير او مناسب ځای د نکاح بندوبست کولای سي). او په نژدې ولي کي که څه هم د قُرْبِ قرابة ښېګڼه سته خو د بُعدِ تَدْبِيْر خرابي هم پکښې سته (ځکه چې غائب دی). لهذا دواړه د يوې درجې سول. او قاعده دا ده چې کله دوه وليان په درجه کي برابر وي. نو دواړو ته به يو ډول د ولايت حق حاصل وي. يعني په دواړو کي چې هر يو نکاح وکړي د هغه نکاح به نافذيږي او نه به ردول کيږي. نو په دې وجه به غائب نژدې قريب ته د ولايت حق حاصل وي او د هغه نکاح به جائز وي (نه په هغه وجه کوم چې تاسو [امام زفر] بيان کړۀ چې اوس هم د هغه د نکاح ولايت باقي پاته دی).

د "غيبت منقطعه" تعريف

وَالْغَيْبَةُ الْمُنْقَطِعَةُ او غيبت منقطعه [دا دی] أَنْ يَكُونَ فِي بَلَدٍ لَا تَصِلُ إِلَيْهَا الْقَوَافِلُ فِي السَّنَةِ إِلَّا مَرَّةً وَاحِدَةً چي ولي په داسي ښار کي وي چي هلته په [ټوله] کال کي فقط يو وار [د مسافرو] قافلې رسيږي وَهُوَ اخْتِيَارُ الْقُدُورِيِّ او همدا [قول] د امام قدوري رَحِمَهُ الله اختيار کړی سوی دی [يعني هغه اختيار کړی دی] وَقِيلَ: أَدْنَى مُدَّةِ السَّفَرِ او ويل سوي دي: چي د سفر کمه موده [غيبت منقطعه] دی لِأَنَّهُ لَا نِهَايَةَ لِأَقْصَاهُ ځکه چي د سفر آخر لره هيڅ انتها نسته [يعني د سفر مودت پای نه لري] وَهُوَ اخْتِيَارُ بَعْضِ الْمُتَأَخِّرِينَ او دا [قول] ځيني متأخرينو اختيار کړی دی وَقِيلَ: إِذَا كَانَ بِحَالٍ يَفُوتُ الْكُفُوُ بِاسْتِطْلَاعِ رَأْيِهِ او [دا هم] ويل سوي دي: چي کله ولي په داسي حال کي وي چي د هغه د رايي په معلومولو سره کفو فوتيږي وَهٰذَا أَقْرَبُ إِلَى الْفِقْهِ او دا [قول] فقهي ته زيات نژدې دی لِأَنَّهُ لَا نَظَرَ فِي إِبْقَاءِ وِلَايَتِهِ حِينَئِذٍ ځکه چي په داسي وخت کي د هغه د ولايت په باقي ساتلو کي هيڅ شفقت [او مصلحت] نسته.

اللغات: ﴿بَلَد﴾ ښار، جمع: بِلَاد، ﴿نِهَايَة﴾ انتهاء، پای، ﴿إِسْتِطْلَاع﴾ د استفعال مصدر دی: رايه پوښتل، ديو چا رايه ځان ته معلومول.

تشريح: په مخکني عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله د "غيبت منقطعه" سره اړوند مسئله بيان کړه، په دې عبارت کي د "غيبت منقطعه" تعريف بيانوي، او په تعريف کي يې څو أقوال وړاندي کوي:

①... يو قول دا دی که ولي له خپل ښار څخه داسي ښار او وطن ته ولاړ سي چي هلته د ولي له ښار څخه په ټوله کال کي فقط يو وار قافله ځي، نو داسي تګ ته "غيبت منقطعه" وايي، امام قدوري رَحِمَهُ الله همدا قول اختيار کړی دی.

②... دويم قول دا دی چي ولي داسي ښار ته ولاړ سي چي هغه د سفر د مودې په اندازه ليري وي (د ولي له ښار څخه)، يعني ولي تقريباً اته څلوېښت (۴۸) ميله ليري اوسيږي، نو دې ته "غيبت منقطعه" وايي، ځيني متأخرينو همدا قول اختيار کړی دی، چي له هغو څخه څو دا دي: قاضي ابو علي نسفي، سعد بن معاذ، ابو عصمت مروزي، صدر الشهيد او محمد بن راز رَحِمَهُمُ الله.

③... دريم قول دا دی چي که ولي دومره ليري اوسيږي چي هلته په تګ را تګ سره او د هغه د رايي په معلومولو سره د کفو د فوتېدلو خطره وي، نو په داسي صورت کي به پر ولي د "غيبت منقطعه"

حکم کيږي، ځکه چې د ولايت مقصد شفقت او مصلحت دی يعني چې ولي مناسب ځای او د کفو سره د صغير نکاح وکړي، نو که د دومره ليرې ولي لپاره ولايت پاته (باقي) وګڼل سي. نو دغه مصلحت او شفقت به فوت سي.

صاحب د هدايې دا قول فقه او فتویٰ ته زيات نژدې ګڼلی دی، په دې کې اشاره ده چې د هغه په نيز همدا قول نيز غوره او مختار دی.

فايده: څرنګه چې په اوسني وخت کې دنيا دومره ترقي کړې ده چې انسان په يو څو ساعتونو کې د کلونو سفر کولای سي، او په يو څو دقيقو کې د ټوله دنيا سره اړيکې نيولای سي، او د موبايل، ټيليفون، انټرنيټ په ذريعه په يوه ثانيه کې هم د يو چا حال واحول او رايه پوښتلای سي، نو ځکه د اوسني زمانې مطابق دويم قول (يعني د ځينې متأخرينو قول) اختيارول زيات غوره او مناسب دي، لکه څرنګه چې صاحب د فتح القدير او علامه عيني هم دغه قول مفتیٰ به ګڼلی دی. فقط والله أعلم

د لېونۍ ښځې د ولايت د زيات حقدار بيان

وَإِذَا اجْتَمَعَ فِي الْمَجْنُونَةِ أَبُوهَا وَابْنُهَا او کله چې جمع سي د لېونۍ ښځې [د نکاح] په باره کې د هغې پلار او د هغې زوی فَالْوَلِيُّ فِي إِنْكَاحِهَا ابْنُهَا نو د هغې د نکاح کولو ولي به د هغې زوی وي فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ✿ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په قول کې وَقَالَ مُحَمَّدٌ: أَبُوهَا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هغې پلار به [ولي] وي لِأَنَّهُ أَوْفَرُ شَفَقَةً مِنَ الْابْنِ ځکه چې پلار زيات شفقت لرونکی دی تر زوی وَلَهُمَا: أَنَّ الِابْنَ هُوَ الْمُقَدَّمُ فِي الْعُصُوبَةِ او د شيخينو دليل دا دی: چې زوی په عصبه کېدو کې مخکې دی [يعني اوله عصبه زوی دی] وَهٰذِهِ الْوِلَايَةُ مَبْنِيَّةٌ عَلَيْهَا او دا [د نکاح] ولايت پر همدغه عصبه کېدلو مبني دی وَلَا مُعْتَبَرَ بِزِيَادَةِ الشَّفَقَةِ او د شفقت زياتوب لره اعتبار نسته كَأَبِي الْأُمِّ مَعَ بَعْضِ الْعَصَبَاتِ لکه د مور پلار [مورنی نيکه] د ځينې عصباتو سره [يعني لکه څرنګه چې ځينې ليرې عصبات (ليرې دا کازوی) تر مورني نيکه مخکې دی، حالانکې د مورني نيکه شفقت پر هغه زيات دی] وَاللهُ أَعْلَمُ او الله تعالیٰ [په حقيقت د حال] زيات خبر دی.

اللغات: ﴿أَوْفَرُ﴾ د ضرب د باب اسم تفضيل دی: ډېر زيات، ډېر پوره، ﴿الْعُصُوبَةِ﴾ عصبه کېدل.

✿ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۲، ص:۳۴۳)، وكذا في الخانية (ج:۱، ص:۱۶۵). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۵۹]

تشريح: د عبارت حاصل دا دی که یو مجنونه ښځه مخکې د یو چا په نکاح کې وي او له هغه څخه يې زوی هم پیدا سوی وي، وروسته د هغه له نکاح څخه ووځي، او د هغې پلار هم ژوندی وي، نو اوس د هغې د ولایت لپاره دوه خلک دي: خپل پلار او خپل زوی، نو د هغې د دویم وار د نکاح کولو ولایت به چا ته حاصل وي؟

په دې باره کې د شیخینو مسلک دا دی چې د ولایت حق د هغې زوی ته حاصل دی، او د امام محمد رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې د ولایت حق پلار ته حاصل دی.

د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل: دا دی چې په پلار کې د زوی په نسبت زيات شفقت سته، او د ولايت مدار هم پر شفقت دی، نو د شفقت د زیاتوب په خاطر به ولایت پلار ته حاصل وي، نه وزوی ته.

د شیخینو دلیل: دا دی چې دا معلومه خبره ده چې تر ټولو مخکې د ولایت حقدار عصبات دي، او په عصبوالي کې زوی تر پلار مخکې دی، یعني زوی اوله عصبه ده، همدا وجه ده که بالفرض دغه ښځه مړه سي نو د هغې د مال نصف به زوی ته ورکول کیږي او د زوی په موجودوالي کې به پلار ته فقط سُدس ورکول کیږي، نو کله چې زوی په عصبوالي کې مخکې دی، او د نکاح د ولایت اصل مدار پر عصبیّت (عصوبت) دی، نو ځکه به د نکاح د ولایت حق زوي ته حاصل وي، نه و پلار ته.

ولا معتبر الخ: د امام محمد رَحِمَهُ الله د دلیل جواب دا دی چې په ولایت کې فقط د شفقت د موجود والي اعتبار کیږي، د زیاتوب اعتبار يې نه کیږي، مثلاً که د یو ښځې مورنی نیکه موجود وي او د هغه لیري د اکا زوی (یعني د اکا د زوی، زوی) هم موجود وي، نو که څه هم د مورني نیکه شفقت تر هغه ډېر زیات دی، خو بیا به هم د نکاح په ولایت کې لیري د اکا زوی تر مورني نیکه مخکې وي، ځکه چې هغه په عصبه کې مخکې دی، نو معلومه سوه چې د نکاح په ولایت کې د شفقت د زیاتوب اعتبار نه کیږي.

د دې بل جواب دا هم کېدای سي چې د شفقت زیاتوب مو ږ هم معتبر ګڼو خو هلته چې د عصوبت سره يې تصادم او ټکر نه راځي، لیکن که شفقت او عصوبت سره ټکر سي، نو په دې صورت کې موږ عصوبت ته اعتبار ورکوو، او د شفقت زیاتوب ته اعتبار نه ورکوو. (شارح عفی عنه)



فَصْلٌ فِي الْكَفَاءَةِ

(دا) فصل په (بيان د) كفائت (مساوات) كي دی

تشريح: څرنګه چي د ولي د ولايت د جواز لپاره كفائت شرط او ضروري دی، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله د وليانو تر بيان وروسته متصلاً د كفائت حكم بيانوي.

د **كفاءة** لغوي معنیٰ ده: مساوات، برابري (سيالتوب)، او د "كفاءة في النكاح" مطلب دا دی چي خاوند او ښځه په نسب او خاندان، كسب او پيشه، دين او جمال كي دواړه يو د بل سره برابر او مساوي وي.

په نكاح كي د كفائت شرعي حيثيت

اَلْكَفَاءَةُ فِي النِّكَاحِ مُعْتَبَرَةٌ كفوه كېدل په نكاح كي معتبر دي [يعني په نكاح كي به د كُفُو اعتبار كيږي] قَالَ: ﷺ ❶ نبي كريم ﷺ فرمايلي دي أَلَا لَا يُزَوِّجُ النِّسَاءَ إِلَّا الْأَوْلِيَاءُ خبردار! د ښځو نكاح دي نه كوي مګر وليان وَلَا يُزَوَّجْنَ إِلَّا مِنَ الْأَكْفَاءِ او نه دي د ښځو نكاح كيږي مګر د كُفُو خلكو سره وَلِأَنَّ انْتِظَامَ الْمَصَالِحِ بَيْنَ الْمُتَكَافِئَيْنِ عَادَةً او په دې وجه [هم] چي په عامه توګه د مصلحتونو [او منافعو] انتظام د دوو برابرو كسانو تر مينځ وي لِأَنَّ الشَّرِيفَةَ تَأْبَى أَنْ تَكُونَ مُسْتَفْرَشَةً لِلْخَسِيسِ ځكه چي شريفه ښځه انكار كوي چي د رذيله [ټيټ او كمتره] خاوند بستره جوړه سي [او تر هغه لاندي پرېوځي] فَلَا بُدَّ مِنْ اعْتِبَارِهَا نو ځكه د كفائت اعتبار كول ضروري دی بِخِلَافِ جَانِبِهَا په خلاف د ښځي له طرفه لِأَنَّ الزَّوْجَ مُسْتَفْرِشٌ ځكه چي خاوند بستره جوړونكی دی [او پر ښځي د پاسه پرېوتونكی دی] فَلَا تَغِيظُهُ دَنَاءَةُ الْفِرَاشِ نو د بسترې رذالت [او ټيټوالی] خاوند نه په قهر كوي وَإِذَا زَوَّجَتِ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا مِنْ غَيْرِ كُفْئِهَا او كله چي ښځه د غير كفو سره خپله نكاح وكړي فَلِلْأَوْلِيَاءِ أَنْ يُفَرِّقُوا بَيْنَهُمَا نو وليانو لره دا حق سته چي د ښځي او خاوند په مينځ كي تفريق وكړي دَفْعًا لِضَرَرِ

❶ تخريج: اخرجه دار قطني في كتاب النكاح، باب المهر، حديث رقم: ۳۵۵۹.

الْعَارِ عَنْ أَنْفُسِهِمْ له خپلو ځانو څخه د پېغور د ضرر ليري کولو لپاره.

اللغات: ﴿مُتَكَافِئٍ﴾ د تفاعل اسمِ فاعل دی: يو د بل سيال (برابر)، ﴿تَـأْبَى﴾ له فتح او ضرب دواړو څخه مضارع ده: په طبيعت کې ناخوښه ګڼل (نفرت کول)، انکار کول. ﴿مُسْتَفْرَشَة﴾ د استفعال د باب مونث اسمِ مفعول دی: فراش جوړه سوې (يعني ښځه د خاوند بستره وي او تر هغه لاندې پرېوځي، دلته ځني مراد "ماينه جوړېدل" دي)، ﴿مُسْتَفْرِش﴾ د استفعال مذکر اسمِ فاعل دی: فراش جوړونکی (يعني خاوند پر دغه بستره [ماينه] پرېوتونکی وي)، ﴿خَسِيْس﴾ د صفتِ مشبه صيغه ده: د کمي او ټيټي درجې سړی (کمتر)، کمينه، رذيل. ﴿لَا تَغِيْظُه﴾ د ضرب د باب نفي صيغه ده: په غصه کول، خپمول، په قهر کول. ﴿دَنَاءة﴾ رذالت (ټيټوب)، کمتوب. ﴿عَار﴾ پېغور، عيب، شرم.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې په نکاح کې به د کفائت (کفو کېدلو) اعتبار خامخا کيږي، د دې په تائيد کې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دوه دليلونه ذکر کړي دي، يو نقلي دليل (حديث) دی او بل عقلي دليل دی.

د نقلي دليل حاصل دا دی چې نبي کريم ﷺ په دې حديث "أَلَا لَا يُـزَوِّجُ...إلخ" کې د کفو ټينګار کړی دی چې بغير له کفو څخه دې د بل چا سره د ښځې نکاح نه تړل کيږي، نو ځکه به د کفو خيال ساتل ضروري وي، دا حديث د دومره درجې نه دی چې دليل په ونيول سي، ځکه چې د دې په سند کې يو راوي مُبشر بن عبيد هم دی چې هغه ډېر ضعيف او بې اعتباره راوي دی، دغه حديث ته نژدې يو بل حديث ترمذي او بيهقي روايت کړی دی چې د هغه راوي حضرت علي رضي الله عنه دی او د دليل لپاره زيات صحيح همدغه حديث دی: "عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: يَا عَلِيُّ، ثَلَاثٌ لَا تُؤَخِّرْهَا: الصَّلَاةُ إِذَا آنَتْ، وَالْجَنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ، وَالْأَيِّمُ إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفْؤًا" [ترمذي، حديث شمېره: ۱۷۱ او ۱۰۷۵]، (اې علي! په درې شيانو کې تأخير مه کوه: په لمانځه کې چې کله يې وخت راسي، په جنازه کې چې کله حاضره سي، او د نجلۍ په نکاح کې چې کله يې کفو پيدا سي)، له دې حديث څخه معلومه سوه چې په کفو کې نکاح کول او د کفو په نکاح کې تعجيل کول پکار دي.

ولأن انتظام إلخ: عقلي دليل دا دی چې په نکاح کې ډېر مصلحتونه او منافع دي، د مثال په توګه توالد او تناسل، د خاوند او ښځې تر مينځ د مينې، محبت او اطمينان ژوند او داسې نور. او دا مصلحتونه

هغه وخت په پوره توګه حاصلېدای سي کله چي خاوند او ښځه یو د بل کفو وي، ځکه چي ښځه د خاوند فراش (بستر) جوړېږي (او تر خاوند لاندي پرېوځي) او دا فطري خبره ده چي کـه ښځه لـه شریف او لوړ خاندان څخه وي نو هغه دا نه خوښوي چي د یو کمتره او سپک خاوند فراش جوړه سي بلکي داسي رشته او نکاح ډېره پر درنېږي، نو ځکه په نکاح کي د کفائت اعتبار کول ضروري دي.

بخلاف جانبها إلخ: د دې په خلاف د ښځي په طرف کي د کفائت اعتبار کول ضروري نه دي، یعني که خاوند له شریف خاندان څخه وي او ښځه د ټیټ او کمتره خاندان سره تعلق لري نو په دې کي هیڅ حرج نسته، ځکه چي خاوند د ښځي فراش نه جوړېږي (تر ښځي لاندي نه پرېوځي) بلکي هغه فراش جوړونکی دی، نو د ښځي کموالی او ټیټوالی پر هغه نه درنېږي.

وإذا زوجت إلخ: په دې عبارت کي د کفائت په اعتبار کولو باندي یوه مسئله تفریع کوي، حاصل یې دا دی که چیري یوه ښځه د غیر کفو سره خپله نکاح وکړي، نو څرنګه چي د هغې دا کار د ولي په حق کي د پېغور او عیب سبب دی او هغه په دې سره شرم محسوسوي، نو ځکه ولي ته دا اجازه سته چي د قاضي په حکم سره د هغې نکاح ماته کړي، په دې شرط چي تر اوسه د دې ښځي کوچنی پیدا سوی نه وي، لېکن که کوچنی پیدا سوی وي، نو بیا یې نکاح نه سي ماتولای.

په کفائت کي د به د کومو شیانو اعتبار کېږي؟

ثُمَّ الْكَفَاءَةُ تُعْتَبَرُ فِي النَّسَبِ بیا به د کفائت اعتبار کېږي په نسب کي [یعني په کفو کي به یو د نسب اعتبار کېږي] **لِأَنَّهُ يَقَعُ بِهِ التَّفَاخُرُ** ځکه چي په نسب سره فخر کېږي [او د فخر او لوړوالي ذریعه ګڼل کېږي] **فَقُرَيْشٌ بَعْضُهُمْ أَكْفَاءٌ لِبَعْضٍ** نو قریش [په خپل مینځ کي] یو د بل کفو دي **وَالْعَرَبُ بَعْضُهُمْ أَكْفَاءٌ لِبَعْضٍ** او عرب [په خپل مینځ کي] یو د بل کفو دي **وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عليه السلام** [1] او اصل په دې باره کي د نبي ﷺ دا قول دی «**قُرَيْشٌ بَعْضُهُمْ أَكْفَاءٌ لِبَعْضٍ بَطْنٌ بِبَطْنٍ** "قریش ځیني د ځینو کفو دي یو بطن د بل بطن **وَالْعَرَبُ بَعْضُهُمْ أَكْفَاءٌ لِبَعْضٍ قَبِيلَةٌ بِقَبِيلَةٍ** او عرب ځیني د ځینو کفو دي یوه قبیله د بلي قبیلي **وَالْمَوَالِي بَعْضُهُمْ أَكْفَاءٌ لِبَعْضٍ رَجُلٌ بِرَجُلٍ**» او عجم ځیني د ځینو کفو دي یو کس د بل کس" **وَلَا يُعْتَبَرُ التَّفَاضُلُ فِيمَا بَيْنَ قُرَيْشٍ** او د قریشو [په خپل مینځ کي] یو تر بل افضله کېدل معتبر نه دي **لِمَا رَوَيْنَا** د هغه حدیث په وجه کوم چي موږ [اوس] نقل کړی **وَعَنْ مُحَمَّدٍ كَذٰلِكَ** او له امام محمد

[1] تخریج: أخرجه البیهقي في السنن الکبری في کتاب النکاح، باب اعتبار الصفة في الکفاءة، باب:١٣٧٦٩.

رَحِمَهُ الله څخه هم دغسې نقل سوي دي [چي د قريشو په خپل مينځ کي يو تر بله افضله کېدل معتبر نه دي] إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ نَسَبًا مَشْهُوْرًا خو دا چي [په قريشو کي] يو مشهور نسب وي كَأَهْلِ بَيْتِ الْخِلَافَةِ لکه د خلافت کورنى كَأَنَّهُ قَالَ تَعْظِيْمًا لِلْخِلَافَةِ وَتَسْكِيْنًا لِلْفِتْنَةِ ګواکي امام محمد رَحِمَهُ الله د خلافت د احترام کولو او د فتنې د آرامولو [او ختمولو] په غرض دا خبره کړې ده وَبَنُوْبَاهِلَةَ لَيْسُوْا بِأَكْفَاءٍ لِعَامَّةِ الْعَرَبِ او بنو باهله د عامو عربو کفو نه دي لِأَنَّهُمْ مَعْرُوْفُوْنَ بِالْخَسَاسَةِ ځکه چي هغوی په رذالت سره مشهوره دي.

اللغات: ﴿التَّفَاخُر﴾ د تفاعل اسمِ مصدر دی: يو پر بل فخر کول. فخر او وياړ ځر ګندول. په يوشي نازېدل. ﴿مَوَالِي﴾ جمع د "مَوْلىٰ" ده. مَوْلىٰ آزاد کړی سوي غلام ته هم وايي او د غلام مالک ته هم وايي. همدارنګه نوري معناوي هم لري چي هغه دا دي: مددګار. محبت کونکی. ملګری. انعام ورکونکی. همسايه. مېلمه. شريک. قريب. دلته ځني مراد عجم دي يعني هغه څوک چي عرب نه وي. وجه تسميه به يې په را روان عبارت کي ذکر سي. ﴿تَفَاضُل﴾ د تفاعل مصدر دی: يو پر بل افضل کېدل. ﴿تَسْكِيْن﴾ د تفعيل مصدر دی: آرامول. جوش کمول. ﴿خَسَاسَة﴾ د سمِع مصدر دی: رذالت (د لاندي او ټيټي درجې کېدل). ټيټتوب. کچه توب.

تشريح: له دې ځای څخه صاحب د کتاب د هغو شيانو په بيان شروع کوي چي د احنافو په نېز به په هغوی کي د کفائت اعتبار کيږي. او هغه ټوله شپږ شيان دي: ① نسب، ② اسلام، ③ آزادي. ④ دين، ⑤ مال، ⑥ کسب و پېشه.

صاحب د کتاب تر ټولو مخکي په نسب کي د کفائت بيان کوي. فرمايي چي په کفو کي به د نسب اعتبار کيږي يعني د خاوند او ښځي دواړو نسب به سره نژدې، نژدې وي. داسي به نه وي چي د يوه نسب قريش وي او د بل نسب ډېر د کښتني درجې وي. د دې وجه دا ده چي خاوند او ښځه د حسب ونسب په لوړوالي سره يو پر بل فخر کوي. او په خپل نسب نازېدل او فخر کول د خلکو عادت دی. نو ځکه به د خاوند او ښځي نسبونه سره نژدې وي او يو به د بل کفو وي.

په دې باره کي زموږ نقلي دليل د نبي کريم ﷺ دا حديث دی چي (قريش په خپل مينځ کي يو د بل کفو دي، او له قريشو څخه بغير نور عرب يو قوم د بل قوم کفو دی. او ټوله عجم يو د بل کفو دي)، په دې حديث سره هم زموږ د مذهب تائيد کيږي. لهذا په کفائت کي به د نسب اعتبار کيږي.

ولا يعتبر إلخ: په قریشو کې ستر پیغمبر نبي کریم ﷺ پیدا سوی دی، لهذا هغه یو ډېر محترم خاندان دی. نو ټوله قریش یو د بل کفو دي او په هغو کې یوه ته پر بل فضیلت او فوقیّت حاصل نه دی (د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز)، ځکه چې په پورتني حدیث کې نبي کریم ﷺ ټوله قریش بغیر له څه فضیلت څخه په خپل مینځ کې کفو ګڼلي دي، لهذا که له سید او خلیفه خاندان څخه یو کس د بل غیرِ سید سره نکاح وکړي او هغه له قریشو څخه وي، نو په دې کې هیڅ حرج نسته.

وعن محمد إلخ: فرمايي چې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه هم بعینهٖ همدا خبره نقل سوې ده چې قریش په خپل مینځ کې یو پر بل فضیلت نه لري، لیکن هغه د احترام او د فتنې وفساد د اختتام په غرض د قریشو خلیفه خاندان تر نورو قریشو افضل ګڼلی دی، نو که د خلیفه خاندان ښځه د بل داسې قریشي سره نکاح وکړي چې هغه د خلافت له خاندان څخه نه وي، نو د هغه ښځې ولي ته د نکاح ماتولو حق او اختیار سته. (لیکن د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په هیڅ صورت کې یوه ته پر بل فضیلت حاصل نه دی، او راجح قول هم د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دی [القول الراجح ج:۱، ص:۲۶۰])

وبنو باهلة إلخ: فرمايي چې "بنو باهله" یعني "قیس بن غیلان" که څه هم عرب دي، خو د نورو عربو کفو نه دي؛ ځکه د هغو قبیله ډېر د لاندي درجې ده، ځکه چې د هغو په باره کې دا خبره مشهوره ده چې د مردار سوي حیوانانو هډوکي جمع کوي او بیا یې پخوي او له هغوی څخه غوړي او مُو راباسي او بیا دغه مردار غوړي او مُو استعمالوي، نو دا ډېر مردار خور او د کښتي درجې قوم دی، نو ځکه به هغوی د نورو عربو کفو نه وي.

﴿د شعب، قبیله، بطن او د داسي نورو فرق﴾

عربي یو ډېره جامع ژبه ده، او د یوه شي لپاره عرب په لسګونو نومان استعمالوي، همدارنګه د قوم په باره کې هم دوی ډېر الفاظ استعمالوي، د مثال په توګه: ① شعب: د ډېرو قومونو او قبیلو مجموعه ته وایي، مثلاً ربیعه او مضر شعب دی، ② قبیله: دا تر شعب کوچنی وي، مثلاً کنانه قبیله ده. ③ عمارة: دا تر قبیلې کوچنی وي، مثلاً قریش عماره ده، ④ بطن: دا تر عمارې کوچنی وي، مثلاً قُصي بطن دی، ⑤ فخذ: له بطن څخه کوچنی وي، مثلاً هاشم فخذ دی. ⑥ فصیلة: دا له فخذ څخه کوچنی وي، مثلاً عباس فصیله ده.

په عجمو کي د کفائت بيان

وَأَمَّا الْمَوَالِي او کوم چي عجم دي فَمَنْ كَانَ لَهُ أَبَوَانِ فِي الْإِسْلَامِ فَصَاعِدًا نو هغه عجمي کس چي د هغه دوه پلاره [يعني پلار او نيکه] په اسلام کي وي يا زيات [يعني چي د هغه دوه پښته يعني پلار او نيکه دواړه مسلمانان وي يا يې تر دوو زيات پښتونه مسلمانان وي يعني ور نيکه، تر نيکه او داسي نور] فَهُوَ مِنَ الْأَكْفَاءِ نو هغه له کفو خلکو څخه يَعْنِي لِمَنْ لَهُ آبَاءٌ فِيهِ يعني د هغه چا [کفو دی] چي په اسلام کي د هغه ډېر پلرونه [نيکه ګان] وي [يعني چي هغه له پخوانيو پښتونو څخه مسلمان را روان وي] وَمَنْ أَسْلَمَ بِنَفْسِهِ أَوْ لَهُ أَبٌ وَاحِدٌ فِي الْإِسْلَامِ او چا چي [يوازي] په خپله اسلام راوړی وي يا فقط د هغه يو پلار په اسلام کي وي [يعني فقط له يو پښت څخه مسلمان وي] لَا يَكُونُ كُفُؤًا لِمَنْ لَهُ أَبَوَانِ فِي الْإِسْلَامِ نو داسي کس به د هغه سړي کفو نه وي چي د هغه پلار او نيکه [دواړه] په اسلام کي وي [د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز] لِأَنَّ تَمَامَ النَّسَبِ بِالْأَبِ وَالْجَدِّ ځکه چي په همدې پلار او نيکه سره نسب پوره کيږي وَأَبُو يُوسُفَ ❁ أَلْحَقَ الْوَاحِدَ بِالْمُثَنَّى او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله يو [پښت] د دوو [پښتونو] سره يو ځای کړی دی كَمَا هُوَ مَذْهَبُهُ فِي التَّعْرِيفِ لکه څرنګه چي [د سړي] په تعريف [پېژندګلوۍ] کي دا د هغه مذهب دی وَمَنْ أَسْلَمَ بِنَفْسِهِ اوچا چي [يوازي] په خپله اسلام راوړی وي [يعني پلار يې مسلمان نه وي بلکي هغه نوی اسلام قبول کړی وي] لَا يَكُونُ كُفُؤًا لِمَنْ لَهُ أَبٌ وَاحِدٌ فِي الْإِسْلَامِ نو داسي کس به د هغه سړي کفو نه وي چي د هغه يو پلار وي په اسلام کي لِأَنَّ التَّفَاخُرَ فِيمَا بَيْنَ الْمَوَالِي بِالْإِسْلَامِ ځکه چي د عجمو په خپل مينځ کي يو پر بل فخر کول په اسلام سره دی [ځکه چي د هغوی نسب ګډوډ او مختلط وي، نو د دوی په خپل مينځ کي به اسلام د فخر ذريعه ګڼل کيږي] وَالْكَفَاءَةُ فِي الْحُرِّيَّةِ نَظِيرُهَا فِي الْإِسْلَامِ او په آزادوالي کي کفو کېدل مشابه دي په اسلام کي د کفو کېدلو سره فِي جَمِيعِ مَا ذَكَرْنَا په هغه ټولو صورتونو کي کوم چي [اوس] موږ ذکر کړل لِأَنَّ الرِّقَّ أَثَرُ الْكُفْرِ ځکه چي غلامتوب د کفر أثر دی وَفِيهِ مَعْنَى الذُّلِّ او [ځکه چي] په غلامتوب کي د ذلت [او ټيټوب] معنیٰ سته فَيُعْتَبَرُ فِي حُكْمِ الْكَفَاءَةِ نو ځکه به د کفائت په حکم کي د دې اعتبار کيږي.

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله، كما ذكر في فتح القدير (ج:٣، ص:١٩١)، وكذا في رد المحتار (ج:٢، ص:٣٤٦). [القول الراجح ج:١، ص:٢٦٢]

اللغات: ﴿مَوَالِيْ﴾ عجم، ناعرب، آزاد کړی سوی غلام (تفصیل به یې په تشریح کي ذکر سي)، ﴿فَصَاعِدًا﴾ او تر دې زیات، ﴿حُرِّيَّة﴾ آزادي، ﴿رِقّ﴾ غلامي (غلامتوب)، ﴿الذُّل﴾ ذلت (ذلیل توب)، مغلوبیت (ټیټتوب).

تشریح: په مخکني عبارت کي د عربو د کفائت بیان وسو، په دې عبارت کي د "موالي" یعني د عجمو د کفائت بیان سوی دی، "موالي" جمع د "مولیٰ" ده چي د هغه یوه معنیٰ ده "مددګار" او بله معنیٰ یې ده "آزاد کړی سوی غلام"، علامه کاکي رَحِمَهُ الله فرمايي چي عجمو ته ځکه "موالي" وایي چي هغو د عربو مدد او مرسته وکړه، یا ځکه چي عربو په زوره د هغو سیمي لاندي کړې او پر هغو یې قبضه وکړه نو ګواکي عربو هغوی یو ډول خپل غلامان جوړ کړل او بیا یې آزاد کړل، همدا د تاجُ الشریعة رَحِمَهُ الله تحقیق دی. (بنایه شرح هدایه)

تر دې وضاحت وروسته د مسئلې حاصل دا دی چي د عجمو نسب خلط ملط او ګډ وډ دی، نو د دوی په کفائت کي به د اسلام زیات اعتبار کیږي او د دوی په مینځ کي به اسلام د فخر ذریعه ګڼل کیږي، او د اسلام په باره کي دا قاعده په یاد لرئ! چي که د یو کس دوه پښتي مسلمانان وي (یعني پلار او نیکه یې دواړه مسلمانان وي) هغه داسي دی لکه پخوانی مسلمان او هغه د پخواني مسلمان کفو دی (یعني د هغه مسلمان کفو دی چي پخواني ټولو پښتونو یې اسلام راوړی وي او له ډېر پخوا څخه هغه مسلمان را روان وي) او که د چا فقط یو پښت مسلمان وي (یعني فقط پلار یې اسلام راوړی وي او تر پلار مخکي یې نور پښتونه مسلمانان نه وي)، نو هغه د دوو پښتونو والا مسلمان سره نه برابریږي (یعني د هغه مسلمان کفو نه دی چي پلار او نیکه یې دواړه مسلمانان وي یا له پخوا څخه مسلمان را روان وي، بلکي تر هغه کم دی)؛ د دې وجه دا ده چي نسب پر دوو پښتونو بشپړ ګرځي، ځکه په ټولنه کي د یو چا تعارف او پېژندنه په پلار او نیکه سره کیږي او تر نیکه پوري چي نسب صحیح او برابر وي نو هغه بنه خاندان ګڼل کیږي، نو ځکه به د دوو پښتونو والا مسلمان د ډېرو پښتونو والا مسلمان کفو وي، او د یوه پښت والا مسلمان به داسي نه وي.

و أبویوسف إلخ: امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د کوم چا یو پښت یعني پلار مسلمان وي هغه د پخواني مسلمان په درجه کي دی او پخواني مسلمان کفو دی؛ د دې وجه امام ابو یوسف دا بیانوي چي

په ګواهۍ (شهادت) او داسي نورو ځايونو کي د سړي تعارف او پېژند ګلوۍ فقط د پلار په نامه سره کيږي يعني فقط د پلار د نوم په ذکر کولو سره هغه پېژندل کيږي او د نيکه د نوم ذکر کولو ته ضرورت نه وي، نو کله چي فقط په پلار سره د انسان تعارف کيږي، نو د پلار مسلمان کېدل به داسي وي لکه هغه چي پخواني مسلمان وي؛ لېکن طرفين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي په ګواهۍ کي د پلار د نامه سره د نيکه نوم ذکر کول هم ضروري دي ځکه ديو چا تعارف په پلار او نيکه سره ښه کيږي او بشپړ کيږي، نو ځکه د دوی په نيز ديوه پښت والا مسلمان د پخواني مسلمان په څېر نه دی.

ومن أسلم بنفسه إلخ: فرمايي که څوک فقط په خپله مسلمان وي (پلار يې مسلمان نه وي)، نو هغه د داسي کس کفو نه سي کېدای چي د هغه يو پښت مسلمان وي (يعني پلار يې هم مسلمان وي)، ځکه مخکي موږ وويل چي د عجمو په کفائت کي به د اسلام اعتبار کيږي او اسلام به د فخر ذريعه ګڼل کيږي، او دا ښکاره خبره ده چي څوک فقط په خپله مسلمان وي هغه تر داسي کس ټيټ او کم دی چي د هغه يو پښت مسلمان وي نو ځکه به د هغه کفو نه وي، او د چا چي يو پښت مسلمان وي نو هغه به د داسي کس کفو نه دی چي د هغه دوه پښته مسلمانان وي.

والكفاءة في الحرية إلخ: د دې حاصل دا دی چي په کوم ترتيب سره په اسلام او کفر کي د کفو اعتبار کيږي، خاص د هغه ترتيب مطابق به په حُرّيت او غلامتوب (رِقيّت) کي هم د کفو اعتبار کيږي، يعني څوک چي له دوو پښتونو څخه آزاد وي (يعني پلار او نيکه يې دواړه آزاد وي) نو هغه د داسي کس کفو دی چي هغه له ډېرو پښتونو څخه آزاد را روان وي، او څوک چي له يوه پښت څخه آزاد وي هغه د داسي کس کفو نه دی چي هغه له دوو پښتونو څخه آزاد وي، او څوک چي فقط په خپله آزاد وي هغه د داسي کس کفو نه دی چي هغه له يوه پښت څخه آزاد وي (يعني پلار يې آزاد وي)؛ د دې وجه دا ده چي په رِقيّت کي هم د کفر اثر سته، او دا تاسي ته معلومه ده چي په کفر او اسلام کي کفائت نسته، لهذا په رقيّت او حُرّيت کي به هم کفائت نه وي، او بل دا چي په رِقيّت کي د ذلالت او ټيټوب معنیٰ هم سته، نو ځکه به د دې خبري اعتبار کيږي چي هغه له څومره پښتونو څخه د غلامتوب له قيد څخه آزاد سوی دی، کنې د حُرّيت او رِقيّت تر مينځ به هيڅ فرق را نه سي. حال دا چي د دوی په مينځ کي د ځمکي او آسمان فرق دی.

په دينداري کې د کفائت بيان

قَالَ: وَتُعْتَبَرُ أَيْضًا فِي الدِّيْنِ أَيْ الدِّيَانَةِ [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمايي: چې په دين کې به هم د کفائت اعتبار کيږي يعني په دينداري [نېک عملی] کې وَهٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ ۞ او دا د امام صاحب او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله [دواړو] قول دی هُوَ الصَّحِيْحُ او همدا صحيح ده اچې دا دواړو قول دی يوازې د امام صاحب قول نه دی] لِأَنَّهُ مِنْ أَعْلَى الْمَفَاخِرِ ځکه چې دا [دينداري] د فخر لوړه ذريعه ده [يعني دينداري او نېک عملي د فخرونو سر ده او د خلکو په مينځ کې د فخر ستره ذريعه ګڼل کيږي] وَالْمَرْأَةُ تُعَيَّرُ بِفِسْقِ الزَّوْجِ فَوْقَ مَا تُعَيَّرُ بِضَعَةِ نَسَبِهِ او ښځې ته د خاوند پر فاسقوالي تر دې زيات پېغور ورکول کيږي څومره چې د خاوند د نسب پر ټيټوب ورکول کيږي امطلب دا چې د خاوند د نسب رذالت او ټيټوب د ښځې لپاره دومره شرم او پېغور نه وي څومره چې د خاوند فسق او بد عملي د هغې لپاره شرم او پېغور وي] وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا تُعْتَبَرُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې [په کفائت کې به د دينداري] اعتبار نه کيږي لِأَنَّهُ مِنْ أُمُورِ الْآخِرَةِ ځکه چې دا [دينداري] د آخرت له أمورو څخه ده [يعني دينداري د آخرت يو معامله ده او نکاح غالباً د دنيا معامله ده] فَلَا تُبْتَنٰى عَلَيْهِ أَحْكَامُ الدُّنْيَا لهذا پر هغه [أخروي أمورو] به دنياوي احکام نه بناء کيږي إِلَّا إِذَا كَانَ يُصْفَعُ خو دا چې کله خاوند په څپېړو وهل کيږي وَيُسْخَرُ مِنْهُ او ملنډې په وهل کيږي أَوْ يَخْرُجُ إِلَى الْأَسْوَاقِ سَكْرَانَ او يا د نشې په حالت کې د بازار و طرف ته وځي وَيَلْعَبُ بِهِ الصِّبْيَانُ او کوچنيان په هغه بازې کوي أنو په داسې صورت کې به د دينداري اعتبار کيږي او داسې خاوند به د ښځې کفو نه وي] لِأَنَّهُ مُسْتَخَفٌّ بِهِ ځکه چې د دې [شيانو] په وجه هغه سپک [او رذيل] ګڼل کيږي.

اللغات: ﴿دِيَانَة﴾ نېک عملي، دينداري، د دين د احکامو پابندي کول، ﴿مَفَاخِر﴾ جمع د "مَفْخَرَةٌ" ده: د فخر شی يا د فخر خبره (يعني داسې شی يا خبره چې په هغه فخر کيږي)، د فخر ذريعه، افعالِ حميده (ښه کارونه)، ﴿تُعَيَّر﴾ د تفعيل مضارع مجهوله ده: پېغور او تانه ورکول، عيب

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله لأنه قول المتون، لكن افتى الفقهاء بقول محمد رَحِمَهُ الله، لأنه موافق بأحوال الزمـــان. قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: وفي المحيط: الفتوىٰ على قول محمد رَحِمَهُ الله وهو موافق لاختيار السرخسي رَحِمَهُ الله (فتح القـــدير ج:۳، ص:۱۹۲). [القول الراجح ج:۱، ص: ۲۶۳]

لګول. ﴿فِسْق﴾ بې لارې، فاسقتوب، بې ديني، ﴿ضَعَة﴾ د كرُم د باب مصدر دی: ټيټوالی، دانی
درجې والا کېدل (رذالت)، ﴿يُصْفَعْ﴾ د فتح د باب مضارع مجهوله ده: په چکه وهل، په څپېړه وهل
(څپېړه ورسره کول)، ﴿مُسْتَخَفٌّ﴾ د استفعال د باب اسم مفعول دی: سپک ګڼل سوی، رذیل، خوار.

تشريح: مسئله: دا ده چي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به په کفائت کي د خاوند له طرفه د "دين"
اعتبار هم کيږي، همدا صحيح دي، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي له "دين" څخه مراد ديانت
(دينداري) ده (يعني تقوىٰ، نېک عملي، طهارت [پاکيزه ګي]، ښه اخلاق)، ځکه که له دين څخه
"اسلام" مراد کړی سي نو له اسلام څخه بغير خو بالکل د مسلمانانو نکاح نه صحيح کيږي، او له
ديندارۍ څخه بغير صحيح کيږي خو وروسته به ولي ته د نکاح د ماتولو حق حاصل وي؛ په کفائت
کي د ديندارۍ د اعتبار کولو دليل دا دی چي دينداري له هغو شيانو څخه يو اعلىٰ او ستر شی دی کوم
چي د فخر ذريعه ګڼل کيږي، لکه څرنګه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللهِ
أَتْقَاكُمْ﴾ [سورة الحجرات:۱۳]، دويم دليل دا دی چي د خاوند د نسب د ټيټوالي په وجه چي خلک څومره
پېغور او تانې ښځي ته ورکوي، د خاوند د فاسقوالي او بدکارۍ په وجه به تر هغه زيات پېغور او تانې
ورکوي.

لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله په "ديندارۍ" کي د کفائت اعتبار نه دي کړی، هغه فرمايي چي
تقوىٰ، نېک عملي او داسي نور شيان د آخرت سره تعلق لري، او په نکاح کي دنياوي اُمور او معاملات
غالب دي، لهذا د آخرت اُمور به د دنيا د اُمورو لپاره شرط او ضروري نه ګرځول کيږي او د هغوی اعتبار
به نه کيږي.

خو که د يو ښځي خاوند دومره په فسق او فجور مبتلا وي او دومره پکښي غرق وي چي خلک
ملنډي په وهي او د هر چا چي خوښه وي څپېړه ور سره کوي، مثلاً د يو ښځي خاوند هر وخت په
نشې مبتلا وي او چي د نشې په حالت کي را ووځي نو کوچنيان بازۍ په کوي او سپکاوی يې
کوي، څرنګه چي دا ډېره د ذلالت خبره ده! او په دې سره هغه انتهايي خوار او سپک ګڼل کيږي!، نو
ځکه داسي سړی د نېکي ښځي کفو کېدلای نه سي. لېکن په عامو حالاتو کي به (د امام محمد په نېز)
د دينداۍ اعتبار نه کيږي.

په مال کي د کفائت بيان

قَالَ: وَ تُعْتَبَرُ فِي الْمَالِ فرمايي: چي په مال کي به [هم] د کفائت اعتبار کيږي وَهُوَ أَنْ يَكُوْنَ مَالِكًا لِلْمَهْرِ وَالنَّفَقَةِ او د مال مطلب دا دی چي خاوند به د مهر او نفقې [خرچې] مالک وي ايعني پر دواړو به قدرت لري] وَهٰذَا هُوَ الْمُعْتَبَرُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او په ظاهر روايت کي همدې ته اعتبار ورکول سوی دی حَتّٰى أَنَّ مَنْ لَّا يَمْلِكُهُمَا تر دې که څوک د دواړو مالک نه وي أَوْ لَا يَمْلِكُ أَحَدَهُمَا يا د يوه مالک نه وي لَا يَكُوْنُ كُفْئًا نو هغه به کفو نه وي لِأَنَّ الْمَهْرَ بَدَلُ الْبُضْعِ ځکه چي مهر د بضع بدل [عوض] دی فَلَا بُدَّ مِنْ إِيْفَائِهِ نو ځکه د هغه پوره اداء کول ضروري دي وَبِالنَّفَقَةِ قِوَامُ الْأَزْدِوَاجِ وَدَوَامُهُ او د زوجيّت قرابت په نفقې سره قائم او دائم دی وَالْمُرَادُ بِالْمَهْرِ قَدْرُ مَا تَعَارَفُوْا تَعْجِيْلَهُ او له مهر څخه مراد دومره اندازه [مهر] دی چي [تر نکاح تړلو وروسته] د هغه ژر اداء کول متعارف وي [يعني دومره مهر چي په عُرف کي خلک هغه ژر ورکوي] لِأَنَّ مَا وَرَاءَهُ مُؤَجَّلٌ عُرْفًا ځکه چي له دې څخه بغير په عرف کي مؤجل دی [يعني له مهرِ مُعجّل څخه بغير چي نور کوم مهر دی هغه په عامه توګه د خلکو په عرف کي په ځنډ او تأخير سره ورکول کيږي] وَعَنْ أَبِيْ يُوسُفَ: أَنَّهُ اعْتَبَرَ الْقُدْرَةَ عَلَى النَّفَقَةِ دُوْنَ الْمَهْرِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چي هغه پر نفقې د قدرت لرلو اعتبار کړی دی، نه پر مهر لِأَنَّهُ تَجْرِي الْمُسَاهَلَةُ فِي الْمَهْرِ ځکه چي په مهر کي نرمي جاري وي ايعني په عامه توګه د مهر په سلسله کي د سړي سره پلار او خسر ګنی د نرمی معامله کوي] وَيُعَدُّ الْمَرْءُ قَادِرًا عَلَيْهِ بِيَسَارِ أَبِيْهِ او د پلار په مالداری سره سړی پر مهر قدرتمن شمارل کيږي فَأَمَّا الْكَفَاءَةُ فِي الْغِنٰى او کوم چي په مالداری [يعني د نصاب په مالک کېدلو] کي کفوه کېدل دي فَمُعْتَبَرَةٌ فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په قول کي هغه [هم] معتبر دي حَتّٰى إِنَّ الْفَائِقَةَ فِي الْيَسَارِ تر دې چي کومه ښځه په مالداری کي لوړه وي [يعني د نصاب مالکه وي] لَا يُكَافِئُهَا الْقَادِرُ عَلَى الْمَهْرِ وَالنَّفَقَةِ نو داسي سړی د هغې کفو کېدای نه سي کوم چي پر مهر او نفقه قدرت لري [او د نصاب مالک نه وي] لِأَنَّ النَّاسَ يَتَفَاخَرُوْنَ بِالْغِنٰى ځکه چي خلک په مالداری سره فخر کوي وَيَتَعَيَّرُوْنَ بِالْفَقْرِ او غريبی [مسکيني] عيب ګڼي وَقَالَ أَبُو

يُوسُفَ ﷺ: لَايُعْتَبَـرُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [په کفائت کي به د مالداري] اعتبار نه کيږي لِأَنَّهُ لَاثَبَاتَ لَهُ ځکه مالدار توب لره هيڅ قرار [او پاينښت] نسته اِذِالْمَالُ غَادٍ وَرَائِحٌ ځکه چي مال سهار او ماښام تلونکی او راتلونکی دی [يعني سهار به يو انسان مالدار وي لېکن ماښام ته به ډېوالي وي، او سهار به يو انسان غريب وي لېکن ماښام ته به مالدار وي].

اللغات: ﴿نَفَقَة﴾ د خوراک او څښاک خرڅه، د ژوند تېرولو خرڅه (د ګزارې خرڅه)، ﴿بُضْع﴾ جمع يې "أَبْضَاع" راځي، لکه د "قُفْل" جمع چي "أَقْفَال" راځي: د دې لفظ څو معناوي دي: د ښځي فرج (شرمګاه)، جماع، د ښځي وادول او نکاح ور تړل، دلته ځني مراد د ښځي مقصودي غړی "شرمګاه" دی. ﴿اِزْدِوَاج﴾ د افتعال مصدر دی: نکاح کول، واده کول، د خاوند او ښځه سره جوړه کېدل (يو ځای کېدل).(د خاوند او ښځي قرابت)، ﴿مُسَاهَلَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: نرمي کول، نرم چلند کول، آساني کول. ﴿مَرَء﴾ سړی، ﴿يَسَار﴾ مالداري (مال لرنه)، شتمني، سرمايه داري، دا لفظ نوري معناوي هم لري يعني چپه طرف، آساني، ﴿غَادٍ﴾ د نصر د باب د اسمِ فاعل دی، غَدَا، يَغْدُو، غُدُوًّا: د سهار په وخت کي تلل يا راتلل (واپس کېدل)، د کثرتِ استعمال په وجه مطلق "تګ او راتګ" ته هم وايي هغه که په هر وخت کي وي. ﴿رَائِح﴾ دا هم د نصر د باب اسمِ فاعل دی: د ماښام په وخت کي راتلل يا تلل يا يو بل کار کول، دا باب هم د "غَدَا، يَغْدُو" په شير ځيني وخت د مطلق "تګ او راتګ" په معنیٰ استعماليږي.

تشريح: مسئله: دا ده چي په مال کي به هم د کفائت اعتبار کيږي، د مال مطلب دا دي چي خاوند به د مهر او نفقې قدرت لري، حتیٰ که خاوند د دواړو قدرت نه لري يا فقط د يوه قدرت لري نو هغه د فقيري ښځي هم کفو کېدلای نه سي؛ پر مهر قدرت لرل (او د مهر مالک کېدل) ځکه ضروري دي چي مهر د ملکِ بضع بدل او عوض دی او خاوند د نکاح په ذريعه د مُبدل يعني د ښځي د بضع مالک کيږي نو په دې وجه پر خاوند لازم دي چي د ټوله بدل يعني د مهر مالک وي او د هغه پر اداء کولو قدرت لري، او څرنګه چي د خاوند او ښځي د زوجيّت قرابت پر نفقې موقوف او قائم دی، نو ځکه به د نفقې اعتبار هم په کفائت کي کيږي.

والمراد إلخ: د مهر په هکله چي اوس کومه خبره وسوه (چي خاوند به پر مهر قدرت لري)، له هغه څخه مهرِ مُعجّل مراد دی، نه مهرِ مؤجل. (مهرِ معجّل [د تلوار مهر] هغه مهر ته وايي چي د نکاح د تړلو

◆ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، کما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: الکفاءة في الغنى...الأصح أن ذلك لا يعتبر، لأن کثرة المال مذمومة (فتح القدير ج:۳، ص:۱۹۳)، وکذا في رد المحتار (ج:۲، ص:۳۴۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۶۴]

په وخت کي د هغه ورکول په عُرف کي ضروري ګڼل کيږي، او کوم مهر چي وروسته ورکول کيږي هغه ته مهرِ مؤجل [ځنډني مهر] وايي).

له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه په غيرِ ظاهر روايت کي يو دا قول هم نقل سوی دی چي په کفائت کي به د مهر اعتبار نه کيږي، فقط د نفقې اعتبار به کيږي، ځکه چي د مهر په باره کي له نرمۍ څخه کار اخيستل کيږي او پلار د مالدارۍ په وجه هم خاوند پر مهر قدرتمن ګڼل کيږي، ځکه چي په عامه توګه پلار په مهر کي د زوی سره مرسته کوي خو په نفقه کي يې نه ور سره کوي.

صاحب د هدايې د نفقې مودت نه دي ذکر کړی نه دي چي څومره وخت پر نفقه قدرت لرل ضروري دي، نو په دې باره کي څلور قولونه دي: ① يوه مياشت. ② دوې مياشتي. ③ شپږ مياشتي، ④ يو کال، خو غوره خبره دا ده چي که خاوند په کسب او کار سره ښځي ته نفقه ورکولای سي، نو هغه به پر نفقې قادر ګڼل کيږي او د ښځي کفو به وي.

فأما الكفاءة إلخ: پاته سوه دا خبره چي په کفائت کي به د "غِنَىٰ" يعني د نصاب د مالک کېدلو اعتبار کيږي، که نه؟ د طرفينو مذهب دا دی چي اعتبار به يې کيږي، لهذا که يوه ښځه د نصاب مالکه وي نو داسي سړی د هغې کفو کېدلای نه سي کوم چي د نصاب مالک نه وي که څه هم پر نفقه او مهر قدرت لري، ځکه چي مالداري په دنيا کي د فخر علامت (نښه) ګڼل کيږي، او غريبي د ذِلت او سپکاوی علامت ګڼل کيږي.

لېکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي په کفائت کي به د "غنىٰ" اعتبار نه کيږي، ځکه چي مالداري دوام او بقاء نه لري سهار به انسان مالدار وي لېکن ماښام ته به غريب او ډېوالي وي، نو که په کفائت کي د داسي بې دوامه شي اعتبار وسي، نو د نکاح په معامله به کي حرج او ستونزه پيدا سي کوم چي مناسب نه دي، نو ځکه به د دې اعتبار نه کيږي.

په کسب او پېشه کي د کفائت بيان

وَتُعْتَبَرُ فِي الصَّنَائِعِ او په کسبونو کي به [هم] د کفو اعتبار کيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ* او دا [حکم] د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَعَنْ أَبِيْ حَنِيفَةَ فِي ذٰلِكَ رِوَايَتَانِ او له امام صاحب

* القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَاالله، كما قال فى الهندية: صاحب الحرفة الدنيئة...إلى أن قال: لايكون كفـوًا للعطـار والبزاز والصراف، هو الصحيح (الهندية ج:١، ص:٢٩٢)، وكذا فى مجمع الأنهر (ج:١، ص:٣٤٢). [القـول الـراجح ج:١، ص:٢٦٢]

رَحِمَهُ الله څخه په دې هکله دوه روايتونه انقل سوي] دي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ لَا تُعْتَبَرُ إِلَّا أَنْ تَفْحُشَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه [په بل روايت کې] نقل سوي دي: چې [په کفائت کې به د کسب] اعتبار نه کيږي خو دا چې کسب ډېر ناوړه وي [يعني ډېر د لاندې درجې وي] كَالْحَجَّامِ وَالْحَائِكِ وَالدَّبَّاغِ لکه ښکر لګونکی او جولاګر او رنګرېز وَجْهُ الِاعْتِبَارِ: أَنَّ النَّاسَ يَتَفَاخَرُونَ بِشَرَفِ الْحِرَفِ د کفائت د اعتبار کولو دليل دا دی: چې خلک د کسب په ښه والي [او ستر والي] فخر کوي وَيَتَعَيَّرُونَ بِدَنَاءَتِهَا او د هغه سپکتوب [او ټيټوب] عيب ګڼي وَجْهُ الْقَوْلِ الْآخَرِ: أَنَّ الْحِرْفَةَ لَيْسَتْ بِلَازِمَةٍ او د بل قول دليل دا دی: چې کسب يو لازمي شی نه دی وَيُمْكِنُ التَّحَوُّلُ عَنِ الْخَسِيسَةِ إِلَى النَّفِيسَةِ مِنْهَا او له رذيله [ټيټ] کسب څخه و غوره کسب ته نقل کېدل ممکن دي.

اللغات: ﴿الصَّنَائِعُ﴾ کسبونه، پېشې، کاريګری، ﴿تَفْحُشُ﴾ د کرُم د باب مضارع ده: بدېدل، ناوړه کېدل، قبيح کېدل، ﴿حَجَّام﴾ ښکر لګونکی (وينه ايستونکی)، ښاخک لګونکی، ﴿حَائِك﴾ جولا، جولاګر (ټوکر اوبدونکی)، ﴿دَبَّاغ﴾ د پوست او څرمني رنګونکی (د څرمني پخونکی)، ﴿دَنَاءَة﴾ سپکتوب، ټيټوب، ﴿خَسِيْسَة﴾ د سمِع له باب څخه د صفت صيغه ده: رذيله، ټيټه، ﴿نَفِيْسَة﴾ د کرُم له باب څخه د صفت صيغه ده: غوره، مرغوب، زړه ته نږدې.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به په کسب او پېشه کې هم د کفائت اعتبار کيږي، او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه نقل سوي دي: په يوه روايت کې هغه ويلي دي چې د کسب او پېشې اعتبار به کيږي او په بل روايت کې يې ويلي دي چې اعتبار به يې نه کيږي، او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هم په غيرِ ظاهر روايت کې نقل سوي دي چې اعتبار به يې نه کيږي مګر په هغه وخت کې چې د سړي پېشه ډېره ټيټه او کم ارزښته وي، دمثال په توګه حجامت (ښکر لګول)، جولاګري (ټوکر او کپړه وودل)، يا دباغت (د څرمني رنګرېزي)، نو رنګرېز به د عطر فروش کفو نه وي.

په کسب کې د کفائت د اعتبار کولو دليل دا دی چې په خلکو کې ښه کسب او پېشه د فخر ذريعه ګڼل کيږي او کمزوري پېشه د ذلت او سپکاوي نښه ګڼل کيږي.

وجه القوال الآخر إلخ: او په کسب کې د کفائت د اعتبار نه کولو دليل دا دی چې کسب او پېشه د انسان د ژوند سره لازم نه دي چې هر وخت به انسان په هغه کې مشغول وي، بلکې نن که انسان په يو ټيټ

کسب کي مشغول وي نو سبا يو محترم کسب هم اختيارولای سي، لهذا کوم شی چي غيـر لازم وی د هغه اعتبار به نه کيږي، او په اوس وخت کي خو خلک تيټ کسب نه بلکي غريبي د ځان لپاره ذلت او سپکاوی ګڼي او د ځان مالداره کولو لپاره هر ډول پيشه او کسب اختيـاروي که څه هم هغه ډېر سپک کسب وي.

له خپل مهر څخه په کمه د نکاح کولو په صورت کي د ولي لپاره د اعتراض کولو حکم

قَالَ: وَإِذَا تَزَوَّجَتْ الْمَرْأَةُ فرمايي: او کله چي ښځه [په خپله] نکاح وکړي وَنَقَّصَتْ عَنْ مَهْرِ مِثْلِهَا او له خپل مهرِ مثل څخه مهر کم کړي فَلِلْأَوْلِيَاءِ الِاعْتِرَاضُ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو وليانو لره پر هغه ښځي د اعتراض حق سته د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حَتَّى يُتِمَّ لَهَا مَهْرَ مِثْلِهَا أَوْ يُفَارِقَهَا تر دې چي خاوند د هغې مهرِ مثل پوره کړي يا هغه پرېږدي وَقَالَا: لَيْسَ لَهُمْ ذَلِكَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي وليانو لره د اعتراض حق نسته وَهَذَا الْوَضْعُ إِنَّمَا يَصِحُّ عَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ او دا صورت د مسئلې صحيح کيږي د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول عَلَى اعْتِبَارِ قَوْلِهِ الْمَرْجُوعِ إِلَيْهِ فِي النِّكَاحِ بِغَيْرِ الْوَلِيِّ په اعتبار سره د امام محمد د هغه قول چي "د ولي له اجازې څخه بغير د نکاح [د مسئلې] په باره کي" هغه ته امام محمد رَحِمَهُ الله رجوع کړې ده وَقَدْ صَحَّ ذَلِكَ او د هغه رجوع صحيح ده وَهَذِهِ شَهَادَةٌ صَادِقَةٌ عَلَيْهِ او دا صورت د مسئلې د هغه پر رجوع ريښتوني ګواهي ده لَهُمَا: أَنَّ مَا زَادَ عَلَى الْعَشَرَةِ حَقُّهَا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي کوم مهر چي پر لس درهمه زيات وي هغه د ښځي حق دی وَمَنْ أَسْقَطَ حَقَّهُ لَا يُعْتَرَضُ عَلَيْهِ او څوک چي خپل حق ساقط کړي نو پر هغه هيڅ اعتراض نه سي کېدلای كَمَا بَعْدَ التَّسْمِيَةِ لکه تر مهر ټاکولو وروسته [چي کله ښځه خپل مهر ساقط کړي او خاوند له مهر څخه بري کړي نو هيڅ ولي پر هغې اعتراض نه سي کولای] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْأَوْلِيَاءَ يَفْتَخِرُونَ بِغَلَاءِ الْمَهْرِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي وليان د مهر په ګرانوالي [زياتوالي] فخر کوي وَيَتَعَيَّرُونَ بِنُقْصَانِهِ او د مهر کموالي [د ځانو لپاره] عيب او پېغور ګڼي فَأَشْبَهَ الْكَفَاءَةَ نو

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر فی الخانية (ج:١، ص:١٦٤). [القول الراجح ج:١، ص:٢٦٥]

دا د کفائت سره مشابه دي بِخِلَافِ الْإِبْرَاءِ بَعْدَ التَّسْمِيَةِ په خلاف د بري کولو تر مهر ټاکولو وروسته

ایعني په خلاف د دې چې تر مهر متعینولو وروسته ښځه خپل مهر ساقط کړي او خاوند بري کړي؛ لِأَنَّهُ لَا يُتَعَيَّرُ

بِهِ ځکه چې دا عیب او پېغور انه ګڼل

اللغات: ﴿نَقَصَ﴾ د نصر د باب ماضي ده: کمېدل، خپل حق کمول، لږول، ﴿غَلَاء﴾ ګراني، قیمت لوړېدنه، ﴿إِبْرَا﴾ د افعال مصدر دی: بري کول، خپل حق معافول (بخښل)، ﴿تَسْمِيَة﴾ د تفعیل مصدر دی: ټاکل، متعینول، مقررول (مقرّر کول)، ذکر کول، نومول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو بالغې ښځې خپله نکاح د ولي له اجازت څخه بغیر په خپله وکړه او خپل مهر یې له مهرِ مثل څخه کم وټاکی نو د هغې نکاح صحیح کیږي، خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز به د ښځې ولیانو ته د مهر د کمښت په باره کې د اعتراض کولو حق حاصل وي چې د قاضي مخته اعتراض او شکایت وکړي، او د قاضي په حکم پر خاوند مهر پوره کړي، یا په هغه ښځې ته طلاق ورکړي، لېکن صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې ولیانو ته د اعتراض کولو حق نه وي.

وهذا الوضع إلخ: د دې عبارت حاصل دا دی چې امام محمد رَحِمَهُ الله مخکې د ولي له اجازت څخه بغیر د ښځې نکاح صحیح نه ګڼله (لکه څه مخکې چې ذکر سوه چې امام محمد داسې نکاح د ولي پر اجازت موقوفه ګڼي)، خو وروسته هغه له خپل دغه قول څخه رجوع وکړه او د نکاح د صحیح کېدلو قائل سو، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د متن مسئله هم د امام محمد رَحِمَهُ الله د رجوع ګواهي ورکوي (چې رښتیا هم هغه رجوع کړې ده)، ځکه که د هغه رجوع (رښتیا) نه ومنل سي نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله سره به د هغه یو ځای کېدل صحیح نه وي؛ ځکه چې د امام ابویوسف په نیز د ولي له اجازت څخه بغیر د ښځې نکاح صحیح کیږي او هغه ته به د اعتراض کولو هیڅ حق نه وي؛ لنډه دا چې په دې مسئله کې د صاحبینو په نیز د ښځې نکاح صحیح کیږي او ولیانو ته به د اعتراض کولو هیڅ حق حاصل نه وي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چې د دغه حدیث "لَا مَهْرَ لِأَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ" په وجه لس درهمه مهر د شریعت حق دی، او تر دې زیات د ښځې حق دی، او که څوک خپل حق په خپله ساقط کړي نو بل چا ته د اعتراض کولو هیڅ حق نه حاصلیږي، نو همداسې به په دې مسئله کې هم ولیانو ته د اعتراض هیڅ حق نه وي.

كما بعد التسمية: صاحبين د خپل دليل په تاييد كي يو مثال ذكر كوي او پر هغه قياس كوي فرمايي لكه څرنګه چي په هغه وخت كي هم وليانو ته د اعتراض حق نسته، كله چي ښځه خپل مهر تر مهرِ مثل زيات و تاكي، او بيا وروسته دا ټوله مهر ساقط او معاف كړي، نو كله چي د "إبراء عن الكل" په صورت كي وليانو ته د اعتراض حق نسته، نو د "إبراء عن البعض" په صورت كي به څنګه هغو ته د اعتراض حق حاصل وي !؟

د امام صاحب دليل: دا دی چي وليان د خپلو ښځو په ګران مهر فخر كوي، په محفلونو كي په فخر سره د دې يادونه كوي او كم مهر شرم او عيب ګڼي، نو د فخر او عيب ګڼلو په وجه په كم مهر نكاح كول داسي سو لكه په غيرِ كفو كي نكاح كول، او د غيرِ كفو په صورت كي وليانو ته د اعتراض حق سته، نو د كم مهر په صورت كي به هم هغو ته د اعتراض حق وي.

بخلاف الإبراء إلخ: د صاحبينو د قياس جواب وركوي. حاصل يې دا دی چي تر مهر ټاكلو وروسته د مهر سره د وليانو تعلق ختميږي او په هغه كي تصرف كول د ښځي كار وي، لهذا كه تر ټاكلو وروسته يو ښځه خپل مهر معاف كړي نو په دې سره د ښځي او د هغې د وليانو نوم نور لوړيږي. كښته كيږي نه او دا د هغو لپاره شرم او عيب نه ګڼل كيږي بلكي په دې سره د هغو غاړه نوره جګيږي. نو څكه پر دې مسئلې قياس كول صحيح نه دي.

په كم (لږ) مهر د كوچني هلك او انجلۍ د نكاح كولو بيان

وَإِذَا زَوَّجَ الْأَبُ بِنْتَهُ الصَّغِيرَةَ او كله چي نكاح وكړي پلار د خپلي كوچنۍ لور **وَنَقَصَ مِنْ مَهْرِهَا** او د هغې مهر [له مهرِ مثل څخه] كم كړي **أَوْ ابْنَهُ الصَّغِيرَ** يا دا چي پلار نكاح وكړي د خپل كوچني زوی **وَزَادَ فِي مَهْرِ امْرَأَتِهِ** او د هغه د ښځي مهر زيات كړي **جَازَ ذَلِكَ عَلَيْهِمَا** نو دا كمي او زياتوب پر دواړو جائز دی **وَلَا يَجُوزُ ذَلِكَ لِغَيْرِ الْأَبِ وَالْجَدِّ** او له پلار او نيكه څخه بغير د بل چا لپاره [داسي كول] جائز نه دي **وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ** ❁ او دا [حكم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [دی] **وَقَالَا: لَا يَجُوزُ الْحَطُّ وَالزِّيَادَةُ إِلَّا بِمَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيهِ** او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي كمي او زياتوب جائز نه دی مګر په دومره اندازه سره چي په هغه كي خلك غبنِ فاحش كوي [يعني په دومره مقدار سره چي خلك

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الهندية (ج:١، ص:٢٩٤)، وكذا في الخانية (ج:١، ص:١٦٦). [القول الراجح ج:١، ص:٢٦٧]

هغه غبنِ فاحش او دوکه کتي] وَمَعْنٰى هٰذَا الْكَلَامِ او مطلب د دې کلام دا دی أَنَّهُ لَا يَجُوْزُ الْعَقْدُ عِنْدَهُمَا چي د صاحبينو په نيز [بالکل] دغه عقد جائز نه دی لِأَنَّ الْوِلَايَةَ مُقَيَّدَةٌ بِشَرْطِ النَّظَرِ ځکه چي ولايت مقيد دی د شفقت [او مصلحت] په شرط سره فَعِنْدَ فَوَاتِهٖ يَبْطُلُ الْعَقْدُ نو د شفقت د فوتېدلو په صورت کي به عقد باطليږي وَهٰذَا لِأَنَّ الْحَطَّ عَنْ مَهْرِ الْمِثْلِ لَيْسَ مِنَ النَّظَرِ فِيْ شَيْءٍ او دا ځکه چي له مهرِ مثل څخه [مهر] کمول هيڅ شفقت نه دی كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه په بيع کي اچي په کم قيمت د صغير يا صغيرې يو شی خرڅول هيڅ شفقت او مصلحت نه دی] وَلِهٰذَا لَا يَمْلِكُ ذٰلِكَ غَيْرُهُمَا او له همدې کبله له پلار او نيکه څخه بغير [بل څوک] د دې نه مالک کيږي وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ: أَنَّ الْحُكْمَ يُدَارُ عَلٰى دَلِيْلِ النَّظَرِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي حکم به د شفقت پر دليل دائر کيږي [يعني د حکم مدار به د شفقت او مصلحت پر دليل وي او پر هغه به حکم جاري کيږي] وَهُوَ قُرْبُ الْقَرَابَةِ او هغه د قرابت نژدېکت دی وَفِي النِّكَاحِ مَقَاصِدُ تَرْبُوْ عَلَى الْمَهْرِ او په نکاح کي [نور هم] ډېر مقاصد [أهداف] سته چي هغه تر مهر بالا [او أهم] دي أَمَّا الْمَالِيَّةُ فَهِيَ الْمَقْصُوْدُ فِي التَّصَرُّفِ الْمَالِيِّ هر چي ماليّت دی نو په مالي تصرّف کي [فقط] هغه مقصود دی [يعني په بيع کي فقط مال مقصود دی، د نکاح په څير نور أهم مقاصد پکښي نسته] وَالدَّلِيْلُ عَدِمْنَاهُ فِيْ حَقِّ غَيْرِهِمَا او د شفقت دليل موږ نيستي کړی [يعني پيدا مو نه کړی] له پلار او نيکه څخه بغير د بل چا په حق کي.

اللغات: ﴿حَطّ﴾ د نصر مصدر دی: کمول، کښته کول (کمېدل، کښته کېدل)، ﴿يَتَغَابَنُ﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: دوکه او فرېب کټل، غبنِ فاحش کټل (که د يو شي قيمت دومره کم وي يا مثلاً يو مهر دومره کم وي چي خلک هغه بيخي کم وګڼي، يا دومره زيات وي چي خلک هغه بيخي زيات وګڼي او په عامه توګه خلک دومره زيات قيمت يا مهر نه ټاکي نو داسي معاملې ته "ما يتغابن الناس" وايي، مثلاً په يو علاقه کي د پُسه بازاري قيمت سل [١٠٠] درهمه وي، اوس که يو څوک د هغه قيمت يو سل ولس [١١٠] درهمه ولګوي نو صحيح دي ځکه چي لس درهمه بيخي زيات نه ګڼل کيږي، لېکن که يو سل ودېرش [١٣٠] درهمه د هغه قيمت ولګوي، نو دېرش درهمه د هغه پر قيمت اضافه کول بيخي زيات ګڼل کيږي. نو دومره زياتوب ته "غبنِ فاحش" وايي او داسي سودا ته "ما يتغابن الناس" وايي)، ﴿نَظَر﴾ شارحينو د دې لفظ دوې معناوي کړې دي: شفقت، مصلحت (او شفقت او مصلحت يو د بل سره لازم او ملزوم دي. ځکه په چا کي چي شفقت نه

وي نو هغه د مصلحت طلب هم نه کوي، نو ځکه موږ دواړه سره پيوند کړي دي، د مصلحت معنیٰ ده: ښېګڼه، خير خواهي او نېکه رايه)، ﴿تَرْبُوْ﴾ د نصر مضارع ده: زياتېدل، لوړېدل، ﴿مَالِيَّة﴾ مال کېدل، مال والی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پلار له مهرِ مثل څخه په کم مهر د خپلې لور نکاح وکړي. يا مثلاً له مهرِ مثل څخه په زيات مهر د خپل زوی نکاح وکړي، او دا کمي او زياتوب هم معمولي نه وي بلکې ډېر زيات وي يعني د غبنِ فاحش له قبيلې څخه وي. نو په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چې که نکاح پلار او نيکه کړې وي نو نکاح صحيح کېږي. او که له پلار او نيکه څخه بغير بل ولي نکاح کړې وي نو نه صحيح کېږي، لېکن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې که دا کمي او زياتوب معمولي نه وي بلکې غبنِ فاحش وي نو نه صحيح کېږي او که معمولي وي يعني غبنِ يسير وي نو صحيح کېږي.

څرنګه چې په متن کې له دغه جملې "لَا يَجُوْزُ الْحَطُّ وَالزِّيَادَةُ" څخه دا وهم کېږي چې د صاحبينو په نېز خو اصل نکاح صحيح کېږي لېکن کمي او زياتوب نه صحيح کېږي، نو په دې وجه صاحب د هدايې په "ومعنٰی هذا الکلام" سره دا وهم لېرې کړی او دا يې ښکاره کړه چې د دې جملې مطلب دا دی چې بالکل د صاحبينو په نېز نکاح نه صحيح کېږي نو کمي او زياتوب به څنګه صحيح سي!، همدا د امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا الله مذهب دی چې دا نکاح نه صحيح کېږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې پر هلک او نجلۍ (يعني پر صغير او صغيرې) چې ولي ته کوم ولايت حاصل دی هغه په شفقت او مصلحت سره مقيّد دی، يعني که د ولي ولايت او تصرف پر شفقت او مصلحت مبني وو نو هغه به نافذ او صحيح وي کنې صحيح به نه وي، او په دې مسئله کې د غبنِ فاحش په وجه پلار خپل شفقت فوت کړی دی، او د شفقت په فوتېدلو سره ولايت هم فوتېږي. نو اوس يې مطلب دا سو چې پلار بغير له ولايت څخه د هغو نکاح کړې ده. او له ولايت څخه بغير نکاح باطلېږي، نو ځکه به دا نکاح هم باطلېږي؛ او شفقت په دې توګه فوت سوی دی چې د نجلۍ په مهرِ مثل کې ډېره کمي کول يا د هلک د ښځې په مهرِ مثل کې ډېر زياتوب کول له شفقت څخه لېرې خبره ده او داسې ده لکه پلار چې د هلک يا نجلۍ يو شی په غبنِ فاحش سره يعني په ډېر کم قيمت سره خرڅ کړي يا د هغو لپاره په ډېر زيات قيمت سره يو شی رانيسي، نو دا د ټولو په نېز صحيح نه دي. نو دا نکاح به هم صحيح نه وي. همدا وجه ده که له پلار او نيکه څخه بغير بل ولي داسې نکاح وکړي نو د ټولو په نېز نه صحيح کېږي، لهذا د پلار او نيکه داسې نکاح به هم نه صحيح کېږي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چې شفقت او مصلحت یو پټ شی دی او پر پټ شي حکم جاري کول ناممکن دي، نو ځکه به د شفقت پر دلیل او علامت حکم جاري کیږي، او د شفقت دلیل د قرابت قُرب (نژدېکت) دی، یعني شفقت او مصلحت په ډېر نژدې قریب کې موجود وي چې هغه پلار او نیکه دي، نو د قرابت د ډېر نژدېکت په وجه ظاهراً د پلار او نیکه په باره کې دا اُمید کېدای سي چې د دوی په نکاح کې به خامخا مصلحت او شفقت وي که څه هم په غبنِ فاحش سره یې نکاح کړې وي، نو ځکه به د شفقت او مصلحت پر دلیل (قُرْبُ الْقَرَابَة) حکم جاري کیږي، او په چا کې چې قُربِ قرابت نه وي، د هغه نکاح به نه صحیح کیږي.

او د صاحبینو دا قول چې ډېر زیاتوب او ډېر کمتوب له شفقت څخه لیرې خبره ده، نو د دې جواب دا دی چې په نکاح کې مهر مطلوب نه وي، بلکې له مهر څخه بغیر نور هم غټ مصلحتونه او ستر أهداف په نکاح کې موجود وي، لکه: کفو کېدل، شریف خاندان او داسې نور، نو کېدای سي چې د خاوند د ډېر شرافت یا د کفو په وجه به پلار په کم مهر د خپلې لور نکاح د هغه سره کړې وي، یا د نجلۍ د ډېر شرافت یا کفو په وجه به پلار د خپل هلک نکاح په ډېر زیات مهر د هغې سره کړې وي (چې هسې نه دا نجلۍ د لاسه ووځي). او داسې زیاتوب او کمتوب کامل شفقت او عینِ مصلحت دی.

أما المالية إلخ: په دې سره د صاحبینو د قیاس جواب ورکوي، هغو په خپل دلیل کې وویل چې په ډېر کم یا په ډېر زیات مهر د هلک او نجلۍ نکاح کول داسې دي لکه په ډېر کم قیمت د هغوی یو شی خرڅول یا په ډېر زیات قیمت د هغو لپاره یو شی رانیول، نو د دې جواب ورکوي فرمایي چې دا قیاس مع الفارق دی؛ ځکه چې په بیع (خرڅولو او رانیولو) کې خاص مال مقصود وي او له مال څخه بغیر بل غټ هدف او مقصد پکښې نه وي، نو که په بیع کې غبنِ فاحش وکړي نو بالکلیه (په بشپړه توګه) به شفقت فوت سي، د دې په خلاف په نکاح کې له مال (مهر) څخه بغیر نور هم غټ اهداف او مقاصد سته، لهذا نکاح پر بیع قیاسول بالکل صحیح نه دي.

والدليل عدمناه إلخ: په دې سره هم صاحبینو ته جواب ورکوي، هغو وویل چې: "همدا وجه ده که له پلار او نیکه څخه بغیر بل ولي داسې نکاح وکړي نو د ټولو په نیز نکاح نه صحیح کیږي". نو د دې جواب ورکوي فرمایي چې له پلار او نیکه څخه بغیر په بل ولي کې د شفقت او مصلحت دلیل (یعني قُربِ قرابت) نسته (نو ظاهراً د بل ولي له نکاح څخه د شفقت او مصلحت اُمید نه سي کېدای)، او مخکې موږ وویل چې حکم به د شفقت او مصلحت پر دلیل جاري کیږي او هغه په بل ولي کې نسته، نو ځکه به په ډېر کم یا ډېر زیات مهر سره د هغه نکاح نه صحیح کیږي.

د پلار لپاره د غلام يا مينځې سره د خپل بچي د نکاح کولو حکم

وَمَنْ زَوَّجَ ابْنَتَهُ وَهِيَ صَغِيرَةٌ عَبْدًا او څوک چې د خپلې نابالغې لور نکاح وکړي د يو غلام سره أَوْ زَوَّجَ ابْنَهُ وَهُوَ صَغِيرٌ أَمَةً يا د خپل نابالغ زوی نکاح وکړي د مينځې سره فَهُوَ جَائِزٌ نو دا نکاح جائز ده قَالَ: وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ أَيْضًا ۞ [مصنف رَحِمَهُ الله] فرمايي: او دا هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز اجائز ده، لکه په تېره مسئله کې چې هم دهغه په نيز نکاح جائز وه] لِأَنَّ الْإِعْرَاضَ عَنِ الْكَفَاءَةِ لِمَصْلَحَةٍ تَفُوقُهَا ځکه چې له کفو څخه [د پلار] اعراض کول به د داسې مصلحت [ښېګڼې] لپاره وي کوم چې تر کفو [ډېر] لوړ وي وَعِنْدَهُمَا هُوَ ضَرَرٌ ظَاهِرٌ لِعَدَمِ الْكَفَاءَةِ او د صاحبينو په نيز دا [د غلام يا مينځې سره د خپل بچي نکاح کول] ښکاره نقصان دی د کفائت د نشتوالي په وجه فَلَا يَجُوزُ نو ځکه به دا نکاح جائز نه وي.

اللغات: ﴿إِعْرَاض﴾ د افعال مصدر دی: مخ اړول، توجه نه کول. ﴿تَفُوْق﴾ د نصر مضارع ده: لوړېدل، پورته کېدل.

تشريح: دا مسئله د مخکنۍ مسئلې د تعليل او دليل سره تعلق لري.

صورت د مسئلې: دا دی که پلار د خپلې کوچنۍ لور نکاح د غلام سره وکړي، يا د خپل کوچني زوی نکاح د مينځې سره وکړي، نو په دې باره کې اختلاف دی، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په دې صورت کې هم نکاح جائز ده، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز جائز نه ده.

د امام صاحب دليل: دا دی چې په غيرِ کفو کې د پلار نکاح کول به د يو داسې مصلحت او ښېګڼې لپاره وي کوم چې له کفائت څخه لوړ او ګټمن وي، ځکه چې د پلار له قوي محبت او نږدې قرابت څخه دا اُميد کېدلای نه سي چې هغه د تاوان په ځای کې د خپل بچي نکاح وکړي، نو شايد دا مينځه يا غلام به يو داسې هنر لري چې هغه به په آزاد کس کې هم نه وي، نو ځکه به په غيرِ کفو کې د پلار نکاح جائز وي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې په غيرِ کفو کې نکاح کول ښکاره تاوان دی، نو ځکه به دا نکاح جائز نه وي.

يادونه: که تر نکاح وروسته په تحقيق سره معلومه سي چې پلار د يولالچ يا جهالت په وجه نکاح کړې ده، نو قاضي ته د هغه د نکاح ماتولو او فسخ کولو حق سته، ځکه چې په تحقيق سره معلومه سوه چې څه مصلحت پکښې نسته. فقط والله أعلم وعلمه أتم

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الخانية (ج:١، ص:١٦٦)، وكذا في المدينة (ج:١، ص:٢٩٢).
[القول الراجح ج:١، ص: ٢٧٨]

فَصْلٌ فِي الْوَكَالَةِ بِالنِّكَاحِ وَغَيْرِهَا

(دا) فصل په (بيان د) وكالت بالنكاح او غيرِ وكالت كې دې

تشريح: څرنګه چې د وكيل تصرف د ولي د تصرف سره برابر دی، يعني (په نكاح كې) د دواړو تصرف نافذيږي، نو په دې اعتبار سره وكالت د ولايت يو قسم سو، نو ځكه مصنف رَحِمَهُ الله تر "بَابُ الْأَوْلِيَاءِ" لاندې په يو جلا فصل كې د وكالت بيان كوي.

ضروري يادونه: په دې باب كې له وكيل څخه مراد هغه كس دی چې بل چا د نكاح تړلو (كولو) حكم ورته كړی وي، مثلاً زيد خالد ته د نكاح كولو حكم كړی وي، نو خالد وكيل دی او زيد مُوَكِّل دی. او كه څوک خپله نكاح په خپله وتړي او په خپله ايجاب وقبول وكړي، نو هغه ته أصيل وايي، او كه د يو چا ولي د هغه نكاح وتړي مثلاً د لور نكاح پلار وتړي نو هغه ته ولي وايي، او كه څوک نه د يو چا ولي وي او نه وكيل وي يعني د نكاح تړلو (كولو) حكم هم ورته سوی نه وي نو هغه ته فضولي وايي، ځكه چې هغه يو زائد او فضول كس دی د ولي له حكم څخه بغير پر خپل سر نكاح تړي.

د نكاح تړلو درې صورتونه دي: ① يو دا چې دواړو طرفونو ته أصيل وي، يعني سړی او ښځه دواړه أصيل وي، مثلاً سړی په خپله ايجاب وكړي او ښځه په خپله قبول وكړي، ② دويم دا چې دواړو طرفونو ته وكيل وي، مثلاً د سړي وكيل خالد وي، او د ښځې وكيل زيد وي، ③ د دواړو له طرفه يو وكيل وي، مثلاً ښځې هم خالد د نكاح وكيل جوړ كړی وي، او سړي هم، نو په دې صورت كې خالد د دواړو له طرفه ايجاب وقبول كولای سي، په نكاح كې دا صحيح دي چې له دواړو طرفونو څخه يو وكيل وي، لېكن په بيع كې صحيح نه دي.

د اكا د لور سره د اكا د زوی د نكاح حكم

وَيَجُوزُ لِابْنِ الْعَمِّ او جائز دي د اكا زوی لره أَنْ يُزَوِّجَ بِنْتَ عَمِّهِ مِنْ نَفْسِهِ چې د اكا د لور سره خپله نكاح په خپله او كړي وَقَالَ زُفَرُ: لَا يَجُوزُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې جائز نه دي وَإِنْ أَذِنَتِ الْمَرْأَةُ لِلرَّجُلِ او كه يو ښځه اجازه وركړي يو سړي ته أَنْ يُزَوِّجَهَا مِنْ نَفْسِهِ چې د هغې سره خپله نكاح وكړي (يعني حكم ورته وكړي چې زما نكاح ستا سره وتړه!) فَعَقَدَ بِحَضْرَةِ شَاهِدَيْنِ نو هغه د دوو ګواهانو په

حضور کي نکاح وتړي جَازَ نو دا نکاح اجائز ده وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ امام زفر رَحِمَهُ الله او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جائز نه ده لَهُمَا: أَنَّ الْوَاحِدَ لَا يُتَصَوَّرُ أَنْ يَكُونَ مُمَلِّكًا وَمُتَمَلِّكًا د دوی دليل دا دی: چي يو سړی [شخصِ واحد] مملک او متملک کېدلای نه سي ايعني داسي نه سي کېدای چي يو کس هم بل څوک د يو شي مالک جوړوي او هم په خپله د هغه مالک جوړېږي] كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه په بيع کي اچي هم دا حکم دی ا إِلَّا أَنَّ الشَّافِعِيَّ يَقُولُ: فِي الْوَلِيِّ ضَرُورَةٌ خو امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په ولي کي ضرورت سته لِأَنَّهُ لَا يَتَوَلَّاهُ سِوَاهُ ځکه چي له هغه شخصه بغير [بل څوک] ولايت نه سي کولای وَلَا ضَرُورَةَ فِي الْوَكِيلِ او په وکيل کي هيڅ ضرورت نسته وَلَنَا: أَنَّ الْوَكِيلَ فِي النِّكَاحِ مُعَبِّرٌ وَسَفِيرٌ او زموږ دليل دا دی: چي وکيل په نکاح کي تعبير [ترجماني] کونکی او استازی دی وَالتَّمَانُعُ فِي الْحُقُوقِ دُونَ التَّعْبِيرِ او ممانعت په حقوقو کي دی نه په تعبير [ترجماني] کي وَلَا تَرْجِعُ الْحُقُوقُ إِلَيْهِ او [د نکاح] حقوق د وکيل و طرف ته نه راجع کيږي بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بيع لِأَنَّهُ مُبَاشِرٌ ځکه چي [په بيع کي وکيل] په خپله کار کونکی [يعني عاقد] وي حَتَّى رَجَعَتِ الْحُقُوقُ إِلَيْهِ همدا وجه ده چي د بيع حقوق د هغه وطرف ته راجع کيږي وَإِذَا تَوَلَّى طَرَفَيْهِ نو کله چي هغه د نکاح د دواړو طرفونو [ايجاب وقبول] ولي سو فَقَوْلُهُ: زَوَّجْتُ يَتَضَمَّنُ الشَّطْرَيْنِ نو د هغه دا قول: "زَوَّجْتُ" [ازه (ستاسره) نکاح کوم] به دواړو طرفونو ته شامل وي وَلَا يُحْتَاجُ إِلَى الْقَبُولِ او قبول ته به ضرورت نه وي.

اللغات: ﴿مُمَلِّک﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: مالک جوړونکی، مالک کونکی، مَلَّكَ يُمَلِّكُ تَمْلِيْكًا: يو څوک د يو شي مالک جوړول، مالک ګرځول، لکه په بيع کي چي بائع مشتري د مبيع مالک جوړوي، ﴿مُتَمَلِّک﴾ د تفعّل اسم فاعل دی: مالک جوړېدونکی، ﴿لَا يَتَوَلَّاهُ﴾ د تفعّل نفي صيغه ده: مشري کول، ولي جوړېدل، ﴿مُعَبِّر﴾ د تفعيل اسمِ فاعل دی: د يو شي مطلب بيانونکی کس، ترجمان، هغه کس چي د بل چا خبره نقل کوي، ﴿تَمَانُع﴾ د تفاعل مصدر دی: منافات، ممانعت، ﴿شَطْر﴾ نيمه حصه.

تشريح: په دې عبارت کي دوې جلا مسئلې بيان سوي دي، او دواړې اختلافي دي:

(١)... اوله مسئله دا ده که د يو نابالغي نجلۍ د اکا زوی د ګواهانو په حضور کي د نجلۍ سره خپله نکاح وکړي (وتړي)، نو زموږ په نېز دا نکاح جائز او صحيح ده. د امام مالک، امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ الله په نېز هم جائز ده. ليکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز دا نکاح جائز نه ده.

(۲)... دویمه مسئله دا ده که ښځه یو سړي خپل وکیل جوړ کړي چې زما نکاح ستا سره وکړه! (وتړه!). او بیا دغه سړی د دوو ګواهانو په حضور کې د ښځې سره خپله نکاح وکړي. نو زموږ په نیز دا نکاح هم جائز او صحیح ده، لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله او امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز دا نکاح جائز نه ده (یعني د دوی په نیز دا جائز نه دي چې فقط یو سړی خپل له طرفه أصیل جوړ سي او د ښځې له طرفه وکیل جوړ سي او فقط یو سړی د نکاح ایجاب او قبول دواړه وکړي).

دلیل: د امام شافعي او امام زفر دلیل دا دی چې دلته په دواړو مسئلو کې یو سړی هم مملک (مالک جوړونکی) دی او هم متملک (مالک کېدونکی) دی، یعني هغه په ایجاب سره بل څوک (ځان) د بضع مالک جوړوي او په قبول سره د بضع مالک کیږي مثلاً په اول مسئله کې د اکا زوی ولي دی او هغه خپله نکاح په خپله تړلې ده همدارنګه په دویمه مسئله کې سړي خپله نکاح په خپله تړلې ده نو په دوی دواړو کې هر یو هم مملک سو او هم متملک، او دا صحیح نه دي چې یو سړی دې هم مملک (وکیل) وي او هم دې متملک (أصیل) وي، لکه په بیع کې چې دا صحیح نه دي یعني که یو سړی بل څوک د یو شي د خرڅولو وکیل (مملک) جوړ کړي نو وکیل په خپله دغه شی نه سي رانیولای او هغه د دې شي مالک کېدلای نه سي، نو څرنګه چې په بیع کې د یوه سړي مملک او متملک کېدل صحیح نه دي، همداسې به په نکاح کې هم دا صحیح نه وي، او که څوک داسې نکاح وکړي، نو د هغه نکاح به بالکل جائز نه وي.

__إلا أن الشافعي إلخ__: په دې سره دا راښیي چې په اوله مسئله کې خو امام شافعي رَحِمَهُ الله زموږ سره دی او د نکاح د جواز قائل دی، لیکن په دویمه مسئله کې د امام زفر رَحِمَهُ الله سره دی، نکاح ناجائز ګڼي او دلیل یې هم ذکر کړی دی، د دې څه وجه ده؟ نو فرمایي چې په اوله مسئله کې د ضرورت په وجه امام شافعي رَحِمَهُ الله نکاح جائز ګڼي، ځکه چې د اکا له زوی څخه بغیر بل داسې څوک نسته چې د نجلۍ ولي جوړ سي، او د دوی په خپل مینځ کې نکاح صحیح هم ده، لهذا که هغه په خپله د دې نجلۍ سره نکاح وکړي یعني د ځان له طرفه ایجاب وکړي او د نجلۍ له طرفه قبول وکړي، نو دا نکاح به ضرورتاً جائز او صحیح وي.

زموږ دلیل: دا دی چې په نکاح کې وکیل فقط د ناقل او ترجمان حیثیت لري، عاقد او د حقوقو ذمه وار نه وي (یعني د ښځې نکاح د خپل ځان سره نه تړي چې د نکاح حقوق د هغه وطرف ته راجع سي) بلکې کومه خبره چې موکِل غواړي، وکیل فقط هغه خبره رانقل کوي، د نکاح حقوق د هغه وطرف ته نه راجع کیږي. او د یوه سړي هم مملک کېدل او هم متملک کېدل هغه وخت ممنوع دي کله چې حقوق د هغه وطرف ته راجع کیږي او هغه عاقد (مباشر) وي، لیکن څرنګه چې په نکاح کې د وکیل وطرف ته

حقوق نه راجع کيږي، نو هغه فقط معبّر او ترجمان دی، او د تعبير او ترجمانۍ په حيثيت سره د يوه سړي مملک او متملک کېدل صحيح دي (يعني د تعبير په اعتبار سره د يوه سړي ايجاب او قبول دواړه کول صحيح دي)، نو ځکه به دلته په دواړو مسئلو کي نکاح صحيح وي.

بخلاف البيع إلخ: په دې سره امام شافعي او امام زفر ته جواب ورکوي چي پر بيع قياس کول صحيح نه دي، ځکه چي په بيع کي وکيل معبّر او ترجمان نه وي بلکي په خپله عاقد (مباشر) وي او د بيع ټوله ذمه واري او ټوله حقوق هغه ته راجع کيږي، مثلاً که په مبيع کي يو عيب وي نو مشتري وکيل ته رجوع کوي، نو په دې وجه په بيع کي د يوه سړي مملک او متملک کېدل صحيح نه دي: لنډه دا چي په نکاح کي وکيل د تعبير او ترجمانۍ په اعتبار سره مملک او متملک ګرځي او دا صحيح دي. لېکن په بيع کي وکيل د حقوقو په اعتبار سره مملک او متملک ګرځي او دا جائز نه دي، نو ځکه نکاح پر بيع قياسول صحيح نه دي.

وإذا تولى إلخ: فرمايي کله چي دا ثابته سوه چي يو سړی د نکاح د دواړو طرفونو (ايجاب او قبول) مالک کېدلای سي، نو د هغه دا قول "زَوَّجْتُ" به ايجاب او قبول دواړو ته شامل وي، او د ښځي قبول ته به ضرورت نه وي (يعني کله چي سړی فقط "زَوَّجْتُ" ووايي نو نکاح به نافذيږي او بل طرف يعني قبول ته به هيڅ ضرورت نه وي)، ځکه چي هغه د دواړو طرفونو مالک دی، نو د هغه يو کلام او يو عبارت به هم د دواړو کلامونو پر ځای درېږي.

د فضولي د نکاح بيان

قَالَ [امام قدوري] فرمايي وَتَزْوِيجُ الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهُمَا مَوْقُوفٌ او نکاح کول [تړل] د غلام او د مينځي د خپل مالک له اجازت څخه بغير موقوفه ده [يعني که غلام يا مينځه د مالک له اجازې څخه بغير خپله نکاح په خپله وکړي، نو د هغو نکاح د مالک پر اجازه موقوفه ده] فَإِنْ أَجَازَهُ الْمَوْلَى جَازَ نو که مالک اجازه ورکړي نو نکاح جائز ده وَإِنْ رَدَّهُ بَطَلَ او که هغه نکاح ردّ کړي نو نکاح باطله ده وَكَذَلِكَ لَوْ زَوَّجَ رَجُلٌ امْرَأَةً بِغَيْرِ رِضَاهَا او همداسي که يو سړی د يو ښځي نکاح وکړي [وتړي] د هغې له رضا [او اجازت] څخه بغير أَوْ رَجُلًا بِغَيْرِ رِضَاهُ يا هغه د يو سړي نکاح وکړي د هغه له رضا [او اجازت] څخه بغير [نو په دې صورت کي هم نکاح د ښځي يا د سړي پر اجازه موقوفيږي] وَهَذَا عِنْدَنَا او دا [د نکاح موقوفاً جائز کېدل] زموږ په نېز دي فَإِنَّ كُلَّ عَقْدٍ صَدَرَ مِنَ الْفُضُولِيِّ ځکه چي هر هغه عقد کوم چي له فضولي

ځخه صادر سوی وي وَلَهُ مُجِيْزٌ او د هغه عقد يو اجازه ورکونکی [قبلونکی] وي اِنْعَقَدَ مَوْقُوفًا عَلَى الْإِجَازَةِ نو هغه منعقد کيږي په داسي حال کي چي پر اجازه به موقوف وي [يعني داسي عقد موقوفا صحيح کيږي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَصَرُّفَاتُ الْفُضُولِيِّ كُلُّهَا بَاطِلَةٌ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د فضولي ټوله تصرفات باطل دي لِأَنَّ الْعَقْدَ وُضِعَ لِحُكْمِهِ ځکه چي عقد د خپل حکم لپاره وضع سوی دی وَالْفُضُولِيُّ لَا يَقْدِرُ عَلَى إِثْبَاتِ الْحُكْمِ او فضولي د حکم پر ثابتولو قدرت نه لري فَيَلْغُو نو ځکه به [د هغه عقد لغو] او باطل] وي وَلَنَا: أَنَّ رُكْنَ التَّصَرُّفِ صَدَرَ مِنْ أَهْلِهِ او زموږ دليل دا دی: چي د تصرف رکن [يعني ايجاب وقبول] له خپل أهل ځخه صادر سوي دي مُضَافًا إِلَى مَحَلِّهِ په داسي حال کي چي خپل محل ته منسوب [هم] دي [نو ځکه به نکاح منعقد او صحيح وي] وَلَا ضَرَرَ فِي انْعِقَادِهِ او د نکاح په منعقد کېدلو کي هيڅ تاوان [هم] نسته فَيَنْعَقِدُ مَوْقُوفًا نو ځکه به موقوفاً منعقد کيږي [يعني د أصل ناکح پر اجازه به موقوفه وي] حَتَّى إِذَا رَأَى الْمَصْلَحَةَ فِيهِ نو که هغه په دې [نکاح] کي ښېګڼه ووينې يُنَفِّذُهُ نو نافذه به يې کړي [يعني اجازه به ورکړي] وَقَدْ يَتَرَاخَى حُكْمُ الْعَقْدِ عَنِ الْعَقْدِ او کله نا کله د عقد حکم له عقد ځخه ځنډيږي هم.

اللغات: ﴿عَقْد﴾ تړون، معامله (لکه نکاح، بيع او داسي نور)، ﴿مُجِيْز﴾ د افعال اسم فاعل دی: اجازه ورکونکی، ﴿صَدَرَ﴾ د واحد مذکر غائب ماضي صيغه ده، له نصر او ضرب دواړو ځخه راځي: حاصلېدل، واقع کېدل، صادرېدل، پيدا کېدل، ﴿يَتَرَاخَى﴾ د تفاعل مضارع ده: ځنډېدل، وروسته کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي د فضولي سره متعلق يوه مسئله بيان سوې ده، د فضولي تعريف د فصل په تشريح کي ذکر سو.

صورت د مسئلې: دا دی که غلام يا مينځه د خپل مالک له اجازت ځخه بغير خپله نکاح وکړي، يا يو سړی د يو ښځي له اجازت او رضا ځخه بغير د هغې سره نکاح وکړي او يا مثلاً ښځه له اجازت ځخه بغير د سړي سره نکاح وکړي، نو په دې دواړو صورتونو کي خو زموږ په نېز نکاح صحيح کيږي، لېکن په اول صورت کي به د مالک پر اجازت موقوفه وي او په دويم صورت کي به د سړي يا د ښځي پر اجازت موقوفه وي، که د دوی له طرفه اجازت ورکول سي نو نکاح نافذيږي، کنې باطليږي: ځکه

چې زموږ په نيز قاعده دا ده چې "کوم عقد چې له فضولي څخه صادر سوی وي (يعني هغه يې ايجاب کړی وي)، او په هغه مجلس کې د ايجاب قبلونکی کس موجود وي، برابره ده دغه قبلونکی که يو بل فضولي وي او که وکيل يا اصيل وي"، نو دا نکاح صحيح ده. خو د اصل ناکح پر اجازه موقوفه ده:

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د فضولي ټوله تصرفات (يعني ايجاب و قبول) باطل دي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې نکاح يو عقد دی، او عقد د حکم د ثبوت لپاره وضع سوی دی يعني په عقد يو حکم ثابتيږي (يعني که يو څوک د نکاح عقد او تړون وکړي نو سمدستي حکم يعني نکاح ثابتيږي)، او فضولي د عقد د حکم پر ثابتولو هيڅ قدرت نه لري، نو ځکه به د هغه تصرفات (ايجاب و قبول) لغو او باطل وي.

زموږ دليل: دا دی چې ايجاب و قبول چې د کوم فضولي له طرفه صادر سوي دي هغه د ايجاب و قبول أهل دی يعني عاقل او بالغ انسان دی، او د چا نکاح چې کوي (تړي) هغه هم د نکاح محل ده ځکه چې هغه حلاله ښځه ده له محرماتو څخه نه ده، نو ځکه به دا نکاح موقوفاً صحيح وي. او موقوفاً د نکاح په صحيح کېدلو کې هيڅ نقصان هم نسته، ځکه که د اصل ناکح نکاح خوښه سي او په نکاح کې څه نقصان نه وويني نو اجازه به ورکوي، او که نقصان په کې ووينې نو نکاح به ردّ کړي.

وقد يتراخى حكم إلخ: په دې عبارت سره امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي هغه وويل چې "فضولي د عقد د حکم پر ثابتولو قدرت نه لري"، نو په جواب کې فرمايي چې کله نا کله د عقد حکم د عقد له وخت څخه مؤخر کيږي (يعني ځنډول کيږي او سمدستي نه ثابتيږي)، لکه په خيار شرط سره چې څوک بيع وکړي نو په هغه ګړي د بيع حکم نه ثابتيږي، بلکې د خيار شرط تر مودې (مثلاً تر دريو ورځو) پوري ځنډول کيږي، نو همدغسې دلته هم د فضولي د حکم ثبوت د أصل ناکح تر اجازت پوري مؤخر سوی دی، لهذا د دې په وجه به عقد نه باطليږي.

د فضولي د نکاح يو بل صورت

وَمَنْ قَالَ: أَشْهِدُوا أَنِّي قَدْ تَزَوَّجْتُ فُلَانَةً او که يو سړي وويل: تاسې ګواهان سئ! [پر دې] چې ما د فلانۍ ښځې سره نکاح وکړه فَبَلَغَهَا الْخَبَرُ او بيا هغه ښځې ته خبر ورسېدی فَأَجَازَتْ نو هغې اجازه ورکړه [يعني نکاح يې قبوله کړه] فَهُوَ بَاطِلٌ نو [هم] دا نکاح باطله ده وَإِنْ قَالَ آخَرُ: أَشْهِدُوا أَنِّي قَدْ زَوَّجْتُهَا مِنْهُ [همدارنګه] که يو بل سړي وويل: تاسې ګواهان سئ! [پر دې] چې ما د فلانۍ ښځې نکاح د فلانکي سړي سره وکړه فَبَلَغَهَا الْخَبَرُ بيا هغه ښځې ته خبر ورسېدی فَأَجَازَتْ او هغې اجازه

ورکړه جَازَ نو دا نکاح اجائز ده وَكَذٰلِكَ اِنْ كَانَتِ الْمَرْاَةُ هِيَ الَّتِيْ قَالَتْ جَمِيْعَ ذٰلِكَ او همدارنګه که ښځه دغه [پورتنی] خبري وکړي انو هم نکاح باطله ده] وَهٰذَا عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا [حکم] د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ: اِذَا زَوَّجَتْ نَفْسَهَا غَائِبًا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې که ښځه خپله نکاح د يو غائب سړي سره وکړي ايعني هغه سړی د نکاح په مجلس کي حاضر نه وي] فَبَلَغَهُ بيا هغه ته خبر ورسيږي فَاَجَازَهُ او هغه د نکاح اجازه ورکړي جَازَ نو [نکاح] جائز ده وَحَاصِلُ هٰذَا او حاصل د دې [اختلاف کوم چې په مينځ د ابو يوسف او طرفينو کي دی] دا دی اَنَّ الْوَاحِدَ لَا يَصْلُحُ فُضُوْلِيًّا مِنَ الْجَانِبَيْنِ، اَوْ فُضُوْلِيًّا مِنْ جَانِبٍ وَاَصِيْلًا مِنْ جَانِبٍ عِنْدَهُمَا ✿ چې د طرفينو په نيز يو کس [شخصِ واحد] د دې صلاحيت نه لري چې له دواړو طرفونو څخه فضولي جوړ سي. يا له يوه طرف څخه فضولي او له بل طرف څخه أصيل جوړ سي خِلَافًا لَهُ په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله [د هغه په نيز شخصِ واحد د دې تولو صلاحيت لري].

اللغات: ﴿أَشْهِدُوْا﴾ د افعال له باب څخه د جمع مذكر امرِ حاضر صيغه ده: ګواه جوړول. د بل چا پر ځان ګواهي ورکول. ﴿لَا يَصْلُحُ﴾ د کرُم له باب څخه د واحد مذکر غائب ماضي صيغه ده: صلاحيت لرل (ورتيا لرل)، لائق کېدل (لياقت).

تشريح: له فقهي قاعدو څخه يوه قاعده دا ده چې: "الأصل أنّ كل عقد له مجيز حال وقوعه توقف على الاجازة وإلّا لا" (يعني هر هغه عقد چې د هغه د وقوع په حالت کي د هغه يو مُجيز [اجازه ورکونکی] موجود وي، نو داسي عقد به [د هغه] پر اجازه موقوف کيږي. لېکن که د عقد د وقوع په حالت کي د هغه اجازه ورکونکی موجود نه وي، نو هغه به پر اجازه نه موقوف کيږي)، په تېر عبارت کي هم دا قاعده جاري سوې ده. او د دې عبارت مسئلې هم پر دغه قاعدې مبني دي.

صورت د مسئلې: دا دی که يوه سړي د دوو خلګو په مخکي وويل چې ما د فاطمې سره نکاح کړې ده تاسي دواړه پر دې خبره ګواهان سئ! حال دا چې فاطمه په هغه مجلس کي نه وه. او د هغې وکيل هم نه وو چې د هغې له طرفه په دې مجلس کي قبول وکړي، خو فاطمې ته چې کله د نکاح خبر ورسېدی نو هغې اجازه ورکړه. يا مثلاً يوې ښځي د دوو خلګو په مخکي وويل چې ما د خالد سره نکاح کړې ده

✿ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:٢، ص:٣٥٢)، وكذا في الهندية (ج:١، ص:٢٩٩)، وكذا في البحر الرائق (ج:٣، ص:٢٢٥). [القول الراجح ج:١، ص:٢٦٩]

تاسي دواړه پر دې خبره گواهان سئ! او خالد ته چي کله دنکاح خبر ورسېدی نو هغه اجازه ورکړه. نو د طرفينو په نيز په دې دواړو صورتونو کي نکاح باطله ده (يعني که سړی داسي نکاح وکړي او که ښځه، په دواړو صورتونو کي د طرفينو په نيز نکاح باطله ده). لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز په دواړو صورتونو کي جائز ده (دليل به څه وروسته ذکر سي).

دويمه مسئله دا ده که يوه فضولي سړی د دوو گواهانو په حضور کي وويل چي تاسو پر دې خبره گواهان سئ! چي ما د خالد سره د فاطمې نکاح کړې ده (او خالد په هغه مجلس کي قبول وکړی او د نکاح اجازه يې ورکړه)، بيا فاطمې ته د نکاح خبر ورسېدی او هغې اجازه ورکړه. نو په دې صورت کي د ټولو په نيز نکاح صحيح کيږي.

دا دواړي مسئلې پر پورتنۍ قاعدې مبني دي چي که د عقد د وقوع په وخت کي مُجيز (اجازه ورکونکی) موجود وي نو عقد موقوفاً صحيح کيږي کنې نه صحيح کيږي. نو دلته هم په اوله مسئله کي د نکاح د وقوع په وخت کي ښځه په مجلس کي موجوده نه ده. نو ځکه به په اوله مسئله کي موقوفاً نکاح نه صحيح کيږي (بلکي باطليږي، نو تر مجلس وروسته که څه هم ښځه اجازه ورکړي هغه به هيڅ فايده نه کوي ځکه چي تر اجازې مخکي د هغې نکاح باطله سوه). او په دويمه مسئله کي خالد کوم چي أصيل دی هغه په مجلس کي موجود دی او قبول يې هم کړی دی (يعني د نکاح اجازه يې هم ورکړه). نو ځکه به په دويمه مسئله کي نکاح صحيح کيږي.

وکذلك إلخ: فرمايي که د سړي پر ځای ښځه پورتنۍ خبره وکړي يعني داسي ووای: "أشهدوا أني قد تزوجت فلاناً إلخ"، نو په دې صورت کي هم د طرفينو په نيز نکاح نه صحيح کيږي (لکه مخکي چي مو ذ وويل). لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز په دې صورت کي نکاح صحيح کيږي.

وحاصل هذا إلخ: په دې عبارت سره دا راښيي چي د طرفينو او د امام ابو يوسف په مينځ کي دا اختلاف په اصل کي د دوی د نظريو پر اختلاف مبني دی، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله نظريه دا ده چي شخصِ واحد (يو کس) له يوه طرف څخه ولي او له بل طرف څخه فضولي جوړېدلای سي (لکه په پورتني صورت کي. يعني چي کله ښځه ووايي: "أشهدوا أني قد إلخ". نو په دې صورت کي ښځه د خپل ځان له طرفه أصيله ده او د سړي له طرفه فضولي ده)، همدارنګه د هغه په نيز يو سړی له دواړو طرفونو څخه فضولي، يا له يوه طرف څخه فضولي او له بل طرف څخه ولي جوړېدلای سي، نو ځکه د هغه په نيز په پورتني صورتونو کي نکاح صحيح کيږي.

لېکن د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز شخصِ واحد داسي نه سي کولای، نو ځکه د دوی په نيز په پورتني صورتونو کي نکاح نه صحيح کيږي يعني برابره ده که سړی داسي وکړي او که ښځه داسي وکړي (په دې شرط چي په مجلس کي قبول کونکی سړی موجود نه وي).

د دوو فضوليانو يا د فضولي او اصيل تر مينځ د نکاح د عقد حکم

وَلَوْ جَرَى الْعَقْدُ بَيْنَ الْفُضُوْلِيَّيْنِ او که عقد [د نکاح] جاري سي د دوو فضوليانو په مينځ کي أَوْ بَيْنَ الْفُضُوْلِيِّ وَالْأَصِيْلِ يا د يوه فضولي او يوه اصيل په مينځ کي جَازَ بِالْإِجْمَاعِ نو د ټولو په نېز اما عقد د نکاح] جائز دی هُوَيَقُوْلُ: لَوْكَانَ مَأْمُوْرًا مِنَ الْجَانِبَيْنِ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: که فضولي له دواړو طرفونو څخه وکيل وای يَنْفُذُ نو د هغه عقد به نافذېدای فَإِذَا كَانَ فُضُوْلِيًّا يَتَوَقَّفُ لهذا کله چي هغه فضولي دی نو د هغه عقد به موقوف وي [يعني نکاح به يې موقوفاً صحيح وي] وَصَارَ كَالْخُلْعِ وَالطَّلَاقِ وَالْإِعْتَاقِ عَلَى مَالٍ او دا داسي سو لکه خلع کول او د مال په بدله کي طلاق ورکول او آزادول وَلَهُمَا: أَنَّ الْمَوْجُوْدَ شَطْرُ الْعَقْدِ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي [دلته] د عقد يوه حصه موجوده ده لِأَنَّهُ شَطْرٌ حَالَةَ الْحَضْرَةِ ځکه چي د موجوديّت په حالت کي هم دا د عقد يوه حصه ده [يعني کله چي خاوند او ښځه په مجلس کي موجود او حاضر وي نو هم ايجاب يا قبول د نکاح يوه حصه شمارل کيږي] فَكَذَا عِنْدَ الْغَيْبَةِ لهذا [د هغو] په غائبوالي کي به هم يوه حصه وي وَشَطْرُ الْعَقْدِ لَا يَتَوَقَّفُ عَلَى مَا وَرَاءَ الْمَجْلِسِ او د عقد يوه حصه د مجلس پر دباندېني [حالت] نه موقوفه کيږي كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه بيع کي اچي د عقد يوه حصه پر ما وراء د مجلس نه موقوفه کيږي] بِخِلَافِ الْمَأْمُوْرِ مِنَ الْجَانِبَيْنِ په خلاف د هغه سړی چي له دواړو طرفونو څخه وکيل وي لِأَنَّهُ يَنْتَقِلُ كَلَامُهُ إِلَى الْعَاقِدَيْنِ ځکه چي د هغه خبري د دواړو عقد کوونکو و طرف ته نقل کيږي وَمَا جَرَى بَيْنَ الْفُضُوْلِيَّيْنِ عَقْدٌ تَامٌّ او کوم عقد چي د دوو فضوليانو تر مينځ جاري سوی وي هغه کامل [بشپړ] عقد دی وَكَذَا الْخُلْعُ وَأُخْتَاهُ او همدارنګه خلع او د خلع دوې خوندي هم کامل عقد دی اله دوو خوندو څخه مراد "طَلَاق عَلَى مَال او عِتَاق عَلَى مَال" دی] لِأَنَّهُ تَصَرُّفُ يَمِيْنٍ مِنْ جَانِبِهِ ځکه چي دا د سړي [خاوند] له طرفه د يمين [قسم] تصرف دی حَتَّى يَلْزَمَ فَيَتِمَّ بِهِ تر دې چي دا [پر هغه] لازميږي او په هغه سره پوره کيږي هم [يعني د هغه په قول سره پوره کيږي، ځکه چي هغه داسي دی لکه قسم اخيستونکی او څوک چي قسم واخلي نو قسم محض په اخيستلو [ويلو] سره پوره کيږي او پر قسم اخيستونکي لازميږي].

اللغات: ﴿جَرَىٰ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جاري کېدل، واقع کېدل. ﴿إِعْتَاق﴾ د افعال مصدر دی: آزادول. ﴿شَطْرُ الْعَقْد﴾ نيمه حصه د عقد، يوه حصه د عقد (بيع، نکاح، طلاق او داسي نور عقدونه په خپل مينځ کي دوې حصې دي، يوه حصه يې ايجاب ده او بله يې قبول ده. کله چي دا دواړي حصې په مجلس کي واقع سي نو عقد تاميږي او که فقط يوه واقع سي نو عقد باطليږي، او ايجاب يا قبول ته "شطر" يعني "يوه حصه" وايي). ﴿الحَضْرَة﴾ حاضري (حضور)، موجوديت (موجود والی). ﴿مَا وَرَاء المَجْلِس﴾ له مجلس څخه دباندي (بهر)، تر مجلس وروسته.

تشريح: په تېر عبارت کي تاسو ته دا مسئله ذکر سوه چي د طرفينو په نېز شخصِ واحد (يو کس) له دواړو طرفونو څخه فضولي نه سي جوړېدلای، لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز جوړېدلای سي. په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله د دواړو دليلونه ذکر کوي او يوه بله متفق عليه مسئله هم بيانوي.

مسئله دا ده که د دوو فضوليانو تر مينځ يا د يوه فضولي او د بل أصيل تر مينځ د نکاح عقد وسي (مثلاً خالد د زيد له طرفه فضولي وي او عُمر د فاطمې له طرفه فضولي وي، يو ايجاب وکړي او بل په دغه مجلس کي قبول وکړي)، نو د ټولو په نېز نکاح صحيح کيږي، ځکه چي په مجلس کي دننه يو فضولي قبول کونکی سو او شخصِ واحد له دواړو طرفونو څخه فضولي نه سو (او مخکي موږ وويل چي که په مجلس کي قبول کونکی کس موجود وي نو نکاح صحيح کيږي)، نو ځکه به دلته نکاح صحيح وي؛ همدارنګه که له يوه طرفه فضولي وي او له بل طرفه أصيل وي، يو ايجاب وکړي او بل په دغه مجلس کي قبول وکړي، نو هم د ټولو په نېز نکاح صحيح کيږي، ځکه چي دغه بل فضولي په مجلس کي قبول کونکی سو.

هو يقول إلخ: په دې سره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د مخکنۍ مسئلې دليل بيانوي، هغه وويل: که له دواړو طرفونو څخه شخصِ واحد فضولي وي او نکاح وتړي، نو هم نکاح صحيح کيږي. د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي که شخصِ واحد (يوه سړي) ته خاوند او ښځي دواړو د نکاح تړلو حکم کړی وي، يعني د دواړو له طرفه شخصِ واحد وکيل وي نو د هغه نکاح نافذيږي. لهذا څرنګه چي د هغه نکاح نافذيږي نو همداسي که له دواړو طرفونو څخه شخصِ واحد فضولي وي نو هم به نکاح موقوفاً نافذيږي او صحيح کيږي.

وصار كالخلع إلخ: امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د خپل دليل په تاييد کي درې مثالونه ذکر کوي. يعني د "فضولي من الجانبين" مسئله پر درې شيانو قياسوي: ① خلع، ② طلاق، ③ عتاق. يعني که خاوند ووايي چي ما د خپلي ښځي سره د پنځو سوو (۵۰۰) درهمو په عوض کي خلع وکړه. او ښځه

يې په مجلس کې موجوده نه وه، وروسته هغې ته د خلع خبر ورسېدی او هغې خلع قبوله کړه نو د ټولو په نېز خلع صحيح کيږي، حالانکې دلته يوازې خاوند په مجلس کې موجود دی. نو څرنګه چې دلته ديوه سړي په کلام سره خلع صحيح کيږي، نو همداسې ديوه فضولي په کلام سره نکاح هم صحيح کېدل پکار دي؛ او بل مثال دا دی که خاوند ووايي چې ما په پنځو سوو (۵۰۰) درهمو خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی. او هغه په مجلس کې نه وه. وروسته خبره سوه او د خاوند معامله او خبره يې قبوله کړه نو هغه بالاتفاق طلاقيږي او (۵۰۰) درهمه پر لازميږي. او بل مثال دا دی که مالک ووايي: ما غلام د پنځو سوو (۵۰۰) درهمو په عوض کې آزاد کړی، او غلام په مجلس کې نه وو. وروسته هغه خبر سو او د مالک خبره يې قبوله کړه نو هغه بالاتفاق آزاديږي او پر غلام (۵۰۰) درهمه لازميږي. نو څرنګه چې خلع، طلاق او عتاق ديوه سړي په کلام سره موقوفاً صحيح کيږي. نو همداسې به د فضولي من الجانبين نکاح هم موقوفاً صحيح کيږي.

ولهما أن الموجود إلخ: د طرفينو د دليل حاصل دا دی چې د نکاح عقد په ايجاب و قبول دواړو سره پوره کيږي، ځکه چې ايجاب د عقد يوه حصه ده او قبول يې بله حصه ده. کله چې دا دواړې حصې واقع سي نو نکاح پوره کيږي، او د فضولي من الجانبين په مسئله کې فقط يوه حصه يعني ايجاب واقع کيږي ځکه چې هغه له دواړو طرفونو څخه فضولي دی، په مجلس کې خاوند يا ښځه ور سره نسته چې قبول وکړي، نو د هغه دا کلام "أشهدوا أني قد تزوّجتُ" به "ايجاب" يعني د عقد يوه حصه وي. لکه څرنګه چې په هغه وخت کې هم دا کلام فقط د عقد يوه حصه کيږي کله چې ښځه او خاوند په مجلس کې موجود وي، لهذا د نه موجوديت په وخت کې به هم دا کلام د عقد يوه حصه (يعني ايجاب) وي، او د عقد يوه حصه د مجلس پر ماوراء نه موقوفه کيږي بلکې هر وخت چې مجلس ختم سي نو سملستي هغه عقد باطليږي، لکه د بيع په عقد کې چې کله ايجاب واقع سي لېکن قبول واقع نه سي نو بيع باطليږي (مثلاً يو څوک ووايي چې ما پر خالد دغه پُسه خرڅ کړی، او په هغه مجلس کې د خالد له طرفه څوک قبول نه وکړي، نو د مجلس پر ختمېدلو سملستي دغه د بيع عقد باطليږي، بيا که څه هم تر مجلس وروسته د خالد له طرفه قبول واقع سي، نو هم هغه لره هيڅ اعتبار نسته)، ځکه چې په مجلس کې فقط د عقد يوه حصه يعني ايجاب واقع سو، او د عقد يوه حصه پر ماوراء د مجلس نه موقوفه کيږي. نو همداسې کله چې د نکاح په عقد کې يوه حصه واقع سي او بله حصه واقع نه سي، نو هغه به هم باطليږي او پر ماوراء د مجلس به نه موقوفه کيږي.

بخلاف المأمور من الجانبين: په دې عبارت سره امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي، هغه وويل چې "که له دواړو طرفونو څخه شخصِ واحد وکيل وي نو د هغه نکاح نافذيږي، نو همداسې به د

فضولي نكاح هم موقوفاً نافذيږي"، د جواب حاصل دا دی چي په نكاح كي وكيل فقط د مُعبّر او ترجمان حيثيت لري (د عاقد او مُباشر حيثيت نه لري، لكه مخكي چي دا خبره ذكر سوه)، لهذا د وكيل كلام د دواړو عاقدَينو (سړي او ښځي) و طرف ته نقل كيږي (يعني د هغه يو كلام د دواړو د كلام [ايجاب و قبول] پر ځای درېږي)، نو ګواكي هغه د يوه له طرفه ايجاب وكړی او د بل له طرفه يې قبول وكړی، نو ځكه به د هغه نكاح نافذيږي؛ لېكن كله چي له دواړو طرفونو څخه شخصِ واحد فضولي وي نو فقط يوه حصه يعني ايجاب واقع كيږي، ځكه چي د هغه كلام د دواړو عاقدَينو و طرف ته نه نقل كيږي، نو ځكه به د هغه نكاح باطليږي.

وما جاری بين إلخ: د دې حاصل دا دی چي د دوو فضوليانو پر عقد قياس كول هم صحيح نه دي، ځكه چي د دوو فضوليانو په مينځ كي واقع سوی عقد پر ايجاب او قبول داړو مشتمل وي، نو ځكه د هغو عقد (موقوفاً) كامل او پوره وي، لهذا پر هغه باندي غيرِ كامل (نابشپړ) عقد قياسول صحيح نه دي.

وكذا الخلع وأختاه إلخ: همدارنګه خُلع، طلاق على مال او عتاق على مال هم كامل او پوره عقد دی.

لهذا د امام ابو يوسف لپاره د خپل دليل په تاييد كي دغه مسئلې پېشول او پر دې د "فضولي من الجانبين" مسئله قياسول صحيح نه دي؛ ځكه چي يو شی "ايجاب وقبول" دي او بل شی "يمين" (قسم) دی چي هغه ته "شرط" هم وايي (وروسته به دا خبره ذكر سي چي يمين ته شرط هم وايي)، د "ايجاب وقبول" په باره كي قاعده دا ده چي كه ايجاب وقبول دواړه په يوه مجلس كي واقع سي نو عقد پوره كيږي او كه فقط ايجاب واقع سي او مجلس ختم سي نو ايجاب باطليږي او چي ايجاب باطل سي نو عقد هم باطليږي (كه څه هم تر مجلس وروسته قبول واقع سي)، همدارنګه كه څوک تر ايجاب وروسته او تر قبول مخكي په هغه مجلس كي له خپلي خبري څخه رجوع كول وغواړي نو رجوع كولای سي؛ او د "يمين" په باره كي قاعده دا ده چي كله "يمين" وويل سي نو په هغه مجلس كي د هغه قبول (قبلول) ضروري نه دي (يعني د يمين قبول د مجلس سره خاص نه دی)، بلكي تر مجلس وروسته هم د هغه قبول كېدای سي (ځكه چي يمين محض په ويلو سره پوره كيږي)، او كه څوک په يمين كي له خپلي خبري څخه رجوع كول وغواړي نو رجوع نه سي كولای ځكه چي دا قسم دی (او له قسم څخه څوک رجوع نه سي كولای)، او خاوند چي كله خلع وكړي نو د هغه خلع هم يمين ده، نو په دې وجه په مجلس كي د ښځي قبول ضروري نه دی بلكي تر مجلس وروسته هم د ښځي په قبول سره خلع صحيح كيږي، او طلاق على مال او عتاق على مال هم يمين دی ځكه چي دا دواړه هم

پر شرط مشتمل دي. لهذا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله لپاره دغه مثالونه او مسئلې په خپل دليل کې پېشول او پر دې قياس کول صحيح نه دي، ځکه چې دا قياس مع الفارق دی.

خو که چيرې ښځه خلع وکړي يعني ښځه ووايي چې ما له خاوند څخه د (۵۰۰) درهمو په عوض کې خلع وکړه. نو دا د هغې له طرفه معاوضه ده (په لنډه توګه دا چې خلع د ښځې له طرفه معاوضه ده، ځکه چې ښځې د (۵۰۰) درهمو په عوض کې له خاوند څخه طلاق واخيستی)، نو د ښځې خلع د بيع په څير عقد سوه، يمين نه سوه. لهذا په دې صورت کې په مجلس کې دننه د خاوند قبول کول ضروري دي.

همدا حال د طلاق على مال او عتاق على مال دی، يعني که د خاوند له طرفه وي نو يمين دی. لهذا تر مجلس وروسته هم ښځه قبول کولای سي، او که د ښځې له طرفه وي نو د بيع په څير دی. لهذا خاوند به په هغه (د ايجاب په) مجلس کې قبول کوي، کنې ايجاب باطليږي.

نور وضاحت: د "حَتّٰى يَلْزَمُ" مطلب دا سو چې کله خاوند خلع وکړي يا طلاق على مال او عتاق على مال وکړي نو دا شيان پر هغه لازم سو، لهذا که تر کولو وروسته هغه بيرته له دې شيانو څخه رجوع کول وغواړي نو رجوع نه سي کولای، ځکه چې خلع او دا نور دوه شيان يمين دي او په يمين کې رجوع نه سي کېدلای بلکې هغه لازميږي، د "فَيَتِمُّ بِهٖ" مطلب دا سو چې کله خاوند فقط داسې ووايي چې ما د دومره مال په عوض کې خلع وکړه، نو فقط په همدومره وينا سره يمين او شرط پوره کيږي بيا په مجلس کې د ښځې لپاره قبول کول ضروري نه دي، همدا د طلاق على مال او عتاق على مال حکم دی.

د مؤکل په امر (حکم) کې د وکيل د تصرف کولو حکم

وَمَنْ أَمَرَ رَجُلًا او کوم څوک چې يو سړي ته [دا] حکم وکړي أَنْ يُزَوِّجَهُ امْرَأَةً چې د يو ښځې سره د هغه نکاح وکړي [يعني کوم څوک چې يو سړی د خپلې نکاح وکيل جوړ کړي چې د يو ښځې سره زما نکاح وکړه!] فَزَوَّجَهُ اِثْنَتَيْنِ فِي عُقْدَةٍ نو هغه په يوه عقد کې د دوو ښځو سره د هغه نکاح وکړه لَمْ تَلْزَمْهُ وَاحِدَةٌ مِنْهُمَا نو په دې دواړو کې يوه [هم] پر هغه لازمه نه ده [يعني د يوې قبلول هم پر هغه لازم نه دي، بلکې د دواړو ښځو نکاح غير صحيح ده او دواړې به پرېږدي] لِأَنَّهُ لَا وَجْهَ إِلَى تَنْفِيذِهِمَا ځکه چې د دوی دواړو د نکاح نافذولو لره هيڅ صورت [او هيڅ لاره] نسته لِمُخَالَفَةِ [د وکيل] د مخالفت په وجه وَلَا إِلَى التَّنْفِيذِ فِي إِحْدَاهُمَا غَيْرَ عَيْنٍ او نه له دواړو څخه په يوې غير متعيّنې ښځې کې د نکاح نافذولو لره هيڅ صورت [او دليل] سته لِلْجَهَالَةِ د جهالت په وجه [ځکه چې غير متعيّنه ښځه مجهوله وي] وَلَا إِلَى

التَّعْيِيْنِ او نه ديوې د متعينولو هيڅ صورت سته لِعَدَمِ الْأَوْلَوِيَّةِ د افضليت [ترجيح] د نشتوالي په وجه [يعني يوه پر بله هيڅ ترجيح نه لري] فَتَعَيَّنَ التَّفْرِيْقُ نو ځکه جلا کول متعين سو.

اللغات: ﴿يُزَوِّجُه﴾ د تفعيل مضارع ده، متعدي باب دی: (بل چا ته) واده ورکول. نکاح ورکول (نکاح ورتړل)، ﴿عُقْدَةٌ﴾ يو عقد (يو تړون)، ﴿تَنْفِيْذ﴾ د تفعيل مصدر دی: نافذول. جاري کول. ﴿غَيْرِ عَيْن﴾ نامعلوم، غيرِ معين، ﴿تَفْرِيْق﴾ د تفعيل مصدر دی: د دوو شيانو تر مينځ جدايي رواستل، جلا کول، عليحده کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که زيد (مثلاً) خالد ته حکم وکړی (يعني خپل وکيل يې جوړ کړی) چې د فلانۍ ښځې سره زما نکاح وکړه!. او خالد ډېر اخلاص مند وو او په يوه ځل يې د دوو ښځو سره د زيد نکاح وتړله، نو په داسې صورت کې د يوې ښځې نکاح هم نه صحيح کيږي. او پر زيد د يوې ښځې قبلول هم ضروري نه دي، بلکې دواړې به له هغه څخه جلا کول کيږي او هغه به دواړې پرېږدي.

ځکه چې په عقلي توګه دلته درې احتمالات جوړيږي او درې سره باطل دي:

①... اول دا چې د دواړو ښځو نکاح نافذ کړی سي، دا احتمال ځکه باطل دی چې موکِل (زيد) وکيل (خالد) ته فقط د يوې ښځې سره د نکاح کولو حکم کړی وو، نه د يو درځن ښځو سره. نو د موکِل د حکم د مخالفت په وجه دا احتمال باطل دی.

②... دويم احتمال دا دی چې بغير له تعيين څخه فقط د يوې ښځې نکاح نافذ کړی سي، دا احتمال هم باطل دی، ځکه چې د دې هيڅ دليل او وجه نسته چې يوه ښځه مُتعيّنه کړی سي، ځکه که د غيرِ مُتعيّني ښځې نکاح نافذ کړی سي (يعني تعيين يې نه وسي)، نو هغه خو مجهوله سوه. او د مجهولې ښځې نکاح د بيان پر شرط مُعلّقه ده (يعني د هغې نکاح هغه وخت صحيح کيږي چې په بيان سره د هغې جهالت ختم سي)، حالانکې ملکِ نکاح مُعلّق کول جائز نه دي.

③... دريم احتمال دا دی چې په دواړو ښځو کې يوه متعيّنه کړی سي او د هغې نکاح نافذ کړی سي، او دا احتمال هم ممکن نه دی، ځکه چې د يوې ښځې په متعيّنولو سره ترجيح بلا مرجح لازميږي، ځکه چې په اوليّت کې دواړې سره برابرې دي ځکه چې د دواړو سره په يوه وار نکاح سوې ده.

نو کله چې يو صورت هم ممکن نه دی، نو په آخر کې فقط همدغه صورت پاته سو چې د دواړو نکاح فسخ کړی سي او دواړې له موکِل (زيد) څخه جلا کړی سي.

د پورتني مسئلې يو بل صورت

وَمَنْ أَمَرَهُ أَمِيرٌ او چا ته چې يو مالدار [دولتمند] کس حکم وکړي ايعني د نکاح وکيل يې جوړ کړي [بِأَنْ يُزَوِّجَهُ امْرَأَةً چې د يو ښځې سره د هغه نکاح وکړي فَزَوَّجَهُ أَمَةً لِغَيْرِهِ نو هغه [وکيل] د بل چا د مينځې سره د مالدار نکاح وکړي جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو [دا] نکاح جائز ده د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز رُجُوعًا إِلَى إِطْلَاقِ اللَّفْظِ د لفظ اطلاق ته په کتلو سره ايعني ځکه چې أمير هغه ته د مطلق ښځې حکم کړی دی [وَعَدَمِ التُّهْمَةِ او د تهمت د نشتوالي په وجه وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ : لَا يَجُوزُ إِلَّا أَنْ يُزَوِّجَهُ كُفُوًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې نکاح جائز نه ده خو دا چې هغه [وکيل] د يو کفو [ښځې] سره د أمير نکاح وکړي لِأَنَّ الْمُطْلَقَ يَنْصَرِفُ إِلَى الْمُتَعَارَفِ ځکه چې مطلق [ښځه] کرځول کيږي و متعارف ته وَهُوَ التَّزَوُّجُ بِالْأَكْفَاءِ او متعارف د کفو سره نکاح کول دي قُلْنَا: الْعُرْفُ مُشْتَرَكٌ موږ جواب ورکوو: چې عرف مشترک دی أَوْ هُوَ عُرْفٌ عَمَلِيٌّ يا هغه عرف عملي دی فَلَا يَصْلُحُ مُقَيِّدًا نو ځکه دا [مطلق] عرف د مقيد کېدلو صلاحيت نه لري وَذُكِرَ فِي الْوَكَالَةِ او [د مبسوط] په کتابُ الوکالة کې ذکر سوي دي أَنَّ اعْتِبَارَ الْكَفَاءَةِ فِي هٰذَا اسْتِحْسَانٌ عِنْدَهُمَا چې د کفو اعتبار کول په دې مسئله کې د صاحبينو په نيز استحسان دی لِأَنَّ كُلَّ أَحَدٍ لَا يَعْجِزُ عَنِ التَّزَوُّجِ بِمُطْلَقِ الزَّوْجِ ځکه چې هر څوک د مطلق ښځې له نکاح څخه عاجز نه دی ايعني هر څوک د مطلق ښځې سره د نکاح کولو قدرت لري، هيڅوک هم له دې څخه عاجز نه دی [فَكَانَتِ الِاسْتِعَانَةُ فِي التَّزَوُّجِ بِالْكُفُوِ نو اد أمير سړي له حکم څخه [به په کفو کې د نکاح کولو په هکله مرسته غوښتل [امراد] وي.

اللغات: ﴿أَمِيْر﴾ مالدار، حاکم، واکمن (دلته څني مراد داسې مالدار سړی دی چې د آزادي کفو ښځې سره د نکاح کولو قدرت لري، يعني دومره مال لري چې د آزادي ښځې مهر په اداء کړي)، ﴿إِسْتِعَانَة﴾ د مدد طلب کول، مرسته غوښتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مالدار سړي يو څوک خپل د نکاح وکيل جوړ کړي او ورته ووايي ورېل چې د يو ښځې سره زما نکاح وکړه!، او هغه د يو مينځې سره د مالدار سړي نکاح وکړه، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا نکاح جائز ده او مالدار ته د اعتراض کولو حق نسته، ليکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز جائز نه ده.

د امام صاحب دليل: دا دی چې دلته مالدار سړي وکيل ته د مطلق ښځې سره د نکاح کولو حکم کړی دی (د آزادي ښځې تعيين يې نه دي کړی)، او په مطلق ښځه کې آزاده او مينځه دواړه داخلي دي، او بل دا چې دلته پر

* القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، کما ذکر في رد المحتار (ج:۲، ص:۳۵۲)، وکذا في البحر الرائق (ج:۳، ص:۲۴۷). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۷۰]

وکیل هیڅ تهمت هم نسته، ځکه چي هغه د خپلي مینځي سره نه بلکي د پردۍ مینځي سره د دغه أمیر سړي نکاح کړې ده (که د خپلي مینځي سره یې د هغه نکاح کړې وای نو بیا پر وکیل دا تهمت کېدای سو چي شاید خپل مینځه یې پر مالک اړوله، یا شاید په دې کي د ده یوه فایده وه، لېکن په پردۍ مینځي کي دا تهمت هم نسته).

د صاحبینو دلیل: دا دی چي صحیح ده أمیر سړي د مطلق ښځي حکم کړی دی، او مطلق نقل کیږي و متعارف ته (یعني داسي معنیٰ ته نقل کیږي چي هغه په عرف عام کي جاري وي)، او عرف همدا دی چي آزاد انسان (بیا په ځانګړې توګه أمیر انسان) د خپل کفو سره نکاح کوي، نو ځکه به دلته د مینځي سره د أمیر سړي نکاح جائز نه وي.

قلنا إلخ: په دې عبارت سره د امام صاحب له طرفه صاحبینو ته دوه جوابونه ورکوي، یو دا چي عرف مشترک دی، یعني په عرف کي چي څرنګه خلک د آزادو ښځو سره نکاح کوي، همدارنګه د مینځو سره هم نکاح کوي لکه په مالداره خلکو کي چي همدغه رواج دی، لهذا کله چي عرف مشترک دی، نو فقط په آزادي ښځي سره عرف مقیدول صحیح نه دي، نو ځکه به د مینځي سره هم نکاح جائز وي. دویم جواب دا دی چي عرف پر دوه قسمه دی: (۱) عرف لفظي، (۲) عرف عملي، او تاسو (صاحبین) چي د کوم عرف یادونه کوی هغه عرف عملي دی (یعني په عملي اعتبار سره د خلکو عرف همدا دی چي خلک له مطلق ښځي څخه آزاده مرادوي)، لېکن دغه أمیر سړي وکیل ته د إطلاق (مطلق ښځي) حکم کړی دی، او إطلاق د عرف لفظي له قبیلې څخه دی (یعني د لفظ او لغت په اعتبار سره مطلق ښځه په عرف کي آزادي ښځي او مینځي دواړو ته ویل کیږي او دواړو ته شاملیږي)، او عرف لفظي (مطلق) په عرف عملي سره مقیدول صحیح نه دي، ځکه چي تقیید د اطلاق مقابل دی، او د تقابل لپاره اتحاد د محل (د محل یو والی) شرط دی، او هغه دلته نسته، ځکه چي عرف عملي جلا شی دی او عرف لفظي جلا شی دی.

وذکر في الوکالة إلخ: د دې حاصل دا دی چي امام محمد رَحِمَهُ الله د مبسوط په "کتابُ الوکالة" کي هم دغه مسئله بیان کړې ده، او په دې مسئله کي یې د کفو اعتبار مستحسن ګڼلی دی (یعني له مطلق ښځي څخه به استحساناً آزاده مرادیږي)، او د استحسان دلیل یې دا بیان کړی دی چي د مطلق ښځي سره پر نکاح کولو هر څوک قدرت لري. لېکن څوک چي بل چا ته نکاح سپاري او د خپلي نکاح وکیل یې جوړوي نو د دې مطلب دا وي چي د کفو ښځي او غوره ښځي سره زما نکاح وکړه!، لهذا د استحسان تقاضا دا ده چي دلته له مطلق ښځه ښځي آزاده او کفو ښځه مراد کړی سي، نو ځکه به د مینځي سره د دغه أمیر سړي نکاح جائز نه وي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ الْمَهْرِ

(دا) باب (په بیان) د ولور (کي دی)

تشریح: مخکي تر دې صاحب د هدایې د نکاح ارکان او شرائط بیان کړل، اوس له دې ځایه د نکاح حکم یعني مهر بیانوي، ځکه چي د یو شي حکم تر هغه وروسته ثابتیږي، نو د همدغه ترتیب په لحاظ سره صاحب د هدایې د مهر بیان د ارکانو او شرائطو تر بیان وروسته کړی دی.

مهر په لغت او اصطلاح کي: د مهر لغوي معنیٰ ده: "ښځي ته مهر (ولور) ورکول". او په اصطلاح کي هغه مال ته مهر وایي کوم چي د ښځي سره د نکاح کولو په وخت کي د هغې د ملک بضع په بدل کي تاکل کیږي.

د مهر اووه (۷) نومونه دي: ① صَدَاق، ② نِحْلَة، ③ أجر، ④ فَرِيْضَة ⑤ مَهْر، ⑥ عَلِيْقَة، ⑦ عَقْر. (اول څلور یعني "صداق، نحله، أجر، فریضه" په قرآن کي ذکر سوي دي او پاته درې په حدیث کي ذکر سوي دي).

له مهر تاکلو څخه بغیر د نکاح تفصیلي حکم

وَيَصِحُّ النِّكَاحُ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّ فِيهِ مَهْرًا او صحیح ده نکاح که څه هم مهر پکښې ذکر نه کړی سي ایعني که څه هم د نکاح په وخت کي مهر نه وتاکل سي نو هم نکاح صحیح ده! لِأَنَّ النِّكَاحَ عَقْدُ انْضِمَامٍ وَازْدِوَاجٍ لُغَةً ځکه چي نکاح په لغت کي د یوځای کېدلو او جوړه کېدلو عقد دی ایعني د نکاح لغوي معنیٰ ده: (د خاوند او ښځي) سره یو ځای کېدل، جوړه کېدل! فَيَتِمُّ بِالزَّوْجَيْنِ نو په ایو ځای کېدلو! د خاوند او ښځي سره [دا عقد] پوره کیږي ثُمَّ الْمَهْرُ وَاجِبٌ شَرْعًا بیا مهر په شریعت کي واجب [سوی] دی إِبَانَةً لِشَرَفِ الْمَحَلِّ د محل د شرافت څرګندولو لپاره فَلَا يُحْتَاجُ إِلَى ذِكْرِهِ لِصِحَّةِ النِّكَاحِ نو ځکه د نکاح صحیح کېدلو لپاره د هغه ذکر کولو ته ضرورت نسته وَكَذَا إِذَا تَزَوَّجَهَا بِشَرْطِ أَنْ لَا مَهْرَ لَهَا او همدارنګه [نکاح صحیح ده په هغه صورت کي! کله چي [خاوند] د ښځي سره پر دې شرط نکاح وکړي چي د هغې لپاره به مهر نه وي ایعني د مهر نفي وکړي! لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ [اوس]

ذکر کړی [چې نکاح په لغت کې يو ځای کېدلو... ته وايي] وَفِيهِ خِلَافُ مَالِكٍ او په دې کې د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَأَقَلُّ الْمَهْرِ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ او د مهر کمه اندازه لس [١٠] درهمه دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: مَا يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ ثَمَنًا فِي الْبَيْعِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: کوم شی چې په بيع کې ثمن جوړول جائز وي يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ مَهْرًا لَهَا هغه شی د ښځې لپاره مهر جوړول [هم] جائز دي لِأَنَّهُ حَقُّهَا ځکه چې مهر د ښځې حق دی فَيَكُونُ التَّقْدِيرُ إِلَيْهَا نو د هغه اندازه کول [او ټاکل] به [هم] د ښځې لپاره وي [يعني کله چې مهر د ښځې حق دی نو د هغه تقدير او تعيين به هم ښځې ته سپارل کيږي]

وَلَنَا: قَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1]: وَلَا مَهْرَ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةٍ او زموږ دليل د نبي ﷺ دا قول دی: چې د لسو درهمو څخه کم مهر نشته وَلِأَنَّهُ حَقُّ الشَّرْعِ وُجُوبًا او ځکه چې مهر د شريعت واجب کړی سوی حق دی إِظْهَارًا لِشَرَفِ الْمَحَلِّ د محل د شرافت ښکاره کولو لپاره فَيَتَقَدَّرُ بِمَا لَهُ خَطَرٌ نو په داسي شي سره به اندازه کيږي چې هغه لره [په شريعت کې] اهميت [ارزښت] وي وَهُوَ الْعَشَرَةُ او هغه لس درهمه دي اِسْتِدْلَالًا بِنِصَابِ السَّرِقَةِ د غلا پر نصاب باندې په قياس کولو سره.

اللغات: ﴿لَمْ يُسَمِّ﴾ د تفعيل د باب جحد صيغه ده: نومول، متعيّنول، ټاکل، ذکر کول. ﴿إِنْضِمَام﴾ د انفعال مصدر دی: يو ځای کېدل، جمع کېدل. ﴿إِزْدِوَاج﴾ د افتعال مصدر دی: نکاح کول، واده کول، د خاوند او ښځې سره جوړه کېدل (يو ځای کېدل). ﴿إِبَانَة﴾ د افعال مصدر دی: ښکارندول، ښکاره کول. ﴿أَقَلّ﴾ کم، (کم ازکم، لږ تر لږه). ﴿تَقْدِير﴾ د تفعيل مصدر دی: اندازه کول، مقرر کول. ﴿خَطَر﴾ احترام، عظمت، حيثيت، اهميت (ارزښت). ﴿سَرِقَة﴾ غلا.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي: (١)... اوله مسئله دا ده چې د مهر له تعيين او ټاکلو څخه بغير هم نکاح جائز ده؛ د دې عقلي دليل دا دی چې د نکاح لغوی معنیٰ ده: "انضمام" (يو ځای کېدل)، نو فقط د خاوند او ښځې په يو ځای کېدلو سره د غه معنیٰ پوره کيږي. نو ځکه به له مهر ټاکلو څخه بغير فقط په ايجاب و قبول سره هم نکاح صحيح کيږي. او بل دليل يې دا دی چې په دې آيت "فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ...الخ" [سورة النساء: ٣] کې مطلق د نکاح حکم سوی دی، د مهر ذکر

[1] تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب النكاح، باب المهر، حديث رقم: ٣٥٥٩.

نه دي سوی، اوس که موږ د نکاح صحیح کېدلو لپاره د مهر ذکر کول او ټاکل ضروري وګڼو. نو پر کتابُ الله به زیاتوب راسي کوم چي صحیح نه دی، نو په دې حواله سره هم د نکاح د صحیح کېدلو لپاره د مهر ټاکل او ذکر کول ضروري نه دي.

ثم المهر الخ: په دې سره دیو سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي مهر خو په شریعت کي واجب دی، نو له هغه څخه بغیر څنګه نکاح صحیح کیږي؟ د جواب حاصل دا دی چي مهر د نکاح د صحت (صحیح کېدلو) لپاره نه دي واجب سوی، بلکي د بضع د شرافت او ارزښت د ښکاره کولو لپاره واجب سوی دی چي بضع یو ډېر قیمتي او ارزښتناکه شی دی، نو ځکه د نکاح د صحت لپاره د هغه ذکر کول شرط او ضروري نه دي.

وكذا إذا تزوّجها إلخ: فرمايي لکه څرنګه چي د مهر نه ذکر کولو په صورت کي نکاح صحيح کيږي، همدارنګه د مهر نفي کولو په صورت کي هم نکاح صحيح کيږي (يعني که د نکاح په وخت کي ووايل سي چي دا ښځه بې مهره ده [مهر نه ورکوي]، او د هغې سره د خاوند نکاح مُفته وتړل سي، نو هم نکاح جائز کيږي). ځکه چي په دې صورت کي هم د خاوند او ښځي په يو ځای کېدلو سره د نکاح معنیٰ "انظمام او ازدواج" پوره کيږي.

خو په دې مسئله کي د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی، هغه فرمايي چي د مهر نفي کولو په صورت کي نکاح نه صحيح کيږي؛ دليل يې دا دی چي نکاح د بيع په څير عقد معاوضه دی، نو څرنګه چي بيع د ثمن په نفي کولو سره باطليږي، همدارنګه نکاح هم د مهر په نفي کولو سره باطليږي (ځکه چي ثمن هم عوض دی او مهر هم عوض دی).

موږ دا جواب ورکوو چي نکاح پر بيع قياسول صحيح نه دي، ځکه چي په بيع کي اَحَدُ العِوَضَيْن د بيع رکن دی، او د رکن په نفي کولو سره شی منتفي کيږي، لېکن مهر خو نه د نکاح رکن دی او نه د نکاح شرط دی، لهذا څرنګه چي د مهر نه ذکر کولو په صورت کي نکاح صحيح کيږي، همدارنګه به د مهر په نفي کولو سره هم نکاح صحيح کيږي.

﴿د مهر اندازه﴾

(٢)... دويمه مسئله دا ده چي مهر به څومره ټاکل کيږي؟ نو په دې باره کي تفصيل دا دی چي د مهر په زياته اندازه کي د هيڅ اختلاف نسته، هر څومره مهر چي وټاکل سي د هغه اداء کول به واجب وي، لېکن د کمي اندازې په هکله يې د فقهاؤ اختلاف دی: د احنافو په نيز د مهر کمه اندازه لس (١٠) درهمه دي يعني تر لس درهمه کم مهر معتبر نه دی، لهذا که ديو ښځي مهر تر لس درهمه کم کېښنول

سي نو بيا به هم هغې ته لس درهمه ورکول کيږي. د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز د مهر کمه اندازه درې درهمه يا د يوه دينار څلورمه حصه ده. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د مهر د کمي اندازې هيڅ حد هم نسته لکه د مهر زياته اندازه چې هيڅ حد نه لري. بلکې د هغه په نيز هر هغه شی مهر جوړيدای سي کوم چې په بيع کې ثمن جوړيدای سي که څه هم د اوسپني ګوتمۍ وي (په دې شرط چې ښځه په راضي وي)، علامه عيني رَحِمَهُ الله د نورو فقهاؤ أقوال هم نقل کړي دي چې د ځينو په نيز د مهر کمه اندازه پنځه درهمه او د ځينو په نيز څلويښت او د ځينو په نيز شل درهمه دي، او د امام احمد رَحِمَهُ الله مسلک هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله په څير دی، او د مديني د فقهاؤ ميلان هم ودغه طرف ته دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چې مهر خالص د ښځې حق دی ځکه چې مهر فقط د هغې د بضع په مقابله کې ورکول کيږي، لهذا د مهر د تعيين او ټاکلو اختيار به هم د ښځې وي. او بل چا ته به د هغه د تعيين حق او اختيار نه وي.

زموږ دليل: زموږ يو دليل خو د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا حديث دی: "وَلَا مَهْرَ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةٍ". يعني تر لس درهمه کم مهر معتبر نه دی، او عقلي دليل دا دی چې مهر شريعت د بضع د شرافت او ارزښت څرګندولو لپاره واجب کړی دی نو مهر د شريعت حق سو. لهذا مهر به دومره اندازه ټاکل کيږي چې هغه په شريعت کې ارزښت (اهميت) لري. نو موږ چې کله عقل په کار واچوو او فکر مو وکړی نو معلومه سوه چې تر ټولو آخر لس درهمه اهميت او ارزښت لري. د غلا په نصاب باندې په قياس کولو سره. يعني د غلا نصاب شريعت همدومره اندازه ټاکلی دی. يعني که يو څوک لس درهمه غلا کړي نو د دې په عوض کې به د هغه لاس پرېکول کيږي. او بضع هم د لاس په څير يو اندام دی بلکې دا يو أهم اندام دی، نو ځکه به د هغه کمه اندازه مهر هم لس درهمه وي. او تر لسو کمو درهمو لره به اهميت او اعتبار نه وي.

تر لسو درهمو د کم مهر ټاکلو حکم

وَلَوْسَمّٰى أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةٍ او که خاوند [د ښځې لپاره] تر لس درهمه کم مهر وټاکي فَلَهَا الْعَشَرَةُ عِنْدَنَا نو د هغې لپاره به لس درهمه وي زموږ په نيز [يعني لس درهمه به ورکول کيږي] وَقَالَ زُفَرُ: لَهَا مَهْرُ الْمِثْلِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هغې لپاره به مهرِ مثل وي لِأَنَّ تَسْمِيَةَ مَا لَا يَصْلُحُ مَهْرًا كَانْعِدَامِهٖ ځکه ټاکل د هغه شي کوم چې د مهر جوړېدلو صلاحيت نه لري هغه داسي دی لکه نه ټاکل ايعني په مهر کې د هغه شي ټاکل داسي دي لکه بالکل چې مهر ټاکل سوی نه وي] وَلَنَا: أَنَّ فَسَادَ هٰذِهِ التَّسْمِيَةِ لِحَقِّ

الشَّرْعِ او زموږ دليل دا دی: چې د دې ټاکلو فساد د شريعت د حق په وجه دی [يعني تر لس درهمه کم مهر د شريعت د حق په وجه فاسد دی] وَقَدْ صَارَ مَقْضِيًّا بِالْعَشَرَةِ او هغه پوره سو په لسو درهمو سره فَأَمَّا مَا يَرْجِعُ إِلَى حَقِّهَا او کوم [مهر] چې د ښځې و حق ته راجع کيږي فَقَدْ رَضِيَتْ بِالْعَشَرَةِ نو هغه په لسو درهمو راضي سوه لِرِضَاهَا بِمَا دُونَهَا ځکه چې هغه د لسو څخه په کمو درهمو [هم] راضي ده وَلَا مُعْتَبَرَ بِعَدَمِ التَّسْمِيَةِ او د [مهر] نه ټاکلو لره هيڅ اعتبار نسته لِأَنَّهَا قَدْ تَرْضَى بِالتَّمْلِيْكِ مِنْ غَيْرِ عِوَضٍ تَكَرُّمًا ځکه چې کله نا کله تکرماً [د عزت لپاره] ښځه بغير له عوضه [هم] په مالک جوړولو راضي کيږي [يعني ځيني وخت ښځه تکرماً دې ته تياريږي چې له مهر څخه بغير خاوند د خپلي بضع مالک جوړ کړي] وَلَا تَرْضَى فِيهِ بِالْعِوَضِ الْيَسِيْرِ او په دې باره کي په لږ عوض [هم] نه راضي کيږي وَلَوْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُوْلِ بِهَا او که خاوند هغې ته طلاق ورکړي مخکي تر دخول په هغې سره تَجِبُ خَمْسَةٌ عِنْدَ عُلَمَائِنَا الثَّلَاثَةِ نو پنځه [۵] درهمه مهر واجبيږي زموږ د دريو علماؤ رَحِمَهُمُ الله په نيز وَعِنْدَهُ تَجِبُ الْمُتْعَةُ او په نيز د امام زفر رَحِمَهُ الله متعه واجبيږي كَمَا إِذَا لَمْ يُسَمِّ شَيْئًا لکه [په هغه صورت کي چې متعه واجبيږي کله] چې هيڅ مهر ټاکل سوی نه وي.

اللغات: ﴿تَسْمِيَة﴾ د تفعيل مصدر دی: مقرر کول، ټاکل، متعين کول (متعيّنول)، ذکر کول. ﴿مَقْضِيًّا﴾ د ضرب د باب اسمِ فاعل دی: اداء کړی سوی، پوره کړی سوی. ﴿تَكَرُّمًا﴾ د تفعّل مصدر دی: احترام، شرافت. ﴿يَسِيْر﴾ د صفت مشبه صيغه ده: لږ، په آسانۍ سره اداء کېدونکی شی.

تشريح: صاحب د هدايې په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان کړي دي او دواړي مختلف فيه دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده که د نکاح په وخت کي د ښځې مهر تر لس درهمه کم وټاکل سي نو بيا هم زموږ په نيز پر خاوند لس درهمه واجبيږي، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز په دې صورت کي پر خاوند د ښځې مهرِ مثل واجبيږي هغه که هر څومره وي.

د امام زفر دليل: دا دی چې هر هغه شی او هر هغه مقدار کوم چې د مهر جوړېدلو صلاحيت (ورتيا) نه لري، هغه په مهر کي ټاکل او نه ټاکل دواړه سره برابر دي (يعني هغه په مهر کي ټاکل او ذکر کول داسي دي لکه نه ټاکل او نه ذکر کول)، او د مهر نه ټاکلو په صورت کي پر خاوند مهرِ مثل واجبيږي، لهذا په دې مسئله کي به هم پر هغه مهرِ مثل واجبيږي.

زموږ دليل: دا دی چي تر لس درهمه کم مهر تاکل ځکه صحيح نه دي چي هغه د شريعت حق دی، لهذا د شريعت حق پوره کيږي په لسو درهمو سره. نو ځکه به پر خاوند پوره لس درهمه ورکول واجب وي، او پاته سو د ښځي حق (يعني د لسو درهمو څخه زايد مهر) نو هغه هم په دې صورت کي په لسو درهمو سره پوره کيږي، ځکه کله چي هغه تر لسو په کمو درهمو راضي ده. نو په لسو خو به ييخي راضي وي. لنډه دا چي په مهر کي د شريعت او ښځي دواړو حق سته (لس درهمه د شريعت حق دی. او تر لسو درهمو وروسته د ښځي حق دی)، نو د دواړو مراعات کول ضروري دي. او دلته په لسو درهمو کي د دواړو مراعات سوی دی، د شريعت حق خو ښکاره دی چي لس درهمه دی. او تر لسو درهمو زايد که څه هم د ښځي حق دی. خو هغه چي کله تر لسو درهمو په کمه راضي سوه نو تر لسو په زايدو درهمو کي يې خپل حق په خپله خوښه ساقط کړی، او ښځي ته د دې پوره اختيار سته (چي په خپله خوښه او رضا سره خپل حق ساقط کړي).

ولا معتبر إلخ: په دې عبارت سره امام زفر رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي هغه وويل چي تر لسو درهمو کم مهر تاکل داسي دي لکه بالکل چي مهر تاکل سوی نه وي، نو په جواب کي ورته وايي چي دا قياس صحيح نه دی، ځکه په تاکلو او نه تاکلو کي فرق دی، ځکه چي کله نا کله داسي کيږي چي ښځه (او د هغې خاندان) د خپل عزت د زياتوالي لپاره (يا د داسي بل مقصد لپاره) ټوله مهر معاف کوي او له څه عوض څخه بغير خاوند د خپلي بضع مالک جوړوي او په کم مهر هم نه راضي کيږي (ځکه د هغې عزت په دې کي وي چي ټوله مهر معاف کړي)، لهذا که ښځه بالکل مهر نه وټاکي بلکي د ټوله مهر په معافولو راضي وي نو له دې څخه دا خبره نه لازميږي چي په لسو درهمو هغه راضي کيږي. لېکن په پورتني صورت کي هغه پر کم مهر راضي ده، نو په لسو درهمو خو به ييخي راضي کيږي، نو ځکه به په دې صورت کي پر خاوند لس درهمه واجب وي او مهرِ مثل به نه پر واجبيږي.

ولو طلقها قبل الدخول: (٢)... له دويمي مسئلې څخه مخکي دا مختصره قاعده په ذهن کي وساتئ! چي که خاوند خپلي ښځي ته تر دخول مخکي طلاق ورکړي نو پر خاوند نيم مهر واجبيږي (دا قاعده به په را روان عبارت کي هم ذکر سي)، حاصل د مسئلې دا دی که يو سړی تر لسو درهمو په کم مهر نکاح وکړي او بيا تر دخول او جماع مخکي ښځي ته طلاق ورکړي، نو څرنګه چي زموږ په نيز تر لسو د کمو درهمو په صورت کي مهر بير ته لس درهمه تاکل کيږي، نو ځکه به پر دې سړي پنځه درهمه واجب وي، ځکه چي د طلاق قبل الدخول په صورت کي نيم مهر واجبيږي (لکه اوس چي موږ قاعده ذکر کړه)، خو څرنګه چي د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز تر لسو درهمو کم مهر داسي دی لکه بالکل چي مهر تاکل سوی نه وي، نو ځکه د هغه په نيز متعه واجبيږي، ځکه قاعده دا ده چي کله مهر

نه وي تاکل سي او تر دخول مخکي طلاق واقع سي، نو متعه واجبيږي، نو ځکه به دلته هم متعه واجبيږي. (د متعې پوره بيان به انشاء الله څه وروسته ذکر سي).

﴿مهرِ فاطمي ؟ (او د اوسني حساب مطابق د هغه اندازه)﴾

که وس او طاقت وي نو مهرِ فاطمي مستحب دی، ځکه چي د ګران پيغمبر ﷺ د بيبيانو مهر هم "مهرِ فاطمي" يعني پنځه سوه درهمه (٥٠٠) وو لکه څرنګه چي په مسلم شريف کي د دې ذکر سوی دی. زموږ د اوس وخت په حساب سره پنځه سوه (٥٠٠) درهمه يو سل و يو دېر (١٣١) تولې سپين زر کيږي، او د ګرام په حساب سره پنځلس سوه دېرش (1530) ګرامه سپين زر کيږي. او د روپۍ يا افغانۍ حساب تاسو خپله ولګوئ چي زموږ په سيمو کي اوس يوه توله سپين زر څومره کلداري يا څومره افغانۍ قيمت لري، بيا هغه ته په (١٣١) تولو کي ضرب ورکړئ، يا د ګرام په اندازه حساب ورته وکړئ، نو مهرِ فاطمي به تاسو ته معلوم سي.

د مهر د استحکام (مظبوطېدو) اسباب

وَمَنْ سَمّٰى مَهْرًا عَشَرَةً فَمَا زَادَ او څوک چي لس درهمه يا تر دې زيات مهر وټاکي فَعَلَيْهِ الْمُسَمّٰى إِنْ دَخَلَ بِهَا أَوْ مَاتَ عَنْهَا نو پر هغه ټاکل سوی مهر واجب دی که چيري په ښځي دخول وکړي يا ځني مړ سي لِأَنَّهُ بِالدُّخُولِ يَتَحَقَّقُ تَسْلِيمُ الْمُبْدَلِ ځکه چي د دخول په وجه د مبدل [بضع] سپارل ثابتيږي وَبِهِ يَتَأَكَّدُ الْبَدَلُ او د مبدل [بضع] په سپارلو سره بدل [مهر] مظبوطيږي وَبِالْمَوْتِ يَنْتَهِي النِّكَاحُ نِهَايَتَهُ او په مرګ سره نکاح خپل انتهاء ته رسيږي وَالشَّيْءُ بِانْتِهَائِهِ يَتَقَرَّرُ وَيَتَأَكَّدُ او شی خپل انتهاء ته په رسېدلو سره نور ثابتيږي او مظبوطيږي فَيَتَقَرَّرُ بِجَمِيعِ مَوَاجِبِهِ نو ځکه به دغه نکاح د خپلو ټولو احکامو سره ثابتيږي وَإِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا وَالْخَلْوَةِ او که خاوند هغه ښځي ته تر دخول او خلوت مخکي طلاق ورکړي فَلَهَا نِصْفُ الْمُسَمّٰى نو د هغې لپاره به د ټاکل سوي مهر نيمه حصه وي لِقَوْلِهِ تَعَالٰى: وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ [سورة البقرة: ٢٣٧] د الله تعالیٰ د دې قول په وجه: ﴿وإن طلقتموهن...(الخ)﴾ وَالْأَقْيِسَةُ مُتَعَارِضَةٌ او [په دې مسئله کي] قياسونه سره متعارض دي فَفِيهِ تَفْوِيتُ الزَّوْجِ الْمِلْكَ عَلٰى نَفْسِهِ بِاخْتِيَارِهِ ځکه چي په دې کي [يعني په طلاق قبل الدخول او طلاق قبل الخلوة کي] د خاوند په خپل اختيار سره پر خپل ځان د ملکيت فوتول سته [يعني تر دخول او خلوت مخکي په طلاق ورکولو سره ګواکي خاوند په خپل اختيار سره خپل د نکاح ملکيت ساقطوي]

وَفِيْهِ عَوْدُ الْمَعْقُوْدِ عَلَيْهِ إِلَيْهِ سَالِمًا او په همدغه [طلاق قبل الدخول او طلاق قبل الخلوة] كي و ښځي ته [د خپل] مقعود عليه [بضع] روغ رمټ واپس كېدل هم سته [يعني د طلاق قبل الدخول والخلوة په صورت كي ښځي ته خپله بضع صحيح سالمه رسيږي] فَكَانَ الْمَرْجِعُ فِيهِ النَّصَّ نو [د قياسونو د تعارض په وجه] به په دې باره كي مرجع نص وي [يعني آيت ته به رجوع كيږي] وَشَرَطَ أَنْ يَكُوْنَ قَبْلَ الْخَلْوَةِ او امام قدوري رَحِمَهُ الله د "طلاق قبل الخلوة" شرط [ځكه] لګولى دى لِأَنَّهَا كَالدُّخُوْلِ عِنْدَنَا ځكه چي خلوت زموږ په نيز د دخول په شان دى عَلٰى مَا نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى چي [وروسته] به موږ انشاء الله تعالى ذدې بيان وكړو.

اللغات: ﴿سَمَّى﴾ د تفعيل ماضي ده: مقرر كول، ټاكل، متعين كول. ﴿نِهَايَة﴾ آخر، پاى، انجام. ﴿أَقْيِسَة﴾ جمع د قِيَاسٌ ده: قياسونه.

تشريح: په دې عبارت كي هم دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده كه يو سړى د يو ښځي سره په لسو يا تر لسو په زياتو درهمو نكاح وكړي، او بيا د هغه ښځي سره جماع وكړي (يعني دخول په وكړي)، (يا خلوتِ صحيحه ور سره وكړي)، يا هغه ښځه مړه سي، نو په دې ټولو صورتونو كي پر خاوند پوره ټاكل سوى مهر واجبيږي، دليل دا دى چي مهر خو محض په عقد (نكاح تړلو) سره واجبيږي، لېكن د مهر د استحكام او مظبوطي لپاره له دې دريو شيانو څخه يو شى ضروري دى: ① دخول، ② د ښځي يا د خاوند مرګ، ③ خلوتِ صحيحه.

تر دخول وروسته په دې وجه مهر مضبوط او مستحكم كيږي ځكه چي په دخول سره د مُبدل يعني د بضع تسليم ثابتيږي، او څرنګه چي مهر د دغه بضع بدل دى، نو ځكه به د مُبدل يعني د بضع تر تسليم وروسته د بدل يعني د مهر وركول ضروري وي.

او په مرګ سره د مهر مظبوطېدلو وجه دا ده چي په مرګ سره نكاح انتهاء ته رسيږي او قاعده دا ده "الشَّيْءُ يَتَقَرَّرُ بِانْتِهَائِه" (يعني يو شى چي كله انتهاء ته ورسيږي نو نور هم مضبوط او ثابت سي)، خلاصه دا چي په مرګ سره نكاح نوره هم مظبوطيږي (ځكه تر مرګ مخكي د دې امكان وي چي خاوند به ښځي ته طلاق وركړي، لېكن په مرګ سره د امكان هم ختم سي او د نكاح معامله نوره مضبوطه او پخه سي)، لهذا كله چي نكاح مظبوطيږي، نو د هغې ټوله احكام به هم مظبوطيږي، او مهر هم د نكاح له احكامو څخه يو حكم دى، نو ځكه به هغه هم ثابتيږي او مضبوطيږي، او پر خاوند به د ټوله مهر وركول واجب وي (په خلوت سره د مهر د استحكام بحث به وروسته ذكر سي).

وإن طلقها قبل إلخ: (۲)... دویمه مسئله (کوم چي دیو قاعدې حیثیت لري) دا ده چي که خاوند تر دخول او خلوت مخکي ښځي ته طلاق ورکړي، نو په دې صورت کي پر خاوند د ټاکل سوي مهر نیمه حصه واجبیږي. دا مسئله بالکل واضحه ده. دلیل یې دا آیت دی: ﴿إِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ﴾ [سورة البقرة،۲۳۷].

والأقيسة متعارضة إلخ: په دې عبارت کي دا خبره بیانوي چي په دغه دویمه مسئله کي دوه قیاسونه سره متعارض دي: ①... یو قیاس دا دی چي دلته خو خاوند په خپل اختیار سره ښځي ته طلاق ورکړی دی او خپل ملکیت یې فوت کړی دی، نو په دې کي د ښځي څه قصور دی؟ لهذا هغې ته به خپل پوره مهر ورکول کیږي، ②... او دویم قیاس دا دی چي ښځي ته خو خپله بضع صحیح سالمه ورسېده، او خاوند خو بالکل د هغې بضع ته لاس هم ور وړی نه دی، لهذا پر خاوند به هیڅ شی هم نه واجبیږي، نو کله چي دلته دوه قیاسونه یو د بل سره معارض سول، نو موږ د آیت و طرف ته رجوع وکړه، او آیت په داسي صورت کي نیم مهر واجب کړی دی، نو څکه موږ هم نیم مهر واجبوو.

وشرط أن إلخ: د دې حاصل دا دی چي زموږ په نېز خلوتِ صحیحه هم د دخول په درجه کي دی، نو څکه امام قدوري رَحِمَهُ الله په دې مسئله کي د "قبل الدّخول" په څیر د "قبل الخلوة" شرط هم لګولی دی، خلوتِ صحیحه د ښځي سره داسي خلوت ته وایي چي په هغه کي له وطي څخه هیڅ مانع نه وي، نو په داسي خلوت سره هم مهر مظبوطیږي چي د دې بحث به انشاء الله وروسته راسي.

له مهر څخه بغیر د نکاح کولو په صورت کي د مهرِ مثل حکم

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمایي وَإِنْ تَزَوَّجَهَا وَلَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْرًا او که [یو سړی] نکاح وکړي د ښځي سره او د هغې لپاره مهر نه و ټاکي أَوْ تَزَوَّجَهَا عَلَى أَنْ لَا مَهْرَ لَهَا یا پر دې شرط نکاح ور سره وکړي چي د هغې لپاره به مهر نه وي فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا إِنْ دَخَلَ بِهَا أَوْ مَاتَ عَنْهَا نو د ښځي لپاره به مهرِ مثل وي که چیري خاوند په هغې دخول وکړي یا مړ سي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجِبُ شَيْءٌ فِي الْمَوْتِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د مرګ په صورت کي به هیڅ شی نه واجبیږي وَأَكْثَرُهُمْ عَلَى أَنَّهُ يَجِبُ فِي الدُّخُولِ او زیاتر شوافع پر دې خبره دي چي د دخول په صورت کي به [مهرِ مثل] واجبیږي لَهُ: أَنَّ الْمَهْرَ خَالِصُ حَقِّهَا د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي مهر خالص د ښځي حق دی

فَتَتَمَكَّنُ مِنْ نَفْيِهِ ابْتِدَاءً كَمَا تَتَمَكَّنُ مِنْ إِسْقَاطِهِ انْتِهَاءً نو ځکه به ښځه په شروع کې ايعني تر مهر ټاکل کېدلو مخکې] هم د مهر پر نفي کولو قدرت لري لکه څرنګه چې په آخر کې ايعني د مهر ټاکل کېدو وروسته] د مهر پر ساقطولو [معافولو] قدرت لري وَلَنَا: أَنَّ الْمَهْرَ وُجُوبًا حَقُّ الشَّرْعِ عَلَى مَا مَرَّ او زموږ دليل دا دی: چې مهر د وجوب په توګه د شريعت حق دی ايعني د شريعت د حق په توګه واجب کړی سوی دی] لکه مخکې چې اخبره] تېره سوه وَإِنَّمَا يَصِيرُ حَقَّهَا فِي حَالَةِ الْبَقَاءِ او هغه په حالت د بقاء [انتهاء] کې د ښځې حق جوړېږي فَتَمْلِكُ الْإِبْرَاءَ دُوْنَ النَّفْيِ لهذا ښځه به افقط په حالت د بقاء کې د مهر] د ساقطولو ملکيت [اختيار] لري، لېکن [په حالت د ابتداء کې د مهر] د نفي کولو ملکيت به نه لري [په دې جمله کې له "إبراء" څخه مراد د بقاء په حالت کې د مهر ساقطول او معافول دي، او له "نفي" څخه مراد د شروع په حالت کې د مهر ساقطول دي] وَلَوْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا او که خاوند ښځې ته تر دخول مخکې طلاق ورکړي فَلَهَا الْمُتْعَةُ نو د هغې لپاره به متعه وي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ [سورة البقرة: ۲۳۶] ځکه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: او تاسي [طلاق کړی سوو] ښځو ته متعه ورکړئ! [او] پر مالدار سړي د خپل وس مطابق [متعه لازم ده] ثُمَّ هٰذِهِ الْمُتْعَةُ وَاجِبَةٌ بيا دا متعه واجب ده رُجُوعًا إِلَى الْأَمْرِ د امر و طرف ته په رجوع کولو سره ايعني ځکه چې په قرآن کې د متعې حکم د امر په صيغه سره ذکر سوی دی يعني "مَتِّعُوهُنَّ"] وَفِيهِ خِلَافُ مَالِكٍ او په دې کې د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی.

اللغات: ﴿نَفْي﴾ د نکاح په شروع کې (ابتداءً) له مهر څخه انکار کول (ابتداءً مهر ساقطول). ﴿إِبْرَاء﴾ د مهر تر لازمېدلو وروسته خاوند له مهر څخه بري کول (يعني بقاءً مهر ساقطول)، معافول. مهر وربخښل. ﴿تَتَمَكَّن﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: قدرت لرل (وس درلودل).

تشريح: په دې عبارت کې هم دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که يو سړی د مهر له ذکر کولو او ټاکلو څخه بغير د يو ښځې سره نکاح وکړي (يعني د نکاح په وخت کې د مهر هيڅ ذکر نه وکړي). يا د نکاح په وخت کې د مهر نفي وکړي (يعني ووايي چې زه ښځې ته مهر نه ورکوم او ښځه هم په دې راضي وي)، نو په دې دواړو صورتونو کې د هغه نکاح صحيح ده، او تر جماع وروسته يا د هغه تر مرګ وروسته پر هغه مهرِ مثل واجبيږي، همدا د امام احمد رَحِمَهُ الله مسلک دی. د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې که خاوند مهر ټاکلی نه وي او تر جماع (دخول) کولو مخکې مړ سي نو پر هغه هيڅ شی هم نه واجبيږي. او که تر جماع کولو وروسته مړ سي، نو د زياتره شوافعو رايه دا ده چې مهرِ مثل پر واجبيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې مهر د ښځې د بضع بدل دی، نو ځکه مهر خالص د هغې حق دی، او څرنګه چې ښځه خپل دغه حق "مهر" انتهاءً (يعني تر ټاکل کېدلو وروسته) ساقطولای سي، همداسي ابتداءً (له شروع څخه) هم د هغه نفي کولای سي، لهذا کله چې له شروع څخه مهر نه وټاکل سي او تر دخول مخکې خاوند مړ سي، نو پر هغه به مهر نه واجبيږي.

زموږ دليل: دا دی چې مهر اول د شريعت حق دی کوم چې په دې آيتونو سره واجب سوی دی: "قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْ أَزْوَاجِهِمْ...الخ" [الأحزاب: ٥٠]، "أَنْ تَبْتَغُوْا بِأَمْوَالِكُمْ...الخ" [سورة النساء: ٢٤]، او د شريعت حق د نکاح په شروع کې (يعني تر مهر ټاکلو مخکې) معتبر دی، او د ښځې د مهر حق انتهاءً دی (يعني تر مهر ټاکلو وروسته د ښځې حق د مهر سره متعلق کيږي)، لهذا ښځه خپل دغه حق "مهر" صرف انتهاءً ساقطولای سي، لېکن ابتداءً يې نه سي ساقطولای (ځکه چې ابتداءً د مهر سره د ښځې حق متعلق نه وي)، نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره صحيح نه ده چې ښځه ابتداءً هم مهر نفي کولای او ساقطولای سي، ځکه که دا خبره ومنل سي نو دا به د ښځې له خپل حق څخه تجاوز کول وي کوم چې شرعاً ناروا دي.

ولو طلقها إلخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده که خاوند پورتنۍ ښځې ته (يعني داسي ښځې ته چې د هغې مهر يې ټاکلی نه وي يا د مهر نفي يې کړې وي) تر دخول مخکې طلاق ورکړي، نو په دې صورت کې پر خاوند د دغه ښځې متعه واجبيږي، دليل دا آيت دی: "لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوْهُنَّ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِين"، "فَرِيْضَة" مهر ته وايي (لکه د باب په شروع کې چې موږ د مهر په نومونو کې ذکر کړه)، او "تَفْرِضُوْا" عطف دی پر "لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ"، نو د آيت شريف مطلب دا سو چې که تاسي له مهر ټاکلو څخه بغير او تر لاس ور وړلو (جماع کولو) مخکې ښځو ته طلاق ورکړی نو په دې کې هيڅ حرج نسته، او تر طلاق وروسته هغو ته متعه ورکړئ!).

متعه زموږ په نيز واجب ده او د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز مستحب ده؛ د امام مالک دليل دا دی چې متعه ورکونکي ته الله تعالیٰ "مُحْسِن" ويلي دي يعني په پورتني آيت کې ذکر سوه چې "حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْن"، او مُحسن متنفل او متطوع ته وايي (يعني داسي کس ته وايي کوم چې نفلي او غيرِ لازمي کار کوي)، نو معلومه سوه چې متعه واجب او لازم نه ده بلکې مستحب ده.

زموږ دليل او د امام مالک رَحِمَهُ الله جواب دا دی چې په پورتني آيت کې "مَتِّعُوْا" د امر صيغه ده او امر د وجوب لپاره راځي، همدارنګه په پورتني آيت کې تر "الْمُحْسِنِيْن" مخکې د "حَقًّا" او "عَلیٰ" الفاظ هم پر وجوب او لزوم دلالت کوي، او پاته سو "مُحسنين" نو هغه د متطوعين په معنیٰ سره نه دی، بلکې له

"مُحسنین" څخه مراد هغه خلک دي چې واجب (متعه) هم اداء کوي او داحسان په توګه ښځې ته نور زاید شی هم ورکوي، لهذا په "مُحسنین" سره دلیل نیول صحیح نه دي.

د مُتعې د مقدار بیان

وَالْمُتْعَةُ ثَلَاثَةُ أَثْوَابٍ مِنْ كِسْوَةِ مِثْلِهَا او متعه درې جامې دي د هغې اطلاق کړی سوي ښځې ا د مثل د لباس څخه ایعني د طلاق ورکړل سوي ښځې حالت به کتل کیږي که هغه له مالداري کورنۍ څخه وي نو نوري مالداري ښځې چې څرنګه لباس او کالي اغوندي، هغې ته به هم د هغه مطابق درې جامې په متعه کې ورکول کیږي. او که له غریبي کورنۍ څخه وه نو د غریبو ښځو لباس ته به کتل کیږي...ا وَهِيَ دِرْعٌ وَخِمَارٌ وَمِلْحَفَةٌ او اهغه درې جامې ا قمیص، پړونی او څادر دي وَهٰذَا التَّقْدِيرُ مَرْوِيٌّ عَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ او دغه اندازه له حضرت عائشې او حضرت ابن عباس رضي الله عنهم څخه روایت سوې ده وَقَوْلُهُ مِنْ كِسْوَةِ مِثْلِهَا إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ يُعْتَبَرُ حَالُهَا او د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول "مِنْ كِسْوَةِ مِثْلِهَا" اشاره ده و دې طرف ته چې [په متعه کې به] د ښځې د حالت اعتبار کیږي وَهُوَ قَوْلُ الْكَرْخِيِّ فِي الْمُتْعَةِ الْوَاجِبَةِ او همدا قول د امام کرخي رَحِمَهُ الله دی په واجبه متعه کې لِقِيَامِهَا مَقَامَ مَهْرِ الْمِثْلِ ځکه چې متعه د مهرِ مثل قائم مقام ده وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ يُعْتَبَرُ حَالُهُ [لیکن] صحیح دا ده چې د خاوند د حالت اعتبار به کیږي عَمَلًا بِالنَّصِّ په آیت باندې په عمل کولو سره وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالَى: عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ [سورة البقرة: ۲۳۶] او هغه د الله تعالیٰ دا فرمان دی: "عَلَى الْمُوسِعِ...الخ" ثُمَّ هِيَ لَا تُزَادُ عَلَى نِصْفِ مَهْرِ مِثْلِهَا بیا به متعه نه پر نیم مهرِ مثل زیاتیږي وَلَا تَنْقُصُ عَنْ خَمْسَةِ دَرَاهِمَ او نه به تر پنځو درهمو کمیږي وَيُعْرَفُ ذٰلِكَ فِي الْأَصْلِ او دا [مسئله] په مبسوط کې [تاسي ته] معلومېدای سي ایعني د دې مسئلې پوره تفصیل او دلیل په مبسوط کې بیان سوی دی، هلته په رجوع کولو سره به تاسي ته پوره مسئله معلومه سي ا

اللغات: ﴿دِرْع﴾ زغره، د ښځې قمیص، "دِرْعُ الْمَرْأَةِ أَي قَمِيْصُهَا". [المعجم الوسیط، المصباح المنیر]،

﴿خِمَار﴾ پړونی (پوړنی)، ﴿مِلْحَفَة﴾ په اصل کې روجایي ته وایي (یعني هغه څادر کوم چې پر کټ هواریږي)، همدارنګه اوږد او پلن پړوني ته هم وایي. کېدای سي چې له دې څخه به هغه غټ څادر (پړونی) مرادي وي چې په ژمي، دوبي یا داسي نورو وختونو کې ښځه کار ځني اخلي (لکه زموږ په ځینو سیمو کې چې ښځو ته د واده په سامان کې داسي څادر ورکول کیږي او په "ګدلی" یا

"ګلډي" سره نومول کيږي)، ﴿مُوْسِعٌ﴾ د إفعال اسم فاعل دی: مالدار، شتمن، هغه کس چي د زيات مال خاوند وي، ﴿مُقْتِرٌ﴾ دا هم د إفعال اسم فاعل دی: تنګ لاسی، هغه کس چي د کم (لږ) مال خاوند وي.

تشريح: په تېر عبارت کي ذکر سوه چي خاوند به ښځي ته متعه ورکوي، په دې عبارت کي د متعې تعريف کوي، فرمايي چي متعه درې جامو (کپړو) ته وايي: ① قميص (کميس)، ② پړونی، ③ اوږد څادر (کوم چي تر پروني ډېر اوږد وي)، د دې دريو جامو تعيين له حضرت عائشې او حضرت ابن عباس رضي الله عنهم څخه نقل سوې دی.

بيا په دې باره کي اختلاف دی چي په معته کي به د خاوند د حالت اعتبار کيږي، که د ښځي؟ د امام قدوري له ظاهري عبارت "من کسوة مثلها" څخه دا معلوميږي چي د ښځي د حالت اعتبار به کيږي (يعني که ښځه له مالداري کورنۍ څخه وي نو اعلیٰ درجه جامې به ورکول کيږي او که له غريبي کورنۍ څخه وي نو ادنیٰ درجه جامې به ورکول کيږي او که له متوسطي کورنۍ څخه نو أوسطه درجه جامې به ورکول کيږي)، امام کرخي رَحِمَهُ الله هم د دې قائل دی؛ د دې قول دا دی چي متعه د مهرِ مثل قائم مقام ده، او په مهرِ مثل کي د ښځو د حالت اعتبار کيږي، نو د هغه په قائم مقام کي به هم د ښځو د حالت اعتبار کيږي.

خو زموږ په نېز صحيح قول دا دی چي د خاوند د حالت اعتبار به کيږي؛ دليل دا دی چي په دې آيت "عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهُ" کي په ښکاره توګه سړی ذکر سوی دی، نه ښځه (ځکه چي د "قَدَرُهُ" ضمير مذکر ته راجع دی)، لهذا آيت پرېښوول او په قياس او علت سره دليل نيول صحيح نه دي، همدا د ابو بکر رازي قول دی او صاحب د هدايې اختيار کړی دی، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله صحيح قول هم دغه دی.

ثم هي إلخ: په دې عبارت سره دا راښيي چي د دغه متعې قيمت به نه د ښځي له نيم مهرِ مثل څخه زيات وي او نه به تر پنځو درهمو کم وي (يعني دا متعه به د دې ښځي تر نصف مهرِ مثل نه زياته وي او نه به تر پنځو درهمو کمه وي، دا خبره په مبسوط کي ذکر سوې ده)، د ښځي تر نيم مهرِ مثل به په دې وجه زياته نه وي، ځکه چي مهرِ مسمیٰ له مهرِ مثل څخه قوي دی، او د مهرِ مسمیٰ په صورت کي که يو خاوند (تر دخول مخکي) خپلې ښځي ته طلاق ورکړي، نو پر هغه د مهرِ مسمیٰ نصف واجبيږي، او تر نصف زيات نه پر واجبيږي، نو کله چي په "أَقْوٰی" يعني په مهرِ مسمیٰ کي تر نيم

زيات مهر نه واجبيږي، نو په "أَدْنٰى" يعني په مهرِ مثل کي خو به په طريقه اولیٰ تر نيم مهرِ مثل زياته متعه نه واجبيږي.

او تر پنځو درهمو به ځکه متعه کمه نه وي چي متعه د ښځي د بضع بدل دی او هيڅ عوض هم تر لسو درهمو کم نه وي، نو ځکه به لس درهمه د پوره بضع عوض وي (لهذا متعه بايد تر لسو درهمو کمه نه وای)، خو څرنګه چي د طلاق قبل الدخول په صورت کي بضع صحيح سالم پاتيږي، نو ځکه به اوس د هغې فقط نيم عوض (پنځه درهمه) واجبيږي.

تر نکاح وروسته د مهر ټاکلو حکم

وَإِنْ تَزَوَّجَهَا وَلَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْرًا او که [يو سړی] نکاح وکړي د يو ښځي سره او د هغې لپاره [د نکاح په وخت کي] مهر نه وټاکي ثُمَّ تَرَاضَيَا عَلٰى تَسْمِيَةٍ بيا دواړه راضي سي [د مهر] پر ټاکلو فَهِيَ لَهَا إِنْ دَخَلَ بِهَا أَوْ مَاتَ عَنْهَا نو دا [ټاکل سوی مهر] به د ښځي وي که چيري سړی په هغې دخول وکړي يا مړ سي [يعني د سړي تر دخول يا مرګ وروسته به ټوله ټاکل سوی مهر ښځي ته ورکول کيږي] وَإِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا او که هغه تر دخول مخکي ښځي ته طلاق ورکړي فَلَهَا الْمُتْعَةُ نو د هغې لپاره به متعه وي وَعَلٰى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ الْأَوَّلِ نِصْفُ هٰذَا الْمَفْرُوْضِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د اول قول مطابق به [د ښځي لپاره] د دغه ټاکل سوي مهر نصف [نيمه حصه] وي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّهُ مَفْرُوْضٌ ځکه چي دا ټاکل سوی [مهر] دی فَيَتَنَصَّفُ بِالنَّصِّ نو د [دې] آيت په وجه به نيم ګرځي [فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ] وَلَنَا: أَنَّ هٰذَا الْفَرْضَ تَعْيِيْنٌ لِلْوَاجِبِ بِالْعَقْدِ او زموږ دليل دا دی: چي دا فرض [ټاکل] د هغه واجب [مهر] تعيين دی کوم چي د عقد په ذريعه واجب سوی دی وَهُوَ مَهْرُ الْمِثْلِ او هغه مهرِ مثل دی وَذٰلِكَ لَا يَتَنَصَّفُ او مهرِ مثل نيمېدلای نه سي فَكَذَا مَا نَزَلَ مَنْزِلَتَهُ نو همداسي [هغه مهر به هم نيمېدلای نه سي] کوم چي د مهرِ مثل په درجه کي دی [يعني کوم چي د هغه قائم مقام دی، مراد څني تر عقد (نکاح) وروسته ټاکل سوی مهر دی] وَالْمُرَادُ بِمَا تَلَا او مراد په هغه آيت سره کوم چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله تلاوت کړی دی [يعني په "فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ" کي له "فرض" څخه مراد] الْفَرْضُ فِي الْعَقْدِ فرض في العقد دی [يعني هغه ټاکل څني مراد دي کوم چي د عقد (يعني د نکاح)

په وخت کې وي] إِذْ هُوَ الْفَرْضُ الْمُتَعَارَفُ ځکه چې هغه فرض [ټاکل] متعارف دی [یعنې په عرف کې مشهور همافه ټاکل دي کوم چې دنکاح په وخت کې وي].

اللغات: ﴿تَرَاضَيَا﴾ د تفاعل له باب څخه د تثنيه مذکر غائب ماضي صيغه ده: يو له بل څخه راضي کېدل. ﴿مَفْرُوْض﴾ د ضرب له باب څخه د اسمِ مفعول صيغه ده: مقرر کړی سوی، ټاکل سوی. ﴿يَتَنَصَّفُ﴾ د تفعّل مضارع ده، لازمي باب دی: نيمېدل، (نيم کېدل، نيمايي کېدل).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که زيد (مثلاً) د فاطمې سره نکاح وکړي او د نکاح په وخت کې هيڅ مهر نه وټاکي. بيا تر نکاح وروسته دواړه په خپله رضا سره پنځه سوه درهمه مهر وټاکي. نو اوس که زيد د فاطمې سره جماع وکړي يا زيد مړ سي، نو په دې دواړو صورتونو کې پر زيد ټاکل سوی مهر واجبيږي يعنې فاطمې ته به پنځه سوه درهمه ورکوي (متعه يا مهرِ مثل نه پر واجبيږي).

لېکن که زيد تر جماع (دخول) مخکې فاطمې ته طلاق ورکړي، نو په دې صورت کې د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز پر هغه متعه واجبيږي.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې صورت کې پر خاوند نيم ټاکل سوی مهر (۲۵۰ درهمه) واجبيږي، همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول هم دی، او همدا د امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک دی. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دويم قول د طرفينو د قول په څېر دی.

دليل: د امام شافعي، امام مالک او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله (د اول قول) دليل دا دی چې کله دلته تر نکاح وروسته خاوند او ښځه (زيد او فاطمه) پر ټاکل سوي اندازه د مهر راضي سوه. نو دا مهر د مهرِ مسمیٰ په څېر سو. او د مهرِ مسمیٰ په صورت کې که تر دخول مخکې ښځې ته طلاق ورکول سي. نو د دې آيت: "فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ [سورة البقرة:۲۳۷]" په وجه پر خاوند نيم مهرِ مسمیٰ واجبيږي. نو په دغه پورتني صورت کې به هم پر خاوند (زيد) نيم مهر واجبيږي، او متعه به نه پر واجبيږي.

د طرفينو دليل: دا دی چې مهرِ مسمیٰ هغه مهر ته وايي کوم چې د نکاح په وخت کې ټاکل کيږي. لېکن په پورتني صورت کې له مهر ټاکلو څخه بغير نکاح سوې ده، نو په دې وجه پر خاوند (زيد) مهرِ مثل واجب سو. او تر نکاح وروسته چې خاوند او ښځه په کومه اندازه راضي سوي دي هغه د دغه واجب سوي مهرِ مثل تعيين او ټاکل دي (يعنې ګواکي دوی هغه مهرِ مثل وټاکی کوم چې واجب سو). او په مهرِ مثل کې تنصيف نه سي کېدلای (يعنې مهرِ مثل نيمول کېدای نه سي). لهذا د مهرِ مثل چې کوم قائم مقام دی (يعنې تر نکاح وروسته ټاکل سوی مهر) نو په هغه کې هم تنصيف نه

سي کېدلای، او کله چي په هغه کي تنصيف نه سي کېدلای نو متعه به واجبېږي، او که متعه واجب نه سي نو خاوند به په نقصان کي واقع سي ځکه چي بغير له څه فايدې (يعني بغير له دخول او جماع څخه) پنځه سوه درهمه ورکول د هغه لپاره غټ نقصان دی.

والمراد إلخ: په دې سره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د آيت جواب ورکوي، نو فرمايي چي له "نِصۡفُ مَا فَرَضۡتُمۡ" څخه د مفروض (يعني د هغه ټاکل سوي مهر) نصف مراد دی کوم چي د نکاح په وخت کي ټاکل کيږي، ځکه چي هغه معروف دی، او وجه يې دا ده چي دغه آيت مطلق دی او له مطلق څخه متعارف مرادېږي، او متعارف (او معروف) هغه مهر دی کوم چي د نکاح په وخت کي ټاکل کيږي، نه هغه مهر کوم چي تر نکاح وروسته ټاکل کيږي، لهذا له دې آيت څخه به د متعارف مهر تنصيف مراد وي، نه د هغه مهر تنصيف کوم چي تر نکاح وروسته ټاکل سوی وي.

پر ټاکل سوي مهر د زياتوب کولو حکم

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي فَإِنۡ زَادَهَا فِي الۡمَهۡرِ بَعۡدَ الۡعَقۡدِ که چيري [خاوند] د ښځي لپاره په مهر کي زياتوب وکړه تر عقد [نکاح] وروسته لَزِمَتۡهُ الزِّيَادَةُ نو دا زياتوب پر هغه لازم سو خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله وَسَنَذۡكُرُهُ فِي زِيَادَةِ الثَّمَنِ وَالۡمُثۡمَنِ إِنۡ شَاءَ اللهُ او دا به موږ انشاء الله د ثمن او مبيع د زياتوب په بحث کي ذکر کړو وَإِذَا صَحَّتِ الزِّيَادَةُ او کله چي زياتوب صحيح سو تَسۡقُطُ بِالطَّلَاقِ قَبۡلَ الدُّخُولِ نو د طلاق قبل الدخول په وجه به دا [زياتوب] ساقطيږي وَعَلَى قَوۡلِ أَبِي يُوسُفَ أَوَّلًا تَتَنَصَّفُ مَعَ الۡأَصۡلِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د اول قول مطابق به د أصل مهر سره دا [زايد مهر] هم نصف ګرځي لِأَنَّ النِّصۡفَ عِنۡدَهُمَا يَخۡتَصُّ بِالۡمَفۡرُوضِ فِي الۡعَقۡدِ ځکه چي نصف د طرفينو په نيز د مفروض في العقد سره خاص دی [يعني کوم مهر چي د عقد په وخت کي وټاکل سي د طرفينو په نيز "نيمول" د هغه سره خاص دي يعني فقط هغه نيمول کېدای سي، مفروض بعد العقد نه سي نيمول کېدای] وَعِنۡدَهُ الۡمَفۡرُوضُ بَعۡدَهُ كَالۡمَفۡرُوضِ فِيهِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز مفروض بعد العقد داسي دی لکه مفروض في العقد [يعني د ابو يوسف په نيز هغه مهر کوم چي تر عقد وروسته ټاکل سوی وي داسي دی لکه د عقد په وخت کي چي ټاکل سوی وي] عَلَى مَا مَرَّ لکه مخکي چي [دا مسئله] تېره سوه وَإِنۡ حَطَّتۡ عَنۡهُ مِنۡ مَهۡرِهَا او که ښځه له خاوند څخه خپل مهر کم کړي صَحَّ الۡحَطُّ نو [د هغې] کمول صحيح دي لِأَنَّ

الْمَهْرَحَقِّهَا ځکه چې مهر د ښځې حق دی وَالْحَطُّ يُلَاقِيهِ حَالَةَ الْبَقَاءِ او کمول يو ځای کيږي د مهر سره په حالت د بقاء کې ايعني دغه کمول ښځه تر عقد وروسته کوي نه د عقد په شروع کې، نو ځکه به د دغې کمول صحيح وي ا.

اللغات: ﴿ثَمَن﴾ قيمت، نرخ، ﴿مُثَمَّن﴾ قيمت لرونکی شی، مبيع، ﴿حَطّ﴾ د نصر له باب څخه باضي ده: کښته کېدل، پرېښوول، کمول، (ساقطول).

تشريح: په دې عبارت کې ديوې مسئلې دوې حصې بيان سوي دي: (۱)... د مسئلې اوله حصه دا ده که خاوند د عقد (نکاح) په وخت کې د ښځې مهر مثلاً پنځه سوه درهمه ټاکلي وي او تر عقد وروسته دوه سوه (۲۰۰) درهمه نور پر زيات کړي (چې په دې سره ټوله مهر ۷۰۰ درهمه سي)، او ښځه هغه زياتوب قبول کړي، نو زموږ په نېز داسي زياتوب صحيح دی او پر خاوند د هغه اداء کول لازم دي، همدا د امام احمد رَحِمَهُ الله مسلک دی، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز نه پر مهر زياتوب کول صحيح دي او نه پر خاوند د هغه اداء کول لازم دي، همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دی.

په ثمن او مبيع کې هم دغه اختلاف دی، يعني زموږ په نېز د مشتري لپاره په ثمن کې زياتوب کول صحيح دي همدارنګه د بائع لپاره په مبيع کې زياتوب کول صحيح دي، لېکن د امام زفر او امام شافعي په نېز صحيح نه دي، د دې پوره بحث او دليلونه به په "كتابُ البيوع" کې راسي، خو د آساني لپاره موږ دلته هم د هغو دليلونه ذکر کوو.

د امام زفر دليل: دا دی چې د خاوند دغه زياتوب مستقلاً هبه ده (يعني دغه زيات سوی مهر داسي دی لکه خاوند چې له نوي سره ښځې ته هبه ورکړي)، نو ځکه به دا د أصل عقد (يعني د أصل مهر) سره نه يو ځای کيږي، ځکه چې أصل مهر عوض دی (د بضع)، او هبه يو زايد احسان دی (د ښځې سره)، نو د دواړو په معنیٰ کې هيڅ مساوات نسته، لهذا دا زايد مهر به د أصل عقد سره نه يو ځای کيږي.

زموږ دليل: دا آيت دی: "وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا [سورة النساء: ۲۴]"، په دغه آيت کې په ښکاره توګه ذکر سوي دي چې د مهر تر ټاکلو وروسته په هغه کې کمي يا زتوب کول هيڅ پروا نه لري او دا صحيح دي، نو ځکه زموږ په نېز دغه زياتوب صحيح دی.

وإذا صحت الزيادة إلخ: د دې عبارت حاصل دا دی چې کله په پورتني صورت کې (يعني د مهر زياتوب په صورت کې) خاوند تر دخول مخکې ښځې ته طلاق ورکړي نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د اول قول

مطابق به په زياتوب کي هم تنصيف کيږي لکه څرنګه چي په أصل يعني په مهرِ مسمی کي تنصيف کيږي (يعني لکه څرنګه چي دغه ښځي ته به د أصل يعني داول ټاکل سوي مهر [۵۰۰ درهمو] نصف ورکول کيږي همدارنګه به د زياتوب يعني دوو سوو درهمو نصف هم ورکول کيږي، لنډه دا چي د طلاق قبل الدخول په صورت کي به دغه ښځي ته د امام ابو يوسف په نيز (۳۵۰) درهمه ورکول کيږي کوم چي د (۷۰۰) نصف دی).

په دې باره کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هغه دليل دی کوم چي په تېر عبارت کي ذکر سو يعني د هغه په نيز هغه دواړه مهرونه سره برابر دي کوم چي د عقد (نکاح) په وخت کي ټاکل سوی وي او کوم چي تر عقد وروسته ټاکل سوی وي (په بله وينا دا چي مفروض فی العقد او مفروض بعد العقد مهرونه دواړه د امام ابو يوسف په نيز سره برابر دي)، يعني په دواړو کي د هغه په نيز تنصيف کېدلا سي (د دې آيت په وجه: "فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ").

د طرفينو مسلک دا دی چي فقط په مفروض فی العقد کي تنصيف کېدلای سي، په مفروض بعد العقد کي تنصيف نه سي کېدلای؛ ځکه په دې آيت "فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ" کي چي کوم حکم سوی دی هغه د متعارف مفروض سره خاص دی، او متعارف مفروض فی العقد دی، نو تنصيف به هم د هغه سره خاص وي (لکه د تېر عبارت په آخر کي چي تر "والمراد إلخ" لاندي دغه خبره په تفصيل سره ذکر سوه).

وإن حطت عنه إلخ: (۲)... د مسئلې دويمه حصه دا ده که ښځه تر عقد وروسته خپل مهر څه کم کړي، نو دا کمي صحيح ده، ځکه په شروع کي که څه هم د مهر سره د شريعت حق متعلق وي (چي تر لس درهمه به يې کم نه ټاکي)، لېکن وروسته د بقاء په حالت کي (يعني تر عقد او تر مهر ټاکلو وروسته) د مهر سره د ښځي حق متعلق کيږي، نو ځکه وروسته د ښځي لپاره په مهر کي کمي يا زياتوب کول صحيح دي، بلکي کمي خو هلته پرېږده! د ټوله مهر معافول (إبراء) هم د ښځي لپاره صحيح دي.

د خلوت صحيحه بيان

وَإِذَا خَلَا الرَّجُلُ بِامْرَأَتِهِ او کله چي خلوت وکړي خاوند د خپلي ښځي سره [يعني کله چي خاوند په تنهايي کي د خپلي نوي ښځي سره يو ځای سي] **وَلَيْسَ هُنَاكَ مَانِعٌ مِنَ الْوَطْءِ** او هلته هيڅ مانع [خنډ] نه وي له وطي څخه **ثُمَّ طَلَّقَهَا** بيا طلاق ورکړي **فَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ** نو د هغې لپاره به پوره مهر وي [يعني په داسي صورت کي به خاوند ښځي ته ټوله مهر ورکوي] **وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَهَا نِصْفُ الْمَهْرِ** او امام شافعي

رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هغې لپاره به نيم مهر وي لِأَنَّ الْمَعْقُودَ عَلَيْهِ إِنَّمَا يَصِيْرُ مُسْتَوْفًى بِالْوَطْءِ ځکه چې معقود عليه ايعني بضع] په وطي سره حاصلول کيږي فَلَا يَتَأَكَّدُ الْمَهْرُ دُوْنَهُ لهذا له وطي څخه بغير به [ټوله] مهر نه ثابتيږي وَلَنَا: أَنَّهَا سَلَّمَتْ الْمُبْدَلَ او زموږ دليل دا دی: چې ښځې مبدل ايعني بضع، خاوند ته] وسپارله حَيْثُ رَفَعَتِ الْمَوَانِعَ ځکه چې هغې د وطي ټوله] موانع ليرې کړل وَذٰلِكَ وُسْعُهَا او همدا د هغې وس وو فَيَتَأَكَّدُ حَقُّهَا فِي الْبَدَلِ نو ځکه به د هغې حق په بدل [مهر] کې ثابتيږي اِعْتِبَارًا بِالْبَيْعِ په بيع باندې په قياس کولو سره.

اللغات: ﴿خَلَا﴾ د نصر له باب څخه د واحد مذکر غائب، ماضي صيغه ده. خَلَا يَخْلُوْ خَلْوَةً: په تنهايي کې د يو چا سره يو ځاى کېدل. خلوت کول. ګوښه کېدل. ﴿مُسْتَوْفًى﴾ د استفعال اسمِ مفعول دی: په پوره توګه حاصل سوی شی. اِسْتَوْفٰى يَسْتَوْفِيْ اِسْتِيْفَاءً: له يو چا څخه په بشپړه توګه خپل حق اخيستل. يو شی حاصلول (تر لاسه کول). ﴿سَلَّمَتْ﴾ د تفعل له باب څخه د واحد مؤنث غاب ماضي صيغه ده: سپارل، تسليمول. ﴿مَوَانِع﴾ جمع د مَانِعٌ: منع کونکی، خنډ، بنديز. ﴿وُسْع﴾ وس، اختيار، طاقت (قدرت).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د خپلې ښځې سره خلوت صحيحه وکړي او د خلوت په دوارن کې له وطي څخه هيڅ مانع نه وي، تر دې وروسته خاوند ښځې ته طلاق ورکړي، نو زموږ پر خاوند پوره مهر واجبيږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز نيم مهر واجبيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې مهر د بضع بدل دی، نو تر څو چې بضع حاصله کړی سوې نه وي، تر هغه وخت پوري به بدل يعني مهر نه لازميږي. او بضع (على وجه الكمال) په وطي سره حاصلول کيږي، لهذا بغير له وطي څخه به ټوله مهر نه واجبيږي. او د خلوت په وجه به ښځې ته فقط نيم مهر ورکول کيږي.

زموږ دليل: دا دی چې په خلوت صحيحه سره ښځې د وطي ټوله موانع يې ختم کړل او خپله بضع يې هغه ته وسپارله. او همدغه د ښځې په وس کې وه. وروسته کاروايي خو د خاوند په لاس کې ده، نو کله چې ښځې هغه ټوله شيان پوره کړل کوم چې د هغې په وس کې وه او خپله بضع يې په پوره توګه هغه ته وسپارله، نو ځکه به د هغې بدل "يعني مهر" هم په پوره توګه واجبيږي، ځکه که ښځه له دې څخه محرومه کړی سي نو دا به ډېره د نا انصافۍ خبره وي.

لکه کله چې بائع مشتري ته مبيع وسپاري، لېکن مشتر مبيع نه واخلي او بيا مبيع هلاکه سي.
نو پر مشتري د هغه قيمت لازميږي، نو همداسي به دلته هم پر خاوند مهر لازميږي.

زموږ د مذهب تاييد د دارِ قطني په دې حديث سره هم کيږي: "مَنْ كَشَفَ خِمَارَ اِمْرَأَةٍ أَوْ نَظَرَ إِلَيْهَا وَجَبَ الصَّدَاقُ. دَخَلَ بِهَا أَوْ لَمْ يَدْخُل" (يعني څوک چې له ښځي څخه پروني ليري کړي يا په شهوت سره ورته وګوري نو پر هغه ټوله مهر واجب دی، برابره ده هغه دخول په وکړي. که نه)، او خلفاء راشدينو به هم په خلوتِ صحيحه سره ټوله مهر واجب ګرځوی، او دا فيصله به يې کوله: "أَنَّ مَنْ أَغْلَقَ بَابًا أَوْ أَرْخَى سِتْرًا فَقَدْ وَجَبَ الْمَهْرُ وَوَجَبَتِ الْعِدَّةُ" (يعني څوک چې دروازه بنده کړي يا پرده وځړوي، نو پر هغه مهر واجبيږي او پر ښځي عدت واجبيږي). (عيني ج۴، ص:۶۶۸)

د خلوت د موانعو بيان

وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا مَرِيْضًا او که يو له خاوند او ښځي څخه ناروغه وي أَوْ صَائِمًا فِي رَمَضَانَ يا [يو] په رمضان کي روژتي وي ايعني فرضي روژه يې نيولې وي] أَوْ مُحْرِمًا بِحَجٍّ فَرْضٍ أَوْ نَفْلٍ أَوْ بِعُمْرَةٍ يا د فرضي يا نفلي حج يا د عمرې احرام تړونکی وي أَوْ كَانَتْ حَائِضًا يا ښځه حايضه وي فَلَيْسَتِ الْخَلْوَةُ صَحِيحَةً نو [په دې صورتونو کي] خلوت صحيح نه دی حَتَّى لَوْ طَلَّقَهَا تر دې که خاوند هغې ته طلاق ورکړي كَانَ لَهَا نِصْفُ الْمَهْرِ نو د هغې لپاره به نيم مهر وي لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَشْيَاءَ مَوَانِعُ ځکه چې دا شيان منع کونکي دي [له وطي څخه] أَمَّا الْمَرَضُ فَالْمُرَادُ مِنْهُ مَا يَمْنَعُ الْجِمَاعَ کوم چې مرض دی نو مراد له هغه څخه داسي مرض دی چې جماع [وطي] منع کوي أَوْ يَلْحَقُهُ بِهِ ضَرَرٌ يا [د جماع له کبله] په هغه مرض سره ده ته [نور] ضرر رسيږي وَقِيْلَ: مَرَضُهُ لَا يَعْرَى عَنْ تَكَسُّرٍ وَفُتُوْرٍ او ويل سوي دي: چې د سړي ناروغي د اندامونو له کمزورۍ او کهالۍ څخه خالي نه وي [يعني په هر مرض کي د سړي بدن او اندامونه کمزوري او کهاله وي خصوصاً د تناسل اندام (ذکر) نو په جماع کي پوره خوند نه ورته محسوسيږي] وَهٰذَا التَّفْصِيلُ فِي مَرَضِهَا او همدا تفصيل د ښځي په مرض کي [هم] دی وَأَمَّا صَوْمُ رَمَضَانَ لِمَا يَلْزَمُهُ مِنَ الْقَضَاءِ وَالْكَفَّارَةِ او کوم چې د رمضان روژه ده نو هغه ځکه [مانع د وطي ده] چې د هغې [د ماتولو] په وجه په پر روژتي قضا او کفاره [دواړه] لازميږي وَالْإِحْرَامُ لِمَا يَلْزَمُهُ مِنَ الدَّمِ وَفَسَادِ النُّسُكِ

وَالْقَضَاءِ او احرام ځکه [مانع د وطي دی] چي د دې [د فاسدولو] په وجه پر هغه دم او د عبادت فساد او [د حج] قضاء لازمیږي وَالْحَيْضُ مَانِعٌ طَبْعًا وَشَرْعًا او حیض په طبعي توګه او شرعي توګه [دواړو] مانع [د وطي] دی وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا صَائِمًا تَطَوُّعًا او که یو د خاوند او ښځي روژتي وي فَلَهَا الْمَهْرُ كُلُّهُ نو د ښځي لپاره به ټوله مهر وي لِأَنَّهُ يُبَاحُ لَهُ الْإِفْطَارُ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فِي رِوَايَةِ الْمُنْتَقَى ځکه چي [په دې صورت کي] له څه عذر څخه بغیر د روژتي لپاره روژه ماتول روا دي د منتقیٰ په روایت کي وَهٰذَا الْقَوْلُ فِي الْمَهْرِ هُوَ الصَّحِيحُ او د مهر په باره کي همدا قول صحیح دی وَصَوْمُ الْقَضَاءِ وَالْمَنْذُورِ كَالتَّطَوُّعِ فِي رِوَايَةٍ او قضائي او نذر سوې روژه د نفلي روژې په څیر ده په یوه روایت کي لِأَنَّهُ لَا كَفَّارَةَ فِيهِ ځکه چي په هغه کي کفاره نشته وَالصَّلَاةُ بِمَنْزِلَةِ الصَّوْمِ او لمونځ د روژې په څیر دی فَرْضُهَا كَفَرْضِهِ وَنَفْلُهَا كَنَفْلِهِ د هغه فرض د فرضي روژې په څیر دي او نفل یې د نفلي روژې په څیر دي.

اللغات: ﴿تَكَسُّر﴾ د تفعل مصدر دی: ماتېدل (مراد ځني د ذکر [تناسلي اندام] کمزوري او مړوالی دی)، ﴿فُتُور﴾ د نصر مصدر دی: کمېدل، سړېدل، سست کېدل، کهالېدل (مراد ځني د شهوت سړېدل او د اندامونو کهالت دی).

تشریح: په دې عبارت کي د هغو شیانو تفصیلي بیان کوي کوم چي په خلوت کي د وطي مانع ګڼل کیږي چي د هغوی په وجه بیا پر خاوند پوره مهر نه واجبیږي، د آساني لپاره تاسو مختصراً دا په یاد لرئ! چي موانع پر پنځه قسمه دي: ① مانع حقیقي، ② مانع طبعي، ③ مانع شرعي، ④ مانع حسي، ⑤ مانع طبعي شرعي، د مانع حقیقي مثال مرض دی، او مانع طبعي دا دی چي د ښځي د فرج خوله بنده سي یا ښځه په داسي بې ډوله مرض مبتلا وي چي طبیعت سلیمه بالکل د هغې له جماع کولو څخه نفرت او انکار کوي، مانع شرعي دا دی چي خاوند یا ښځي د فرضي حج احرام تړلی وي، مانع حسي دا دی چي د خاوند او ښځي د خلوت کي دریم کس هم موجود وي یا د ستر او پردې انتظام نه وي، او مانع طبعي شرعي دا دی چي ښځه په حیض کي وي، ځکه ښکاره خبره ده چي د حیض د وینو او د حیض د ګندګۍ په وجه طبیعت سلیمه د حائضه ښځي له جماع څخه نفرت کوي نو په دې وجه حیض مانع طبعي سو، او مانع شرعي ځکه دی چي الله تعالیٰ په دې آیت "وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ" کي د حیض په حالت کي له جماع کولو څخه منع کړې ده.

وأما المرض إلخ: له دې ځايه صاحب د کتاب د ټولو موانعو تفصيل بيانوي، نو فرمايي چې مرض مانع دی، خو له مرض څخه هغه مرض مراد دی کوم چې له جماع څخه مانع وي يا په جماع کولو سره نور زياتيږي او ښځه يا سړی نور په تکليف کيږي امثلاً د سړي يا د ښځې په شرمگاه کې زخم يا پلرسوب وي ا مطلق مرض ځني مراد نه دی، او د ځينو قول دا دی چې د سړي مرض مطلقاً مانع دی، ځکه چې د مطلق مرض او ناروغۍ په وجه د انسان بدن سُست، کمزوری او خوار ځواکه وي او عموماً د مريض اندامونه ستړي او ستومانه وي او تناسلي اندام (ذکَر) يې هم پوره کار نه کوي؛ او په وطي او جماع کې خوند هغه وخت محسوسيږي کله چې په بدن او طبيعت کې نشاط او چسپاندي وي، نو ځکه به مطلق مرض د وطي مانع وي، همدا قول علامه عيني او صدرُ الشريعه اختيار کړی دی.

وهٰذا التفصيل: فرمايي چې د ښځې په مرض کې هم هغه تفصيل دی کوم چې د سړي د مرض په هکله اوس ذکر سو، يعني که د هغې مرض له جماع څخه مانع وي، يا يې په جماع سره مرض نور زياتيږي او ښځه نوره په تکليف کيږي، نو بيا به دغه مرض د وطي مانع شمارل کيږي، کنې نه به شمارل کيږي.

وأما صوم: او فرضي روژه (يعني د رمضان روژه) هم د وطي (او خلوت صحيحه) مانع ده، ځکه که په فرضي روژه کې جماع وسي نو د سختې گناه سره قضاء او کفاره هم واجبيږي، او ښکاره خبره ده چې په دې شيانو کې زيات حرج او تکليف دی، نو ځکه به فرضي روژه هم د وطي مانع وي.

وأما الإحرام إلخ: او د فرضي او نفلي حج احرام او د عمرې احرام هم د وطي مانع دي، ځکه که چيري د احرام په حالت کې جماع وسي نو حج هم فاسديږي او پر احرام تړونکي دم يعني قرباني (اوښ يا پُسه) هم واجبيږي او د حج قضاء هم پر واجبيږي، ښکاره خبره ده چې په دې شيانو کې هم ډېر سخت حرج او تکليف سته، نو ځکه به احرام هم مانع د وطي وي. او څرنگه چې حيض په هر اعتبار سره د نفرت حالت دی او فطرت سليمه حائضه ښځې ته لاس ور وړل هم نه خوښوي، او قرآن کريم هم په دغه حالت کې له جماع څخه منع کړې ده، نو ځکه به حيض هم د وطي مانع وي.

وإن كان إلخ: له دې ځايه د فرضي او نفلي روژې فرق بيانوي، او دې ته اشاره کوي چې مو ږ ځکه د فرضي روژې قيد لګولی دی چې نفلي روژه مانع د وطي نه ده، او که د سړي يا ښځې نفلي روژه وي او په هغه حالت کې خلوت وکړي نو هغه به خلوت صحيحه وي او د دخول قائم مقام به وي او تر دې خلوت وروسته که سړی ښځې ته طلاق ورکړي نو پر هغه به ټوله مهر لازم وي، ځکه چې د حاکم

شهيد ابو الفضل د کتاب (منتقیٰ) مطابق د نفلي روژې په حالت کي بېله عذره روژه ماتول روا دي. او د مهر په باره کي دا قول صحيح دی.

د "وهذا القول في المهر صحيح" واضح مطلب دا دی چي د ټوله مهر د وجوب په هکله خو د منتقیٰ روايت صحيح دی، لېکن په دې باره کي چي نفلي روژه د وطي مانع نه ده د منتقیٰ روايت صحيح نه دی، ځکه چي ځيني علماؤ نفلي روژه هم د وطي او خلوتِ صحيحه مانع ګڼلې ده. (والله أعلم بحقيقة الحال)

وصوم القضاء إلخ: د قضائي او نذري روژې په باره کي دوه روايتونه دي: ①... يو روايت دا دی چي دغه روژې هم مانع د وطي او مانعْ د خلوتِ صحيحه دي، ②... دويم رايت دا دی چي مانع نه دي: د اول روايت دليل دا دی چي که څه هم د قضائي او نذري روژې په ماتولو سره کفاره نه واجبيږي خو انسان په ګناهکاره کيږي لکه د رمضان د روژې په ماتولو سره چي انسان ګناهکاره کيږي، نو ځکه به دا روژې هم د رمضان د روژې په څير د خلوتِ صحيحه مانع وي.

او د دويم روايت دليل دا دی چي که څه هم دا روژې د رمضان د روژې سره د ګناه په لزوم کي برابري دي. خو د کفارې د وجوب په حواله سره د رمضان روژه پر دوی غالبه ده. لهذا په دواړو کي فرق راغلی، نو ځکه به د رمضان روژه مانع د خلوتِ صحيحه وي. لېکن قضائي او نذري روژه به د دې مانع نه وي. لنډه چي د اول روايت قائلينو ګناه ته کتلي دي چي د رمضاني روژې په څير د دې روژو په ماتولو کي هم ګناه ده، او د دويم روايت قائلينو کفارې ته کتلي دي.

والصلاة إلخ: فرمايي چي لمونځ هم د روژې په څير دی. يعني لکه څرنګه چي فرضي روژه مانع د وطي او مانع د خلوتِ صحيحه ده، همدارنګه فرضي لمونځ هم مانعْ د وطي او خلوت صحيحه دی. او څرنګه چي نفلي روژه مانع د وطي او خلوتِ صحيحه نه ده، همدارنګه که د نفلي لمانځه په حالت کي د ښځي سره د سړي خلوت وشي. نو دا به هم خلوتِ صحيحه وي او مانع د وطي به نه ګڼل کيږي.

د مجبوب او عنين د خلوت بيان

وَإِذَا خَلَا الْمَجْبُوْبُ بِامْرَأَتِهٖ او کله چي ذکر پرېکړی سوی [مقطوعُ الذکر] خلوت وکړي د خپلي ښځي سره ثُمَّ طَلَّقَهَا بيا طلاق ورکړي فَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ ✿ نو د هغې لپاره به پوره مهر [واجب] وي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَقَالَا: عَلَيْهِ نِصْفُ الْمَهْرِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي:

✿ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۲، ص:۳۷۰)، وكذا في الخانيـة (ج:۱، ص:۱۸۲).
[الفوز الراجح ج:۱، ص:۲۷۲]

چي پر هغه [مقطوعُ الذكر] به نيم مهر وي لِأَنَّهُ أَعْجَزُ مِنَ الْمَرِيْضِ ځکه چي هغه تر مريض زيات بې وسه دی بِخِلَافِ الْعِنِّيْنِ په خلاف د عنين [يعني هغه کس چي پر جماع قدرت نه لري] لِأَنَّ الْحُكْمَ أُدِيْرَ عَلٰى سَلَامَةِ الْآلَةِ ځکه چي حکم د آلې پر روغوالي دائر کيږي [يعني ځکه چي د حکم مدار د آلې پر سلامتيا دی] وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ: أَنَّ الْمُسْتَحَقَّ عَلَيْهَا التَّسْلِيْمُ فِيْ حَقِّ السَّحْقِ د امام صاحب دليل دا دی: چي پر ښځي سپارل [د بضع] واجب دی د مُږلو په حق [يعني پر ښځي د مږلو لپاره خاوند ته د بضع سپارل واجب دي] وَقَدْ أَتَتْ بِهٖ او هغې دا [کار] کړی دی [نو ځکه به د هغې لپاره پوره مهر وي].

اللغات: ﴿مَجْبُوْب﴾ هغه سړی چي ذَکَر (تناسلي) اندام يې پرېکړی سوی وي. ﴿عِنِّيْن﴾ هغه سړی چي پر جماع قدرت نه لري (نامرده سړی). ﴿سَحْق﴾ مُږل. له مساحقت څخه دی (أحسن الهداية)، ما وجدته في القواميس بهذا المعنٰى.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره ځان پوه کړی چي "مَجْبُوْب" هغه سړي ته وايي کوم چي ذکَر نه لري يعني ذکر يې پرېکړی سوی او ختم سوی وي. او "عِنِّيْن" هغه سړي ته وايي چي د ډېر بوډاتوب يا د ډېري کمزورۍ په وجه پر جماع قدرت نه لري خو د دې امکان وي چي پر جماع به قدرت پيدا کړي.

حاصل د عبارت دا دی چي که مجبوب د خپلي ښځي سره خلوت وکړي (او له مجبوبيّت څخه بغير بل مانع د وطي نه وي) او بيا ښځي ته طلاق ورکړي، نو د امام صاحب په نېز به پر دغه مجبوب ټوله مهر واجبيږي، ځکه چي د هغه دا خلوت، خلوت صحيحه دی. لېکن صاحبين فرمايي چي دا خلوت فاسده دی او مانع د وطی دی، لهذا په دې صورت کي به پر مجبوب فقط نيم مهر واجبيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي مجبوب تر مريض هم زيات عاجزه دی، ځکه چي مريض کله نا کله پر جماع قدرت لري، لېکن مجبوب پر جماع هيڅ قدرت نه لري (ځکه چي هغه ګر سره آله نه لري نو جماع به په څه شي وکړي)، او مرض د خلوت صحيحه مانع دی، نو مجبوبيّت خو به په طريقه اولیٰ د خلوت صحيحه مانع وي، لهذا د هغه دا خلوت به خلوت فاسده شمارل کيږي، نه خلوت صحيحه.

او د عنين مسئله له دې څخه جلا ده او د هغه خلوت، خلوت صحيحه دی، ځکه چي د هغه آله صحيح سالمه ده او د حکم دارومدار پر آله دی، نو د خلوت کولو په صورت کي به پر هغه پوره مهر واجبيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې مهر د ښځې حق دی، نو مهر به هغه وخت کمول کیږي کله چې د ښځې له طرفه څه کمي او بې پروايي وسي، او موږ وینو چې دلته د ښځې له طرفه هیڅ کمي نسته. ځکه پر ښځې فقط دا کار لازم دی چې د مړلو په حق کې خاوند ته خپله بضع وسپاري (یعني چې خاوند ته پر خپلې بضع [شرمګاه] د ځان مړلو اجازه ورکړي)، او هغې دا کار پوره کړی دی (ځکه چې هغې د خاوند "مجبوب" له مړلو او د خاوند له مچولو او بیدېدلو څخه هیڅ انکار کړی نه دي. نو داسي سو لکه خپله بضع چې يې هغه ته وسپارله)، نو ځکه به د عنین په څیر د مجبوب خلوت هم خلوت صحیحه وي.

په خلوت سره د عدت واجبېدلو بیان

قَالَ: وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ فِي جَمِيعِ هٰذِهِ الْمَسَائِلِ اِحْتِيَاطًا اِسْتِحْسَانًا فرمايي: چې پر ښځې عدت [عده] واجب دی په دغه ټوله [د خلوت سره اروند] مسئلو کې احتیاطاً د استحسان په توګه لِتَوَهُّمِ الشُّغْلِ ځکه چې د رحم د مشغولتيا وهم سته وَالْعِدَّةُ حَقُّ الشَّرْعِ وَالْوَلَدِ او عدت د شریعت او کوچني حق دی فَلَا يُصَدَّقُ فِي إِبْطَالِ حَقِّ الْغَيْرِ لهذا د بل چا د حق د باطلولو په هکله به د هيچا خبره نه منل کیږي بِخِلَافِ الْمَهْرِ په خلاف د مهر لِأَنَّهُ مَالٌ لَا يُحْتَاطُ فِي إِيجَابِهِ ځکه چې مهر داسي مال دی چې په واجبولو کې يې احتیاط نه کیږي وَذَكَرَ الْقُدُورِيُّ فِي شَرْحِهِ او امام قدوري رَحِمَهُ اللهُ په خپله شرح کې [دا] ذکر کړي دي أَنَّ الْمَانِعَ إِنْ كَانَ شَرْعِيًّا چې مانع [د وطي] که چیري شرعي وي [لکه روژه او حيض] تَجِبُ الْعِدَّةُ نو عدت واجبیږي لِثُبُوتِ التَّمَكُّنِ حَقِيقَةً حقيقتاً [پر وطي] د قدرت ثابتېدلو په وجه [یعني ځکه چې په دې صورت کې حقيقتاً پر وطي د انسان قدرت وي] وَإِنْ كَانَ حَقِيقِيًّا كَالْمَرَضِ وَالصِّغَرِ او که [مانع د وطي] حقيقي وي لکه مرض او کوچنيوالی [نابالغتوب] لَا تَجِبُ نو [عدت] نه واجبیږي لِانْعِدَامِ التَّمَكُّنِ حَقِيقَةً حقيقتاً د قدرت د نشتوالي په وجه.

اللغات: ﴿الشُّغل﴾ د فتح د باب اسم مصدر دی: مشغولیت (رحم په بچي مشغولېدل، یعني ښځه حامله کېدل)، ﴿لَا يُصَدَّق﴾ د تفعیل له باب څخه د نفي صيغه ده: تصديق کول، تاييد کول، د يو سړي سره د هغه خبره منل، ﴿إِيْجَاب﴾ د افعال مصدر دی: واجبول.

تشريح: په دې عبارت کې بيان سوې مسئله د جامع صغير ده، حاصل يې دا دی چې مخکي د خلوت په هکله کوم صورتونه بيان سول يعني: خلوت صحيحه، خلوت فاسده، يا د مجبوب او عنين خلوت، په دې ټولو صورتونو کي تر طلاق وروسته د رحم د مشغوليت د احتمال په وجه پر ښځي عدت واجب دی (يعني که خاوند محض د ښځي سره خلوت وکړي او هيڅ دخول په ونه کړي او بيا هغې ته طلاق ورکړي، نو تر طلاق وروسته پر دغه ښځي عدت تېرول واجب دي، برابره ده خلوت صحيحه يې ور سره کړی وي، که خلوت فاسده)، او دا د عدت واجبېدل احتياطاً د استحسان په توګه دي (يعني خلافُ القياس دي)، ځکه د قياس تقاضا خو دا ده چې په دې صورتونو کي دي بالکل عدت نه واجبيږي، ځکه خلوت فاسده خو بالکل د دخول قائم مقام نه دی، او خلوت صحيحه که څه هم د دخول قائم مقام دی خو کله چې هغه وطي ور سره کړې نه دي او قبل الدخول يې طلاق ورکړی دی نو په دې وجه پر ښځي عدت واجبول هيڅ معنیٰ نه لري او د قياس بالکل مخالف دي. نو معلومه سوه چې په دې صورتونو کي عدت واجبېدل د قياس له رويه صحيح نه دي، خو دلته به د احتياط لپاره قياس پرېښوول کيږي او استحساناً به پر ښځي عدت واجبيږي، او همدا صحيح دي، ځکه چې د دغه مسئلې په شان نوري هم ډېري مسئلي سته چې په هغوی کي قياس پرېښوول کيږي او په استحسان عمل کيږي.

دليل: د دليل حاصل دا دی چې د خلوت په صورت کي د رحم د مشغوليت وهم او احتمال سته. يعني شايد هغه به وطي او دخول کړی وي او رحم ته به د سړي مني ورغلي وي يا شايد د دباندي له طرفه د معمولي مږلو په وجه به د هغه مني بهيدلي وي او رحم ته به رسېدلي وي، ځکه کله چې دوه شوقيان سره يو ځای سي نو د دغه خبري پوره احتمال سته (او په مجبوب [مقطوع الذکر] کي هم دغه احتمال سته چې هغه به خپل مقطوع ذکر د ښځي د شرمګاه سره لګولی وي او په مږلو او زور لګولو سره به د هغه مني راوتلي وي او رحم ته به رسېدلي وي). لهذا کله چې د خلوت په ټولو صورتونو کي د رحم د مشغوليت وهم ستم، نو احتياط په همدې کي دی چې پر ښځي عدت واجب سي.

والعدة حق الشرع إلخ: د دې حاصل دا دی چې د عدت د وجوب په باره کي به د ښځي يا د خاوند دا خبره نه منل کيږي چې "ما وطي نه دي ور سره کړي"، بلکي په هر حالت کي به عدت واجبيږي، يعني که څه هم خاوند او ښځه دا خبره وکړي چې "موږ خو خلوت کړی دی لېکن يو بل مو ته لاس هم نه دی وروړی، جماع خو هلته پرېږده!"، نو د هغو دا ډول خبرو ته به نه کتل کيږي. بلکي په هر صورت کي به پر ښځي عدت واجب وي، ځکه چې عدت د شريعت او کوچني دواړو حق دی، د شريعت حق خو ځکه دی چې که خاوند او ښځه عدت ساقطول وغواړي نو دوی بالکل عدت نه سي

ساقطولای. او د کوچنې حق د هغه حديث په وجه دی کوم چې مخکې ذکر سو يعنې: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَسْقِ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ" (په دې حديث کې د داسې حاملې ښځې له وطې څخه منع سوې ده چې هغه له بل [مخکنې خاوند] څخه حامله وي، نو د خلوت په صورت کې هم له بل څخه د حامله کېدلو وهم او احتمال وي. او د دې حديث أصل مقصد د کوچني د نسب لحاظ کول دي چې د دويم خاوند په اوبو سره د هغه نسب شکمن نه سي، نو معلومه سوه چې عدت د کوچني حق هم دی)، لهذا کله چې عدت د دواړو حق دی، نو اوس به د هغه د ساقطولو په باره کې د هيچا خبره نه منل کيږي هغه که ښځه وي او که خاوند وي، ځکه قاعده دا ده چې د بل چا د حق د باطلولو او ساقطولو په باره کې به د هيچا د خبري اعتبار نه کيږي.

بخلاف المهر إلخ: په دې سره ديو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چې کله په خلوتِ صحيحه او فاسده دواړو کې عدت واجب دی، نو په دواړو کې مهر هم پوره واجبول پکار دي. حال دا چې تاسې په خلوتِ صحيحه کې پوره مهر واجب کړی لېکن په خلوتِ فاسده کې مو نيم مهر واجب کړی دی؟ د دې په جواب کې صاحب د هدايې فرمايي چې په دوی کې د فرق وجه دا ده چې مهر مال دی. او د مال په واجبولو کې د احتياط ضرورت نه وي، بلکې پر احتياط او استحسان د ضرورت په وخت کې عمل کيږي. لهذا چيري چې ضرورت سته (يعني د عدت په واجبولو کې) نو هلته موږ پر احتياط عمل کوو. او چيري چې ضرورت نسته (يعني د مهر په واجبولو کې) نو هلته قياس پر خپل حال پرېږدو او پر احتياط او استحسان عمل نه کوو

وذكر القدوري إلخ: امام قدوري رَحِمَهُ الله چې د امام کرخي د کتاب "مختصرُ الكرخي" کومه شرح ليکلې ده په هغه کې امام قدوري رَحِمَهُ الله د عدت د وجوب او نه وجوب په هکله په مانعِ شرعي او مانعِ حقيقي کې فرق کړی دی او ليکلي يې دي چې که د وطي مانع شرعي وي لکه فرضي روژه يا حيض نو بيا به په خلوت سره عدت واجبيږي ځکه په دې صورت کې د رحم د مشغوليت احتمال سته. ځکه چې په داسې صورت کې خاوند حقيقتاً د وطي کولو قدرت لري، صرف په شرعي توګه مانع د وطي موجود دی. او که مانع حقيقي وي مثلاً د سړي ذکر پرېکړی سوي وي يا نجلۍ نابالغه او ډېره کوچنۍ وي، يا سړی نابالغه وي (يعني هلک وي) چې د نابالغتوب په وجه وطي نه سي کولای. نو په دې صورت کې به عدت واجبيږي، ځکه په دې صورتونو کې د رحم د مشغوليت امکان نسته. ځکه

چي دغه خاوند حقیقتاً د وطي کولو قدرت نه لري (یعني په حقیقت کي داسي خاوند وطي نه سي کولای)، نو ځکه به د مانعِ حقیقي په صورت کي په خلوت سره عدت نه واجبیږي.

کومه طلاق سوې ښځه (مُطلقه) د متعې حقداره ده؟

قَالَ: وَتُسْتَحَبُّ الْمُتْعَةُ لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ إِلَّا لِمُطَلَّقَةٍ وَاحِدَةٍ [امام قدوري] فرمايي: او مستحب ده متعه د هري مطلقې [طلاق سوې ښځي] لپاره خو نه د يوې مطلقې لپاره وَهِيَ الَّتِي طَلَّقَهَا الزَّوْجُ قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا او دا هغه مطلقه ده چي خاوند تر دخول [جماع] مخکي طلاق ورکړی وي وَقَدْ سَمَّى لَهَا مَهْرًا او د هغې لپاره يې [د نكاح په وخت كي] مهر [هم] ټاكلى وي [نو داسي مطلقې ته متعه وركول مستحب هم نه دي بلكي د هغې لپاره نيم مهر واجب دى] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَجِبُ لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ إِلَّا لِهَذِهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د هري مطلقې لپاره متعه واجب ده لِأَنَّهَا وَجَبَتْ صِلَةً مِنَ الزَّوْجِ ځكه چي متعه د خاوند له طرفه د صلې [او احسان] په توګه واجب سوې ده لِأَنَّهُ أَوْحَشَهَا بِالْفِرَاقِ ځكه چي خاوند ښځه په جلا كولو سره په وحشت [او غم] سره مبتلا كړه إِلَّا أَنَّ فِي هَذِهِ الصُّورَةِ نِصْفَ الْمَهْرِ طَرِيقَةُ الْمُتْعَةِ خو په دې صورت كي نيم مهر د متعې په توګه واجب دى لِأَنَّ الطَّلَاقَ فَسْخٌ فِي هَذِهِ الْحَالَةِ ځكه چي طلاق په دې حالت كي فسخ دى وَالْمُتْعَةُ لَا تَتَكَرَّرُ او متعه نه مكرره كيږي [يعني په متعه كي تكرار او دوه ځلي نسته] وَلَنَا: أَنَّ الْمُتْعَةَ خَلَفٌ عَنْ مَهْرِ الْمِثْلِ فِي الْمُفَوَّضَةِ زموږ دليل دا دى: چي په مفوضه كي متعه د مهرِ مثل خليفه [نائب] ده لِأَنَّهُ سَقَطَ مَهْرُ الْمِثْلِ وَوَجَبَتِ الْمُتْعَةُ ځكه چي مهرِ مثل ساقط سو او متعه واجب سوه [يعني د مهرِ مثل د سقوط په بدله كي متعه واجب سوې ده] وَالْعَقْدُ يُوجِبُ الْعِوَضَ او عقد عوض واجبوي فَكَانَ خَلَفًا نو ځكه به دا متعه [د مهر] خليفه وي وَالْخَلَفُ لَا يُجَامِعُ الْأَصْلَ او خليفه خو نه د أصل سره جمع كېداى سي وَلَا شَيْئًا مِنْهُ او نه د أصل د يو جزء سره [جمع كېداى سي] فَلَا تَجِبُ مَعَ وُجُوبِ شَيْءٍ مِنَ الْمَهْرِ نو د لږ مهر د وجوب سره به هم متعه نه واجبيږي وَهُوَ غَيْرُ جَانٍ فِي الْإِيحَاشِ او طلاق وركونكى [خاوند] مجرم نه دى په وحشت اچولو كي [يعني په دې سره هغه جنايتكار او مجرم نه دى چي ښځه يې په وحشت مبتلا كړه] فَلَا تَلْحَقُهُ الْغَرَامَةُ بِهِ لهذا د طلاق په وجه به هغه ته تاوان هم نه لاحقيږي [يعني كله چي هغه په طلاق وركولو كي مجرم نه دى نو د طلاق په وجه به پر هغه هيڅ جرمانه هم نه لازميږي] فَكَانَ مِنْ بَابِ الْفَضْلِ نو دا متعه به د احسان [او ښېګڼي] له قبيلې څخه وي.

اللغات: ﴿أَوْحَشَ﴾ د افعال ماضي ده: يو څوک په وحشت او ېره مبتلا کول، ترهول. ﴿فِرَاق﴾ د نصر او ضرب له باب څخه اسم مصدر دی: جلا کول، جدايي، عليحده کېږي. ﴿جَان﴾ د ضرب د باب اسم فاعل دی، په اصل کي جَانِيٌ وو: جنايتکار، مجرم، ګنهکار. ﴿الْغَرَامَة﴾ د سمع له باب څخه اسم مصدر دی: تاوان، جرمانه.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره ځان پوه کړئ! چي د متن په اوله جمله يعني په "وَتُسْتَحَبُّ الْمُتْعَةُ لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ إِلَّا مُطَلَّقَةً وَاحِدَةً" کي دوه إشکالونه (خنډونه) دي: ①... اول إشکال دا دی چي امام قدوري رَحِمَهُ الله په "لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ" کي "كُلّ" د "مُطَلَّقَةٍ" و طرف ته مضاف کړی دی او "مُطَلَّقَةٍ" نکره دی، او قاعده دا ده چي کله لفظ د "كُلّ" نکرې ته مضاف سي نو عموم فايده کوي. لهذا د جملې د اولي حصې معنیٰ دا سوه چي د هر ډول طلاق سوي ښځي لپاره متعه مستحب ده. هغه که مدخوله وي او که غيرِ مدخوله وي، مسمیٰ لها وي (يعني د هغې لپاره مهر ټاکل سوي وي) او که غيرِ مسمیٰ لها وي (يعني مهر ور لره ټاکل سوی نه وي)، حال دا چي د مُفوّضې ښځي لپاره (يعني د داسي طلاق سوي ښځي لپاره چي هغه غيرِ مدخول بها او غيرِ مسمیٰ لها وي) متعه مستحب نه ده بلکي واجب ده، لهذا امام قدوري رَحِمَهُ الله چي مطلقاً متعه مستحب ګرځولې ده، دا صحيح نه دي.

②... دويم اشکال دا دی چي تر "لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ" وروسته د "إِلَّا مُطَلَّقَةً وَاحِدَةً" استثناء سوې ده او دا استثناء عنِ نفسهٖ ده، ځکه په مبسوط کي ذکر سوي دي چي کومي ښځي ته خاوند تر دخول مخکي طلاق ورکړي او د هغې لپاره يې مهر ټاکلی وي نو د هغې لپاره هم متعه مستحب ده. نو د ټولي جملې معنیٰ دا سوه چي "د هري ښځي لپاره متعه مستحب ده مګر د يوې مُطلقې لپاره مستحب ده او هغه دا چي خاوند تر دخول مخکي طلاق ورکړی وي او د هغې لپاره يې مهر ټاکلی وي" نو دا استثناء عن نفسهٖ سوه او داسي ده لکه څوک چي ووايي "ما ته خالد راغلی مګر خالد" او دا ډول استثناء باطله ده. لهذا د امام قدوري رَحِمَهُ الله پورتنۍ استثناء هم صحيح نه ده.

شارحينو د امام قدوري رَحِمَهُ الله له طرفه د دې دواړو إشکالونو جواب ورکړی دی. علامه اترازي رَحِمَهُ الله په جواب کي فرمايلي دي چي د امام قدوري رَحِمَهُ الله د دغه جملې مطلب دا دی چي: "تُسْتَحَبُّ الْمُتْعَةُ لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ سِوَى الَّتِيْ تَقَدَّمَ ذِكْرُهَا وَهِيَ الَّتِيْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخولِ وَقَبْلَ التَّسْمِيَةِ فَإِنْ

مُتْعَتَهَا وَاجِبَةٌ إِلَّا لِمُطَلَّقَةٍ وَاحِدَةٍ وَهِيَ الَّتِيْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخولِ بَعْدَ التَّسْمِيَةِ فَإِنَّ مُتْعَتَهَا لَيْسَتْ بِوَاجِبَةٍ وَلَا مُسْتَحَبَّةٍ". نو په دې توګه به عبارت بالکل صحیح سي او دواړه إشکالونه به ختم سي.

دویم جواب دا دی چي امام قدوري رَحِمَهُ الله په خپل شرح کي په ځیني صور تونو کي متعه مستحب ګرځولې ده او په ځینو صورتونو کي یې واجب ګرځولې ده. لهذا په "لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ" کي خو واقعي استحباب مراد دی لیکن په "إِلَّا مُطَلَّقَةً وَاحِدَةً" کي استحباب نه بلکي وجوب مراد دی. یعني له "إِلَّا مُطَلَّقَةً احِدَةً" څخه مراد غیرِ مدخول بها غیرِ مسمیٰ لها مُطلقه (یعني مفوّضه) ده. نو إشکال ختم سو او استثناء صحیح سوه. ځکه چي د "لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ" او "إِلَّا مُطَلَّقَةً وَاحِدَةً" په معنیٰ کي توپیر او تغایر راغلی.

ځیني حضراتو په جواب کي ویلي دي چي په دې اوله جمله کي له کاتب څخه سهوه سوې ده ځکه أصلاً د "وَقَدْ سَمّٰى لَهَا" پر ځای "وَلَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْرًا" وو.

یو بل جواب ستاسو په حاشیه کي هم ذکر سوی دی، تاسي هغه هم کتلای سي.

حاصل د عبارت: علامه اترازي چي د اولي جملې کوم مطلب بیان کړی دی هغه ډېر أسهل او واضح دی نو د هغه د تحقیق مطابق د عبارت حاصل دا دی چي زموږ په نېز د مُطلّقه (طلاق سوي ښځي) لپاره متعه مستحب ده ما سوا له هغه مُطلقې څخه چي خاوند تر دخول کولو او مهر ټاکولو مخکي طلاق ورکړی وي (یعني مُفوّضه وي) نو د هغې لپاره متعه واجب ده خو هغه مُطلّقه چي خاوند تر دخول مخکي طلاق ورکړی وي او د هغې لپاره یې مهر ټاکلی وي (یعني هغه مُطلقه غیرِمدخول بها مسمیٰ لها وي) نو د هغې لپاره متعه نه واجب ده او نه مستحب ده بلکي د هغې لپاره نیم مهر واجب دی.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي د هري مطلّقې لپاره متعه واجب ده. لیکن د مطلقه غیرِ مدخول بها مسمی لها لپاره متعه مستحب ده (یعني داسي ښځي ته به د امام شافعي په نېز نیم مهر هم ورکول کیږي او استحباباً به متعه هم ورکول کیږي نه وجوباً. خو زموږ په نېز به فقط نیم مهر ورکول کیږي او د متعې نوم به هم نه اخیستل کیږي).

د امام شافعي دلیل: دا دی چي خاوند د طلاق ورکولو په وجه ښځه په وحشت او پرېشاني سره مبتلا کړه، او له خپل ځان څخه یې جلا کړه (نو دا ګواکي د هغه له طرفه یو جرم سو)، نو ځکه موږ د ښځي د وحشت ختمولو په خاطر او په خاوند کي د غمخوارۍ پیدا کولو په غرض د احسان په توګه پر خاوند متعه واجب ګرځوو. خو څرنګه چي د مطلقه غیرِ مدخول بها مسمیٰ لها لپاره نیم مهر واجب دی (ځکه د هغې لپاره خو مهر ټاکل سوی دی او قاعده دا ده چي که تر دخول مخکي ښځي ته طلاق ورکول سي او د هغې لپاره مهر ټاکل

سوي وي نو هغې ته به د متعې په توګه نیم مهر ورکول کیږي، پوره مهر به نه ورکول کیږي، ځکه چي د دخول د نشتوالي په وجه د هغې بضع صحیح سالمه پاته سوه)، نو کله چي د هغې لپاره نیم مهر د متعې په توګه واجب دی نو اوس که موږ متعه هم واجب کړو، نو د متعې په وجوب کي به تکرار راسي، او هغې ته به دوه ځله متعه ورکول سي، حال دا چي په متعه کي تکرار نه راځي.

زموږ دلیل: دا دی چي نکاح د بیع په څیر د معاوضې عقد دی لهذا په نکاح کي عوض (بدل) ضروري دی (لکه په بیع کي چي ضروري دی چي هغه ته په بیع کي ثمن وایي او په نکاح کي مهر ورته وایي) خو څرنګه چي عوض د معوض (مبدل) په مقابله کي وي، او په نکاح کي معوض (یعني بضع) فقط یوه ده، نو ځکه به عوض (مهر) هم یو واجبیږي او یو ډول به واجبیږي. او همداسي به د عوض نائب (یعني د مهر نائب چي هغه متعه ده) هم یوه واجبیږي، نو نتیجه دا سوه چي عوض او د هغه نائب (یعني مهر او متعه) به دواړه یوځای نه واجبیږي، او کوم چي مفوضه ښځه ده (یعني مطلقه غیرِ مدخول بها او غیر مسمیٰ لها)، نو ښکاره خبره ده چي د هغې لپاره نه مهر تاکل سوی دی او نه د هغې لپاره د دخول د نشتوالي په وجه مهر مثل اجب دی، نو اوس به د هغې لپاره خامخا متعه واجبیږي ځکه چي د متعې له وجوب څخه بغیر بله چاره نسته، او دا متعه د هغې په حق کي د مهرِ مثل نائبه ده (ځکه چي متعه د مهر نائبه ده او مهر أصل دی)، او د نائب په باره کي قاعده دا ده چي نه هغه د أصل سره جمع کېدای سي او نه د أصل د جزء سره، لهذا په هغه ټولو صورتونو کي به متعه نه واجبیږي چي په هغوی کي مهر واجب سوی وي که څه هم معمولي غوندي وي، مثلاً د مطلقه مدخول بها غیرِ مسمیٰ لها لپاره د دخول په وجه مهرِ مثل واجب دی، د مطلقه غیرِ مدخول بها مسمیٰ لها لپاره د مهر تاکلو په وجه نیم مهر واجب دی، نو ځکه به د دغه مطلقه ښځو لپاره متعه نه واجبیږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا قول به هم صحیح نه وي چي مطلقاً متعه واجب ده.

وهوغیرالخ: صاحب د هدایې په دې عبارت سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب ورکوي، فرمایي چي خاوند مجرم ګرځول او د وحشت د جرم په وجه پر خاوند متعه واجبول صحیح نه دي، ځکه چي شریعت په خپله خاوند ته د طلاق اجازه ورکړې ده حتیٰ په ځینو صورتونو کي یې طلاق مستحب ګرځولی دی (مثلاً کله چي ښځه نافرمانه وي یا لمونځ پر نه ښوونکې وي...)، نو ځکه به خاوند په دې سره نه مجرم کیږي چي هغه ښځي ته طلاق ورکړی او ښځه یې په وحشت او پرېشانۍ سره مبتلا کړه، لهذا کله چي هغه مجرم نه دی نو متعه به هم پر واجب نه وي بلکي فقط مستحب به وي، او همدا صحیح ده، او د وجوب قول په هیڅ صورت کي صحیح نه دی مګر د ضرورت او مجبورۍ په وخت کي، مثلاً ښځه مفوّضه وي (یعني مطلقه غیرِ مدخول بها غیرِ مسمیٰ لها وي)، ځکه چي د هغې په حق کي د متعې له وجوب څخه بغیر بله هیڅ چاره نسته.

د مُخي بيان (د ښځي په بدله کي ښځه ورکول)

وَإِذَا زَوَّجَ الرَّجُلُ بِنْتَهُ او کله چي يو څوک نکاح وکړي اديو سړي سره] د خپلي لور ايعني يو څوک خپله لور بل کس ته په نکاح ورکړي] عَلَىٰ أَنْ يُزَوِّجَهُ الْمُتَزَوِّجُ بِنْتَهُ أَوْ أُخْتَهُ پر دې شرط چي دا خاوند [يعني دغه بل سړی] به خپله لور يا خور هغه ته په نکاح ورکوي لِيَكُونَ أَحَدُ الْعَقْدَيْنِ عِوَضًا عَنِ الْآخَرِ د دې لپاره چي يو د دواړو عقدونو عوض سي له هغه بل څخه ايعني د دې لپاره داسي کوي چي يوه نکاح د بلي نکاح عوض سي او مهر له مينځ څخه وغورځول سي، کوم ته چي زموږ په اصطلاح مخې وايي] فَالْعَقْدَانِ جَائِزَانِ نو دواړو عقدونه جائز دي وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مَهْرُ مِثْلِهَا او په دې دواړو ښځو کي به د هري يوې لپاره مهرِ مثل وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: بَطَلَ الْعَقْدَانِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دواړه عقدونه باطل دي لِأَنَّهُ جَعَلَ نِصْفَ الْبُضْعِ صَدَاقًا وَالنِّصْفَ مَنْكُوحَةً ځکه چي [هر عاقد] نيمه بضع مهر وګرځوله او نيمه يې منکوحه وګرځوله [يعني نيمه بضع يې مهر وټاکله او نيمه يې د نکاح په توګه هغه بل عاقد ته ورکړه] وَلَا اشْتِرَاكَ فِي هٰذَا الْبَابِ او په دې باب کي اشتراک نسته فَبَطَلَ الْإِيجَابُ نو ايجاب باطل سو او د ايجاب په باطلېدلو سره ټوله عقد باطليږي] وَلَنَا: أَنَّهُ سَمّٰى مَا لَا يَصْلُحُ صَدَاقًا او زموږ دليل دا دی: چي [هر عاقد] داسي شی [په مهر کي] وټاکی کوم چي د مهر جوړېدلو صلاحيت [وړتيا] نه لري فَيَصِحُّ الْعَقْدُ نو عقد به صحيح وي وَيَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ او مهرِ مثل به واجب وي كَمَا إِذَا سَمّٰى الْخَمْرَ وَالْخِنْزِيرَ لکه په هغه صورت کي [چي هم عقد صحيح کيږي کله] چي شراب او خنزير [په مهر کي] وټاکي وَلَا شَرِكَةَ بِدُونِ الِاسْتِحْقَاقِ او بغير له استحقاق څخه هيڅ اشتراک نه ثابتيږي.

اللغات: ﴿زَوَّجَ﴾ د تفعيل ماضي ده، متعدي باب دی: د بل چا نکاح ورکول، واده ورکول. ﴿مُتَزَوِّج﴾ د تفعّل اسمِ فاعل دی، لازمي باب دی: په خپله نکاح کونکی، واده کونکی. ﴿سَمّٰى﴾ د تفعيل ماضي ده: ټاکل، مقرر کول. ﴿خَمْر﴾ شراب.

تشريح: په دې عبارت کي د "نکاحِ شِغَار" حکم بيان سوی دی چي هغه ته زموږ په اصطلاح "د مخې نکاح" وايي. "شِغَار" له "شُغُور" څخه را اخيستل سوی لفظ دی، د "شُغور" معنیٰ ده: "

ختمول. او خالي كول"، څرنګه چي د مخي نكاح هم له مهر څخه خالي وي او په هغه کي يوه بضع د بلي بضع عوض ګرځول کيږي او مهر پکښي ختمول کيږي، نو ځکه هغه ته "شِغَار" وايي.

صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نيز د شغار نكاح جائز او صحيح ده (او په نکاح کي به دواړو ښځو ته مهرِ مثل ورکول کيږي، ځکه په کومه نكاح کي چي مهر نه وټاکل سي، نو په هغه کي مهرِ مثل لازميږي لکه مخکي چي دا مسئله ذکر سوه)، ليکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز دا نكاح بالكل باطله ده، همدا مسلک د امام احمد او امام مالک رَحِمَهُمَا الله دی (يعني د ټولو ائمه ثلاثه وو په نيز نكاحِ شغار باطله ده).

دليل: ائمه ثلاثه په خپل دليل کي دوه حديثونه ذکر کوي (خو نه پوهيږم چي ولي صاحب د هدايې يو هم نه دي ذکر کړی)، يو خو هغه حديث دی کوم چي حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا روايت کړی دی چي "نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنِ الشِّغَار"، او بل حديث دا دی: "لَا شِغَارَ فِي الْاِسْلَام"، دا دواړه د نكاحِ شغار د حُرمت په باره کي صريح دليلونه دي او دواړه په واضحه توګه دا اعلان کوي چي په اسلام کي شغار او مخي بالكل جائز نه ده.

لأنهٗ جعل إلخ: د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دی چي کوم څوک په دې شرط خپله لور بل چا ته ورکړي چي هغه به خپله لور ماته راکوي، نو دا داسي دي لکه د هري يوې نيمه بضع چي مهر جوړه سي او نيمه بضع يې منكوحه جوړه سي (په بله وينا دا چي د مخي په نكاح کي د هري ښځي نيم بدن عوض [مهر] جوړيږي او نيم بدن يې معوض جوړيږي، يعني د هري ښځي يوه حصه [يعني نيمه بضع] د هغه بلي ښځي مهر ګرځي او بله حصه [يعني دويمه نيمه بضع] يې د خاوند په نكاح کي راځي) او دې ته اشتراک وايي، ځکه چي په يوه ښځه کي پلار او خاوند دواړو حصه واخيستله، يعني پلار يې نيمه بضع د بلي ښځي په مهر کي ورکړه او پاته نيمه بضع يې د خاوند په نكاح کي راغله، او په بضع کي اشتراک صحيح نه دی (او دا داسي ده لکه يوه ښځه چي د دوو خلکو سره نكاح وکړي چي هغه بالكل صحيح نه دي)، نو ځکه به د شغار نكاح هم صحيح نه وي.

زموږ دليل: دا دی چي د مخي په نكاح کي له دواړو طرفو څخه داسي شی مهر ټاکل کيږي کوم چي د مهر جوړېدلو صلاحيت نه لري، او قاعده دا ده چي کوم شی د مهر جوړېدلو صلاحيت نه لري که هغه په مهر کي وټاکل سي نو مهرِ مثل واجبيږي او نكاح صحيح کيږي، مثلاً که شراب يا خنزير مهر وټاکل سي نو نكاح صحيح کيږي ليکن د خنزير يا شرابو پر ځای مهرِ مثل واجبيږي، نو همداسي به دلته هم نكاح صحيح او جائز وي او مهرِ مثل به واجب وي.

ولا شركة إلخ: په دې جمله سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د عقلي دليل جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چې اشتراک هغه وخت ثابتيږي، کله چې بضع د مهر جوړېدلو صلاحيت ولري، لېکن بضع د مهر جوړېدلو استحقاق او صلاحيت نه لري، نو ځکه به اشتراک هم نه ثابتيږي، لهذا کله چې اشتراک نه ثابتيږي، نو په مهر کې د بضع د ټاکلو شرط به فاسد شرط وي، او په فاسد شرط سره نکاح نه باطليږي، بلکې په خپله هغه فاسد شرط باطليږي (لکه مخکې چې دا قاعده تېره سوه). نو ځکه به د شغار نکاح صحيح وي او پر خاوند به مهرِ مثل واجب وي.

د نقلي دليل جواب: د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديثونو جواب دا دی چې په دغه حديثونو کې له نکاح څخه منع نه ده سوې، بلکې د شغار د لغوي مفهوم او معنیٰ څخه منع سوې ده، او دې طرف ته اشاره سوې ده چې کله تاسو نکاح کوی نو د شغار او مخې شکل مه اختياروئ چې وروسته د مهرِ مثل ستونزه او داسې نورې ستونزې واقع نه سي بلکې صفا او سيده نکاح کوئ او د نکاح په وخت کې مهر ټاکئ؛ نو معلومه سوه چې که له مهر ټاکلو څخه بغير نکاح وسي نو هم صحيح ده او باطله نه ده. لکه د جمعې تر اذان وروسته چې له بيع څخه منع سوې ده، نو په هغه وخت کې هم نفسِ بيع ممنوع نه ده بلکې ممانعت د جمعې د اذان په وخت کې دی.

د مهر په بدله کې د خدمت کولو حکم (يعني خدمت د ښځې مهر جوړول)

وَإِنْ تَزَوَّجَ حُرٌّ امْرَأَةً عَلٰى خِدْمَتِهِ إِيَّاهَا سَنَةً او که يو آزاد کس نکاح وکړي د يوې ښځې سره پر دې شرط چې دغه آزاد کس به د هغې خدمت کوي يو کال أَوْ عَلٰى تَعْلِيْمِ الْقُرْآنِ يا پر دې شرط چې قرآن به [هغې ته] ور ښيي فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا نو د ښځې لپاره به خپل مهرِ مثل [واجب] وي [يعني د دې شيانو په بدله کې به پر خاوند د هغې مهرِ مثل واجب وي، د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز] وَقَالَ مُحَمَّدٌ ●: لَهَا قِيْمَةُ خِدْمَتِهِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هغې لپاره به د دې آزاد کس د خدمت قيمت [واجب] وي وَإِنْ تَزَوَّجَ عَبْدٌ اِمْرَأَةً بِإِذْنِ مَوْلَاهُ عَلٰى خِدْمَتِهِ سَنَةً او که يو غلام نکاح وکړي د يو ښځې سره پر دې شرط

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر فى رد المحتار (ج:٢، ص:٣٦١، ٣٦٢)، وكذا فى الخانية (ج:١، ص:١٧٢)، وقال الاستاذ المفتى غلام قادر النعماني: القول الراجح قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله لكنّ المتأخرين افتوا على جواز الاستيجار على تعليم القرآن فيصح النكاح على تعليم القرآن عند المتأخرين، ولها قيمة الخدمة وأجرة التعليم، لا التعليم فقط، لأنه ليس بمال. [القول الراجح ج:١، ص: ٢٧٢]

چې غلام به د هغې خدمت کوي يو کال **جَازَ** نو [دا نکاح] جائز ده **وَلَهَا خِدْمَتُهُ** او د ښځې لپاره به د دې غلام خدمت [واجب] وي **وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَهَا تَعْلِيمُ الْقُرْآنِ وَالْخِدْمَةُ فِي الْوَجْهَيْنِ** او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هغې لپاره به د قرآن ورښوول [واجب] وي او [د آزاد او غلام] په دواړو صورتونو کې به خدمت [واجب] وي **لِأَنَّ مَا يَصْلُحُ أَخْذُ الْعِوَضِ عَنْهُ بِالشَّرْطِ** ځکه کوم شی چې د دې صلاحيت لري چې په شرط سره د هغه عوض اخيستل کېدای سي [يعني پر کوم شي چې عوض اخيستل کېدای سي] **يَصْلُحُ مَهْرًا عِنْدَهُ** نو هغه د مهر [جوړېدلو] صلاحيت لري د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز **لِأَنَّ بِذَلِكَ تَتَحَقَّقُ الْمُعَاوَضَةُ** ځکه چې په دې [عوض اخيستلو] سره معاوضه ثابتيږي **وَصَارَ كَمَا إِذَا تَزَوَّجَهَا عَلَى خِدْمَةِ حُرٍّ آخَرَ بِرِضَاهُ** او دا داسې سو لکه خاوند چې د يو ښځې سره پر دې شرط نکاح وکړي چې يو بل آزاد کس به [د هغې] خدمت کوي په خپله رضا سره **أَوْ عَلَى رَعْيِ الزَّوْجِ غَنَمَهَا** يا په دې شرط چې خاوند به د هغې پسونه څروي [پووي] **وَلَنَا: أَنَّ الْمَشْرُوعَ هُوَ الِابْتِغَاءُ بِالْمَالِ** او زموږ دليل دا دی: چې [په نکاح کې] مشروع د مال په ذريعه [د بضع] طلب کول دي **وَالتَّعْلِيمُ لَيْسَ بِمَالٍ** او تعليم مال نه دی **وَكَذَلِكَ الْمَنَافِعُ عَلَى أَصْلِنَا** او همدارنګه زموږ د قاعدې مطابق منافع [يعني د آزاد خاوند خدمت] هم مال نه دي **وَخِدْمَةُ الْعَبْدِ ابْتِغَاءٌ بِالْمَالِ** [خو] د غلام خدمت ابتغاء بالمال دي [يعني د غلام خدمت په حقيقت کې د مال په ذريعه د بضع غوښتل دي] **لِتَضَمُّنِهِ تَسْلِيمَ رَقَبَتِهِ** ځکه چې د هغه خدمت شامل دی د خپلې رقبې و تسليمولو ته [يعني ګواکي په خدمت سره غلام ښځې ته خپله غاړه وسپارله، او غلام مال دی، نو ګواکي مال يې ورته وسپاری] **وَلَا كَذَلِكَ الْحُرُّ** او آزاد [خاوند] داسې نه دی **وَلِأَنَّ خِدْمَةَ الزَّوْجِ الْحُرِّ لَا يَجُوزُ اسْتِحْقَاقُهَا بِعَقْدِ النِّكَاحِ** او په دې وجه [هم] چې د آزاد خاوند خدمت داسې شی دی چې په عقد نکاح سره [ښځه] د هغه حقداره کېدل جائز نه دي **لِمَا فِيهِ مِنْ قَلْبِ الْمَوْضُوعِ** ځکه چې په دې سره موضوع چپه اوړي **بِخِلَافِ خِدْمَةِ حُرٍّ آخَرَ بِرِضَاهُ** په خلاف د بل آزاد کس د خدمت په خپله رضا سره **لِأَنَّهُ لَا مُنَاقَضَةَ** ځکه چې [په دې صورت کې] هيڅ تناقض سته **وَبِخِلَافِ خِدْمَةِ الْعَبْدِ** او په خلاف د غلام د خدمت **لِأَنَّهُ يَخْدُمُ مَوْلَاهُ مَعْنًى** ځکه هغه په حقيقت کې د

خپل مالک خدمت کوي حَيْثُ يَخْدُمُهَا بِإِذْنِهِ وَبِأَمْرِهِ ځکه چې هغه د مالک په اجازه او حکم سره د ښځې خدمت کوي وَبِخِلَافِ رَعْيِ الْأَغْنَامِ او په خلاف د پسود څرولو [پوولو] لِأَنَّهُ مِنْ بَابِ الْقِيَامِ بِأُمُورِ الزَّوْجِيَّةِ ځکه چې هغه د کورني کارونو د اداء کولو له باب څخه دي [يعني پسونه پوول د سړي د خپل کور يو کار دی، خدمت او چوپړ نه دی] فَلَا مُنَاقَضَةَ نو [په دې کي هم] هيڅ تناقض نشته عَلَى أَنَّهُ مَمْنُوعٌ فِي رِوَايَةٍ سره د دې چې په يوه روايت کي دا ممنوع [هم] دي [چې پسونه پوول په مهر کي وټاکل سي].

اللغات: ﴿يَصْلُحُ﴾ د واحد مذکر غائب مضارع صيغه ده. له کرُم. نصر او فتح ټولو بابونو څخه راځي: صلاحيت لرل، وړتيا لرل. ﴿رَعْيٌ﴾ د فتح د باب مصدر دی: پوول (څرل). وزې او پسونه (رمه) وبنو ته بيول. ﴿إِبْتِغَاء﴾ د افتعال مصدر دی: غوښتل، طلب کول. ﴿مُنَاقَضَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: تناقض، يو شی د بل شي برعکس کېدل (مخالف کېدل).

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که يو آزاد سړي د يو ښځې سره نکاح وکړي او د ښځې خدمت مهر جوړ کړي يعني ښځې ته ووايي چې "زه يو کال ستا خدمت کوم، همدا زما له طرفه مهر دی"، يا دا چې د قرآن ور ښوول مهر جوړ کړي، نو نکاح جائز ده. خو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په دې صورت کي پر خاوند مهرِ مثل واجب دی (يعني ښځې ته به مهرِ مثل ورکوي)، امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ټوله کال د خدمت چې (په بازار کي) څومره قيمت لري، هغومره قيمت پر خاوند واجب دی (يعني هغومره قيمت به ښځې ته په مهر کي ورکوي).

(۲)... دويمه مسئله دا ده که يو غلام د خپل مالک په اجازه د يو ښځې سره نکاح وکړي، او د يوه کال خدمت د ښځې مهر وټاکي، نو دا نکاح هم جائز ده، خو پر هغه زموږ په نيز مهرِ مثل نه واجبيږي. بلکي همدا يو کال خدمت به د ښځې مهر وي، نو يو کال به د ښځې خدمت کوي.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې که خاوند آزاد وي او که غلام وي. په دواړو صورتونو کي هغه شی پر واجبيږي کوم چې يې په مهر کي ټاکلی وي، هغه که د قرآن تعليم (ښوونه) وي او که د ښځې خدمت وي. همدا د امام احمد او امام مالک رَحِمَهُمَا الله مسلک دی.

دليل: د امام شافعي او نورو دليل دا دی چې نکاح د بيع په څير عقد معاوضه دی (يعني د معاوضې عقد دی چې يو طرف ته عوض [مهر] پکښې ورکول کيږي او بل طرف ته معوض [بضع] ورکول کيږي، لکه په بيع کي چې هم دغه معامله ده)، نو ځکه به هر داسي شی مهر جوړول او په مهر کي

تاکل صحيح وي چي پر هغه عوض اخيستل کېدای سي (يعني چي د هغه په بدله کي عوض اخيستل صحيح وي)، او څرنګه چي د خدمت او د قران د تعليم په بدله کي عوض اخيستل صحيح دي، نو ځکه به دا په مهر کي ټاکل او مهر ځني جوړول هم صحيح وي.

او دا مسئله داسي ده لکه ديو بل آزاد سړي خدمت په مهر کي ټاکل (مثلاً خاوند ښځي ته ووايي چي فلانی کس به يو کال ستا خدمت کوي او همدا ستا مهر دی، او فلانی کس په دې راضي وي)، يا د ښځي پسونه او رمه پوول (څرول) په مهر کي ټاکل، او دا بالاتفاق صحيح دي، نو خدمت او د قرآن تعليم به هم په مهر کي ټاکل صحيح وي، دا د امام شافعي او نورو قياس دی.

زموږ دليل: دا دی چي د دې آيت "أَنْ تَبْتَغُوْا بِأَمْوَالِكُمْ [سورة النساء: ۲۴]" په وجه په نکاح کي فقط ابتغاء بالمال (يعني فقط د مال په ذريعه د بضع غوښتل او د بضع طلب کول) مشروع او صحيح دي، او د قرآن تعليم مال نه دی، همدارنګه زموږ د اُصولو مطابق منافع يعني خدمت هم مال نه دی، ځکه چي د مال کېدلو لپاره تر دوو زمانو (يعني د حال او استقبال تر زمانو) پوري پاته کېدل او موجود بدل ضروري دي، لېکن خدمت که څه هم د حال په زمانه کي موجود وي لېکن په راروانه زمانه کي دا معدوم او نيستي وي، نو خدمت به هم مال نه وي، لهذا کله چي دغه شيان مال نه دي، نو په مهر کي به د هغوی ټاکل او مهر ځني جوړول هم صحيح نه وي، کنې د قرآني حکم مخالفت به لازم سي کوم چي په هيڅ صورت کي صحيح نه دی، او کله چي د هغوی مهر جوړول صحيح نه دي، نو په مهر کي به د هغوی په ټاکلو سره مهر مثل لازميږي، ځکه مخکي ذکر سوه چي په نکاح کي د داسي شي په ټاکلو سره مهرِ مثل لازميږي کوم چي د مهر جوړېدلو صلاحيت نه لري، نو ځکه زموږ په نيز په دې صورتونو کي مهرِ مثل واجب دی.

وخدمة العبد إلخ: دا ديو اشکال جواب دی، اشکال دا دی چي کله خدمت مال نه دی، نو بيا د غلام خدمت څرنګه د ښځي مهر جوړېدی سي، نو د دې جواب ورکوي چي د غلام د خدمت مطلب دا دی چي غلام خپله غاړه (رقبه) ښځي ته وسپارله، او د غلام غاړه مال دی (يعني غلام په خپله مال دی، لهذا د غلام د خدمت مطلب دا سو چي هغه ښځي ته مال وسپاری)، لهذا د "ابتغاء بالمال" معنیٰ د غلام په خدمت کي موجوده سوه، نو ځکه به د غلام لپاره خپل خدمت په مهر کي ټاکل او مهر ګرځول صحيح وي، د دې په خلاف د آزاد سړي غاړه مال نه دی، نو ځکه هغه خپله غاړه ښځي ته نه سي سپارلای، لهذا د هغه په خدمت کي د "ابتغاء بالمال" معنیٰ فوت سوه، نو ځکه به د آزاد لپاره خپل خدمت مهر په مهر کي ټاکل صحيح نه وي.

ولأن خدمة الزوج إلخ: دا دويم دليل دی چې ښځه د دې لپاره وي چې د خاوند خدمت وکړي ځکه الله تعالیٰ خاوند ته د "اَلرِّجَالُ قَوّٰامُوْنَ [سورة النساء:۳۴]" په آیت سره د مالک او بادار درجه ورکړې ده او همدا د نکاح موضوع ده. نو که ښځه باداره جوړه سي او خاوند د هغې په خدمت بوخت سي. نو قلب د موضوع به لازم سي، يعني دغه د نکاح موضوع به چپه سي او معامله به د دې برعکس سي. نو په دې وجه هم ښځه د آزاد خاوند د خدمت حقداره کېدای نه سي.

بخلاف خدمة إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چې که بل آزاد کس په خپله رضا د ښځي خدمت کوي نو په دې کې قلب د موضوع نسته، ځکه د بل چا خدمت کول د خاوند توب (مېړه توب) خلاف نه دي بلکي د خپلي ښځي خدمت کول د خاوندتوب خلاف دي، نو ځکه د بل آزاد کس خدمت په مهر کې ټاکل څه حرج نه لري. لهذا پر دې د خاوند خدمت قياسول صحيح نه دي.

وبخلاف خدمة العبد إلخ: د دې حاصل دا دی چې د غلام خاوند خدمت د آزا خاوند پر خدمت قياسول هم صحيح نه دي، ځکه چې غلام د مالک په اجازه او حکم سره د خپلي ښځي خدمت کوي، نو د غلام لپاره د ښځي خدمت کول په حقيقت کې د مالک خدمت کول دي، لهذا په دې صورت کې هم قلبِ موضوع نه سته، ځکه چې دلته غلام په حقيقت کې د مالک خادم دی، نه د ښځي.

بخلاف رعي الأغنام إلخ: د دې حاصل دا دی چې د خاوند خدمت د رمې پر پوولو قياسول هم صحيح نه دي، ځکه چې رمه پوول (څرول) په حقيقت کې خدمت نه دی بلکي د کور له کارونو څخه يو کار دی، همدا وجه ده چې د رمې په منافعو کې خاوند او ښځه دواړه سره شريک دي. که چيري دا خدمت وای نو فقط ښځه به د رمې منافعو مستحقه وای، حالانکي داسي نه ده. لهذا کله چې د رمې په پوولو کې د خدمت معنیٰ نسته (يا خو ضمناً سته)، نو ځکه پر هغه د خالص خدمت صورت قياسول صحيح نه دي.

على أنه إلخ: د رمې د پوولو ځويم جواب دا هم کېدای سي چې د مبسوط او جامع صغير د روايت مطابق د رمې پوول په هيڅ صورت کې هم په مهر کې ټاکل صحيح نه دي. علامه عيني او صاحب د فتح القدير هم دغه روايت ته صحيح ويلي دي، نو دې روايت ته په کتلو سره بالکل د امام شافعي رَحِمَهُ الله قياس صحيح نه دی.

په پورتني صورت کي د احنافو اختلاف

ثُمَّ عَلٰى قَوْلِ مُحَمَّدٍ تَجِبُ قِيمَةُ الْخِدْمَةِ بيا د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول د خدمت قيمت واجبيږي لِأَنَّ الْمُسَمّٰى مَالٌ ځکه چي ټاکل سوی شی ايعني خدمت د هغه په نېز] مال دی إِلَّا أَنَّهُ عَجَزَ عَنِ التَّسْلِيمِ لِمَكَانِ الْمُنَاقَضَةِ خو د مناقضت په وجه خاوند ا د غاړي ا له سپارلو څخه عاجز دی فَصَارَ كَالتَّزَوُّجِ عَلٰى عَبْدِ الْغَيْرِ نو داسي سو لکه د بل چا پر غلام نکاح کول ايعني لکه د بل چا غلام په مهر کي ټاکل] وَعَلٰى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ يَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله پر قول مهر مثل واجبيږي لِأَنَّ الْخِدْمَةَ لَيْسَتْ بِمَالٍ ځکه چي خدمت مال نه دی إِذْ لَا تُسْتَحَقُّ فِيهِ بِحَالٍ ځکه چي په نکاح کي په هيڅ حال کي هم د خدمت استحقاق کېدای نه سي فَصَارَ كَتَسْمِيَةِ الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ نو داسي سو لکه [په مهر کي] د شراب او خنزير ټاکل وَهٰذَا لِأَنَّ تَقَوُّمَهُ بِالْعَقْدِ لِلضَّرُورَةِ او دا [د مهرِ مثل واجبېدل] په دې وجه دي چي په عقدِ [اجاره] کي د خدمت قيمتداره کېدل د ضرورت په وجه دي فَإِذَا لَمْ يَجِبْ تَسْلِيمُهُ بِالْعَقْدِ نو کله چي په نکاح کي د خدمت سپارل واجب نه سو [يعني ممکن نه دي] لَا يَظْهَرُ تَقَوُّمُهُ نو [په نکاح کي] به د هغه متقوم کېدل هم نه ښکاره کيږي فَيَبْقَى الْحُكْمُ عَلَى الْأَصْلِ نو حکم به پر خپل أصل پاتيږي وَهُوَ مَهْرُ الْمِثْلِ او هغه مهر مثل دی.

اللغات: ﴿الْمُسَمّٰى﴾ د تفعيل اسمِ مفعول دی: ټاکل سوی، مقرر کړی سوی. ﴿تَقَوُّم﴾ د تفعّل مصدر دی: قيمتداره کېدل (قيمت لرل)، قيمت ورکول (قيمت لګول).

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره ځان پوه کړئ! چي دغه عبارت د هغه عبارت سره مناقض او متصادم دی کوم چي مخکي بيان سو يعني د: "وَلَنَا أَنَّ الْمَشْرُوعَ إِنَّمَا هُوَ الإِبْتِغَاءُ...(الخ)" سره (کوم چي په تېر عبارت کي بيان سو)، او وجه د تناقض يې دا ده چي که په "وَلَنَا" کي امام محمد رَحِمَهُ الله داخل وي، نو بيا دلته (په دغه عبارت کي) په "ثُمَّ عَلٰى قَوْلِ مُحَمَّدٍ...(الخ)" سره جلا د هغه د قول بيانولو ته ضرورت نسته. او که په "وَلَنَا" کي هغه داخل نه وي، نو بيا هلته (په تېر عبارت کي) د "لَنَا" پر ځای "لَهُمَا" ذکر کول پکار وو چي ضمير فقط طرفينو ته راجع سوي وای او د امام محمد رَحِمَهُ الله نه داخلېدل څرګند سوي وای.

لېکن علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله د دې په جواب کې ويلي دي چې امام محمد رَحِمَهُ الله هم د قرآن تعليم مال نه ګڼي نو په دې حواله سره هغه په "لَنَا" کې داخل دی. خو خدمت مال ګڼي نو په دې حواله سره هغه په "لَنَا" کې داخل نه دی، نو ځکه له دې ځايه په "ثُمَّ عَلٰى قَوْلِ مُحَمَّدٍ...(الخ)" سره د امام محمد او د طرفينو د أقوالو جلا، جلا تشريح کوي.

د تشريح حاصل دا دی چې د خدمت د مهر جوړولو په صورت کې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز پر خاوند د خدمت قيمت واجب دی يعني د خدمت قيمت به د ښځې مهر وي. نو د خاوند خدمت که څه هم (د هغه په نېز) مال دی، خو د قلبِ موضوع په وجه يې غلام له سپارلو څخه عاجز دی (يعني د موضوع چپه کېدلو په وجه غلام خاوند پر دې قادر نه دی چې خپل خدمت [مال] هغې ته وسپاري. يعني د هغې خدمت وکړي) نو ځکه به پر هغه د دې قيمت واجب وي، لکه کله چې خاوند د يو بل چا غلام په مهر کې و ټاکي او بيا هغه غلام نه سي ورکولای، نو په هغه صورت کې هم قيمت واجبيږي. ځکه قاعده دا ده چې که څوک د ټاکل سوي شي له ور سپارلو څخه عاجز سي، نو پر هغه د شي قيمت لازميږي.

وعلى قول أبي حنيفة إلخ: د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې صورت کې مهرِ مثل واجبيږي. ځکه چې د دې آيت "أَنْ تَبْتَغُوْا بِأَمْوَالِكُمْ" په وجه "ابتغاء بالمال" شرط ده. او خدمت مال نه دی. نو ځکه به په دې صورت کې پر هغه مهرِ مثل واجبيږي.

خدمت ځکه مال نه دی چې په مال کې استحقاق کې جاري کېدای سي، لېکن ښځه د قلبِ موضوع په وجه په هيڅ صورت کې د خدمت مستحقه کېدای نه سي، او دا مسئله داسې ده لکه په مهر کې چې شراب او خنزير و ټاکل سي. نو مهرِ مثل واجبيږي (ځکه چې مسلمان په هيڅ صورت کې د شراب او خنزير مستحق کېدای نه سي. لهذا د مسلمان په حق کې شراب او خنزير د مهر جوړېدلو صلاحت نه لري. نو څرنګه چې په دې صورت کې مهرِ مثل واجبيږي)، همداسې به دلته هم مهرِ مثل واجبيږي.

وهذا لأن تقومها إلخ: دا د يو اعتراض جواب دی؛ اعتراض دا دی چې په مهر کې د خدمت ټاکلو په صورت کې د شيخينو په نېز ځکه مهرِ مثل واجبيږي چې د آزاد خدمت مالِ متقوم نه دی (يعني د هغه خدمت هيڅ قيمت نه لري)، نو کله چې د هغه خدمت مالِ متقوّم نه دی. نو بيا ولې آزاد سړی د خدمت لپاره په مزدوری او أجرت سره نيول کيږي؟، نو د دې جواب ورکوي چې له يو چا څخه په اجاره خدمت او کار اخيستل انساني ضرورت دی، نو د اجارې په عقد کې د آزاد کس خدمت متقوم کېدل

صرف د خلکو د ضرروت په وجه دي، لهذا چيرې چې د خدمت په عوض کې أجرت او مزدوري تاکل کيږي نو فقط هلته به هغه متقوم (قيمتداره) وي، لېکن د نکاح په عقد کې د دې ورکول واجب نه دي نو په نکاح کې به خدمت متقوم هم نه وي، لهذا په نکاح کې به د خدمت حکم پر خپل أصل پاتيږي. او أصل (يعني قاعده) دا وه چې که داسي شی په مهر کې وتاکل سي کوم چې قيمت نه لري نو بيا مهرِ مثل واجبيږي، نو ځکه به دلته هم مهرِ مثل واجبيږي، نه خدمت.

که ښځه خپل مهر خاوند ته هبه کړي او بيا طلاق واقع سي؟

فَإِنْ تَزَوَّجَهَا عَلَى أَلْفٍ او که [يو سړي] نکاح وکړه د يو ښځي سره د زرو درهمو په عوض کي فَقَبَضَتْهَا وَوَهَبَتْهَا لَهُ او ښځي هغه زر درهمه قبضه کړل او هغه يې [بيرته] خاوند ته هبه کړل ثُمَّ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا بيا خاوند تر دخول مخکي هغې ته طلاق ورکړی رَجَعَ عَلَيْهَا بِخَمْسِمِائَةٍ نو خاوند به رجوع کوي پر ښځي په پنځو سوو درهمو سره [يعني خاوند به پنځه سوه (۵۰۰) درهم له ښځي څخه واپس اخلي] لِأَنَّهُ لَمْ يَصِلْ إِلَيْهِ بِالْهِبَةِ عَيْنُ مَا يَسْتَوْجِبُهُ ځکه چي د هبې په ذريعه خاوند ته بعينهٖ هغه شی نه ورسېدی کوم چي يې خاوند حقداره دی لِأَنَّ الدَّرَاهِمَ وَالدَّنَانِيرَ لَا تَتَعَيَّنَانِ فِي الْعُقُودِ وَالْفُسُوخِ ځکه چي درهمونه او ديناونه په متعيّنولو سره نه متعين کيږي په عقدونو او فسخو کي وَكَذَا إِذَا كَانَ الْمَهْرُ مَكِيلًا أَوْ مَوْزُونًا أَوْ شَيْئًا آخَرَ فِي الذِّمَّةِ همدارنګه کله چي مهر کَيلي يا وزني شی وي يا يو بل شی وي په ذمه کي لِعَدَمِ تَعَيُّنِهَا ځکه چي دا شيان [په عقودو کي] نه متعين کيږي فَإِنْ لَمْ تَقْبِضِ الْأَلْفَ او که ښځي پر زرو درهمو قبضه نه وکړه حَتَّى وَهَبَتْهَا لَهُ تر دې چي ابغير له قبضې څخه يې] خاوند ته هبه کړل ثُمَّ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا بيا خاوند هغې ته تر دخول مخکي طلاق ورکړی لَمْ يَرْجِعْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ بِشَيْءٍ نو په دوی کي به يو پر بل د هيڅ شي رجوع نه کوي [يعني په دې صورت کي ښځه او خاوند يو له بل څخه هيڅ شی واپس اخيستلای نه سي] وَفِي الْقِيَاسِ يَرْجِعُ عَلَيْهَا بِنِصْفِ الصَّدَاقِ او د قياس تقاضا دا ده چي خاوند به پر ښځي په نيم مهر سره رجوع کوي [يعني هغه به نيم مهر له ښځي څخه واپس واخلي] وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّهُ سَلِمَ الْمَهْرُ لَهُ بِالْإِبْرَاءِ ځکه چي د ښځي د بري کولو په وجه د خاوند مهر سالم پاته سو فَلَا تَبْرَأُ عَمَّا

يَسْتَحِقُّهُ بِالطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُولِ لهذا ښځه له هغه نيم مهر څخه بري کېداى نه سي چي تر دخول مخکي د طلاق ورکولو په وجه خاوند د هغه مستحق سوى دى وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّهُ وَصَلَ إِلَيْهِ عَيْنُ مَا يَسْتَحِقُّهُ بِالطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُولِ د استحسان دليل دا دى: چي خاوند ته بعينه [خاص] هغه حق رسېدلى دى چي د طلاق قبل الدخول په خاوند د هغه حقدار وو وَهُوَ بَرَاءَةُ ذِمَّتِهِ عَنْ نِصْفِ الْمَهْرِ او هغه له نيم مهر څخه د هغه د ذمې فارغېدل [د غاړي خلاصېدل] دي وَلَا يُبَالِي بِاخْتِلَافِ السَّبَبِ عِنْدَ حُصُولِ الْمَقْصُودِ او پروا به نه کيږي د سبب په اختلاف [بدلون] د مقصد حاصلېدلو په وخت کي.

اللغات: ﴿وَهَبَتْ﴾ د فتح د باب ماضي ده: هبه کول، ډالۍ کول، په وړيا توګه ورکول (مفت ورکول). ﴿يَسْتَوْجِبُ﴾ د استفعال مضارع ده: مستحق کېدل، لازم او ضروري ګڼل. ﴿مَكِيْلًا﴾ کيلي شی (هغه شی چي په پيمانه سره خرڅول کيږي). ﴿مَوْزُوْن﴾ وزني شی (هغه شی چي په وزن او تول سره خرڅول کيږي). ﴿إِبْرَاء﴾ د افعال مصدر دی: بري کول، معافول. ﴿لَا يُبَالِي﴾ د مفاعلې له باب څخه د نفي صيغه ده. بَالَى يُبَالِي مُبَالَاةً: پروا کول (پروا لرل).

تشريح: په دې عبارت کي د يوې مسئلې دوه صورتونه بيان سوي دي: (۱)... اول صورت دا دی که زيد مثلاً د زر (۱۰۰۰) درهمه مهر په عوض کي د فاطمې سره نکاح وکړه او فاطمې ته زر درهمه ورسېدل (يعني هغې قبضه پر وکړه) او بيا فاطمې بېرته خپل مهر يعني زره درهمه زيد ته هبه کړل او بيا زيد تر دخول مخکي فاطمې ته طلاق ورکړی، نو اوس به په دې صورت خاوند يعني زيد له ښځي (فاطمې) څخه پنځه سوره (۵۰۰) درهمه نور غواړي.

دليل دا دی چي د زرو درهمو په عوض کي نکاح سوه وه. خو څرنګه چي تر دخول مخکي طلاق واقع سو، نو اوس به خاوند ته فقط د نيم تاکل سوي مهر (يعني د ۵۰۰ درهمو) د اد واپس اخيستلو حق وي، ځکه چي د طلاق قبل الدخول په صورت کي ښځه د دې آيت "فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ" له رويه د نيم مهر حقداره کيږي، نو ځکه به په دې صورت کي خاوند له ښځي څخه نيم مهر واپس اخلي. او پاته سوه د زرو درهمو هبه کول، نو د مهر سره د هغه هيڅ تعلق نسته. لهذا د خاوند نيم مهر به له هغه څخه نه شمارل کيږي. ځکه که څه هم ښځي خاص هغه دراهم خاوند ته ورکړي دي. ليکن د عقد په کولو او د عقد په فسخ کولو کي درهم او دينار په متعينولو سره نه متعين کيږي، لهذا دا به نه ويل کيږي چي خاص هغه دراهم يې خاوند ته هبه کړي دي (ځکه چي هبه هم يو

عقد دی)، بلکې دا به وېل کیږي چې ښځې خپل له ځانه علیحده زر درهمه خاوند ته ورکړي دي، لهذا کله چې یې خاص هغه زر درهمه نه دي ورکړي، نو خاوند ته هغه نیم مهر نه دي رسېدلی د کوم نیم مهر چې هغه حقدار سو (په قبل الدخول طلاق ورکولو سره)، نو ځکه به خاوند له ښځې څخه پنځه سوه (۵۰۰) درهمه واپس اخلي.

وکذا أذا کان إلخ: د دې حاصل دا دی چې که له درهمو څخه بغیر یو کَیلي شی مثلاً غنم، وریجې یا داسې بل شی په مهر کې ټاکل سوي وي، یا وزني شی مثلاً اوسپنه او داسې نور په مهر کې ټاکل سوي وي، او پوره تنی صورت مېنځ ته راسي، نو په هغه صورت کې به خاوند له ښځې څخه نیم ټاکل سوی شی اخلي، ځکه څرنګه چې درهم او دینار په متعینولو سره نه متعین کیږي، همدارنګه کیلي او وزني شی هم په متعینولو سره پر ذمه نه متعین کیږي، لهذا کوم حکم چې د درهم او دینار په صورت کې جاري کیږي، هغه حکم به په دې صورت کې هم جاري کیږي، او له هبې څخه بغیر به خاوند نور نیم ټاکل سوی شی له ښځې څخه واپس اخلي.

(۲)... د مسئلې دویم صورت دا دی چې که ښځې [فاطمې] پر ټاکل سوي مهر یعني پر زرو (۱۰۰۰) درهمه قبضه نه وکړه، او بغیر له قبضې څخه یې مهر خاوند [زید] ته هبه کړی، بیا خاوند [زید] هغې ته قبل الدخول طلاق ورکړی، نو څه حکم دی؟

فرمایي چې په دې صورت کې د امام صاحب او صاحبینو مسلک دا دی چې خاوند او ښځه یو له بل څخه خلاص دي، او یوه ته هم له بل څخه د هیڅ شي د اخیستلو حق نسته، همدا د استحسان تقاضا ده، لېکن د قیاس تقاضا دا ده چې په دې صورت کې به هم خاوند له ښځې څخه نیم ټاکل سوی مهر اخلي، همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله مسلک هم دی، د قیاس او د امام زفر رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې ښځې خاوند له مهر څخه بري کړی (یعني بغیر له قبضې څخه یې مهر "۱۰۰۰ درهمه" هغه ته هبه کړل نو ګواکې هغه یې معاف کړی)، لهذا دا داسې سو لکه له خپل ځانه چې یې علیحده زر درهمه خاوند ته هبه کړي وي، لهذا دغه زر درهمه له هغه نیم مهر (یعني ۵۰۰ درهمو) څخه جلا دي. کوم چې یې خاوند د طلاق قبل الدخول په وجه مستحق سو، نو ځکه به (د قیاس له رویه) په دې صورت کې له ښځې څخه نیم مهر واپس اخیستل کیږي.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان دلیل دا دی چې د طلاق قبل الدخول په وجه چې خاوند د کوم نیم مهر مستحق دی، د ښځې په بري کولو سره هغه مهر خاوند ته ورسېدی، یعني کله چې ښځې له قبضه کولو څخه بغیر خاوند له ټوله مهر څخه بري کړی، نو د بري کولو په وجه په دې مهر کې هغه نیم مهر هم راغلی کوم چې د طلاق قبل الدخول په وجه خاوند د هغه مستحق وو (ځکه د ښځې په

بري كولو سره خاوند له ټوله مهر څخه بري سو، لهذا له دغه نيم مهر څخه خو به په طريقه اولىٰ بري وي)؛ او كه څوک اعتراض وكړي چي خاوند خو د طلاق قبل الدخول په سبب سره د دغه نيم مهر مستحق سوى وو لېكن ورته حاصل سو په بل سبب سره يعني د ښځي د بري كولو په سبب سره، لهذا كله چي سبب بدل سو نو د خاوند حق (نيم مهر) باقي پاتېدل پكار دي (او له ښځي څخه واپس اخيستل پكار دي)؟، د دې په جواب كي صاحب د هدايې فرمايي چي "ولا يبالى باختلاف السبب..." يعني د مقصود د حصول په وخت كي به د سبب په اختلاف او بدلون هيڅ پروا نه كيږي، نو دلته هم مقصود خاوند ته د نيم مهر رسېدل دي او د ښځي غاړي خلاصېدل دي لهذا كه دغه مقصود په هر سبب سره حاصل سي په هغه به پروا نه كيږي، بلكي نظر او توجه به مقصود ته وي (او دا مقصود د ښځي په بري كولو سره حاصل سو، ځكه چي د ښځي په بري كولو سره نيم مهر نه، بلكي ټوله مهر خاوند ته ورسېدى، لهذا اوس د اعتراض هيڅ ضرورت نسته).

او دا مسئله بالكل داسي ده لكه پر خالد چي د زيد سل (۱۰۰) روپۍ قرض باندي وي، بيا زيد له خالد څخه دوه سوه (۲۰۰) روپۍ قرض كړي (نو اول خالد ۱۰۰ روپۍ د زيد قرضداره وو، لېكن اوس بيا زيد د خالد ۲۰۰ روپۍ قرضداره سو)، نو اوس زيد داسي هم كولاى سي چي خالد ته دوه سوه روپۍ وركړي او خپل پخوانى قرض يعني سل روپۍ جلا ځني واخلي، او داسي هم كولاى سي چي فقط سل روپۍ وركړي او سل روپۍ خپل پخوانى قرض شمار كړي، دا دواړه صورتونه سره برابر دي كه په هر صورت سره زيد ته خپل پخوانى قرض ورسيږي هغه به صحيح وي او په دې باره كي به هيڅ جنجال او اعتراض نه كيږي، لهذا كله چي كار جوړيږي نو په سبب به هيڅ پروا نه كيږي، او خاوند بايد دا هم په ياد ولري چي د زياتو حرص كول په ګټه نه پرېوځي!.

د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

وَلَوْ كَانَتْ بِنِسْيَانَةٍ او كه ښځي پر پنځه سوه [درهمو] قبضه وكړه ثُمَّ وَهَبَتِ الْأَلْفَ كُلَّهَا الْمَقْبُوضَ وَغَيْرَهُ بيا يې قبضه كړي او نا قبضه كړي ټوله زر درهمه [خاوند ته] هبه كړل أَوْ وَهَبَتِ الْبَاقِيَ يا يې پاته [پنځه سوه درهم] هبه كړل ثُمَّ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا بيا خاوند هغې ته تر دخول مخكي طلاق وركړى لَمْ يَرْجِعْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ بِشَيْءٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو په دوى [خاوند او ښځه] كي يو هم

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في البحر الرائق (ج:۳، ص:۲۷۷)، وكذا في الهندية (ج:۱، ص:۳۱۶).
[القول الراجح ج:۱، ص:۲۷۴]

پر خپل ملکري د هيڅ شي رجوع نه سي کولای د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَقَالَا: رَجَعَ عَلَيْهَا بِنِصْفِ مَا قَبَضَتْ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي خاوند به پر ښځي د قبضه کړی سوو [درهمو] په نصف سره رجوع کوي اعْتِبَارًا لِلْبَعْضِ بِالْكُلِّ پر کُل باندي د بعض په قياسولو سره وَلِأَنَّ هِبَةَ الْبَعْضِ حَطٌّ او ځکه چي د بعضو [درهمو] هبه کول کمول دي فَيَلْتَحِقُ بِأَصْلِ الْعَقْدِ نو ځکه به د أصل عقد سره لاحقيږي [يو ځای کيږي] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ مَقْصُودَ الزَّوْجِ قَدْ حَصَلَ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د خاوند مقصد حاصل سو وَهُوَ سَلَامَةُ نِصْفِ الصَّدَاقِ بِلَا عِوَضٍ او هغه بېله عوضه د نيم مهر سالم پاتېدل دي [يعني هغه ته د نيم مهر رسېدل دی] فَلَا يَسْتَوْجِبُ الرُّجُوعَ عِنْدَ الطَّلَاقِ لهذا د طلاق په وخت کي به هغه د رجوع [بالنصف] حقدار نه وي وَالْحَطُّ لَا يَلْتَحِقُ بِأَصْلِ الْعَقْدِ فِي النِّكَاحِ او [مهر] کمول په نکاح کي د أصل عقد سره نه لاحقيږي أَلَا تَرَى أَنَّ الزِّيَادَةَ فِيهِ لَا تَلْتَحِقُ آيا ته نه ګوري! چي په نکاح کي [د مهر] زياتوب [هم] د أصل عقد سره نه لاحقيږي حَتَّى لَا تَتَنَصَّفُ همدا وجه ده چي د زياتوب تنصيف نه کيږي [يعني همدا وجه ده چي په زيات کړی سوي مهر کي نيموالی نه جاري کيږي].

اللغات: ﴿حَطٌّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: کمول (ساقطول)، پرېښوول. ﴿صَدَاق﴾ او الصِّدَاق: مهر، جمع: أَصْدِقَة. ﴿لَا يَسْتَوْجِبُ﴾ د استفعال مضارع ده: مستحق کېدل، لازم او ضروري ګڼل.

تشريح: په دې عبارت کي د مهر هبه کولو يو بل صورت بيانوي، حاصل يې دا دی که زيد د فاطمې سره د زرو درمهو په عوض کي نکاح وکړه، او فاطمې پر پنځو سوو درهمه قبضه وکړه او هغه بيرته يې زيد ته هبه کړل، او پاته غيرِ مقبوضه پنځه سوه دراهم (يعني کوم چي تر اوسه زيد ورکړي نه وه او فاطمې قبضه پر کړې نه وه هغه پنځه سوه درهم) يې هم زيد ته هبه کړل يعني ټوله زر درهمه يې زيد ته هبه کړل، يا يې صرف قبضه سوي درهم ور ته هبه کړل، بيا تر دخول مخکي زيد فاطمې ته طلاق ورکړی، نو اوس په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د خاوند او ښځي حق يو له بل څخه ختم سو، او يو ته هم له بل څخه د هيڅ شي د اخيستلو حق نسته.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي په دې صورت کي خاوند له ښځي څخه د مقبوضه دراهمو د نصف يعني د دوه نيم سوو (۲۵۰) درهمو د اخيستلو مستحق دی.

د صاحبينو دليل: قياس دی، يعني پر تېره مسئله قياس کوي، هغه دا چي کله ښځه پر ټولو زرو درهمو قبضه وکړي او بيا يې خاوند ته هبه کړي، نو څرنګه چي په هغه صورت کي خاوند ته له ښځي څخه د نصف يعني د پنځو سوو (۵۰۰) درهمو د اخيستلو حق سته، همدارنګه کله چي ښځه د زرو پر نصف (يعني پر پنځو سوو) قبضه وکړي او هغه بيا خاوند ته هبه کړي، نو دلته به هم خاوند ته د مقبوضه پنځوو سوو د نصف يعني د دوه نيم سوو (۲۵۰) د اخيستلو حق وي.

ولأن إلخ: په دې سره د صاحبينو دويم دليل بيانوي، حاصل يې دا دی چي کله ښځي له زرو درهمو څخه پنځه سوه غير مقبوضه دراهم هبه کړل، نو دا به داسي ګڼل کيږي چي له أصل مهر څخه يې پنځه سوه دراهم کم کړل او ټوله مهر پنځه سوه درهمه پاته سو (يعني د غيرِ مقبوضه دراهمو هبه کول د ښځي له طرفه "حَطّ" يعني کمول دي)، او "حَط" د أصل عقد سره لاحقيږي، نو ګواکي خاوند له شروع څخه پر مقبوضه پنځه سوو دراهمو نکاح کړې ده، يعني ټوله مهر همدا پنځه سوه درهم دي، او دلته طلاق قبل الدخول په وجه ښځه د نيم مهر يعني د دوه نيم سوو حقداره ده، نو ځکه به خاوند له هغې څخه دوه نيمه سوه (۲۵۰) درهم واپس اخلي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د خاوند مقصود او مطلوب دا دی چي بېله عوضه هغه ته نيم مهر صحيح سالم حاصل سي، او دلته د هبې په ذريعه تر طلاق مخکي د هغه مقصود حاصل سوی دی، نو ځکه به تر طلاق وروسته هغه ته هيڅ شی نه ورکول کيږي، او د دې مثال بالکل داسي دی لکه زيد چي له خالد څخه د يوې مياشتي لپاره سل (۱۰۰) روپۍ په قرض واخلي، نو که زيد تر يوې مياشتي مخکي د خالد قرض اداء کړي، نو ښکاره خبره ده چي تر يوې مياشتي وروسته خالد ته بيا د قرض غوښتلو حق نسته، ځکه چي د خالد مقصود يعني قرض اخيستل تر ټاکلي مودت (يوې مياشتي) مخکي حاصل سو، نو همدارنګه په پورتنۍ مسئله کي هم تر طلاق مخکي د خاوند مقصود حاصل سوی دی. لهذا تر طلاق وروسته بيا هغه د مطالبې کولو هيڅ حق نسته.

والحط إلخ: په دې سره د صاحبينو د دليل جواب ورکوي، هغو ويل چي "حَطّ" يعني "په مهر کي کمي کول" به د أصل عقد سره لاحقيږي، نو د دې په جواب کي فرمايي چي که تر نکاح وروسته په مهر کي کمي يا زياتوب وسي نو هغه د أصل عقد سره نه لاحقيږي، همدا وجه ده که تر دخول مخکي طلاق واقع سي، نو د نکاح په وخت کي چي کوم مهر ټاکل سوی وي د هغه نصف (نيم) پر خاوند لازميږي، او وروسته چي کوم مهر زيات کړل سي د هغه نصف نه پر لازميږي. مثلاً که د نکاح په وخت کي زر درهمه مهر وټاکل سو، او تر نکاح وروسته بيا خاوند دوه سوه درهمه نور پر زيات کړل (چي ټوله مهر ۱۲۰۰ درهمه سو)، او بيا تر دخول مخکي طلاق واقع سو. نو فقط د دې زرو درهمو

نصف پر لازميږي، او وروسته چې يې کوم دوه سوه درهمه زيات کړي وو د هغو نصف يعني سل درهمه نه پر لازميږي، ځکه چې وروستنی زياتوب او کمي د اصل مهر سره نه لاحقيږي. نو همدارنګه دلته چې ښځي په هبه کولو سره کوم پنځه سوه دراهم کم کړي دي هغه به د اصل عقد سره نه لاحقيږي او خاوند ته به د هغه پنځو سوو د نصف اخيستلو حق نه وي.

په پورتنۍ مسئله کي د احنافو اختلاف

وَلَوْ كَانَتْ وَهَبَتْ أَقَلَّ مِنَ النِّصْفِ او که ښځي تر نيم کم مهر [خاوند ته] هبه کړی وَقَبَضَتِ الْبَاقِيَ او پر پاته [مهر] يې قبضه وکړه فَعِنْدَهُ يَرْجِعُ عَلَيْهَا إِلَى تَمَامِ النِّصْفِ * نو د امام صاحب په نيز به خاوند پر ښځي د نيم مهر تر پوره کېدلو پوري رجوع کوي وَعِنْدَهُمَا بِنِصْفِ الْمَقْبُوضِ او د صاحبينو په نيز به د قبضه کړی سوي [مهر] په نصف سره رجوع کوي وَلَوْ كَانَ تَزَوَّجَهَا عَلَى عَرْضٍ او که [يو سړي] د ښځي سره د يو سامان په عوض کي نکاح وکړه فَقَبَضَتْ أَوْلَمْ تَقْبِضْ او ښځي پر [سامان] قبضه وکړه يا يې قبضه نه پر وکړه فَوَهَبَتْ لَهُ بيا يې هغه [سامان] خاوند ته هبه کړی ثُمَّ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا بيا خاوند هغې ته تر دخول مخکي طلاق ورکړی لَمْ يَرْجِعْ عَلَيْهَا بِشَيْءٍ نو [اوس] خاوند پر هغې په هيڅ شي سره رجوع نه سي کولای وَفِي الْقِيَاسِ وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ: يَرْجِعُ عَلَيْهَا بِنِصْفِ قِيمَتِهِ او په قياس کي دي او همدا قول د امام زفر رَحِمَهُ الله دی: چې خاوند به پر هغې د سامان په نيم قيمت سره رجوع کوي لِأَنَّ الْوَاجِبَ فِيهِ رَدُّ نِصْفِ عَيْنِ الْمَهْرِ ځکه چې په دې صورت کي د عين مهر نصف واپس کول واجب دي عَلَى مَا مَرَّ تَقْرِيرُهُ لکه مخکي چې د دې بحث تېر سو وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ حَقَّهُ عِنْدَ الطَّلَاقِ سَلَامَةُ نِصْفِ الْمَقْبُوضِ مِنْ جِهَتِهَا د استحسان دليل دا دی: چې د خاوند حق د طلاق ورکولو په وخت کي د ښځي له طرفه د قبضه کړی سوي [شي] نصف سالم پاتېدل دي وَقَدْ وَصَلَ إِلَيْهِ او دغه نصف خاوند ته رسېدلی دی وَلِهَذَا لَمْ يَكُنْ لَهَا دَفْعُ شَيْءٍ آخَرَ مَكَانَهُ له همدې کبله ښځي ته د قبضه کړی سوي [شي] پر ځای د بل شي د ورکولو اختيار نسته [يعني همدا وجه ده چې د ښځي لپاره دا

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٣٧٤)، وكذا في الهندية (ج:١، ص:٣١٦).
[القول الراجح ج:١، ص: ٢٧٥]

اختيار نشته چي له مقبوض شي څخه بغير خاوند ته بل شی ورکړي] بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الْمَهْرُ دَيْنًا په خلاف د هغه صورت کله چي کله مهر دَين وي وَبِخِلَافِ مَا إِذَا بَاعَتْ مِنْ زَوْجِهَا او په خلاف د هغه صورت کله چي ښځه هغه [سامان] پر خپل خاوند خرڅ کړي لِأَنَّهُ وَصَلَ إِلَيْهِ بِبَدَلٍ ځکه چي [اوس] هغه خاوند ته د بدل په ذريعه ورسيدی.

اللغات: ﴿أَقَلّ﴾ د ضرب د باب اسمِ تفضيل دی: کم، (کمتر)، ﴿عَرَض﴾ سامان، اسباب، جمع: عُرُوْض، ﴿دَيْن﴾ پور، قرض، جمع: قُرُوْض.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... د اولي مسئلې حاصل دا دی چي مثلاً د فاطمې مهر زر (۱۰۰۰) درهمه وو، او فاطمې له هغه څخه پر اووه سوه (۷۰۰) درهمو قبضه وکړل او پاته درې سوه (۳۰۰) درهم يې خاوند ته هبه کړل، بيا خاوند تر دخول مخکي هغې ته طلاق ورکړی، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چي خاوند به دومره درهم له فاطمې څخه واپس اخلي چي نيم مهر پوره سي، يعني دوه سوه (۲۰۰) درهم به خاوند له هغې څخه واپس اخلي، او صاحبين فرمايي چي د مقبوضه دراهمو نصف (يعني درې نيم سوه ۳۵۰ درهم) به واپس ځني اخلي. د صاحبينو دليل مخکي تېر سو چي هبه "حط" دی او هغه به د أصل عقد سره يو ځای کيږي، نو ښځي چي کله درې سوه درهم هبه کړل، نو ګواکي له أصل مهر (زر درهمو) څخه يې درې سوه درهم کم کړل او أصل مهر ۷۰۰ پاته سو، او ښځي هم پر ۷۰۰ قبضه وکړه نو ګواکي پر ټوله مهر يې قبضه وکړه، او د دخول قبل الطلاق په صورت کي ښځه د نيم مهر مستحق کيږي او نور به خاوند ته ورکول کيږي، نو ځکه به په دې صورت کي (۳۵۰) د هغې حق وي او (۳۵۰) به خاوند له هغې څخه واپس اخلي.

د امام صاحب دليل دا دی چي د طلاق قبل الدخول په صورت کي خاوند ته نصف يعني نيم مهر رسيدل پکار دي، هغه که په هره ذريعه سره وي، يعني که د هبې په ذريعه سره وي او که د رجوع يعني د واپس اخيستلو په ذريعه سره وي، او دلته ښځي تر نصف کم يعني درې سوه درهم خاوند ته د هبې په ذريعه ورکړي دي نو پاته دوه سوه درهم به د رجوع په ذريعه ځني اخلي، چي نصف بشپړ سي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که زيد د زينب سره نکاح وکړه او په مهر کي يې سامان يا داسی بل شی وټاکی چي په متعينولو (ټاکلو) سره متعين کيږي، او زينب تر قبضه کولو مخکي يا وروسته هغه سامان زيد ته هبه کړی، بيا زيد هغې ته تر دخول مخکي طلاق ورکړی، نو په دې صورت کي زيد

استحساناً پر زينب د هيڅ شي رجوع نه سي کولای، يعني استحساناً هيڅ شی واپس نه سي ځني اخيستلای.

خو د قياس له رويه دلته هم د زيد لپاره د دغه سامان د نيم قيمت اخيستلو حق سته. او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله مسلک دی، د هغه دليل دا دی چي د طلاق قبل الدخول په وجه خاوند د نيم تاکل سوي مهر د واپس اخيستلو مستحق دی، او په هبه کي د هغه د نيم مهر حق داخل نه دی، ځکه چي د هبې مطلب دا دی چي ښځه له مهر څخه جلا خپل له ځانه يو شی ورکوي، نو د خاوند د نيم مهر (سامان) حق هغسي پاته سو (خو څرنګه چي ښځه د نيم سامان پر ورکولو قدرت نه لري)، نو ځکه به د سامان نيم قيمت خاوند ته واپس ورکوي.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان دليل دا دی چي د طلاق قبل الدخول په وخت کي د خاوند حق دا دی چي پر څومره شي (سامان) چي ښځي قبضه کړې ده، د ښځي له طرفه د هغه نصف خاوند ته ورسيږي (يعني نصفِ مقبوض خاوند ته ورسيږي)، او خاوند ته د هبې په ذريعه تر طلاق مخکي تول مهر رسېدلی دی نصَف خو هلته پرېږده! نو کله چي تر طلاق مخکي د خاوند مقصد حاصل سوی دی، نو اوس تر طلاق وروسته د هغه لپاره د هيڅ شي حق نسته.

ولهذا لم إلخ: د دې حاصل دا دی چي څرنګه خاوند د طلاق په وخت کي د نصفِ مقبوض حقدار دی، (يعني پر کوم مهر چي ښځي قبضه کړې وي، د هغه د نصف حقدار دی، برابره ده مَهر که سامان وي يا درهم او دينار وي)، نو که مهر سامان وي او هغه موجود وي، نو بيا ښځي ته د سامان پر ځای د بدل شي د نصف ورکولو اختيار نسته، لأن العرض مما يتعين.

بخلاف إلخ: دلته له دَيْن څخه مراد درهم او دينار دي کوم چي په متعينولو سره نه متعين کيږي، نو که مهر مثلاً زر (۱۰۰۰) درهمه وي او ښځه قبضه پر وکړي او بيا هغه زر درهمه خاوند ته هبه کړي، نو څرنګه چي درهم په متعينولو سره نه متعين کيږي، نو دا به ګڼل کيږي چي ښځي خپل له ځانه نور درهم خاوند ته هبه کړي دي، د خاوند درهم يې نه دي ور ته هبه کړي، نو ځکه به د خاوند لپاره پر نيم مهر د رجوع کولو حق وي چي له ښځي څخه نيم مهر واپس واخلي.

وبخلاف إلخ: د دې حاصل دا دی چي که ښځه هغه تاکل سوی سامان پر خاوند خرڅ کړي، بيا خاوند هغې ته طلاق قبل الدخول ورکړي، نو په دې صورت کي به خاوند له ښځې څخه د سامان د نيم قيمت اخلي، ځکه که څه هم په دې صورت کي خاوند ته خپل هغه شی (د سامان) رسېدلی دی. خو هغه له ښځي څخه رانيولی دي (يعني د رانيولو په ذريعه ور ته رسېدلی دی)، حال دا چي دلته د تاکل سوي

مهر (سامان) نصف بېله عوضه مفت خاوند ته رسېدل پکار دي، ځکه چې د طلاق قبل الدخول په وخت کې خاوند د نیم مهر مستحق کېږي، نو ځکه به خاوند د دغه مهر (سامان) نیم قیمت واپس ځني اخلي.

په پورتنۍ مسئله کې د احنافو د اختلاف یو بل صورت

وَلَوْ تَزَوَّجَهَا عَلٰى حَيَوَانٍ او که [یو سړي] د یو ښځې سره د حیوان په عوض کې نکاح وکړه أَوْ عُرُوْضٍ فِي الذِّمَّةِ یا یې پر [اخپله] ذمه د ثابت سوي سامان په عوض کې نکاح [ور سره] وکړه فَكَذٰلِكَ الْجَوَابُ نو [په دې صورت کې] هم دغه حکم دی [چې خاوند به پر ښځې د هیڅ شي رجوع نه کوي، یعني په دې صورت کې خاوند له ښځې څخه هیڅ شی واپس نه سي اخیستلای] لِأَنَّ الْمَقْبُوْضَ مُتَعَيِّنٌ فِي الرَّدِّ ځکه کوم شی چې یې قبضه کړی دی هغه په رد [واپس کولو] کې متعین دی وَهٰذَا لِأَنَّ الْجَهَالَةَ تُحُمِّلَتْ فِي النِّكَاحِ او دا ځکه چې په نکاح کې [معمولي] جهالت زغمل کېږي [برداشت کېږي] فَإِذَا عُيِّنَ يَصِيْرُ كَأَنَّ التَّسْمِيَةَ وَقَعَتْ عَلَيْهِ نو کله چې [د ورکولو په وخت کې] قبضه کړی سوی شی متعین سو نو داسې سو لکه پر هغه چې تسمیه واقع سوه [یعني ګواکې دغه مقبوض شی په مهر کې ټاکل سوی وو].

اللغات: ﴿حَيَوَان﴾ څاروی، ﴿عُرُوْض﴾ جمع د عَرَضٌ ده: سامان (غیرِ نقود)، ﴿تُحُمِّلَتْ﴾ د تفعّل له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صیغه ده: برداشت کول، زغمل، ﴿عُيِّنَ﴾ د تفعیل ماضي ده: متعین کول (معلومول).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې زید د ظریفې سره نکاح وکړه او یو حیوان (مثلاً آس، اوښ یا داسې بل حیوان) یې مهر جوړ کړی، یا یې یوه جامه (کپړه) مهر جوړ کړی او پر خپل ځان یې دا مهر واجب کړي (مطلب دا چې ټاکلی او متعین حیوان یا جامه مهر جوړ نه کړي، یعني د نکاح په وخت کې متعین حیوان یا جامه موجوده نه وه بلکې زید وویل چې زه به په مهر کې آس یا اوښ او داسې نور درکوم، یا زه به په مهر کې مثلاً بخمل جامه درکوم). او ظریفې دغه ټاکل سوی شی (تر قبضه کولو مخکې یا وروسته) خاوند ته هبه کړی، بیا زید ظریفې ته قبل الدخول طلاق ورکړی، نو په دې صورت کې هم زموږ په نېز خاوند (زید) له ښځې (ظریفې) څخه هیڅ شی واپس نه سي اخیستلای. او نکاح یې صحیح ده.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په مهر کې د حیوان یا سامان ټاکل بالکل صحیح نه دي او په داسې صورت کې هغه مهرِ واجبوي، او په دې باره کې له امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمَا الله څخه دوه روایتونه

دي: ① نکاح صحیح ده او خاوند ته د رجوع حق سته، ② د ټاکل سوي شي د جهالت په وجه نکاح بالکل فاسده ده.

لنډه دا چي زمونږ په نېز په پورتني صورت کي نکاح صحیح ده او پر خاوند د مینځوی درجې حیوان یا د مینځوی درجې جامه واجب ده، او کله چي ښځي (ظریفې) دغه شی (حیوان یا جامه) قبضه کړی او هغه یې بیرته خاوند ته هبه کړی، نو خاوند ته عینِ مقبوض حاصل سو (یعني هغه ته خپل شی ور ورسېدی پر کوم چي ښځي قبضه کړې وه)، نو ځکه به هغه ته (تر طلاق وروسته) له ښځي څخه د هیڅ شي د واپس اخیستلو حق نه وي (ځکه چي تر طلاق مخکي خپل مقصود هغه ته ورسېدی)، او که ښځي دغه شی قبضه نه کړی بلکي بغیر له قبضې څخه یې خاوند ته هبه کړی، نو په دې صورت کي هم خاوند ته خپل شی ورسېدی، ځکه خاوند چي په ذهن کي کوم شی (یعني کوم حیوان یا جامه) ښځي ته په مهر کي ورکوي، ښځي خاص هغه شی خاوند ته هبه کړی، نو ځکه به په دې صورت کي هم خاوند ته د هیڅ شي د اخیستلو حق نه وي.

وهٰذا لأن الجهالة إلخ: فرمايي چي په پورتني صورت کي (یعني کله چي د نکاح په وخت کي حیوان یا سامان متعین نه کړی سي، نو په دې صورت کي) په دې وجه نکاح صحیح کیږي چي د نکاح په باب کي جهالت برداشت کېدای سي (زغمل کېدای سي)، لېکن په بیع کي نه سي برداشت کېدای، یعني که په بیع کي حیوان نه وټاکل سي (یعني متعین او معلوم نه کړی سي)، نو بیع نه صحیح کیږي، لېکن په نکاح کي داسي کول صحیح دي ځکه چي په نکاح کي لږ غوندي جهالت زغمل کېدای سي. او په کوم وخت کي چي خاوند دا حیوان یا سامان ښځي ته ورکوي نو په هغه وخت کي حیوان یا سامان متعین کیږي او دا به ویل کیږي چي همدغه حیوان یا سامان په مهر کي ټاکل سوي او متعین سوي وو، لهذا کله چي د ورکولو په وخت کي حیوان یا سامان متعین سو او بیرته خاوند ته د هبې په ذریعه ورکړی سو، نو اوس به خاوند ته له ښځي څخه نور د هیڅ شي د اخیستلو حق نه وي.

د مهر سره د یو شرط لګولو بحث

وَإِذَا تَزَوَّجَهَا عَلَى أَلْفٍ عَلَى أَنْ لَا يُخْرِجَهَا مِنَ الْبَلْدَةِ او که [یو چا] د ښځي سره نکاح وکړه د زرو درهمو په عوض کي پر دې شرط چي هغه به دا ښځه له ښار څخه د باندي نه باسي أَوْ عَلَى أَنْ لَا يَتَزَوَّجَ عَلَيْهَا أُخْرَى یا پر دې شرط چي پر هغې به بله ښځه نه په نکاح کوي فَإِنْ وَفَّى بِالشَّرْطِ فَلَهَا الْمُسَمَّى نو که خاوند شرط پوره کړي نو بیا به د ښځي لپاره ټاکل سوی مهر وي لِأَنَّهُ صَلَحَ مَهْرًا ځکه چي [په دې صورت کي] هغه ټاکل سوی مهر د مهر [جوړېدلو] صلاحیت لري وَقَدْ تَمَّ رِضَاهَا بِهِ او په هغه د

ښځې رضامندي [خوښي] هم پوره سوې وه [يعني په هغه ټاکل سوي مهر ښځه هم راضي وه] وَإِنْ تَزَوَّجَ عَلَيْهَا أُخْرَىٰ أَوْ أَخْرَجَهَا [خو] که خاوند پر هغې بله ښځه په نکاح کړه يا يې هغه اله ښار څخه بهر [ويستله فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا نو د هغې لپاره به مهرِ مثل وي لِأَنَّهُ سَمّٰى مَا لَهَا فِيهِ نَفْعٌ ځکه چې خاوند دومره اندازه مهر ټاکلی وو چې په هغه کې د ښځې فايده وه فَعِنْدَ فَوَاتِهِ يَنْعَدِمُ رِضَاهَا بِالْأَلْفِ نو د فايدې په فوتېدلو سره به پر زرو درهمو د ښځې رضامندي هم ختميږي فَيُكَمَّلُ مَهْرُ مِثْلِهَا نو د هغې مهرِ مثل به پوره کيږي كَمَا فِي تَسْمِيَةِ الْكَرَامَةِ وَالْهَدِيَّةِ مَعَ الْأَلْفِ لکه [په مهر کې] د زرو درهمو سره د عزت [احترام] او تحفه ورکولو يادونه کول [يعني لکه د مهر سره د عزت او سوغات ورکولو شرط هم لګول].

اللغات: ﴿كَرَامة﴾ د كرُم د باب اسمِ مصدر دی: عزت، احترام (إعزاز او تكريم).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که زيد د زينب سره نکاح وکړه او د هغې مهر يې زر درهمه و ټاکی، او دا شرط يې هم ولګوی چې تا (زينب) به له ښار څخه بهر نه باسم يا پر تا به بله ښځه نه کوم، نو دا نکاح صحيح ده، که څه هم له ښار څخه نه ايستل يا بل واده نه کول فاسد شرط دی، ځکه چې دا له مشروع او روا کار څخه منع کېدل دي، خو بيا هم دا نکاح صحيح ده، ځکه چې مخکې تاسو وويل چې نکاح په شروط فاسده وو سره نه فاسديږي، نو ځکه به دغه نکاح صحيح وي.

اوس که خاوند (زيد) خپل شرط پوره کړی (يعني په ټوله ژوند کې يې زينب بهر نه ويستله يا يې پر هغې بله ښځه نه وکړه)، نو هغې (زينب) ته به مهرِ مسمیٰ (يعني ټاکل سوی مهر کوم چې زر درهمه وو) ورکول کيږي، برابره ده دغه مهر مسمیٰ د هغې له مهرِ مثل څخه کم وي او که زيات وي؛ دليل دا دی چې خاوند (زيد) يو داسي شی او داسي اندزه (زر درهمه) مهر ټاکلی دی چې په هغه کې د مهر جوړېدلو صلاحيت (وړتيا) سته، او ښځې (زينب) هم هغه قبول کړی دی او په هغه راضي سوې ده، نو اوس به هغه مقدار د هغې (زينب) لپاره مهر وي، هغه که تر مهرِ مثل کم وي او که زيات وي.

وإن تزوج عليها إلخ: او که خاوند (زيد) شرط پوره نه کړی او ښځه (زينب) يې له ښار څخه بهر ويستله يا يې پر هغې بل واده وکړی، نو اوس به دې ته کتل کيږي چې د ښځې مهرِ مثل د هغې له مهرِ مسمیٰ (ټاکلي مهر) څخه کم دی که زيات دی او که ور سره برابر دی، که يې مهرِ مثل زيات وو تر مهرِ مهرِ مسمیٰ (يعني تر زرو درهمو)، نو د هغې لپاره به مهرِ مثل وي (يعني خاوند به تر ټاکلي مهر زيات نور دراهم هم ورکوي چې د ښځې مهرِ مثل پوره سي)؛ دليل دا دی چې ښځه فقط د خپلې فايدې لپاره له

مهرِ مثل ښځه په کم مهر راضي سوې وه، ځکه پر ښځې بل واده نه کول ښکاره فایده ده چې هغه به د بَنْ له ورځني جنجالونو او جګړو څخه په أمن وي، او پردي (أجنبي) ځای ته نه تلل بلکې په خپل ښار کې مستقیم اوسېدل هم د ښځې لپاره فایده ده، نو د همدغه فایدو په وجه ښځه په کم مهر راضي سوې وه، لېکن کله چې خاوند شرط پوره نه کړی (او د ښځې دغه فایدې حاصله نه کړه) نو اوس پر مهرِ مسمیٰ (یعني پر زرو درهمو) د ښځې رضامندي فوت سوه، ځکه قاعده دا ده چې "إِذَا فَاتَ الشَّرْطُ فَاتَ الْمَشْرُوْطُ"، نو ځکه به اوس ښځې ته خپل مهرِ مثل ورکول کیږي.

کما في تسمية إلخ: لکه څرنګه چې په هغه صورت کې هم ښځې ته خپل مهرِ مثل ورکول کیږي کله چې خاوند د ښځې سره پر دې شرط په زرو درهمو (مثلاً) نکاح کړې وي چې خاوند به د هغې عزت کوي او سخت کارونه به نه په کوي یا د تاکل سوي مهر باوجود به هغې ته جامه یا بل شی هم په هدیه او تحفه کې ورکوي، او بیا خاوند خپل شرط پوره نه کړي، نو که په دې صورت کې د ښځې مهرِ مثل تر زرو درهمو (مهرِ مسمیٰ) زیات وو، نو هغه پر خاوند واجبیږي او ښځې ته به ورکول کیږي، نو همداسې به په پورتني صورت کې که د ښځې مهرِ مثل تر زر درهمه (مهرِ مسمیٰ) زیات وو، نو هغه به ورکول کیږي، لېکن که ور سره برابر وو یا کم وو، نو مهرِ مسمیٰ به ورکول کیږي.

په مهر کې د مشروط زیاتوب بحث

وَلَوْ تَزَوَّجَهَا عَلٰى أَلْفٍ إِنْ أَقَامَ بِهَا او که [یو چا] د ښځې سره پر زرو درهمو نکاح وکړه په دې شرط که ښځه یې په ښار کې ساتله [او بهر یې له ښار څخه نه بېوله] وَعَلٰى أَلْفَيْنِ إِنْ أَخْرَجَهَا او پر دوو زرو درهمو که هغه یې [له ښار څخه] بهر ویستله فَإِنْ أَقَامَ بِهَا نو که خاوند هغه په ښار کې وساتله فَلَهَا الْأَلْفُ نو د هغې لپاره به زر درهمه وي وَإِنْ أَخْرَجَهَا [لېکن] که [له ښار څخه] یې بهر ویستله فَلَهَا مَهْرُ الْمِثْلِ نو [په دې صورت کې] به د هغې لپاره مهرِمثل وي لَا يُزَادُ عَلَى الْأَلْفَيْنِ وَلَا يُنْقَصُ عَنِ الْأَلْفِ چې هغه به نه پر دوو زرو درهمو زیاتول کیږي او نه به پر زرو درهمو کمول کیږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ ✿ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا: اَلشَّرْطَانِ جَمِيْعًا جَائِزَانِ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله

✿ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۲، ص:۳۷۵)، وكذا في الهندية (ج:۱، ص:۳۰۷). [القول الراجح ج:۱، ص: ۲۷۶]

فرمايي: چي دواړه شرطونه جائز دي حَتّٰى كَانَ لَهَا الْأَلْفُ إِنْ أَقَامَ بِهَا وَالْأَلْفَانِ إِنْ أَخْرَجَهَا تر دې چې د ښځي لپاره به زر درهمه وي که خاوند ښځه په ښار کي وساتله او دوه زره [درهمه] به وي که يې بهر وېستله وَقَالَ زُفَرُ: اَلشَّرْطَانِ جَمِيْعًا فَاسِدَانِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دواړه شرطونه فاسد دي وَيَكُوْنُ لَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا لَا يُنْقَصُ مِنْ أَلْفٍ وَلَا يُزَادُ عَلَى أَلْفَيْنِ او د هغې لپاره به [په دواړو صورتونو کي] مهر مثل وي چي هغه به نه تر زرو کمول کيږي او نه به تر دوو زرو زياتول کيږي وَأَصْلُ الْمَسْأَلَةِ فِي الْإِجَارَاتِ او د دې مسئلې أصل [او دليل] په "كتابُ الاجارات" کي دی فِي قَوْلِهِ: إِنْ خِطْتَهُ الْيَوْمَ فَلَكَ دِرْهَمٌ وَإِنْ خِطْتَهُ غَدًا فَلَكَ نِصْفُ دِرْهَمٍ کوم چي د مصنف رَحِمَهُ الله په دې قول کي ذکر سوی دی: که تا نن دا کپړه [جامه] وګنډله [جوړه کړه] نو ستا لپاره به يو [پوره] درهم وي او که دي سبا وګنډله نو ستا لپاره به نيم درهم وي وَسَنُبَيِّنُهَا فِيهِ إِنْ شَاءَ اللهُ او دا به انشاء الله موږ په "كتابُ الاجارات" کي بيان کړو.

اللغات: ﴿أَقَامَ﴾ د افعال ماضي ده: اقامت کول، په ښار کي اوسېدل، کله چي د دې باب په صله کي يې "باء" راسي، نو متعدي ګرځي او معنىٰ يې راځي: په بل چا اقامت کول، په ښار کي اُوسول (استوګن کول)، ﴿خِطْتَ﴾ د ضرب له باب څخه د واحد مذکر مخاطب صيغه ده، خَاطَ يَخِيْطُ خَيْطًا: کالي ګنډل (کالي جوړول)، "خَيَّاط" له همدغه باب څخه دی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که خالد د زينب سره نکاح وکړه او په نکاح کي يې دا خبره شرط کړه چي په دغه ښار کي ستا مهر زر درهمه دی او له ښار څخه دباندي ستا مهر دوه زره درهمه دی (يعني که ما په دغه ښار کي ته ساتلې نو مهر زر درهمه درکوم او که له ښار څخه مي وېستلې نو دوه زره درهمه درکوم)، نو په دې مسئله کي دا امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز فقط اول شرط صحيح دی او دويم شرط فاسد دی، نو که خاوند ښځه په هغه ښار کي ساتله نو پر هغه زر درهمه واجب دي (يعني ښځي ته به زر درهمه ورکوي لکه څرنګه چي هغه ويلي وو)، خو که خاوند ښځه له ښار څخه وېستله نو پر خاوند د ښځي مهرِ مثل واجب دی او هغه د "أَلْفَيْن" شرط فاسد دی، او بايد ستاسي دا خبره په ياد وي چي په دې صورت کي به د ښځي مهرِ مثل به نه تر زرو درهمو کمول کيږي او نه به تر دوو زرو درهمو زياتول کيږي.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چي دواړه شرطونه صحيح او جائز دي، نو که خاوند ښځه په هغه ښار کي ساتله، نو پر هغه زر درهمه واجبيږي، او که ښځه يې له ښار څخه وېستله او بل ځای ته يې بوتله، نو بيا پر هغه دوه زره درهمه واجبيږي او ښځي ته به دوه زره درهمه په مهر کي ورکوي.

امام زفرر رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې مسئله کي دواړه شرطونه فاسد دي، او په دواړو صورتونو کي پر خاوند مهرِ مثل واجبيږي او د دې خبرې خيال به ساتل کيږي چي مهرِ مثل به نه تر زرو درهموکمول کيږي او نه به تر دوو زرو زياتول کيږي، همدا د امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله مسلک دی.

وأصل المسئلة إلخ: فرمايي چي په دې مسئلي کي د اختلاف بنياد د "کِتَابُ الإِجَارَات" مسئله ده او هغه دا ده که يو چا خياط (درزي) ته وويل چي که تا (مثلاً) نن له دغه کپړو څخه کالي را جوړ کړل نو يو درهم مزدوري درکوم او که دي سبا را جوړ کړل نو دوه درهمه مزدوري درکوم، نو په دې مسئله کي د امام صاحب په نيز اول شرط جائز دی او دويم شرط فاسد دی، او د صاحبينو په نيز دواړه شرطونه جائز دي، او د امام زفر په نيز دواړه شرطونه فاسد دي.

صاحب د هدايې دلته فقط د "کِتَابُ الإِجَارَات" حواله ورکړې ده او د امامانو دليلونه يې نه دي ذکر کړي، خو ستاسو د فايدې په غرض موږ له فتح القدير، بنايه او عنايه څخه په لنډه توګه د دوی دليلونه ذکر کوو:

د امام زفر دليل: دا دی چي په دې مسئلي کي خاوند ديوه شي (يعني ديوې بضع) په مقابله کي دوه مختلف شيان (زر او دوه زره) په شرط کي ټاکلي دي، او دا معلومه نه ده چي په دواړو به کي خاوند کوم شرط پوره کړي، نو په دغه ټاکلو (تسميه) کي جهالت راغلی، او په تسميه کي د جهالت راتللو په صورت کي مهرِ مثل واجبيږي، نو دلته به هم په دواړو صورتونو کي مهر مثل واجبيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي په دې مسئله کي دواړه ذکر سوي شرطونه مُقَيَّد دي، نو کوم شرط چي هم خاوند پوره کړي، په هغه کي به د ښځي فايده وي، لهذا دواړه شرطونه صحيح دي نو ديوه شرط فاسدولو ته هم ضرورت نسته، او څرنګه به فاسد کړی سي حال دا چي په حديث کي په واضحه توګه دا خبره ذکر سوې ده چي "اَلْمُسْلِمُوْنَ عِنْدَ شُرُوْطِهِمْ"، يعني د مسلمانانو د خپل مينځ شرطونه معتبر دي او د هغه مطابق به حکم کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي دلته اول شرط په دې وجه صحيح دی چي د اول شرط په وخت کي د هغه سره هيڅ معارض نه وو (او د معارض د نشتوالي په وجه هيڅ جهالت نه وو) نو د نه جهالت په وجه به اول شرط صحيح وي او د هغه اعتبار به کيږي، خو کله چي خاوند دويم شرط هم ذکر کړی، نو

اول شرط د هغه سره معارض سو او په تسميه کي جهالت پيدا سو. او څرنګه چي دغه جهالت د دويم شرط په وجه پيدا سوی دی، نو د فساد تعلق به هم د دويم شرط سره خاص وي او فقط دويم شرط به فاسد وي، نو ځکه موږ وايو چي په دويم شرط کي به مهرِ مثل واجب وي او په اول شرط کي به مهر مسمیٰ (ټاکل سوی مهر) واجب وي.

په دوو (مختلف القيمة) غلامانو کي نامعلوم غلام په مهر کي ټاکل (حکم او اختلاف)

وَلَوْتَزَوَّجَهَا عَلٰى هٰذَا الْعَبْدِ أَوْ عَلٰى هٰذَا الْعَبْدِ او که [يو سړي] د ښځي سره پر دې غلام يا پر دې غلام نکاح وکړه فَإِذَا أَحَدُهُمَا أَوْكَسُ خو په هغوی کي يو غلام د ادنیٰ [الاندي] درجې وو [يعني قيمت يې کم وو] وَالْآخَرُ أَرْفَعُ او بل د اعلیٰ [اوړي] درجې وو فَإِنْ كَانَ مَهْرُ مِثْلِهَا أَقَلَّ مِنْ أَوْكَسِهِمَا نو که د ښځي مهرِ مثل په دې دواړو غلامانو کي له ادنیٰ درجې غلام څخه [هم] کم وو فَلَهَا الْأَوْكَسُ نو د هغې لپاره به د ادنیٰ درجې غلام وي [يعني هغې ته به خاوند ادنیٰ غلام په مهر کي ورکوي] وَإِنْ كَانَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْفَعِهِمَا او که [د ښځي مهرِ مثل] په دوی کي له اعلیٰ درجې غلام څخه زيات وو فَلَهَا الْأَرْفَعُ نو د هغې لپاره به د اعلیٰ درجې غلام وي وَإِنْ كَانَ بَيْنَهُمَا او که [د ښځي مهرِ مثل] د اعلیٰ او ادنیٰ غلام په مينځ کي وو فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا نو [په دې صورت کي] به د هغې لپاره مهرِ مثل وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ ۞ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا: لَهَا الْأَوْكَسُ فِيْ ذٰلِكَ كُلِّهٖ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په دې ټولو صورتونو کي به د ښځي لپاره د ادنیٰ درجې غلام وي فَإِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُوْلِ بِهَا او که خاوند تر دخول مخکي ښځي ته طلاق ورکړی فَلَهَا نِصْفُ الْأَوْكَسِ فِيْ ذٰلِكَ كُلِّهٖ بِالْإِجْمَاعِ نو د هغې لپاره به په دغه ټولو صورتونو کي د ادنیٰ غلام نصف [يعني نيم قيمت] وي لَهُمَا: أَنَّ الْمَصِيْرَ إِلٰى مَهْرِ الْمِثْلِ لِتَعَذُّرِ إِيْجَابِ الْمُسَمّٰى د صاحبينو دليل دا دی: چي د مهرِ مثل وطرف ته رجوع د ټاکل سوي مهر د ايجاب [واجبولو] د ناممکنوالي په وجه کيږي [يعني مهرِ مثل ته هغه وخت رجوع کيږي کله چي د مهرِ مسمیٰ واجبول او په هغه عمل کول ناممکن وي] وَقَدْ أَمْكَنَ إِيْجَابُ الْأَوْكَسِ

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۲، ص:۳۷۶)، وكذا في الخانية (ج:۱، ص:۱۷۴).
[القول الراجح ج:۱، ص:۲۷۸]

او [دلته] د ادنیٰ درجې غلام واجبول ممکن دي إِذِ الْأَقَلُّ مُتَيَقَّنٌ ځکه چې کم يقيني وي انو د کمې درجې والا غلام متيقن دی] فَصَارَ كَالْخُلْعِ وَالْإِعْتَاقِ عَلَى مَالٍ نو دا د خلع او د مال په بدله کي د آزادولو په شير سو وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْمُوجِبَ الْأَصْلِيَّ مَهْرُ الْمِثْلِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې اصلي موجب [واجبېدونکی] مهرِ مثل دی إِذْ هُوَ الْأَعْدَلُ ځکه چې هغه د انصاف مهر دی [څه کمي يا زياتوب نه پکښي کيږي ځکه چې په هغه کي د ښځي د خاندان هَمْ مثله ښځو ته کتل کيږي او د هغوی د مهر مطابق مهرِ مثل ټاکل کيږي] وَالْعُدُولُ عَنْهُ عِنْدَ صِحَّةِ التَّسْمِيَةِ او له مهرِ مثل څخه عدول کول [فقط] د تسميې [ټاکلو] د صحيح والي په وخت کي کيږي وَقَدْ فَسَدَتْ لِمَكَانِ الْجَهَالَةِ او [په دې مسئله کي] د جهالت په وجه تسميه فاسده سوه [نو ځکه به مهرِ مثل واجبيږي] بِخِلَافِ الْخُلْعِ وَالْإِعْتَاقِ عَلَى مَالٍ په خلاف د خلع او د مال په بدله کي د آزادولو لِأَنَّهُ لَا مُوجِبَ لَهُ فِي الْبَدَلِ ځکه چې د هغه لپاره په بدل کي هيڅ موجب نسته إِلَّا أَنَّ مَهْرَ الْمِثْلِ إِذَا كَانَ أَكْثَرَ مِنَ الْأَرْفَعِ خو کله چې د ښځي مهرِ مثل تر اعلیٰ غلام زيات وي فَالْمَرْأَةُ رَضِيَتْ بِالْحَطِّ نو [په دې صورت کي] هغه په خپله [له مهرِ مثل څخه] په کمولو راضي ده [نو ځکه به اعلیٰ غلام لازميږي] وَإِنْ كَانَ أَنْقَصَ مِنَ الْأَوْكَسِ او که [د ښځي مهرِ مثل] تر ادنیٰ غلام کم وي فَالزَّوْجُ رَضِيَ بِالزِّيَادَةِ نو خاوند [پر مهرِ مثل] په زياتوب کولو راضي دی [نو ځکه به ادنیٰ غلام لازميږي] وَالْوَاجِبُ بِالطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُولِ فِي مِثْلِهِ الْمُتْعَةُ او په داسي صورت کي تر دخول مخکي د طلاق په وجه مُتعه واجبيږي وَنِصْفُ الْأَوْكَسِ يَزِيدُ عَلَيْهَا فِي الْعَادَةِ او د ادنیٰ غلام قيمت په عامه توګه تر مُتعې زيات وي فَوَجَبَ لِاعْتِرَافِهِ بِالزِّيَادَةِ نو په زياتوب سره د خاوند د اقرار [او رضا] په وجه [نيم ادنیٰ غلام] واجب کړی سو.

اللغات: ﴿أَوْكَس﴾ د ضرب له باب څخه اسمِ تفضيل دی: کمتر، کمي درجې والا، مراد ځني کم قيمته غلام دی. ﴿مَهْر الْمِثْل﴾ د نجلۍ د خاندان د ښځو يعني د اکا د لور، امه، او خور لپاره چې څومره مهر ټاکل سوي وي، هغه ته مهرِ مثل وايي. ﴿مَعِيد﴾ د ضرب له باب څخه مصدرِ ميمي دی: رجوع کول، راګرځېدل. ﴿أَعْدَل﴾ د کرُم له باب څخه اسمِ تفضيل دی، عَدُلَ يَعْدُلُ عَدَالَةً: عدل کول، انصاف کول. ﴿عُدُوْل﴾ د

ضرب له باب څخه مصدر دی، عَدَلَ يَعْدِلُ عَدْلًا و عُدُوْلًا : واپس کېدل، رجوع کول، مخ ګرځول، ليري کېدل.

تشريح : دا عبارت که څه هم اوږد دی خو په دې کي بيان سوې مسئلې ډېره آسانه ده.

مسئله : دا ده که يو سړي د يو ښځي سره نکاح وکړه او ښځي ته يې وويل چي په دغه دوو غلامانو کي يو غلام په مهر کي درکوم (يعني غلام يې متعين نه کړی چي خاص دغه غلام درکوم)، او وروسته معلومه سوه چي په دواړو کي يو غلام د اعلیٰ درجې دی (يعني قيمت يې زيات دی، مثلاً پنځه سوه ۵۰۰ درهمه دی)، او بل د ادنیٰ درجې (أوْکس) دی (يعني قيمت يې تر هغه بل غلام کم دی، مثلاً درې سوه ۴۰۰ درهمه دی، نو دلته مهر متعين نه سو بلکي د دوو غلامانو په مينځ کي واقع سو، لهذا په مهر کي جهالت راغلی. او کله چي په مهر کي جهالت راسي نو مهرِ مثل لازميږي) نو په دې صورت کي (هم) د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د ښځي د مهر دارومدار به د هغې پر مهرِ مثل وي يعني دې به کتل کيږي چي د ښځي مهرِ مثل د کوم غلام سره موافق او نژدې دی نو هغه غلام به پر خاوند لازميږي.

يعني که د ښځي مهرِمثل تر اعلیٰ غلام زيات وو، نو اعلیٰ غلام به په مهر کي ورکوي (مهرِ مثل به ځکه نه ورکوي چي ښځه تر مهرِ مثل په کمه يعني په اعلیٰ غلام [۵۰۰] راضي ده)، او که د ښځي مهرِ مثل تر ادنیٰ درجې (أوْکس) غلام هم کم وو نو هغه به په مهر کي ښځي ته ورکوي (ځکه په دې صورت کي خاوند په ادنیٰ غلام [۳۰۰] راضي دی)، او که د ښځي مهرِ مثل د ادنیٰ او اعلیٰ په مينځ کي وو (مثلاً څلور سوه ۴۰۰ درهمه وو)، نو په دې صورت کي به مهرِ مثل ورکول کيږي (د دې لپاره چي نه د خاوند رعايت وسي او نه د ښځي).

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي په دې درېو سره صورتونو کي به ښځي ته د ادنیٰ درجې غلام (يعني أوْکس غلام) ورکول کيږي، هغه که د ښځي تر مهرِ مثل کم قيمت والا وي که زيات قيمت والا وي او که د دواړو په مينځ وي، په هر صورت کي به ادنیٰ غلام ورکول کيږي.

لهما إلخ : د صاحبينو تر دليل مخکي دا قاعده په ياد لرئ ! چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د بضع بدلِ اصلي "مهرِ مثل" دی، او د تسميې د صحت په وخت کي له هغه څخه عدول کول صحيح دي (يعني که مهر صحيح او معلوم و ټاکل سي نو په داسي وخت کي د ښځي د فايدې په خاطر له مهرِ مثل څخه عدول کېدای سي)، او د صاحبينو په نېز د بضع بدلِ اصلي "مهرِ مسمیٰ" دی، نو تر څو چي پر مهرِ مسمیٰ عمل کول ممکن وي تر هغه وخته د دوی په نېز د مهرِمثل و طرف ته عدول نه سي کېدای.

د صاحبينو دليل: دا دی چي دلته مهرِ مسمیٰ اصل دی، نو تر څو چي پر أصل عمل کول ممکن وي تر هغه وخته به د بدل يعني د مهرِ مثل و طرف ته نه رجوع نه کيږي، او په دې مسئله کي د ادنیٰ غلام په ورکولو سره پر أصل يعني پر مسمیٰ عمل کول ممکن دي، ځکه د هغه ورکول يقيني دي، او که بالفرض اعلیٰ غلام ورکول سي نو بيا هم ادنیٰ د هغه په ضمن کي راځي، نو ځکه به د مهرِ مثل و طرف ته رجوع نه کيږي بلکي ادنیٰ غلام به پر هغه لازم وي، او دا مسئله بالکل داسي ده لکه يو څوک چي خپلي ښځي ته ووايي: زه په دې دوو غلامانو کي پر يوه غلام ستا سره سره خلع کوم (يعني غلام متعين نه کړي) او په هغوی کي يو غلام اعلیٰ وي او بل ادنیٰ وي، نو په دې صورت کي د ټولو په نيز ادنیٰ غلام واجبيږي، يا مثلاً مالک خپل غلام ته ووايي چي زه تا په دې دوو غلامانو کي د يوه غلام په بدله کي آزادوم، نو په صورت کي هم ادنیٰ غلام واجبيږي (يعني هغه غلام به په دې دواړو غلامانو کي د ادنیٰ غلام قيمت خپل مالک ته ورکوي)، نو همداسي به د مهر په مسئله کي هم ادنیٰ غلام واجبيږي او ښځي ته به ادنیٰ غلام ورکول کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د عدل او انصاف له رويه مهرِ مثل د بضع بدل اصلي دی (ځکه چي په مهرِ مثل کي د ښځي د خاندان رعايت کيږي، ځکه مهرِ مثل هغه مهر ته وايي کوم چي د ښځي د خاندان د ښځو د مهر سره مطابق وي)، او له مهرِ مثل څخه د تسميې د صحت په صورت کي د ښځي د فايدې په خاطر عدول کېدای سي، او دلته د دوو غلامانو په وجه (يعني د خاوند د دې خبري په وجه چي يا دا غلام درکوم يا دا غلام درکوم) په مهر کي شک او جهالت پيدا سوی دی او د شک په وجه د مهر تسميه فاسديږي، نو ځکه به مهرِ مسمیٰ ته رجوع هم نه کيږي بلکي بدلِ اصلي يعني مهرِمثل به واجبيږي، ځکه چي په مهرِ مثل کي انصاف دی، هيڅ کمي او زياتوب نه قبلوي (ځکه چي په هغه کي د خاندان رعايت کيږي).

بخلاف الخلع الخ: د صاحبينو د قياس جواب ورکوي چي دغه مسئله پر خلع او پر إعتاق علی مال قياسول صحيح نه دي، ځکه چي د بدليت په حواله سره د هغوی هيڅ موجبِ اصلي نسته (يعني په خلع او إعتاق علی مال کي له مخکي څخه هيڅ شی متعين نه دی لکه په مهر کي چي مهرِ مثل متعين دی، نو که په مهر کي تعيّن او تسميه نه وي نو فوراً د مهرِ مثل و طرف ته رجوع کيږي، خو د خلع او إعتاق علی مال هيڅ موجبِ اصلي نسته، نو کله چي خاوند ووايي چي زه په دې دوو غلامانو کي پر يوه غلام ستا سره خلع کوم، نو په تسميه کي د جهالت په وجه بيرته د غلام و طرف ته رجوع کيږي، نو ځکه هلته د ادنیٰ درجې غلام واجبيږي، ځکه چي هغه متيقن دی).

لهذا پر خلع او پر إعتاق علی مال قياس کول صحيح نه دي.

إلا أن مهر المثل إلخ: په دې سره د يو إشكال جواب ورکوي، إشكال دا دی چې کله د امام صاحب په نيز مهر مثل أعدل او د بضع بدل اصلي دی. نو بيا په دغه دريو صورتونو کي مهرِ مثل واجبېدل پکار دي. برابره ده مهرِ مثل که تر اعلیٰ غلام زيات وي که تر ادنیٰ غلام کم وي او که د دواړو په مينځ کي وي. حالانکي د امام صاحب په نيز دا صحيح نه دي، آخر د دې وجه څه ده؟ نو د دې په جواب کي صاحب د کتاب فرمايي چې دلته ښځه په خپله په اعلیٰ غلام (او د خپل حق په کمېدلو) راضي ده نو ځکه به د مهرِ مثل پر ځای هغه واجبيږي. او همدارنګه د ادنیٰ غلام په صورت کي خاوند په خپله د ادنیٰ غلام په ورکولو (او د خپل حق په کمولو) راضي دی. لنډه دا چې کله په دغه صورتونو کي خپله صاحبُ الحق په خپل حق کي په تغيّر او تبدّل کولو راضي دی نو بيا دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله د أصول سره ټکر نه دی. لهذا په دې باره کي اعتراض کول صحيح نه دي.

والواجب في الطلاق إلخ: په دې سره هم د يو إشكال جواب ورکوي. إشكال دا دی چې کله په دغه صورتونو کي د امام صاحب په نيز مهرِ مثل واجب دی. نو که چيري خاوند ښځي ته په دې صورتونو کي تر دخول مخکي طلاق ورکړي نو متعه واجبېدل پکار دي. حالانکي زموږ د ټولو امامانو په نيز دلته نيم ادنیٰ غلام واجبيږي، د دې څه وجه ده؟

نو صاحب د کتاب جواب ورکوي چې د طلاق قبل الدخول په صورت کي خو متعه واجبېدل پکار دي، لېکن په عامه توګه د نيم ادنیٰ غلام قيمت تر متعې (يعني تر دريو ۳ جامو) زيات وي. او خاوند په خپله په دې زياتوب راضي دی او په مهر کي يې د غلام په ټاکلو سره د دې اقرار کړی دی. لهذا موږ هم د ښځي د فايدې په خاطر دلته متعه پرېږدو او د ادنیٰ غلام (أوكس) نصف واجبوو. همدا وجه ده که د يو ښځي يا د يو ځای متعه د ادنیٰ غلام تر نصف زياته وي. نو بيا زموږ په نيز په هغه صورت کي متعه واجبيږي، د ادنیٰ غلام نصف نه واجبيږي.

له صفت بيانولو څخه بغير يو حيوان په مهر کي ټاکل (حکم او اختلاف)

وَإِذَا تَزَوَّجَهَا عَلَى حَيَوَانٍ غَيْرِ مَوْصُوفٍ او که [يو سړي] د ښځي سره پر يو نا ستايلي حيوان نکاح وکړه [يعني په مهر کي يې يو حيوان وټاکی او د هغه وصف (صفت) يې بيان نه کړی] **صَحَّتِ التَّسْمِيَةُ** نو تسميه ايعني د هغه ټاکل] صحيح دي **وَلَهَا الْوَسَطُ مِنْهُ** او د ښځي لپاره به د أوسطي درجې حيوان وي ايعني په دې صورت کي به خاوند ښځي ته د مينځنۍ درجې حيوان ورکوي] **وَالزَّوْجُ مُخَيَّرٌ إِنْ شَاءَ أَعْطَاهَا ذَٰلِكَ وَإِنْ**

شَاءَ أَعْطَاهَا قِيمَتَهُ او خاوند اختيار من دى كه وغواړي نو هغه حيوان دې ورکړي او که وغواړي نو د هغه قيمت دې ورکړي قَالَ: مَعْنٰى هٰذِهِ الْمَسْئَلَةِ أَنْ يُسَمِّيَ جِنْسَ الْحَيَوَانِ دُوْنَ الْوَصْفِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: د دې مسئلې مطلب دا دى چې خاوند د حيوان جنس ذکر کړي، نه وصف بِأَنْ يَّتَزَوَّجَهَا عَلٰى فَرَسٍ أَوْ حِمَارٍ په دې توګه چې خاوند د ښځې د آس يا د خره پر جنس نکاح وکړي أَمَّا إِذَا لَمْ يُسَمِّ الْجِنْسَ لیکن که [د حیوان] جنس ذکر نه کړي بِأَنْ يَّتَزَوَّجَهَا عَلٰى دَابَّةٍ په دې توګه چې د ښځې سره پر يو څاروي نکاح وکړي لَا تَجُوْزُ التَّسْمِيَةُ نو [په داسې صورت کې] تسميه جائز نه ده وَيَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ او مهرِ مثل واجبیږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ فِي الْوَجْهَيْنِ جَمِيْعًا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په دواړو صورتونو کې مهرِ مثل واجبیږي لِأَنَّ عِنْدَهُ مَا لَا يَصْلُحُ ثَمَنًا فِي الْبَيْعِ لَا يَصْلُحُ مُسَمًّى فِي النِّكَاحِ ځکه د هغه په نيز چې کوم شی په بيع کې د ثمن [جوړېدلو] صلاحيت نه لري هغه په نکاح کې د مهر [جوړېدلو] صلاحيت نه لري إِذْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مُعَاوَضَةٌ ځکه چې له بيع او نکاح څخه هر يو معاوضه ده [يعني په هر يوه کې د عوض د راکړې ورکړې معامله کيږي] وَلَنَا: أَنَّهُ مُعَاوَضَةُ مَالٍ بِغَيْرِ مَالٍ او زموږ دليل دا دى: چې نکاح په غيرِ مال سره د مال معاوضه ده فَجَعَلْنَاهُ الْتِزَامَ الْمَالِ ابْتِدَاءً نو موږ په شروع کې نکاح [د] "التزامُ المال" اله جملې څخه] وګرځوله حَتّٰى لَا يَفْسُدَ بِأَصْلِ الْجَهَالَةِ تر دې چې هغه په أصل [او فاحش] جهالت سره هم نه فاسديږي كَالدِّيَةِ وَالْأَقَارِيْرِ لکه ديت او اقرارونه [چې په أصل جهالت سره نه فاسديږي] وَشَرَطْنَا أَنْ يَّكُوْنَ الْمُسَمّٰى مَالًا وَسَطُهُ مَعْلُوْمٌ او موږ دا شرط [هم] ولګوی چې مسمیٰ به داسې مال وي چې د هغه أوسط معلوم وي [يعني چې د هغه أوسطه درجه معلومېدای سي] رِعَايَةً لِلْجَانِبَيْنِ چې د دواړو طرفونو [خاوند او ښځې] رعايت وسي وَذٰلِكَ عِنْدَ إِعْلَامِ الْجِنْسِ او دغه شرط د جنس د معلومېدلو په وخت کې ثابتيږي [يعني أوسط د جنس په معلومېدلو سره معلوميږي] لِأَنَّهُ يَشْتَمِلُ عَلَى الْجَيِّدِ وَالرَّدِيءِ وَالْوَسَطِ ځکه چې جنس پر ښه [اعلیٰ درجې] او بد [ادنیٰ درجې] مشتمل وي وَالْوَسَطُ ذُوْحَظٍّ مِنْهُمَا او أوسط [أوسطه درجه] اله دواړو څخه حصه داره وي بِخِلَافِ جَهَالَةِ الْجِنْسِ په خلاف د جنس د جهالت لِأَنَّهُ لَا وَسَطَ

لَهٗ لِاخْتِلَافِ مَعَانِي الْأَجْنَاسِ ځکه چې جنس لره هيڅ أوسط نه وي د أجناسو د معناګانو د مختلف کېدلو په وجه [يعني هر جنس بېله معنیٰ لره نو کله چې جنس معلوم نه وي نو أوسط به څرنګه معلوم سي. ځکه چې جنسونه ډېر دي] وَبِخِلَافِ الْبَيْعِ او په خلاف د بيع لِأَنَّ مَبْنَاهُ عَلَى الْمُضَايَقَةِ وَالْمُمَاكَسَةِ ځکه چې د بيع دار ومدار پر تنګوالي او تال متال کولو دی أَمَّا النِّكَاحُ فَمَبْنَاهُ عَلَى الْمُسَامَحَةِ او کوم چې نکاح ده نو د هغې دار ومدار پر آسانۍ [او نرمي کولو] دی وَإِنَّمَا يَتَخَيَّرُ لِأَنَّ الْوَسَطَ لَا يُعْرَفُ إِلَّا بِالْقِيْمَةِ او خاوند ته به ځکه [د قيمت] اختيار ورکول کېږي چې أوسط فقط په قيمت سره پېژندل کېدای سي فَصَارَتْ أَصْلًا فِي حَقِّ الْإِيْفَاءِ نو د پوره کولو [اداء کولو] په حق کي قيمت أصل سو وَالْعَبْدُ أَصْلٌ تَسْمِيَةً او غلام د تسميې [ټاکلو] په اعتبار سره أصل دی فَيَتَخَيَّرُ بَيْنَهُمَا نو ځکه به خاوند لره د دې دواړو [أوسط او قيمت] په مينځ کي اختيار وي.

اللغات: ﴿وَسَط﴾ د مينځوې درجې شی، ﴿مُعَاوَضَةُ مَالٍ بِغَيْرِ مَالٍ﴾ د غيرِ مال په بدله کي مال، لکه څرنګه چې په نکاح کي داسي کېږي، ځکه چې يو طرف ته خاوند پر ځان مال لازموي او بل طرف د ښځې بضع وي کوم چې مال نه دی، او په بيع کي "معاوضةُ المال بالمال" ده (په بيع کي چې کوم شی قيمت وي د هغه جنس، نوع او صفت ټوله معلومول ضروري دي کنې بيع فاسديږي، لېکن په نکاح کي معمولي غوندي جهالت برداشت کېدای سي چې په تشريح کي به د دې تفصيل هم ذکر سي)، ﴿اِلْتِزَامُ الْمَالِ﴾ پر خپل ځان يو شی لازمول، مثلاً د يو چا لپاره پر خپل ځان د مال يا د يو شي اقرار کول (دغه اقرار په جهالت کامله سره هم نه فاسديږي، مثلاً که زيد اقرار وکړي چې پر ما د خالد يو شی باندي دی، او د ښې جنس بيان نه کړي او نه يې نوع بيان کړي، نو هم د هغه اقرار صحيح دی، خو تر اقرار وروسته به له هغه څخه پوښتل کيږي چې له "شي" څخه ستا مراد څه دی)، ﴿أَقَارِيْر﴾ جمع د إِقْرَارٌ ده: اقرار (يعني پر خپل ځان د يو چا لپاره د مال اقرار کول)، ﴿إِعْلَام﴾ د افعال مصدر دی: خبر ورکول، اطلاع ورکول، ﴿مُضَايَقَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: تنګي کول (يو د بل سره تنګي او سختي کول)، ﴿الْمُمَاكَسَة﴾ دا هم د مفاعلې مصدر دی: تال متال کول، تال متول کول، (څوک په حيلو او طمعو کنبپاسل، په اسره کول)، يو تر بله سره نيول، ﴿مُسَامَحَة﴾ دا هم د مفاعلې مصدر دی: نرمي کول، ښه او نرم چلند کول (يو د بل سره نرمي او آساني کول).

تشريح: د مسئلې تر صورت مخکي دا خبره په ياد لرئ! چې په عبارت کي له جنس څخه مراد د حيوان نوع ده لکه څرنګه چې همدا د فقهاؤ اصطلاح ده چې د هغوی په نېز د أهلِ منطق جنس د نوع په درجه کي دی.

صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي دیو ښځي سره نکاح وکړه او په مهر کي یې یو حیوان مقرر کړی (چي دا حیوان به درکوم) او د حیوان جنس یې بیان کړی (چي مثلاً غوا به وي. یا آس به وي او داسي نور)، خو د حیوان صفت یې بیان نه کړی (چي د اعلیٰ درجې غوا به وي. یا د أوسط یا د ادنیٰ درجې غوا به وي)، نو زموږ په دا تسمیه (یعني په دې توګه د مهر ټاکل) صحیح دي او نکاح هم صحیح او جائز ده، او پر خاوند د أوسط (مینځوی) درجې غلام لازمیږي یعني هغه غلام چي د قیمت په اعتبار سره نه اعلیٰ وي او نه ادنیٰ وي، او هغه ته دا اختیار هم سته که د أوسط غلام قیمت ورکوي او که په خپله أوسط غلام ورکوي. همدا مسلک د امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمَا الله هم دی.

معنٰی هٰذا إلخ صاحب د هدایې فرمایي چي د امام قدوري رَحِمَهُ الله د قول مطلب همدغه دی چي خاوند د حیوان جنس بیان کړي که څه هم صفت یې بیان نه کړي، لېکن که جنس یې هم بیان نه کړي او مطلق حیوان ذکر کړی، نو دا تسمیه نه صحیح کیږي (یعني په دې توګه د مهر ټاکل نه صحیح کیږي) او په دې صورت کي مهرِ مثل واجبیږي.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي په دواړو صورتونو کي (یعني که جنس بیان سوی وي او که نه وي) مهرِ مثل واجبیږي.

د امام شافعي دلیل: دا دی چي کوم شی چي په بیع کي د ثمن جوړېدلو صلاحیت نه لري، هغه په نکاح کي د مهر جوړېدلو صلاحیت هم نه لري (ځکه نکاح هم د بیع په څېر د معاوضې عقد دی). او غیرِ موصوف حیوان (یعني چي د هغه صفت نه وي بیان سوی) په بیع کي ثمن نه سي جوړېدلای. نو په نکاح کي به هم غیرِ موصوف حیوان مهر مسمیٰ نه سي جوړېدلای (یعني د هغه تسمیه او په مهر کي د هغه ټاکل به فاسد او غیرِ صحیح وي)، او د تسمیې د فساد په صورت کي (یعني کله چي په مهر کي غیرِ صحیح شی وټاکل سي، نو په داسي صورت کي) مهرِ مثل واجبیږي. نو ځکه به دلته په دواړو صورتونو کي مهرِ مثل واجبیږي. هغه که خاوند د حیوان جنس بیان کړی وي او که نه وي.

زموږ دلیل: دا دی چي صحیح ده! نکاح د معاوضې عقد دی. خو څرنګه چي په ابتداء او شروع کي خاوند بېله عوضه پر ځان مال لازموي. نو د ابتداء له رویه نکاح معاوضةُ المال بغیر المال ده (یعني معاوضةُ المال بالجسم) ده. لنډه دا چي نکاح د "التزامُ المال" معامله ده (یعني خاوند بېله عوضه پر خپل ځان مال لازموي او د مال اقرار کوي)، او "التزامُ المال" په کامل جهالت سره هم نه فاسدیږي (یعني د صفت نه بیانولو په صورت کي هم نه فاسدیږي) نو ځکه به په جهالت سره مهر هم نه فاسدیږي، لکه څرنګه چي په دیت کي شریعت سل (١٠٠) اوښان لازم کړي دي، خو د هغوی صفت

یې بیان کړی نه دي بلکې د أوسطو اوښانو په ورکولو سره دیت اداء کیږي. یا مثلاً زید اقرار وکړي چې پر ما د خالد دوه پسونه باندي دی او د پسونو صفت بیان نه کړي نو بیا هم د زید اقرارصحیح دي او د أوسطي درجې پسونه پر هغه لازم دي، نو همدارنګه نکاح هم په ابتداء کې "التزامُ المال" ده. نو ځکه به هغه هم د ټاکلي حیوان له صفت بیانولو څخه بغیر صحیح وي.

وشرطنا إلخ: د دې حاصل دا دی چې په متن کې دا شرط ولګول سو چې په مهر کې به ټاکل سوی مال او شی داسې وي چې د هغه أوسط معلومېدلای سي د دې لپاره چې د خاوند او ښځې دواړو رعایت وسي، او أوسط هغه وخت معلومېدای سي چې د هغه جنس بیان کړی سي، ځکه چې جنس پر ټولو درجو مشتمل وي یعني اعلیٰ درجې، أوسط درجې او ادنیٰ درجې ټولو ته جنس شامل وي. او أوسط درجه له أعلیٰ څخه کمه او له ادنیٰ څخه زیاته ده نو له دواړو څخه یې حصه اخیستې ده (یعني أوسط درجه د اعلیٰ په نسبت ادنیٰ ده او د ادنیٰ په نسبت اعلیٰ ده)، نو په مهر کې به دیو مال ټاکل هغه وخت صحیح وي کله چې د هغه جنس معلوم کړی سي.

د دلیل خلاصه: دا سوه چې نکاح خو په ابتدء کې "التزامُ المال" ده او په انتهاء کې "معاوضه" ده. د "التزامُ المال" تقاضا دا ده چې په أصل او کامل جهالت سره دي هم نکاح فاسده نه سي، لکه اقرار چې "التزامُ المال" دی او هغه په اصل جهالت سره بالکل نه فاسدیږي. او د معاوضې تقاضا دا ده چې نکاح دې په لږ غوندې (معمولي) جهالت سره (یعني د صفت په نه بیانولو سره) دې هم فاسده سي. لکه بیع چې په معمولي جهالت سره هم فاسدیږي. نو موږ د نکاح د دواړو طرفونو اعتبار کوو او دا حکم کوو چې په کامل او فاحش جهالت (أصل جهالت) سره خو به نکاح فاسدیږي. لېکن د خفیف او معمولي جهالت په صورت کې (یعني د صفت نه بیانولو په صورت کې) به نکاح صحیح او جائز وي.

بخلاف جهالة الجنس إلخ: فرمایي که جنس (یعني نوع) بیان نه کړی سي نو بیا أوسط نه سي معلومېدای، ځکه چې په ډېر جنسونو کې به د کوم جنس أوسط را ویستل سي!؟. مثلاً خاوند ښځې ته ووایي چې په مهر کې یو څاروی درکوم، نو په څاروي کې خو غوا، ګامېښه، آس، خر او پسه ټوله داخل دي، نو د کوم یوه أوسط به را ویستل سي، ځکه چې د یوه او بل په أوسط کې تعلق او واسطه نسته. لهذا د جنس نه بیانولو په صورت کې تسمیه (د هغه شي ټاکل) نه صحیح کیږي. او په داسې صورت کې مهرِ مثل واجبیږي.

بخلاف البیع إلخ: د امام شافعي د قیاس جواب ورکوي چې نکاح پر بیع قیاسول صحیح نه دي. ځکه چې د بیع بنیاد پر تنګۍ، جنجال او ټال متال کولو دی. او هر عاقد په بیع کې ډېر وخت تېرول نه

غواړي بلکي له سودا او بيع څخه ژر خلاصون غواړي، ځکه چې بيا د مشتري يا بائع له طرفه د ټال متال کولو خطره سته. د دې په خلاف په نکاح کي نرمي او همېشتوب وي، نو ځکه په نکاح کي معمولي جهالت برداشت کېدای سي، لېکن په بيع کي معمولي جهالت هم برداشت کېدلای نه سي، لهذا يو پر بل قياسول صحيح نه دي.

وإنما يتخير إلخ: په دې سره ديو مقدّر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي کله په پورتنی مسئله کي خاوند غوا يا مثلاً آس په مهر کي وټاکی نو دا مهرِ مسمیٰ سو (ځکه کوم شی چي په مهر کي وټاکل سي نو هغه ته مهرِمسمیٰ وايي)، او قاعده دا ده چي تر څو د مهرِ مسمیٰ اداء کول ممکن وي نو د هغه قيمت به نه ورکول کيږي، نو بيا تاسي ولي دا خبره کوئ چي خاوند ته اختيار دی که (دأوسطي درجې) حيوان ورکوي او که د هغه قيمت ورکوي؟

د جواب حواصل دا دی چي مورږ مطلق حيوان نه، بلکي دأوسطي درجې حيوان مو واجب کړی دی، او أوسط حيوان په خپل قيمت سره پېژندل کيږي، ځکه چي د کوم حيوان قيمت نه أعلیٰ وي او نه ادنیٰ وي هغه به أوسط حيوان وي، نو څرنګه چي أوسط حيوان په قيمت سره پېژندل کيږي نو د ورکولو په اعتبار سره قيمت أصل سو، او د مهر ټاکلو په وخت کي حيوان ټاکل سوی دی نو د ټاکلو په اعتبار سره حيوان هم أصل سو، نو ځکه به خاوند ته د دواړو اختيار وي.

يادونه: که تاسو په "وَالْعَبْدُ أَصْلٌ تَسْمِيَةً الخ" کي غور وکړی نو معلومه به سي چي د "والعَبْدُ" پر ځای "وَالْحَيَوَانُ" ذکر کېدل پکار دي، ځکه چي په متن کي "إِذَا تَزَوَّجَهَا عَلَى حَيَوَانٍ" ذکر سوي دي، يا د دې جواب دا دی چي صاحب د هدايې د مثال په توګه "وَالْعَبْدُ" ذکر کړی دی، او په ځيني نسخو کي "وَالْعَيْنُ" ذکر سوی دی، نو د هغه جواب هم دغه دی چي د مثال په توګه يې داسي ذکر کړي دي. والله أعلم بحقيقة الحال

له صفت بيانولو څخه بغير کپړه (ټوکر) يا يو کيل او وزني شی په مهر کي ټاکل

وَإِنْ تَزَوَّجَهَا عَلَى ثَوْبٍ غَيْرِ مَوْصُوفٍ او که [يو سړي] د ښځي سره پر نا ستايلي کپړې [ټوکر] نکاح وکړه [يعني د کپړې نوع او صفت يې بيان نه کړی] **فَلَهَا مَهْرُ الْمِثْلِ** نو د ښځي لپاره به مهرِ مثل وي **وَمَعْنَاهُ: ذَكَرَ الثَّوْبَ وَلَمْ يَزِدْ عَلَيْهِ** او د دې مطلب دا دی: چي خاوند فقط د ثوب [کپړې] لفظ ذکر کړی او پر هغه يې [د نوع او صفت] زيات توب نه وکړی **وَوَجْهُهُ أَنَّ هٰذِهِ جَهَالَةُ الْجِنْسِ** او د دې وجه دا ده

چي دغه د جنس جهالت دی إِذِ الثِّيَابُ أَجْنَاسٌ ځکه چي د کپړې ډېر جنسونه دي وَلَوْ سَمَّى جِنْسًا بِأَنْ قَالَ: هَرَوِيٌّ او که [د کپړې] جنس يې ذکر کړی [يعني] داسي يې وويل: چي هروي کپړه [په مهر کي درکوم] يَصِحُّ التَّسْمِيَةُ نو تسميه [د مهر تاکل] صحيح دي وَيُخَيَّرُ الزَّوْجُ لِمَا بَيَّنَّا او خاوند ته به اختيار ورکول کيږي [يعني خاوند ته به د اوسط او قيمت په مينځ کي اختيار وي] د هغه دليل په وجه کوم چي مونږ بيان کړی وَكَذَا إِذَا بَالَغَ فِي وَصْفِ الثَّوْبِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او همدارنګه [به خاوند ته اختيار وي] کله چي د کپړې په وصف کي مبالغه وکړي، د ظاهر روايت مطابق لِأَنَّهَا لَيْسَتْ مِنْ ذَوَاتِ الْأَمْثَالِ ځکه چي کپړه له "ذواتُ الامثال" څخه نه ده وَكَذَا إِذَا سَمَّى مَكِيلًا أَوْ مَوْزُونًا وَسَمَّى جِنْسَهُ دُونَ صِفَتِهِ او همدارنګه [به خاوند ته اختيار وي] کله چي هغه کَيلي يا وزني شی مهر وټاکي او د هغه جنس بيان کړي [خو] صفت يې بيان نه کړي وَإِنْ سَمَّى جِنْسَهُ وَصِفَتَهُ لَا يُخَيَّرُ او که [خاوند] د هغه جنس او صفت [دواړه] بيان کړي نو هغه ته به اختيار نه ورکول کيږي لِأَنَّ الْمَوْصُوفَ مِنْهُمَا يَثْبُتُ فِي الذِّمَّةِ ثُبُوتًا صَحِيحًا ځکه له کَيلي او وزني شي څخه موصوف په صحيح [او پوره] توګه په ذمه کي ثابتيږي [يعني په کيلي او وزني شي کي چي د هر يوه صفت بيان کړی سي نو هغه پوره توګه د انسان پر ذمه ثابتيږي او په ثبوت صحيح سره انسان د هغه ذمه واره کيږي].

اللغات: ﴿ذَوَاتُ الْأَمْثَالِ﴾ جمع د "ذَاتُ الْمِثْلِ" ده: داسي شي ته ويل کيږي چي که هغه له يو چا څخه هلاک سي نو پر ده د هغه شي مثل واجبيږي، قيمت يې نه واجبيږي (يعني مالک ته به د هغه شي مثل ورکوي، نه قيمت)، لکه وريجي يا غنم که له يو چا څخه هلاک سي نو د هغه په بدله کي غنم او وريجي پر لازميږي، ځکه چي غنم د غنمو مثل او مشابه دي او وريجي د وريجو مثل دي، او د دې شيانو قيمت نه پر لازميږي، او په دې کي به د اعلیٰ يا ادنیٰ غنمو او وريجو اعتبار نه کيږي. **ذوات القيم**: جمع د "ذَاتُ الْقِيْمَة" ده: داسي شي ته وايي چي که له يو چا څخه هلاک سي نو پر ده د هغه شي قيمت لازميږي او مثل يې نه پر لازميږي، لکه کپړه يا حيوان چي له يو چا څخه هلاکه سي نو د هغه په بدله کي هغسي کپړه يا حيوان نه پر لازميږي بلکي د کپړې يا حيوان بازاري قيمت پر لازميږي، داسي شيانو ته "ذوات القيم" وايي.

تشريح: په دې عبارت کي د يوې مسئلې سره اړوند څو جزئونه بيان سوي دي: (۱)... د مسئلې اول جزء دا دی چي که يو سړي نکاح وکړه او کپړه يې مهر جوړ کړه (چي زه به ښځي ته په مهر کي کپړه ورکوم يعني فقط جنس (کپړه) يې بيان کړه) خو د کپړې نوع يې بيان نه کړه (چي بخمل به ورکوم يا داسي د کپړې بل قسم به ورکوم). نو په دې صورت کي د ټولو امامانو په نيز مهرِ مثل واجبيږي (او

تسميه فاسديږي): د دې وجه دا ده چې د کپړې بېلا بېل أنواع او قسمونه دي او د کپړې (ثوب) لفظ ټولو ته شامليږي. نو داسې سو لکه په نکاح کې چې مطلق ځاروی (حيوان) ذکر کړي. نو په ټاکل سوي شي کې (يعني په تسميه کې) جهالت راغلی، لهذا تسميه به فاسده وي او مهر مثل به واجب وي (ځکه مخکې تاسې ووېل چې د تسميې د فساد په صورت کې مهرِ مثل واجبيږي).

ولو سمّٰى جِنْسًا إلخ: (۲)... د مسئلې دويم جزء دا دی که خاوند د کپړې نوع هم بيان کړه (چې مثلاً بخمل به ورکوم. يا هَروي يا مَروي کپړه به ورکوم) نو په دې صورت کې تسميه صحيح ده. او خاوند لره به د أوسط مسمیٰ (ټاکل سوې کپړې) يا د هغې د قيمت اختيار وي (يعني هغه به اختيار من وي که د مينځوې درجې بخمل يا هَروي يا مَروي جامه ښځې ته په مهر کې ورکوي او که د هغه قيمت ورکوي). دليل هغه دی کوم چې مخکې تېر سو. چې أوسطه درجه په قيمت سره پېژندل کيږي.

وكذا إذا بالغ إلخ: او که خاوند د کپړې په صفت کې مبالغه وکړه يعني د کپړې نوع يې هم بيان کړه، او د هغې پنډوالی، اوږدوالی او پلنوالی يې ټوله بيان کړل. نو د ظاهر روايت مطابق په دې صورت کې هم خاوند لره اختيار دی که د أوسط درجې کپړه په مهر کې ورکوي او که د هغې قيمت ورکوي؛ د دې وجه دا ده چې کپړه له ذواتُ الأمثال څخه نه ده بلکې له ذواتُ القيم څخه ده. همدا وجه که کپړه هلاکه سي نو د هغې قيمت لازميږي، لهذا کله چې کپړه له ذواتُ القيم څخه ده. او د هغې أوسطه درجه په قيمت سره معلوميږي. نو ځکه به خاوند لره د قيمت ورکولو اختيار هم وي.

که څه هم له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې په مبالغه کولو سره کپړه د ذواتُ الأمثال درجې ته رسيږي، نو ځکه به خاوند خاص هغه کپړه ورکوي د قيمت ورکولو اختيار نه لري، خو دا غيرِ ظاهر روايت دی کوم چې د ظاهر روايت په مقابل کې څه اعتبار نه لري.

وكذا إذا سمّٰى إلخ: (۳)... د مسئلې بل جزء دا دی که خاوند کيلي يا وزني شی مهر جوړ کړی او د هغه جنس يې بيان کړی (مثلاً غنم، يا وريجې، يا اوسپنه) خو صفت يې بيان نه کړی، نو په دې صورت کې به خاوند لره د أوسط مسمیٰ او د هغه د قيمت اختيار وي (ځکه چې کيلي يا وزني شيان د کپړې په څير له ذواتُ القيم څخه دی)، لېکن که خاوند د کيلي يا وزني شي د جنس سره صفت هم بيان کړی نو بيا هغه ذوات الأمثال وګرځېدی او د خاوند پر ذمه په پوره توګه ثابت سو (ځکه کيلي يا وزني شی په صفت بيانولو سره کما حقهٗ او په بشپړه توګه پر ذمه ثابتيږي). نو اوس به خاص د هغه شي أوسط په مهر کې ورکوي د قيمت ورکولو هيڅ اختيار نه لري.

شراب يا خنزير په مهر کي ټاکل

فَإِنْ تَزَوَّجَ مُسْلِمٌ عَلَى خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ او که يو مسلمان [د ښځي سره] پر شرابو يا پر خنزير نکاح وکړه فَالنِّكَاحُ جَائِزٌ نو نکاح جائز ده وَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا او د ښځي لپاره به مهرِ مثل وي لِأَنَّ شَرْطَ قَبُوْلِ الْخَمْرِ شَرْطٌ فَاسِدٌ ځکه چي د شرابو د قبلولو شرط فاسد شرط دی فَيَصِحُّ النِّكَاحُ وَيَلْغُو الشَّرْطُ نو نکاح به صحيح وي او شرط به لغو [فاسد] وي بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بيع لِأَنَّهُ يَبْطُلُ بِالشُّرُوْطِ الْفَاسِدَةِ ځکه چي بيع په فاسدو شرطونو سره باطليږي لٰكِنْ لَمْ تَصِحَّ التَّسْمِيَةُ ليکن [په دې صورت کي] تسميه [د مهر ټاکل] صحيح نه سو لِمَا أَنَّ الْمُسَمّٰى لَيْسَ بِمَالٍ فِيْ حَقِّ الْمُسْلِمِ ځکه چي ټاکل سوی شی [يعني شراب او خنزير] د مسلمان په حق کي مال نه دی فَوَجَبَ مَهْرُ الْمِثْلِ نو ځکه مهرِ مثل واجب سو.

اللغات: ﴿يَلْغُوْ﴾ د نصر مضارع ده: لغو کېدل، باطلېدل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو مسلمان په مهر کي خنزير يا شراب وټاکي. نو د هغه نکاح صحيح ده او ښځي ته به د خنزير يا شرابو پر ځای مهرِ مثل ورکوي: نکاح يې ځکه صحيح ده چي که څه هم خاوند د خنزير يا د شرابو د قبلولو شرط لګولی دی (کوم چي فاسد شرط دی). خو څرنګه چي نکاح په شروطِ فاسده وو سره نه فاسديږي، نو ځکه د دغه فاسد شرط هيڅ أثر پر نکاح نه پرېوځي او نکاح هغسي پاتيږي. خو د يو مسلمان په حق کي د خنزير د يا د شرابو تملّک او تمليک (يعني د خنزير يا شرابو مالک کېدل يا بل څوک د هغوی مالک کول) ناممکن دي. نو ځکه په مهر کي د هغوی ټاکل صحيح نه دي (يعني د هغوی تسميه صحيح نه ده) او د تسميې د نه صحيح کېدلو په صورت کي مهرِ مثل واجبيږي، نو ځکه به دلته هم مهرِ مثل واجبيږي.

بخلاف البيع إلخ: فرمايي چي څرنګه د بيع بنياد پر تنګی دی، نو ځکه بيع په شرطِ فاسد و سره فاسديږي. نو که يو مسلمان شراب يا خنزير په بيع کي د ثمن په توګه وټاکل، نو بيع فاسديږي. ليکن د نکاح دارومدار پر مسامحت او نرمۍ دی، نو ځکه نکاح په شرطِ فاسد سره نه فاسديږي.

د هغه صورت تفصيلي بيان چي کله مشارٌ إليه بالکل د مهر جوړېدلو صلاحيت نه لري

فَإِنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً عَلَىٰ هٰذَا الدَّنِّ مِنَ الْخَلِّ او که [يو سړي] د يو ښځي سره د سرکې پر دغه خُم نکاح وکړه فَإِذَا هُوَ خَمْرٌ خو هغه شراب وختل [يعني معلومه سوه چي هغه سرکه نه ده بلکي شراب دي] فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو د هغې لپاره به مهرِ مثل وي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز وَقَالَا: لَهَا مِثْلُ وَزْنِهِ خَلًّا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د هغې لپاره به د خُم د وزن په اندازه سرکه وي [يعني په خُم کي چي څومره سرکه راتلی سي، هغومره سرکه به ښځي ته ورکوي] وَإِنْ تَزَوَّجَهَا عَلَىٰ هٰذَا الْعَبْدِ او که هغه د ښځي سره پر غلام نکاح وکړه فَإِذَا هُوَ حُرٌّ خو هغه آزاد وختی يَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ❁ نو مهرِ مثل واجبيږي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: تَجِبُ الْقِيمَةُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي قيمت واجبيږي لِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ أَطْمَعَهَا مَالًا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي هغه [خاوند] ښځي ته د مال طمع ورکړه [يعني د مال (غلام) په لالچ يې راضي کړه] وَعَجَزَ عَنْ تَسْلِيمِهِ ليکن له ور سپارلو څخه يې عاجز سو فَتَجِبُ قِيمَتُهُ نو ځکه به د هغه قيمت واجبيږي أَوْ مِثْلُهُ إِنْ كَانَ مِنْ ذَوَاتِ الْأَمْثَالِ يا به يې مثل واجبيږي که چي هغه [تاکل سوی مال] له ذوات الأمثال څخه وي كَمَا إِذَا هَلَكَ الْعَبْدُ الْمُسَمَّىٰ قَبْلَ التَّسْلِيمِ لکه څرنګه چي په هغه صورت کي [قيمت واجبيږي] چي له ور سپارلو څخه مخکي تاکل سوی غلام هلاک سي وَأَبُو حَنِيفَةَ يَقُولُ: اِجْتَمَعَتِ الْإِشَارَةُ وَالتَّسْمِيَةُ او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [دلته] اشاره او تسميه دواړه سره جمع سوي دي فَتُعْتَبَرُ الْإِشَارَةُ نو اعتبار به د اشارې کيږي لِكَوْنِهَا أَبْلَغَ فِي الْمَقْصُودِ ځکه چي اشاره په مقصود کي زياته بليغه [رسېدلې] ده وَهُوَ التَّعْرِيفُ او مقصود تعريف [او پېژندګلوي] ده فَكَأَنَّهُ تَزَوَّجَ عَلَىٰ خَمْرٍ أَوْ حُرٍّ نو ګواکي خاوند [د ښځي سره] پر شرابو يا پر آزاد کس نکاح وکړه وَمُحَمَّدٌ يَقُولُ:

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الخانية (ج:١، ص:١٧٤)، وكـذا فـي الهندية (ج:١، ص:٣١١). [القول الراجح ج:١، ص: ٢٧٨]

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في فتح القدير (ج:٣، ص:٢٤٠)، وكذا في الخانية (ج:١، ص:١٧٤). [القول الراجح ج:١، ص:٢٧٨٠]

اَلْأَصْلُ أَنَّ الْمُسَمّٰى إِذَا كَانَ مِنْ جِنْسِ الْمُشَارِ إِلَيْهِ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: قاعده دا ده چي که مسمیٰ [تاكل سوى شى] د هغه شي له جنس څخه وي کوم ته چي اشاره سوې ده [يعني که مسمیٰ د مشار اليه له جنس څخه وي] يَتَعَلَّقُ الْعَقْدُ بِالْمُشَارِ إِلَيْهِ نو [په دې صورت کي] عقد د مشار اليه سره متعلق کيږي لِأَنَّ الْمُسَمّٰى مَوْجُودٌ فِي الْمُشَارِ إِلَيْهِ ذَاتًا ځکه چي [په دې صورت کي] مسمیٰ د ذات په اعتبار سره په مشار اليه کي موجود وي وَالْوَصْفُ يَتْبَعُهُ او وصف د ذات تابع کيږي وَإِنْ كَانَ مِنْ خِلَافِ جِنْسِهِ او که مسمیٰ د مشار اليه له جنس څخه خلاف وي [يعني له مشار اليه څخه يې جنس جلا وي] يَتَعَلَّقُ بِالْمُسَمّٰى نو [په دې صورت کي] عقد د مسمیٰ سره متعلق کيږي لِأَنَّ الْمُسَمّٰى مِثْلٌ لِلْمُشَارِ إِلَيْهِ ځکه چي [په دې صورت کي] مسمیٰ د مشار اليه مثل وي وَلَيْسَ بِتَابِعٍ لَهُ او د هغه تابع نه وي وَالتَّسْمِيَةُ أَبْلَغُ فِي التَّعْرِيفِ او تسميه په تعريف کي زياته بليغه ده مِنْ حَيْثُ أَنَّهَا تُعَرِّفُ الْمَاهِيَّةَ په دې حيثيت سره چي هغه د ماهيت تعريف [پيژندګلوي] کوي وَالْإِشَارَةُ تُعَرِّفُ الذَّاتَ [لېکن] اشاره د ذات تعريف کوي أَلَا تَرٰى أَنَّ مَنِ اشْتَرٰى فَصًّا عَلٰى أَنَّهُ يَاقُوتٌ آيا ته نه ګورې! چي که يو څوک پر دې شرط يو غمی رانيسي چي هغه ياقوت دی [يعني په دې نامه يو غمی رانيسي چي دا د ياقوتو غمی دی] فَإِذَا هُوَ زُجَاجٌ خو هغه ښيښه وي لَا يَنْعَقِدُ الْعَقْدُ لِاخْتِلَافِ الْجِنْسِ نو [په دې صورت کي] عقد نه منعقد کيږي د جنس د مختلف کېدلو په وجه وَلَوِ اشْتَرٰى عَلٰى أَنَّهُ يَاقُوتٌ أَحْمَرُ او که هغه پر دې شرط غمی رانيسي چي هغه سور ياقوت دی فَإِذَا هُوَ أَخْضَرُ خو هغه زرغون ياقوت وي يَنْعَقِدُ الْعَقْدُ لِاتِّحَادِ الْجِنْسِ نو عقد منعقد کيږي د جنس د يو والي په وجه وَفِي مَسْأَلَتِنَا الْعَبْدُ مَعَ الْحُرِّ جِنْسٌ وَاحِدٌ او زموږ په دې مسئله کي غلام د آزاد سره يو جنس دی لِقِلَّةِ التَّفَاوُتِ فِي الْمَنَافِعِ په منافعو کي د لږ توپير په وجه وَالْخَمْرُ مَعَ الْخَلِّ جِنْسَانِ او شرب د سرکې سره دوه جلا جنسونه دي لِفُحْشِ التَّفَاوُتِ فِي الْمَقَاصِدِ په مقصدونو کي د ډېر توپير په وجه.

اللغات: ﴿الدَّنّ﴾ خُم، غټ منګی، لوی خاورين لوښی چي ښخوا به خلکو سرکه يا اوبه يا شراب په کي ساتل. ﴿أَطْمَعَ﴾ د افعال ماضي ده: طمع ورکول، لالچ ورکول. ﴿تَعْرِيف﴾ د تفعيل مصدر دی:

ور پېژندل. ﴿تَسۡمِيَة﴾ د تفعيل مصدر دی: تاکل، نوم اخيستل، مقررول، ذکر کول (بيانول). ﴿مُشَارٌ إِلَيۡهِ﴾ د کوم شي وطرف ته چي اشاره وسي. ﴿مَاهِيَة﴾ حقيقت، اصليت. ﴿فَصّ﴾ غمی. ﴿يَاقُوت﴾ يو قسم قيمتي ډبره ده. ﴿زُجَاج﴾ شيشه، ښيښه. ﴿تَفَاوُت﴾ د تفاعل مصدر دی: توپير، فرق.

تشريح: په دې عبارت کي ذکر سوې مسئله د يو فقهي قاعدې سره تعلق لري. قاعده دا ده: "إِذَا اجۡتَمَعَتِ الۡإِشَارَةُ وَالۡعِبَارَةُ تُعۡتَبَرُ الۡإِشَارَةُ دُوۡنَ الۡعِبَارَة" يعني کله چي اشاره (يعني په اشاره سره يو شی [په مهر کي] تاکل) او عبارت (يعني تسميه، يعني د خولې په الفاظو سره يو شی تاکل) سره جمع سي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز مطلقاً د اشارې اعتبار کيږي او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز مطلقاً د تسميې اعتبار کيږي او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز که "مسمیٰ" د "مشارٌ اليه" له جنس څخه وي (يعني که "تاکل سوی شی" د هغه شي له جنس څخه وي "کوم ته چي اشاره سوې ده")، نو بيا به د اشارې اعتبار کيږي او که مسمیٰ (تاکل سوی شی) د مشارٌ اليه (کوم شي ته چي اشاره سوې ده) له جنس څخه نه وي بلکي جنس يې بدل وي، نو بيا به د مسمیٰ اعتبار کيږي.

اوس عبارت ته گوری! په عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که يو سړي د يو ښځي سره د نکاح کولو په وخت کي يو خُم ته اشاره وکړه او ويې ويل چي د سرکې دغه خُم ستا مهر دی (يعني په مهر کي دغه يو خُم سرکه درکوم)، لېکن کله چي وکتل سوه نو هغه خُم د سرکې پر ځای په شرابو ډک وو. نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر خاوند مهر مثل واجبيږي (يعني ښځي ته به مهرِ مثل ورکوي) او د صاحبينو په نېز پر خاوند د هغه خُم په اندازه سرکه واجبيږي (يعني ښځي ته به يو خُم سرکه ورکوي).

(۲)... دويمه مسئله دا ده که زيد (مثلاً) د زينب سره د نکاح کولو په وخت کي يو کس ته اشاره وکړه چي دا غلام ستا مهر دی، لېکن وروسته معلومه سوه چي هغه (مسمیٰ) کس غلام نه دی بلکي آزاد دی. نو د طرفينو په نېز په دې صورت کي پر خاوند (زيد) مهرِ مثل واجبيږي او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه د غلام قيمت واجبيږي.

د امام ابو يوسف دليل: څرنگه چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مطلقا د مسمیٰ (تسميې) اعتبار کوي نو د هغه دليل دا دی چي خاوند ښځي ته د مال لالچ او طمع ورکړه او د مال په طمع يې نکاح ته اماده کړه. لېکن کله چي په اوله مسئله کي د سرکې پر ځای شراب وه او په دويمه مسئله کي غلام آزاد

وختی نو په دې وجه خاوند د هغه مطموع مال پر اداء کولو قادر نه سو (يعني د کوم مال طمع چې يې ښځې ته ورکړې وه [چې هغه په اوله مسئله کي سرکه ده او په دويمه مسئله کي غلام دی] مسلمان خاوند د هغه پر ورکولو قدرت نه لري بلکي له دې څخه عاجز دی: ځکه چې شراب او آزاد مال نه دي او د مهر جوړېدلو صلاحيت نه لري). نو اوس که دغه مال له ذواتُ الأمثال څخه وو نو د هغه مثل به پر واجب وي. او که له ذواتُ القيم څخه وو نو د هغه قيمت به پر واجب وي. لهذا په اوله مسئله کي به پر هغه د خُم په اندازه سرکه واجب وي: ځکه چې سرکه له ذواتُ الأمثال څخه ده. او په دويمه مسئله کي به د غلام قيمت پر واجب وي: ځکه چې غلام له ذواتُ القيم څخه دی. لکه څرنګه چې په هغه وخت کي هم قيمت پر واجبيږي کله چې هغه واقعي غلام وي او له ورسپارلو څخه مخکي هلاک سي. او په داسي صورت کي مهرِ مثل نه واجبيږي، نو همداسي به په دويمه مسئله کي هم غلام واجبيږي، نه مهرِ مثل.

د امام صاحب دليل: امام صاحب رَحِمَهُ الله مطلقاً اشاره معتبره ګڼي. نو د هغه د دليل حاصل دا دی چې په دواړو مسئلو کي اشاره او تسميه سره جمع سوي دي (يعني په اوله او دويمه مسئله کي د اشارې په اعتبار سره مهر شراب او آزاد کس دی او د تسميې [تاکلو] په اعتبار سره سرکه او غلام دی) او کله چې اشاره او تسميه دواړه سره جمع سي او د دواړو مطلب جلا وي نو د اشارې اعتبار به کيږي: ځکه چې اشاره پر مقصود يعني د يو شي پر تعريف او پېژندګلوۍ زيات دلالت کوي، ځکه چې اشاره د "وضعُ اليد على الشئ" له قبيلې څخه ده (يعني پر يو شي لاس ايښول او يو شي ته ګوته نيول) او ښکاره خبره ده چې په لاس ايښولو سره يو شی بالکل د بل شي له احتمال څخه پاکيږي او همدا مقصود دي. نو ځکه به په هر صورت کي د اشارې اعتبار کيږي هغه که مسمیٰ د اشارې له جنس څخه وي او که نه وي.

لنډه دا چې کله د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز اشاره معتبره ده. نو په اوله مسئله کي مشار اليه شراب دي او په دويمه مسئله کي آزاد کس دي. نو داسي سو لکه له شروع څخه چې خاوند آزاد او شرابو ته اشاره کړې وي او هغه يې په مهر کي ټاکلي وي. او په داسي صورت کي مهرِ مثل واجبيږي (ځکه چې دا دواړه مال نه دي)، نو همداسي به په پورتني دوو مسئلو کي هم مهرِ مثل واجبيږي.

د امام محمد دليل: ومحمد يقول إلخ: د امام محمد رَحِمَهُ الله أصول مخکي تېر سو چې که مسمیٰ د مشار اليه له جنس څخه وي نو بيا به اشاره معتبره وي او د عقد تعلق به د اشارې سره وي. او که مسمیٰ د مشار اليه له جنس څخه نه وي نو بيا به مسمیٰ معتبر وي او د عقد تعلق به د مسمیٰ سره وي. (امام محمد ځکه فقط د مسمیٰ د جنس اعتبار کوي چې د هغه په نېز تسميه پر تعريف او پېژندګلوۍ زيات دلالت کوي. نه اشاره: وجه به يې وروسته بيان سي. اوس تاسو د هغه دليل ته ګورئ!)

د امام محمد رَحِمَهُ الله د دليل حاصل دا دی چي په اوله مسئله کي مسمیٰ د مشار اليه له جنس څخه نه دی (مسمیٰ سرکه ده او مشار اليه شراب دي؛ او جنس د حقيقت يو والي ته وايي او دلته د دواړو جنسونه سره جلا دي)، ځکه چي شراب جلا شی دی او سرکه جلا شی دی، شراب حرام دي او سرکه حلاله ده. شراب څوک نشه کوي او سرکه څوک نه نشه کوي بلکي نوريې تازه کوي. نو ديوه او بل په مقصد او جنس کي ډېر تفاوت دی، لهذا کله چي دلته (په اوله مسئله کي) د مسمیٰ او مشار اليه دواړو جنس سره جلا دی، نو ځکه به د مسمیٰ يعني د سرکې اعتبار کيږي او عقد به د هغې سره متعلق وي. خو څرنګه چي (په اوله مسئله کي) مسمیٰ (سرکه) نسته، نو ځکه به د هغې مثل پر خاوند واجبيږي؛ ځکه چي سرکه له ذواتُ الأمثال څخه ده.

او په دويمه مسئله کي مسمیٰ (غلام) د مشار اليه (آزاد) له جنس څخه دی، ځکه چي جنس د حقيقت يو والي ته وايي، او د دواړو حقيقت يو دی چي هغه "انسان" دی، او د دواړو په منافعو کي ډېر تفاوت نسته (نو ګواکي غلام د ذات "انسان والي" په اعتبار سره په آزاد کي موجود او د هغه تابع دی).
نو کله چي مسمیٰ د مشار اليه له جنس څخه سو، نو ځکه به د مشار اليه اعتبار کيږي، خو څرنګه چي مشار اليه آزاد دی، مال نه دی (او د مهر جوړېدلو قابل نه دی) نو ځکه به په دويمه مسئله کي پر خاوند مهرِ مثل واجبيږي.

والتسمية أبلغ إلخ: د امام محمد رَحِمَهُ الله د اُصول په ضمن کي موړ وويل چي د امام محمد په نيز تسميه پر تعريف زيات دلالت کوي او تسميه په پېژندګلوۍ کي زياته بليغه ده، په دې عبارت کي د هغه وجه بيانوي، تر هغه مخکي يو وار تاسي په "ذات" او "ماهيت" ځان پوه کړئ! **ذات**: کوم شی چي په خارج کي موجود وي او د هغه طرف ته اشاره کېدلای سي نو په منطق کي هغه شي ته "ذات" وايي. **ماهيت**: د کوم شي چي فقط نوم واخيستل سي او حقيقت يې بيان کړی سي نو دغه حقيقت ته "ماهيت" وايي (نو دلته په مسمیٰ کي [يعني په سرکه او غلام کي] ماهيت دی ځکه چي خاوند فقط د هغوی نوم اخيستی دی او حقيقت [يعني جنس] يې بيان کړی دی. او په اشاره [يعني په شراب او آزاد] کي ذات دی، ځکه چي په خارج کي هغوی موجود دي او خاوند اشاره ورته کړې ده).

نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز تسميه ځکه له اشارې څخه زيات پر تعريف دلالت کوي چي په تسميه سره د يو شي د ماهيت (حقيقت) تعريف کيږي (يعني په تسميه او نوم اخيستلو سره د يو شي ماهيت پېژندل کيږي چي هغه څه شي دی)، او په اشاره سره فقط د ذات (او خارج) تعريف کيږي. او د ماهيت تعريف د ذات له تعريف څخه اولیٰ او غوره دی، نو ځکه امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي کله د

دواړو جنس سره جلا وي نو په دې وخت کې به تسميه معتبره وي (ځکه چې حقيقت د ذات تابع نه سي جوړېدلای) او د عقد تعلق به د تسميې او ماهيت سره وي، او که داسې نه وي نو بيا به اشاره معتبره وي او د عقد تعلق به د اشارې سره وي.

ألا ترى أن إلخ: په دې سره د امام محمد رَحِمَهُ الله د أصول مطابق يو مثال بيانوي، مثال دا دی چې که يو څوک يو غمی رانيسي او په دې شرط يې رانيسي چې هغه د ياقوتو دی لېکن هغه ښيښه وي، نو عقد (بيع) فاسدېږي، ځکه مسمیٰ ياقوت دی او اشاره د ښيښې و طرف ته وسوه. او د دې دواړو جنس سره جلا دی. نو ځکه به د عقد تعلق د مسمیٰ (ياقوت) سره وي، او دلته ياقوت نسته، نو ځکه به بيع فاسده وي.

او که يو غمی په دې شرط رانيسي چې هغه سُور دی لېکن هغه زرغون وي، نو عقد (بيع) صحيح کېږي، ځکه چې د دواړو جنس يو دی، فقط په صفت کې يې فرق دی، نو ځکه به د عقد تعلق د مشار اليه (زرغون غمي) سره وي او صحيح به وي، خو څرنګه چې دلته د احمريت (سُور والي) وصف نسته، نو په دې وجه به مشتري ته د اخيستلو او نه اخيستلو اختيار وي. فقط والله أعلم وعلمهٔ أتم

که دوه غلامان په مهر کې وټاکل سي او په هغوی کې يو آزاد ثابت سي (حکم او اختلاف)

فَإِنْ تَزَوَّجَهَا عَلَى هٰذَيْنِ الْعَبْدَيْنِ او که [يو سړي] نکاح وکړه د ښځې سره پر دې دوو غلامانو فَإِذَا أَحَدُهُمَا حُرٌّ لېکن په هغو کې يو آزاد وختی فَلَيْسَ لَهَا إِلَّا الْبَاقِي إِذَا سَاوَى عَشَرَةَ دَرَاهِمَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو د ښځې لپاره به فقط پاته [غلام] وي په دې شرط چې [د هغه قيمت] د لسو درهمو سره برابر وي [او تر لسو درهمو کم نه وي] لِأَنَّهُ مُسَمًّى ځکه چې هغه [په مهر کې] ټاکل سوی دی [يعني دا باقي غلام مهرِ مسمیٰ دی] وَوُجُوبُ الْمُسَمَّى وَإِنْ قَلَّ يَمْنَعُ وُجُوبَ مَهْرِ الْمِثْلِ او مسمیٰ که څه هم کم وي د مهرِ مثل واجبېدل منع کوي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: لَهَا الْعَبْدُ وَقِيمَةُ الْحُرِّ لَوْ كَانَ عَبْدًا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د ښځې لپاره به [يو باقي] غلام وي او [بل به] د آزاد قيمت وي که هغه غلام فرض کړی سي لِأَنَّهُ أَطْمَعَهَا سَلَامَةَ الْعَبْدَيْنِ ځکه چې خاوند ښځې ته د دوو غلامانو د سلامتيا طمع ورکړه

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۲، ص:۳۸۰)، وكذا في الخانية (ج:۱، ص:۱۷۴).
[القول الراجح ج:۱، ص:۲۸۱]

وَعَجَزَعَنْ تَسْلِيمِ أَحَدِهِمَا او په هغوی کې د يوه له ور سپارلو څخه عاجزه سو فَتَجِبُ قِيمَتُهُ نو [ځکه] به د هغه قيمت واجبيږي وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی لَهَا الْعَبْدُ الْبَاقِي إِلَى تَمَامِ مَهْرِ مِثْلِهَا إِنْ كَانَ مَهْرُ مِثْلِهَا أَكْثَرَ مِنْ قِيمَةِ الْعَبْدِ چې د ښځې لپاره به پاته غلام وي د مهر مثل تر پوره کېدلو پورې، که چیرې د هغې مهر مثل د غلام تر قيمت زيات وي لِأَنَّهُمَا لَوْ كَانَا حُرَّيْنِ يَجِبُ تَمَامُ مَهْرِ الْمِثْلِ عِنْدَهُ ځکه که چیرې هغه دواړه [غلامان] آزاد وي نو د امام محمد په نېز پوره مهر مثل واجبيږي فَإِذَا كَانَ أَحَدُهُمَا عَبْدًا نو کله چې په دواړو کې يو غلام وي يَجِبُ الْعَبْدُ إِلَى تَمَامِ مَهْرِ الْمِثْلِ نو هم به د مهر مثل تر پوره کېدلو پورې غلام واجبيږي.

اللغات: ﴿سَاوَىٰ﴾ د مفاعلې ماضي ده: برابرېدل، مساوي کېدل، ﴿مسمّٰی﴾ د تفعيل اسم مفعول دی: نوم کښېښودل شوی، ﴿أَطْمَعَ﴾ د افعال ماضي ده: طمع ورکول، لالچ ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د نکاح په وخت کې دوو غلامانو ته اشاره وکړه او ښځې ته يې وويل چې په دغه دوو غلامانو نکاح در سره کوم (يعنې دا دواړه غلامان ستا مهر دی)، وروسته معلومه سوه چې په دواړو کې يو آزاد دی او بل غلام دی، نو په دې مسئله کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې که د غلام قيمت لس درهمه وي نو فقط هغه يو غلام پر خاوند واجب دی، او که قيمت يې تر لس درهمه کم وي نو هغه دې خاوند ور پوره کړي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې دلته خاوند تسميه او اشاره دواړه سره جمع کړي دي، او په داسې صورت کې اشاره معتبره وي، خو څرنګه چې د آزاد والي په وجه په يوه مشار اليه کې اشاره معدومه ده، نو ځکه به هغه له عقد څخه خارج وي، او پاته مشار اليه (يو غلام) به مهر جوړيږي؛ ځکه چې هغه د مشار اليه تر څنګ مسمیٰ هم دی، او د مسمیٰ د وجوب په صورت کې مهر مثل نه واجبيږي؛ ځکه چې مهر مثل د مسمیٰ بدل دی، او بدل او مبدل يو ځای نه سي سره جمع کېدلای، نو ځکه به يوازې هغه غلام واجب وي، په دې شرط چې قيمت يې تر لس درهمه کم نه وي.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې پر خاوند غلام هم واجب دی او د آزاد قيمت هم پر واجب دی، يعنې آزاد به به غلام فرض کيږي او د قيمت اندازه به يې معلومول کيږي، څومره قيمت چې يې را ووځي هغومره قيمت هم پر خاوند واجب دی.

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چي خاوند ښځي ته ـ دوو غلامانو طمع او لالچ ورکړی دی او د دوو غلامانو په طمع يې ښځه پر نکاح راضي کړې ده، خو ځرنګه چي خاوند د يوه د آزادوالي په وجه د هغه له ورسپارلو څخه عاجز دی، نو ځکه به د هغه قيمت واجب وي.

او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي (او همدا د امام صاحب رَحِمَهُ الله يو روايت دی) چي پر خاوند غلام واجب دی د مهرِ مثل تر پوره کېدلو پوري، يعني که د دې يوه غلام قيمت د ښځي د مهرِ مثل په اندازه وي نو يوازي همدا غلام پر هغه واجب دی، لېکن که د هغه قيمت د ښځي تر مهرِمثل کم وي مثلاً د ښځي مهرِ مثل زر (۱۰۰۰) درهمه وي او د غلام قيمت اته سوه (۸۰۰) درهمه وي نو خاوند به ښځي ته د غلام سره دوه سوه (۲۰۰) درهمه نور ورکوي چي د هغې مهرِ مثل پوره سي.

د امام محمد دليل: دا دی چي که دغه دواړه غلامان آزاد وای نو بيا به پر خاوند پوره مهرِمثل واجب وای، لهذا کله چي دلته په هغو کي صرف يو آزاد دی نو هم به پر خاوند د مهرِ مثل تر پوره کېدلو پوري يو غلام واجب وي، يعني که په دغه يوه غلام سره د ښځي مهرِ مثل پوره کېدی نو ښه خبره ده! او د دې غلام ورکول به داسي وي لکه مهرِ مثل ورکول، لېکن که په غلام سره د ښځي مهرِ مثل نه پوره کېدی نو يو څه خوشمري به نوري ورکوي چي مهرِ مثل يې پوره سي (او که مهرِ مثل د غلام تر قيمت هم کم وي، نو بيا د غلام قيمت غوره دی).

په نکاحِ فاسد کي تر تفريق وروسته د مهر احکام

وَإِذَا فَرَّقَ الْقَاضِي بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ فِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ قَبْلَ الدُّخُولِ او کله چي قاضي د ښځي او خاوند تر مينځ په نکاحِ فاسد کي تر دخول مخکي تفريق وکړي فَلَا مَهْرَلَهَا نو د ښځي لپاره به مهر نه وي لِأَنَّ الْمَهْرَ فِيهِ لَا يَجِبُ بِمُجَرَّدِ الْعَقْدِ لِفَسَادِهِ ځکه چي مهر په نکاحِ فاسد کي محض په عقد سره نه واجبيږي، د عقد د فساد په وجه وَإِنَّمَا يَجِبُ بِاسْتِيفَاءِ مَنَافِعِ الْبُضْعِ بلکي [په نکاحِ فاسد کي] د بضع د منافعو په حاصلولو سره مهر واجبيږي وَكَذَا بَعْدَ الْخَلْوَةِ او همدارنګه [په نکاحِ فاسد کي] تر خلوتِ [صحيحه] وروسته هم مهر نه واجبيږي لِأَنَّ الْخَلْوَةَ فِيهِ لَا يَثْبُتُ بِهَا التَّمَكُّنُ ځکه په نکاحِ فاسد کي په خلوت سره قدرت [پر وطي] نه ثابتيږي فَلَا تُقَامُ مَقَامَ الْوَطْءِ نو ځکه به خلوت د وطي نه قائم مقام کيږي فَإِنْ دَخَلَ بِهَا او که خاوند په ښځي دخول وکړي فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا لَا يُزَادُ عَلَى الْمُسَمّٰى عِنْدَنَا نو د هغې لپاره به مهرِ مثل وي چي هغه به زموږ په نيز پر مهرِ مسمیٰ نه زياتول کيږي خِلَافًا

لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله هُوَ يَعْتَبِرُهُ بِالْبَيْعِ الْفَاسِدِ هغه دا [نكاحِ فاسد] پر بيعِ فاسد قياسوي وَلَنَا: أَنَّ الْمُسْتَوْفَى لَيْسَ بِمَالٍ او زموږ دليل دا دی: چي حاصل سوی شی [يعني بضع] مال نه دی وَإِنَّمَا يَتَقَوَّمُ بِالتَّسْمِيَةِ بلكي هغه خو [د مهر] په ټاكلو سره قيمتداره كيږي [يعني بضع هغه وخت مال گرځي كله چي يې په عوض كي مهر وټاكل سي] فَإِذَا زَادَتْ عَلَى مَهْرِ الْمِثْلِ لهذا كله چي تسميه [ټاكل سوی مهر] پر مهرِ مثل زيات سي لَمْ تَجِبِ الزِّيَادَةُ نو زياتوب به نه واجبيږي [يعني تر مهرِ مسمىٰ به زيات مهر ښځي ته نه وركول كيږي] لِعَدَمِ صِحَّةِ التَّسْمِيَةِ ځكه چي تسميه صحيح نه ده وَإِنْ نَقَصَتْ لَمْ تَجِبِ الزِّيَادَةُ عَلَى الْمُسَمَّى او كه تسميه اله مهرِ مثل]څخه كمه سي نو هم به پر مسمىٰ زياتوب نه واجبيږي لِانْعِدَامِ التَّسْمِيَةِ ځكه چي [تر دې زياته] تسميه نسته بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بيع لِأَنَّهُ مَالٌ مُتَقَوِّمٌ فِي نَفْسِهِ ځكه چي بيع [يعني په بيع كي بدل] بذاتهٖ متقوم [قيمتداره] مال وي فَيَتَقَدَّرُ بَدَلُهُ بِقِيمَتِهِ نو د هغه بدل به په خپل قيمت سره اندازه كيږي وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ او [په نكاحِ فاسد كي تر تفريق وروسته] پر ښځي عدت واجب دی إِلْحَاقًا لِلشُّبْهَةِ بِالْحَقِيقَةِ فِي مَوْضِعِ الِاحْتِيَاطِ د حقيقي نكاح سره د شبهةُ النكاح په لاحقولو سره د احتياط په ځايونو كي وَتَحَرُّزًا عَنِ اشْتِبَاهِ النَّسَبِ او د نسب له اشتباه [او شك] څخه د ځان ساتلو لپاره.

اللغات: ﴿فَرَّقَ﴾ د تفعيل ماضي ده: يو له بل څخه بېلول، جلا كول. ﴿مُجَرَّد﴾ محض، فقط، يوازي. ﴿إِسْتِيْفَاء﴾ په پوره توگه (حق) اخيستل، په پوره توگه حاصلول. ﴿بُضْع﴾ د ښځي فرج (شرمگاه). جمع يې "أَبْضَاع" راځي لكه د "قُفْل" جمع چي "أَقْفَال" راځي. ﴿التَّمَكُّن﴾ د تفعّل مصدر دی: قدرت پيدا كول. ﴿مُسْتَوْفَى﴾ د استفعال اسمِ مفعول دی: په پوره توگه حاصل سوی شی. مراد ځني "بضع" او "دبضع منافع" دي. ﴿يَتَقَوَّمُ﴾ د تفعّل مضارع ده: قيمتداره كېدل، د قيمت خاوند جوړېدل (قيمتي كېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو سړي ديو ښځي سره نكاحِ فاسد (فاسده نكاح) وكړه. مثلاً له گواهانو څخه بغير يې ديو ښځي سره نكاح وكړه. يا يې خپلي ښځي ته طلاق وركړی او بيا يې د هغې په عدت كي د هغې د خور سره نكاح وكړه. يا يې د څلورمي ښځي په عدت كي د پنځمي ښځي سره نكاح وكړه. يا داسي يو بل صورت يې اختيار كړی چي په هغه سره نكاح فاسديږي، او بيا په دې

صورت کې خاوند تر اوسه په ښځې دخول کړی نه وو چې د قاضي په حکم سره د دوی په مينځ کې تفريق واقع وسو او خاوند او ښځه يو له بل څخه جلا کړی سوه، نو په دې صورت کې پر خاوند هيڅ مهر نه واجبيږي او ښځې ته به يوه ذره مهر هم نه ورکوي؛ دليل يې دا دی چې په نکاحِ فاسد کې محض په عقد (يعني محض د نکاح په تړون) سره مهر نه واجبيږي ځکه چې عقد (تړون) فاسد دی، بلکې مهر د بضع د منافعو په حصول سره (يعني په دخول او وطي) سره واجبيږي، او دليل دا حديث دی: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ. فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ لِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا" (يعني کومه ښځه چې د خپل ولي له اجازې څخه بغير نکاح وکړي نو د هغې نکاح باطله ده، لېکن که خاوند په هغې دخول وکړي نو د هغې لپاره به مهر وي، په دې وجه چې خاوند د هغې شرمګاه حلاله وګڼله)، له دې حديث څخه معلومه سوه چې په باطله او فاسده نکاح کې مهر فقط په دخول سره واجبيږي، نه په عقد او خلوت سره.

وكذا بعد الخلوة إلخ: مخکې ذکر سوه چې که څوک د خپلې ښځې سره خلوتِ صحيحه وکړي نو دغه خلوت د وطي قائم مقام کيږي او د دې په وجه پر هغه د ښځې مهر واجبيږي، لېکن څرنګه چې د نکاحِ فاسد ښځه په حقيقت کې خپله ښځه نه ده، نو ځکه به د هغې سره خلوتِ صحيحه کول د وطي نه قائم مقام کيږي، لهذا کله چې په نکاحِ فاسد کې د ښځې سره خلوتِ صحيحه د وطي قائم مقام نه دی، نو د هغه په وجه به مهر هم نه واجبيږي (ځکه چې مهر په هغه خلوت سره واجبيږي کوم چې د وطي او دخول قائم مقام وي).

فإن دخل بها إلخ: لېکن که خاوند په نکاحِ فاسد کې د ښځې سره وطي وکړي او دخول په وکړي، نو بيا زمونږ په نيز د مخکني حديث په وجه پر خاوند مهرِ مثل واجبيږي، خو دا مهرِ مثل به پر مهرِ مسمیٰ (تاکل سوي مهر) نه زياتول کيږي، لنډه دا چې په مهرِ مثل او مهرِ مسمیٰ کې چې کوم يو کم وي هغه پر خاوند واجبيږي. مثلاً که د نکاح په وخت کې پنځه سوه درهمه تاکل سوي وي او مهرِ مثل د ښځې شپږ سوه وي نو پنځه سوه درهم واجبيږي، او که د نکاح په وخت کې پنځه سوه درهمه تاکل سوي دي او مهرِ مثل يې څلور سوه وي نو څلور سوه واجبيږي. (اثمار الهداية ج:۴، ص:۲۱۳)

خو امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې په هر صورت کې مهرِ مثل واجبيږي هغه که هر څومره تر مهرِ مسمیٰ زيات وي؛ د هغه دليل دا دی چې کله يو څوک فاسده بيع وکړي نو پر هغه د مبيع (بازاري) قيمت واجبيږي هغه که هر څومره زيات وي، نو همداسې به نکاح هم وي چې که څوک فاسده نکاح

وکړي او بضع استعمال کړي نو پر هغه به خاص د بضع قیمت (مهر مثل) واجبیږي هغه که هر څومره وي.

ولنا الخ: زموږ دلیل دا دی چې په نکاحِ فاسد کې په دخول سره مهر واجبیږي؛ ځکه چې مستوفیٰ یعني بضع د مبیع په څیر مُتقوّم (قیمت لرونکی) مال نه دی، او بضع هغه وخت مُتقوّم مال ګرځي کله چې د نکاح په وخت کې د بضع په عوض کې مهر وټاکل سي، خو څرنګه چې دغه نکاح فاسده ده (او په فاسده نکاح کې په دخول سره مهرِ مثل واجبیږي) نو ځکه به اوس د بضع تقوّم په مهرِ مثل سره وي، او څرنګه چې تسمیه هم فاسده ده، نو ځکه به مهرِ مثل تر مسمیٰ نه زیاتول کیږي (یعني تر مسمیٰ به زیات مهر نه ورکول کیږي).

او که تسمیه (مهرِ مسمیٰ) له مهرِ مثل څخه کم وي او مهرِ مثل زیات وي نو د مهرِ مثل د پوره کولو لپاره به نور زیات مهر ښځې ته نه ورکول کیږي؛ ځکه چې تر مسمیٰ د زیات مهر لپاره تسمیه معلومه ده (یعني دغومره مهر ټاکل سوی دی او تر دې یو ذره هم نه دي زیات کړی سوی) نو څرنګه به زیاتوب صحیح سي، او بله خبره دا ده چې کله ښځه په مهرِ مسمیٰ (کوم چې تر مهرِ مثل کم دی) راضي ده نو ګواکي د خپل حق په کمولو راضي ده (او د خپل حق په کمولو کې پر ښځې هیڅ اعتراض نه سي کېدای).

بخلاف البیع الخ: د امام زفر رَحِمَهُ الله د قیاس جواب ورکوي چې په بیع کې مبیع په خپله مال دی، او داسې نه ده لکه بضع چې په مال جوړولو سره مال جوړیږي، نو ځکه به د بیع د فساد په صورت کې (د بازار) په قیمت سره به د مبیع اندازه لګول کیږي او هغه به ورکول کیږي، لهذا په بیع باندې نکاح قیاسول صحیح نه دي.

وعلیها العدة الخ: د دې حاصل دا دی چې کله خاوند په نکاحِ فاسد کې د قاضي له تفریق څخه مخکې په ښځې دخول وکړي نو احتیاطاً تر تفریق وروسته پر ښځې عدت واجبیږي ځکه چې د حقیقي او صحیح نکاح په څیر په نکاحِ فاسد کې هم د نکاح شبه سته، او قاعده دا ده چې د احتیاط په ځایونو کې شبه د حقیقت پر ځای دریږي او پر شبهې د حقیقت حکم جاري کیږي. نو څرنګه چې په حقیقي نکاح کې تر وطي (دخول) وروسته په تفریق یا طلاق سره پر ښځې عدت واجبیږي، همدارنګه به په نکاح فاسد کې هم عدت واجبیږي چې په احتیاط عمل وسي او نسب له شبهې څخه وساتل سي او د نبي کریم ﷺ له دغه وعید څخه هم په أمن سي: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَسْقِيَنَّ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ".

په نکاحِ فاسد کې د عدت شروع کېدلو وخت

وَيُعْتَبَرُ ابْتِدَاؤُهَا مِنْ وَقْتِ التَّفْرِيقِ او د عدت ابتداء د تفريق له وخت څخه معتبره ده لَا مِنْ آخِرِ الْوَطَآتِ نه له آخري وطي څخه هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده لِأَنَّهَا تَجِبُ بِاعْتِبَارِ شُبْهَةِ النِّكَاحِ ځکه چې عدت د شبهِ نکاح په اعتبار سره واجبيږي وَرَفْعُهَا بِالتَّفْرِيْقِ او دا شبهه [د نکاح] په تفريق سره ختميږي وَيَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا او د ښځې د بچي نسب به [د خاوند سره] ثابتيږي لِأَنَّ النَّسَبَ يُحْتَاطُ فِي إِثْبَاتِهِ إِحْيَاءً لِلْوَلَدِ ځکه چې د نسب په ثابتولو کې احتياط کيږي د بچي د ژوندي ساتلو لپاره فَيَتَرَتَّبُ عَلَى الثَّابِتِ مِنْ وَجْهٍ نو پر من وجه ثابت سوي نکاح به [هم] نسب مرتب کيږي وَتُعْتَبَرُ مُدَّةُ النَّسَبِ مِنْ وَقْتِ الدُّخُوْلِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د دخول له وخت څخه د نسب د مودې اعتبار کيږي وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى او پر همدغه فتویٰ ده لِأَنَّ النِّكَاحَ الْفَاسِدَ لَيْسَ بِدَاعٍ إِلَيْهِ ځکه چې نکاحِ فاسد د دخول وطرف ته بلونکې نه ده وَالْإِقَامَةُ بِاعْتِبَارِهِ او قائم مقام کېدل [د نکاح پر ځای د وطي] په همدغه اعتبار سره دي [چې نکاح به د وطي وطرف ته داعي او بلونکې وي].

اللغات: ﴿التَّفْرِيْق﴾ د تفعيل مصدر دی: جلا کول (د خاوند او ښځې په مينځ کې طلاق واقع کول)، ﴿إِحْيَاء﴾ د إفعال مصدر دی: ژوندی ساتل (ژوندی لرل)، ژوند ور کول، ﴿دَاعٍ﴾ د نصر اسمِ فاعل دی: را بلونکی، راغوښتونکی.

تشريح: په تېر عبارت کې دا مسئله بيان سوه چې که په نکاحِ فاسد کې خاوند د ښځې سره وطي وکړي نو د نسب د ساتنې په خاطر احتياطاً پر ښځې عدت واجبيږي، په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ الله د عدت واجبېدلو د وخت په باره کې بيان کوي، فرمايي چې د صحيح قول مطابق په نکاحِ فاسد کې پر ښځې تر تفريق وروسته عدت واجبيږي، يعني په کومه ورځ چې قاضي د ښځې او خاوند تر مينځ تفريق وکړي، نو له هغه ورځې څخه د ښځې عدت شروع کيږي، له آخري وطي څخه نه شروع کيږي (يعني په کومه ورځ چې خاوند آخري وطي ورسره کړي وي له هغه ورځې څخه يې عدت نه شروع کيږي) لکه څرنګه چې د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی، صاحب د هدايې د "هُوَ الصَّحِيْح" په قيد سره د هغه له قول څخه احتراز کړی دی. نو د مسئلې صورت دا دی چې که يو سړي په نکاحِ فاسد کې يوه مياشته مخکې د ښځې سره وطي کړې وي او بيا تر هغه (يوې مياشتې) وروسته قاضي د دوی په مينځ کې تفريق وکړی، نو د دغه ښځې عدت د تفريق له ورځې څخه (يعني تر آخري وطي يوه مياشته

وروسته) شروع کيږي، له آخري وطي څخه (يعني يوه مياشته مخکې) نه شروع کيږي: دليل دا دی چي په نکاحِ فاسد کي د نکاح شبهه سته او عدت د دغه شبهي په وجه واجبيږي او دغه شبهه په تفريق سره ختميږي، نو ځکه به عدت هم له تفريق څخه شروع کيږي.

ويثبت إلخ: د دې حاصل دا دی چي که په نکاحِ فاسد کي ښځه د خاوند په وطي سره حامله سي، نو د دې ښځي د کوچني نسب د همدغه خاوند سره ثابتيږي؛ دليل دا دی چي د کوچني د پالني او تربيت کولو او د هغه د ژوندي ساتلو لپاره د نسب په ثابتولو کي احتياط کيږي؛ ځکه که د دې خاوند سره د کوچني نسب ثابت نه سي، نو کوچنی به بې نسبه پاته سي او د هغه د روزني او پالني لپاره به څوک نه وي نو په دې توګه به هغه ضائع سي، لهذا کومه نکاح چي فقط من وجه ثابته وي (لکه نکاحِ فاسد چي من وجه ثابته ده) نو په هغه سره به هم نسب ثابتيږي، د دې لپاره چي کوچنی بې نسبه پاته نه سي.

وتعتبر إلخ: په نکاحِ صحيح کي چي له کوم وخت څخه نکاح تړل سوې وي له هغه وخت څخه د کوچني نسب ثابتيږي، لېکن په نکاحِ فاسد کي به د دخول له وخت څخه د کوچني نسب ثابتيږي، دا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی، لېکن شيخين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د نکاحِ صحيح په څېر به په نکاحِ فاسد کي هم د نکاح له وخت څخه د کوچني نسب ثابتيږي، نو که د نکاحِ فاسد له وخت څخه شپږ مياشتي وروسته کوچنی پيدا سي لېکن د دخول له وخت څخه يې شپږ مياشتي نه پوره کيږي، نو د شيخينو په نېز (د دې خاوند سره د کوچني) نسب ثابتيږي او د امام محمد په نېز نه ثابتيږي، او فتوىٰ هم د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول ده، او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله قياس صحيح نه دی، ځکه چي په نکاحِ صحيح کي وطي حلال او روا دي او نکاحِ صحيح د وطي و طرف ته داعي او بلونکې نکاح ده، نو په دې وجه به هغه د وطي قائم مقام منل کيږي او د نکاح له وخت څخه به په هغه (نکاحِ صحيح) کي نسب ثابتيږي، لېکن په نکاحِ فاسد کي وطي حرام او ناروا دي او هغه د وطي و طرف ته بلونکې نکاح نه ده، نو هغه به د وطي قائم مقام هم نه وي، لهذا په هغه (نکاحِ فاسد) کي به فقط د وطي او دخول له وخت څخه نسب ثابتيږي.

د مهرِ مثل بيان

قَالَ: وَمَهْرُ مِثْلِهَا يُعْتَبَرُ بِأَخَوَاتِهَا وَعَمَّاتِهَا وَبَنَاتِ أَعْمَامِهَا فرمايي: او د ښځي مهرِ مثل به قياسول کيږي د هغې پر خوندو او امه ګانو او د اکا پر لونو لِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ: لَهَا مَهْرُ مِثْلِ نِسَائِهَا لَا وَكْسَ فِيهِ وَلَا شَطَطَ د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې قول په وجه: چي د ښځي لپاره به د خپلو ښځو په څېر مهر وي چي نه به په هغه کي څه کمي کيږي او نه څه زياتوب وَهُنَّ أَقَارِبُ الْأَبِ او هغه اخپلې ښځې) د پلار نژدې قريباني دي وَلِأَنَّ الْإِنْسَانَ مِنْ جِنْسِ قَوْمِ أَبِيهِ او ځکه چي انسان د خپل پلار د

قوم له جنس څخه وي وَقِيْمَةُ الشَّيْءِ إِنَّمَا تُعْرَفُ بِالنَّظَرِ فِي قِيْمَةِ جِنْسِهِ او د شي قيمت د هغه د جنس په قيمت کي په نظر [او غور] کولو سره معلوميږي وَلَا يُعْتَبَرُ بِأُمِّهَا وَخَالَتِهَا إِذَا لَمْ تَكُونَا مِنْ قَبِيْلَتِهَا او د ښځي پر مور او خاله به [د هغې] مهر نه قياسول کيږي که چيري هغوی د ښځي له قبيلې څخه نه وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی فَإِنْ كَانَتِ الْأُمُّ مِنْ قَوْمِ أَبِيْهَا بِأَنْ كَانَتْ بِنْتَ عَمِّهِ لیکن که مور د ښځي د پلار له قوم څخه وي په دې توګه چي د پلار دا کالور وي فَحِيْنَئِذٍ يُعْتَبَرُ بِمَهْرِهَا نو په دې وخت کي به [د ښځي مهر] د مور پر مهر قياسول کيږي لِمَا أَنَّهَا مِنْ قَوْمِ أَبِيْهَا ځکه چي [په دې صورت کي] مور د هغې د پلار له قوم څخه ده وَيُعْتَبَرُ فِي مَهْرِ الْمِثْلِ أَنْ تَتَسَاوَى الْمَرْأَتَانِ او اعتبار به کيږي په مهر کي د دې چي دواړي ښځي به برابري وي فِي السِّنِّ وَالْجَمَالِ وَالْمَالِ وَالْعَقْلِ وَالدِّيْنِ وَالْبَلَدِ وَالْعَصْرِ په عمر، ښايست، عقل، دين، ښار او زمانه کي لِأَنَّ مَهْرَ الْمِثْلِ يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ هٰذِهِ الْأَوْصَافِ ځکه چي د دې اوصافو په بدلېدو سره مهر مثل هم بدليږي وَكَذَا يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الدَّارِ وَالْعَصْرِ او همدارنګه د ملک او زماني په بدلېدلو سره هم مهر مثل بدليږي قَالُوا: وَيُعْتَبَرُ التَّسَاوِيُ أَيْضًا فِي الْبَكَارَةِ فقهاء فرمايي: چي په بکارت کي هم برابري ضروري ده لِأَنَّهُ يَخْتَلِفُ بِالْبَكَارَةِ وَالثُّيُوْبَةِ ځکه چي په باکره کېدلو او ثيبه کېدو سره هم مهر مثل بدليږي.

اللغات: ﴿عَمَّات﴾ جمع د "عَمَّة" ده: امه (د پلار خور)، ﴿أَعْمَام﴾ جمع د "عَمٌّ" ده: اکا (د پلار ورور)، ﴿وَكْس﴾ د ضرب مصدر دی، وَكَسَ يَكِسُ وَكْسًا: کمېدل، لږېدل، ﴿شَطَط﴾ دا هم د ضرب مصدر دی، شَطَّ يَشِطُّ شَطًّا وَ شَطَطًا: زياتوب کول، له حد څخه تجاوز کول، ﴿أَقَارِب﴾ جمع د "أَقْرَب" ده: ډېر نژدې، مراد څني د انسان نژدې قريبان او خپلوان دي، او د "قَرِيْب" جمع بيا "أَقْرِبَاء" راځي، ﴿الدَّار﴾ کور، دلته څني مراد ملک او هيواد دی، او کله نا کله دارُ الاسلام او دارُ الحرب څني مراديږي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نيز به د ښځي مهر مثل د ښځي د خاندان پر هغه ښځو قياسول کيږي چي د هغو نسبت د پلار و طرف ته کيږي، مثلاً خور، امه، دا کالور او داسي نور، نو د هغو مهرونه چي څومره وي د هغه مطابق به د ښځي مهر ټاکل کيږي، او همدې ته "مهر مثل" وايي، او په دې باره کي زموږ حجت د حضرت ابن مسعود رَضِيَ الله قول دی کوم چي په کتاب ذکر سو يعني: "لَهَا مَهْرُ مِثْلِ نِسَائِهَا" او په دې سره موږ په دې توګه دليل نيسو چي په دې کي د ښځي نسبت د

خپلو ښځو (نسائها) و طرف ته سوې دې، او څرنګه چې په نسب کې د پلار اعتبار کيږي نو له خپلو ښځو څخه به مراد هغه ښځې وې چې د هغو نسبت د ښځې د پلار و طرف ته کيږي او د هغو مهرونه به د ښځې د مهرِ مثل لپاره أصل او بنياد ګڼل کيږي.

عقلي دليل دا دی چې پلار ته منسوبه ښځې د پلار د قوم له جنس څخه وي، او دا ښکاره خبره ده چې کله څوک د يو شي قيمت معلومول غواړي نو هغه به د دغه شي د جنس قيمت ته ګوري، نو همداسې به د ښځې د مهر معلومولو لپاره هم د هغه ښځو ومهر ته کتل کيږي کوم چې د پلار وطرف ته منسوبه وي.

ولا تعتبرالخ: فرمايي که د يو ښځې مور او خاله د پلار له خاندان څخه نه وي نو د دې ښځې مهرِ مثل به د هغو پر مهرونو نه قياسول کيږي؛ د مخکنې دليل په وجه، يعني د يو شي قيمت د هغه په جنس سره معلوميږي او دلته په جنس کې تغير او اختلاف دی، او که د ښځې مور يا خاله د پلار له خاندان څخه وي مثلاً د پلار د اکالور وي، نو په دې صورت کې قياسول کېدای سي او د مور يا خاله مهر د ښځې لپاره مهرِ مثل جوړېدای سي.

ويعتبرالخ: فرمايي چې په مهرِ مثل کې به د دې اعتبار هم کيږي چې دغه دواړې ښځې به په اوو (۷) شيانو کې سره مساوي او برابرې وي: ① عمر، ② ښکلا، ③ مال، ④ عقل، ⑤ دين، ⑥ ښار، ⑦ زمانه، ځکه چې د دغه شيانو په اختلاف او تفاوت سره په مهر کې هم تفاوت راځي، ځکه چې د پېغلو ښځو مهر د زړو ښځو تر مهر زيات وي، همدارنګه که يوه ښځه د افغانستان وي او بله د عربستان وي نو د دواړو په مهر کې ډېر فرق وي، همدارنګه که د دوو ښځو زمانه سره جلا وي، نو هم يې په مهر کې فرق راځي.

قالوا ويعتبرالخ: له پورتني اوو (۷) شيانو څخه بغير د ځينو علماؤ په نېز په بکارت او ثيوبت کې هم مساوات ضروري دي، يعني دواړې ښځې به باکرې وي يا دواړې به ثيّبې وي؛ د دې وجه دا ده چې د باکرې مهر هم د ثيّبې په مقابله کې زيات وي او په ثيوبت سره د بضع په قيمت کې ډېر بدلون راځي، نو ځکه به په دې کې هم برابري او مساوات ضروري وي.

د مهر د ضمانت اخيستلو بيان

وَإِذَا ضَمِنَ الْوَلِيُّ الْمَهْرَ او کله چي ولي [د ښځي لپاره] د مهر ضامن سي صَحَّ ضَمَانُهُ نو د هغه ضمان [ضامن کېدل] صحيح دي لِأَنَّهُ مِنْ أَهْلِ الِالْتِزَامِ ځکه چي هغه پر خپل ځان [د يو شي] د لازمولو أهل دی [ځکه چي عاقل او بالغ دی] وَقَدْ أَضَافَهُ إِلَى مَا يَقْبَلُهُ [همدارنګه] هغه د داسي شي وطرف ته ضمان منسوب کړی دی کوم چي ضمان قبلوي فَيَصِحُّ نو ځکه به [د هغه] ضمان صحيح وي ثُمَّ الْمَرْأَةُ بِالْخِيَارِ فِي مُطَالَبَتِهَا زَوْجَهَا أَوْ وَلِيَّهَا بيا ښځي ته اختيار دی له خپل خاوند څخه په مطالبه کولو کي يا له خپل ولي څخه [په مطالبه کولو کي] اعْتِبَارًا بِسَائِرِ الْكَفَالَاتِ پر ټولو کفالاتو باندي په قياس کولو سره وَيَرْجِعُ الْوَلِيُّ إِذَا أَدَّى عَلَى الزَّوْجِ إِنْ كَانَ بِأَمْرِهِ او ولي به پر خاوند رجوع کوي کله چي مهر اداء کړي [په دې شرط] که چيري د هغه په حکم سره وي [يعني که چيري ولي د خاوند په حکم سره د مهر ضامن سوی وي او مهر يې اداء کړی وي، نو تر اداء کولو وروسته به د خپل حق د طلب لپاره خاوند ته رجوع کوي] كَمَا هُوَ الرَّسْمُ فِي الْكَفَالَةِ لکه څرنګه چي په کفاله کي همدا دستور [او قانون] دی وَكَذَلِكَ يَصِحُّ هَذَا الضَّمَانُ وَإِنْ كَانَتِ الزَّوْجَةُ صَغِيرَةً او همدارنګه دا ضمان صحيح دی که څه هم ماينه کوچنۍ نجلۍ [نابالغه] وي بِخِلَافِ مَا إِذَا بَاعَ الْأَبُ مَالَ الصَّغِيرَةِ وَضَمِنَ الثَّمَنَ په خلاف د هغه صورت کله چي پلار د کوچنۍ نجلۍ مال خرڅ کړي او [د هغې لپاره] د ثمن ضامن سي لِأَنَّ الْوَلِيَّ سَفِيرٌ وَمُعَبِّرٌ فِي النِّكَاحِ ځکه چي ولي په نکاح کي استازی او ترجمان وي وَفِي الْبَيْعِ عَاقِدٌ وَمُبَاشِرٌ او په بيع کي عقد کونکی او په خپله کار کونکی وي حَتَّى تَرْجِعَ الْعُهْدَةُ عَلَيْهِ وَالْحُقُوقُ إِلَيْهِ همدا وجه ده چي [په بيع کي] ذمه واري او حقوق [ټوله] د هغه وطرف ته راجع کيږي وَيَصِحُّ إِبْرَاؤُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ او صحيح دي د ولي [پلار] بري کول د طرفينو په نېز [يعني د طرفينو په نېز دا صحيح دي چي پلار مشتري له ثمن څخه بري کړي] وَيَمْلِكُ قَبْضَهُ بَعْدَ بُلُوغِهِ او د صغير تر بلوغت وروسته هم هغه [پلار] پر ثمن د قبضه کولو ملکيت لري فَلَوْ صَحَّ الضَّمَانُ يَصِيرُ ضَامِنًا لِنَفْسِهِ نو [اوس] که ضمان صحيح سي نو هغه [پلار] به د خپل ځان ضامن وګرځي وَوِلَايَةُ قَبْضِ الْمَهْرِ لِلْأَبِ بِحُكْمِ الْأُبُوَّةِ او د مهر د قبضې ولايت د پلاروالي په توګه دی لَا بِاعْتِبَارِ أَنَّهُ عَاقِدٌ نه په دې اعتبار سره چي هغه عاقد دی أَلَا تَرَى

أَنَّهُ لَا يَمْلِكُ الْقَبْضَ بَعْدَ بُلُوْغِهَا آيا ته نه ګورې! چي د صغيرې تر بلوغت وروسته هغه [پلار] پر مهر د قبضه کولو ملکيت نه لري فَلَا يَصِيرُ ضَامِنًا لِنَفْسِهِ نو ځکه به هغه [د نکاح په صورت کي] د خپل ځان ضامن نه ګرځي.

اللغات: ﴿ضَمِنَ﴾ د سمع ماضي ده: ضامن کېدل، ذمه وار کېدل، ذمه واري اخيستل، ضمانت کول، ﴿اِلْتِزَام﴾ د افتعال مصدر دی: خپل په غاړه اخيستل، پر ځان لازمول، ﴿مُبَاشِر﴾ د مفاعلې اسم فاعل دی: په خپله يو کار کول، مراد ځني "په خپله بيع او سودا کونکی" دی، ﴿عُهْدَة﴾ ذمه واري، ﴿اِبْرَاء﴾ د افعال مصدر دی: بري کول، معافول، بخښل (يو چا ته په وړيا او مفته توګه يو شی ورکول).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی که ولي د يو سړي سره د خپلي بالغي لور نکاح وکړه او د هغه سړي (خاوند) له طرفه يې د مهر ورکولو ذمه واري واخيستله (او سينه يې وټکول چي مهر زه درکوم)، نو دغه ذمه واري او ضمان صحيح دی، دليل يې دا دی چي ولي عاقل او بالغ دی او پر خپل ځان د يو شي د لازمولو (التزامُ المال) أهل دی، او هغه د داسي شي (مهر) ذمه واري اخيستې ده او د داسي شي (مهر) ضمان يې قبول کړی دی کوم چي ضمانت قبلوي ځکه چي هغه شی (يعني مهر) دَين دی او دَين ضمانت او کفالت قبلوي، نو ځکه به د ولي لپاره د مهر ذمه واري (ضمان) اخيستل صحيح وي.

لهٰذا کله چي د ولي ضمان صحيح دی، نو اوس به ښځي ته اختيار وي که وغواړي نو له خاوند څخه دي د مهر مطالبه وکړي او که وغواړي نو له کفيل او ضامن (پلار) څخه دي د مهر مطالبه وکړي، لکه څرنګه چي په کفالت کي هم دغه حکم دی چي "مکفول لهٗ" له کفيل څخه هم مطالبه کولای سي او له "أصيل" څخه يې هم کولای سي، همدارنګه په دې مسئله کي هم ښځي ته له خاوند او کفيل دواړو څخه د مهر غوښتلو حق سته. بيا که ولي د خاوند په حکم او خواست سره د مهر ضامن جوړ سوی وي او ښځي ته يې مهر ورکړی وي، نو وروسته به هغه له خاوند څخه خپلي پيسې واپس اخلي، لکه څرنګه چي په کفالت کي هم داسي کيږي چي که کفيل د أصيل په حکم سره قرض اداء کړي، نو وروسته هغه ته دا حق سته چي له أصيل څخه خپلي پيسې واپس واخلي، همداسي دلته هم دغه حکم دی.

وکذا يصح إلخ: فرمايي که ښځه نابالغه (صغيره) وي او د خاوند له طرفه د مهر ورکولو ضامن سي، نو دا هم صحيح دي، لېکن که پلار د خپلي نابالغي لور مال خرڅ کړي او د مشتري له طرفه د ثمن ورکولو

ضامن سي، نو دا ضمان صحيح نه دی، خلاصه دا چي د خاوند له طرفه د خپلي نابالغي لور لپاره د مهر ضامن کېدل صحيح دي، خو د مشتري له طرفه د نابالغي لور لپاره د ثمن ضامن کېدل صحيح نه دي.

په دې دواړو صورتونو کي د فرق وجه دا ده چي د نکاح او د بيع په ولي کي فرق دی، په نکاح کي ولي د نکاح کونکي له طرف فقط استازی (سفير) او ترجمان وي (يعني فقط د هغه خبره را نقل کوي، او اصل ذمه په خپله نکاح کونکی وي)، د دې په خلاف د بيع ولي او د بيع وکيل سفير او ترجمان نه وي، بلکي هغه په خپله ذمه وار او په خپله عاقد وي، همدا وجه ده چي د بيع ټول حقوق د هغه و طرف ته راجع کيږي، او فقط له هغه څخه د ثمن ورکولو يا د مبيع ور سپالو مطالبه کيږي، لهذا کله چي د نکاح وکيل محض د سفير او ترجمان حيثيت لري، نو اوس که هغه د خپلي لور لپاره د مهر ورکولو ضامن سي نو دا به "ضمانُ الشئِ لنفسه" نه وي بلکي "لِغيرِهٖ" به وي کوم چي صحيح او جائز دی، لېکن که په بيع کي پلار د ثمن ورکولو ضامن او وکيل سي، نو دا به "ضمان الشیء لنفسه" وي کوم چي صحيح نه دی، ځکه چي په بيع کي ټوله حقوق د وکيل و طرف ته راجع کيږي، نو په دې وجه د بيع په صورت کي د پلار ضامن کېدل صحيح نه دي خو د نکاح په صورت کي صحيح دي.

ويصح إبراؤه: په دې عبارت سره د دې خبره وضاحت کوي چي په بيع کي وکيل (پلار) په خپله عاقد او مباشر وي، همدا وجه ده که د کوچنۍ نجلۍ پلار د هغې له طرفه مشتري له ثمن څخه بري او معاف کړي نو دا صحيح دي، ځکه څرنګه چي عاقد ته د ثمن اخيستلو حق سته، همدرنګه هغه ته له ثمن څخه د بري کولو حق هم سته، او څرنګه چي د بيع وکيل په خپله عاقد دی نو هغه به د لور يا د زوی تر بلوغت وروسته هم هغه د ثمن قبضه کولو مالک وي، نو اوس که مور د لور يا د زوی له طرفه د پلار د ثمن ضمانت اخيستل صحيح وګڼو، نو ښکاره خبره ده چي دا به "ضمانُ الشئ لنفسه" وي، کوم چي ناجائز او حرام دی.

و ولاية قبض إلخ: په دې عبارت سره د يو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي څرنګه د بيع وکيل پر ثمن د قبضه کولو ملکيت او اختيار لري او د هغه لپاره د ثمن ورکولو ضمانت (ذمه واري) اخيستل صحيح نه دي، همدارنګه پلار هم په نکاح کي د نابالغي لور پر ثمن د قبضه کولو ملکيت لري، نو بيا ولي د هغه لپاره د مهر ضمانت اخيستل صحيح دي، آيا دا "ضمان الشئ لنفسه" نه دی؟

د دې په جواب کي صاحب د کتاب فرمايي چي د پلار لپاره د نابالغي لور پر مهر د قبضه کولو ملکيت په دې وجه نه دی چي هغه عاقد او نکاح کونکی دی بلکي په دې وجه د هغه لپاره دغه ملکيت ثابت دی چي هغه پلار دی (يعني د پلار والي په وجه د هغه لپاره دغه ملکيت ثابت دی)؛ ځکه که چيري د عاقد والي په وجه هغه لره دا ملکيت ثابت وای نو د لور تر بلوغت وروسته به هم د هغه لپاره دا ملکيت ثابت او باقي وای، حال دا چي تر

بلوغت وروسته پلار لره پر مهر د قبضه کولو هيڅ حق نسته بلکې په خپله به لور د دې حقداره وي، نو معلومه سوه چې د پلار قبضه د پلار والي په اعتبار سره ده، نه د عاقد والي په اعتبار سره، نو ځکه به د هغه ملکيت او ضمان "ضمان الشئ لغيره" وي. نه "ضمان الشئ لنفسه".

له مهر ورکولو څخه مخکې احکام

قَالَ: وَلِلْمَرْأَةِ أَنْ تَمْنَعَ نَفْسَهَا فرمايي: او ښځې لره دا اختيار سته چې خپل ځان منع کړي اله خاوند څخه] حَتّٰى تَأْخُذَ الْمَهْرَ تر دې چې [تولہ] مهر واخلي وَتَمْنَعَهُ أَنْ يُخْرِجَهَا أَيْ يُسَافِرَ بِهَا او [دا اختيار هم ورلره سته] چې خاوند منع کړي چې هغه دا [ښځه] دباندې وباسي يعني سفر په وکړي لِيَتَعَيَّنَ حَقُّهَا فِي الْبَدَلِ د دې لپاره چې په بدل کې د هغې حق متعين سي كَمَا تَعَيَّنَ حَقُّ الزَّوْجِ فِي الْمُبْدَلِ لکه په مبدل [بضع] کې چې د خاوند حق متعين سوی دی وَصَارَ كَالْبَيْعِ او دا د بيع په څېر سو وَلَيْسَ لِلزَّوْجِ أَنْ يَمْنَعَهَا او خاوند لره دا اختيار نسته چې ښځه منع کړي مِنَ السَّفَرِ وَالْخُرُوجِ مِنْ مَنْزِلِهِ وَزِيَارَةِ أَهْلِهَا له سفر څخه او د کور له وتلو څخه او د خپلې کورنۍ له ملاقات څخه حَتّٰى يُوَفِّيَهَا الْمَهْرَ كُلَّهُ أَيِ الْمُعَجَّلَ تر دې چې هغې ته تولہ مهر ورپوره کړي، يعني مهرِ معجّل لِأَنَّ حَقَّ الْحَبْسِ لِاسْتِيْفَاءِ الْمُسْتَحَقِّ ځکه چې د منع کولو حق د مستحق [يعني د بضع] د حاصلولو لپاره دی وَلَيْسَ لَهُ حَقُّ الِاسْتِيْفَاءِ قَبْلَ الْإِيْفَاءِ او تر مهر پوره کولو مخکې خاوند لره [د بضع] د حاصلولو حق نسته [نو بيا به د څه شي لپاره ښځه منع کوي!] وَلَوْ كَانَ الْمَهْرُ كُلُّهُ مُؤَجَّلًا او که مهر تولہ مؤخر [او ځنډنی] وي لَيْسَ لَهَا أَنْ تَمْنَعَ نَفْسَهَا نو د ښځې لپاره دا اختيار نسته چې خپل ځان [اله خاوند څخه] منع کړي لِإِسْقَاطِهَا حَقَّهَا بِالتَّأْجِيْلِ ځکه چې په مؤخر کولو [او وخت ورکولو] سره هغې خپل حق ساقط کړی كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه په بيع کې [چې د ثمن په مؤخر کولو سره د بائع حق ساقطيږي] وَفِيْهِ خِلَافُ أَبِيْ يُوسُفَ او په دې کې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَكَذٰلِكَ الْجَوَابُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ ❁ او که [خاوند] په ښځې دخول وکړي نو هم دغه حکم دی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [يعني د هغه په نيز

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٣٨٩)، وكذا في مجمع الانهر (ج:١، ص:٣٥٩)، وكذا في البحر الرائق (ج:٣، ص:٣١٠). [القول الراجح ج:١، ص: ٢٨٢]

ښځي ته تر يوه وار دخول وروسته هم دا اختيار سته چي خپل ځان له خاوند څخه منع کړي] وَقَالَا: لَيْسَ لَهَا أَنْ تَمْنَعَ نَفْسَهَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي [په دې صورت کي] ښځي لره دا اختيار نسته چي خپل ځان منع کړي وَالْخِلَافُ فِيمَا إِذَا كَانَ الدُّخُولُ بِرِضَاهَا او [دا] اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي دخول د ښځي په رضا سره وي حَتَّى لَوْ كَانَتْ مُكْرَهَةً أَوْ كَانَتْ صَبِيَّةً أَوْ مَجْنُونَةً تر دې که ښځه [پر دخول] مجبوره کړی سوې وي يا هغه کوچنۍ [نابالغه] وي يا لېونۍ وي لَا يَسْقُطُ حَقُّهَا فِي الْحَبْسِ بِالِاتِّفَاقِ نو د منع کولو په باره کي بالاتفاق د هغې حق نه ساقطيږي وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ الْخَلْوَةُ بِهَا بِرِضَاهَا او پر همدغه اختلاف دي د ښځي په رضا د هغې سره خلوت کول وَيَنْبَنِي عَلَى هٰذَا اِسْتِحْقَاقُ النَّفَقَةِ او پر همدغه اختلاف د نفقې حقداره کېدل [هم] مبني دي لَهُمَا: أَنَّ الْمَعْقُوْدَ عَلَيْهِ كُلَّهُ قَدْ صَارَ مُسَلَّمًا إِلَيْهِ بِالْوَطْأَةِ الْوَاحِدَةِ أَوْ بِالْخَلْوَةِ د طرفينو دليل دا دی: چي په يوه [وار] وطي يا خلوت سره ټوله معقود عليه [بضع] خاوند ته وسپارل سوه وَلِهٰذَا يَتَأَكَّدُ بِهَا جَمِيعُ الْمَهْرِ او له همدې کبله په دې [يوه وار وطي يا خلوت کولو] سره ټوله مهر مؤکد کيږي فَلَمْ يَبْقَ لَهَا حَقُّ الْحَبْسِ نو ځکه [اوس] د ښځي لپاره د منع کولو حق پاته نه سو كَالْبَائِعِ إِذَا سَلَّمَ الْمَبِيْعَ لکه بايع چي کله [مشتري ته] مبيع وسپاري [نو د هغه لپاره هم د مبيع د منع کولو حق نه پاتيږي] وَلَهُ: أَنَّهَا مَنَعَتْ مِنْهُ مَا قَابَلَ الْبَدَلَ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي ښځي له خاوند څخه هغه شی [وطي] منع کړی کوم چي د بدل مقابل دی لِأَنَّ كُلَّ وَطْأَةٍ تَصَرُّفٌ فِي الْبُضْعِ الْمُحْتَرَمِ ځکه چي هري وطي په محترمه بضع کي تصرف کول دي فَلَا يُخْلَى عَنِ الْعِوَضِ إِبَانَةً لِخَطَرِهٖ نو د بضع د احترام [عظمت] د څرګندولو لپاره به هري وطي له بدل څخه نه خالي کيږي وَالتَّأَكُّدُ بِالْوَاحِدَةِ لِجَهَالَةِ مَا وَرَاءَهَا او په يوه [وار] وطي سره د مهر مؤکد کېدل د هغه د وروستنۍ [وطؤو] د جهالت په وجه دي [يعني ځکه چي تر اول وار وطي وروسته نوري وطي مجهوله دي چي نور به څومره وطي وسي] فَلَا يَصْلُحُ مُزَاحِمًا لِلْمَعْلُوْمِ نو ځکه به هغه [مجهولي وطي] د معلومي وطي مزاحم [مقابل] جوړېدای نه سي ثُمَّ إِذَا وُجِدَ آخَرُ وَصَارَ مَعْلُوْمًا بيا چي کله نوري وطي په وجود کي راسي او معلومي سي تَحَقَّقَتِ الْمُزَاحَمَةُ نو مزاحمت به ثابت سي وَصَارَ

اَلْمَهْرُ مُقَابَلًا بِالْكُلِّ او مهر به د ټولو مقابل سي كَالْعَبْدِ إِذَا جَنٰى جِنَايَةً لکه غلام چي کله يو جنايت وکړي يُدْفَعُ كُلُّهٗ بِهَا نو د دغه [يوه] جنايت په بدله کي به ټوله غلام ورکول کيږي ثُمَّ إِذَا جَنٰى جِنَايَةً أُخْرٰى وَأُخْرٰى بيا چي کله دويم وار او دريم وار [بيا] جنايت وکړي يُدْفَعُ بِجَمِيعِهَا نو د هغوی ټولو [جنايتونو] په بدل کي به [همدا يو غلام] ورکول کيږي وَإِذَا أَوْفَاهَا مَهْرَهَا نَقَلَهَا إِلٰى حَيْثُ شَاءَ او کله چي خاوند ټوله مهر اداء کړي نو چيري چي وغواړي ښځه هلته بېولای سي لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى: أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ [الطلاق: ۶] ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: و أوسوئ! ښځي چيري چي تاسي أوسېږئ! وَقِيْلَ: لَا يُخْرِجُهَا إِلٰى بَلَدٍ غَيْرِ بَلَدِهَا او ويل سوي دي: چي ښځه له خپل ښار څخه بغير بل ښار ته نه سي ايستلای لِأَنَّ الْغَرِيْبَةَ تُؤْذٰى ځکه چي پرديسه [بېگانه] ښځه په تکليف کيږي وَفِي قُرَى الْمِصْرِ الْقَرِيْبَةِ لَا تَتَحَقَّقُ الْغُرْبَةُ او د ښار په نږدې کلو [او أطرافو] کي پرديسي [بېگانه توب] نه متحقق کيږي.

اللغات: ﴿يُوَفِّيْ﴾ د تفعيل مضارع ده: په پوره توگه ورکول (اداء کول). ﴿حَبْس﴾ د ضرب مصدر دی: بندول، قيدول، منع کول، راگرځول، حفاظت کول. ﴿تَأْجِيْل﴾ د تفعيل مصدر دی: وخت ټاکل، مهلت ورکول (وخت ورکول). ﴿إِبَانَة﴾ د افعال مصدر دی: څرگندول، ښکاره کول. ﴿خَطَر﴾ او "خَطِر" عظمت، احترام، د مرتبې لوړ والی. ﴿التَّأَكُّد﴾ د تفعّل مصدر دی: مظبوطېدل، ټينگېدل (پخېدل). ﴿مُزَاحِم﴾ د مفاعلې اسم فاعل دی: مُقابل (مقابله کونکی)، ټنگونکی. ﴿جَنٰى﴾ د ضرب ماضي ده: جرم کول، گناه کول. ﴿قُرٰى﴾ جمع د "قَرْيَةٌ" ده: د ښار د أطرافو کلی، بانډه (يعني صحرايي کلی او علاقه کوم چي ښار ته نږدې وي). ﴿غُرْبَة﴾ د کرُم مصدر دی: پرديسي، جلا وطني (بېگانه توب، پردی توب).

تشريح: په دې اوږده عبارت کي د مهر سره اړوند يو څو مسئلې ذکر سوي دي چي هغه به انشاء الله په ترتيب سره تشريح کړل سي، تر تشريح مخکي تاسي مختصراً په دې خبره ځان پوه کړئ! چي د ښځي مهر به يا معجّل يا به مؤجّل وي (معجّل اد تلوار (نغد) مهر) هغه مهر ته وايي چي د نکاح تړلو په وخت کي د هغه فوراً ورکول ضروري وي، او کوم مهر چي وروسته ورکول کيږي او د وروسته اداء کولو شرط پکښي وي، هغه ته مهرِ مؤجل [ځنډنی مهر] وايي). د مهرِ معجّل په صورت کي چي تر

ځو ښځې ته تولـه مهر رسېدلی نه وي تـر هغـه وختـه ښـځې تـه دا اختيـار سـته چې خاوند لـه وطي او جماع څخه منع کړي، همدارنګه ښځې ته دا اختيار هم سته چې د خاوند سره هيڅ ځای هم ولاړه نه سي او د خاوند سره يو ځای له سفر کولو څخه انکار وکړي؛ دليل دا دی چې نکاح د مُبادلې (معاوضې) عقد دی، يعني بضع ګواکي مبيع ده او مهر بدل (عوض) دی، نو دا د ښځې حق دی چې د بضع په بدل کې اول هغې ته مهر ورسيږي، او تر رسېدلو مخکې خاوند له وطي او داسې نورو څخه منع کړي. لکه په بيع کې چې هم تر ثمن رسېدلو مخکې بائع له مشتري څخه مبيع منع کولای سي.

وليس للزوج إلخ: دريمه مسئله دا ده چې تر څو خاوند ښځې ته مهر معجل ور پوره کړی نه وي تر هغه وخته ښځه نه له دباندې وتلو څخه منع کولای سي او نه يې له سفر کولو څخه منع کولای سي او نه يې له دې څخه منع کولای چې هغه خپلې کورنۍ ته ولاړه سي او د خپلو قريبانو زيارت او ملاقات وکړي؛ دليل دا دی چې خاوند لره د حبس (منع کولو او را ګرځولو) حق له مستحق (بضع) څخه د انتفاع په خاطر مشروع سوی دی، يعني په کور کې د ښځې راګرځولو او له دباندې څخه د منع کولو وجه دا ده چې خاوند د هغې سره وطي وکړي، او تر مهر ورکولو مخکې خاوند لره د وطي هيڅ حق نسته، نو ځکه به هغه ته حقُ الحبس (د منع کولو او را ګرځولو حق) هم نه وي.

ولوكان المهر إلخ: دريمه مسئله دا ده که د مهر معجّل پر ځای د ښځې مهر مؤجل وي. نو بيا د ښځې حقُ الحبس ختميږي، يعني نه خاوند له وطي څخه منع کولای سي او نه د هغه له سفر څخه انکار کولای سي؛ دليل دا دی چې کله ښځه په خپله په تأجيل (يعني د مهر په ځنډولو) راضي سوه. نو هغې په خپله خپل حق ساقط کړی، نو موږ څوک يو چې هغې ته د حبس حق ورکړو او خاوند په انتظار مړ کړو.

لکه څرنګه چې په بيع کې هم که بائع د پيسو (ثمن) په تأجيل راضي سي. نو بيا هغه ته د مبيع د حبس (منع کولو) حق نسته. همدارنګه به د مهرِ مؤجل په صورت کې هم چې کله ښځه په تأجيل راضي سوه، نو هغې ته به د "حبس" (له وطي او سفر څخه د منع کولو) هيڅ حق نه وي. او دا د ائمه ثلاثه وو مسلک هم دی.

او په دې کې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اختلاف دی، هغه فرمايي چې څرنګه د مهرِ معجّل په صورت کې ښځې لره د "حبس" حق سته همدارنګه به د مهرِ مؤجل په صورت کې هم هغې لره د "حبس" حق سته؛ د هغه دليل دا دی چې محض په نکاح سره د خاوند حق د ښځې په بضع کې ثابت سو، او ملکِ بضع له بدل او عوض څخه خالي نه وي، لهذا له بدل (مهر) ورکولو څخه به مخکې په هر صورت کې ښځې لره د "حبس" حق وي.

وإن دخل بها إلخ: په دې عبارت سره دا خبره بیانوي چې که د مهرِ معجّل په صورت ښځه په خپله رضا سره خاوند ته د وطي او دخول اجازه ورکړي او خاوند د هغې سره وطي وکړي، نو په داسې صورت کې هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د ښځې د "حبس" حق نه ساقطیږي، بلکې هغې لره به دا اختیار وي چې بل وار خاوند له وطي او سفر څخه منع کړي.

صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې تر یوه وار وطي کولو وروسته د ښځې د "حبس" حق ساقطیږي، بیا هغې لره دا اختیار نسته چې خاوند له وطي او داسې نورو څخه منع کړي، دا اختلاف په هغه صورت کې دی چې ښځه په خپله رضا سره خاوند ته د وطي اجازه ورکړي، لېکن که خاوند په زور او جبر د هغې سره وطي کړي، یا نجلۍ نابالغه وي، یا مجنونه وي، نو د امام صاحب او صاحبینو په اتفاق سره د ښځې د "حبس" حق نه ساقطیږي. اختلاف فقط د بالغې ښځې د رضا په صورت کې دی.

د امام صاحب او صاحبینو دا اختلاف په خلوت کې هم دی، یعنې که د ښځې په رضا سره خاوند د هغې سره خلوت صحیحه وکړي، نو د صاحبینو په نېز د ښځې د "حبس" حق ساقطیږي، او د امام صاحب په نېز نه ساقطیږي، او ښځې ته به دا حق وي چې بل وار خاوند له وطي څخه منع کړي.

ويبتنى على هٰذا إلخ: د نفقې د حقداره کېدلو دارومدار هم پر دغه اختلاف دی، یعنې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز که ښځه تر دغه وطي وروسته له دویم وار وطي څخه خاوند منع کړي، نو بیا به هم خاوند ښځې ته په دغه موده کې نفقه او خرچه ورکوي؛ ځکه چې "حبس" (منع کول) د ښځې خپل حق دی، لهذا په دې سره به هغه نافرمانه نه ګڼل کیږي او له نفقې څخه به نه محرومول کیږي، خو څرنګه چې د صاحبینو په نېز د یوه وار وطي په وجه د ښځې د "حبس" حق ساقط سو، نو که تر دې وروسته دا ښځه خاوند له وطي څخه منع کړي نو په دې سره هغه نافرمانه کیږي او سرکښه به ګڼل کیږي، او نافرمانې ښځې ته نفقه نه ورکول کیږي، لهذا هغې ته به هم نفقه نه ورکول کیږي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چې په یوه وار وطي کولو سره یا په خلوت صحیحه سره ښځې خپله ټوله معقود علیه یعنې بضع خاوند ته وسپارله، همدا وجه ده چې په یوه وار (اول وار) وطي یا خلوت صحیحه کولو سره ټوله مهر واجبیږي، که چیرې د دویم وار وطي په مقابله کې مهر وای نو په اولې وطي سره به ټوله مهر نه واجبېدای، لهذا کله چې ښځې خپله ټوله بضع خاوند ته وسپارله، نو ځکه به اوس هغې لره د "حبس" او منع کولو حق نه وي، لکه څرنګه چې کله بائع تر ثمن اخیستلو مخکې

مشتري ته مبيع وسپاري، نو بيا د ثمن اخيستلو لپاره مبيع نه سي منع کولای، نو همدارنګه به دلته هم ښځه دبضع تر ورسپارلو وروسته خاوند له وطي څخه نه سي منع کولای.

د امام صاحب دليل: د امام صاحب د دليل حاصل دا دی چي تر مرګه پوري چي څومره وطي کيږي، مهر د هغوی ټولو بدل او عوض دی، خو دا معلومه نه ده چي تر اولي وطي به وروسته څومره وطي نوري وسي (يعني دا خبره معلومه نه ده چي تر دې وروسته به خاوند د هغې سره څومره وطي کړي) نو ځکه په اول ځل کي ټوله مهر فقط د هغه اولي وطي بدل ګرځول کيږي. بيا چي کله دويم ځل وطي وسي نو بيا دغه مهر د دواړو وطؤو بدل ګرځي، او کله چي دريم ځل وطي وسي نو بيا دغه مهر د دريو سره وطؤو بدل ګرځي، لنډه دا چي مهر د ټولو وطؤو بدل دی او په هري وطي کي د مهر څه حصه سته، ځکه چي بضع يو محترم شی دی، نو د هغه د عظمت او احترام ښرګندولو لپاره د هر تصرف او وطي په مقابله کي د مال او بدل لازمېدل ضروري دي. او دلته چي خاوند کله د ښځي سره اول وار وطي وکړې نو هغه يې د ښځي په اجازه او رضا سره وکړې، خو په دويم وار کي د ښځي رضا او اجازه نسته، لهذا اوس چي کله هغه دويم وار وطي کول وغواړي نو ښځي ته دا حق سته چي د دويم وار وطي په بدل کي مهر طلب کړي او خاوند له نورو وطوو څخه منع کړي؛ د دې په خلاف مبيع چي کله مشتري ته سپارل کيږي نو په اول وار پوره مبيع ور سپارل کيږي، نو اوس به څرنګه بائع د ثمن لپاره مبيع منع کړي! هغه خو يې په اول ځل ورسپارلې ده، نو په دې وجه په بيع کي تر ور سپارلو وروسته بائع لره د مبيع منع کولو هيڅ حق نسته.

__والتأكد بالواحدة إلخ__: په دې سره د صاحبينو د دليل جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چي په يوه وار وطي سره ټوله مهر ځکه مؤکد کيږي چي تر هغه وروسته وطي معلومي نه دي (چي څومره وطي به نوري وسي)، او مجهول د معلوم مزاحم کېدلای نه سي، لهذا وروستنۍ وطي به هم د دغه اول وار وطي مزاحم کېدلای نه سي، نو ځکه به ټوله مهر د دغه اول وار وطي بدل وي او په هغه سره به مؤکد کيږي، بيا چي کله دويم وار وطي وسي او په وجود کي راسي (يعني معلومي سي)، نو دغه موجوده او معلومه وطي د مخکنۍ (اول وار) وطو مقابل سي، نو مهر د دغه دويم وار وطي لپاره هم بدل واقع سي.

بيا چي کله دريم او څلورم ځل الی آخره وطي وسي او معلومي سي، نو مهر د هري وطي لپاره بدل واقع سي. د دې مثال داسي دی لکه غلام چي يو وار جنايت وکړي نو پر مالک واجب دي چي د هغه جنايت په بدل کي به ټوله غلام ورکوي، او که غلام لس واره جنايت وکړي نو هم به دغه يو غلام د ټولو جنايتونو په بدل کي ورکوي، همدارنګه به مهر هم په اول وار کي فقط د يوې وطي بدل وي، او

وروسته چي ښومره وطي کيږي نو مهر به د هغوی بدل واقع کيږي، لنډه دا چي د هري راتلونکي وطي په بدل کي د مهر څه حصه سته، نو ځکه به تر مهر ور کولو مخکي د ښځي لپاره له راتلونکي وطي څخه د "حبس" او منع کولو حق هم وي.

وإذا أوفاها إلخ: د دې حاصل دا دی چي په سفر د ښځي بېول هغه وخت ممنوع دي کله چي خاوند ټوله مهر اداء کړی نه وي، لېکن کله چي هغه ټوله مهر اداء کړي نو بيا يې په سفر بېولای سي او له خپل ښار څخه يې ايستلای سي، که څه هم د ښځي خوښه نه وي او انکار کوي. دليل دا آيت دی: "أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ... الخ" (چيري چي تاسي اوسئ، هلته ښځي أوسوئ!) يعني که تاسي په سفر کي ياست! نو ښځي هم په سفر کي د ځان سره اوسولای سي، خو فقيه ابو الليث رَحِمَهُ الله فرمايي چي د ښځي له رضا څخه بغير خاوند هغه بل ښار ته نه سي بېولای، ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: "وَلَا تُضَارُّوهُنَّ... الخ" (يعني ښځي په ضرر او تکليف سره مه مبتلا کوئ!)، او په بل ښار کي ښځه کي د نابلدتيا او بېګانه توب په وجه په تکليف کيږي، نو ځکه د ښځي له رضا څخه بغير بل ښار ته د هغې بېول جائز نه دي.

وفي قرى المصر إلخ: د دې حاصل دا دی چي د ښار أطراف او هغه کلي او علاقې چي ښار ته څرمه (د ځلو ښتو ميلو په اندزه کي دننه) وي، په هغوی کي دومره نابلدتيا او بېګانه توب نه محسوسيږي او ښځه ډېره نه په تکليف کيږي ځکه چي ښار ته نژدې وي، لهذا خاوند داسي علاقو او أطرافو ته ښځه له خپلي رضا څخه بغير بېولای سي.

په مهر کي د ښځي او خاوند د اختلاف بيان

قَالَ الامام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي ا فرمايي **وَمَنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً** او څوک چي د يو ښځي سره نکاح وکړي **ثُمَّ اخْتَلَفَا فِي الْمَهْرِ** بيا خاوند او ښځه د مهر په باره کي اختلاف وکړي **فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمَرْأَةِ إِلَى تَمَامِ مَهْرِ مِثْلِهَا** نو د مهر مثل تر پوره کېدلو پوري به د ښځي قول معتبر وي **وَالْقَوْلُ قَوْلُ الزَّوْجِ فِيمَا زَادَ عَلَى مَهْرِ الْمِثْلِ** او کوم مقدار چي پر مهر مثل زيات سي په هغه کي به د خاوند قول معتبر وي **وَإِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا** او که خاوند ښځي ته تر دخول مخکي طلاق ورکړي **فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ فِي نِصْفِ الْمَهْرِ** نو د نيم مهر په باره کي به د خاوند قول

معتبر وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا حکم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ ✿: الْقَوْلُ قَوْلُهٗ قَبْلَ الطَّلَاقِ وَبَعْدَهٗ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې تر طلاق مخکي او وروسته [په دواړو صورتونو] کې به د خاوند قول معتبر وي إِلَّا أَنْ يَأْتِيَ بِشَيْءٍ قَلِيْلٍ خو دا چې خاوند ډېر لږ مقدار ذکر کړي وَمَعْنَاهُ مَا لَا يُتَعَارَفُ مَهْرًا لَهَا او د دې [لږ مقدار] مطلب دا دی چې امنومره لږ مقدار] په عرف کې د دغه ښځې مهر کېدلای نه سي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده [يعني همدا صحيح روايت دی] لِأَبِيْ يُوْسُفَ: أَنَّ الْمَرْأَةَ تَدَّعِي الزِّيَادَةَ وَالزَّوْجُ يُنْكِرُ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې ښځه د زياتوب دعوی کوي او خاوند [د هغه] انکار کوي وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُنْكِرِ مَعَ يَمِيْنِهٖ او قول د منکر معتبر وي د هغه د قسم سره إِلَّا أَنْ يَأْتِيَ بِشَيْءٍ يُكَذِّبُهُ الظَّاهِرُ فِيْهِ خو دا چې خاوند داسې لږ مقدار ذکر کړي چې ظاهري حالت په هغه کې خاوند درواغجن ګڼي وَهٰذَا لِأَنَّ تَقَوُّمَ مَنَافِعِ الْبُضْعِ ضَرُوْرِيٌّ او دا [د خاوند قول په] ځکه [معتبر وي] چې د بضع د منافعو متقوم کېدل د ضرورت پر بناء دي [يعني بضع د ضرورت په وجه متقوم ده] فَمَتٰى أَمْكَنَ إِيْجَابُ شَيْءٍ مِنَ الْمُسَمّٰى نو تر څو چې له مسمیٰ [تاکل سوي مهر] څخه د يو مقدار واجبول ممکن وي لَا يُصَارُ إِلَيْهِ نو د مهر مثل و طرف ته به رجوع نه کيږي وَلَهُمَا: أَنَّ الْقَوْلَ فِي الدَّعَاوٰى قَوْلُ مَنْ يَشْهَدُ لَهُ الظَّاهِرُ او د طرفينو دليل دا دی: چې په دعواوو کې د هغه کس قول معتبر وي چې د هغه په حق کې ظاهري حالت ګواهي ورکوي وَالظَّاهِرُ شَاهِدٌ لِمَنْ يَشْهَدُ لَهُ مَهْرُ الْمِثْلِ او ظاهري حالت د هغه کس په حق کې ګواه دی چې د هغه لپاره مهر مثل ګواهي ورکوي [يعني چې دهغه قول د مهر مثل موافق وي] لِأَنَّهٗ هُوَ الْمُوْجَبُ الْأَصْلِيُّ فِيْ بَابِ النِّكَاحِ ځکه چې د نکاح په باب کې مهر مثل أصلي مُوْجَب دی وَصَارَ كَالصَّبَّاغِ مَعَ رَبِّ الثَّوْبِ إِذَا اخْتَلَفَا فِيْ مِقْدَارِ الْأَجْرِ او دا داسې سو لکه د جامو رنګولو والا د جامو د مالک سره کله چې دوی د مزدورۍ په مقدار کې اختلاف وکړي يُحَكَّمُ فِيْهِ قِيْمَةُ الصَّبْغِ نو په هغه کې به د رنګ قيمت حَكَم [فيصله کونکی] جوړول کيږي [يعني په دغه اختلاف کې به د رنګ پر بازاري قيمت فيصله کيږي] ثُمَّ ذَكَرَ هٰهُنَا أَنَّ بَعْدَ الطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُوْلِ الْقَوْلُ قَوْلُهٗ فِيْ نِصْفِ الْمَهْرِ بيا امام محمد رَحِمَهُ الله دلته [په متن کې] ذکر کړه چې تر طلاق قبل الدخول وروسته به د نيم مهر په باره کې د خاوند قول معتبر وي وَهٰذَا رِوَايَةُ الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ وَالْأَصْلِ او دا د جامع صغير او مبسوط روايت دی وَذَكَرَ فِي الْجَامِعِ الْكَبِيْرِ أَنَّهٗ يُحَكَّمُ

✿ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٣٩٣)، وكذا في الخانية (ج:١، ص:١٨٢).
[القول الراجح ج:١، ص:٢٨٤]

مُتْعَةُ مِثْلِهَا [البکن] په جامعِ کبیر کي امام محمد رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چي د دا ډول ښځي متعه به حَکَم [فیصله منده] جوړول کیږي وَهُوَقِیَاسُ قَوْلِهِمَا او همدا د طرفینو د قول قیاس [او تقاضا] ده لِأَنَّ الْمُتْعَةَ مُوْجَبَةٌ بَعْدَ الطَّلَاقِ کَمَهْرِالْمِثْلِ قَبْلَهٗ ځکه چي متعه تر طلاق وروسته مُوجَب ده لکه مهرِ مثل چي تر طلاق مخکي مُوجَب دی فَتُحَکَّمُ کَهُوَ نو متعه به هم د مهرِ مثل په څیر فیصله منده جوړول کیږي وَوَجْهُ التَّوْفِیْقِ او [په روایت د جامعِ کبیر او روایت د جامعِ صغیر او مبسوط کي] د موافقت صورت دا دی أَنَّهٗ وَضَعَ الْمَسْأَلَةَ فِي الْأَصْلِ فِي الْأَلْفِ وَالْأَلْفَیْنِ چي په مبسوط کي امام محمد رَحِمَهُ الله مسئله په زرو [درهمو] او دوو زرو [درهمو] کي فرض کړې ده وَالْمُتْعَةُ لَاتَبْلُغُ هٰذَا الْمَبْلَغَ فِي الْعَادَةِ او متعه په عامه توګه دغه مقدار ته نه رسیږي ابلکي دېره کمه او ارزانه وي] فَلَایُفِیْدُ تَحْکِیْمُهَا نو متعه به فیصله منده جوړول فایده نه کوي [یعني په دې صورت کي پر متعه فیصله کول د ښځي لپاره فایده نه کوي، ځکه چي هغه کم قیمته ده] وَوَضَعَهَا فِي الْجَامِعِ الْکَبِیْرِ فِي الْمِائَةِ وَالْعَشَرَةِ او په جامع کبیر کي امام محمد رَحِمَهُ الله مسئله په لسو او سلو [درهمو] کي فرض کړې ده وَمُتْعَةُ مِثْلِهَا عِشْرُوْنَ او د داسي ښځي متعه [یعني په عامه توګه متعه] شل [درهمه] وي فَیُفِیْدُ تَحْکِیْمُهَا نو [په دې صورت کي] متعه فیصله منده جوړول فایده کوي [ځکه چي په دې صورت کي مهر کم دی] وَالْمَذْکُوْرُ فِي الْجَامِعِ الصَّغِیْرِ سَاکِتٌ عَنْ ذِکْرِ الْمِقْدَارِ او په جامعِ صغیر کي ذکر سوی صورت د مقدار له ذکر څخه چپ [خاموش] دی فَیُحْمَلُ عَلٰی مَاهُوَالْمَذْکُوْرُ فِي الْأَصْلِ نو هغه به حمل کیږي پر هغه صورت کوم چي په مبسوط کي ذکر سوی دی وَشَرْحُ قَوْلِهِمَا فِیْمَا "إِذَا اخْتَلَفَا فِي حَالِ قِیَامِ النِّکَاحِ" او د طرفینو د قول تشریح په هغه صورت کي "کله چي خاوند او ښځه د نکاح د پاته والي په حالت کي اختلاف وکړي" دا ده أَنَّ الزَّوْجَ إِذَا ادَّعَی الْأَلْفَ وَالْمَرْأَةَ الْأَلْفَیْنِ چي کله خاوند د زرو [درهمو] دعویٰ وکړي او ښځه د دوو زرو [درهمو] دعویٰ وکړي فَإِنْ کَانَ مَهْرُمِثْلِهَا أَلْفًا أَوْأَقَلَّ نو که د ښځي مهرِ مثل زر [درهمه] یا تر دې کم وي فَالْقَوْلُ قَوْلُهٗ نو قول به د خاوند معتبر وي وَإِنْ کَانَ أَلْفَیْنِ أَوْأَکْثَرَ او که مهرِ مثل دوه زره یا تر دې زیات وي فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا نو قول به د ښځي معتبر وي وَأَیُّهُمَا أَقَامَ الْبَیِّنَةَ فِي الْوَجْهَیْنِ او په دواړو صورتونو کي چي کوم یو هم [پر خپل قول] ګواهي پېش کړي تُقْبَلُ نو د هغه ګواهي به قبلیږي وَإِنْ أَقَامَا الْبَیِّنَةَ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ او که په اول صورت کي دواړه ګواهي پېش کړي تُقْبَلُ بَیِّنَتُهَا نو د ښځي ګواهي به قبلیږي لِأَنَّهَا تُثْبِتُ الزِّیَادَةَ ځکه چي د هغې ګواهي زیاتوب ثابتوي وَفِي الْوَجْهِ

الثَّانِي بَيِّنَتُهُ او په دويم صورت کې به د خاوند گواهي [قبليږي] لِأَنَّهَا تُثْبِتُ الْحَطَّ ځکه چې د هغه گواهي کمي ثابتوي وَإِنْ كَانَ مَهْرُ مِثْلِهَا أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةٍ او که د ښځې مهر مثل پنځلس سوه [۱۵۰۰] وي تَحَالَفَا نو دواړه به قسمونه اخلي وَإِذَا حَلَفَا يَجِبُ أَلْفٌ وَخَمْسُمِائَةٍ او کله چې دواړه قسمونه واخلي نو همدا پنځلس سوه واجبيږي هٰذَا تَخْرِيجُ الرَّازِيِّ دا د امام ابوبکر جصاص] رازي رَحِمَهُ الله تخريج ده وَقَالَ الْكَرْخِيُّ او امام [ابو الحسن] کرخي رَحِمَهُ الله فرمايي يَتَحَالَفَانِ فِي الْفُصُولِ الثَّلَاثَةِ چې خاوند او ښځه به په دريو سره صورتونو کې قسم اخلي ثُمَّ يُحَكَّمُ مَهْرُ الْمِثْلِ بَعْدَ ذٰلِكَ بيا به مهر مثل فيصله منд جوړول کيږي.

اللغات: ﴿لَا يُتَعَارَفُ﴾ د تفاعل د باب نفي مجهوله صيغه ده: متعارف کېدل، يعني (يو شي) په عرف کې رواج کېدل، ﴿تَدَّعِي﴾ د افتعال مضارع ده: دعوه کول، دعویٰ کول (د حاکم او قاضي په مخکې له بل چا څخه د خپل حق غوښتنه کول)، ﴿تَقَوُّم﴾ د تفعّل مصدر دی: قيمتداره کېدل، (قيمتي کېدل، قيمت والا جوړيدل)، ﴿دَعَاوٰی﴾ جمع د "دَعْوٰی" ده: (د محکمې) دعوه گاني، دعواوي، ﴿صَبَّاغ﴾ رنگريز (جامه رنگونکی)، ﴿يُحَكَّمُ﴾ د تفعيل مضارع مجهوله ده: فيصله منд جوړول (فيصله کونکی جوړول)، دريمگړی جوړول، حَكَم جوړول، يو چا ته د فيصلې لپاره يو شی سپارل، حَكَم: فيصله منд (فيصله کونکی)، قاضي. ﴿وَجْه﴾ صورت، شکل، طريقه، ﴿يَتَحَالَفَان﴾ د تفاعل مضارع ده: يو تر بله قسم اخيستل (قسم کول).

تشريح: په دې اوږده عبارت کې صاحب د کتاب د مهر د مقدار او تعيين په هکله زموږ د امامانو مذهبونه بيان کړي دي، خو څرنگه چې (دلته) په مذهب او دليل کې ډېره فاصله او ليري والي دی، نو ځکه به موږ انشاء الله په مُرتّب انداز سره د عبارت تشريح وکړو.

صورت د مسئلې: دا دی که تر نکاح وروسته خاوند او ښځه د مهر د مقدار په باره کې اختلاف وکړي، يعني خاوند ووايي چې زما او ستا نکاح پر زرو (۱۰۰۰) درهمو سوې وه او ښځه ووايي چې پر دوو زرو (۲۰۰۰) درهمو نکاح سوې وه، نو په داسې صورت کې به د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز تر مهر مثل پورې د ښځې خبره منل کيږي او له مهر مثل څخه د زيات مقدار په باره کې به د خاوند خبره منل کيږي، همدارنگه که خاوند ښځې ته په دغه صورت کې تر دخول مخکې طلاق ورکړي (نو دا خو تاسې ته معلومه ده چې د طلاق قبل الدخول په وخت کې فقط نيم مهر واجبيږي) نو د طرفينو په نېز به د (دغه) نيم مهر په باره کې د خاوند خبره منل کيږي، او څومره مقدار چې خاوند بيانوي، ښځې ته به هغومره ورکول کيږي.

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې د خاوند او ښځې اختلاف که تر طلاق مخکې وي او که وروسته وي، په هر صورت کې به د خاوند خبره منل کيږي او په دې مسئله کې به ښځې ته هيڅ اختيار نه ورکول کيږي، ها! که خاوند د مهر مقدار بېخي لږ بيانوي، او معلومه سي چې په هغومره مقدار داسې ښځه د چا سره

نکاح نه کوي، نو په داسې صورت کې به د ښځې خبره منل کيږي او د خاوند خبرې ته به اعتبار نه ورکول کيږي.

شي قليل: د بيخي لږ مقدار په باره کې د شارحينو اختلاف دی، د ځينو شارحينو رايه دا ده چې له دې څخه تر لس درهمه کم مقدار مراد دی، او د ځينې نورو فقهاؤ ميلان ودې طرف ته دی چې له دې څخه دومره مقدار مراد دی چې په هغومره مقدار د داسې ښځې سره نکاح کېدای نه سي، همدا راجح قول دی، صاحب د هدايې هم دې ته صحيح ويلې دي او په فتاوئ قاضي خان او بدائع الصنائع کې هم دغه قول صحيح ګڼل سوی دی.

د امام ابو يوسف دليل: په پورتنۍ مسئله کې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې ښځه د زياتوب دعوئ کوي او خاوند د زياتوب انکار کوي، نو که د ښځې سره بينه وي نو د هغې قول به معتبر وي، کنې د قسم سره به د خاوند قول معتبر وي، ځکه قاعده دا ده چې "البَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِيْ وَالْيَمِيْنُ عَلٰى مَنْ أَنْكَرَ"، يعنې ګواهي پر مدعي (دعوئ کونکي) ده چې هغه به پر خپل قول ګواهان پېشوي، او که د هغه سره ګواهان نه وي، نو بيا به د منکر (انکار کونکي) قول د قسم سره معتبر وي. خو که خاوند بيخي لږ مقدار مهر بيانوي او ظاهري حال د هغه تکذيب کوي چې داسې ښځه پر دومره کم مهر راضي کېدای نه سي، نو په دې صورت کې به د ښځې خبره منل کيږي؛ ځکه قاعده دا ده چې: "أَنَّ مَنْ سَاعَدَهُ الظَّاهِرُ فَالْقَوْلُ قَوْلُه" يعنې ظاهري او ښکاره حالت چې د چا موافق وي، نو قول به د هغه معتبر وي.

وهٰذا لأن تقوم إلخ: په دې سره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د دليل علت بيانوي، فرمايي چې اصل خبره دا ده چې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز مهر مسمیٰ (ټاکل سوی مهر) اصل دی او مهر مثل د هغه فرع او تابع دی، او څرنګه چې د بضع د منافعو متقوم کېدل (قيمتداره کېدل) د ضرورت او مجبورۍ په وجه دي (يعنې څرنګه چې د بضع د احترام او عظمت په خاطر مجبوراً د بضع په بدل کې مال لازميږي)، نو ځکه تر څو چې د هغه په مقابله کې پر اصل يعنې پر مهر مسمیٰ عمل کول او د هغه واجبول ممکن وي تر هغه وخته به د فرع يعنې د مهر مثل و طرف ته رجوع نه کيږي، او څرنګه چې دلته له بيخي کم مقدار څخه بغير په نور مقدار کې پر مهر مسمی عمل او فيصله کول ممکن دي، نو ځکه به د خاوند خبره منل کيږي، خو څرنګه چې د بيخي کم او لږ مقدار په صورت کې فيصله کول مشکل دی، نو ځکه به په هغه صورت کې د ښځې خبره منل کيږي او پر مهر مثل به فيصله کيږي.

د صاحبينو دليل: **ولهما أن القول إلخ:** تر دليل مخکې تاسې دا خبره په ياد لرئ! چې څرنګه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز مهر مسمیٰ أصل دی، همدارنګه د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز مهر مثل اصل او بنياد دی، لهذا تر څو چې ممکنه وي، نو د دوی په نيز به د مهر مثل و طرف ته رجوع کيږي، او څرنګه چې پورتنۍ مسئله مختلف فيها او پر دعوه مبني ده، او په "دعاویٰ" (دعواوو) کې د هغه کس خبره منل کيږي چې ظاهري حالت د هغه

موافق وي، او په دې مسئله کې ظاهري حالت د هغه کس موافق دی چې د هغه قول د مهر مثل موافق وي (ځکه د خاوند او د ښځې د اختلاف پر مهال ظاهري حالت مهر مثل دی. ځکه چې د نکاح په باب کې اصلي موجب همدا مهر مثل دی)، لهذا د ښځې پر مهر مثل به فیصله کیږي چې د هغې مهر مثل څومره دی. که چیرې د ښځې مهر مثل زر (١٠٠٠) درهمه یا تر دې کم وي، نو بیا به د خاوند خبره منل کیږي (د زرو درهمو په دعوی کې). او که مهر مثل دوه زره (٢٠٠٠) درهمه یا تر دې زیات وي، نو په دې صورت کې به د ښځې قول معتبر وي (ځکه چې ظاهري حالت د ښځې ګواهي ورکوي). او د خاوند او ښځې دغه اختلاف داسې دی لکه د رنګریز او د کپړې د مالک په مینځ کې چې پر اُجرت (مزدورۍ) اختلاف راسي، مثلاً د کپړې مالک د پنځو درهمو دعوی کوي او رنګریز د لسو درهمو نعرې وهي، نو په دې صورت کې به د هغه کس په حق کې فیصله کیږي چې د هغه قول د رنګولو د قیمت سره موافق وي، یعني د بازار قیمت (نرخ) به حَکَم جوړول کیږي، نو د بازار قیمت چې د چا موافق وي د هغه په حق کې به فیصله کیږي.

ثم ذکر ههنا الخ: په دې سره دا رابښیي چې د امام محمد رَحِمَهُ‌الله په اقوالو کې تعارض دی: ځکه چې د امام محمد په مبسوط او جامع صغیر کې خو دا بیان سوي دي چې د طلاق قبل الدخول په صورت کې به د نیم مهر په باره کې د خاوند قول معتبر وي او ښځې ته به هغومره مقدار نیم مهر ورکول کیږي څومره مقدار چې خاوند بیانوي او متعه به نه ورکول کیږي (لکه څرنګه چې دلته یعني د هدایې په متن کې هم د جامع صغیر او مبسوط عبارت رانقل کړی سوی دی◆)، خو په جامع کبیر کې (کوم چې د امام محمد بل تصنیف دی) ذکر سوي دي چې په دې صورت کې به ښځې ته متعه ورکول کیږي او د خاوند خبره به نه منل کیږي، او قیاس هم د دې تقاضا کوي؛ ځکه کله چې د هغه په نېز مهر مثل أصل او بنیاد دی، نو تر دخول وروسته خو به مهر مثل لازمیږي او که تر دخول مخکې طلاق واقع سي، نو ښځې ته به متعه ورکول کیږي، لهذا په پورتنۍ مسئله کې هم ښځې ته متعه ورکول پکار دي او د خاوند خبره منل پکار نه دي◆◆.

یادونه: په دې عبارت: "لأَنَّ الْمُتْعَةَ مُوْجَبَةٌ بَعْدَ الطَّلَاقِ كَمَهْرِ الْمِثْلِ قَبْلَه" کې تسامح ده، عبارت داسې کېدل پکار دي: "لِأَنَّ الْمُتْعَةَ مُوْجَبَةٌ بَعْدَ الطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُوْلِ كَمَهْرِ الْمِثْلِ بَعْدَ الدُّخُوْل" یعني که تر دخول مخکې طلاق واقع سي نو متعه لازمیږي، لکه تر دخول وروسته چې طلاق واقع سي نو مهر مثل لازمیږي.

◆ د جامع صغیر عبارت دا دی: "محمد عن يعقوب عن أبي حنيفة رَحِمَهُ‌الله فی رجلٍ تزوّج امرأة ثم اختلفا فی المهر، قال: القول قول المرأة إلى مهرِ مثلها، والقول قول الزوج فيما زاد، وإن طلقها قبل الدخول بها، فالقول قوله في نصف المهر وهو قول محمد رَحِمَهُ‌الله، و قال ابو يوسف رَحِمَهُ‌الله : القول قوله بعد الطلاق وقبله إلا أن يأتي بشيئ قليل". (جامع صغير، باب فی المهور ص:١٧٩)

◆◆ د جامع کبیر عبارت دا دی: "رجلٌ طلّق امرأته و لم يدخل بها، فاختلفا في المهر، فالقول في نصف المهر قولها إلى متعة مثلها [لأنها لو قالت: لم يسم لي مهرا كان لها المتعة]، وقال ابو يوسف في هذا كله القول قول الزوج إلا أن يأتي بشيئ [مستنكر جدًا]، وقال محمد في ذالك بقول أبي حنيفة رَحِمَهُ‌الله . (جامع كبير، باب من النكاح فيما ينقص من الصداق وما يزيد ص:٩٢)

"فَتُحَكَّمُ كَمُوَ" يعني تر دخول مخکي د طلاق واقع کېدلو په صورت کي د متعې فيصله کول داسي دي لکه تر دخول وروسته د مهرِ مثل فيصله کول.

ووجه التوفيق إلخ: په دې سره دامام محمد رَحِمَهُ الله د اقوالو تعارض ليري کوي، فرمايي په مبسوط او جامع صغير کي چي کوم دا قول دی چي د خاوند خبره به منل کيږي، د هغه وجه دا ده چي امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط او جامع صغير کي د مسئلې صورت داسي فرض کړی او وضع کړی دی چي ښځه د دوو زرو (٢٠٠٠) درهمو مهر دعوه وکړي او خاوند ووايي چي مهر يو زر (١٠٠٠) دراهم دي، او بيا تر دخول مخکي طلاق واقع سي، نو په دې صورت کي خو خاوند په خپله خوله نيم مهر يعني پنځه سوه درهم ورکول غواړي. او په عامه توګه د متعې د دريو کپړو قيمت پنځه سوه درهم نه وي (بلکي تر دې ډېر کم وي)، لهذا په دې صورت کي د خاوند د خبري په منلو کي د ښځي فايده ده، نو ځکه به دلته د متعې واجبېدلو پر ځای د خاوند خبره منل کيږي او پنځه سوه درهمه به ښځي ته ورکول کيږي.

او په جامعِ کبير کي امام محمد رَحِمَهُ الله د مسئلې صورت داسي فرض کړی دی چي ښځه د سلو (١٠٠) درهمو دعوه وکړي او خاوند وايي چي مهر لس (١٠) درهمه تاکل سوی دی، او د ادنیٰ درجې متعه تر شلو (٢٠) درهمو کمه نه وي، نو په دې صورت کي په متعه ورکولو کي د ښځي فايده ده. ځکه که د خاوند خبره ومنل سي، نو د لسو درهمو نصف يعني پنځه درهم به ښځي ته ورکول کيږي. او په پنځه درهمه خو د متعې کپړې هم نه کيږي، لهذا د شلو درهمو په متعه کي د ښځي فايده ده.

والمذكور في الجامع إلخ: او په جامعِ صغير کي د مسئلې د صورت فرضولو او وضع کولو لپاره مقدار نه دی ذکر سوی بلکي په دې باره کي د جامع صغير عبارت ساکت دی. لهذا په مبسوط کي چي کوم د زرو او دوو زرو مقدار ذکر سوی دی، د جامعِ صغير روايت به پر هغه حمل کيږي؛ ځکه چي دامام محمد رَحِمَهُ الله په کتابو کي تر ټولو معتمد او أصح کتاب "مبسوط" دی.

وشرح قولهما إلخ: د دې حاصل دا دی چي د طرفينو د قول او د هغو د مسلک پوره تشريح دا ده چي که د خاوند او ښځي دغه اختلاف تر طلاق مخکي د نکاح په حالت کي واقع سي او خاوند د زرو درهمو دعویٰ کوي، لېکن ښځه د دوو زرو درهمو دعویٰ کوي، نو په دې صورت کي به پر مهرِ مثل فيصله کيږي او مهرِ مثل چي د چا مطابق وي د هغه خبره به منل کيږي. لهذا که مهرِ مثل زر درهمه وي يا تر دې کم وي، نو د خاوند خبره به منل کيږي (ځکه چي په دې صورت کي مهرِ مثل د خاوند د قول او حالت موافق دی)، او که مهرِ مثل دوه زره درهمه يا تر دې زيات وي، نو د ښځي خبره به منل کيږي (ځکه چي په دې صورت کي مهرِ مثل د ښځي د قول او حالت موافق دی).

او که خاوند يا ښځه پر خپل قول ګواهان پېش کړي، نو په دواړو صورتونو کي (يعني برابره ده مهرِ مثل د خاوند د قول موافق وي او که د ښځي، په دواړو صورتونو کي) به د هغه ګواهي او قول منل کيږي.

وإن أقاما إلخ: په دې سره دا را ښيي چي که په پورتنۍ مسئله کي خاوند او ښځي دواړو پر خپل قول گواهان پيش کړل، نو په اول صورت کي (يعني چي مهر مثل د خاوند د قول او حالت موافق وي) د خاوند گواهي به منل کيږي، او په دويم صورت کي (يعني چي مهر مثل د ښځي د قول او حالت موافق وي) د ښځي گواهي به منل کيږي؛ دليل يې دا دی چي په گواهي سره هغه شی ثابتيږي کوم چي د ظاهر خلاف وي (يعني د ښکاره او ظاهري حالت خلاف وي، لهذا دلته به د هغه چا گواهي منل کيږي چي د هغه گواهي د ظاهري حالت يعني د مهر مثل خلاف وي)، او څرنگه چي په اول صورت کي د ښځي قول د ظاهر خلاف دی، نو ځکه به د هغې گواهي منل کيږي، او په دويم صورت کي د خاوند قول د ظاهر خلاف دی، نو ځکه به په دويم صورت کي د خاوند گواهي منل کيږي.

لېکن که د ښځي مهر مثل پنځلس سوه (١٥٠٠) درهمه وو، يعني په خاوند او ښځه کي د هيچا د قول سره مهر مثل نه موافق کېدی بلکي د دواړو قولونو په مينځ کي وو، نو په دې صورت کي به خاوند او ښځه دواړه قسمونه اخلي؛ ځکه چي په داسي صورت کي ښځه د زياتوب دعویٰ کوي او د کمتوب انکار کوي، او خاوند د کمتوب دعویٰ کوي او د زياتوب انکار کوي، لنډه دا چي دلته په دواړو کي هر يو مدعی هم دی او منکر هم دی، نو ځکه به دواړه قسمونه اخلي، لهذا کوم يو چي له قسم څخه انکار وکړي د هغه خبره به نه منل کيږي او د قسم اخيستونکي خبره به منل کيږي، ها! که دوی دواړه قسمونه واخلي، نو همدا پنځلس سوه درهمه واجبيږي، زر درهمه خو د تسميې او تاکلو په توگه واجبيږي چي خاوند او ښځه دواړه د هغه پر تاکلو متفق دي (يعني زر درهمه هر يو مني)، او پنځه سوه درهمه د مهر مثل په توگه واجبيږي، دا د امام ابو بکر جصاص رازي رَحِمَهُ الله تحقيق او تخريج ده.

لېکن امام ابو الحسن کرخي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دريو سره صورتونو کي (يعني که مهر مثل د ښځي د قول موافق وي، که د خاوند د قول موافق وي او که د دوواړو په مينځ کي وي، په دې دريو سره صورتونو کي) به له خاوند او ښځي دواړو څخه قسمونه اخيستل کيږي، او تر قسم اخيستلو وروسته به پر مهر مثل فيصله کيږي؛ ځکه چي پر أصل تسميه (يعني د زرو درهمو پر تاکلو) دواړه متفق دي، او د تسميې د صحيح والي په وخت کي د مهر مثل و طرف ته رجوع نه سي کېدلای، لېکن کله چي دواړه قسمونه واخلي، نو بيا تسميه (زر درهمه تاکل) ستونزمن او متعذر سي، نو ځکه به تر قسم وروسته د هغه چا په حق کي فيصله کيږي چي مهر مثل د هغه د قول موافق يا ور نژدې وي (او که يو له قسم څخه انکار وکړي، نو ښکاره خبره ده چي د قسم اخيستونکي په حق کي به فيصله کيږي).

د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

وَلَوْكَانَ الإِخْتِلاَفُ فِي أَصْلِ الْمُسَمّٰى او كه [د خاوند او ښځې] اختلاف په اصل مسمىٰ [ټاكل سوي مهر] كي وي [مثلاً خاوند ووايي: مهر بالكل ټاكل سوى نه دى او ښځه ووايي: ټاكل سوى دى] يَجِبُ مَهْرُالْمِثْلِ بِالْإِجْمَاعِ نو [په دې صورت كي] مهر مثل واجبيږي [ازموږ د ائمو] په اتفاق سره لِأَنَّهُ هُوَالْأَصْلُ عِنْدَهُمَا ځكه چي د طرفينو په نېز هغه أصل دى وَعِنْدَهُ تَعَذَّرَ الْقَضَاءِ بِالْمُسَمّٰى او د امام ابو يوسف په نېز پر مهر مسمىٰ فيصله كول مشكل دي فَيُصَارُإِلَيْهِ نو ځكه به مهر مثل ته رجوع كيږي وَلَوْكَانَ الإِخْتِلاَفُ بَعْدَ مَوْتِ أَحَدِهِمَا او كه اختلاف د يوه تر مرګ وروسته وي [يعني د ښځې يا د خاوند تر مرګ وروسته په مهر كي د مړي د وارثانو او د ژوندي اختلاف واقع سي] فَالْجَوَابُ فِيهِ كَالْجَوَابِ فِي حَيَاتِهِمَا نو په دې [صورت] كي جواب [او حكم] داسي دى لكه د خاوند او ښځې په ژوند كي چي كوم جواب وو لِأَنَّ اعْتِبَارَ مَهْرِالْمِثْلِ لَا يَسْقُطُ بِمَوْتِ أَحَدِهِمَا ځكه چي د مهر مثل اعتبار د يوه په مرګ سره نه ساقطيږي وَلَوْكَانَ الإِخْتِلاَفُ بَعْدَ مَوْتِهِمَا فِي الْمِقْدَارِ او كه اختلاف د خاوند او ښځې تر مرګ وروسته د مهر په مقدار كي وي فَالْقَوْلُ قَوْلُ وَرَثَةِ الزَّوْجِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ۞ نو [په دې صورت كي] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د خاوند د وارثانو قول معتبر دى وَلَا يُسْتَثْنَى الْقَلِيلُ او ادهغه په نېز] به لږ مقدار به [هم] نه جلا كيږي وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ الْقَوْقَوْلُ الْوَرَثَةِ إِلَّا أَنْ يَأْتُوا بِشَيْئٍ قَلِيلٍ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز [هم] د خاوند د وارثانو قول معتبر دى خو دا چي هغوى ډېر لږ مقدار ذكر كړي [يعني د امام ابو يوسف په نېز به لږ مقدار جلا كيږي] وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ الْجَوَابُ فِيهِ كَالْجَوَابِ فِي حَالَةِ الْحَيَاةِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په دې [صورت] كي جواب داسي دى لكه د ژوند په حالت كي چي كوم جواب دى وَإِنْ كَانَ فِي أَصْلِ الْمُسَمّٰى او كه په أصل مسمىٰ كي اختلاف وي فَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ الْقَوْلُ قَوْلُ مَنْ أَنْكَرَهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه كس قول معتبر دى كوم چي د مسمىٰ انكار كوي فَالْحَاصِلُ أَنَّهُ لَا حُكْمَ لِمَهْرِالْمِثْلِ عِنْدَهُ

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر فى رد المحتار (ج:٢، ص:٣٩٣)، وكذا فـي الخانيـة (ج:١، ص:١٨٣).
[القول الراجح ج:١، ص:٢٨٥]

بَعْدَ مَوْتِهِمَا خلاصه دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د خاوند او ښځي تر مرگ وروسته مهرِ مثل لره هيڅ حکم نسته [يعني د دوی تر مرگ وروسته به پر مهرِ مثل فيصله نه کيږي] عَلَى مَا نُبَيِّنُهُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ لکه وروسته چي به موږ انشاء الله د دې [دليل] بيان کړو.

اللغات: ﴿مسمّٰى﴾ د تفعيل اسم مفعول دی: ټاکل سوی، مقرر سوی. ﴿تَعَذَّرَ﴾ د تفعل ماضي ده: مشکل کېدل، ستونزمن کېدل.

تشريح: په تېر عبارت کي دا صورت په تفصيل سره بيان سو چي کله خاوند او ښځه د مهر پر تعيين او تسميه (ټاکل کېدلو) متفق وي، فقط دمهر په مقدار کي د دوی اختلاف وي. او په دې عبارت کي د مسئلې دا صورت بيان سوی دی چي کله په اصل مسمیٰ يعني په تعيين او تسميه کي اختلاف وي يعني خاوند وايي چي د نکاح په وخت کي مهر بالکل ټاکل سوی نه دی او ښځه وايي چي ټاکل سوی دی، نو څرنګه چي دلته په اصل مسمیٰ او د مهر په ټاکل کېدلو کي اختلاف دی. نو ځکه د ټولو په نيز مهرِ مثل واجبيږي (ځکه مخکي دا خبره ذکر سوه چي که د نکاح په وخت کي مهر نه وټاکل سي نو پر خاوند مهرِ مثل واجبيږي)؛ د طرفينو په نيز خو ځکه په دې مسئله کي مهرِ مثل واجبيږي چي د دوی په نيز مهرِ مثل أصل دی. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز که څه هم مهرِ مسمیٰ (ټاکل سوی مهر) أصل دی او مهرِ مثل د هغه فرع او تابع دی، خو څرنګه چي په دې مسئله کي په تسميه او ټاکل کېدلو کي اختلاف دی نو پر مهرِ مسمیٰ به څرنګه فيصله وسي! او پر خاوند به څرنګه هغه واجب کړی سي!، نو ځکه به د فرع يعني د مهرِ مثل و طرف ته رجوع کيږي او هغه به پر خاوند واجبيږي.

ولو کان الاختلاف إلخ: د دې حاصل دا دی چي که په خاوند او ښځه کي يو مړ سي او په مهر کي د ژوندي او د مړه د وارثانو اختلاف راسي، هغه که د مهر په مقدار کي وي او که په أصل مسمیٰ کي وي. نو په دواړو صورتونو کي هغه حکم دی کوم چي د خاوند او ښځي د ژوند د اختلاف په صورت کي دی.

يعني که په اصل مسمیٰ کي د وارثانو او د ژوندي (خاوند يا ښځي) اختلاف راسي. نو تر دخول وروسته د ټولو په نيز مهرِ مثل واجبيږي او تر دخول مخکي (که طلاق واقع سي نو) د ټولو په نيز متعه واجبيږي: او که د مهر په مقدار کي يې اختلاف راسي، نو تر دخول وروسته د طرفينو په نيز به پر مهرِ مثل فيصله کيږي او تر دخول مخکي به په هر حال کي د خاوند خبره منل کيږي. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به په هر صورت کي د خاوند خبره منل کيږي او د هغه پر قول به فيصله کيږي (لکه په تېر عبارت کي چي دا صورت په تفصيل سره بيان سو).

ولوكان الاختلاف إلخ: او كه خاوند او ښځه دواړه مړه سي او تر مرگ وروسته د دوی د وارثانو په مینځ كي د مهر د مقدار په هكله اختلاف راسي، د خاوند وارثان (مثلاً) د زرو درهمو دعوىٰ كوي او د ښځي وارثان د دوو زرو درهمو دعوىٰ كوي، نو په دې صورت كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز مطلقاً د خاوند د وارثانو قول معتبر دی او د هغو پر قول به فيصله كيږي. كه څه هم هغوی د ډېر لږ مقدار دعوه كوي؛ ځكه چي هغوی د زياتوب منكري دي، او د مدعي سره د بيېنې د نشتوالي په صورت كي د منكر قول او خبره د قسم سره منل كيږي، نو ځكه به د خاوند د وارثانو خبره منل كيږي.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز هم د خاوند د وارثانو قول معتبر دی او د هغو خبره به منل كيږي، خو هغه د لږ مقدار استثناء كوي، يعني كه د خاوند وارثانو د ډېر لږ مقدار دعوىٰ وكړه، نو په دې صورت كي به د ښځي د وارثانو خبره منل كيږي.

امام محمد رَحِمَهُ الله دا صورت د خاوند او ښځي د ژوند پر حالت قياسوي او فرمايي چي څرنگه د خاوند او ښځي د ژوند په حالت كي د دوی په خپل اختلاف سره پر مهرِ مثل فيصله كيږي، همدارنگه به د وارثانو د اختلاف په صورت كي هم پر مهرِ مثل فيصله كيږي.

وإن كان في أصل إلخ: د دې حاصل دا دی كه د خاوند او ښځي تر مرگ وروسته وارثانو په اصل مسمىٰ كي اختلاف وكړي، مثلاً د خاوند وارثان ووايي چي د نكاح په وخت كي بالكل مهر تاكل سوی نه وو، او د ښځي وارثان ووايي چي مهر تاكل سوی وو، نو په دې صورت كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه كس د وارثانو قول معتبر دی چي هغوی د أصل مسمىٰ منكر وي؛ ځكه چي فراغِ ذمه (يعني پر ذمه هيڅ مهر نه واجبېدل) أصل دي، او څوک چي د أصل دعوىٰ كوي نو قول به د هغه معتبر وي، او په دې صورت كي به پر مهرِ مثل فيصله نه كيږي؛ ځكه چي امام صاحب رَحِمَهُ الله د خاوند او ښځي تر مرگ وروسته پر مهرِ مثل فيصله كول نه تسليموي، لېكن د طرفينو په نېز په دې صورت كي هم مهرِ مثل واجبيږي او ائمه ثلاثه هم د دې قائل دي او همدا مفتىٰ به قول دی، دليل به انشاء الله وروسته ذكر سي، فانتظروا إني معكم من المنتظرين.

د غیرِ مسمیٰ لهٔ خاوند یا ښځي د مرګ په صورت کي د مهر حکم

وَإِذَا مَاتَ الزَّوْجَانِ او کله چي خاوند او ښځه [دواړه] مړه سي وَقَدْ سَمّٰى لَهَا مَهْرًا حال دا چي خاوند د ښځي لپاره مهر ټاکلی وي فَلِوَرَثَتِهَا أَنْ يَأْخُذُوْا ذٰلِكَ مِنْ مِيْرَاثِ الزَّوْجِ نو د ښځي وارثانو لره دا حق سته چي هغه [ټاکل سوی مهر] د خاوند له میراث څخه واخلي وَإِنْ لَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْرًا او که خاوند د ښځي لپاره مهر ټاکلی نه وي فَلَا شَيْءَ لِوَرَثَتِهَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د ښځي وارثانو لره هیڅ شي نسته [یعني په دې صورت کي د امام صاحب په نېز د هغو لپاره د دې هیڅ حق نسته چي د خاوند له میراث څخه ټاکل سوی مهر واخلي] وَقَالَا[*]: لِوَرَثَتِهَا الْمَهْرُ فِي الْوَجْهَيْنِ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په دواړو صورتونو کي به د ښځي وارثانو لره مهر وي مَعْنَاهُ الْمُسَمّٰى فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ وَمَهْرُ الْمِثْلِ فِي الْوَجْهِ الثَّانِيْ يعني په اول صورت کي به [د ښځي وارثانو لره] مهرِ مسمیٰ او په دوېم صورت کي به مهرِ مثل وي أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّ الْمُسَمّٰى دَيْنٌ فِيْ ذِمَّتِهِ کوم چي اول صورت دی نو هغه ځکه چي مهرِ مسمیٰ د خاوند پر ذمه قرض دی وَقَدْ تَأَكَّدَ بِالْمَوْتِ او د مرګ په وجه هغه [نور] مؤکد سو فَيُقْضٰى مِنْ تَرِكَتِهِ نو [ځکه] به هغه د خاوند له میراث څخه اداء کیږي إِلَّا إِذَا عُلِمَ أَنَّهَا مَاتَتْ أَوَّلًا خو دا چي کله معلومه سي چي ښځه اول مړه سوې ده فَيَسْقُطُ نَصِيْبُهُ مِنْ ذٰلِكَ نو د خاوند حصه به د ښځي له میراث څخه ساقطیږي وَأَمَّا الثَّانِيْ فَوَجْهُ قَوْلِهِمَا أَنَّ مَهْرَ الْمِثْلِ صَارَ دَيْنًا فِيْ ذِمَّتِهِ كَالْمُسَمّٰى او کوم چي دویم صورت دی نو [په هغه کي] د صاحبینو د قول وجه دا ده چي مهرِ مثل د خاوند پر ذمه قرض دی لکه مهرِ مسمیٰ [چي د خاوند پر ذمه قرض وو] فَلَا يَسْقُطُ بِالْمَوْتِ نو په مرګ سره به هغه [مهرِ مثل] نه ساقطیږي كَمَا إِذَا مَاتَ أَحَدُهُمَا لکه [په هغه صورت کي چي مهرِ مثل نه ساقطیږي] کله چي له خاوند او ښځي څخه یو مړ سي وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ: أَنَّ مَوْتَهُمَا يَدُلُّ عَلَى انْقِرَاضِ أَقْرَانِهِمَا او د امام صاحب دلیل دا دی: چي د خاوند او ښځي مرګ د هغو د همعصرو [او همزولو] پر فنا کېدلو دلالت کوي فَبِمَهْرِ مَنْ يُقَدِّرُ الْقَاضِيْ مَهْرَ الْمِثْلِ نو د چا په مهر سره به قاضي [د ښځي] مهرِ مثل اندازه کړي!؟

---

[*] القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٣٩٣)، وكذا في الهندية (ج:١، ص:٣٢١).
[القول الراجح ج:١، ص:٢٨٦]

اللغات: ﴿وَرَثَة﴾ جمع د "وَارِثٌ" ده: وارثان، ميراث خواره، ﴿دَيْن﴾ قرض، پور، ﴿أَقْرَان﴾ جمع د "قِرْنٌ" ده: هم ځيره. همزولی. هممعصره (هَمْ عصره)، ﴿إِنْقِرَاض﴾ د انفعال مصدر دی: ختمېدل. فنا كېدل، د ځمکي له سره ورکېدل. ﴿يُقَدِّر﴾ د تفعيل مضارع معلومه ده: اندازه كول. مقررول.

تشريح: په دې عبارت کي د يوې مسئلې دوه صورتونه بيان سوي دي، اول صورت متفق عليه دی. دويم صورت مختلف فيه دی. متفق عليه صورت دا دی چي كه زيد او ظريفې نكاح سره وكړه او زيد د نكاح په وخت کي (مثلاً زر درهمه) مهر هم وټاکی. خو زيد په خپل ژوند کي هغه اداء نه کړی او بيا دواړه مړه سول. نو په دې صورت کي د امام صاحب او صاحبينو په اتفاق د ښځي وارثانو لره دا حق سته چي د خاوند له ترکې او ميراث څخه د ښځي مهر (زر درهمه) واخلي.

لېکن كه خاوند (زيد) د ښځي (ظريفې) لپاره مهر ټاكلی نه وو او د مهر په نامه يې وروسته څه شی هغې ته ورکړي هم نه وو او بيا دواړه مړه سول. نو په دې صورت کي هم د صاحبينو په نېز د ښځي وارثانو لره د خاوند له ميراث څخه د مهر اخيستلو حق سته. خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغو لره د دې هيڅ حق نسته (دا مختلف فيه صورت دی).

د صاحبينو دليل: ځرنګه چي په (متفق عليه او مختلف فيه) دواړو صورتونو کي صاحبين د ښځي د وارثانو لپاره د مهر اخيستلو حق ثابتوي، نو ځكه اول د دوی دليل بيان سوی دی. دوی فرمايي چي د ښځي وارثانو ته په اول (متفق عليه) صورت کي د مهر مسمىٰ (ټاكل سوي مهر) د وركولو وجه دا ده چي ټاكل سوی مهر د خاوند پر ذمه دَين (قرض) وو. او خاوند په خپل ژوند کي ښځي ته تر دخول مخكي طلاق هم نه دي وركړی چي په هغه کي څه كمي راسي. او د خاوند په مرګ سره هغه ټاكل سوی مهر نور مؤكد او مظبوط سو. نو ځكه به د نور قرضونو په ځير به دغه قرض هم د هغه له ميراث څخه اداء كېږي.

خو كه دا معلومه سي چي ښځه اول مړه سوې وه او بيا خاوند مړی سوی وو، نو په دې صورت کي به له ټاكل سوي مهر (۱۰۰۰) درهمه څخه د خاوند د ميراث حصه را ګرځول كېږي او پاته مهر به د ښځي وارثانو ته وركول كېږي، مثلاً كه د ښځي اولاد هم وو نو د زرو (۱۰۰۰) درهمو ربع (ځلورمه حصه) يعني دوه نيم سوه (۲۵۰) درهمه به له مهر څخه راګرځول كېږي او پاته اووه نيم سوه (۷۵۰) درهمه به د ښځي وارثانو ته وركول كېږي، او كه د ښځي اولاد نه وو. نو نصف (۵۰۰ درهم) به له مهر څخه راګرځول كېږي او پاته (۵۰۰ درهم) به د ښځي وارثانو ته وركول كېږي. (ځكه كله چي ښځه اولاد لري او بيا ښځه مړه سي، نو په دې صورت کي به د ښځي د ميراث ربع خاوند ته وركول كېږي. او كه هغه اولاد نه لري. نو بيا به نصف وركول كېږي)

او د صاحبينو په نيز په دويم (مختلف فيه) صورت کې ډ ښځې وارثانو ته د مهرِ مثل ورکولو وجه دا ده چې څرنګه مهرِ مسميٰ د خاوند پر ذمه دَين (قرض) وي، همداسې به مهرِ مثل هم د هغه پر ذمه دَين (قرض) وي، او مهرِ مثل چې څرنګه ديوه (يعني د خاوند يا د ښځې) د مرګ په صورت کې نه ساقطيږي، همداسې به د دواړو د مرګ په صورت کې به هم هغه نه ساقطيږي.

د امام صاحب دليل: د امام صاحب د دليل حاصل دا دی چې د ښځې مهرِ مثل د هغې د همعصره او همْ عُمره ښځو په مهر سره اندازه کيږي او معلوميږي، خو کله چې ښځه او خاوند مړه سي او له دې دنيا څخه کوچ وکړي نو داسې سو لکه په دې دنيا کې چې د هغو همعصره او همعُمره ښځې هم ختمې او نيستي سوې، نو اوس به د دغه وفات سوي ښځې مهرِ مثل د کومې ښځې د مهر سره اندازه کيږي او قاضي به د کومې ښځې پر مهر قياس او فيصله کوي!؟ لنډه دا چې اوس د قاضي لپاره د هغې مهرِ مثل معلومول مشکل دي، نو ځکه به په دې صورت کې مهرِ مثل نه واجبيږي. (د انصاف خبره دا ده چې په دې مسئله کې د صاحبينو مسلک او د هغو دليل قوي دی)

د خاوند له طرفه ښځې ته د ورکول سوي شي په حيثيت کې د اختلاف بيان

وَمَنْ بَعَثَ إِلَى امْرَأَتِهِ شَيْئًا او که يو سړي خپلې ښځې ته يو شی واستوی فَقَالَتْ: هُوَهَدِيَّةٌ نو ښځې وويل: چې هغه هديه ده وَقَالَ: الزَّوْجُ هُوَمِنَ الْمَهْرِ او خاوند وويل: چې هغه له مهر څخه دی فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ نو قول به د خاوند معتبر وي لِأَنَّهُ هُوَ الْمُمَلِّكُ ځکه چې هغه مالک جوړونکی دی ايعني د هغه له طرفه ښځه د دې شي مالکه سوې ده! فَكَانَ أَعْرَفَ بِجِهَةِ التَّمْلِيكِ نو هغه به د مالک کولو په جهت ښه خبر وي كَيْفَ وَأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّهُ يَسْعَى فِي إِسْقَاطِ الْوَاجِبِ او څنګه به داسې نه وي چې ظاهري حالت هم دا دی چې هغه به د واجب په ساقطولو کې کوشش کوي قَالَ: إِلَّا فِي الطَّعَامِ الَّذِي يُؤْكَلُ فرمايي: مګر نه په هغه خوراک کې چې خوړل کيږي فَإِنَّ الْقَوْلَ قَوْلُهَا ځکه چې اپه هغه کې ا د ښځې قول معتبر دی وَالْمُرَادُ مِنْهُ مَا يَكُونُ مُهَيَّأً لِلْأَكْلِ او له خوراک څخه مراد هغه خواړه دي کوم چې د خوړلو لپاره تيار سوي وي لِأَنَّهُ يَتَعَارَفُ هَدِيَّةً ځکه چې د هغه هديه کېدل متعارف دي ايعني په عرفِ عام کې تيار سوی خوراک د هديې او تحفې په توګه استول کيږي! فَأَمَّا فِي الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ ليکن په غنمو او اُوربشو کې به د خاوند قول معتبر وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی وَقِيلَ: مَا يَجِبُ عَلَيْهِ مِنَ الْخِمَارِ وَالدِّرْعِ وَغَيْرِهِمَا او ويل سوي دي: کوم شيان چې پر خاوند واجب وي يعني پوړنی، قميص او داسې نور لَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْتَسِبَهُ مِنَ الْمَهْرِ انو ا د خاوند لپاره جائز نه دي

چي هغه شيان له مهر څخه شمار کړي لِأَنَّ الظَّاهِرَ يُكَذِّبُهُ ځکه چي ظاهري حالت د خاوند تکذيب کوي [يعني په دې صورت کې ظاهري حالت هغه درواغجن ګڼي].

اللغات: ﴿هدية﴾ تحفه، سوغات، ډالۍ، ﴿مُمَلِّك﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: مالک جوړونکی، ﴿أعرف﴾ د ضرب له باب څخه د اسم تفضيل صيغه ده: زيات پېژندونکي، زيات په خبر (ښه خبر)، ﴿جهة﴾ طرف، طرز، طريقه، ﴿خمار﴾ اوربشي، ﴿الدرع﴾ قميص (کميس)، ﴿يُكَذِّب﴾ د تفعيل مضارع معلومه ده: درواغجن کول، درواغجن ګڼل، درواغو ته منسوب کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي خپلې ښځي ته يو شی ور واستوی، بيا ښځي خاوند ته وويل چي دا شی تا ما ته د هديې په نيت را استولی دی او خاوند وويل چي نه! بلکي دا ستا د مهر يوه حصه ده، نو په دې صورت کې به د خاوند خبره منل کيږي؛ ځکه چي هغه په خپله مُمَلِّک (مالک جوړونکی) دی او د تمليک په جهت او نوع ښه خبر دی، نو د تمليک چي کوم جهت هغه وټاکي پر هغه به فيصله کيږي.

دويمه خبره دا ده چي ظاهري حالت هم د خاوند موافق دی؛ ځکه پر يو انسان چي کله يو شی واجب وي نو ښکاره خبره ده چي هغه به د دې واجب د اداء کولو او له خپلې غاړې څخه د هغه د ساقطولو کوښښ کوي، داسي نه سي کېدای چي څوک واجب پرېږدي او د هغه پر ځای د تطوع او احسان (هديې) لاره اختيار کړي، نو ظاهري حالت هم د دې ګواهي ورکوي چي خاوند دغه شی ښځي ته د مهر لپاره ورکړی دی، نو ځکه به د هغه خبره منل کيږي.

قال إلا في الطعام الخ: د دې حاصل دا دی چي که خاوند ښځي ته داسي شی ور واستوی چي په هغه کې د هديې علامت او نښه موجوده وه، نو بيا به د ښځي خبره منل کيږي؛ ځکه چي قرينه د ښځي موافق ده، مثلاً خاوند ښځي ته تيار سوی خوراک، سور کړی چرګ يا داسي بل شی واستوی چي هغه دوام نه لري، او بيا خاوند وويل چي دا ستا د مهر يوه حصه ده لېکن ښځي وويل چي دا هديه ده، نو په دې صورت کې به د ښځي خبره منل کيږي؛ ځکه چي په عرفِ عام کې دا ډول شيان په هديه کې استول کيږي، خو که خاوند هغې ته داسي شی واستوی چي هغه دوام لري لکه غنم، جوار، اوربشي، نو بيا به د خاوند خبره منل کيږي او هغه به له مهر څخه شمارل کيږي؛ ځکه چي په عرفِ عام کې د هديې او تحفې په توګه د داسي شيانو د ورکولو رواج نسته، او بل دا چي ظاهري حالت هم د خاوند موافق دی.

او د ځيني حضراتو رايه دا ده چي کوم شيان تر نکاح وروسته پر خاوند واجبيږي لکه د ښځي کپړې، پوړني، قميص، که چيري خاوند له هغه شيانو څخه يو شی ښځي ته ور واستوي او ووايي چي دا مهر دی لېکن ښځه ووايي چي دا هديه ده، نو د ښځي خبره به منل کيږي؛ ځکه چي دلته ظاهري حالت د خاوند مخالف دی او په دې شيانو کې د هديې نښه موجوده ده، نو ځکه به اوس د هغه خبره نه منل کيږي، خو که خاوند يو اضافي شی ور واستوی کوم چي له واجبو شيانو څخه نه وي، نو بيا به د خاوند خبره منل کيږي او هغه شی به مهر شمارل کيږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم

فَصْلٌ (فِيْ بَيَانِ أَحْكَامِ أَنْكِحَةِ الْكُفَّارِ)

(دا) فصل (د كفارو د نكاح ګانو په بيان كي) دى

تشريح: څرنګه چي نكاح په يوه اعتبار سره عبادت دى او په بل اعتبار سره معامله ده. او كفار په معاملاتو كي د مسلمانانو تابع دي. نو ځكه صاحب د كتاب اول د أصل يعني د مسلمانانو د نكاح احكام بيان كړل او تر هغه وروسته اوس د فرع يعني د كفارو د نكاح احكام او مسائل بيانوي (ځكه چي أصل تر فرع مخكي وي).

كه كافر په دار الاسلام كي مردار (حيوان) په مهر كي وټاكي يا له مهر څخه بغير نكاح وكړي؟ (حكم او اختلاف)

وَإِذَا تَزَوَّجَ النَّصْرَانِيُّ نَصْرَانِيَّةً عَلَى مَيْتَةٍ أَوْ عَلَى غَيْرِ مَهْرٍ او كله چي نصراني سړى ديو مردار [حيوان] په عوض كي يا له مهر څخه بغير د نصراني ښځي سره نكاح وكړي وَذٰلِكَ فِي دِيْنِهِمْ جَائِزٌ او دا د هغو په دين [او عقيده] كي جائز وي فَدَخَلَ بِهَا أَوْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُوْلِ بِهَا [او] بيا نصراني په هغې دخول وكړي يا تر دخول مخكي طلاق ورکړي أَوْ مَاتَ عَنْهَا يا ځني مړ سي [يعني هغه مړ سي او ښځه يې پاته سي] فَلَيْسَ لَهَا مَهْرٌ نو د هغې لپاره به [هيڅ] مهر نه وي وَكَذٰلِكَ الْحَرْبِيَّانِ فِي دَارِ الْحَرْبِ او په دارُ الحرب كي د دوو حربيانو هم دغه حكم دى وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ ❁ او دا [حكم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دي وَهُوَ قَوْلُهُمَا فِي الْحَرْبِيَّيْنِ او همدا د دوو حربيانو په باره كي د صاحبينو قول [هم] دى وَأَمَّا فِي الذِّمِّيَّةِ فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا إِنْ مَاتَ عَنْهَا أَوْ دَخَلَ بِهَا او كوم چي ذميه ښځه ده نو د هغې لپاره به مهر مثل وي كه چيري خاوند ځني مړ سي يا دخول په وكړي وَالْمُتْعَةُ إِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُوْلِ بِهَا يا به [د هغې لپاره] متعه وي كه چيري خاوند تر دخول مخكي هغې ته طلاق ورکړي وَقَالَ زُفَرُ: لَهَا مَهْرُ الْمِثْلِ فِي الْحَرْبِيَّيْنِ أَيْضًا امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د دوو حربيانو په صورت كي به هم د ښځي

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۲، ص:۳۹۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۸۸]

لپاره مهرِ مثل وي لَهُ: أَنَّ الشَّرْعَ مَا شَرَعَ ابْتِغَاءَ النِّكَاحِ إِلَّا بِالْمَالِ د هغه دليل دا دى: چې شريعت [فقط] د مال په ذريعه دبضع طلب كول مشروع [او روا] ګرځولي دي وَهٰذَا الشَّرْعُ وَقَعَ عَامًّا او دا شريعت عام واقع سوى دى [يعني زموږ شريعت د هر كس لپاره عام دى] فَيَثْبُتُ الْحُكْمُ عَلَى الْعُمُوْمِ نو [د هغه] حكم به هم په عمومي توګه ثابتيږي وَلَهُمَا: أَنَّ أَهْلَ الْحَرْبِ غَيْرُ مُلْتَزِمِيْنَ أَحْكَامَ الْإِسْلَامِ او د صاحبينو دليل دا دى: چې حربيان د اسلامي احكامو پابند نه دي [يعني هغوى زموږ د اسلامي احكامو ذمه واري نه اخلي او پر ځان يې نه لازموي لكه څرنګه چې يې ذميان پر ځان لازموي] وَوِلَايَةُ الْإِلْزَامِ مُنْقَطِعَةٌ لِتَبَايُنِ الدَّارِ او د دار [حكومت] د تفاوت په وجه [پر هغو] د إلزام [لازمولو] ولايت هم نسته انو ځكه به پر حربيانو زموږ احكام لازم نه وي] بِخِلَافِ أَهْلِ الذِّمَّةِ لِأَنَّهُمُ الْتَزَمُوا أَحْكَامَنَا فِيمَا يَرْجِعُ إِلَى الْمُعَامَلَاتِ كَالرِّبَا وَالزِّنَا په خلاف د ذميانو ځكه چې دوى زموږ هغه احكام پر ځان لازم كړي دي كوم چې د معاملاتو و طرف ته راجع وي [يعني كوم چې د معاملاتو سره تعلق لري] لكه سود او زنا وَوِلَايَةُ الْإِلْزَامِ مُتَحَقِّقَةٌ لِاتِّحَادِ الدَّارِ او د دار ديو والي په وجه [پر هغو] ولايت إلزام هم ثابت دى وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ أَهْلَ الذِّمَّةِ لَا يَلْتَزِمُوْنَ أَحْكَامَنَا فِي الدِّيَانَاتِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چې ذميان د دين په باره كې زموږ احكام پر ځان نه لازموي وَفِيمَا يَعْتَقِدُوْنَ خِلَافَهُ فِي الْمُعَامَلَاتِ او په هغه معلاماتو كې [هم زموږ احكام پر ځان نه لازموي] چې په هغه كې د هغو عقيده زموږ په خلاف وي وَوِلَايَةُ الْإِلْزَامِ بِالسَّيْفِ وَبِالْمُحَاجَّةِ او ولايت د إلزام يا په توره سره ثابتيږي يا د دليل په ذريعه په مغلوبه كولو سره وَكُلُّ ذٰلِكَ مُنْقَطِعٌ عَنْهُمْ بِاعْتِبَارِ عَقْدِ الذِّمَّةِ او د عقد ذمه په وجه دغه دواړه شيان له هغو څخه منقطع دي فَإِنَّا أُمِرْنَا بِأَنْ نَتْرُكَهُمْ وَمَا يَدِيْنُوْنَ ځكه چې موږ ته د دې حكم سوى دى چې هغوى پر خپل دين عمل كولو ته پرېږدو [يعني موږ ته د دې خبري حكم سوى دى چې موږ دوى او خپل دين سره پرېږدو] فَصَارُوا كَأَهْلِ الْحَرْبِ نو دوى د حربيانو په څېر سو بِخِلَافِ الزِّنَا لِأَنَّهُ حَرَامٌ فِي الْأَدْيَانِ كُلِّهَا په خلاف د زنا ځكه چې هغه په ټولو دينونو [او مذهبونو] كي حرامه ده وَالرِّبَا مُسْتَثْنًى عَنْ عُقُوْدِهِمْ او سود د ذميانو له عقودو څخه مستثنىٰ دى لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: إِلَّا مَنْ أَرْبٰى فَلَيْسَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ عَهْدٌ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: مګر څوک چې د سود معامله وكړي نو زموږ او د هغه تر مينځ هيڅ عهد [او

ترون] نسته وَقَوْلُهُ فِي الْكِتَابِ: أَوْ عَلىٰ غَيْرِ مَهْرٍ او په جامع صغير کې د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول: "أَوْ عَلىٰ غَيْرِ مَهْرٍ" [کوم چې د هدايې متن هم دی] يَحْتَمِلُ نَفْيَ الْمَهْرِ وَيَحْتَمِلُ السُّكُوتَ [دا قول] د مهر د نفي او سکوت دواړو احتمال لري وَقَدْ قِيلَ: فِي الْمَيْتَةِ وَالسُّكُوتِ رِوَايَتَانِ او ويل سوي دي: چې د مردار [حيوان] او د سکوت اختيارولو په باره کې دوه روايته دي وَالْأَصَحُّ أَنَّ الْكُلَّ عَلَى الْخِلَافِ [خو] صحيح دا ده چې ټوله صورتونه پر اختلاف دي.

اللغات: ﴿مَيْتَة﴾ مردار سوی حيوان، مرداره (يعني هغه حيوان چې په خپل مرګ مړ سوي وي، صاحب د مصباح يې داسي تعريف کړی دی: وَالْمَيْتَةُ مِنَ الْحَيَوَانِ مَا مَاتَ حَتْفَ أَنْفِهِ). ﴿اِبْتِغَاء﴾ د افتعال مصدر دی: طلب کول، غوښتل، ﴿تَبَايُن﴾ د تفاعل د باب مصد دی: يو له بل څخه جلا کېدل، ﴿محاجة﴾ د مفاعلې مصدر دی: د حجت او دليل په ذريعه مغلوبه کول، ﴿يَدِينُوْن﴾ د ضرب مضارع ده: عقيده لرل (اعتقاد).

تشريح: د عبارت تر حل مخکې دا خبره په يادلرئ! چې په متن کې د "نصراني" او "نصرانيةٌ" قيد اتفاقي دی، يعني د ټولو اهل ذمه (ذميانو) همدغه حکم دی کوم چې د نصراني سړي او نصراني ښځي دی.

په دې عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي او دواړې اختلافي دي: (۱)... د اولې مسئلې حاصل دا دی که يوه نصراني سړي (يعني ذمي) په دارُ الاسلام کې د مردار سوي حيوان په عوض کې د يو نصراني ښځي سره نکاح وکړه، يا يې له څه مهر څخه بغير نکاح ور سره وکړه او حال دا چې په دغه صورت کې د دوی په مذهب او عقيده کې نکاح جائز هم وه، بيا هغه په ښځي دخول وکړی، يا يې تر دخول مخکې طلاق ورکړی، يا هغه مړ سو او ښځه پاتـه سوه (او دا مسئله زموږ دار القضاء ته پېش کړی سوه)، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په دغه ټولو صورتونو کې پر نصراني سړي هيڅ شی واجب نه دی، يعني نصراني ښځي ته به د خاوند له طرفه هيڅ مهر نه ورکول کيږي. صاحبين او امام زفر رَحِمَهُمُ الله فرمايي چې پر دغه سړي مهرِ مثل واجب دی، همدا د ائمه ثلاثه وو رَحِمَهُمُ الله مسلک دی.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که په دار الحرب کې يوه حربي سړي د مردار حيوان په عوض کې يا بېله مهره د يو حربي ښځي سره نکاح وکړه، بيا هغه په ښځي دخول وکړی، يا يې تر دخول مخکې طلاق ورکړی، يا هغه مړ سو او ښځه پاتـه سوه (او دا فيصله زموږ دار القضاء تـه راوړل سوه)، نو په دې

صورت کي د امام صاحب او صاحبينو په نيز پر حربي سړي مهر نه واجبيږي، ليکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز په دې صورت کي هم پر هغه مهرِ مثل واجبيږي.

د امام زفر دليل: دا دی چي په شريعتِ اسلامي کي د بضع او نکاح طلب کول فقط د مال په ذريعه مشروع او روا دي، الله تعالیٰ فرمايلي دي: "أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ...إلخ" او دا حکم عام دی. ځکه چي زموږ شريعت د هر يوه لپاره عام او تام دی، نو د هغه احکام به هم عام او تام وي او د "قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ إِلَيْكُمْ جَمِيْعًا" په روی سره به هر يو د هغه مخاطب وي، همدارنګه نکاح من وجه د معاملاتو له قبيلې څخه ده (يعني په يوه اعتبار سره معامله ده) او په معاملاتو کي د مسلمانانو په څير کفار هم د شريعت مخاطب دي، او څرنګه چي په دغه صورتونو کي (يعني په مردار حيوان باندي د نکاح کولو په صورت کي يا بېله مهره د نکاح کولو په صورت کي) پر مسلمان مهرِ مثل واجبيږي، همدارنګه به پر نصراني (ذمي) او حربي هم مهرِ مثل واجبيږي او ښځي ته به مهرِ مثل ورکول کيږي. (ځکه د "إِنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ إِلَيْكُمْ جَمِيْعًا" مطلب دا ښکاري چي د دغه شريعت احکام د کفارو لپاره هم دي).

د صاحبينو دليل: د صاحبينو د دليل حاصل دا دی چي د شريعت په احکامو هغه کسان مکلّف او مخاطب دي چي هغو د اسلامي احکامو التزام کړی وي (او پر ځان يې لازم کړي وي چي هغوی ذميان دي)، او څرنګه دار الحرب جلا حکومت دی او حربي فقط د يو څو وخت لپاره دار الاسلام ته راغلی دی، لهذا هغه د اسلامي احکامو التزام نه دی کړی، نو ځکه به پر حربيانو زموږ د شريعت احکام نه لازميږي؛ پاته سوه ذميان نو هغه خو زموږ د دارُ الاسلام په سايه کي اوسيږي، نو د دې اوسېدلو په وجه هغو پر ځان زموږ د شريعت هغه احکام لازم کړي دي او د هغه احکامو ذمه واري يې اخيستې ده کوم چي د معاملاتو سره تعلق لري، لکه سود او زنا (ځکه کله چي کفار ذميان وګرځي نو هغوی د مسلمانانو سره د دغه شيانو عهد او تړون کوي او د دې ذمه واري اخلي، لهذا که چيري ذمي زنا وکړي نو پر هغه به حد جاري کيږي او که هغه د سود معامله کوي نو دې ته به نه پرېښوول کيږي، ځکه چي دا دارُ الاسلام دی). او د دارُ الاسلام په وجه پر هغه ولايتِ الزام (د لازمولو ولايت) هم ممکن دی، لهذا کله چي د هغو په حق کي التزام او الزام دواړه شيان موجود دي، نو ځکه به پر هغو هم د مسلمانانو په څير مهرِ مثل واجبيږي.

د امام صاحب دليل: د امام صاحب د دليل حاصل دا دی چي اهلِ ذمه (ذميانو) د ديني معاملاتو په باره کي زموږ احکام پر ځان نه دي لازم کړي يعني زموږ د ديني احکامو د منلو ذمه واري نه ده اخيستې، همدارنګه په دنيوي معاملاتو کي چي د کومو شيانو په باره کي د هغو ديني عقيده جلا وي هغه يې هم پر ځان نه دي لازم کړي او د هغه د منلو ذمه واري نه ده اخيستې، نو ځکه په دې باره کي موږ د خپل شريعت فيصله پر هغو نه سو نافذولای؛ او موږ صرف په دوه ډوله پر ذميانو فيصله نافذولای سو: ياد

توري په ذریعه، یا د خپل شرعي دلیل او بحث و مباحثې په ذریعه د هغو په مغلوبه کولو سره، او د ذمي والي د عقد په وجه موږ له دغه دواړو څخه منع سوي یو؛ ځکه چي موږ ته حکم سوی دی چي هغوی پر خپل دین پرېږدو (أُمِرْنَا بِتَرْكِهِم. الحديث)، نو ځکه به ذمي هم د مهر په معامله کي د حربي په څېر وي.

بخلاف الزنا إلخ: په دې سره د صاحبینو د قول جواب ورکوي، حاصل یې دا دی چي پر زنا قیاس کول صحیح نه دي؛ ځکه چي زنا یو داسي دروند جرم دی چي په ټولو أدیانو کي حرام دی، نو ذمیانو ته د زنا سزا ورکول د هغو د خپل دین په وجه دي، نه د اسلامي احکامو د مکلف کېدلو په وجه، او پاته سوه د سود مسئله نو هغه د ذمي والي له عقد څخه مستثنیٰ ده، ځکه نبي کریم ﷺ په واضحه توګه فرمایلي دي چي څوک د سود کاروبار کوي زموږ او د هغه په مینځ کي هیڅ عهد او عقد نسته، لهذا کله چي د سود مسئله د ذمي والي له عقد څخه مستثنیٰ ده، نو پر سود باندي هم قیاس کول صحیح نه دي.

وقوله إلخ: د متن په دې قول "أَوْ عَلَىٰ غیر مهر" کي دوه احتماله دي: ① یو دا چي خاوند بالکل د مهر نفي کړي وي (چي مهر نه درکوم)، ② دویم دا چي خاوند او ښځي بالکل مهر ذکر کړی نه وي، یعني د مهر په باره کي یې سکوت اختیار کړی وي، په ظاهر روایت کي ذکر سوي دي چي د مهر د نفي په صورت کي هم د امام صاحب په نېز پر خاوند مهرِ مثل واجببږي، لېکن د سکوت په صورت کي هیڅ شی نه پر واجببږي. دویم قول دا دی چي د مردار سوي حیوان او د سکوت په باره کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه دي: ① یو دا چي پر خاوند مهرِ مثل واجببږي (یعني که نصراني خاوند یو مردار حیوان په مهر کي وټاکي یا د مهر په باره کي چپ پاته سي، نو د امام صاحب یو روایت دا دی چي پر هغه مهرِ مثل واجببږي)، ② بل روایت دا دی چي هیڅ شی نه پر واجببږي.

خو صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي صحیح روایت دا دی چي په ټولو صورتونو کي د امام صاحب او صاحبینو اختلاف دی هغه که ① په مهر کي مردار حیوان ټاکل سوي وي ② او که خاوند د مهر نفي کړي وي ③ او که د مهر په باره کي یې سکوت اختیار کړی وي، نو امام صاحب په نېز پر خاوند هیڅ شی نه واجببږي او د صاحبینو په نېز مهرِ مثل پر واجببږي.

كه ذمي د خنزير يا د شرابو په عوض كې نكاح وكړي او بيا مسلمان سي؟ (حكم او اختلاف)

وَإِنْ تَزَوَّجَ الذِّمِّيُّ ذِمِّيَّةً عَلَى خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ كه چيري ذمي د يو ذمي ښځي سره د شرابو يا د خنزير په عوض كي نكاح و كړي ثُمَّ أَسْلَمَا أَوْ أَسْلَمَ أَحَدُهُمَا بيا دواړه اسلام راوړي يا يو د دوی اسلام راوړي فَلَهَا الْخَمْرُ وَالْخِنْزِيرُ نو د [ذمي] ښځي لپاره به شراب او خنزير وي وَمَعْنَاهُ: إِذَا كَانَا بِأَعْيَانِهِمَا او د دې مطلب دا دی: چي كله شراب او خنزير معيّن [او معلوم] وي وَالْإِسْلَامُ قَبْلَ الْقَبْضِ او [د دهغو] اسلام راوړل [د شرابو او خنزير] تر قبضه كولو مخكي وي وَإِنْ كَانَا بِغَيْرِ أَعْيَانِهِمَا [ليكن] كه شراب او خنزير معيّن نه وي فَلَهَا فِي الْخَمْرِ الْقِيمَةُ وَفِي الْخِنْزِيرِ مَهْرُ الْمِثْلِ نو د شرابو په صورت كي به د ښځي لپاره قيمت وي او د خنزير په صورت كي به مهرِ مثل وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حكم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ❁: لَهَا مَهْرُ الْمِثْلِ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دواړو صورتونو كي به د هغې لپاره مهرِ مثل وي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَهَا الْقِيمَةُ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دواړو صورتونو كي به د هغې لپاره قيمت وي وَجْهُ قَوْلِهِمَا: أَنَّ الْقَبْضَ مُؤَكِّدٌ لِلْمِلْكِ فِي الْمَقْبُوضِ لَهُ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د قول دليل دا دی چي قبضه په مقبوض شي كي ملک مؤكد كوي فَيَكُونُ لَهُ شِبْهٌ بِالْعَقْدِ نو قبضه به يو ډول د عقد سره مشابه وي فَيَمْتَنِعُ بِسَبَبِ الْإِسْلَامِ كَالْعَقْدِ او د اسلام په وجه سره به د عقد په څېر قبضه [هم] ممنوع وي وَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَا بِغَيْرِ أَعْيَانِهِمَا او دا داسي سو لكه [شراب او خنزير] چي غيرِ معيّن وي وَإِذَا الْتَحَقَتْ حَالَةُ الْقَبْضِ بِحَالَةِ الْعَقْدِ او كله چي د قبضې حالت د عقد د حالت سره لاحق سو فَأَبُو يُوسُفَ يَقُولُ: لَوْ كَانَا مُسْلِمَيْنِ وَقْتَ الْعَقْدِ نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي كه زوجين د عقد په وخت كي مسلمانان وي يَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ وَقْتَ الْعَقْدِ وَقْتَ الْعَقْدِ نو مهرِ مثل واجبيږي فَكَذَا هٰهُنَا نو همدارنګه

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، لأن قوله قول المتون، وكذا في الدر المختار (ج:٢، ص:٤٠٠). [القول الراجح ج:١، ص:٣٨٩]

به دلته هم [مهرِ مثل واجبيږي] وَمُحَمَّدٌ يَقُوْلُ: صَحَّتِ التَّسْمِيَةُ لِكَوْنِ الْمُسَمّٰى مَالًا عِنْدَهُمْ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [دلته] د ذميانو په نيز د مسمیٰ [تاکل سوي شي] د مال کېدلو په وجه د مهر تسميه [تعيين] صحيح ده إِلَّا أَنَّهُ امْتَنَعَ التَّسْلِيْمُ لِلْإِسْلَامِ لېکن د اسلام په وجه د هغه ور سپارل ممنوع دي فَتَجِبُ الْقِيْمَةُ نو ځکه به قيمت به واجبيږي كَمَا إِذَا هَلَكَ الْعَبْدُ الْمُسَمّٰى قَبْلَ الْقَبْضِ لکه څرنګه چي تر قبضې مخکي تاکل سوی غلام هلاک سي انو هم قيمت واجبيږي] وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ: أَنَّ الْمِلْكَ فِي الصَّدَاقِ الْمُعَيَّنِ يَتِمُّ بِنَفْسِ الْعَقْدِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي په مهرِ مُعيّن کي محض په عقد سره ملک پوره کيږي وَلِهٰذَا تَمْلِكُ التَّصَرُّفَ فِيْهِ او له همدې کبله ښځه په هغه کي د تصرّف کولو مالکه ده وَبِالْقَبْضِ يَنْتَقِلُ مِنْ ضَمَانِ الزَّوْجِ إِلٰى ضَمَانِهَا او په قبضه کولو سره هغه ملک د خاوند له ضمان څخه د ښځي و ضمان ته نقل کيږي وَذٰلِكَ لَا يَمْتَنِعُ بِالْإِسْلَامِ او دا د اسلام په وجه سره ممنوع دي كَاسْتِرْدَادِ الْخَمْرِ الْمَغْصُوْبَةِ لکه د غصب کړل سوو شرابو واپس اخيستل [چي داسلام په وجه سره ممنوع نه دي] وَفِيْ غَيْرِ الْمُعَيَّنِ الْقَبْضُ يُوْجِبُ مِلْكَ الْعَيْنِ او په مهرِ غيرِ مُعيّن کي قبضه د عين [شرابو او خنزير] ملکيت ثابتوي [او په دې کي محض په عقد سره ملک نه پوره کيږي] فَيَمْتَنِعُ بِالْإِسْلَامِ نو ځکه به دا د اسلام په وجه ممنوع وي بِخِلَافِ الْمُشْتَرٰى لِأَنَّ مِلْكَ التَّصَرُّفِ فِيْهِ إِنَّمَا يُسْتَفَادُ بِالْقَبْضِ په خلاف د رانيول سوي شي، ځکه چي د تصرف ملک خو په هغه کي په قبضه سره حاصليږي وَإِذَا تَعَذَّرَ الْقَبْضُ فِيْ غَيْرِ الْمُعَيَّنِ او کله چي په مهرِ غيرِ معين کي قبضه ناممکنه سوه لَا تَجِبُ الْقِيْمَةُ فِي الْخِنْزِيْرِ نو د خنزير په صورت کي به قيمت نه واجبيږي لِأَنَّهُ مِنْ ذَوَاتِ الْقِيَمِ ځکه چي خنزير له ذواتُ القيم څخه دی فَيَكُوْنُ أَخْذُ قِيْمَتِهٖ كَأَخْذِ عَيْنِهٖ نو د هغه اخيستل به داسي وي لکه په خپله د خنزير اخيستل وَلَا كَذٰلِكَ الْخَمْرُ لِأَنَّهُ مِنْ ذَوَاتِ الْأَمْثَالِ او شراب داسي نه دي ځکه چي هغه له ذواتُ الأمثال څخه دي أَلَا تَرٰى أَنَّهُ لَوْ جَاءَ بِالْقِيْمَةِ قَبْلَ الْإِسْلَامِ آيا ته نه ګورې! چي که خاوند تر اسلام راوړلو مخکي قيمت اداء کړي تُجْبَرُ عَلَى الْقَبُوْلِ فِي الْخِنْزِيْرِ دُوْنَ الْخَمْرِ نو ښځه به په خنزير کي د قيمت پر قبلولو مجبوروله کيږي، نه په شرابو کي وَلَوْ طَلَّقَهَا

قَبۡلَ الدُّخُوۡلِ بِهَا او که چیرې خاوند تر دخول مخکې ښځې ته طلاق ورکړي فَمَنۡ أَوۡجَبَ مَهۡرَ الۡمِثۡلِ أَوۡجَبَ الۡمُتۡعَةَ نو چا چې مهرِ مثل واجب کړی دی هغه [په دې صورت کې] متعه واجبوي وَمَنۡ أَوۡجَبَ الۡقِيۡمَةَ أَوۡجَبَ نِصۡفَهَا او چا چې قیمت واجب کړی دی هغه د قیمت نصف [نیم قیمت] واجبوي.

اللغات: ﴿مُؤَكِّد﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: مضبوطونکی (ټینګونکی، پخونکی)، ﴿يَمۡتَنِعُ﴾ د افتعال مضارع ده: منع کېدل (ممنوع کېدل)، ناممکن کېدل، ﴿صَدَاق﴾ مهر، ﴿إِسۡتِرۡدَاد﴾ د استفعال مصدر دی: واپس اخیستل، ﴿تَعَذَّرَ﴾ د تفعل ماضي ده: ناممکن کېدل، مشکل کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که یو ذمي کس د معلومو شرابو یا د معلوم خنزیر په عوض کې د یو ذمي ښځې سره نکاح وکړي (یعني په مهر کې معلوم شراب یا معلوم خنزیر وټاکي چې خاص دغه درکوم)، بیا د مهر تر ورکولو او اخیستلو مخکې دواړه مسلمانان سي، یا په دواړو کې یو مسلمان سي.

نو په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دغه ذمي ښځې لپاره هغه ټاکل سوي معلوم شراب یا معلوم خنزیر واجبیږي یعني ذمي کس به ښځې ته هغه ورکوي، او که چیرې ذمي په مهر کې معلوم شراب یا خنزیر نه وټاکي بلکې هسې دیو نا ټاکل سوي (غیر معیّن) شراب یا خنزیر په عوض کې نکاح ور سره وکړي، نو امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چې د غیرِ معیّنو شرابو په صورت کې د ذمي ښځې لپاره د هغه شرابو قیمت واجبیږي او د غیرِ معیّن خنزیر په صورت کې د ښځې لپاره مهرِ مثل واجبیږي.

امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې (برابره ده شراب یا خنزیر معیّن وي او که غیرِ معیّن وي) په دواړو صورتونو کې د ښځې لپاره مهرِ مثل واجبیږي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دواړو صورتونو کې د ښځې لپاره د شرابو یا د خنزیر قیمت واجبیږي.

د صاحبینو دلیل: وجه قولهما الخ: له دی ځای څخه صاحب د کتاب د امام ابو یوسف او امام محمد دواړو مشترک دلیل بیانوي، که څه هم د دوی په خپل مینځ کې اختلاف دی، خو صاحب د کتاب ځکه د دواړو لپاره مشترک او یو دلیل بیانوي چې دوی دواړه په هیڅ صورت کې هم د ښځې لپاره عینِ شراب یا عینِ خنزیر نه واجبوي، هغه که معین وي او که غیرِ معین وي.

نو فرمايي د صاحبینو دلیل دا دی چې قبضه د ملکیت لپاره مؤکّده ده (یعني د ښځې په قبضه کولو سره ملکیت نور مؤکد او مستحکم ګرځي)، همدا وجه ده چې که دغه ټاکل سوی شی هغه وخت هلاک سي چې ښځې لا قبضه کړی نه وي، نو هغه د خاوند له مال څخه هلاک شمارل کیږي او پر خاوند د هغه مثل واجبیږي که چیرې هغه له ذوات الأمثال څخه وي، او که هغه له ذواتُ القیم څخه وي نو قیمت پر واجبیږي، او که هغه د ښځې تر قبضه کولو وروسته هلاک سي نو د ښځې له مال څخه هلاک شمارل کیږي، او همدارنګه د امام

صاحب په نېز تر قبضه کولو مخکې پر ښځې په مهر کې زکاة نه واجبيږي او تر قبضه کولو وروسته پر ښځې زکاة واجبيږي، لهذا کله چې قبضه د ملک لپاره مؤکده ده نو قبضه د عقد سره مشابه سوه (يعني قبضه کول داسې سو لکه عقد کول) ځکه چې قبضه او عقد دواړه په ملکيت کې مؤثر دي، نو څرنګه چې تر اسلام وروسته ابتداءً د عقد په وجه د شرابو تمليک (يعني يو چا ته شراب ورکول او هغه د دې مالک جوړول) او د خنزير تمليک ممنوع او نا روا دی، همدارنګه تر اسلام وروسته پر شرابو يا پر خنزير قبضه کول هم ممنوع ده، او څرنګه چې د غير معيّنو شرابو يا د غيرِ معيّن خنزير په صورت کې د يو مسلمان لپاره د هغه تمليک او قبضه (ورکول او اخيستل) ممنوع دي، همدارنګه د هغوی تر معيّن کېدلو وروسته هم د هغوی تمليک او قبضه ممنوع دي، نو کله چې قبضه د عقد سره مشابه سوه او د عينِ شرابو يا عينِ خنزير ورکول (تمليک) ممنوع سو، نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې که دوی دواړه (ذمي او ذميه) پر شرابو يا پر خنزير د عقد کولو په وخت کې مسلمانان وای نو مهر مثل به واجبېدی، لهذا کله چې اوس د قبضه کولو په وخت کې مسلمانان دي نو اوس به هم مهرِ مثل واجبيږي. او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې په مهر کې د خنزير او شرابو ټاکل (تسميه) صحيح ده؛ ځکه چې د ذميانو په نېز دغه شيان مال دي، خو څرنګه چې د اسلام په وجه د دې شيانو ورکول (تمليک) ممنوع دي، نو ځکه به د هغوی قيمت واجبيږي، لکه څرنګه چې په هغه وخت کې هم قيمت واجبيږي کله چې په مهر کې غلام وټاکل سي او هغه تر قبضه کولو مخکې هلاک سي، نو همدارنګه به دلته هم د خنزير يا شرابو قيمت واجبيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې مِلک (ملکيت) په مهرِ معيّن کې په نفسِ عقد سره پوره کيږي (يعني په مهرِ مُعيّن کې محض په عقد سره د ښځې ملکيت ثابتيږي)؛ ځکه چې مِلک پر دوه قسمه دی: ملکِ رقبه او ملکِ تصرف، او په مهر معين کې د ښځې لپاره تر قبضې مخکې دواړه ملکونه ثابت دي، همدا وجه ده چې ښځه د مهرِ معيّن تر قبضه کولو مخکې په هغه کې د هر ډول تصرف کولو حق او اختيار لري او که تر قبضه کولو مخکې هغه (مهرِ معيّن) هلاک سي نو هغه د ښځې له ملک څخه هلاک شمارل کيږي. نه د خاوند له ملک څخه؛ خلاصه دا چې په مهرِ معين کې قبضه د ملک لپاره مؤکده نه ده. پاته سو دا سوال چې بيا د قبضې څه فايده ده؟، نو صاحب د هدايې په جواب کې فرمايي چې د قبضې په ذريعه دغه ملک د خاوند له ضمان څخه وځي او د ښځې ضمان ته نقل کيږي، او دا انتقال د اسلام په وجه ممنوع نه دی (يعني مسلمان کېدل که څه هم د خنزير او شرابو د تمليک لپاره مانع دي خو د ملک د انتقال لپاره مانع نه دي)، مثلاً له يو ذمي څخه يو چا شراب غصب کړه او تر هغه وروسته ذمي مسلمان سو، نو اوس د دغه مسلمان ذمي لپاره له غاصب څخه هغه مغصوب شراب اخيستل جائز دي، ځکه چې دا د ملک تجديد نه دی بلکې د ملک استرداد او د ضمان انتقال دی چې له هغه څخه اسلام مانع نه دی.

د دې په خلاف په مهرِ غيرِ معين کې محض په عقد سره د ښځې ملکيت نه ثابتيږي، نو ځکه به هلته قبضه د ملک لپاره مؤکده او موجبه نه وي او تر اسلام وروسته به قبضه ممنوع وي؛ ځکه چې اسلام د شرابو او خنزير له تمليک او قبضه دواړو څخه مانع دی.

بخلاف المشتري إلخ: علامه عيني رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي "المشتري" د راء په فتحه او کسره دواړو سره ويل کېداى سي، که په فتحه سره وويل سي نو مطلب به يې دا وي چي په معين مهر کي خو په محض په عقد سره ملک ثابتيږي نو ځکه هلته اسلام له قبضې څخه مانع نه دی، لېکن که يو ذمي کس شراب يا خنزير رانيسي يا يې خرڅ کړي او تر قبضې مخکي اسلام راوړي، نو په دې صورت کي اسلام له قبضې او مِلک دواړو څخه مانع دي، ځکه چي په بيع او شراء کي محض په عقد سره ملک نه ثابتيږي، بلکي هلته په قبضه سره ملک ثابتيږي، حال دا چي د اسلام په وجه سره قبضه ممنوع ده.

لنډه دا چي کله دا خبره ثابته سوه چي په مهرِ معين کي محض په عقد سره د ښځي مِلک ثابتيږي، نو اوس که چيري د ښځي مهر خنزير وي نو پر خاوند به د هغې مهر مثل واجب وي او ښځي ته به مهرِ مثل ورکوي د خنزير قيمت به نه ورکوي؛ ځکه چي خنزير له ذواتُ القِيم څخه دی، نو د هغه قيمت ورکول او اخيستل خاص د خنزير د ورکولو او اخيستلو په څېر دي او د يو مسلمان لپاره دا سي کول صحيح نه دي، او که د ښځي مهر شراب وي، نو پر خاوند به د شرابو قيمت واجب وي او هغې ته به د شرابو قيمت ورکوي؛ ځکه چي شراب له ذواتُ الامثال څخه دی، نو د هغه قيمت ورکول او اخيستل خاص د شرابو د ورکولو او اخيستلو په څير نه دي.

ألا ترى إلخ: په دې عبارت سره صاحب د هدايې د دغه خبري نور وضاحت بيانوي چي خنزير له ذواتُ القيم څخه دی او شراب له ذواتُ الامثال څخه دی، فرمايي که د يو ښځي مهر خنزير وي او تر اسلام مخکي خاوند هغې ته قيمت ورکول وغواړي نو ښځه به د قيمت پر اخيستلو مجبورول کيږي؛ ځکه چي خنزير اصلاً له ذواتُ القيم څخه دی، لېکن که مهر شراب وي او تر اسلام مخکي خاوند هغې ته د شرابو قيمت ورکول وغواړي، نو په دې صورت کي ښځه د شرابو د قيمت پر اخيستلو نه سي مجبورول کېداى؛ ځکه چي شراب له ذواتُ الامثال څخه دي، نه له ذواتُ القيم څخه.

ولو طلقها إلخ: فرمايي که په دغه مسئله کي خاوند تر دخول مخکي ښځي ته طلاق ورکړي، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز پر خاوند متعه واجبيږي؛ ځکه چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مهرِ مثل واجب کړی وو. او څرنګه چي امام محمد رَحِمَهُ الله قيمت واجب کړی وو، نو ځکه د هغه په نيز پر خاوند د قيمت نصف (يعني نيم مهر) واجبيږي، ځکه چي تر دخول مخکي د طلاق په وجه سره نيم مهر لازميږي.



بَابُ نِكَاحِ الرَّقِيْقِ

(دا) باب (په بیان کي) د غلام د نکاح دی

تشریح: مخکې تر دې صاحب د کتاب د آزاد مسلمان د نکاح مسئلې په تفصیل سره بیان کړې، اوس په دې باب کي د غلام د نکاح مسئلې په تفصیل سره بیانوي، ځرنګه چي د غلامانو په نسبت په آزادو خلکو کي اسلام غالب وي، نو ځکه یې د آزاد کس د نکاح بیان د غلام (رقیق) د نکاح تر بیان مخکې کړی.

او د نصراني او نصرانیه تر فصل وروسته د دې باب د ذکر کولو وجه دا ده چي رِقیت (غلامتوب) د کفر له آثارو او علاماتو څخه دی، او ځرنګه چي أثر تر مؤثر وروسته په وجود کي راځي. نو په دې وجه یې دا باب د نصراني او نصرانیه تر فصل وروسته کړی. والتفصيل في البناية وفتح القدير (ج:۲. ص:۹۶۹).

رقیق: رقیق غلام او مملوک ته وایي. پر واحد، تثنیه او جمع ټولو باندي یې اطلاق کیږي.

د غلام او مینځي د نکاح بیان

لَا يَجُوزُ نِكَاحُ الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ إِلَّا بِإِذْنِ مَوْلَاهُمَا جائز نه ده نکاح د غلام او د مینځي مګر د خپل مالک په اجازت سره وَقَالَ مَالِكٌ: يَجُوزُ لِلْعَبْدِ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د غلام لپاره [د مالک له اجازت څخه بغیر] نکاح جائز ده لِأَنَّهُ يَمْلِكُ الطَّلَاقَ فَيَمْلِكُ النِّكَاحَ ځکه چي هغه د طلاق ملکیت [او اختیار] لري نو د نکاح ملکیت به هم لري وَلَنَا قَوْلُهُ عليه السلام: أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهُ فَهُوَ عَاهِرٌ او زموږ دلیل د نبي ﷺ دا قول دی: کوم غلام چي د خپل مالک له اجازت څخه بغیر نکاح وکړي نو هغه بد کاره [زنا کاره] دی وَلِأَنَّ فِي تَنْفِيذِ نِكَاحِهِمَا تَعْيِيبَهُمَا او په دې وجه [هم] چي د غلام او مینځي د نکاح په نافذولو کي د دوی عیبجن کول دي إِذِ النِّكَاحُ عَيْبٌ فِيهِمَا ځکه چي نکاح د دوی په حق کي عیب دی فَلَا يَمْلِكَانِهِ بِدُونِ إِذْنِ مَوْلَاهُمَا نو ځکه به دوی د خپل مالک له اجازت څخه بغیر د نکاح ملکیت نه لري وَكَذَلِكَ الْمُكَاتَبُ او همدارنګه مکاتب غلام [هم د مالک له اجازت څخه

بغير د نكاح كولو ملكيت نه لري) لِأَنَّ الْكِتَابَةَ أَوْجَبَتْ فَكَّ الْحِجْرِفِي حَقِّ الْكَسْبِ ځكه چي عقد كتابت انفقط (د كسب اكتې) په حق كي دبنديز ليري كول لازم كړي دي فَبَقِيَ فِي حَقِّ النِّكَاحِ عَلَى حُكْمِ الرِّقِّ نو ځكه به د نكاح په حق كي مكاتب خپل د غلامتوب پر حكم پاته وي وَلِهٰذَا لَا يَمْلِكُ الْمُكَاتَبُ تَزْوِيجَ عَبْدِهٖ وَيَمْلِكُ تَزْوِيجَ أَمَتِهٖ همدا وجه ده چي مكاتب د خپل غلام د نكاح كولو ملكيت نه لري (لېكن) د خپلي مينځي د نكاح كولو ملكيت لري لِأَنَّهٗ مِنْ بَابِ الْاِكْتِسَابِ ځكه چي اخپله مينځه يو چا ته په نكاح وركول) د ګټي له باب څخه دي (ځكه په دې سره هم مال ډيريږي) وَكَذَا الْمُكَاتَبَةُ لَا تَمْلِكُ تَزْوِيجَ نَفْسِهَا بِدُوْنِ إِذْنِ الْمَوْلٰى وَتَمْلِكُ تَزْوِيجَ أَمَتِهَا او همدارنګه مكاتبه مينځه د مالک له اجازت څخه بغير د خپل ځان د نكاح كولو ملكيت نه لري (لېكن) د خپلي مينځي د نكاح كولو ملكيت لري لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ (اوس) بيان كړى وَكَذَا الْمُدَبَّرُ وَأُمُّ الْوَلَدِ او همدارنګه مدبر غلام او اُمِّ ولد مينځه (هم د مالک له اجازت څخه بغير د نكاح ملكيت نه لري) لِأَنَّ الْمِلْكَ فِيْهِمَا قَائِمٌ ځكه چي په دوى كي (هم) د مالک ملكيت موجود دى.

اللغات: ﴿عَاهِر﴾ بدكاره، زاني (زناكاره)، ﴿تَنْفِيْذ﴾ د تفعيل مصدر دى: نافذول، ﴿تَعْيِيْب﴾ دا هم د تفعيل مصدر دى: عيبجن كول، خرابول، ﴿فَكّ﴾ د نصر مصدر دى: يو شى سره جلا كول، ليري كول، خلاصول، ﴿الحِجْر﴾ بنديز، ممانعت، پابندي، ﴿رِقّ﴾ غلامي، غلامتوب، ﴿تَزْوِيْج﴾ د تفعيل مصدر دى: نكاح وركول (واده وركول، نكاح تړل).

تشريح: د عبارت تر حل مخكي په دې خبره ځان پوه كړئ! چي په متن كي "لَا يَجُوْزُ" د "لَا يَنْفُذُ" په معنىٰ سره دى، ځكه چي د صحيح قول مطابق د غلام او مينځي نكاح د مالک (مولىٰ) له اجازت څخه بغير جائز ده خو نافذه نه ده، بلكي د مالک پر اجازت موقوفه ده، يعني كه مالک اجازت وركړي نو نافذيږي او كه اجازت نه وركړي نو نه نافذيږي.

حاصل دا چي د مالک له اجازت څخه بغير د مينځي نكاح د ټولو امامانو په اتفاق نه نافذيږي؛ ځكه چي د مينځي د بضع منافع د مالک ملكيت دى او د مالک له اجازت څخه بغير د هغه په ملكيت كي هيچا ته د تصرف كولو حق نسته، نو ځكه به د مالک له اجازت څخه بغير د مينځي نكاح صحيح

او نافذ نه وي، او پاتـه سو غلام نو د هغه په باره کي د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی. هغه فرمايي چي د مالک له اجازت څخه بغير د غلام نكاح نافذيږي. لېكن د احنافو په نېز نه نافذيږي.

د امام مالک دليل: دا دی چي غلام د طلاق ملكيت لري (يعني ښځي تـه د مالک له اجازت څخه بغير طلاق ورکولای سي) او طلاق د نکاح سبب دی، او کوم څوک چي د سبب مالک وي نو هغه به خامخا د مُسبّب (نکاح) مالک هم وي، په بله وينا دا چي طلاق د نکاح رفع کولو (ختمولو) تـه وايي. او کوم څوک چي د يو شي د رفع کولو او ختمولو مالک وي نو هغه به د دغه شي د اثبات او ايجاد هم مالک وي.

زموږ دليل: زموږ نقلي دليـل د حضـرت جابر ﷺ دا حديث دی: "أَيُّمَا عَبْدٍ تَـزَوَّجَ...فَهُوَ عَاهِرٌ" (يعني کوم غلام چي د خپل مالک له اجازت څخه بغير نکاح وکړي نو هغه بدکاره او زناکاره دی)، پـه دې حديث کي د مالک لـه اجازت څخه بغير نکاح کونکي غـلام تـه زناکاره ويـل سـوي. لهذا د دې حديث په خلاف په قياس عمل کول او د مالک له اجازت څخه بغيـر د غـلام نکاح نافـذول صحيح نه دي.

او زموږ عقلي دليـل دا دی چي غـلام او مينځه د خپـل مالک د خدمت او اطاعت لپاره وي. اوس که موږ د مالک له اجازت څخه بغير د هغو نکاح صحيح او نافذ وګرځوو نو اولاً خو دا مقصد فوتيږي. دويم دا چي د غلامانو په حق کي نکاح عيب هـم ده؛ ځکه چي خلک پر واده والا غـلام باندي مَجرّد غلام ته ترجيح ورکوي (يعني کوم غلام چي واده نه لري او مُجرّد وي نو خلک هغه تـر واده والا غـلام ډېر خوښوي)، نو په دې وجه هم د مالک له اجازت څخه بغير د غلامـانو نکـاح صحيح او نافذ ګرځـول (او د مالک له اجـازت څخه بغيـر هغـو تـه د نکـاح پـه وجه د خپـل ځـان د عيبجن کولو اجازه ورکـول) صحيح نه ښکاري.

وكذا المكاتب الخ: فرمايي چي څرنګه د رقيق (مطلق غلام) لپاره د مالک له اجازت څخه بغيـر نکـاح کول صحيح نه دي، همدارنګه د مکاتب، مدبر او اُمّ ولد لپاره داسي کول صحيح نه دي او د دوی نکاح هم د مالک له اجازت څخه بغيـر نـه نافـذيږي؛ ځکـه چي د عقد کتابت پـه وجـه ځکـه مکاتـب لـره د کسب او ګټي اجازت ورکول سوی دی چي هغه په دې سره خپل حُريت حاصل کړي (يعني چي ګټه وکړي او هغه مالک ته ورکړي او خپل ځان آزاد کړي) اوس که مکاتب ته د نکاح اجازت ورکول سي، نو د هغه ټوله ګټه به د ښځي په مهر، نفقه او نورو کي مصرف سي او د عقد کتابت مقصد به فوت سي. نو ځکه د مالک له اجازت څخه بغير د مکاتب نکاح صحيح او نافذ نه ده. همدا وجه ده چي د مکاتب لپاره دا جائز نه دي چي خپل د غلام نکاح وکړي؛ ځکه چي په دې صورت کي به هـم د خپـل غـلام د

ښځې ته له مصرفونه مكاتب برداشتوي او د هغه په وجه به دې ته نه خلاصيږي چي د عقد كتابت مقصد پوره كړي او خپل ځان په آزادۍ سره مشرف كړي.

ليكن مكاتب د خپلې مينځې نكاح كولاى سي؛ ځكه په دې كي د مكاتب نفع او فايده ده، ځكه چي په دې كي هغه ته د خپلې مينځې مهر په لاس ورځي او د نفقې او داسې نورو پيسې بچت كيږي چي دا به په بدل كتابت كي د هغه سره ډېره مرسته وكړي، لنډه دا چي د خپل ځان يا د غلام لپاره نكاح كول د مكاتب په حق كي نقصان مند دي، نو ځكه د هغه لپاره داسې كول جائز نه دي، ليكن د خپلې مينځې نكاح كول د هغه لپاره فايده من دي، نو ځكه د هغه لپاره د دې اجازت سته.

وكذا المدبر الخ: څرنګه چي مدبر او امّ ولد هم د خپل مالك مملوك وي يعني په هغو كي د خپل مالك ملكيت موجود او باقي وي، نو ځكه د هغو حكم هم د مطلق غلام او مكاتب په څېر دى، او د مطلق غلام او مكاتب نكاح د مالك له اجازت څخه بغير نه نافذيږي، نو همداسې به د مدبر او امِ ولد نكاح هم نه نافذيږي.

د غلام مهر پر چا واجب دى؟

وَإِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ بِإِذْنِ مَوْلَاهُ او كله چي غلام د خپل مالك په اجازت سره نكاح وكړي فَالْمَهْرُ دَيْنٌ فِي رَقَبَتِهِ يُبَاعُ فِيهِ نو مهر به د غلام په رقبه [غاړه] كي دَين [قرض] وي او هغه به د مهر په بدله كي خرڅول كيږي لِأَنَّ هٰذَا دَيْنٌ وَجَبَ فِي رَقَبَةِ الْعَبْدِ لِوُجُودِ سَبَبِهِ مِنْ أَهْلِهِ ځكه چي دا يو قرض دى كوم چي له خپل أهل څخه د سبب موجودېدلو [صادرېدلو] په وجه د غلام په رقبه كي واجب سوى دى وَقَدْ ظَهَرَ فِي حَقِّ الْمَوْلَى او دا قرض د مالك په حق كي ښكاره سو لِصُدُورِ الْإِذْنِ مِنْ جِهَتِهِ ځكه چي اجازت د هغه له طرفه صادر سوى دى فَيَتَعَلَّقُ بِرَقَبَتِهِ دَفْعًا لِلْمَضَرَّةِ عَنْ أَصْحَابِ الدُّيُونِ نو له قرض غوښتونكو څخه د ضرر ليري كولو په لپاره دغه قرض د غلام د رقبې سره متعلق كيږي كَمَا فِي دَيْنِ التِّجَارَةِ لكه د تجارت په قرض كي [چي هم داسې كيږي] وَالْمُدَبَّرُ وَالْمُكَاتَبُ يَسْعَيَانِ فِي الْمَهْرِ وَلَا يُبَاعَانِ فِيهِ او مدبر او مكاتب به [په خپله] په مهر كي كوښښ كوي او د مهر په بدله كي به دوى نه خرڅول كيږي لِأَنَّهُمَا لَا يَحْتَمِلَانِ النَّقْلَ مِنْ مِلْكٍ إِلَى مِلْكٍ مَعَ بَقَاءِ الْكِتَابَةِ وَالتَّدْبِيرِ ځكه چي دادوى دواړه د كتابت او تدبير د پاته والي سره له يوه ملكيت څخه بل ملكيت ته د نقل كېدلو احتمال نه لري فَيُؤَدَّى مِنْ كَسْبِهِمَا لَا مِنْ نَفْسِهِمَا نو مهر به د دوى له ګټي څخه اداء كيږي، نه د دوى له ذات څخه.

اللغات: ﴿دَيْن﴾ قرض، پور. ﴿رَقَبَة﴾ غاړه، د مملوك كس ذات (د غلام ذات). ﴿صُدُوْر﴾ د نصر مصدر دى: وارد ېدل، راتلل، صادرېدل. ﴿إِذْن﴾ اجازت (اجازه). ﴿جِهَة﴾ طرف، اړخ (سمت). ﴿مَضَرَّة﴾ ضرر.

نقصان (تاوان)، ﴿أَصْحَابُ الدُّيُوْنِ﴾ قرضونو والا (هغه چي پر بل چا يې قرض باندې وي، خپل د قرض غوښتونكي)، ﴿يَسْعَيَانِ﴾ دفتح له باب څخه د تثنيه مذكر غائب صيغه ده: كوښښ كول، هڅه كول (خواري كاږل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو غلام د خپل مالک په اجازت سره نكاح وكړي، نو مهر پر غلام واجبيږي، او د مهر د اداء كولو لپاره به هغه خرڅول كيږي؛ ځكه چي د مهر د وجوب سبب نكاح ده، او نكاح له خپل اهل يعني د عاقل اوبالغ كس څخه صادره سوې ده او د مالک په اجازه سره يې كړې ده، نو دا نكاح صحيح ده، لهذا كله چي نكاح صحيح ده نو مهر به هم ثابت وي او د غلام پر ذمه او رقبه به واجب وي، او كوم دَين (قرض) چي د غلام پر رقبه واجب وي، غلام به د هغه په بدل كي خرڅول كيږي، نو ځكه به دغه غلام هم د مهر د اداء كولو لپاره خرڅول كيږي (ځكه چي مهر هم د خاوند پر ذمه دَين او قرض وي).

والمدبر الخ: د دې حاصل دا دی چي په مدبر او مكاتب كي د آزدۍ شبهه راغلې وي او څه نا څه آزاد سوي دي، لهذا كله چي دوی د خپل مالک په اجازت سره نكاح وكړي، نو د مهر په بدل كي دوی نه سي خرڅول كېدای او نه له يوه ملكيت څخه بل ملكيت ته نقل كېدای سي، بلكي د دوی له كټې څخه به مهر اداء كيږي، لَا مِنْ نَفْسِهِمَا (يعني نه د دوی په خرڅولو سره).

د مالک له اجازت څخه بغير د نكاح كونكي غلام بحث

وَإِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهُ او كه چيري غلام د خپل مالک له اجازت څخه بغير نكاح وكړه فَقَالَ الْمَوْلَى: طَلِّقْهَا أَوْ فَارِقْهَا او مالک [ورته] ووېل: چي هغې ته طلاق وركړه! يا يې پرېږده! فَلَيْسَ هٰذَا بِإِجَازَةٍ نو دا به [د مالک له طرفه غلام ته] اجازه نه وي لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ الرَّدَّ ځكه چي دا [جمله] د ردّ [انكار] احتمال لري لِأَنَّ رَدَّ هٰذَا الْعَقْدِ وَمُتَارَكَتَهُ يُسَمّٰى طَلَاقًا وَمُفَارَقَةً ځكه چي د دغه عقد [نكاح] ردولو او پرېښوولو ته د طلاق او مفارقت نوم وركول كيږي وَهُوَ أَلْيَقُ بِحَالِ الْعَبْدِ الْمُتَمَرِّدِ او دا د سركښه غلام د حال سره زيات لائق [هم] دي أَوْ هُوَ أَدْنٰى يا دا چي ردول د كمي درجې دي [يعني سپک او آسانه دي] فَكَانَ الْحَمْلُ عَلَيْهِ أَوْلٰى نو پر هغه به حمل كول ډېر غوره وي وَإِنْ قَالَ: طَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً تَمْلِكُ الرَّجْعَةَ او كه مالک ووېل: چي ښځي ته داسي طلاق وركړه! چي [په هغه كي] ته د رجعت مالک يې [يعني طلاقِ رجعي وركړه!] فَهٰذَا إِجَازَةٌ نو دا به اجازه وي لِأَنَّ الطَّلَاقَ الرَّجْعِيَّ لَا يَكُونُ إِلَّا فِي نِكَاحٍ صَحِيحٍ ځكه

چي طلاقِ رجعي فقط په صحيح نکاح کي [واقع] کېدای سي **فَتَتَعَيَّنُ الْإِجَازَةُ** نو ځکه به اجازت متعين کېږي [يعني دا جمله به پر اجازت حمل کېږي].

اللغات: ﴿مُتَارَكَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: يو د بل پرېښوول (يو تربله پرېښوول)، ﴿مُفَارَقَة﴾ دا هم د مفاعلې مصدر دی: يو له بل څخه جلا کېدل، ﴿أَلْيَق﴾ د اسمِ تفضيل صيغه ده: زيات لايق، زيات مناسب، ﴿مُتَمَرِّد﴾ د تفعّل اسمِ فاعل دی: سرکښ، نافرمانه، ﴿تَطْلِيْقَة﴾ د تفعيل مصدر دی: يو وار طلاق ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که غلام د خپل مالک له اجازت څخه بغير نکاح وکړه او کله چي مالک ته خبر ورسېدی، نو هغه غلام ته وويل: "طَلِّقْهَا" (ښځي ته طلاق ورکړه!) يا "فَارِقْهَا" (ښځه پرېږده! او له خپل ځان څخه يې جلا کړه!)، نو مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا دواړه جملې به د نکاح پر اجازت نه حمل کېږي (او دا به نه ګڼل کېږي چي مالک خپل غلام ته د نکاح اجازه ورکړه چي زما له طرفه اجازه ده او ستا نکاح نافذ ده لهذا ته خپلې ښځي ته طلاق ورکړه! او هغه پرېږده!، بلکي دا جملې به پر ردّ حمل کېږي چي زما له طرفه اجازه نسته لهذا ستا نکاح صحيح او نافذ نه ده)؛ ځکه که څه هم په دې جملو کي د اجازت او ردّ (انکار) دواړو احتمال سته، لېکن د ردّ اړخ غالب دی؛ ځکه چي طلاق او مفارقت په اصطلاح کي د نکاح ردولو او د نکاح پرېښوولو ته وي، او څرنګه چي د مالک له اجازت څخه بغير نکاح کول د غلام له طرفه سرکښي او نافرماني ده، نو د سرکښۍ او نافرمانۍ په سزا کي مناسب دا ده چي د مالک قول پر ردّ او انکار حمل کړی سي.

أو هو أدنى الخ: دويم علت او دليل دا دی چي د مالک قول يعني "طَلِّقْهَا" يا "فَارِقْهَا" پر ردّ باندي حمل کول اولیٰ دي ځکه چي ردّ "د نکاح له ثبوت څخه انکار کولو" ته وايي او طلاق او مفارقت "د نکاح تر ثبوت وروسته د نکاح رفع کولو او ختمولو" ته وايي، او اُصول دا دی چي "الدَّفْعُ أَسْهَلُ مِنَ الرَّفْعِ" (يعني د يو د شي د رفع کولو په مقابله کي د هغه دفع کول او ردول آسانه دي)، نو ځکه به دلته هم پر "سهل" عمل کېږي او له "طَلِّقْهَا" يا "فَارِقْهَا" څخه به دفع يعني ردّ او انکار مرادېږي.

ولو قال الخ: فرمايي که مالک د "طَلِّقْهَا" سره د "تَطْلِيْقَةً رَجْعِيَّةً يا تَطْلِيْقَةً تَمْلُكُ الرَّجْعَةَ" جمله هم زياته کړي (يعني غلام ته وايي چي داسي طلاق ورکړه! چي بيا هغې ته رجعت کېدای سي)، نو په دې صورت کي به د مالک دا قول پر اجازت حمل کېږي (او دا به ګڼل کېږي چي په دې سره مالک خپل غلام ته د نکاح اجازت ورکړی، لهذا د هغه نکاح به صحيح او نافذ وي)؛ ځکه چي د طلاقِ

رجعي اجازت ورکول و دې طرف ته اشاره کوي چي مالک د هغه نکاح نافذوي او د نکاح اجازت ورکوي، ځکه چي رجعت فقط په صحيح نکاح کي کېدای سي (لنډه دا چي د دغه جملې مطلب دا دی چي اول صحيح نکاح وکړه! بيا طلاق رجعي ورکړه!)، نو کله چي په دې جمله کي د نکاح د نفاذ او اجازت و طرف ته اشاره سته، نو ځکه به دا د مالک پر اجازت حمل کيږي او د غلام نکاح به صحيح او نافذ وي.

د مالک تر اجازت وروسته د "نكاح فاسد" کولو غلام حکم

وَمَنْ قَالَ لِعَبْدِهِ: تَزَوَّجْ هٰذِهِ الْأَمَةَ او څوک چي خپل غلام ته ووايي: د دې مينځي سره نکاح وکړه! فَتَزَوَّجَهَا نِكَاحًا فَاسِدًا او غلام د هغه مينځي سره نکاح فاسده وکړي وَدَخَلَ بِهَا او په هغې دخول [هم] وکړي فَإِنَّهُ يُبَاعُ فِي الْمَهْرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو [په دې صورت کي] به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مهر په بدله کي غلام خرڅول کيږي وَقَالَا: يُؤْخَذُ مِنْهُ إِذَا أُعْتِقَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د غلام تر آزادېدلو وروسته به له هغه څخه مهر اخيستل کيږي وَأَصْلُهُ: أَنَّ الْإِذْنَ بِالنِّكَاحِ يَنْتَظِمُ الْفَاسِدَ وَالْجَائِزَ عِنْدَهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله أصول دا دی: چي د هغه نېز د نکاح اجازت نکاح فاسد او نکاح جائز دواړو ته شامليږي فَيَكُونُ هٰذَا الْمَهْرُ ظَاهِرًا فِي حَقِّ الْمَوْلٰى نو ځکه به [د هغه په نېز] دا مهر د مالک په حق کي ظاهر وي وَعِنْدَهُمَا يَنْصَرِفُ إِلَى الْجَائِزِ لَا غَيْرَ او د صاحبينو په نېز اجازت فقط نکاح فاسد ته راجع کيږي فَلَا يَكُونُ ظَاهِرًا فِي حَقِّ الْمَوْلٰى نو ځکه به دا مهر د مالک په حق کي ظاهر نه وي فَيُؤَاخَذُ بِهِ بَعْدَ الْعَتَاقِ لهذا تر آزادۍ وروسته به له خاوند څخه د هغه مطالبه کيږي لَهُمَا: أَنَّ الْمَقْصُودَ مِنَ النِّكَاحِ فِي الْمُسْتَقْبَلِ الْإِعْفَافُ وَالتَّحْصِينُ د صاحبينو دليل دا دی: چي د نکاح مقصود په مستقبل کي پاک لمني او د فرج ساتل دي وَذٰلِكَ بِالْجَائِزِ او دا په نکاح جائز سره کېدای سي وَلِهٰذَا لَوْ حَلَفَ لَا يَتَزَوَّجُ يَنْصَرِفُ إِلَى الْجَائِزِ همدا وجه ده که يو څوک د نکاح نه کولو قسم وکړي نو [د هغه] قسم نکاح جائز ته راجع کيږي [او نه فاسد ته نه راجع کيږي] بِخِلَافِ الْبَيْعِ لِأَنَّ بَعْضَ الْمَقَاصِدِ حَاصِلٌ په خلاف د بيع ځکه چي [په بيع کي] ځيني مقاصد حاصل دي وَهُوَ مِلْكُ التَّصَرُّفَاتِ او هغه ځيني

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۲، ص:۴۰۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۹۰]

مقاصد[د تصرّفاتو مالک کېدل دی وَلَهُ: أَنَّ اللَّفْظَ مُطْلَقٌ او د امام صاحب دلیل دا دی: چې [دلته] لفظ [د تزوج] مطلق دی فَيَجْرِي عَلَى إِطْلَاقِهِ نو هغه به پر خپل اطلاق جاري کیږي كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه په [لفظ د] بیع کې [چې هم داسې کیږي] وَبَعْضُ الْمَقَاصِدِ فِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ حَاصِلٌ او ځیني مقاصد په نکاحِ فاسد کې [هم] حاصل دي كَالنَّسَبِ وَوُجُوبِ الْمَهْرِ وَالْعِدَّةِ عَلَى اعْتِبَارِ وُجُودِ الْوَطْءِ لکه نسب، مهر او د وطي کېدلو په اعتبار سره د عدت واجبېدل وَمَسْأَلَةُ الْيَمِينِ مَمْنُوعَةٌ عَلَى هٰذِهِ الطَّرِيْقَةِ او پر دې طريقه د قسم مسئله ممنوع ده [یعني موږ دا نه تسلیموو چې د نکاح نه کولو قسم فقط د نکاحِ جائز وطرف ته راجع کیږي].

اللغات: ﴿تَزَوَّجْ﴾ د تفعّل له باب څخه د أمرِ حاضر صیغه ده: نکاح کول، واده کول. ﴿إِعْفَاف﴾ د افعال مصدر دی: پاک لمنی کول (پاک لمنی ساتل)، ﴿تَحْصِيْن﴾ د تفعیل مصدر دی: محفوظ ساتل (خوندي ساتل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک خپل غلام ته د نکاح اجازت ورکړي او هغه ته ووايي چې د فلانۍ مېنځې سره خپله نکاح وکړه!. او غلام د هغه مېنځې سره نکاح وکړي خو د نکاحِ صحیح پر ځای نکاح فاسد ور سره وکړي او په ښځې دخول هم وکړي (او دا تاسې ته معلومه ده چې په دخول کولو سره د ښځې مهر نور مؤکّد کیږي)، نو په دې صورت کې به د امام صاحب په نیز د مهر اداء کولو لپاره غلام خرڅول کیږي.

صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې په داسې صورت کې به د مهر اداء کولو لپاره غلام نه خرڅول کیږي، بلکې د غلام تر آزادوالي پورې به د مهر انتظار کیږي او تر آزادېدلو وروسته به له غلام څخه د مهر مطالبه کیږي.

په اصل کې دا اختلاف د امام صاحب او صاحبینو پر خپلو أصولو مبني دی، ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز لفظ د "تزوّج (یعني د نکاح لفظ)" نکاحِ صحیح او نکاحِ فاسد دواړو ته شاملیږي. او د صاحبینو په نیز دا لفظ فقط نکاحِ صحیح ته شاملیږي، نه نکاحِ فاسد ته، لهذا کله چې د صاحبینو په نیز په دغه لفظ کې د نکاحِ فاسد هیڅ احتمال نشته، نو دلته به د مالک اجازت نکاحِ فاسد ته شامل نه وي، نو ځکه به د نکاحِ فاسد په مهر کې غلام نه خرڅول کیږي، بلکې کله چې هغه آزاد سي نو بیا به ښځه د مهر مطالبه ځنې کوي او خپل مهر به ځنې اخلي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چي د نکاح مقصد دا دی چي خپل فرج له ناجائزو کارونو څخه وساتل سي او عفّت (پاک لمني) حاصله کړی سي او وطي حلال وګرځي. او دا مقصد په صحیح نکاح سره حاصلیږي، نو ځکه به د مالک قول فقط نکاحِ صحیح ته شامل وي او نکاحِ فاسد ته به شامل نه وي؛ لکه څرنګه چي یو څوک قسم وکړي چي "زه نکاح نه کوم"، نو له دې څخه صحیح نکاح مرادیږي، نو که هغه فاسده نکاح وکړي، په خپل قسم کي نه حانث کیږي، نو څرنګه چي د نکاح نه کولو په قسم کي نکاحِ فاسد نه شاملیږي، همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم هغه نه شاملیږي.

بخلاف البیع الخ: لیکن که مالک خپل غلام ته د بیع اجازت ورکړي، نو دا اجازت بیعِ صحیح او بیعِ فاسد دواړو ته شاملیږي؛ ځکه چي د بیع ځیني مقاصد په بیعِ فاسد سره هم حاصلیږي. مثلاً په مبیع کي د تصرف مالک کېدل، د مبیع آزادول یا هبه کول، نو په دې وجه د بیع اجازت بیعِ فاسد ته هم شاملیږي، خو په نکاحِ فاسد سره د نکاح مقصد نه حاصلیږي، نو ځکه به د نکاح اجازت فقط نکاحِ صحیح ته شاملیږي او نکاحِ فاسد به له دې څخه مستثنیٰ وي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي د مالک له طرف څخه د "تزوّج" (نکاح) لفظ مطلق ویل سوی دی نو د "المطلق یجری علیٰ إطلاقه" د قاعدې په وجه به دا لفظ نکاحِ صحیح او نکاحِ فاسد دواړو ته شاملیږي لکه څرنګه چي بیع دواړو ته شاملیږي؛ ځکه چي په نکاحِ فاسد سره هم ځیني مقاصد حاصلیږي، مثلاً که په نکاحِ فاسد کي د وطي په نتیجه کي کوچنی پیدا سي نو د هغه نسب د خاوند سره ثابتیږي، همدارنګه د ښځي لپاره مهر لازمیږي، او که طلاق واقع سي نو عدت لازمیږي. نو ځکه به د نکاح او تزوّج لفظ نکاحِ فاسد ته هم شاملیږي او د نکاحِ فاسد د مهر په بدله کي به هم غلام خرڅول کیږي.

ومسألة الیمین الخ: په دې سره د صاحبینو د قیاس جواب ورکوي، حاصل د جواب دا دی چي موږ دا خبره نه تسلیموو چي د نکاح نه کولو قسم فقط نکاحِ صحیح ته شاملیږي او فقط په نکاحِ صحیح سره به قسم کونکی حانث کیږي، بلکي په نکاحِ فاسد سره هم هغه حانثیږي، او که بیا هم موږ دا تسلیم کړو چي دغه قسم فقط نکاحِ صحیح ته شاملیږي، نو هم زموږ پر نظریه باندي څه اثر نه پرېوځي؛ ځکه چي نکاح او قسم هر یو جلا حیثیت لري، ځکه د قسم دار ومدار پر عرف دی او نکاح داسي نه ده، لهذا یو پر بل قیاسول صحیح نه دي.

د مأذون، مدیون غلام د نکاح حکم

وَمَنْ زَوَّجَ عَبْدًا مَأْذُونًا لَهُ مَدْيُونًا امْرَأَةً او څوک چې د خپل مأذون قرضداره غلام نکاح د يو ښځې سره وکړي جَازَ نو دا جائز دي وَالْمَرْأَةُ أُسْوَةٌ لِلْغُرَمَاءِ فِي مَهْرِهَا او ښځه به د مهر په هکله د قرض غوښتونکو سره برابره شريکه وي وَمَعْنَاهُ: إِذَا كَانَ النِّكَاحُ بِمَهْرِ الْمِثْلِ او د دې مطلب دا دی: چې کله نکاح د مهرِ مثل په عوض کې وي وَوَجْهُهُ أَنَّ سَبَبَ وِلَايَةِ الْمَوْلَى مِلْكُهُ الرَّقَبَةَ او [د قرض غوښتونکو سره د ښځې د شريکېدلو] وجه دا ده چې د مالک د ولايت سبب د هغه د رقبې مالک کېدل دی [يعني د مالک د ولايت سبب ملکِ رقبه دی] عَلَى مَا نَذْكُرُهُ چې [وروسته] به مونږ د دې بيان وکړو وَالنِّكَاحُ لَا يُلَاقِي حَقَّ الْغُرَمَاءِ بِالْإِبْطَالِ مَقْصُودًا او نکاح د قرض غوښتونکو د حقوقو د قصداً باطلولو په خاطر د حقوقو سره نه ده متصل سوې [مطلب دا چې دلته په نکاح سره د مالک مقصود د قرضوض غوښتونکو د حق باطلول نه دي] إِلَّا أَنَّهُ إِذَا صَحَّ النِّكَاحُ وَجَبَ الدَّيْنُ بِسَبَبٍ لَا مَرَدَّ لَهُ خو دا چې کله نکاح صحيح سي نو قرض په يو داسې سبب سره واجب سو چې هغه ردّ کېدلای نه سي فَشَابَهَ دَيْنَ الِاسْتِهْلَاكِ نو دا [قرض] د إستهلاک د قرض سره مشابه سو وَصَارَ كَالْمَرِيضِ الْمَدْيُونِ إِذَا تَزَوَّجَ امْرَأَةً او داسې سو لکه مقروض [قرضداره] مريض چې د يو ښځې سره نکاح وکړي فَبِمَهْرِ مِثْلِهَا أُسْوَةٌ لِلْغُرَمَاءِ نو دا ښځه به په مهرِ مثل کې د قرض غوښتونکو سره برابره شريکه وي.

اللغات: ﴿مـأذون﴾ کوم غلام ته چې مالک د تجارت او کاروبار کولو اجازه ورکړې وي هغه ته "مأذون" وايي. ﴿أُسْوَةٌ﴾ برابر. ﴿غُرَمَاء﴾ جمع د "غَرِيمٌ" ده: (له مقروض څخه) قرض غوښتونکی. هغه څوک چې پر بل چا يې قرض (پور) باندې وي. ﴿دَيْنِ الْإِسْتِهْلَاكِ﴾ که يو سړی د يو چا مال هلاک کړي چې د دې په وجه هغه مال پر دغه سړي قرض پاته سي، نو داسې قرض ته "دَيـن الاستهلاك" وايي. ﴿لَا مَرَدَّ لَهُ﴾ داسې سبب او داسې شی چې هيڅوک يې ردولای نه سي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو سړي (مالک) غلام قرضداره وي او هغه خپل دغه غلام ته د تجارت اجازت ورکړی وي (يعني مأذون غلام وي). او په دې دوران کې مالک د يو ښځې سره د مهرِ مثل په عوض کې د دغه غلام نکاح وکړي، نو شرعاً دا نکاح صحيح او جائز ده. او ښځه به د مهر په سلسله کې د نورو قرض غوښتونکو سره برابره شريکه وي (او د هغې د مهر په وجه به د نورو قرض

غوښتونکو حق کميږي)، مثلاً که پر غلام د دريو خلکو زر. زر (۱۰۰۰) روپۍ بانډي وي او د ښځي مهر مثل هم زر (۱۰۰۰) روپۍ وي نو پر غلام به ټوله څلور زره (۴۰۰۰) قرض وي. نو اوس که غلام (مثلاً) په دوه زره (۲۰۰۰) روپۍ خرڅ کړی سي، نو هر قرض غوښتونکي ته به د خپل ټوله ثمن ربع يعني پنځه، پنځه سوه (۵۰۰) روپۍ ورکول کيږي او پاته پنځه. پنځه سوه روپۍ به د غلام پر نمه قرض وي او تر آزادېدلو وروسته به د هغه مطالبه ځني کيږي. (دلته د مهر مثل قيد په دې وجه ذکر سوی دی چي که چيري مالک تر مهر مثل په زيات مهر سره د غلام نکاح وکړي نو دا شبه کېداي سي چي مالک د نورو قرض غوښتونکو حق باطلول غواړي، لېکن که په مهر مثل سره د هغه نکاح وکړي نو دا شبه نه سي کېدای).

ووجهه الخ: دليل د دې خبري چي د ښځي د مهر په وجه به د نورو قرض غوښتونکو حق کميږي او ښځه به د هغو سره برابره شريکيږي، دا دی چي مالک د غلام د رقبې مالک دی نو ځکه هغه خپل د غلام نکاح کولای سي، او دلته د مالک د نکاح کولو مقصد دا نه دی چي د نورو قرض غوښتونکو حق باطل کړي، بلکي د نکاح اصل مقصد دا دی چي د غلام انساني ضروريات پوره سي، نو کله چي نکاح صحيح سوه نو ضمناً به د نورو قرض غوښتونکو په حق کي کمي راځي يعني ښځه به د هغو سره برابره شريکيږي او د قرض غوښتونکو د حق په کمښت به هيڅ پروا نه کيږي، د دې مثال دا دی لکه دغه قرضداره غلام چي د يو چا مال هلاک کړي، نو هغه به هم د خپل مال په طلب کي د نورو قرض غوښتونکو سره برابر شريک وي او د قرض غوښتونکو په حق کي به کمي راځي او په کمښت به هيڅ پروا نه کيږي، نو همداسي به ښځه هم د خپل مهر په حق کي د نورو قرض غوښتونکو سره برابره شريکه وي او د هغو د حق په کمېدلو کي به هيڅ حرج نه وي.

او بل مثال دا دی چي که يو قرضدار (مديون) سړی په مرضُ الموت مبتلا وي او هغه د يو ښځي سره پر مهرِ مثل نکاح وکړي. نو دا ښځه به په خپل مهر مثل کي د هغه د نورو قرض غوښتونکو سره برابره شريکه وي، نو همداسي به د مأذون غلام ښځه هم د نورو قرض غوښتونکو سره برابره شريکه وي.

د خپلي مينځي سره د نکاح کونکي مالک د خدمت حق

وَمَنْ زَوَّجَ أَمَتَهٗ او څوک چي د خپلي مينځي نکاح [د يو چا سره] وکړي فَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُبَوِّئَهَا بَيْتَ الزَّوْجِ نو پر هغه دا لازم نه دي چي دغه مينځه د خاوند په کور کي أوسېدلو [او شپه تېرولو] ته پر برېږدي لٰكِنَّهَا تَخْدُمُ الْمَوْلٰى بلکي مينځه به د مالک خدمت کوي وَيُقَالُ لِلزَّوْجِ: مَتٰى ظَفِرْتَ بِهَا وَطِئْتَهَا او خاوند ته به ويل کيږي: چي کله (هم) ته پر هغې کامياب سې [او د وطي موقع پيدا کړې] نو وطي ور سره کوه! لِأَنَّ حَقَّ الْمَوْلٰى فِي الْاِسْتِخْدَامِ بَاقٍ ځکه چي په استخدام [خدمت اخيستلو] کي د

مالک حق پاته دی وَالتَّبْوِئَةُ إِبْطَالٌ لَهُ او ادخاوند په کور کي اُوسول د مالک دغه حق باطلول دي ایعني د خاوند په کور کي د مینځي په اوسېدلو سره د مالک د خدمت حق باطلیږي ا فَإِنْ بَوَّأَهَا مَعَهُ بَيْتًا او که مالک مینځه د خاوند سره په کور کي اوسېدلو [او شپه تېرولو] ته پرېږدي فَلَهَا النَّفَقَةُ وَالسُّكْنَى نو [پر خاوند] به د بنځي لپاره به نفقه او سکنیٰ وي وَإِلَّا فَلَا کنې نه به وي لِأَنَّ النَّفَقَةَ تُقَابِلُ الِاحْتِبَاسَ ځکه چي نفقه د احتباس [د بنځي دراګرځولو] په مقابله کي ده [یعني بنځي ته نفقه ځکه ورکول کیږي چي خاوند هغه د خپلو خدماتو لپاره راګرځولې وي او په کور کي یې محبوسه ساتلې وي، لهذا په مالک او خاوند کي چي د کوم یوه له طرفه احتباس ثابت سي، نفقه به پر هغه وي] وَلَوْ بَوَّأَهَا بَيْتًا او که مالک مینځه [د خاوند سره] په کور کي اوسېدلو ته پرېږدي ثُمَّ بَدَا لَهُ أَنْ يَسْتَخْدِمَهَا بیا مالک ته ښکاره سي [یعني مالک دې ته مجبوره سي] چي له مینځي څخه [بیرته] خدمت واخلي لَهُ ذَلِكَ نو هغه ته د دې حق سته لِأَنَّ الْحَقَّ بَاقٍ لِبَقَاءِ الْمِلْكِ ځکه چي د ملکیت د باقي پاتېدلو په وجه [د خدمت اخیستلو] حق پاته دی فَلَا يَسْقُطُ بِالتَّبْوِئَةِ نو [خاوند په کور کي د مینځي] په اوسولو سره به دا حق نه ساقطیږي كَمَا لَا يَسْقُطُ بِالنِّكَاحِ لکه څرنګه چي په نکاح سره دا حق نه ساقطیږي قَالَ ﷺ: ذَكَرَ تَزْوِيجَ الْمَوْلَى عَبْدَهُ وَأَمَتَهُ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي: چي امام محمد رَحِمَهُ الله [په متن کي فقط] دا خبره ذکر کړه چي مالک د خپل غلام او مینځي نکاح وکړي وَلَمْ يَذْكُرْ رِضَاهُمَا [لیکن] د هغو رضا یې ذکر نه کړه وَهَذَا يَرْجِعُ إِلَى مَذْهَبِنَا او دا [نه ذکر کول د رضا] زموږ د مذهب و طرف ته راجع دي [یعني زموږ و دې مسلک ته اشاره کوي] أَنَّ لِلْمَوْلَى إِجْبَارَهُمَا عَلَى النِّكَاحِ چي پر نکاح باندي د غلام او مینځي د مجبوره کولو حق مالک لره سته وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ لَا إِجْبَارَ فِي الْعَبْدِ [لیکن] د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په غلام کي د مجبوره کولو حق [مالک لره] نسته وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او همدا یو روایت له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه [هم] دی لِأَنَّ النِّكَاحَ مِنْ خَصَائِصِ الْآدَمِيَّةِ ځکه چي نکاح د انسانیت [انسان کېدلو] له ځانګړنو څخه ده [یعني نکاح د هر انسان خصوصیت او ضرورت دی، هغه که آزاد وي او که غلام وي] وَالْعَبْدُ دَاخِلٌ تَحْتَ مِلْكِ الْمَوْلَى مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ مَالٌ او غلام د مال کېدلو په حیثیت سره د مالک په ملکیت

کي داخل دی فَلَا يَمْلِكُ إِنْكَاحَهُ نو څکه به مالک [جبرا] د هغه د نکاح کولو ملکيت [اختيار] لري بِخِلَافِ الْأَمَةِ لِأَنَّهُ مَالِكٌ مَنَافِعَ بُضْعِهَا په خلاف د مينځي څکه چي مالک د هغې د بضع د منافعو مالک دی فَيَمْلِكُ تَمْلِيكَهَا نو څکه به د هغه د تمليک [هم] مالک وي ايمني کله چي هغه د بضع مالک دی نو د دې ملکيت به هم لري چي بل څوک د بضع مالک جوړ کړي (يعني په نکاح يې ورکړي)] وَلَنَا: أَنَّ الْإِنْكَاحَ إِصْلَاحُ مِلْكِهِ او زموږ دليل دا دی چي نکاح ورکول د خپل ملکيت اصلاح کول دي لِأَنَّ فِيهِ تَحْصِينَهُ عَنِ الزِّنَا الَّذِي هُوَ سَبَبُ الْهَلَاكِ أَوِ النُّقْصَانِ څکه په دې کي [غلام] له زنا څخه ساتل [او پاکول] دي کوم چي د هلاکت يا د نقصان سبب ده فَيَمْلِكُهُ اعْتِبَارًا بِالْأَمَةِ نو څکه به مالک [د غلام] د نکاح کولو ملکيت [هم] لري، پر مينځي په قياس کولو سره بِخِلَافِ الْمُكَاتَبِ وَالْمُكَاتَبَةِ په خلاف د مکاتب او مکاتبې لِأَنَّهُمَا الْتَحَقَا بِالْأَحْرَارِ تَصَرُّفًا څکه چي د تصرف په اعتبار سره دوی دواړه د آزاد سره لاحق دي فَيُشْتَرَطُ رِضَاهُمَا نو څکه به د دوی رضا شرط وي.

اللغات: ﴿تَخْدُمُ﴾ له ضرب او نصر دواړو څخه د مضارع صيغه ده: خدمت او چوپړ کول. ﴿تَبْوِيَة﴾ د تفعيل مصدر دی: يو څوک په کور کي اُوسول، شپه ورکول (د شپې لپاره ځای ورکول)، دلته يې معنیٰ دا ده چي مالک مينځه خاوند ته حواله کړي او مينځه د مالک خدمت پرېږدي. ﴿إِسْتِخْدَام﴾ د استفعال مصدر دی: خدمت اخيستل. ﴿إِحْتِبَاس﴾ د افتعال مصدر دی: (په کور کي) بندي ساتل، راګرځول، منع کول. ﴿إِجْبَار﴾ د افعال مصدر دی: مجبورول (مجبوره کول). ﴿خَصَائِص﴾ جمع د خَاصَّة: خصوصيت، ځانګړتيا (ځانګړنه). ﴿تَحْصِين﴾ د تفعيل مصدر دی: محفوظ ساتل، حفاظت کول. ﴿إِلْتَحَقَا﴾ د افتعال ماضي ده: لاحقېدل (ور سره يو ځای کېدل)، شاملېدل. ﴿أَحْرَار﴾ جمع د حُرٌّ ده: آزاد سړی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک ديو چا سره د خپلې مينځي نکاح وکړي، نو پر مالک دا واجب او لازم نه دي چي مينځه د خاوند په کور کي پرېږدي او خپل د خدمت حق له هغې څخه ساقط کړي (يعني پر مالک تبويه لازم نه ده)، بلکي مينځه به د مالک خدمت کوي او خاوند ته به ويل کيږي چي ته د فرصت او موقع په وخت کي د مينځي سره وطي کوه!؛ دليل دا دی چي مينځه اوس هم د مالک په ملکيت کي ده او د مالک د خدمت حق تر اوسه پاته دی، او که پر مالک تبويه لازم کړی

سي نو په دې سره د مالک د خدمت حق باطليږي، لهذا د تبويه حکم به نه کيږي او مالک به په يو داسي شي سره نه مکلف کيږي چي په هغه کي د ده تاوان دی.

قوله وإن بوأها الخ: په دې سره دا رابنيي چي تر څو مالک د خاوند او مينځي لپاره د تبويه انتظام نه وکړي بلکي مينځه د خپل خدمت لپاره راګرځوي او د خاوند له کور څخه يې منع کوي، نو تر هغه وخته به د مينځي د نفقې او سکنیٰ انتظام هم پر مالک وي، لېکن کله چي مالک د تبويه حکم وکړي يعني مينځه د خاوند سره په کور کي پرېږدي او خپل د خدمت حق باطل کړي، نو په دې صورت کي به د نفقې او سکنیٰ انتظام د خاوند پر غاړه وي، ځکه چي نفقه د احتباس (راګرځولو) او محبوس کولو جزاء ده، لهذا د کوم کس له طرفه چي احتباس ثابت سي نفقه به هم پر هغه واجب وي، هغه که خاوند وي او که مالک وي.

ولو بوأها الخ: فرمايي که د تبويه تر حکم يو څو ورځي وروسته مالک خدمت او "استعانة بالغير" ته محتاج سي، نو هغه ته دا حق سته چي د مينځي د تبويه حکم ختم کړي او بيرته يې د خپل خدمت لپاره راګرځول شروع کړي، او دا اختيار ځکه ورلره سته چي په مينځي کي تر اوسه هم د مالک ملکيت پاته دی، او خدمت اخيستل د همدغه ملکيت نتيجه ده، نو تر څو چي ملکيت پاته وي تر هغه وخته به د مالک د خدمت حق هم پاته وي، او په تبويه سره به د هغه دا حق نه ساقطيږي، لکه څرنګه چي په نکاح کولو سره هم د هغه دا حق نه ساقطيږي.

قال رضي رضي الله عنه: په دې عبارت سره صاحب د کتاب د ولايت إجبار په باره کي د احنافو د مسلک په تائيد کي يوې نکتې ته اشاره کړې ده فرمايي چي امام محمد رَحِمَهُ الله په متن کي (کوم چي له جامع څخه صغير څخه را اخيستل سوی دی) فقط دا خبره ذکر کړې ده چي مالک د خپلي مينځي او غلام نکاح کولای سي لېکن د غلام او مينځي رضامندي يې نه ده ذکر کړې، نو دا و دې خبري ته اشاره ده چي مالک لره پر خپل غلام او مينځي دواړو ولايت إجبار حاصل دی، يعني مالک غلام او مينځه پر نکاح مجبوره کولای سي او د هغو له رضا څخه بغير هم د مالک نکاح نافذيږي، لکه څرنګه چي دا زموږ مذهب دی.

د دې په خلاف د امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا الله نظريه دا ده چي پر مينځه خو مالک ته ولايتِ اجبار حاصل دی، لېکن پر غلام مالک ته ولايتِ اجبار حاصل نه دی، او د غلام د نکاح د نافذېدلو او صحيح کېدلو لپاره د غلام رضا لازمي او ضروري ده. حضرت امام طحاوي رَحِمَهُ الله هم له

امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت همداسي نقل کړی دی، خو دا شاذ او نادر روايت دی او د امام صاحب رَحِمَهُ الله د مذهب سره هيڅ مناسبت نه لري.

د امام شافعي دليل: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي پر غلام ځکه مالک ته ولايت اجبار حاصل نه دی او پر مينځه حاصل دی چي نکاح د انسان له خصائصو او لوازماتو څخه ده، او غلام مال دی (لکه مخکي چي موږ وويل)، نو هغه د مال کېدلو په حيثيت سره د مالک مملوک دی، نه د انسان کېدلو په حيثيت سره، نو په دې وجه مالک هغه پر نکاح نه سي مجبوره کولای، او مينځه ځکه مجبوره کولای سي چي مالک ته د مينځ پر بضع حق حاصل دی، لهذا کله چي هغه په خپله بضع استعمال نه کړي نو بل څوک د بضع مالک جوړولای سي؛ ځکه چي دا د هغه خپل حق دی (او هر چا ته دا اختيار سته چي په خپل حق کي تصرّف وکړي)، نو ځکه به مالک ته پر مينځ ولايت اجبار حاصل وي او د مينځي له رضا څخه بغير به هم د مالک نکاح نافذيږي.

زموږ دليل: دا دی چي په نکاح (واده) ورکولو سره د مال (يعني د غلام) اصلاح کيږي ځکه چي هغه له زنا څخه ساتل کيږي (او که غلام ته واده نه ورو کړي نو په زنا به مبتلا سي او د زنا حد به پر جاري سي چي د هغه په وجه به غلام عيبداره سي او په قيمت کي به يې کمي راسي)، او مالک ته د خپل مال او خپل ملکيت د اصلاح او حفاظت پوره حق سته، نو ځکه به پر نکاح د مجبوره کولو حق هم ورته حاصل وي.

<u>**بخلاف المکاتب الخ**</u>: دا د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي کله د خپل مال او ملکيت د اصلاح او حفاظت په خاطر مالک ته په غلام او مينځه کي ولايت اجبار حاصل دی، نو په مکاتب او مکاتبه کي هم هغه ته د حفاظت او اصلاح په خاطر ولايت اجبار حاصلېدل پکار دي، حال دا چي په مکاتب او مکاتبه کي مالک ته هيڅ ولايت اجبار حاصل نه دی.

نو صاحب د کتاب په جواب کي فرمايي چي مکاتب او مکاتبې ته د مالک له طرفه د تصرف اجازت ورکول سوی دی (يعني د مالک د اجازت په وجه دوی د آزادو خلکو په څېر بيع او شراء کولای سي)، نو د تصرف په اعتبار سره دوی له آزادو خلکو څخه شمارل کيږي، لهذا که موږ پر دوی د ولايت اجبار حق مالک ته ورکړو، نو د دوی دغه تصرف به فوت او باطل سي او دا صحيح نه دي، نو په دې وجه د دوی رضا شرط ده او د دوی له رضا څخه بغير به د مالک نکاح نه نافذيږي.

تر دخول مخکې د مينځې د قتل کونکي مالک لپاره د مهر حکم

قَالَ: وَمَنْ زَوَّجَ أَمَتَهُ فرمايي: او څوک چې د خپلې مينځې نكاح [ديو چا سره] وكړي ثُمَّ قَتَلَهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا زَوْجُهَا بيا يې قتل کړي، مخکې تر دې چې خاوند په هغې دخول وكړي فَلَا مَهْرَ لَهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغې لپاره مهر نشته وَقَالَا* : عَلَيْهِ الْمَهْرُ لِمَوْلَاهَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې پر خاوند به د مالک لپاره مهر وي اعْتِبَارًا بِمَوْتِهَا حَتْفَ أَنْفِهَا د مينځې پر طبعي مرګ باندې په قياس کولو سره وَهٰذَا لِأَنَّ الْمَقْتُولَ مَيِّتٌ بِأَجَلِهِ او دا قياس په دې وجه دی چې مقتول پر خپل أجل [تاکلې نېټه] مړ سوی دی فَصَارَ كَمَا إِذَا قَتَلَهَا أَجْنَبِيٌّ نو داسي سو لکه يو پردي کس چې هغه قتل کړی وي وَلَهُ: أَنَّهُ مَنَعَ الْمُبْدَلَ قَبْلَ التَّسْلِيمِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې مالک مبدل [يعني بضع] خاوند ته تر ورسپارلو مخکې منع کړه فَيُجَازَى بِمَنْعِ الْبَدَلِ نو هغه ته به د بدل [يعني مهر] په منع کولو سره سزا ورکول کيږي كَمَا إِذَا ارْتَدَّتِ الْحُرَّةُ لکه کله چې آزاده ښځه مرتده سي أنو هغې ته د مهر په منع کولو سره سزا ورکول کيږي، يعني له مهر څخه محروميږي] وَالْقَتْلُ فِي أَحْكَامِ الدُّنْيَا جُعِلَ إِتْلَافًا او قتل په دنيوي احکامو کې إتلاف [قصداً ضايع کول] شمارل سوی دی حَتّٰى وَجَبَ الْقِصَاصُ وَالدِّيَةُ همدا وجه ده چې [په قتل سره] قصاص او ديت واجبيږي فَكَذَا فِي حَقِّ الْمَهْرِ نو همداسې به د مهر په حق کې [هم هغه إتلاف شمارل کيږي] وَإِنْ قَتَلَتْ حُرَّةٌ نَفْسَهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا زَوْجُهَا او که د خاوند تر دخول مخکې يوه آزاده ښځه خپل ځان قتل کړي [يعني خودکشي وکړي] فَلَهَا الْمَهْرُ نو د هغې لپاره به مهر وي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله هُوَ يَعْتَبِرُهُ بِالرِّدَّةِ وَبِقَتْلِ الْمَوْلَى أَمَتَهُ هغه دا صورت پر مرتد کېدلو او د مالک د خپلې مينځې پر قتل کولو قياسوي وَالْجَامِعُ مَا بَيَّنَّاهُ او جامع هغه علت دی کوم چې موږ بيان کړی وَلَنَا: أَنَّ جِنَايَةَ الْمَرْءِ عَلٰى نَفْسِهِ غَيْرُ مُعْتَبَرَةٍ فِي حَقِّ أَحْكَامِ الدُّنْيَا زموږ دليل دا دی: چې پر خپل ځان باندې د انسان جنايت کول د دنيوي احکامو په حق کې معتبر نه دي فَشَابَهَ مَوْتَهَا حَتْفَ أَنْفِهَا

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٤١١). [القول الراجح ج:١، ص: ٢٩١]

نو دا د ښځي د طبعي مرګ سره مشابه سو بِخِلَافِ قَتْلِ الْمَوْلٰى أَمَتَهٗ په خلاف د دې چي مالک خپله مينځه قتل کړي لِأَنَّهٗ مُعْتَبَرٌ فِي حَقِّ أَحْكَامِ الدُّنْيَا ځکه چي هغه د دنيوي احکامو په حق کي معتبر دي حَتّٰى تَجِبَ الْكَفَّارَةُ عَلَيْهِ همدا وجه ده چي [په دې صورت کي] پر مالک کفاره واجبيږي.

اللغات: ﴿حَتْفَ أَنْفِهٖ﴾ طبعي مرګ (يعني په قتل سره نه دي مړ سوی، بلکي په طبعي مرګ سره يې آخري ساه تر پزه وتلې ده)، ﴿أَجَلٌ﴾ تاکلې موده، قضاء، ﴿يُجَازٰى﴾ د مفاعلې مضارع مجهوله ده: جزاء ورکول، بدله ورکول (سزا ورکول).

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)...اوله مسئله دا ده که يو مالک د خپلې مينځي نکاح د يو سړي سره وکړي او د سړي تر دخول او جماع مخکي هغه خپله مينځه قتل کړي، نو آيا پر دغه سړي (خاوند) د هغې مهر واجب دی، که نه؟ په دې باره کي اختلاف دی.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي پر خاوند د هغې مهر واجب دی، لېکن د امام ابو حنيفه، امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ الله په نېز پر هغه يوه ذره مهر هم نه واجبيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي مقتوله مينځه که څه هم د مالک په تعدیٰ او ظلم سره مړه سوې ده، خو بيا هم هغه پر خپل تاکلي وخت مړه سوې ده، لهذا څرنګه چي په طبعي مرګ سره د مړ کېدلو په صورت کي پر خاوند مهر واجبيږي او لکه څرنګه چي له مالک څخه بغير د بل پردي سړي په قتل کولو سره خاوند له مهر څخه نه بري کيږي، همداسي به په دغه مسئله کي هم پر هغه مهر واجب وي او هغه به له مهر څخه نه بري کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي کله مالک د هغې نکاح وکړه نو مالک د هغې ولي هم سو. او د ولي په باره کي حکم دا دی چي پر هغه د مبدل (بضع) تسليم (ور سپارل) واجب دي، لېکن که ولي مبدل (خاوند ته) نه وسپاري، نو د هغه له بدل (مهر) څخه به هم لاس پرېولي، لهذا کله چي مالک خپله مينځه ووژله او مبدل (يعني بضع) يې نه ور وسپارله، نو ځکه به هغه د بدل يعني له مهر څخه هم محروميږي. د دې مثال دا دی لکه يوه آزاده مسلمانه ښځه چي تر دخول او جماع مخکي مرتده سي، نو د مبدل د منع په وجه هغه له مهر څخه محروميږي، همداسي به دلته هم مالک له مهر څخه محروميږي.

والقتل الخ: په دې سره د صاحبينو د قياس جواب ورکوي، فرمايي چي موږ هم دا خبره منو چي په قتل سره مقتول پر خپل تاکلي وخت مړ سوی دی، خو د دنيوي احکامو په اعتبار سره دغه فعل يعني قتل إتلاف شمارل کيږي (يعني دا قصداً د مقتول هلاکول او ضايع کول دي)، همدا وجه ده چي د قتلِ عمد په صورت کي قصاص لازميږي او د قتلِ خطا په صورت کي ديت لازميږي. لهذا کله چي

په دنیاوي اعتبار سره قتل إتلاف او ضایع کول دي (او مالک په قتل سره بضع ضایع کړه)، نو قاتل (مالک) ته به مهر هم نه ورکول کیږي.

وإن قتلت الحرة: (۲)... دریمه مسئله دا ده که یو آزاده ښځه دیو سړي سره خپله نکاح وکړي، بیا ښځه تر دخول او جماع مخکې خودکشي (ځان وژنه) وکړي (نو ګواکي هغې مبدل یعني بضع خاوند ته نه وسپارله بلکې له ور سپارلو څخه منع سوه)، نو آیا پر خاوند دهغې مهر واجبیږي. که نه؟

په دې باره کې هم اختلاف دی، امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې مهر نه واجبیږي، او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې صورت کې پر خاوند دښځې مهر واجبیږي او دښځې له طرفه به دهغې ولي پر مهر قبضه کوي.

دلیل: دامام زفر او امام شافعي دلیل قیاس دی، دوی فرمايي چې څرنګه دآزادي ښځې دمرتدوالي په صورت کې دهغې مهر ساقطیږي، او څرنګه چې تر دخول مخکې دخپلې مینځې په قتل کولو سره مالک له مهر څخه محرومیږي، همداسې به په دې مسئله هم کې ښځه له مهر څخه محرومیږي؛ ځکه چې هغې دخود کشۍ په وجه دبضع له تسلیم څخه منع سوه.

د "وَالْجَامِعُ مَا بَيَّنَّاهُ" څخه مراد همدا دي چې دبضع له تسلیم څخه منع کېدل چې څرنګه د مرتدوالي په صورت کې او په داسې نورو صورتونو کې له مهر څخه دمحرومـوالي سبب جوړیږي، همداسې به په دې مسئله کې هم هغه له مهر څخه دمحرومـوالي سبب وي او ښځه به له مهر څخه محرومیږي.

زموږ دلیل: دا دی چې څوک پر خپل پر ځان جنایت وکړي، نو ددنیوي احکامو په اعتبار سره پر هغه هیڅ حکم او هیڅ سزا نه جاري کیږي، همدا وجه ده چې دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز خود کشي کونکي ته غسل هم ورکول کیږي او دجنازې لمونځ هم پر کیږي، لهذا خود کشي کول دطبعي مرګ سره مشابه سوه، او په طبعي مرګ سره دښځې دمړه کېدلو په صورت کې دښځې مهر نه ساقطیږي، نو دخود کشي په صورت کې به هم دهغې مهر نه ساقطیږي.

بخلاف القتل: په دې سره دامام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله د قیاس جواب ورکوي. حاصل يې دا دی چې ستاسو قیاس صحیح نه دی؛ ځکه که مالک خپله مینځه قتل کړي نو پر هغه دنیوي احکام جاري کیږي، همدا وجه ده چې په دې صورت کې پر هغه کفاره واجبیږي (او قصاص ځکه نه پر واجبیږي چې مینځه دمالک مملوکه ده (یعني دخپل مالک په ملکیت کې ده)، اوس که موږ پر هغه قصاص واجب

کړو نو "إيجاب الشئ على الشئ" به لازم سي کوم چي صحيح نه دي). حال دا چي پر خود کشي کونکي انسان هيڅ شي نه واجبيږي، لهذا د مالک پر قتل قياس کول صحيح نه دي.

همدارنګه پر مرتدې ښځې قياس کول هم صحيح نه دي؛ ځکه چي د مرتدوالي په صورت کي هم پر ښځې دنياوي احکام جاري کيږي او هغه د حبس، تعزير او داسي نورو سزاګانو سره مخامخ کيږي، نو کله چي د مقيس او مقيس عليه په مينځ کي د ځمکي او آسمان فرق دی. نو پر هغه به قياس کول څرنګه صحيح وي !؟.

له مينځي څخه د عزل کولو په صورت کي به خاوند له چا څخه اجازت اخلي؟ (اختلاف)

وَإِذَا تَزَوَّجَ أَمَةً او کله چي ايو څوک [د يو مينځي سره نکاح وکړي فَالْإِذْنُ فِي الْعَزْلِ إِلَى الْمَوْلَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به د عزل اجازت و مالک ته وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ ●: أَنَّ الْإِذْنَ فِي الْعَزْلِ إِلَيْهَا او له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه روايت دی: چي د عزل اجازت به په خپله مينځي ته وي لِأَنَّ الْوَطْءَ حَقُّهَا ځکه چي وطي د هغې [خپل] حق دی حَتَّى تَثْبُتَ لَهَا وِلَايَةُ الْمُطَالَبَةِ همدا وجه ده چي هغې لره د وطي د مطالبې ولايت ثابت دی وَفِي الْعَزْلِ تَنْقِيصُ حَقِّهَا او په عزل کي د هغې [د وطي] حق په نقصان کي اچول دي فَيُشْتَرَطُ رِضَاهَا كَمَا فِي الْحُرَّةِ نو ځکه به د آزادي ښځي په څير د هغې رضا [هم] شرط وي بِخِلَافِ الْأَمَةِ الْمَمْلُوكَةِ په خلاف د مملوکه مينځي لِأَنَّهُ لَا مُطَالَبَةَ لَهَا ځکه چي هغې لره [د وطي] د مطالبې حق نسته فَلَا يُعْتَبَرُ رِضَاهَا نو ځکه به د هغې د رضا اعتبار نه کيږي وَجْهُ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ: أَنَّ الْعَزْلَ يُخِلُّ بِمَقْصُودِ الْوَلَدِ د ظاهر روايت دليل دا دی: چي عزل د بچي په مقصود کي خلل اچوي وَهُوَ حَقُّ الْمَوْلَى او هغه د مالک حق دی فَيُعْتَبَرُ رِضَاهُ نو ځکه به د هغه د رضا اعتبار کيږي وَبِهَذَا فَارَقَتِ الْحُرَّةَ او په همدغه علت سره انکوحه مينځه له آزادي ښځي څخه جلا سوه.

اللغات: ﴿إذن﴾ اجازت (اجازه)، ﴿عزل﴾ د ضرب د باب مصدر دی، د دې باب خپله معنی ده: جلا کول، منع کول، عزل کول "يعني له فرج څخه بهر انزال کول"، ﴿يُخِلّ﴾ د افعال مضارع ده: خلل اچول (نقصان رسول).

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن نجيم رَحِمَهُ الله: الإذن في العزل لسيد الأمة، لأنه يخل بمقصود المولى وهو الولد، فيعتبر رضاه، وهذا قول أبي حنيفة وصاحبيه في ظاهر الرواية (البحر الرائق ج:٣، ص:٣٤٨). [القول الراجح ج:١، ص:٢٩٣]

تشريح: د عبارت تر حل مخکي مختصراً د عزل په شرعي معنیٰ او حکم ځان پوه کړئ! د عزل شرعي معنیٰ ده: "اَلْعَزْلُ أَنْ يَطَأَهَا وَيَعْزِلَ شَهْوَتَهٗ عَنْهَا كَيْلَا يَتَوَلَّدَ الْوَلَدُ" يعني عزل دې ته وايي چې خاوند د انزال په وخت کي خپل ذکر (تناسلي اندام) د ښځي له فرج څخه راوباسي او مني دباندي انزال سي د دې لپاره چې ښځه حامله نه سي.

د عزل حکم دا دی چې زياتره صحابه، او زياتره فقهاء او عام علماء هغه جائز ګڼي، لېکن د صحابه وو يو جماعت هغه ناخوښه او مکروه ګڼي؛ د هغو دليل د جدامه بنت وهب روايت دی کوم چې حضرت عائشې رضي الله عنها نقل کړی دی، په هغه کي ذکر سوي دي چې يو جماعت له نبي کريم ﷺ څخه د عزل په باره کي پوښتنه وکړه، نو نبي ﷺ وفرمايل: "ذَاكَ الْوَأْدُ الْخَفِيّ"، يعني عزل کول داسي دي لکه (کوچنۍ) ژوندۍ په قبر دننه کول او ښخول، دا حديث په مسلم، ابو داؤد، نسائي او داسي نورو کي ذکر سوی دی. او د هغو بل دليل د حضرت عمر او د حضرت عثمان رضی الله عنهما دا أثر دی چې: "كَانَا يَنْهَيَانِ عَنِ الْعَزْلِ"، (يعني دوی به خلک له عزل څخه منع کول).

لېکن صاحب د فتح القدير "علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله" ليکلي دي چې صحيح قول دا دی چې عزل جائز دی، لکه په صحيحينو کي چې د حضرت جابر رضي الله عنه دا حديث ذکر سوی دی: "كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ" (يعني د قرآن د نزول په زمانه کي به موږ هم عزل کوی)، همدارنګه له ابن مسعود رضي الله عنه څخه چې کله د عزل په هکله پوښتنه وسوه نو هغه وفرمايل: "لَا بَأْسَ بِهٖ" (چي څه پرواه نه لري)، نو معلومه سوه چې عزل جائز او روا دی، همدا د زياتره محققينو او علماؤ رايه ده. (فتح القدير ج:۳، ص:۳۷)

صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د يو مينځي سره نکاح وکړي، نو د عزل اجازت به هغه له چا څخه اخلي؟ په دې باره کي اختلاف دی، د امام صاحب رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې خاوند به د عزل کولو اجازت له مالک څخه اخلي او د هغه رضا به ترلاسه کوي (همدا ظاهر روايت دی). لېکن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې خاوند به په خپله له هغه مينځي څخه اجازت اخلي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې وطي د منکوحه مينځي حق دي، همدا وجه ده چې د مينځي لپاره د وطي د مطالبې ولايت سته (چي له کاوند څخه د وطي مطالبه وکړي)، او د عزل کولو په وجه د هغې دغه حق ختميږي، لهذا څرنګه چې د آزادي ښځي له رضا او اجازت څخه بغير عزل کول صحيح نه دي، همداسي به د منکوحه مينځي له رضا او اجازت څخه بغير عزل کول صحيح نه وي، او په دې باره کي به د مالک (مولیٰ) د اجازت او عدمِ اجازت معتبر نه وي.

ها! كه مالک په خپله د مینځې سره وطي كوي، نو بیا به د عزل اختیار مالک لره وي، مالک به له مینځې ځخه د عزل کولو اجازت نه اخلي؛ ځکه چې مینځه د مالک مملوکه ده، نو دلته وطي د مینځې حق نه دی بلکې د مالک حق دی، او انسان په خپل حق کې هر ډول تصرف کولای سي.

د امام صاحب دلیل: د ظاهر روایت دلیل (کوم چې د امام صاحب مسلک دی) دا دی چې د نکاح مقصود د وَلَد (بچي) طلب او حصول دی، او د مینځې وَلَد(بچی) د مالک حق دی، او په عزل سره په دې حق کې نقصان راځي، نو ځکه به د عزل کولو لپاره فقط د مالک اجازت ضروري وي، نه د منکوحې مینځې اجازت.

وبهذا الخ: فرمایي چې په دغه دلیل سره د آزادې منکوحه ښځې او منکوحه مینځې په مینځ کې فرق ثابت سو، یعنې ځرنګه چې د مینځې وَلَد د مالک حق دی، نو ځکه به هلته د مالک اجازت ضروري وي، او د آزادې ښځې ولد په خپله د هغې حق دی، نو ځکه به د عزل اجازت هم له هغې ځخه اخیستل کیږي او خاوند ته به د عزل هیڅ اختیار نه وي. نو کله چې په مینځه او آزادې ښځې کې دومره فرق دی، نو پر آزادې ښځې به د مینځې قیاسول ځرنګه صحیح وي! (دا ګواکې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د قیاس جواب دی).

د مینځې د خیارِ عتق بیان

وَإِنْ تَزَوَّجَتْ بِإِذْنِ مَوْلَاهَا او که یو مینځه د خپل مالک په اجازت سره [په خپله] نکاح وکړي ثُمَّ أُعْتِقَتْ او بیا هغه آزاده کړی سي فَلَهَا الْخِيَارُ نو هغې لره به خیار حاصل وي ایعنې هغې ته به خیارِ عتق ورکول کیږي] حُرًّا كَانَ زَوْجُهَا أَوْ عَبْدًا هغه که د مینځې خاوند آزاد وي او که غلام وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِبَرِيْرَةَ حِيْنَ أُعْتِقَتْ: "مَلَكْتِ بُضْعَكِ فَاخْتَارِيْ" ځکه کله چې حضرت بریره رضي الله عنها آزاده کړی سوه نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: چې "ته د خپلې بضع مالکه سوې نو [اوس] ته خپل ځان اختیارولای سې [یعنې اوس تا ته اختیار دی] فَالتَّعْلِيْلُ بِمِلْكِ الْبُضْعِ صَدَرَ مُطْلَقًا نو [په دې حدیث کې] د بضع د مالک کېدلو علت مطلقاً صادر سوی دی فَيَنْتَظِمُ الْفَصْلَيْنِ لهذا دا به دواړو قسمونو ته شامل وي وَالشَّافِعِيُّ يُخَالِفُنَا فِيْمَا إِذَا كَانَ زَوْجُهَا حُرًّا او امام شافعي رَحِمَهُ الله د خاوند د آزاد والي په صورت کې زموږ مخالف دی وَهُوَ مَحْجُوْجٌ بِهِ لیکن په دې حدیث سره پر هغه حجت قائم دی وَلِأَنَّهُ يَزْدَادُ الْمِلْكُ عَلَيْهَا عِنْدَ الْعِتْقِ او په دې وجه [هم] چې د عتق [آزادېدلو] په صورت کې پر مینځې د

خاوند ملکيت زياتيږي فَيَمْلِكُ الزَّوْجُ بَعْدَهُ ثَلَاثَ تَطْلِيقَاتٍ او هغه [خاوند] تر عتق وروسته د دريو طلاقو مالک ګرځي فَتَمْلِكُ رَفْعَ أَصْلِ الْعَقْدِ نو ځکه به مينځه د اصل عقد د ختمولو مالکه وي دَفْعًا لِلزِّيَادَةِ [اله خپل ځان څخه] د دې زياتوب د دفع کولو لپاره وَكَذَلِكَ الْمُكَاتَبَةُ او همداسې مکاتبه ده يَعْنِي إِذَا تَزَوَّجَتْ بِإِذْنِ مَوْلَاهَا ثُمَّ أُعْتِقَتْ يعني کله چې هغه د مالک په اجازت سره نکاح وکړي او بيا آزاده کړی سي [نو هغې ته به هم خيارِ عتق ورکول کيږي] وَقَالَ زُفَرُ: لَا خِيَارَ لَهَا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د مکاتبې لپاره خيار نسته لِأَنَّ الْعَقْدَ نَفَذَ عَلَيْهَا بِرِضَاهَا ځکه چې عقد د هغې په رضا سره پر هغې نافذ سوی دی وَكَانَ الْمَهْرُ لَهَا او مهر به [هم] د مکاتبې لپاره وي فَلَا مَعْنَى لِإِثْبَاتِ الْخِيَارِ لهذا د هغې لپاره د خيار ثابتولو هيڅ وجه [او صورت] نسته بِخِلَافِ الْأَمَةِ لِأَنَّهُ لَا يُعْتَبَرُ رِضَاهَا په خلاف د مينځې، ځکه چې د هغې د رضا هيڅ اعتبار نسته وَلَنَا: أَنَّ الْعِلَّةَ ازْدِيَادُ الْمِلْكِ او زموږ دليل دا دی: چې [اصل] علت د ملک زياتوب دی وَقَدْ وَجَدْنَاهَا فِي الْمُكَاتَبَةِ او په مکاتبه کې [هم] موږ دا علت پيدا کړی لِأَنَّ عِدَّتَهَا قُرْءَانِ ځکه چې د مکاتبې عدت [هم] دوه حيضونه دي وَطَلَاقَهَا ثِنْتَانِ او د هغې طلاقونه [هم] دوه دي.

اللغات: ﴿خِيَار﴾ د نکاح ختمولو يا باقي ساتلو اختيار، ﴿بُضْع﴾ د ښځې شرمګاه (فرج). ﴿مَحْجُوْج بِهٖ﴾ د نصر له باب څخه د اسم مفعول صيغه ده، د دې باب معنی ده: په دليل کې غالبيدل، نو د مَحْجُوْج معنی ده: په دليل کې مغلوب، د "هُوَ" ضمير امام شافعي ته راجع دی او د "بِهٖ" ضمير حديث ته راجع دی. مطلب يې دا دی چې دا حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت. ﴿قُرْءَان﴾ تثنيه د قُرْءٌ ده: حيض او طهر دواړو ته ويل کيږي.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... د اولې مسئلې حاصل دا دی که يو مينځې د خپل مالک په اجازت سره نکاح وکړه، بيا مالک هغه مينځه آزاده کړه، نو آيا دغه مينځې ته خيارِ عتق حاصل دی که نه؟ (يعني آيا هغې ته دا اختيار سته چې د خاوند سره نکاح قطع او ختم کړي يا يې قطع نه کړي، همدې ته "خيارِ عتق" وايي).

په دې باره کې د امامانو اختلاف دی، د ائمه ثلاثه وو مذهب دا دی چې که د آزادېدلو په وخت کې د دې مينځې خاوند غلام وي نو بيا به هغې ته خيارِ عتق ورکول کيږي، ليکن که د آزادېدلو په

وخت کي خاوند هم آزاد وي نو بيا به هغې ته خيار عتق نه ورکول کيږي، د احنافو مذهب دا دی چې په هر صورت کي به دغه مينځې ته خيارِ عتق ورکول کيږي، هغه که خاوند د مينځې د آزادېدلو په وخت کي آزاد وي او که غلام وي.

د ائمه ثلاثه وو او د احنافو په مينځ کي دغه ختلاف ځکه دی چې د حضرت بريره ﷺ د آزادېدلو په وخت کي د هغې د خاوند حضرت مغيث ﷺ په آزادوالي او غلاموالي کي روايات سره متعارض دي. پر همدغه تعارض د امامانو اختلاف مبني دی، روايات په دې توګه سره متعارض دي چې د حضرت اسود او عروة بن زبير له يوه روايت څخه د حضرت بريره ﷺ د آزادېدلو په وخت کي د هغې د خاوند آزادوالی ثابت دی، د دې په خلاف د ابن عباس او عبد الرحمن بن القاسم له روايت څخه په دې وخت کي د هغه غلاموالی ثابت دی، او په دې باره کي نور روايتونه هم سته چې ځيني د هغه د آزادوالي خبره کوي او ځيني د هغه د غلامتوب خبره کوي، نو د "إِذَا تَعَارَضَا تَسَاقَطَا" په وجه احناف دا روايات پرېږدي او د نبي کريم ﷺ په دې حديث "مَلَكْتِ بُضْعَكِ..." عمل کوي او همدا خپل دليل ګرځوي، او څرنګه چې د نبي کريم ﷺ دغه فرمان مطلق دی، د خاوند د آزادوالي او غلاموالي هيڅ تفصيل پکښي نسته (او قاعده دا ده چې: "المُطْلَقُ يَجْرِيْ عَلٰى إِطْلَاقِهٖ")، نو ځکه به دغه نبوي فرمان عام وي او آزاد سوي مينځې ته به مطلقاً خيار ورکول کيږي هغه که يې خاوند آزاد وي او که غلام وي، او د همدې اطلاق په وجه دا حديث د ائمه ثلاثه وو په خلاف حجت او دليل دی.

او که په هغه نورو رواياتو عمل وسي نو هم د احنافو مسلک قوي او مضبوط دی؛ ځکه کوم روايتونه چې د حضرت مغيث پر آزادوالي دلالت کوي هغه مثبت دي، او کوم چې د هغه پر غلاموالي دلالت کوي هغه که څه هم د غلاموالي په حق کي مثبت دي خو د آزادوالي په حق کي نافي دي، او فقهي قاعده دا ده چې: "الإِثْبَاتُ مُقَدَّمٌ عَلَى النَّفْيِ إِنْ كَانَ بِالأَصْلِ"، (يعني د أصل اثبات به همېشه له نفي څخه مخکي وي) او د انسان آزادوالی أصل دی، نو په دې حواله سره هم د احنافو مسلک راجح دی او د حضرت مغيث پر آزادۍ دلالت کونکي روايات هم راجح دي.

ولأنه يزداد إلخ: زموږ عقلي دليل دا دی چې تر آزادېدلو مخکي خاوند پر مينځې د دوو طلاقونو حق او ملکيت درلودی، لېکن تر آزادېدلو وروسته دا دوه طلاقه په دريو طلاقو سره بدل سول (يعني مخکي مينځه په دوو طلاقو سره مغلظه ګرځېدله لېکن کله چې آزاده کړی سي نو په دريو طلاقو سره مغلظه ګرځي)، نو د مينځې په آزادېدلو سره د خاوند په ملکيت کي زياتوب راغلی او د خاوند په حق کي د

يوه طلاق زياتوب ثابت سو، نو د عدل او انصاف تقاضا دا ده چي آزادي سوي مينځي ته هم څه نا څه ورکول سي، خو د هغې په ملکيت کي زياتوب نه سي راتلی، نو ځکه موږ د دغه زياتوب د دفع کولو لپاره هغې ته د أصل نكاح ختمولو اختيار ورکړی.

وكذا المكاتبة إلخ: (٢)... د دويمي مسئلې حاصل دا دی چي که مکاتبه مينځي د خپل مالک په اجازت سره نكاح وکړه، بيا هغې خپل بدل کتابت اداء کړی او ازاده سوه، نو په دې صورت کي زموږ او د ائمه ثلاثه وو په نېز هغې ته خيارِ عتق حاصل دی (يعني هغې ته به خيارِ عتق ورکول کيږي)، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي هغې ته خيارِ عتق حاصل نه دی.

د امام زفر دليل: دا دی چي آزاد کړل سوي مينځي لره په دوو وجهو سره خيار ثابت وو: يو دا چي د هغې نكاح د هغې له رضا څخه بغير د مالک د ولايت په وجه سره سوې وه (په لنډه توګه دا چي هغې د مالک په اختيار سره نكاح کړې وه)، دويم دا چي د هغې مهر د خپل مالک لپاره وو، او په مکاتبه کي دا يوه خبره هم نسته؛ ځکه چي د هغې نكاح د هغې په رضا سره سوې ده او مهر هم د هغې دی. نو ځکه به مکاتبې ته تر آزادېدلو وروسته خيارِ عتق نه ورکول کيږي.

بخلاف الأمة: لېکن که څوک اعتراض وکړي چي که چيري نكاح د مينځي په رضا سره سوې وي نو هغې ته هم خيارِ عتق ورکول پکار نه دي،حالانکي داسي نه ده؟، نو د دې جواب ورکوي چي د مينځي د رضا هيڅ اعتبار نسته، ځکه چي د هغې له رضا څخه بغير هم مالک د هغې نكاح کولای سي او هغه پر نكاح مجبوره کولای سي، حالانکي په مکاتبه کي د مالک جبر نه چلېږي، **لهذا** اعتراض کول صحيح نه دي.

زموږ دليل: دا دی چي اصل علت دا دی چي پر مکاتبه هم اول خاوند فقط د دوو طلاقو ملکيت او حق لري او د مکاتبې عدت هم دوه حيضه وي، خو کله چي آزاده سي نو خاوند پر هغې د دريو طلاقو مالک وګرځي. لهذا کله چي د ملکيت په زياتوب کي مکاتبه او مملوکه مينځه دواړي سره برابري دي، نو په حکم کي به هم دواړي برابري وي. يعني څرنګه چي مملوکه مينځي ته خيارِ عتق ورکول کيږي، همداسي به مکاتبې ته هم خيارِ عتق ورکول کيږي.

بېله اجازته نكاح كونكې مينځې لره د خيارِ عتق حكم

وَإِنْ تَزَوَّجَتْ أَمَةٌ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهَا او كه يو مينځه د خپل مالک له اجازت څخه بغير نكاح وكړي ثُمَّ أُعْتِقَتْ او بيا آزاده كړى سي صَحَّ النِّكَاحُ نو [د هغې] نكاح صحيح ده لِأَنَّهَا مِنْ أَهْلِ الْعِبَارَةِ ځكه چي مينځه له أهلِ تكلّم څخه ده وَامْتِنَاعُ النُّفُوذِ لِحَقِّ الْمَوْلَى او د نكاح د نفاذ ممانعت د مالک د حق په وجه سره وو وَقَدْ زَالَ او هغه زائل سو وَلَا خِيَارَ لَهَا او د هغې لپاره به خيارِ [عتق] نه وي لِأَنَّ النُّفُوذَ بَعْدَ الْعِتْقِ ځكه چي [د نكاح] نفاذ [د مينځي] تر آزادېدلو وروسته دى ايعني نكاح د مينځي تر آزادوالي وروسته نافذ سوې ده] فَلَا تَتَحَقَّقُ زِيَادَةُ الْمِلْكِ نو [دلته] د ملک زياتوب نه ثابتيږي كَمَا إِذَا زَوَّجَتْ نَفْسَهَا بَعْدَ الْعِتْقِ لكه په هغه صورت كي [چي نه ثابتيږي] كله چي تر آزادېدلو وروسته خپله نكاح [ديو چاسره] وكړي.

اللغات: ﴿إِمْتِنَاع﴾ د افتعال مصدر دى: منع كېدل. ﴿نُفُوذ﴾ د نصر مصدر دى: نافذ ېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه يو مينځې د خپل مالک له اجازت او رضا څخه بغير خپله نكاح د يو چا سره وكړه، بيا مالک هغه آزاده كړه، نو د هغې نكاح خو صحيح او جائز ده، لېكن هغې ته خيارِ عتق حاصل نه دى (يعني خيارِ عتق به نه وركول كيږي)؛ د نكاح د صحيح والي دليل دا دى چي مينځه عاقله، بالغه او د تكلّم او تصرف أهل ده، او د أهل كس هر جائز تصرف نافذيږي، لهذا د مالک تر آزادولو وروسته به د هغې تصرف هم نافذيږي او د هغې نكاح به صحيح او جائز وي، ځكه چي د هغې د نكاح نه نافذېدل د مالک د حق په وجه سره وو، لېكن كله چي مالک هغه د آزادۍ په انعام سره ونازوله، نو د مالک د حق مانع ليري سو او د هغې تصرف فعاله سو.

او هغې ته د خيار نه وركولو وجه دا ده چي نكاح د هغې تر آزادۍ وروسته نافذه سوې ده، او تر آزادېدلو وروسته د نكاح په نفاذ سره د خاوند په ملكيت كي هيڅ زياتوب نه راځي (ځكه چي د هغه په ملكيت او حق كي هغه وخت راځي زياتوب چي تر آزادېدلو مخكي هم مينځه د هغه په نكاح كي وي) او مخكي تاسي ووېل چي خيارِ عتق د ملكيت د زياتوب په سبب سره هغې ته وركول كيږي، لهذا كله چي دا سبب دلته نسته، نو خيارِ عتق به هم نه وركول كيږي، او دا صورت داسي دى لكه تر آزادېدلو وروسته نكاح كول، يعني څرنگه چي تر آزادېدلو وروسته په نكاح كولو سره مينځي ته خيارِ عتق نه وركول كيږي، همداسي به په دغه صورت كي هم نه وركول كيږي.

د پورتني مينځې مهر د چا حق دی؟

فَإِنْ كَانَتْ تَزَوَّجَتْ بِغَيْرِ إِذْنِهِ عَلَى أَلْفٍ او که مينځې د مالک له اجازت څخه بغير اد يو چا سره| پر زرو درهمو نکاح کړې وي وَمَهْرُ مِثْلِهَا مِائَةٌ او د هغې مهر مثل سل درهمه وو فَدَخَلَ بِهَا زَوْجُهَا او [بيا] خاوند په هغې دخول وکړی ثُمَّ أَعْتَقَهَا مَوْلَاهَا بيا مالک هغه آزاده کړه فَالْمَهْرُ لِلْمَوْلَى نو [د هغې] مهر به د مالک لپاره وي لِأَنَّهُ اسْتَوْفَى مَنَافِعَ مَمْلُوكَةً لِلْمَوْلَى ځکه چي خاوند داسي منافع تر لاسه کړل کوم چي د مالک ملکيت دی [يعني خاوند د مالک له ملکيت څخه فايده واخيستله] وَإِنْ لَمْ يَدْخُلْ بِهَا حَتَّى أَعْتَقَهَا او که خاوند په ښځي دخول نه وکړي تر دې چي [مولی] هغه آزاده کړي فَالْمَهْرُ لَهَا نو مهر به د ښځي لپاره وي لِأَنَّهُ اسْتَوْفَى مَنَافِعَ مَمْلُوكَةً لَهَا ځکه چي [په دې صورت کي] خاوند د ښځي مملوکه منافع تر لاسه کړل وَالْمُرَادُ بِالْمَهْرِ الْأَلْفُ الْمُسَمَّى او له مهر څخه مراد هغه زر درهمه دي کوم چي تاکل سوي دي [يعني کوم چي ښځي تاکلي دي] لِأَنَّ نَفَاذَ الْعَقْدِ بِالْعِتْقِ اِسْتَنَدَ إِلَى وَقْتِ وُجُودِ الْعَقْدِ ځکه چي د آزادېدلو په وجه د عقد نفاذ د عقد د وجود و طرف ته منسوب سو فَصَحَّتِ التَّسْمِيَةُ لهذا تسميه [يعني تاکل د مهر] صحيح سو وَوَجَبَ الْمُسَمَّى او هغه تاکل سوی مهر واجب سو وَلِهٰذَا لَمْ يَجِبْ مَهْرٌ آخَرُ بِالْوَطْءِ فِي نِكَاحٍ مَوْقُوفٍ او له همدې وجهي په موقوفه نکاح کي په وطي کولو سره دويم مهر نه واجبيږي لِأَنَّ الْعَقْدَ قَدِ اتَّحَدَ بِاسْتِنَادِ النَّفَاذِ ځکه چي د نفاذ د منسوب کېدلو په وجه عقد متحد سو فَلَا يُوجِبُ إِلَّا مَهْرًا وَاحِدًا نو ځکه به صرف يو مهر واجبيږي.

اللغات: ﴿إِسْتَوْفَى﴾ د استفعال ماضي ده: حاصلول، تر لاسه کول. ﴿مُسَمَّى﴾ د تفعيل اسم مفعول دی: مقرر کړی سوی، تاکل سوی. ﴿إِسْتَنَدَ﴾ د استفعال ماضي ده: منسوبېدل (نسبت کېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مينځې د مالک له اجازت څخه بغير خپله نکاح د يو چا سره وکړه او مهر يې زر (۱۰۰۰) درهمه وټاکی حال دا چي د هغې مهر مثل فقط سل (۱۰۰) درهمه وو، بيا خاوند دخول په وکړی، تر دې وروسته مالک دا مينځه آزاده کړه، نو د هغې توله مهر به مالک ته ورکول کيږي، په لنډه توګه دا چي که مينځه تر خپل مهر مثل هر څومره زيات مهر وټاکي، هغه ټاکلی مهر به توله د مالک وي او مالک ته به ورکول کيږي، په دې شرط چي خاوند تر آزادېدلو مخکي په هغې دخول کړی وي (يعني دخول قبل العتق وي)؛ د دې دليل دا دی چي په دې صورت کي خاوند د مالک

له ملکيت څخه فايده اخلي ځکه تر څو چي مالک مينځه آزاده کړي نه وي تر هغه وخته مينځه د مالک مملوکه ده، نو خاوند چي د چا له ملکيت څخه فايده اخلي، عوض يعني مهر به هم هغه ته ورکول کيږي.

او که د مالک تر آزادولو وروسته خاوند په هغې دخول وکړي، نو مهر به ټوله د دغه آزادي سوي مينځي وي؛ ځکه په دې صورت کي خاوند د هغې له ملکيت څخه فايده اخلي، ځکه چي تر آزاد والي وروسته مينځه د مالک له ملکيت څخه وځي او په خپله د خپل ځان او بضع مالکه ګرځي.

والمراد بالمهر الخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي د دخول قبل العتق په صورت کي مالک ته فقط مهر مثل (سل درهمه) ورکول پکار دي او پاته مهر مينځي ته ورکول پکار دي؛ ځکه چي مالک فقط د مينځي د بضع مالک دی او د بضع قيمت مهر مثل دی، لهذا مالک ته فقط د بضع قيمت (مهر مثل) ورکول پکار دي، نه زيات.

د جواب حاصل دا دی چي مهر که خاوند ته ورکول کيږي او که مينځي ته، دواړو ته به مهر مسمی (ټاکل سوی مهر) ورکول کيږي؛ ځکه چي د آزادېدلو په وجه به د عقد (نکاح) نفاذ د عقد (نکاح) د وجود وطرف ته منسوب کيږي، او د عقد (نکاح) د وجود په وخت کي مهر زر (۱۰۰۰) درهمه ټاکل سوی وو، لهذا دغه ټاکل او ټاکل سوی مهر خو صحيح سو، نو اوس به دې ته کتل کيږي چي خاوند د چا له ملکيت څخه فايده اخيستې ده، که چيري هغه قبل العتق په مينځي دخول کړی وي نو د مالک له ملکيت څخه د فايده اخيستلو په وجه به مالک د مهر حقداره وي، او که بعد العتق يې دخول کړی وي نو د مينځي له ملکيت څخه د فايده اخيستلو په وجه به مينځه د مهر حقداره وي، او څرنګه چي ټاکل سوی مهر زر درهمه دی، لهذا چا ته چي هم دغه ټاکل سوی مهر ورکول کيږي نو ټوله به ورکول کيږي.

ولهذا الخ: په دې سره دا خبره بيانوي چي څرنګه د عقد (نکاح) نفاذ د عقد (نکاح) د وجود وطرف ته منسوب کيږي، نو په دې وجه که يو مينځه مثلاً خپل د مالک له اجازت څخه بغير نکاح وکړي او خاوند دخول په وکړي، بيا وروسته مالک د نکاح اجازت ورکړي يا هغه آزاده کړي، نو بعد الإذن والعتق والا اجازت به د عقد (نکاح) د ابتداء سره لاحق کيږي او پر خاوند به فقط يو مهر واجب وي، داسي نه ده چي په موقوفه نکاح سره (يعني په هغه نکاح سره چي تر اجازت مخکي ده) يو مهر پر خاوند واجب وي او تر اجازت په وروسته نکاح سره به بل مهر پر خاوند واجب وي، ځکه کله چي د نکاح نفاذ د نکاح وجود ته منسوب سو، نو اوس قبل الإذن او بعد الإذن دواړي نکاح ګاني (عقدونه) سره يو ځای سول او يو عقد وګرځېدی، او په يوه عقد او يوه نکاح کي يو مهر واجبيږي، نه دوه مهرونه.

د زوی د مینځې د "أم ولد" جوړولو بیان

وَمَنْ وَطِئَ أَمَةَ ابْنِهِ او څوک چې د خپل زوی د مینځې سره وطي وکړي فَوَلَدَتْ مِنْهُ او [بیا] له هغه وطي څخه کوچنی پیدا سي فَهِيَ أُمُّ وَلَدٍ لَهُ نو دا مینځه به د هغه [وطي کونکي پلار] أمِ ولد وي وَعَلَيْهِ قِيمَتُهَا او پر هغه [وطي کونکي] به د دې مینځې قیمت واجب وي وَلَا مَهْرَ عَلَيْهِ او مهر به پر واجب نه وي وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ: أَنْ يَدَّعِيَهُ الْأَبُ او د مسئلې مطلب دا دی: چې پلار [وطي کونکی] د هغه [کوچني] دعویٰ وکړي وَوَجْهُهُ: أَنَّ لَهُ وِلَايَةَ تَمَلُّكِ مَالِ ابْنِهِ لِلْحَاجَةِ إِلَى الْبَقَاءِ او د دې علت دا دی چې د نفس د بقاء [او د هغه د حفاظت] د ضرورت په خاطر پلار لره د خپل زوی د مال د مالک جوړېدلو ولایت حاصل دی فَلَهُ تَمَلُّكُ جَارِيَتِهِ لِلْحَاجَةِ إِلَى صِيَانَةِ الْمَاءِ لهذا د اوبو د حفاظت د ضرورت په خاطر به [هم] پلار لره د زوی د مینځې د مالک جوړېدلو ولایت حاصل وي غَيْرَ أَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى إِبْقَاءِ نَسْلِهِ دُونَهَا إِلَى إِبْقَاءِ نَفْسِهِ خو د نفس د باقي ساتلو [او حفاظت کولو] په نسبت د نسل د باقي ساتلو ضرورت د کمي درجې دی فَلِهَذَا يَتَمَلَّكُ الْجَارِيَةَ بِالْقِيمَةِ نو له همدې وجهې به پلار د مینځې [خو] د قیمت په ذریعه مالک کیږي وَالطَّعَامَ بِغَيْرِ قِيمَةٍ او د خوراک به بېله قیمته [مالک کیږي] ثُمَّ هَذَا الْمِلْكُ يَثْبُتُ قَبْلَ الِاسْتِيلَادِ شَرْطًا لَهُ بیا به دغه ملکیت د پلار لپاره تر استیلاد مخکې د شرط په توګه ثابتیږي [یعني دغه ملکیت به د پلار لپاره تر کوچني پیدا کېدلو او تر أمِ ولد جوړولو مخکې ثابتیږي] إِذِ الْمُصَحِّحُ حَقِيقَةُ الْمِلْكِ أَوْ حَقُّهُ ځکه چې د استیلاد صحیح کونکی خو یا "حقیقتِ ملک" دی یا د "حقیقتِ ملک" حق دی وَكُلُّ ذَلِكَ غَيْرُ ثَابِتٍ لِلْأَبِ فِيهَا او په مینځه کې د پلار لپاره دغه دواړه نه دي ثابت حَتَّى يَجُوزَ لَهُ التَّزَوُّجُ بِهَا همدا وجه ده چې پلار ته د دې مینځې سره نکاح کول جائز دي فَلَا بُدَّ مِنْ تَقْدِيمِهِ لهذا د ملکیت مخکې کول [مقدم کښل] ضروري دي فَتَبَيَّنَ أَنَّ الْوَطْءَ يُلَاقِي مِلْكَهُ نو دا ښکاره سوه چې [د پلار] وطي د هغه د ملکیت سره متصل سوي دي [یعني چې وطي د هغه په ملکیت کې دننه واقع سوي دي] فَلَا يَلْزَمُهُ الْعُقْرُ نو ځکه به پر پلار مهر نه لازمیږي وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: يَجِبُ الْمَهْرُ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې [پر پلار هم] مهر

واجبيږي لِأَنَّهُمَا يُثْبِتَانِ الْمِلْكَ حُكْمًا لِلِاسْتِيْلَادِ ځکه چې امام زفر او امام شافعي د استيلاد لپاره حکماً ملکيت ثابتوي كَمَا فِي الْجَارِيَةِ الْمُشْتَرَكَةِ لکه په مشترکه مينځه کې [چې داسې کيږي] وَحُكْمُ الشَّيْءِ يَعْقُبُهُ او د يو شي حکم تر هغه وروسته راځي [يعني د يو شي حکم تر هغه شي وروسته ثابتيږي] وَالْمَسْأَلَةُ مَعْرُوْفَةٌ او دا مسئله مشهوره ده [په جامع صغير او نورو کتابو کې].

اللغات: ﴿الْعُقْر﴾ د غير مملوکه مينځې سره د وطې کولو قيمت (جرمانه) ته عقر وايي چې هغه به د باکرې مينځې د قيمت عُشر (لسمه حصه) وي او د ثيبې مينځې د قيمت نصف عشر به وي، او که د آزادې ښځې لپاره د عقر لفظ استعمال سي نو له هغه څخه به مراد د هغې مهر مثل وي، ﴿تَمَلُّک﴾ د تفعّل مصدر دی: مالک کېدل (مالک جوړېدل)، ﴿إسْتِيْلَاد﴾ د استفعال مصدر دی: خپله مينځه اُمِ ولد گرځول (اُمِ ولد جوړول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د خپل زوی د مينځې سره وطې وکړې او د هغه په وطې سره مينځه حملداره سوه او کوچنی ځنې پيدا سو، نو دغه مينځې ته د پلار "اُم ولد" وايي، او پر پلار د دې مينځې قيمت واجب دی (چې هغه به زوی ته ورکوي) که څه هم پلار فقير وي، خو په عليحده توگه د مينځې مهر پر واجب نه دی (چې مينځې ته به جلا مهر ورکوي) او د کوچني قيمت هم پر واجب نه دی.

ومعنی المسئلة إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چې دا مينځه هغه وخت د پلار اُمِ ولد گرځي کله چې پلار د هغې د کوچني د نسب دعویٰ وکړي چې دا کوچنی زما له نطفې څخه دی، او پلار آزاد، مسلمان او عاقل وي، او که پلار د کوچني د نسب دعویٰ نه وکړي نو د کوچني نسب د پلار سره نه ثابتيږي او مينځه د پلار اُمِ ولد نه گرځي.

ووجهه إلخ: فرمايي چې د پورتنۍ مسئلې دليل دا دی چې پلار ته د خپل ځان د حفاظت او ژوندي ساتلو په خاطر شرعاً دا اختيار ورکول سوی دی چې هغه د خپل زوی له اجازت څخه بغير د هغه په مال کې تصرف وکړي (يعني کله چې پلار ډېر وږی وي يا ډېر مريض وي او هيڅ ور سره نه وي نو د خپل ځان د حفاظت لپاره هغه د زوی له اجازت څخه بغير د هغه د مال مالک جوړيږي او هغه استعمالولای سي)؛ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي "أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيْكَ" (ته او ستا مال دواړه د خپل پلار ياست)، نو کله چې شريعت د نفس د حفاظت په خاطر د زوی مال د پلار مال گرځولی دی او په هغه کې يې پلار ته د تصرف اجازت

ورکړی دی، نو د هغه لپاره به دا اجازت هم وي چې د خپلو اوبو (مني) د حفاظت په خاطر د زوی مال (مینځه) خپله کړي یا په هغه کې تصرف وکړي؛ ځکه چې د نفس حفاظت او د اوبو حفاظت دواړه سره برابر دي، ځکه د دواړو د حفاظت حکم سوی دی، نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَسْقِيَنَّ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ" د دې حدیث مفهوم دا دی چې څوک په الله او په ورځ د آخرت ایمان لري هغه دې د خپلو اوبو حفاظت وکړي.

غیر أن الحاجة: په دې سره دیو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې کله د اوبو حفاظت او د نفس حفاظت دواړه سره برابر دي، نو بیا به پلار ولې د مینځې قیمت اداء کوي؛ ځکه کله چې پلار د نفس د حفاظت په خاطر د خپل زوی په مال کې تصرف وکړي نو پر هغه هیڅ شی نه واجبیږي؟ آخر د دوی تر مینځ څه فرق دی؟

صاحب د کتاب د دې په جواب کې فرمایي چې د اوبو د حفاظت او د نفس د حفاظت تر مینځ فرق دا دی چې د اوبو حفاظت د نفس تر حفاظت کمه درجه لري، همدا وجه ده که پلار وږی او تږی وي، نو زوی به پر دې مجبوروول کیږي چې پلار ته خواړه ورکړي او هغه د لوږې او تندې څخه وژغوري (ځکه چې د نفس حفاظت ډېر أهم دی)، لېکن د کوچنې د حصول په خاطر به زوی پر دې نه مجبوروول کیږي چې پلار ته مینځه ورکړي، لهذا کله چې د حفاظت نفس او حفاظت ماء تر مینځ فرق سته، نو د دوی په احکامو کې به هم فرق وي او د حفاظت نفس والا تصرف خو به له ضمان او قیمت څخه خالي وي، مګر د حفاظت ماء په صورت کې به پر پلار د مینځې قیمت لازم او ضروري وي، لکه څرنګه چې د نکاح په صورت کې هم د هغې مهر پر لازمیږي.

ثم هذا الملك إلخ: په حقیقت کې په دې سره هم دیو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې په مینځه کې د ولد (کوچنې) د طلب لپاره دوه شیان ضروري دي، یا خو به واطي (وطي کونکی) په پوره توګه د هغې پوره مالک وي، یا به په یو درجه کې د واطي ملکیت پر هغې ملکیت قائم وي (لکه مکاتبه او داسي نوري مینځې چې د مالک څه نا څه ملکیت پر پاته وي)، او دلته د پلار په حق کې دا دواړه صورتونه نسته، همدا وجه ده چې د پلار لپاره د زوی د مینځې سره نکاح کول جائز دي، نو ځکه ظاهراً د پلار دغه استیلاد (أم ولد جوړول) صحیح نه معلومیږي او نه د هغه دا إقدام او فعل کول صحیح معلومیږي.

صاحب د کتاب د دې په جواب کې فرمایي چې د پرېشانه کېدلو هیڅ ضرورت سته؛ ځکه کله چې پلار د هغې قیمت اداء کړي نو سمدستي د هغې مالک ګرځي، او د استیلاد د صحیح کېدلو او د پلار د فعل د روا کېدلو لپاره به د پلار ملکیت تر وطي مخکې منل کیږي یعني دا به ویل کیږي چې

پلار تر وطي مخکي لا د مینځي مالک وو او هغه د خپل مملوکه مینځي سره وطي کړي دي، لهذا څرنګه چي د مملوکه مینځي سره د وطي کولو په صورت کي پر مالک هیڅ ضمان، قیمت یا مهر نه لازمیږي، همداسي به په دغه صورت کي هم پر هغه هیڅ مهر نه لازمیږي.

همدارنګه په دې فقهي قاعدي سره هم د دغه مسئلې تائید کیږي چي: "المضمونات تملك بالضمان السابق. ويستند الملك فيها إلى وقت وجوب الضمان"، یعني مضمونه شیان په مخکني ضمان سره مملوک ګرځي، او د ضمان د وجوب له وخت څخه په هغوی کي د ضامن یا متعدي ملکیت ثابتیږي.

وقال زفر الخ: په دې سره دا خبره بیانوي چي امام زفر او امام شافعي د استیلاد لپاره حکماً ملکیت ثابت مني، او د یوشي حکم د شي تر ثبوت وروسته ثابتیږي، نو ځکه په دې مسئله کي د دهغو په نېز پر پلار مهر لازمیږي، او لکه څرنګه چي د دوو شریکانو تر مینځ د مشترکه مینځي سره که یو شریک وطي وکړي نو پر هغه نیم مهر لازمیږي، همداسي به دلته هم پر پلار مهر لازمیږي.

لیکن زموږ له طرفه جواب دا دی چي ستاسو قیاس صحیح نه دی؛ ځکه په دې مسئله کي چي موږ د ملکیت د مخکي منلو کومه قاعده اختیار کړې ده، هغه د استیلاد د صحیح کېدلو او د پلار د فعل د جواز او د کوچني د نسب د حفاظت په خاطر ده، او پر مشترکه مینځه خو له مخکي څخه هم د شریکانو ملکیت قائم وي، نو ځکه موږ هلته دا تأویلات نه کوو.

که زوی د پلار سره د خپلي مینځي نکاح وکړي نو آیا مینځه أم ولد ګرځي؟ (اختلاف)

قَالَ: وَلَوْكَانَ الِابْنُ زَوَّجَهَا إِيَّاهُ فرمایي: که زوی د خپلي مینځي نکاح د خپل پلار سره وکړي [او بیا پلار وطي ور سره وکړي] فَوَلَدَتْ مِنْهُ او له هغه څخه د مینځي کوچني پیدا سي لَمْ تَصِرْ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ نو مینځه د پلار أم ولد نه جوړیږي وَلَا قِيمَةَ عَلَيْهِ او نه به پر پلار د هغې قیمت واجب وي وَعَلَيْهِ الْمَهْرُ [خو] پر پلار به [د هغې] مهر واجب وي وَوَلَدُهَا حُرٌّ او د هغې کوچني به آزاد وي لِأَنَّهُ صَحَّ التَّزَوُّجُ عِنْدَنَا ځکه چي زموږ په نېز دا نکاح صحیح ده خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لِخُلُوِّهَا عَنْ مِلْكِ الْأَبِ ځکه چي مینځه د پلار له ملکیت څخه خالي ده [یعني د پلار په ملکیت کي نه ده] أَلَا تَرَى أَنَّ الِابْنَ مَلَكَهَا مِنْ كُلِّ وَجْهٍ آیا ته نه ګورې! چي زوی په هره توګه د دې مینځي مالک دی فَمِنَ الْمُحَالِ أَنْ يَمْلِكَهَا الْأَبُ مِنْ وَجْهٍ نو دا ناممکنه ده چي پلار [هم] من وجه د هغې مالک

سي وَكَذَا يَمْلِكُ مِنَ التَّصَرُّفَاتِ مَا لَا يَبْقَى مَعَهَا مِلْكُ الْأَبِ لَوْكَانَ او همدارنګه زوی [په مینځه کې] د داسي تصرفاتو مالک دی چې د هغوی په وجود کې د پلار ملکیت نه سي پاتېدای، که چیري هغه موجود وي [يعني كه بالفرض د پلار ملکیت موجود وي نو بیا هم د داسي تصرفاتو سره د هغه ملکیت باقي نه سي پاتېدای] فَدَلَّ ذَلِكَ عَلَى انْتِفَاءِ مِلْكِهِ لهذا دا د پلار د ملکیت پر نشتوالي دلالت کوي إِلَّا أَنَّهُ يَسْقُطُ الْحَدُّ لِلشُّبْهَةِ خو [د ملکیت] د شبه په وجه به [له پلار څخه] حد ساقطیږي فَإِذَا جَازَ النِّكَاحُ نو کله چې نکاح جائز سوه صَارَ مَاؤُهُ مَصُونًا بِهِ نو د پلار اُوبه د دغه نکاح په وجه محفوظه سوې فَلَمْ يَثْبُتْ مِلْكُ الْيَمِينِ لهذا د پلار لپاره به مِلک یمین نه ثابتیږي فَلَا تَصِيرُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ او هغه مینځه به د پلار اُمِ ولد [هم] نه جوړیږي وَلَا قِيمَةَ عَلَيْهِ فِيهَا وَلَا فِي وَلَدِهَا او نه به پر پلار د دې مینځې او د بچي قیمت لازمیږي لِأَنَّهُ لَمْ يَمْلِكْهُمَا ځکه چې پلار د دوی دواړو مالک نه سو وَعَلَيْهِ الْمَهْرُ او پر پلار به [د مینځې] مهر لازم وي لِالْتِزَامِهِ بِالنِّكَاحِ ځکه چې د نکاح کولو په ذریعه [پلار په خپله پر ځان] هغه لازم کړی دی وَوَلَدُهَا حُرٌّ او د مینځې کوچنی به آزاد وي لِأَنَّهُ مَلَكَهُ أَخُوهُ ځکه چې د هغه ورور د هغه مالک جوړ سو فَيُعْتَقُ عَلَيْهِ بِالْقَرَابَةِ نو د قرابت په وجه به هغه پر خپل ورور آزادیږي.

اللغات: ﴿خُلُوّ﴾ د نصر مصدر دی: خالي کېدل، فارغېدل. ﴿مَصُوْن﴾ د نصر اسم مفعول دی: محفوظ، خوندي. ﴿اِلْتِزَام﴾ د افتعال مصدر دی: په خپله ذمه اخیستل (په غاړه اخیستل)، پر ځان لازمول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي خپله مینځه خپل پلار ته په نکاح ورکړه، او بیا د پلار په وطي او جماع سره له مینځې څخه کوچنی پیدا سو، نو څرنګه چې زموږ په نېز دا نکاح صحیح ده (او دا مینځه د پلار منکوحه بنځه ده)، نو ځکه به هغې ته د پلار اُمِ ولد نه ویل کیږي (ځکه چې دا مینځه به هغه وخت د پلار اُمِ ولد وای کله چې د پلار په نکاح کې نه وای)، نو ځکه به اوس پر پلار د مینځې یا د هغې د بچي قیمت لازم نه وي، لېکن د نکاح د صحیح کېدلو په وجه به پر پلار مهر واجب وي او کوچنی به هم آزاد او حُرّ وي.

خلافاللشافعي إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د خپل زوی د مینځې سره د پلار نکاح صحیح نه ده؛ ځکه چې پلار لره د زوی په مال کې پوره اختیار سته، همدارنګه که پلار په دې خبر وي چې د

زوی د مینځي سره وطي حرام دي او بیا وطي ور سره وکړي نو هم پر هغه حد او سزا نه جاري کیږي.
لهذا کله چې د زوی په مینځه کې د پلار ملکیت ثابت دی، نو د هغه نکاح به صحیح نه وي، او کله چې نکاح صحیح نه شوه، نو دا مینځه به د پلار اُم ولد وي او د مخکنۍ مسئلې په څیر به پر پلار د هغې مهر واجب وي (لکه په تېره مسئله کې چې موږ وویل چې د زوی د مینځې سره د وطي کولو په صورت کې د امام شافعي او امام زفر په نېز مهر واجبيږي، نه قيمت).

لعلوها إلخ: د دې جملې تر تشریح مخکې په دې خبره ځان پوه کړئ! چې د دغه جملې تعلق د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قول او د دلیل سره نه دی، بلکې دا د احنافو د قول دلیل او علت دی، حاصل يې دا دی چې دلته زوی په پوره توګه (من کل وجه) د مینځې مالک دی، یعني هغه د دې مینځې سره وطي هم کولای سي او مینځه آزادولای هم سي، همدارنګه د هغه لپاره د مینځې د خرڅولو او هبه کولو هم پوره اجازت سته، او دغه ټوله داسې تصرفات دي چې اولاً خو د دوی په وجود کې د پلار یا د یو بل کس ملکیت ثابتېدای نه سي، او که د بل چا یا د پلار ملکیت ثابت هم ومنل سي نو هم به د دې تصرفاتو په مقابل کې داسې (من وجه) ملکیت ته دوام او بقاء حاصله نه وي، نو ځکه به په مذکوره مینځه کې د پلار هیڅ ملکیت ثابت نه وي، لهذا کله چې د پلار ملکیت ثابت نه دی، نو د هغې سره به د پلار نکاح صحیح او ثابته وي، او کله چې د پلار نکاح صحیح ده، نو هغه به د پلار منکوحه ښځه وي، نه أم ولد.

إلا أنه إلخ: په دې سره د یو سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې کله په مذکوره مینځه کې د پلار هیڅ ملکیت ثابت نه دی، نو بیا ولې پر پلار په هغه صورت کې حدّ نه جاري کیږي کله چې تر نکاح مخکې د هغې سره وطي وکړي او د وطي په حُرمت خبر هم وي؟ (ځکه چې د بل چا د مملوکه مینځې سره د وطي کولو په سزا کې پر واطي حدّ لازميږي).

فرمايي چې دلته ځکه پر پلار حد نه لازميږي چې د دې حديث "أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيْكَ" په وجه د زوی په مال (مینځه) کې د پلار د ملکیت شبه سته او حدّ په شبه سره ساقطیږي؛ ځکه چې دا مشهوره قاعده ده چې "الحُدُوْدُ تَنْدَرِئُ بِالشُّبهَاتِ"، او هسې هم د پلار د احترام په خاطر حد لازمېدل پکار نه دي.

فإذا جاز النكاح: دا خبره خو تاسو ته معلومه سوه چې په پورتنۍ مسئله کې د زوی د مینځې سره د پلار نکاح صحیح او جائز ده، نو اوس صاحب د هدایې په مختصره توګه پر دغه خبرې شپږ مسئلې تفریع کوي: (١)... اوله مسئله دا چې د نکاح په ذریعه د پلار نطفه محفوظه سوه، نو ځکه اوس د

پلار لپاره د ملک يمين د ثابتولو ضرورت نسته، ②... دويمه دا چي دغه مينځه د پلار أمِ ولد نه جوړيږي، ③... دريمه دا چي څرنګه دغه مينځه د پلار مملوکه مينځه نه ده (بلکي د هغه منکوحه ښځه ده)، نو ځکه پر پلار د هغې قيمت هم لازم نه دی، ④... څلورمه دا چي پر پلار د کوچني قيمت هم لازم نه دی، ځکه چي پلار د دې کوچني مالک نه دی، بلکي دغه مينځه چي د کوم چا ده هغه د دې کوچني مالک دی (کوم چي د دې کوچني ناسکه ورور کيږي ځکه چي دواړه د يوه پلار زامن دي)، ⑤... پنځمه دا چي څرنګه پلار د دغه مينځي سره نکاح کړې ده نو ځکه به پر هغه مهر لازم وي، ⑥... او شپږمه دا چي کله دغه ناسکه ورور خپل د دې کوچني ناسکه ورور مالک سو، نو د دې حديث په وجه به دا کوچنی آزاد او ځّروي: "مَنْ مَلَكَ ذَا رَحْمٍ مَّحْرَمٍ عُتِقَ عَلَيْه".

د خپل غلام خاوند د آزادولو بيان

قَالَ: وَإِذَا كَانَتِ الْحُرَّةُ تَحْتَ عَبْدٍ فرمايي: کله چي آزاده ښځه د يو غلام په نکاح کي وي فَقَالَتْ لِمَوْلَاهُ: أَعْتِقْهُ عَنِّيْ بِأَلْفٍ او هغه [ښځه] د غلام مالک ته ووايي: چي زما خاوند د زرو درهمو په عوض کي آزاد کړه! فَفَعَلَ او مالک [هغسي] وکړي فَسَدَ النِّكَاحُ نو [د دوی] نکاح فاسديږي وَقَالَ زُفَرُ: لَا يَفْسُدُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي نه فاسديږي وَأَصْلُهُ: أَنَّهُ يَقَعُ الْعِتْقُ عَنِ الْآمِرِ عِنْدَنَا او اصل د دې اختلاف دا دی چي زموږ په نيز دغه عتق [آزادول] د آمر له طرفه واقع کيږي حَتّٰى يَكُوْنَ الْوَلَاءُ لَهُ همدا وجه ده چي د هغه [غلام] ولاء به هم د آمر لپاره وي وَلَوْ نَوٰى بِهِ الْكَفَّارَةَ [همدارنګه] که آمر په دې سره [يعني د آزادولو په أمر سره] د کفارې نيت وکړي يَخْرُجُ عَنْ عُهْدَتِهَا نو هغه د کفارې له ذمه واري څخه وځي [يعني کفاره يې اداء کيږي] وَعِنْدَهُ يَقَعُ عَنِ الْمَأْمُوْرِ او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز [دغه عتق] د مأمور له طرفه واقعه کيږي لِأَنَّهُ طَلَبَ أَنْ يُعْتِقَ الْمَأْمُوْرُ عَبْدَهُ عَنْهُ ځکه چي آمر [ښځي] دا مطالبه وکړه چي مأمور [مالک] خپل غلام زما له طرفه آزاد کړي وَهٰذَا مُحَالٌ او دا ناممکن دي لِأَنَّهُ لَا عِتْقَ فِيْمَا لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ ځکه بنيادم چي د کومو شيانو مالک نه وي په هغه شيانو کي [د بنيادم له طرفه آزادي نه ثابتيږي فَلَمْ يَصِحَّ الطَّلَبُ لهذا [د آزادولو] مطالبه کول صحيح نه سو فَيَقَعُ الْعِتْقُ عَنِ الْمَأْمُوْرِ نو ځکه به د مأمور له طرفه آزادي واقع کيږي وَلَنَا: أَنَّهُ أَمْكَنَ تَصْحِيْحُهُ بِتَقْدِيْمِ الْمِلْكِ بِطَرِيْقِ

الْاِقْتِضَاءِ زمونږ دليل دا دی: چي [د آمر مطالبه او کلام] صحيح گرځول ممکن دي د اقتضاء [فرض کولو] په توګه د ملکيت په مخکي کولو سره [يعني د آمر کلام په دې توګه صحيح کيږي چي د هغه لپاره د غلام ملکيت مخکي فرض کړی سي او مقدم وګڼل سي] اِذِ الْمِلْكُ شَرْطٌ لِصِحَّةِ الْعِتْقِ عَنْهُ ځکه چي د آمر له طرفه د آزاد والي د صحيح کېدلو لپاره ملکيت شرط دی فَيَصِيرُ قَوْلُه "أَعْتِقْ" طَلَبُ التَّمْلِيكِ مِنْهُ بِالْأَلْفِ نو د آمر [ښځي] دا قول "أَعْتِقْ" به د زرو درهمو په عوض کي د ملکيت طلب کول وي ثُمَّ أَمْرَهُ بِإِعْتَاقِ عَبْدِ الْآمِرِ عَنْهُ بيا [تر دې وروسته] آمر له خپل طرفه د غلام آزادولو حکم وکړی وَقَوْلُهُ "أَعْتَقْت" تَمْلِيكٌ مِنْهُ او د مامور دا قول "أَعْتَقْتُ" به د هغه له طرفه تمليک وي ثُمَّ الْإِعْتَاقُ عَنْهُ بيا به د [آمر] له طرفه آزادول وي [يعني د مامور د دې قول "أعتقتُ" مطلب به دا وي چي ما ته آمر د غلام مالک جوړ کړې او بيا مي ستا له طرفه غلام آزاد کړی] وَإِذَا ثَبَتَ الْمِلْكُ لِلْآمِرِ او کله چي د آمر لپاره ملکيت ثابت سو فَسَدَ النِّكَاحُ لِلتَّنَافِي بَيْنَ الْمِلْكَيْنِ نو د دوو ملکيتونو تر مينځ د تضاد په وجه نکاح فاسده سوه.

اللغات: ﴿آمِر﴾ د نصر له باب څخه اسم فاعل دی: امر کونکی، حکم کونکی، ﴿وَلَاء﴾ د آزاد کړی سوي غلام ميراث (هغه ميراث کوم چي له آزاد کړی سوي (مُعْتَق) غلام څخه انسان ته حاصل سي)، ﴿عُهْدَة﴾ ذمه واري، ﴿الاِقْتِضَاء﴾ د افتعال مصدر دی: غوښتل، دلالت کول، فرضول (د فرض په توګه منل، په فرضي توګه ګڼل)، انګېرل (تصور کول)، ﴿تَنَافِيْ﴾ د تفاعل مصدر دی: يو د بل منافي کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يوه آزاده ښځه د يو غلام په نکاح کي وي او هغه د غلام مالک ته ووايي چي زه به تا ته زر (١٠٠٠) درهمه درکړم، ته زما خاوند آزاد کړه!، اوس که مالک د دې ښځي خاوند (غلام) آزاد کړي، نو زمونږ په نېز د هغه او ښځي تر مينځ نکاح فاسديږي، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز هغوی د مخکي په څېر خاوند او ښځه پاتيږي، او د مالک په آزادولو سره د دوی پر نکاح هيڅ اثر نه پريوځي.

صاحب د هدايې فرمايي چي په حقيقت کي د دې اختلاف اصل او بنياد دا دی چي زمونږ په نېز دغه عتق (آزادول) د آمر (ښځي) له طرفه واقع کيږي، همدا وجه ده چي د دغه غلام ولاء آمر (ښځي) ته حاصليږي، او همدا وجه ده که آمر (ښځه) د دې غلام د آزادېدلو په وخت کي د يو کفارې د اداء کولو نيت وکړي، نو د هغې کفاره اداء کيږي او هغه بريءُ الذمه ګرځي.

د دې په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز دا عتق (آزادول) د مأمور يعني د مالک له طرفه واقع کيږي، ځکه که هغه د آمر له طرفه واقع ومنل سي نو د دې (مطلب به دا نه وي چي غلام پر ما خرڅ کړه! بلکي) مطلب به يې دا وي چي ته (مأمور) خپل غلام زما (آمر) له طرفه آزاد کړه!، حالانکي دا ناممکن دي، ځکه چي يو څوک له بل کس څخه دا مطالبه نه سي کولای چي خپل غلام زما له طرفه آزاد کړه!، ځکه چي غلام خو د هغه نه دی (چي د هغه په منشا او مطالبه سره دي بل کس د هغه له طرفه غلام آزاد کړي) او قاعده دا ده چي "لَا عِتْقَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ"، (يعني انسان چي د کومو شيانو مالک نه وي په هغه شيانو کي د ده له طرفه آزادي نه ثابتيږي)، لهذا دلته به د آمر له طرفه بالکل عتق صحيح نه وي، نو ځکه به دا عتق د آمر له طرفه نه واقع کيږي بلکي د مأمور له طرفه به واقع کيږي.

ولنا الخ: زموږ دليل دا دی چي په دې مسئله کي آمر (ښځه) عاقله او بالغه ده، او قاعده دا ده "أَنَّ أُمُوْرَ الْمُسْلِمِيْنَ تُحْمَلُ عَلَى السَّدَادِ وَالصَّلَاحِ حَتَّى يَظْهَرَ غَيْرُهُ"، (يعني تر څو چي د مسلمانانو په کارونو کي د اصلاح او سمون گنجايش وي، تر هغه وخته به هغوی له هدر او ضايع کېدلو څخه ساتل کيږي)، نو د دې قاعدې په خاطر به د مسلمان هر هغه کلام پر صحت (صحيح والي) او اصلاح حمل کيږي چي پر صحت د هغه حمل کول ممکن وي، او دلته د آمر (ښځي) کلام پر صحت حمل کول ممکن هم دي، په دې توگه چي اقتضاءً به د هغې لپاره ملکيت مقدم ومنل کيږي يعني د هغې د دغه قول "أَعْتِقْهُ" به دا تأويل کيږي چي "الْعَبْدُ الَّذِيْ هُوَ الْآنَ فِيْ مِلْكِكَ، بِعْهُ عَنِّيْ بِأَلْفٍ ثُمَّ كُنْ وَكِيْلِيْ بِإِعْتَاقِهٖ" (يعني د کوم غلام چي ته مالک يې، هغه په زر درهمه پر ما خرڅ کړه او بيا زما له طرفه د هغه د آزادولو وکيل جوړ سه!)، مختصراً دا چي د آمر (ښځي) "أَعْتِقْ" به د "أَطْلُبُ التَّمْلِيْكَ" په معنیٰ سره وي، او د مأمور (مالک) "أَعْتَقْتُ" ويل به د "بِعْتُهٗ مِنْكَ وَأَعْتَقْتُهٗ عَنْكَ" په معنیٰ سره وي (يعني ما خپل غلام پر تا خرڅ کړی او ستا له طرفه مي آزاد کړی)، ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي به د مذکوره غلام عتق د آمر له طرفه وي، نه د مأمور له طرفه، او کله چي د عتق وقوع د آمر له طرفه ده نو خامخا به هغه د دې غلام مالک (هم) وي، لهذا آمر (ښځه) به د دې غلام د رقبې (يعني د ملک يمن) مالکه وگرځي، او د ملک نکاح خو له مخکي څخه هغه مالکه وه، نو ملکِ يمين او ملک نکاح به دواړه سره جمع سي او په دې دواړو کي منافات او تضاد دی، نو ځکه موږ وايو چي په دغه مسئله کي د خاوند (غلام) او ښځي نکاح فاسديږي، او د دوی تر مينځ د نکاح د بقاء بل هيڅ صورت نه پاتيږي.

د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

وَلَوْقَالَتْ: أَعْتِقْهُ عَنِّيْ او که [آزاده] ښځه [مالک ته] ووايي: چې خپل غلام زما له طرفه آزاد کړه! وَلَمْ تُسَمِّ مَالًا او د مال نوم نه واخلي [يعني مال ذکر نه کړي چې د دومره پيسو په عوض کې يې آزاد کړه!] لَمْ يَفْسُدِ النِّكَاحُ نو نکاح نه فاسديږي وَالْوَلَاءُ لِلْمُعْتِقِ او ولاء به د آزادونکي [مالک] لپاره وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا [حکم] د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ*: هٰذَا وَالْأَوَّلُ سَوَاءٌ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا او اول [صورت] سره برابر دي لِأَنَّهُ يُقَدِّمُ التَّمْلِيْكَ بِغَيْرِعِوَضٍ تَصْحِيْحًا لِتَصَرُّفِهِ ځکه چې امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د آمر [ښځې] د تصرف د صحيح کولو لپاره بېله عوضه [يعني د هبې په توګه] ملکيت مخکې کوي وَيَسْقُطُ اعْتِبَارُ الْقَبْضِ او د قبضې اعتبار ساقطوي كَمَا إِذَا كَانَ عَلَيْهِ كَفَّارَةُ ظِهَارٍ فَأَمَرَ غَيْرَهُ أَنْ يُطْعِمَ عَنْهُ لکه په هغه صورت کې [چې د قبضې اعتبار ساقطيږي] کله چې پر آمر د ظهار کفاره وي او هغه بل چا ته د خپل ځان له طرفه د خوراک ورکولو حکم وکړي [نو داسې کول صحيح دي] وَلَهُمَا: أَنَّ الْهِبَةَ مِنْ شَرْطِهَا الْقَبْضُ بِالنَّصِّ او د طرفينو دليل دا دی: چې د نص [حديث] پر بناء د هبې لپاره قبضه شرط ده فَلَا يُمْكِنُ إِسْقَاطُهُ وَلَا إِثْبَاتُهُ اقْتِضَاءً لهذا نه د قبضې ساقطول ممکن دي او نه يې اقتضاءً ثابتول ممکن دي لِأَنَّهُ فِعْلٌ حِسِّيٌّ ځکه چې قبضه يو حسي فعل دی بِخِلَافِ الْبَيْعِ لِأَنَّهُ تَصَرُّفٌ شَرْعِيٌّ په خلاف د بيع ځکه چې بيع يو شرعي تصرف دی وَفِيْ تِلْكَ الْمَسْأَلَةِ الْفَقِيْرُ يَنُوْبُ عَنِ الْآمِرِ فِي الْقَبْضِ او د کفارې په مسئله کې فقير د قبضې په حق کې د آمر نائب [قائم مقام] جوړيږي أَمَّا الْعَبْدُ فَلَا يَقَعُ فِيْ يَدِهِ شَيْءٌ لِيَنُوْبَ عَنْهُ پاتې سو غلام نو د هغه په لاس کې هيڅ شی نه وي چې د آمر له طرفه نائب جوړ سي.

اللغات: ﴿لَمْ تُسَمِّ﴾ د تفعيل له باب څخه د جحد صيغه ده: نوم اخيستل، ذکر کول، مقررول (ټاکل)، ﴿مُعْتِق﴾ د (تاء په کسره سره) د افعال له باب څخه اسمِ فاعل دی: آزادونکی، ﴿حِسِّيْ﴾ په

* القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمُ الله، كما ذكر فی رد المحتار (ج:۳، ص:۴۱۸)، وكـذا فـي الهنديـة (ج:۱، ص:۳۳۷).
[القول الراجح ج:۱، ص:۲۹۴]

حواسو سره معلومېدونکې شی، چې د هغه د معلومولو لپاره سوچ او فکر يا نقلي دليل ته ضرورت نه وي. ﴿يَثُوْب﴾ د نصر مضارع ده: نائب کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يوه آزاده ښځه د يو غلام په نکاح کې وي او هغه د غلام مالک ته فقط دا ووايي چې زما له طرفه خپل غلام (يعني زما خاوند) آزاد کړه او د مال او پيسو هيڅ ذکر نه وکړي، نو د طرفينو په نېز دلته (د تيري سوي مسئلې په څېر) نکاح نه فاسدېږي بلکې د مخکې په څېر خاوند او مابنه پاتېږي، او غلام آزادېږي او د هغه ولاء به د معتِق (مالک) لپاره وي او پر آمر يعني پر ښځې هيڅ عوض نه واجبېږي.

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې مخکنۍ (تېره) مسئله و دا مسئله دواړې په حکم کې برابرې دي، يعني آمر (ښځه) که د مال ذکر وکړي او که يې نه وکړي په دواړو صورتونو کې عتق (آزادول) د هغې له طرفه ثابتېږي، او څرنګه چې په تېره مسئله کې د خاوند (غلام) او ښځې تر مينځ نکاح فاسده وه، همدارنګه په دې مسئله کې هم د هغو نکاح فاسدېږي.

د امام ابو يوسف دليل: لأنه يقدّم إلخ: د امام ابو يوسف دليل دا دی چې څرنګه په تېره مسئله کې د عاقل، بالغ (آمر) د کلام د صحت (صحيح کېدلو) لپاره اقتضاءً د هغه ملکيت مقدم منل کېږي، همداسې به په دې مسئله کې هم د عاقل، بالغ د کلام د صحت په خاطر د هغه ملکيت مقدم منل کېږي، او د دواړو مسئلو تر مينځ به فقط دا فرق وي چې په تېره مسئله کې به تقديمُ الملک بالعوض وي او دلته به بدون العوض د هبې په شکل وي (يعني په مخکنۍ مسئله کې به ملکيت د عوض [ألف] سره مخکې منل کېږي او دلته به بېله عوضه د هبې په توګه ملکيت مخکې منل کېږي). او که څوک دا اعتراض وکړي چې د هبې لپاره خو قبضه شرط ده او د ملکيت د مخکې منلو په صورت کې هيڅ قبضه نسته (يعني په دې صورت کې قبضه مفقوده ده)، نو د هغه جواب دا دی چې کله په تېره مسئله کې د "أَعْتِقْهُ...(إلخ)" جمله د بيع او شراء په تأويل سره واوښتله نو هلته هم د بيع يو أهم رکن يعني "قبول" ساقط سو، لهذا کله چې د رکن اسقاط ممکن دی نو د شرط په فقدان يا اسقاط کې څه حرج نسته، لهذا په دې صورت کې به "أَعْتِقْهُ...(إلخ)" د "هَبْهُ لِي ثُمَّ أَعْتِقْهُ عَنِّي" په معنیٰ سره وي، او د قبضې په نشتوالي او سقوط سره به پر دې هيڅ اثر نه پرېوځي، ځکه چې د قبضې د سقوط نور مثالونه هم سته.

مثلاً که پر يو سړي د ظهار کفاره واجب وي او د غه سړی يو بل چا ته ووايي چې زما له طرفه شپېتو (۶۰) مسکينانو ته خوراک ورکړه! او هغه (مأمور) شپېتو مسکينانو ته خوراک ورکړي، نو

دلته که څه هم دآمر له طرفه قبضه راغلې نه ده، خو بيا هم دا حکم او إطعام (خوراک ورکول) دواړه صحيح دي او آمر برئ الذمه ګرځي، نو څرنګه چې دلته بېله قبضې کفاره اداء کيږي، نو همداسې به په دغه (پورتنۍ) مسئله کې هم دآمر له قبضې څخه بغير ملکيت مخکښې منل کيږي او عتق به د هغه له طرفه واقع کيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې د هبې د صحت لپاره د قبضې شرط کېدل په نص (حديث: لَا تَصِحُّ الْهِبَةُ إِلَّا مَقْبُوْضَةً) سره ثابت دي، لهذا کله چې دا په نص سره ثابت دي نو دا به نه د رکن پر سقوط باندې په قياس کولو سره ساقطېدای سي او نه به اقتضاءً ثابتېدای سي؛ ځکه چې دا (قبضه) د قول له جنس څخه نه ده چې دا دې د يو بل قول (مثلاً د أَعْتَقْتُ الخ) په ضمن کې ثابته ومنل سي، بلکې دا يو حسّي فعل دی چې د دې معتبريّت او وجود ساقطېدای نه سي، او نه دا پر بيع قياس کېدای سي، ځکه چې بيع "يو شرعي تصرف" ته وايي کوم چې د قول له جنس څخه دی، نو د قول (مثلاً د أعتقه الخ) په ضمن کې د هغه ثابتېدل ممکن دي لکه په بيع کې تعاطی کې چې د بيع د أرکانو (ايجاب او قبول) ساقطېدل ممکن دي، نو کله چې د بل قول په ضمن کې د بيع ثبوت هم ممکن دی او په بيع تعاطی کې د بيع د أرکانو سقوط هم ممکن دی، نو بيا به پر دې باندې قياس کول څرنګه صحيح وي!؟.

<u>وفي تلك المسئلة إلخ</u>: امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله پورتنۍ مسئله پر ظهار قياس کړې وه، صاحب د کتاب په دې عبارت سره د هغه جواب ورکوي، فرمايي چې د کفارهٔ ظهار په مسئله کې د قبضې په حق کې فقير د آمر نائب جوړيږي او قبضه ثابتيږي (يعني فقير د آمر له طرفه پر خوراک قبضه کوي لکه په زکاة کې چې فقير د الله له طرفه پر زکاة قبضه کوي)، لېکن دلته (په پورتنۍ مسئله کې) غلام تر آزادېدلو وروسته خالي لاس پاتيږي (ځکه چې إعتاق د ملکيت إزالې او د ماليت إتلاف ته وايي) او هغه بالکل د دې قابل نه پاتيږي چې د آمر نيابت وکړي، لهذا دلته هبه بدون القبضه پاتيږي (يعني په دې پورتنۍ مسئله کې هبه له قبضې څخه بغير ثابتيږي او قبضه نه پکښې راځي)، او اوس موږ ووېل چې په شريعت کې د دې (بدون القبض هبې) هيڅ اعتبار نسته؛ لهذا د قبضې د نشتوالي په حواله سره په دواړو مسئلو کې فرق دی، نو يوه پر بلې قياسول بالکل صحيح نه دي.



بَابُ نِكَاحِ أَهْلِ الشِّرْكِ

(دا) باب (په بیان کي) د مشرکينو د نکاح دی

تشریح: مخکي تر دې صاحب د کتاب د "رقيق" (غلام) د نکاح احکام بیان کړل. اوس له دې ځايه د مشرکينو د نکاح احکام بيانوي، څرنګه چي مشرک او کافر د غلام په نسبت زيات خسيسه او د ټيټي درجې وي. نو ځکه يې د "رقيق" احکام د مشرکينو د نکاح تر احکامو مخکي بيان کړل.

مشرك: هغه بدبخته کافر ته وايي چي د خدای سره يو څوک شريک ګڼي (يعني د خدای د وجود اقرار خو کوي، لېکن په خدايي کي د هغه سره يو څوک شريک ګڼي). او په دې باب کي له "أهلُ الشرک" څخه مراد مطلقاً کافر دی او مشرک او منکر دواړو ته شامل دی.

د کفر او شرک په حالت کي په غلطه طريقه سره د نکاح کونکو لپاره تر اسلام را وړلو وروسته احکام

وَإِذَا تَزَوَّجَ الْكَافِرُ بِلَا شُهُودٍ او کله چي کافر له ګواهانو څخه بغير [ديو کافري ښځي سره] نکاح وکړي أَوْ فِي عِدَّةِ كَافِرٍ يا د يو کافر په عدت کي [ديو کافري ښځي سره نکاح وکړي] وَذٰلِكَ فِي دِيْنِهِمْ جَائِزٌ او دا د هغو په مذهب کي جائز وي ثُمَّ أَسْلَمَا بيا دواړه اسلام راوړي أُقِرَّا عَلَيْهِ نو دوی دواړه پر دغه نکاح باقي پاتېږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ؒ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَ زُفَرُ: اَلنِّكَاحُ فَاسِدٌ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دواړو صورتونو کي نکاح فاسده ده إِلَّا أَنَّهُ لَا يُتَعَرَّضُ لَهُمْ قَبْلَ الْإِسْلَامِ وَالْمُرَافَعَةِ إِلَى الْحُكَّامِ خو تر اسلام راوړلو او قاضيانو [او دار القضاء] ته د مسئلې تر پېشولو مخکي به په هغوی هيڅ کار نه لرل کېږي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ كَمَا قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په اول صورت کي داسي فرمايلي دي څرنګه چي امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايلي دي وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي كَمَا قَالَ زُفَرُ او په دويم صورت کي يې د امام زفر رَحِمَهُ

الله په څير فرمايلي دي لَهُ: أَنَّ الْخِطَابَاتِ عَامَّةٌ عَلٰى مَا مَرَّ مِنْ قَبْلُ د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي [د شريعت] خطابات عام دي، لکه مخکي چي دا خبره تېره سوه فَتَلْزَمُهُمْ نو [د مسلمانانو په څير] به دا خطابات پر کفارو [هم] لازم وي وَإِنَّمَا لَا يُتَعَرَّضُ لَهُمْ لِذِمَّتِهِمْ إِعْرَاضًا خو د هغوی د ذمي والي په وجه به [له هغو څخه] اِعراض کولو په توګه په هغوی کار نه لرل کيږي لَا تَقْرِيْرًا نه د ثابتولو [او تائيد کولو] په توګه فَإِذَا تَرَافَعُوا أَوْ أَسْلَمُوا وَالْحُرْمَةُ قَائِمَةٌ او کله چي هغوی [قاضي ته خپله] مسئله پېش کړي يا اسلام راوړي په داسي حال کي چي حُرمت قائم وي وَجَبَ التَّفْرِيْقُ نو [د خاوند او ښځي ترمينځ] به تفريق کول واجب وي وَلَهُمَا: أَنَّ حُرْمَةَ نِكَاحِ الْمُعْتَدَّةِ مُجْمَعٌ عَلَيْهَا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي د عدت تېرونکي ښځي د نکاح حرمت متفق عليه دی فَكَانُوا مُلْتَزِمِيْنَ لَهَا لهذا کفار هم به د دې پابند وي [يعني پر کفارو به هم دغه حرمت لازم وي] وَحُرْمَةُ النِّكَاحِ بِغَيْرِ شُهُوْدٍ مُخْتَلَفٌ فِيْهَا او له ګواهانو څخه بغير د نکاح حرمت مختلف فيه دی وَلَمْ يَلْتَزِمُوْا أَحْكَامَنَا بِجَمِيْعِ الإِخْتِلَافَاتِ او کفارو د ټولو اختلافاتو سره زموږ د احکامو التزام نه دی کړی [مطلب دا چي کفارو پر خپل ځان زموږ مختلف فيه مسائل نه دي لازم کړي بلکي هغو زموږ د متفق عليه مسائلو التزام کړی دی، نو ځکه به د هغوی نکاح جائز وي] وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ: أَنَّ الْحُرْمَةَ لَا يُمْكِنُ إِثْبَاتُهَا حَقًّا لِلشَّرْعِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د شريعت د حق په وجه [دلته] د حرمت ثابتول ممکن نه دي لِأَنَّهُمْ لَا يُخَاطَبُوْنَ بِحُقُوْقِهِ ځکه چي کفار د شريعت په حقوقو مخاطب نه دي وَلَا وَجْهَ إِلٰى إِيْجَابِ الْعِدَّةِ حَقًّا لِلزَّوْجِ او د خاوند د حق په وجه د عدت واجبولو هيڅ صورت نسته لِأَنَّهُ لَا يَعْتَقِدُهُ ځکه چي هغه [کافر خاوند] د عدت واجبېدلو عقيده نه لري بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتْ تَحْتَ مُسْلِمٍ په خلاف د هغه صورت کله چي کافره ښځه د يو مسلمان په نکاح کي وي لِأَنَّهُ يَعْتَقِدُهُ ځکه چي مسلمان د عدت واجبېدلو اعتقاد لري وَإِذَا صَحَّ النِّكَاحُ فَحَالَةُ الْمُرَافَعَةِ وَالْإِسْلَامِ حَالَةُ الْبَقَاءِ او کله چي [د کفر په حالت کي] نکاح صحيح ده نو [قاضي ته] د مسئلې پېشولو او د اسلام راوړلو حالت د بقاء حالت دی وَالشَّهَادَةُ لَيْسَتْ شَرْطًا فِيْهَا او په حالت د بقاء کي ګواهي شرط نه ده وَكَذَا الْعِدَّةُ لَا تُنَافِيْهَا او همدارنګه عدت [هم] د بقاء د

حالت منافي نه دی كَالْمَنْكُوْحَةِ إِذَا وُطِئَتْ بِشُبْهَةٍ لکه [د بل چا] د منکوحه ښځي سره چي په شُبهه وطي وسي.

اللغات: ﴿شُهُوْد﴾ جمع د شَاهِدٌ ده: گواه (شاهدي اداء کونکی)، ﴿أُقِرَّا﴾ د افعال له باب څخه د تثنیه مذکر غائب ماضي مجهول صیغه ده: باقي ساتل، باقي پرېښوول، ﴿لَا يَتَعَرَّض﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صیغه ده: تعرّض کول، کار په لرل، لاس په وهل، دخل اندازي کول، ﴿مُرَافَعَة﴾ د حاکم او قاضي مخته مسئله پېشول، مقدمه درجول، عدالت ته خپله معامله پېشول ﴿خِطَابَات﴾ احکامات (شرعي حکمونه)، ﴿إِعْرَاض﴾ د افعال مصدر دی: اعراض کول، مخ اړول، توجه نه کول، ﴿تَقْرِيْر﴾ د تفعيل مصدر دی: ثابتول، باقي ساتل، ﴿تَفْرِيْق﴾ دا هم د تفعيل مصدر دی: سره جلا کول، علیحده کول.

تشريح: د دې باب مسئلې پر دریو (٣) اُصولو مبني دي: ① ... اول دا چي کومه نکاح د مسلمانانو تر مینځ صحیح کیږي هغه د دوو کافرانو په مینځ کي هم صحیح کیږي، د همدې معنیٰ په هکله د نبي کریم ﷺ دا قول وارد سوی دی: "وُلِدْتُ مِنْ نِّكَاحٍ لَا مِنْ سِفَاحٍ" (یعني زه له نکاح څخه پیدا سوی یم نه له زنا څخه)، ② ... دویم اُصول دا دی چي کومه نکاح د مسلمانانو تر مینځ د شرط او داسي نورو په نشتوالي (معدومیت) سره فاسدیږي یا باطلیږي، په کافرانو کي د هغه دوه صورتونه دي: یو دا چي کفار هم داسي نکاح ممنوع ګڼي نو هغه ممنوع ده، او که کفار هغه جائز ګڼي نو د امام صاحب په نیز د کافرانو په حق کي هغه نکاح صحیح ده حتیٰ که دواړه مسلمانان سي نو د دوی هغه نکاح باقي ده (له نوي سره د نکاح کولو ضرورت نسته)، ③ ... دریم اصول دا دی چي کومه نکاح د محل د حُرمت په وجه حرامه وي (مثلاً د خور او داسي نورو سره نکاح کول) نو دا به د کفارو پر عقیده جائز واقع کیږي، او د عراق د مشائخو په نیز په هر صورت کي فاسدیږي.

صورت د مسئلې: دا دی که یو (ذمي) کافر له ګواهانو څخه بغیر د یوې کافري ښځي سره نکاح (واده) وکړي، یا کافره ښځه د یو بل کافر خاوند په عدت کي وي او د عدت په دوران کي یو کافر د هغې سره نکاح وکړي او دا د دوی په دین کي جائز هم وي، او بیا دواړه مسلمانان سي، نو د امام صاحب په نیز د دوی نکاح صحیح ده او د نکاح د تجدید (نوي کولو) ضرورت نسته یعني دوی پر مخکنۍ نکاح باقي پاتیږي، امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي چي په دواړو صورتونو کي نکاح فاسده ده، خو تر څو چي هغوی اسلام راوړی نه وي یا یې زموږ دارُ القضاء (یعني مسلمان حاکم) ته خپله معامله او مسئله پېشه کړې

نه وي تر هغه وخته به هيڅ نه ورته ويل کيږي (هيڅ کار به نه پر لرل کيږي) او پر خپل حالت به پرېښوول کيږي (او کله چي مسلمانان سي يا د دارُ القضاء ته خپله فيصله راوړي نو بيا به د اسلام مطابق د دوی په مينځ کي فيصله کيږي)، او صاحبين رَحِمَهُمَا الله په اول صورت کي يعني له ګواهانو څخه بغير د نکاح کولو په صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دي، او په دويم صورت کي د امام زفر رَحِمَهُ الله سره دي، او همدا د امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا الله مسلک هم دی.

د امام زفر دليل: دا دی چي په کومو ځايونو او مواقعو کي چي شريعت خلک مخاطب کړي وي، په هغه ټولو مواقعو کي عموم دی او د شريعت خطاب د هيڅ مذهب او فرقې د منونکو سره خاص نه دی، لهذا د نکاح او د نکاح د متعلقاتو په هکله چي په "لَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهٗ" او په "لَا نِكَاحَ إِلَّا بِشُهُوْدٍ" سره چي کوم خطاب سوی دی، دا عام دی، لهذا څرنګه چي پر مسلمان د شريعت خطابات لازم او واجب دي، همداسي به پر کافر هم (په دارُ الاسلام کي) هغه ټول لازم او ضروري وي، او څرنګه چي د عدت په دوارن کي د بل چا د معتدې ښځي (معتدةُ الغير) سره نکاح کول يا له نکاح څخه بغير نکاح کول د مسلمانانو په حق کي ممنوع او نا روا دي، نو همداسي به د کافرانو لپاره هم داسي نکاح کول ممنوع وي، لهذا نه به د داسي نکاح د جواز فتویٰ ورکول کيږي او نه به نافذيږي.

<u>وإنما لا يتعرض إلخ</u>: دا د امام زفر رَحِمَهُ الله له طرفه د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي کله کفار (ذميان) د شريعت په خطاباتو مکلّف دي او د غه خطابات پر هغوی هم لازم دي، نو څرنګه چي د اسلامي احکامو د نه عملي کولو په وجه مسلمانانو ته زجر، توبيخ او تنبيه ورکول کيږي او پر خپل حالت نه پرېښوول کيږي، همداسي د کفارو (ذميانو) سره هم پر غيرِ شرعي حرکتونو د غه معامله کول پکار دي، لېکن موږ وينو چي د پورتنيو خطاباتو پر نه عملي کولو هغو ته هيڅ زجر او توبيخ نه ورکول کيږي بلکي پر خپل حالت پرېښوول کيږي، او د مسلمانانو له طرفه هيڅ کار نه په لرل کيږي.

د دې په جواب کي صاحب د هدايې فرمايي چي په داسي حرکتونو کي چي د کافرانو په خلاف څه کاروايي نه کيږي او هيڅ کار نه په لرل کيږي، د دې وجه دا ده چي د هغو سره مسلمانانو د تعرض پر نه کولو عقدِ ذمه کړی دی (يعني أهلِ اسلام د هغو سره دا عقد کړی دی چي تاسو موږ ته خپله جزيه راکوئ! موږ به تاسي هيڅ کار نه لرو، تاسو او خپل دين پوه سئ!)، دا کار نه په لرل او تعرض نه کول په دې وجه دي چي د هغو له اعمالو څخه اعراض وسي او د اسلام سپېڅلي او مقدسه لمن د هغو له غليظو حرکاتو څخه وساتل سي (لکه د يو غليظ او بدږبي کس څخه چي شريف خلک ځان ساتي او دا خبره کوي

چي "له مردارو اُوبو څخه خپل ځان ساته! د هغه سره څه کار مه لره! کنې تا به هم داغداره کړي!!! او داسي نور).

فإذا ترافعوا إلخ: په دې سره دا خبره بیانوي چي تر کومه وخته کفارو خپله معامله تر خپل ځانه پوري محدوده ساتلې وي تر هغه وخته به په دوی هیڅ کار نه لرل کیږي، لېکن کله چي دوی خپله معامله مسلمان حاکم او دار القضاء ته پېش کړي، نو بیا به د هغو دغه نکاح فاسده ګرځول کیږي او د ښځي او خاوند تر مینځ به تفریق کیږي، ځکه چي الله ﷻ فرمایلي دي: "وَ أَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَائَهُمْ"، په دې آیت کي د "هُمْ" ضمیر د کفارو و طرف ته راجع دی، او د آیت مفهوم دا دی چي "ته د کفارو په مینځ کي د الله د حکم د مطابق فیصله کوه! او د هغوی خواهشاتو ته مه ګوره!".
په دې آیت کي په ښکاره توګه دا حکم سوی دی چي مسلمان حاکم به د کفارو په مینځ کي د شریعت مطابق حکم او فیصله کوي، او څرنګه چي په شریعت کي دغه دواړه قسمه نکاح ګاني فاسدي دي، نو ځکه به د دوی په مینځ کي تفریق کیږي.

ولهما إلخ: د صاحبینو د دلیل حاصل دا دی چي د غیرِ معتدې ښځي سره نکاح کول خو د ټولو امامانو په اتفاق سره ناجائز او حرام دي، لېکن له ګواهانو څخه بغیر د نکاح په حرمت کي د امامانو اختلاف دی، هغه دا چي امام مالک او ابن ابي لیلیٰ او داسي نور دا حلال او جائز ګڼي (فتح القدیر، بنایه)؛ او کفارو (ذمیانو) زموږ د متفق علیه احکامو التزام کړي دی، لېکن د مختلف فیها احکامو التزام یې نه دی کړی (یعني هغوی پر ځان زموږ د اختلافي احکامو التزام کړی نه دی) نو کله چي د معتدة الغیر د نکاح حرمت متفق علیه دی، او د ټولو په نیز د هغې سره د مسلمان نکاح فاسده ده، نو ځکه به د کافر (ذمي) نکام هم فاسده وي او په اسلام یا دار القضاء ته په راتلو سره به د دوی په مینځ کي تفریق کول واجب وي، او څرنګه چي له ګواهانو څخه بغیر د نکاح حرمت مختلف فیه دی، نو ځکه به کفار په دې حکم کي د مسلمانانو تابع نه وي، بلکي د دوی په حق کي به دغه نکاح صحیح او جائز وي.
صاحب د کتاب مخکي هم دې ته اشاره وکړه چي صاحبین د معتدةُ الغیر په هکله د امام زفر رَحِمَهُ الله سره دي، او په نکاح بِلَا شُهُود کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دي یعني د دوی په نیز هم داسي نکاح صحیح ده، نو اوس د هغه دلیل بیانوي.

ولأبي حنيفة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چي د معتدةُ الغیر د نکاح حرامولو دوه صورتونه کېدای سي: ① اول دا چي د شریعت د حق په وجه هغه حرامه وګرځول سي، ② یا دا چي د خاوند د حق په وجه هغه حرامه وګرځول سي، او په پورتنی مسئله کي دواړه صورتونه ممکن نه

دي، د شريعت د حق په وجه حرامه ګرځول په دې وجه ممکن نه دي چې کفار د شريعت په حقوقو مکلف او مخاطب نه دي، او د خاوند د حق په وجه حرامه ګرځول ځکه ممکن نه دي چې هغه (کافر) د دې نکاح د حُرمت عقيده نه لري، لهذا کله چې د تحريم دواړي دروازې بندي دي، نو بيا به د حُرمت د نوي لاري لټون او تلاش نه کيږي بلکي د کفارو په حق کي به د هغو دغه مذکوره نکاح صحيح او جائز ګڼل کيږي، او د کافر او ښځي تر مينځ به تفريق نه کيږي.

بخلاف إلخ: د دې حاصل دا دی که يوه ذمي ښځه د مسلمان په نکاح کي وي، بيا مسلمان هغې ته طلاق ورکړي، نو اوس که د دې مسلمان خاوند په عدت کي يو کافر د هغې سره نکاح وکړي، نو دا نکاح صحيح نه ده؛ ځکه چې دلته د نکاح دويم صورت (يعني د معتدې ښځي سره د نکاح پر حُرمت د مسلمان خاوند معتقد کېدل) موجود دي، نو ځکه به دا نکاح صحيح نه وي.

لنډه دا چې له تېرو تفصيلو څخه دا خبره ښکاره سوه چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دغه مذکوره دواړي نکاح ګاني صحيح دي، نو کله چې ابتداءً نکاح ګاني صحيح دي، نو په اسلام سره يا دارُ القضاء ته په پېښولو سره به د دې نکاح پر صحّت (صحيح والي) هيڅ اثر نه پريوځي، ځکه چې د اسلام او دارُ القضاء ته د پېښولو حالت د نکاح د بقاء حالت دی او د بقاء لپاره شهادت معتبر نه وي، لهذا څرنګه چې د معتدةُ الغير نکاح صحيح ده، همداسي به نکاح بِلَا شُهُوْد هم صحيح وي، او څرنګه چې عدت هم د نکاح د حالتِ بقاء منافي نه دی، نو ځکه به د معتدةُ الغير نکاح هم صحيح وي.

كالمنكوحة إلخ: د حالتِ بقاء سره د عدت د نه منافي کېدلو د وضاحت لپاره صاحب د هدايې يو مثال بيانوي چې که د يو ښځي سره وطي بالشبهه وسي، يعني مثلاً يوه ښځه دا وګڼي چې زما خاوند مړ سوی دی او د يو بل چا سره نکاح وکړي او هغه وطي ور سره وکړي، وروسته اول خاوند راسي، نو اوله نکاح باقي ده، ځکه چې خاوند مړ سوی نه وو، او په همدغه حالت کي پر ښځي د دويم خاوند عدت واجبيږي، نو تاسي او ګورئ! چې د نکاح د بقاء په حالت کي هم عدت واجبيږي، نو معلومه سوه چې د نکاح د بقاء حالت د عدت منافي نه دی، او د کافر نکاح اوس د بقاء په حالت کي ده، نو ځکه به د هغه نکاح صحيح وي او د ښځي او د خاوند تر مينځ به تفريق نه کيږي.

د کفر په حالت کې د خور يا لور سره د نکاح کونکي کافر د اسلام احکام

فَإِذَا تَزَوَّجَ الْمَجُوسِيُّ أُمَّهُ أَوْ ابْنَتَهُ او کله چې يو مجوسي د خپلي مور يا خپلي لور سره نکاح وکړي ثُمَّ أَسْلَمَا بيا دواړه اسلام راوړي فُرِّقَ بَيْنَهُمَا نو د دوی په مينځ کې به تفريق کيږي لِأَنَّ نِكَاحَ الْمَحَارِمِ لَهُ حُكْمُ الْبُطْلَانِ فِيمَا بَيْنَهُمْ عِنْدَهُمَا كَمَا ذَكَرْنَا ځکه چې د محارمو سره نکاح کول د کفارو په خپل مينځ کې د بطلان حکم لري د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز [يعني د صاحبينو په نيز د مجوسيانو دغه نکاح باطله ده] كَمَا ذَكَرْنَا فِي الْمُعْتَدَّةِ لکه د معتدې ښځې په باره کې چې موږ دا [خبره] ذکر کړه وَوَجَبَ التَّعَرُّضُ بِالْإِسْلَامِ او په اسلام راوړولو سره [په کفارو] تعرض کول [او تنبيه ورکول] واجب سو فَيُفَرَّقُ نو ځکه به [د دوی په مينځ کې] تفريق کيږي وَعِنْدَهُ لَهُ حُكْمُ الصِّحَّةِ فِي الصَّحِيحِ او د صحيح قول مطابق د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [د مجوسيانو] دغه نکاح د صحت حکم لري إِلَّا أَنَّ الْمَحْرَمِيَّةَ تُنَافِي بَقَاءَ النِّكَاحِ خو ذی رحم محرم کېدل د نکاح د بقاء منافي دي فَيُفَرَّقُ نو ځکه به تفريق کيږي بِخِلَافِ الْعِدَّةِ لِأَنَّهَا لَا تُنَافِيهِ په خلاف د عدت ځکه چې هغه د نکاح د بقاء منافي نه دی ثُمَّ بِإِسْلَامِ أَحَدِهِمَا يُفَرَّقُ بَيْنَهُمَا بيا په خاوند او ښځه کې د يوه په اسلام سره به د دوی تر مينځ تفريق کيږي [زموږ د امامانو په اتفاق سره] وَبِمُرَافَعَةِ أَحَدِهِمَا لَا يُفَرَّقُ عِنْدَهُ او په دوی کې د يوه په مرافعه کولو سره به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز تفريق نه کيږي خِلَافًا لَهُمَا ❁ په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله وَالْفَرْقُ: أَنَّ اسْتِحْقَاقَ أَحَدِهِمَا لَا يَبْطُلُ بِمُرَافَعَةِ صَاحِبِهِ او [په دواړو صورتونو کې] فرق دا دی: چې په دوی کې د يوه استحقاق د هغه د ملګري په مرافعه سره نه باطليږي إِذْ لَا يَتَغَيَّرُ بِهِ اعْتِقَادُهُ ځکه چې په مرافعه سره د هغه په اعتقاد [عقيده] کې هيڅ تغير نه راځي أَمَّا اعْتِقَادُ الْمُصِرِّ لَا يُعَارِضُ إِسْلَامَ الْمُسْلِمِ او کوم چې پر کفر د ټينګار کونکي اعتقاد دی نو هغه د مسلمان د اسلام سره معارض نه دی لِأَنَّ الْإِسْلَامَ يَعْلُو وَلَا يُعْلَى ځکه چې اسلام [همېشه] لوړ [او غالب] وي او [هيڅکله] نه مغلوب کيږي وَلَوْ تَرَافَعَا او که دوی دواړه يو ځای مرافعه وکړي يُفَرَّقُ بِالْإِجْمَاعِ نو بالاتفاق به [د دوی په مينځ کې] تفريق کيږي لِأَنَّ

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٤٢٠). [القول الراجح ج:١، ص:٢٩٦]

مُرَافَعَتُهُمَا كَتَحْكِيْمِهِمَا ځکه چې د دوی مرافعه کول د دوی د حَکَم جوړولو په څیر دي ایمني د دوی لپاره قاضي ته خپله مسئله پېشول داسي دي لکه قاضي چي حَکَم (فیصله مند) جوړ کړي، نو ځکه به قاضي د دوی په مینځ کي د تفریق حکم کوي].

اللغات: ﴿مُصِرّ﴾ د افعال اسم فاعل دی: اصرار کونکی (ټینګار کونکی)، پر خپله خبره ولاړ، ﴿يَعْلُوْ﴾ د نصر له باب څخه د مضارع معلومي صیغه ده "لَا يُعْلٰى" د نفي مجهول صیغه ده: لوړېدل، پورته کېدل، غالبېدل، ﴿تَحْكِيْم﴾ د تفعیل مصدر دی: دريمګړی جوړول، حَکَم جوړول، د فیصله کولو لپاره یو څوک ټاکل (په لاتجمنه مسئله کي څوک خپل دریمګړی (فیصله کونکی) جوړول).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که یو مجوسي (آتش پرست) د خپلي مور یا د خپلي لور یا د داسي قریبي سره نکاح وکړي چي هغه له محرمات ابدیه وو څخه وي، بیا دواړه مسلمانان سي یا یو مسلمان سي، نو پر دې خبره د ټولو امامانو اتفاق دی چي تر اسلام وروسته به د دوی په مینځ کي تفریق کیږي، که څه هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز د هغه نکاح صحیح ده، او د مشائخِ عراق او صاحبینو په نیز باطله ده.

د صاحبينو دليل: دا دی چي څرنګه د معتدۃُ الغیر سره د نکاح کولو حرمت متفق علیه دی، او أهلِ اسلام او کفار ټول په دې حکم سره مکلف دي، همداسي د محرماتو سره د نکاح کولو حرمت هم متفق علیه دی، لهذا څرنګه چي تر اسلام وروسته د معتدۃ الغیر نکاح باطله او حرامه ګرځول کیږي، همداسي به د محرماتو نکاح هم تر اسلام وروسته کالعدم او باطله ګرځول کیږي او د زوجینو تر مینځ به تفریق کیږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي په اصل (او ابتداء) کي خو د خپلو محرماتو سره د مجوسیانو نکاح کول صحیح دي، او وجه د صحیح کېدلو هغه ده کوم چي مخکي بیان سوه چي د دې نکاح حرمت به یا د شریعت د حق په وجه وي یا به د خاوند د حق په وجه وي، او دلته دواړه صورتونه ممکن نه دي، د شریعت د حق په وجه خو ځکه حرمت ممکن نه دی چي کفار د شریعت په حقوقو مخاطب نه دي، او د خاوند د حق په وجه ځکه ممکن نه دی چي مجوسي خاوند د دغه نکاح د حُرمت عقیده نه لري، نو کله چي دلته د حُرمت دواړه صورتونه ناممکن دي، نو ځکه موږ وایو چي ابتداءً د محرماتو سره د مجوسي نکاح صحیح ده، لېکن کله چي هغه مسلمان سو او نکاح هم په حالت د بقاء کي ده (یعني نکاح باقي ده ځکه چي تر اسلام مخکي د هغه نکاح صحیح ده)، او په اسلام کي محرمیت (د ښځي محرم کېدل) د ابتداء په حالت کي هم د نکاح منافي دي او د بقاء په حالت کي هم د نکاح منافي دي، نو ځکه به د مجوسي دغه نکاح باقي نه پاتیږي بلکي د ده او د ښځي په مینځ کي به تفریق کیږي. په خلا

ف د عدت، ځکه چي علت د بقاء په حالت کي د نکاح منافي نه دی، نو د متعدةُ الغير نکاح به تر اسلام وروسته هم پاتيږي او د خاوند او ښځي تر مينځ به تفريق نه کيږي.

فايده: د صاحبينو اُصول دا دی چي د کوم شي په باره کي زموږ د امامانو اختلاف وي نو پر کفارو د هغه منل لازم نه دي، او که ديو شي په باره کي يې اتفاق وي نو پر کفارو د هغه منل لازم او ضروري دي، خو تر څو چي هغوی په حالت د ذمه والي کي وي نو کار به نه په لرل کيږي، او تر اسلام راوړلو وروسته به دوی پر اسلامي احکامو مجبورول کيږي او د اسلامي طريقې مطابق به د دوی په مينځ کي فيصله کيږي.

د امام صاحب اُصول دا دی چي د کفر په حالت کي چي کومه نکاح د کفارو لپاره جائز وي د هغه مطابق به د دوی نکاح صحيح او جائز وي، لېکن که د نکاح د بقاء په حالت کي حرمت واقع سي، نو بيا به نکاح ماتول کيږي او د خاوند او ښځي تر مينځ به تفريق کيږي.

ثم بإسلام أحدهما إلخ: د دې عبارت مطلب دا دی چي د خاوند يا ښځي په اسلام سره خو به د امام صاحب او صاحبينو په اتفاق د خاوند او ښځي تر مينځ تفريق کيږي، لېکن که له دوی (خاوند او ښځي) څخه يو تر اسلام مخکي دارُ القضاء او مسلمان حاکم ته خپله مسئله پېش کړي (يعني مرافعه وکړي)، نو په دې صورت کي صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د دوی په مينځ کي به تفريق کيږي، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به تفريق نه کيږي.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله دا صورت د اسلام پر حالت قياسوي فرمايي چي څرنګه ديوه (خاوند يا ښځي) په اسلام سره تفريق واقع کيږي، همداسي به په مرافعه سره "يعني دارُ القضاء ته ديوه په راتللو او مسلمان حاکم ته د مسئلې په پېشولو سره" هم تفريق واقع کيږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل او په دواړو صورتونو کي د فرق وجه دا ده چي د ذمي والي په حالت کي چي کله خاوند او ښځي په رضا او خوښي سره نکاح وکړه، نو په دواړو کي د هريوه پر بل څه حقوق لازم سول (مثلاً نفقه، سکنیٰ او داسي نور...)، او څرنګه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز مخکني نکاح صحيح ده، نو ځکه به ديوه په مرافعه سره د هغه بل پر حقوقو هيڅ اثر نه پرېوځي، ځکه څرنګه چي ديوه په اسلام سره د بل په اعتقاد او عقيده کي هيڅ بدلون او فرق نه راځي، همداسي به په مرافعه سره هم د هغه بل په عقيده کي هيڅ فرق نه راځي، خو څرنګه چي اسلام همېشه غالب او مُرجّح وي، نو ځکه به د اسلام په صورت کي تفريق واقع کيږي، لېکن په مرافعه کي د مُرجّح کېدلو هيڅ وجه نسته، نو ځکه به په دې صورت کي تفريق هم نه واقع کيږي.

ولوترافعا إلخ: فرمايي كه خاوند او ښځه دواړه يو ځاى مرافعه وكړي، نو په هر صورت كي به د دوى په مينځ كي تفريق كيږي، ځكه چي د دواړو يو ځاى مرافعه كول داسي دي لكه بل څوك حَكَم (فيصله كونكى) جوړول، نو ګواكي دوى مسلمان حاكم او قاضي خپل حَكَم جوړ كړى، او د حَكَم جوړولو په صورت كي پر عام مسلمان هم د دوى په مينځ كي تفريق كول ضروري دي، نو د قاضي لپاره خو به طريقه اولىٰ سره د دوى په مينځ كي تفريق كول ضروري او لازم وي لأن ولاية القاضى أقوىٰ من ولاية غيره.

د مرتد د نكاح بيان

وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَ الْمُرْتَدُّ مُسْلِمَةً او [دا] جائز نه دي چي مرتد د يو مسلماني ښځي سره نكاح وكړي وَلَا كَافِرَةً وَلَا مُرْتَدَّةً او نه [دا جائز دي چي هغه] ديو كافري ښځي او مرتدي ښځي سره [نكاح وكړي] لِأَنَّهُ مُسْتَحِقٌّ لِلْقَتْلِ ځكه چي هغه [اوس] د وژلو مستحق دى وَالْإِمْهَالُ ضَرُورَةَ التَّأَمُّلِ او مهلت وركول د غور او فكر د ضرورت په خاطر دي وَالنِّكَاحُ يَشْغَلُهُ عَنْهُ او نكاح كول هغه [مرتد] له دي [غور او فكر كولو] څخه غافله كوي فَلَا يُشْرَعُ فِي حَقِّهِ نو ځكه به د هغه په حق كي نكاح كول مشروع [او روا] نه وي وَكَذَا الْمُرْتَدَّةُ لَا يَتَزَوَّجُهَا مُسْلِمٌ وَلَا كَافِرٌ او همدارنګه د مرتدي ښځي سره [هم] نه مسلمان نكاح كولاى سي او نه كافر لِأَنَّهَا مَحْبُوسَةٌ لِلتَّأَمُّلِ ځكه چي هغه د غور او فكر كولو لپاره قيد كړل سوې ده وَخِدْمَةُ الزَّوْجِ تَشْغَلُهَا عَنْهُ او د خاوند خدمت هغه له دې اغور او فكر كولو] څخه غافله كوي وَلِأَنَّهُ لَا يَنْتَظِمُ بَيْنَهُمَا الْمَصَالِحُ او په دې وجه هم چي [په نكاح كولو سره] د دوى تر مينځ [د نكاح] د مصلحتونو انتظام [او قيام] كېداى نه سي وَالنِّكَاحُ مَا شُرِعَ لِعَيْنِهِ بَلْ لِمَصَالِحِهِ او نكاح د خپل عين [ذات] په وجه نه ده مشروع سوې بلكي هغه د خپلو مصلحتونو [منافعو] په غرض سره مشروع سوې ده.

اللغات: ﴿إِمْهَال﴾ د افعال مصدر دى: مهلت وركول. ﴿تَأَمُّل﴾ د تفعّل مصدر دى: غور او فكر كول. ﴿مَحْبُوسَة﴾ د ضرب اسم مفعول دى: قيد كړل سوې، بندي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي مرتد كس نه ديو مسلماني ښځي سره نكاح كولاى سي او نه ديو كافري او مرتدي ښځي سره نكاح كولاى سي؛ د مسلماني ښځي سره خو ځكه نكاح نه سي

کولای چې د مسلماتې ښځې اسلام د مرتد پر ارتداد غالب دی، او د "اَلْإِسْلَامُ يَعْلُوْ وَلَا يُعْلٰی" په خاطر د یو مسلماتې ښځې سره د هیڅ مرتد یا کافر نکاح نه سي کېدلای؛ او د مرتدي او کفاري ښځې سره ځکه مرتد نکاح نه سي کولای چې په شریعت کې دغه دواړو ته تر دریو ورځو پوري د غور او فکر کولو او د اسلام په هکله په ذهن کې د راغلو شبهاتو د لیري کولو موقع ورکول کیږي، او نکاح کول له دغو شیانو څخه دوی غافله کوي، نو ځکه به د دوی په خپل مینځ کې هم نکاح صحیح نه وي.

د مرتد په حق کې د نکاح نه کولو علت او دلیل دا دی چې هغه د خپل ارتداد په وجه مباحُ الدم او واجبُ القتل دی او د نبوي فرمان "مَنْ غَيَّرَ دِيْنَهٗ فَاقْتُلُوْهُ" په خاطر هغه د قتل سوي کس په څیر دی (ځکه چې د اسلام نه راوړلو په صورت کې تر دریو ورځو وروسته هغه قتل کیږي)، لهذا د هغه په حق کې د نکاح مصالح مفقود او معدوم دي (ځکه چې په دومره لږ موده کې د نکاح کولو او د هغه د مصالحو تر لاسه کولو لپاره د هغه سره هیڅ فرصت نسته، او مرتده ښځه که څه هم نه قتل کیږي، خو هغه د همېشه لپاره په بندیخانه کې قیدول کیږي، نو د هغې سره هم د دې فرصت نسته).

والإمهال إلخ: په دې سره د یو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې کله مرتد واجبُ القتل دی نو هغه سملستي قتل کول پکار دي، آخر هغه ته ولې مهلت ورکول کیږي او ولې نرمي ور سره کیږي، د دې په جواب کې فرمايي چې مرتد ته مهلت ورکول او په قتل کې یې تأخیر کول د هغه د رعایت کولو او د هغه سره د همدردی. کولو پر بناء نه دي، بلکې هغه په ته دې وجه مهلت ورکول کیږي چې هغه غور او فکر وکړي او د اسلام په هکله د خپلو شکونو او شبهاتو ازاله وکړي او بیا له شروع څخه اسلام راوړي.

وكذا المرتدة إلخ: فرمايي څرنګه چې د غور او فکر د ضرورت په وجه مرتد سري هیڅ ځای خپله نکاح نه سي کولای، همدارنګه به مرتده ښځه هم د دغه ضرورت په خاطر نکاح نه سي کولای؛ ځکه چې د مرتد په څیر مرتده ښځه هم د غور او فکر لپاره قیدول کیږي، او ښکاره خبره ده چې د خاوند خدمت کول او د هغه سره د وطي او جماع تعلقات ساتل د غور او فکر په لاره کې خنډ جوړیږي.

دویم دلیل دا دی چې د نکاح مقصد محض د وطي او جماع تعلقات ساتل نه دی بلکې توالد او تناسل، عِفت او ځان پاک ساتل هم د نکاح له مصالحو او مشمولاتو څخه دي، او مرتدوالی د دې شیانو لپاره مانع او خنډ دی، نو په دې وجه به هم د دغه کسانو لپاره نکاح جائز نه وي.

بچی په دین کې د پلار تابع کیږي او که د مور؟

وَإِنْ كَانَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ مُسْلِمًا او که یو د خاوند او ښځې مسلمان وي فَالْوَلَدُ عَلَى دِيْنِهِ نو بچی به د هغه پر دین وي وَكَذٰلِكَ إِنْ أَسْلَمَ أَحَدُهُمَا وَلَهُ وَلَدٌ صَغِيْرٌ او همدارنګه که یو د دوی اسلام راوړي او د هغه یو کوچنی [نابالغه] بچی وي صَارَ وَلَدُهُ مُسْلِمًا بِإِسْلَامِهِ نو دغه بچی به [هم] د هغه د مسلمانېدلو په وجه مسلمان وي [یعني بچی به هم د هغه مسلمان پلار یا مور تابع کیږي او مسلمان به شمارل کیږي] لِأَنَّ فِي جَعْلِهِ تَبَعًا لَهُ نَظَرًا لَهُ ځکه چې د مسلمان [پلار یا مور] په تابع کولو کې د بچي لپاره مصلحت [او خیر] دی وَلَوْ كَانَ أَحَدُهُمَا كِتَابِيًّا وَالْآخَرُ مَجُوْسِيًّا او که یو د خاوند او ښځې کتابي وي او بل مجوسي وي فَالْوَلَدُ كِتَابِيٌّ نو بچی به کتابي وي لِأَنَّ فِيْهِ نَوْعَ نَظَرٍ لَهُ ځکه چې په دې کې [هم] د بچي لپاره یو ډول مصلحت [ښېګڼه] سته إِذِ الْمَجُوْسِيَّةُ شَرٌّ مِنْهُ ځکه چې مجوسي کېدل تر کتابي کېدلو ډېر بد دي وَالشَّافِعِيُّ يُخَالِفُنَا فِيْهِ لِلتَّعَارُضِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله د تعارض په وجه په دې مسئله کې زموږ مخالفت کوي وَنَحْنُ أَثْبَتْنَا التَّرْجِيْحَ او موږ ترجیح ثابته کړه [چې د مسلمان په تابع کولو کې د بچي مصلحت او فایده ده].

اللغات: ﴿نظر﴾ شفقت، مصلحت (ښېګڼه).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که د کفر په حالت کې کافره ښځه د خپل کافر خاوند په وطي سره حامله سوې وي، بیا ښځه یا خاوند مسلمان سي او تر دې وروسته د ښځې بچی پیدا سي، نو په دې صورت کې به دا بچی د خپل مسلمان پلار یا مسلماني مور تابع کیږي او مسلمان به شمارل کیږي.

دویم صورت دا دی که د کفر په حالت کې د خاوند او ښځې کوچنی بچی هم وي او بیا ښځه یا خاوند مسلمان سي، نو په دې صورت کې به هم دا بچی د مسلمان پلار یا مور تابع کیږي او مسلمان به شمارل کیږي.

لأن في جعله إلخ: دلیل یې دا دی چې د بچي په مسلمان کرځولو کې د هغه فایده او خیر دی چې هغه به جنت ته ولاړ سي او په دنیاوي ژوند کې به د دارُ الاسلام له طرفه ډېري آسانتیاوي د هغه په برخه سي او أمن به ورته حاصل سي او د کفارو په څېر به له ذلالت او خوراېدلو څخه خوندي وي، نو ځکه به دغه بچی د مسلمان پلار یا مور په متابعت کې مسلمان شمارل کیږي.

وولوكان أحدهما كتابياً إلخ: د مسئلې دوېمه حصه دا ده چې که یو د خاوند او ښځې کتابي وي (یعني یهودي یا نصراني وي)، او بل مجوسي وي، نو بچی به د کتابي تابع کیږي او کتابي به شمارل کیږي: ځکه د دین په اعتبار سره مجوسي تر کتابي ډېر بد دي، ځکه چې یهودي او نصراني پر آسماني کتابونو یقین لري او مجوسي بدبخته پر هیڅ کتاب یقین نه لري، همدارنګه أهلِ کتاب په ځینې احکامو کې د مسلمانانو سره نژدې دي، مثلاً د هغو ذبیحه هم حلاله ده او د ښځو سره یې د مسلمان نکاح صحیح ده او په آخرت کې به هم د مجوسي په مقابله کې د کتابي عذاب سپک او کم وي، نو څرنګه چې دلته د مجوسیت په نسبت په کتابي شمارلو کې د بچې زیاته فایده او ښېګڼه ستة، نو ځکه به هغه د کتابي په متابعت کې کتابي شمارل کیږي.

والشافعي إلخ: د امام شافعي رَحِمَهُ الله رایه دا ده چې که له خاوند او ښځې څخه یو کتابي وي او بل مجوسي وي نو بچی به د مجوسي تابع کیږي او مجوسي به شمارل کیږي؛ د تعارض پر بناء. د تعارض مطلب دا دی چې که بچی کتابي وشمارل سي نو د هغه ذبیحه به حلاله وي او که مجوسي وشمارل سي نو د هغه ذبیحه به حرامه وي، او قاعده دا ده چې کله حِلّت او حُرمت سره جمع سي، نو حُرمت ته ترجیح ورکول کیږي، لهذا دلته به هم حُرمت ته ترجیح ورکول کیږي او بچی به مجوسي شمارل کیږي.

ونحن أثبتنا إلخ: صاحب د کتاب د امام شافعي په جواب کې فرمايي چې صحیح ده! موږ ستا پورتنۍ قاعده تسلیموو. خو په پورتني صورت کې زموږ رایه او زموږ مسلک غالب او مرجح دی: ځکه چې په کتابي شمارلو کې د بچې خیر او فایده ده. نو په دې وجه به هغه کتابي شمارل کیږي.

د "أحدُ الزوجين" د اسلام را وړلو بيان

وَإِذَا أَسْلَمَتِ الْمَرْأَةُ وَزَوْجُهَا كَافِرٌ او کله چې ښځه اسلام راوړي او خاوند یې [تر اوسه] کافر وي **عُرِضَ عَلَيْهِ الْإِسْلَامُ** نو پر هغه به اسلام پېشول کیږي [یعني د قاضي له طرفه به د اسلام دعوت ورکول کیږي] **فَإِنْ أَسْلَمَ فَهِيَ امْرَأَتُهُ** نو که هغه [هم] اسلام راوړي نو دا ښځه به [د مخکې په څیر] د هغه ښځه [مانینه] وي **وَإِنْ أَبَى فَرَّقَ الْقَاضِي بَيْنَهُمَا** او که هغه انکار وکړي نو قاضي به د دوی په مینځ کې تفریق کوي **وَكَانَ ذَلِكَ طَلَاقًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ** او دا [تفریق] به د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز طلاق وي **وَإِنْ أَسْلَمَ الزَّوْجُ وَتَحْتَهُ مَجُوسِيَّةٌ** او که خاوند اسلام راوړي او د هغه په نکاح کې مجوسي ښځه وي **عُرِضَ عَلَيْهَا الْإِسْلَامُ** نو پر هغې به [هم] اسلام پېشول کیږي **فَإِنْ أَسْلَمَتْ فَهِيَ امْرَأَتُهُ** نو که هغه اسلام راوړي نو هغه به د ده ښځه [مانینه] وي **وَإِنْ أَبَتْ فَرَّقَ الْقَاضِي**

بَيْنَهُمَا او که هغه انکار وکړي نو قاضي به د دوی په مینځ کي تفريق کوي وَلَمْ تَكُنِ الْفُرْقَةُ طَلَاقًا او دا تفريق به طلاق نه وي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ❀: لَا تَكُونُ الْفُرْقَةُ طَلَاقًا فِي الْوَجْهَيْنِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په [دغه] دواړو صورتونو کي به تفريق طلاق نه وي أَمَّا الْعَرْضُ فَمَذْهَبُنَا او [دلته چي] کوم د اسلام پېشولو حکم دی نو هغه زموږ مذهب دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يُعْرَضُ الْإِسْلَامُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [پر هغه کافر] به اسلام نه پېشول کيږي لِأَنَّ فِيهِ تَعَرُّضًا لَهُمْ ځکه چي په دې [اسلام پېشولو] کي په کفارو تعرّض کول دي وَقَدْ ضَمِنَّا بِعَقْدِ الذِّمَّةِ أَنْ لَا نَتَعَرَّضَ لَهُمْ حال دا چي په عقد ذمه سره موږ اهنو ته] د دې ضمانت ورکړی دی چي موږ به په هغوی تعرض نه کوو إِلَّا أَنَّ مِلْكَ النِّكَاحِ قَبْلَ الدُّخُولِ غَيْرُ مُتَأَكِّدٍ خو دا چي تر دخول مخکي د نکاح ملکيت مؤکد [او مضبوط] نه وي فَيَنْقَطِعُ بِنَفْسِ الْإِسْلَامِ نو ځکه به محض په اسلام سره نکاح ختميږي وَبَعْدَهُ مُتَأَكِّدٌ او تر دخول وروسته نکاح مؤکده وي فَيَتَأَجَّلُ إِلَى انْقِضَاءِ ثَلَاثِ حِيَضٍ نو ځکه به [په دې صورت کي] تر دريو حيضونو پوري نکاح ځنډيږي [او تر هغه وروسته به ختميږي] كَمَا فِي الطَّلَاقِ لکه څرنګه چي په طلاق کي [هم داسي کيږي] وَلَنَا: أَنَّ الْمَقَاصِدَ قَدْ فَاتَتْ او زموږ دليل دا دی: چي [دلته] مقاصد [د نکاح] فوت سول فَلَا بُدَّ مِنْ سَبَبٍ تَبْتَنِي عَلَيْهِ الْفُرْقَةُ نو ځکه يو داسي سبب ضروري دی چي پر هغه تفريق مبني سي وَالْإِسْلَامُ طَاعَةٌ لَا يَصْلُحُ سَبَبًا لَهَا او اسلام يو طاعت دی کوم چي د فرقت لپاره د سبب جوړېدلو صلاحيت نه لري فَيُعْرَضُ الْإِسْلَامُ لِتَحْصُلَ الْمَقَاصِدُ بِالْإِسْلَامِ أَوْ تَثْبُتَ الْفُرْقَةُ بِالْإِبَاءِ نو ځکه به [پر کافر] اسلام پېشول کيږي چي د اسلام په وجه مقاصد [د نکاح] حاصل کړل سي يا د انکار په وجه تفريق ثابت [او مستحکم] کړی سي وَجْهُ قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّ الْفُرْقَةَ بِسَبَبٍ يَشْتَرِكُ فِيهِ الزَّوْجَانِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول دليل دا دی: چي [دلته] فرقت د يو داسي سبب په وجه دی چي په هغه کي خاوند او ښځه دواړه سره شريک دي فَلَا يَكُونُ طَلَاقًا كَالْفُرْقَةِ بِسَبَبِ الْمِلْكِ نو د ملک په سبب سره د فرقت واقع کېدلو په څېر به دغه فرقت [هم] طلاق نه وي وَلَهُمَا: أَنَّ بِالْإِبَاءِ امْتَنَعَ الزَّوْجُ عَنِ الْإِمْسَاكِ بِالْمَعْرُوفِ د طرفينو دليل دا دی: چي هغه [خاوند له اسلام څخه] د انکار کولو په وجه له "إمساک بالمعروف" څخه منع سو مَعَ قُدْرَتِهِ عَلَيْهِ بِالْإِسْلَامِ سره د دې چي هغه په اسلام راوړلو سره پر دې [إمساک بالمعروف] قدرت درلودی

❀ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۲، ص:۴۲۳)، وكذا في الخانية (ج:۲، ص:۲۶۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۹۸]

فَيَنُوبُ الْقَاضِيْ مَنَابَهُ فِي التَّسْرِيْحِ لهذا په "تسریح بالإحسان" كي به قاضي د هغه نائب [قائم مقام] كيږي كَمَا فِي الْجَبِّ وَالْعِنَّةِ لکه [د خاوند] د ذَکَر پرېکېدلو او عنين کېدلو په صورت کي چي [قاضي د هغه نائب] کيږي أَمَّا الْمَرْأَةُ فَلَيْسَتْ بِأَهْلٍ لِلطَّلَاقِ او کوم چي ښځه ده نو هغه د طلاق أهل نه ده فَلَا يَنُوبُ الْقَاضِيْ مَنَابَهَا عِنْدَ إِبَائِهَا لهذا د هغې دانکار په صورت کي به قاضي د هغې نائب نه جوړيږي ثُمَّ إِذَا فَرَّقَ بَيْنَهُمَا بِإِبَائِهَا بیا که چیري قاضي د ښځي دانکار په وجه د خاوند او ښځي په مينځ کي تفريق وکړي فَلَهَا الْمَهْرُ إِنْ كَانَ دَخَلَ بِهَا نو د ښځي لپاره به مهر وي که چیري خاوند په هغې دخول کړی وي لِتَأَكُّدِهِ بِالدُّخُوْلِ ځکه چي په دخول سره مهر مؤکد کيږي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ دَخَلَ بِهَا او که خاوند په هغې دخول نه وي کړی فَلَا مَهْرَ لَهَا نو د هغې لپاره به مهر نه وي لِأَنَّ الْفُرْقَةَ مِنْ قِبَلِهَا ځکه چي [دلته] فرقت [هم] د ښځي له طرفه دی وَالْمَهْرُ لَمْ يَتَأَكَّدْ او مهر [هم] مؤکد نه سو فَأَشْبَهَ الرِّدَّةَ وَالْمُطَاوَعَةَ نو دا مرتد کېدلو او مطاوعت سره مشابه سو.

اللغات: ﴿عُرِضَ﴾ د ضرب له باب څخه د ماضي مجهول صيغه ده: پېشول، وړاندي کول. ﴿ضَمِنَّا﴾ د تفعيل له باب څخه د جمع متکلم ماضي صيغه ده: ضمانت ورکول (ذمه واري اخيستل). ﴿عَقْدُ الذِّمَّةِ﴾ د ذمي والي معاهده (ترون). ﴿إِمْسَاكٌ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ په معاشره او ټولنه کي چي کومه طريقه مناسبه وي د ښځي سره د هغه طريقې مطابق سلوک او چلند کول. ﴿تَسْرِيْحٌ بِإِحْسَانٍ﴾ په احسان او ښه طريقه سره ښځه پرېښوول. ﴿جَبٌّ﴾ د تناسل آله (ذکر) پرېکېدل. ﴿عِنَّةٌ﴾ (د ډېر بوډا والي يا مرض په وجه) پر جماع قدرت نه لرل. ﴿مُطَاوَعَةٌ﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: په يو کار کي د يو چا سره موافقت کول، اطاعت کول. د فقهاؤ په اصطلاح "مطاوعة" دې ته وايي چي ښځه د خپل خاوند زوی ته پر ځان د جماع قدرت ورکړي (په لنډه توګه دا چي ښځه په خپله رضا د مېرزي زوی سره زنا وکړي).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که فقط ښځه مسلمانه سي او خاوند هغسي کافر پاته سي، نو اول به پر خاوند اسلام پېشول کيږي او د اسلام دعوت به ورکول کيږي، که چیري خاوند اسلام راوړي نو ښځه به د مخکي په څېر د هغه ښځه (ماينه) وي، لېکن که د خاوند له عقل او شعور څخه پرده ليري نه سي او له اسلام راوړلو څخه انکار وکړي نو د دوی په مينځ کي به تفريق کيږي، او دا تفريق به د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز طلاق بائن شمارل کيږي، لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز به دغه تفريق طلاق نه، بلکي فسخ شمارل کيږي، او د فسخ شمارلو فايده دا ده چي که خاوند اسلام راوړي او دويم وار د دې ښځي سره نکاح وکړي نو هغه به د دريو طلاقو مالک وي، لېکن د طرفينو په نېز به د دوو طلاقو مالک وي؛ ځکه چي دوی تفريق هم طلاقِ بائن شماري.

وإذا أسلم الزوج إلخ: د مسئلې دويمه حصه دا ده که خاوند مسلمان سي او د هغه په نکاح کې مجوسي ښځه وي، نو هغې ته به هم د اسلام دعوت ورکول کيږي، که چيري هغه اسلام قبول کړي نو د خاوند او ښځې تر مينځ به نکاح باقي پاتيږي، ليکن که ښځه له اسلام راوړلو څخه انکار وکړي نو په دې صورت کې به د دوی په مينځ کې هم تفريق کيږي، او دا تفريق به د امام ابو يوسف او طرفينو په اتفاق سره فسخ شمارل کيږي، يعني کله چې دغه خاوند او ښځه بيا نکاح سره وکړي نو د ټولو په نيز به خاوند د دريو طلاقو مالک وي.

خلاصه د خبرې دا چې طرفين رَحِمَهُمَا الله په اوله مسئله کې (يعني کله چې خاوند له اسلام څخه انکار وکړي) تفريق طلاق شماري او په دويمه مسئله کې تفريق فسخ شماري، او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دواړو مسئلو کې تفريق فسخ شماري.

أمّا العرض إلخ: له دې ځايه دا را ښيي چې په پورتنۍ دواړو مسئلو کې (پر کافر خاوند يا ښځې) د اسلام پېشول او د اسلام دعوت ورکول زموږ په نيز دي، ليکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به له اسلام پېشولو او دعوت ورکولو څخه بغير د دوی په مينځ کې تفريق کيږي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې موږ د ذميانو سره د تعرض نه کولو عهد او تړون کړی دی چې موږ به په تاسو هيڅ کار نه لرو، او ښکاره خبره ده چې د اسلام دعوت ورکول په هغو کار لرل او تعرض کول دي کوم چې زموږ د عهد او پيمان او د ورکړل سوي أمن وأمان معارض او مخالف دي، نو ځکه به له اسلام پېشولو څخه بغير به د دوی په مينځ کې تفريق کيږي، ليکن که تر دخول مخکې د اسلام راوړلو معامله واقع سوې وي (يعني په ښځې تر دخول مخکې خاوند يا ښځې اسلام راوړی وي)، نو څرنګه چې په دې حالت کې ملک د نکاح تر اوسه مؤکد او مستحکم سوی نه دی، نو ځکه به په دې صورت سمدستي د دوی په مينځ کې تفريق کيږي او محض په اسلام سره به د دوی نکاح ختميږي، ليکن څرنګه چې تر دخول وروسته ملک د نکاح مستحکم او مضبوط سي، نو ځکه به په داسي صورت کې محض په اسلام سره د دوی په مينځ کې تفريق نه کيږي او محض د دين اختلاف او بدلون به د نکاح ختمېدلو سبب نه جوړيږي، بلکې په دې صورت کې به د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز تر دريو طهرونو پوري او د احنافو په نيز د يوه حيض تر ختمېدلو پوري ښځه عدت تېروي، تر دې وروسته به د دوی نکاح ختميږي.

صاحب د کتاب د امام شافعي رَحِمَهُ الله په دليل کې د عدت تېرولو په هکله حيض ذکر کړی دی او دا د هغه د مسلک خلاف دي؛ ځکه چې د هغه په نيز عدت حيض نه دی بلکې طهر دی، خو د

عبارت د تصحيح په توګه داسې هم ويل کېداسي چې په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله مطلب دا دی چې اې أحنافو! ستاسو په نېز مناسبه خبره دا ده چې د نکاح ختمېدل د درېو حيضو تر اختتام او تېرېدلو پورې وځنډول سي. نو په دې صورت کې عبارت صحيح کېږي. والله أعلم

ولنا إلخ: زموږ د دليل حاصل دا دی چې د نکاح چې کوم مقصد وو د اسلام راوړلو په وجه هغه ختم سو، لهذا اوس يو داسې سبب پکار دی چې پر هغه د تفريق بنياد کېښښول سي، او اسلام راوړل طاعت دی، لهذا پر هغه تفريق مبني نه سي کېدای، نو ځکه به پر هغه (خاوند يا ښځې) اسلام پېشول کېږي. چې د هغه پر انکار کولو د تفريق بنياد کېښښول سي او په هغه سره فُرقت (د نکاح ختمېدل) ثابت سي.

وجه قول أبي يوسف إلخ: څرنګه چې امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په مذکوره دواړو صورتونو کې تفريق فسخ شماري؛ نو د هغه دليل دا دی چې دلته په دواړو مسئلو کې فرقت په داسې سبب سره واقع کېږي چې په هغه کې خاوند او ښځه دواړه شريک دي، ځکه څرنګه چې په دوی کې د يوه د اسلام راوړلو په وجه د دوی په مينځ کې تفريق واقع کېږي، همدارنګه په دوی کې د يوه پر کفر د پاتېدلو په وجه هم د دوی په مينځ کې تفريق واقع کېږي، لهذا کله چې د فرقت په سبب کې دواړه برابر شريک دي نو په حکم کې به هم دواړه سره برابر وي او دغه فُرقت به فسخ شمارل کېږي، طلاق به نه شمارل کېږي، کنې د خاوند د ملکيت په کمولو سره به د هغه په حق کې تعدی او ظلم واقع سي (يعني که دغه فرقت طلاق وشمارل سي نو د دويم ځل نکاح په صورت کې به خاوند فقط د دوو طلاقو مالک وي او يو طلاق به د هغه له ملکيت څخه کم سي، او دا د هغه په حق کې يو بول تعدی او ظلم دی)، او دا مسئله داسې ده لکه خاوند او ښځه چې يو د بل مالک سي، نو په دې صورت کې هم د دوی په مينځ کې فرقت واقع کېدل فسخ شمارل کېږي، نه طلاق.

ولهما إلخ: د طرفينو مسلک مخکې تېر سو چې که خاوند اسلام راوړي او ښځه له اسلام راوړلو څخه انکار وکړي نو د دوی په مينځ کې به فرقت فسخ شمارل کېږي. او که ښځه اسلام راوړي او خاوند انکار وکړي نو هغه به طلاق شمارل کېږي. له دې ځايه د دوی دليل بيانوي، د دليل حاصل دا دی چې کله پر خاوند اسلام پېش کړی سو نو هغه پر دې قادر وو چې اسلام يې قبول کړي وای او ښځه يې په خپله نکاح کې باقي ساتلې وای (يعني هغه پر "إِمْسَاک بِالْمَعْرُوْف" قادر وو)، لېکن له اسلام څخه د انکار په وجه هغه "إمساک بالمعروف" شاته وغورځوی، او څرنګه چې تر "إمساک بالمعروف" وروسته د "تسريح بالاحسان" (په ښه طريقه سره د ښځې پرېښوولو) درجه ده، نو ځکه به قاضي د هغه له طرفه نائب جوړېږي او د دوی په مينځ کې به تفريق واقع کوي، او د خاوند له طرفه د قاضي تفريق او جلا کول طلاق شمارل کېږي، لکه څرنګه چې د خاوند د عنين يا مقطوع الذکر کېدلو په

صورت کې قاضي د هغه له طرفه نائب جوړېږي او د دوی تر مینځ تفریق کوي او هغه طلاق شمارل کېږي، همداسې به دلته هم د خاوند له طرفه د قاضي دغه تفریق کول طلاق شمارل کېږي.

أما المرأة فليس إلخ: په دې سره دا خبره بیانوي چې که ښځه له اسلام راوړلو څخه انکار وکړي او د هغې د انکار په نتیجه کې تفریق واقع سي، نو دغه تفریق طلاق نه دی بلکې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په څیر طرفین رَحِمَهُمَا الله هم دغه تفریق فسخ شماري؛ ځکه چې ښځه د طلاق أهل نه ده. لهذا قاضي چې د ښځې له طرفه د هغې د انکار په وجه کوم تفریق کوي هغه به فسخ وي، نه طلاق؛ ځکه کله چې ښځه د طلاق أهل نه ده، نو په "تسريح بالإحسان" کې د هغې له طرفه د نیابت هیڅ تصور نه سي کېدای.

ثم إذا فرّق إلخ: د دې حاصل دا دی چې د ښځې د انکار په صورت کې چې کله قاضي د ښځې او خاوند تر مینځ تفریق وکړي نو دلته دوه صورتونه دي: ① خاوند به په دې ښځې دخول کړی وي. ② یا به یې نه وي کړی، که چیري خاوند په ښځې دخول کړی وي نو په دې صورت کې به هغې ته خپل مهر ورکول کېږي؛ ځکه چې په دخول سره مهر مؤکد او مستحکم سو. لیکن که خاوند په هغې دخول نه وي کړی، نو څرنګه چې په دې صورت کې مهر مؤکد نه سو، او فرقت هم د هغې له طرفه واقع سوی دی (ځکه چې هغې انکار کړی دی)، نو ځکه به په دې صورت کې هغې ته هیڅ مهر نه ورکول کېږي، لکه څرنګه چې په هغه صورت کې هم ښځې ته هیڅ مهر نه ورکول کېږي کله چې ښځه تر دخول مخکې مرتده سي یا ښځه د خاوند زوی ته (یعني مېرزي زوی ته) پر خپل ځان (د جماع کولو) قدرت ورکړي، همداسې به دلته هم ښځې ته هیڅ مهر نه ورکول کېږي.

په دارُ الحرب کې د "أحدُ الزوجين" د اسلام راوړلو بیان

وَإِذَا أَسْلَمَتِ الْمَرْأَةُ فِيْ دَارِ الْحَرْبِ وَزَوْجُهَا كَافِرٌ او کله چې یو ښځه په دارُ الحرب کې اسلام راوړي او د هغې خاوند [تر اوسه] کافر وي أَوْ أَسْلَمَ الْحَرْبِيُّ وَتَحْتَهُ مَجُوْسِيَّةٌ یا یو حربي اسلام راوړي او د هغه په نکاح کې یو مجوسي ښځه وي لَمْ تَقَعِ الْفُرْقَةُ عَلَيْهَا حَتّٰى تَحِيْضَ ثَلَاثَ حِيَضٍ نو [تر هغه وخته] به پر ښځې فرقت نه واقع کېږي تر څو چې یې درې حیضونه تېر کړي نه وي ثُمَّ تَبِيْنَ مِنْ زَوْجِهَا بیا [تر دریو حیضونو وروسته] به هغه له خپل خاوند څخه بائنه کېږي وَهٰذَا لِأَنَّ الْإِسْلَامَ لَيْسَ سَبَبًا لِلْفُرْقَةِ او دا ځکه چې اسلام د فرقت سبب نه دی [یعني اسلام د فرقت واقع کېدلو سبب نه سي جوړېدای] وَالْعَرْضُ عَلَى الْإِسْلَامِ مُتَعَذِّرٌ لِقُصُوْرِ الْوِلَايَةِ او د ولایت د ناقصوالي په وجه [کافر] پر اسلام پېشول مشکل

دي وَلَا بُدَّ مِنَ الْفُرْقَةِ دَفْعًا لِلْفَسَادِ حال دا چې د فساد ليرې کولو لپاره فرقت [او تفريق] ضروري دی فَأَقَمْنَا شَرْطَهَا وَهُوَ مُضِيُّ الْحَيْضِ مَقَامَ السَّبَبِ نو ځکه مونږ د فرقت شرط يعني د حيض تېرېدل د سبب قائم مقام کړل كَمَا فِي حَفْرِ الْبِئْرِ لکه د څاه کيندلو په مسئله کې [چې هم داسې کيږي] وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْمَدْخُولِ بِهَا وَغَيْرِ الْمَدْخُولِ بِهَا او ازمونږ په نيز] د مدخول بها ښځې او غيرِ مدخول بها ښځې په مينځ کې هيڅ فرق نسته وَالشَّافِعِيُّ يُفَصِّلُ [ليکن] امام شافعي رَحِمَهُ الله [په دې دواړو کې] فرق کوي كَمَا مَرَّ لَهُ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ لکه د دارُ الاسلام والا په صورت کې چې د هغه فرق تېر سو وَإِذَا وَقَعَتْ الْفُرْقَةُ وَالْمَرْأَةُ حَرْبِيَّةٌ او کله چې فرقت واقع سي او ښځه حربيه وي فَلَا عِدَّةَ عَلَيْهَا نو پر هغې به عدت واجب نه وي وَإِنْ كَانَتْ هِيَ الْمُسْلِمَةُ او که هغه [حربي ښځه] مسلمانه وي فَكَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو هم دغه حکم دی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [چې پر هغې به عدت واجب نه وي] خِلَافًا لَهُمَا په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله وَسَيَأْتِيكَ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او انشاء الله ژر به دا [مسئله] تا ته راسي.

اللغات: ﴿تَحِيْض﴾ د ضرب مضارع دي: ښځې ته حيض راتلل، حايضه کېدل. ﴿مُتَعَذِّر﴾ مشکل، ناممکن. ﴿قُصُوْر﴾ د نصر مصدر دی: ناقص کېدل (کمېدل)، نابشپړوالی. ﴿مُضِيّ﴾ د ضرب مصدر دی: تېرېدل. ﴿حَفْر﴾ د ضرب مصدر دی: کيندل، کنبل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که په دارُ الحرب کې يو ښځه مسلمانه سي او د هغې خاوند کافر وي، يا يو حربي کافر مسلمان سي او د هغه په نکاح کې مجوسيه ښځه وي، نو په دې دواړو صورتونو کې به د خاوند او ښځې په مينځ کې تر هغه وخته تفريق نه کيږي تر څو چې ښځې درې حيض تېر کړي نه وي يا تر څو چې يې درې مياشتې تيرې کړې نه وي (که چيرې ښځه له "ذَوَاتُ الْحَيْض" څخه نه وي).

د دوی په مينځ کې به ځکه تفريق کيږي چې فتنه او فساد ختم کړل سي او اسلام پوره کړی سي او کفر ټيټ کړی سي، کنې د مجوسي ښځې سره به د مسلمان اوسېدل يا د کافر سره به د مسلماني ښځې اوسېدل لازم سي کوم چې د اسلام د تقاضا او أصولو مخالف دي، لهذا تفريق کول خو په هر حال کې ضروري دي، خو په تېره مسئله کې دا خبره ذکر سوه چې اسلام د فرقت سبب نه سي کېدای، او د ښځې د اسلام راوړلو په صورت کې نيابت هم نه ثابتيږي ځکه چې ښځه د طلاق أهل نه ده، او څرنګه چې خاوند په دارُ الحرب کې دی نو پر هغه اسلام پېشول هم ممکن نه دي، ځکه چې په دارُ

الحراب كي د مسلمان حاكم (قاضي) حكم چلېدل هيڅ امكان نه لري، حال دا چې د دوی په مينځ كې تفريق كول ضروري دي، لهذا كله چې موږ د فرقت هيڅ سبب پيدا نه كړی نو موږ د سبب وشرط ته رجوع وكړه، او په دې قاعده سره مو فرقت شرط ته منسوب كړی چې "كه د علت او سبب و طرف ته د حكم نسبت كول ناممكن وي نو د هغه د شرط و طرف ته به د حكم نسبت كيږي"، نو ځكه به دلته د دغه فرقت حكم د فرقت د شرط و طرف ته يعني د دريو حيضو د تېرلو و طرف ته منسوب كيږي او پر هغه به موقوف كيږي او تر دريو حيضو وروسته به د خاوند او ښځې په مينځ كې تفريق كيږي.

كما في حفر البئر: دا په اصل كې د سبب د شرط و طرف ته د حكم د نسبت كولو مثال دی، حاصل يې دا دی چې كه څوک په لاره كې څاه وكيندي او په هغه لاره كې يو سړی تيريږي او نابېره څاه ته ولويږي او مړ سي يا سخت زخمي سي، نو څرنګه چې دلته د مړ كېدلو يا زخمي كېدلو نسبت د دغه تېرېدونكي سړي و طرف ته نه سي كېدلای، نو ځكه د دې پيښې نسبت د سبب د شرط وطرف ته يا د سبب د سبب يعني د څاه كيندلو وطرف ته كيږي (كه څه هم د مړه كېدلو يا زخمي كېدلو ظاهري سبب په دې لار كې د هغه تېرېدل او تلل دي)، نو څرنګه چې دلته هم فرقت سبب نه سي جوړېدای، نو ځكه به د فرقت سبب او د هغه شرط يعني درې حيضه تېرول به د فرقت ذريعه جوړيږي او پر هغه به فرقت موقوفيږي.

ولا فرق إلخ: صاحب دكتاب فرمايي چې په دې مسئله كې پر دريو حيضو باندې د فرقت په موقوفولو كې زموږ په نېز هيڅ تفصيل او فرق نسته يعني د مدخول بها او غيرِ مدخول بها دواړو ښځو په حق كې به دغه فرقت جاري كيږي، لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په دې دواړو كې فرق او تفصيل سته يعني كه ښځه مدخول بها وي نو د هغې په حق كې به دا شرط جاري كيږي، لېكن كه ښځه مدخول بها نه وي نو د هغې په حق كې به سمدستي (فوراً) فرقت او تفريق واقع كيږي او دا د دريو حيضو د تېرولو شرط به د هغې په حق كې نه جاري كيږي.

وإذا وقعت إلخ: فرمايي چې له فرقت واقع كېدلو څخه وروسته پر ښځې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز علت نه واجبيږي، برابره ده ښځه حربيه وي او كه مسلمانه وي، لېكن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر مسلماني ښځې عدت واجبيږي، د دې اختلاف نور وضاحت او دليل به د مهاجري ښځې په مسئله كې بيان سي (چې هغه به څه وروسته ذكر سي)، فانتظروا إنّي معكم من المنتظرين.

د کتابي ښځي د خاوند د اسلام راوړلو بيان

وَإِذَا أَسْلَمَ زَوْجُ الْكِتَابِيَّةِ او کله چي د کتابي ښځي خاوند اسلام راوړي فَهُمَا عَلَى نِكَاحِهِمَا نو دوی دواړه پر خپله نکاح باقي پاتيږي لِأَنَّهُ يَصِحُّ النِّكَاحُ بَيْنَهُمَا ابْتِدَاءً ځکه چي د دوی په مينځ کي ابتداءً [هم] نکاح صحيح ده فَلَأَنْ يَبْقَى أَوْلَى نو ابقاءً به په طريقه اولیٰ سره [د دوی نکاح] باقي پاتيږي.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که خاوند او ښځه دواړه کتابي وي (يعني يهودي يا نصراني وي)، بيا په دوی کي يو مسلمان سي، نو د دوی په نکاح کي هيڅ فرق نه راځي او دواړه د مخکي په څير مېړه او مايني پاتيږي؛ ځکه چي د مسلمان او کتابي په مينځ کي له ابتداء څخه هم نکاح جائز ده، نو د بقاء په حالت کي (يعني تر اسلام راوړلو وروسته) به په طريقه اولیٰ سره جائز وي؛ ځکه قاعده دا ده چي "البَقَاءُ أَسْهَلُ مِنَ الإِبتِدَاء" (يعني د ابتدائي حالت په مقابله کي د بقاء حالت زيات آسانه او له مشکل څخه ليري وي).

د "دار" په تباين او تفاوت سره د فرقت حکم

قَالَ: وَإِذَا خَرَجَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ إِلَيْنَا مِنْ دَارِ الْحَرْبِ مُسْلِمًا فرمايي: او کله چي يو د خاوند او ښځي له دار الحراب څخه زموږ طرف ته په حالت د اسلام کي راسي [يعني اسلام راوړي او زموږ دارُ الاسلام ته راسي] وَقَعَتِ الْبَيْنُونَةُ بَيْنَهُمَا نو د خاوند او ښځي په مينځ کي فرقت [جدايي] واقع کيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تَقَعُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي فرقت نه واقع کيږي وَلَوْ سُبِيَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ او که يو له خاوند او ښځي څخه قيد کړی سي وَقَعَتِ الْبَيْنُونَةُ بَيْنَهُمَا بِغَيْرِ طَلَاقٍ نو له طلاق څخه بغير د دوی په مينځ کي فرقت واقع کيږي وَإِنْ سُبِيَا مَعًا لَمْ تَقَعِ الْبَيْنُونَةُ او که دواړه يوځای سره قيد کړل سي نو د دوی په مينځ کي بينونت نه واقع کيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: وَقَعَتْ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي واقع کيږي فَالْحَاصِلُ أَنَّ السَّبَبَ هُوَ التَّبَايُنُ دُونَ السَّبْيِ عِنْدَنَا نو خلاصه دا چي زموږ په نېز سبب د بينونت تباين د دار دی، نه قيدي کېدل وَهُوَ يَقُولُ بِعَكْسِهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله د دې برعکس وايي لَهُ: أَنَّ لِلتَّبَايُنِ أَثَرَهُ فِي انْقِطَاعِ الْوِلَايَةِ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د تباين أثر د ولايت په ختمېدلو کي دی [يعني تباين د دارَينو د ولايت په انقطاع کي مؤثر دی] وَذَٰلِكَ لَا يُؤَثِّرُ فِي

الفُرْقَةِ لیکن د ولایت انقطاع په فرقت کي هیڅ اثر نه کوي كَالْحَرْبِيِّ الْمُسْتَأْمَنِ وَالْمُسْلِمِ الْمُسْتَأْمَنِ لکه أمان غوښتونکی حربي او أمان غوښتونکی مسلمان أَمَّا السَّبْيُ فَيَقْتَضِي الصَّفَاءَ لِلسَّابِي او کوم چي قیدي کېدل دي نو هغه د قید کونکي لپاره [د قیدي] د خاص کېدلو [اختصاص] تقاضا کوي وَلَا يَتَحَقَّقُ إِلَّا بِانْقِطَاعِ النِّكَاحِ او دغه اختصاص له نکاح ختمېدلو څخه بغیر نه ثابتیږي وَلِهٰذَا يَسْقُطُ الدَّيْنُ عَنْ ذِمَّةِ الْمَسْبِيِّ او له همدې کبله د قید کړی سوي کس له غاړي څخه قرض ساقطیږي وَلَنَا: أَنَّ مَعَ التَّبَايُنِ حَقِيقَةً وَحُكْمًا لَا تَنْتَظِمُ الْمَصَالِحُ او زموږ دلیل دا دی: چي د دار د تباین سره د حقیقت او حکم دواړو په اعتبار سره د نکاح د مصالحو انتظام نه سي کېدلای ایعني په وجود کي نه سي راتلای] فَشَابَهَ الْمَحْرَمِيَّةَ نو دا د مَحرَم کېدلو سره مشابه سو وَالسَّبْيُ يُوجِبُ مِلْكَ الرَّقَبَةِ او قیدي کېدل فقط ملک رقبه ثابتوي وَهُوَ لَا يُنَافِي النِّكَاحَ ابْتِدَاءً او ملک رقبه ابتداءً [هم] د نکاح منافي نه ده فَكَذٰلِكَ بَقَاءً نو همداسي په بقاءً [هم د نکاح منافي نه وي] وَصَارَ كَالشِّرَاءِ نو قیدي کېدل د رانیولو په څیر سو ثُمَّ هُوَ يَقْتَضِي الصَّفَاءَ فِي مَحَلِّ عَمَلِهِ بیا قیدي کېدل د خپل عمل په محل کي د اختصاص [او خالص کېدلو] تقاضا کوي وَهُوَ الْمَالُ او هغه مال دی لَا فِي مَحَلِّ النِّكَاحِ نه په محل د نکاح کي وَفِي الْمُسْتَأْمَنِ لَمْ تَتَبَايَنِ الدَّارُ حُكْمًا او د أمان غوښتونکي په حق کي حکماً دار سره جلا نه دی لِقَصْدِهِ الرُّجُوعَ ځکه چي هغه [خپل دار ته] د واپس تللو اراده لري.

اللغات: ﴿بَيْنُونَةٌ﴾ د ضرب مصدر دی: جلا کېدل، جدایي. ﴿سُبِيَ﴾ د ضرب له باب څخه د ماضي مجهول صیغه ده: بندي کېدل، قیدي کېدل. ﴿تَبَايُن﴾ د تفاعل مصدر دی: یو له بل څخه جلا کېدل. ﴿مُسْتَأْمِن﴾ د استفعال اسم فاعل دی: أمان غوښتونکی (تر أمان غوښتلو وروسته داخلېدونکی). ﴿صَفَاء﴾ خالص کېدل، مراد ځني خاص کېدل دي. ﴿سَابِي﴾ د ضرب اسم فاعل دی: بندي کونکی، قیدونکی (هغه کس کوم چي بل څوک قیدي کړی).

تشریح: د عبارت تر حل مخکي په دې قاعده ځان پوه کړئ! چي زموږ په نېز د بینونت (فرقت) د واقع کېدلو سبب دا دی چي د خاوند او ښځي دار حکماً او حقیقتاً سره جلا وي، او د امام شافعي رَحِمَهُ

الله په نېز د بينونت واقع کېدلو سبب قيدي کېدل دي، همدا قول د امام احمد او امام مالک رَحِمَهُمَا الله قول هم دی.

د دې قاعدې په رڼا کې د عبارت حاصل دا دی چې څرنګه زموږ په نيز تباين د دارَينو د بينونت واقع کېدلو سبب دی، نو ځکه که له خاوند او ښځې څخه يو مسلمان سي او لهدارُ الحرب څخه دارُ الاسلام ته راسي؛ نو د بينونت د سبب واقع کېدلو په وجه زموږ په نېز د خاوند او ښځې په مينځ کې فرقت واقع کيږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز فرقت نه واقع کيږي؛ ځکه د هغه په نېز د بينونت سبب قيدي کېدل "سبي" دي، وهو لم يوجد.

ولو سبي أحد: د مسئلې دويمه حصه دا ده چې که له خاوند او ښځې څخه يو قيدي سي نو د ټولو په نېز بينونت واقع کيږي، زموږ په نېز خو ځکه واقع کيږي چې په قيد سره هم تباين د دارَينو ثابتيږي، او د شوافعو په نېز ځکه واقع کيږي چې د بينونت سبب "سبي" موجود سو.

د مسئلې يوه بله حصه دا ده چې که خاوند او ښځه دواړه يو ځای قيد کړل سي، نو څرنګه چې زموږ په نېز په دې صورت کې تباين د دارَينو متحقق نه دی، نو ځکه به فرقت نه واقع کيږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز فرقت واقع کيږي؛ ځکه چې "قيدي کېدل" موجود او متحقق سو.

د امام شافعي دليل: دا دی چې فقط تباين د دارَينو په فرقت کې مؤثر نه دی؛ ځکه چې تباين د دارَينو فقط دومره اثر لري چې په هغه سره ولايت ختميږي، يعني که له خاوند او ښځې څخه يو په دارُ الحرب کې وي او بل په دار الاسلام کې وي نو بيا د يوه ولايت پر بل نه پاتيږي او له خپل ځان او مال څخه يې ملکيت ختميږي، او فقط د ولايت او ملکيت ختمېدل د فرقت واقع کېدلو سبب نه سي جوړېدای، مثلاً که يو حربي کافر أمان طلب کړي او دارُ الاسلام ته پناه راوړي نو که څه هم له خپل نفس او مال څخه د هغه ملکيت ختم دی خو بيا هم د هغه او د ښځې په مينځ کې جدايي نه واقع کيږي، همدا حال د مسلمان دی چې که هغه أمان طلب کړي او دار الحرب ته ولاړ سي نو فقط له خپل ملکيت څخه محروميږي، لېکن د هغه او ښځې په مينځ کې جدايي او فرقت نه واقع کيږي.

د دې په خلاف په قيدي کېدلو کې د ولايت او ملکيت ختمېدل هم ثابتيږي او د نکاح ختمېدل هم ثابتيږي، ځکه چې قيدي کېدل په اصل کې د دغه قيدي کس "اختصاص" يعني خاصول او خالص کول دي (مثلاً که دغه قيدي کس ښځه وي نو د مالک [قيدونکي] لپاره به د هغې سره د وطي کولو پوره حق وي ځکه چې په قيد کېدلو سره دا ښځه د هغه لپاره خالصه سوه او د هغه سره خاص سوه)، او ښکاره خبره ده چې خالص کېدل او خاصېدل له نکاح ختمېدلو څخه بغير نه سي متحقق

کېدای، نو معلومه سوه چې په قیدي کېدلو کې په یوه غشي سره دوه ښکاره ویشتل کیږي، نو ځکه موږ هغه د فرقت او بینونت واقع کېدلو سبب و کرځوی.

زموږ دلیل: زموږ د دلیل حاصل دا دی چې د حقیقت او حکم دواړو په اعتبار سره تباین د دارَینو د نکاح د مصالحو (یعني د سکنی، جماع او د داسي نورو) په لاره کې خنډ او حائل جوړیږي، (حقیقتاً تباین د دارَینو دې ته وایي چې خاوند او ښځه دواړه په دوو جلا ملکونو کې استوګن وي، او حکماً تباین دې ته وایي چې یو په دائمي توګه په بل ملک کې مقیم سي، نه په عارضي توګه. او ښکاره خبره ده چې په دې صورتونو کې مصالح د نکاح نه سي حاصلېدای)، لهذا څرنګه چې محرمیت د نکاح د مصالحو منافي دی (یعني کله چې تر نکاح وروسته معلومه سي چې خاوند او ښځې یو د بل ذی رحم محرم قریب دی، نو د دوی تر مینځ نکاح فاسدیږي او فرقت واقع کیږي)، همداسي تباین هم د نکاح د مصالحو منافي دی نو هغه به هم د فرقت او بینونت سبب کرځي.

والسبی الخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب ورکوي، حاصل یې دا دی چې ستاسو دا خبره موږ هم منو چې قیدي کېدل د ملک رقبه سبب دی، لېکن تاسو غور وکړی چې ملک رقبه له نکاح څخه مانع نه دی، لهذا کله چې ملک رقبه ابتداءً له نکاح څخه مانع نه دی نو آخر په بقاء کې به څرنګه مانع سي!، سره د دې چې "البَقَاءُ أَسْهَلُ مِنَ الإِبْتِدَاء" (یعني د ابتداء په مقابله کې بقاء زیاته آسانه او له مشکل څخه لیري ده)، او بل دا چې څرنګه د یو غلام په رانیولو سره د هغه نکاح نه ختمیږي، همداسي به په دې مسئله کې هم فقط په قید کېدلو سره په نکاح کې هیڅ فرق نه راځي.

ثم هو الخ: په دې سره هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب ورکوي، فرمایي چې موږ دا نه منو چې قیدي کېدل د اختصاص او خالص کېدلو تقاضا کوي؛ ځکه چې قیدي کېدل د دې تقاضا کوي چې مالک دې د قیدي کس د رقبې او غاړې مالک جوړ سي او قیدي کس دې د هغه لپاره خاص سي، او د دې تقاضا نه کوي چې محل د نکاح (یعني منافع د بضع) دې د هغه لپاره خالص او خاص سي، یعني دا ضروري نه ده چې د یو ښځې په قیدولو سره دې مالک د هغې سره د وطي کولو حقداره سي، لکه یو څوک چې مینځه رانیسي نو هغه فقط د مینځې مالک کرځي او د هغې سره د وطي کولو حقدار نه کرځي.

ولی المستأمن الخ: په دې سره هم امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي چې که څوک أمن واخلي او دارُ الإسلام یا دار الحرب ته داخل سي نو د هغه اراده خو د بیرته تللو او رجوع کولو وي (یعني هغه هلته نه پاتیږي بلکې اراده یې دا وي چې بیرته به خپل دار ته ځم) نو د حکم په اعتبار سره تباین ثابت نه سو، لهذا پر دې مسئلې قیاس کول او په خپل دلیل کې پېشول صحیح نه دي.

له دارُ الحرب څخه د راتلونكي ښځي حكم

وَإِذَا خَرَجَتِ الْمَرْأَةُ إِلَيْنَا مُهَاجِرَةً او كله چي يو ښځه زموږ وطرف ته هجرت كونكې راسي جَازَ لَهَا أَنْ تَتَزَوَّجَ نو د هغې لپاره [دا] جائز دي چي [في الحاله] نكاح وكړي وَلَا عِدَّةَ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغې عدت واجب نه دی وَقَالَا*: عَلَيْهَا الْعِدَّةُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي پر هغې عدت واجب دی لِأَنَّ الْفُرْقَةَ وَقَعَتْ بَعْدَ الدُّخُولِ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ ځكه چي دارُ الاسلام ته تر داخلېدلو وروسته [سمدستي] فرقت واقع سو فَيَلْزَمُهَا حُكْمُ الْإِسْلَامِ نو ځكه به اسلامي حكم پر هغې لازم وي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهَا أَثَرُ النِّكَاحِ الْمُتَقَدِّمِ وَجَبَتْ إِظْهَارًا لِخَطَرِهِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي عدت د مخكني نكاح أثر دی كوم چي د دې [مخكني نكاح] د احترام [عظمت] ښرگندولو لپاره واجب سوی دی وَلَا خَطَرَ لِمِلْكِ الْحَرْبِيِّ او د حربي ملكيت لره هيڅ احترام نه وي انو ځكه به پر هغې عدت نه واجبيږي] وَلِهَذَا لَا تَجِبُ عَلَى الْمَسْبِيَّةِ او له همدې كبله پر قيد كړل سوي ښځي عدت نه واجبيږي وَإِنْ كَانَتْ حَامِلًا او كه دغه [مذكوره] ښځه حامله وي لَمْ تَتَزَوَّجْ حَتَّى تَضَعَ حَمْلَهَا نو نكاح به نه كوي تر دې چي حمل وزيږوي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يَصِحُّ النِّكَاحُ وَلَا يَقْرَبُهَا زَوْجُهَا حَتَّى تَضَعَ حَمْلَهَا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه [دويم] روايت دا دی چي نكاح [ور سره] صحيح ده خو خاوند به هغې ته نه نژدې كيږي تر دې چي حمل وزيږوي كَمَا فِي الْحُبْلَى مِنَ الزِّنَا لكه څرنگه چي له زنا څخه په حامله سوي ښځي كي [هم دغه حكم دی] وَجْهُ الْأَوَّلِ: أَنَّهُ ثَابِتُ النَّسَبِ د اول قول [چي نكاح ور سره جائز نه ده] دليل دا دی: چي دا حمل [د غير سره] ثابتُ النسب دی فَإِذَا ظَهَرَ الْفِرَاشُ فِي حَقِّ النَّسَبِ نو كله چي د نسب په حق كي فراش ښكاره سو يَظْهَرُ فِي حَقِّ الْمَنْعِ مِنَ النِّكَاحِ احْتِيَاطًا نو احتياطاً به له نكاح څخه د منع كېدلو په حق كي [هم] فراش ښكاره كيږي.

اللغات: ﴿مُتَقَدِّم﴾ مخكنی، وړاندينی، ﴿خَطَر﴾ عظمت، ستروالی، احترام، ﴿مَسْبِيَّة﴾ د ضرب مؤنث اسمِ مفعول دی: قيد كړل سوې ښځه، ﴿حُبْلَى﴾ حامله (بلاربه)، ﴿فِرَاش﴾ بستره، مراد ځني "په نكاح كېدل" دي.

تشريح: په دې عبارت كي دوې مسئلې بيان سوي دي: (١)... د اولي مسئلې صورت دا دی كه يو ښځه له دار الحرب څخه دار الاسلام ته هجرت وكړي، برابره ده هغه مسلمانه وي او كه ذميه وي، او د

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٤٢٥)، وكذا في الخانية (ج:١، ص:١٦٩). [القول الراجح ج:١، ص: ٢٩٩]

واپس تللو اراده هم نه لري، نو د داسي مهاجري ښځي سره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز نكاح كول جائز دي او پر هغې عدت واجب نه دى، او د صاحبينو په نيز پر هغې عدت واجب دى.

د صاحبينو دليل: دا دى چي دارُ الاسلام ته د دغه ښځي تر راتللو وروسته د هغې او د خاوند په مينځ كي فرقت واقع سو، او هر هغه فرقت كوم چي په دار الاسلام كي واقع سي پر هغه د اسلام احكام لازميږي، او عدت هم له اسلامي احكامو څخه يو حكم دى، نو ځكه به پر دغه مهاجري ښځي عدت واجبيږي. ها! كه حربي خاوند په دارُ الحرب كي ښځي ته طلاق وركړى او تر دې وروسته هغې دار اسلام ته هجرت وكړى، نو په دې صورت كي د ټولو په نيز پر هغې عدت نه واجبيږي.

د امام صاحب دليل: دا دى چي عدت د مخكني نكاح أثر او حصه ده او د مخكني نكاح د اهيمت او احترام ښكارندولو لپاره واجبيږي، او حال دا دى چي د حربي كس نكاح د احترام قابله نه ده او د هغه نكاح هيڅ اهميت او احترام نه لري، لهذا كله چي دلته د عدت د وجوب سبب (يعني د نكاح احترام) نسته، نو ځكه به عدت نه واجبيږي، او دلته يوازي عدت له نكاح څخه مانع وو، نو كله چي هغه ختم سو نو د نكاح لاره بالكل صفا سوه.

ولهذا الخ: په دې جمله سره د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دې قول "چي د حربي نكاح لره هيڅ اهميت او احترام نسته" په تائيد كي مثال پېشوي، فرمايي همدا وجه ده كه يو ښځه په دارُ الحرب كي قيد كړل سي او دارُ الاسلام ته راوستل سي، نو د ټولو په نيز پر هغې عدت نه واجبيږي، لهذا څرنګه چي د حربي ملكيت د احترام او اهميت قابل نه دى، همداسي به د قيد كړى سوي ښځي خاوند لره هم هيڅ اهميت او احترام نه وي او د عدت له وجوب څخه بغير به د هغې سره نكاح كول صحيح وي.

(۲)... د دويمي مسئلې صورت دا دى چي كه هغه مهاجره ښځه حامله وي نو هغه به د كوچني تر زېږولو مخكي نكاح نه كوي، دا قول امام محمد له امام صاحب څخه روايت كړى دى، همدا ظاهر روايت دى او همدا أصح او راجح قول دى [القول الراجح ج:۱، ص:۳۰۰]، او دويم قول كوم چي امام ابو يوسف او حسن بن زياد له امام صاحب څخه روايت كړى دى، دا دى چي د مهاجري حاملې سره نكاح كول خو صحيح دي لېكن د كوچني تر زېږولو مخكي به وطي نه ور سره كيږي.

د دويم قول دليل دا دى چي كله د حربي كس ملكيت په دارُ الاسلام كي هيڅ احترام او اهميت نه لري نو حمل خو به بيخي اهميت نه لري ځكه چي حمل د حربي يو ادنىٰ جزء دى، لهذا د حمل په حالت كي به د دغه ښځي سره نكاح صحيح وي، لكه څرنګه چي د هغه ښځي سره هم نكاح صحيح ده كوم چي په زنا سره حامله سوې وي، ځكه چي زنا د اسلام په نظر كي يو غليظ او ناوړه فعل دى او هيڅ مقام نه لري. او د وطي اجازه به د دې حديث په وجه نه وركول كيږي "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ

الْآخِرِ فَلَا يَسْقِيَنَّ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ" . يعني دوطي اجازه به ځکه نه وركول كيږي چي په خپلو اُوبو (مني) سره د بل چا كښت اوبه كول لازم نه سي.

د راجح قول دليل دا دى چي د دې ښځي حمل د بل چا سره ثابتُ النسب دى (يعني دحربي سره يې نسب ثابت دى)، نو كله چي د نسب په حق كي د دغه ښځي فراش كېدل (فراش والى) ښكاره سوه نو له نكاح څخه د مانع كېدلو په حق كي به هم احتياطاً د هغې فراش كېدل ښكاره كيږي (يعني دغه مهاجره حامله ښځه به د خپل حربي خاوند صحيح فراش وي، نو د هغې سره به وطي كول صحيح نه وي)، لهذا كله چي احتياطاً له نكاح څخه د مانع كېدلو په حق كي هم د هغې فراش كېدل ښكاره سو، نو د هغې سره به نكاح كول هم صحيح نه وي.

خلاصه دا چي د بل چا حمل مطلقاً له وطي څخه مانع وي، او څرنګه چي ثابتُ النسب حمل محترم هم دى نو هغه به له نكاح څخه هم مانع وي.

د "أحدُ الزوجين" د مرتد كېدلو حكم

قَالَ: وَإِذَا ارْتَدَّ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ عَنِ الْإِسْلَامِ فرمايي: كله چي يو د خاوند او ښځي له اسلام څخه مرتد سي وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ بِغَيْرِ طَلَاقٍ نو له طلاق څخه بغير [د دوى په مينځ كي] فرقت واقع كيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او دا [حكم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دى وَقَالَ مُحَمَّدٌ ❁ : إِنْ كَانَتِ الرِّدَّةُ مِنَ الزَّوْجِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي كه مرتد كېدل [ارتداد] د خاوند له طرفه وي فَهِيَ فُرْقَةٌ بِطَلَاقٍ نو دا به په طلاق سره فرقت وي هُوَ يَعْتَبِرُهُ بِالْإِبَاءِ [أصلاً] امام محمد رَحِمَهُ الله دا "له اسلام څخه پر انكار كولو" قياسوي وَالْجَامِعُ مَا بَيَّنَّاهُ او د دواړو په مينځ كي] جمع كونكي دليل هغه دى كوم چي موږ بيان كړى وَأَبُو يُوسُفَ مَرَّ عَلَى مَا أَصَّلْنَا لَهُ فِي الْإِبَاءِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله پر خپل هغه أصل تللى دى كوم چي [له اسلام څخه] د انكار كولو په باره كي موږ بيان كړى وَأَبُو حَنِيفَةَ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا او امام صاحب رَحِمَهُ الله د دواړو په مينځ كي فرق كړى دى وَوَجْهُ الْفَرْقِ: أَنَّ الرِّدَّةَ مُنَافِيَةٌ لِلنِّكَاحِ او [د هغه په نېز] وجه د فرق دا ده: چي ارتداد د نكاح [هم] منافي دي لِكَوْنِهَا مُنَافِيَةً لِلْعِصْمَةِ ځكه چي هغه د عصمت [او ماليت] منافي دي وَالطَّلَاقُ رَافِعٌ او طلاق د نكاح ختمونكى دى فَتَعَذَّرَ

❁ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر فى الدر المختار (ج:۲، ص:۴۲۵)، وكذا فى البحر الرائق (ج:۳، ص:۳۷۳)، وكذا فى الدر المنتقىٰ (ج:۱، ص:۳۷۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۰۱]

أَنْ تُجْعَلَ طَلَاقًا نو [دا خبره] مشكله سوه چي هغه فرقت طلاق وګرځول سي بِخِلَافِ الْإِبَاءِ په خلاف د انكار كولو لِأَنَّهُ يَفُوْتُ الْإِمْسَاكُ بِالْمَعْرُوْفِ ځکه چي [په هغه سره] "إمساك بالمعروف" فوتيږي فَيَجِبُ التَّسْرِيْحُ بِالْإِحْسَانِ عَلٰى مَا مَرَّ نو "تسريح بالإحسان" به واجبيږي لکه مخکي چي ادي تفصيل] تېر سو وَلِهٰذَا تَتَوَقَّفُ الْفُرْقَةُ بِالْإِبَاءِ عَلَى الْقَضَاءِ او له همدې وجهي د انكار په وجه سره [واقع سوې] فرقت [د قاضي] پر قضاوت موقوفيږي [يعني له اسلام څخه د انكار په صورت كي د قاضي تر فيصلې وروسته فرقت واقع كيږي او نكاح ختميږي] وَلَا تَتَوَقَّفُ بِالرِّدَّةِ [لېكن] د ارتداد په وجه سره [واقع سوې] فرقت [پر قضاوت] نه موقوفيږي [يعني د مرتد كېدلو په صورت كي د قاضي له فيصلې څخه بغير فوراً طلاق واقع كيږي] ثُمَّ إِنْ كَانَ الزَّوْجُ هُوَ الْمُرْتَدُّ بيا كه [په زوجينو كي] خاوند مرتد سوى وي فَلَهَا كُلُّ الْمَهْرِ إِنْ دَخَلَ بِهَا نو د ښځي لپاره به ټوله مهر وي، كه هغه په ښځي دخول كړى وي وَنِصْفُ الْمَهْرِ إِنْ لَمْ يَدْخُلْ بِهَا او نيم مهر به وي، كه په هغې يې دخول نه وي كړى وَإِنْ كَانَتْ هِيَ الْمُرْتَدَّةُ او كه ښځه مرتده سوې وي فَلَهَا كُلُّ الْمَهْرِ إِنْ دَخَلَ بِهَا نو د ښځي لپاره به ټوله مهر وي، كه خاوند په هغې دخول كړى وي وَإِنْ لَمْ يَدْخُلْ بِهَا فَلَا مَهْرَ لَهَا وَلَا نَفَقَةَ او كه په ښځي يې دخول نه وي كړى نو هغې لپاره به نه مهر وي او نه نفقه لِأَنَّ الْفُرْقَةَ مِنْ قِبَلِهَا ځکه چي فرقت د هغې له طرفه [واقع سوى] دى.

اللغات: ﴿اِرْتَدَّ﴾ د افتعال ماضي ده: مرتد كېدل، له دين څخه ګرځېدل. ﴿أَصَّلْنَا﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: أصل بيانول، أصل جوړول. ﴿عِصْمَة﴾ حفاظت (د حفاظت حق). ﴿تَتَوَقَّف﴾ د تفعّل مضارع ده: موقوف كېدل (موقوفېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه په خاوند او ښځه كي يو له اسلام څخه مرتد سي، نو په دوى كي به سملستي فرقت واقع كيږي، برابره ده خاوند د ښځي سره جماع كړې وي او كه نه وي، او دا فرقت به د شيخينو په نيز فسخ شمارل كيږي، نه طلاق، امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي كه ارتداد (مرتد كېدل) د خاوند له طرفه پېښ سوي وي يعني خاوند مرتد سوى دى، نو په دې صورت كي به دا فرقت طلاق شمارل كيږي.

په اصل كي امام محمد رَحِمَهُ الله دا مسئله د "إِنْكَار عَنِ الإِسْلَام" پر مسئله قياسوي، يعني كله چي د ښځي تر مسلمانېدلو وروسته پر خاوند اسلام پېش كړى سي او هغه انكار وكړي نو د دوى په مېنځ كي واقع

کېدونکي فرقت طلاق شمارل کېږي، همداسي به دلته هم واقع کېدونکي فرقت طلاق وي؛ ځکه څرنګه چې د إنکار په مسئله کې خاوند د اسلام په قبلولو سره پر "إمساک بالمعرف" قادر وو، همدارنګه په دې مسئله کې هم هغه د اسلام په قبلولو سره پر "إمساک بالمعروف" قادر دی، خو دده پر ستر ګو پرده پرته ده او دی یې نه ليري کوي، نو ځکه به دا فرقت د مخکې په څير دلته هم طلاق شمارل کيږي.

و أبويوسف إلخ: او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز چې څرنګه د انکار والا په مسئله کې فرقت فسخ وو، همداسي د ارتداد په مسئله کې فرقت هم د هغه نيز فسخ دی؛ ځکه چې د دغه فرقت په عمل کې خاوند او ښځه دواړه سره شريک دي، او طلاق فقط د خاوند سره خاص دی، ښځه خو نه د طلاق أهل ده او نه د هغې له طرفه د طلاق تصور کېدای سي.

وأبوحنيفة: امام صاحب رَحِمَهُ الله په انکار او ارتداد کې فرق کوي فرمايي چې که څه هم د ښځې د مسلمانېدلو فرقت طلاق شمارل کيږي، لېکن د خاوند د مرتد کېدلو فرقت به طلاق نه، بلکې فسخ شمارل کيږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل او په دواړو صورتونو کې د فرق وجه دا ده چې مرتد کېدل د نفس او مال د عصمت او حفاظت منافي دي؛ ځکه چې مرتد مباحُ الدم ګرځي، نه د هغه د مال حفاظت کيږي او نه د هغه د عزت او نفس حفاظت کيږي، د دې په خلاف نکاح يوه ديني فريضه ده او د نبي کريم ﷺ سنت دی او نکاح د انسان د عزت ضامنه ده، نو مرتد کېدل د نکاح منافي سو، همدا وجه ده کله چې يو څوک مرتد سي نو په هغه ګړي يې نکاح ماتيږي او ختميږي (او په دې هکله هغه ته څه مهلت نه ورکول کيږي)، او طلاق هم د نکاح ختمونکی دی، او دلته په مرتد کېدلو سره په هغه ګړي (فوراً) نکاح ختمه سوه، نو طلاق به څرنګه نکاح ختمه کړي (ځکه چې هغه خو مخکې لا ختمه سوه)، نو ځکه به دغه فرقت او د نکاح ختمېدل طلاق نه شمارل کيږي بلکې د فسخ نوم به ورکول کيږي.

بخلاف الإباء إلخ: په خلاف د انکار کولو، ځکه چې له اسلام څخه تر انکار کولو وروسته (کافر ته مهلت ورکول کيږي او) د قاضي تر فيصلې پوري نکاح پاتيږي او د قاضي تر فيصلې وروسته نکاح ماتيږي، او په انکار سره د "إمساک بالمعروف" د فوتېدلو په وجه پر خاوند "تسريح بالاحسان" واجبيږي او په دې "تسريح بالاحسان" کې قاضي د هغه نائب جوړيږي او د دوی په مينځ کې تفريق کوي او مخکې ذکر سوه چې د قاضي تفريق طلاق شمارل کيږي، لېکن د مرتد کېدلو (ارتداد) په صورت کې فوراً نکاح ماتيږي او فوراً تفريق واقع کيږي، نو ځکه به دغه تفريق فسخ د نکاح شمارل کيږي.

ثم إن كان الزوج إلخ: له دې ځای څخه د ارتداد تفصيل بيانوي فرمايي چې که ارتداد د خاوند له طرفه واقع سوی وي، نو د دې دوه صورتونه دي: ① د دخول په صورت کې (يعني که خاوند په ښځې دخول

کړی وي په داسي صورت کي) به ښځي ته ټوله مهر او د عدت د ورځو نفقه ورکول کيږي. (۲) او د دخول د نشتوالي په صورت کي به نيم مهر او نفقه ورکول کيږي، ليکن که ارتداد د ښځي له طرفه واقع سوی وي، نو د دخول په صورت کي به هغې ته پوره مهر ورکول کيږي، او د دخول د نشتوالي په صورت کي به هيڅ شی نه ورکول کيږي نه مهر او نه نفقه، نفقه خو به د دخول په صورت کي هم نه ورکول کيږي؛ ځکه چي ارتداد د ښځي له طرفه واقع سوی دی، لهذا څرنګه چي نافرمانه (ناشزه) ښځه له نفقې څخه محروموله کيږي، همداسي به دغه ښځه هم له نفقې څخه محروموله کيږي. والله أعلم وعلمه أتم.

د خاوند او ښځي دواړو د مرتد کېدلو او بيا د اسلام راوړلو حکم

قَالَ: وَإِذَا ارْتَدَّا مَعًا ثُمَّ أَسْلَمَا مَعًا فرمايي: که چيري خاوند او ښځه دواړه يو ځای مرتد سي [او] بيا دواړه يو ځای اسلام راوړي فَهُمَا عَلَىٰ نِكَاحِهِمَا اِسْتِحْسَانًا نو استحساناً به دوی پر خپله [مخکنۍ] نکاح باقي پاته وي وَقَالَ زُفَرُ: يَبْطُلُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [د دوی نکاح] باطليږي لِأَنَّ رِدَّةَ أَحَدِهِمَا مُنَافِيَةٌ ځکه چي په دوی کي د يوه مرتد کېدل [د نکاح] منافي دي [يعني نکاح فاسدوي] وَفِي رِدَّتِهِمَا رِدَّةُ أَحَدِهِمَا او د دواړو په ارتداد کي [يعني د دواړو د مرتد کېدلو په ضمن کي] خو د يوه ارتداد [هم] سته وَلَنَا مَا رُوِيَ أَنَّ بَنِي حُنَيْفَةَ اِرْتَدُّوا ثُمَّ أَسْلَمُوا او زموږ دليل هغه روايت دی چي بنو حنيفه ټوله [يو ځای] مرتد سول او بيا يې اسلام راوړی وَلَمْ يَأْمُرْهُمُ الصَّحَابَةُ بِتَجْدِيدِ الْأَنْكِحَةِ او صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ هغو ته د نکاح نوي کولو حکم نه وکړی وَالِارْتِدَادُ مِنْهُمْ وَاقِعٌ مَعًا لِجَهَالَةِ التَّارِيخِ او د تاريخ د جهالت په وجه د هغوی مرتد کېدل يو ځای واقع سوي دي وَلَوْ أَسْلَمَ أَحَدُهُمَا بَعْدَ الِارْتِدَادِ مَعًا او که تر يو ځای مرتد کېدلو وروسته له خاوند او ښځي څخه يو اسلام راوړی فَسَدَ النِّكَاحُ بَيْنَهُمَا نو د دوی په مينځ کي نکاح فاسديږي لِإِصْرَارِ الْآخَرِ عَلَى الرِّدَّةِ پر ارتداد باندي د بل د ټينګار کولو په وجه لِأَنَّهُ مُنَافٍ كَابْتِدَائِهَا ځکه چي پر ارتداد ټينګار کول او پر هغه باقي پاتېدل [د] ارتداد د ابتداء په څېر [د نکاح] منافي دی.

اللغات: ﴿تَجْدِيد﴾ د تفعيل مصدر دی: نوي کول. ﴿أَنْكِحَة﴾ جمع د نکاح ده: نکاح ګاني.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند او ښځه دواړه يو ځای مرتد سي او بيا د الله په توفيق سره دواړه يو ځای اسلام راوړي، نو زموږ په نېز استحساناً دوی پر مخکنۍ نکاح باقي پاتيږي او د دوی لپاره د نکاح د تجديد (نوي کولو) هيڅ ضرورت نسته.

د امام زفر او ائمه ثلاثه وو په نېز د دوی مخکنۍ نکاح باطليږي، او له شروع څخه به نوې نکاح کوي (او همدا د قياس تقاضا ده).

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چې کله په خاوند او ښځه کې ديوه ارتداد (مرتد کېدل) د نکاح منافي دي نو د دواړو ارتداد خو به په طريقه اولیٰ سره د نکاح منافي وي؛ ځکه چې د دواړو د ارتداد په ضمن کې ديوه ارتداد هم شامل او داخل دی.

زمونږ دليل: او جه د استحسان دا ده چې کله د نبي کريم ﷺ تر وفات وروسته د بنو حنيفه قبيلې (کوم چې د مسيلمه کذاب قوم وو) خلک مرتد سول او له زکاة څخه يې انکار وکړی، نو حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه د هغو د مقابلې لپاره د صحابه وو لښکر واستوی لېکن هغوی ټولو بيرته اسلام راوړی او تر اسلام وروسته هغوی ته يوه صحابي هم د نکاح د تجديد حکم نه وکړی، لهذا دا د صحابه وو له طرفه اجماع سوه او اجماع تر قياس لوړه او مخکې وي، نو ځکه به په دې مسئله کې قياس پرېښوول کيږي او استحساناً به په اجماع عمل کيږي.

والإرتداد إلخ: دا ګواکې ديو طالبي سوال جواب دی، سوال دا دی چې د بنو حنيفه وو په واقعې سره د احنافو دليل نيول صحيح نه دي؛ ځکه چې بنو حنيفه ټوله پر يوه ځای (معاً) نه وه مرتد سوي (بلکې جلا، جلا مرتد سول، يعني د خاوند او ښځې د ارتداد په زمانه کې فرق وو او د دوی ارتداد سره جلا وو، نه معاً)، نو د دې په جواب کې صاحب د کتاب فرمايي چې د بنو حنيفه وو د مرتد کېدلو تاريخ مجهول او نامعلوم دی، نو د تاريخ د جهالت په وجه د هغوی مرتد کېدلو ته حکماً د معًا او دفعة واحدةً درجه ورکول سوه، لهذا کله چې د هغوی مرتد کېدل (د حکم په اعتبار سره) معاً او په يوه ځل دی نو بيا به ولې په دې سره دليل نيول صحيح نه وي!.

ولو أسلم إلخ: په دې سره دا خبره بيانوي چې که خاوند او ښځه دواړه يو ځای مرتد سي او تر دې وروسته فقط يو اسلام راوړي، نو د دوی نکاح فاسديږي؛ ځکه چې هغه بل يو پر ارتداد مُصر او ټينګار کونکی دی، او ارتداد چې څرنګه ابتداءً د نکاح منافي دی، همداسې بقاءً او د ټينګار کولو په حالت کې هم د نکاح منافي دي، نو ځکه به د دوی په مينځ کې نکاح فاسديږي.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِكَاتِبِهٖ وَلِشَارِحِهٖ وَلِمَنْ قَامَ بِتَوْزِيْعِهٖ وَنَشْرِهٖ



بَابُ القَسْمِ

(دا) باب (د ښځو) د واري (د احکامو په بيان کي) دی

تشريح: "قَسْمٌ" د قاف په سکون سره د ضرب د باب مصدر دی، معنیٰ يې ده: تقسيمول، تجزيه کول، د هري ښځي (مايني) د مستحق واري حفاظت کول (يعني هري ښځي ته خپل واری او نوبت ورکول).

مخکي تر دې صاحب د کتاب د نکاح احکام بيان کړل او ښکاره خبره ده چي د يو چا په نکاح کي څو ښځي وي، نو د هغوی تر مينځ د خپل وس مطابق عدل او مساوات کول ضروري دی، کامل او کما حقهٗ مساوات خو کېدای نه سي، ځکه په خپله ربُ العالمين فرمايلي دي: "وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْا أَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَاء" [سورة النساء: ۱۲۹]، او په خپله نبي کريم ﷺ په دې سلسله کي په الهي دربار کي معذرت پېش کړی دی.

د ښځو په واري (نوبت) کي د عدل کولو بيان

وَإِذَا كَانَ لِلرَّجُلِ امْرَأَتَانِ حُرَّتَانِ او کله چي د يو سړي دوې آزادي ښځي وي فَعَلَيْهِ أَنْ يَعْدِلَ بَيْنَهُمَا فِي الْقَسْمِ نو پر هغه واجب دي چي د نوبت [او واري] په سلسله کي د دوی په مينځ کي انصاف [او برابري] وکړي بِكْرَيْنِ كَانَتَا أَوْ ثَيِّبَيْنِ هغه که دواړي باکرې وي او که ثيبې وي أَوْ إِحْدَاهُمَا بِكْرًا وَالْأُخْرَى ثَيِّبًا او [که] يوه باکره وي او بله ثيبه وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَام ❶: مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ وَمَالَ إِلَى إِحْدَاهُمَا فِي الْقَسْمِ ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: د کوم سړي چي دوې ښځي وي او په نوبت ورکولو کي هغه ديوې و طرف ته مائل سي جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ نو د قيامت په ورځ به هغه په داسي حال کي راسي چي د هغه يو طرف به کوږ وي وَعَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها: «أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَام ❷ كَانَ يَعْدِلُ فِي الْقَسْمِ بَيْنَ نِسَائِهِ او له حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت سوی دی: "چي نبي کريم ﷺ

---

❶ تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب النكاح، باب في القسم بين النساء، حديث رقم:۲۱۳۳.

❷ تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب النكاح، باب في القسم بين النساء، حديث رقم:۲۱۳۴.

به د خپلو بیبیانو تر مینځ په نوبت کي انصاف کوی وَكَانَ يَقُولُ: اللّٰهُمَّ هٰذَا قَسْمِيْ فِيمَا أَمْلِكُ او فرمایل به یې: اې الله زما دا تقسیم په هغه شي کي دی چي زه یې ملکیت [استطاعت] لرم ایعني دا تقسیم زما په وس او طاقت کي دی] فَلَا تُؤَاخِذْنِيْ فِيْمَا لَا أَمْلِكُ» نو د کوم شي ملکیت [استطاعت] چي نه لرم په هغه سره ما مه نیسه!" ایعني د هغه عتاب او سزا مه راکوه!] يَعْنِيْ زِيَادَةَ الْمَحَبَّةِ یعني د محبت په زیاتوب سره اما مه نیسه!] وَلَا فَصْلَ فِيمَا رَوَيْنَا او زموږ په [دغه] روایت سوي حدیث کي اد باکرې او ثیّبې تر مینځ] هیڅ فرق نسته [نو ځکه به تولو ته مساوي او برابر نوبت ورکول کیږي] وَالْقَدِيمَةُ وَالْجَدِيدَةُ سَوَاءٌ او پخوانۍ ښځه او نوې ښځه دواړي سره برابري دي لِإِطْلَاقِ مَا رَوَيْنَا زموږ د روایت سوي حدیث د مطلق کېدلو په وجه وَلِأَنَّ الْقَسْمَ مِنْ حُقُوقِ النِّكَاحِ او په دې وجه [هم] چي نوبت ورکول د نکاح له حقوقو څخه دي وَلَا تَفَاوُتَ بَيْنَهُنَّ فِي ذٰلِكَ او په حقوقو کي د دوی تر مینځ هیڅ فرق نسته وَالِاخْتِيَارُ فِي مِقْدَارِ الدَّوْرِ إِلَى الزَّوْجِ او [ښځو ته] د تګ راتګ [د تللو] د مقدار اختیار خاوند لره دی لِأَنَّ الْمُسْتَحَقَّ هُوَ التَّسْوِيَةُ بَيْنَهُنَّ دُونَ طَرِيقِهَا ځکه چي د ښځو په مینځ کي فقط مساوات [برابري کول] واجب دی، د مساوات طریقه واجب نه ده وَالتَّسْوِيَةُ الْمُسْتَحَقَّةُ فِي الْبَيْتُوتَةِ لَا فِي الْمُجَامَعَةِ او واجب مساوات په شپه تېرولو کي دی نه په جماع کولو کي لِأَنَّهَا تَبْتَنِي عَلَى النَّشَاطِ ځکه چي جماع کول پر نشاط مبني دي [یعني د جماع دارومدار د طبیعت پر نشاط او د زړه پر لیوالتیا دی کوم چي د انسان په وس کي نه دی].

اللغات: ﴿يَعْدِلُ﴾ د ضرب مضارع ده: عدل کول، انصاف کول. ﴿مَالَ﴾ د ضرب ماضي ده: یو طرف ته میلان کول (مائلېدل). ﴿شِقٌّ﴾ اړخ، طرف. ﴿فَصْلٌ﴾ تفصیل، توپیر. ﴿دَوْرٌ﴾ د نصر مصدر دی: ګرځېدل، تګ راتګ. ﴿تَسْوِيَةٌ﴾ د تفعیل مصدر دی: برابري کول. ﴿بَيْتُوتَةٌ﴾ د ضرب مصدر دی: شپه تېرول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که دیو سړي په نکاح کي له یوې څخه زیاتي ښځي وي، نو د هغه لپاره ضروري ده چي د نبوي سنت په اقتداء او تباع کي او له اُخروي عذاب څخه د خلاصون او نجات لپاره په هغوی کي هر ممکن عدل او مساوات قائم وساتي، په عبارت کي ذکر سوي حدیثونه یو طرف ته د عدل قائمولو

ترغيب ورکوي، او بل طرف دې ته اشاره کوي چې که يو سړی عدل او مساوات نه کوي، نو سبا به د قيامت په ورځ د ډيري ختمې شرمندګۍ او رسوايۍ سره مخامخ سي.

والقديمة إلخ: فرمايي چې د عدل او مساوات په باره کي دغه بيان سوي حديثونه مطلق دي، او په دې حديثونو کي د پخوانۍ (زړې) او نوې ښځي او د ثيبې او باکرې ښځي ترمينځ هيڅ تفصيل او فرق بيان سوی نه دی، نو دې أحاديثو د اطلاق او عموم په خاطر زموږ مسلک همدغه دی چې په نوې او زړه همداسي په باکره او ثيبه ټولو ښځو کي مساوات واجب او ضروري دی، لېکن د ائمه ثلاثه وو مسلک دا دی چې که څوک د باکره ښځي سره نکاح وکړي نو هغې ته به اووه (۷) ورځي واري او نوبت ورکوي او که ښځه ثيبه وي نو هغې ته به درې ورځي واري ورکوي.

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چې د حضرت انس ﷺ او د حضرت ابو هريره ﷺ په حديثونو کي همدغه فرق وارد سوی دی، حضرت انس ﷺ فرمايي: "سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: لِبِكْرٍ سَبْعٌ وَلِلثَّيِّبِ ثَلَاث. ثُمَّ يَعُوْدُ إِلَى أَهْلِهِ"، يعني که نوې ښځه باکره وي نو د هغې سره به اووه (۷) ورځي قيام کوي، او که ثيبه وي نو درې (۳) ورځي به قيام ورسره کوي، او په بل حديث کي ذکر سوي دي: "مِنَ السُّنَّةِ إِذَا تَزَوَّجَ الْبِكْرُ عَلَى الثَّيِّبِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا ثُمَّ قَسَم. وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبُ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ قَسَم. الحديث".

صاحب د کفايې د احنافو له طرفه د دې حديثونو دا جواب ورکړی دی دی چې په دغه حديثونو کي بيان سوی حکم د أوليت او افضليت دی، يعني د دې مطلب دا دی چې خاوند ته پکار دي چې نوې ښځه تر زړو ښځو مخکي کړي او اول دي د هغې سره قيام وکړي، وروسته دي په نورو ښځو کي خپل واري او نوبت وټاکي، د حضرت ام سلمه ﷺ حديث هم د دې مطلب تائيد کوي، هغه دا دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: "إِنْ شِئْتِ سَبَعْتُ لَكِ وَسَبَعْتُ لَهُنَّ" (اې أم سلمه! که ستا خوښه وي نو (۷) ورځي به ستا سره اووسم او (۷) ورځي به د نورو ښځو [بيبيانو] سره اووسم)، تاسي اوګورئ! چې د أم سلمه ﷺ د ثيبه والي باوجود نبي کريم ﷺ د نورو بيبيانو په څير د هغې لپاره هم (۷) ورځي ټاکلي وې، که چيري په دې سلسله کي د ثيبې او باکرې ترمينځ فرق وای، نو ګران پيغمبر ﷺ به خامخا پر دې موقع د هغه وضاحت کړي وای او د جواز د بيان لپاره به يې کم از کم ضرور يو وار د دې څرګندونه کړې وای.

ولأن إلخ: په دې سره صاحب د کتاب په واري کي د فرق نه کولو په هکله عقلي دليل پېشوي، حاصل يې دا دی چې قسم (يعني هري ښځي ته خپل وار او نوبت ورکول) د نکاح له حقوقو او وجباتو څخه دی، او څرنګه چې په نورو حقوقو مثلاً په نفقه، سکنیٰ او طعام کي زړه او نوې ښځه، باکره او ثيبه ښځه ټولي سره برابري دي، همداسي به په قسم او نوبت کي هم ټولي سره مساوي او برابري وي او يوې ته به هم پر بلي هيڅ فوقيت او فضيلت حاصل نه وي.

والاختيار إلخ: فرمايي چي د ښځو تر مينځ د واري او نوبت تاکلو حق او اختيار خاوند لره دی. نه ښځو لره، ځکه چي د ښځو تر مينځ صرف مساوات او برابري واجب ده، د هغه طريقه واجب نه ده، يعني هر ښځه خو خپل د حق او نوبت مطالبه کولای سي، لېکن داسي نه سي کولای چي د بلي ښځي د حق او حصې په باره کي پر خاوند يو نمه واري لازمه کړي.

او مساوات فقط د شپې تېرولو او وسېدلو سره تعلق لري، د جماع سره د هغه هيڅ تعلق نسته. ځکه چي د جماع دار ومدار د انسان پر صحت، نشاط او د زړه پر ليوالتيا دی، او دغه شيان د انسان په وس او طاقت کي نه دي.

په مينځه او آزاده ښځه کي د عدل کولو تفصيل

وَإِنْ كَانَتْ إِحْدَاهُمَا حُرَّةً وَالْأُخْرَى أَمَةً او که له دوو ښځو څخه يوه آزاده وي او بله مينځه وي **فَلِلْحُرَّةِ الثُّلُثَانِ مِنَ الْقَسْمِ** نو د آزادي ښځي لپاره به د نوبت دوه ثلثه [دوې حصې] وي **وَلِلْأَمَةِ الثُّلُثُ** او د مينځي لپاره به [فقط] يو ثلث وي **بِذٰلِكَ وَرَدَ الْأَثَرُ** * د همدغه حکم په هکله أثر وارد سوی دی **وَلِأَنَّ حِلَّ الْأَمَةِ أَنْقَصُ مِنْ حِلِّ الْحُرَّةِ** او ځکه چي د مينځي حلالېدل د آزادي ښځي تر حلالېدلو کم دي **فَلَا بُدَّ مِنْ إِظْهَارِ النُّقْصَانِ فِي الْحُقُوقِ** نو ځکه په حقوقو کي [هم] کمتوب ښکاره کول ضروري دي **وَالْمُكَاتَبَةُ وَالْمُدَبَّرَةُ وَأُمُّ الْوَلَدِ بِمَنْزِلَةِ الْأَمَةِ** او مکاتبه، مدبره او أمِ ولد د مينځي په درجه کي دي **لِأَنَّ الرِّقَّ فِيهِنَّ قَائِمٌ** ځکه چي په دوی ټولو کي [هم] غلامتوب پاته وي.

اللغات: ﴿ثُلُثَان﴾ دوې دريمي حصې. ﴿أَثَر﴾ د صحابي او تابعي قول، روايت. ﴿أَنْقَص﴾ د اسمِ تفضيل صيغه ده: ډېر کم (کمتر).

تشريح: په تېر عبارت کي د آزادو ښځو په هکله د عدل او مساوات حکم بيان سو. په دې عبارت کي د دې حکم بيانوي چي که د يو سړي په نکاح کي يوه آزاده ښځه وي او بله مينځه وي، نو په دې صورت کي به د دوی تر مينځ په قسم او نوبت کي مساوات نه کيږي بلکي آزادي ښځي ته به د نوبت دوه ثلثه ورکول کيږي او مينځي ته به يو ثلث ورکول کيږي (يعني آزادي ښځي ته به دوې ورځي ورکول کيږي او مينځي ته به يوه ورځ).

صاحب د کتاب په دليل کي فرمايي چي د همدغه فرق په باره کي أثر وارد سوی دی. هغه دا چي حضرت علي ﷺ فرمايي: "إذَا تَزَوَّجَتِ الْحُرَّةُ عَلَى الْأَمَةِ قَسَمَ لَهَا يَوْمَيْنِ وَلِلْأَمَةِ يَوْمًا" او له هيچا څخه هم د دې په خلاف حکم نه دی نقل سوی، لهذا د حضرت علي ﷺ دغه فرمان د إجماع په درجه کي دی. والإجماع حجة لنا.

---

* الأثر: دار قطني، كتاب النكاح، ج:۳، ص:۱۹۸، رقم: ۳۶۹۵. سنن بيهقي، باب الحر ينكح حرة على الأمة فيقسم...، ج:۷، ص:۴۸۹، رقم: ۱۴۷۵۰.

ولأن إلخ: عقلي دليل دا دی چي په مينځه کي دآزادي ښځي په نسبت حلت کم دی، همدا وجه ده که څوک پر آزادي ښځي قدرت لري نو د هغه لپاره د مينځي سره نکاح کول جائز نه دي (يعني مينځه هغه وخت د انسان لپاره حلاليږي کله چي هغه پر آزادي ښځي قدرت نه لري، نو معلومه سوه چي د هغي د حلت درجه کمه او آخري ده). همدرنګه پر آزادي ښحي د مينځي سره نکاح کول جائز نه دي، نو کله چي په حلت او نورو احکامو کي مينځه له آزادي ښځي څخه شاته او پاته ده، نو د قَسم (واري) په حکم کي به هم تر آزادي ښځي شاته او کمه وي او د دوو ثلثو په مقابله کي به فقط ديوه ثلث حقداره وي.

والمكاتبة إلخ: فرمايي چي په مکاتبه، مدبره او أم ولد مينځو کي هم څه نا څه رقيّت (غلاموالى) پاته وي، لهذا کوم حکم چي د خالص مينځي دی هغه حکم به د دوی هم وي، او مينځي ته دآزادي ښځي نيم حق ورکول کيږي، لهذا دوی ته به هم دآزادي ښځي نيم حق ورکول کيږي.

د سفر په حالت کي د عدل کولو بيان

قَالَ: وَلَا حَقَّ لَهُنَّ فِي الْقَسْمِ حَالَةَ السَّفَرِ فرمايي: چي په حالت د سفر کي په نوبت [واري] کي د ښځو هيڅ حق نسته فَيُسَافِرُ الزَّوْجُ بِمَنْ شَاءَ مِنْهُنَّ لهذا خاوند به سفر کوي په هغه ښځي سره کوم چي د خاوند خوښه وي وَالْأَوْلَى أَنْ يُقْرِعَ بَيْنَهُنَّ [خو] غوره دا ده چي د دوی په مينځ کي قرعه اندازي [قرعه کشي] وکړي فَيُسَافِرُ بِمَنْ خَرَجَتْ قُرْعَتُهَا او د کومي ښځي [په نامه] چي قرعه راووځي په هغې سره دي سفر وکړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: الْقُرْعَةُ مُسْتَحَقَّةٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي قرعده اندازي کول واجب دي لِمَا رُوِيَ: أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] كَانَ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ ځکه روايت سوی دی: چي کله به نبي کريم ﷺ ديو سفر اراده وکړه نو د خپلو بيبيانو په مينځ کي به يې قرعه اندازي کوله إِلَّا أَنَّا نَقُولُ: إِنَّ الْقُرْعَةَ لِتَطْيِيبِ قُلُوبِهِنَّ لېکن موږ وايو: چي [د نبي کريم ﷺ] قرعه اندازي د دوی د زړونو د ښه کولو [او تسلی] لپاره وه فَيَكُونُ مِنْ بَابِ الِاسْتِحْبَابِ لهذا قرعه اندازي به د استحباب له قبيلې څخه وي ايعني مستحب به وي، نه واجب] وَهَذَا لِأَنَّهُ لَا حَقَّ لِلْمَرْأَةِ عِنْدَ مُسَافَرَةِ الزَّوْجِ او د دې وجه دا ده چي د خاوند د سفر کولو په حالت کي ښځي لره [د نوبت] هيڅ حق نسته أَلَا يُرَى أَنَّ لَهُ أَنْ لَا يَسْتَصْحِبَ وَاحِدَةً مِنْهُنَّ آيا هغه نه ګوري چي د خاوند لپاره [دا] حق سته چي له ښځو څخه يوه هم [په سفر کي] د ځان سره ملګرې نه کړي فَكَذَا لَهُ أَنْ يُسَافِرَ بِوَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ نو د هغه

---

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجه فى النكاح، باب القسمة بين النساء، حديث رقم: ١٩٧٠. و ابو داؤد فى كتاب النكاح، بـاب فـى القسم بين النساء، حديث رقم: ٢١٣٧.

لپاره به دا حق هم وي چې په دوی کې په يوې سره سفر وکړي وَلَا يُحْتَسَبُ عَلَيْهِ بِتِلْكَ الْمُدَّةِ او دا د سفرا مودت به پر هغه نه شمارل کیږي وَإِنْ رَضِيَتْ إِحْدَى الزَّوْجَاتِ بِتَرْكِ قِسْمِهَا لِصَاحِبَتِهَا او که يوه ښځه د خپلې ملګرې [بن] لپاره د خپل نوبت په پرېښوولو راضي سي جَازَ نو [دا] جائز دي لِأَنَّ سَوْدَةَ بِنْتَ زَمْعَةَ رضي الله عنها سَأَلَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ أَنْ يُرَاجِعَهَا وَتَجْعَلَ يَوْمَ نَوْبَتِهَا لِعَائِشَةَ رضي الله عنها ځکه چې حضرت سوده بنت زمعې رضي الله عنها له نبي کريم ﷺ څخه دا غوښتنه وکړه چې [نبي کريم ﷺ] هغې ته رجوع وکړي او هغه [سوده رضي الله عنها] به خپل د نوبت ورځ حضرت عائشې ته ورکړي وَلَهَا أَنْ تَرْجِعَ فِي ذٰلِكَ او دغه [د نوبت پرېښوونکي] ښځې لره دا حق سته چې خپل په نوبت کې رجوع وکړي [يعني چې خپل نوبت بيرته له ښځې څخه واخلي] لِأَنَّهَا أَسْقَطَتْ حَقًّا لَمْ يَجِبْ بَعْدُ ځکه چې دغه ښځې خپل داسې حق ساقط کړی کوم چې تر اوسه واجب سوی نه وو فَلَا يَسْقُطُ نو ځکه به هغه نه ساقطيږي.

اللغات: ﴿يُقْرَعُ﴾ د فتح مضارع ده: قرعه اندازي کول (بچه اچوونه)، ﴿تَطْيِيْبُ قَلْبٍ﴾ د يو چا زړه ورښه کول، مطمئن کول، تسلي ورکول، ﴿لَا يَسْتَصْحِبُ﴾ د استفعال له باب څخه د نفي معلوم صيغه ده: د ځان سره ساتل، د ځان ملګري کول، ﴿لَا يُحْتَسَبُ﴾ د افتعال له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: حسابل، شمېرل (شمارل)، ﴿نَوْبَةٌ﴾ وار (واری).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د اقامت په حالت کې خو ښځې د قسم او نوبت حق لري لېکن د سفر په قسم او نوبت کې د يوې ښځې لپاره هم هيڅ حق نسته او خاوند لره اختيار دی چې کومه ښځه يې زړه وغواړي هغه دې د ځان سره بوزي، خو زموږ په نيز غوره او مستحب دا ده چې خاوند د ښځو د تسلی لپاره په هغوی کې قرعه اندازي وکړي، او د کومې يوې نوم چې په قرعه (پچه) کې را ووځي هغه دې په سفر کې د ځان سره بوزي.

د دې په خلاف امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: څرنګه چې نفقه او خرچه د ښځو حق ده او پر خاوند واجب ده، همدارنګه قرعه اندازي هغه د هغو حق ده او پر خاوند لازم او واجب ده چې قرعه اندازي وکړي او له قرعه اندازۍ څخه بغير به يوه ښځه نه بيايي.

د امام شافعي دليل: د حضرت عائشې رضي الله عنها دا حديث دی "چې کله به نبي کريم ﷺ د سفر اراده کوله نو په خپلو بيبيانو کې به يې قرعه اندازي کوله، او د کومې بي بي نوم چې به څرګند سو هغه به يې په سفر کې د

● تخريج: أخرجه البخاري، باب المرأة تهب يومها من زوجها لضرتها، حديث رقم:٥٢١٢. والبيهقي في كتاب النكاح، باب ما يستدل به على أنّ النبي ﷺ في سوى ذكرنا، حديث رقم: ١٣٤٣٥.

ځان سره بېوله"، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې له دې حديث څخه معلومه سوه چې قرعه اندازي د نبي کريم ﷺ عمل او معمول وو، لهذا اُمت لره هم ضروري ده چې دوی د عدل او مساوات په باب کې په ټينګار او پابندۍ سره نبوي معمول خپل کړي، او دا هغه وخت ممکن دي چې کله پر خاوند قرعه اندازي واجب وګرځول سي.

زموږ دليل: او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د ذکر سوي حديث جواب دا دی چې د خپلو بيبيانو تر مينځ د نبي کريم ﷺ قرعه اندازي کول د وجوب او لزوم په توګه نه وه بلکي دا د دوی د تسلی او خيال ساتلو په خاطر وه، او په داسي عمل سره وجوب نه ثابتيږي.

دويمه خبره دا ده چې کله دا قامت په حالت کي پر نبي کريم ﷺ واري او نوبت ټاکل واجب او ضروري نه وو نو د سفر په حالت کي به پر هغه داسي کول څرنګه واجب وو!، قرآن خو په ښکاره لفظو سره دا حقيقت بيان کړی دی: "تُرْجِيْ مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِيْ إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ". [سورة الأحزاب:۲۱]

د قرعه اندازۍ د نه واجبېدلو بل (دريم) علت دا دی چې د سفر کي په حالت پر خاوند د ښځو هيڅ حق نه پاتيږي، له همدې کبله خاوند ته د دې اختيار هم سته چې هغه يک تنها سفر وکړي او يوه ښځه هم د ځان سره نه بوزي، لهذا کله چې هغه ته د تنها سفر کولو او د يوې ښځي د نه بېولو اختيار سته، نو هغه ته به د دې خبري اختيار هم وي چې کومه يوه هغه وغواړي د خپل ځان سره يې بوزي.

او څومره ورځي چې خاوند يو ښځه د ځان سره بېولي وي هغه ورځي به له واري او نوبت څخه نه شمارل کيږي، بلکي کله چې کور ته راسي، نو له شروع څخه به ټولو ښځو ته برابر واري ورکوي.

وإن رضيت إلخ: په دې سره دا خبره بيانوي چې که يوه ښځه بلي ښځي ته خپل وار او نوبت ورکول وغواړي او په دې راضي سي، نو په دې کي هيڅ حرج نسته؛ ځکه کله چې نبي کريم ﷺ حضرت سودة بنت زمعه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته طلاق ورکړی، نو هغې نبي کريم ﷺ ته د رجعت کولو خواست وکړی او خپل وار يې حضرت عائشې رضي الله عنها ته ورکړی، دا واقعه د دې خبري تائيد کوي چې کومه ښځه خپل بَنْ ته د خپل واري حق ورکړي، نو په دې کي هيڅ حرج او پروا نسته.

همدارنګه که ښځه وروسته خپل حق ته رجوع وکړي يعني خپل حق واپس اخيستل وغواړي، نو هم هغې ته د دې پوره اختيار سته؛ ځکه چې بلي ښحي ته د حق په ورکولو سره دغه ښځي خپل داسي حق ساقط کړی کوم چې تر اوسه واجب سوی نه دی (ځکه چې هغې خپل را روان نوبت ساقط کړی دی او هغه تر اوسه د هغې لپاره لازم سوی نه دی)، نو د ښځي د رجوع کولو مطلب به دا وي چې هغه بيرته له خپل نوبت ورکولو څخه منع سوه، او دا به يې مطلب نه وي چې هغې يو ساقط کړی سوی شی واپس واخيستی. او بل دا چې دا صورت د عاريت ورکولو په څير دی، او مُعير لره هر وخت د خپل عاريت اخيستلو اختيار سته. والله أعلم بالصواب

كِتَابُ الرَّضَاعِ

(دا) کتاب د رضاعت (د احکامو په بیان کي) دی

تشریح: "رَضَاع" (د راء په فتحه سره) د ضرب، فتح او سمع له بابونو څخه مصدر دی، د راء په کسره سره هم ویل کېدای سي، خو أصل یې د فتحې لغت دی. څرنګه چي د نکاح مقصد توالد او تناسل دی او له شیدو او غذایي ودي څخه بغیر دغه شیان مستحکم کېدلای نه سي، نو ځکه صاحب د کتاب له "کِتَابُ النکاح" څخه وروسته اوس "کِتَابُ الرّضَاع" بیانوي.

د رضاع لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د رضاع لغوي معنیٰ ده: د مور له سینې (تیو) څخه شیدې رودل، او اصطلاحي معنیٰ یې ده: "په ځانګړي وخت کي (یعني د رضاعت په مودت کي) د یو ښځي له سینې څخه د ځانګړي کوچني (یعني د رضیع بچي) شیدې رودل.

د "حرمتِ رضاعت" بیان

قَالَ: قَلِيْلُ الرَّضَاعِ وَكَثِيْرُهُ سَوَاءٌ فرمایي: چي [کوچني ته] لږ شیدې ورکول او زیاتي شیدې ورکول [دواړه] سره برابر دي إِذَا حَصَلَ فِي مُدَّةِ الرَّضَاعِ کله چي د رضاعت په مودت کي دا [شیدې ورکول] واقع سي تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيْمُ نو د هغه سره حرمت متعلق کیږي [یعني په هغه سره حرمتِ رضاعت ثابتیږي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَثْبُتُ التَّحْرِيْمُ إِلَّا بِخَمْسِ رَضَعَاتٍ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي حرمت نه ثابتیږي مګر په پنځو غړپونو سره لِقَوْلِهِ الْعَلَيْةِ [1]: لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا الْمَصَّتَانِ ځکه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: چي نه حراموي [یعني حرمت نه ثابتوي] یو وار ځبېښل [رودل] او نه دوه واره ځبېښل وَلَا الْإِمْلَاجَةُ وَلَا الْإِمْلَاجَتَانِ او نه یو وار شیدې ورکول [حرمت ثابتوي] او نه دوه واره شیدې ورکول وَلَنَا: قَوْلُهُ تَعَالَىٰ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاتِي أَرْضَعْنَكُمْ [النساء: ۲۳] او زموږ دلیل د الله تعالیٰ [دا] قول دی: او [ستاسو لپاره] ستاسي هغه مندې حرامي دي چي هغوی تاسو ته شیدې درکړي وي وَقَوْلُهُ الْعَلَيْةِ [2]: يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ او [همدارنګه] د نبي ﷺ

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم فى كتاب الرضاع، باب فى المصة والمصتان، حديث رقم: ۱۷، ۱۸.

[2] تخريج: أخرجه البخارى فى كتاب الشهادات، باب الشهادة على الأنساب والرضاع، حديث رقم: ۲۶۴۵.

[دا] قول دی: کوم څه چي په نسب سره حراميږي هغه په رضاعت سره [هم] حراميږي مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ بغير له څه تفصيل شخحه [دغه حديث وارد سوی دی] وَلِأَنَّ الْحُرْمَةَ وَإِنْ كَانَتْ لِشُبْهَةِ الْبَعْضِيَّةِ الثَّابِتَةِ بِنُشُوِّ الْعَظْمِ وَإِنْبَاتِ اللَّحْمِ او په دې وجه [هم] چي حرمت که څه هم د هغه جزئيت د شبهې په وجه دی کوم چي ثابت دی د هلوکو په وده کولو او د غوښو په پيدا کولو سره [يعني په شيدو ورکولو سره چي حرمتِ رضاعت ثابتيږي د هغه وجه که څه هم دا ده چي په شيدو سره د کوچني بدن او هلوکي وده کوي او په دې سره د هغه په بدن کي غوښه پيدا کيږي. خو دا يو پټ او ناڅرګند کار دی] لَكِنَّهُ أَمْرٌ مُبْطَنٌ خو دا يو پټ [مخفي] کار دی فَتَعَلَّقَ الْحُكْمُ بِفِعْلِ "الْإِرْضَاعِ" نو ځکه به حکم د "شيدو ورکولو" د فعل سره متعلق وي وَمَا رَوَاهُ مَرْدُودٌ بِالْكِتَابِ أَوْ مَنْسُوخٌ بِهِ او کوم [حديث] چي امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت کړی دی هغه په کتابُ الله سره مردود دی يا په کتابُ الله سره منسوخ دی وَيَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ فِي مُدَّةِ الرَّضَاعِ او مناسب دا ده چي دا [د شيدو رودل] به د رضاعت په مودت کي [دننه] وي لِمَا نُبَيِّنُ د هغه دليل په وجه چي موږ به يې [څه وروسته] بيان کړو.

اللغات: ﴿رَضَعَات﴾ جمع د رَضْعَةٌ ده، د رَضْعَةٌ معنی ده: يو وار شيدې ورکول، غړپ (د شيدو غړپ)، ﴿مَصَّة﴾ يو وار ځبېښل (رودل)، ﴿إِمْلَاجَة﴾ دإفعال د باب مصدر دی: تي ته کوچنی ور اچول (يعني شيدې ورکول)، ﴿نُشُوْء﴾ وده کول، غټېدل، لوېدل، ﴿إِنْبَات﴾ د افعال مصدر دی: راشنه کول، مراد ځني پيدا کول دي، ﴿أَمر مُبْطَن﴾ پټه معامله، ناڅرګند او مخفي کار.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو ښځه د رضاعت په مودت کي يو کوچني ته خپلې شيدې ورکړي، نو د احنافو په نېز په دې سره "حرمتِ رضاعت" ثابتيږي، برابره ده هغه کوچنی لږ شيدې ورودي (وچيبني) او که زياتي، او برابره ده يو وار يې ورودي او که څو واره، د دې په خلاف امام شافعي رَحِمَهُ الله په لږ او ډېر کي فرق کړی دی، هغه فرمايي چي د حرمتِ رضاعت د ثبوت لپاره کم از کم پنځه واره په ماړه نس د کوچني شيدې رودل ضروري دي (يعني هر وار به دغه کوچني دومره شيدې رودلي وي چي هغه د ده لپاره کافي وي او پوره په موړ سي)، او که له پنځو وارو څخه کم داسې وسي نو حرمتِ ضاعت نه ثابتيږي.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی: "لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّة ... إلخ"، يعني يو وار شيدې رودل او يو وار کوچني ته خپلې شيدې ورکول د حرمتِ رضاعت سبب نه دی، امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې حديث سره په دې توګه دليل نيسي چي په دغه حديث کي په ښکاره لفظو سره دا خبره ذکر سوې ده چي په لږ مقدار سره حرمت نه ثابتيږي، لهذا اوس دا ضروري ده چي د لږ او ډېر تر مينځ فرق وکړی سي.

فقط په ډېر مقدار (مقدارِ کثیر) سره به حرمتِ رضاعت ثابتیږي لیکن لږ مقدار به معاف وي او حرمت به نه په ثابتیږي.

زموږ دلیل: دا دی چي دا آیت "وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ" مطلق دی، همدارنګه په دې حدیث "يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَب" کي هم مطلق حکم وارد سوی دی او د قلیل او کثیر تر مینځ هیڅ فرق نه دي پکښي ذکر سوی، لهذا څرنګه چي په مقدارِ کثیر سره حرمت ثابتیږي، همداسي به مقدارِ قلیل سره هم حرمت ثابتیږي، او په دې کي به څه قید لګول پر کتاب او سنت زیاتوب کول وي.

ولأن الحرمة إلخ: په دې سره زموږ عقلي دلیل بیانوي کوم چي په أصل کي د یو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي په مقدارِ قلیل سره حرمتِ رضاعت ثابتېدل پکار نه دي؛ ځکه په شیدو رودلو (رضاعت) سره د حرمت ثابتېدلو وجه دا ده چي د شیدو رودلو په وجه د کوچني غوښي او هډوکي وده (نما) وکړي او اضافه پکښي راسي او د یوه انسان جزئیت او بعضیت په بل کي داخل سي، او د شیدو په لږ مقدار سره دا خبره نه ثابتیږي، لهذا په لږ مقدار سره دي حرمتِ رضاعت نه ثابتیږي.

د دې په جواب کي فرمايي چي په شیدو رودلو سره د غوښو او هډوکو وده کول او د یوه جزئیت په بل کي داخلېدل یو مخفي او باطني کار دی، او څرنګه چي په یوه او دوه واره رودلو سره هغه نه سي اندازه کېدلای، همدارنګه په پنځه واره رودلو سره هم هغه په صحیح توګه نه سي اندازه کېدلای، لهذا د حرمت مدار به فقط پر رودلو (چیبنلو) وي، هغه که یو وار وي او که پنځه واره.

وما رواه إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب ورکوي، فرمايي که چیري ستاسو حدیث تر کتابُ الله مؤخر (وروسته) وي، نو ښکاره خبره ده چي د کتابُ الله په وجه به حدیث پرېښوول کیږي او په کتابُ الله به عمل کیږي لأن العمل على الكتاب أولى، او که دا حدیث تر کتابُ الله مخکي وي او قرآني آیت تر هغه وروسته وي، نو په دې صورت کي به ستاسو حدیث په کتابُ الله سره منسوخ کیږي او کتابُ الله (قرآن کریم) به د هغه لپاره ناسخ جوړیږي.

همدارنګه له ابن عباس څخه روایت سوی دی چي په دې حکم "لا تُحَرِّمُ الرَّضْعَةُ وَالرَّضْعَتَان" سره به مخکي عمل کېدی لیکن وروسته دا حکم منسوخ سو او اوس رضعةِ واحده (یو وار رودل) هم د حرمتِ رضاعت د ثبوت لپاره کافي دی.

وینبغي إلخ: فرمايي چي په شیدو رودلو سره هغه وخت حرمت ثابتیږي چي هغه په خپل مودت (یعني د رضاعت په مودت) کي واقع سي، او په دې مودت کي د علماؤ اختلاف دی چي هغه به په را روان عبارت کي په واضحه توګه بیان سي.

د رضاعت د مودت زيات مقدار (د فقهاؤ قولونه)

ثُمَّ مُدَّةُ الرَّضَاعِ ثَلَاثُونَ شَهْرًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ بيا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د رضاعت مودت دېرش [٣٠] مياشتي ده وَقَالَا●: سَنَتَانِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي دوه كاله ده وَهُوَقَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ زُفَرُ: ثَلَاثَةُ أَحْوَالٍ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي: دري كاله ده لِأَنَّ الْحَوْلَ حَسَنٌ لِلتَّحَوُّلِ مِنْ حَالٍ إِلَى حَالٍ ځكه چي له يو حالت څخه بل حالت ته د نقل كېدلو لپاره يو كال ښه [او مناسب مودت] دی وَلَا بُدَّ مِنَ الزِّيَادَةِ عَلَى الْحَوْلَيْنِ او پر دوو كالو زياتوب [اضافه] كول ضروري دي لِمَا نُبَيِّنُ د هغه دليل په وجه چي موږ به يې بيان كړو فَيُقَدَّرُ بِهِ لهذا په يوه كال سره به [دغه زياتوب] اندازه كيږي [نو ځكه به د رضاعت مودت دري كاله وي] وَلَهُمَا: قَوْلُهُ تَعَالَى: وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا [الأحقاف: ١٥] او د صاحبينو دليل د الله تعالىٰ دا قول دی: او حمل د كوچني او د هغه جلا كول [يعني له تي څخه د هغه پرېكول] دېرش مياشتي وي [يعني دا په دېرشو مياشتو كي وي] وَمُدَّةُ الْحَمْلِ أَدْنَاهَا سِتَّةُ أَشْهُرٍ او د حمل كم مودت شپږ مياشتي دی فَبَقِيَ لِلْفِصَالِ حَوْلَانِ لهذا [له تي څخه] د جلا كولو لپاره دوه كاله باقي پاته سول وَقَالَ النَّبِيُّ عَلَيْهِ السَّلَامُ●: لَا رَضَاعَ بَعْدَ حَوْلَيْنِ او [د صاحبينو دويم دليل دا دی چي] نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: تر دوو كالو وروسته رضاعت نسته وَلَهُ هٰذِهِ الْآيَةُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل [هم] دغه آيت دی وَوَجْهُهُ أَنَّهُ تَعَالَى ذَكَرَ شَيْئَيْنِ او د هغه وجه [د استدلال] دا ده چي الله تعالىٰ [په دې آيت كي] دوه شيان ذكر كړي دي وَضَرَبَ لَهُمَا مُدَّةً او د دواړو لپاره يې يو مودت بيان كړی دی فَكَانَتْ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِكَمَالِهَا لهذا هغه مودت به په دوی كي د هر يوه لپاره په پوره توګه ثابت وي كَالْأَجَلِ الْمَضْرُوبِ لِلدَّيْنَيْنِ لكه د دوو قرضونو لپاره ټاكل سوی مودت [چي په دواړو قرضونو كي د هر يوه لپاره په پوره توګه ثابت وي] إِلَّا أَنَّهُ قَامَ الْمُنْقِصُ فِي أَحَدِهِمَا مګر له دوی څخه په يوه كي كموونكي دليل [د حضرت عائشې رضي الله عنها قول] قائم سو فَبَقِيَ الثَّانِي عَلَى ظَاهِرِهِ نو ځكه به دويم پر خپل حال باقي پاته وي وَلِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ تَغَيُّرِ الْغِذَاءِ او په دې وجه [هم]

● القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله ، كذا فى الدر المختار (ج:٢، ص:٤٣٧). [القول الراجح ج:١، ص: ٣٠٣]

● تخريج: اخرجه دار قطني فى كتاب الرضاع، حديث رقم:٤٣١٨.

چي د غذا تبديلي ضروري ده لِيَنْقَطِعَ الْإِنْبَاتُ بِاللَّبَنِ د دې لپاره چي په شيدو سره [د غوښو] پيدا کېدل [او په شيدو سره د بدن او هډوکو وده کول] منقطع سي وَذٰلِكَ بِزِيَادَةِ مُدَّةٍ يَتَعَوَّدُ الصَّبِيُّ فِيهَا غَيْرَهُ او دا تبديلي د يو داسي مودت په زياتولو [اضافه کولو] سره راځي چي په هغه مودت کي کوچنی د بل خوراک سره عادت سي فَقُدِّرَتْ بِأَدْنٰى مُدَّةِ الْحَمْلِ نو د حمل په ادنیٰ مودت سره [يعني په شپږو مياشتو سره] دغه زيادة [زياتوب] اندازه کړی سو لِأَنَّهَا مُغَيِّرَةٌ ځکه چي د حمل ادنیٰ مودت تبديلي پيداکونکی دی فَإِنَّ غِذَاءَ الْجَنِيْنِ يُغَايِرُ غِذَاءَ الرَّضِيْعِ ځکه چي د حمل خوراک [خواړه] د شيرخواره کوچني له خوراک څخه جلا وي كَمَا يُغَايِرُ غِذَاءَ الْفَطِيْمِ لکه څرنګه چي هغه [د شير خواره کوچني خوراک] له شيدو نه د پرېکړی سوي کوچني له خوراک څخه جلا وي وَالْحَدِيْثُ مَحْمُوْلٌ عَلٰى مُدَّةِ الْاِسْتِحْقَاقِ او حديث د استحقاق پر مودت حمل کړی سوی دی وَعَلَيْهِ يُحْمَلُ النَّصُّ الْمُقَيَّدُ بِحَوْلَيْنِ فِي الْكِتَابِ او پر همدغه استحقاق هغه آيت [هم] حمل کيږي کوم چي په قرآن کي په "حَوْلَيْن" [دوو کالو] سره مقيد دی.

اللغات: ﴿تَحَوُّل﴾ د تفعّل مصدر دی: نقل کېدل، ګرځېدل (مخ اړول)، ﴿فِصَال﴾ جلا کول، کوچني له شيدو څخه پرېکول، ﴿ضَرَبَ﴾ د دې باب ډيري معناوي دي، چي يوه معنیٰ د "ټاکلو او متعينولو" هم ده او د "بيانولو" په معنیٰ سره هم راځي، ﴿مُنْقِص﴾ د افعال له باب څخه اسمِ فاعل دی (د تفعيل له باب څخه هم راتلی سي): ناقصونکی، کمونکی، ﴿جَنِيْن﴾ کوچنی چي تر څو د مور په نس کي وي هغه ته "جَنِيْن" وايي (مطلب دا چي کله حمل غټ سي نو هغه ته جنين وايي)، ﴿فَطِيْم﴾ کوچنی چي کله له تي څخه پرېکړی سي نو هغه ته "فَطِيْم" وايي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د رضاعت مودت دېرش (۳۰) مياشتي يعني دوه نيم کاله ده، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دوه کاله يعني څلورويشت (۲۴) مياشتي ده، او همدا د ائمه ثلاثه وو مسلک هم دی، د دې په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز د رضاعت مودت درې (۳) کاله ده.

د امام زفر دليل: دا دی چي د دوو کالو تر پوره کېدلو وروسته د يو داسي مودت وجود ضروري دی چي په هغه کي کوچنی خپل عادت او فطرت بدل کړي او د هغه وده (او نما) له شيدو څخه په غذا او

خوراک بدله سي (يعني دوه کاله خو د رضاعت او د شيدو رودلو لپاره وئ او تر دوو کالو وروسته څه نا څه دومره وخت او مودت د کوچني لپاره ضروري دی چي په هغه کي د کوچني عادت له شيدو رودلو څخه په خوراک بدل سي) او د دې بدلون لپاره يو کال دېر ښه مودت دی؛ ځکه چي په يوه کال کي څلور مختلف موسمونه راځي، نو يو کال چي پر دوو کالو زيات کړی سي نو درې (٣) کاله کيږي. نو ځکه به د رضاعت مودت درې (٣) کاله وي.

د صاحبينو دليل: د قرآن کريم دا آيت دی "وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا"، په دې آيت سره صاحبين په دې توګه دليل نيسي چي الله د حمل او فصل دواړو لپاره دېرش (٣٠) مياشتي مودت ټاکلی دی. او د حمل کم مودت شپږ (۶) مياشتي وي، نو له دېرشو مياشتو څخه چي شپږ مياشتي وېستل سي نو څلورويشت (٢۴) مياشتي پاتيږي، نو ځکه به څلورويشت (٢۴) د رضاعت مودت وي.

دويم دليل: د دوی دويم دليل د قرآن کريم دا آيت دی: "وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ"، يعني څوک چي د رضاعت مودت پوره کول غواړي نو د هغه لپاره به مندي دوه (٢) پوره کاله بچي ته شيدې ورکوي، همدارنګه په حديث مبارک کي ذکر سوي دي چي "لَا رَضَاعَ بَعْدَ الْحَوْلَيْنِ" يعني تر دوو کالو وروسته رضاعت نسته. نو له دې دليلونو څخه په واضحه توګه دا ښکاره کيږي چي بس همدغه دوه کاله د رضاعت مودت او نېټه ده، او تر دوو کالو وروسته نه د رضاعت ثبوت سته او نه په هغه رضاعت سره حرمت ثابتيږي. لکه څرنګه چي په دې باره کي له ابن عدي رَحِمَهُ الله څخه هم دا روايت سوی دی: "لَا يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ إِلَّا مَا كَانَ فِي الْحَوْلَيْنِ".

د امام صاحب دليل: هم هغه آيت دی کوم چي اول صاحبينو په خپل دليل کي وړاندي کړی يعني "وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا"، په دې آيت سره امام صاحب رَحِمَهُ الله په دې توګه دليل نيسي چي الله تعالىٰ په دغه آيت کي د دوو جلا شيانو (فصال او حمل) مودت يو ځای بيان کړی دی (يعني د رضاعت مودت يې هم بيان کړی دی او د حمل مودت هم بيان کړی دی او د دواړو لپاره يې دېرش مياشتي ذکر کړي دي)، لهذا دغه مودت به د دواړو لپاره جلا، جلا په پوره توګه ثابتيږي. لکه څرنګه چي يو څوک د دوو جلا قرضونو (پورونو) لپاره يو مودت بيان کړي، مثلاً د زيد پر خالد پيسې (روپۍ) هم باندي وي او غله (مثلاً غنم يا داسي بل شی) يې هم پر باندي وي، او زيد خالد ته داسي ووايي چي "زه تا ته د خپل قرض (پور) لپاره يو کال مهلت درکوم (او يو کال وروسته به ما ته خپل قرض راکوې)"، نو دا يو کال مودت به په دې دواړو قرضونو (روپۍ او غله) کي د هر يوه لپاره په پوره توګه ثابتيږي او پر دواړو به نه تقسيميږي، همداسي به په دغه آيت کي د "ثلاثون شهرًا" مودت هم

په حمل او فصال کې د هر يوه لپاره په پوره توګه ثابت وي او پر دواړو به نه تقسيميږي، خو څرنګه چې په دې دواړو کې د يوه په هکله يعني د حمل په هکله يو مُنقِص (کمونکي دليل) هم موجود دی، او هغه د حضرت عائشې ﷞ دا قول دی: "لَا يَبْقَى الْوَلَدُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَكْثَرَ مِنْ سَنَتَيْنِ وَلَوْ بِقَدْرِ فَلْكَةِ مِغْزَلٍ" (يعني بچی د خپلې مور په نس کې تر دوو کالو زيات نه پاتيږي که څه هم په اول کې د څرخې د کړی (حلقې) په اندازه کوچنی وي[1]) (فتح القدير، الكفاية)، نو د دې مُنقص په خاطر مور د حمل له مودت څخه شپږ مياشتې کمې کړې او د هغه مودت مو دوه (۲) کاله وګرځوی، او څرنګه چې د رضاعت په هکله هيڅ مُنقص نسته، نو ځکه به د هغه په هکله د قرآن حکم "ثلاثون شهرًا" پر خپل اصل پاته وي او په هغه کې به هيڅ ډول کمي او تخفيف نه کيږي.

ولأنه إلخ: په دې عبارت سره د امام صاحب عقلي دليل بيانوي، حاصل يې دا دی چې د کوچني او له غذا شيدې وي او د وخت په تېرېدو سره په دې کې تغيّر او بدلون راځي او کوچنی د خوراک سره عادت کيږي، او دا خبره تسليم سوې ده چې په يوه وار کوچنی له شيدو څخه نه پرېکول کيږي، لهذا له شيدو څخه د پرېکولو لپاره يو داسې مودت ضروري دی چې په هغه کې په ورو ورو (په کراره کراره) کوچني له شيدو څخه پرې سي او د نورو خوراکي شيانو سره عادت سي، او په تجربه سره دا خبره ثابته سوې ده چې د حمل ادنیٰ مودت يعني شپږ مياشتې يو داسې مودت دی چې په هغه کې له يوه حالت څخه و بل حالت ته تغير او بدلون راتلی سي او کوچنی د خوراک سره عادت کېدای سي، نو ځکه مور شپږ مياشتې نورې پر زياتې کړې او د رضاعت مودت مو دېرش (۳۰) مياشتې وګرځوی.

والحديث محمول إلخ: په دې عبارت سره د صاحبينو د حديث "لَا رَضَاعَ بَعْدَ حَوْلَيْنِ" جواب ورکوي، فرمايي چې په دې حديث کې د رضاعت مودت نه دی بيان سوی بلکې په دې حديث کې (پر پلار) د اُجرت د استحقاق مودت بيان سوی دی يعني په پلار باندې د زوی د شيدو لپاره دوه کاله

---

[1] مَغْزَل د څرخې کړی ته وايي (يعني ګردی او سپينيزه حلقه)، څرخه هغه آلې ته وايي چې د هغې په ذريعه له مالوچو (پمبې) څخه تارونه جوړيږي، فَلْكَة دا د چمرې (څرمني) هغه کوچنی توکړې (ټوټې) ته چې په هغه کې د څرخې کړی (مَغزَل) لګول سوې وي (چې هغه ېيخي کوچني وي)، په يوه روايت کې د "فَلْكَة" پر ځای "ظِلّ" ذکر سوی دی، مطلب يې دا دی چې که حمل دومره کوچنی او باريک وي لکه د څرخې د کړی چمره يا سايه چې ګرسره په سترګو نه ليدل کيږي، نو بيا هم هغه خامخا په دوو کالو کې غټيږي او دباندې راوځي، نو ځکه د حمل اکثره مودت دوه کاله دی.

أجرت ورکول ضروري دي (نو که يو سړي خپلي ښځي ته طلاق ورکړي او هغه ښځه په بلې ښځي خپل زوی ته شيدې ورکوي، نو پر پلار [طلاقونکي] د دوو کالو اُجرت لازم دی چي هغه به د دې کوچني د شيدو په عوض کي ورکوي)، او په کوم آيت کي چي دا خبره بيان سوه چي تر دوو کالو پوري به شيدې ورکوي په هغه کي هم د دغه اُجرت ورکولو مودت بيان سوی دی (يعني له هغه څخه مراد دا دي چي په پلار باندي د زوی د شيدو لپاره دوه کاله اُجرت ورکول ضروري دي) او په هغه آيت کي د رضاعت مودت نه دي بيان سوی ځکه چي په هغه آيت کي دا هم ذکر سوي دي "فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا" په دې کي له شيدو څخه د کوچني پرېکول د خاوند او ښځي دواړو په رضاء پوري معلق سوي دي، نو که تر دوو کالو وروسته شيدې ورکول حرام وای نو په رضاء پوري به نه معلق کېدی، لهذا معلومه سوه چي په دې آيت کي هم د رضاعت مودت نه دی بيان سوی، بلکي د اُجرت د استحقاق مودت بيان سوی دی.

راجح قول: په پورتنی مسئله کي که څه هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلائل ډېر دي، خو راجح قول د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دی چي مودت د رضاعت دوه کاله دی (ځکه چي د صاحبينو دليل قوي ښکاري)، لکه څرنگه چي علامه حصکفي رَحِمَهُ الله فرمايي: هو حولان ونصف عنده، وحولان فقط عندهما وهو الأصح وبه يفتى. [القول الراجح ج:١، ص: ٣٠٣]

د رضاعت تر مودت وروسته شيدې رودل

قَالَ: وَإِذَا مَضَتْ مُدَّةُ الرَّضَاعِ فرمايي: کله چي د رضاعت مودت تېره سي لَمْ يَتَعَلَّقْ بِالرَّضَاعِ تَحْرِيمٌ نو د رضاعت سره حرمت نه متعلق کيږي [يعني د رضاعت تر مودت وروسته په شيدو رودلو سره حرمت نه ثابتيږي] لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: لَا رَضَاعَ بَعْدَ الْفِصَالِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي چي: [اله تي څخه] تر پرېکولو وروسته رضاعت نسته وَلِأَنَّ الْحُرْمَةَ بِاعْتِبَارِ النُّشُوْءِ او په دې وجه [هم] چي حرمت د ودې [او نما] په اعتبار سره دی وَذٰلِكَ فِي الْمُدَّةِ او وده [د رضاعت] په مودت کي دننه ثابتيږي إِذِ الْكَبِيْرُ لَا يَتَرَبّٰى بِهِ ځکه چي غټ کوچنی په شيدو سره نه پالل کيږي [بلکي هغه ته نور مناسب خوراکونه ورکول کيږي] وَلَا يُعْتَبَرُ الْفِطَامُ قَبْلَ الْمُدَّةِ او [د رضاعت] تر مودت مخکي [اله تي څخه] پرېکول معتبر نه دي إِلَّا فِي رِوَايَةٍ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ ۞ إِذَا اسْتَغْنٰى عَنْهُ خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په يوه روايت کي [ذکر سوي دي] چي کله کوچنی له شيدو څخه بې پروا سي [نو بيا د رضاعت تر مودت مخکي

۞ القول الراجح: هو ظاهر الرواية (يعني لا يعتبر الفطام قبل المدة)، كما صرّح به قاضيخان وقال: "وفي ظاهر الرواية إذا أرضع في مدة الرضاع يثبت به الحرمة على كل حال" (الخانية ج:١، ص:١٩١). [القول الراجح ج:١، ص: ٣٠٤]

هم له تي څخه پرېكول معتبر دي! وَوَجْهُهُ انْقِطَاعُ النُّشُوِّ بِتَغَيُّرِ الْغِذَاءِ او د دې وجه دا ده چي د غذا په تبديلۍ سره وده او نما منقطع كيږي وَهَلْ يُبَاحُ الْإِرْضَاعُ بَعْدَ الْمُدَّةِ ؟ او آيا [د رضاعت] تر مودت وروروسته شيدې وركول روا دي قَقِيلَ: لَا يُبَاحُ نو يو قول دا دى: چي روا نه دي لِأَنَّ إِبَاحَتَهُ ضَرُورِيَّةٌ ځكه چي د شيدو وركولو روايښت د ضرورت په وجه دى لِكَوْنِهِ جُزْءَ الْآدَمِيِّ ځكه چي شيدې [هم] د انسان يو جزء دى.

اللغات: ﴿لَا يَتَرَبَّى﴾ د تفعّل د باب نفي صيغه ده: پالنه او تربيه كول، وده او پالنه حاصلول، ﴿فِطَام﴾ له تي او شيدو څخه د كوچني پرېكول، له تي او شيدو څخه د پرېكولو زمانه، ﴿إِرْضَاع﴾ د افعال مصدر دى: كوچني ته شيدې وركول، ﴿ضَرُورِيَّة﴾ د ضرورت پر بناء، د مجبورۍ په وجه (د ضرورت او مجبورتيا په وجه ثابت سوى شى).

تشريح: د عبارت حاصل دا دى چي د رضاعت تر مودت وروسته كه ښځه يو كوچني ته شيدې وركړي، نو په دې سره حرمت د رضاعت نه ثابتيږي، برابره ده تر اوسه كوچنى له تي او شيدو څخه پرېكړى سوي وي او كه نه وي او شيدې رودي او كه يې نه رودي، يعني د حرمتِ رضاعت دار ومدار پر وقت او مودت دى، د شيدو پر رودلو يا د كوچني تر پرېكېدلو وروسته پر رودلو (چيبنلو) نه دى؛ دليل د نبي كريم ﷺ دا حديث دى: "لَا رَضَاعَ بَعْدَ الْفِصَالِ" (چي له تي څخه تر پرېكېدلو وروسته يعني د رضاعت د مودت تر ختمېدلو وروسته رضاعت نسته).

عقلي دليل دا دى چي د حرمت دار ومدار پر وده او نما دى (يعني حرمت په هغه شيدو سره ثابتيږي چي په هغه سره د كوچني غوښي او هډوكي وده وكړي او اضافه پكښي راسي)، او دا خبره تسليم سوې ده چي دا د رضاعت په مودت كي دننه كيږي (يعني په شيدو سره د كوچني وده او نما د رضاعت په مودت كي دننه كيږي)، ځكه د كوچني تر غټېدلو او د رضاعت له مودت څخه تر وتلو وروسته د هغه وده او نما په شيدو سره نه بلكي په نورو خوراكونو او غذاګانو سره كيږي (مثلاً ډوډۍ، بسكوټ او داسي نور خوراكونه).

ولا يعتبر إلخ: فرمايي چي د رضاعت تر مودت مخكي له شيدو څخه د كوچني پرېكول معتبر نه دي؛ نو كه د رضاعت په مودت كي تر شيدو پرېكولو وروسته ښځه يو كوچني ته شيدې وركړي نو په دې سره حرمتِ رضاعت ثابتيږي، همدا ظاهر روايت دى.

خو حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا نقل کړی دی چې که د رضاعت تر مودت مخکې یو کوچنی د شیدو رودل پرېږدي او له شیدو څخه بالکل مستغني سي او بیا یوه ښځه د رضاعت په مودت کې دننه هغه ته شیدې ورکړي، نو په دې سره حرمت رضاعت نه ثابتیږي؛ ځکه په عقلي دلیل کې ذکر سوه چې د حرمت دار و مدار پر وده او نما دی، او کوچنی چې کله په پوره توګه شیدې پرېږدي نو د کوچني وده او نما له شیدو څخه په غذا او خوراک بدله سي، نو ګواکې په شیدو رودلو سره د هغه په غوښو او هډوکو کې وده او اضافه نه راغله، نو ځکه به په دغه شیدو سره حرمت نه ثابتیږي.

وهل یباح الخ: تاسې ته معلومه سوه چې د رضاعت تر مودت وروسته په شیدو رودلو سره حرمت رضاعت نه ثابتیږي، اوس دا خبره را ښیي چې د رضاعت د مودت تر ختمېدلو وروسته کوچني ته شیدې ورکول روا دي، که نه؟

فرمایي چې په دې باره کې تحقیقي خبره دا ده چې د رضاعت تر مودت وروسته کوچني ته شیدې ورکول صحیح او روا نه دي؛ ځکه چې شیدې د انسان یو جزء او یوه حصه ده، او انسان د خپل ټولو اجزاؤ سره محترم او قابل د حفاظت او تعظیم دی، او فقط د ضرورت پر بناء د انسان دغه جزء حلال کړی سوی دی، او د رضاعت په مودت کې ضرورت پوره سو، نو ځکه به اوس شیدې ورکول روا نه وي.

د رضاعت د محرماتو بیان

قَالَ: وَيَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ فرمایي: او حرامیږي په رضاعت سره هغه [کسان] کوم چې حرامیږي په نسب سره لِلْحَدِيثِ الَّذِي رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ روایت کړی إِلَّا أُمَّ أُخْتِهِ مِنَ الرَّضَاعِ مګر د خپلې رضاعي خور مور فَإِنَّهُ يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا ځکه دا جائز دي چې سړی د هغې سره نکاح وکړي وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَ أُمَّ أُخْتِهِ مِنَ النَّسَبِ لېکن د خپلې نسبي خور سره د سړي نکاح کول جائز نه دي لِأَنَّهَا تَكُونُ أُمَّهُ أَوْ مَوْطُوءَةَ أَبِيهِ ځکه چې هغه به یا د ده خپله مور وي یا به د ده د پلار وطي کړی سوې ښځه وي [یعني یا به د ده مېرزۍ مور وي] بِخِلَافِ الرَّضَاعِ په خلاف د رضاعت وَيَجُوزُ تَزَوُّجُ أُخْتِ ابْنِهِ مِنَ الرَّضَاعِ او د خپل رضاعي زوی د خور سره نکاح کول جائز دي وَلَا يَجُوزُ ذَلِكَ مِنَ النَّسَبِ لېکن د نسبي زوی د خور سره نکاح کول جائز نه دي لِأَنَّهُ لَمَّا وَطِئَ أُمَّهَا

حُرِّمَتْ عَلَيْهِ ځکه کله چي [پلار] د هغې سره وطي وکړي نو هغه [د زوی خور] پر ده حرامه سوه وَلَمْ يُوجَدْ هٰذَا الْمَعْنٰى فِي الرَّضَاعِ او دا معنیٰ په رضاعت کي نسته وَامْرَأَةُ أَبِيهِ أَوْ امْرَأَةُ ابْنِهِ مِنَ الرَّضَاعِ لَا يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا او د خپل رضاعي پلار یا د خپل رضاعي زوی د ښځي سره نکاح کول جائز نه دي كَمَا لَا يَجُوزُ ذٰلِكَ مِنَ النَّسَبِ لکه څرنګه چي د نسبي [پلار یا زوی د ښځي] سره [نکاح کول] جائز نه دي لِمَا رَوَيْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ روایت کړی وَذِكْرُ الْأَصْلَابِ فِي النَّصِّ لِإِسْقَاطِ اِعْتِبَارِ التَّبَنِّي او په آیت کي "أَصْلَاب" د مُتبنّي د حکم ساقطولو لپاره ذکر سوی دی عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ لکه مخکي چي موږ دا [خبره] بیان کړه.

اللغات: ﴿أَصْلَاب﴾ جمع د صُلْبٌ ده: شا، ملا، مراد ځني نسبي قرابت دی، ﴿تَبَنِّيْ﴾ د تفعّل مصدر دی: یو څوک خپل زوی ګرځول (په زوی نیول) چي هغه ته په اصطلاح کي "مُتَبَنِّيْ" (نومولی زوی) وایي.

تشریح: صاحب د کتاب په دې عبارت کي د رضاعت د حرمت په هکله یوه قاعده او یو څو استثنائي صور تونه بیانوي، قاعده دا ده چي کومي ښځي د نسب په وجه حرامي وي، هغه ښځي د رضاعت په وجه هم حرامي دي (یعني څرنګه چي د نسبي محرماتو سره نکاح جائز نه ده، همداسي د رضاعي محرماتو سره هم نکاح جائز نه ده)، خو په رضاعت کي یو څو صور تونه داسي دي کوم چي له نسب څخه جلا دي او د دوی حکم هم له نسب څخه جلا دی، او هغه دا دي:

(۱)... د خپلي رضاعي خور د مور سره نکاح کول جائز دي، د دې په خلاف د خپلي نسبي خور د مور سره نکاح کول د هغه لپاره بالکل روا نه دي؛ ځکه چي د رضاعي خور په مور کي د حرمت هیڅ وجه نسته، رضاعي مور نه د ده خپله مور کیږي او نه د ده د پلار موطوئه (مېرېزې مور) کیږي، لیکن د نسبي خور مور به یا په خپله د ده مور وي (کله چي دوی حقیقي ورور او خور وي)، یا هغه به د ده د پلار موطوئه (مېرزې مور) وي (کله چي دوی فقط په پلار شریک ورور او خور وي)، او د انسان لپاره نه د خپلي حقیقي مور سره نکاح کول جائز دي او نه د خپلي مېرېزې مور سره.

(۲)... دویم صورت دا دی چي د خپل زوی د رضاعي خور سره نکاح کول جائز دي، لیکن د زوی د نسبي خور سره نکاح کول جائز نه دي، ځکه چي د زوی نسبي خور به یا د انسان خپله لور وي (یعني د ده ل د نطفې څخه به پیدا وي) او د خپلي لور سره په هر صورت کي نکاح ناجائز او حرامه ده، او یا به د ده ناسکه لور او رَبِیبه وي (یعني د بل چا له نطفې څخه به پیدا وي خو دئ به یې پالنه او تربیه کوي).

نو په دې صورت کې حکم دا دی چې که د ربيبې (ناسکه لور) د مور سره انسان وطي وکړي نو پر هغه دا ربيبه (ناسکه لور) حراميږي، نو ځکه به د زوی د نسبي خور سره په هيڅ حالت کې نکاح کول جائز نه وي، د دې په خلاف د زوی د رضاعي خور په نکاح کې دغه حرمت نه راځي بلکې هغه په "وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ" کې داخله ده، نو په دې وجه به د هغې سره نکاح کول صحيح او جائز وي.

وامرأة أبيه إلخ: په دې سره دا راښيي چې د هيڅا لپاره هم د خپل رضاعي پلار د ښځې يا د خپل رضاعي زوی د ښځې (مېږور) سره نکاح کول جائز نه دي. لکه څرنګه چې په نسب کې د خپل پلار د ښځې يا د خپلې مېږو سره نکاح کول جائز نه دي. صورت يې دا دی چې مثلاً زيد د فاطمې شيدې وچيښلې، نو اوس د زيد لپاره د دغه مُرضِعې ښځې يعنې فاطمې سره نکاح کول صحيح نه دي. همدارنګه که د فاطمې يوه بَنْ وي او د فاطمې خاوند هغې ته طلاق ورکړی وي، نو هم د زيد لپاره د هغې سره نکاح جائز نه ده؛ ځکه چې دا طلاق سوې بَنْ د هغه د رضاعي پلار يعنې د فاطمې د خاوند ښځه ده، او حکم دا دی چې "يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ"، همدارنګه د رضاعي زوی د ښځې (مېږور) سره هم د مرضعې ښځې د خاوند نکاح کول صحيح نه دي، ځکه چې د نسب په څير دلته هم د حرمت علت او سبب موجود دی.

وذكر الأصلاب إلخ: په دې سره أصلاً د يو مقدر سول جواب ورکوي، د سوال حاصل دا دی چې د قرآن کريم په دې آيت "وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ" کې فقط د صلبي زامنو ښځې حرامې سوې دي، ځکه چې تر "أَبْنَائِكُمْ" وروسته د "مِنْ أَصْلَابِكُمْ" قيد اضافه سوی دی، نو معلومه سوه چې د رضاعي زوی د ښځې سره نکاح کول جائز دي، حالانکې تاسو مسئله د دې په خلاف ذکر کړه، نو آخر په دې آيت کې د دغه قيد څه فايده ده؟

د دې په جواب کې صاحب د هدايې فرمايي چې دغه قيد اتفاقي نه دی بلکې احترازي دی او د مُتَبنّى (نوموړلي زوي) د ښځې د خارجولو (ايستلو) لپاره دی يعنې د مُتبنى د ښځې سره په هر صورت کې نکاح جائز ده، او دغه قيد د رضاعي زوی د ښځې د خارجولو لپاره نه دی؛ ځکه چې د رضاعي زوی د ښځې حرمت په پورتني حديث "يحرم من الرضاع..." سره ثابت دی.

په رضاعت کې د مذکر قرابت د حرمت بیان

وَلَبَنُ الْفَحْلِ يَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحْرِيمُ او د سړي په شيدو سره حُرمت متعلق كيږي وَهُوَ أَنْ تُرْضِعَ الْمَرْأَةُ صَبِيَّةً او هغه دا چې ښځه يو كوچنۍ نجلۍ ته شيدې وركړي ايعني د رضاعت په مودت کې په يو كوچنۍ نجلۍ خپلې شيدې ورودي| فَتَحْرُمُ هَذِهِ الصَّبِيَّةُ عَلَى زَوْجِهَا وَعَلَى آبَائِهِ وَأَبْنَائِهِ نو هغه نجلۍ حراميږي د دغه ښځې پر خاوند او د خاوند پر پلار او د خاوند پر زامنو وَيَصِيرُ الزَّوْجُ الَّذِي نَزَلَ لَهَا مِنْهُ اللَّبَنُ أَبًا لِلْمُرْضَعَةِ او د كوم خاوند په وجه چې د دغه ښځې شيدې راشوه سوي دي ايعني له ټيو څخه را وتلي دي| هغه د دې [شيدې رودنكي] نجلۍ پلار گرځي وَفِي أَحَدِ قَوْلَيْ الشَّافِعِيِّ: لَبَنُ الْفَحْلِ لَا يُحَرِّمُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو څخه په يوه قول کې دا ذكر سوي دي: چې د سړي شيدې حرامونكي نه دي ايعني د سړي شيدې حرمتِ رضاعت نه ثابتوي| لِأَنَّ الْحُرْمَةَ لِشُبْهَةِ الْبَعْضِيَّةِ ځكه چې حرمت د جزئيت د شبهې په وجه سره وي وَاللَّبَنُ بَعْضُهَا لَا بَعْضُهُ او شيدې د ښځې جزء دي، د سړي جزء نه دي وَلَنَا مَا رَوَيْنَا او زموږ دليل هغه حديث دی كوم چې موږ روايت كړی وَالْحُرْمَةُ بِالنَّسَبِ مِنَ الْجَانِبَيْنِ او [د دې وجه دا ده چې] په نسب سره [ثابت سوی] حرمت له دواړو طرفونو څخه وي فَكَذَا بِالرَّضَاعِ نو همداسې به په رضاعت سره [ثابت سوی حرمت هم له دواړو طرفونو څخه وي] وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا [1]: «لِيَلِجْ عَلَيْكِ أَفْلَحُ [همدارنګه] نبي كريم ﷺ حضرت عائشې رضي الله عنها ته وفرمايل: "اې عائشې! [حضرت أفلح تا ته راتلی سي فَإِنَّهُ عَمُّكِ مِنَ الرَّضَاعَةِ» ځكه چې هغه ستا رضاعي اكا دی" وَلِأَنَّهُ سَبَبٌ لِنُزُولِ اللَّبَنِ مِنْهَا او په دې وجه [هم] چې خاوند د ښځې [له ټيو] څخه د شيدو راوتلو سبب دی فَيُضَافُ إِلَيْهِ فِي مَوْضِعِ الْحُرْمَةِ احْتِيَاطًا لهذا د احتياط لپاره به د حرمت په ځای کې د هغه وطرف ته [هم] شيدې منسوبه كيږي.

اللغات: ﴿فَحْل﴾ مينده، نارينه، هغه سړی چې د هغه د وطي په وجه له ښځې څخه كوچنی پيدا سوی وي، ﴿مُرْضَعَة﴾ د افعال له باب څخه د اسم مفعول صيغه ده: هغه كوچنۍ نجلۍ چې شيدې وركول سوي وي او هلک ته "مُرْضَع" وايي (چې بعضې سيمو کې داسې كوچني ته شيرخواره [يعني شيدې چيښونكی] وايي)، يعني رودونكې نجلۍ او "مُرْضِعَة" يعني د ضاد په كسره سره هغه

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الرضاع، باب تحريم الرضاع من ماء الفحل، حديث رقم:٧. وابو داؤد في كتاب النكاح، باب في لبن الفحل، حديث رقم:٢٠٥٧.

ښځې ته چې کوچني ته شيدې ورکوي، ﴿لِيَلِجُ﴾ د ضرب له باب څخه د أمرِ غائب صيغه ده: (کور ته) داخلېدل، ننوتل.

تشريح: د عبارت تر حل مخکې مختصراً په دې خبر ځان پوه کړئ! چې د "لَـبَن" اضافت و "فَحْل" ته د "إِضَافَة الشئ إلى سببه" له قبيلې څخه دی، يعني شی د شي د سبب و طرف ته مضاف سوی دی؛ ځکه چې د ښځې د شيدو سبب سړی (خاوند) دی، نو ځکه (په عبارت کې) د حرمت تعلق د هغه و طرف ته مضاف او منسوب کړی سو.

صورت د مسئلې: دا دی که يوه ښځه کوچنۍ نجلۍ ته شيدې ورکړي، نو د دغه ښځې خاوند د هغه نجلۍ رضاعي پلار جوړېږي، او د دې ښځې اُصول او فروع پر هغه نجلۍ حرامېږي، او د هغه نجلۍ سره نه د دې ښځې خاوند نکاح کولای سي او نه د دې ښځې خُسر او زوی د هغې سره نکاح کولای سي، خو د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو څخه يو قول دا دی چې د سړي د شيدو سره حرمت نه متعلق کيږي، يعني دا خبره تسليم سوې ده چې که ديو سړي له سينې (تيانو) څخه شيدې راووځي او هغه يو هلک يا نجلۍ ته خپلې شيدې ورکړي، نو په دې سره حرمت نه ثابتيږي، لهذا کله چې په خپله د سړي د شيدو سره حرمت نه متعلق کيږي، نو د هغه شيدو سره به ولې حرمت متعلق سي کوم چې د سړي په وجه د ښځې په سينه کې پيدا سوي وي؛ ځکه چې د رضاعت د مُحرِم کېدلو مدار د جزئيت د شبهې په وجه دی (لکه مخکې چې دا خبره تېره سوه)، او دلته شيدې د ښځې جزء دی، نه د سړي، لهذا د حرمت تعلق خو به د ښځې سره وي، لېکن د سړي سره به نه وي.

ولنا إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چې په دې باره کې زموږ دليل دا حديث دی: "يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ"، يعني کوم قرابت چې د نسب په وجه سره حرام وي هغه قرابت د رضاعت په وجه سره هم حرام دی، او څرنګه چې د نسب حرمت د ښځې او خاوند دواړو له طرفه وي، نو د رضاعت والا حرمت به هم د خاوند او ښځې دواړو له طرفه وي، او څرنګه چې په رضاعت کې د ښځې سره حرمت متعلق کيږي، همداسې به د سړی سره هم متعلق کيږي.

په دې لړ کې زموږ دويم دليل دا دی چې حضرت أفلح ابن أبی قيس چې کله حضرت عائشې ﷺ ته راغلی نو حضرت عائشې ﷺ له هغه څخه پرده وکړه، نو أفلح وويل چې: ته زما څخه ولې پرده کوې!، زه خو ستا رضاعي اکا يم، حضرت عائشې ﷺ وفرمايل چې ته څنګه زما رضاعي اکا يې، نو أفلح وويل چې تا ته زما د ورور (ابو القعيس) ښځې شيدې در کړي دي، نو حضرت عائشې ﷺ وفرمايل چې ما ته خو ښځې شيدې راکړي دي، سړي (يعني ستا ورور) خو نه دي راکړي،

وروسته حضرت عائشې رضي الله عنها دا قصه رسول الله ﷺ ته بيان كړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل چې أفلح صحيح خبره كوي، تا ته د هغه دورور ابو القعيس ښځې شيدې دركړي دي، نو ابو القعيس ستا رضاعي پلار دی او أفلح ستا رضاعي اكا دی، نو هغه بېله پردې ستا مخته راتلی سي (يعني ته له هغه څخه پرده مه كوه!).

په دې واقعه كې چې حضرت عائشې رضي الله عنها ته نبي كريم ﷺ دا اجازه وركړې ده چې أفلح ستا مخته راتلی سي (او ته پرده مه ځني كوه!) دغه اجازه د حضرت عائشې د رضاعي پلار (ابو القعيس) سره د حرمت د متعلق كېدلو په وجه ده، نو معلومه سوه چې د ښځې په څېر د سړي سره هم حرمت متعلق كيږي او هغه ته هم د حرمت اضافت (نسبت) كيږي.

ولأنه إلخ: په دې سره صاحب د هدايې عقلي دليل بيانوي فرمايي چې صحيح او صفا خبره دا ده چې د ښځې په سينه كې د شيدو پيدا كېدلو سبب سړی (خاوند) دی، او د ښځې سره حرمت متعلق دی، لهذا د احتياط په خاطر به د سړي سره هم حرمت متعلق منل كيږي؛ ځكه چې شريعت موږ ته د حرمت په ځايونو كې د احتياط كولو تأكيد او تلقين كړی دی.

د رضاعت د محرماتو نور تفصيل

وَيَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَ الرَّجُلُ بِأُخْتِ أَخِيهِ مِنَ الرَّضَاعِ او جائز دي چې سړی د خپل رضاعي ورور د خور سره نكاح وكړي لِأَنَّهُ يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَ بِأُخْتِ أَخِيهِ مِنَ النَّسَبِ ځكه دا جائز دي چې هغه د خپل نسبي ورور د خور سره نكاح وكړي وَذَلِكَ مِثْلُ الْأَخِ مِنَ الْأَبِ إِذَا كَانَتْ لَهُ أُخْتٌ مِنْ أُمِّهِ او دا لكه مېرزی ورور چې هغه په مور شريكه خور لري جَازَ لِأَخِيهِ مِنْ أَبِيهِ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا نو د دې مېرزي ورور لپاره جائز دي چې د هغې سره نكاح وكړي وَكُلُّ صَبِيَّيْنِ اجْتَمَعَا عَلَى ثَدْيِ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ او هر هغه دوه كوچنيان چې د يوې ښځې پر تيو سره يو ځای سوي وي [يعني د يوې ښځې له تيو څخه يې شيدې رودلې وي] لَمْ يَجُزْ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَزَوَّجَ بِالْأُخْرَى نو په هغوی كې د يوه لپاره دا جائز نه دي چې د بل سره نكاح وكړي هَذَا هُوَ الْأَصْلُ همدا [په دې باره كې] قاعده ده لِأَنَّ أُمَّهُمَا وَاحِدَةٌ ځكه چې د دوی دواړو مور يوه ده فَهُمَا أَخٌ وَأُخْتٌ نو دوی دواړه [سره] ورور او خور دي وَلَا يَتَزَوَّجُ الْمُرْضَعَةُ أَحَدًا مِنْ وَلَدِ الَّتِي أَرْضَعَتْ او نكاح نه سي كولای شير خوراه [شيدې رودونكې] نجلۍ د هغه ښځې د زوی سره كوم چې يې دې اشير خواري نجلۍ] ته شيدې وركړې وي لِأَنَّهُ أَخُوهَا ځكه چې هغه د دې نجلۍ [رضاعي] ورور دی وَلَا وَلَدَ

وَلَدِهَا او نه [نکاح کولای سي] د هغې [شيدې ورکونکي ښځې] د لمسي سره لِأَنَّهُ وَلَدُ أَخِيهَا ځکه چې هغه د دې نجلۍ [رضاعي] وراره دی وَلَا يَتَزَوَّجُ الصَّبِيُّ الْمُرْضَعُ أُخْتَ زَوْجِ الْمُرْضِعَةِ او نکاح نه سي کولای شير خواره کوچنی د شيدې ورکونکي ښځې ايعني د خپل رضاعي مور] د خاوند د خور سره [په لنډه توګه دا چې د رضاعي مور د ايندرور سره د يو چا نکاح جائز نه ده] لِأَنَّهَا عَمَّتُهُ مِنَ الرَّضَاعَةِ ځکه چې هغه د ده رضاعي امه کيږي.

اللغات: ﴿ثَدْی﴾ تیان (سینه)، ﴿عَمَّة﴾ امه (امکه).

تشريح: په دې عبارت کي څلور (۴) مسئلې بيان سوي دي، چې هغه به انشاء الله ستاسو په مخ کي په ترتيب سره بيان سي: (۱)... اوله مسئله دا ده چې د خپل رضاعي ورور د خور سره نکاح کول جائز دي، مثلاً که زيد او خالد دواړو د يو ښځې شيدې رودلي وي، نو په دوی کي هر يو د هغه بل رضاعي ورور دی، او د خالد لپاره د خپل رضاعي ورور د نسبي خور سره يعني د زيد د نسبي خور سره نکاح جائز ده؛ ځکه چې دلته د رضاعت تعلق د زيد او خالد سره دی (ځکه چې فقط دوی دواړو د هغه ښځې شيدې رودلي دي) نو د زيد د خور سره د رضاعت هيڅ تعلق نسته.

او بل دا چې د نسبي ورور لپاره د نسبي ورور د خور سره (هم) نکاح صحيح ده (يعني د مېرزي ورور د هغه خور سره نکاح صحيح ده چې هغه فقط په مور ور سره شريکه وي)، مثلاً د عبد الرحيم دوښځې دي: ① شاکره، ② عائشه، او دواړي ښځې يو، يو زوی لري: ① عُمر، ② أسلم (يعني عُمر د شاکرې زوی دی او أسلم د عائشې زوی دی)، نو دا عمر او أسلم په يوه پلار سره شريک ورونه دي (او مندي يې سره جلا دي چې دې ته مېرزي يا ناسکه ورونه هم وايي)، نو که عبد الرحيم شاکرې ته طلاق ورکړی او تر عدت تېرولو وروسته شاکرې د عبد القادر سره واده وکړی او له عبد القادر څخه يې د فاطمې په نامه يوه لور پيدا سوه، نو اوس چې له اول خاوند (عبد الرحيم) څخه د شاکرې کوم زوی دی يعني عمر هغه او فاطمه دواړه په يوه مور سره شريک دي، خو د عمر چې کوم مېرزی (ناسکه) ورور دی يعني أسلم هغه د فاطمې هيڅ نه کيږي او فاطمه د هغه په حق کي اجنبيه (پردۍ) ده. لهذا د أسلم سره (کوم چې د عمر نسبي ورور دی) د عمر د نسبي خور يعني د فاطمې نکاح صحيح او جائز ده، نو کله چې د دوی نکاح جائز ده، نو د رضاعي ورور د نسبي خور سره به هم نکاح جائز وي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده کوم هلک او نجلۍ چې د يو ښځې شيدې رودلي وي، نو د دوی په خپل مينځ کي نکاح صحيح نه ده؛ ځکه چې د دوی دواړه د يوې (رضاعي) مور زامن دي، لهذا دوی دواړه سره ورور او خور دي او د ورور او خور په مينځ کي نکاح صحيح نه ده، برابره ده هغه که حقيقي ورور

او خور وي او که رضاعي، صاحب د هدایې په "وَكُلُّ صَبِيَّيْنِ اجْتَمَعَا...الخ" سره همدغه مسئله بیان کړې ده.

(۳)... (دا په اصل کې د دغه مخکنۍ مسئلې إعاده ده)، دریمه مسئله دا ده چې کومې نجلۍ دیو ښځې شیدې رودلې وي، د هغه نجلۍ سره نه د دې ښځې د زوی نکاح جائز ده او نه یې د لمسي (یعني د زوی د زوی) نکاح ور سره جائز ده؛ د زوی نکاح ځکه جائز نه ده چې هغه د دغه نجلۍ رضاعي ورور کیږي، او د لمسي نکاح ځکه جائز نه ده چې هغه د دغه نجلۍ رضاعي وراره کیږي، او څرنګه چې د نجلۍ سره د حقیقي ورور او حقیقي وراره نکاح جائز نه ده، همداسي د رضاعي ورور او رضاعي وراره نکاح هم د هغې سره جائز نه ده؛ ځکه چې "يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ".

(۴)... څلورمه مسئله دا ده چې کوم هلک د یو ښځې شیدې رودلې وي، د هغه سره د دغه ښځې د اینډرور (د میړه د خور) نکاح جائز نه ده؛ ځکه چې هغه د ده رضاعي امه کیږي، او څرنګه چې د حقیقي امه سره نکاح جائز نه ده، همداسي د رضاعي امه سره هم نکاح جائز نه ده.

که د ښځې په شیدو اوبه ګډې کړل سي نو په هغه سره د حرمت ثابتېدلو بیان

وَإِذَا اخْتَلَطَ اللَّبَنُ بِالْمَاءِ او کله چې شیدې په اوبو ګډې کړل سي وَاللَّبَنُ هُوَ الْغَالِبُ او شیدې غالبه وي تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ نو د دې [مخلوطه شیدو] سره حرمت متعلق کیږي [یعني په داسې شیدو سره حرمتِ رضاعت ثابتیږي] وَإِنْ غَلَبَ الْمَاءُ او که اوبه غالبه وي لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ نو حرمت نه ور سره متعلق کیږي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله هُوَ يَقُولُ: إِنَّهُ مَوْجُودٌ فِيهِ حَقِيقَةً هغه فرمایي: چې په حقیقت کې شیدې په دغه اوبو کې موجوده دي وَنَحْنُ نَقُولُ: الْمَغْلُوبُ غَيْرُ مَوْجُودٍ حُكْمًا او موږ وایو: چې مغلوب [شی] د حکم په اعتبار سره موجود نه وي حَتَّى لَا يَظْهَرَ بِمُقَابَلَةِ الْغَالِبِ تر دې چې د غالب په مقابله کې هغه نه ښکاره کیږي كَمَا فِي الْيَمِينِ لکه د قسم په مسئله کې [چې هم داسې کیږي] وَإِنِ اخْتَلَطَ بِالطَّعَامِ او که شیدې د خوراک سره ګډې کړل سي لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ وَإِنْ كَانَ اللَّبَنُ غَالِبًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د هغه سره حرمت نه متعلق کیږي، که څه هم شیدې غالبه وي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز وَقَالَا❁: إِذَا كَانَ اللَّبَنُ غَالِبًا يَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحْرِيمُ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: والصحيح إطلاق عدم الحرمة، لأنّ التغذى حينئذ بالطعام...إلخ. (فتح القدير ج:۲، ص:۳۱۶). [القول الراجح ج:۱، ص: ۳۰۵]

قَالَ ﷺ: قَوْلُهُمَا فِيهَا إِذَا لَمْ فرمايي: که چيري شيدې غالبه وي نو حرمت ور سره متعلق کيږي تَمَسَّهُ النَّارُ صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول په هغه صورت کي دی [يعني پر هغه شيدو محمول دی] کله چي اُور هغه نه وي مسه کړي حَتَّى لَوْ طُبِخَ بِهَا لَا يَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحْرِيْمُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا تر دې که هغه په اُور پخې کړل سي نو د ټولو په نيز حرمت نه ور سره متعلق کيږي لَهُمَا: أَنَّ الْعِبْرَةَ لِلْغَالِبِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي اعتبار غالب لره وي كَمَا فِي الْمَاءِ لکه په اوبو کي [چي هم دغه حکم دی] إِذَا لَمْ يُغَيِّرْهُ شَيْءٌ عَنْ حَالِهِ [په دې شرط] کله چي يو شي شيدې له خپل حالت څخه نه وي بدلي کړي [لکه پخول يا داسي بل شی] وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ: أَنَّ الطَّعَامَ أَصْلٌ دامام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي خوراک أصل دی وَاللَّبَنَ تَابِعٌ لَهُ فِي حَقِّ الْمَقْصُوْدِ او شيدې د مقصود په حق کي د خوراک تابع دي فَصَارَ كَالْمَغْلُوْبِ نو [شيدې] د مغلوب په څير سوې وَلَا مُعْتَبَرَ بِتَقَاطُرِ اللَّبَنِ مِنَ الطَّعَامِ عِنْدَهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز له خوراک څخه د شيدو څڅېدلو اعتبار نسته [يعني که شيدې دومره پر خوراک غالبه وي چي له ګولې څخه شيدې څڅيږي، نو په دې سره هم د امام صاحب په نيز حرمت نه ثابتيږي] هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده لِأَنَّ التَّغَذِّيَ بِالطَّعَامِ إِذْ هُوَ الْأَصْلُ ځکه چي [په دغه صورت کي] په خوراک سره غذا حاصلول أصل دي [او شيدې په غذا حاصلولو کي د خوراک تابع دي].

اللغات: ﴿إِخْتَلَطَ﴾ د افتعال ماضي ده: ګډېدل (مخلوطېدل)، ﴿عِبْرَةٌ﴾ اعتبار، ﴿يَتَقَاطَرُ﴾ د تفاعل مضارع ده: څڅېدل، ﴿تَغَذِّيْ﴾ د تفعّل مصدر دی: يو شی د ځان لپاره غذا ګرځول (غذا حاصلول).

تشريح: په دې عبارت کي دوې (۲) مسئلې بيان سوي دي: (۱)... د اولي مسئلې تشريح دا ده چي که يو ښځه په خپلو شيدو اوبه ګډې کړي او بيا يې يو کوچني ته ورکړي، نو آيا په دې سره حرمت رضاعت ثابتيږي، که نه؟

صاحب د کتاب فرمايي چي په داسي صورت کي به زموږ په نيز د شيدو او اُوبو مقدار ته کتل کيږي، که چيري شيدې ډيري يعني غالبه وي او اوبه لږ او مغلوبه وي نو د دې په چيښلو سره حرمت رضاعت ثابتيږي، لېکن که شيدې لږ او مغلوبه وي او اوبه پر غالبه وي نو د داسي شيدو په چيښلو سره حرمت رضاعت نه ثابتيږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په دې ډول (مخلوطه) شيدو سره

مطلقاً حرمت ثابتیږي، هغه که شیدې غالبه وي او که مغلوبه وي (په دې شرط چې د پنځو غړپو په اندازه وي).

د امام شافعي دلیل: دا دی چې (مخلوطه) شیدې که څه هم مغلوبه وي خو بیا هم هغه حقیقتاً او حساً موجوده وي، او له یو محسوس او موجود شي څخه انکار نه سي کېدای؛ نو ځکه به په دې (مخلوطه) شیدو سره هم حرمتِ رضاعت ثابتیږي، لکه څرنګه چې په خالصه شیدو سره حرمت رضاعت ثابتیږي.

زموږ دلیل: ونحن نقول إلخ: زموږ دلیل او د امام شافعي رَحِمَهُ الله جواب دا دی چې مغلوب شی حکماً غیرِ موجود او معلوم وي، او د حرمت د ثبوت لپاره د حقیقت او حکم دواړو په اعتبار سره د هغه وجود ضروري دی.

دویمه خبره دا ده چې د حرمت تعلق او د هغه ثبوت محض د شیدو پرچیښلو او رودلو نه دی موقوف، بلکي په شیدو سره د غوښو او هډوکو وده کول او زیاتېدل هم ضرور دي، او موږ وینو چې په دې (مخلوطه) شیدو سره دا فایده نه حاصلیږي، نو په دې وجه به هم په داسي شیدو سره حرمت نه ثابتیږي.

كما في اليمين إلخ: څه مخکي صاحب د هدایې دا خبره وکړه چې مغلوب شي د حکم په اعتبار سره غیرِ موجود او معلوم وي، اوس په یوه مثال سره د دغه خبري وضاحت کوي، هغه دا چې که یو سړی قسم وکړي چې زه به شیدې نه چیښم، بیا هغه مغلوبه شیدې وچیښي (یعني چې اوبه پر غالبه وي)، نو هغه په خپل قسم کي نه حانثیږي، لهذا څرنګه چې د قسم په مسئله کي مغلوبه شیدو لره هیڅ اعتبار نسته، همداسي به د حرمتِ رضاعت په مسئله کي هم داسي شیدو لره هیڅ اعتبار نه وي.

وإن اختلط إلخ: له دې ځای څخه دا ربښیي چې که شیدې په خوارک ګډې کړل سي، نو په هغه سره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په هیڅ صورت کي هم حرمتِ رضاعت نه ثابتیږي، هغه که شیدې غالبه وي او که مغلوبه وي، صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي که چیري شیدې غالبه وي او خوراک مغلوبه وي، نو حرمت ثابتیږي، کنې نه ثابتیږي، صاحب د هدایې فرمایي چې د صاحبینو له قول څخه مراد اُومې شیدې (یعني غیرِ مطبوخه شیدې) دي، ځکه شیدې چې کله پر اُور پخې سي نو بالاتفاق په هغه سره حرمت نه ثابتیږي؛ ځکه چې بیا هغه شیدې پاته نه سي بلکي خوراک وګرځي.

لهما أن العبرة إلخ: د صاحبینو دلیل دا دی چې په مخلوط او ګډ شي کي د غالب اعتبار کیږي. نو ځکه موږ وایو چې که شیدې غالبه وي نو په هغه سره حرمت ثابتیږي (په دې شرط چې په یو شي سره د

شيدو حالت بدل سوي نه وي)، لکه په اوبو کي چي هم دغه حکم دی، مثلاً که په اوبو کي يو شی ولوېږي نو تر څو چي اوبه غالبه وي او أصل يې بدل سوی نه وي تر هغه وخته اوبه پاکي او "مباحُ الاستعمال" دي، او که مغلوبه سي او أصل يې بدل سي نو بيا "ممنوعُ الاستعمال" او ناپاکي دي.

ولأبي حنيفة إلخ: د امام صاحب دليل دا دی چي موږ د حرمت دار ومدار پر وده او نما موقوف کړی دی. او د ودي او نما تعلق د غذاء سره دی، او دا خبره هم مُسلمه ده چي د مقصود په حق کي (يعني د غذاء حاصلولو او د ودي او نما په حق کي) خوراک أصل دی او شيدې د هغه فرع او تابع دي (ځکه خوراک غيرِ مائع شی دی، او غيرِ مائع شی [يعني خوراک] مائع شی خپل تابع جوړوي) او تابع لره هيڅ اعتبار نسته، نو ځکه به دلته د نما او ودي تعلق د خوارک سره وي، نه د شيدو سره. نو کله چي دلته د نما او ودي تعلق د شيدو سره نسته نو په هغه سره به حرمت هم نه ثابتيږي، هغه که شيدې غالبه وي او که مغلوبه وي.

ولا معتبر إلخ: په دې سره دا راښيي چي که شيدې دومره پر خوارک غالبه وي چي د ګولي (لقمې) راپورته کولو په وخت کي له ګولې څخه هم څڅيږي، نو بيا هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په دې سره حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي، همدا صحيح قول دی؛ ځکه کله چي شيدې د خوراک سره ګډې کړل سي نو هغه تابع وګرځيږي. او د تابع په هکله قاعده دا ده چي "لَا إِعْتِبَارَ بِالتَّوَابِعِ" يعني د حکم په اثبات کي توابعو لره هيڅ اعتبار نسته.

که د ښځي په شيدو يو بل شی ګډ کړی سي نو په هغه سره د حرمت ثابتېدلو بيان

وَإِنِ اخْتَلَطَ بِالدَّوَاءِ او که شيدې په دواء ګډې کړل سي وَاللَّبَنُ غَالِبٌ او شيدې غالبه وي تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيْمُ نو د هغه سره حرمت متعلق کيږي [يعني په داسي شيدو سره حرمتِ رضاعت ثابتيږي] لِأَنَّ اللَّبَنَ يَبْقَى مَقْصُوْدًا فِيهِ ځکه چي په داسي مخلوطه شيدو کي شيدې مقصود وي إِذِ الدَّوَاءُ لِتَقْوِيَتِهِ عَلَى الْوُصُوْلِ ځکه چي دواء خو د دې لپاره وي چي شيدو ته پر رسېدلو تقويت ورکړي [يعني چي شيدې ژر هضم سي او تأثير يې قوي سي] وَإِذَا اخْتَلَطَ اللَّبَنُ بِلَبَنِ الشَّاةِ او کله چي د ښځي [شيدې د بزې

د شيدو سره ګډې کړل سي وَهُوَ الْغَالِبُ او د ښځې شيدې غالبه وي تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيْمُ نو د هغه سره [هم] حرمت متعلق کيږي وَإِنْ غَلَبَ لَبَنُ الشَّاةِ او که د بزې شيدې غالبه وي لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيْمُ نو حرمت نه ور سره متعلق کيږي اِعْتِبَارًا لِلْغَالِبِ غالب ته په اعتبار ورکولو سره كَمَا فِي الْمَاءِ لکه څرنګه چې په اوبو کې [هم دغه حکم وو].

اللغات: ﴿تَكْوِيَة﴾ د تفعيل مصدر دی: قوت رسول، پياوړي کول، ﴿شَاة﴾ بزه، وزه (دا لفظ په عربي کې د بزې، ميږې، پسه او داسې نورو ټولو لپاره استعماليږي. جمع يې شِيَاه راځي).

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... که ديو ښځې شيدې په دواء ګډې کړل سي او شيدې غالبه وي، نو د داسې شيدو سره حرمت متعلق کيږي، يعني که يو کوچنی ته (د رضاعت په مودت کې) داسې شيدې ورکول سي، نو هغه ښځه د دغه کوچني رضاعي مور ګرځي؛ ځکه کله چې شيدې غالبه وي نو شيدې اصل وي، او دواء د شيدو د اثر تېزولو (او ژر هضمولو) لپاره وي، نو ځکه به په دغه شيدو سره حرمت ثابتيږي (او که دواء غالبه وي او شيدې مغلوبه وي نو دواء اصل وي او شيدې تابع وي،نو په هغه سره به حرمت نه ثابتيږي. **اصول**: د داسې ټولو مسئلو دار ومدار پر دې خبره دی چې کله شيدې أصل جوړې سي يعني لوږه په ليرې سي نو په هغه سره حرمت رضاعت ثابتيږي، او که تابع جوړې سي نو حرمتِ رضاعت نه په ثابتيږي. ځکه په حديثونو کې راځي چې "الرضاعة من المجاعة" او "لا رضاع إلا ما شد العظم و أنبت اللحم").

(۲)... دويمه مسئله دا ده که ديو ښځې شيدې د بزې په شيدو ګډې کړل سي، نو دلته به هم پر غالب او مغلوب د حکم داور مدار وي، يعني که د ښځې شيدې غالبه وي نو حرمت ثابتيږي. او که د بزې شيدې غالبه وي نو حرمت نه ثابتيږي، لکه څرنګه چې په اوبو کې همدغه حکم وو: (ځکه کله چې د ښځې شيدې غالبه وي نو د لوږې په ليرې کولو د ښځې شيدې أصل وګرځي او د ښځې په شيدو سره حرمت ثابتيږي، نو ځکه به په دې صورت کې حرمت ثابتيږي. او که د بزې شيدې غالبه وي نو هغه أصل وګرځي، او د بزې په شيدو سره حرمت نه ثابتيږي).

د دوو ښځو په مخلوطه شيدو سره د حرمت ثابتېدلو بيان

وَإِذَا اخْتَلَطَ لَبَنُ امْرَأَتَيْنِ او كه د دوو ښځو شيدې سره ګډې كړل سي تَعَلَّقَ التَّحْرِيمُ بِأَغْلَبِهِمَا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز په دې دواړو كي د أغلب [زياتو شيدو] سره حرمت متعلق كيږي لِأَنَّ الْكُلَّ صَارَ شَيْئًا وَاحِدًا ځكه چي ټولي شيدې يو شی وګرځيدې فَيُجْعَلُ الْأَقَلُّ تَابِعًا لِلْأَكْثَرِ فِي بِنَاءِ الْحُكْمِ عَلَيْهِ نو أقل به د أكثر تابع ګرځول كيږي په مبني كولو كي [د رضاعت] د حكم پر هغه [ټولو شيدو] باندي وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ: يَتَعَلَّقُ التَّحْرِيمُ بِهِمَا* امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي حرمت د دواړو [شيدو] سره متعلق كيږي لِأَنَّ الْجِنْسَ لَا يَغْلِبُ الْجِنْسَ ځكه چي جنس پر [خپل] جنس نه غالب كيږي فَإِنَّ الشَّيْءَ لَا يَصِيرُ مُسْتَهْلَكًا فِي جِنْسِهِ لِاتِّحَادِ الْمَقْصُودِ ځكه چي د مقصود د اتحاد [يو والي] په وجه يو شی هم په خپل جنس كي هلاک [او معدوم] نه ګرځي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ فِي هٰذَا رِوَايَتَانِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله ځخه په دې باره كي دوه روايتونه دي وَأَصْلُ الْمَسْأَلَةِ فِي الْأَيْمَانِ او أصل مسئله په قسم كي ده. ايعني دغه مسئله او د دغه مسئلي اختلاف په أصل كي د قسم د مسئلي پر اختلاف مبني دی].

اللغات: ﴿أَغْلَب﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات غالب، ﴿مُسْتَهْلَك﴾ د استفعال اسم فاعل دی: هلاک كړی سوی، ختم كړی سوی (ورک او معدوم).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی كه د دوو جلا ،جلا ښځو شيدي سره ګډي كړل سي، بيا يو كوچني ته وركول سي، نو په دې صورت كي د كومي ښځي سره د كوچني حرمت رضاعت ثابتيږي؟ په دې باره كي زموږ د امامانو اختلاف دی، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د كومي ښځي شيدې غالبه وي د هغې سره حرمت رضاعت ثابتيږي، همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دی، لېكن امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د دواړو سره حرمت رضاعت ثابتيږي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي كله د دواړو ښځو شيدې سره ګډي كړل سوې، نو د جنس د اتحاد په وجه دواړي شيدې د "شيئ واحد" په څير وګرځيدې (يعني دواړي سره يو سوې). خو څرنګه

---

* **القول الراجح:** قول محمد رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله : ورجح بعض المشائخ قول محمد رَحِمَهُ الله أيضاً وهو ظاهر (فتح القدير ج:۳، ص:۳۱۷). وقال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله :...ورجح بعض المشائخ قول محمد رَحِمَهُ الله، وإليه مـال صاحب الهداية لتأخيره دليل محمد رَحِمَهُ الله (رد المحتار ج:۳، ص:۴۴۴). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۰۶]

چي دغه شيدې د دوو ښځو دي، نو ځکه به په دوی کې أقل د أکثر تابع کيږي او پر أکثر به د حکم بناء کيږي. لکه څرنګه چي په نورو مسئلو کي هم داسي کيږي او حکم پر أکثريت بناء کيږي.

د امام محمد او امام زفر دليل: دا دی چي شيدې دواړه د يوه جنس دي (ځکه چي د دواړو ښځو جنس سره يو دی)، او د جنس په هکله قاعده دا ده چي کله جنس د خپل جنس سره يو ځای کړی سي نو مغلوب او معدوم نه ګرځي بلکي نور مؤکد او مضبوط ګرځي (او نور زيا تيږي). لهذا کله چي دواړي شيدې سره يو ځای کړل سوې نو په دوی کي نوره تقويه (پياوړتيا) راغله (او مثلاً د يوه پاؤ پر ځای نيم کېلو سوې. او داسي نه ده چي د يوې ښځي شيدې د بلي پر شيدو غالبه سوې). لهذا کله چي دواړه شيدې په يوه درجه کي دي، نو د دواړو ښځو سره به د کوچني حرمتِ رضاعت ثابتيږي.

د دې مسئلې په باره کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي، په يوه روايت کي هغه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دی او په دويم روايت کي د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله سره دی.

وأصل المسألة إلخ: او په اصل کي د دغه مسئلې مدار پر دې خبره دی چي د مخلوطه شيدو په چيښلو سره انسان حانثيږي، که نه؟ مثلاً که يو سړی قسم وکړي چي زه به د فلاني غوا شيدې نه چيښم. او بيا د هغه غوا د شيدو سره د بلي غوا شيدې ګډي کړي او ويې چيښي، نو په دې مسئله کي هم دغه اختلاف دی. د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز مطلقاً هغه حانثيږي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز که د محلوف عليها غوا شيدې غالبه وي نو حانثيږي، کنې نه حانثيږي.

د باکري ښځي په شيدو سره د حرمت ثابتېدلو بيان

وَإِذَا نَزَلَ لِلْبِكْرِ لَبَنٌ او که چيري د باکري ښځي شيدې راشوه سي [يعني په تيو کي يې شيدې پيدا سي] **فَأَرْضَعَتْ صَبِيًّا** او هغه يو کوچني ته شيدې ورکړي **تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ** نو د دې سره [هم] حرمت متعلق کيږي **لِإِطْلَاقِ النَّصِّ** د آيت د مطلقوالي په وجه **وَلِأَنَّهُ سَبَبُ النُّشُوْءِ** او په دې وجه چي دا شيدې [هم] د ودې او نما سبب دي **فَتَثْبُتُ بِهِ شُبْهَةُ الْبَعْضِيَّةِ** نو په دې سره [هم] د جزئيت شبهه ثابتيږي.

اللغات: ﴿بِكر﴾ پېغله (نا واده کړې ښځه)، ﴿أَرْضَعَت﴾ د افعال ماضي ده: کوچني ته شيدې ورکول.

تشريح: د عبارت مطلب بالکل ښکاره دی چي که د يو باکري (نا واده) ښځي په تيو کي شيدې پيدا سي او هغه په يوه کوچني خپل دغه شيدې ورودي، نو په دې سره هم حرمتِ رضاعت ثابتيږي؛ ځکه

چي د قرآن کريم دا آيت "وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ" مطلق دی، يعني په دې آيت کې د باکرې او ثيبې تر مينځ هيڅ فرق نه دی ذکر سوی، نو څرنګه چې د ثيبې په شيدو سره حرمت ثابتيږي. همداسې به د باکرې په شيدو سره هم حرمت ثابتيږي.

دويم دليل دا دی چې د ثيبې په څير د باکرې شيدې هم د کوچني د ودې او نما او د هغه د طاقت سبب دي، نو په دې سره هم د جزئيت او بعضيت شبهه ثابتيږي، لهذا د دغه جزئيت او بعضيت د شبهې په وجه به احتياطاً د باکرې په شيدو سره حرمت ثابتيږي.

خو له امام شافعي او امام محمد رَحِمَهُمَا الله څخه يو روايت دا دی چې د باکرې ښځې شيدې شاذ او نادره وي، لهذا هغه د سړي د شيدو سره مشابه سوې، نو ځکه به حرمت نه په ثابتيږي.

د مړې ښځې په شيدو سره د حرمت ثابتېدلو بيان

وَإِذَا حُلِبَ لَبَنُ الْمَرْأَةِ بَعْدَ مَوْتِهَا او که د ښځې تر مرګ وروسته د هغې شيدې را وريستل سي فَأُوْجِرَ الصَّبِيُّ او ديو کوچني په خوله کي واچول سي تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ نو د هغه سره حرمت متعلق کيږي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله هُوَ يَقُولُ: الْأَصْلُ فِي ثُبُوتِ الْحُرْمَةِ إِنَّمَا هُوَ الْمَرْأَةُ هغه فرمايي: چي د حرمت د ثبوت په هکله خو اصل ښځه ده ثُمَّ تَتَعَدَّى إِلَى غَيْرِهَا بِوَاسِطَتِهَا بيا د هغې په واسطه سره د نورو وطرف ته حرمت متعدي کيږي [منتقل کيږي] وَبِالْمَوْتِ لَمْ تَبْقَ مَحَلًّا لَهَا او د مرګ په وجه هغه د حرمت محل پاته نه سوه [نو ځکه به د هغې حرمت د نورو طرف ته نه متعدي کيږي] وَلِهَذَا لَا يُوجِبُ وَطْؤُهَا حُرْمَةَ الْمُصَاهَرَةِ له همدې کبله د دغه [مړې] ښځې وطي حرمتِ مصاهرت نه ثابتوي وَلَنَا: أَنَّ السَّبَبَ هُوَ شُبْهَةُ الْجُزْئِيَّةِ او زموږ دليل دا دی: چي د حرمت سبب د جزئيت شبهه ده وَذَلِكَ فِي اللَّبَنِ او دا شبهه په دغه شيدو کي سته لِمَعْنَى الْإِنْشَاءِ وَالْإِنْبَاتِ د [غوښو] پيدا کولو او [هډوکو] راشنه کولو [غټولو] د معنیٰ په وجه وَهُوَ قَائِمٌ بِاللَّبَنِ [ځکه چي] دغه معنیٰ په دې شيدو کي [هم] موجوده ده وَهَذِهِ الْحُرْمَةُ تَظْهَرُ فِي حَقِّ الْمَيِّتَةِ دَفْنًا وَتَيَمُّمًا او دا حرمت د مړې ښځې په حق کي د ښخولو او تيمم ورکولو په اعتبار سره ښکاره کيږي أَمَّا الْجُزْئِيَّةُ فِي الْوَطْءِ لِكَوْنِهِ مُلَاقِيًا لِمَحَلِّ الْحَرْثِ [او] کوم چي په وطي کي جزء کېدل دی نو هغه د کښت د ځای [رحم] سره د وطي د يو ځای کېدلو په وجه دي [يعني په وطي سره جزئيت او حرمتِ مصاهرت هغه وخت ثابتيږي کله چي د کښت په

ځای (ژوندي رحم) کي وطي وسي] وَقَدْ زَالَ بِالْمَوْتِ او هغه [د کېنت ځای] په مرګ سره زائل سو او د وطي أهل پاته نه سو] فَافْتَرَقَا نو [حرمتِ مصاهرت او حرمتِ رضاعت] دواړه سره جلا سول [او په دواړو کي فرق ثابت سو، لهذا يو پر بل قياسول صحيح نه دي].

اللغات: ﴿حُلِبَ﴾ د نصر ماضي مجهوله ده: لوښل، ﴿أُوجِرَ﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: په خوله کي وراچول، که په صله يې "رُمْح" ذکر سي نو معنی يې ده: په خوله کي په نېزه وهل، ﴿إِنْشَاء﴾ د افعال مصدر دی: پيدا کول، ﴿إِنْبَات﴾ دا هم د افعال مصدر دی: راشنه کول (مراد ځني په شيدو سره د هډوکو لوېدل او غټېدل دي)، ﴿مَحَلُّ الْحَرْثِ﴾ د کېنت (راشنه کېدلو) ځای، يعني د ښځي په نس کي د کوچني پيدا کېدلو ځای (کوم ته چي رحم [توملنه] وايي).

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که د يو ښځي تر مرګ وروسته د هغې له تيو څخه شيدې را ويستل سي او يو کوچني ته ورکول سي، نو زموږ په نېز په دې سره حرمتِ رضاعت ثابتيږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز نه ثابتيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د حرمتِ رضاعت دار ومدار پر ښځي دی ځکه چي اصلاً حرمت اول د (مرضعې) ښځي سره متعلق کيږي، بيا د هغې په واسطه د بل چا وطرف ته متعدي کيږي (يعني د هغې په واسطه سره بيا نور کسان حراميږي)، لېکن کله چي ښځه مړه سي نو هغه د حرمت محل پاته نه سي، لهذا کله چي خپله په مړه ښځه کي حرمت نه ثابتيږي نو د هغې په واسطه سره به نورو کسانو ته څرنګه متعدي سي، داسي بالکل نه سي کېدای؛ ځکه چي د متعدي کېدلو په هکله قاعده دا ده چي يو شی به اول په خپله ثابتيږي، بيا د بل شي وطرف ته متعدي کېدای سي.

ولهذا إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله د خپل دليل د استحکام لپاره يو مثال ذکر کړی دی، فرمايي چي څرنګه د ښځي تر مرګ وروسته يو څوک د هغې سره وطي وکړي، نو د محل د فقدان په وجه د هغې په وطي سره حرمتِ مصاهرت نه ثابتيږي، همداسي په دغه پورتنۍ مسئله کي هم ښځه د حرمت محل نه ده، لهذا د هغې په شيدو سره به هم حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي.

زموږ دليل: دا دی چي د حرمت سبب د جزئيت او بعضيت شبهه ده، او د جزئيت شبهه د مړې ښځي په شيدو کي هم موجوده ده، ځکه څرنګه چي د ژوندۍ ښځي په شيدو سره کوچنی وده او نما کوي او په هغه سره د کوچني په غوښو او هډوکو کي اضافه راځي، خاص همدغسي د مړې ښځي په شيدو سره هم وده او نما حاصليږي.

لهذا کله چې د مقصد په حصول کې د مړې او ژوندۍ ښځې شیدې سره برابرې دي، نو د حرمت په ثبوت کې به هم دواړې سره برابرې او مساوي وي، یعني څرنګه چې د ژوندۍ ښځې په شیدو سره حرمت ثابتیږي، همداسې به د مړې ښځې په شیدو سره هم حرمت ثابتیږي.

وهذا لأن الحرمة إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب دی، هغه وویل چې د مرګ په وجه ښځه د حرمت محل نه پاتیږي، نو په جواب کې صاحب د هدایې فرمایي چې (د دغه مړې ښځې) د رضاعت په سبب سره ثابت سوی حرمت د دوو شیانو په حق کې ښکاره کیږي: ① د مړې ښځې د ښخولو په حق کې، ② او هغې ته د تیمم ورکولو په حق کې، مثلاً که د دغه مړې ښځې شیدې داسې کوچنۍ نجلۍ ته ورکول سي چې هغه خاوند لري (لکه زموږ په ځینو سیمو کې چې نجلۍ تر پیدایښت وروسته سمدستي یو چا ته په نکاح ورکول کیږي او په کوچنیوالي کې لا هغه خاوند لري)، نو دغه مړه ښځه د دې نجلۍ د خاوند خواښې جوړه سوه او مَحرمه وګرځېده (ځکه چې خواښې پر زوم حرامه وي)، نو اوس که د دغه ښځې یو بل محرم پیدا نه سو چې ښخه یې کړي یا تیمم ورکړي، نو د دې نجلۍ خاوند (زوم) هغه ښخولای هم سي او که د تیمم ضرورت پېښ سي نو تیمم هم ورکولای سي (یعني د دې زوم لپاره جائز دي چې هغې ته غسل یا تیمم ورکړي)؛ نو معلومه سوه چې تر مرګ وروسته هم ښځه د حرمت محل پاتیږي؛ ځکه که چیري تر مرګ وروسته ښځه محل د حرمت نه پاتېدای نو د دغه سړي (زوم) لپاره به نه د هغې ښخول جائز وای او نه تیمم ورکول. لهذا ثابته سوه چې تر مرګ وروسته هم ښځه محل د حرمت پاتیږي، نو ځکه موږ وایو چې د مړې ښځې په شیدو سره هم حرمت رضاعت ثابتیږي.

أما الجزئية إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د مثال جواب دی، هغه وویل چې تر مرګ وروسته د ښځې په وطي سره حرمت مصاهرت نه ثابتیږي نو د هغې په شیدو سره به حرمت رضاعت هم نه ثابتیږي، د جواب حاصل دا دی چې د حرمت مصاهرت او حرمت رضاعت په مینځ کې فرق سته، هغه دا چې د حرمت رضاعت دار ومدار د شیدو پر روده او نما دی یعني په رضاعت کې د ښځې په شیدو سره د کوچني غوښې او هډوکي وده او نما کوي چې په هغه سره جزئیت ثابتیږي او د همدغه جزئیت په وجه حرمت رضاعت ثابتیږي. او شیدې چې څرنګه تر مرګ مخکې د ودې او نما أهل دي، همداسې تر مرګ وروسته هم د ودې او نما أهل دي.

د دې په خلاف د حرمت مصاهرت دار ومدار د کوچني پر پیدا کېدلو دی، او تر مرګ وروسته د ښځې رحم بالکل د دې أهل نه وي چې له هغه څخه کوچنی پیدا سي نو حرمت مصاهرت به له کومې خوا ثابت سي!، لهذا کله چې د حرمت رضاعت او حرمت مصاهرت په مینځ کې دومره فرق سته، نو یو پر بل قیاسول او په مثال کې ذکر کول صحیح نه دي.

د شيدو په حقنه (إماله) سره د حرمت ثابتېدلو بيان

وَإِذَا احْتُقِنَ الصَّبِيُّ بِاللَّبَنِ او که چيري يو کوچني ته د شا [دُبري] د لاري شيدې ورکول سي لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ ❁ نو د دې سره تحريم نه متعلق کيږي وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ تَثْبُتُ بِهِ الْحُرْمَةُ كَمَا يَفْسُدُ بِهِ الصَّوْمُ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی: چي په دې سره [هم] حرمت ثابتيږي لکه څرنګه چي په دې سره روژه فاسديږي وَوَجْهُ الْفَرْقِ عَلَى الظَّاهِرِ: أَنَّ الْمُفْسِدَ فِي الصَّوْمِ إِصْلَاحُ الْبَدَنِ او په ظاهر روايت کي د فرق وجه دا ده: چي په روژه کي فاسدونکی شی د بدن اصلاح ده [يعني روژه په هغه شي سره فاسديږي چي په هغه سره د بدن اصلاح وسي] وَيُوجَدُ ذَٰلِكَ فِي الدَّوَاءِ او دا په دواء کي [هم] موجود دي فَأَمَّا الْمُحَرِّمُ فِي الرَّضَاعِ فَمَعْنَى النُّشُوءِ او کوم چي په رضاعت کي حراموونکی شی دی نو هغه وده او نما ده وَلَا يُوجَدُ ذَٰلِكَ فِي الِاحْتِقَانِ او دا په احتقان کي موجود نه دي لِأَنَّ الْمُغَذِّيَ وُصُولُهُ مِنَ الْأَعْلَى ځکه چي غذا خو هغه شی ورکوي کوم چي د لوړي خوا [يعني د خولې د لاري] معدې ته رسول سي [نه هغه شی کوم چي د شا د لاري معدې ته ورسول سي].

اللغات: ﴿إِحْتَقَنَ﴾ د افتعال ماضي ده: حقنه ورکول (د شا د لاري [يعني د مقعدي لخوا] د مريض معدې ته دواء رسول، او په شيدو سره حقنه دې ته وايي چي د مقعدي لخوا کوچني ته شيدې ورکول سي).

﴿مُغَذِّيْ﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: غذا رسونکی، غذا ورکونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو ښځي شيدې د حقنې په آله کي واچول سي او يو کوچني ته د شا د لاري ورکول سي، نو د ظاهر روايت مطابق په دې سره حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي، لېکن له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي څرنګه په دې عمل سره د يو چا روژه فاسديږي، همداسي به په دې سره حرمتِ رضاعت هم ثابتيږي.

او ظاهر روايت په دواړو کي فرق کړی دی، د فرق وجه دا ده چي روژه په هر هغه شي سره فاسديږي په کوم شي سره چي د بدن اصلاح وسي او بدن ته تقويه ورکول سي، او په حقنه کي دغه سبب موجود دی، لهذا روژه خو به په دې (حقنه) سره فاسديږي، لېکن په دې سره به حرمتِ رضاعت ځکه نه

❁ القول الراجح: راجح قول همدا ظاهر روايت دی چي په "احتقان" سره حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: "ثم الاحتقان باللبن لا يوجب الحرمة من غير ذكر خلاف بين أصحابنا في كثير من الأصول، وهو قول الائمة الأربعة (فتح القدير ج:۳، ص:۳۱۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۰۷]

ثابتيږي چې د حرمتِ رضاعت دار و مدار پر وده او نما دی، او په شيدو سره وده او نما هغه وخت ثابتيږي کله چې شيدې کوچني ته د خولې د لارې ورکول سي، لېکن د شا د لارې د شيدو په داخلولو سره وده او نما نه ثابتيږي، لهذا په دې سره به حرمتِ رضاعت هم نه ثابتيږي.

د سړي يا حيوان په شيدو سره د حرمت ثابتېدلو بيان

وَإِذَا نَزَلَ لِلرَّجُلِ لَبَنٌ او کله چې د يو سړي شيدې راشوه سي [يعني کله چې د يو سړي په تيو کې شيدې پيدا سي] فَأَرْضَعَ صَبِيًّا او هغه يو کوچني ته خپلې شيدې ورکړي لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ نو د هغه سره حرمت نه متعلق کيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِلَبَنٍ عَلَى التَّحْقِيقِ ځکه چې هغه په حقيقي توګه شيدې نه دي فَلَا يَتَعَلَّقُ بِهِ النُّشُوُّ وَالنُّمُوُّ نو د هغه سره به وده او نما نه متعلق کيږي [ځکه چې وده او نما د حقيقي شيدو سره متعلق وي] وَهٰذَا لِأَنَّ اللَّبَنَ إِنَّمَا يُتَصَوَّرُ مِمَّنْ يُتَصَوَّرُ مِنْهُ الْوِلَادَةُ او دا په دې وجه چې [حقيقي] شيدې له هغه [نسل] څخه متصور کيږي چې له هغه څخه ولادت [د بچي زيږول] متصور کېدای سي وَإِذَا شَرِبَ صَبِيَّانِ مِنْ لَبَنِ شَاةٍ او که چيري دوه کوچنيان د يوې بزې شيدې وڅيښي لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ نو د هغه سره حرمت نه متعلق کيږي [يعني په دې سره د دواړو تر مينځ حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي] لِأَنَّهُ لَا جُزْئِيَّةَ بَيْنَ الْآدَمِيِّ وَالْبَهَائِمِ ځکه چې د انسان او څاروي تر مينځ هيڅ جزئيت نسته وَالْحُرْمَةُ بِاعْتِبَارِهَا او حرمت د همدغه جزئيت په اعتبار سره وي.

اللغات: ﴿نَزَلَ﴾ د ضرب ماضي ده: شوه کېدل، کښته کېدل (مراد ځني د سړي په سينه کې شيدې پيدا کېدل دي)، ﴿النُّشُوء والنُّمُوّ﴾ وده او نما (لويېدنه او غټېدنه).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو سړي په سينه (تيو) کې شيدې پيدا سي او هغه يو کوچني ته خپلې شيدې ورکړي، نو په دې سره هم حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي؛ ځکه حرمتِ رضاعت خو په حقيقي او اصلي شيدو سره ثابتيږي، او د سړي شيدې خو نه په حقيقت کې شيدې وي او نه په هغه کې د نما او ودې صلاحيت وي، ځکه چې د نما او ودې صلاحيت خو د هغه چا په شيدو کې وي کوم چې د بچي زيږولو صلاحيت لري او چې له هغه څخه د کوچني پيدا کېدل متصور کېدای سي، لېکن له سړي څخه د کوچني پيدا کېدل بالکل متصور کېدای نه سي، بلکې دا له عقل، تصور او الهي نظام څخه لېرې خبره ده، نو ځکه به د سړي په شيدو سره حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي.

چي د قرآن کریم دا آیت "وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ" مطلق دی. یعني په دې آیت کي د باکرې او ثیبې تر مینځ هیڅ فرق نه دی ذکر سوی. نو څرنګه چي د ثیبې په شیدو سره حرمت ثابتیږي. همداسي به د باکرې په شیدو سره هم حرمت ثابتیږي.

دویم دلیل دا دی چي د ثیبې په څیر د باکرې شیدې هم د کوچني د ودې او نما او د هغه د طاقت سبب دي، نو په دې سره هم د جزئیت او بعضیت شبهه ثابتیږي. لهذا د دغه جزئیت او بعضیت د شبهې په وجه به احتیاطاً د باکرې په شیدو سره حرمت ثابتیږي.

خو له امام شافعي او امام محمد رَحِمَهُمَا الله څخه یو روایت دا دی چي د باکرې ښځي شیدې شاذ او نادره وي، لهذا هغه د سړي د شیدو سره مشابه سوې، نو ځکه به حرمت نه په ثابتیږي.

د مړې ښځي په شیدو سره د حرمت ثابتېدلو بیان

وَإِذَا حُلِبَ لَبَنُ الْمَرْأَةِ بَعْدَ مَوْتِهَا او که د ښځي تر مرګ وروسته د هغې شیدې را ویستل سي فَأُوْجِرَ الصَّبِيُّ او دیو کوچني په خوله کي واچول سي تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ نو د هغه سره حرمت متعلق کیږي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله هُوَ يَقُولُ: الْأَصْلُ فِي ثُبُوتِ الْحُرْمَةِ إِنَّمَا هُوَ الْمَرْأَةُ هغه فرمايي: چي د حرمت د ثبوت په هکله خو اصل ښځه ده ثُمَّ تَتَعَدَّى إِلَى غَيْرِهَا بِوَاسِطَتِهَا بیا د هغې په واسطه سره د نورو وطرف ته حرمت متعدي کیږي [منتقل کیږي] وَبِالْمَوْتِ لَمْ تَبْقَ مَحَلًّا لَهَا او د مرګ په وجه هغه د حرمت محل پاته نه سوه [نو ځکه به د هغې حرمت د نورو طرف ته نه متعدي کیږي] وَلِهَذَا لَا يُوجِبُ وَطْؤُهَا حُرْمَةَ الْمُصَاهَرَةِ له همدې کبله د دغه [مړې] ښځي وطي حرمتِ مصاهرت نه ثابتوي وَلَنَا: أَنَّ السَّبَبَ هُوَ شُبْهَةُ الْجُزْئِيَّةِ او زموږ دلیل دا دی: چي د حرمت سبب د جزئیت شبهه ده وَذَلِكَ فِي اللَّبَنِ او دا شبهه په دغه شیدو کي سته لِمَعْنَى الْإِنْشَاءِ وَالْإِنْبَاتِ د [غوښو] پیدا کولو او [هډوکو] راشنه کولو [غټولو] د معنیٰ په وجه وَهُوَ قَائِمٌ بِاللَّبَنِ [ځکه چي] دغه معنیٰ په دې شیدو کي [هم] موجوده ده وَهَذِهِ الْحُرْمَةُ تَظْهَرُ فِي حَقِّ الْمَيِّتَةِ دَفْنًا وَتَيَمُّمًا او دا حرمت د مړې ښځي په حق کي د ښخولو او تیمم ورکولو په اعتبار سره ښکاره کیږي أَمَّا الْجُزْئِيَّةُ فِي الْوَطْءِ لِكَوْنِهِ مُلَاقِيًا لِمَحَلِّ الْحَرْثِ [او] کوم چي په وطي کي جزء کېدل دي نو هغه د کښت د ځای [رحم] سره د وطي د یو ځای کېدلو په وجه دي [یعني په وطي سره جزئیت او حرمتِ مصاهرت هغه وخت ثابتیږي کله چي د کښت په

ځای (ژوندي رحم) کي وطي وسي] وَقَدْ زَالَ بِالْمَوْتِ او هغه [د کښت ځای] په مرګ سره زائل سو او د وطي أهل پاته نه سو] فَافْتَرَقَا نو [حرمت مصاهرت او حرمت رضاعت] دواړه سره جلا سول [او په دواړو کي فرق ثابت سو، لهذا يو پر بل قياسول صحيح نه دي].

اللغات: ﴿حُلِبَ﴾ د نصر ماضي مجهوله ده: لوښل، ﴿أُوجِرَ﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: په خوله کي وراچول، که په صله يې "رُمح" ذکر سي نو معنی يې ده: په خوله کي په نېزه وهل، ﴿إِنْشَام﴾ د افعال مصدر دی: پيدا کول، ﴿إِنْبَات﴾ دا هم د افعال مصدر دی: راشنه کول (مراد ځني په شيدو سره د هډوکو لوېدل او غټېدل دي)، ﴿مَحَلُّ الْحَرْثِ﴾ د کښت (راشنه کېدلو) ځای، يعني د ښځي په نس کي د کوچني پيدا کېدلو ځای (کوم ته چي رحم [توملنه] وايي).

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که د يو ښځي تر مرګ وروسته د هغې له تيو څخه شيدې را ويستل سي او يو کوچني ته ورکول سي، نو زموږ په نېز په دې سره حرمت رضاعت ثابتيږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز نه ثابتيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د حرمت رضاعت دار ومدار پر ښځي دی ځکه چي اصلاً حرمت اول د (مرضعې) ښځي سره متعلق کيږي، بيا د هغې په واسطه د بل چا وطرف ته متعدي کيږي (يعني د هغې په واسطه سره بيا نور کسان حراميږي)، لېکن کله چي ښځه مړه سي نو هغه د حرمت محل پاته نه سي، لهذا کله چي خپله په مړه ښځه کي حرمت نه ثابتيږي نو د هغې په واسطه سره به نورو کسانو ته څرنګه متعدي سي، داسي بالکل نه سي کېدای؛ ځکه چي د متعدي کېدلو په هکله قاعده دا ده چي يو شی به اول په خپله ثابتيږي، بيا د بل شي وطرف ته متعدي کېدای سي.

ولهذا إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله د خپل دليل د استحکام لپاره يو مثال ذکر کړی دی، فرمايي چي څرنګه د ښځي تر مرګ وروسته يو څوک د هغې سره وطي وکړي، نو د محل د فقدان په وجه د هغې په وطي سره حرمت مصاهرت نه ثابتيږي، همداسي په دغه پورتنۍ مسئله کي هم ښځه د حرمت محل نه ده، لهذا د هغې په شيدو سره به هم حرمت رضاعت نه ثابتيږي.

زموږ دليل: دا دی چي د حرمت سبب د جزئيت او بعضيت شبهه ده، او د جزئيت شبهه د مړې ښځي په شيدو کي هم موجوده ده، ځکه څرنګه چي د ژوندۍ ښځي په شيدو سره کوچنی وده او نما کوي او په هغه سره د کوچني په غوښو او هډوکو کي اضافه راځي، خاص همدغسي د مړې ښځي په شيدو سره هم وده او نما حاصليږي.

لهذا کله چې د مقصد په حصول کې د مړې او ژوندۍ ښځې شیدې سره برابرې دي، نو د حرمت په ثبوت کې به هم دواړې سره برابرې او مساوي وي، یعني څرنګه چې د ژوندۍ ښځې په شیدو سره حرمت ثابتیږي، همداسې به د مړې ښځې په شیدو سره هم حرمت ثابتیږي.

وهذا لأن الحرمة إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب دی، هغه وویل چې د مرګ په وجه ښځه د حرمت محل نه پاتې کیږي، نو په جواب کې صاحب د هدایې فرمایي چې (د دغه مړې ښځې) د رضاعت په سبب سره ثابت سوی حرمت د دوو شیانو په حق کې ښکاره کیږي: ① د مړې ښځې د ښخولو په حق کې، ② او هغې ته د تیمم ورکولو په حق کې، مثلاً که د دغه مړې ښځې شیدې داسې کوچنۍ نجلۍ ته ورکول سي چې هغه خاوند لري (لکه زموږ په ځینو سیمو کې چې نجلۍ تر پیدایښت وروسته سمدستي یو چا ته په نکاح ورکول کیږي او په کوچنیوالي کې لا هغه خاوند لري)، نو دغه مړه ښځه د دې نجلۍ د خاوند خواښې جوړه سوه او مَحرمه وګرځېده (ځکه چې خواښې پر زوم حرامه وي)، نو اوس که د دغه ښځې یو بل محرم پیدا نه سو چې ښخه یې کړي یا تیمم ورکړي، نو د دې نجلۍ خاوند (زوم) هغه ښخولای هم سي او که د تیمم ضرورت پېښ سي نو تیمم هم ورکولای سي (یعني د دې زوم لپاره جائز دي چې هغې ته غسل یا تیمم ورکړي)؛ نو معلومه سوه چې تر مرګ وروسته هم ښځه د حرمت محل پاتې کیږي؛ ځکه که چیري تر مرګ وروسته ښځه محل د حرمت نه پاتېدای نو د دغه سړي (زوم) لپاره به نه د هغې ښخول جائز وای او نه تیمم ورکول. لهذا ثابته سوه چې تر مرګ وروسته هم ښځه محل د حرمت پاتې کیږي، نو ځکه موږ وایو چې د مړې ښځې په شیدو سره هم حرمتِ رضاعت ثابتیږي.

أما الجزئية إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د مثال جواب دی، هغه وویل چې تر مرګ وروسته د ښځې په وطي سره حرمتِ مصاهرت نه ثابتیږي نو د هغې په شیدو سره به حرمتِ رضاعت هم نه ثابتیږي، د جواب حاصل دا دی چې د حَرمتِ مصاهرت او حرمتِ رضاعت په مینځ کې فرق سته، هغه دا چې د حرمتِ رضاعت دار و مدار د شیدو پر وده او نما دی یعني په رضاعت کې د ښځې په شیدو سره د کوچني غوښې او هډوکي وده او نما کوي چې په هغه سره جزئیت ثابتیږي او د همدغه جزئیت په وجه حرمتِ رضاعت ثابتیږي. او شیدې چې څرنګه تر مرګ مخکې د ودې او نما أهل دي، همداسې تر مرګ وروسته هم د ودې او نما أهل دي.

د دې په خلاف د حرمتِ مصاهرت دار و مدار د کوچني پر پیدا کېدلو دی، او تر مرګ وروسته د ښځې رحم بالکل د دې أهل نه وي چې له هغه څخه کوچنی پیدا سي نو حرمتِ مصاهرت به له کومې خوا ثابت سي!،

لهذا کله چې د حرمتِ رضاعت او حرمتِ مصاهرت په مینځ کې دومره فرق سته، نو یو پر بل قیاسول او په مثال کې ذکر کول صحیح نه دي.

د شيدو په حقنه (إماله) سره د حرمت ثابتېدلو بيان

وَإِذَا احْتُقِنَ الصَّبِيُّ بِاللَّبَنِ او كه چيري يوكوچني ته د شا [دُبري] د لاري شيدې وركول سي لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ * نو د دې سره تحريم نه متعلق كيږي وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ تَثْبُتُ بِهِ الْحُرْمَةُ كَمَا يَفْسُدُ بِهِ الصَّوْمُ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوى دى: چي په دې سره [هم] حرمت ثابتيږي لكه څرنګه چي په دې سره روژه فاسديږي وَوَجْهُ الْفَرْقِ عَلَى الظَّاهِرِ: أَنَّ الْمُفْسِدَ فِي الصَّوْمِ إِصْلَاحُ الْبَدَنِ او په ظاهر روايت كي د فرق وجه دا ده: چي په روژه كي فاسدونكى شى د بدن اصلاح ده [يعني روژه په هغه شي سره فاسديږي چي په هغه سره د بدن اصلاح وسي] وَيُوجَدُ ذٰلِكَ فِي الدَّوَاءِ او دا په دواء كي [هم] موجود دي فَأَمَّا الْمُحَرِّمُ فِي الرَّضَاعِ فَمَعْنَى النُّشُوِّ او كوم چي په رضاعت كي حرامونكى شى دى نو هغه وده او نما ده وَلَا يُوجَدُ ذٰلِكَ فِي الِاحْتِقَانِ او دا په احتقان كي موجود نه دي لِأَنَّ الْمُغَذِّيَ وُصُولُهُ مِنَ الْأَعْلَى ځكه چي غذا خو هغه شى وركوي كوم چي دلوړي خوا [يعني د خولې دلاري] معدې ته رسول سي [نه هغه شى كوم چي د شا دلاري معدې ته ورسول سي].

اللغات: ﴿اِحْتَقَنَ﴾ د افتعال ماضي ده: حقنه وركول (د شا د لاري [يعني د مقعدي لخوا] د مريض معدې ته دواء رسول. او په شيدو سره حقنه دې ته وايي چي د مقعدي لخوا كوچني ته شيدې وركول سي).

﴿مُغَذِّيْ﴾ د تفعيل اسم فاعل دى: غذا رسونكى، غذا وركونكى.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دى كه د يو ښځي شيدې د حقنې په آله كي واچول سي او يو كوچني ته د شا د لاري وركول سي، نو د ظاهر روايت مطابق په دې سره حرمت رضاعت نه ثابتيږي، لېكن له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دى چي څرنګه په دې عمل سره د يو چا روژه فاسديږي، همداسي به په دې سره حرمتِ رضاعت هم ثابتيږي.

او ظاهر روايت په دواړو كي فرق كړى دى، د فرق وجه دا ده چي روژه په هر هغه شي سره فاسديږي په كوم شي سره چي د بدن اصلاح وسي او بدن ته تقويه وركول سي، او په حقنه كي دغه سبب موجود دى، لهذا روژه خو به په دې (حقنه) سره فاسديږي، لېكن په دې سره به حرمت رضاعت ځكه نه

* القول الراجح: راجح قول همدا ظاهر روايت دى چي په "احتقان" سره حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: "ثم الاحتقان باللبن لا يوجب الحرمة من غير ذكر خلاف بين أصحابنا فى كثير من الأصول، وهو قول الائمة الأربعة (فتح القدير ج:٣، ص:٣١٩). [القول الراجح ج:١، ص:٣٠٧]

ثابتيږي چې د حرمتِ رضاعت دار و مدار پر وده او نما دی، او په شيدو سره وده او نما هغه وخت ثابتيږي کله چې شيدې کوچني ته د خولې د لارې ورکول سي، لېکن د شا د لارې د شيدو په داخلولو سره وده او نما نه ثابتيږي، لهذا په دې سره به حرمتِ رضاعت هم نه ثابتيږي.

د سړي يا حيوان په شيدو سره د حرمت ثابتېدلو بيان

وَإِذَا نَزَلَ لِلرَّجُلِ لَبَنٌ او کله چې د يو سړي شيدې راشوه سي [يعني کله چې د يو سړي په تيو کي شيدې پيدا سي] فَأَرْضَعَ صَبِيًّا او هغه يو کوچني ته خپلي شيدې ورکړي لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ نو د هغه سره حرمت نه متعلق کيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِلَبَنٍ عَلَى التَّحْقِيقِ ځکه چې هغه په حقيقي توګه شيدې نه دي فَلَا يَتَعَلَّقُ بِهِ النُّشُوُّ وَالنُّمُوُّ نو د هغه سره به وده او نما نه متعلق کيږي [ځکه چې وده او نما د حقيقي شيدو سره متعلق وي] وَهٰذَا لِأَنَّ اللَّبَنَ إِنَّمَا يُتَصَوَّرُ مِمَّنْ يُتَصَوَّرُ مِنْهُ الْوِلَادَةُ او دا په دې وجه چې [حقيقي] شيدې له هغه [نسل] شخصه متصور کيږي چې له هغه شخصه ولادت [د بچي زېږول] متصور کېدای سي وَإِذَا شَرِبَ صَبِيَّانِ مِنْ لَبَنِ شَاةٍ او که چيري دوه کوچنيان د يوې بزې شيدې وچيښي لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ نو د هغه سره حرمت نه متعلق کيږي [يعني په دې سره د دواړو تر مينځ حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي] لِأَنَّهُ لَا جُزْئِيَّةَ بَيْنَ الْآدَمِيِّ وَالْبَهَائِمِ ځکه چې د انسان او څاروي تر مينځ هيڅ جزئيت نسته وَالْحُرْمَةُ بِاعْتِبَارِهَا او حرمت د همدغه جزئيت په اعتبار سره وي.

اللغات: ﴿نَزَلَ﴾ د ضرب ماضي ده: شوه کېدل، کښته کېدل (مراد ځني د سړي په سينه کي شيدې پيدا کېدل دي)، ﴿نُشُوء والنُّمُوّ﴾ وده او نما (لويېدنه او غټېدنه).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو سړي په سينه (تيو) کي شيدې پيدا سي او هغه يو کوچني ته خپلي شيدې ورکړي، نو په دې سره هم حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي؛ ځکه حرمتِ رضاعت خو په حقيقي او اصلي شيدو سره ثابتيږي، او د سړي شيدې خو نه په حقيقت کي شيدې وي او نه په هغه کي د نما او ودې صلاحيت وي، ځکه چې د نما او ودې صلاحيت خو د هغه چا په شيدو کي وي کوم چې د بچي زېږولو صلاحيت لري او چې له هغه شخصه د کوچني پيدا کېدل متصور کېدای سي، لېکن له سړي شخصه د کوچني پيدا کېدل بالکل متصور کېدای نه سي، بلکي دا له عقل، تصور او الهي نظام څخه ليري خبره ده، نو ځکه به د سړي په شيدو سره حرمتِ رضاعت نه ثابتيږي.

وإذا شرب إلخ: دريمه مسئله دا ده که يو کوچني هلک او کوچنۍ نجلۍ د يوې بزې شيدې رودلې وي، نو په دې سره هم د دوی تر مينځ حرمت رضاعت نه ثابتيږي؛ ځکه چې حرمت رضاعت د انساني جزئيت په اعتبار سره ثابتيږي، نه د حيواني جزئيت په اعتبار سره (يعني د حرمت رضاعت په باب کې د انسان [ښځې] شيدې معتبره دي، لکه مخکې چې مور وويل چې کله د ښځې په شيدو سره د کوچني په بدن کې وده او نما راسي نو د ښځې جزئيت په کوچني کې سرايت وکړي او کوچنی د ښځې جزء وګرځي، نو په همدغه اعتبار سره دا ښځه او د دې ښځې قريبان پر هغه کوچني حراميږي، ليکن د حيوان او نسان تر مينځ د هر فرق سته، لهذا د حيوان په شيدو سره د دغه جزئيت هيڅ تصور نه سي کېدای، نو د حيوان په شيدو سره به حرمت رضاعت هم نه ثابتيږي).

په رواياتو کې راځي چې امام بخاري رَحِمَهُ الله په دې هکله د حرمت قائل وو، حتیٰ کله چې هغه په بخارا کې وو نو د حرمت فتواوې به يې ورکولې، او شيخ ابو حفص الكبير به هغه له دې ځخه منع کوی خو امام بخاري رَحِمَهُ الله به په دې هکله پر خپل مسلک مستقيم وو، او په همدې وجه له خپل ښار "بخارا" ځخه ويستل سو؛ ځکه يو وخت پوښتنه ځني وسوه چې که دوو کوچنيانو د يوې بزې شيدې رودلې وي نو څه حکم دی؟ امام بخاري رَحِمَهُ الله د حرمت د ثبوت فتویٰ ورکړه، نو پر دې باندې خلک سره جمع سول او د دې فتواوو په وجه يې هغه له بخارا ځخه ويستی.

د حرمت رضاعت د يو صورت بيان

وَإِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ صَغِيرَةً وَكَبِيرَةً او که يو سړی د کوچنۍ [شير خواري] نجلۍ او غټې [مشري] ښځې سره واده وکړي فَأَرْضَعَتِ الْكَبِيرَةُ الصَّغِيرَةَ او غټه ښځه کوچنۍ نجلۍ ته شيدې ورکړي حَرُمَتَا عَلَى الزَّوْجِ نو دواړې پر خاوند حراميږي لِأَنَّهُ يَصِيرُ جَامِعًا بَيْنَ الْأُمِّ وَالْبِنْتِ رَضَاعًا ځکه چې [په دې صورت کې] خاوند د مور او رضاعي لور جمع کونکی ګرځي وَذَلِكَ حَرَامٌ او دا حرام دي كَالْجَمْعِ بَيْنَهُمَا نَسَبًا لکه د نسب په اعتبار سره چې د دوی دواړو جمع کول [حرام دي] ثُمَّ إِنْ لَمْ يَدْخُلْ بِالْكَبِيرَةِ بيا که خاوند په مشري ښځې دخول نه وي کړی فَلَا مَهْرَ لَهَا نو د هغې لپاره به [هيڅ] مهر نه وي لِأَنَّ الْفُرْقَةَ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا ځکه چې تر دخول مخکې د هغې له طرفه فرقت واقع سو وَلِلصَّغِيرَةِ نِصْفُ الْمَهْرِ او د کوچنۍ نجلۍ لپاره به نيم مهر وي لِأَنَّ الْفُرْقَةَ وَقَعَتْ لَا مِنْ جِهَتِهَا ځکه چې فرقت د هغې له طرفه نه دی واقع سوی وَالِارْتِضَاعُ وَإِنْ كَانَ فِعْلًا مِنْهَا لَكِنَّ فِعْلَهَا غَيْرُ مُعْتَبَرٍ فِي إِسْقَاطِ حَقِّهَا او شيدې رودول که څه هم د هغې فعل دی، ليکن د هغې دا فعل د هغې د خپل حق

ساقطولو په باره کي معتبر نه دی كَمَا إِذَا قَتَلَتْ مُوَرِّثَهَا لکه په هغه صورت کي [چي هم د هغي فعل غیر معتبر دی] کله چي هغه خپل مورث قتل کړي وَيَرْجِعُ بِهِ الزَّوْجُ عَلَى الْكَبِيرَةِ او خاوند به دې [نيم مهر] سره پر مشري ښځي رجوع کوي [يعني د نيم مهر ضمان او تاوان به له مشري ښځي څخه اخلي] إِنْ كَانَتْ تَعَمَّدَتْ بِهِ الْفَسَادَ که چيري هغې په دې فعل سره د نکاح فاسدولو قصد کړی وي وَإِنْ لَمْ تَتَعَمَّدْ او که هغې د دې قصد نه وي کړی فَلَا شَيْءَ عَلَيْهَا نو پر هغې به هيڅ شی نه وي وَإِنْ عَلِمَتْ بِأَنَّ الصَّغِيرَةَ امْرَأَتُهُ که څه هم هغې ته دا معلومه وي چي کوچنۍ نجلۍ زما د خاوند ښځه ده وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ يَرْجِعُ فِي الْوَجْهَيْنِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله روايت دی: چي خاوند به په دواړو صورتونو کي [په نيم مهر سره پر مشري ښځي] رجوع کوي وَالصَّحِيحُ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ [لیکن] صحیح ظاهر روایت دی لِأَنَّهَا وَإِنْ أَكَّدَتْ مَا كَانَ عَلَى شَرَفِ السُّقُوطِ وَهُوَ نِصْفُ الْمَهْرِ ځکه مشري ښځي که څه هم هغه شی مؤکد کړی کوم چي د ساقطېدلو پر څنډه وو [يعني ساقطېدلو ته نژدې وو] وَذَلِكَ يَجْرِي مَجْرَى الْإِتْلَافِ او دا مؤکد کول د إتلاف [ضايع کولو] قائم مقام دي لَكِنَّهَا مُسَبِّبَةٌ فِيهِ لیکن هغه [مشره ښځه] په دې فعل کي مسببه [سبب جوړېدونکې] ده إِمَّا لِأَنَّ الْإِرْضَاعَ لَيْسَ بِإِفْسَادٍ لِلنِّكَاحِ وَضْعًا يا په دې وجه چي شيدې ورکول د وضع په اعتبار سره د نکاح لپاره فاسدونکي نه دي وَإِنَّمَا ثَبَتَ ذَلِكَ بِاتِّفَاقِ الْحَالِ بلکي هغه خو اتفاقاً [په ناڅاپيزه او ناخبره توګه] ثابت سوي دي أَوْ لِأَنَّ إِفْسَادَ النِّكَاحِ لَيْسَ بِسَبَبٍ لِإِلْزَامِ الْمَهْرِ يا په دې وجه چي د نکاح فاسدول د مهر واجبېدلو سبب نه دي بَلْ هُوَ سَبَبٌ لِسُقُوطِهِ بلکي هغه د مهر ساقطېدلو سبب دي إِلَّا أَنَّ نِصْفَ الْمَهْرِ يَجِبُ بِطَرِيقِ الْمُتْعَةِ مګر دا چي نيم مهر د متعې په توګه واجبيږي عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چي [په بابُ المهر کي دا خبره] معلومه سوه لَكِنَّ مِنْ شَرْطِهِ إِبْطَالَ النِّكَاحِ لیکن د متعې د واجبېدلو شرط د نکاح باطلول دي [يعني متعه د نکاح باطلېدلو په وخت کي واجبيږي] وَإِذَا كَانَتْ مُسَبِّبَةً او کله چي [مشره ښځه] مسببه وګرځېده يُشْتَرَطُ فِيهِ التَّعَدِّي نو په دې کي به تعدی شرط وي كَحَفْرِ الْبِئْرِ لکه د څاه کيندل [يعني لکه د څاه په کيندلو کي چي تعدی شرط ده] ثُمَّ إِنَّمَا تَكُونُ مُتَعَدِّيَةً إِذَا عَلِمَتْ بِالنِّكَاحِ وَقَصَدَتْ بِالْإِرْضَاعِ الْإِفْسَادَ بيا [مشره ښځه] هغه وخت تعدی

کونکې ګرځي کله چې هغه [د کوچنۍ نجلۍ] په نکاح خبره وي او په شيدو ورکولو سره هغې [د نکاح] فاسدولو اراده کړې وي أَمَّا إِذَا لَمْ تَعْلَمْ بِالنِّكَاحِ أَوْ عَلِمَتْ بِالنِّكَاحِ وَلَكِنَّهَا قَصَدَتْ دَفْعَ الْجُوعِ وَالْهَلَاكِ عَنِ الصَّغِيرَةِ دُونَ الْإِفْسَادِ ليکن که چيرې هغه په نکاح خبره نه وي يا خبره خو وي ليکن [په شيدو ورکولو سره] هغې له کوچنۍ نجلۍ څخه د لوږې او هلاکت ليرې کولو اراده کړې وي، نه د نکاح فاسدولو لَا تَكُونُ مُتَعَدِّيَةً نو هغه تعدی کونکې نه ګرځي لِأَنَّهَا مَأْمُورَةٌ بِذَلِكَ ځکه چې [د شريعت له طرفه] هغې ته د دې حکم سوی دی. وَلَوْ عَلِمَتْ بِالنِّكَاحِ وَلَمْ تَعْلَمْ بِالْفَسَادِ او که هغه په نکاح خبره وي او په فساد خبره نه وي لَا تَكُونُ مُتَعَدِّيَةً أَيْضًا نو هم هغه تعدی کونکې نه ګرځي وَهَذَا مِنَّا اعْتِبَارُ الْجَهْلِ لِدَفْعِ قَصْدِ الْفَسَادِ او دا زموږ له طرفه د جهالت اعتبار کول د فساد دفع کولو لپاره دي لَا لِدَفْعِ الْحُكْمِ د شرعي حکم دفع کولو لپاره نه دي.

اللغات: ﴿قِبَل﴾ طرف، جهت. ﴿إِرْتِضَاع﴾ شيدې رودل. ﴿مُوَرِّث﴾ وارث جوړونکی (مراد ځني هغه قريب چې څوک يې په ميراث کې حق لري). ﴿أَكَّدَتْ﴾ د تفعيل له باب څخه د ماضي صيغه ده: مؤکد کول، مضبوطول (پخول او ټينګول). ﴿شَرَف﴾ دا لفظ ډيرې معناوې لري چې له هغوی څخه يو څو دا دي: کناره، څنډه (ژۍ)، پزه، بوک. ﴿إِتْلَاف﴾ د افعال مصدر دی: ضايع کول، تلفول. ﴿مُسَبِّبَة﴾ سبب جوړېدونکې. ﴿تَعَدِّي﴾ د تفعّل مصدر دی: تجاوز کول (له حدّ څخه تېرېدل)، سرکښي کول. ﴿حَفْر﴾ د ضرب مصدر دی: کيندل، کنبل. ﴿إِفْسَاد﴾ د افعال مصدر دی: فاسدول، خرابول. ﴿جُوْع﴾ لوږه (وږې والی).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که ديو سړي په نکاح کې يوه غټه ښځه وي او بله کوچنۍ نجلۍ وي (يعني يوه مشره بالغه ښځه د هغه په نکاح کې وي او بله کوچنۍ شيرخواره نجلۍ د هغه په نکاح کې وي [کوم چې تر اوسه شيدې رودي]) او بيا غټه (مشره) ښځه و کوچنۍ نجلۍ ته خپلې شيدې ورکړي، نو پر هغه سړي دا ښځه او نجلۍ دواړې حرامېږي؛ ځکه چې د شيدو ورکولو په وجه غټه (مشره) ښځه د کوچنۍ نجلۍ رضاعي مور سوه او کوچنۍ نجلۍ د هغې لور سوه، او لور او مور دواړه د يوه سړي په نکاح کې راټلل ناروا دي (هغه که نسبي لور او مور وي او که رضاعي لور او مور وي)، نو په دې وجه به دا دواړې ښځې پر هغه سړي حرامې وي.

صاحب د کفایې او علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله پر دې موقع یوه باریکه نکته دا بیان کړې ده چې په دغه مسئله کې د مشرې ښځې حرمت أبدي او دائمي دی؛ ځکه چې هغه د خاوند خوابنې جوړه سوه، او د خوابنې سره همېشه نکاح ناجائز او حرامه وي، خو د کوچنۍ نجلۍ په باره کې دا تفصیل ستـه چې که کوچنۍ نجلۍ هغه شیدې رودلي وي کوم چې د خاوند د وطي په وجه سره د مشرې ښځې په سینه کې پیدا سوي وي نو هغه کوچنۍ نجلۍ هم أبدي حرامه گرځي؛ ځکه چې خاوند د هغې رضاعي پلار جوړ سو، همدارنګه که خاوند په مشرې ښځې دخول کړی وي (یعني جماع یې ور سره کړی وي) او بیا دا معامله پېښه سي (یعني مشره ښځې کوچنۍ نجلۍ ته شیدې ور کړي) نو بیا هم کوچنۍ نجلۍ أبدي او دائمي حرامه گرځي؛ ځکه په مور چې کله دخول وسي نو بیا د هغې د لور په حق کې د حِلّت هیڅ تصور نه سي کېدای، ها! که خاوند په مشرې ښځې دخول هم نه وي کړی او د هغې شیدې هم د خاوند د وطي په وجه نه وي پیدا سوي (بلکي د مخکني خاوند د وطي په نتیجه کې هغه حامله سوې وي او شیدې یې پیدا سوي وي) نو په داسي صورت کې هغه کوچنۍ نجلۍ پر خاوند أبدي حرامه نه گرځي بلکي عارضي حرامه گرځي، او وروسته خاوند د هغې سره نکاح کولای سي.

ثم إن لم يدخل إلخ: په دې سره موږ ته دا را ښیي چې که په دې مسئله کې خاوند د مشرې سره جماع کړې وي نو بیا به هغې ته نیم مهر ور کوي، لېکن که له جماع او دخول څخه بغیر دا معامله پېښه سي نو هغې ته به نیم مهر هم نه ور کوي؛ ځکه چې دا فرقت د هغې د خپل عمل په وجه واقع سوی دی، نو ځکه به هغه له خپل حق څخه محرومه کېږي، لکه په هغه صورت کې چې ښځه له خپل حق څخه محرومه کېږي، کله چې هغه مرتده سي، یا هغه د خاوند زوی (مېرزی زوی) په شهوت سره مچ کړي. ها! څرنګه چې په دغه فرقت کې د کوچنۍ نجلۍ هیڅ دخل نسته، نو ځکه به هغې ته خپل نیم حق (نیم مهر ور کول) کېږي.

والارتضاع إلخ: په دې سره د یو مقدر سوال جواب ور کوي، سوال دا دی چې په دغه مسئله کې د فرقت علت شیدې رودل (چیښل) دي او د همدغه علت په وجه ښځه او نجلۍ دواړه پر خاوند حرام گرځېدلي دي، او دا علت د نجلۍ له طرفه دی (یعني د رودلو فعل خاص د نجلۍ له طرفه واقع سوی دی)، لهذا د عقل تقاضا دا ده چې د فرقت نسبت هم د هغې وطرف ته وسي او هغه هم له خپل حق څخه محرومه کړل سي؟

نو په جواب کې فرمایي چې دا خبره موږ منو چې د فرقت علت د شیدو رودل دي او دا خاص د نجلۍ فعل دی، لېکن د هغې دا فعل د شریعت په نظر کې هیڅ اعتبار نه لري؛ ځکه چې هغه تر اوسه

په شرعي احکامو مکلفه نه ده، همدا وجه ده که کوچنۍ نجلۍ خپل مورث (مثلاً خاوند) قتل کړي نو هم به هغه له وراثت څخه نه محرومه کیږي، همداسي په دغه مسئله کي د نجلۍ شیدې رودل که څه هم د حق د إسقاط علت او دلیل دی خو د شریعت په نظر کي دا غیرِ معتبر او د نیو کړي قابل نه دی.

ویرجم په إلام: په دې سره دا خبره بیانوي چي غټه ښځه خو به له مهر څخه محرومه کیږي، لیکن نجلۍ به د نیم مهر حقداره وي او پر خاوند به هغې ته نیم مهر ورکول لازم او ضروري وي.

اوس پوښتنه دا ده چي آیا خاوند دغه نیم مهر له خپلي مشري ښځي څخه د ضمان او تاوان په توګه اخیستلای سي، که نه؟

په دې هکله په ظاهر روایت کي څه تفصیل دی او هغه دا چي د مشري ښځي نیت ته به کتل کیږي او د دې خبري تفتیش به کیږي چي هغې په کوم نیت نجلۍ ته شیدې ورکړي دي، د نکاح فاسدولو لپاره او که د لوږي ختمولو لپاره، که چیري هغې د نکاح فاسدولو په غرض قصداً نجلۍ ته شیدې ورکړي وي نو بیا به پر هغې د نیم مهر ضمان واجب وي، لیکن که د نجلۍ د لوږي ختمولو لپاره یې داسي کړي وي نو پر هغې به هیڅ ضمان او تاوان واجب نه وي.

امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي غټه ښځه به مطلقاً د نیم مهر ضامنه وي، برابره ده هغې د نکاح فاسدولو نیت کړی وي او که د لوږي ختمولو نیت یې کړی وي، په دواړو صورتونو کي پر هغې ضمان واجبیږي، صاحب د عنایې د امام محمد رَحِمَهُ الله دلیل دا بیان کړی دی چي د ضمان د وجوب په سلسله کي مسبّب (سبب جوړوونکی کس) د مباشر (په خپله د غلط کار کونکی کس) په څیر دی (او دوی دواړه په دې هکله سره برابر دي)، همدا وجه ده که یو څوک د یو چا د قفس دروازه خلاصه کړي او مارغه ولاړ سي، یا د یو قیدي زولني خلاصي کړي او هغه وتښتیږي، نو پر مسبب (یعني چا چي دروازه یا زولني خلاصي کړي وي پر هغه) د دې شیانو ضمان واجبیږي، حالانکي هغه فقط مسبب (سبب جوړوونکی) دی (خو پر هغه ځکه ضمان واجبیږي چي د امام محمد په نیز به مسبب د مباشر په څیر ګرځول کیږي او د مباشر حکم به پر جاري کیږي)، همداسي په دغه مسئله کي که څه هم مباشر او مرتکب کوچنۍ نجلۍ ده خو ځرنګه چي مسبب غټه ښځه ده، نو ځکه به پر هغې خامخا ضمان واجبیږي او په تعدی او غیرِ تعدی (تعمّد او غیرِ تعمّد) کي به هیڅ فرق نه کیږي (یعني د غټې ښځي نیت ته به نه کتل کیږي چي د هغې نیت د تعدی دی او که د غیرِ تعدی؟)؛ ځکه چي د مباشر په حق کي تعدی او غیرِ تعدی دواړه سره برابر دي، لهذا د مسبّب په حق کي به هم دواړه سره برابر وي.

والصحيح ظاهر الرواية إلخ: كه څه هم په دغه مسئله كې د امام محمد رَحِمَهُ الله قياس طاقتور ښكاري. لېكن د دې باوجود صحيح قول ظاهر روايت دى چې په تعدى او غيرِ تعدى كې به فرق كيږي (او د مشري ښځې نيت ته به كتل كيږي)؛ ځكه په دې مسئله كې د مشري ښځې جرم فقط دومره دى چې هغې يو داسې شى مؤكد او مستحكم كړى كوم چې ساقطېدلو او ضايع كېدلو ته نژدې وو. يعني دا ممكنه وه چې كوچنۍ نجلۍ تر بلوغ وروسته مرتده سوې واى، يا يې په شهوت سره مېرزې زوى مچ كړى وي او په دې سره د هغې مهر ساقط سوي واى، خو مشري ښځې په شيدو وركولو سره د هغې (نيم) مهر مؤكد كړى، نو فقط په دې وجه سره هغه مجرمه ده او د هغې دا فعل د "إِتْلَافُ الشَّئ" (د شي ضايع كولو) قائم مقام دى (يعني ګواكي هغې د خاوند مال [نيم مهر] ضايع كړى). لېكن د دې ټولو باوجود هغه مباشره نه ده بلكې مسببه ده، ځكه چې كوچني ته شيدې وركول د تربيت او پالنې لپاره وي، د نكاح فاسدولو لپاره نه وي، دا اتفاقاً (او ناڅاپه) داسې وسوه چې دوى دواړې ديوه كس په نكاح كې سره جمع سوې دي، كنې هغه مشري ښځې كه ديو بل چا نجلۍ ته شيدې وركړې واى نو پر هغې به هيڅ ضمان نه واجبېداى.

دويمه وجه دا ده چې د نكاح فاسدېدل د مهر واجبېدلو سبب نه دى؛ ځكه چې د مهر د هلاكولو په وجه هم د مهر ضمان نه واجبيږي، ځكه مهر بذاتِ خود متقوم نه دى، لهذا دا خبره تسليم سوه چې د نجلۍ لپاره نيم مهر د نكاح فاسدولو په وجه نه دى واجب سوى بلكې د متعې په توګه واجب سوى دى؛ ځكه چې متعه د نكاح د بطلان په وخت كې واجبيږي او هغه (بطلان د نكاح) دلته موجود دى. لهذا كله چې دا مهر د متعې په توګه واجب سوى دى نو غټه ښځه په دې كې فقط مسبّبه سوه او مباشره نه سوه، او د مسبّب لپاره د شيخينو په نيز تعدى (او تعمّد) شرط دى.

لكه څرنګه چې يو سړى په عامه لاره كې څاه وكيندي او په هغه څاه كې يو څوك مړ سي. نو د څاه پر كيندونكي ضمان واجبيږي؛ ځكه چې هغه خپل په دې عمل كې سركښ او متعدّى هم دى او تعمّداً (قصداً) فساد كونكى هم دى. لېكن كه داغه سړى په خپله ځمكه كې څاه وكيندي او بيا په هغه كې يو څوك مړ سي، نو څرنګه چې اوس دا سړى متعدي او مفسد نه دى نو ځكه اوس ضمان نه پر واجبيږي، لهذا معلومه سوه چې په مسبب كې د تعدى او غير تعدى تر مينځ فرق سته، او څرنګه چې په دغه مسئله كې كبيره هم مسبّبه ده نو د هغې په حق كې به هم د ضمان د وجوب په باره كې د تعدى او غيرِ تعدى تر مينځ فرق كيږي، كه چيري هغې متعديه وي او د نكاح فاسدولو په نيت يې دا كار كړى وي نو بيا به پر هغې ضمان واجب وي، كنې واجب به نه وي.

ثم إنما تكون إلخ: په دې سره د تعدي حد بيانوي چې (مشره) ښځه کله متعديه ګرځي، نو فرمايي چې ښځه هغه وخت متعديه ګرځي کله چې په نکاح خبره وي (چې دغه کوچنۍ نجلۍ زما د خاوند په نکاح کې ده او زما بَنْ ده) او بيا د نکاح فاسدولو په نيت قصداً کوچنۍ نجلۍ ته شيدې ورکړي، لېکن که هغه په نکاح خبره نه وي، يا خبره وي خو کوچنۍ نجلۍ ډېره وږې وي او د هغې د لوږې د دفع کولو لپاره يې داسې کړي وي، يا په دې خبره نه وي چې په دغه فعل سره نکاح فاسدېږي، نو په دې ټولو صورتونو کې هغه متعديه نه ګرځي.

وهذا منّا اعتبار إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چې که مشره ښځه په دې خبره وي چې دغه کوچنۍ نجلۍ زما د خاوند ښځه ده لېکن په دې حکم ناخبره وي چې په دې فعل (شيدو ورکولو) سره نکاح فاسدېږي، نو تاسو په دې صورت کې هغه ولې متعديه نه شمارئ او ولې د هغې ناخبري (جهالت) عذر شمارئ او ضمان نه پر واجبوئ، حال دا چې په دارُ الاسلام کې له داسې مسائلو څخه ناخبري عذر نه شمارل کېږي (بلکې د دار الاسلام هر وګړی او هر فرد په دې خبر وي)، لهذا ستاسو لپاره دا صورت له تعدي څخه مستثنیٰ کول او په دې هکله ناخبري عذر شمارل صحيح نه دي؟

د دې په جواب کې صاحب د هدايې فرمايي چې موږ دا صورت ځکه له تعدي څخه باسو او د هغې جهالت ځکه عذر شمارو چې د فساد اراده دفع سي، نه د دې لپاره چې شرعي حکم (يعني د ضمان وجوب) دفع سي، ځکه چې حکم (يعني پر مشرې ښځې د ضمان وجوب) د هغې له طرفه پر تعدي موقوف دی، او تعدي هغه وخت ثابتېږي کله چې هغې د شيدو په ورکولو سره د نکاح فاسدولو اراده کړې وي، او د نکاح د فساد اراده هغه وخت ثابتېږي کله چې هغې ته په شيدو ورکولو سره د نکاح فاسدېدلو علم هم وي (يعني کله چې مشره ښځه په دې خبره وي چې په شيدو ورکولو سره نکاح فاسدېږي)، نو کله چې هغې ته د دې علم نسته يعني کله چې "علم بالفساد" منتفي سو نو د نکاح فاسدولو اراده هم منتفي سوه.

لهذا دلته د مشرې ښځې د جهالت اعتبار کول د فساد د ارادې د ختمولو او دفع کولو لپاره دی، د شرعي حکم د ختمولو لپاره نه دی (په لنډه توګه دا جواب داسې هم ورکول کېدای سي چې موږ ځکه د مشرې ښځې جهالت عذر شمارو چې د هغې له جهالت څخه دا معلومېږي چې هغې د فساد اراده کړې نه ده، نو د دغه ارادې د دفع لپاره موږ هغه معتبر منو او عذر يې شمارو، او داسې نه ده چې موږ هغه د ضمان د وجوب د دفع کولو معتبر منو).

د حرمتِ رضاعت په ثبوت كي د ښځو د گواهۍ حكم

وَلَايُقْبَلُ فِي الرَّضَاعِ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مُنْفَرِدَاتٍ او نه قبليږي په رضاعت كي يوازي د ښځو گواهي وَإِنَّمَا تَثْبُتُ بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ [بلكي] رضاعت ثابتيږي د دوو خلكو يا د يوه سړي او دوو ښځو په گواهۍ سره وَقَالَ مَالِكٌ: تَثْبُتُ بِشَهَادَةِ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د يوې ښځي په گواهي سره [هم] رضاعت ثابتيږي إِذَا كَانَتْ مَوْصُوفَةً بِالْعَدَالَةِ [په دې شرط] چي كله هغه عادله وي لِأَنَّ الْحُرْمَةَ حَقٌّ مِنْ حُقُوقِ الشَّرْعِ ځكه چي حرمت د شريعت له حقوقو څخه يو حق دى فَتَثْبُتُ بِخَبَرِ الْوَاحِدِ نو د يوه په خبر سره به [هم] ثابتيږي كَمَنِ اشْتَرَى لَحْمًا فَأَخْبَرَهُ وَاحِدٌ أَنَّهُ ذَبِيحَةُ الْمَجُوسِيِّ لكه يو څوک چي غوښي رانيسي او يو سړى هغه ته دا خبر وركړي چي دا د مجوسي ذبيحه ده [نو د دغه يوه سړي په خبر سره هم هغه غوښي حراميږي] وَلَنَا: أَنَّ ثُبُوتَ الْحُرْمَةِ لَا يَقْبَلُ الْفَصْلَ عَنْ زَوَالِ الْمِلْكِ فِي بَابِ النِّكَاحِ او زموږ دليل دا دى چي د نكاح په باب كي د حرمت ثبوت د ملكيت له زائليدلو څخه جدايي نه قبلوي وَإِبْطَالُ الْمِلْكِ لَا يَثْبُتُ إِلَّا بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ او د ملكيت باطلول [زائلول] نه ثابتيږي مگر د دوو خلكو يا د يوه سړى او دوو ښځو په گواهۍ سره بِخِلَافِ اللَّحْمِ په خلاف د غوښو [د مسئلې] لِأَنَّ حُرْمَةَ التَّنَاوُلِ يَنْفَكُّ عَنْ زَوَالِ الْمِلْكِ ځكه چي د خوړلو حرمت د ملكيت له زوال څخه جلا كېداى سي [او جدايي قبلوي] فَاعْتُبِرَ أَمْرًا دِينِيًّا نو ځكه هغه [د غوښو مسئله] يوه ديني مسئله ومنل سوه [يعني هغه به له أُمورِ دينيه وو څخه شمارل كيږي، او أُمورِ دينيه د "شخصِ واحد" په گواهۍ سره هم ثابتيږي].

اللغات: ﴿مُنْفَرِدَات﴾ جمع د مُنْفَرِدَةٌ ده: يوازي، تنها، ﴿يَنْفَكُّ﴾ د انفعال مضارع ده: جلا كېدل، ﴿تَنَاوُل﴾ د تفاعل مصدر دى: يو شى خوړل، حاصلول، اخيستل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي زموږ په نيز د رضاعت د ثبوت لپاره د دوو خلكو يا د يوه سړي او دوو ښځو گواهي ضروري ده، يوازي د ښځو په گواهۍ سره رضاعت نه ثابتيږي، د دې په خلاف د امام مالک رَحِمَهُ الله مذهب دا دى چي فقط د يوې ديندارې او عادلې ښځي په گواهۍ سره هم رضاعت ثابتيږي.

د امام مالک دلیل: دا دی چې حرمت له شرعي حقوقو څخه یو حق دی، او څرنګه چې د هر شرعي اُمور په خبرِ واحد او د شخصِ واحد په ګواهۍ سره ثابتیږي، همداسي به دغه اَمر هم د شخصِ واحد په ګواهۍ سره ثابتیږي، هغه که نر وي او که ښځه وي (په دې شرط چې عادل وي).

مثلاً که یو سړي په بازار کي د پسه غوښې رانیسي او کور ته را روان سي او په لاره کي یو څوک ورته ووايي چې کومي غوښې تا رانیولي دي هغه د مجوسي د لاس دي او هغه پسه مجوسي ذبح کړی دی، اوس فقط د دغه یوه سړي په خبره سره د هغه لپاره نه د غوښو خوړل روا دي او نه یو بل مسلمان ته د دې غوښو ورکول روا دي، نو امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چې څرنګه دلته د شخصِ واحد په خبر سره د غوښو حرمت ثابتیږي، همداسي به د رضاعت په مسئله کي هم د شخصِ واحد په ګواهۍ سره حرمت ثابتیږي، او د ګواهۍ نصاب یا د "سړي" (مذکر) قید به ضروري نه وي.

ولنا إلخ: په دې عبارت سره زموږ دلیل هم ذکر کوي او د امام مالک رَحِمَهُ الله د قیاس جواب هم ورکوي، حاصل یې دا دی چې یو خو د ملکیت زائلېدل دي او بل د غوښو یا داسي بل شي حرامېدل دي، د ملکیت د زائلېدلو لپاره د دوو خلکو یا د یوه سړي او دوو ښځو ګواهي ضروري ده؛ ځکه چې د ملکیت زائلېدل له حقوقُ العباد څخه دي، او د غوښو یا د بل شي حرامېدل له دیني اُمورو څخه دي (له حقوق العباد څخه نه دي) او د دې لپاره فقط د شخصِ واحد ګواهي هم کافي ده (یعني فقط د یوه سړي یا یوې ښځي په ګواهۍ سره هم یو شی حرامیږي)، او دا هم ممکنه ده چې یو شی د انسان په ملکیت کي وي او د هغه خوړل دغه انسان ته حرام وي، مثلاً د کفر په حالت کي یو سړی د شرابو مالک وي او هغه مسلمان سي، نو د هغه لپاره خو د شرابو خوړل حرام سو لېکن بیا هم پر شرابو د هغه ملکیت پاته دی.

او په رضاعت کي دوې خبري دي: یوه خبره دا چې په رضاعت سره حرمت ثابتیږي، دا له دیني اُمورو څخه یو اُمر دی او د یوې ښځي په ګواهي سره هم ثابتېدای سی، او بله خبره دا ده چې د حرمت تر ثبوت وروسته سمدستي نکاح ماتیږي او له ښځي څخه د خاوند ملکیت زائلیږي (یعني حرمتِ رضاعت د ملکیت زوال لره مستلزم دی) او د دې لپاره د دوو خلکو یا د یوه سړي او دوو ښځو ګواهي ضروري ده (یعني د ملکیت زوال د نصاب په ګواهۍ سره ثابتېدای سي)، نو په دې وجه حرمتِ رضاعت د حقوقُ العباد

له قبيلې څخه سو، نو ځکه به د حرمتِ رضاعت د ثبوت لپاره د دوو خلګو، يا د يوه سړي او دوو ښځو ګواهي ضروري وي.

بخلاف اللحم: په خلاف د غوښو د حرمت؛ ځکه چې هغه د ملکيت زوال لره مستلزم نه دي، يعني د شخصِ واحد تر خبر ورکولو وروسته که څه هم د دې غوښو استعمالول د مسلمان لپاره ناروا دي لېکن بيا هم هغه د دې غوښو مالک دی (لکه پورته چې د شرابو مثال موږ ذکر کړی)، نو ځکه به د شخصِ واحد ګواهي هم په دې هکله معتبره وي.

خلاصه دا چې کله د ملکيت سره اُمور دينيه (مثلاً د غوښو حرامېدل) جمع سي، نو هلته به د ديني اُمورو اعتبار کيږي او د شخصِ واحد په ګواهۍ سره به حرامېږي او د نصاب د ګواهۍ ضرورت به نه وي، لکه په پورتني مثال کي چې سړی کافر وو او بيا مسلمان سو، نو شراب خو د هغه لپاره حرام سو لېکن د هغه په ملکيت کي پاته سو، لهذا هلته حرمت او ملکيت دواړه سره جمع سول. نو ځکه به هلته د اُمورِ دينيه وو اعتبار کيږي، لېکن چيري چې حرمت او ملکيت دواړه نه سي سره جمع کېدلای، نو هلته به د حقوقُ العباد اعتبار کيږي، لکه په رضاعت کي چې حرمت او ملکيت دواړه نه سي سره جمع کېدلای، ځکه که په رضاعت کي د حرمت اعتبار وسي نو سملستي د نکاح ملکيت زائلېږي، نو ځکه به دلته د حقوق العباد اعتبار کيږي او د نصاب ګواهي به ضروري وي (چې هغه دوه خلګ، يا يو سړی او دوې ښځې دي).

أصول: که د اُمورِ دينيه وو په رعايت کولو سره ملکيت زائلېدی، نو هغوی به د حقوقُ العباد په حکم کرځول کيږي (او د حقوقُ العباد درجه به ورکول کيږي) يعني په ګواهۍ کي به يې نصاب ضروري وي، او که د اُمورِ دينيه وو د رعايت باوجود ملکيت ثابت پاتېدی، نو د اُمورِ دينيه وو اعتبار به کيږي او د شخصِ واحد ګواهي به هم کافي وي (هغه که نر وي او که ښځه). (اثمار الهداية ج،۲، ص، ۳۴۰)

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِكَاتِبِهٖ وَلِوَالِدَيْهِ وَلِمَنْ سَعٰى فِيْهِ



كِتَابُ الطَّلَاق

(دا) کتاب د طلاق (د احکامو په بیان کي دی)

﴿بَابُ طَلَاقِ السُّنَّةِ﴾

تشریح: مخکي تر دې مصنف رَحِمَهُ الله نکاح او د نکاح متعلقات بیان کړل، اوس له دې ځای څخه طلاق او د طلاق متعلقات بیانوي، ځرنګه چي نکاح په وجود او ثبوت کي تر طلاق مخکي ده (یعني لول نکاح تړل کیږي او تر نکاح تړلو وروسته د طلاق نوبت راځي)، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په بیان کي کتابُ النکاح مخکي کړی، او کتابُ الطلاق یې تر هغه وروسته کړی. (یا دا چي طلاق طبعاً تر نکاح مؤخر او وروسته وي، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله وضعاً هم کتابُ الطلاق تر کتابُ النکاح وروسته کړی، چي په وضع او طبع دواړو کي موافقت راسي).

او تر کتاب الرضاع وروسته د کتابُ الطلاق د ذکر کولو وجه ده چي په رضاعت سره أبدي او دائمي حرمت ثابتیږي، لیکن په طلاق سره عارضي حرمت ثابتیږي (لهذا د طلاق په مقابله کي د حرمتِ رضاعت حکم أشد او سخت سو)، نو په دې وجه مصنف رَحِمَهُ الله حرمتِ أبدي (سخت حکم) تر حرمتِ عارضي (سپک حکم) مخکي ذکر کړی.

د طلاق لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د طلاق لغوي معنیٰ ده: "رَفْعُ الْقَيْد" (قید پورته کول او ختمول)، او طلاق مصدر دی د "تَطْلِيْق" په معنیٰ سره دی لکه سلام چي د "تَسْلِيْم" په معنیٰ سره دی.

او د شریعت په اصطلاح کي د طلاق معنیٰ ده: "رَفْعُ الْقَيْدِ الثَّابِتِ بِالنِّكَاح"، (یعني د نکاح په ذریعه ثابت سوی حکم او قید ختمول).

د طلاق سبب: ډېر سخت ضرورت چي له هغه څخه خلاصون ممکن نه وي.

د طلاق شرط: د طلاق ورکونکي عاقل او بالغ کېدل، همدارنګه د هغه په نکاح یا د هغه په عدت کي ښځه محل د طلاق کېدل.

د طلاق حکم: له محل یعني له ښځي څخه مِلک د نکاح زائلېدل (باطلېدل).

د طلاق ډېر قسمونه دي چي هغه به خپله صاحب د کتاب په ترتیب سره بیان کړي.

د طلاق قسمونه

قَالَ: الطَّلَاقُ عَلَىٰ ثَلَاثَةِ أَوْجُهٍ: حَسَنٌ وَأَحْسَنُ وَبِدْعِيٌّ فرمایي: چي طلاق پر دري قسمه دی: ① حسن ② أحسن ③ بدعي فَالْأَحْسَنُ أَنْ يُطَلِّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ تَطْلِيقَةً وَاحِدَةً أحسن [طلاق] دا دی چي خاوند خپلي ښځي ته یو طلاق [رجعي] ورکړي فِي طُهْرٍ لَمْ يُجَامِعْهَا فِيهِ په داسي طهر کي چي خاوند په هغه کي د دې [ښځي] سره جماع کړې نه وي وَيَتْرُكَهَا حَتَّىٰ تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا او تر هغه وخته یې [پر خپل حالت] پرېږدي تر څو چي د هغې عدت [عده] تېره سي لِأَنَّ الصَّحَابَةَ كَانُوا يَسْتَحِبُّونَ أَنْ لَا يَزِيدُوا فِي الطَّلَاقِ عَلَىٰ وَاحِدَةٍ حَتَّىٰ تَنْقَضِيَ الْعِدَّةُ ځکه چي صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به دا [خبره] خوښوله چي تر علت تېرېدلو مخکي پر یوه طلاق زیاتوب نه وکړي فَإِنَّ هٰذَا أَفْضَلُ عِنْدَهُمْ مِنْ أَنْ يُطَلِّقَهَا الرَّجُلُ ثَلَاثًا عِنْدَ كُلِّ طُهْرٍ وَاحِدَةً او دا صورت به د دوی په نېز تر هغه صورت غوره وو چي خاوند وښځي ته دري طلاقه [داسي] ورکړي چي په هر طهر کي یو طلاق وي وَلِأَنَّهُ أَبْعَدُ مِنَ النَّدَامَةِ او ځکه چي دا [صورت] له پښېمانتیا [او شرمندګی] څخه ډېر لیري دی وَأَقَلُّ ضَرَرًا بِالْمَرْأَةِ او د ښځي لپاره کم نقصان مند دی وَلَا خِلَافَ لِأَحَدٍ فِي الْكَرَاهَةِ او د نه کراهت په باره کي [یې] د هیچا اختلاف [هم] نسته له "کراهة" څخه مراد "عدم الكراهة" دی، یعني د دې صورت په نه مکروه والي کي د هیڅ امام اختلاف نسته، بلکي ټوله فرمایي چي د طلاق لپاره دا أحسنه طریقه ده!.

اللغات: ﴿أَوْجُه﴾ جمع د "وَجْه" ده: دا لفظ ډیري معناوي لري، دلته د "قسم" او "صورت" په معنیٰ سره دی، ﴿تَنْقَضِي﴾ دانفعال مضارع ده: تېرېدل (پوره کېدل)، ختمېدل، ﴿يَسْتَحِبُّوْن﴾ د استفعال مضارع ده: خوښول، مستحب ګڼل، ﴿نَدَامَة﴾ پښېماني، ﴿كَرَاهَة﴾ ناخوښي، مکروه کېدل.

تشریح: د طلاق دري قسمونه دي: ① حسن، ② أحسن، ③ بدعي. په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله د طلاقِ أحسن تعریف او تفصیل بیان کړی دی.

طلاقِ احسن: دې ته وايي چې خاوند خپلې ښځې ته يو طلاق ورکړي په داسې طهر کې چې په هغه کې يې د هغې سره جماع نه وي کړې او بيا يې پر خپل حالت پرېږدي تر دې چې عدت تېر سي (يعني که خاوند په أحسنه او غوره طريقه سره ښځې ته طلاق ورکول وغواړي نو په کوم طهر کې چې هغه د ښځې سره جماع نه وکړي، په هغه طهر کې دې يو طلاق رجعي ورکړي، نو تر دې وروسته که خاوند بيرته هغې ته رجوع کول وغواړي، نو رجوع دې ورته وکړي، او که رجوع کول نه وغواړي، نو پر خپل حالت دې يې پرېږدي، تر دې چې عدت تېر سي).

د دې طلاق د أحسن والي او ښه والي دليل دا دی چې په صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کې به دا طريقه جاري او عملي وه، او د طلاق دا صورت به يې تر هغه صورت زيات خوښوی چې خاوند ښځې ته پر يوه ځای درې طلاقه ورکړي يا په دريو طهرو کې درې طلاقه ورکړي، له همدې کبله دې ته "طلاقِ أحسن" وايي.

ولأنه أبعد إلخ: په دې سره د طلاقِ أحسن د ښه والي درې عقلي دليلونه بيانوي: (۱)... طلاقِ أحسن له پښېمانۍ او شرمندګۍ څخه زيات ليرې دی، ځکه چې په دې کې ښځې ته يو طلاقِ رجعي ورکول کيږي، نو که وروسته د خاوند خيال سي چې ما غلطي کړې ده، نو رجعت کولای سي. او چې کله عدت تېر سي، نو له "حلاله" (تحليل) څخه بغير دويم ځل نکاح کولای سي، لېکن که چيري په دريو طهرونو کې درې طلاقه (يعني طلاقِ حسن) ورکړي، نو له "حلاله" څخه بغير بيا نکاح نه سي کولای، (۲)... او په دې طلاق کې د ښځې هم زيات تاوان او نقصان نسته، هغه په دې توګه چې يو خو به ښځې ته د دې موقع حاصله سي چې د مستقبل لپاره خپل عمل او اخلاق سم کړي، او مناسبه عملي ګړنلاره به د ځان لپاره تياره کړي، او بل دا چې په دې طلاق کې د ښځې عدت مختصر او کوچنی وي، لېکن که چيري طلاق ورکړي او بيا تر رجعت کولو وروسته دويم يا دريم طلاق ورکړي، نو په دې صورت کې عدت اوږديږي، حتیٰ چې ښځه معلّقه ګرځي، (۳) او د دې طلاق په ښه کېدلو کې د هيڅ اختلاف هم نسته، لېکن په طلاق کې حسن کې د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی، ځکه هغه طلاقِ حسن ته بدعت وايي.

طلاقِ حسن، او د امام مالک رَحِمَهُ الله رايه

وَالْحَسَنُ هُوَ طَلَاقُ السُّنَّةِ او حسن هغه طلاق سنت دی وَهُوَ أَنْ يُطَلِّقَ الْمَدْخُولَ بِهَا ثَلَاثًا فِي ثَلَاثَةِ أَطْهَارٍ او هغه دا دی چې [خاوند] مدخول بها ښځې ته درې طلاقه په درېو طهرونو کې ورکړي وَقَالَ مَالِكٌ: إِنَّهُ بِدْعَةٌ وَلَا يُبَاحُ إِلَّا وَاحِدَةً او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا [طلاق] بدعت دی او روا نه دي مګر يو [طلاق ورکول] لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي الطَّلَاقِ هُوَ الْحَظْرُ ځکه چې أصل په طلاق کې ممانعت [نا راوېښت] دی وَالْإِبَاحَةُ لِحَاجَةِ الْخَلَاصِ او روايښت د خلاصون [حاصلولو] د ضرورت په خاطر دي وَقَدِ انْدَفَعَتْ بِالْوَاحِدَةِ او دا ضرورت په يوه [طلاق] سره پوره کيږي انو ځکه به دويم او دريم طلاق بدعت وي] وَلَنَا قَوْلُهُ الطَّيِّلاً ❶ فِي حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ او زمونږ دليل دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په حديث کې د نبي کريم ﷺ [دا] قول دی "إِنَّ مِنَ السُّنَّةِ أَنْ تَسْتَقْبِلَ الطُّهْرَ اسْتِقْبَالًا "چې سنت طريقه دا ده چې ته د طهر انتظار وکړې فَتُطَلِّقَهَا لِكُلِّ قُرْءٍ تَطْلِيقَةً" بيا په هر طهر کې ښځې ته يو طلاق ورکړې". وَلِأَنَّ الْحُكْمَ يُدَارُ عَلَى دَلِيلِ الْحَاجَةِ او په دې وجه [هم] چې حکم د حاجت پر دليل دائر کيږي [يعني د حکم دار ومدار" د طلاق د حاجت" پر دليل دی] وَهُوَ الْإِقْدَامُ عَلَى الطَّلَاقِ فِي زَمَانٍ تَجَدُّدِ الرَّغْبَةِ او هغه [د حاجت دليل] د رغبت نوي کېدلو په زمانه کې پر طلاق إقدام کول دي [يعني د حاجت دليل دا دی چې انسان په داسې زمانه کې ښځې ته طلاق ورکړي چې په هغه زمانه کې رغبت تازه کيږي او شهوت راپورته کيږي] وَهُوَ الطُّهْرُ الْخَالِي عَنِ الْجِمَاعِ او هغه [يعني د رغبت تازه کېدلو زمانه] هغه طهر دی کوم چې له جماع څخه خالي وي فَالْحَاجَةُ كَالْمُتَكَرِّرَةِ نَظَرًا إِلَى دَلِيلِهَا لهذا د حاجت و دليل ته په نظر کولو سره به [د طلاق] حاجت د حاجت مکرره په څېر وي [او په هر طهر کې به د طلاق په إقدام کولو سره د طلاق حاجت مکرر کيږي، نو مکرر طلاق ورکول به هم مباح وي] ثُمَّ قِيلَ: الْأَوْلَى أَنْ يُؤَخِّرَ الْإِيقَاعَ إِلَى آخِرِ الطُّهْرِ بيا ويل سوي دي: چې غوره دا ده چې [خاوند] د طلاق واقع کول د طهر تر آخره پورې وځنډوي احْتِرَازًا عَنْ تَطْوِيلِ الْعِدَّةِ د عدت اوږدولو څخه د ځان ساتلو لپاره وَالْأَظْهَرُ أَنْ يُطَلِّقَهَا كَمَا طَهُرَتْ او أظهر دا دي چې کله هم ښځه اله حيض څخه] پاکه سي نو [سملستي] دي طلاق ورکړي لِأَنَّهُ لَوْ أَخَّرَ رُبَّمَا يُجَامِعُهَا ځکه که هغه [د طلاق واقع کول] وځنډوي نو

---

❶ تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الطلاق، حديث رقم: ٣٩٢٩.

کېدلای سي د ښځې سره جماع وکړي [يعني کېدلای سي جماع ځني وسي] وَمِنْ قَصْدِهِ التَّطْلِيْقُ حال دا چې د هغه نيت د طلاق ورکولو دی فَيَبْتَلِيْ بِالْإِيْقَاعِ عَقِيْبَ الْوِقَاعِ نو تر جماع وروسته به [د طلاق] په واقع کولو سره مبتلا سي.

اللغات: ﴿الحظر﴾ اسم مصدر دی: ممانعت، بنديز، ممنوع کار، ممنوع شی، ﴿خَلَاص﴾ خلاصي ترلاسه کول (خلاصون)، له يو شي څخه ځان خلاصول، ﴿إِنْدَفَعَتْ﴾ د انفعال ماضي ده: ليرې کېدل، ﴿تَسْتَقْبِلْ﴾ د استفعال له باب څخه د واحد مخاطب مضارع صيغه ده: مخامخ کېدل، متوجه کېدل (انتظار کول)، ﴿قُرْء﴾ پاکي، حيض (دواړو ته وايي)، ﴿يُدَار﴾ دائر کېدل (مدار کېدل، مبني کېدل)، ﴿تَجَدُّد﴾ د تفعّل مصدر دی: نوي کېدل (تازه کېدل)، ﴿وِقَاع﴾ جماع.

تشريح: په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ الله د طلاق دويم قسم يعني د طلاقِ حسن تعريف او حکم بيان کړی دی او پر هغه يې د"طلاقِ سنت" نوم ايښې دی.

ښکاره دې وي چې دلته له سنت څخه هغه سنت مراد نه دی چې په کولو سره يې ثواب حاصلېږي، بلکې دلته سنت د مباح او جائز په معنیٰ سره دی، ځکه چې طلاق بنفسه يو داسې عبادت نه دی چې پر هغه دې انسان ته ثواب حاصل سي.

او أصلاً مصنف رَحِمَهُ الله پر امام مالک د ردّ کولو لپاره دې طلاق ته "طلاقِ سنت" ويلي دي، ځکه چې هغه دغه طلاق ته هم "طلاقِ بدعي" وايي.

طلاقِ حسن: دې ته وايي چې خاوند خپلې (مدخول بها) ښځې ته په دريو جلا طهرونو کې درې طلاقه ورکړي.

امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا طلاق بدعت دی. جائز او مباح فقط يو طلاق دی.

د امام مالک دليل: دا دی چې په طلاق کې ممانعت اصل دی، ځکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: "تَزَوَّجُوْا وَلَا تُطَلِّقُوْا. رواه ابو داؤد" (يعني نکاح کوئ! او د طلاق لاره مه اختياروئ!)، او بل دا چې د طلاق روايښت د ښځې له نکاح څخه د ځان خلاصولو د ضرورت په وجه دی، او ضرورت په يوه طلاق سره هم پوره کېږي، نو ځکه دويم طلاق مباح او روا نه دی.

دوهم دليل: د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حديث دی، د حديث خلاصه دا ده چې حضرت عبد الله بن عمر خپلې ښځې ته د حيض په حالت کې طلاق ورکړی، او دا اراده يې وکړه چې نور دوه طلاقه به په دوو را روانو طهرونو کې ورکړم، کله چې نبي ﷺ ته دا خبره ورسېده، نو نبي ﷺ وفرمايل: اې ابن عمره! تا

سنت طريقه پرېښووله، سنت طريقه دا ده: "ته د طهر انتظار وکړه!، او په هر طهر کي ښځي ته يو طلاق ورکړه!"، له دې حديث څخه په ښکاره توګه معلومه سوه چي په دريو طهرونو کي درې طلاقه ورکول کېداى سي، نو ځکه به دا طلاق مباح او د سنت طريقې مطابق وي، او بدعت به نه وي.

ولأن الحكم إلخ: دا عبارت د دريو طلاقونو د روايښت عقلي دليل دى، حاصل يې دا دى چي په هر طهر کي د انسان رغبت تازه کيږي او جماع ته د هغه شوق راپورته کيږي، نو د شوق راپورته کېدلو او تازه کېدلو باوجود ښځي ته طلاق ورکول د دې خبري دليل دى چي له ښځي څخه د خاوند دومره نفرت دى چي د جماع کولو پر ځاى هغې ته طلاق ورکوي او بالكل يې له ځان څخه ليري کوي، او همدغه ته "دليل الحاجة" (د ضرورت دليل) وايي، يعني په دغه وخت کي طلاق ورکول د حاجت دليل دى. د "دليل الحاجه" جمله په يادلرئ! دا به څو ځايه ستاسو مخته راسي.

نو د عقلي دليل مختصر مطلب دا سو چي په طهر خالي عن الجماع کي د شهوت راپورته کېدلو او رغبت تازه کېدلو باوجود پر طلاق إقدام کول د حاجت دليل دى، او کله چي د حاجت په دليل کي تکرار راسي (يعني کله چي خاوند په دويم طهر کي بيا پر طلاق اقدام کول وغواړي) نو ګواکي په "حاجة إلى الطلاق" کي تکرار راغلى، او کله چي په "حاجة إلى الطلاق" کي تکرار راغلى، نو "تکرار الطلاق" به هم مباح وي، نو ځکه به په دريو جلا طهرونو کي درې طلاقه ورکول مباح (روا) وي، بدعت به نه وي.

ثم قيل إلخ: له مخکنيو دليلونو څخه معلومه سوه چي طلاقِ حسن (يعني په هر طهر کي طلاق ورکول) مباح او د سنت طريقې مطابق دي، اوس دا خبره بيانوي چي د طهر په اول کي طلاق ورکول غوره دي او که په آخر کي؟ نو فرمايي چي په دې باره کي د فقهاؤ دوې نظريې دي: ①... اوله نظريه دا ده چي خاوند دي د طهر تر آخره پوري انتظار وکړي او د طهر په آخر کي دي طلاق ورکړي، د دې لپاره چي د ښځي د عدت زمانه اوږده نه سي، ځکه دا ښکاره خبره ده چي که د طهر په اول کي طلاق ورکړي، نو پر ښځي د عدت زمانه اوږدېږي.

②...دويمه نظريه دا ده چي کله ښځه له حيض څخه پاکه سي، نو سمدستي دي طلاق ورکړي، ځکه که د طهر تر آخره پوري انتظار وکړي، نو کېداى سي چي جماع څني وسي (ځکه چي طهر د رغبت او شوق تازه کېدلو زمانه ده)، حال دا چي د هغه نيت د طلاق ورکولو دى، او دا ښکاره خبره ده چي که هغه تر جماع وروسته طلاق ورکړي، نو د حديث په طريقه به عمل نه وسي، او د سنت طريقې مخالفت به وسي، نو ځکه غوره دا ده چي د طهر په اول کي طلاق ورکړي. همدا ظاهر روايت هم دى.

طلاق بدعي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله رايه

وَطَلَاقُ الْبِدْعَةِ أَنْ يُطَلِّقَهَا ثَلَاثًا بِكَلِمَةٍ وَاحِدَةٍ او طلاقِ بدعت دا دی چي [خاوند] ښځي ته درې طلاقه ورکړي په يوه کلمه سره أَوْ ثَلَاثًا فِي طُهْرٍ وَاحِدٍ يا درې طلاقه ورکړي په يوه طهر کي فَإِذَا فَعَلَ ذٰلِكَ وَقَعَ الطَّلَاقُ نو کله چي هغه داسي وکړي نو [درې سره] طلاقه واقع کيږي [او ښځه بائنه کرځي] وَكَانَ عَاصِيًا او هغه به ګنهګار وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: كُلُّ الطَّلَاقِ مُبَاحٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هر طلاق مباح [روا] دی لِأَنَّهُ تَصَرُّفٌ مَشْرُوْعٌ ځکه چي هغه يو شرعي تصرف دی حَتَّى يُسْتَفَادَ بِهِ الْحُكْمُ تر دې چي په هغه سره [شرعي] حکم مستفاد کيږي [يعني په هغه سره شرعي حکم ثابتيږي] وَالْمَشْرُوعِيَّةُ لَا تُجَامِعُ الْحَظْرَ او مشروعيت د ممانعت سره نه سي جمع کېدلای بِخِلَافِ الطَّلَاقِ فِي حَالَةِ الْحَيْضِ په خلاف د حيض په حالت کي د طلاق ورکولو لِأَنَّ الْمُحَرَّمَ تَطْوِيلُ الْعِدَّةِ عَلَيْهَا لَا الطَّلَاقِ ځکه چي [هلته] پر ښځي عدت اوږدول حرام وي، نه طلاق وَلَنَا: أَنَّ الْأَصْلَ فِي الطَّلَاقِ هُوَ الْحَظْرُ زموږ دليل دا دی: چي أصل په طلاق کي ممانعت دی لِمَا فِيهِ مِنْ قَطْعِ النِّكَاحِ الَّذِي تَعَلَّقَتْ بِهِ الْمَصَالِحُ الدِّيْنِيَّةُ وَالدُّنْيَوِيَّةُ ځکه چي په طلاق کي د نکاح ختمول دي [او نکاح يو داسي نعمت دی] چي د هغې سره ديني او دنياوي مصلحتونه متعلق دي وَالْإِبَاحَةُ لِلْحَاجَةِ إِلَى الْخَلَاصِ او [د طلاق] روايښت د خلاصون د حاجت په خاطر دی وَلَا حَاجَةَ إِلَى الْجَمْعِ بَيْنَ الثَّلَاثِ او [پر يوه ځای] د درېو طلاقونو د جمع کولو [هيڅ] ضرورت نسته [نو ځکه به پر يوه ځای درې طلاقه ورکول حرام وي] وَهِيَ فِي الْمُفَرَّقِ عَلَى الْأَطْهَارِ ثَابِتَةٌ او حاجت پر [درېو] طهرونو په متفرّق کولو کي ثابت دی نَظَرًا إِلَى دَلِيْلِهَا د حاجت و دليل ته په نظر کولو سره [يعني په درېو متفرّقو طهرونو کي درې طلاقه ورکول د "دليل الحاجة" په وجه ثابت دي. دا د يو مقدر سوال جواب دی چي په تشريح کي به د هغه وضاحت وسي] وَالْحَاجَةُ فِي نَفْسِهَا بَاقِيَةٌ او بذات خود حاجت [هم] پاته دی فَأَمْكَنَ تَصْوِيرُ الدَّلِيلِ عَلَيْهَا نو پر دغه حاجت د دليل متصور کول ممکن سو وَالْمَشْرُوعِيَّةُ فِي ذَاتِهِ مِنْ حَيْثُ او [د طلاقِ بدعي] لذاته مشروع کېدل په دې حيثيت سره دي أَنَّهُ إِزَالَةُ الرِّقِّ چي هغه د رقيت [يعني د نکاح] زائلول دي [او د نکاح زائلول لذاته مشروع دي، نو طلاقِ بدعي به هم لذاته مشروع وي] لَا تُنَافِي الْحَظْرَ لِمَعْنًى فِي غَيْرِهِ [او لذاته مشروعيت] منافي نه دي د هغه ممانعت سره کوم چي

د داسي معنیٰ په وجه وي چي هغه له طلاق څخه بغير [په بل شي] کي وي [د دې جملې مختصره ترجمه دا ده: چي مشروع لذاتهٖ د ممنوع لغيرهٖ سره منافي نه دی، بلکي دوی دواړه سره جمع کېدای سي] وَهُوَمَا ذَكَرْنَاهُ او دا معنیٰ هغه ده کوم چي موږ ذکر کړه [يعني د ديني او دنيوي مصلحتونو فوتېدل] وَكَذَا إِيْقَاعُ الثِّنْتَيْنِ فِي طُهْرٍ وَاحِدٍ بِدْعَةٌ همدارنګه په يوۀ طهر کي دوه طلاقه واقع کول هم بدعت دي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَاخْتَلَفَتِ الرِّوَايَةُ فِي الْوَاحِدَةِ الْبَائِنَةِ او په يو طلاق بائن [واقع کولو] کي روايتونه مختلف دي قَالَ فِي الْأَصْلِ: إِنَّهُ أَخْطَأَ السُّنَّةَ امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي فرمايي: چي هغه د سنت مخالفت وکړی [يعني په سنت طريقه يې عمل نه وکړی، نو ځکه به مکروه وي] لِأَنَّهُ لَا حَاجَةَ إِلَى إِثْبَاتِ صِفَةٍ زَائِدَةٍ فِي الْخَلَاصِ ځکه چي په خلاصون [حاصلولو] کي د يو اضافي صفت ثابتولو ته [هيڅ] ضرورت نسته وَهِيَ الْبَيْنُوْنَةُ او هغه [اضافي صفت] بينونت دی وَفِي الزِّيَادَاتِ: أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ او د زيادات په روايت کي دي: چي دا مکروه نه دي لِلْحَاجَةِ إِلَى الْخَلَاصِ نَاجِزًا سمدستي خلاصون ته د ضرورت په وجه [يعني کله ناکله د دې ضرورت پېښ سي چي خاوند سمدستي (فوراً) له ښځي څخه ځان خلاص کړي او ژر تر ژره طلاق ورکړي، نو د دغه ضرورت په خاطر به طلاق بائن هم مکروه نه وي].

اللغات: ﴿عَاصِيْ﴾ ګنهګار، نافرمان، ﴿مُبَاحٌ﴾ روا، حلال، ﴿تَطْوِيْلٌ﴾ د تفعيل مصدر دی: اوږدول، ﴿الحظر﴾ اسم مصدر دی: ممانعت، ممنوع کار، ممنوع شی، ﴿إِبَاحَةٌ﴾ د إفعال مصدر دی: روا ښت، حلت، ﴿مُفَرِّقٌ﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: جلا کونکی، متفرّق کونکی، ﴿تَصْوِيْرٌ﴾ عکس جوړول، (متصوّر کول)، (تصور کول)، ﴿الرِقّ﴾ غلامي، دلته ځني مراد نکاح ده، ځکه نکاح هم يو ډول غلامي ده ځکه چي ښځه په هر شي کي خاوند ته مجبوره وي، ﴿إِيْقَاعٌ﴾ د افعال مصدر دی: واقع کول، اچول (مراد ځني طلاق ورکول دي)، ﴿بَائِنَةٌ﴾ د ضرب مؤنث اسم فاعل دی: جلا کېدونکې، جلاکونکې (يعني هغه طلاق چي ښځه له خاوند څخه جلا کوي، بيا خاوند بالکل هغې ته رجعت نه سي کولای)، ﴿بَيْنُوْنَةٌ﴾ د ضرب مصدر دی: جلا کېدل، جدايي، ﴿نَاجِزٌ﴾ د نصر د باب اسم فاعل دی: موجود، حاضر، بېله ځنډه، فوراً، سمدستي، نَجَزَ يَنْجُزُ نَجْزًا: په وعده کي تلوار کول، ژر پوره کول.

تشريح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په دې عبارت کي د طلاق دريم قسم يعني د طلاق بدعي تعريف او حکم بيان کړی دی.

طلاق بدعي: دې ته وايي چې خاوند ښځي ته په يوه جمله سره درې طلاقه ورکړي، يا په يوه طهر کي درې طلاقه ورکړي. د دې حکم دا دی چې زموږ په نيز داسي کول حرام او د ګناه سبب دي، خو د حراموالي باوجود په دې سره طلاق واقع کيږي او په دې سره حرمتِ غليظه ثابتيږي (او ښځه بائنه ګرځي).

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: څرنګه چې طلاقِ أحسن او حسن روا دي، همدارنګه طلاقِ بدعي هم روا دی، او د دې پر مرتکب هيڅ ګناه نسته.

د امام شافعي دليل: دا دی چې هر طلاق يو شرعي تصرف دی او په هر طلاق سره شرعي حکم يعني د طلاق وقوع او د ښځي حرمت او داسي نور ثابتيږي، نو طلاق يو مشروع کار دی (ځکه چې مشروع کار همدې ته وايي چې پر هغه يو شرعي حکم مرتب وي او په شريعت کي جائز وي)، او د مشروع کار په هکله قاعده دا ده چې مشروع کار د ممنوع کار سره جمع کېدلای نه سي (يعني مشروعيت او ممانعت سره جمع کېدلای نه سي) بلکي دوی يو د بل سره منافي دي، لهذا کله چې طلاق مشروع دی نو د طلاق دغه قسم به هم مشروع او روا وي، او پر مرتکب به يې هيڅ ګناه نه وي.

بخلاف الطلاق: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله له طرفه د يو اعتراض جواب دی کوم چې د هغه پر دليل وارديږي، اعتراض دا دی چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره غلطه ده چې مشروعيت اوممانعت سره جمع کېدلای نه سي، ځکه چې د حيض په حالت کي طلاق ورکول حرام دي، لېکن که بيا هم يو سړی دا سي وکړي نو د هغه ورکول سوی طلاق واقع کيږي. اوګورئ! چې دلته مشروعيت او ممانعت دواړه سره جمع سول، نو تاسي د دې څه جواب ورکوی؟

د امام شافعي رَحِمَهُ الله له طرفه جواب دا دی چې د حيض په حالت کي نفسِ طلاق ورکول حرام نه دی، بلکي حرام دا دي چې د حيض په حالت کي په طلاق ورکولو سره پر ښځي عدت اوږديږي (يعني د حيض په حالت کي په طلاق ورکولو سره پر ښځي عدت اوږدول حرام دي) ځکه په کوم حيض کي چې طلاق ورکول سي نو هغه حيض په عدت کي نه شمارل کيږي، لهذا کله چې هغه په عدت کي نه شمارل کيږي نو ښکاره خبره ده چې په دې سره يقيناً عدت اوږديږي. خو شارح د أحسن الهدايې وايي چې د شوافعو له طرفه دا جواب يعني د عدت اوږدېدلو خبره ډېره ضعيفه ده ځکه چې د عدت اوږدېدل خو آخر هم د طلاق په سبب سره وي او که طلاق نه ورکوي، نو بيله سببه خو پر ښځي عدت نه سي لازمېدلی!!! (لهذا بيرته د مشروعيت او ممانعت جمع کېدل ثابت سو او د شوافعو په جواب سره اعتراض دفع نه سو).

زموږ دليل: دا دی چي پکار خو دا ده چي طلاق مطلقاً ناروا (ممنوع) وي برابره ده هغه که أحسن وي، که حسن وي او که بدعي وي، ځکه چي په طلاق سره داسي مصالح (منافع) له منځه ځي چي د هغوی تعلق د دين او دنيا دواړو سره وي، ځکه چي د نکاح په وجه انسان له زنا، بدکاری او ناوړه عملونو څخه محفوظ وي، او په طلاق ورکولو سره د دې بديو دروازه خلاصه سي او د دې خطره پيدا سي چي انسان به په فتنو او بديو کي مبتلا سي، همدارنګه تر طلاق مخکي انسان ته د ښځي په ذريعه آرام او سکون حاصل وي او ښځه د هغه سره په هر غم او تکليف کي شريکه وي، او د ژوند په هره حصه کي د هغه همکاره او همرازه وي، او دا ښکاره خبره ده چي په طلاق سره دا مصالح او فايدې له منځه ځي، نو دغو مصالحو ته په کتلو سره عقل د يوه ګړي لپاره هم د طلاق روايښت زغملو ته تيار نه دی. خو کله نا کله داسي کيږي چي د ښځي د بد اخلاقی او بد عملی په وجه ګزاره ور سره مشکله وي، نو په داسي وخت کي د ښځي له تکليف څخه د ځان خلاصولو لپاره (او هغې ته د درس او تنبيه ورکولو لپاره) شريعت انسان ته د طلاق لاره ور ښوولې ده، او ښځي ته د تنبيه ورکولو او د هغې د سمولو لپاره په يوه او دوو طلاقو سره هم کار کيږي نو بيا د دې هيڅ ضرورت نسته چي هغې ته پر يوه ځای درې طلاقه ورکول سي، نو ځکه زموږ په نيز درې طلاقه سره جمع کول حرام دي.

وهي في المفرق الخ: په دې سره د يو سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي څرنګه پر يوه ځای د دريو طلاقونو د ورکولو ضرورت نسته، همداسي په دريو متفرّقو (جلا، جلا) طهرونو کي د طلاق ورکولو (يعني د طلاقِ حسن) هم هيڅ ضرورت نسته، لهذا دا هم حرام بدل پکار دي، حال دا چي احنافو دې ته "طلاقِ سنت" ويلي دي.

د جواب حاصل دا دی چي په دريو جلا طهرونو کي دريو طلاقو ورکولو (طلاقِ حسن) ته ضرورت ثابت دی د حاجت ودليل (دليل الحاجة) ته په نظر کولو سره، ځکه چي په هر طهر کي د انسان رغبت تازه کيږي، نو که د دې باوجود انسان "اقدام على الطلاق" کوي، نو دا د حاجت اوضرورت دليل دی، لهذا کله چي ضرورت ثابت دی، نو په دريو جلا طهرونو کي به درې طلاقه ورکول (طلاقِ حسن) هم ثابت او جائز وي.

والحاجة في نفسها الخ: په دې سره هم د يو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي د حاجت د دليل (دليل الحاجة) پر بنياد د طلاقِ حسن جواز ثابتول صحيح نه دي، ځکه چي دليل الحاجة هغه وخت د حاجت قائم مقام کيږي کله چي حاجت په خپله موجود وي او دلته په حقيقت کي هيڅ حاجت نسته، نو دليل الحاجة به څرنګه د هغه قائم مقام سي، او حاجت ځکه نسته چي کله په اول طهر کي طلاق ورکول سو، نو نکاح ختمه سوه، نو اوس له نکاح (او د ښځي له تکليف څخه) د ځان

خلاصولو (يعني طلاق ورکولو) هيڅ حاجت پاته نه سو، او کله چي د طلاق حاجت پاته نه سو، نو د حاجت دليل هم ثابت نه سو چي هغه د حاجت قائم مقام سي؟

صاحب د کتاب د دې په جواب کي فرمايي چي د طلاق حاجت (اوس هم) پاته دی، ځکه چي همېشه فقط په يوه طلاق سره کار نه کيږي، بلکي زياتره ښځي د بد اخلاقۍ او بد عملۍ سرچينه وي، او په يو وار تنبيه ورکولو سره هغوی نه برابرېږي، نو ځکه شريعت تر يوه وار وروسته بيا په دويم او دريم طهر کي د بل طلاق ورکولو اجازه ورکړې ده چي په داسي حالت کي انسان کار ځني واخلي، نو ثابته سوه چي په اول طهر کي تر طلاق ورکولو وروسته بيا هم حاجت او ضرورت پاته وي، لهذا اوس په دې باره کي اعتراض کول صحيح نه دي.

والمشروعية إلخ: په دې سره صاحب د هدايې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي، فرمايي چي موږ دا خبره تسليمو چي مشروع کار د ممنوع کار سره جمع کېدلای نه سي، لېکن له دې څخه مراد مشروع لذاته او ممنوع لذاته کارونه دي، لېکن مشروع لذاته او ممنوع لغيره کارونه يقيناً سره جمع کېدلای سي، مثلاً په غصب سوې ځمکه کي لمونځ کول، يا د جمعې د اذان په وخت کي بيع و شراء کول، وګوره! لمونځ کول او بيع و شراء کول دواړه بذاتِ خود مشروع او روا کارونه دي، لېکن د بل أمر يعني د غصب سوي ځمکي او د سعی د پرېښوولو په وجه ممنوع دي چي هغه ته په اصطلاح کي ممنوع لغيره وايي، نو څرنګه چي دلته مشروعيت او ممنوع لغيره سره جمع دي، همداسي زموږ په ذکر سوې مسئله کي هم طلاق يو مشروع او روا کار دی، او د يو بل کار يعني د نکاح د مصالحو د فوتېدلو په وجه ممنوع دی او ور سره جمع سوی هم دی (او داسي نه ده چي طلاق د ممنوع لذاته کار سره جمع سوی دی).

وكذا إلخ: فرمايي: څرنګه چي د حاجت د نشتوالي (عدمِ ضرورت) په وجه پر يوه ځای درې طلاقه ورکول بدعت دي، همداسي د عدمِ ضرورت پر بناء پر يوه ځای دوه طلاقه ورکول هم بدعت دي، ځکه کومه خرابي چي په دريو طلاقونو کي سته، هغه په دوو طلاقونو کي هم سته.

واختلفت إلخ: د دې حاصل دا دی که يو سړي خپلې ښځي ته په طهر کي (د طلاقِ رجعي پر ځای) طلاقِ بائن ورکړي نو آيا دا سنت دي، که بدعت ؟، صاحب د کتاب فرمايي چي په دې هکله د امام محمد رَحِمَهُ الله په روايتونو کي اختلاف دی، د مبسوط روايت دا دي چي دا بدعت او د سنت خلاف دي، ځکه چي د ښځي د بائنه کولو هيڅ ضرورت نسته.

لېکن د زيادات روايت دا دی چي طلاقِ بائن ورکول صحيح دي، ځکه چي کله نا کله معامله دې حد ته ورسيږي چي خاوند فوراً له ځان څخه ښځه جلا کول غواړي او د ډېر نفرت په وجه هغې ته رجعت کول نه غواړي، نو د دغه ضرورت پر بناء په طلاقِ بائن کي څه کراهت او بدي نسته.

د طلاقِ سُني (سنت طلاق) تفصيل

وَالسُّنَّةُ فِي الطَّلَاقِ مِنْ وَجْهَيْنِ: سُنَّةٌ فِي الْوَقْتِ وَسُنَّةٌ فِي الْعَدَدِ او سنت طلاق په دوو طريقو سره دى ايمني طلاق سني پر دوه قسمه دى | ① سنت فى الوقت ② سنت فى العدد فَالسُّنَّةُ فِي الْعَدَدِ يَسْتَوِي فِيهَا الْمَدْخُولُ بِهَا وَغَيْرُ الْمَدْخُولِ بِهَا نو په "سنت فى العدد" كي مدخول او غير مدخول بها دواړي ښځي سره برابري دي وَقَدْ ذَكَرْنَاهَا او دا [مخكي] موږ ذكر كړه وَالسُّنَّةُ فِي الْوَقْتِ تَثْبُتُ فِي الْمَدْخُولِ بِهَا خَاصَّةً او سنت فى الوقت په ځانګړي توګه په مدخول بها كي ثابتيږي وَهُوَ أَنْ يُطَلِّقَهَا فِي طُهْرٍ لَمْ يُجَامِعْهَا فِيهِ او "سنت فى الوقت طلاق" دا دى چي [خاوند] ښځي ته په داسي طهر كي طلاق وركړي چي په هغه كي يې جماع ور سره كړې نه وي لِأَنَّ الْمُرَاعَى دَلِيلُ الْحَاجَةِ ځكه چي [په دې كي] د "دليلُ الحاجة" رعايت سوى دى وَهُوَ الْإِقْدَامُ عَلَى الطَّلَاقِ فِي زَمَانِ تَجَدُّدِ الرَّغْبَةِ او هغه د رغبت نوي كېدلو [تازه كېدلو] په زمانه كي پر طلاق إقدام كول دي وَهُوَ الطُّهْرُ الْخَالِي عَنِ الْجِمَاعِ او دا [زمانه] هغه طهر دى كوم چي له جماع څخه خالي وي أَمَّا زَمَانُ الْحَيْضِ فَزَمَانُ النَّفْرَةِ او كوم چي د حيض زمانه ده نو هغه د نفرت زمانه ده وَبِالْجِمَاعِ مَرَّةً فِي الطُّهْرِ تَفْتُرُ الرَّغْبَةُ او په طهر كي په يوه وار جماع كولو سره رغبت كميږي وَغَيْرُ الْمَدْخُولِ بِهَا يُطَلِّقُهَا فِي حَالَةِ الطُّهْرِ وَالْحَيْضِ او غيرِ مدخول بها ښځي ته په حالت د حيض او طهر دواړو كي طلاق وركولاى سي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله هُوَ يَقِيسُهَا عَلَى الْمَدْخُولِ بِهَا هغه دا [غيرِ مدخول بها] پر مدخول بها قياسوي وَلَنَا: أَنَّ الرَّغْبَةَ فِي غَيْرِ الْمَدْخُولِ بِهَا صَادِقَةٌ زموږ دليل دا دى: چي په غيرِ مدخول بها كي رغبت ريښتونى [اوكامل] وي لَا تَقِلُّ بِالْحَيْضِ مَا لَمْ يَحْصُلْ مَقْصُودُهُ مِنْهَا او تر څو چي له هغې څخه د خاوند مقصود حاصل نه سي [تر هغه وخته پوري د هغې] رغبت نه كميږي وَفِي الْمَدْخُولِ بِهَا تَتَجَدَّدُ بِالطُّهْرِ او په مدخول بها كي په طهر سره رغبت نوي كيږي.

اللغات: ﴿وَجْه﴾ قسم، صورت، ﴿دَاعِي﴾ د نصر اسم فاعل دى: رابلونكى، سبب، خواهش، ﴿تَجَدُّد﴾ د تفعّل مصدر دى، نوي كېدل (تازه كېدل)، ﴿تَفْتُرُ﴾ د نصر مضارع ده: كمېدل، سړېدل (يخېدل)، ﴿لَا تَقِلُّ﴾ د ضرب نفي صيغه ده، قَلَّ يَقِلُّ قِلًّا و قُلًّا و قُلَّةً: كمېدل، لږېدل.

تشريح: په دې عبارت کې صاحب د کتاب د طلاقِ سني نوره تشريح کوي او د هغه تقسيم بيانوي، فرمايي چې طلاقِ سني پر دوه قسمه دی: ① سنت فی الوقت، ② سنت فی العدد.

سنت فی العدد دا دی چې خاوند ښځې ته یو طلاق ورکړي او تر عدت تېرېدلو پورې ښځه پر خپل حال پرېږدي، او په دې کې مدخول بها او غیرِ مدخول ها دواړې ښځې برابرې دي، يعني د عدد (یوه طلاق) په باره کې د دوی تر مينځ هيڅ فرق نشته.

او سنت فی الوقت دا دی چې سړی ښځې ته په داسې طهر کې طلاق ورکړي کوم چې له جماع څخه خالي وي، او دا خاص د مدخول بها په حق کې ثابتيږي، يعني که خاوند مدخول بها ښځې ته طلاق ورکول وغواړي، نو په داسې طهر کې به طلاق ورکوي کوم چې له جماع څخه خالي وي؛ ځکه چې طلاق د ضرورت په وجه سره مشروع دی، نو په دې کې به د ضرورت د دليل (دليل الحاجة) رعايت کيږي، او دليل الحاجة د رغبت تازه کېدلو په زمانه کې "إقدام على الطلاق" (طلاق ورکول) دي، او د رغبت تازه کېدلو زمانه هغه طهر دی کوم چې له جماع څخه خالي وي، ځکه چې د حيض زمانه خو د نفرت زمانه ده (جماع ته انسان رغبت نه کيږي)، او په طهر کې په یوه وار جماع کولو سره رغبت کميږي، نو په حيض او هغه طهر کې (چې خالي عن الجماع وي) دليل الحاجة موجود نه دی چې هغه د حاجت قائم مقام کړی سي او طلاق مشروع او روا کړی سي، نو ځکه موږ وويل چې سنت في الوقت صرف دا دي چې د طهر په وخت کې طلاق ورکول سي، نه په حيض او هغه طهر کې چې له جماع څخه خالي وي (په دغه حالتونو کې طلاق ورکول مکروه دي).

او پاته سوه د غیرِ مدخول بها ښځې مسئله، نو هغې ته په طهر او حيض دواړو کې طلاق ورکول کېدلای سي، امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې غير مدخول بها ښځې ته په حيض کې طلاق ورکول مکروه تحريمي دي، د هغه دليل قياس دی، يعني مدخول بها پر غیرِ مدخول بها قياسوي.

زموږ دليل دا دی چې په غیرِ مدخول بها کې کامل رغبت او شهوت وي او په حيض يا داسې بل شي سره د هغې په رغبت کې کمي نه راځي، بلکې تر هغه وخته پورې يې شهوت او د زړه خواهش پاته وي تر څو چې خاوند له هغې څخه خپل مقصود حاصل کړی نه وي (په لنډه توګه دا چې په غیرِ مدخول بها کې هر وخت د جماع رغبت وي هغه که د حيض وخت وي او که د طهر وخت وي)، نو اوس که په حيض کې خاوند هغې ته طلاق ورکړي، نو دا به د نفرت په وجه نه وي، بلکې د حاجت او ضرورت په خاطر به وي، او د طلاق مدار هم پر ضرورت (او دليل الحاجة) دی، نو ځکه به غیرِ مدخول بها ته د حيض په حالت کې هم طلاق ورکول صحيح او روا وي.

د دې په خلاف د مدخول بها مسئله ده، نو د هغې لپاره د طهر خاصولو وجه دا ده چې د هغې په حق کې حيض د نفرت زمانه ده (ځکه چې په هغې کې خاص د طهر په وخت کې د جماع رغبت نوی کيږي، او د غیرِ

مدخول بها ښځي په شير هر وخت د هغې رغبت باقي نه وي)، اوس که مونږ د هغې لپاره د طهر خالي عن الجماع وقت خاص نه کړو، نو ښکاره خبره ده چي هغې ته طلاق ورکول به د حاجت او ضرورت پر بناء نه وي بلکي د نفرت او علمِ رغبت پر بناء وي، حالانکي د طلاق بنياد او مدار پر نفرت او عدمِ رغبت نه دی، بلکي پر حاجت او ضرورت دی.

د هغو ښځو د طلاق او عدت بيان چي حيض نه ورته راځي

قَالَ: وَإِذَا كَانَتِ الْمَرْأَةُ لَا تَحِيْضُ مِنْ صِغَرٍ أَوْ كِبَرٍ فرمايي: او کله چي ښځي ته د کم عمری يا زيات عمر په وجه حيض نه راځي فَأَرَادَ أَنْ يُطَلِّقَهَا ثَلَاثًا لِلسُّنَّةِ او خاوند اراده وکړي چي هغې ته د سنت طريقې مطابق دري طلاقه ورکړي طَلَّقَهَا وَاحِدَةً نو [اول دي] هغې ته يو طلاق ورکړي فَإِذَا مَضَى شَهْرٌ طَلَّقَهَا أُخْرٰى بيا چي کله يوه مياشته تېره سي نو بل [دويم] طلاق دي ورکړي فَإِذَا مَضَى شَهْرٌ طَلَّقَهَا أُخْرٰى بيا چي کله يوه مياشته تېره سي نو بل [دريم] طلاق دي ورکړي لِأَنَّ الشَّهْرَ فِي حَقِّهَا قَائِمٌ مَقَامَ الْحَيْضِ ځکه چي مياشته د هغې په حق کي د حيض قائم مقام ده قَالَ اللهُ تَعَالٰى: "وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ"... إِلٰى أَنْ قَالَ: "وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ" [الطلاق: ۴] الله تعالىٰ فرمايلي دي: " او کومي ښځي چي له حيض څخه نا اُميده وي"... "او کومو ښځو ته چي حيض نه راځي [د هغو ټولو په حق کي مياشته د حيض قائم مقام ده]" وَالْإِقَامَةُ فِي حَقِّ الْحَيْضِ خَاصَّةً او [د مياشتي] قائم مقام کېدل خصوصاً د حيض په حق کي دي حَتّٰى يُقَدَّرَ الْاِسْتِبْرَاءُ فِي حَقِّهَا بِالشَّهْرِ تر دې چي د داسي ښځي په حق کي به د استبراءِ اندازه [هم] په مياشتي سره کيږي وَهُوَ بِالْحَيْضِ لَا بِالطُّهْرِ او استبراء په حيض سره وي نه په طهر سره ثُمَّ إِنْ كَانَ الطَّلَاقُ فِي أَوَّلِ الشَّهْرِ بيا که طلاق د مياشتي په شروع کي [ورکول سوی] وي تُعْتَبَرُ الشُّهُوْرُ بِالْأَهِلَّةِ نو د سپوږمی [مياشتي] په ذريعه به د مياشتو اعتبار کيږي وَإِنْ كَانَ فِي وَسَطِهِ او که د مياشتي په مينځ کي [طلاق ورکول سوی] وي فَبِالْأَيَّامِ فِي حَقِّ التَّفْرِيْقِ نو د تفريق په حق کي به د ورځو په ذريعه [د مياشتو] اعتبار کيږي وَفِي حَقِّ الْعِدَّةِ كَذٰلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ همدارنګه به د عدت په حق کي هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [د ورځو په ذريعه د مياشتو اعتبار کيږي] وَعِنْدَهُمَا ❁ يُكَمَّلُ الْأَوَّلُ بِالْأَخِيْرِ

❁ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله ، كما قال العلامة ابن نجيم رَحِمَهُ الله "وفي الكافي: الفتوىٰ على قولهما لأنه أسهل" (البحر الرائق ج:۳، ص:۴۲۱) [القول الراجح ج:۱، ص:۳۰۹]

او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز به اوله میاشته په آخري میاشتې سره پوره کول کیږي وَالْمُتَوَسِّطَانِ بِالْأَهِلَّةِ او د مینځ دوې میاشتې به په سپوږمۍ [میاشتې] سره پوره کیږي وَهِيَ مَسْأَلَةُ الْإِجَارَاتِ او دا د إجاراتو مسئله ده.

اللغات: ﴿صِغَر﴾ کم عمري، کوچنیوالی، ﴿كِبَر﴾ د عمر زیاتوالی، بوډوالی (سپینسر توب).
﴿يَئِسْنَ﴾ د سمع له باب څخه د جمع مؤنث غائب ماضي صیغه ده: نا اُمیده کېدل، د ښځې وچېدل.
﴿إِسْتِبْرَاء﴾ د رحم پاکوالی معلومول (يعني تر یوه حیض تېرېدلو پورې د ښځې سره وطې نه کول د دې لپاره چې معلومه سي چې آیا د ښځې رحم د بل چا له حمل څخه پاک دی که نه؟ یعني د هغې رحم خو به په حمل سره مشغول نه وي، او دا خبره په حیض راتللو سره معلومیږي ځکه کله چې حیض راسي نو معلومه به سي چې هغه حامله نه ده، او کومې ښځې ته چې حیض نه راځي نو د هغې سره به تر یوې میاشتې پورې وطي نه کیږي)، ﴿أَهِلَّة﴾ جمع د هِلَالٌ ده: نوې میاشت (نوې سپوږمۍ)، د اولو درو (۳) سپوږمۍ ته هِلَال وایي، وروسته بیا قَمَر ورته وایي، ﴿يُكَمَّلُ﴾ د تفعیل له باب څخه د مضارع مجهولي صیغه ده: پوره کول، بشپړ کول.

تشریح: په دې عبارت کې صاحب د کتاب د هغه ښځې د طلاق حکم بیانوي، چې د عمر د زیاتوالي یا کموالي په وجه حیض نه ورته راځي، داسې ښځې ته د سنت طلاق ورکولو طریقه دا ده چې خاوند دې هغې ته په دریو جلا، جلا میاشتو کې درې طلاقه ورکړي لکه څرنګه چې ذواتُ الحیض ښځو ته په دریو جلا، جلا طهرونو کې درې طلاقه ورکول کیږي؛ د دې حکم دلیل دا دی چې الله تعالیٰ په دې آیت "وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِنْ نِسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ" [سورة الطلاق:۴] کې د آئسه او نابالغه ښځو عدت درې میاشتې بیان کړی دی، لهذا کله چې د دوی عدت درې میاشتې دی، نو دوی ته د سنت طلاق ورکولو وخت به هم لازماً تر یوې میاشتې وروسته وي (يعني تر هرې یوې میاشتې وروسته به یو طلاق ورکول کیږي).

والإقامة في إلخ: په دې سره دا راښیي چې په دغه دریو میاشتو کې هره میاشته د حیض قائم مقام ده، او د هغو مشائخو قول معتبر نه دی کوم چې میاشته د حیض او طهر دواړو قائم مقام ګڼي، او د دې ښکاره دلیل دا دی چې مثلاً که یوه داسې مینځه (چې د کم عمرۍ یا زیات عمر په وجه حیض نه ورته راځي) د یوه مالک له ملکیت څخه د بل مالک وملکیت ته نقل سي، نو د فقهي مسئلې مطابق د هغې سره استبراء کول ضروري دي چې دغه دویم مالک به یوه میاشت د هغې سره استبراء کوي (يعني یوه میاشت به جماع نه ور سره کوي)، تاسو وګورئ! چې د غیرِ ذواتُ الحیض مینځو د استبراء لپاره

هم يوه مياشت تاكل سوې ده او استبراء په حيض سره كيږي، نه په طهر سره، له دې څخه معلومه سوه چي مياشته فقط د حيض قائم مقام ده، نه د طهر.

ثم إن كان إلخ: په دې سره دا راښيي چي كه غيرِ ذواتُ الحيض ښځو ته د مياشتي په اوله ورځ (يعني په كومه ورځ چي مياشته او سپوږمۍ وليدل سي) طلاق وركول سي نو د غير ذواتُ الحيض ښځو طلاق او عدت به د مياشتي (سپوږمۍ) په اعتبار سره وي، برابره ده مياشته كه د (٢٩) ورځو وي او كه د (٣٠) ورځو وي، مثلاً كه خاوند د مياشتي په اوله ورځ طلاق ورکړي، نو دويم طلاق به د دريمي مياشتي په اوله ورځ وركوي، او دريم طلاق به د دريمي مياشتي په اوله ورځ كوي. او ښځه به عدت هم د مياشتي په حساب سره پوره كوي.

او كه غيرِ ذواتُ الحيض ښځو ته د مياشتي په مينځ كي طلاق وركول سي، نو بيا به د دوی طلاق دورځو په اعتباره سره، نه د مياشتي په اعتبار سره، يعني د ډېرش (٣٠) ورځي به هره مياشته شمارل كيږي، او تر هرو (٣٠) ورځو وروسته به طلاق وركول كيږي (دا مسئله متفق عليها ده)، مثلاً كه خاوند د مياشتي پر پنځلسم (١٥) تاريخ غيرِ حائضې ښځي ته طلاق وركړی، نو (٣٠) ورځي به دريږي، كله چي تولې (٣٠) ورځي تيري سي نو دويم طلاق به وركوي (يعني چي طلاق په ٣١ ورځ واقع سي)، او بيا به تر (٣٠) ورځو وروسته دريم طلاق وركوي، او په عدت كي هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ورځي معتبره دي، يعني د هرو (٣٠) ورځو په تېرېدلو سره د ښځي عدت پوره كيږي.

وعندهما إلخ: لېكن په عدت كي د صاحبينو مسلک دا دی چي اوله مياشته (يعني په كومه مياشته كي چي طلاق وركول سوی وي د هغه مياشتي پاته ورځي) به دآخري مياشتي سره يوځای كيږي او (٣٠) ورځي به پوره كول كيږي، او د مينځ دوې مياشتي به په سپوږمۍ سره پوره كول كيږي، برابره ده مياشته (سپوږمۍ) د (٢٩) ورځو وي او كه د (٣٠) ورځو وي، مثلاً يو خاوند د مياشتي پر پنځويشتم (٢٥) تاريخ غيرِ حائضې ښځي ته طلاق وركړي او هغه مياشته د (٣٠) ورځو وي، نو د هغه مياشتي (٥) ورځي او د آخري مياشتي (٢٥) ورځي به سره يو ځای كيږي، او د مينځ دوې مياشتي به د سپوږمۍ په حساب سره پوره كول كيږي (ځكه چي په مياشتو كي سپوږمۍ اصل او معمول بهاً ده)، او په دې توګه به درې مياشتي عدت پوره كيږي.

صاحب د هدايې فرمايي چي دا په اصل كي د كتابُ الإجارات مسئله ده، او هلته هم په دې مسئله كي اختلاف دی، يعني كه يو څوک د مياشتي په مينځ كي يو دوكان د پنځو مياشتو لپاره په كرايه ونيسي، نو د امام صاحب په نېز به د پنځو مياشتو اعتبار په ورځو سره كيږي (چي تولې ١٥٠ ورځي كيږي يعني ١٥٠ ورځي وروسته د همّه د كرايې مودت پوره كيږي، نو په همدغه حساب سره به كرايه اداء كوي)، او صاحبين فرمايي چي په كومه مياشته كي چي د إجارې معامله سوې ده د هغې او آخري مياشتي اعتبار به په ورځو سره

کیږي (یعني د اولې میاشتې او آخري میاشتې ورځې به سره یو ځای کیږي او (٣٠) ورځې به پوره کول کیږي) او د مینځ څلور میاشتې به د سپوږمۍ په حساب سره پوره کول کیږي.

فایده: د مختار مذهب مطابق د ښځې د حیض عمر نهم (٩) کال دی، او د ځینیو په نېز (٨) کال او د ځینو په نېز (٧) کال دی، او "سن إیاس" یعني د حیض د بندوالي عمر د ظاهر روایت مطابق (٥٥) کاله دی.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي وَيَجُوزُ أَنْ يُطَلِّقَهَا وَلَا يَفْصِلُ بَيْنَ وَطْيِهَا وَطَلَاقِهَا بِزَمَانٍ او جائز دي چې [آئسې یا صغیرې] ښځې ته طلاق ورکړي او د هغې د وطي او طلاق تر مینځ په هیڅ مودت سره فصل نه وکړي وَقَالَ زُفَرُ: يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا بِشَهْرٍ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چې د وطي او طلاق تر مینځ به یوه میاشته فصل کوي لِقِيَامِهِ مَقَامَ الْحَيْضِ ځکه چې یوه میاشته [د آئسې او صغیرې] په حق کې د حیض قائم مقام ده وَلِأَنَّ بِالْجِمَاعِ تَفْتُرُ الرَّغْبَةُ او په دې وجه [هم] چې په جماع سره رغبت کمیږي وَإِنَّمَا تَتَجَدَّدُ بِزَمَانٍ [ځکه] رغبت خو تر یو مودت وروسته نوي کیږي [تازه کیږي] وَهُوَ الشَّهْرُ او هغه [مدت] یوه میاشت ده وَلَنَا: أَنَّهُ لَا يُتَوَهَّمُ الْحَبَلُ فِيهَا او زموږ دلیل دا دی: چې په دې [آئسه او صغیره] کې د حمل وهم نشته وَالْكَرَاهِيَةُ فِي ذَوَاتِ الْحَيْضِ بِاعْتِبَارِهِ او [د طلاق] کراهت په ذوات الحیض ښځو کې د همدغه حمل په اعتبار سره وي لِأَنَّ عِنْدَ ذٰلِكَ يَشْتَبِهُ وَجْهُ الْعِدَّةِ ځکه چې په همدې وخت کې د عدت طریقه مشتبه کیږي وَالرَّغْبَةُ وَإِنْ كَانَتْ تَفْتُرُ مِنَ الْوَجْهِ الَّذِي ذَكَرَ او رغبت که څه هم د امام زفر د ذکر سوي سبب مطابق کمیږي لٰكِنْ تَكْثُرُ مِنْ وَجْهٍ آخَرَ لېکن په یو بل سره زیاتیږي [هم] لِأَنَّهُ يَرْغَبُ فِي وَطْءٍ غَيْرِ مُعْلِقٍ ځکه چې خاوند رغبت کوي په داسې وطي کې چې هغه حاملونکې [بلاربونکې] نه وي فِرَارًا عَنْ مُؤَنِ الْوَلَدِ د کوچني له بوج [او ذمه وارۍ] څخه د ځان ساتلو لپاره فَكَانَ الزَّمَانُ زَمَانَ رَغْبَةٍ لهذا دا زمانه به [هم] د رغبت زمانه وي فَصَارَ كَزَمَانِ الْحَبَلِ نو دا [د حاملې ښځې] د حمل د زمانې سره مشابه سوه.

اللغات: ﴿لَا يَفْصِلُ﴾ د ضرب له باب څخه د نفي صیغه ده: جلا کول (فصل)، علیحده کول، د دوو شیانو تر مینځ فاصله راوستل، ﴿تَفْتُرُ﴾ د نصر مضارع ده: کمېدل، سړېدل (یخېدل)، ﴿حَبَلْ﴾ د

سمع له باب څخه اسم مصدر دی: حمل، بلاربوالی، ﴿مُعْلِق﴾ د افعال د باب اسم فاعل دی: بلاربونکی، حامله کونکي (حاملونکي، حملداره کونکی)، په مجرد کي د سمع له باب څخه راځي: عَلِقَ يَعْلَقُ عُلُوْقًا: د ښځي بلاربېدل (حملداره کېدل)، ﴿كَرَاهَة﴾ ناخوښي، مکروه کېدل، ﴿مُؤن﴾ خرڅه، بوج (بار)، تکلیف.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی کومو ښځو ته چي حیض نه راځي (يعني آئسه او صغيره) که خاوند تر جماع وروسته فوراً هغو ته طلاق ورکول وغواړي، نو طلاق ورکولای سي، او د ذواتُ الحیض ښځو په څېر د هغوی د وطي او طلاق تر مینځ د فصل او انتظار کولو ضرورت نسته، همدا زموږ او د ائمه ثلاثه وو مسلک دی.

لېکن د امام زفر نظریه دا ده چي څرنګه د ذواتُ الحیض ښځو د طلاق او وطي تر مینځ په یوه حیض سره فصل کیږي، همداسي به د آئسې او صغیرې د طلاق او وطي ترمینځ هم په یوې میاشتي سره فصل کیږي، ځکه چي میاشته د دوی په حق کي د حیض قائم مقام ده.

ولأن إلخ: د امام زفر دویم دلیل دا دی چي په یوه وار جماع کولو سره رغبت کمیږي او د رغبت د تجدّد (تازه کېدلو) لپاره د یوه مودت وجود ضروري دی، او څرنګه چي د دې ښځو په حق کي دا مودت یوه میاشته ده، نو ځکه به د دوی د وطي او طلاق ترمینځ یوه میاشته فصل کول ضروري وي.

ولنا إلخ: زموږ دلیل او د امام زفر رَحِمَهُ الله د قیاس جواب دا دی چي آئسه او صغیره پر ذوات الحیض ښځو قیاسول صحیح نه دي، ځکه چي په ذوات الحیض ښځو کي چي تر وطي وروسته د طلاق ورکولو کوم کراهت دی هغه په دې وجه دی چي په وطي سره په دوی (يعني په ذوات الحیض ښځو) کي د حمل وهم راځي او د دوی عدت مشتبه کیږي، یعني که دوی په دغه وطي سره حامله وګرځي، نو ښکاره خبره ده چي د دوی عدت به وضعُ الحمل (د حمل زېږول) وي، او که حامله نه وګرځیږي، نو د دوی عدت به درې حیضه وي، خو څرنګه چي تر حیض راتللو مخکي دا معامله مشتبه وي، نو په دې وجه د دوی د وطي او طلاق ترمینځ یوه حیض فصل کول ضروري دي.

د دې په خلاف په آئسه یا صغیره کي خو نه د حمل وهم وي او نه د عدت اشتباه وي، نو ځکه د دوی په وطي او طلاق کي د فصل او انتظار کولو هیڅ ضرورت نسته.

والرغبة إلخ: په دې سره د امام زفر رَحِمَهُ الله د دویم دلیل جواب ورکوي، حاصل یې دا دی چي ستاسو دا توجیه موږ هم منو چي تر جماع وروسته رغبت کمیږي او د رغبت د تَجدّد لپاره یو مودت ضروري دی، لېکن تاسو پر دې غور او فکر نه دي کړی چي د رغبت کمي هم د ذوات الحیض ښځو سره خاص

ده، او دا کمي په آئسه يا صغيره کي نه ثابتيږي، بلکي په آئسه او صغيره کي خو تر جماع وروسته هم (د خاوند) رغبت پاته وي، او د دې وجه دا ده چي سړی عموماً د دې تمنالري چي زما په وطي سره ښځه حامله نه سي چي د کوچني ساتلو بوج او خرچه زما پر سر نه پرېوځي او زه له دې ځخه خلاص سم، او څرنګه چي صغيره يا آئسه په وطي سره نه حامله کيږي، نو د خاوند دا شوق او رغبت وي چي د دوی سره بار، بار وطي وکړي، لهذا د دوی په حق کي تر هري وطي وروسته د رغبت د تجدّد زمانه ده، نو په دې وجه د دوی په حق کي عليحده ديوې مياشتي د انتظار او فصل کولو ضرورت نسته، بلکي بغير له انتظار او فصل ځخه به هم طلاق ورکول مباح او صحيح وي.

او لکه څرنګه چي حاملې ښځي ته تر جماع وروسته فوراً طلاق ورکول صحيح دي، همداسي به آئسې او صغرې ښځي ته هم تر جماع وروسته فوراً طلاق ورکول صحيح وي، او د څه فصل او فرق ضرورت به نه وي.

په راتلونکي عبارت کي د همدغه حاملې ښځي مسئله بيان سوې ده.

د حاملې ښځي د طلاق حکم

وَطَلَاقُ الْحَامِلِ يَجُوزُ عَقِيْبَ الْجِمَاعِ او د حاملې ښځي طلاق تر جماع وروسته جائز دی [يعني حاملې ښځي ته تر جماع وروسته فوراً طلاق ورکول صحيح دي] لِأَنَّهُ لَا يُؤَدِّيْ إِلَى اشْتِبَاهِ وَجْهِ الْعِدَّةِ ځکه چي [د حاملې ښځي په حق کي] دا [طريقه] د عدت مشتبه کېدلو سبب نه ګرځي وَزَمَانُ الْحَبَلِ زَمَانُ الرَّغْبَةِ فِي الْوَطْءِ او د حمل زمانه په وطي کي د رغبت زمانه ده [يعني د حمل په زمانه کي هم د حاملې ښځي جماع ته د خاوند رغبت کيږي] لِكَوْنِهِ غَيْرَ مُعْلِقٍ ځکه چي دا وطي حاملونکي نه وي [يعني د حمل په وخت کي په وطي سره ښځه نه حامله کيږي، ځکه چي هغه له مخکي ځخه حامله وي] أَوْ فِيهَا لِمَكَانِ وَلَدِهِ مِنْهَا يا په حامله ښځه کي [به په دې وجه د خاوند رغبت وي] چي له هغې ځخه د خاوند د کوچني امکان [او اُميد] وي او هغې د خاوند بچی محفوظه کړی وي] فَلَا يَقِلُّ الرَّغْبَةُ بِالْجِمَاعِ نو په جماع سره به رغبت نه کميږي.

اللغات: ﴿عَقِيْب﴾ وروسته، بعد، ﴿مُعْلِق﴾ د افعال د باب اسم فاعل دی: حامله کونکی (حاملونکي)، بلاربونکی،

تشريح: په دغه عبارت کي د تېر عبارت د دې جملې "فَصَارَ كَزَمَانِ الْحَبَلِ" نور وضاحت کوي، فرمايي چي د صغيرې او آئسې ښځي په څېر حاملې ښځي ته هم له څه فصل او انتظار ځخه بغير تر جماع وروسته فوراً طلاق ورکول صحيح دي، او په دې کي هيڅ کراهت او بدي نسته؛ ځکه يو خود

هغې په حق کې د عدت د اشتباه هيڅ مسئله نسته، ځکه چې د هغې علت متعين دی چې هغه وضعُ الحمل (د حمل زیږول) دي.

دوېم دا چې د حمل زمانه هم وطي ته د رغبت کېدلو زمانه ده. ځکه چې دا خبره يقيني ده چې د حاملې ښځې په وطي کولو سره د خاوند رغبت نه کمیږي، ځکه چې د هغه د رغبت کمېدلو وجه دا وه چې ښځه حملداره نه سي او زما پر سر د کوچني ساتلو بوج او خرچه نه پرېوځي، او د ښځې د حمل په وجه اوس دا وجه بالکل نسته، نو ثابته سوه چې د حمل په زمانه کې هم د وطي رغبت هغسې پاته وي، او دا خبره هم خاوند ته د وطي رغبت ورکوي چې حاملې ښځې د هغه حمل (زوی) په خپل نس کې محفوظ کړی دی، ځکه چې د خپلو زامنو سره د انسان فطري محبت وي، نو د حمل په وجه د حاملې ښځې په محبت کې اضافه راځي او د محبت اضافه او زیاتوب "داعی إلی الوطي" دي، نو په دې سره هم دا ثابته سوه چې د حاملې ښځې له وطي څخه د خاوند رغبت کم نه وي بلکې د حمل زمانه هم وطي او جماع ته د رغبت کېدلو زمانه ده.

د حاملې ښځې سنت طلاق

وَيُطَلِّقُهَا لِلسُّنَّةِ ثَلَاثًا او حاملې ښځې ته به د سنت مطابق درې طلاقه ورکوي يَفْصِلُ بَيْنَ كُلِّ تَطْلِيقَتَيْنِ بِشَهْرٍ او فصل به کوي د هرو دوو طلاقونو په مینځ کې په یوه میاشت سره عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ ❁: لَا يُطَلِّقُهَا لِلسُّنَّةِ إِلَّا وَاحِدَةً امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې حاملې ښځې ته به د سنت طریقې مطابق فقط یو طلاق ورکوي لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي الطَّلَاقِ الْحَظْرُ ځکه چې أصل په طلاق کې ممانعت دی وَقَدْ وَرَدَ الشَّرْعُ بِالتَّفْرِيقِ عَلَى فُصُولِ الْعِدَّةِ او شريعت په دې باره کې وارد سوی دی چې طلاق به د عدت پر فصولو متفرق کیږي وَالشَّهْرُ فِي حَقِّ الْحَامِلِ لَيْسَ مِنْ فُصُولِهَا او د حاملې ښځې په حق کې "میاشته" د عدت له فصولو څخه نه ده فَصَارَ كَالْمُمْتَدَّةِ طُهْرُهَا نو دا [مسئله] د هغې ښځې [د مسئلې] په څېر سوه چې د هغې طهر اوږد سوی وي وَلَهُمَا: أَنَّ الْإِبَاحَةَ بِعِلَّةِ الْحَاجَةِ او د شيخينو دليل دا دی: چې [د طلاق] روایښت د حاجت په وجه دی وَالشَّهْرُ دَلِيلُهَا او میاشته [د دغه] حاجت دلیل ده كَمَا فِي حَقِّ الْآيِسَةِ وَالصَّغِيرَةِ لکه څرنګه چې د

❁ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: والحامل عقيب الوطء، لأن الكراهة فيمن تحيض لتوهّم الحبل، وهو مفقود هنا (الدر المختار ج:٢، ص:٤٥٤). [القول الراجح ج:١، ص:٣١٠]

آيسې او صغيرې په حق کي [مباشته د حاجت دليل ده] وَهٰذَا او دا [د مباشتي دليل کېدل د آيسې او صغيرې په حق کي په دې وجه دي] لِأَنَّهُ زَمَانُ تَجَدُّدِ الرَّغْبَةِ عَلٰى مَا عَلَيْهِ الْجِبِلَّةُ السَّلِيْمَةُ ځکه چي د فطرتِ سليمه مطابق [يوه] مباشته د رغبت نوي کېدلو [تازه کېدلو] زمانه ده فَصَلُحَ عَلَمًا وَدَلِيْلًا نو [مباشته] به د علامت او دليلِ [حاجت] جوړېدلو صلاحيت لري بِخِلَافِ الْمُمْتَدَّةِ طُهْرُهَا په خلاف د هغه ښځي چي طهر يې اوږد سوی وي لِأَنَّ الْعَلَمَ فِي حَقِّهَا إِنَّمَا هُوَ الطُّهْرُ ځکه چي د هغې په حق کي خو طهر علامت دی وَهُوَ مَرْجُوٌّ فِيهَا فِي كُلِّ زَمَانٍ او په دې [ممتدة الطهر] ښځي کي هر وخت د طهر اُميد وي وَلَا يُرْجٰى مَعَ الْحَبَلِ [ليکن] د حمل سره [يعني په حامله ښځي کي] د طهر هيڅ اُميد نه وي.

اللغات: ﴿الحَظْر﴾ د ضرب د باب اسمِ مصدر دی: ممانعت، بنديز، حَظَرَ يَحْظِرُ حَظْرًا: منع کېدل، بندېدل (له يو کار څخه راګرځېدل)، ﴿مُمْتَدَّةُ الطُّهْرِ﴾ کومي ښځي ته چي په تولـه کـال حيض نه راځي، هغې ته "ممتدة الطهر" وايي، ﴿الإِبَاحَة﴾ د افعال د باب اسمِ مصدر دی: روايښت، اجازت، ﴿آيِسَة﴾ د سمع د باب مؤنث اسم فاعل: وچه ښځه، هغه ښځه چي له حيض څخه نا اُميده سي، ﴿جِبِلَّة﴾ جِبْلَة، جَبْلَة، جَبَلَة: فطرت، طبيعت، مخ، أصل، ﴿سَلِيْمَة﴾ سالم، له نقص او چټلی څخه پاک او محفوظ، ﴿عَلَم﴾ نښه، علامت، نښاني، ﴿مَرْجُوّ﴾ له "رِجَاء" څخه مشتق دی: هغه څه چي اُميد يې سوی وي (يعني يو چا چي يو شي يا يو کار ته اُميد او توقع وي، داسي شي او کار ته "مرجو" وايي)، ﴿الفُصُوْل﴾ جمع د "فَصْل" ده: مراد څني هغه شی دی چي عدت په شمارل کيږي، چي هغه د ذوات الحيض ښځو په حق کي طهر دی او د غيرِ ذوات الحيض (آئسه او صغيره) په حق کي مياشته ده، او د حاملې ښځي په حق کي "وضعُ الحمل" (د کوچني زېږول) دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی حاملې ښځي ته درې طلاقه ورکول وغواړي، نو د شيخينو په نيز د هغه لپاره سنت طريقه دا ده چي د هرو دوو طلاقونو په مينځ کي يوه مياشت فصل وکړي (يعني تر هر طلاق وروسته دي يوه مياشت انتظار وکړي او بيا دي طلاق ورکړي)، امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي حاملې ښځه ته د طلاق ورکولو سنت طريقه دا ده چي خاوند فقط يو طلاق ورکړي.

د امام محمد دليل: دا دی چي طلاق ممنوعُ الأصل دی يعني په طلاق کي ممانعت أصل دی. او په حديث کي طلاق ته "أَبْغَضُ الْمُبَاحَات" ويل سوي دي، لهذا حتى الإمکان له طلاق څخه ځان ساتل پکار دي.

او بل دا چي د قرآن کريم په دې آيت "فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ...(الخ)" کي د طلاق په هکله دا قاعده ذکر سوې ده چي طلاق به په دريو متفرقو (جلا، جلا) طهرونو کي وي، همدا سنت طريقه ده. او حاملې ښځي ته د حمل په وجه حيض نه راځي، نو هغې په حق کي د طهر د تجدّد امکان سته (يعني د هغې په حق کي د دويم طهر امکان نسته چي تريوه طلاق وروسته بيا په دويم طهر کي طلاق ورکول سي) بلکي د هغې د حمل ټوله مودت د طهر په درجه کي دی او حامله آئسه يا صغيره نه ده چي مياشته د هغې په حق کي د طهر يا د عدت د فصل قائم مقام ومنل سي، لهذا څرنګه چي د مُمتدّةُ الطُهر ښځي په حق کي (يعني د کومي ښځي د طهر زمانه چي ډېره اوږده سي څرنګه چي د هغې په حق کي) مياشته د عدت د فصولو نه قائم مقام کيږي، همداسي به د حاملې په حق کي مياشته د عدت د فصولو نه قائم مقام کيږي، او د حمل په ټوله مودت کي به فقط يو طلاق ورکول کېدای سي.

د شيخينو دليل: دا دی چي موږ هم دا خبره منو چي طلاق ممنوعُ الأصل دی، لېکن د حاجت ځايونه له دې څخه مستثنیٰ دي ځکه چي طلاق د حاجت په وجه روا سوی دی، او د طلاق حاجت چي څرنګه په نورو ښځو کي موجود دی، همداسي په حامله ښځي کي هم موجود دی (يعني حاملې ښځي ته هم د طلاق ورکولو ضرورت پېښيږي)، لهذا طلاق ته مطلقاً ممنوعُ الأصل ويل صحيح نه دي.

لهذا کله چي په حامله ښځه کي هم د طلاق ضرورت موجود دی او ظاهراً هغې ته د سنت طريقې مطابق طلاق ورکول ممکن نه دي (د حيض نه راتللو په وجه)، نو بايد د داسي طريقې يا مثال تلاش او پلټنه وسي چي د هغه په اختيارولو سره د حاملې طلاق د سنت طريقې مطابق وګرځي، نو موږ چي تلاش وکړی نو ومو ليدله چي آئسې او صغيرې ته هم حيض نه راځي او د دوی په حق کي "مياشته" د عدت د فصولو او د طهر د تجدّد قائم مقام ده (ځکه چي په يوه مياشته کي دننه په صحيح سالم سړي کي ښځو ته ريښتوني رغبت پيدا کيږي، لکه په طهر کي چي پيدا کيږي)، لهذا کله چي د آئسې او صغيرې په حق کي مياشته د حيض او د طهر د تجدّد قائم مقام کېدای سي، نو هغه به د حاملې په حق کي هم د دې قائم مقام کېدای سي، ځکه چي د حمل په وجه هغې ته هم حيض نه راځي او د هغې په حق کي هم د طهر د تجدّد امکان نسته، او قاعده دا ده چي "اَلْحُكْمُ يُدَارُ عَلَىٰ دَلِيْلِهَا"، نو ځکه به يوه مياشته د حاملې په حق کي هم د عدت د فصولو او د طهر د تجدد قائم مقام کيږي، او په درې مياشتو کي به هغې ته درې طلاقه ورکول د سنت طريقې مطابق وي.

بخلاف الممتدة إلخ: امام محمد رَحِمَهُ الله حامله ښځه پر مُمتدة الطهر ښځي قياس کړې وه. په دې عبارت سره د هغه جواب ورکوي، فرمايي چې حامله پر ممتدة الطهر قياسول صحيح نه دي، ځکه چې د ممتدة الطهر په حق کې د حاجت دليل فقط طهر دی، او په هغې کې هر وخت او هر ګړی د طهر د تجدّد اُميد وي (يعني د هغې په باره کې هر ګړی دا اُميد او توقع وي چې اوس به حيض ورته راسي. او تر حيض وروسته به بيا پاکه سي)، لېکن په حامله ښځه کې بالکل د طهر د تجدّد اُميد نه وي، ځکه چې هغې ته تر وضعُ الحمل (کوچني زېږولو) مخکې بالکل حيض نه راځي. او که بالفرض څه وينه ورته راسي، نو هم هغه ته د حيض وينه نه ويل کيږي. لهذا کله چې په دواړو کې دومره فرق سته، نو ځکه يوه پر بلې قياسول صحيح نه دي.

د حيض په حالت کې د طلاق ورکولو حکم

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فِي حَالَةِ الْحَيْضِ او کله چې خاوند خپلې ښځې ته په حالت د حيض کې طلاق ورکړي وَقَعَ الطَّلَاقُ نو طلاق واقع کيږي لِأَنَّ النَّهْيَ عَنْهُ لِمَعْنًى فِي غَيْرِهِ ځکه چې په حالت د حيض کې د طلاق ورکولو ممانعت د يو داسې معنیٰ په وجه دی چې هغه له طلاق څخه بغير [په بل شي] کې ده وَهُوَ مَا ذَكَرْنَاهُ او دا هغه معنیٰ ده کوم چې موږ ذکر کړه فَلَا يَنْعَدِمُ مَشْرُوعِيَّتُهُ لهذا د طلاق مشروعيت به معدوم [او ختم] نه وي وَيُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا او خاوند لره مستحب دي چې ښځې ته رجعت وکړي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِعُمَرَ [1] ځکه چې نبي کريم ﷺ حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل مُرْ ابْنَكَ فَلْيُرَاجِعْهَا خپل زوی ته حکم وکړه! چې خپلې ښځې ته رجعت وکړي وَقَدْ طَلَّقَهَا فِي حَالَةِ الْحَيْضِ په داسې حال کې [نبي ﷺ دا خبره ورته وکړه، کله] چې هغه [ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا] خپلې ښځې ته په حالت د حيض کې طلاق ورکړی وو وَهٰذَا يُفِيدُ الْوُقُوعَ وَالْحَثَّ عَلَى الرَّجْعَةِ او دا "د رجعت حکم ورته کول" [د حيض په حالت کې د طلاق] د واقع کېدلو او پر رجعت د هڅولو [او ترغيب ورکولو] فايده ورکوي ثُمَّ الِاسْتِحْبَابُ قَوْلُ بَعْضِ الْمَشَايِخِ بيا د رجعت مستحب کېدل [يعني دا قول چې رجعت مستحب دی] د ځينو مشائخو قول دی وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ وَاجِبٌ لېکن صحيح دا ده چې هغه واجب دی عَمَلًا بِحَقِيقَةِ الْأَمْرِ د أمر په حقيقت باندې د عمل کولو لپاره وَرَفْعًا لِلْمَعْصِيَةِ بِالْقَدْرِ الْمُمْكِنِ بِرَفْعِ أَثَرِهِ وَهُوَ الْعِدَّةُ او

---

[1] تخريج: أخرجه البخاری فی كتاب الطلاق، حديث رقم: ٥٢٥١. وابو داؤد فی كتاب الطلاق، باب فی طلاق السنة، حديث رقم: ٢١٧٩.

حتى الإمكان د معصيت د أثر يعني د عدت په ختمولو سره د معصيت ختمولو لپاره وَدَفْعًا لِضَرَرِ تَطْوِيْلِ الْعِدَّةِ او له ښځې څخه [د عدت اوږدولو د ضرر ليري كولو لپاره.

اللغات: ﴿لَا يَنْعَدِمُ﴾ د انفعال له باب څخه د نفي صيغه ده: ختمېدل، نيستي كېدل. **﴿مَشْرُوْعِيَّة﴾** جائز كېدل، روا كېدل. **﴿مُرْ﴾** د نصر له باب څخه د أمر صيغه ده: حكم كول، أمر كول. **﴿مَعْصِيَة﴾** گناه، نافرماني. **﴿تَطْوِيْل﴾** د تفعيل د باب مصدر دى: اوږدول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه يو سړى خپلې ښځې ته د حيض په حالت كې طلاق وركړي. نو هغه طلاق واقع كيږي او د ټولو په اتفاق دغه سړى گنهكاره كيږي.

د طلاق واقع كېدلو دليل دا دى چې د حيض په حالت كې له طلاق څخه نهي د داسې معنىٰ په وجه دي چې هغه معنىٰ په بل شي كې ده، او هغه معنىٰ "تطويلُ العدة" (د عدت اوږدول) دي (يعني د حيض په حالت كې طلاق په دې وجه ممنوع دى چې په دې سره د ښځې عدت اوږديږي). ځكه په كوم حيض كې چې ښځې ته طلاق وركول سي هغه په عدت كې نه شمارل كيږي همدارنگه تر هغه وروسته طهر نه شمارل كيږي، خلاصه دا چې د حيض په حالت كې له طلاق څخه نهي "نهي لغيره" دي، "نهي لذاته" نه دي (يعني طلاق ممنوع لغيره دى، ممنوع لذاته نه دى)، او نهي لغيره (يعني ممنوع لغيره) د مشروع لذاته سره پاتېداى سي (يعني د دوى دواړه سره جمع كېداى سي)، نو ځكه موږ وويل چې د حيض په حالت كې بذاتِ خود د طلاق مشروعيت ممنوع نه دى، بلكې طلاق واقع كيږي.

ماتن (امام قدوري رَحِمَهُ الله) فرمايي چې د دغه سړي لپاره مستحب دي چې بير ته خپلې ښځې ته رجوع وكړي او د طلاق خبره شا ته وغورځوي؛ دليل دا دى چې كله عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا خپلې ښځې ته د حيض په حالت كې طلاق وركړى نو د هغه پلار حضرت عمر ﷺ په دې باره كې له نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه، نبي ﷺ ورته وفرمايل: "مُرْ إِبْنَكَ فَلْيُرَاجِعْهَا"، يعني خپل زوى ته حكم وكړه چې رجعت وكړي. له دې حديث څخه دوې خبري معلومې سوې: ①... يوه خبره دا چې د حيض په حالت كې وركول سوى طلاق واقع كيږي، ځكه كه طلاق نه واقع كېداى نو نبي ﷺ به د رجعت حكم نه كولاى، ②... دويمه دا چې په دې حديث كې طلاق وركونكي ته د رجعت كولو ترغيب وركول سوى دى.

ثم الاستحباب إلخ: په پورتني حديث كي چي كوم د أمر صيغه (يعني "فَلْيُرَاجِعْهَا") ذكر سوې ده. مشائخو د دې دوه مفهومه بيان كړي دي: ①... ځيني مشائخو (چي په هغوی كي امام شافعي او امام احمد هم دي) دغه أمر پر استحباب حمل كړی دی او رجعت يې مستحب ګرځولی دی؛ او د استحباب وجه يې دا بيان كړې ده چي رجعت د انسان خپل ذاتي حق دی، او په خپل ذاتي حق كي پر انسان هيڅ شی لازمول كېدای نه سي، او څرنګه چي د أمر ادنیٰ درجه استحباب ده، نو په دې وجه به د استحباب مفهوم مرادول ډېر غوره وي.

والأصح إلخ: صاحب د هدايې فرمايي صحيح خبره دا ده دي چي له دغه أمر څخه وجوب مراد كړی سي: ①... ځكه چي د أمر كامل مفهوم وجوب دی، ②... او بله وجه دا چي د حيض په حالت كي طلاق وركول بد كار او معصيت (ګناه) ده، او د رجعت په وجوب سره د طلاق دغه بدي او خرابي بيرته ختميږي، ځكه كله چي رجعت پر خاوند واجب كړی سي نو هغه به له خپل قول (طلاق) څخه رجوع وكړي او د طلاق له أثر يعني له عدت څخه به ښځه وساتي، او په طلاق كي ممانعت او بدي د عدت اوږدېدلو (تطويلُ العدة) په وجه وه لهذا كله چي عدت ختم سي او ښځه ځني وساتل سي نو ښكاره خبره ده چي عدت هم نه اوږدېږي (ځكه كله چي عدت نه وي نو هغه به څرنګه اوږد كړی سي!)، نو معلومه سوه چي د عدت په وجوب كي د طلاق بدي بالكل له منځه ځي، نو ځكه به له دغه أمر څخه د وجوب مفهوم مرادول ډېر صحيح وي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قَالَ: فَإِذَا طَهُرَتْ وَحَاضَتْ فرمايي: كله چي ښځه [له حيض څخه] پاكه سي او [بيا] حائضه سي ثُمَّ طَهُرَتْ [او] بيا پاكه سي فَإِنْ شَاءَ طَلَّقَهَا وَإِنْ شَاءَ أَمْسَكَهَا نو [اوس] كه خاوند وغواړي هغې ته دي طلاق وركړي او كه وغواړي نو هغه دي راو ګرځوي [او بيرته دي يې خپله ښځه او زوجه وګرځوي] قَالَ: وَهَكَذَا ذُكِرَ فِي الْأَصْلِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: همداسي په مبسوط كي ذكر سوي دي وَذَكَرَ الطَّحَاوِيُّ: أَنَّهُ طَلَّقَهَا فِي الطُّهْرِ الَّذِي يَلِي الْحَيْضَةَ الْأُولَى او امام طحاوي رَحِمَهُ الله ذكر كړي دي: چي خاوند دي ښځي ته په هغه طهر كي طلاق وركړي كوم چي د اول حيض سره متصل وي قَالَ أَبُو الْحَسَنِ الْكَرْخِيُّ: مَا ذَكَرَهُ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ امام ابو الحسن كرخي رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: كوم [قول] چي امام طحاوي ذكر كړی دی هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی وَمَا ذُكِرَ فِي الْأَصْلِ قَوْلُهُمَا او كوم [قول]

چي په مبسوط کي ذکر سوی دی هغه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَوَجْهُ الْمَذْكُورِ فِي الْأَصْلِ: أَنَّ السُّنَّةَ أَنْ يَفْصِلَ بَيْنَ كُلِّ طَلَاقَيْنِ بِحَيْضَةٍ او په مبسوط کي د ذکر سوي قول دليل دا دی: چي د هر دوو طلاقونو په مينځ کي په [پوره] يوه حيض سره فاصله راوستل سنت دي وَالْفَاصِلُ هٰهُنَا بَعْضُ الْحَيْضَةِ او دلته [فقط] څه حيض فاصله کونکی ګرځي فَتُكَمَّلُ بِالثَّانِيَةِ لهذا په دويم حيض سره به هغه [اول حيض] پوره کول کيږي وَلَا تَتَجَزَّأُ او [حيض] نه متجزي کيږي فَتَتَكَامَلُ نو ځکه به هغه [خامخا] پوره کول کيږي وإِذَا تَكَامَلَتِ الْحَيْضَةُ الثَّانِيَةُ او کله چي دويم حيض پوره کړی سي فَالطُّهْرُ الَّذِي يَلِيهِ زَمَانُ السُّنَّةِ نو هغه طهر کوم چي د دويم حيض سره متصل وي [هغه طهر به] د سنت زمانه وي وَجْهُ الْقَوْلِ الْآخَرِ: أَنَّ أَثَرَ الطَّلَاقِ قَدِ انْعَدَمَ بِالْمُرَاجَعَةِ د بل قول دليل دا دی: چي په رجعت کولو سره د طلاق اثر ختم سو فَصَارَ كَأَنَّهُ لَمْ يُطَلِّقْهَا فِي الْحَيْضِ او داسي سو لکه خاوند چي بالکل په حيض کي طلاق ورکړی نه دی فَيُسَنُّ تَطْلِيقُهَا فِي الطُّهْرِ الَّذِي يَلِيهِ نو ځکه به د دغه حيض بيره په متصل طهر کي ښځي ته طلاق ورکول سنت [مسنون] وي.

اللغات: ﴿طَهُرَتْ﴾ د کرُم له باب څخه واحده غائبه ماضي صيغه ده، د نصر له باب څخه هم راځي: پاکېدل. ﴿حَاضَتْ﴾ د ضرب له باب څخه مخکني صيغه ده: حيض راتل، حايضه کېدل. ﴿فَاصِل﴾ د ضرب د باب فاعل دی: جدا کونکی، فاصله کونکی (فاصله راوستونکی). ﴿لَا تَتَجَزَّأُ﴾ د تفعّل د باب نفي صيغه ده: جزء جزء کېدل (حصه حصه کېدل)، ټوټه ټوټه کېدل، تقسيمېدل.

تشريح: د مسئلې نوعيت او صورت دا دی که يو سړي خپلي ښځي ته د حيض په حالت کي طلاق ورکړي او بيرته هغې ته رجوع (رجعت) وکړي، نو اوس به دويم وار د طلاق ورکولو يا نه ورکولو سنت (مسنون) وخت کوم وخت وي؟ په دې باره کي د فقهاؤ دوه قولونه دي:

(۱)... اول قول (کوم چي د مبسوط وطرف ته منسوب دی) دا دی چي اوس به خاوند دوه طهره انتظار کوي، يعني په کوم حيض چي کي خاوند رجعت کړی وي تر هغه وروسته چي کوم طهر راځي په هغه کي دي ساکت (خاموش) پاته سي، بيا چي تر دويم ځل حيض راتللو وروسته کوم طهر راځي، په هغه کي و ده ته اختيار دی که د سنت طريقې مطابق وغواړي نو ښځي ته دي طلاق ورکړي. او که طلاق ورکول نه غواړي نو ښځه دي راوګرځوي يعني بيرته دي يې د ځان مانينه (زوجه) وګرځوي، د قرآن په دې آيت "فَإِمْسَاكٌ بِالْمَعْرُوفِ أَوْ تَسْرِيحٌ بِالْإِحْسَانِ" کي همدغسي اشاره سوې ده.

(٢)... دویم قول (کوم چې امام طحاوي ته منسوب دی) دا دی چې په کوم حیض کې خاوند رجعت کړی وي تر هغه وروسته چې کوم طهر راځي، په هغه طهر کې خاوند ته د طلاق ورکولو یا د ښځې راګرځولو حق سته (د سنت طریقې مطابق)، او د دې څه ضرورت نسته چې د بل طهر انتظار وکړي سي او په هغه کې څه إقدام کول سنت وګڼل سي.

علامه ابن الهمام او صاحب د بنایې وایي چې أصلاً د فقهاؤ دغه اختلاف د احادیثو پر اختلاف مبني دی (یعني أصلاً د احادیثو په مضامینو کې اختلاف دی). ځکه چې په صحیحینو کې د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د حدیث مضمون داسي دی: "فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُمْسِكْهَا حَتّٰى تَطْهُرَ. ثُمَّ تَحِيْضَ. ثُمَّ تَطْهُرَ"، دا مضمون د مبسوط د قول دلیل او مؤیّد دی.

د دې په خلاف په مسلم، ترمذي او طحاوي کې د بیان سوي حدیث مضمون دا دی: "فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا أَوْ حَامِلًا. وفي رواية: ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا إِذَا طَهُرَت"، او دا مضمون بیا د امام طحاوي د قول دلیل او مؤیّد دی.

د دې أحادیثو د اختلاف په وجه صاحب د هدایې د دواړو قولونو پر عقلي دلیل اکتفاء کړې ده او أحادیث نه دي ذکر کړي.

رابه سو عقلي دلائلو ته، نو په مبسوط کې د بیان سوي قول عقلي وجه او دلیل دا دی چې د هرو دوو طلاقونو په مینځ کې یو کامل حیض فصل کول سنت دي، او په پورتنۍ مسئله کې کامل حیض فصل هغه وخت راځي کله چې تر طلاق او رجعت وروسته یو بل کامل حیض هم تېر سي، ځکه په کوم حیض کې چې ښځې ته طلاق ورکول سوی دی او رجعت ور ته سوی دی ښکاره خبره ده چې هغه کامل او پوره حیض نه دی، بلکې ناقص دی، او په حیض کې تجزی هم کېدلای نه سي (یعني داسې هم کېدلای نه سي چې د دغه حیض چې څومره وخت په طلاق او رجعت کې مصرف سوی دی له بل حیض څخه هغومره وخت د دغه حیض سره یو ځای کړی سي، لهذا کله چې دا هم نه سي کېدلای) نو په سنت طریقې د عمل کولو لپاره به د بل کامل حیض تېرېدل ضروري وي او تر هغه وروسته چې کوم طهر راځي، هغه به د طلاق ورکولو یا نه ورکولو سنت وخت وي.

د امام طحاوي رَحِمَهُ الله د قول عقلي دلیل دا دی چې په اول حیض کې تر طلاق ورکولو وروسته چې کله خاوند ښځې ته رجعت وکړی نو د طلاق اثر بالکل ختم سو او دغه حیض له طلاق او رجعت څخه بالکل خالي سو، نو په سنت طریقې د عمل کولو لپاره به فقط د دغه حیض تېرېدل کافي وي او تر دې وروسته به را روان طهر سنت وخت وي.

ذواتُ الحيض ښځو ته په "أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا لِلسُّنَّةِ" سره د طلاق ورکولو بيان

وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ - وَهِيَ مِنْ ذَوَاتِ الْحَيْضِ وَقَدْ دَخَلَ بِهَا - : أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا لِلسُّنَّةِ او کوم خاوند چې خپلې داسي ښځي ته - چې هغه له ذواتُ الحيض ښځو څخه وي او خاوند په هغې دخول کړی وي - ووايي: "أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا لِلسُّنَّةِ" اته د سنت مطابق درې واره (پر ما) طلاقه يې] وَلَا نِيَّةَ لَهُ او د هغه هيڅ نيت نه وي فَهِيَ طَالِقٌ عِنْدَ كُلِّ طُهْرٍ تَطْلِيقَةً نو هغه [ښځه] د هر طهر په وخت کي په يوه طلاق سره مطلقه ګرځي لِأَنَّ اللَّامَ فِيهِ لِلْوَقْتِ ځکه چې لام په "لِلسُّنَّةِ" کي د وخت لپاره دی وَوَقْتُ السُّنَّةِ طُهْرٌ لَا جِمَاعَ فِيهِ او سنت وخت هغه طهر دی کوم چې له جماع څخه خالي وي وَإِنْ نَوَى أَنْ تَقَعَ الثَّلَاثُ السَّاعَةَ او که دا نيت وکړي چې په همدغه ګړي [في الحاله] درې طلاقه واقع سي أَوْ عِنْدَ رَأْسِ كُلِّ شَهْرٍ وَاحِدَةً يا د هري مياشتي په شروع کي يو طلاق [واقع سي] فَهُوَ عَلَى مَا نَوَى نو حکم به د هغه د نيت مطابق وي سَوَاءٌ كَانَتْ فِي حَالَةِ الْحَيْضِ أَوْ فِي حَالَةِ الطُّهْرِ برابره ده که هغه وخت [ساعت] په حالت د حيض کي وي يا په حالت د طهر کي وَقَالَ زُفَرُ: لَا تَصِحُّ نِيَّةُ الْجَمْعِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د جمع [يعني په يوه واره دريو طلاقونو] نيت کول صحيح نه دي لِأَنَّهُ بِدْعَةٌ ځکه چې دا بدعت دی وَهِيَ ضِدُّ السُّنَّةِ او بدعت د سنت ضد دی وَلَنَا: أَنَّهُ مُحْتَمَلُ لَفْظِهِ او زموږ دليل دا دی: چې د جمع نيت د خاوند د کلام محتمل دی [يعني د خاوند په کلام کي د جمع احتمال هم سته] لِأَنَّهُ سُنِّيٌّ وُقُوعًا مِنْ حَيْثُ إِنَّ وُقُوعَهُ بِالسُّنَّةِ ځکه چې هغه [جمع] د وقوع په اعتبار سره سنت دي په دې حيثيت سره چې د هغه وقوع په سنت [حديث] سره ثابته ده لَا إِيقَاعًا نه د واقع کولو په اعتبار سره [يعني په يوه واره ثلاثا طلاق ورکول د واقع کېدلو په اعتبار سره سنت دي يعني په حديث سره ثابت دي (چې واقع کيږي) او د واقع کولو په اعتبار سره سنت نه دی (ځکه چې سنت طريقه يعني د حديث طريقه دا ده: چې په هر طهر کي يو يو طلاق ورکول سي)] فَلَمْ يَتَنَاوَلْهُ مُطْلَقُ كَلَامِهِ نو د خاوند مطلق کلام به هغه ته نه شامليږي وَيَنْتَظِمُهُ عِنْدَ نِيَّتِهِ [ليکن] د خاوند د نيت په وخت کي به هغه ته شامليږي [يعني که خاوند د جمع نيت وکړي نو بيا به د خاوند مطلق کلام هغه ته شامل وي].

اللغات: ﴿ذَوَاتُ الْحَيْضِ﴾ حيض والا ښځي (يعني هغه ښځي چې د خپل عادت موافق حيض ورته راځي)، ﴿رَأْس﴾ سر، مراد ځني ابتداء (شروع) ده. ﴿وُقُوعًا﴾ د واقع کېدلو په اعتبار سره (لازمي

باب دی) ﴿إِنْقَاقًا﴾ د واقع کولو په اعتبار سره (متعدي باب دی)، ﴿لَمْ يَتَنَاوَلْ﴾ د تفاعل له باب څخه د جحد صیغه ده: اخیستل، نیول، شاملېدل (ګډېدل)، ﴿يَشْتَمِلُ﴾ د افتعال د باب مضارع ده: په ترتیب کېدل، مشتملېدل، شاملېدل، دوه شیان سره جمع کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي خپلې مدخول بها ښځې ته ووايي: "أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا لِلسُّنَّةِ"(ته د سنت مطابق [یا د سنت په توګه] درې واره [پر ما] طلاقه یې)، او هغه ښځه له ذوات الحیض ښځو څخه وي، نو د خاوند پر دغه جملې به له څه حکم کولو څخه مخکې دې ته کتل کیږي چې آیا خاوند په دې سره څه نیت کړی دی، که نه؟ که خاوند هیڅ نیت کړی نه وي او هغه مطلقاً دغه الفاظ ویلي وي، نو په دې صورت کې به په هر طهر کې پر ښځې یو طلاق واقع کیږي او که د خاوند له طرفه هغې ته رجعت نه وسي نو تر دریو طهرونو وروسته هغه مُطلّقه مغلظه (ثلاثاً مُطلّقه) کرځي.

د دې حکم دلیل دا دی چې د خاوند د جملې په دغه لفظ "لِلسُّنَّةِ" کې چې کوم لام دی دا د وخت لپاره متعین دی، او سنت وخت هغه طهر دی کوم چې له جماع څخه خالي وي، نو ځکه به په هر طهر کې پر ښځې یو طلاق واقع کیږي.

د مسئلې دویم صورت دا دی چې که خاوند د دغه جملې د ویلو په وخت کې یو نیت کړی وي، نو د هغه د نیت مطابق به فیصله کیږي برابره ده که هغه په یوه وار (او پر یوه ځای) پر ښځې د دریو طلاقونو د واقع کولو نیت کړی وي، یا یې د هري میاشتې په شروع کې د یوه طلاق د واقع کولو نیت کړی وي، لنډه دا چې اوس به فیصله د هغه د نیت مطابق کیږي، څرنګه چې یې نیت وي هغسې حکم به کیږي. او برابره ده هغه وخت (په کوم وخت چې خاوند طلاق ورکړی وي) د حیض وي او که د طهر، همدارنګه د هري میاشتې د شروع حصه د حیض وي او که د طهر، په هر صورت کې به د هغه د نیت مطابق د طلاق واقع کېدلو فیصله کیږي.

امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې فیصله خو به د خاوند د نیت مطابق کیږي لېکن خاوند لره به دا اختیار نه وي چې په دغه جمله سره په یوه وار د دریو طلاقونو نیت وکړي؛ ځکه چې په یوه وار درې طلاقونه ورکول بدعت دي، او بدعت د سنت ضد دی، او قاعده دا ده چې "الشَّئُ لَا يَتَحَمَّلُ ضِدَّهُ"، نو ځکه به د "للسُّنَّة" والا په جمله سره د دریو طلاقونو نیت کول صحیح نه وي.

ولنا إلخ: له دې ځايه زموږ دليل بيان سوی دی، تر دليل مخکې تاسو په دې ځان پوه کړئ! چې سنت پر دوه قسمه دی: ① سنت کامله، ② سنت قاصره. د سنت کامله مطلب دا دی چې طلاق د وقوع او إيقاع (واقع کېدلو او واقع کولو) دواړو په اعتبار سره د سنت طريقې مطابق وي (يعني د هغه طريقې مطابق کوم چې په حديث سره ثابته ده چې هغه په دريو جلا، جلا طهرونو کې درې طلاقه ورکول دي)، او د سنت قاصره مطلب دا دی چې طلاق فقط د وقوع په اعتبار سره د سنت طريقې مطابق وي يعني په يوه طهر کې درې طلاقه ورکول، او دا دواړه قسمه طلاقونه په حديث سره ثابت دي. يعني په دريو جلا، جلا طهرونو کې درې طلاقه ورکول هم ثابت دي او په يوه طهر کې درې طلاقه ورکول هم ثابت دي، په حديث کې راځي: "مَنْ طَلَّقَ اِمْرَأَتَهُ أَلْفًا. بَانَتْ مِنْهُ بِثَلَاثٍ . وَالبَاقِيْ رُدَّ عَلَيْه". (يعني کوم څوک چې خپلې ښځې ته زر طلاقه (هم) ورکړي، نو هم ښځه (فقط) په دريو طلاقو سره بائنه کرځي، او پاته طلاقونه (بيرته) پر خاوند راګرځي).

دويم خبره دا ده چې ځينې الفاظ د مختلفو او بېلابېلو معناوو احتمال لري، او د ضرورت او حاجت په وخت کې د هغه لفظ له معناګانو څخه هره معنیٰ مراد کېدلای سي.

اوس د دليل حاصل دا دی چې کله خاوند ښځې ته "أنت طالق للسنة" ووېل نو څرنګه چې په دې جمله کې د سنت کامله احتمال هم سته همداسې د سنت قاصره احتمال هم پکښې سته. او دا خبره تسليم سوې ده چې په محتمل لفظ او جمله کې د يوه احتمال د خاصولو او متعينولو لپاره د هغه صراحت او وضاحت کول ضروري دي، او نيت پوره صراحت کونکی دی، نو ځکه موږ ووېل چې که خاوند دغه الفاظ مطلق وېلي وي او په دې سره يې هيڅ نيت نه وي، نو بيا خو به د "للسُنَّة" أعلیٰ درجه (سنت کامله) يعني وقوع او إيقاع دواړه مراديږي، لېکن که هغه د جمع (يعني پر يوه ځای د دريو طلاقونو) نيت کړی وي، نو د هغه د نيت مطابق به فيصله کيږي او له سنت څخه به سنت قاصره يعني "سنت من حيث الوقوع" مراديږي، ځکه چې د خاوند کلام د سنت قاصره احتمال هم لري او نيت هغه متعيّن کړی، نو ځکه به د نيت په صورت کې دغه سنت ځنې مراديږي.

ذواتُ الأشهر ښځو ته په "أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا لِلسُّنَّةِ" سره د طلاق ورکولو بيان

وَإِنْ كَانَتْ آيِسَةً أَوْ مِنْ ذَوَاتِ الْأَشْهُرِ او که ښځه آيسه وي يا له مياشتنی. ښځو څخه وي [يعني صغيره وي] وَقَعَتِ السَّاعَةَ وَاحِدَةٌ نو په هغه ګړي يو طلاق واقع کيږي وَبَعْدَ شَهْرٍ أُخْرَىٰ وَبَعْدَ شَهْرٍ أُخْرَىٰ او يوه مياشته وروسته دويم او بله مياشته وروسته دريم [واقع کيږي] لِأَنَّ الشَّهْرَ فِيْ حَقِّهَا دَلِيْلُ الْحَاجَةِ ځکه

چي مياشتنه د هغې په حق کي د حاجت دليل ده كَالطُّهْرِ فِي حَقِّ ذَوَاتِ الْأَقْرَاءِ لکه طهر چي د حيض والا ښځو په حق کي [د حاجت دليل] دی عَلَىٰ مَا بَيَّنَّا لکه [مخکي] چي موږ د دې بيان وکړی وَإِنْ نَوَى أَنْ يَقَعَ الثَّلَاثُ السَّاعَةَ او که [خاوند] دا نيت وکړي چي په همدغه ګړي درې سره [طلاقه] واقع سي [يعني د دريو سره طلاقونو د وقوع نيت وکړي] وَقَعْنَ عِنْدَنَا نو زموږ په نيز واقع کيږي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ أَنْتِ طَالِقٌ لِلسُّنَّةِ په خلاف د هغه [صورت] کله چي خاوند [فقط] "أَنْتِ طَالِقٌ لِلسُّنَّةِ" ووايي وَلَمْ يَنُصَّ عَلَى الثَّلَاثِ او د دريو [طلاقو] صراحت نه وکړي [يعني "ثَلَاثًا" ذکر نه کړي] حَيْثُ لَا تَصِحُّ نِيَّةُ الْجَمْعِ فِيهِ نو بيا په دې [جمله] کي د جمع [د دريو طلاقونو] نيت کول صحيح نه دي لِأَنَّ نِيَّةَ الثَّلَاثِ إِنَّمَا صَحَّتْ فِيهِ مِنْ حَيْثُ إِنَّ اللَّامَ فِيهِ لِلْوَقْتِ ځکه چي په دغه جمله کي د "ثَلَاثًا" [د دريو طلاقونو] نيت کول په دې حيثيت سره صحيح دی چي په دې (للسنة) کي "لام" د وخت لپاره دی فَيُفِيدُ تَعْمِيمَ الْوَقْتِ نو هغه د وخت د تعميم [عامېدلو] فايده ورکوي وَمِنْ ضَرُورَتِهِ تَعْمِيمُ الْوَاقِعِ فِيهِ او د هغه [تعميم الوقت] له ضرورته څخه په دې وخت کي د واقع تعميم هم دی [يعني د وخت عامېدلو لپاره دا ضروري دي چي کوم طلاق په دې وخت کي واقع کيږي هغه به عام وي (يعني درې طلاقه به وي، حالانکي خاوند "ثَلَاثًا" نه دي ذکر کړي)] فَإِذَا نَوَى الْجَمْعَ لهذا کله چي خاوند د جمع نيت وکړی بَطَلَ تَعْمِيمُ الْوَقْتِ نو تعميم د وخت باطل سو فَلَا تَصِحُّ نِيَّةُ الثَّلَاثِ نو ځکه به د دريو طلاقو نيت نه صحيح کيږي.

اللغات: ﴿آيِسَة﴾ د سمع د باب مؤنث اسم فاعل: وچه ښځه، هغه ښځه چي له حيض څخه نا اُميده سي، ﴿السَّاعَة﴾ ګړی، ساعت، وخت، ﴿أَقْرَاء﴾ جمع د قُرْءٌ ده: حيض او طهر دواړو ته وايي، ﴿لَمْ يَنُصَّ﴾ د نصر د باب جحد صيغه ده: صراحت کول، خبره په ښکاره لفظو کي ذکر کول (په خوله ذکر کول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو خاوند خپلي مدخول بها ښځي ته ووايي: "أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا لِلسُّنَّةِ"، او هغه ښځه له ذواتُ الحيض ښځو څخه نه وي، بلکي له ذواتُ الأشهر څخه وي يعني آئسه يا صغيره وي، او خاوند په دې جملې سره هيڅ نيت کړی نه وي، نو په دې صورت کي خو يو طلاق فوراً واقع کيږي او يوه مياشت وروسته دويم طلاق واقع کيږي او بيا يوه مياشته وروسته دريم طلاق واقع کيږي؛ ځکه چي د دې ښځو (آئسه او صغيره) په حق کي د حاجت دليل فقط مياشته ده، لهذا

څرنګه چي (د خاوند د عدمِ نیت په صورت کي) پر ذوات الحیض ښځو په هر طهر کي یو طلاق واقع کیږي، همدارنګه به پر آئسه او صغیره هم په هره میاشته کي یو طلاق واقع کیږي.

او که د خاوند دا نیت کړی وي چي پر یوه ځای دري سره طلاقه واقع سي. نو زموږ مسلک دا دی چي د هغه د نیت مطابق به فیصله کیږي او دري سره طلاقه به واقع کیږي. لکه په ذواتُ الحیض ښځو کي چي د دې تفصیل تیر سو. لیکن امام زفر رَحِمَهُ الله په دې مسئله کي هم د مخکي په څیر پر بله لار تللی دی.

بخلاف ما إذا قال إلخ: او که چیري خاوند فقط "أَنْتِ طَالِقٌ لِلسُّنَّة" ووایي. او "ثَلَاثًا" ور سره ذکر نه کړي، نو په دې صورت کي د هغه لپاره د جمع یعني د دریو طلاقو نیت کول صحیح نه دي. او که د دې نیت وکړي نو هم دري طلاقه نه واقع کیږي، ځکه چي د دریو طلاقو نیت کول هغه وخت صحیح کیږي کله چي یې د "ثَلَاثًا" لفظ هم ویلي وي، لکه په تېره مسئله کي چي هغه دا لفظ ویلی وو.

او صاحب د هدایې په منطقي انداز سره د دې دلیل دا بیان کړی دی چي په "لِلسُّنَّة" کي لام د وخت لپاره دی او د طلاقِ سنت وخت متعدد دی یعني دري طهره دي، نو دا لام د وخت د تعمیم (عامېدلو) فایده ورکوي یعني د وخت عامېدل پکار دي (او په دریو سره طهرونو کي طلاق واقع کېدل پکار دي)، لیکن د وخت د عامېدلو لپاره دا ضروري دي چي کوم طلاق چي په دغه وخت کي واقع کیږي هغه به هم عام وي یعني دري به وي او خاوند دري طلاقه ("ثَلَاثًا") ذکر کړي نه دي. لهذا کله چي هغه د دریو طلاقو نیت وکړی نو تعمیم د وخت باطل سو (ځکه چي هغه "ثلاثًا" ادري ا ذکر کړي نه دي)، نو ځکه موږ وایو چي په دې صورت کي د دریو طلاقو نیت کول صحیح نه دي. (اثمار الهداية ج۴، ص: ۳۶۵)



فَصْلٌ فِيْ مَنْ يَقَعُ الطَّلَاق

(دا) فصل په (بيان د) هغه چا کی دی چي طلاق يې واقع کيږي

تشريح: مخکي تر دې صاحب د کتاب د فعل يعني د طلاق أقسام او أحکام بيان کړل، اوس له دې ځايه د فاعل يعني د هغو خلکو بيان کوي چي د هغو طلاق واقع کيږي او د هغو خلکو چي طلاق يې نه واقع کيږي.

د طلاق ورکونکي د اهليت بيان

وَيَقَعُ طَلَاقُ كُلِّ زَوْجٍ او د هر خاوند [ورکول سوی] طلاق واقع کيږي إِذَا كَانَ عَاقِلًا بَالِغًا [په دې شرط] چي کله هغه عاقل بالغ وي وَلَا يَقَعُ طَلَاقُ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُوْنِ وَالنَّائِمِ او د کوچني، لېوني او بيده سړي طلاق نه واقع کيږي لِقَوْلِهِ ﷺ [1]: كُلُّ طَلَاقٍ جَائِزٌ إِلَّا طَلَاقَ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُوْنِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي [د هر چا] طلاق جائز دی مګر د کوچني او لېوني وَلِأَنَّ الْأَهْلِيَّةَ بِالْعَقْلِ الْمُمَيِّزِ او ځکه چي [د طلاق] د أهليت دار ومدار پر هغه عقل دی کوم چي تميز کونکی وي وَهُمَا عَدِيْمَا الْعَقْلِ او دوی دواړه عقل نه لري [له عقل څخه خلاص دي] وَالنَّائِمُ عَدِيْمُ الِاخْتِيَارِ او بيده سړی اختيار نه لري وَطَلَاقُ الْمُكْرَهِ وَاقِعٌ او د مُکره طلاق [هم] واقع کيږي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله هُوَ يَقُوْلُ: إِنَّ الْإِكْرَاهَ لَا يُجَامِعُ الِاخْتِيَارَ هغه فرمايي چي إکراه د اختيار سره جمع کېدای نه سي وَبِهِ يُعْتَبَرُ التَّصَرُّفُ الشَّرْعِيُّ او په همدغه اختيار سره د تصرفِ شرعي اعتبار کيږي بِخِلَافِ الْهَازِلِ په خلاف د ټوکمار [مسخره کونکي] لِأَنَّهُ مُخْتَارٌ فِي التَّكَلُّمِ بِالطَّلَاقِ ځکه چي هغه د طلاق په ويلو کي اختيار من دی وَلَنَا: أَنَّهُ قَصَدَ إِيْقَاعَ الطَّلَاقِ فِيْ مَنْكُوْحَتِهِ فِيْ حَالِ أَهْلِيَّتِهِ او زموږ دليل دا دی: چي مُکرَه د أهليت په حالت کي پر خپله منکوحه د طلاق واقع کولو اراده کړې ده فَلَا يَعْرَى عَنْ قَضِيَّتِهِ دَفْعًا لِحَاجَتِهِ نو د

---

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى، باب لا يجوز طلاق الصبيّ، حديث رقم: ١٥٠٥٥ بمعناه.

ضرورت دفع کولو په خاطر به د هغه [دا] قصد له حکم څخه خالي نه وي اِعْتِبَارًا بِالطَّائِعِ پر طائع [راضي او مختار کس] باندې په قياس کولو سره وَهٰذَا لِأَنَّهُ عَرَفَ الشَّرَّيْنِ وَاخْتَارَ أَهْوَنَهُمَا او دا ځکه [يعني د هغه قصد کول په دې دليل سره معلوميږي] چې هغه دوې بديانې وليدلې او په هغوی کې يې سپکه بدي اختيار کړه وَهٰذَا آيَةُ الْقَصْدِ وَالِاخْتِيَارِ او همدا د قصد او اختيار علامه ده إِلَّا أَنَّهُ غَيْرُ رَاضٍ بِحُكْمِهِ خو دا [جلا خبره ده] چې [مُکرَه] پر خپله فيصله راضي نه دی وَذٰلِكَ غَيْرُ مُخِلٍّ بِهِ [لېکن] دا [په طلاق] نه راضي کېدل [د طلاق په وقوع کې] مُخل نه دي كَالْهَازِلِ لکه د ټوکمار [د طلاق په وقوع کې چې هم دا مخل نه دي].

اللغات: ﴿مُمَيِّزٌ﴾ د تفعيل د باب فاعل دی: تميز کونکی، توپير کونکی، ﴿عَدِيْمٌ﴾ غيرِ موجود، خالي، چې د هغه سره شی نه وي، د وَاجِد ضد. ﴿مُكْرَهٌ﴾ مجبوره کس (هغه سړی چې يو بل څوک يې پر طلاق ورکولو مجبوره کړي، او د طلاق نه ورکولو په صورت کې د وژلو يا زخمي کولو دمکي ورکړي)، ﴿إِكْرَاهٌ﴾ مجبوره کول. ﴿هَازِلٌ﴾ د ضرب د باب فاعل دی: مسخره چې، ټوکمار (وشتمار)، هغه کس چې مراد يې په خپله خبره سره ټوکه او مسخره وي، نه حقيقت. ﴿لَا يَعْرٰى﴾ د ضرب د باب نفي صيغه ده: لځېدل، خالي کېدل. ﴿قَضِيَّةٌ﴾ فيصله، دلته ځني مراد "مقتضیٰ" او "حکم" دي. ﴿طَائِعٌ﴾ مطيع، فرمانبردار، دلته ځني مراد "راضي" او "مختار" سړی دی کوم چې په طلاق ورکولو راضي وي، ﴿أَهْوَنُ﴾ د نصر د باب اسمِ تفضيل دی: سپک، هغه کار چې کول يې انسان ته آسانه وي، ﴿آيَةٌ﴾ نښاني، علامت (علامه)، نښه.

تشريح: په دې عبارت کې څو مسئلې بيان سوي دي: (۱)... د اولې مسئلې حاصل دا دی چې د طلاق واقع کېدلو لپاره دا ضروري دي چې خاوند به عاقل او بالغ وي، نو که کوچنی يا لېونی يا بيده کس طلاق ښځې ته ورکړي، نو په دوی کې د هيچا طلاق نه واقع کيږي، دليل هغه حديث دی کوم چې په عبارت کې ذکر سو، په هغه کې نبي کريم ﷺ د هر خاوند طلاق جائز ګڼلی دی خو له هغه څخه يې د کوچني او لېوني د طلاق استثناء کړې ده، او فرمايلي يې دي چې د دوی طلاق نه واقع کيږي.

عقلي دليل دا دی چې طلاق يو شرعي تصرف دی، او د تصرف لپاره اهليت (أهل کېدل) ضروري دی، او د اهليت لپاره عقل او بلوغ ضروري دی، او مجنون بالکل له عقل څخه خلاص وي. او په کوچني کې بلوغ او پوهه نه وي، او بيده سړی که څه هم عقل لري، خو د خوب په حالت کې هغه

بالکل له تمييز او اختيار څخه خلاص وي او د هغه عقل بيده وي، نو په دې وجه د هغه پر طلاق د کوچني او مجنون د طلاق حکم کيږي، او د کوچني او مجنون طلاق نه واقع کيږي، نو د هغه طلاق به هم نه واقع کيږي.

وطلاق المکره إلخ: په دې سره دا راښيي چي د مُکره (يعني هغه سړی چي يو بل څوک يې پر طلاق ورکولو مجبوره کړی او د وژلو يا زخمي کولو دمکي ورکړي، د داسي سړي د) د ورکول سوي طلاق د وقوع او عدمِ وقوع په هکله د امامانو اختلاف دی: زياتره صحابه او احناف د مُکره طلاق واقع او صحيح مني، لېکن ائمه ثلاثه او ځيني صحابه کرام فرمايي چي د مُکره طلاق صحيح نه دی او نه واقع کيږي.

دليل: د ائمه ثلاثه وو دليل دا دی چي طلاق ورکول يو شرعي تصرف دی، او تصرفاتِ شرعي په اختيار سره معتبر دي يعني په تصرف شرعي کي إکراه او اختيار دواړه سره جمع کېدای نه سي، او مُکره کس غيرِ مختار دی، هيڅ ډول اخَتيار نه لري، نو ځکه به د هغه تصرف يعني طلاق غير معتبر وي او نه به واقع کيږي.

د دې په خلاف که يو څوک په ټوکو او مسخرو کي خپلي ښځي ته طلاق ورکړي، نو هغه واقع کيږي، ځکه ټوکمار (مسخره کونکی) چي کومه خبره (او مسخره) کوي، هغه خبره په خپل اختيار او ملکيت سره کوي، او د تصرفِ شرعي مدار پر اختيار دی، نو د مسخره کونکي تصرف به صحيح وي، او کله چي د هغه تصرف صحيح دی، نو د هغه طلاق به هم صحيح او واقع وي.

زموږ دليل: دا دی چي د طلاق واقع کېدلو دار ومدار پر اختيار نه دی بلکي له اختيار څخه مخکي د اهليت پړاو او مرحله ده، نو کوم څوک چي د اهليت په مرحله کي کامياب وي (يعني عاقل او بالغ وي)، د هغه تصرف به معتبر وي، برابره ده هغه که اختيار لري او که يې نه لري، او مُکره د طلاق واقع کولو (إيقاع) أهل هم دی او هغه يې قصد هم کړی دی، او د هغه قصد له دې خبري څخه معلوميږي چي هغه دلته دوې بدياني وليدلې: ① چي يا به ښځي ته طلاق ورکوم، ② يا به ځان وژلو او زخمي کولو ته تيارووم، نو هغه د خپل ځان حفاظت اختيار کړی او ښځي ته يې طلاق ورکړی، دا د دې خبري علامه ده چي هغه په خپل قصد او اختيار سره طلاق ورکړی دی. لهذا څرنګه چي د ضرورت دفع کولو په خاطر د مختار او راضي کس طلاق واقع منل کيږي، همداسي به د مُکره طلاق د هغه د ضرورت دفع کولو لپاره (يعني له وژنې يا زخمي کېدلو څخه د ځان ساتلو لپاره) د هغه طلاق صحيح او واقع منل کيږي.

الخ: ها! دلته دا يوه خبره کېداى سي چي مُکره د طلاق پر إيقاع راضي نه وو، خو موږ وايو چي د طلاق پر إيقاع نه راضي کېدل د طلاق په وقوع (واقع کېدلو) کي مُخل نه دي، ځکه چي له رضا او خوښي څخه بغير هم طلاق واقع کېداى سي، لکه د ټوکمار (مسخره کونکي) طلاق چي د هغه له رضا او خوښي څخه بغير واقع کيږي.

د نشه او ګونګي سړي د طلاق حکم

وَطَلَاقُ السَّكْرَانِ وَاقِعٌ او د نشه سړي طلاق [هم] واقع کيږي **وَاخْتِيَارُ الْكَرْخِيِّ وَالطَّحَاوِيِّ: أَنَّهُ لَا يَقَعُ** او د امام کرخي او امام طحاوي رَحِمَهُمَا الله مختار قول دا دى: چي هغه نه واقع کيږي **وَهُوَ أَحَدُ قَوْلَيِ الشَّافِعِيِّ** او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو څخه يو قول دى **لِأَنَّ صِحَّةَ الْقَصْدِ بِالْعَقْلِ** ځکه چي د عقل صحيح کېدل پر عقل موقوف دي **وَهُوَ زَائِلُ الْعَقْلِ** او دنشه سړي عقل زائل [له منځه تللى] دى **فَصَارَ كَزَوَالِهِ بِالْبَنْجِ وَالدَّوَاءِ** نو دا په چرسو او دواء سره د عقل زائلېدلو په څير سو **وَلَنَا: أَنَّهُ زَالَ بِسَبَبٍ هُوَ مَعْصِيَةٌ** او زموږ دليل دا دى: چي د هغهٔ عقل په داسي سبب سره زائل سوى دى کوم چي معصيت دى **فَجُعِلَ بَاقِيًا حُكْمًا زَجْرًا لَهُ** نو د هغه زجر [او سزا] لپاره به حکماً عقل باقي منل کيږي **حَتَّى لَوْ شَرِبَ فَصُدِعَ** تر دې که هغه شراب وڅيښي او [د هغه په وجه] د سر په درد مبتلا سي **وَزَالَ عَقْلُهُ بِالصُّدَاعِ** او عقل يې د سر د درد په وجه زائل سي **نَقُولُ: إِنَّهُ لَا يَقَعُ طَلَاقُهُ** نو موږ [هم] وايو: چي د هغه طلاق نه واقع کيږي **وَطَلَاقُ الْأَخْرَسِ وَاقِعٌ بِالْإِشَارَةِ** او د ګونګي طلاق په اشاره سره واقع کيږي **لِأَنَّهَا صَارَتْ مَعْهُودَةً** ځکه چي [د هغه] اشاره معهوده وي ايعني د ګونګي په اشاره د هغه متعلقين خلک پوهيږي] **فَأُقِيمَتْ مَقَامَ الْعِبَارَةِ دَفْعًا لِلْحَاجَةِ** لهذا د حاجت دفع کولو په خاطر به [د هغه] اشاره د عبارت [او بيان] قائم مقام کيږي **وَسَتَأْتِيكَ وُجُوهُهُ فِي آخِرِ الْكِتَابِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ** او د هغه توجيهات به انشاء الله د کتاب په آخر کي ستا مخته راسي.

اللغات: ﴿سَكْرَان﴾ نشه (هغه کس چي د نشې په حالت کي وي)، ﴿الْبَنْج﴾ بنګي (د چرسو بوټى)، ﴿صُدِعَ﴾ و صُدِّعَ: پر سر درد کېدل، دا باب همېشه مجهول استعماليږي، ﴿زَجْرًا﴾ د نصر د باب مصدر دى: سزا ورکول، له بدي څخه را ګرځول، غندل، رټل، ملامتول، ﴿زَائِل﴾ د نصر د باب

فاعل دی، زَالَ يَزُوْلُ زَوْلًا : له منځه تلل، ختمېدل، ګرځېدل. ﴿أَخْرَس﴾ ګونګی (ګونک). له څه ويلو او خبرو کولو څخه بې برخي انسان.

تشريح : صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی شراب يا بل نشه کونکی شی وچيښي. او په نشه کي دومره غرق سي چي د ښه اوبد تر مينځ توپير کول د هغه لپاره مشکل وي، او بيا په دې وخت کي هغه خپلي ښځي ته طلاق ورکړي، نو زموږ په نېز طلاق واقع کيږي. خو زموږ له احنافو څخه د امام کرخي او امام طحاوي رَحِمَهُمَا الله غوره او مختار قول دا دی چي طلاق نه واقع کيږي. همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله يو قول هم دی.

دليل: د دوی دليل دا دی چي د طلاق ورکولو مدار پر قصد او اراده باندي دی، او د قصد او ارادې د صحيح کېدلو لپاره عقل ضروري دی، لېکن دا سړی زائلُ العقل (او مغلوبُ العقل) دی يعني عقل يې (فی الحاله) ختم او زائل دی، لهذا د ده څخه د قصد هيڅ توقع هم نسته. د قصد صحيح کېدل خو لا هلته پرېږده (ځکه چي د قصد توقع د هغه چا څخه کيږي چي عقل يې پر ځای وي). او کله چي د ده څخه د قصد توقع نسته. نو د ده طلاق ورکول او نه ورکول سره برابر دي، نو ځکه به يې طلاق نه واقع کيږي، او دا سړی د هغه کس په څېر دی چي په چرسو يا په يو دواء (مثلاً په تارياکو) سره يې عقل زائل سوی وي، د هغه طلاق بالاتفاق نه واقع کيږي، نو همداسي به د دې نشه سړي طلاق هم نه واقع کيږي.

زموږ دليل: دا دی چي د دې سړي عقل په داسي سبب سره زائل سوی دی، چي هغه (سبب) ګناه او معصيت دی يعني د شرابو او داسي نورو چيښل، نو د زجر او سزا لپاره او د نورو خلګو د عبرت لپاره حکماً د ده عقل پر ځای (باقي) منل کيږي، نو کله چي حکماً د ده عقل باقي دی، نو د ده د طلاق قصد او اراده به هم صحيح وي، او کله چي يې د طلاق قصد صحيح دی، نو طلاق به يې هم واقع کيږي، همدا وجه ده که يو سړي شراب وچيښي او د هغه په وجه يې پر سر دومره درد سي چي عقل يې زائل سي، نو په دې صورت کي زموږ په نېز هم د هغه طلاق نه واقع کيږي، ځکه چي په دې صورت کي د هغه عقل زائلېدل د معصيت په وجه سره نه دي، بلکي د سر د درد په وجه دي.

يادونه: علامه ثميري (د اثمار الهدايې مصنف) أطَالَ الله عمره فرمايي: غوره خبره دا ده چي زموږ په اوسنۍ زمانه کي د زجر او سزا پر بنياد د سکران (نشه سړي) طلاق واقع نه کړی سي، ځکه أصلاً په اوسني وخت کي د دې ټوله سزا د هغه پر ښځي او کوچنيانو واقع کيږي، ځکه کله چي د هغه ښځه طلاقه سي نو بل واده نه سي پيدا کولای، او کوچنيان ټوله عمر د پلار له سايې څخه محروم او نا قراره وي، او بل طرف ته پلار په فايده کي وي، ځکه چي هغه د دې ښځي د واده سامان خرڅ کړي، عيش او عشرت په کوي، او بل واده هم په وکړي، نو غوره دا ده چي د زجر او توبيخ پر بنياد د نشې په حالت کي طلاق واقع نه کړی سي، لکه څرنګه چي له ځينو احاديثو او آثارو څخه هم د دې خبري ثبوت تر لاسه کيږي. (اثمار الهداية ج:٢، ص:٣٧١)

وطلاق الأخرس واقع إلخ: دويمه مسئله دا ده چي که يو ګونګی او بې خبرو کس خپلې ښځې ته په اشاره سره طلاق ورکړي، نو د هغه طلاق واقع کيږي؛ ځکه د ګونګي افعال په اشاره سره معهود او متعارف دي. يعني د کومو خلګو سره چي د ده تعلق وي، هغوی د ده په اشارو پوهيږي. او د ده بيع او شراء هم په اشارو سره واقع کيږي، نو څرنګه چي د ده نور اشارتي تصرفات معتبر دي، همداسي به د هغه دا تصرف (طلاق) هم معتبر وي، او بيا د فقهي دا قاعده هم ده چي "الإِشَارَةُ تُقَامُ مَقَامَ الْعِبَارَةِ فِيْ حَقِّ الأُخْرَسِ" (يعني د ګونګي په حق کي د هغه اشاره د بيان او عبارت قائم مقام ده). د دې مسئلې نور تفصيل به إنشاء الله وروسته ذکر سي.

د مينځې او آزادې ښځې د طلاق د شمېر بيان

وَطَلَاقُ الْأَمَةِ ثِنْتَانِ او د مينځې طلاق دوه [عدده] دي حُرًّا كَانَ زَوْجُهَا أَوْ عَبْدًا هغه که د مينځې خاوند آزاد وي او که غلام وي وَطَلَاقُ الْحُرَّةِ ثَلَاثٌ او د آزادې ښځې طلاق درې [عدد] دي حُرًّا كَانَ زَوْجُهَا أَوْ عَبْدًا هغه که يې خاوند آزاد او که غلام وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: عَدَدُ الطَّلَاقِ مُعْتَبَرٌ بِحَالِ الرِّجَالِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د طلاق عدد [شمېره] د سړيو په حالت [او حيثيت] سره معتبر دي لِقَوْلِهِ عليه السلام [1]: الطَّلَاقُ بِالرِّجَالِ وَالْعِدَّةُ بِالنِّسَاءِ ځکه چي نبي ﷺ فرمايلي دي چي: طلاق د سړيو سره خاص دی او عدت د ښځو سره وَلِأَنَّ صِفَةَ الْمَالِكِيَّةِ كَرَامَةٌ او په دې وجه [هم] چي مالکيت [مالک کېدل] د کرامت صفت دی وَالْآدَمِيَّةُ مُسْتَدْعِيَةٌ لَهَا او آدميت [انسان کېدل] د هغه [صفت] تقاضا کوي وَمَعْنَى الْآدَمِيَّةِ فِي الْحُرِّ أَكْمَلُ او مفهوم د آدميت په آزاد کي ډېر کامل دی فَكَانَتْ مَالِكِيَّتُهُ أَبْلَغَ وَأَكْثَرَ نو د هغه مالک کېدل به [هم] بليغ [پوره] او زيات وي انو ځکه به په طلاق کي د آزاد اعتبار کيږي] وَلَنَا قَوْلُهُ عليه السلام [2]: طَلَاقُ الْأَمَةِ ثِنْتَانِ وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ او زموږ دليل د نبي کريم ﷺ [دا] قول دی: د مينځې طلاق دوه [عدده] دي او د هغې عدت دوه حيضه دي وَلِأَنَّ حِلَّ الْمَحَلِّيَّةِ نِعْمَةٌ فِي حَقِّهَا او په دې وجه [هم] چي د محليت حلال کېدل د ښځې په حق کي يو نعمت دی وَلِلرِّقِّ أَثَرٌ فِي تَنْصِيفِ النِّعَمِ او غلامتوب لره د نعمتو په نيمولو کي اثر دی [يعني غلامي د غلام او مينځې په حق کي نعمتونه نيموي] إِلَّا أَنَّ الْعُقْدَةَ لَا تَتَجَزَّأُ خو دا چي په عقد [طلاق] کي تجزی نه کيږي فَتَكَامَلَتْ عُقْدَتَانِ نو ځکه دوه عقدونه [يعني دوه طلاقونه] پوره کړی سول وَتَأْوِيلُ مَا رُوِيَ: أَنَّ الْإِيقَاعَ بِالرِّجَالِ او د امام شافعي د روايت سوي حديث تأويل دا دی: چي د طلاق واقع کول د خلګو سره خاص دي.

اللغات: ﴿مُسْتَدْعِيَةٌ﴾ د استفعال د باب مؤنث اسم فاعل دی: تقاضا کونکې، ﴿أَكْمَلُ﴾ ډېر پوره، زيات بشپړ، ﴿تَنْصِيفُ﴾ د تفعيل مصدر دی: نيمول، ﴿نِعَمٌ﴾ جمع د نِعْمَةٌ ده: نعمت.

---

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى، باب ما جاء في عدد طلاق العبد، حديث رقم: ١٤٩٤.

[2] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطلاق، باب في سنة طلاق العبد، حديث رقم:٢١٨٩.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو سړي په نکاح کې مينځه وي (سړی که آزاد وي او که غلام وي)، هغه ته فقط د دوو طلاقو اختيار سته، او که په نکاح کې يې آزاده ښځه وي، نو هغه ته د دريو طلاقو اختيار سته، لهذا که هغه مينځې ته فقط دوه طلاقه ورکړي، نو مينځه مغلظه ګرځي او بالکل د هغه له نکاح څخه وځي، او آزاده ښځه په دريو طلاقو سره مغلظه ګرځي او د هغه له نکاح څخه وځي.

د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې د طلاق تعلق د خاوند سره دی، يعني که خاوند آزاد وي، نو هغه ته د دريو طلاقو اختيار سته او په دريو طلاقه سره د هغه ښځه مغلظه ګرځي (ښځه که آزاده وي، که مينځه وي)، او غلام ته فقط د دوو طلاقو اختيار سته.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی: "اَلطَّلَاقُ بِالرِّجَالِ وَالْعِدَّةُ بِالنِّسَاء"، يعني د طلاق مدار پر خلکو دی، او د عدت مدار پر ښځو دی، په دې سره امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې توګه دليل نيسي چې په دې حديث کې د دوو عليحده جنسونو (سړي او ښځي) سره د دوو عليحده شيانو تقابل راغلی دی، او دا خبره تسليم سوې ده چې عدت د ښځو سره خاص او د ښځو حق دی، او پر دې خبره هم ټوله متفق دي چې په عدت کې د ښځو د حيثيت اعتبار دی، يعني د مينځې عدت دوه حيضه دی، او د آزادې عدت درې حيضه دی، نو د تقابل ثابتولو لپاره به په طلاق کې هم د خلکو د حيثيت اعتبار کيږي، يعني آزاد سړی به د دريو طلاقو مالک وي، او غلام به د دوو طلاقو مالک وي.

ولأن إلخ: د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دی چې طلاق د مالکيت علامت دی (يعني د طلاق ورکول د سړي د مالک کېدلو نښه ده)، او مالک کېدل يو شرافت او د کرامت صفت دی، او په کوم ځا چې کې د آدميت (انسان کېدلو) مفهوم زيات او غالب وي، هغه به د دې صفت زيات مستحق وي، او په آزاد سړي کې د آدميت مفهوم زيات او غالب دی، لهذا کله چې په آزاد کې د آدميت مفهوم زيات دی، نو د کرامت په صفت يعني په مالک کېدلو کې به هم د هغه زيات وي، او هغه به د دريو طلاقو مالک وي، او په غلام کې د آزاد په نسبت دا مفهوم کم دی، نو ځکه به هغه فقط د دوو طلاقو مالک وي.

زموږ دليل: دا حديث دی: "طَلَاقُ الأَمَةِ ثِنْتَانِ وعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ"، په دې حديث کې د "الأَمَة" الف لام د جنس لپاره دی (ځکه چې له دې څخه يوه معهوده مينځه مراد نه ده)، نو د حديث معنیٰ دا ده چې د مينځې د ټولو أجناسو طلاق دوه (۲) عدده دی، او د هغوی عدت دوه حيضه دی، نو اوس که موږ د طلاق شمېر د خلکو پر حيثيت موقوف کړو، نو د دې حديث معنیٰ او مفهوم به غلط سي، ځکه چې بيا به د ځينو مينځو طلاق دوه عدده وي، او د ځينو طلاق به درې عدده وي، حالانکې دا د شريعت او د دې حديث خلاف دي، نو ثابته سوه چې په طلاق کې به د ښځو د حيثيت اعتبار کيږي، نه د خلکو.

ولأن حل المحلية: زموږ عقلي دليل دا دی چې د ښځې په حق کې دا يو نعمت دی چې هغه د خاوند لپاره حلاله او مباحه ګرځېدلې ده، ځکه چې په دې سره ښځې ته نفقه، خرچه او سکنیٰ حاصلیږي، لېکن د غلامی (رقيت) په وجه دا نعمت نيم ګرځي، لکه نور نعمتونه چې هم د غلام او مينځې په حق کې د غلامی په وجه نيم پاته دي، لهذا د مينځې په حق کې فقط يو نيم طلاق راتلل پکار دي، او په يو نيم طلاق سره د هغې مغلظه کېدل پکار دي، خو څرنګه چې طلاق تجزی نه قبلوي يعني نه نيمايي کيږي، نو ځکه به د هغې لپاره دوه طلاقه وي، او په دوو طلاقو سره به مغلظه ګرځي.

وتأويل إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د مستدل حديث جواب ورکوي، فرمايي چې د حديث مراد او مطلب هغه نه دی کوم چې امام شافعي رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی، بلکې د حديث صحيح او واضح مطلب دا دی چې د طلاق واقع کول د خلګو په اختيار کې دي او د هغوی سره خاص دي؛ او د دې مطلب د صحيح کېدلو دليل دا دی چې د جاهليت په زمانه کې دا رواج وو چې کله به د يوې ښځې خاوند نا خوښه سو، نو هغه به د خاوند له کور څخه ووتله، او دا وتل به د هغې له طرفه طلاق شمارل کېدی، لېکن اسلام دا سلسله بنده کړه او د طلاق واقع کول يې د خلګو سره خاص کړل، لهذا په دې حديث سره د امام شافعي دليل نيول صحيح نه دي.

او بل دا چې دا حديث موقوف دی، صاحب د عنايې ليکلي دي چې: "هذا الحديث غريب مرفوعًا. ورواه ابن أبي شيبة في مُصنّفه موقوفًا على ابن عباس"، او داسې حديث د شوافعو په نېز دليل نه سي جوړېدلای. نو معلومه نه ده چې شوافعو ولې په دې حديث سره دليل نيولی دی، د دې پوښتنه به له دوی څخه کوو.

د غلام د طلاق حکم

وَإِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ امْرَأَةً بِإِذْنِ مَوْلَاهُ او کله چې غلام د خپل مالک په اجازه د يوې ښځې سره نکاح وکړي وَطَلَّقَهَا او [بيا] هغې ته طلاق ورکړي وَقَعَ طَلَاقُهُ نو د هغه طلاق واقع کيږي وَلَا يَقَعُ طَلَاقُ مَوْلَاهُ عَلَى امْرَأَتِهِ او د هغه د مالک طلاق د هغه پر ښځې نه واقع کيږي لِأَنَّ مِلْكَ النِّكَاحِ حَقُّ الْعَبْدِ ځکه چې ملکيت د نکاح د غلام حق دی فَيَكُوْنُ الْإِسْقَاطُ إِلَيْهِ دُوْنَ الْمَوْلَى نو [فقط] هغه به [د دغه ملکيت] د ساقطولو اختيارمن وي، نه مالک.

اللغات: ﴿إسْقَاط﴾ ساقطول، غورځول.

تشريح: د عبارت مطلب دا دی چې که غلام د يوې ښځې سره د خپل مالک په اجازه نکاح وکړي، او بيا د طلاق نوبت راسي، نو غلام د مالک له اجازې څخه پرته ښځې ته طلاق ورکولای سي، ځکه چې د ښځې سره نکاح غلام کړې ده، نه مالک، او د نکاح ملکيت د غلام حق دی، نو د نکاح ساقطولو مالک به هم غلام وي، او فقط هغه ته به د طلاق ورکولو اختيار وي، لهذا که مالک زر (١٠٠٠) طلاقه هم د غلام ښځې ته ورکړي، نو بيا هم د دوی په نکاح کې هيڅ فرق نه راځي.



بَابُ إِيقَاعِ الطَّلَاقِ

(دا) باب د طلاق واقع کولو (په بيان کي) دی

تشريح: صاحب د کتاب تر دې مخکي نفسِ طلاق او د هغه ټوله متعلقات بيان کړل، اوس له دې ځای څخه د طلاق اختيـارولو او د طلاق واقع کولو صور تونه او طريقې بيانوي (چي صريح طلاق څنګه ورکول کيږي او کنايه طلاق څنګه ورکول کيږي او د کوم طلاق لپاره نيت ضروري دی). او دا ښکاره خبره ده چي د هر شي وجود د هغه له وقوع او د هغه له اختيـارولو څخه مقدم (مخکي وي). نو غالبًا په همدې وجه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله مخکي نفسِ طلاق بيان کړی. او اوس د هغه د إيقاع بيان کوي.

د الفاظو په اعتبار سره د طلاق قسمونه (طلاقِ صريح، طلاقِ کنايه)

الطَّلَاقُ عَلَى ضَرْبَيْنِ: صَرِيحٌ وَكِنَايَةٌ طلاق پر دوه قسمه دی: ① صريح ② او کنايه فَالصَّرِيحُ قَوْلُهُ: أَنْتِ طَالِقٌ، وَمُطَلَّقَةٌ، وَطَلَّقْتُكِ صريح [طلاق] د خاوند [دا] قول دی: ته طلاقه يې، او [تا ته] طلاق درکول سوی دی، او ما تا ته طلاق درکړی دی فَهَذَا يَقَعُ بِهِ الطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ نو په دې الفاظو سره طلاقِ رجعي واقع کيږي لِأَنَّ هَذِهِ الْأَلْفَاظَ تُسْتَعْمَلُ فِي الطَّلَاقِ ځکه چي دا الفاظ [فقط] په طلاق کي استعماليږي وَلَا تُسْتَعْمَلُ فِي غَيْرِهِ او [له طلاق څخه بغير] په بل شي کي نه استعماليږي فَكَانَ صَرِيحًا نو [په دې الفاظو سره ورکول سوی طلاق] به صريح وي وَأَنَّهُ يُعَقِّبُ الرَّجْعَةَ بِالنَّصِّ او د آيت په وجه سره طلاقِ صريح [تر ځان] وروسته رجعت ثابتوي وَلَا يَفْتَقِرُ إِلَى النِّيَّةِ او [طلاقِ صريح] محتاج نه دی ونيت ته لِأَنَّهُ صَرِيحٌ فِيهِ لِغَلَبَةِ الِاسْتِعْمَالِ ځکه چي هغه د ډېر استعمال په وجه په طلاق کي صريح دی وَكَذَا إِذَا نَوَى الْإِبَانَةَ او همدارنګه [به رجعت کيږي] کله چي [خاوند] د بائنه کولو نيت وکړي لِأَنَّهُ قَصَدَ تَنْجِيزَ مَا عَلَّقَهُ الشَّرْعُ بِانْقِضَاءِ الْعِدَّةِ ځکه کوم شی چي شريعت د عدت پر تېرېدلو معلق کړی خاوند د هغه فوراً نافذولو اراده وکړه فَيُرَدُّ عَلَيْهِ نو [د هغه اراده بېرته] پر ده را واپس کيږي وَلَوْ نَوَى الطَّلَاقَ عَنْ وَثَاقٍ او که [خاوند] له قيد څخه د خلاصون نيت وکړی لَمْ يُدَيَّنْ فِي الْقَضَاءِ نو قضاءً به [د ده] تصديق نه

کیږي لِأَنَّهُ خِلَافُ الظَّاهِرِ ځکه چي دا ظاهر خلاف دي ایمني د ظاهر خلاف نیت وکړی[وَيُدَيَّنُ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَى [لیکن د ده] تصدیق به کیږي په هغه [نیت او معامله] کي کوم چي د ده او د الله په مینځ کي ده لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُهُ ځکه چي اده د داسي معنیٰ نیت کړی دی کوم چي [د ده کلام د هغه احتمال لري وَلَوْ نَوَى بِهِ الطَّلَاقَ عَنِ الْعَمَلِ او که [خاوند] په دې [صریح لفظ] سره له عمل ځخه د خلاصون نیت وکړی لَمْ يُدَيَّنْ فِي الْقَضَاءِ وَلَا فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَى نو نه به قضاء [د هغه] تصدیق کیږي او نه فيما بينه و بين الله لِأَنَّ الطَّلَاقَ لِرَفْعِ الْقَيْدِ ځکه چي طلاق د قید لیري کولو لپاره دی وَهِيَ غَيْرُ مُقَيَّدَةٍ بِالْعَمَلِ او ښځه په عمل سره قید سوې نه دي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ يُدَيَّنُ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَى او له امام صاحب رَحِمَهُ الله ځخه [یو] روایت [دا] دی: چي [په دې صورت کي به] فيما بينه وبين الله [د هغه] تصدیق کیږي لِأَنَّهُ يُسْتَعْمَلُ لِلتَّخْلِيصِ ځکه چي دا [لفظ د طلاق] د خلاصلولو لپاره استعمالیږي.

اللغات: ﴿صَرِيحٌ﴾ څرګند او ښکاره الفاظو والا. ﴿كِنَايَةٌ﴾ کنایت، مبهم او محتمل الفاظو والا.

﴿يُعْقِبُ﴾ د تفعیل د باب مضارع ده: عَقَّبَ يُعَقِّبُ تَعْقِيْبًا: یو شی تر بل شي وروسته کول، وروسته راوړل، وروسته ثابتول (مراد ځني دا دی چي طلاق صریح تر ځان وروسته رجعت ثابتوي او طلاق رجعي واقع کوي). ﴿إِبَانَةٌ﴾ د افعال مصدر دی: بائنه کول، جلا کول، نکاح ختمول. ﴿طَلَاقٌ﴾ خلاصون، خلاصېدل. ﴿تَنْجِيزٌ﴾ یو کار ژر پوره کول، تلوار کول. ﴿وَثَاقٌ﴾ د "واو" په فتحه او کسره دواړو سره مستعمل دی: زولنې (زولانې)، هغه آله چي د مجرمانو پښو ته اچول کیږي (مراد ځني قید او پابندي ده). ﴿تَخْلِيصٌ﴾ نجات ورکول، خلاصول.

تشریح: د طلاق ورکولو دوې طریقې دي: یوه صریحه طریقه ده چي له هغه ځخه په ښکاره توګه دا معلومه سي چي خاوند طلاق ورکول غواړي، دې ته طلاقِ صریح وایي، او دویمه طریقه کنایه ده. د کنایه صورت دا دی چي خاوند داسي لفظ استعمال کړي کوم چي دوې (۲) معناوي لري. د یوې معنیٰ په اعتبار سره هغه لفظ پر طلاق دلالت کوي (یعني چي خاوند طلاق ورکول غواړي). او د بلې معنیٰ په اعتبار سره پر طلاق دلالت نه کوي، دې ته طلاقِ کنایه وایي. نو که د طلاقِ کنایه په صورت کي خاوند د طلاق نیت وکړي، یا حالت د دې تقاضا کوي چي خاوند په دې سره طلاق ورکول غواړي. نو په دې صورت کي طلاق واقع کیږي، کنې نه واقع کیږي.

په عبارت کي چي کوم دري الفاظ ذکر سوي دي يعني: أَنْتِ طَالِقٌ، أَنْتِ مُطَلَّقَةٌ، طَلَّقْتُكِ، دا دري سره الفاظ صريح دي، ځکه چي دغه الفاظ په ښکاره توګه پر طلاق دلالت کوي، او په قرآن کي هم د طلاق لپاره دغه الفاظ استعمال سوي دي، او په دې الفاظو سره فقط طلاقِ رجعي واقع کيږي. يعني په دې الفاظو سره تر طلاق واقع کېدلو وروسته خاوند رجعت کولای سي، دليل دا آيت دی: "اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوْفٍ أَوْ تَسْرِيْحٌ بِإِحْسَان" [سورة البقرة،۲۲۸]، له دې آيت څخه دوي خبري معلوميږي، يوه دا چي طَالِقٌ، مُطَلَّقَةٌ او طَلَّقْتُ صريح دي، ځکه چي په دې آيت کي د "طلاق" لفظ يعني د "ط، ل، ق" ماده استعمال سوې ده، دويمه خبره دا معلومه سوه چي د دې لفظ تر استعمالولو وروسته خاوند رجعت کولای سي، ځکه چي په خپله قرآن ويلي دي "فإمساک بمعروف"، يعني تر دې وروسته انسان ښځه را ګرځولای هم سي (يعني رجعت کولای هم سي) او په احسان سره يې پرېښوولای هم سي.

ولا يفتقر إلخ: فرمايي چي د طلاقِ صريح په وخت کي يعني په پورتني صريحو الفاظو سره د طلاق ورکولو په وخت کي د نيت ضرورت نسته، لکه څرنګه چي د کنايي الفاظو په نيت کي ضرورت سته، بلکي کله چي هم دا الفاظ د خاوند تر خولې ووځي، نو سمدستي طلاق واقع کيږي؛ ځکه چي نيت ته په کنايي الفاظو کي ضرورت سته، نه په صريحو الفاظو کي، او بل دا چي دا الفاظ عام او په کثرت سره د طلاق د معنیٰ لپاره استعماليږي، نو په دې وجه د طلاق په إيقاع کي نيت ته محتاج نه دي.

وكذا إذا إلخ: فرمايي چي که خاوند د مذکوره صريحو الفاظو د استعمالولو په وخت کي د طلاقِ بائن نيت وکړي، نو طلاقِ بائن نه واقع کيږي بلکي طلاقِ رجعي واقع کيږي، ځکه چي شريعت دا حکم کړی دی چي کله عدت ختم سي نو دا ښځه بائنه ګرځي (يعني شرعي حکم دا دی چي تر عدت ختمېدلو وروسته پر دغه ښځي طلاقِ بائن واقع کيږي)، لېکن دلته خاوند په خپل نيت سره اوس (فی الحاله) د ښځي د بائنه کولو کوشش وکړی او د شريعت مخالفت يې وکړی، نو ځکه به د دغه نيت لره هيڅ اعتبار نه وي، بلکي فقط طلاقِ رجعي به واقع کيږي.

ولو نوى الطلاق عن وثاق إلخ: د "طلق" د مادې ظاهري معنیٰ ده: ښځي ته طلاق ورکول، او په همدغه معنیٰ سره دا ماده مشهور ده او خلک يې استعمالوي، لیکن دويمه معنیٰ يې ده: پرېښوول، له قيد او بند څخه خلاصول، دا يې ظاهري معنیٰ نه ده، نو که خاوند "طَلَّقْتُ" ووېل، او د ښځي له قيد څخه يې د ځان خلاصولو نيت وکړی، نو څرنګه چي دا يې ظاهري معنیٰ نه ده، نو ځکه به قضاءً (يعني د

تفاوت په توګه او د قاضي په دربار کي) د هغه نيت او خبره نه منل کيږي، بلکې طلاقِ رجعي به واقع کيږي، ليکن څرنګه چي "طلقتُ" د دغه معنىٰ احتمال هم لري (يعني دا يې احتمالي معنىٰ ده)، نو ځکه به ديانتًا "فيما بينه وبين الله" د هغه خبره منل کيږي، او طلاق به نه واقع کيږي.

ولونوى به الطلاق عن العمل: او که خاوند په دې مذکوره الفاظو کي د يو لفظ (مثلاً د "أَنْتِ طَالِقٌ") په ذريعه د کار او عمل څخه د خلاصون نيت وکړي، نو د هغه دا نيت به نه قضاءً منل کيږي، او نه ديانتاً؛ ځکه چي د طلاق معنىٰ ده: "له قيد څخه خلاصول"، او "له عمل څخه خلاصول" د هغه معنىٰ نه ده، او نه د دې احتمال لري، نو ځکه به د هغه دا نيت او خبره هيڅ ډول نه منل کيږي، بلکې طلاق به واقع کيږي.

خو حسن بن زياد د امام صاحب رَحِمَهُ الله يو روايت دا نقل کړى دى، چي د هغه نيت خو به قضاءً معتبر نه وي، ليکن ديانتاً به د هغه نيت معتبر وي او ديانتاً به د هغه خبره منل کيږي، ځکه چي د طلاق لفظ د "تخليص" (خلاصولو) په معنىٰ سره استعماليږي، نو "له عمل څخه خلاصون" به هم د دې لفظ احتمالي معنىٰ وي، او اوس مونږ وويل چي د احتمالي معنىٰ د نيت کولو په صورت کي به ديانتاً د هغه خبره منل کيږي، نو ځکه به دلته هم د هغه خبره منل کيږي.

د "طاء" په سکون سره د "مُطلقة" ويلو حکم

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ مُطْلَقَةٌ بِتَسْكِيْنِ الطَّاءِ او که [خاوند] ووايي: أَنْتِ مُطْلَقَةٌ د "طاء" په ساکنولو سره لَايَكُوْنُ طَلَاقًا إِلَّا بِالنِّيَّةِ نو هغه له نيت څخه بغير طلاق نه ګرځي لِأَنَّهَا غَيْرُ مُسْتَعْمَلَةٍ فِيْهِ عُرْفًا ځکه چي د لفظ [مُطْلَقَةٌ] په عرف کي د طلاق په معنىٰ کي مستعمل نه دى فَلَمْ يَكُنْ صَرِيْحًا نو ځکه به [دا لفظ په طلاق کي] صريح نه وي.

اللغات: ﴿تَسْكِيْن﴾ ساکن ويل، سکون ورکول. ﴿عُرْف﴾ رواج، دستور، عادت.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دى که خاوند د "مُطْلَقَةٌ" پر ځاى د طاء په سکون سره د "أَنْتِ مُطْلَقَةٌ" لفظ استعمال کړي، نو په دې صورت کي پر ښځي طلاق نه واقع کيږي؛ او که د طلاق نيت وکړي، نو بيا طلاق واقع کيږي؛ ځکه چي د طلاق د معنىٰ لپاره دا لفظ معهود او متعارف نه دى، يعني په عام عُرف کي دا لفظ د "طاء" په سکون سره د طلاق لپاره نه استعماليږي، بلکې د "طاء" په فتحه او د "لام" په تشديد سره استعماليږي، نو ځکه به صرف د نيت په وخت کي دا لفظ طلاق شمارل کيږي، او له نيت څخه بغير به طلاق نه شمارل کيږي.

په مذکوره الفاظو سره د واقع کېدونکي طلاق بيان

قَالَ: وَلَا يَقَعُ بِهٖ إِلَّا وَاحِدَةٌ فرمايي: چې په دې [مذکوره دريو صريحو الفاظو کې په هر يوه] سره نه واقع کيږي مګر يو طلاق وَإِنْ نَوَى أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ که څه هم خاوند له يوه څخه د زياتو [طلاقونو] نيت وکړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَقَعُ مَا نَوَى او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د څومره طلاقونو نيت وکړي هغه واقع کيږي [يعني که خاوند په دې الفاظو سره د يوه طلاق نيت وکړي نو يو واقع کيږي او که د دوو يا دريو طلاقونو نيت وکړي نو دوه يا درې واقع کيږي] لِأَنَّهُ مُحْتَمَلُ لَفْظِهٖ ځکه چې "مَا نَوٰى" د خاوند د لفظ احتمالي معنیٰ ده [مطلب دا چې په دغه الفاظو کې هر لفظ د يوه، دوو، او دريو طلاقونو احتمال لري] فَإِنَّ ذِكْرَ الطَّالِقِ ذِكْرٌ لِلطَّلَاقِ لُغَةً ځکه چې د "طَالِقٌ" ذکر کول د لغت په اعتبار سره د "طلاق" ذکر کول دي كَذِكْرِ الْعَالِمِ ذِكْرٌ لِلْعِلْمِ لکه د عالم ذکر کول چې د علم ذکر کول دي وَلِهٰذَا يَصِحُّ قِرَانُ الْعَدَدِ بِهٖ له همدې وجهې د هغه سره عدد يو ځاى کول صحيح دي فَيَكُونَ نَصْبًا عَلَى التَّفْسِيْرِ نو دا عدد ثَلَاثًا، اثْنَانِ يا داسي نور] به د تمييز پر بناء منصوب وي وَلَنَا: أَنَّهُ نَعْتُ فَرْدٍ او زموږ دليل دا دی: چې الفظ د طَالِقٌ] د واحد صفت دی حَتّٰى قِيلَ لِلْمُثَنّٰى طَالِقَانِ وَلِلثَّلَاثِ طَوَالِقُ همدا وجه ده چې دوو [طلاق ښځو] ته "طَالِقَانِ" او دريو ته "طَوَالِق" ويل کيږي فَلَا يَحْتَمِلُ الْعَدَدَ نو ځکه به [دا] د عدد احتمال نه لري لِأَنَّهُ ضِدُّهُ ځکه چې عدد د فرد [واحد] ضد دی وَذِكْرُ الطَّالِقِ ذِكْرٌ لِطَلَاقٍ هُوَ صِفَةٌ لِلْمَرْأَةِ او د "طَالِق" ذکر کول د داسي طلاق ذکر کول کوم چې د ښځې صفت دی، نه لَا لِطَلَاقٍ هُوَ تَطْلِيقٌ نه د هغه طلاق ايعني د هغه طلاق صفت نه دی] کوم چې د "تَطْلِيق" [طلاق ورکولو] په معنیٰ سره دی وَالْعَدَدُ الَّذِي يَقْتَرِنُ بِهٖ نَعْتٌ لِمَصْدَرٍ مَحْذُوْفٍ او هغه عدد کوم چې د "طَالِقٌ" سره متصل دی [هغه] د يو مصدر محذوف صفت دی مَعْنَاهُ: طَلَاقًا ثَلَاثًا چې د هغه مفهوم [دا] دی: "طَلَاقًا ثَلَاثًا" كَقَوْلِكَ أَعْطَيْتُهٗ جَزِيْلًا أَيْ إِعْطَاءً جَزِيْلًا لکه ستا دا قول: "أَعْطَيْتُهٗ جَزِيْلًا" يعني [ددې مفهوم دا دی] "إِعْطَاءً جَزِيْلًا".

اللغات: ﴿مُحْتَمَل لَفْظ﴾ د لفظ احتمالي معنیٰ، ﴿قِرَان﴾ د نصر مصدر دی: يو شی د بل شي سره يو ځای کول (جمع کول)، متصل کول. ﴿نَعْت﴾ صفت. ﴿جَزِيْل﴾ د کرُم له باب څخه د صفت مشبه صيغه ده: غټ، زيات. د أَعْطَيْتُهٗ جَزِيْلًا معنیٰ ده: ما هغه ته غټه تحفه (هديه) ورکړه.

تشریح: د "لَا يَقَعُ إِلَّا بِهٖ وَاحِدَةٌ" تعلق د مخکني عبارت "فَهٰذَا يَقَعُ بِهِ الطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ" سره دی کوم چې د باب په شروع کې ذکر سو.

صورت د مسئلې: دا دی چې زموږ په نېز په صریحو الفاظو سره یعني په "أَنْتِ طَالِقٌ. مُطَلَّقَةٌ. طَلَّقْتُكِ" سره فقط یو طلاق واقع کیږي، که څه هم خاوند د دوو یا له دې څخه د زیاتو طلاقونو نیت کړی وي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې که په دې سره خاوند د هر څو طلاقونو نیت کړی وي، مغوسره طلاقونه واقع کیږي، هغه که دوه وي او که درې وي، همدا د امام مالک، امام زفر او په یوه روایت کې د امام احمد رَحِمَهُمُ الله قول دی.

د امام شافعي دلیل: د امام شافعي او نورو دلیل دا دی چې په دې دریو سره الفاظو کې دیوه، دوه او درې احتمال سته، مثلاً د "طَالِقٌ" لفظ را واخله، دا د اسمِ فاعل صیغه ده (چې هغه ته د صفت او نعت صیغه هم وایي)، اسم فاعل د مصدر څخه جوړیږي، نو په "طَالِقٌ" کې د "طلاق" مصدر ضرور شامل دی (ځکه چې له همدغه مصدر څخه "طَالِقٌ" جوړ سوی دی)، لکه څرنګه چې په "عَالِمٌ" کې د "علم" مصدر شامل دی (ځکه چې له مصدر څخه هر جوړ سوی لفظ پر مصدر مشتمل وي او مصدر په هغه کې شامل وي)، لنډه دا چې "طَالِقٌ" (او نور دوه الفاظ) پر مصدر مشتمل دي. او مصدر بالاتفاق د عدد احتمال لري، یعني دیوه او د زیاتو یعني د دریو (۳) احتمال لري، همدا وجه ده چې د طَالِقٌ (او نورو الفاظو) سره د عدد (شمېر) ذکر کول صحیح دي، لکه څرنګه چې ویل کیږي "أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا"، "ثَلَاثًا" د تمیز پر بناء منصوب دی، او د تمیز کار دا دی چې په کوم لفظ کې څو احتماله وي، تمیز په هغوی کې یو احتمال متعین کوي، نو کله چې "ثَلَاثًا" د طَالِقٌ تمیز جوړ سو، نو د دې مطلب دا سو چې په طَالِقٌ کې د دریو (۳) او دوو (۲) طلاقو احتمال سته، نو ځکه موږ وایو چې که خاوند د دوو یا دریو طلاقو نیت وکړي، نو د هغه نیت به صحیح وي، ځکه چې د لفظ د احتمالي معنیٰ (محتمل) نیت کول په شریعت کې معتبر دي.

زموږ دلیل: دا دی چې لفظ د "طَالِقٌ" نعتِ فرد یعني د یوې ښځې صفت دی، همدا وجه ده چې د دوو ښځو لپاره "طَالِقَانِ" او د درې ښځو لپاره "طَوَالِق" استعمالیږي، او نعتِ فرد د عدد احتمال نه لري، ځکه چې عدد د فرد ضد دی، او قاعده دا ده چې "الشَّيْءُ لَا يَحْتَمِلُ ضِدَّهٗ" (یعني هیڅ شی هم د خپل

ضد احتمال نه لري)، نو ځکه به فرد هم د خپل ضد يعني د عدد احتمال نه لري، او په "أنتِ طالقٌ" سره به فقط د يوه طلاق نيت کول صحيح وي.

وذکر الطلاق إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چې طَالِقٌ بېله شکه پر مصدر "طلاق" مشتمل دی، لېکن دا هغه طلاق دی کوم چې فقط د يوې ښځې صفت وي، چې هغه د دوو ښځو لپاره طَالِقَان استعمالېږي، او دا هغه مصدر نه دی کوم چې د تَطْلِيْق (طلاق ورکولو) صفت وي چې هغه د خاوند فعل دی، او د عدد (يعني د ۲ او ۳) احتمال په هغه "طلاق" کي وي کوم چې د تَطْلِيْق په معنیٰ سره وي، نه په هغه "طلاق" کي کوم چې د ښځې صفت وي، لهذا په دې سره به د امام شافعي دليل نيول صحيح نه وي.

والعدد إلخ: او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره چې د طَالِقٌ سره د عدد يعني د ثَلَاثًا (تمييز) يو ځای کېدل پر دې دلالت کوي چې په طَالِقٌ کي د عدد يعني د ثَلَاثًا (او داسي نورو) احتمال سته او دا د تمييز پر بناء منصوب دی، نو د دې جواب ورکوي فرمايي چې د طَالِقٌ سره متصل عدد يعني ثَلَاثًا تمييز نه دی، بلکي تر طَالِقٌ وروسته طَلَاقًا مصدر محذوف دی، دا ثَلَاثًا د هغه صفت دی (او مصدر که مذکور وي او که محذوف وي، د عدد احتمال لري، نو ثلاثًا په خپله تمييز نه دی، بلکي د هغه صفت دی)، او دا داسي مثال لري لکه يو څوک چې ووايي: أَعْطَيْتُهُ جَزِيْلًا، نو دا جَزِيْلًا د أَعْطَيْتُ صفت نه دی، بلکي تر أَعْطَيْتُ وروسته عَطَاءً مصدر محذوف دی، جَزِيْلًا د هغه مصدر صفت دی، خاص همداسي ثَلَاثًا د هغه مصدر صفت دی کوم چې تر طَالِقٌ وروسته محذوف دی، لهذا ثابته سوه چې د عدد (۲ او ۳ طلاقو) احتمال په طَالِقٌ کي نسته (بلکي په طَلَاقًا مصدرِ محذوف دی)، نو ځکه په دې سره به هم د امام شافعي دليل نيول صحيح نه وي.

په طلاق ورکولو کي د مصدر ذکر کولو تفصيلي بيان

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ الطَّلَاقُ أَوْ أَنْتِ طَالِقٌ الطَّلَاقَ أَوْ أَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا او که [خاوند] ووايي: أَنْتِ الطَّلَاقُ يا أَنْتِ طَالِقٌ الطَّلَاق يا أَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا **فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ أَوْ نَوَى وَاحِدَةً أَوْ ثِنْتَيْنِ** نو که د هغه هيڅ نيت نه وي يا د يوه يا دوو طلاقو نيت وکړي **فَهِيَ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ** نو دا يو طلاق رجعي دی **وَإِنْ نَوَى ثَلَاثًا** او که درېو [طلاقو] نيت وکړي **فَثَلَاثٌ** نو [بيا] درې دی [يعني درې طلاقه واقع کيږي] **وَوُقُوْعُ الطَّلَاقِ بِاللَّفْظَةِ الثَّانِيَةِ**

وَالثَّالِثَةِ ظَاهِرٌ او په اول او دريم لفظ سره د طلاق واقع كېدل خو ښكاره دي لِأَنَّهُ لَوْ ذَكَرَ النَّعْتَ وَحْدَهُ ځكه كه هغه يوازې صفت [اسم فاعل] ذكر كړي يَقَعُ بِهِ الطَّلَاقُ نو [هم] په هغه سره طلاق واقع كېږي فَإِذَا ذَكَرَهُ وَذَكَرَ الْمَصْدَرَ مَعَه لهذا كله چې صفت ذكر كړي او د هغه سره مصدر [هم] ذكر كړي وَأَنَّهُ يَزِيدُهُ وَكَادَةً حال دا چې مصدر په صفت كې تأكيد [نورهم] زياتوي أَوْلَى نو [په هغه سره] به په درجه اولىٰ [طلاق واقع كېږي] وَأَمَّا وُقُوعُهُ بِاللَّفْظَةِ الْأُولَى فَلِأَنَّ الْمَصْدَرَ قَدْ يُذْكَرُ وَيُرَادُ بِهِ الِاسْمُ او په اول لفظ سره د طلاق واقع كېدل په دې وجه دي چې كله مصدر ذكر كړى سي او له هغه ځخه اسمِ فاعل مراد كړى سي يُقَالُ: رَجُلٌ عَدْلٌ: أَيْ عَادِلٌ ويل كېږي: رَجُلٌ عَدْلٌ يعني عَادِلٌ فَصَارَ بِمَنْزِلَةِ قَوْلِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ نو (أَنْتِ الطَّلَاقُ) داسي سو لكه د هغه [دا] قول: أَنْتِ طَالِقٌ [يعني هغه د أنتِ طالقٌ ويلو په درجه كې سو] وَعَلَى هٰذَا لَوْ قَالَ: أَنْتِ طَلَاقٌ يَقَعُ بِهِ الطَّلَاقُ أَيْضًا او همداسي [يعني د همدغه قاعدې مطابق] كه خاوند ووايي: أَنْتِ طَلَاقٌ نو په دې سره هم طلاق واقع كېږي وَلَا يَحْتَاجُ فِيهِ إِلَى النِّيَّةِ او په دې كې هغه نيت ته محتاج نه دى [يعني په دې كې د هغه لپاره د نيت كولو ضرورت هم نسته] وَيَكُونُ رَجْعِيًّا او دا به رجعي [طلاق] وي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ صَرِيحُ الطَّلَاقِ لِغَلَبَةِ الِاسْتِعْمَالِ فِيهِ د هغه دليل په وجه كوم چې موږ بيان كړي چې د طلاق په معنىٰ كې د كثرتِ استعمال په وجه دا صريح طلاق دى وَتَصِحُّ نِيَّةُ الثَّلَاثِ او د دريو [طلاقو] نيت كول هم صحيح دى لِأَنَّ الْمَصْدَرَ يَحْتَمِلُ الْعُمُومَ وَالْكَثْرَةَ ځكه چې دمصدر د عموم او كثرت احتمال لري لِأَنَّهُ اسْمُ جِنْسٍ ځكه چې مصدر اسمِ جنس دى فَيُعْتَبَرُ بِسَائِرِ أَسْمَاءِ الْأَجْنَاسِ نو پر نورو اسماء أجناسو به هغه قياسول كېږي فَيَتَنَاوَلُ الْأَدْنَىٰ مَعَ احْتِمَالِ الْكُلِّ نو هغه [مصدر] به د كُل د احتمال سره ادنىٰ لره شامل وي وَلَا تَصِحُّ نِيَّةُ الثِّنْتَيْنِ فِيهَا او په دې كې د دوو [طلاقو] نيت كول صحيح نه دي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله هُوَ يَقُولُ: إِنَّ الثِّنْتَيْنِ بَعْضُ الثَّلَاثِ هغه فرمايي: چې دوه [طلاقه] د دريو [طلاقو] بعض دي فَلَمَّا صَحَّتْ نِيَّةُ الثَّلَاثِ صَحَّتْ نِيَّةُ بَعْضِهَا ضَرُورَةً نو كله چې د دريو [طلاقو] نيت كول صحيح دي نو د دريو د بعض نيت كول به خامخا صحيح وي وَنَحْنُ نَقُولُ: نِيَّةُ الثَّلَاثِ إِنَّمَا صَحَّتْ لِكَوْنِهَا جِنْسًا او موږ وايو: چې د دريو [طلاقو] نيت كول فقط په دې وجه صحيح دى چې هغه اسمِ جنس دى حَتَّى لَوْ كَانَتِ الْمَرْأَةُ أَمَةً تر دې كه

ښځه مينځه وي تَصِحُّ نِيَّةُ الثِّنْتَيْنِ بِاعْتِبَارِ مَعْنَى الْجِنْسِيَّةِ نو د جنسيت د معنىٰ په اعتبار سره د دوو [طلاقو] نيت کول [هم] صحيح دي أَمَّا الثِّنْتَانِ فِي حَقِّ الْحُرَّةِ فَعَدَدٌ ليکن دوه طلاقه د ښځي په حق کي عدد دی وَاللَّفْظُ لَا يَحْتَمِلُ الْعَدَدَ او لفظ د عدد احتمال نه لري وَهٰذَا لِأَنَّ مَعْنَى التَّوَحُّدِ يُرَاعَىٰ فِي أَلْفَاظِ الْوُحْدَانِ او دا [احتمال] ځکه [نه لري] چي په واحدو لفظو کي [فقط] د يوې معنىٰ رعايت کيږي وَذٰلِكَ بِالْفَرْدِيَّةِ أَوِ الْجِنْسِيَّةِ او دا [واحده معنىٰ] يا په فرديت سره [حاصليږي] يا په جنسيت سره وَالْمُثَنَّىٰ بِمَعْزِلٍ مِنْهُمَا او تثنيه له دې دواړو څخه جلا ده.

اللغات: ﴿وَكَادَة﴾ تأكيد، قوت، ﴿سَائِر﴾ د دې لفظ دوې معناوي دي: ① ټوله (تمام)، ② پاته (باقي، نور)، ﴿تَوَحُّد﴾ د تفعّل مصدر دی: يو کېدل، ﴿يُرَاعىٰ﴾ د مفاعلې مضارع مجهوله ده: رعايت کول، لحاظ کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو خاوند خپلي ښځي ته د أَنْتِ الطَّلَاق يا د أَنْتِ طَالِقٌ الطَّلَاق يا أَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا په ذريعه طلاق ورکړي، نو په دې دريو سره صورتونو کي پر ښځي يو طلاق رجعي واقع کيږي، هغه که خاوند د يوه طلاق نيت کړی وي او که يې نه وي، او که خاوند هغه په دې سره د دريو طلاقو نيت کړی وي، نو په دې صورت کي درې طلاقه واقع کيږي، خو که هغه په دې سره د دوو طلاقو نيت کړی وي، نو دوه طلاقه نه واقع کيږي، بلکي فقط يو طلاقو واقع کيږي.

ووقوع الطلاق باللفظة إلخ: صاحب د کتاب فرمايي چي په دويمه او دريمه جمله يعني په أَنْتِ طَالِقٌ الطَّلَاق او أَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا سره د طلاق واقع کېدل ښکاره او ظاهر دي، ځکه که خاوند فقط د صفت يعني د طَالِقٌ پر ذکر اکتفاء وکړي او د هغه سره مصدر يعني طَلَاقًا زيات نه کړي، نو هم طلاق واقع کيږي، ځکه چي طَالِقٌ د طلاق واقع کولو (إيقاع) لپاره له ألفاظ صريحه وو څخه يو لفظ دی، او کله چي هغه د دې صفت (طَالِقٌ) سره مصدر يعني طَلَاقًا هم زيات کړي، نو ښکاره ده چي په دې زياتوب سره په صفت کي نور تأکيد او قوت پيدا کيږي، نو ځکه به په دې جملو سره د طلاق واقع کېدلو حکم کيږي.

پاته سوه اوله جمله يعني په أَنْتِ الطَّلَاق سره د طلاق واقع کېدل، نو د هغه وجه دا ده چي په دې جملې سره هم طلاق واقع کيږي، ځکه چي کله نا کله مصدر ذکر سي او له هغه څخه اسم (فاعل) مراد وي، لکه د رَجُلٌ عَدْلٌ په ويلو سره چي رَجُلٌ عَادِلٌ مراد کيږي، لهذا د خاوند أَنْتِ الطَّلَاق ويل به د أَنْتِ طَالِقٌ په درجه کي وي، نو ځکه به په دې جمله سره هم طلاق واقع کيږي.

وعلى هٰذا إلخ: اوس دا قاعده ټېره سوه چي که خاوند مصدر ذکر کړي نو هغه د اسم (فاعل) په درجه ګرځي او طلاق واقع کيږي، نو که خاوند فقط أَنْتِ طَلَاقٌ ووايي يعني مصدر په الف لام سره معرفه نه ووايي، بلکي نکره يې استعمال کړي، نو بيا هم يو طلاقِ رجعي واقع کيږي. ځکه چي دا هم د اسم (فاعل) په معنىٰ سره دی. او په دې کي د نيت ضرورت هم نه سته. ځکه چي د طلاقِ په معنىٰ کي د کثرتِ استعمال په وجه دا لفظ (طلاق) صريح ګرځېدلی دی.

وتصح نية إلخ: پورته چي کومي جملې ذکر سوې ، که په دوی کي په هره جمله سره خاوند د دريو طلاقو نيت وکړي. نو درې طلاقه واقع کيږي. ځکه چي په دوی ټولو کي مصدر ذکر سوی دی (يعني الطَّلَاق. طَلَاقًا او طَلَاقٌ)، او په مصدر کي قاعده دا ده چي هغه خو يوه فرد ته (يعني يوه طلاق ته) خامخا شامل وي، او د عموم او کثرت احتمال هم لري، ځکه چي مصدر اسم جنس دی. او اسمِ جنس هغه اسم ته وايي کوم چي کُل (يعني ټولو افرادو) ته شامل وي (او د ښځي په حق کي درې طلاقه کُل دی). لهذا څرنګه چي په نورو اسماءِ جنس کي د کثرت او عموميت احتمال سته. همداسي به په دې مصدر (الطَّلَاق. طَلَاقًا او طَلَاقٌ) کي هم وي. خلاصه دا چي دا مصدر به د کُل (ثلاث) د احتمال سره ادنىٰ (يوه) ته شامل وي (يعني دا مصدرونه خو يوه طلاق ته بالکل شامل دي. او د اسمِ جنس کېدلو په وجه به د دريو طلاقو (کُل) احتمال هم لري. او مخکي موږ ووېل چي د لفظ د احتمالي نيت کول په شريعت کي معتبر دي).

او که خاوند په دې جملو سره د دوو طلاقو نيت وکړي، نو زموږ په نېز صحيح نه دي. لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې جملو سره د دوو طلاقو نيت هم صحيح دی. د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي دوه طلاقه د دريو جزء دی، نو کله چي د دريو طلاقو (کُل) نيت صحيح دی. نو د هغه د جزء نيت به هم صحيح وي.

زموږ دليل: دا دی چي د دريو طلاقو نيت کول فقط په دې وجه صحيح دی چي مصدر اسمِ جنس دی، او جنس فقط د کُل احتمال لري، نو که ديو چا ښځه مينځه وي، نو هغه په دې جملو سره د دوو طلاقو نيت هم کولای سی، ځکه چي د مينځي په حق کي دوه طلاقه کُل دی. لېکن د آزادي ښځي په حق کي درې طلاقه کُل دی، او دوه طلاقه د آزادي ښځي د جنس کُل نه دی. بلکي دوه خو (د هغې په حق کي) فقط عدد دی، ځکه چي د اسمِ جنس (مصدر) دوه فرده دي: ① فردِ حقيقي. ② فردِ حکمي، دلته فردِ حقيقي يو طلاق دی، او فردِ حکمي کُل يعني درې طلاقه دي. نو دوه نه فردِ حقيقي سو او نه فردِ حکمي. لهٰذا د اسمِ جنس د دې قاعدې په وجه به په پورتنی مصدرونو کي يا د فردِ

حقيقي (يوه طلاق) نيت كول صحيح وي، يا به د فرد حكمي (دريو طلاقونو) نيت كول صحيح وي، او د دې دوو تر مينځ د بل عدد نيت كول د دې قاعدې او أصل خلاف دي، نو ځكه موږ وايو چې په دې جملو سره به د دوو طلاقو نيت صحيح نه وي، بلكې په دې سره به يو، يا درې طلاقه واقع كيږي.

وهذا لأن إلخ: په دې سره دويم دليل او د مصدر قاعده بيانوي، حاصل يې دا دى چې دا مصدرونه په دې وجه هم د عدد (يعني د دوو طلاقونو) احتمال نه لري، چې مصدر له الفاظِ وحدان (واحدو لفظو) څخه دى، او په الفاظ وحدان كې د توحّد يعني د يوې معنىٰ رعايت كيږي، او توحّد (يوه معنىٰ) يا په فرديت سره حاصليږي، يا په جنيست سره، يعني مصدر به فقط يوه فرد ته شامل وي يا به جنس ته شامل وي، او تثنيه له فرديت او جنسيت څخه نه ده، بلكې يو مستقل عدد دى، نو ځكه به په مصدر (او پورتنيو جملو) كې د هغه هيڅ گنجايش نه وي.

د ښځې بدن او اندامو ته د طلاق د نسبت كولو تفصيلي بيان

وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ الطَّلَاقَ او كه [خاوند ښځې ته] ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ الطَّلَاق فَقَالَ: أَرَدْتُ بِقَوْلِي طَالِقٌ وَاحِدَةً وَبِقَوْلِي الطَّلَاقَ أُخْرَى او [بيا] ووايي چې: ما په خپل دې قول طَالِقٌ سره د يوه طلاق اراده وكړه او په خپل دې قول الطَّلَاق سره مې د دويم طلاق اراده وكړه يُصَدَّقُ نو [د هغه] تصديق به كيږي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَالِحٌ لِلْإِيقَاعِ ځكه چې په دې دواړو كې هر يو [لفظ] د طلاق واقع كولو صلاحيت لري فَكَأَنَّهُ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ وَطَالِقٌ نو گواكې هغه ووېل: أَنْتِ طَالِقٌ وَطَالِقٌ فَتَقَعُ رَجْعِيَّتَانِ نو به دوه طلاقه رجعي واقع كيږي إِذَا كَانَتْ مَدْخُولًا بِهَا [په دې شرط] چې كله ښځه مدخول بها وي وَإِذَا أَضَافَ الطَّلَاقَ إِلَى جُمْلَتِهَا او كه [خاوند] د مجموعه [ټولې] ښځې وطرف ته طلاق منسوب كړي أَوْ إِلَى مَا يُعَبَّرُ بِهِ عَنِ الْجُمْلَةِ يا [طلاق منسوب كړي] د داسې جزء وطرف ته چې په هغه سره له مجموعه [ټولې ښځې] څخه تعبير كيږي وَقَعَ الطَّلَاقُ نو طلاق واقع كيږي لِأَنَّهُ أُضِيفَ إِلَى مَحِلِّهِ ځكه چې [دلته] طلاق د خپل محل وطرف ته منسوب كړى سوى دى وَذٰلِكَ مِثْلَ أَنْ يَقُولَ: أَنْتِ طَالِقٌ او دا اد ټوله ښځې وطرف ته يا د يو جزء وطرف ته منسوبه كول] داسې دي لكه [خاوند] چې ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ لِأَنَّ التَّاءَ ضَمِيرُ الْمَرْأَةِ ځكه چې تاء [مكسوره] د ښځې ضمير دى [نو له دې څخه به ټوله ښځه مراد وي] أَوْ يَقُولَ: رَقَبَتُكِ طَالِقٌ أَوْ عُنُقُكِ طَالِقٌ أَوْ رَأْسُكِ طَالِقٌ يا [لكه خاوند چې] ووايي: ستا غاړه [پر ما] طلاق ده

يا ستا سر [پر ما] طلاق دی أَوْ رُوحُكِ أَوْ بَدَنُكِ أَوْ جَسَدُكِ أَوْ فَرْجُكِ أَوْ وَجْهُكِ يا ستا روح، يا ستا بدن، يا ستا جسم، يا ستا فرج، يا ستا مخ [پر ما طلاق دي، نو په دې صورتونو کي هم طلاق واقع کيږي] لِأَنَّهُ يُعَبَّرُ بِهَا عَنْ جَمِيعِ الْبَدَنِ ځکه چي په دې [اندامونو] سره له ټوله بدن څخه تعبير کيږي أَمَّا الْجَسَدُ وَالْبَدَنُ فَظَاهِرٌ جسم او بدن خو ښکاره دي [چي له ټوله بدن څخه تعبير په کيږي] وَكَذَا غَيْرُهُمَا او همدارنګه له دې دواړو څخه بغير [نور هم ښکاره دي چي له ټوله بدن څخه تعبير په کيږي] قَالَ اللهُ تَعَالَى فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ [النساء: ٩٢] [ځکه] الله تعالىٰ فرمايلي دي: فَتَحْرِ رَقَبَةٍ [يوه غاړه آزادول] وَقَالَ: فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِينَ [الشعراء: ٣] او [بل ځای] يې فرمايلي دي: فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِينَ [نو دوی به غاړي هغه [د قدرت دليل] ته کښيږدي] وَقَالَ ❶ الطَّيِّلا: لَعَنَ اللهُ الْفُرُوجَ عَلَى السُّرُوجِ او نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: لعنت دي وي د الله له طرفه پر هغه فروجو [شرمګاوو] کوم چي پر زين وي [يعني هغه ښځي چي پر زينو سپريږي] وَيُقَالُ: فُلَانٌ رَأْسُ الْقَوْمِ وَوَجْهُ الْعَرَبِ او ويل کيږي: فلانکی د قوم سر دی او [فلانکی] د عربو مخ دی وَهَلَكَ رُوحُهُ بِمَعْنَى: نَفْسُه او د هغه روح هلاک سو په دې معنیٰ سره: چي د هغه ځان [يعني ټوله انسان هلاک سو] وَمِنْ هٰذَا الْقَبِيلِ الدَّمُ فِي رِوَايَةٍ او له همدې قبيلې څخه په يو روايت کي دم [وينه] هم ده يُقَالُ: دَمُهُ هَدَرٌ ويل کيږي چي: د هغه وينه ضايع سوه [يعني د هغه خون ضايع سو، بدله يې نه واخيستل سوه] وَمِنْهُ النَّفْسُ او له همدغه [قبيلې] څخه [لفظ د] نفس دی وَهُوَ ظَاهِرٌ او هغه ښکاره دی [چي له ټوله ذات او بدن څخه تعبير په کيږي].

اللغات: ﴿يُصَدِّقُ﴾ د تفعيل مضارع مجهوله ده: تصديق کول، په خپله خبره کي رېښتونی ګڼل، تاييد کول. ﴿سُرُوج﴾ جمع د سَرْجٌ ده: ځين، زين (د لرګي او څرمني څخه جوړ ځای کوم چي د انسان د ناستي لپاره د آس په ملا باندي ايښوول کيږي)، ﴿هَدَر﴾ د نصر او ضرب له باب څخه اسم

❶ تخريج: تر دېر لټون وروسته مو هم دا حديث پيدا نه کړی، خو په نصب الرايه او بنايه کي د دې په معنیٰ سره يو دا حديث ذکر سوی دی: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنْ ذَوَاتِ الْفُرُوجِ أَنْ يَرْكَبْنَ السُّرُوجَ [نصب الراية ج:٣، ص:٢٢٨، البناية ج:٥، ص:٢١]، او په مصنف ابن ابی شيبه کي هم دې ته نږدې يو دغه أثر ذکر سوی دی: حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا حَفْصٌ، عَنْ مَيْمُونِ أَبِي عَبْدِ اللهِ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ مُزَاحِمٍ: أَنَّهُ كَرِهَ رُكُوبَ النِّسَاءِ السُّرُوجَ. [مصنف ابن أبی شيبة، رقم: ٢٥٢٥٣]. او پر زين د ښځو سپرېدل په صحيح احاديثو کي د آخري زمانې علامه شمارل سوي ده.

مصدر دى، هَدْر هم راځي: ضايع کېدل، بربادېدل، باطلېدل، دَمُهُ هَدر: "د هغه خون ضايع سو"بلله يې چانه واخيستل، "د هغه وينه معاف ده".

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي، اوله مسئله څه مختصره ده، او په دويمه کي څه تفصيل دى، د اولي مسئلې حاصل دا دى چي که خاوند خپلي ښځي ته ووايي أَنْتِ طَالِقُ الطَّلَاق، او بيا ووايي چي په طَالِقٌ سره زما يو طلاق مراد دى او په الطَّلَاق سره مي دويم طلاق مراد دى، نو د هغه دا خبره به منل کيږي، لهذا که ښځه مدخول بها وي، نو پر هغې دوه طلاق رجعي واقع کيږي، او که مدخول بها نه وي، نو دوه طلاقه نه پر واقع کيږي، بلکي په اول طلاق سره بائنه ګرځي، او دويم طلاق لغو کيږي.

په دې صورت کي د خاوند د خبري د منلو وجه او دليل دا دى چي طَالِقٌ او الطَّلَاق دواړه د إِيْقَاع يعني د طلاق واقع کولو صلاحيت لري، ځکه چي يوه د اسم فاعل صيغه ده، او بله د مصدر صيغه ده، نو په دې وجه به دواړو ته خپل عمل ورکول کيږي، او په هر يوه سره د طلاق رجعي واقع کېدلو وجه دا ده چي دا هر يو لفظ صريح دى (او د باب په شروع کي موږ وويل چي په لفظ صريح سره يو طلاق رجعي واقع کيږي، او دلته هغه دوه صريح لفظونه ويلي دي او په هر يوه سره يې د يوه طلاق نيت کړى دى، نو ځکه به دوه طلاق رجعي واقع کيږي).

وإذا اضاف الطلاق إلخ: د دويمي مسئلې حاصل دا دى چي که خاوند د ښځي ټوله بدن ته طلاق منسوب کړي يا د ښځي يو داسي اندام ته طلاق منسوب کړي چي په هغه له ټوله بدن څخه تعبير کيږي (يعني له هغه اندامه څخه ټوله بدن مراديږي)، نو په دې دواړو صورتونو کي طلاق واقع کيږي، مثلاً که هغه ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ، نو په دې سره طلاق واقع کيږي ځکه چي په دې کي د ضمير تاء ټولي ښځي ته راجع ده او په دې سره د هغې ټوله جسم ته طلاق منسوب سوى دى، همداسي د رَقَبَتُكِ طَالِقٌ يا بَدَنُكِ طَالِقٌ يَا عُنُقُكِ طَالِقٌ او د داسي نورو الفاظو په ويلو سره هم طلاق واقع کيږي، ځکه چي په دې ټولو الفاظو کي طلاق يو داسي اندام ته منسوب سوى دى چي په هغه سره د انسان ټوله ذات او جسم مراديږي، مثلاً د رقبې او غاړي څخه د انسان ټوله ذات او جسم مراديږي، لکه دغه آيت چي د دې ګواهي ورکوي: "وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ" (يعني کي يو څوک په خطاء سره يو مسلمان قتل کړي نو پر هغه يوه رقبه يعني يو پوره غلام آزادول ضروري دي)، په دې آيت کي له رَقَبَة څخه د غلام ټوله ذات مراد دى، ځکه چي په ناقص غلام سره کفاره نه اداء کيږي، او په عُنُق

سره د ټوله ذات او جسم مراد بدل په دې آيت سره ثابت دي "فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِيْنَ"، په دې آيت کې له أَعْنَاق څخه مراد ذَوَات (أَشخاص) دي، همدا وجه ده چې په صفت کې يې خَاضِعِيْن ذکر سوي دي (کنې د غيرِ ذوی العقول کېدلو په صورت کې به يې صفت خَاضِعَةٌ ذکر کېدلای).

همدارنګه له فرج څخه د ټوله جسم مراد بدل په دې حديث سره ثابت دي: "لَعَنَ اللهُ الفُرُوْجَ عَلَى السُّرُوْجِ"، په دې حديث کې له الفُرُوْج څخه مراد ښځې دي، ځکه چې لعنت پر فرج نه کيږي، بلکې پر فرج لرونکي باندې کيږي، همدارنګه په عربي محاوره (خبرو اترو) کې ويل کيږي: فُلَان رَأْسُ القَوْمِ (فلانکی د قوم سردار دی)، فُلَان وَجْهُ العَرَبِ (فلانکی د عربو مخ دی [يعني د عربو د مخ سړی دی])، همدارنګه ويل کيږي: هَلَكَ رُوْحُهٗ (روح يې هلاک سو)، او ګورئ! په دې مثالو کې فقط په يوه اندام (رَأْس، وَجْه، رُوْح) سره د انسان ټوله جسم او ذات مراد کړی سوی دی (لکه په پښتو محاوره کې چې هم په دې اندامونو سره د انسان ټوله ذات او شخصيت مراديږي).

ومن هذا القبيل إلخ: فرمايي چې په يوه روايت کې "دَم" (وينه) هم له دغه قبيلې څخه ده، يعني د "دَم" په ويلو سره ټوله ذات مراديږي، لکه څرنګه چې ويل کيږي: دَمُهٗ هَدَرٌ (د هغه وينه معاف ده) يعني هغه به نه وژل کيږي (لهذا که خاوند ښځې ته ووايي: دَمُكِ طَالِقٌ نو په دې سره هم هغه طلاقيږي)، همدارنګه له "نَفْس" څخه هم ټوله انسان او د هغه ذات مراديږي؛ لنډه دا چې په دغه مذکوره ټولو الفاظو سره د انسان پوره بدن او ټوله ذات مراديږي، لهذا که خاوند په دوی کې هر يوه ته طلاق منسوب کړي، نو طلاق واقع کيږي.

د مشترک جزء (جزءِ شائع) و طرف ته د طلاق د نسبت کولو بيان

وَكَذٰلِكَ او همدارنګه [طلاق واقع کيږي] إِنْ طَلَّقَ جُزْءًا شَائِعًا مِنْهَا که چيري [خاوند] د ښځې جزءِ شائع ته طلاق ورکړي مِثْلَ أَنْ يَّقُوْلَ نِصْفُكِ أَوْ ثُلُثُكِ طَالِقٌ مثلاً ووايي: ستا نيمه حصه يا ستا دريمه حصه [پر ما] طلاقه ده لِأَنَّ الشَّائِعَ مَحَلٌّ لِسَائِرِ التَّصَرُّفَاتِ ځکه چې جزءِ شائع د ټولو تصرفاتو محل دی كَالْبَيْعِ وَغَيْرِهٖ لکه بيع او داسې [تصرفات] فَكَذَا يَكُوْنُ مَحَلًّا لِلطَّلَاقِ نو به هغه [جزءِ شائع] محل د طلاق [هم] وي إِلَّا أَنَّهٗ لَا يَتَجَزَّأُ فِيْ حَقِّ الطَّلَاقِ خو دا چې [جزءِ شائع] د طلاق په حق کې نه متجزي کيږي فَيَثْبُتُ فِي الْكُلِّ ضَرُوْرَةً نو د ضرورت پر بناء به په ټوله بدن کې ثابتيږي.

اللغات: ﴿شَائِع﴾ د ضرب له باب څخه اسم فاعل دی، د دې لفظ دوې معناوې دي: ① خپور او نشر سوی، ② مشترک، لکه په عربي کې چې ويل کيږي: سَهْمٌ شَائِعٌ: مشترکه حصه (کوم چې تقسيم

نه قبلوي)، ﴿لَا يَتَجَزَّأُ﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صيغه ده: حصه حصه کېدل، ټوکړه ټوکړه کېدل، تقسيمېدل.

تشريح: داسي جزء کوم چي په ټوله بدن کي او د بدن په هر اندام کي صادقيږي (او په هر اندام کي شائع وي)، هغه ته "جزءِ شائع" وايي لکه نصف، ثلث، ربع. اوس نصف را واخله د انسان په ټوله بدن کي هم صادقيږي او په هر اندام کي هم صادقيږي، ځکه چي بدن هم نصف (نيمه حصه) لري، او هر اندام مثلاً لاس هم نصف (نيمه حصه) لري پښه هم نصف حصه لري (لنډه دا چي نصف په ټوله بدن او د بدن په هر اندام کي شائع دی)، همدارنګه ثلث (دريمه حصه) او ربع (څلورمه حصه) هم په ټوله بدن او هر اندام کي صادقيږي.

صورت د مسئلې: دا دی که خاوند ښځي ته ووايي: (پر ما) ستا دريمه حصه طلاقه ده، يا ستا نيمه حصه طلاقه ده ، نو طلاق واقع کيږي، ځکه چي جزءِ شائع د ټولو تصرفاتو (بيع او داسي نورو) محل دی، نو هغه به د طلاق محل هم وي (مثلاً په بيع او شراء کي نيمه حصه او دريمه حصه خرڅول کيږي او رانيول کيږي، نو طلاق به هم پر نيمه او دريمه حصه واقع کېدای سي)، خو څرنګه چي طلاق تجزی او تقسيم نه قبلوي (يعني نيمايي کېدلای نه سي، بلکي پوره واقع کيږي)، نو ځکه به د ښځي نصف او ثلث (يعني نيمه او دريمه حصه) د هغې په ټوله بدن کي سرايت کوي او د هغې په ټوله حصه او بدن کي به طلاق ثابتيږي.

د غيرِ مشترک جزء (جزء غيرِ شائع) و طرف ته د طلاق د نسبت کولو بيان

وَلَوْ قَالَ: يَدُكِ طَالِقٌ أَوْ رِجْلُكِ طَالِقٌ او که [خاوند] ووايي: يَدُكِ طَالِقٌ يا رِجْلُكِ طَالِقٌ لَمْ يَقَعِ الطَّلَاقُ نو طلاق نه واقع کيږي وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: يَقَعُ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي واقع کيږي وَكَذَا الْخِلَافُ فِي كُلِّ جُزْءٍ مُعَيَّنٍ لَا يُعَبَّرُ بِهِ عَنْ جَمِيعِ الْبَدَنِ او همدا اختلاف پر هغه معين جزء کي دی چي په هغه له ټوله بدن څخه تعبير کېدای نه سي لَهُمَا: أَنَّهُ جُزْءٌ مُسْتَمْتَعٌ بِعَقْدِ النِّكَاحِ د دوی دليل دا دی: چي د عقدِ نکاح په وجه له دې جزء څخه فايده اخيستل کيږي وَمَا هٰذَا حَالُهُ يَكُونُ مَحَلًّا لِحُكْمِ النِّكَاحِ او د کوم [جزء] چي [هم] دا حالت وي نو هغه به د نکاح د حکم محل وي فَيَكُونَ مَحَلًّا لِلطَّلَاقِ نو د طلاق محل به هم وي فَيَثْبُتُ الْحُكْمُ فِيهِ قَضِيَّةً لِلْإِضَافَةِ نو اضافت [نسبت کولو] د اقتضاء په خاطر به په دې کي حکم ثابت وي ثُمَّ يَسْرِي إِلَى الْكُلِّ بيا به د ټوله بدن وطرف ته سرايت کوي كَمَا فِي الْجُزْءِ الشَّائِعِ لکه څرنګه چي په جزءِ شائع کي کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا أُضِيفَ إِلَيْهِ النِّكَاحُ په خلاف د

هغه [صورت] کله چې د متين جزء وطرف ته نکاح منسوبه کړی سي لِأَنَّ التَّعَدِّيَ مُمْتَنِعٌ ځکه [په دې صورت کې] تعدی [سرايت کول] نا ممکن دي إِذِ الْحُرْمَةُ فِي سَائِرِ الْأَجْزَاءِ تَغْلِبُ الْحِلَّ فِي هٰذَا الْجُزْءِ ځکه چې په اجزاؤ [اندامو] کې حرمت د دې جزء پر حالت غالب کيږي وَفِي الطَّلَاقِ الْأَمْرُ عَلَى الْعَكْسِ او په طلاق کې معامله د دې برعکس ده وَلَنَا: أَنَّهُ أَضَافَ الطَّلَاقَ إِلَى غَيْرِ مَحَلِّهِ او زموږ دليل دا دی: چې [خاوند] د غير محل وطرف ته د طلاق نسبت وکړی فَيَلْغُو نو به لغوه وي كَمَا إِذَا أَضَافَهُ إِلَى رِيقِهَا أَوْ ظُفُرِهَا لکه [په هغه صورت کې چې لغوه کيږي] کله چې طلاق د ښځې د ناوړو يا نوک وطرف ته منسوب کړي وَهٰذَا لِأَنَّ مَحَلَّ الطَّلَاقِ مَا يَكُونُ فِيهِ الْقَيْدُ او دا [حکم] ځکه [دی] چې محل د طلاق هغه [جزء او اندام] وي چې په هغه کې [د نکاح] قيد موجود وي لِأَنَّهُ يُنْبِئُ عَنْ رَفْعِ الْقَيْدِ ځکه چې طلاق د قيد پورته کولو خبر ورکوي [يعني د طلاق معنیٰ همدغه نکاحي قيد ختمول دي] وَلَا قَيْدَ فِي الْيَدِ او په نکاح کې هيڅ قيد نسته وَلِهٰذَا لَا تَصِحُّ إِضَافَةُ النِّكَاحِ إِلَيْهِ له همدې وجه د هغه وطرف ته منسوبه کول صحيح نه دي بِخِلَافِ الْجُزْءِ الشَّائِعِ لِأَنَّهُ مَحَلٌّ لِلنِّكَاحِ عِنْدَنَا په خلاف د جزءِ شائع، ځکه چې هغه زموږ په نيز د نکاح محل دی حَتّٰى تَصِحَّ إِضَافَتُهُ إِلَيْهِ حتیٰ چې د هغه وطرف ته د نکاح نسبت کول صحيح دي فَكَذَا يَكُونُ مَحَلًّا لِلطَّلَاقِ نو همداسي به هغه د طلاق محل [هم] جوړيږي وَاخْتَلَفُوا فِي الظَّهْرِ وَالْبَطْنِ او د ملا او نس په باره کې [فقهاؤ] اختلاف کړی دی وَالْأَظْهَرُ: أَنَّهُ لَا يَصِحُّ او ظاهر قول دا دی: چې [په دې سره طلاق] نه صحيح کيږي [يعني نه واقع کيږي] لِأَنَّهُ لَا يُعَبَّرُ بِهِمَا عَنْ جَمِيعِ الْبَدَنِ ځکه چې د دې دواړو په ذريعه له ټوله بدن څخه تعبير نه کيږي [يعني په عُرف کې د نس يا ملا په ذکر سره ټوله بدن نه مراديږي].

اللغات: ﴿لَا يُعَبَّرُ﴾ د تفعيل له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: تعبيرول، مطلب بيانول، ځرګندول، د زړه خبره ښکاره کول، مرادول. ﴿مُمْتَنِعٌ﴾ د استفعال د باب اسم مفعول دی: هغه شی چې فايده ځني اخيستل کيږي. ﴿قَضِيَّةٌ﴾ د تقاضا په وجه سره. ﴿رِيقٌ﴾ ناړي، د خولې لاړې. ﴿ظُفُرٌ﴾ ظُفْرٌ. ظِفْرٌ: نوک، جمع: أَظْفَار، جمع الجمع: أَظَافِيْر.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند طلاق د ښځې د لاس یا د پښې و طرف ته منسوب کړي او داسې ووایي: يَدُكِ طَالِقٌ يا رِجْلُكِ طَالِقٌ، نو په دې صورت کې زموږ په نېز طلاق نه واقع کیږي، لیکن د امام زفراو امام شافعي او نورو په نېز طلاق واقع کیږي، همدا اختلاف د بدن په هر هغه متعین جزء (مثلاً ګوته، ورېښتان او داسې نورو) کې دی چې له هغه ځخه د انسان ټوله بدن نه مرادیږي، امام زفر او امام شافعي (همدارنګه امام مالک او امام احمد) په دې سره طلاق واقع کوي، او موږیې نه واقع کوو.

دلیل: لهما إلخ: د امام زفر او امام شافعي د دلیل حاصل دا دی چې د نکاح په ذریعه د خاوند لپاره د ښځې له دغه (متعین) اندام ځخه فایده اخیستل حلال سوي دي (یعني تر نکاح وروسته خاوند د ښځې له دغه متعین جزء او اندام مثلاً لاس، پښه، ورېښتان او داسې نورو ځخه استفاده کولای سي)، لهذا خاوند به په طلاق ورکولو سره دا (اندام) حرامولای هم سي، نو هغه (اندام) محل د طلاق سو، لهذا کله چې پر هغه اندام طلاق واقع سي، نو له هغه ځخه په ټوله بدن کې سرایت کوي او د ښځې پر ټوله بدن طلاق واقع کیږي، لکه څرنګه چې په جزء شائع کې داسې کیږي، نو ځکه به د لاس او پښې یا د یو بل متعین اندام په ذکر کولو سره هم طلاق واقع کیږي.

دویم دلیل دا دی چې د نکاح په وجه سره د ښځې په ټوله بدن کې حلت راغلی دی، او په طلاق ورکولو سره فقط په یو اندام کې حرمت راغلی، او قاعده دا ده چې د حلت او د حرمت د تقابل په وخت کې ترجیح حرمت لره وي او حرمت غالب کیږي، نو ځکه به د طلاق په وجه دیوه اندام په حرمت سره د ټولو اندامونو حلت ختمیږي، او طلاق به واقع کیږي.

بخلاف إلخ: دا د امام شافعي او امام زفر له طرفه دیو مقدر سوال جواب دی، پر هغو دا سوال کیږي چې کله ستاسو په نیز پر یو متعین اندام د طلاق په واقع کېدلو سره هغه په ټوله بدن کې سرایت کوي او ټوله ښځه مطلقه ګرځي، نو همداسې پر یو متعین اندام په نکاح کولو سره هم باید د ټولې ښځې سره نکاح وسي (مثلاً که خاوند ووایي نَكَحْتُ بِيَدِكِ، نو باید د هغه د نکاح د ښځې سره صحیح سي)، حالانکې دا ستاسو په نېز هم صحیح نه دي!؟

نو د دوی له طرفه جواب دا دی چې که فقط په یوه اندام کې نکاح جائز سي، نو محض په هغه اندام کې به حلت ثابت سي، او په نورو اندامونو کې به تر اوسه لا حرمت پاته وي، او قاعده تېره سوه چې که د حرمت او حلت په مینځ کې تقابل راسي، نو حرمت غالب کیږي، نو دلته به حرمتُ غالب وي او حلت به مغلوب وي، نو ځکه به ښځه هم حرامه وي، نو په دې وجه دیوه اندام په نکاح د ټولې ښځې سره نکاح نه کیږي، لیکن دیوه لاس په طلاق سره حرمت غالب کیږي، نو ځکه به پر ټولو اندامونو طلاق واقع کیږي.

زموږ دليل: ولنا أنه إلخ: زموږ د دليل حاصل دا دی چي طلاق "د نکاح د قيد ختمولو" ته وايي (او د نکاح قيد په هغه اندام کي وي چي په هغه سره د انسان ټوله بدن مراديږي لکه رقبه، روح، سر... داسي اندام محل د نکاح هم وي، يعني د داسي اندام په نکاح د ټولي ښځي سره نکاح کيږي، او داسي اندام محل د طلاق هم وي)، او دا خبره ښکاره ده چي په طلاق سره دا قيد له هغه اندام او هغه جزء څخه ختميږي چيري چي دا قيد موجود وي (يعني چي هغه اندام او هغه جزء د طلاق او نکاح محل وي)، لېکن په کوم اندام او جزء کي چي دا قيد موجود نه وي، نو هلته به څرنګه دا قيد ختم سي!!! (ځکه هلته خو بالکل قيد سته نه)، او په دې مسئله کي موږ وينو چي خاوند د داسي اندام (يعني لاس...) و طرف ته طلاق (د نکاح د قيد ختمول) منسوب کړي دي چي هغه د قيد د نشتوالي په وجه د طلاق محل نه دی، او کله چي هغه د طلاق محل ن ه دی، نو پر هغه (اندام) به څرنګه طلاق واقع سي!!!،

لهذا څرنګه چي د ښځي د ناړو (لعاب) يا نوک وطرف ته د طلاق په نسبت کولو سره (يعني د رِيْقُكِ طَالِقٌ او ظَفْرُكِ طَالِقٌ په ويلو سره) د قيد او محل د نشتوالي په وجه طلاق نه واقع کيږي، همداسي به په دې صورت کي هم طلاق نه واقع کيږي، ځکه چي طلاق د نکاحي قيد ختمولو ته وايي، او لاس او داسي نور اندامونه له دغه قيد څخه بې برخي دي، همدا وجه ده چي د لاس او داسي نورو اندامونو ته دنکاح په نسبت کولو سره نکاح نه کيږي.

د دې په خلاف جزءِ شائع دی، ځکه چي جزء شائع ته (يعني د ښځي نصف يا ثلث ته) د نکاح په نسبت کولو سره نکاح کيږي (يعني جزء شائع محل د طلاق دی)، نو هغه به محل د طلاق هم وي او له هغه څخه به سرايت کوي او پر ټوله بدن به طلاق واقع کيږي.

واختلفوا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که خاوند د ښځي نس او ملا ته د طلاق نسبت وکړي (مثلاً ووايي ستا نس پر ما طلاق دی يا ستا ملا پر ما طلاق ده)، نو په دې باره کي د فقهاؤ اختلاف دی، ځيني فقهاء وايي چي په دې سره طلاق واقع کيږي، لېکن ظاهر روايت دا دی چي په دې سره طلاق نه واقع کيږي، ځکه چي په محاوره کي په نس او ملا سره له ټوله بدن څخه تعبير نه کيږي او په دوی سره د انسان ټوله ذات او بدن نه مراديږي، لهذا دوی هم د يو متعين جزء او اندام په څير سول، نو ځکه به د نس او ملا وطرف ته د طلاق په نسبت کولو سره طلاق نه واقع کيږي.

د نيم طلاق ورکولو حکم

وَإِنْ طَلَّقَهَا نِصْفَ تَطْلِيقَةٍ أَوْ ثُلُثَهَا او که [خاوند] ښځي ته د يوه طلاق نيمه حصه يا دريمه حصه ورکړي [يعني نيم يا دريمه حصه د طلاق ورکړي] كَانَتْ طَالِقًا تَطْلِيقَةً وَاحِدَةً نو ښځه به په يوه طلاق سره مطلقه وي لِأَنَّ الطَّلَاقَ لَا يَتَجَزَّأُ ځکه چي طلاق نه متجزي کيږي [يعني حصه، حصه او ټوکړه، ټوکړه نه ګرځي] وَذِكْرُ بَعْضِ مَا لَا يَتَجَزَّأُ كَذِكْرِ الْكُلِّ او د غير متجزي شيانو د بعض ذکر داسي دی لکه [د هغوی] د کُل ذکر وَكَذَا الْجَوَابُ فِي كُلِّ جُزْءٍ سَمَّاهُ او همدا حکم دی په هر هغه جزء کي کوم چي يې [خاوند] متعين کړي [مثلاً څلورمه حصه، اومه حصه....] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَلَوْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثَةَ أَنْصَافِ تَطْلِيقَتَيْنِ او که [خاوند] ښځي ته ووايي: ته [پر ما] د دوو طلاقو په دريو نصفو سره طلاقه يې فَهِيَ طَالِقٌ ثَلَاثًا نو هغه په دريو طلاقو سره مطلقه ګرځي لِأَنَّ نِصْفَ التَّطْلِيقَتَيْنِ تَطْلِيقَةٌ ځکه چي د دوو طلاقو نصف يو طلاق کيږي فَإِذَا جَمَعَ بَيْنَ ثَلَاثَةِ أَنْصَافٍ نو کله چي [د دوو طلاقو] دري نصفونه سره جمع کړي تَكُونُ ثَلَاثَ تَطْلِيقَاتٍ ضَرُورَةً نو د ضرورت پر بناء دري طلاقه کيږي [ځکه چي طلاق نه متجزي کيږي] وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثَةَ أَنْصَافِ تَطْلِيقَةٍ او که [خاوند داسي ورته] ووايي: ته د يوه طلاق په دريو نصفو سره [پر ما] طلاقه يې قِيلَ: يَقَعُ تَطْلِيقَتَانِ نو يو قول دا دی: چي دوه طلاقه واقع کيږي لِأَنَّهَا طَلْقَةٌ وَنِصْفٌ ځکه چي دا يو نيم طلاق دی فَيَتَكَامَلُ نو [هغه نيم] به [ضرورتاً] پوره کيږي وَقِيلَ: يَقَعُ ثَلَاثُ تَطْلِيقَاتٍ او يو قول دا دی: چي دري طلاقه واقع کيږي لِأَنَّ كُلَّ نِصْفٍ يَتَكَامَلُ فِي نَفْسِهِ ځکه چي هر نصف به بذاتِ خود بشپړ [طلاق] وي فَيَصِيرُ ثَلَاثًا نو به دري طلاقه وګرځي.

اللغات: ﴿تَطْلِيقَة﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: يو وار طلاق ورکول، ﴿يَتَكَامَل﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: پوره کېدل (بشپړ کېدل).

تشريح: صاحب د کتاب په دې عبارت کي درې مسئلې بيان کړي دي، لېکن تر تشريح مخکي تاسو په دې خبره ځان پوه کړئ! چي طلاق له هغو شيانو څخه دی کوم چي تجزی او تقسيم نه قبلوي (يعني طلاق جزء جزء او حصه حصه کېدلای نه سي)، او قاعده دا ده چي کوم شی تجزی او

تقسیم نه قبلوي د هغه شي بعض ذکر کول د کُل ذکر لره مستلزم او شامل وي. اوس د مسئلو تشریح ته ګورئ:

(۱)... د اولي مسئلې تشریح دا ده چي که خاوند ښځي ته نیم طلاق یا دریمه حصه طلاق ورکړي، نو یو طلاق واقع کیږي؛ ځکه چي په طلاق کي تجزی او تقسیم کېدلای نه سي (یعني هغه حصه حصه کېدلای نه سي)، لهذا د هغه د بعض (یعني نصف او ثلث) ذکر کول د کُل د ذکر کولو په څېر دي، او د کُل (پوره طلاق) په ذکر کولو سره یو طلاق واقع کیږي، نو د بعض په ذکر کولو سره به هم یو طلاق واقع کیږي.

وكذا الجواب إلخ: صاحب د کتاب فرمايي چي همدا حکم او دلیل په هر هغه ځای کي جاري کیږي چیري خاوند په طلاق کي تجزی او تقسیم وکړي، مثلاً خاوند ښځي ته څلورمه حصه طلاق ورکړي، یا شپږمه، یا لسمه حصه، یا سلمه حصه... طلاق ورکړي، نو په ټولو کي یو طلاق واقع کیږي، ځکه د عدمِ تجزی په وجه د هغه بعض د کُل د ذکر کولو په څېر دی.

(۲)... دویمه مسئله دا ده که خاوند مثلاً ښځي ته د دوو طلاقو دري نصفه طلاق ورکړي[1]، نو په دې صورت کي پر ښځي دري طلاقه واقع کیږي او هغه مغلظه بائنه ګرځي؛ ځکه چي دلته خاوند د دوو طلاقو په دري نصفو سره طلاق واقع کړی دی، او د عدمِ تجزی په وجه هر نصف یو طلاق کیږي نو دري نصفه به دري طلاقه وي، او په دریو طلاقو سره ښځه مغلظه بائنه ګرځي، نو په دریو نصفو سره به هم مغلظه بائنه ګرځي او د خاوند لپاره به حرامیږي.

(۳)... دریمه مسئله دا ده که خاوند ښځي ته د یوه طلاق دري نصفه طلاق ورکړي (کوم چي دري دانې نیم طلاقونه کیږي) نو په دې باره کي د فقهاؤ دوه قوله دي: ① ځیني فرمايي چي دوه طلاقه واقع کیږي، ځکه د یوه طلاق دري نصفه (یعني دري دانې نیم طلاقونه) یو نیم طلاق کیږي، او په یو نیم طلاق سره دوه طلاقه واقع کیږي (ځکه چي په یوه پوره طلاق سره هم یو طلاق واقع کیږي، او کوم نیم چي پاته سو په هغه سره هم یو طلاق واقع کیږي)، نو ځکه به د یوه طلاق په دریو نصفو سره دوه طلاقه واقع کیږي، دا قول په جامعِ صغیر کي له امام محمد څخه هم نقل سوی دی، او علامه عتابي هم دې قول ته صحیح ویلي دي. (فتح القدير، عنايه) ② دویم قول دا دی چي په دې صورت کي هم دري طلاقه واقع کیږي، ځکه خاوند د یوه طلاق دري نصفه (یعني دري دانې نیم طلاقونه) ذکر کړي دي، او د عدمِ تجزی په وجه هر نصف د یوه طلاق په حکم کي دی، نو ځکه به دري طلاقه واقع کیږي.

---

[1] یو طلاق چي نیمایي کړی سي، نو دوه نصفه (یعني دوه دانې نیم طلاقونه) ګرځي. او دوه طلاقه چي نیمایي کړی سي، څلور نصفه (څلور دانې نیم طلاقونه) ګرځي، نو که خاوند له هغوی څخه دري دانې نیم طلاقونه پر ښځي واقع کړي، نو دري طلاقه واقع

په طلاق کې د غايت او مغيا ذکر کولو تفصيلي بيان

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ مِنْ وَاحِدَةٍ إِلَى ثِنْتَيْنِ أَوْ مَا بَيْنَ وَاحِدَةٍ إِلَى ثِنْتَيْنِ او كه [خاوند داسې] ووايي: ته له يوه څخه تر دوو [طلاقو] يا د يوه او دوو [طلاقو] په مينځ کې [پر ما] طلاقه يې فَهِيَ وَاحِدَةٌ نو دا طلاق دی [يعني فقط يو طلاق واقع کيږي] وَلَوْقَالَ: مِنْ وَاحِدَةٍ إِلَى ثَلَاثٍ أَوْ مَا بَيْنَ وَاحِدَةٍ إِلَى ثَلَاثٍ او كه ووايي: چې [ته] له يوه څخه تر دريو پورې يا د يوه او دريو په مينځ کې [پر ما طلاقه يې] فَهِيَ ثِنْتَانِ نو دا دوه طلاقه دي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَا: فِي الْأُولَى هِيَ ثِنْتَانِ وَفِي الثَّانِيَةِ ثَلَاثٌ او صاحبين فرمايي: چې په اول صورت کې دوه طلاقه دي او په دويم صورت کې درې طلاقه دي وَقَالَ زُفَرُ: فِي الْأُولَى لَا يَقَعُ شَيْءٌ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په اول صورت کې هيڅ شی [يعني يو طلاق هم] نه واقع کيږي وَفِي الثَّانِيَةِ تَقَعُ وَاحِدَةٌ [خو] په دويم صورت کې طلاق واقع کيږي وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا قياس دی [يعني قياس هم د دې تقاضا کوي] لِأَنَّ الْغَايَةَ لَا تَدْخُلُ تَحْتَ الْمَضْرُوبِ لَهُ الْغَايَةُ ځکه چې په مَضْرُوبٌ لَهُ الْغَايَة [مغيا] کې نه داخليږي كَمَا لَوْقَالَ: بِعْتُ مِنْكَ مِنْ هٰذَا الْحَائِطِ إِلَى هٰذَا الْحَائِطِ لکه [يو څوک] چې ووايي: ما له دې دېوال څخه تر دغه دېواله پورې [ځمکه] پر تا خرڅه کړه [نو دواړه دېوالونه په بيع کې نه داخليږي] وَجْهُ قَوْلِهِمَا وَهُوَ الْاِسْتِحْسَانُ او د صاحبينو د قول دليل دا دی او همدا استحسان دی أَنَّ مِثْلَ هٰذَا الْكَلَامِ مَتَى ذُكِرَ فِي الْعُرْفِ يُرَادُ بِهِ الْكُلُّ چې دا ډول کلام چې کله په عُرف کې ذکر سي نو له دې څخه کُل [مجموع] مراديږي كَمَا تَقُوْلُ لِغَيْرِكَ: خُذْ مِنْ مَالِي مِنْ دِرْهَمٍ إِلَى مِائَةٍ لکه ته چې يو چا ته ووايې: چې له يوه څخه تر سلو درهمو پورې زما له مال [پيسو] څخه واخله [نو له دې څخه ټوله سل درهمه مراديږي] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ: أَنَّ الْمُرَادَ بِهِ الْأَكْثَرُ مِنَ الْأَقَلِّ وَالْأَقَلُّ مِنَ الْأَكْثَرِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې په دې [ډول کلام] کې له کم څخه زيات او له زيات څخه کم مراد وي فَإِنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ: سِنِّي مِنْ سِتِّيْنَ إِلَى سَبْعِيْنَ وَمَا بَيْنَ سِتِّيْنَ إِلَى سَبْعِيْنَ لکه څرنګه چې خلک [په خپل مينځ کې] وايي: زما عمر له شپېتو څخه تر اويا

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في الدر المختار (ج:٢، ص:٢٧٥)، وكذا في الهندية (ج:١، ص:٣٦٥). [القول الراجح ج:١، ص:٣١١]

[كالو] پوري دی [يا] د شپېتو او اويا په مينځ كي دی وَيُرِيدُوْنَ بِهِ مَا ذَكَرْنَاهُ او په دې سره خلك هغه [معنیٰ] مرادوي كوم چي موږ ذكر كړه وَإِرَادَةُ الْكُلِّ فِيمَا طَرِيْقُهُ طَرِيْقُ الْإِبَاحَةِ او د كُل اراده په هغه صورت كي كيږي چي د هغه طريقه د اباحت [روايښت] طريقه وي كَمَا ذَكَرْنَا لكه څرنګه چي صاحبينو ذكر كړه إِذِ الْأَصْلُ فِي الطَّلَاقِ هُوَ الْحَظْرُ ځكه چي اصل په طلاق كي ممانعت دی [لهذا كُل مراد كېدلای نه سي] ثُمَّ الْغَايَةُ الْأُولَى لَا بُدَّ أَنْ تَكُوْنَ مَوْجُوْدَةً بيا غايت اولیٰ ضروري ده چي هغه موجود وي [يعني د اول غايت موجودېدل ضروري دي] لِيَتَرَتَّبَ عَلَيْهَا الثَّانِيَةُ چي پر هغه باندي غايتِ ثانيه مرتب كړی سي وَوُجُوْدُهَا بِوُقُوْعِهَا او د غايتِ اُولیٰ وجود د هغې په وقوع سره دی [يعني غايتِ اُولیٰ په خپله وقوع سره موجوديږي] بِخِلَافِ الْبَيْعِ لِأَنَّ الْغَايَةَ فِيهِ مَوْجُوْدَةٌ قَبْلَ الْبَيْعِ په خلاف د بيع، ځكه چي غايت په بيع [د ځمكي] كي تر بيع مخكي موجود دی وَلَوْنَوَى وَاحِدَةً او كه [خاوند، په پورتني صورتونو كي] د يوه طلاق نيت وكړي يُدَيَّنُ دِيَانَةً لَا قَضَاءً نو دياناً به [د هغه] تصديق كيږي، نه قضاءً لِأَنَّهُ مُحْتَمَلُ كَلَامِهِ ځكه چي دا [كه څه هم] د هغه د كلام محتمل دي [يعني كه څه هم په پورتني صورتونو كي د خاوند كلام د يوه طلاق احتمال لري] لٰكِنَّهُ خِلَافُ الظَّاهِرِ خو دا د ظاهر خلاف دي [يعني په ښكاره د خاوند كلام بالكل د دې احتمال نه لري].

اللغات: ﴿الْغَايَة﴾ د يو شي آخري حد ته غايت وايي، همداسي د يوه شمېر آخري عدد ته "غايت" وايي، او همدې ته "انتهاء" هم وايي. ﴿حَائِط﴾ دېوال، جمع: حِيْطَان و حِيَاط. ﴿خُذْ﴾ د نصر له باب څخه د امر صيغه ده، لكه مُرْ. أَخَذَ يَأْخُذُ أَخْذًا: اخيستل، نيول. ﴿يُدَيَّن﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهول ده. دا باب د ډيرو معناګانو لپاره استعماليږي چي له هغوی څخه يو څو دا دي: تصديق كول، تاييد كول، د يو چا خبره منل، رښتيا ګڼل.

تشريح: په دې عبارت كي د طلاق دوه صورتونه او د هغه په هكله د امامانو اختلاف او دليلونه ذكر سوي دي: ① اول صورت دا دی كه خاوند ښځي ته ووايي چي: "ته (پر ما) طلاقه يې له يوه څخه تر دوو طلاقو پوري". يا ورته ووايي چي: "ته (پرما) طلاقه يې د يوه او دوو طلاقو په مينځ كي"، نو په دې صورت كي د امام صاحب په نيز صرف يو طلاق واقع كيږي. ② دويم صورت دا دی چي خاوند ووايي: "ته (پر ما) طلاقه يې له يوه څخه تر دريو طلاقو پوري". يا ووايي: "ته (پر ما) طلاقه

يې ديوه او دريو طلاقو په مينځ کې"، نو په دې صورت کې د امام صاحب په نېز دوه طلاقه واقع کيږي.

د دې په خلاف صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې په اول صورت کې دوه طلاقه واقع کيږي، او په دويم صورت کې درې طلاقه واقع کيږي، او امام زفر رَحِمَهُ الله ډيره نرمي کړې ده هغه فرمايي چې په اول صورت کې يو طلاق هم نه واقع کيږي، او په دويم صورت کې فقط يو طلاق واقع کيږي، او قياس هم د دې تقاضا کوي (يعني د امام زفر قول د قياس مطابق دی).

د امام زفر دليل: دا دی چې په دې صورتونو کې خاوند د غايت او مغيا طريقه اختيار کړې ده، او غايت د خپل ځان او مغيا تر مينځ د فصل او بېلتون فايده ورکوي، نو په دې وجه غايت په مغيا کې داخلېدای نه سي (يعني غايت او مغيا به له مفهوم او مراد څخه وځي)، کنې د غايت به هيڅ فايده هم نه وي، مثلاً يو څوک ووايي: بِعْتُ مِنْكَ مِنْ هذَا الْحَائِطِ إِلىٰ هذَا الْحَائِطِ (يعني ما له هغه دېوال څخه تر دغه دېوال پوري پر تا [ځمکه] خرڅه کړه)، نو اوس د ځمکې په خرڅلاو (بيع) کې نه هغه دېوال داخل دی، او نه دغه دېوال داخل دی، صرف د مينځ د ځمکې خرڅلاو ځني مراد دی. او څرنګه چې دلته هم په اول صورت (مِنْ واحِدَةٍ إِلىٰ ثِنْتَيْنِ او مَا بَيْنَ واحِدَةٍ إِلىٰ ثِنْتَيْنِ) کې وَاحِدَة غايت دی او ثِنْتَيْنِ مغيا ده، او د دوی تر مينځ بل هيڅ عدد نسته، ځکه چې تر يوه سمدستي وروسته دوه راځي، او څرنګه چې د (امام زفر په نېز) غايت او مغيا (وَاحِدَة او ثِنْتَيْنِ) له معنیٰ او مراد څخه خارج دي، نو ځکه به يو طلاق هم نه واقع کيږي.

لېکن څرنګه چې په دويم صورت کې د غايت (وَاحِدَة) او مغيا (ثَلَاث) تر مينځ يو بل عدد (ثِنْتَيْنِ) پاتيږي (يعني د اول او دريم طلاق په مينځ کې دويم طلاق پاتيږي)، نو ځکه به په دې صورت کې يو طلاق واقع کيږي.

د صاحبينو دليل: د صاحبينو دليل او طريقه د استدلال بالکل د امام زفر په خلاف ده. يعني امام زفر رَحِمَهُ الله غايت او مغيا له معنیٰ او مطلب څخه خارج مني، او صاحبين رَحِمَهُمَا الله هغه په معنیٰ او مطلب کې داخلوي، او دليل دا ذکر کوي چې په داسې (د عدد په) کلام کې غايت او مغيا دواړه په معنیٰ او مراد کې شامل او په حکم کې داخل وي، مثلاً يو سړی بل چا ته ووايي: خُذْ مِنْ مَالِيْ مِنْ دِرْهَمٍ إِلىٰ مَائَةٍ (چې ته له يوه څخه تر سلو درهمو پوري زما له مال څخه واخله)، نو دلته غايت او مغيا (يعني له يوه څخه تر سلو درهمو پوري) د اخيستلو په حکم کې شامل او داخل دي يعني د دې سړي مراد کُل دراهم دي چې "ته پوره سل درهمه واخله"، لهذا څرنګه چې دلته غايت او مغيا په حکم کې

داخل دي، همداسي به په پورتنيو صورتونو کي هم غايت او مغيا په معنیٰ او حکم کي داخل وي. او په اول صورت کي به (کُل) دوه طلاقه واقع کيږي، او په دريم صورت کي به (کُل) درې طلاقه واقع کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي په کوم ځای کي چي هم غايت او مغيا د عدد سره بيان سي، هلته د دوی په هکله قاعده دا وي چي که د غايت او مغيا په مينځ کي بل هيڅ عدد نه وي، نو په دې صورت کي د أَقَلّ مِنَ الأَكْثَر يعني د لوړ عدد په مقابله کي لاندي (کښته) عدد مراديږي، مثلاً په مِنْ وَاحِدَةٍ إِلىٰ ثِنْتَيْن کي د غايت يعني د وَاحِدَة او د مغيا يعني د ثِنْتَيْن په مينځ کي بل عدد نسته. نو به أَقَلّ مِنَ الأَكْثَر مراد وي، او دلته أكثر (لوړ عدد) ثِنْتَيْن دی، او وَاحِدَة أقل (لاندي عدد) دی، نو ځکه به همدا وَاحِدَة (يو طلاق) مراد وي، او په دې صورت کي به فقط يو طلاق واقع کيږي.

او که د غايت او مغيا په مينځ کي بل عدد وي، نو په هغه صورت کي أَكْثَر مِنَ الأَقَلّ يعني د لاندي عدد په مقابله کي لوړ عدد مراديږي، مثلاً په دويم صورت يعني په مِنْ وَاحِدَةٍ إِلىٰ ثَلَاث کي د غايت يعني د وَاحِدَة او د مغيا يعني د ثَلَاثًا په مينځ کي يو بل عدد ثِنْتَيْن موجود دی، نو اوس به دلته أَكْثَر مِنَ الأَقَلّ (يعني د لاندي عدد په مقابله کي لوړ عدد) مراد وي، او په دغه دريو عددونو "وَاحِدَة. ثِنْتَيْن. ثَلَاث" کي أقل يعني تر ټولو لاندي عدد وَاحِدَة دی، نو له وَاحِدَة څخه چي کوم يو أكثر او لوړ دی، هغه به مراد وي، او تر وَاحِدَة أكثر او لوړ ثِنْتَيْن دی، نو ځکه به همدغه ثِنْتَيْن (دوه طلاقه) مراد وي، او په دې صورت کي به پر ښځي دوه طلاق واقع کيږي.

د دې دليل مثال دا دی چي کله يو سړی د خلکو مخته خپل سِن او عمر ذکر کړي، نو خلک د هغه له عمر څخه همدغه أَقَلّ مِنَ الأَكْثَر او أَكْثَر مِنَ الأَقَلّ مرادوي، مثلاً که يو سړی ووايي چي زما عمر مِنْ سِتِّيْنَ إِلىٰ سَبْعِيْن (له شپېتو څخه تر اويا کالو پوري) دی يا مَا بَيْنَ سِتِّيْنَ إِلىٰ سَبْعِيْن (د اويا او شپېتو کالو په مينځ کي) دی، (او د سِتِّيْن او سَبْعِيْن په مينځ کي يو عدد نه بلکي ډير أعداد دي)، نو له دې څخه د خلکو مراد تر شپېتو کالو لوړ او تر اويا کالو لاندي عمر وي يعني ۶۲/ ۶۵/ ۶۸ او داسي نور (نو همداسي به دلته هم په دويم صورت کي تر وَاحِدَة لوړ عدد يعني ثِنْتَيْن مراد وي)

وإرادة الكل إلخ: په دې سره د صاحبينو د دليل جواب ورکوي، هغو فرمايلي وو چي څرنګه له سلو درهمو څخه مراد کُل دراهم دي همداسي به په دې صورتونو کي له طلاق څخه کُل مراد وي، د هغه

جواب ورکوي فرمايي چي په کوم ځای کي چي د اباحت معامله وي (يعني يو څوک بل چا ته خپل مال روا کوي [يعني خپل مال ورکوي])، هلته کُل مراد پدلای سي، ځکه چي هلته (د بل چا لپاره) د خپل مال روا کول مقصود وي، او د طلاق د اباحت معامله نه ده، بلکي د ممانعت معامله ده (يعني په طلاق سره پر انسان ښځه حراميږي کوم چي د انسان په حق کي نقصان مند دي او په شريعت کي يوه مبغوضه خبره ده)، لهذا په دې صورتونو کي کُل مرادول او غايت په معنیٰ او حکم کي داخلول صحيح نه دي.

ثم الغاية الأولى إلخ: په دې سره د امام زفر رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي په عدد کي د غايتِ ثانيه د وقوع او موجودېدلو لپاره د غايتِ اولیٰ موجودېدل ضروري دي، (ځکه په عدد کي ثاني عدد يعني وروسته عدد هغه وخت موجوديږي کله چي اول عدد يعني مخکنی عدد موجود ومنل سي، ځکه چي دا وروسته عدد پر مخکني عدد مرتب کيږي، مثلاً که پنځه موجود ومنل سي، نو تر هغه مخکي به خامخا څلور موجود منل کيږي، کنې پنځه موجودېدلای نه سي، خلاصه دا سوه چي په عدد کي د غايتِ اولیٰ او غايتِ ثانيه دواړو موجودېدل ضروري دي، او واحدة، ثنتين، ثلاث هم عددونه دي)، لهذا په پورتنيو صورتونو کي به دواړو غايتونه (يعني واحدة او ثنتين يا واحدة او ثلاث) له حکم او معنیٰ څخه خارج نه منل کيږي بلکي داخل به منل کيږي، او طلاق به واقع کيږي.
لېکن په بيع کي د غايتِ ثانيه د وقوع او موجودېدلو لپاره د غايتِ اولیٰ موجودېدل ضروري نه دي، ځکه چي په بيع کي دواړه غايتونه (مثلاً دواړه دېوالونه) له بيع څخه مخکي (په خارج) کي موجود دي (د يو ترتّب پر بل باندي موقوف نه دي لکه په عدد کي چي د عدد ثاني ترتب پر عدد اول باندي موقوف دی)، لهذا که په بيع کي دواړه غايتونه (مثلاً دواړه دېوالونه) ساقط کړی سي (او فقط د مينځ ځمکه خرڅه کړی سي) نو داسي کېدلای سي، لېکن په عدد کي د دې امکان نسته، لهذا د امام زفر رَحِمَهُ الله قياس صحيح نه دی.

واقعه: په رواياتو کي راځي چي د غايت او مغيا د ساقطېدلو او داخلېدلو په مسئله کي علامه اصمعي د امام زفر رَحِمَهُ الله سره د هارونِ رشيد په دربار کي بحث او مناظره وکړه، علامه اصمعي پوښتنه ځني وکړه چي ستا عمر څو دی، امام زفر ووېل: سِنِّيْ مَا بَيْنَ سِتِّيْنَ إِلَى سَبْعِيْن (زما عمر د اويا او شپېتو په مينځ کي دی)، نو اصمعي فوراً ورته ووېل: أَنْتَ إِذَا ابْنُ تِسْعَ سِنِيْنَ (چي بيا خو ته فقط د نهو [٩] کالو يې)، ځکه چي ستا په قول غايتِ اولیٰ (شپېته) ساقط سي او غايتِ ثانيه (اويا)

هم ساقط سي، نو بيا خو داوريا او شپيتو تر مينځ نقط (له ۶۱ څخه تر ۶۹ پورې) نهه کاله پاتيږي.
تَتَحَيَّر. نو د دې خبرې په اورېدلو سره امام زفر رَحِمَهُ الله وچ ودرېدی او هک حيران پاتـه سو. (احسن الهداية ج۴، ص۳۳۸)

ولونوی إلخ: فرمايي که خاوند په پورتنيو صورتونو کي يعني په أَنْتِ طَالِقٌ مِنْ وَاحِدَةٍ إِلَى ثَلَاث کي يا په هغه نورو جملو کي د يوه طلاق نيت وکړی، نو دياتنًا (فيما بينه وبين الله) به د هغه تصديق کيږي، لېکن قضاءً به يې تصديق نه کيږي، ځکه د خاوند دغه کلامونه که څه هم د يوه طلاق احتمال لري، خو بيا هم هغه د ظاهر خلاف دی، او په خلافُ الظاهر صورتونو کي فقط دياتنًا د چا خبره منل کيږي، نه قضاءً.

په طلاق کي د ضرب د نيت کولو بيان

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً فِي ثِنْتَيْنِ او که [خاوند] ووايي: ته يو په دوه کي [پر ما] طلاقه يې وَنَوَى الضَّرْبَ وَالْحِسَابَ او [په دې سره] د ضرب او حساب نيت وکړي أَوْلَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ يا يې [په دې سره] هيڅ نيت نه وي فَهِيَ وَاحِدَةٌ نو هغه يو طلاق دی [يعني په دې صورت کي يو طلاق واقع کيږي] وَقَالَ زُفَرُ ❁: تَقَعُ ثِنْتَانِ لِعُرْفِ الْحُسَّابِ امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دوه طلاقه واقع کيږي د شمېرونکو د عرف په وجه [يعني حساب وکتاب کونکي خلک داسي جمله ضرب کني] وَهُوَقَوْلُ الْحَسَنِ بْنِ زِيَادٍ او همدا د حسن بن زياد رَحِمَهُ الله قول دی وَلَنَا: أَنَّ عَمَلَ الضَّرْبِ أَثَرُهُ فِي تَكْثِيرِ الْأَجْزَاءِ زموږ دليل دا دی: چي [دلته] د ضرب د عمل تأثير د اجزاوو په زياتولو کي دی لَا فِي زِيَادَةِ الْمَضْرُوْبِ د هغه شي [طلاق] په زياتوب کي نه دی کوم ته چي ضرب ورکول سوي وي وَتَكْثِيرُ أَجْزَاءِ التَّطْلِيقَةِ لَا يُوجِبُ تَعَدُّدَهَا او د يوه طلاق د اجزاوو ډېرېدل د طلاق تعدّد [او ډېر والی] نه واجبوي [نو ځکه به فقط يو طلاق واقع کيږي] فَإِنْ نَوَى وَاحِدَةً وَثِنْتَيْنِ او که خاوند [په دې جمله سره] د يوه [طلاق] او دوو [طلاقو] نيت وکړی فَهِيَ ثَلَاثٌ نو هغه درې [طلاقه] دي لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُهُ ځکه چي هغه [لفظ] د دې احتمال لري فَإِنَّ حَرْفَ الْوَاوِ لِلْجَمْعِ ځکه چي "واو" د جمع لپاره راځي وَالظَّرْفُ يَجْمَعُ الْمَظْرُوْفَ او ظرف [هم] مظروف جمع کوي وَلَوْكَانَتْ غَيْرَ مَدْخُوْلٍ بِهَا او که ښځه غير مدخول بها وي تَقَعُ وَاحِدَةٌ نو [بيا] يو طلاق واقع کيږي كَمَا فِي قَوْلِهِ: وَاحِدَةً وَثِنْتَيْنِ لکه د هغه د دې قول: وَاحِدَةً وَثِنْتَيْنِ په صورت کي [چي يو طلاق واقع کيږي] وَإِنْ نَوَى وَاحِدَةً مَعَ ثِنْتَيْنِ او که هغه [په دې جمله کي] د دوو [طلاقو] سره د يوه [طلاق] نيت وکړي تَقَعُ الثَّلَاثُ

❁ القول الراجح: قول الإمام زفر رَحِمَهُ الله كما قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله (ج:۲ ص:۷۲۶)، وهكذا في البحر الرائق (ج:۳ ص:۴۶۱)، وفتح القدير (ج:۲۳ ص:۳۶۶) [القول الراجح ج:۱ ص:۳۱۲]

نو درې [طلاقه] واقع کيږي لِأَنَّ كَلِمَةَ "فِيْ" تَأْتِيْ بِمَعْنَى "مَعَ" ځکه چې کلمه د "فِيْ" د "مَعَ" په معنیٰ سره [هم] راځي كَمَا فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى: فَادْخُلِيْ فِيْ عِبَادِيْ [الفجر: ٢٩] أَيْ مَعَ عِبَادِيْ لکه د الله په دې قول کې: فَادْخُلِيْ فِيْ عِبَادِيْ يعني مَعَ عِبَادِيْ (داخل سئ! زما د بندګانو سره (وجنت ته)) وَلَوْ نَوَى الظَّرْفَ او که هغه [په دې جمله سره] د ظرف نيت وکړي يَقَعُ وَاحِدَةٌ نو يو [طلاق] واقع کيږي لِأَنَّ الطَّلَاقَ لَا يَصْلُحُ ظَرْفًا ځکه چې طلاق د ظرف [جوړېدلو] صلاحيت نه لري فَيَلْغُوْ ذِكْرُ الثَّانِيْ نو د دويم [طلاق] ذکر به لغو سي وَلَوْ قَالَ اثْنَتَيْنِ فِيْ اثْنَتَيْنِ او که خاوند وواييږ: [ته] دوه په دوه کې [پر ما طلاقه يې] وَنَوَى الضَّرْبَ وَالْحِسَابَ او [په دې سره] د ضرب او حساب نيت وکړي فَهِيَ ثِنْتَانِ نو دا دوه [طلاقه] دي وَعِنْدَ زُفَرَ ثَلَاثٌ او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز درې [طلاقه] دي لِأَنَّ قَضِيَّتَهٗ أَنْ تَكُوْنَ أَرْبَعًا ځکه چې د ضرب حکم [خو] دا دی چې څلور [طلاقه] سي لٰكِنْ لَا مَزِيْدَ لِلطَّلَاقِ عَلَى الثَّلَاثِ ليکن پر درېو [طلاقو] زياتوب نه راځي [نو ځکه به درې طلاقه واقع کيږي] وَعِنْدَنَا الْاِعْتِبَارُ الْمَذْكُوْرُ الْأَوَّلُ او زموږ په نېز د اولي ذکر سوي قاعدې [چې دلته په ضرب سره اجزاء زياتيږي، نه مضروب] اعتبار دی عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ لکه [اوس] چې موږ بيان کړه.

اللغات: ﴿الضَّرْب﴾ د حساب يوه طريقه ده چې نخښه يې په دې ډول ده: (×)، او مراد ځني أَحَدُ الْعَدَدَيْن دوچنده کول دي د عَدَدِ آخَر د مقدار مطابق، مثلاً "أربعة في الخمسة" يعني "څلور په پنځه" کې ضربول شل (٢٠) کيږي، ځکه کله چې څلور، پنځه واره دوچنده کړی سي، يا پنځه، څلور واره دوچنده کړی سي، نو شل ځني جوړيږي. ﴿الحِسَاب﴾ شمېر، حساب وکتاب. ﴿الحُسَّاب﴾ جمع د حَاسِبٌ ده لکه طُلَّاب چې جمع د طَالِبٌ: حساب کونکي، شمېرونکي، په حساب وکتاب پوه کسان. ﴿تَكْثِيْر﴾ د تفعيل مصدر دی: ډېرول، زياتول.

تشريح: په دې عبارت کې څو مسئلې بيان سوي دي: (١)... اوله مسئله دا ده که خاوند خپلې ښځې ته وواييږ: أَنتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً فِيْ ثِنْتَيْن، او د ضرب نيت وکړي يا هيڅ نيت نه وکړي، نو په دې صورت کې يو طلاق واقع کيږي، او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې دوه طلاقه واقع کيږي، همدا د حسن بن زياد رَحِمَهُ الله قول دی.

د امام زفر دليل: دا دی چې حساب کونکي دغسې جملې ته ضرب وايي (يعني که يو څوک وايي چې يو په دوه کې نو عام په حساب پوه خلک له دې څخه د ضرب معنیٰ اخلي او له دې څخه دوه مرادوي)، لهذا دلته به هم د خاوند د ضرب نيت معتبر وي، او دوه طلاقه به واقع کيږي.

زموږ دليل: دا دی چې شيان پر دوه قسمه دي: يوه هغه دي چې طول، عرض او عمق درې سره لري، لکه اجسام، او دويم هغه دي چې هغوی دا يو شی هم نه لري، لکه غيرِ محسوسات، نو په اول قسم شيانو کې په

ضرب سره په مضروب (أصل عدد) کي زياتوب راځي، او په دويم قسم شيانو کي په ضرب سره نه په اجزاؤ کي زياتوب راځي، نه په مضروب کي، او طلاق له دويم قسم شيانو څخه دی، نو د أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةٌ فِي ثِنْتَيْنِ مطلب به دا وي "چي ته په دريو جزئونو والا طلاق سره (پرما) طلاقه يې" او د طلاق د اجزاؤ زياتوب د طلاق د زياتوب سبب نه جوړيږي، لکه مخکي چي موږ دې ته اشاره وکړه مثلاً که خاوند ښځي ته ووايي: ته (پرما) ديوه طلاق څلور حصې (څلور جزئه) يا پنځه حصې، يا اووه حصې، يا لس حصې..... طلاقه يې، نو فقط يو طلاق واقع کيږي، همداسي به دلته هم يو طلاق واقع کيږي.

وإن نوى واحدة إلخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده که خاوند په وَاحِدَة فِي ثِنْتَيْن سره د وَاحِدَة وَثِنْتَيْن نيت وکړي، نو دري طلاقه واقع کيږي؛ ځکه چي د خاوند کلام د دې معنیٰ احتمال هم لري، ځکه څرنګه چي "واو" د جمعيت لپاره راځي همداسي ظرف يعني "فی" هم د مظروف لپاره جامع (جمع کونکی) وي، نو په "واو" او "فی" کي يو ډول اتصال او اشتراک راغلی، همدا وجه ده که يو څوک "فی" ذکر کړي اوله هغه څخه د جمع د "واو" معنیٰ مراد کړي نو په دې کي هيڅ حرج نسته، دا د مدخول بها ښځي حکم دی، او پر غير مدخول بها ښځي په دې صورت کي فقط يو طلاق واقع کيږي، لکه د وَاحِدَة او ثِنْتَيْن د صراحت په صورت کي چي هم پر هغې فقط يو طلاق واقع کيږي.

وإن نوى واحدة مع إلخ: (۳)... دريمه مسئله دا ده که خاوند په وَاحِدَة فِي ثِنْتَيْن سره د مَعَ ثِنْتَيْن نيت وکړي، نو دري طلاقه واقع کيږي، ځکه چي د "فی" کلمه د "مع" په معنیٰ سره استعماليږي، لکه: فَادْخُلِيْ فِيْ عِبَادِي. أي مَعَ عِبَادِي.

ولو نوى الظرف: (۴)... څلورمه مسئله دا ده که خاوند په وَاحِدَة فِي ثِنْتَيْن سره د ظرف نيت وکړي، نو صرف يو طلاق واقع کيږي، ځکه چي طلاق د بل شي لپاره د ظرف جوړېدلو صلاحيت نه لري، نو ځکه به دويم لفظ يعني فِي ثِنْتَيْن لغو وي، او په وَاحِدَة سره به فقط يو طلاق واقع کيږي.

ولو قال اثنتين إلخ: (۵)... پنځمه مسئله دا ده که خاوند ووايي أنتِ طَالِقٌ إِثْنَتَيْنِ فِي اِثْنَتَيْن، او په دې سره د ضرب نيت وکړي، نو دوه طلاقه واقع کيږي، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز دري طلاقه واقع کيږي. د امام زفر دليل د عبارت په شروع کي تېر سو چي هغه د عرف اعتبار کوي او فرمايي چي د ضرب تقاضا خو همدغه ده چي دلته څلور طلاقه واقع سي، خو څرنګه چي تر دريو زيات طلاقونه راتلی نه سی، نو ځکه به دري طلاقه واقع کيږي، او زموږ دليل هم څه مخکي ذکر سو چي له طول، عرض او عمق څخه په خالي شي کي په ضرب سره د هغه اجزاء زياتيږي او د هغه په اصل عدد کي زياتوب نه راځي، نو ځکه به دې جمله سره فقط دوه طلاقه واقع کيږي. د دې عبارت وعند الاعتبار للمذكور الأول...إلخ همدغه مطلب دی.

په طلاق کې د غايت او مغيا ذکر کولو يو بل صورت

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ مِنْ هٰهُنَا إِلَى الشَّامِ او که [خاوند] ووايي، چې ته له دې ځای څخه د "شام" تر هيواده پورې [پر ما] طلاقه يې فَهِيَ وَاحِدَةٌ يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ نو دا يو طلاق دی د رجعت د ملکيت سره [يعني دا طلاقِ رجعي دی چې تر هغه وروسته به خاوند ته د رجعت حق حاصل وي] وَقَالَ زُفَرُ: هِيَ بَائِنَةٌ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا طلاقِ بائن دی لِأَنَّهُ وَصَفَ الطَّلَاقَ بِالطُّوْلِ ځکه چې خاوند طلاق په اوږدوالي [او لېرې والي] سره متصف کړی دی قُلْنَا: لَا بَلْ وَصَفَهُ بِالْقِصَرِ موږ وايو: چې نه! بلکې خاوند په لنډتوب [او ضُعف] سره متصف کړی دی لِأَنَّهُ مَتٰى وَقَعَ وَقَعَ فِي الْأَمَاكِنِ كُلِّهَا ځکه [طلاق] چې کله واقع کېږي نو په ټولو ځايونو کې واقع کېږي وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ بِمَكَّةَ أَوْفِي مَكَّةَ او که [خاوند] ووايي: ته په مکه سره طلاقه يې، يا په مکه کې [طلاقه يې] فَهِيَ طَالِقٌ فِي الْحَالِ فِي كُلِّ الْبِلَادِ نو ښځه فی الحاله [اوس] په هر ښار کې طلاقېږي وَكَذٰلِكَ لَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ فِي الدَّارِ او همدارنګه [فی الحاله طلاق واقع کېږي] که خاوند ووايي: ته په کور کې طلاقه يې لِأَنَّ الطَّلَاقَ لَا يَتَخَصَّصُ بِمَكَانٍ دُوْنَ مَكَانٍ ځکه چې طلاق نه خاص کېږي د يو مکان سره بغير له بل مکان څخه [يعني طلاق داسې نه دی چې د يوه مکان سره دې خاص وي او د بل مکان سره دې خاص نه وي] وَإِنْ عَنٰى بِهِ: إِذَا أَتَيْتُ مَكَّةَ او که هغه [په دې جملو سره] دا قصد وکړي: چې کله زه مکې ته راسم [نو ته پر ما طلاقه يې] يُصَدَّقُ دِيَانَةً لَا قَضَاءً نو دياتتاً به [د هغه] تصديق کېږي، نه قضاءً لِأَنَّهُ نَوَى الْإِضْمَارَ ځکه چې هغه د مخفي شي نيت وکړی وَهُوَ خِلَافُ الظَّاهِرِ او هغه خلاف د ظاهر دي [نو ځکه به دياتتاً د هغه تصديق کېږي] وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا دَخَلْتِ مَكَّةَ او که خاوند ووايي: چې کله ته مکې ته داخله سې نو ته طلاقه يې لَمْ تَطْلُقْ حَتّٰى تَدْخُلَ مَكَّةَ نو ښځه نه طلاقېږي تر دې چې مکې ته داخله سي لِأَنَّهُ عَلَّقَهُ بِالدُّخُوْلِ ځکه چې خاوند طلاق پر دخول [داخلېدلو] معلق کړی وَلَوْقَالَ: فِي دُخُوْلِ الدَّارِ او که خاوند [ورته] ووايي: چې کور ته د داخلېدلو په صورت کې [ته طلاقه يې] يَتَعَلَّقُ بِالْفِعْلِ نو طلاق د فعل [دخول] سره متعلق کېږي لِمُقَارَنَةٍ بَيْنَ الشَّرْطِ وَالظَّرْفِ ځکه چې شرط د ظرف سره متصل [او نژدې] دی فَحُمِلَ عَلَيْهِ عِنْدَ تَعَذُّرِ الظَّرْفِيَّةِ نو ځکه به هغه پر فعل حمل کېږي د ظرفيت د ناممکن والي په وخت کې.

اللغات: ﴿طُوْل﴾ اوږدوالی، ﴿قِصَر﴾ لنډوالی، کوچنی والی، کموالی، ﴿عَنٰى﴾ د ضرب ماضي ده: مرادول، مطلب اخيستل، ﴿إِضْمَار﴾ د افعال مصدر دی: پټول، ﴿عَلَّقَ﴾ د تفعيل ماضي ده: معلق کول، ﴿تَعَذُّر﴾ د تفعّل مصدر دی: يو کار مشکل کېدل، ناممکنه کېدل (ناممکن والی).

تشریح: په دې عبارت کې څلور مسئلې بیان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که خاوند خپلې ښځې ته په دې الفاظو سره طلاق ورکړي: أَنْتِ طَالِقٌ مِنْ هٰهُنَا إِلَى الشَّامِ، نو زموږ په نېز طلاقِ رجعي واقع کيږي، او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې طلاقِ رجعي نه، بلکې طلاقِ بائن واقع کيږي.

د امام زفر دليل: دا دی چې خاوند طلاق د طول په وصف سره متصف کړی دی، او طول د قوت او شدت په معنیٰ سره استعماليږي (يعني له کور څخه تر شام پورې طلاق اوږدول او ليرې کول ګواکې طلاق په شدت او قوت سره متصف کول دي)، نو دلته به د طول له وصف څخه قوت مراد وي، او د طلاق قوت همدغه دی چې تر هغه وروسته د رجعت حق پاته نه سي، نو ځکه به دلته طلاقِ بائن واقع کيږي.

موږ امام زفر رَحِمَهُ الله ته وايو چې داسې نه ده لکه ته چې وايې، ځکه که لږ غور وسي، نو معلومه به سي چې کله خاوند طلاق د طول په وصف سره متصف کړی (او د شام قيد يې ولګوی)، نو په طلاق کې قوت نه، بلکې قصر (لنډتوب) او ضعف پيدا سو، ځکه که هغه إِلَى الشام ويلي نه وای، نو په هر ځای او هر ملک کې به طلاق واقع کېدی، خو کله چې هغه إلى الشام ذکر کړی، نو ګواکې هغه تر محدود (او معين) مکان پورې طلاق خاص کړی (او په هغه کې قصر او اختصار پيدا سو)، نو د دې قصر په وجه به طلاقِ رجعي واقع کيږي، نه طلاقِ بائن.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که خاوند ښځې ته أَنْتِ طَالِقٌ بِمَكَّةَ يا فِيْ مَكَّةَ يا أَنْتِ طَالِقٌ فِي الدَّارِ ووايي (يعني خاوند د دخول پر شرط طلاق معلق نه کړي چې که ته مکې ته داخله سوې نو پر ما طلاقه يې، بلکې بېله شرطه ووايي چې ته په مکې سره پر ما طلاقه يې يا ته په مکه کې پر ما طلاقه يې...)، نو سمدستي طلاق واقع کيږي، او د دنيا په هر ښار، هر طرف او هر کور کې پر دغه ښځې طلاق واقع کيږي؛ ځکه چې طلاق د هيڅ زمان او مکان سره خاص نه دی، او داسې نه دی چې په ځينو ځايو کې طلاق واقع کيږي او په ځينو کې نه واقع کيږي، نو ځکه به سمدستي طلاق واقع کيږي. (هاا که خاوند مکې يا کور ته د دخول پر شرط طلاق معلق کړي، نو بيا هغه وخت طلاق واقع کيږي کله چې ښځه مکې مبارکې يا کور ته داخله سي).

وإن عنٰى إلخ: او که خاوند د أَنْتِ طَالِقٌ بِمَكَّةَ يا فِيْ مَكَّةَ په ويلو سره د إِذَا أَتَيْتُ مَكَّةَ اراده وکړي (يعني چې کله زه مکې مبارکې ته راسم، نو ته پر ما طلاقه يې، يعني په نيت کې په دې جمله سره طلاق د مکې پر إتيان او دخول معلق کړي)، نو په دې صورت کې به فقط ديانتاً د هغه خبره منل کيږي لېکن قضاءً به د هغه خبره نه منل کيږي؛ د دې وجه دا ده چې خاوند په ښکاره توګه بِمَكَّةَ او فِيْ مَكَّةَ وويل او د يو پټ شي يعني د إِذَا أَتَيْتُ مَكَّةَ نيت يې وکړی کوم چې د ظاهر خلاف دی (يعني په ښکاره د دې جملې په خلاف دې خو احتمال يې لري)، او مخکې ذکره سوه چې په خلافُ الظاهر (او احتمالي معنیٰ) کې به ديانتاً د خاوند خبره منل کيږي، نه قضاءً.

(۳)... دريمه مسئله دا ده که خاوند مکې ته د دخول پر شرط طلاق معلق کړي، نو په دې صورت کې حکم دا دی چې تر څو ښځه مکې ته داخله سوې نه وي تر هغه وخته پوري طلاق نه واقع کيږي؛ ځکه چې دلته خاوند طلاق پر شرط معلق کړی دی او د شرط او تعليق په هکله قاعده دا ده چې تر څو پوري شرط واقع نه سي تر هغه وخته پوري مشروط هم نه واقع کيږي، نو ځکه به مکې ته تر دخول مخکې پر ښځي طلاق نه واقع کيږي.

(۴)... څلورمه مسئله دا ده که خاوند ښځي ته داسي ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ فِيْ دُخُوْلِكِ الدَّارَ يعني "کور ته د داخليدلو په صورت کي ته پر ما طلاقه يې"، نو دا جمله د دوو صورتونو احتمال لري: ①... يو دا چې "فِيْ" د ظرف لپاره وګرځول سي، نو د دې جملې مطلب به دا وي چې طلاق په دخول (داخليدلو) کي دننه دی (يعني د کور په داخليدلو کي ته پر ما طلاقه يې)، او دا معنیٰ مرادول ممکن نه دي، ځکه چې دخول د طلاق لپاره ظرف نه سي جوړيدلای يعني طلاق په دخول کي نه سي دننه کېدلای، لهذا په دې جمله کي د ظرف معنیٰ مرادول متعذر او ناممکن دي، ②... دويم صورت دا دی چې پر دخول (فعل) باندي طلاق معلق کړی سي يعني پر شرط د دخول طلاق معلق کړی سي، دا صورت ممکن دي، او د ظرف سره مقارن او نژدې هم دی ځکه څرنګه چې شرط تر مشروط مخکې وي همدارنګه ظرف هم تر مظروف مخکې وي، نو د دې مقارنت او مقاربت په وجه به دلته طلاق د دخول پر فعل معلق کيږي او کله چې هم ښځه کور ته داخله سي نو په هغه وخت کي به پر هغې طلاق واقع کيږي.



فَصْلٌ فِيْ إِضَافَةِ الطَّلَاقِ إِلَى الزَّمَانِ

دا فصل د زمانې وطرف ته د طلاق د نسبت کولو په بيان کې دی

تشريح: يو شي ته د طلاق د نسبت کولو او د هغه سره د تشبيه ورکولو په سلسله کې صاحب د کتاب څو فصلونه بيان کړي دي، دا فصل د هغه سلسلې يوه کړۍ ده کوم چې به ستاسو په مخکې په ترتيب سره بيان سي.

د "أَنْتِ طَالِقٌ غَدًا" ويلو بيان

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ غَدًا او که خاوند ووايي: ته سبا [پر ما] طلاقه يې وَقَعَ عَلَيْهَا الطَّلَاقُ بِطُلُوْعِ الْفَجْرِ نو [د سبا ورځې] په طلوعُ الفجر [سهار کېدلو] سره طلاق پر هغې طلاق واقع کيږي لِأَنَّهُ وَصَفَهَا بِالطَّلَاقِ فِيْ جَمِيْعِ الْغَدِ ځکه چې [دلته] خاوند په ټوله سبا [ورځ] کې ښځه په طلاق سره متصفه کړې ده وَذٰلِكَ بِوُقُوْعِهِ فِيْ أَوَّلِ جُزْءٍ مِنْهُ او دا د سبا په اول جزء کې د طلاق په واقع کېدلو سره متحقق کيږي وَلَوْنَوٰى بِهِ آخِرَ النَّهَارِ او که خاوند په دې [أَنْتِ طَالِقٌ غَدًا] سره د ورځې د آخري حصې نيت وکړي صُدِّقَ دِيَانَةً لَا قَضَاءً نو ديانتاً به [د هغه] تصديق کيږي، نه قضاءً لِأَنَّهُ نَوَى التَّخْصِيْصَ فِي الْعُمُوْمِ ځکه چې خاوند په عموم کې د تخصيص نيت وکړی وَهُوَ يَحْتَمِلُهُ او هغه د دې احتمال [هم] لري لٰكِنَّهُ مُخَالِفًا لِلظَّاهِرِ لېکن هغه د ظاهر مخالف دی.

اللغات: ﴿غَد﴾ سبا، راتلونکې ورځ، ﴿التَّخْصِيْص﴾ خاصول (په دوو شيانو کې يو شی را ايستل او ځانګړی کول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند ښځې ته ووايي چې "ته سبا پر ما طلاقه يې!"، نو د سبا ورځې (غَد) د سپېدو چاودلو (طلوعُ الفجر) په وخت کې پر هغې طلاق واقع کيږي؛ ځکه چې خاوند مطلقاً د سبا ورځ ذکر کړې ده، نو د دې مطلب دا دی چې د سبا ورځې په هره حصه کې ته پر ما طلاقه يې، او په هره حصه کې اوله حصه (طلوعُ الفجر) هم داخله ده، نو ځکه به له اولې حصې څخه پر ښځې طلاق واقع کيږي.

او که خاوند داسې ووايي چې په سبا (غَد) سره ما د سبا ورځې د آخري حصې (مثلاً د ماځيګر) نيت کړی دی، نو دياناً به د هغه تصديق کيږي، خو قضاءً به د هغه تصديق نه کيږي؛ ځکه چې لفظ د غَد (سبا) عام دی او هغه ټوله وخت ته شامل دی کوم چې له طلوعُ الفَجر څخه تر غُرُوبُ الشَّمس پورې دی، لهذا د "غَد" لفظ دورځې د آخري جزء احتمال هم لري، خو څرنګه چې دغه احتمال د ظاهر خلاف دی (او په خلافُ الظاهر أمورو کې فقط دياناً تصديق کيږي)، نو ځکه به د قاضي په دبار کې د هغه خبره نه منل کيږي، فقط دياناً به د هغه خبره منل کيږي.

د طلاق يو څو مؤقت الفاظ

وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ الْيَوْمَ غَدًا أَوْ غَدًا الْيَوْمَ او که [خاوند] ووايي: ته نن ورځ سبا طلاقه يې! يا ته سبا ورځ نن [طلاقه يې!، يعني په يوه جمله کې دوه وختونه ذکر کړي] يُؤْخَذُ بِأَوَّلِ الْوَقْتَيْنِ الَّذِي تَفَوَّهَ بِهِ نو په دواړو وختونو کې به هغه وخت اخيستل کيږي چې په هغه سره خاوند اول تکلّم کړی وي [يعني په هغه وخت کې به طلاق واقع کيږي کوم چې خاوند اول ذکر کړی وي] فَيَقَعُ فِي الْأَوَّلِ فِي الْيَوْمِ وَفِي الثَّانِي فِي الْغَدِ نو په اول صورت کې به په الْيَوْمَ [نن ورځ] کې طلاق واقع کيږي او په دويم صورت کې به په غَد [سبا ورځ] کې طلاق واقع کيږي لِأَنَّهُ لَمَّا قَالَ: الْيَوْمَ كَانَ تَنْجِيزًا ځکه کله چې خاوند الْيَوْم ووايي نو دا تنجيز سو [يعني فی الحاله طلاقه واقع سوا] وَالْمُنَجَّزُ لَا يَحْتَمِلُ الْإِضَافَةَ او فی الحاله واقع کېدونکی شی د نسبت احتمال نه لري وَإِذَا قَالَ: غَدًا كَانَ إِضَافَةً او که [خاوند] ووايي: غَدًا نو دا به نسبت وي [يعني طلاق به د سبا ورځې وطرف ته منسوب وي] وَالْمُضَافُ لَا يَتَنَجَّزُ او منسوب سوی شی فی الحاله نه سي واقع کېدی لِمَا فِيهِ مِنْ إِبْطَالِ الْإِضَافَةِ ځکه چې په دې کې د نسبت باطلېدل دي فَلَغَا اللَّفْظُ الثَّانِي فِي الْفَصْلَيْنِ لهذا په دواړو صورتونو کې به دويم لفظ لغو کيږي.

اللغات: ﴿تَفَوَّهَ﴾ د تفعّل ماضي ده: ويل، تر خوله را ايستل، ﴿تَنْجِيز﴾ د تفعيل مصدر دی: فی الحاله او فوراً يو کار "کول" يا "کېدل".

تشريح: **مسئله:** دا ده که خاوند خپلې ښځې ته په دې الفاظو سره طلاق ورکړي: أَنْتِ طَالِقٌ الْيَوْمَ غَدًا يا أَنْتِ طَالِقٌ غَدًا الْيَوْمَ (يعني په يوه جمله کې د طلاق لپاره دوه وختونه ذکر کړي)، نو له دواړو وختونو څخه به هغه وخت مراديږي کوم چې اول خاوند ذکر کړی وي، نو په اوله جمله أَنْتِ طَالِقٌ

الیَوْمَ غَدًا کي الیَوْمَ مخکي دی نو په دې جمله سره به نن ورځ طلاق واقع کیږي، او په دویمه جمله کي غَدًا مخکي دی لهذا په دویمه جمله کي به د طلاق حکم د غَد وطرف ته منسوب کیږي او سبا به طلاق واقع کیږي.

دلیل دا دی چي کله په اوله جمله کي خاوند الیَوْمَ مخکي کړی نو فوراً او سملستي طلاق واقع سو، او دویم لفظ یعني غَدًا لغو سو، ځکه چي په مُنْجَز شي (یعني په سملستي واقع کېدونکي شي کي) د اضافت او نسبت احتمال نه پاتیږي، او په دویمه جمله کي چي کله خاوند غَدًا الیَوْمَ ذکر کړی نو د غَدًا د مخکي والي په وجه طلاق د غَد وطرف ته منسوب سو، او په منسوب کړی سوي طلاق سره فی الحاله طلاق نه سي واقع کېدای، ځکه چي په دې سره بیا دیو واقع سوي شي یعني د اضافت او نسبت باطلېدل لازمیږي کوم چي صحیح نه دي، نو ځکه به دلته الیَوْمَ لغو وي او طلاق به د غَد وطرف ته منسوب وي یعني سبا به طلاق واقع کیږي.

د طلاق یو څو مؤقت الفاظ

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ فِي غَدٍ او که [خاوند] ووایي: أَنْتِ طَالِقٌ فِي غَدٍ وَقَالَ: نَوَيْتُ آخِرَ النَّهَارِ او ووایي: چي په دې [غَد] سره ما د ورځي د آخري حصې نیت کړی دی دُيِّنَ فِي الْقَضَاءِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به په قضاء کي [یعني د قاضي په دربار او عدالت کي] د هغه تصدیق کیږي وَقَالَا: لَا يُدَيَّنُ فِي الْقَضَاءِ خَاصَّةً او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چي خصوصاً په قضا کي به د هغه تصدیق نه کیږي لِأَنَّهُ وَصَفَهَا بِالطَّلَاقِ فِي جَمِيعِ الْغَدِ ځکه چي هغه په غَد کي ښځه په طلاق سره متصفه کړې ده فَصَارَ بِمَنْزِلَةِ قَوْلِهِ: غَدًا نو دا داسي سو لکه خاوند چي ووایي: [أَنْتِ طَالِقٌ] غَدًا عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه مخکي چي موږ د دې بیان وکړی وَلِهَذَا يَقَعُ فِي أَوَّلِ جُزْءٍ مِنْهُ عِنْدَ عَدَمِ النِّيَّةِ او له همدې وجهي د نیت نه کولو په صورت کي د غَد په اول جزء کي طلاق واقع کیږي وَهَذَا لِأَنَّ حَذْفَ فِي وَإِثْبَاتَهُ سَوَاءٌ او دا

❁ القول الراجح: قول أبی حنیفة رَحِمَهُ الله كما ظهر من كلام المحق ابن الهمام رَحِمَهُ الله (فتح القدیر ج:۳،فص:۳۷۱)، وقال العلامة الحصكفی رَحِمَهُ الله : وبقوله أنت طالق غدًا أو فی غدٍ یقع عند طلوع الصبح وصح فی الثانی نیة العصر أی فی آخر النهار قضاءً وصدق فیهما دیانةً (الدر المختار ج:۲، ص:۴۷۸)، هكذا فی الهندیة (ج:۱، ص:۳۶۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۱۵]

[حكم] په دې وجه [دی] چې د "فِي" كلمه حنفول او هغه باقي ساتل دواړه سره برابر دي لِأَنَّهُ ظَرْفٌ فِي الْحَالَيْنِ ځکه چې په دواړو صورتونو کي هغه [غَد] د ظرف لپاره دی وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ نَوَى حَقِيقَةَ كَلَامِهِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې خاوند د خپل كلام د حقيقت نيت كړی دی لِأَنَّ كَلِمَةَ فِي لِلظَّرْفِ ځکه چې کلمه د "فِي" د ظرف لپاره ده وَالظَّرْفِيَّةُ لَا تَقْتَضِي الِاسْتِيعَابَ او ظرفيت د استيعاب تقاضا نه کوي [يعني دلته ظرفيت د ټولي ورځي د نيولو تقاضا نه کوي] وَتَعَيُّنُ الْجُزْءِ الْأَوَّلِ ضَرُورَةُ عَدَمِ الْمُزَاحِمِ او د اول جزء متعين کېدل د مزاحم د نشتوالي د ضرورت [او مجبورۍ] په وجه دي فَإِذَا عَيَّنَ آخِرَ النَّهَارِ نو کله چې خاوند د ورځي آخري حصه متعينه کړه كَانَ التَّعْيِينُ الْقَصْدِيُّ أَوْلَى بِالِاعْتِبَارِ مِنَ الضَّرُورِيِّ نو د تعيينِ ضروري [تعيينِ مجبوري] د اعتبار کولو په مقابله کي به د تعينِ قصدي اعتبار کول زيات غوره وي [بِخِلَافِ قَوْلِهِ: غَدًا په خلاف د خاوند د دې قول: [أَنْتِ طَالِقٌ غَدًا] لِأَنَّهُ يَقْتَضِي الِاسْتِيعَابَ ځکه چې هغه د استيعاب تقاضا کوي حَيْثُ وَصَفَهَا بِهَذِهِ الصِّفَةِ مُضَافًا إِلَى جَمِيعِ الْغَدِ ځکه چې خاوند [په هغه کي] ښځه په دغه صفت سره متصفه کړه په داسي حال کي چې هغه د ټوله غد وطرف ته منسوب [هم] دی نَظِيرُهُ: إِذَا قَالَ: وَاللهِ لَأَصُومَنَّ عُمُرِي او د دې مثال دا دی: [لکه] کله چې خاوند ووايي: وَاللهِ لَأَصُومَنَّ عُمُرِي وَنَظِيرُ الْأَوَّلِ: وَاللهِ لَأَصُومَنَّ فِي عُمُرِي او د اول [قول] مثال دا دی: وَاللهِ لَأَصُومَنَّ فِي عُمُرِي وَعَلَى هَذَيْنِ الدَّهْرَ وَفِي الدَّهْرِ او پر همدغه أصل الدَّهْر او فِي الدَّهْر هم [مبني] دي.

اللغات: ﴿إِسْتِيعَاب﴾ د استفعال مصدر دی: يو شی په پوره توګه نيول، (کنبپاسل)، ﴿مُزَاحِم﴾ د مفاعلې د باب اسم فاعل دی: مقابل، بل مُطالِب او مستحق، د يو شي په مقابله کي بل شی موجودېدل، ﴿نَظِير﴾ مثال، جمع: نَظَائِر، ﴿دَهْر﴾ زمانه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ فِي غَدٍ (چې ته سبا پر ما طلاقه يې!)، او بيا يې ووېل چې ما په غَدٍ (سبا) سره د ورځي په آخره حصه (ماښکر) کي د طلاق واقع کېدلو نيت کړی دی، نو امام صاحب په نېز به دياتتاً هم د هغه تصديق کيږي، او قضاءً هم، ليکن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې فقط دياتتاً به د هغه تصديق کيږي، نه قضاءً (يعني فقط دياتتاً

په دسبا دآخري جزء [ماځيګر] په باره کي به د هغه تصديق کيږي لېکن قضاءً به د سبا ورځي په اول جزء کي طلاق واقع کيږي).

د صاحبينو دليل: دا دی چي دلته خاوند په ټوله غَد (سبا ورځ) کي ښځه په طلاق سره متصفه کړې ده، نو أَنْتِ طَالِقٌ فِي غَدٍ داسي سو لکه خاوند چي ووايي أَنْتِ طَالِقٌ غَدًا، يعني ګواکي هغه په عموم کي د تخصيص نيت وکړی (لکه د باب په ابتدائي عبارت کي چي دا خبره ذکر سوه)، او په عموم کي تخصيص کول خلافُ الظاهر دي (او په خلافُ الظاهر أمورو کي فقط دياتناً تصديق کيږي). نو په دې وجه به قضاءً د هغه تصديق نه کيږي، بلکي فقط دياتناً به يې تصديق کيږي.

همدا وجه ده که خاوند د أَنتِ طَالِقٌ فِي غَدٍ د ويلو په وخت کي هيڅ نيت نه وکړي، نو بيا د "غَد" اول جزء (اوله حصه) د طلاق لپاره متعين کيږي (يعني بيا د ورځي په اوله حصه کي طلاق واقع کيږي)، ځکه چي طَالِقٌ فِي غَدٍ او طَالِقٌ غَدًا دواړه په يوه معنیٰ سره دي او د "فِي" ذکر کول او نه ذکر کول دواړه سره برابر دي، ځکه چي طلاق خو خامخا په يو وخت کي واقع کيږي، لهذا د حذف او إثبات په دواړو صورتونو کي لفظ د "غَد" (په دې جمله کي) د ظرف لپاره دی، نو معلومه سوه چي طَالِقٌ فِي غَدٍ او طَالِقٌ غَدًا دواړه سره مختلف نه دي بلکي دواړه په يوه درجه کي دي او په يوه معنیٰ سره دي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي په خلافُ الظاهر أمورو کي هغه وخت قضاءً تصديق نه کيږي کله چي دکلام د حقيقت نيت نه وي سوی، لېکن د کلام د حقيقت د نيت کولو په صورت کي قضاءً هم (د هغه) تصديق کيږي، او په دې جمله کي خاوند د خپل کلام د حقيقت نيت کړی دی، ځکه چي د "فِي" کلمه د ظرفيت لپاره راځي، او ظرفيت د مظروف د استيعاب تقاضا نه کوي (يعني د ورځي په "يوه جزء" د طلاق واقع کېدل په "ټوله ورځ" کي د طلاق واقع کېدلو تقاضا نه کوي). لهذا د غَد (سبا ورځي) دآخري حصې نيت کول د کلام د حقيقت نيت کول دي، نو ځکه به د هغه نيت معتبر وي. او قضاء به هم د هغه تصديق کيږي او د ورځي په آخر کي به طلاق واقع کيږي.

وتعين إلخ: صاحبينو دا خبره وکړه چي که خاوند د أَنتِ طَالِقٌ فِي غَدٍ د ويلو په وخت کي هيڅ نيت نه وکړي نو د غَد اول جزء (اوله حصه) د طلاق لپاره متعينه کيږي، په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ الله د هغه خبري ترديد کوي، حاصل يې دا دی چي د نيت نه کولو په صورت کي ځکه د غَد په اول جزء کي طلاق واقع کيږي چي د اول جزء هيڅ مقابل او مزاحم نه وي، او دا "تعيينِ ضروري" دی. يعني د

دغه نيت نه کولو په صورت کې د طلاق لپاره د غَد اول جزء متعين کول د ضرورت پر بناء دی. لېکن کله چې خاوند د نيت په ذريعه د غَد آخري جزء د طلاق واقع کېدلو لپاره متعين کړی نو دا "تعيين قصدي" سو، او ښکاره خبره ده چې د تعيينِ ضروري په مقابله کې تعيينِ قصدي او تعيينِ ارادي اولیٰ او اعلیٰ دی، نو ځکه به په همدغه آخري جزء کې طلاق واقع کيږي.

بخلاف قوله غدًا إلخ: صاحبينو وويل چې فی الغد او غَدًا دواړه سره برابر او مختلف نه دي، په دې عبارت سره د هغه ترديد کوي، فرمايي چې دواړه سره برابر نه دي بلکې دواړه سره جلا دي، ځکه چې غَدًا په تول غَد کې د مظروف (طلاق) د استيعاب مقتضي وي، لېکن فِي الغَد د مظروف د استيعاب مقتضي نه دي، لهذا يو پر بل قياسول او دواړه برابر ګڼل صحيح نه دي.

نظيره إلخ: له دې ځايه مصنف رَحِمَهُ الله په يوه مثال سره د فِي الغَد او غَدًا تر مينځ د اختلاف او فرق نور وضاحت کوي، فرمايي چې کله يو سړی ووايي: وَاللهِ لَأَصُوْمَنَّ عُمْرِیْ، نو په دې صورت کې به هغه تول عمر روژې نيسي، ځکه چې هغه دلته د "فِي" کلمه نه ده ذکر کړې، نو دا د مظروف د استيعاب تقاضا کوي، لېکن که هغه په وَاللهِ لَأَصُوْمَنَّ فِيْ عُمْرِیْ سره قسم وکړي، نو په دې صورت کې د مظروف استيعاب نه راځي (ځکه چې د "فِي" کلمه يې نه ده ذکر کړې)، لهذا په دې صورت کې د خپل عمر په يو څو اجزاؤ (ورځو) کې په روژه نيولو سره هم هغه له خپل قسم څخه بري کيږي، او الدَّهر او فِي الدَّهر هم پر پورتنۍ قاعدې مبني دي، يعني د لَأَصُوْمَنَّ الدَّهر ويلو په صورت کې به د استيعابُ المظروف په وجه تول زمانه هغه روژې نيسي، او د فِي الدَّهر په صورت کې د علمِ استيعاب په وجه د يو څو ورځو په نيولو سره هم هغه له خپل قسم څخه بري کيږي او غاړې يې خلاصيږي.

د "أَنْتِ طَالِقٌ أَمْسِ" ويلو مختلف صورتونه

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ أَمْسِ او که [خاوند] ووايي: ته پرون لا طلاقه وې! وَقَدْ تَزَوَّجَهَا الْيَوْمَ حال دا چې هغه نن د دې ښځې سره نکاح کړې وي لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ نو هيڅ طلاق نه واقع کيږي لِأَنَّهُ أَسْنَدَهُ إِلَى حَالَةٍ مَعْهُوْدَةٍ مُنَافِيَةٍ لِمَالِكِيَّةِ الطَّلَاقِ ځکه چې خاوند [دلته] طلاق د يو داسي حالت وطرف ته منسوب کړی دی کوم چې د طلاق د مالکيت منافي دی فَيَلْغُوْ نو ځکه به [د هغه کلام] لغو کيږي كَمَا إِذَا قَالَ:

أَنْتِ طَالِقٌ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ لکه اځرنګه چي په هغه صورت کي د خاوند کلام لغو کيږي؛ کله چي خاوند وايي: چي زما تر پيدا کېدلو مخکي ته طلاقه وې! وَلِأَنَّهُ يُمْكِنُ تَصْحِيحُهُ إِخْبَارًا عَنْ عَدَمِ النِّكَاحِ او په دې وجه [هم] چي د دې کلام صحيح کول ممکن دي د عدمِ نکاح په خبر ورکولو سره أَوْ عَنْ كَوْنِهَا مُطَلَّقَةً بِتَطْلِيقِ غَيْرِهِ مِنَ الْأَزْوَاجِ يا د يو بل خاوند په طلاق سره د دې ښځي د مطلقه کېدلو [په خبر ورکولو سره] وَلَوْ تَزَوَّجَهَا أَوَّلَ مِنْ أَمْسِ او که خاوند تر پرون ورځي مخکي هم د دې ښځي سره نکاح کړې وي وَقَعَ السَّاعَةَ نو په هغه ګړي طلاق واقع کيږي لِأَنَّهُ مَا أَسْنَدَهُ إِلَى حَالَةٍ مُنَافِيَةٍ ځکه چي هغه [دلته] د منافي حالت وطرف ته طلاق منسوب نه کړی وَلَا يُمْكِنُ تَصْحِيحُهُ إِخْبَارًا أَيْضًا او [د يو شي په خبر ورکولو سره د دې کلام تصحيح کول هم ممکن نه دي فَكَانَ إِنْشَاءً نو دا به [د طلاق] انشاء وي وَالْإِنْشَاءُ فِي الْمَاضِي إِنْشَاءٌ فِي الْحَالِ او په ماضي کي انشاء [کول] فی الحال انشاء وي فَيَقَعُ السَّاعَةَ نو ځکه به په هغه ګړي طلاق واقع کيږي.

اللغات: ﴿أَمْس﴾ پرون، تېره ورځ، ﴿أَسْنَدَ﴾ د افعال ماضي ده: نسبت کول، منسوبه کول، ﴿مَعْهُوْدَةٌ﴾ معروف، معلوم، ﴿السَّاعَةَ﴾ په هغه ګړي، دستي، ﴿إِنْشَاء فِي الْمَاضِي﴾ په تېره زمانه کي يو کار کولو ته إِنْشَاء فِي الْمَاضِي وايي، او په اوس (حال) زمانه يو کار کولو ته انشاء فی الحال وايي، مثلاً که اوس طلاق ورکړي نو دا فی الحاله د طلاق انشاء سوه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی نن ورځ د ښځي سره نکاح وکړي او بيا ورته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ أَمْسِ (چي ته پرون [يعني تېره ورځ] لا پر ما طلاقه وې!)، نو فرمايي چي په دې صورت کي يو طلاق هم نه واقع کيږي؛ ځکه د طلاق لپاره دا ضروري دي چي په کوم وخت کي سړی طلاق ورکوي په هغه وخت کي به سړی د خاوند د طلاق مالک وي يعني ښځه به د سړي په نکاح کي وي، او تېره ورځ ښځه دده په نکاح کي نه وه، هغه خو نن دده په نکاح کي راغله، لهذا دلته دغه سړي طلاق يو داسي حالت ته منسوب کړی چي په هغه حالت کي دئ د طلاق مالک نه دی، نو ځکه به د هغه کلام لغو وي او طلاق به نه واقع کيږي، لکه څرنګه چي يو سړی ووايي أَنْتِ طَالِقٌ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ (چي ته زما تر پيدا کېدلو مخکي لا پر ما طلاقه وې!)، نو په دې صورت کي هم طلاق نه واقع کيږي او د هغه کلام لغو کيږي، ځکه چي تر پيدا کېدلو مخکي ښځه د دې سړي په نکاح کي نه وه.

ولأنه إلخ: د أَنْتِ طَالِقٌ أَمْسِ دوه تأويله او دوه مطلبه نور هم کېدای سي، لهذا د طلاق واقع کېدل ضروري نه دي بلکي کېدای سي چي خاوند به د هغه مطلب خبر ورکوي، او په دې دواړو تأويلونو کي د هغه کلام د لغو کېدلو

شخه هم ساتل کیږي: ①... یو تأویل دا دی چي په دې جملې سره به د خاوند مطلب دا وي چي دا ښځه پرون مُطَلَّقة وه یعني پرېښوول سوې وه یعني بې نکاح پاته وه، ځکه چي د طلاق دویمه معنیٰ ده "پرېښوول او خلاصول"، او دا خبره حقیقت ده چي هغه پرون بې نکاح وه، ځکه نکاح خو یې نن وسوه، ②... دویم تأویل دا دی چي په دې جمله سره به د خاوند مطلب دا وي چي دا ښځه تر پرون ورځې پوري د بل خاوند مطلقه وه، او دا هم حقیقت جوړېدای سي چي تر پرون ورځې پوري هغه د بل چا مطلقه وي او نن به دغه سړي نکاح ور سره کړې وي، د دې دواړو احتمالاتو په وجه به هم نن پر ښځې طلاق نه واقع کیږي او هم به د سړي کلام د لغو کېدلو څخه خوندي سي.

ولو تزوجها الخ: او که خاوند د ښځې سره تر پرون (أمس) مخکي نکاح کړې وي او بیا ښځې ته ووایي: أَنْتِ طَالِقٌ أَمْسِ، نو په دې صورت کي فی الحاله پر ښځې یو طلاق واقع کیږي، ځکه چي د مخکي نکاح کولو په وجه دلته د عدم مالکیت وطرف ته د طلاق د نسبت کولو خرابي هم نسته او د هغه په کلام کي مخکني دوه تأویله هم نه سي کېدای، لهذا دلته به د خاوند کلام د انشاء له قبیلې څخه وي، او د انشاء په هکله د فقهاؤ قاعده دا ده چي د ماضي انشاء په اوس وخت (حال) کي هم إنشاء ده، یعني په تېره زمانه کي یو ثابت سوی حکم (د ضرورت پر بناء) اوس فی الحاله هم ثابتیږي، (د مثال په توګه که خاوند په تېره زمانه کي ښځې ته طلاق ورکړی وي، نو ښځې ته خو مخکي هیڅ خبر نه وو، نو د ناخبرتیا د ضرورت په وجه به اوس فی الحاله د خاوند په انشاء یعني طلاق ورکولو سره هغه پخوانی طلاق ثابتیږي او پر ښځې به واقع کیږي).

د طلاق یو څو نور الفاظ

وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ قَبْلَ أَنْ أَتَزَوَّجَكِ او که [خاوند] ووایي: ته طلاقه یې مخکي تر دې چي زه ستا سره نکاح وکړم لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ نو هیڅ طلاق نه واقع کیږي لِأَنَّهُ أَسْنَدَهُ إِلَى حَالَةٍ مُنَافِيَةٍ ځکه چي [دلته] خاوند طلاق د منافي حالت وطرف ته منسوب کړی دی فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: طَلَّقْتُكِ وَأَنَا صَبِيٌّ أَوْ نَائِمٌ او دا داسي سو لکه [خاوند] چي ووایي: ما هغه وخت تا ته طلاق درکړی کله چي زه کوچنی وم، یا بیده وم أَوْ يَصِحُّ إِخْبَارًا عَلَى مَا ذَكَرْنَا یا زموږ د ذکر سوو [تأویلونو] مطابق دا [کلام] خبر ګرځول [هم] صحیح دي وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ مَا لَمْ أُطَلِّقْكِ أَوْ مَتَى لَمْ أُطَلِّقْكِ أَوْ مَتَى مَا لَمْ أُطَلِّقْكِ او که [خاوند] ووایي چي: ته طلاقه یې تر څو چي زه تا ته طلاق نه درکړم یا تر کومه وخته چي زه تا ته طلاق نه درکړم وَسَكَتَ او [بیا] چپ پاته سي طَلُقَتْ نو [ښځه] طلاقیږي لِأَنَّهُ أَضَافَ الطَّلَاقَ إِلَى زَمَانٍ خَالٍ عَنِ التَّطْلِيقِ ځکه چي [دلته] خاوند داسي زمانې ته طلاق منسوب کړی کوم چي له طلاق ورکولو څخه خالي ده وَقَدْ وُجِدَ حَيْثُ سَكَتَ او کله چي هغه چپ پاته سو نو دا زمانه موجوده سوه [نو ځکه به طلاق واقع کیږي] وَهَذَا لِأَنَّ كَلِمَةَ مَتَى وَمَتَى مَا صَرِيحٌ فِي الْوَقْتِ ځکه چي کلمه د "متی" او

"مَتٰی مَا" د وخت په معنیٰ کې صريح ده لِأَنَّهُمَا مِنْ ظُرُوْفِ الزَّمَانِ ځکه چې دوی دواړه له ظروفِ زمان څخه دي وَكَذَا كَلِمَةُ "مَا" لِلْوَقْتِ او همداسې کلمه د "مَا" [هم] د وخت لپاره ده قَالَ اللهُ تَعَالىٰ: مَا دُمْتُ حَيًّا [مريم: ۳۱] أَيْ وَقْتَ الْحَيَاةِ ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: مَا دُمْتُ حَيًّا [تر څو چې زه ژوندی يم] يعني د ژوند تر وخته پورې.

اللغات: ﴿صَرِيْحٌ﴾ واضح، څرګند، ﴿دُمْتُ﴾ د نصر له باب څخه د واحد متکلم ماضي صيغه ده: همېشه پاتېدل، ثابت پاتېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته ووايي چې "ته (پر ما) ستا سره تر واده کولو مخکې طلاقه وې!"، نو په دې صورت کې هيڅ طلاق نه واقع کېږي؛ ځکه چې د طلاق واقع کېدلو لپاره د ښځې منکوحه کېدل ضروري دي، او تر واده مخکې هغه د دې سړي منکوحه نه ده، لهذا خاوند خپل کلام داسې حالت ته منسوب کړی کوم چې د طلاق د مالکيت منافي دی، نو ځکه به د هغه کلام لغو وي (لکه مخکې چې هم دا خبره ذکره سوه)، او څرنګه چې د طَلَّقْتُكِ وَأَنَا صَبِيٌّ يا نَائِمٌ ويلو په صورت کې پر ښځې طلاق نه واقع کېږي، همداسې به په دې مسئله کې هم پر ښځې طلاق نه واقع کېږي.

أو يصح إخبارا إلخ: د دې حاصل دا دی چې د خاوند په کلام کې دلته هم هغه مخکنې دوه مطلبه او دوه تأويله کېدای سي، يعني د دې مطلب به يا دا وي چې خاوند په دې سره ښځې ته خبر ورکوي چې ته زما سره تر واده کولو مخکې بې واده او بې نکاح وې، يا د بل خاوند مطلقه وې، نو په دې صورت کې طلاق هم نه واقع کېږي او د خاوند کلام د لغو کېدلو څخه هم ساتل کېږي.

ولو قال إلخ: دويمه مسئله دا ده که خاوند ښځې ته ووايي چې "تر څو چې زه تا ته طلاق نه درکړم يا تر کومه وخته چې زه تا طلاق نه درکړم، تر هغه وخته ته طلاقه يې"، او بيا خاوند څه غونډې وخت او زمانه خاموش سي (يعني لږ وخت چپ پاته سي او طلاق نه ورکړي) نو د خاوند د سکوت او چوپېدلو سره سمدستي پر ښځې طلاق واقع کېږي؛ ځکه چې دلته خاوند طلاق يو داسې زمانې ته منسوب کړی کوم چې له طلاق ورکولو څخه خالي وي، او څرنګه چې دا لږ زمانه هم د سکوت او چوپېدلو په وجه له طلاق څخه خالي سوه، نو ځکه به طلاق واقع کېږي.

وهذا إلخ: دا عقلي دليل دا دی چې د سکوت په زمانه کې (سمدستي) ځکه طلاق واقع کېږي چې کلمه د مَتٰی او مَتٰی مَا دواړه د وخت لپاره صريح ده، ځکه چې د دواړو تعلق د ظرف زمان سره دی، نو د خاوند د کلام مطلب دا سو "چې په کومه زمانه کې زه تا ته طلاق در نه کړم، ته طلاقه يې"، او تر چوپېدلو وروسته سمدستي د طلاقه نه ورکولو زمانه موجوده سوه، نو ځکه به طلاق واقع کېږي، او د مَا لفظ چې څرنګه د شرط د معنیٰ لپاره راځي همداسې د وخت د معنیٰ لپاره هم راځي، لکه په دې آيت کې چې د وخت په معنیٰ سره دی: ﴿وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا﴾ (يعني تر کومه وخته چې زه ژوندی يم، الله ما ته د لمونځ کولو او

زكاة وركولو حكم كړی دی)، خلاصه دا چې په دې مسئله کې چې خاوند کومو کلمو ته طلاق منسوب کړی دی هغه د وخت او زمانې سره تعلق لري، لهذا کله چې هم دغه وختونه د خاوند له منسوب کړی سوي طلاق څخه خالي سي، نو سملستي به طلاق واقع کيږي.

د "أَنْتِ طَالِقٌ إِنْ لَمْ أُطَلِّقْكِ" بيان

وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ إِنْ لَمْ أُطَلِّقْكِ او که [خاوند] ووايي: که چيري زه تا ته طلاق نه درکړم نو ته طلاقه يې! لَمْ تَطْلُقْ حَتَّى يَمُوتَ نو [ښځه] نه طلاقيږي تر دې چې خاوند مړ سي [يعني مرگ ته نژدې سي، مطلب دا چې کله خاوند له ژوند څخه نا اُميده سي (او د زنکدن حالت يې را ورسيږي) نو دا ښځه طلاقيږي] لِأَنَّ الْعَدَمَ لَا يَتَحَقَّقُ إِلَّا بِالْيَأْسِ عَنِ الْحَيَاةِ ځکه چې طلاق "نه ورکول" نه ثابتيږي مگر له ژوند څخه د نا اُميدی په وخت کې وَهُوَ الشَّرْطُ او همدا [خبره دلته] شرط ده كَمَا فِي قَوْلِهِ: إِنْ لَمْ آتِ الْبَصْرَةَ لکه څرنگه چې د خاوند په دې قول کې [هم دغه حکم دی]: إِنْ لَمْ آتِ الْبَصْرَةَ وَمَوْتُهَا بِمَنْزِلَةِ مَوْتِهِ او د ښځې مرگ د خاوند د مرگ په درجه کې دی هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح [قول] دی.

اللغات: ﴿الْيَأْس﴾ د سمع له باب څخه اسم مصدر دی: نا اُميدي، مايوسي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند ښځې ته ووايي "که چيري زه په خپل ژوند کې تا ته طلاق نه درکړم، نو ته طلاقه يې!"، نو په دې صورت کې هغه وخت طلاق واقع کيږي کله چې خاوند له ژوند څخه نا اُميده سي (او د مرگ حالت يې را نژدې سي) ځکه چې په همدغه وخت کې به معلومه سي چې هغه (په خپل ژوند کې) طلاق نه ورکړی، نو ځکه به تر مرگ لږ څه مخکې يعني د ژوند څخه د نا اُميدی (زنکندن) په وخت کې طلاق واقع کيږي، لکه په هغه صورت کې چې تر مرگ لږ څه مخکې طلاق واقع کيږي کله چې خاوند ووايي "که زه بصرې ته نه ولاړم، نو ته طلاقه يې"، نو په دې صورت کې به د خاوند تر مرگه پورې انتظار کيږي چې بصرې ته ولاړی که نه، او دا به د مرگ په وخت کې معلومه سي چې بصرې ته نه ولاړی، نو ځکه به تر مرگ لږ څه مخکې طلاق واقع کيږي، همداسي به دلته هم تر مرگ لږ څه مخکې طلاق واقع کيږي.

وموتها إلخ: د دې حاصل دا دی چې د ښځې مرگ هم د صحيح قول مطابق د سړي د مرگ په درجه کې دی، يعني څرنگه چې د خاوند تر مرگ لږ څه مخکې طلاق واقع کيږي، همداسي به د ښځې تر مرگ لږ څه مخکې طلاق واقع کيږي، ځکه چې د ښځې د مرگ په صورت کې هم دا خبره معلوميږي چې خاوند هغې ته طلاق نه ورکړی.

د "أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا لَمْ أُطَلِّقْكِ" بيان

وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا لَمْ أُطَلِّقْكِ أَوْ إِذَا مَا لَمْ أُطَلِّقْكِ او كه [خاوند] ووايي: كله چي زه تا ته طلاق در نه كړم نو ته طلاقه يې! لَمْ تَطْلُقْ حَتّٰى يَمُوتَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ * نو ښځه نه طلاقيږي تر دې چي خاوند مړ سي [يعني مرګ يې را نژدې سي] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَقَالَا: تَطْلُقُ حِينَ سَكَتَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: كله چي خاوند چوپ پاته سي نو [سمدستي] طلاقيږي لِأَنَّ كَلِمَةَ إِذَا لِلْوَقْتِ ځکه چي كلمه د "إِذَا" د وخت لپاره ده قَالَ اللهُ تَعَالٰى: إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ [التكوير: ١] الله تعالیٰ فرمايلي دي: كوم وخت چي لمر بې نوره [بې ځلا] سي وَقَالَ قَائِلُهُمْ: وَإِذَا تَكُوْنُ كَرِيهَةٌ أُدْعٰى لَهَا او يوه د دوی [شاعرانو] ويلي دي: كوم وخت چي يوه ستونزه پيښه سي نو د هغه لپاره زه راغوښتل كېږم وَإِذَا يُحَاسُ الْحَيْسُ يُدْعٰى جُنْدُبٌ او كله چي حلوا تياريږي نو [د هغه لپاره] جندب راغوښتل كيږي فَصَارَ بِمَنْزِلَةِ مَتٰى وَمَتٰى مَا نو ځکه دا [إِذَا] د مَتٰى او مَتٰى مَا په درجه كي سو وَلِهٰذَا لَوْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا شِئْتِ همدا وجه ده كه خاوند خپلي ښځي ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا شِئْتِ لَا يَخْرُجُ الْأَمْرُ مِنْ يَدِهَا بِالْقِيَامِ عَنِ الْمَجْلِسِ نو له مجلس څخه تر ولاړېدلو مخكي اختيار د هغې د لاس [ملكيت] څخه نه وځي كَمَا فِي قَوْلِهِ: مَتٰى شِئْتِ لكه د خاوند په دې قول كي [چي هم اختيار د ښځي له ملكيت څخه نه وځي]: مَتٰى شِئْتِ وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ كَلِمَةَ إِذَا تُسْتَعْمَلُ فِي الشَّرْطِ أَيْضًا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي كلمه د "إِذَا" په شرط كي هم استعماليږي قَالَ قَائِلُهُمْ: وَاسْتَغْنِ مَا أَغْنَاكَ رَبُّكَ بِالْغِنٰى يوه د شاعرانو ويلي دي: او بې پروا اووسه! تر څو چي ستا رب تا په مالدارۍ سره بې پروا وساتي وَإِذَا تُصِبْكَ خَصَاصَةٌ فَتَجَمَّلْ او كله چي ته په مسكنت [غربت] سره مبتلا سې نو ښكلی صبر اختيار كړه! فَإِنْ أُرِيدَ بِهِ الشَّرْطُ نو كه [دلته] په إِذَا سره شرط مراد كړی سي لَمْ تَطْلُقْ فِي الْحَالِ نو ښځه فی الحاله [سمدستي] نه طلاقيږي وَإِنْ أُرِيدَ بِهِ الْوَقْتُ او كه په هغه سره وخت مراد كړی سي تَطْلُقُ نو

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذُكِر في رد المحتار (ج:٢، ص:٤٨٢)، وكذا في الهندية (ج:١، ص:٣٧٠).[القول الراجح ج:١، ص:٢١٧]

[سمدتي] طلاق قيږي فَلَا تَطْلُقُ بِالشَّكِّ وَالاِحْتِمَالِ لهذا د شک او احتمال په وجه به هغه نه طلاقيږي [يعني دلته شک پيدا سو، په يوه معنیٰ او احتمال سره طلاقيږي او په بله معنیٰ او احتمال سره نه طلاقيږي، نو د دې شک او احتمال پر بناء به هغه اوس فی الحاله نه طلاقيږي] بِخِلَافِ مَسْأَلَةِ الْمَشِيْئَةِ په خلاف د مشيئت د مسئلې لِأَنَّهُ عَلَى اعْتِبَارِ أَنَّهُ لِلْوَقْتِ لَا يَخْرُجُ الْأَمْرُ مِنْ يَدِهَا ځکه چي [په هغه کي] په دې اعتبار چي إذًا د وخت لپاره [ومتل] سي اختيار د ښځي د لاس ځخه نه وځي وَعَلَى اعْتِبَارِ أَنَّهُ لِلشَّرْطِ يَخْرُجُ او په دې اعتبار چي هغه د شرط لپاره [ومنل] سي اختيار [د هغې له ملکيت ځخه] وځي وَالْأَمْرُ صَارَ فِي يَدِهَا او اختيار د ښځي لاس ته [مخکي لا] راغلی دی فَلَا يَخْرُجُ بِالشَّكِّ وَالاِحْتِمَالِ نو د شک او احتمال په وجه به هغه [د ښځي له ملکيت ځخه] نه وځي وَهٰذَا الْخِلَافُ فِيمَا إِذَا لَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ او دا اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي [خاوند] هيڅ نيت کړی نه وي أَمَّا إِذَا نَوَى الْوَقْتَ ليکن کله چي [خاوند] د وخت نيت وکړي يَقَعُ فِي الْحَالِ نو فی الحاله [سمدستي] طلاق واقع کيږي وَلَوْ نَوَى الشَّرْطَ او که د شرط نيت وکړي يَقَعُ فِي آخِرِ الْعُمُرِ نو د عمر په آخر کي طلاق واقع کيږي لِأَنَّ اللَّفْظَ يَحْتَمِلُهُمَا ځکه چي لفظ [د إذًا] د دواړو احتمال لري.

اللغات: ﴿كُوِّرَتْ﴾ د تفعيل له باب ځخه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهول صيغه ده: بې نوره کېدل، بې ځلا کېدل، تياره غوړېدل. ﴿كَرِيْهَة﴾ نا خوښه خبره، نا خوښه شی، مراد ځني ستونزه، مصيبت، جنګ او داسي نور دي. ﴿يُحَاسُ﴾ د ضرب له باب ځخه د واحد مذکر غائب مضارع مجهول صيغه ده: يو شی د بل شي سره يو ځای کول، رسي وودل، حَيْس پخول. ﴿حَيْس﴾ په عربو کي يو ډول حلوا ده چي له خرما، لاسي غوړو او نينو ځخه جوړېږي. ﴿جُنْدَب﴾ د يو سړي نوم دی. ﴿اسْتَغْنِ﴾ د استفعال له باب ځخه د أمر واحد مذکر حاضر صيغه ده: بې پروا کېدل (مستغني کېدل)، استغناء اختيارول. ﴿أَغْنَاكَ﴾ د افعال ماضي ده، متعدي باب دی: مالداره کول، شتمن کول. ﴿تُصِبْكَ﴾ د افعال له باب ځخه د واحد مذکر مخاطب صيغه ده. أَصَابَ يُصِيْبُ إِصَابَةً: (يو چا ته يو شی) رسېدل، (په يو شي مبتلا کېدل). ﴿خَصَاصَة﴾ تنګ لاسي، مسکنت، فقر او غربت. ﴿تَجَمَّلْ﴾ د تفعل له باب ځخه د امر حاضر صيغه ده: ښکلا اختيارول، مراد ځني په صبر ځان ښايسته کول دي (يعني صبر اختيارول).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی که خاوند د مَتٰی او مَتٰی مَا پر ځای د إِذَا او إِذَا مَا په فريمه طلاق ورکړي او داسې ووايي: "أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا لَمْ أُطَلِّقْکَ يَا إِذَا مَالَمْ أُطَلِّقْکَ. نو په دې دواړو صورتونو کې دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د خاوند تر مرګ (لږ څه) مخکې طلاق واقع کيږي، د دې په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې د خاوند په سکوت او چپېدلو سره (سملستي) طلاق واقع کيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې کلمه د إِذَا د وخت لپاره راځي، لهذا دا کلمه د مَتٰی او مَتٰی ما په معنیٰ سره سوه او د مَتٰی او مَتٰی ما په صورت کې د خاوند په سکوت سره (سملستي) طلاق واقع کيږي (لکه مخکې چې دا مسئله ذکر سوه)، نو ځکه به په دې صورت کې هم د خاوند په سکوت سره (سملستي) طلاق واقع کيږي.

او د دې خبري يو دليل (چې إِذَا د وخت لپاره راځي) دا آيت دی: إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ. د آيت ترجمه دا ده (کوم وخت چې لمر بې ځلا او بې نوره سي)، نو په دې آيت کې إِذَا د وخت لپاره دی، دويم دليل دا شعر دی:

إِذَا تَكُونُ كَرِيهَةٌ أُدْعٰى لَهَا   وَإِذَا يُحَاسُ الحَيْسُ يُدْعٰى جُنْدَبُ

د شعر ترجمه: کوم وخت چې يو مصيبت او ستونزه پيښه سي نو د هغه لپاره زه راغوښتل کيږم، او کوم وخت چې حلوا (او ډوډۍ) تيارېږي نو د هغه لپاره جندب ته بلنه ورکول کيږي.

په دې شعر کې يعني په إِذَا تَكُونُ كَرِيهَةٌ کې هم إِذَا د وخت لپاره استعمال سوی دی، له دې څخه معلومه سوه چې إِذَا او إِذَا مَا د وخت لپاره راځي، لهذا کله چې دوی د وخت لپاره راځي، نو د خاوند د کلام مطلب دا سو "کوم وخت چې زه طلاق نه درکړم، ته طلاقه يې"، او تر سکوت او چپېدلو وروسته سملستي د طلاق نه ورکولو وخت موجود سو، نو ځکه به سملستي طلاق واقع کيږي.

ولهذا لوقال إلخ: او دريم دليل د دې خبري (چې إِذَا د وخت لپاره راځي) دا دی چې که خاوند ښځي ته داسې ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا شِئْتِ (کله چې ته وغواړې، نو ته طلاقه يې)، نو دا د مَتٰی شِئْتِ ويلو په معنیٰ سره دي، يعني څرنګه چې د مَتٰی شِئْتِ ويلو په صورت کې ښځي لره تر مجلس وروسته هم (خپل ځان ته د طلاق ورکولو) اختيار پاتېږي، همداسې د إِذَا شِئْتِ په صورت کې هم ښځي لره دغه اختيار پاتېږي (نو که چيري دلته إِذَا د وخت لپاره وای نو بيا به فقط په مجلس کې ښځي لره [خپل

ځان ته د طلاق ورکولو اختيار وي، حالانکي داسي نه ده، بلکي تر مجلس وروسته هم هغې لره اختيار پاتيږي) او پر دې ټوله امامان متفق دي، لهذا څرنګه چي په إذَا شِئْتِ کي إذَا د وخت په معنیٰ سره دی، همدارنګه به په پورتنۍ جمله (يعني د خاوند په کلام) کي هم إذَا د وخت په معنیٰ سره وي، او د خاوند د چپيدلو سره به متصل (سمدستي) طلاق واقع کيږي

د امام صاحب دليل: دا دی چي موږ ستاسو خبره منو چي إذا د وخت لپاره راځي خو دا خبره هم منل سوې ده چي اذا د شرط لپاره هم راځي، دليل دا شعر دی:

وَاسْتَغْنِ مَا أَغْنَاكَ رَبُّكَ بِالْغِنٰى   وَإِذَا تُصِبْكَ خَصَاصَةٌ فَتَجَمَّلْ

د شعر ترجمــه: تر کومه وخته چي ستا رب تا په مالداری سره مستغني وساتي، تر هغه وخته مستغني اووسه! او کله چي په تنګ لاسی (مسکنت) مبتلا سې، نو صبرِ جميل اختيار کره.

په دې شعر کي إذَا د شرط په معنیٰ سره دی، همدا وجه ده چي تُصِبْكَ د شرط پر بناء مجزوم دی، که چيري دلته إذَا شرطيه نه وای نو د تُصِبْكَ پر ځای به تُصِيْبُكَ وای، معلومه سوه چي إذَا وقتيه (يعني د وخت لپاره) هم راځي او شرطيه هم راځي، نو که دلته إذَا وقتيه ومنل سي، سمدستي طلاق واقع کيږي، او که شرطيه ومنل سي نو د عمر په آخر کي (تر مرګ لږ څه مخکي) طلاق واقع کيږي، لنډه دا چي دلته د طلاق په واقع کېدلو کي شک او احتمال پيدا سو، او د شک په وجه طلاق نه واقع کيږي، نو ځکه موږ وايو چي فی الحاله (سمدستي) طلاق نه واقع کيږي، همدا د احتياط تقاضا ده، ځکه چي طلاق أَبْغَضُ الْمُبَاحَات دی او ډېره أهمه معامله ده، نو احتياط په دې کي دی چي د عمر په آخر کي دا أَبْغَضُ الْمُبَاحَات واقع سي.

بخلاف مسألة المشية إلخ: صاحبينو په خپل دليل کي ورېل چي په أَنْتِ طَالِقٌ إذَا شِئْتِ کي د ټولو په نېز د إذَا د وخت په معنیٰ سره دی (او تر مجلس وروسته هم ښځي لره اختيار پاتيږي) نو ځکه به په پورتنۍ جمله کي هم إذَا د وخت لپاره وي، په دې عبارت سره د هغه قياس جواب ورکوي فرمايي چي پر دې قياس کول صحيح نه دي؛ ځکه ښکاره خبره ده چي کله په إذَا شِئْتِ کي إذَا وقتيه ومنل سي نو تر مجلس وروسته د ښځي اختيار نه ختميږي، او که شرطيه ومنل سي نو د هغې اختيار ختميږي (مطلب دا چي دلته هم د طلاق په وقوع کي شک پيدا سو)، او دا خبره تسليم سوې ده چي

د خاوند د اختيار ورکولو په وجه دلته هغې ته په يقيني توګه اختيار حاصل سوی دی، نو د شک او احتمال په وجه د هغې دغه اختيار نه ختميږي، ځکه دا مشهوره قاعده ده چې "اَلْيَقِيْنُ لَا يَزُوْلُ بِالشَّكِّ".

وهذا الخلاف إلخ: د امام صاحب او صاحبينو دا اختلاف په هغه صورت کي دی کله چې خاوند په پورتنۍ جمله إِنْتِ طَالِقٌ إِذَا إلخ سره هيڅ نيت کړی نه وي، او که نيت يې کړی وي، نو بيا به د هغه د نيت مطابق فيصله کيږي، ځکه چې نيت د "تَمْيِيز أَحَدِ الْأَمْرَيْن" لپاره (يعني په دوو أمرونو کي د يو أمر د عليحده کولو او جلا کولو لپاره) وضع سوی دی، نو که خاوند په إِذَا سره د وخت نيت وکړي، نو سمدستي به طلاق واقع کيږي، او که د شرط نيت وکړي، نو د عمر په آخر کي به طلاق واقع کيږي، او د دې وجه دا ده (يعني دواړه نيتونه ځکه صحيح دي) چې کلمه د إِذَا د وخت او شرط دواړو احتمال لري، لهذا کوم احتمال چې خاوند مراد کړي هغه به متعين کيږي.

د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ مَالَمْ أُطَلِّقْكِ ـ أَنْتِ طَالِقٌ او که [خاوند] ووايي: ته طلاقه يې په کوم وخت کي چې زه تا ته طلاق نه درکړم – ته طلاقه يې فَهِيَ طَالِقٌ بِهٰذِهِ التَّطْلِيقَةِ نو ښځه په دغه [وروستني] طلاق سره طلاقه کړځي مَعْنَاهُ: قَالَ ذٰلِكَ مَوْصُوْلًا بِهٖ د دې معنیٰ دا ده: چې [کله] خاوند دغه وروستنی "أَنْتِ طَالِقٌ" د هغه [اولي جملې] سره متصل ووايي وَالْقِيَاسُ: أَنْ يَقَعَ الْمُضَافُ او قياس دا دی: چې منسوب سوی طلاق [يعني د اولي جملې طلاق] هم واقع سي فَيَقَعَانِ نو دوه طلاقه به واقع کيږي إِنْ كَانَتْ مَدْخُوْلًا بِهَا که چيري [ښځه] مدخول بها وي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّهٗ وُجِدَ زَمَانٌ لَمْ يُطَلِّقْهَا فِيهِ ځکه چې [دلته] داسي څه وخت موجود سو چې په هغه کي [خاوند] ښځي ته طلاق نه ورکړی وَإِنْ قَلَّ که څه هم هغه وخت [ډېر] لږ دی وَهُوَزَمَانُ قَوْلِهٖ أَنْتِ طَالِقٌ قَبْلَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْهَا او هغه د أَنْتِ طَالِقٌ ويلو وخت دی مخکي تر دې چې خاوند له دې [أَنْتِ طَالِقٌ] څخه فارغ سي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّ زَمَانَ الْبِرِّ مُسْتَثْنًى عَنِ الْيَمِيْنِ بِدَلَالَةِ الْحَالِ د استحسان دليل دا دی: چې په دلالت د حال سره د قسم پوره کولو زمانه له قسم څخه مستثنیٰ ده لِأَنَّ الْبِرَّهُوَ الْمَقْصُوْدُ ځکه چې همدا د قسم "پوره کول" مقصود دي [يعني له قسم څخه ځان بري کول مطلوب دي] وَلَا يُمْكِنُهٗ تَحْقِيْقُ الْبِرِّ إِلَّا أَنْ يَجْعَلَ

هٰذَا الْقَدْرَ مُسْتَثْنًى او د هغه لپاره د قسم پوره کول ثابتول ممکن نه دي مګر [په هغه وخت کې] چې دومره اندازه [وخت] مستثنیٰ وګرځول سي وَأَصْلُهُ: مَنْ حَلَفَ لَا يَسْكُنُ هٰذِهِ الدَّارَ او اصل د دې [اختلاف] دا دی: چې کوم څوک قسم وکړي چې هغه به په دې کور کې نه اوسیږي فَاشْتَغَلَ بِالنُّقْلَةِ مِنْ سَاعَتِهِ او [بیا] په هغه ګړي د سامان په نقل کولو مشغول سي وَأَخَوَاتُهُ عَلٰى مَا يَأْتِيكَ فِي الْأَيْمَانِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او د دې نور مثالونه [هم سته] چې هغه به انشاء الله په كِتَابُ الأَيْمَان كې تا ته راسي.

اللغات: ﴿مَوْصُوْل﴾ د ضرب د باب مفعول دی: وصل سوی، متصل، ﴿الْبَـرّ﴾ له قسم څخه بري کېدل یعني خپل قسم پوره کول (او خپلي غاړي خلاصول)، ﴿النَّقْلَةَ﴾ د نَقْلٌ اسم مرة دی: يو وار نقل کول، يو شی له يوه ځای څخه بل ځای ته نقل کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته د أَنْتِ طَالِقٌ مَا لَمْ أُطَلِّقْكَ تر ویلو وروسته سمدستي أَنْتِ طَالِقٌ ووايي، نو په دې صورت کې استحساناً په دغه وروستني (آخري) أَنْتِ طَالِقٌ سره يو طلاق واقع کيږي، کنې د قياس تقاضا خو دا ده چې په مخکني أَنْتِ طَالِقٌ سره چې د مَا لَمْ أُطَلِّقْكَ وطرف ته کوم طلاق منسوب سوی دی هغه طلاق دي هم واقع سي او وروستني أَنْتِ طَالِقٌ دي هم واقع سي، يعني د قياس تقاضا دا ده چې په دې جمله سره دي دوه طلاقه واقع سي، په دې شرط چې ښځه مدخول بها وي، ځکه که مدخول بها نه وي، نو په اول طلاق سره هغه بائنه ګرځي او د دويم طلاق لغو کيږي، همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی.

د امام زفر دليل: د قياس او امام زفر دليل دا دی چې: دلته چې خاوند په أَنْتِ طَالِقٌ مَا لَمْ أُطَلِّقْهَا سره کوم طلاق پر عدمِ تطليق معلق کړی دی، که څه هم تر هغه وروسته متصلاً (سمدستي) خاوند طلاق ورکړی دی، خو بيا هم د دويم أَنْتِ طَالِقٌ ويلو په دوران کې دومره خالي وخت موجود سو چې په هغه کې پر مَا لَمْ أُطَلِّقْكَ معلق طلاق واقع سي، ځکه که څه هم خاوند وروستنی أَنْتِ طَالِقٌ د مَا لَمْ أُطَلِّقْكَ سره متصلاً ويلی دی، لېکن د دې باوجود د أَنْتِ طَالِقٌ د شپږو حروفو يعني د "أَنْتِ طَالِ" د اداء کولو وخت خَالٍ عَنِ التَّطْلِيقِ دی، لهذا د دې الفاظو تر اداء کولو مخکي به په هغه لږ غوندي

وخت کي طلاقِ معلق واقع کيږي، او څرنګه چي وروستنی أَنْتِ طَالِقٌ مطلق دی، نو په هغه سره به هم يو طلاق واقع کيږي او ټوله به دوه طلاقه واقع کيږي.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان دليل دا دی چي کله خاوند په أَنْتِ طَالِقٌ مَا لَمْ أُطَلِّقْكِ سره له قسم څخه د بري کېدلو اراده وکړه، نو تر قسم وروسته هغه ته خامخا دومره وخت ورکول پکار دي چي په هغومره وخت کي خاوند خپل قسم پوره کړی سي او له قسم څخه بري سي، ځکه چي د هغه مقصد همدغه دی چي خپل قسم پوره کړي او له قسم څخه بري سي، لهذا تر أَنْتِ طَالِقٌ مَا لَمْ أُطَلِّقْكِ وروسته چي کوم أَنْتِ طَالِقٌ دی، هغه له قسم څخه د بري کېدلو وخت دی او د طلاق نه ورکولو څخه خالي وخت نه دی چي په هغه کي معلق طلاق واقع کړی سي، نو ځکه به معلق طلاق نه واقع کيږي، او فقط په وروستني أَنْتِ طَالِقٌ سره به يو طلاق واقع کيږي.

وأصله إلخ: فرمايي چي زموږ او د امام زفر رَحِمَهُ الله تر مينځ اصل اختلاف د يمين په مسئله کي دی، مثلاً که يو سړی قسم وکړي چي "زه به په دې کور کي نه اوسېږم"، او تر هغه وروسته متصلاً له هغه کور څخه د خپل سامان په راټولولو او نقل کولو باندي مشغول سي، نو د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز هغه حانث کيږي، ځکه چي تر قسم وروسته هغه په دې کور کي پاته سو، ليکن زموږ په نيز نه حانث کيږي، ځکه چي تر قسم وروسته هغه ته دومره وخت خامخا ورکول پکار دي چي په هغه کي دئ خپل سامان راټول او جمع کړي او خپل قسم پوره کړي، او څرنګه چي په دې مسئله کي هم کله خاوند پر عدمِ تطليق د طلاق تر معلق کولو سروسته د شپږو حروفو په اندازه له عدمِ تطليق څخه منع سو، نو ځکه به د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز فوراً طلاق واقع کيږي، او څرنګه چي زموږ په نيز دا وخت د هغه لپاره د قسم پوره کولو او له قسم څخه د ځان بري کولو وخت دی، نو د عدمِ تطليق زمانه موجوده نه سوه، نو په دې وجه به فقط يو طلاق واقع کيږي.

د دې مسئلې نور صورتونه به په تفصيلي توګه انشاء الله په كِتَابُ الأَيْمَان کي ذکر سي. فَانْتَظِرُوْا إِنِّيْ مَعَكُمْ مِنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ

د "أَنْتِ طَالِقٌ يَوْمَ أَتَزَوَّجُكِ" بيان

وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَةٍ: يَوْمَ أَتَزَوَّجُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ او کوم څوک چي ښځي ته ووايي: په کومه ورځ چي زه ستا سره نکاح [واده] وکړم نو ته [پر ما] طلاقه يې فَتَزَوَّجَهَا لَيْلًا بيا [خاوند] په شپه کي د هغې سره نکاح وکړي طَلُقَتْ نو [هم] ښځه طلاقيږي لِأَنَّ الْيَوْمَ يُذْكَرُ وَيُرَادُ بِهِ بَيَاضُ النَّهَارِ ځکه يَوْم [چي کله] ذکر کيږي [نو] په هغه سره [په عام عُرف کي] د ورځي سپينوالی [رڼا] مراديږي فَيُحْمَلُ عَلَيْهِ إِذَا قُرِنَ

بِفِعْلٍ يَمْتَدُّ كَالصَّوْمِ وَالْأَمْرِ بِالْيَدِ نو به [يَوْم] د ورځې پر سپينوالي حمل كيږي كله چې هغه د ممتد فعل سره متصل وي، لكه روژه او د ښځې اختيار لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ الْمِعْيَارُ ځكه چې [په دې صورت كې] په دې سره معيار مراديږي وَهٰذَا أَلْيَقُ بِهِ او د ورځې سپينوالى [بياضِ نهار] د دې زيات لائق دى وَيُذْكَرُ وَيُرَادُ بِهِ مُطْلَقُ الْوَقْتِ او [كله نا كله] يَوْم ذكر كيږي او له هغه څخه مطلق وخت مراديږي قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ [الأنفال: ١٦] الله تعالىٰ فرمايلي دي: وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ... (او كوم څوك چې په دغه ورځ [د جنګ] شا وګرځوي كفارو ته...) وَالْمُرَادُ بِهِ مُطْلَقُ الْوَقْتِ او [دلته] په يَوْم سره مطلق وخت مراد دى فَيُحْمَلُ عَلَيْهِ إِذَا قُرِنَ بِفِعْلٍ لَا يَمْتَدُّ نو به [يَوْم] پر مطلق وخت حمل كيږي كله چې هغه د غيرِ ممتد فعل سره متصل وي وَالطَّلَاقُ مِنْ هٰذَا الْقَبِيلِ او طلاق له همدغه قبيلې څخه دى فَيَنْتَظِمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ نو به شپې او ورځې دواړو ته شامل وي وَلَوْ قَالَ: عَنَيْتُ بِهِ بَيَاضَ النَّهَارِ خَاصَّةً او كه [خاوند] ووايي: چې په دې [يَوْم] سره ما خاص د ورځې سپينوالى مراد وو دُيِّنَ فِي الْقَضَاءِ نو قضاءً به [د هغه] تصديق كيږي لِأَنَّهُ نَوَى حَقِيقَةَ كَلَامِهِ ځكه چې هغه د خپل كلام د حقيقت نيت كړى دى وَاللَّيْلُ لَا يَتَنَاوَلُ إِلَّا السَّوَادَ او لفظ د لَيْل فقط [د شپې] او تيارې ته شامل دى وَالنَّهَارُ يَتَنَاوَلُ الْبَيَاضَ خَاصَّةً او لفظ د نَهَار فقط [د ورځې] سپينوالي [رڼا] ته شامل دى وَهٰذَا هُوَ اللُّغَةُ او همدا لغت دى [يعني په لغت كې د دوى تعريفونه همدا دي].

اللغات: ﴿بَيَاض﴾ سپينوالى، رڼا، ځلا. ﴿يَمْتَدّ﴾ د افتعال مضارع ده: اوږديدل، زياتيدل. ﴿أَلْيَق﴾ زيات لائق، زيات مناسب. ﴿خَاصَّةً﴾ په ځانګړې توګه، خصوصاً، خاص. ﴿سَوَاد﴾ تور والى، تاريكي، تياره.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه يوې ښځې ته يو سړى داسې ووايي: يَوْمَ أَتَزَوَّجُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ (چې په كومه ورځ زه ستا سره نكاح وكړم، نو ته طلاقه يې)، بيا هغه د ښځې سره د شپې په وخت كې نكاح وكړي، نو هم طلاق واقع كيږي؛ د دې مسئلې دليل د يو أصولي بحث سره تعلق لري، اولاً تاسو په دې خبره ځان پوه كړئ! چې دلته درې لفظونه ذكر سوي دي: نَهَار، لَيْل، يَوْم. نَهَار د لغت په اعتبار سره د خالص بَيَاض (رڼا) لپاره دى، او د دې اطلاق پر هغه وخت كيږي كوم چې د لمر راختو (طُلُوْعُ الشَّمْس) څخه تر لمر لوېدو (غُرُوْبُ الشَّمْس) پورې وي، او لَيْل د خالص سَوَاد لپاره دى، او د دې اطلاق پر هغه وخت كيږي كوم چې د لمر لوېدو څخه تر لمر راختو پورې وي، او د يَوْم په باره كې د ځينو رايه دا ده چې يَوْم د بياضِ نهار او د


مطلق وخت په مينځ کې مشترک دی (يعني د ځينو رايه دا ده چې لفظ د يَوْم د نهار بياض لپاره هم استعماليږي او د مطلق وخت لپاره (يعني که شپه وي او که بياضِ نهار وي د هغه لپاره) هم استعماليږي، (له بياضِ نهار څخه د ورځې د رڼا حالت مراد دی کوم چې له سهار څخه شروع کيږي او ماښام ختميږي)، او د اکثرو رايه دا ده چې يَوْم د بياضِ نهار لپاره حقيقت دی او د مطلق وخت لپاره مجاز دی.

او په دواړو صورتونو کې لفظ د يَوْم ظرف دی، او په دې دواړو احتمالو کې به يوه احتمال ته د قرينې په وجه ترجيح ورکول کيږي، او له قرينې څخه مراد يوه قاعده ده، قاعده دا ده چې لفظ د يَوْم به د فعل ممتد سره متصل وي (يعني يا داسې فعل ته به مضاف او منسوب وي چې د هغه په پوره کولو کې څه وخت لګيږي، لکه روژه، او د ښځې لپاره د طلاق اختيار او داسې نور)، يا به د فعلِ غير ممتد سره متصل وي (يعني يا به داسې فعل او کار ته منسوب وي چې د هغه په پوره کولو کې څه وخت نه لګيږي، لکه داخلېدل، راتلل، وتل، دا ټوله د يوې ثانيې کارونه دي)، که چيرې د فعل ممتد سره متصل وي، نو له يَوْم څخه به مراد بياضِ نهار وي، او همدغه به متعين او راجح وي، ځکه چې په دې صورت کې به له يَوْم څخه مراد معيار وي، او بياض نهار د معيار جوړېدلو زيات لائق دی (او له معيار څخه مراد هغه زمانه ده چې ټوله کار لره مشتمله وي يعني کار هغه زمانه ټوله نيولې وي، لکه يَوْم چې د روژې لپاره معيار دی، ځکه چې يَوْم (ورځ) ټولې روژې لره مشتمله ده او روژې ټوله ورځ نيولې ده).

او که لفظ د يَوْم د فعلِ غيرِ ممتد سره متصل وي، نو له يَوْم څخه به مراد مطلق وقت وي، لکه په دې آيت ﴿وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ﴾ کې چې له يَوْم څخه مطلق وخت مراد دی، او طلاق هم د فعلِ غيرِ ممتد له قبيلې څخه دی، نو کله چې د طلاق سره يَوْم متصل سي، نو بيا به له يَوْم څخه مطلق وخت مراد وي، لهذا په يَوْمَ أَتَزَوَّجُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ کې به هم له يَوْم څخه مطلق وخت مراد وي او د ورځې او شپې په کوم وخت کې چې هم خاوند د ښځې سره نکاح وکړي، طلاق به واقع کيږي.

ولوقال إلخ: فرمايي که خاوند په دې جمله سره خاص د بياضِ نهار نيت کړی وي، نو قضاءً به هم د هغه تصديق کيږي (يعني د قاضي په دربار کې به هم د خاوند د نيت مطابق فيصله کيږي)، ځکه چې هغه د خپل کلام د حقيقت نيت کړی دی (ځکه چې د خاوند په دې کلام کې په پوره توګه د بياضِ نهار احتمال هم سته) او د خپل کلام د حقيقت مرادولو او د هغه د نيت کولو اختيار هر چالره سته.

والليل إلخ: د دې حاصل او خلاصه موږ د تشريح په شروع کې ذکر کړه.



فَصْلٌ

تشريح: دا فصل د ښځو و طرف ته د طلاق د نسبت کولو په بيان کې دی، د دې فصل د عليحده ذکر کولو وجه دا ده چې د خلګو و طرف د طلاق نسبت او اضافت کول أصل دی، او د ښځو و طرف ته د طلاق په نسبت کولو کې د دغه اصل مخالفت لازميږي، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله دا فصل جلا بيانوي.

د "أَنَا مِنْكِ طَالِقٌ" بيان

وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: أَنَا مِنْكِ طَالِقٌ او کوم څوک چې خپلې ښځې ته ووايي: زه ستا څخه طلاق يم فَلَيْسَ بِشَيْءٍ نو [دا] هيڅ شی هم نه دي [يعني په دې سره هيڅ طلاق نه واقع کيږي] وَإِنْ نَوَى طَلَاقًا که څه هم [په دې سره] خاوند د طلاق نيت کړی وي وَلَوْ قَالَ: أَنَا مِنْكِ بَائِنٌ أَوْ أَنَا عَلَيْكِ حَرَامٌ يَنْوِي الطَّلَاقَ او که [خاوند] ووايي: زه له تا څخه بائن يم يا پر تا حرام يم او نيت يې د طلاق وي فَهِيَ طَالِقٌ نو هغه طلاقه ده [يعني طلاقيږي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَقَعُ الطَّلَاقُ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ أَيْضًا إِذَا نَوَى او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په اول صورت کې هم طلاق واقع کيږي که چيرې [خاوند] د طلاق نيت وکړي لِأَنَّ مِلْكَ النِّكَاحِ مُشْتَرَكٌ بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ ځکه چې ملکيت د نکاح د خاوند او ښځې په مينځ کې مشترک دی حَتَّى مَلَكَتِ الْمُطَالَبَةَ بِالْوَطْءِ كَمَا يَمْلِكُ هُوَ الْمُطَالَبَةَ بِالتَّمْكِينِ [همدا وجه ده] چې ښځه د وطي د مطالبې مالکه ده لکه څرنګه چې خاوند د قدرت ورکولو د مطالبې مالک دی وَكَذَا الْحِلُّ مُشْتَرَكٌ بَيْنَهُمَا او همدارنګه حلت [هم] د دوی په مينځ کې مشترک دی وَالطَّلَاقُ وُضِعَ لِإِزَالَتِهِمَا او طلاق د دې دواړو د ختمولو لپاره وضع سوی دی فَيَصِحُّ مُضَافًا إِلَيْهِ كَمَا يَصِحُّ مُضَافًا إِلَيْهَا نو ځکه به د خاوند وطرف ته [د طلاق] نسبت کول صحيح وي لکه څرنګه، چې د ښځې وطرف ته [د هغه] نسبت صحيح دي كَمَا فِي الْإِبَانَةِ وَالتَّحْرِيمِ [او] لکه څرنګه چې په بائن کيدلو او حرام کيدلو کې [نسبت

صحيح دی] وَلَنَا: أَنَّ الطَّلَاقَ لِإِزَالَةِ الْقَيْدِ زموږ دليل دا دی: چې طلاق [د نکاح] د قيد د ختمولو لپاره دی وَهُوَفِيهَا دُونَ الزَّوْجِ او [د نکاح] قيد په ښځه کې وي نه په خاوند کې أَلَا تَرَى أَنَّهَا هِيَ الْمَمْنُوعَةُ عَنِ التَّزَوُّجِ بِزَوْجٍ آخَرَ وَالْخُرُوجِ آيا ته نه ګورې! چې همدغه ښځې د بل خاوند له نکاح څخه او له ابهر [وتلو] څخه منع کيږي وَلَوْكَانَ لِإِزَالَةِ الْمِلْكِ فَهُوَعَلَيْهَا او که طلاق د ملکيت د ختمولو لپاره وي نو ملکيت [تړوله] پر ښځې دی لِأَنَّهَا مَمْلُوكَةٌ ځکه چې همدا ښځه مملوکه وي وَالزَّوْجَ مَالِكٌ خاوند خو مالک وي وَلِهَٰذَا سُمِّيَتْ مَنْكُوحَةً همدا وجه ده چې ښځې ته منکوحه ويل کيږي بِخِلَافِ الْإِبَانَةِ په خلاف د إبانت [بائن کېدلو] لِأَنَّهَا لِإِزَالَةِ الْوُصْلَةِ ځکه چې هغه د تعلق د زائلولو لپاره دی وَهِيَ مُشْتَرَكَةٌ بَيْنَهُمَا او تعلق د خاوند او ښځې دواړو تر مينځ مشترک دی بِخِلَافِ التَّحْرِيمِ [او] په خلاف د تحريم لِأَنَّهُ لِإِزَالَةِ الْحِلِّ ځکه چې تحريم د حلت د زائلولو لپاره دی وَهُوَمُشْتَرَكٌ او هغه هم [د دواړو تر مينځ] مشترک دی فَصَحَّتْ إِضَافَتُهُمَا إِلَيْهِمَا نو به د إبانت او حلت نسبت کول د خاوند او ښځې طرف ته صحيح وي وَلَا تَصِحُّ إِضَافَةُ الطَّلَاقِ إِلَّا إِلَيْهَا او طلاق نسبت به فقط د ښځې وطرف ته صحيح وي.

اللغات: ﴿بَائِنٌ﴾ د ضرب د باب فاعل دی: جلا، عليحده، بېل. ﴿تَمْكِينٌ﴾ د تفعيل مصدر دی: قدرت ورکول. ﴿إِزَالَةٌ﴾ د افعال مصدر دی: زائلول، له منځه وړل، ختمول. ﴿وُصْلَةٌ﴾ تعلق. (هغه شی چې دوه شيان سره يو ځای کوي، هغه جماعت چې د انسان سره يو ځای سفر کوي. جمع: وُصَل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته ووايي: أَنَا مِنْكِ طَالِقٌ او د طلاق نيت هم وکړي، نو طلاق نه واقع کيږي، او که أَنَا مِنْكِ بَائِنٌ يا أَنَا عَلَيْكِ حَرَامٌ ووايي او د طلاق نيت هم وکړي، نو طلاق واقع کيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې که نيت وکړي نو په أَنَا مِنْكِ طَالِقٌ سره هم طلاق واقع کيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې "ملک د نکاح" او "حلت د استمتاع" د خاوند او ښځې په مينځ کې مشترک دی، ځکه څرنګه چې د خاوند لپاره د وطي او د قدرت على الوطى د مطالبې کولو حق او اختيار سته، همداسې د ښځې لپاره هم د وطي د مطالبې اختيار سته، همدارنګه د دواړو لپاره دا حق سته چې يو د بل له ځانګړو اندامونو څخه إفاده او إستفاده وکړي، او دواړه په دې کې مشترک دي،

همدارنګه په دواړو کي هريو ناکح (نکاح کونکی) هم دی، او طلاق د ملک نکاح او د دغه حلت د ختمولو او زائلولو لپاره وضع سوی دی، لهذا څرنګه چي د ښځي و طرف ته طلاق منسوبول صحيح دي، همداسي به د خاوند وطرف ته هم طلاق منسوبول صحيح وي، لکه څرنګه چي إبانت او تحريم په دواړو کي هريوه ته منسوبول صحيح دي، يعني لکه څرنګه چي په أَنَا مِنْكِ بَائِنٌ او أَنَا عَلَيْكِ حَرَامٌ سره د نيت کولو په وخت کي پر ښځي طلاق واقع کيږي. لهذا په دې صورت (أَنَا مِنْكَ طَالِقٌ) کي به هم د نيت کولو په وخت کي پر ښځي طلاق واقع کيږي.

زموږ دليل: دا دی چي طلاق د "ملک نکاح" د ختمولو لپاره نه دی وضع سوی، بلکي طلاق د نکاح د قيد د ختمولو لپاره وضع سوی دی (يعني د "نکاحي قيد" د زائلولو لپاره وضع سوی دی)، او د نکاح قيد فقط په ښځه کي موجود دی، نه په خاوند کي، آيا تاسو نه وينئ! چي د خاوند لپاره د يوې ښځي پر ځای د دوو، دريو، او څلورو ښځو سره د نکاح کولو اجازه سته، حالانکي ښځي لره تر يوې نکاح وروسته نه د بلي نکاح اجازه سته او نه د خاوند له اجازې څخه بغير هغې ته د وتلو اجازه سته، نو معلومه سوه چي د نکاح قيد په ښځه کي موجود دی، او څرنګه چي طلاق د رَفْعُ الْقَيْدِ الثَّابِتِ بِالنِّكَاحِ لپاره وضع سوی دی، نو ځکه به د هغه نسبت فقط د ښځي وطرف ته کيږي.

ولوكان إلخ: په دې سره دا راښيي چي که موږ د امام شافعي رَحِمَهُ الله سره د هغه پر خبره موافقت وکړي او طلاق د ملک نکاح د ختمولو لپاره ومنو، نو په دې صورت کي به هم د طلاق د نسبت محور او مرکز فقط ښځه وي، ځکه چي فقط همدا ښځه مملوکه وي، خاوند خو مالک وي، همدا وجه ده چي ښځي ته مَنْكُوحَه ويل کيږي، او خاوند ته نَاكِح ويل کيږي، لهذا که موږ د امام شافعي رَحِمَهُ الله سره د هغه خبره تسليم هم کړو او طلاق د ملک نکاح لپاره ختمونکی او زائلونکی ومنو، نو په دې صورت کي به هم فقط د ښځي وطرف ته د طلاق نسبت صحيح وي.

بخلاف الإبانة إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله پر أَنَا مِنْكِ بَائِنٌ او أَنَا عَلَيْكِ حَرَامٌ باندي د أَنَا مِنْكِ طَالِقٌ جمله قياس کړې وه، په دې عبارت سره د هغه ترديد کوي، فرمايي چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله قياس صحيح نه دي، ځکه چي د إبانت لفظ د تعلق او ربط د زائلولو او ختمولو لپاره دی، او د تعلق په ساتلو کي ښځه او سړی دواړه مشترک دي (يعني څرنګه چي سړی د ښځي سره ربط او تعلق ساتي، همداسي يې ښځه هم ور سره ساتي)، لهذا د إبانت نسبت به د دواړو وطرف ته صحيح وي، همداسي به د تحريم او حرمت نسبت هم د دواړو وطرف ته صحيح وي، ځکه چي تحريم د حلت د ختمولو لپاره دی، او په حِلت کي دواړه مشترک دي، لهذا تحريم به هم د دواړو وطرف ته منسوبول صحيح وي،

لهذا پر دې باندې قياس كول او طلاق د خاوند وطرف ته منسوبول صحيح نه دي، ځکه مخکې هم موږ ووييل چې طلاق د "نكاحي قيد" د رفع كولو لپاره وضع سوى دى، او دغه قيد فقط په ښځه كې موجود دى، نه په خاوند كې، نو ځكه زموږ دعوىٰ دا ده چې: لَا تَصِحُّ إِضَافَةُ الطَّلَاقِ إِلَّا إِلَيْهَا.

د طلاق په وركولو كې د شک كلمه ذكر كول (حكم او اختلاف)

وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً أَوْ لَا او كه [خاوند] ووايي: ته طلاقه يې په يوه طلاق سره يا نه يې فَلَيْسَ بِشَيْءٍ نو دا هيڅ شى نه دي [يعني په دې سره هيڅ طلاق نه واقع كيږي] قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: هَكَذَا ذَكَرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ مِنْ غَيْرِ خِلَافٍ صاحب د كتاب رَحِمَهُ الله فرمايي چې: همداسې [امام محمد رَحِمَهُ الله] بغير له اختلاف څخه [دا مسئله] ذكر كړې ده وَهٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ آخِرًا ۞ او همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله آخري قول دى وَعَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ أَوَّلًا تَطْلُقُ وَاحِدَةً رَجْعِيَّةً او د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول (كوم چې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول دى) ښځه په يوه رجعي طلاق سره طلاقيږي ذُكِرَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ فِي كِتَابِ الطَّلَاقِ فِيمَا إِذَا قَالَ لِامْرَأَتِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً أَوْ لَا شَيْءَ [د مبسوط] په كتابُ الطلاق كې د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول داسې ذكر سوى دى: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً أَوْ لَا شَيْءَ. [يعني په مبسوط كې فقط تر "لَا" وروسته د "شَيْءَ" لفظ زيات سوى دى] وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْمَسْأَلَتَيْنِ او د دوارو مسئلو تر مينځ هيڅ فرق نسته وَلَوْ كَانَ الْمَذْكُورُ هٰهُنَا قَوْلَ الْكُلِّ او كه دلته [په جامع صغير كې، كوم چې متن د هدايې هم دى] ذكر سوى قول د ټولو وي [يعني كه دا قول د امام صاحب او صاحبينو په مينځ كې متفق عليه ومنل سي] فَعَنْ مُحَمَّدٍ رِوَايَتَانِ نو [بيا] به له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه وي لَهُ: أَنَّهُ أَدْخَلَ الشَّكَّ فِي الْوَاحِدَةِ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چې خاوند په وَاحِدَةً [يوه طلاق] كې شک پيدا كړى لِدُخُولِ كَلِمَةِ "أَوْ" بَيْنَهَا وَبَيْنَ النَّفْيِ ځكه چې د وَاحِدَةً او نفي په مينځ كې كلمه د "أَوْ" داخل سوه فَيَسْقُطُ اعْتِبَارُ الْوَاحِدَةِ وَيَبْقَى قَوْلُهُ: أَنْتِ طَالِقٌ لهذا د وَاحِدَةً اعتبار به ساقطيږي او [فقط] د خاوند دا قول به پاتيږي: أَنْتِ طَالِقٌ بِخِلَافِ قَوْلِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ أَوْ لَا په خلاف د دغه د دې قول: أَنْتِ طَالِقٌ أَوْ لَا

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَاالله ، كما قال فى الهندية: ولو قال لامرأته: أنتِ طالق واحدة أو لا...لا يقع شئ. [القول الراجح ج:۱، ص:۳۱۷]

لِأَنَّهُ أَدْخَلَ الشَّكَّ فِي أَصْلِ الْإِيْقَاعِ ځکه چي [دلته] خاوند په أصل إيقاع الطلاق واقع کولو] کي شک پیدا کړی فَلَا يَقَعُ نو ځکه به [طلاق] نه واقع کیږي وَلَهُمَا: أَنَّ الْوَصْفَ مَتَى قُرِنَ بِالْعَدَدِ او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چي کله وصف [طَالِقٌ] د عدد سره متصل سي كَانَ الْوُقُوْعُ بِذِكْرِ الْعَدَدِ نو د طلاق واقع کېدل د عدد په ذریعه سره کیږي أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ قَالَ لِغَيْرِ الْمَدْخُوْلِ بِهَا: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا آیا ته نه ګوري! که خاوند غیرِ مدخول بها ښځي ته ووایي: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا تَطْلُقُ ثَلَاثًا نو درې طلاقه واقع کیږي وَلَوْ كَانَ الْوُقُوْعُ بِالْوَصْفِ لَلَغَا ذِكْرُ الثَّلَاثِ نو که چیري واقع کېدل د طلاق د وصف په ذریعه سره کېدای نو د ثلاث ذکر به لغوه وای وَهٰذَا لِأَنَّ الْوَاقِعَ فِي الْحَقِيْقَةِ إِنَّمَا هُوَ الْمَنْعُوْتُ الْمَحْذُوْفُ او دا [حکم] ځکه [دی] چي واقع کېدونکی شی په حقیقت کي موصوف محذوف دی [یعني د طلاق واقع کېدل په حقیقت کي د محذوف موصوف په ذریعه سره کیږي] مَعْنَاهُ: أَنْتِ طَالِقٌ تَطْلِيْقَةً وَاحِدَةً [او] د هغه مفهوم دا دی: أَنْتِ طَالِقٌ تَطْلِيْقَةً وَاحِدَةً عَلَى مَا مَرَّ لکه مخکي چي تېر سو وَإِذَا كَانَ الْوَاقِعُ مَا كَانَ الْعَدَدُ نَعْتًا لَهُ او کله چي واقع کېدونکی شی هغه دی چي عدد د هغه صفت دی [یعني کله چي دلته د طلاق واقع کېدل د هغه شي په ذریعه سره دي چي "عدد" د هغه صفت دی] كَانَ الشَّكُّ دَاخِلًا فِي أَصْلِ الْإِيْقَاعِ نو به شک په اصل إيقاع کي داخل وي فَلَا يَقَعُ شَيْءٌ نو ځکه به هیڅ شی نه واقع کیږي.

اللغات: ﴿لَغَى﴾ د نصر ماضي ده: لغو کېدل، باطلېدل. ﴿الْمَنْعُوْتِ﴾ د فتح له باب څخه اسمِ مفعول دی: موصوف، صفت کړی سوی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځي ته ووایي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً أَوْ لَا (ته یو وار [پر ما] طلاقه یې، یا نه)، نو په دې صورت کې، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په دویم (او راجح) قول کي طلاق نه واقع کیږي، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز یو طلاق رجعي واقع کیږي، صاحب د هدایې فرمایي چي په جامعِ صغیر کي دا مسئله متفق علیه ذکر سوې ده، او هیڅ اختلاف پکښې ذکر سوی نه دی (یعني د جامعِ صغیر په بَابُ إِيْقَاعِ الطَّلَاقِ ص: ۱۹۳ کي ذکر سوي دي چي که خاوند ښځي ته ووایي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً أَوْ لَا، نو زموږ د یوه امام په نېز هم طلاق نه واقع کیږي) ، لېکن صحیح دا ده چي دا مسئله متفق علیه نه ده، بلکي مختلف فیه ده، او

اختلاف هغه دی کوم چې موږ اوس بيان کړی (چې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز طلاق نه واقع کيږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز يو طلاقِ رجعي واقع کيږي).

د دې مسئلې د مختلف فيه کيدلو دليل دا دی چې د مبسوط په کتابُ الطَّلَاق کې امام محمد رَحِمَهُ الله دا عبارت ذکر کړی دی: إِذَا قَالَ لِامْرَأَتِهٖ: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً أَوْ لَا شَئ. او بيا يې ويلي دي چې په دې سره يو طلاق رجعي واقع کيږي، لهذا دلته (په جامعِ صغير کې) به هم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د طلاقِ رجعي د واقع کيدلو حکم وي، ځکه چې په أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً أَوْ لَا او په أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً أَوْ لَا شَئ کې خاص فرق نشته، د مبسوط په مسئله کې صرف لفظ د "شَئ" زيات سوی دی او صرف په دې سره د مسئلې حکم نه بدليږي، لهذا څرنګه چې د لَا شَئ په صورت کې طلاق واقع کيږي، همداسې به هغه صورت کې هم طلاق واقع کيږي په کوم کې چې "شَئ" نه وي ذکر سوی. او که دلته بيان سوې مسئله متفق عليه ومنل سي، نو بيا به دا ويل کيږي، چې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه په دې مسئله کې دوه رايتونه دي: په يوه روايت کې د هغه په نيز طلاق نه واقع کيږي او په بل روايت يو طلاقِ رجعي واقع کيږي.

د امام محمد دليل: (په کوم روايت کې چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز يو طلاقِ رجعي واقع کيږي، په هغه روايت کې د امام محمد) دليل دا دی چې خاوند تر أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وروسته د أَوْ لَا په ويلو سره د إثبات او نفي تر مينځ د "أَوْ" په ذريعه سره شک پيدا کړی، نو ځکه د وَاحِدَةً اعتبار ساقط سو، او فقط أَنْتِ طَالِقٌ پاته سو، او په أَنْتِ طَالِقٌ سره فقط يو طلاقِ رجعي واقع کيږي، نو ځکه موږ وايو چې په دې صورت کې به يو طلاقِ رجعي واقع کيږي.

بخلاف إلخ: فرمايي چې د أَنْتِ طَالِقٌ أَوْلَا مسئله د أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً أَوْ لَا د مسئلې څخه جلا او عليحده ده، ځکه چې د أَنْتِ طَالِقٌ أَوْلَا ويلو په صورت کې په أصل إيقاع (واقع کولو) کې شک پيدا کيږي، او په أصل إيقاع کې د شک پيدا کيدلو په صورت کې طلاق نه واقع کيږي، ځکه چې د نکاح بقاء او قيام يقيني دی، لهذا هغه په شک سره زائليدی نه سي لأَنَّ الْيَقِيْنَ لَا يَزُوْلُ بِالشَّكِّ.

د شيخينو دليل: دا دی چې کله وصف د عدد سره يو ځای ذکر سي، نو قاعده دا ده چې د طلاق وقوع به د عدد مطابق وي او د عدد په ذريعه سره به د هغه وقوع کيږي، مثلاً که څوک ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً يا ووايي أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثَةً، نو په دې صورت کې د طلاق وقوع د وَاحِدَةً يا ثَلَاثًا مطابق کيږي، د

وصف يعني د طَالِقٌ مطابق طلاق نه واقع کيږي (يعني د طلاق په واقع کېدلو کي عدد ته کتل کيږي، نه وصف ته)، او د دې واضح دليل دا دی چي که خاوند غيرِ مدخول بها أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا ووايي، نو پر هغې درې طلاقه واقع کيږي، تاسي اوګورئ! دلته هم د وقوع تعلق د وصف سره نه دی، بلکي د عدد يعني د ثَلَاثًا سره دی، ځکه که د وقوع تعلق د وصف يعني د طَالِقٌ سره وای، نو په دې صورت کي به دا غيرِ مدخول به ښځه فقط په طَالِقٌ سره هم بائنه ګرځېدای او د ثَلَاث ذکر به لغوه وای (ځکه چي غيرِ مدخول بها ښځه فقط په "أنتِ طالقٌ" سره هم بائنه ګرځي.

وهذا لأن إلخ: په دې سره دا راښيي چي د طلاق د وقوع تعلق د عدد سره ځکه دی چي دلته د عدد (وَاحِدَةً) د محذوف موصوف (تَطْلِيْقَةً) په ذريعه سره طلاق واقع کيږي، او تقدير د عبارت داسي دی: أَنْتِ طَالِقٌ تَطْلِيْقَةً وَاحِدَةً، لهذا کله چي د عدد په موصوف سره طلاق واقع کيږي، نو شک به هم په عدد کي وي، او د عدد په وجه به په إيقاع کي هم شک راځي، او کله چي په إيقاع کي شک راسي، نو طلاق نه واقع کيږي، لهذا په دې مسئله کي به هم طلاق نه واقع کيږي.

د مرګ وطرف ته د طلاق نسبت کول

> وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ مَعَ مَوْتِيْ أَوْ مَعَ مَوْتِكِ او که [خاوند] ووايي: ته زما د مرګ سره يا ستا د مرګ سره [پر ما] طلاقه يې فَلَيْسَ بِشَيْءٍ نو هيڅ طلاق نه واقع کيږي لِأَنَّهُ أَضَافَ الطَّلَاقَ إِلَى حَالَةٍ مُنَافِيَةٍ لَهُ ځکه چي خاوند ير داسي حالت [مرګ] ته طلاق منسوب کړی دی کوم چي د هغه منافي دي لِأَنَّ مَوْتَهُ يُنَافِي الْأَهْلِيَّةَ ځکه چي د خاوند مرګ [د طلاق] د أهل کېدلو منافي دي وَمَوْتَهَا يُنَافِي الْمَحَلِيَّةَ او د ښځي مرګ [د طلاق] د محل کېدلو منافي دي وَلَا بُدَّ مِنْهُمَا حالانکي دواړه ضروري دي ايعني طلاق لپاره د أهليت او محليت دواړو پاتېدل ضروري دي].

تشريح: مسئله: دا ده که خاوند پر خپل مرګ يا د ښځي پر مرګ طلاق معلق نه کړي، بلکي داسي ووايي چي: "زما د مرګ سره ته طلاقه يې، يا ستا د مرګ سره ته طلاقه يې"، نو په دې صورت کي طلاق نه واقع کيږي؛ ځکه چي په دې صورت کني تر مرګ وروسته طلاق واقع کيږي، او تر مرګ وروسته طلاق واقع کېدای نه سي، ځکه چي تر مرګ وروسته حالت د طلاق سره منافي دی، د دې وجه دا ده چي د طلاق ورکونکي لپاره دا ضروري دي چي هغه به د طلاق أهل وي، او تر خپل مرګ وروسته هغه د طلاق أهل نه پاتيږي، او د طلاق واقع کېدلو لپاره دا ضروري دي چي ښځه به د طلاق

محل وي، او د ښځي تر مرګ وروسته ښځه د طلاق محل نه پاتې کیږي، نو ځکه به په دې صورت کي طلاق نه واقع کیږي.

د خاوند او ښځي د مالک یا مملوک جوړ بدلو حکم

وَإِذَا مَلَكَ الزَّوْجُ امْرَأَتَهُ او کله چي خاوند د خپلي ښځي مالک سي أَوْ شِقْصًا مِنْهَا یا د خپلي ښځي د يوې حصې [مالک سي] أَوْ مَلَكَتِ الْمَرْأَةُ زَوْجَهَا یا ښځه د خپل خاوند مالکه سي أَوْ شِقْصًا مِنْهُ یا د خپل خاوند د يوې حصې [مالکه سي] وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ نو [د دوی ترمینځ] فرقت واقع کیږي لِلْمُنَافَاةِ بَيْنَ الْمِلْكَيْنِ د دوو ملکونو په مینځ کي د منافات په وجه أَمَّا مِلْكُهَا إِيَّاهُ کوم چي د ښځي مالکه کېدل دي د خاوند [یعني کوم چي هغه صورت دی چي په هغه کي ښځه د خاوند مالکه سي] فَلِلاجْتِمَاعِ بَيْنَ الْمَالِكِيَّةِ وَالْمَمْلُوكِيَّةِ نو هغه د مالکیت او مملوکیت د یو ځای کېدلو په وجه [ناممکن] دی وَأَمَّا مِلْكُهُ إِيَّاهَا او کوم چي د خاوند مالک کېدل دي د ښځي فَلِأَنَّ مِلْكَ النِّكَاحِ ضَرُورِيٌّ نو ځکه چي ملک د نکاح د ضرورت بناء [ثابت] دی وَلَا ضَرُورَةَ مَعَ قِيَامِ مِلْكِ الْيَمِينِ او د ملک یمین د قیام [او ثبوت] سره [ملک نکاح ته] هیڅ ضرورت نسته فَيَنْتَفِي نو ځکه به [ملک نکاح] منتفي کیږي [یعني نکاح به ختمیږي] وَلَوِ اشْتَرَاهَا ثُمَّ طَلَّقَهَا او که [خاوند] ښځه رانیسي بیا هغې ته طلاق ورکړي لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ نو هیڅ طلاق نه واقع کیږي لِأَنَّ الطَّلَاقَ يَسْتَدْعِي قِيَامَ النِّكَاحِ ځکه چي د نکاح د قائم پاتېدلو تقاضا کوي وَلَا بَقَاءَ لَهُ مَعَ الْمُنَافِي لَا مِنْ وَجْهٍ وَلَا مِنْ كُلِّ وَجْهٍ او د منافي سره نه مِنْ وَجْه نکاح پاتې کیږي او نه مِنْ كُلِّ وَجْه وَكَذَا إِذَا مَلَكَتْهُ أَوْ شِقْصًا مِنْهُ او همدارنګه کله چي [ښځه] د خاوند یا د خاوند د يوې حصې مالکه سي لَا يَقَعُ الطَّلَاقُ نو [هم] طلاق نه واقع کیږي لِمَا قُلْنَا مِنَ الْمُنَافَاةِ د هغه دلیل په وجه سره کوم چي موږ د منافات په حواله سره [اوس] ذکر کړی وَعَنْ مُحَمَّدٍ *: أَنَّهُ يَقَعُ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت دی: چي [طلاق] واقع کیږي لِأَنَّ الْعِدَّةَ وَاجِبَةٌ ځکه چي عدت واجب دی بِخِلَافِ

---

* القول الراجح: قول الشيخين، كما قال العلامة قاضيخان رَحِمَهُ الله : ...ولو أعتقها بعد ما اشتراها ثم طلقها قبل أن يمضي مدة تنقضي فيها العدة يقع طلاقه عليها في قول محمد وأبي يوسف الأول، ثم رجع أبو يوسف عن هذا وقال: لا يقع، وهو قول زفر وعليه الفتوىٰ. (الخانية ج:۲، ص:۲۶۷). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۱۹]

الْفَصْلِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت لِأَنَّهُ لَا عِدَّةَ هُنَاكَ ځکه چي هلته عدت نسته حَتَّى حَلَّ وَطْؤُهَا لَهُ تر دې چي [په هغه صورت کي] خاوند لره د ښځي سره وطي کول روا دي.

اللغات: ﴿شِقْص﴾ جزء، حصه، ټوکړه، د ځمکي يوه ټوټه. ﴿مِلْك يَمِين﴾ د غلام يا مينځي مالک کېدل. ﴿يَنْتَفِي﴾ د افتعال مضارع ده: نفي کېدل، ختمېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو آزاد سړي د مينځي سره نکاح کړې وي، وروسته بيا مينځه رانيسي، يا يې مالک ورته هبه کړي، يا په وراثت کي مينځه ورته حاصله سي چي د هغه په وجه خاوند د مينځي د يوې حصې مالک جوړ سي، يا يو آزادي ښځي د غلام سره نکاح کړې وي، وروسته دا ښځه غلام يا د غلام يوه حصه رانيسي چي د هغه په وجه د غلام يا د غلام د يوې حصې مالکه جوړه سي، نو په دې ټولو صورتونو کي نکاح ختميږي، او د خاوند او ښځي په مينځ کي فرقت واقع کيږي.

د دې يو دليل خو دا دی چي د ښځي او خاوند حقوق مساوي او برابر وي، او په مالک او مملوک کي ډېر تفاوت وي، نو ځکه به د خاوند يا ښځي په مالک جوړېدلو سره سمدستي نکاح ختميږي.

لمنافاة بين: عقلي دليل دا دی چي د ملکِ يمين او ملکِ نکاح تر مينځ منافاة دی (يو د بل سره جمع کېدلای نه سي)، ځکه چي د ملکِ نکاح تقاضا دا ده چي ښځه مملوکه وي، او د ښځي لپاره د ملکِ يمين تقاضا دا ده چي ښځه مالکه وي، او دا دواړه ناممکن دي، نو د مالکيت او مملوکيت د اجتماع په وجه سره په دې صورت کي د دوی نکاح ختميږي، او که خاوند د ښځي مالک سي، نو هم نکاح ختميږي، او فرقت واقع کيږي، ځکه د خاوند لپاره چي پر ښځي کوم ملک د نکاح ثابت دی هغه د ضرورت پر بناء دی، يعني د توالد او تناسل او د ملک متعه د ضرورت په وجه خلافُ القياس پر ښځي د خاوند ملکيت ثابت دی، نو ملکِ نکاح ضروري (يعني د ضرورت پر بناء) دی، او کله چي خاوند لره ملکِ يمين ثابت سي يعني د ښځي د رقبې مالک جوړ سي، نو دا ضرورت هم ختم سي، نو ځکه به نکاح ختميږي.

ولو اشتراها إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله خاوند خپله منکوحه مينځه رانيسي، نو د هغه نکاح ختمه سوه، لهذا اوس که څه هم خاوند هغې ته طلاق ورکړي، نو هم نه واقع کيږي، ځکه چي اوس نکاح پاته نه ده، او پر ښځي عدت نسته، ځکه که پر هغې عدت واجب سي، نو بيا به نکاح مِنْ وَجه

پاته سي، حال دا چي دلته مِنْ وَجه هم نکاح نه پاتيږي، ځکه چي اوس هغه د خاوند مينځه ده. او خاوند د هغې سره فى الحاله هم وطي کولای سي، نو مِنْ كُلّ الوُجُوه (په پوره توګه نکاح ختمه سوه).

او که ښځه خپل غلام خاوند رانيسي، يا د خاوند يوه حصه رانيسي، نو هم نکاح ختميږي، ځکه چي د مالک او مملوک په مينځ کي نکاح نه پاتيږي، لهذا اوس که څه هم خاوند هغې ته طلاق ورکړي، نو هم نه واقع کيږي.

وعن محمد إلخ: فرمايي چي له امام محمد رَحِمَهُ الله يو روايت دا نقل سوی دی چي په دويم صورت کي يعني کله چي ښځه خپل غلام خاوند رانيسي او بيا دا غلام خاوند هغې ته طلاق ورکړي، نو طلاق واقع کيږي؛ ځکه دلته که څه هم د ملکيت په وجه نکاح ختمه سوې ده، خو بيا هم مِنْ وَجه نکاح پاته ده، ځکه چي پر دغه ښځي عدت واجب دی او په عدت سره مِنْ وَجه نکاح پاتيږي، همدا وجه ده چي اوس دا غلام خاوند د خپلي ښځي سره وطي نه سي کولای. لېکن په اول صورت کي پر ښځي عدت واجب نه دی، ځکه چي آزاد خاوند د هغې سره وطي کولای سي، نو هلته نه مِنْ وجه نکاح پاتيږي او نه مِنْ كُلّ الوجوه. لهذا په اول صورت کي خو به طلاق نه واقع کيږي، لېکن په دويم صورت کي به واقع کيږي.

د مملوکُ الغير مينځي پر آزادۍ د طلاق معلق کولو بيان

وَلَوْ قَالَ لَهَا وَهِيَ أَمَةٌ لِغَيْرِهِ او که [خاوند] خپلي ښځي ته ووايي حال دا چي هغه د بل چا مينځه وي أَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْنِ مَعَ عِتْقِ مَوْلَاكِ إِيَّاكِ ته په دوو طلاقو سره طلاقه يې ستا د مالک د آزادولو سره فَأَعْتَقَهَا مَوْلَاهَا بيا مالک هغه آزاده کړي مَلَكَ الزَّوْجُ الرَّجْعَةَ نو خاوند به د رجعت مالک وي لِأَنَّهُ عَلَّقَ التَّطْلِيقَ بِالْإِعْتَاقِ أَوِ الْعِتْقِ ځکه چي [دلته] خاوند طلاق ورکول معلق کړه پر آزادولو يا پر آزادېدلو لِأَنَّ اللَّفْظَ يَنْتَظِمُهُمَا ځکه چي لفظ د "عِتق" دواړو ته شامل دی وَالشَّرْطُ مَا يَكُونُ مَعْدُومًا عَلَى خَطَرِ الْوُجُودِ او شرط هغه دی چي د وجود د إمکان سره معدوم وي [يعني شرط هغه شي ته وايي چي اوس موجود نه وي، خو د موجودېدلو إمکان يې وي] وَلِلْحُكْمِ تَعَلُّقٌ بِهِ او حکم د هغه سره متعلق [هم] وي وَالْمَذْكُورُ بِهَذِهِ الصِّفَةِ او ذکر سوی شی [يعني عِتق] په همدغه صفت سره دی وَالْمُعَلَّقُ بِهِ التَّطْلِيقُ او کوم شی چي پر هغه [يعني پر عِتق] معلق کړی سوی دی هغه تطليق [طلاق ورکول] دي لِأَنَّ فِي التَّعْلِيقَاتِ يَصِيرُ التَّصَرُّفُ تَطْلِيقًا عِنْدَ الشَّرْطِ عِنْدَنَا ځکه چي په تعليقاتو کي تصرف زموږ په نېز د شرط په وخت کي تطليق

گرځي ﴿وَإِذَا كَانَ التَّطْلِيقُ مُعَلَّقًا بِالإِعْتَاقِ أَوِ الْعِتْقِ﴾ او کله چي تطليق معلق کړی سوی وي پر إعتاق يا پر عتق ﴿يُوجَدُ بَعْدَهُ﴾ نو تطليق تر هغه ايعني تر إعتاق يا عتق] وروسته په وجود کي راځي ﴿ثُمَّ الطَّلَاقُ يُوجَدُ بَعْدَ التَّطْلِيقِ﴾ بيا طلاق تر تطليق وروسته په وجود کي راځي ﴿فَيَكُونُ الطَّلَاقُ مُتَأَخِّرًا عَنِ الْعِتْقِ﴾ نو طلاق به له عتق څخه مؤخر وي ﴿فَيُصَادِفُهَا وَهِيَ حُرَّةٌ﴾ لهذ طلاق به د دغه ښځي سره په داسي حالت کي مخامخ سي [يعني په داسي حالت کي به پر واقع سي] چي هغه به آزاده وي ﴿فَلَا تَحْرُمُ حُرْمَةً غَلِيظَةً بِالثِّنْتَيْنِ﴾ نو ځکه به هغه په دوو طلاقو سره د حرمتِ غليظه په توګه نه حراميږي ﴿بَقِيَ شَيْءٌ وَهُوَ أَنَّ كَلِمَةَ مَعَ لِلْقِرَانِ﴾ يو شی [اعتراض] پاته سو، هغه دا چي کلمه د "مَعَ" د اتصال لپاره ده ﴿قُلْنَا: قَدْ يُذْكَرُ لِلتَّأَخُّرِ﴾ موږ جواب ورکوو چي دا کلمه کله د تأخر [بعديت] لپاره [هم] استعماليږي ﴿كَمَا فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾ [الشرح: ٥، ٦] لکه د الله په دې قول کي: فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ...إلخ [نو بېشکه تر سختۍ وروسته آساني سته، بېشکه تر سختۍ وروسته آساني سته] ﴿فَيُحْمَلُ عَلَيْهِ﴾ لهذا "مَعَ" به پر همدغه تأخر [بعديت] حمل کيږي ﴿بِدَلِيلِ مَا ذَكَرْنَا مِنْ مَعْنَى الشَّرْطِ﴾ زموږ د ذکر سوي دليل يعني د شرط د معنیٰ په وجه.

اللغات: ﴿أَمَةٌ﴾ مينځه. ﴿عَلَى خَطَرٍ﴾ د دې إمکان سره (مع الإمکان). ﴿يُصَادِفُ﴾ د مفاعلې مضارع ده: پيدا کول، مقابل کېدل، ناڅاپه ديو شي سره مخامخ کېدل (المعجم الوسيط ج:١، ص:٥١٠). ﴿عُسْر﴾ سختي، تنګي. ﴿يُسْر﴾ آساني، پراخي.

تشريح: د عبارت تر تشريح مخکي په يو څو خبرو ځان پوه کړئ! تر هغه وروسته به د عبارت تشريح او حاصل بيان کړو: ①... "تَعْلِيق" : د دې معنیٰ ده: "يو شی پر بل شي معلق کول". کوم شی چي معلق کړی سي هغه ته مشروط وايي او پر کوم شي چي معلق کړی سي هغه ته شرط وايي. مثلاً که طلاق پر آزادۍ معلق کړی سي، نو طلاق مشروط دی او آزادي شرط ده. ②... "تَطْلِيق" د "تطليق" معنیٰ ښکاره ده يعني: "طلاق ورکول"، او د "الطَّلَاق" معنیٰ هم ښکاره ده چي "طلاق" ته وايي. دلته په دې خبره ځان پوهول پکار دي چي "تطليق" معلق کېدای سي. لېکن "طلاق" نه سي معلق کېدای، ځکه چي "تطليق" يعني طلاق ورکول د انسان په وس کي دي لېکن د "طلاق" وقوع د

انسان له وس څخه دباندي خبره ده، دا د شريعت معامله او مسئله ده. (۳)... "شرط": هغه شي ته وايي کوم چي اوس موجود نه وي ليکن موجودېدل يې ممکن وي. لکه يوه مينځه چي اوس آزاده نه وي، ليکن آزادېدل يې ممکن دي، او دا خبره هم په ياد لرئ! چي د حکم ثابتېدلو لپاره د شرط موجودېدل ضروري دي، مثلاً که خاوند طلاق پر آزادۍ معلق کړي، نو د طلاق واقع کېدلو لپاره آزادېدل ضروري دي.

د عبارت حاصل دا دی که د يو سړي ښځه (زَوْجَه) د بل چا مينځه وي او خاوند هغې ته ووايي: "چي کله ستا مالک تا آزاده کړي، نو ته په دوو طلاقو سره (پر ما) طلاقه يې". وروسته مالک هغه آزاده کړي، نو اوس پر دغه ښځي دوه طلاقه واقع کيږي. خو تر دې وروسته به هم خاوند ته د رجعت حق حاصل وي، ځکه چي خاوند طلاق پر إِعْتَاق (يعني آزادولو) يا پر عِتْق (آزادېدلو) معلق کړی دی، او د خاوند په دې قول "مَعَ عِتْقِ....." کي عِتْق إعتاق او عتق دواړو ته شامل دی او خاوند په همدغه عِتْق سره تطليق معلق کړی دی (لهذا دواړو ته به شامل وي). نو عِتْق شرط دی او تطليق مشروط يعني جزاء ده. او څرنګه چي جزاء تر شرط وروسته په وجود کي راځي، نو ځکه به اول شرط يعني عتق ثابتيږي او تر هغه وروسته به جزاء يعني تطليق ثابتيږي، لهذا دلته هم د دغه ښځي په حق کي اول شرط يعني عتق ثابتيږي او هغه آزاديږي او تر آزادۍ وروسته پر هغې دوه طلاقه واقع کيږي. او څرنګه چي آزاده ښځه په دوو طلاقو سره مغلظه بائنه نه ګرځي. نو ځکه به دغه ښځه هم په دوو طلاقو سره مغلظه نه ګرځي او خاوند لره به د رجعت حق وي.

صاحب د هدايې چي کوم دليل بيان کړی دی په هغه کي څه إغلاق او ګراني ده. ما د آساني په خاطر د هغه غورچاڼ او خلاصه ستاسو په مخ کي پېش کړه. إن كان خطأً فمنّي. وإن كان صواباً فمن الله وبتوفيقه

بلى شيء إلخ: په دې سره د يو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چي دلته خاوند په خپل کلام أَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْنِ مَعَ عِتْقِ..." کي د "مَعَ" کلمه استعمال کړې ده، او د أهلِ لغت په نيز دا کلمه د اتصال او قِران لپاره استعماليږي، يعني تر دې کلمې چي کوم شی مخکي وي هغه تر دې کلمې د وروسته شي سره متصل او مقارن واقع کيږي، لهذا په دې اعتبار د عتق سره يو ځای پر مينځې دوه طلاقه واقع کېدل پکار دي، او په هغه دوو طلاقو سره مغلظه کېدل پکار دي، ځکه چي په هغه وخت کي دا مينځه وي او مينځه په دوو طلاقو سره مغلظه ګرځي، همدارنګه خاوند د رجعت حق حاصلېدل پکار نه دي، حال دا چي تاسو دلته د "مَعَ" کلمه د "بَعْد" او "وروسته" په معنیٰ سره استعمال کړې ده، آخر تاسو ولې د أهلِ لغت مخالفت وکړی.

صاحب د کتاب د دې په جواب کي فرمايي چي کلمه د "مَعَ" چي څرنګه د مصاحبت او اتصال لپاره استعماليږي، همدارنګه د بعديت او تأخر لپاره هم استعماليږي، لکه څرنګه چي په دې آيت کي د همدغه

معنیٰ لپاره استعمال سوي ده: إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا، يعني تر عُسر بعد يُسر دی (تر سختي وروسته آسانې ده). اوګورئ! کله چې په قرآن کې "مَعَ" د "بَعْد" په معنیٰ سره استعمال سوی دی، نو بيا موږ ته هم د دې پوره حق سته، لهذا ستاسو اعتراض بې ځايه دی، او څرنګه چې د خاوند په کلام کې "مَعَ" موجود دی، نو هغه به هم د "بَعْد" په معنیٰ سره وي او تر آزادی وروسته به پر ښځي طلاق واقع کيږي، د "فَيُحْمَلُ عَلَيْهِ بِدَلِيلِ مَا ذَكَرْنَا" همدغه مطلب دی.

د پورتنی مسئلې يو بل صورت

وَلَوْ قَالَ: إِذَا جَاءَ غَدٌ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْنِ او که [خاوند] ووايي: کله چې د سبا ورځ راسي [يعني کله چې سبا سي] نو ته په دوو طلاقو سره طلاقه يې! وَقَالَ الْمَوْلَى: إِذَا جَاءَ غَدٌ فَأَنْتِ حُرَّةٌ او مالک ووايي: کله چې د سبا ورځ راسي نو ته آزاده يې! فَجَاءَ الْغَدُ نو د سبا ورځ [چې] راسي لَمْ تَحِلَّ لَهُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ نو دا ښځه [تر هغه وخته پوري] د دغه خاوند لپاره نه حلاليږي تر دې چې د يو بل خاوند سر نکاح وکړي [يعني تر څو چې دا ښځي "حلاله" (تحليل) کړی نه وي تر هغه وخته دا ښځه مخکني خاوند لپاره حرامه ده] وَعِدَّتُهَا ثَلَاثُ حِيَضٍ او د هغې عدت به درې حيضه وي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ* او دا [حکم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ: زَوْجُهَا يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هغې خاوند به د رجعت مالک وي لِأَنَّ الزَّوْجَ قَرَنَ الْإِيقَاعَ بِإِعْتَاقِ الْمَوْلَى ځکه چې خاوند [دلته] د طلاق إيقاع د مالک د إعتاق سره متصل کړې ده حَيْثُ عَلَّقَهُ بِالشَّرْطِ الَّذِي عَلَّقَ بِهِ الْمَوْلَى الْعِتْقَ ځکه چې [خاوند] پر هغه شرط طلاق معلق کړی دی پر کوم چې مالک عتق [آزادېدل] معلق کړی دی [چې هغه د سبا ورځ ده] وَإِنَّمَا يَنْعَقِدُ الْمُعَلَّقُ سَبَبًا عِنْدَ الشَّرْطِ او معلق د شرط په وخت کې سبب منعقد کيږي [يعني کوم شی چې معلق کړی سوی دی هغه د شرط د موجودېدلو په وخت کې سبب جوړيږي] وَالْعِتْقُ يُقَارِنُ الْإِعْتَاقَ او عتق د إعتاق سره متصل کيږي لِأَنَّهُ عِلَّتُهُ ځکه چې إعتاق د عتق علت دی أَصْلُهُ الِاسْتِطَاعَةُ مَعَ الْفِعْلِ او د دې أصل دا دی چې قدرت مع الفعل وي [يعني د علت مطلب دا دی چې د کار سره د کار کولو قدرت هم وي] فَيَكُونُ التَّطْلِيقُ مُقَارِنًا لِلْعِتْقِ ضَرُورَةً لهذا تطليق به د ضرورت پر بناء د عتق سره متصل وي فَتُطَلَّقُ بَعْدَ الْعِتْقِ نو تر عتق وروسته به پر ښځي طلاق واقع کيږي فَصَارَ كَالْمَسْأَلَةِ الْأُولَى لهذا دا [مسئله] د اولې مسئلې په څېر سو وَلِهَذَا تُقَدَّرُ عِدَّتُهَا بِثَلَاثِ حِيَضٍ او له همدې وجهې د دې ښځي عدت

---

* القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله كما ذُكِر في رد المحتار (ج: ١ ص:٤٨٥)، وكذا في الهندية (ج:١ ص:٣٦٩). [القول الراجح ج:١ ص: ٣٢٠]

درې حيض تاكل سوی دی وَلَهُمَا: أَنَّهُ عَلَّقَ الطَّلَاقَ بِمَا عَلَّقَ بِهِ الْمَوْلَى الْعِتْقَ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې خاوند پر هغه شي طلاق معلق کړی دی پر کوم شي مالک عتق معلق کړی دی [چې هغه د سبا ورځې راتلل دي] ثُمَّ الْعِتْقُ يُصَادِفُهَا وَهِيَ أَمَةٌ نو عتق [آزادي] به په داسې حالت کې د دغه ښځې سره مخامخ کيږي چې هغه مينځه وي فَكَذَا الطَّلَاقُ نو همداسې به طلاق [په داسې حالت کې د دغې سره مخامخ کيږي چې هغه مينځه وي] وَالطَّلْقَتَانِ تُحَرِّمَانِ الْأَمَةَ حُرْمَةً غَلِيظَةً او دوه طلاقه مينځه په حرمت غليظه سره حراموي بِخِلَافِ الْمَسْأَلَةِ الْأُولَى په خلاف د اولې مسئلې [کوم چې په تېر عبارت کې ذکر سوه] لِأَنَّهُ عَلَّقَ التَّطْلِيقَ بِإِعْتَاقِ الْمَوْلَى ځکه چې [هلته] خاوند تطليق د مالک پر إعتاق معلق کړی دی فَيَقَعُ الطَّلَاقُ بَعْدَ الْعِتْقِ نو ځکه به [هلته] تر عتق وروسته طلاق واقع کيږي عَلَى مَا قَرَّرْنَاهُ لکه مخکې چې موږ دا ثابته کړه وَبِخِلَافِ الْعِدَّةِ او په خلاف د علت لِأَنَّهُ يُؤْخَذُ فِيهَا بِالِاحْتِيَاطِ ځکه چې په عدت کې په احتياط سره عمل کيږي وَكَذَا الْحُرْمَةُ الْغَلِيظَةُ يُؤْخَذُ فِيهَا بِالِاحْتِيَاطِ او همداسې په حرمت غليظه کې [هم] په احتياط سره عمل کيږي وَلَا وَجْهَ إِلَى مَا قَالَ او امام محمد رَحِمَهُ الله چې څه ويلي دي د هغه هيڅ وجه [او دليل] نسته لِأَنَّ الْعِتْقَ لَوْ كَانَ يُقَارِنُ الْإِعْتَاقَ ځکه که عتق د إعتاق مقارن [او د هغه سره متصل] دی لِأَنَّهُ عِلَّتُهُ نو د هغه وجه [خو] دا ده چې إعتاق د عتق علت دی فَالطَّلَاقُ يُقَارِنُ التَّطْلِيقَ نو طلاق به [هم] د تطليق مقارن وي لِأَنَّهُ عِلَّتُهُ ځکه چې تطليق [بيا] د طلاق علت دی فَيَقْتَرِنَانِ نو به [إعتاق او تطليق] دواړه يو د بل مقارن [او سره متصل] وي.

اللغات: ﴿غَلِيْظَة﴾ سخت، درووند. ﴿يَقْتَرِنَان﴾ د افتعال له باب څخه د تثنيه مذکر غائب مضارع معلوم صيغه ده: متصل کېدل، يو ځای کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته (کوم چې د بل چا مينځه وي) ووايي: إِذَا جَاءَ غَدٌ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْنِ (يعني کله چې د سبا ورځ راسي، نو ته په دوو طلاقو سره (پر ما) طلاقه يې)، او د مينځې مالک هم هغې ته ووايي: إِذَا جَاءَ غَدٌ فَأَنْتِ حُرَّةٌ (کله چې د سبا ورځ راسي، نو ته آزاده يې)، اوس په دې صورت کې د امام صاحب او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر ښځې دوه طلاقه واقع کيږي، او ځرنګه چې هغه مينځه ده، نو په دې دوو طلاقو سره مغلظه ګرځي او د خاوند لپاره حراميږي، او له حلاله (تحليل) څخه بغير هغه د خاوند لپاره نه حلاليږي، لېکن د هغې چې کوم علت دی، هغه به احتياطاً درې حيضه وي.

د دې په خلاف امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې پر ښځې دوه طلاقِ رجعي واقع کيږي او تر دوو طلاقو وروسته د هغې خاوند ته د رجعت کولو پوره حق سته.

د امام محمد دليل: دا دی چې مالک چې پر کوم شي إعتاق معلق کړی دی (يعني د سبا ورځې راتلل)، پر هغه شي خاوند هم د طلاق إيقاع معلق کړی دی، نو د خاوند إيقاع د مالک د إعتاق سره متصل او مقارن دی، او څرنګه چې إعتاق (آزادول) د عتق (آزادېدلو) علت دی، نو ځکه به عتق د إعتاق مقارن او د إعتاق سره متصل وي، ځکه چې د علت اصل قدرت مع الفعل دی (يعني چې يو کار تر اوسه سوی نه وي لېکن سړی د هغه پر کولو قادر وي، او إعتاق [آزادول] هم تر اوسه واقع سوي نه دي، بلکې کله چې شرط موجود سي، يعني د سبا ورځ راسي، نو آزادي واقع کيږي، لهذا إعتاق د عتق علت دی، او علت له فعل څخه جلا نه وي بلکې مقارن وي)، لنډه دا چې عتق د إعتاق مقارن دی (يعني دوی دواړه سره متصل دي)، او څرنګه چې تطليق او إعتاق دواړه پر يوه شرط معلق سوي دي (چې هغه د سبا ورځ ده)، نو په دې وجه به تطليق هم د إعتاق مقارن وي (يعني پر يوه شرط د معلق کېدلو په وجه به په إعتاق او تطليق کې هم اتصال وي)، او مو‌ږ وويل چې عتق د إعتاق مقارن دی، او د مقارن، مقارن هم مقارن وي، نو ځکه به تطليق د عتق مقارن وي. اوس چې کله په تطليق او عتق کې مقارنت ثابت سو، نو دا دواړه خو به يو ځای واقع کيږي، خو څرنګه چې طلاق د تطليق حکم دی (او تطليق يې علت دی)، او د يو شي حکم د هغه شي تر وجود وروسته راځي (يعني اول يو شی ثابتيږي، وروسته بيا د هغه حکم ثابتيږي) نو ځکه به طلاق هم تر تطليق وروسته او مؤخر وي. او کله چې طلاق تر تطليق وروسته دی، نو بيا به طلاق يقيناً بعد العتق ثابتيږي او واقع کيږ. ځکه چې عتق خو د تطليق مقارن دی او تطليق تر طلاق مخکې ثابت سوی دی نو عتق به هم تر طلاق مخکې ثابت سوی وي، لهذا کله چې دلته طلاق بعد العتق ثابت سوی او واقع سوی دی (يعني تر آزادۍ وروسته طلاق واقع سوی دی)، نو ځکه به هغه ښځه په دوو طلاقو سره مغلظه نه ګرځي، ځکه چې هغه آزاده ده (او آزاده ښځه په دريو طلاقو سره مغلظه ګرځي). لهذا څرنګه چې په آزاده ښځه کې د خاوند لپاره تر دوو طلاقو وروسته له حلاله څخه بغير د رجعت کولو حق سته، همداسې به دلته هم خاوند لره د رجعت حق وي.

او د طلاق بعد العتق واقع کېدلو بل څرګند دليل دا هم دی چې د دې ښځې عدت درې حيضه ټاکل سوی دی، که چيرې دا ښځه د مينځې توب په وجه په دوو طلاقو سره مغلظه سوې وای، نو بيا به د هغې عدت هم دوه حيضه وای. لهذا په عدت کې د دريو حيض تعيين (ټاکل کېدل) هم د دې ښځې پر نه مغلظه کېدلو دلالت کوي، نو په دې وجه به هم خاوند لره د رجعت حق وي.

د شيخينو دليل: دا دی چي مالک هم پر مجئِ غَد (يعني د سبا ورځي په راتللو باندي) عتق معلق کړی دی او خاوند پر مجئِ غَد طلاق معلق کړی دی. او دا خبره تسليم سوې ده چي عتق (آزادي) د مينځي توب په حالت کي واقع کيږي، لهذا طلاق به هم د مينځي توب په حالت کي واقع کيږي. او ځرنګه چي مينځه د دوو طلاقو محل ده. نو د خاوند په دوو طلاقو سره به هغه مغلظه ګرځي. او له حلاله ځخه بغير به د خاوند لپاره د رجعت حق نه وي.

په خلاف د مخکنۍ مسئلې (کوم چي په تېر عبارت کي تېره سوه). ځکه چي هلته خاوند د مالک پر إعتاق تطليق معلق کړی وو. نو ګواکي إعتاق شرط او تطليق جزاء وه. او جزاء تر شرط وروسته واقع کيږي. نو په هغه مسئله کي تر إعتاق يعني د ښځي تر آزادولو وروسته پر هغې طلاق واقع سوی دی. نو ځکه به هلته خاوند لره د رجعت حق وي. خو ځرنګه چي دلته د مينځي توب په حالت کي دوه طلاقه واقع سوي دي. او مينځه په دوو طلاقو سره مغلظه ګرځي. نو ځکه به دلته خاوند لره د رجعت حق نه وي.

بخلاف العدة إلخ: امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايلي وو چي د دې ښځي عدت درې حيضه تاکل کېدل پر دې دلالت کوي چي دا ښځه بائنه مغلظه نه ده او خاوند لره د رجعت حق سته. صاحب د هدايې په دې عبارت سره د هغه ترديد کوي. فرمايي چي د اصل او قياس په اعتبار سره خو زموږ په نېز د دې ښځي عدت دوه حيض کېدل پکار وو. خو ځرنګه چي عدت له هغو اُمورو ځخه چي په هغوی کي احتياط کيږي، نو ځکه موږ احتياطاً د دې ښځي عدت درې حيضه تاکلی دی. لهذا په دې سره د ښځي پر نه مغلظه کېدو دليل نه سي نيول کېدای.

او حُرمت (يعني طلاق) هم له هغو اُمورو ځخه دی چي په هغوی کي احتياط کيږي. او د احتياط تقاضا دا ده چي دا ښځه په دوو طلاقو سره مغلظه وګرځي، نو ځکه دلته بيا موږ په دوو طلاقو سره د حرمتِ غليظه د ثبوت فتویٰ ورکړې ده.

ولا وجه إلخ: په دې سره د امام محمد رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي، فرمايي چي کله د إعتاق د علت کېدلو پر بناء عتق د إعتاق مقارن دی. نو د تطليق د علت کېدلو پر بناء به طلاق هم د تطليق مقارن وي. او دلته عتق د إعتاق سره واقع کيږي، لهذا طلاق به هم د تطليق سره واقع کيږي، او ځرنګه چي عتق د مينځي توب په حالت کي واقع کيږي. نو طلاق به هم د مينځي توب په حالت کي واقع کيږي. او د مينځي توب په حالت کي که يوې مينځي ته طلاق ورکول سي. نو هغه مغلظه ګرځي. لهذا په دې مسئله کي به هم ښځه مغلظه ګرځي، او د رجعت ټولي دروازې به د خاوند لپاره بندي وي.



فَصْلٌ فِيْ تَشْبِيْهِ الطَّلَاقِ وَوَصْفِهِ

(دا) فصل (د يو شي سره) د طلاق د تشبيه ورکولو او د هغه د وصف بيانولو په باره کې دی

تشریح: څرنګه چې وصف د أصل تابع وي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله مخکې د أصل يعنې د طلاق بيان وکړی، اوس له دې ځايه د طلاق د وصف او د هغه د بېلابېلو صورتونو بيان کوي.

د ګوتو په اشاره سره د طلاق ورکولو حکم

وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ هٰكَذَا يُشِيْرُ بِالْإِبْهَامِ وَالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى او کوم سړی چې خپلې ښځې ته ووايي: ته داسې [يعني دومره] طلاقه يې [او] اشاره وکړي په بټه او د شهادت او د مينځ په ګوتو سره فَهِيَ ثَلَاثٌ نو دا درې طلاقه دي لِأَنَّ الْإِشَارَةَ بِالْأَصَابِعِ تُفِيْدُ الْعِلْمَ بِالْعَدَدِ فِيْ مَجْرَى الْعَادَةِ إِذَا اقْتَرَنَتْ بِالْعَدَدِ الْمُبْهَمِ ځکه چې په ګوتو سره اشاره کول عادتاً د عدد د معلومولو فايده ورکوي کله چې [دا اشاره] د مبهم عدد سره يو ځای سي قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1]: اَلشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا [لکه څرنګه چې] نبي ﷺ وفرمايل: مياشته د دومره، دومره او دومره [شپو] کيږي [يعني يو ځل نبي کريم ﷺ د ګوتو په اشاره د مياشتې تول شپې خلکو ته بيان کړې چې ځينې مياشتې د نهه ويشت شپو وي، او ځينې مياشتې د دېرشو شپو وي] وَإِنْ أَشَارَ بِوَاحِدَةٍ فَهِيَ وَاحِدَةٌ او که [خاوند] په يوه ګوته سره اشاره وکړي نو دا يو طلاق دی وَإِنْ أَشَارَ بِثِنْتَيْنِ فَهِيَ ثِنْتَانِ او که په دوو ګوتو سره اشاره وکړي نو دا دوه طلاقه دي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې [اوس] موږ ذکر کړی وَالْإِشَارَةُ تَقَعُ بِالْمَنْشُوْرَةِ مِنْهَا او اشاره به په خلاصو ګوتو سره واقع کيږي [نه په بندو ګوتو سره] وَقِيْلَ: إِذَا أَشَارَ بِظُهُوْرِهَا فَبِالْمَضْمُوْمَةِ مِنْهَا او ويل سوي دي: چې که [خاوند] د ګوتو په شا سره اشاره وکړي نو په بندو ګوتو سره به اشاره واقع کيږي وَإِذَا كَانَ تَقَعُ الْإِشَارَةُ بِالْمَنْشُوْرَةِ مِنْهَا او کله چې [خبره داسې ده چې] په خلاصو ګوتو سره اشاره واقع کيږي فَلَوْ نَوَى الْإِشَارَةَ بِالْمَضْمُوْمَتَيْنِ نو که [خاوند] په دوو بندو ګوتو سره د اشارې نيت وکړي يُصَدَّقُ دِيَانَةً لَا قَضَاءً

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصوم، باب قول النبي ﷺ إذا رأيتم الهلال، حديث رقم: ۱۹۰۸ و ابو داؤد في كتاب الصوم، باب الشهر يكون تسعًا وعشرين، حديث رقم: ۲۳۲۲.

نو دیانتاً به [د هغه] تصدیق کیږي، نه قضاءً وَكَذَا إِذَا نَوَى الْإِشَارَةَ بِالْكَفِّ او همداسې که هغه په ورغوي سره د اشارې نیت وکړي انو هم به فقط دیانتاً د هغه تصدیق کیږي، نه قضاءً؛ حَتَّى يَقَعَ فِي الْأُولَى ثِنْتَانِ دِيَانَةً وَفِي الثَّانِيَةِ وَاحِدَةٌ تر دې چې په اول صورت کې به دیانتاً دوه طلاقه واقع کیږي او په دویم صورت کې به یو طلاق [دیانتاً] واقع کیږي لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُهُ لَكِنَّهُ خِلَافُ الظَّاهِرِ ځکه چې هغه د دې احتمال لري وَلَوْ لَمْ يَقُلْ هَكَذَا او که [خاوند] هَكَذَا نه وواییې تَقَعُ وَاحِدَةٌ نو یو طلاق واقع کیږي لِأَنَّهُ لَمْ يَقْتَرِنْ بِالْعَدَدِ الْمُبْهَمِ ځکه چې اشاره د مبهم عدد سره یو ځای نه سوه فَبَقِيَ الْاِعْتِبَارُ لِقَوْلِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ نو [فقط] د خاوند د دې قول: أَنْتِ طَالِقٌ اعتبار پاته سو.

اللغات: ﴿يُشِيرُ﴾ د افعال مضارع ه: اشاره کول. ﴿مَنْشُوْرَةٌ﴾ د اسم مفعول مؤنث صیغه ده، له نصر او ضرب دواړو څخه راځي، نَشَرَ يَنْشِرُ نَشْرًا: غوړول، خپرول، خلاصول. ﴿مَضْمُوْمَةٌ﴾ د نصرب له باب څخه د اسم مفعول مؤنث صیغه ده، ضَمَّ يَضُمُّ ضَمًّا: جمع کول، ګوتې سره یو ځای کول (منبلول)، ﴿كَفّ﴾ ورغوی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی خپلې ښځې ته وواییې: أَنْتِ طَالِقٌ هٰكَذَا (ته دومره پر ما طلاقه یې) او په دریو ګوتو سره اشاره وکړي یعني په بټه ګوته او د شهادت په ګوته او د مینځ په ګوته سره، نو په دې صورت کې د هغه پر ښځې درې طلاقه واقع کیږي؛ دلیل دا دی چې کله اشاره د مبهم عدد سره متصل سي، نو بیا عادتاً (په عامه محاوره) کې په ګوتو سره اشاره کول د علم بالعدد فایده ورکوي (یعني په څومره ګوتو سره چې اشاره سوې وي، په عامه محاوره کې هغومره ګوتې څنې مرادیږي)، همدارنګه نبي کریم ﷺ هم د میاشتې د عدد د بیانولو لپاره په ګوتو سره اشاره کړې ده، لکه په عبارت کې چې په دې هکله حدیث ذکر سو، له دې څخه هم معلومیږي چې په ګوتو سره اشاره کول د عدد بیانولو لپاره کافي دي.

وإن أشار بواحدة إلخ: او که خاوند هٰكَذَا وواییې او په یوه ګوته سره اشاره وکړي، نو یو طلاق واقع کیږي، او که په دوو ګوتو سره اشاره وکړي، نو دوه طلاقه واقع کیږي، د مخکښې دلیل په وجه.

والإشارة إلخ: صاحب د هدایې فرمایي چې د طلاق په عدد او شمېر بیانولو کې خلاصې کړلو سوي ګوتې معتبر دي (ځکه چې په محاوره کې هم فقط د خلاصو ګوتو اعتبار کیږي، مثلاً که دوې ګوتې خلاصې وي او درې ګوتې بندې وي، نو دوو ګوتو اعتبار کیږي او هغه عدد شمارل کیږي)، او د ځینو

حضراتو را پېدا دي. چې کله خاوند د ګوتو د شا په طرف سره اشاره وکړي، نو بيا بندې ګوتې معتبرې دي.

وإذا كان تقع إلخ: د دې حاصل دا دی چې اصل اعتبار خو د خلاصو ګوتو دی، لېکن بندې ګوتې هم د اشارې احتمال لري، لهذا که خاوند درې ګوتې خلاصې کړې وي او دوې بندې وي، او په بندو ګوتو سره د اشارې نيت وکړي، نو که څه هم دا د اشارې احتمال لري، خو د ظاهر خلاف دي، نو ځکه به فقط دیانتاً د هغه تصديق کېږي (او دوه طلاقه به واقع کېږي)، او قضاءً يعني د قاضي په دربار کې به د هغه تصديق نه کېږي، او که په ورغوي سره د اشارې نيت وکړي، نو بيا به هم دیانتاً د هغه اعتبار کېږي، او يو طلاق به واقع کېږي، ځکه چې ورغوی يو دی.

ولولم يقل: او که خاوند تر أَنْتِ طَالِقٌ وروسته هٰكَذَا نه وايي، او په دريو ګوتو سره اشاره وکړي، نو يو طلاقِ رجعي واقع کېږي، ځکه چې دلته اشاره د عدد مبهم سره متصل نه سوه، لهذا اوس دوو يا دريو طلاقو ته اشاره نه وسوه، نو ځکه فقط أَنْتِ طَالِقٌ باقي پاته سو، او په أَنْتِ طَالِقٌ سره يو طلاقِ رجعي واقع کېږي.

د طلاق په الفاظو کې شدت او زياتوب کول

وَإِذَا وَصَفَ الطَّلَاقَ بِضَرْبٍ مِنَ الشِّدَّةِ أَوِ الزِّيَادَةِ کله چې [خاوند] صفت وکړي د طلاق ايعني طلاق موصوف کړي] په يو زياتوب او سختۍ سره **كَانَ بَائِنًا** نو هغه [طلاق] به بائن وي **مِثْلُ أَنْ يَقُولَ: أَنْتِ طَالِقٌ بَائِنٌ أَوْ أَلْبَتَّةَ** مثلاً [خاوند] ووايي: ته بائنه طلاقه يې يا ته البته [قطعًا] طلاقه يې **وَقَالَ الشَّافِعِيُّ**❁: **يَقَعُ رَجْعِيًّا إِذَا كَانَ بَعْدَ الدُّخُولِ بِهَا** او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې [په دې سره] يو طلاقِ رجعي واقع کېږي که چېرې دا تر دخول وروسته وي ايعني که تر دخول وروسته په دې الفاظو سره طلاق ورکړي، نو بيا يو طلاقِ رجعي واقع کېږي] **لِأَنَّ الطَّلَاقَ شُرِعَ مُعَقَّبًا لِلرَّجْعَةِ** ځکه چې طلاق په داسې حالت کې مشروع سوی دی چې تر ځان وروسته رجعت ثابتوي **فَكَانَ وَصْفُهُ بِالْبَيْنُونَةِ خِلَافَ الْمَشْرُوعِ** لهذا په بينونت سره به د هغه موصوف کول د مشروع خلاف وي **فَيَلْغُو** نو ځکه به [دا وصف] لغو کېږي **كَمَا إِذَا قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ عَلَى أَنْ لَا رَجْعَةَ لِي عَلَيْكِ** لکه په هغه صورت کې چې کله [خاوند]

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله : فعلم أن ما ذكره أو لًا قول الإمام، وعليه المتون (ج:٣، ص:٢٨٧). [القول راجح ج:١، ص:٣٢٠]

ووايي: پر دې شرط ته طلاقه يې چې ما ته به [بيا] پر تا د رجعت حق نه وي وَلَنَا: أَنَّهٗ وَصَفَهٗ بِمَا يَحْتَمِلُهٗ لَفْظُهٗ زموږ دليل دا دی: چې خاوند په داسې شي سره طلاق متصف کړی دی چې الفظ د طلاق] د هغه احتمال لري أَلَا تَرٰى أَنَّ الْبَيْنُوْنَةَ قَبْلَ الدُّخُوْلِ بِهَا وَبَعْدَ الْعِدَّةِ تَحْصُلُ بِهٖ آيا ته نه ګورې! چې تر دخول مخکې [د طلاق ورکولو په صورت کې] يا تر عدت وروسته په دې الفظ د طلاق يعني أَنْتِ طَالِقٌ] بينونت حاصليږي فَيَكُوْنُ هٰذَا الْوَصْفُ لِتَعْيِيْنِ أَحَدِ الْمُحْتَمَلَيْنِ نو دا وصف به په دوو احتمالاتو کې د يوه احتمال د تعيين [ټاکلو] لپاره وي وَمَسْأَلَةُ الرَّجْعَةِ مَمْنُوْعَةٌ او مسئله د رجعت ممنوع ده [يعني موږ ته تسليم نه ده] فَتَقَعُ وَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ إِذَا لَمْ تَكُنْ لَهٗ نِيَّةٌ أَوْ نَوَى الثِّنْتَيْنِ نو ځکه به يو طلاق بائن واقع کيږي کله چې خاوند [په دې الفاظو سره] نيت کړی نه وي يا يې د دوو [طلاقو] نيت کړی وي أَمَّا إِذَا نَوَى الثَّلَاثَ فَثَلَاثٌ ليکن کله چې هغه د دريو [طلاقو] نيت وکړی نو درې طلاقه به وي لِمَا مَرَّ مِنْ قَبْلُ د هغه دليل په وجه کوم چې مخکې تير سو وَلَوْ عَنٰى بِقَوْلِهٖ: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَبِقَوْلِهٖ بَائِنٌ أَوْ أَلْبَتَّةَ أُخْرٰى او که [خاوند] په خپل دې قول: أَنْتِ طَالِقٌ سره د يوه طلاق او په خپل دې قول: بَائِنٌ يا أَلْبَتَّةَ سره د بل طلاق اراده وکړه تَقَعُ تَطْلِيْقَتَانِ بَائِنَتَانِ نو دوه بائن طلاقونه واقع کيږي لِأَنَّ هٰذَا الْوَصْفَ يَصْلُحُ لِابْتِدَاءِ الْإِيْقَاعِ ځکه چې دا لفظ ابتداءً [د طلاق] واقع کولو صلاحيت لري.

اللغات: ﴿ضَرْبٌ﴾ قسم، نوع، ﴿أَلْبَتَّةَ﴾ له نصر او ضرب دواړو څخه اسم مرة دی: قطعاً، يقيناً، بَتَّ يَبِتُّ بَتًّا: غوڅول، نافذول، پخه اراده کول. البَتَّة د داسې کار په وخت کې ويل کيږي چې بيا انسان هغه ته رجوع نه کوي. مثلاً ويل کيږي: لَا أَفْعَلُهُ الْبَتَّةَ أَيْ لَا رَجْعَةَ فِيْهِ: زه قطعاً او يقيناً دا کار نه کوم يعني هيڅکله به رجوع نه ورته کوم، همدا وجه ده چې دا لفظ د طلاقِ غير رجعي (طلاقِ بائن) لپاره استعماليږي، ﴿مُعَقِّبٌ﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: وروسته کونکی، وروسته راوړونکی (وروسته ثابتونکی)، ترشا پرېښوونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند د شدت يا د زيادت په وصف سره طلاق متصف کړي. مثلاً ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ بَائِنٌ يا أَنْتِ طَالِقٌ أَلْبَتَّةَ يا داسې نور، نو په دې صورت کې پر ښځې طلاق بائن واقع کيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې که خاوند تر جماع او دخول وروسته په دې الفاظو سره طلاق ورکړي، نو بيا طلاقِ رجعي واقع کيږي، همدا د امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمَا الله مسلک دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چي طلاقِ صريح په داسي حالت کي مشروع کړی سوی دی چي تر هغه وروسته خاوند لره د رجعت حق سته، لهذا طلاقِ صريح د بينونت په وصف سره متصف کول خلافِ مشروع دي، او کوم شی چي خلافِ مشروع وي، هغه لغو کيږي، نو په دې وجه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز دا وصف لغو دی، او پر ښځي يو طلاقِ رجعي واقع کيږي، لکه په هغه صورت کي چي هم طلاقِ رجعي واقع کيږي، کله چي خاوند د طلاق ورکولو په وخت کي صراحتاً د رجعت نفي وکړي، مثلاً داسي ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ عَلَى أَنْ لَا رَجْعَةَ لِيْ.

زموږ دليل: دا دی چي دلته خاوند په يو داسي وصف سره طلاق متصف کړی دی چي د طلاق لفظ د هغه احتمال لري، ځکه چي په أَنْتِ طَالِقٌ کي د بينونت احتمال موجود دی، تاسو غور وکړئ! چي که خاوند په دې الفاظو سره غيرِ مدخول بها ښځي ته طلاق ورکړي، نو طلاقِ بائن واقع کيږي، همدارنګه مدخول بها ښځه هم تر عدت تېرولو وروسته په دې الفاظو سره بائنه ګرځي، نو که چيري د طلاق په لفظ کي د بينونت احتمال نه وای، نو په دې سره به بينونت نه واقع کېدای، لهذا کله چي د خاوند طلاق د دغه وصف احتمال لري، نو دا وصف به صحيح وي، او داسي به ويل کيږي، چي خاوند د وصف په ذريعه د رجعي او بائن له دواړو احتمالاتو څخه يو احتمال (يعني بينونت) متعين کړی.

ومسألة الرجعة الخ: په دې سره امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره موږ نه تسليموو چي "که خاوند صراحتاً د رجعت نفي وکړي نو طلاقِ رجعي واقع کيږي"، ځکه چي موږ په هغه صورت کي هم په دې سره يو طلاقِ بائن واقع کوو کله چي خاوند د يوه يا دوو طلاقو نيت کړی وی، او که د دريو طلاقو نيت يې کړی وي، نو درې طلاقه واقع کوو (دليل يې د إِيْقَاعِ الطلاق په باب کي تېر سو)، لهذا کله چي زموږ په نيز د امام شافعي دا خبره صحيح نه ده، نو د امام شافعي لپاره پر هغه قياس کول او زموږ د مذهب په مقابل کي په هغه سره دليل نيول صحيح نه دي، په دې هکله بايد امام شافعي څرګند او مُسلّم دليل پېش کړي.

ولوعنى الخ: فرمايي که خاوند په أَنْتِ طَالِقٌ يا البَتَّةَ کي په أَنْتِ طَالِقٌ سره د يوه طلاق اراده وکړي، او په بَائِنٌ يا البَتَّةَ سره د دويم طلاق اراده وکړي، نو دوه طلاقِ بائن واقع کيږي؛ دليل دا دی چي بَائِنٌ او البَتَّةَ داسي الفاظ دي چي په دوی سره ابتداءً (د طَالِقٌ له واسطې څخه بغير) هم طلاق ورکول صحيح دي، مثلاً که يو سړی خپلي ښځي ته فقط داسي ووايي: أَنْتِ بَائِنٌ (او طَالِقٌ ور سره ذکر نه کړي)، نو هم پر ښځي طلاق واقع کيږي، نو همداسي به دلته هم له بَائِنٌ څخه دويم طلاق مرادول صحيح وي، او څرنګه چي دلته دويم طلاقِ بَائِنٌ دی، نو اولیٰ او ضوره به هم طلاقِ بائن وي، ځکه چي په يوه ښځه کي طلاقِ رجعي او طلاقِ بائن دواړه سره جمع کېدای نه سي، بلکي د دوی اجتماع محال ده.

د طلاق په الفاظو کې د شدت کولو يو بل صورت

وَكَذَا إِذَا قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ أَفْحَشَ الطَّلَاقِ او همدارنګه [طلاق بائن واقع کيږي] کله چې خاوند ووايي: ته په بد طلاق سره [پر ما] طلاقه يې لِأَنَّهُ إِنَّمَا يُوصَفُ بِهٰذَا الْوَصْفِ بِاعْتِبَارِ أَثَرِهِ ځکه چې طلاق په دغه وصف سره د خپل أثر په وجه متصف کيږي وَهُوَ الْبَيْنُوْنَةُ فِي الْحَالِ او [د دې وصف] أثر في الحاله [فورا] بينونت [واقع کېدل] دي فَصَارَ كَقَوْلِهِ: بَائِنٌ نو دا داسې سو لکه د خاوند دا قول: [أَنْتِ] بَائِنٌ وَكَذَا إِذَا قَالَ: أَخْبَثَ الطَّلَاقِ أَوْ أَسْوَأَهُ او همدارنګه [طلاق بائن واقع کيږي] کله چې [خاوند] ووايي: [أَنْتِ طَالِقٌ] أَخْبَثَ الطَّلَاقِ يا أَسْوَأَ الطَّلَاقِ لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ [اوس] ذکر کړی وَكَذَا إِذَا قَالَ: طَلَاقَ الشَّيْطَانِ أَوْ طَلَاقَ الْبِدْعَةِ او همدارنګه [طلاق بائن واقع کيږي] کله چې [خاوند] ووايي: [أَنْتِ طَالِقٌ] طَلَاقَ الشَّيْطَانِ يا طَلَاقَ الْبِدْعَةِ [تا ته د شيطان طلاق دی، يا تا ته د بدعت طلاق دی] لِأَنَّ الرَّجْعِيَّ هُوَ السُّنِّيُّ ځکه چې طلاق رجعي سنت طلاق دی فَيَكُوْنُ قَوْلُهُ: الْبِدْعَةَ وَطَلَاقَ الشَّيْطَانِ بَائِنًا نو دهغه دا قول: الْبِدْعَةِ او طَلَاقَ الشَّيْطَانِ به طلاق بائن وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ فِي قَوْلِهِ أَنْتِ طَالِقٌ لِلْبِدْعَةِ: أَنَّهُ لَا يَكُوْنُ بَائِنًا إِلَّا بِالنِّيَّةِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه د خاوند د دې قول أَنْتِ طَالِقٌ لِلْبِدْعَةِ په باره کې روايت سوی دی: چې دا له نيت څخه بغير طلاق بائن نه ګرځي [يعني له نيت څخه بغير په دې سره طلاق بائن نه واقع کيږي] لِأَنَّ الْبِدْعَةَ قَدْ تَكُوْنُ مِنْ حَيْثُ الْإِيْقَاعِ فِي حَالَةِ حَيْضٍ ځکه چې بدعت کله د حيض په حالت کې د واقع کولو په اعتبار سره [هم] وي [مطلب دا چې د حيض په حالت کې طلاق واقع کول هم بدعت دي] فَلَا بُدَّ مِنَ النِّيَّةِ نو ځکه نيت ضروري دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ إِذَا قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ لِلْبِدْعَةِ أَوْ طَلَاقَ الشَّيْطَانِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چې کله خاوند ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ لِلْبِدْعَةِ يا طَلَاقَ الشَّيْطَانِ يَكُوْنُ رَجْعِيًّا نو دا به رجعي طلاق وي [يعني په دې سره طلاق رجعي واقع کيږي] لِأَنَّ هٰذَا الْوَصْفَ قَدْ يَتَحَقَّقُ بِالطَّلَاقِ فِي حَالَةِ الْحَيْضِ ځکه چې د حيض په حالت کې په طلاق ورکولو سره [هم] دا وصف [طلاق لره] ثابتيږي فَلَا تَثْبُتُ الْبَيْنُوْنَةُ بِالشَّكِّ نو د شک په ذريعه سره به بينونت نه ثابتيږي.

اللغات: ﴿أَفْحَش﴾ د کرُم د باب اسمِ تفضیل دی؛ تر ټولو بد. ﴿أَخْبَث﴾ د کرُمَ او نصر دواړو څخه اسمِ تفضیل دی: تر ټولو ناپاک (پلیت)، تر ټولو ردي او خراب. ﴿أَسْوَأ﴾ د نصر د باب اسمِ تفضیل دی: تر ټولو بد (قبیح).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی خپلې ښځې ته د أَنْتِ طَالِقٌ أَفْحَشَ الطَّلَاقِ په الفاظو سره طلاق ورکړي، یا مثلاً د أَنْتِ طَالِقٌ أَخْبَثَ الطَّلَاقِ یا أَسْوَأَ الطَّلَاقِ په الفاظو سره طلاق ورکړي، نو په دې ټولو صورتونو کې پر ښځې یو طلاقِ بائن واقع کیږي، دا په هغه وخت کله چې خاوند په دې الفاظو سره د طلاق نیت نه وي کړی، یا یې د یوه او دوو طلاقو نیت کړی وي، لیکن که خاوند د دریو طلاقو نیت کړی وي، نو بیا درې طلاقه واقع کیږي.

په دې اوصافو سره د طلاقِ بائن د واقع کېدلو وجه دا ده چې عموماً په داسې اوصافو سره هغه وخت یو شی متصف کیږي کله چې د دې اوصافو أثر مرادول مقصود وي، او د طلاق په باب کې د دې اوصافو اثر فوراً بینونت دی، نو به دا الفاظ د بَائِنٌ او الْبَتَّةَ په درجه کې وي، او په بَائِنٌ او الْبَتَّةَ سره طلاقِ بائن واقع کیږي، لهذا په دې الفاظو سره د طلاق د متصف کولو په صورت کې به هم طلاقِ بائن واقع کیږي.

وکذا إلخ: د دې حاصل دا دی که یو سړی خپلې ښځې ته د أَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقَ الشَّيْطَانِ یا أَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقَ الْبِدْعَةِ په الفاظو سره طلاق ورکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په دې دواړو صورتونو کې هم پر ښځې طلاقِ بائن واقع کیږي، ځکه چې طلاقِ رجعي ورکول سنت دي، او د سنت په ضد یعنې د بدعت په وصف سره چې کوم طلاق ورکول سي، یا د سنت تر ټولو د غټ دښمن او مخالف یعنې د لعین شیطان په وصف سره چې کوم طلاق ورکول سي نو ښکاره خبره ده چې هغه خو رجعي کېدای نه سي، لهذا هغه به خامخا بائن وي.

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا نقل سوی دی چې د أَنْتِ طَالِقٌ لِلْبِدْعَةِ د ویلو په صورت کې هغه وخت طلاقِ بائن واقع کیږي، کله چې خاوند د بینونت نیت کړی وي، ځکه چې کله نا کله د حیض په حالت کې په طلاق ورکولو سره هم طلاق بدعي ګرځي، نو د دې احتمال د ختمولو لپاره د بینونت نیت کول ضروري دي، ځکه چې یو احتمال ختمول او بل احتمال متعینول دا د نیت کار دی، لِأَنَّهُ لِتَمْيِيزِ أَحَدِ الأَمْرَيْنِ دی.

وعن محمد إلخ: له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه هم دا روایت نقل سوی دی چې د أَنْتِ طَالِقٌ لِلْبِدْعَةِ او طَلَاقَ الشَّيْطَانِ د ویلو په صورت کې طلاقِ رجعي واقع کیږي، ځکه چې د حیض په حالت کې طلاق ورکول هم په دې أوصافو سره متصف کیږي، نو په دې کې شک واقع سو چې آیا په دغه صورت کې طلاقِ بائن واقع

کیږي، که نه، او بینونت په شک سره نه ثابتیږي نو ځکه به دلته طلاق بائن نه واقع کیږي. خو څرنګه چي د طلاق وقوع یقیني ده نو ځکه به د طلاقِ رجعي له وقوع څخه هیڅ خلاصون نه وي. هغه به خامخا واقع کیږي.

د طلاق په الفاظو کي د زیاتوب کولو یو بل صورت

وَكَذَا إِذَا قَالَ: كَالْجَبَلِ او همدارنګه [طلاقِ بائن واقع کیږي] کله چي [خاوند] وواېي: [أَنْتِ طَالِقٌ] كَالْجَبَل [تا ته لکه غر دومره طلاق دی] لِأَنَّ التَّشْبِيهَ بِهِ يُوجِبُ زِيَادَةً لَا مَحَالَةَ ځکه چي د غره سره تشبیه ورکول خامخا زیاتوب ثابتوي وَذٰلِكَ بِإِثْبَاتِ زِيَادَةِ الْوَصْفِ او دا [زیاتوب] د وصف د زیاتوب په إثبات سره راځي وَكَذَا إِذَا قَالَ: مِثْلَ الْجَبَلِ او همدارنګه [طلاقِ بائن واقع کیږي] کله چي [خاوند] وواېي: [تا ته] د غره په شان [طلاق دی] لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ [اوس] ذکر کړی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَكُونُ رَجْعِيًا او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چي دا [طلاق] به رجعي وي ایعني په دې سره طلاقِ رجعي واقع کیږي] لِأَنَّ الْجَبَلَ شَيْءٌ وَاحِدٌ ځکه چي [ټوله] غر یو شی دی فَكَانَ تَشْبِيهًا بِهِ فِي تَوَحُّدِهِ نو به د غره سره [د طلاق] تشبیه ورکول د هغه [غره] په یووالي کي وي.

اللغات: ﴿جَبَل﴾ غر. جمع: جِبَال. ﴿تَوَحُّد﴾ د تفعّل مصدر دی: یو کېدل. یو والي.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که یو سړی د یو ډېر غټ شي مثلاً د غره سره د طلاق تشبیه ورکړي او ښځي ته وواېي: أَنْتِ طَالِقٌ كَالْجَبَل یا مِثْلَ الْجَبَلِ، نو په دې صورت کي د طرفینو په نېز پر ښځي یو طلاقِ بائن واقع کیږي. او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز یو طلاقِ رجعي واقع کیږي.

د طرفینو دلیل: دا دی چي دلته خاوند د ډېر غټ شي یعني د غره سره تشبیه ورکړې ده. لهذا د طلاق په صفت کي هم زیاتوب (زیادت) راتلل پکار دي، او دا هغه وخت راځي چي طلاقِ بائن واقع سي. نو ځکه به په دې صورت کي طلاقِ بائن واقع کیږي.

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چي غر که څه هم غټ شی دی خو بیا هم ټوله یو (واحد) شی. نو په یووالي (وحدانیت) کي د هغه سره د طلاق تشبیه راغله. نو ځکه به یو طلاقِ رجعي واقع کیږي.

• د طلاق په الفاظو کې د شدت يا زياتوب کولو يو بل تفصيلي صورت

وَلَوْقَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ أَشَدَّ الطَّلَاقِ أَوْ كَأَلْفٍ أَوْ مِلْءَ الْبَيْتِ او که [خاوند] خپلې ښځې ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ أَشَدَّ الطَّلَاقِ [تا ته تر ټولو سخت طلاق دی] يا كَأَلْف [تا ته د زرو طلاقو په څير طلاق دی] يا مِلْءَ الْبَيْت [تا ته ډک کور طلاق دی] فَهِيَ وَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ نو دا يو طلاق بائن دی إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ ثَلَاثًا خو دا چې خاوند د درېو [طلاقو] نيت وکړي أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّهُ وَصَفَهُ بِالشِّدَّةِ کوم چې اول لفظ [أَشَدَّ الطَّلَاق] دی نو ځکه چې خاوند طلاق په شدت [سختۍ] سره متصف کړی دی وَهُوَ الْبَائِنُ او هغه [شديد طلاق] بائن دی لِأَنَّهُ لَا يَحْتَمِلُ الِانْتِقَاضَ وَالِارْتِفَاضَ ځکه چې بائن طلاق د ختمېدلو او ضايع کېدلو [فسخ کېدلو] احتمال نه لري أَمَّا الرَّجْعِيُّ فَيَحْتَمِلُهُ لېکن طلاق رجعي د دې [ختمېدلو او ضايع کېدلو] احتمال لري وَإِنَّمَا تَصِحُّ نِيَّةُ الثَّلَاثِ لِذِكْرِهِ الْمَصْدَرَ او د درېو [طلاقو] نيت ځکه صحيح دی چې خاوند مصدر ذکر کړی دی وَأَمَّا الثَّانِي فَلِأَنَّهُ قَدْ يُرَادُ بِهَذَا التَّشْبِيهُ فِي الْقُوَّةِ تَارَةً وَفِي الْعَدَدِ أُخْرَى او کوم چې دويم لفظ دی [يعني كَأَلْف] نو ځکه چې کله په دې سره په قوت کې تشبيه ورکول مراديږي او کله [په دې سره] په عدد کې [تشبه ورکول مراديږي] يُقَالُ: هُوَ كَأَلْفِ رَجُلٍ ويل کيږي: هغه د زرو خلکو په څير دی وَيُرَادُ بِهِ الْقُوَّةُ او په دې سره [د هغه] قوت مراديږي فَتَصِحُّ نِيَّةُ الْأَمْرَيْنِ لهذا د دواړو شيانو نيت کول صحيح دي وَعِنْدَ فُقْدَانِهَا يَثْبُتُ أَقَلُّهُمَا او د نيت د نشتوالي په صورت کې به د دواړو شيانو أقل [کمه درجه] ثابتيږي وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ يَقَعُ الثَّلَاثُ عِنْدَ عَدَمِ النِّيَّةِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی: چې د نيت د نشتوالي په صورت کې درې طلاقه واقع کيږي لِأَنَّهُ عَدَدٌ ځکه چې "أَلْف" عدد دی فَيُرَادُ بِهِ التَّشْبِيهُ فِي الْعَدَدِ ظَاهِرًا نو په ظاهري توګه به له هغه څخه تشبيه في العدد مراد وي فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ كَعَدَدِ أَلْفٍ نو هغه داسې دې لکه [خاوند] چې ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ كَعَدَدِ أَلْف [ته د زرو طلاقو د شمېر په څير طلاقه يې] وَأَمَّا الثَّالِثُ فَلِأَنَّ الشَّيْءَ قَدْ يَمْلَأُ الْبَيْتَ لِعِظَمِهِ فِي نَفْسِهِ او کوم چې دريم لفظ [مِلْءَ الْبَيْت] دی نو ځکه چې کله نا کله يو شی د خپل ځان د غټوالي په وجه سره کور ډکوي وَقَدْ يَمْلَأُ لِكَثْرَتِهِ او کله د خپل ډېرښت په وجه سره [کور] ډکوي فَأَيُّ ذَلِكَ نَوَى صَحَّتْ نِيَّتُهُ لهذا د کوم شي نيت چې هم خاوند وکړي د هغه نيت به صحيح وي وَعِنْدَ

إِنْعِدَامِ النِّيَّةِ يَثْبُتُ الْأَقَلُّ او د نيت د نشتوالي په صورت کي به أقل [کمه درجه طلاق] ثابتيږي ثُمَّ الْأَصْلُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ مَتٰى شَبَّهَ الطَّلَاقَ بِشَيْءٍ يَقَعُ بَائِنًا بيا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز أصل دا دی چي کله هم ديو شي سره طلاق ته تشبيه ورکول سي نو طلاق بائن واقع کيږي أَيَّ شَيْءٍ كَانَ الْمُشَبَّهُ بِهٖ [برابره ده] که مشبه هر [هول] شی وي [د کوم شي سره چي تشبيه ورکول سوي وي هغه شي ته مشبه بهٖ وايي] ذُكِرَ الْعِظَمُ أَوْ لَمْ يُذْكَرْ [برابره ده، لفظ د] عظمت ذکر سوی وي که نه وي لِمَا مَرَّ أَنَّ التَّشْبِيهَ يَقْتَضِي زِيَادَةَ وَصْفٍ د هغه دليل په وجه کوم چي تېر سو چي تشبيه ورکول د وصفت د زياتوب تقاضا کوي وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ إِنْ ذُكِرَ الْعِظَمُ يَكُونُ بَائِنًا وَإِلَّا فَلَا او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز که [لفظ د] عظمت ذکر سوی وي نو هغه [طلاق] به بائن وي کنې [بائن] به نه وي أَيَّ شَيْءٍ كَانَ الْمُشَبَّهُ بِهٖ مشبه بهٖ که هر شی وي لِأَنَّ التَّشْبِيهَ قَدْ يَكُونُ فِي التَّوْحِيدِ عَلَى التَّجْرِيدِ ځکه چي ځيني وخت تشبيه په يو والي کي وي د خالي کولو پر بناء [يعني کله نا کله وصف (غټ شی) د عظمت له معنیٰ څخه خالي کړی سي او په يو والي کي تشبيه ور سره ورکول سي] أَمَّا ذِكْرُ الْعِظَمِ فَلِلزِّيَادَةِ لَا مَحَالَةَ کوم چي د عظمت ذکر کول دي نو هغه يقيناً د زياتوب لپاره وي وَعِنْدَ زُفَرَ إِنْ كَانَ الْمُشَبَّهُ بِهٖ مِمَّا يُوصَفُ بِالْعِظَمِ عِنْدَ النَّاسِ او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز که مبشه بهٖ له هغه شيانو څخه وي کوم چي د خلکو په نېز په عظمت سره متصف کيږي يَقَعُ بَائِنًا نو طلاق بائن واقع کيږي وَإِلَّا فَهُوَ رَجْعِيٌّ کنې هغه به رجعي وي وَقِيلَ: مُحَمَّدٌ مَعَ أَبِي حَنِيفَةَ وَقِيلَ: مَعَ أَبِي يُوسُفَ ❁ او ويل سوي دي: چي امام محمد رَحِمَهُ الله د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی او ويل سوي دي: چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دی وَبَيَانُهُ فِي قَوْلِهٖ: مِثْلُ رَأْسِ الْإِبْرَةِ مِثْلُ عِظَمِ رَأْسِ الْإِبْرَةِ وَمِثْلُ الْجَبَلِ مِثْلُ عِظَمِ الْجَبَلِ او د دې اختلاف وضاحت د خاوند په دې قول سره کيږي: ① [أَنْتِ طَالِقٌ] مِثْلُ رَأْسِ الْإِبْرَةِ [ته د ستني د سپم په شان طلاقه يې، يا ته د ستني د سپم په شان طلاق دی]، ② مِثْلَ عِظَمِ رَأْسِ الْإِبْرَةِ [ته د ستني د سپم د غټوالي په شان طلاقه يې،

❁ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة قاضي خان رَحِمَهُ الله: رجل قال لامرأته: أنت طالق كألف، إن نوى ثلاثًا فثلاث، وإن لم ينوي شيئا فهي واحدة في قول أبي حنيفة وأبي يوسف الآخر (الخانية ج:٢، ص:٢١٨). [القول الراجح ج:١، ص:٣٢٢]

يا تا ته...]، ③ مِثْلَ الجَبَلِ [تا ته د غره په شان طلاق دی، يا ته د غره په شان طلاقه يې] ④ مِثْلَ عِظَمِ الجَبَلِ [تا ته د غره د غټوالي په شان طلاق دی].

اللغات: ﴿أَشَدّ﴾ له نصر او ضرب دواړو څخه اسم تفضيل دی: ډېر سخت. ﴿التَّجْرِيد﴾ د تفعيل مصدر دی: مجرّد کول، خالي کول، لڅول. ﴿اِلتِقَاص﴾ د افتعال مصدر دی: ماتېدل. ﴿اِرْتِقَاض﴾ دا هم د افتعال مصدر دی: پاتَه کېدل، ضايع کېدل. ﴿فُقْدَان﴾ د ضرب د باب مصدر دی: ورکول، معدوم کول، ورکېدل، معدوم کېدل (نيستېدل). ﴿أَقَلّ﴾ د ضرب اسم تفضيل دی: کم، د کمې درجې (کمتر). ﴿يَمْلأُ﴾ د فتح مضارع ده: ډکول. ﴿عِظَم﴾ عِظَم، عُظُم درې سره لغتونه پکښې جائز دي: غټوالی، لوی والی. ﴿إِبْرَاة﴾ ستن. ﴿رَأْسُ الإِبْرَاة﴾ د ستنې سېم، د ستنې سوری چې تار په ننه ايستل کيږي.

تشريح: صاحب د هدايې په دې عبارت کې د طلاق د تشبيه ورکولو درې مثالونه ذکر کړي دي او د هريوه يې پوره تشريح کړې ده.

خلاصه يې دا ده چې کله خاوند ند خپلې ښځې ته أَنْتِ طَالِقٌ أَشَدَّ الطَّلَاقِ ووايي، يا أَنْتِ طَالِقٌ كَأَلْف، يا أَنْتِ طَالِقٌ مِلْءَ البَيْتِ ورته ووايي، نو که په دې دريو (۳) صورتونو کې خاوند د طلاق نيت نه وي کړی، يا يې د يوه او دوو طلاقو نيت کړی وي، نو پر ښځې طلاق بائن واقع کيږي، او که خاوند د دريو طلاقو نيت کړی وي، نو بيا درې طلاقه واقع کيږي، ځکه چې دلته خاوند مصدر ذکر کړی دی (او تقدير د عبارت دا دی: أَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا هُوَ أَشَدُّ الطَّلَاقِ)، او مصدر اسم جنس وي، کوم چې له يو وصف څخه بغير هم دريو (ثَلَاث) ته شامليږي او د دريو احتمال هم لري، لهذا کله چې د أَشَد او أَلْف او داسې نورو أوصافو سره مصدر ذکر کړی سي، نو بيا به دا اوصاف په درجه اولیٰ د دريو (ثَلَاثَ) احتمال لري، نو ځکه مونږ وايو چې دلته به د دريو طلاقو د نيت په صورت کې پر ښځې درې طلاقه واقع کيږي.

أما الأول إلخ: له دې ځای څخه دا رابنيي چې په اوله جمله يعني په أَنْتِ طَالِقٌ أَشَدَّ الطَّلَاقِ سره ولې طلاق بائن واقع کيږي، نو فرمايي چې په دې مثال کې خاوند طلاق د شدت په وصف سره متصف کړی دی، او دا شدت د بينونت په ذريعه حاصليږي، ځکه چې طلاق د بائن کېدلو په صورت کې مضبوطيږي او سختيږي، ځکه په بائن کې د فسخ کېدلو او ختمېدلو احتمال نسته، همدا وجه ده

چې تر طلاق بائن وروسته له نوي نکاح څخه بغیر رجعت نه سي کېدای حالانکي په طلاق رجعي کي له نکاح څخه بغیر فقط په قول او فعل سره نکاح بیرته پر خپل حال پاتیږي او له نکاح څخه بغیر خاوند ښځي ته رجعت کولای سي، نو د شدت د وصف د تحقق او ثبوت په وجه به په دې صورت کي طلاقِ بائن واقع کیږي.

وأما الثاني: او په دویمه جمله یعني په أَنْتِ طَالِقٌ كَأَلْف سره ځکه طلاقِ بائن واقع کیږي، چي کله ناکله دأَلْف په تشبیه سره په مُشبه کي "قوت" مرادیږي او کله په دې سره په مشبه کي د عدد او شمېر "کثرت" مرادیږي، لکه څرنګه چي ویل کیږي: فُلَانٌ كَأَلْفِ رَجـل، أي في القُوَّةِ (فلانکی د زرو خلکو په شان دی، په مېړانه او قوت کي)، او له دې څخه کله دا مرادیږي چي: فُـلَانٌ وَحْـدَهُ يُعَـدُّ كَأَلْفِ رَجُلٍ (یعني فلانکی یک تنها د زرو خلکو په اندازه شمارل کیږي، یعني یک تنها د زرو خلکو سره برابر دی)، لهذا کله چي د أَلْف په تشبیه سره عدد او قوت دواړه مرادیږي، نو د دواړو نیت کول به صحیح وي، یعني کـه خاوند په دې سره د یوه طلاق نیت وکړي، نو دا به په تَشبیه في القوة باندي حمل کیږي، او که هغه د دریو نیت وکړي نو دا به په تشبیه في العدد باندي حمل کیږي، او که هیڅ نیت نه وکړي، نو په دې صورت کي به أَقَل یعني یو طلاقِ بائن ثابتیږي، ځکه چي هغه د دریو طلاقو په مقابله کي أَقَل دی.

وعن محمد: له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دلته دا روایت نقل سوی دی چي د نیت نه کولو په صورت کي به په أَنْتِ طَالِقٌ كَأَلْف سره دري طلاقه واقع کیږي، ځکه چي أَلْف عدد دی، نو له دې څخه تشبیه في العددمرادول زیات غوره او د قیاس موافق دي، لهذا څرنګه چي د أَنْتِ طَالِقٌ كَعَدَدِ أَلْفٍ ویلو په صورت کي (یعني تر "أَلْف" مخکي د "العَدَد" د ذکر کولو په صورت کي) دري طلاقه واقع کیږي، همداسي به دلته هم دري طلاقه واقع کیږي.

وأما الثلاث إلخ: فرمایي چي په دریمه جمله یعني په أَنْتِ مِلْءَ البَيْتِ سره د طلاقِ بائن واقع کېدلو وجه دا ده چي کله نا کله یو شی کور د خپل عظمت او غټوالي په وجه سره ډکوي، او کله نا کله یې د خپل کثرت او ډېرښت په وجه سره ډکوي، لهذا په طلاق کي به عظمت او غټوالی د إبانت په ذریعه ښکاره کیږي، او کثرت او ډېرښت به د دریو طلاقو په ذریعه ښکاره کیږي، لهذا دا دواړه احتماله به صحیح وي، او خاوند چي د کوم احتمال نیت هم وکړي، هغه به واقع کیږي.

او د نيت نه کولو په صورت کي به أقَل ثابتيږي، او أقَل يو طلاقِ بائن دی.

ثم الأصل إلخ: په دې سره صاحب د هدايې يوه قاعده بيانوي، چي پر هغه باندي د ائمه ثلاثه وو او د امام زفر رَحِمَهُمُ الله أقوال مبني دي، قاعده دا ده چي که طلاق په داسي وصف سره موصوف کړی سي چي په هغه سره طلاق نه موصوف کيږي، نو دا وصف به لغوه وي او طلاقِ رجعي به واقع کيږي، لکه خاوند چي ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا لَا يَقَعُ عَلَيْكِ، او که طلاق په داسي وصف سره موصوف کړی سي چي په هغه سره طلاق موصوف کيږي، نو د دې دوه صورتونه دي: ① دا وصف به د أثر په زياتوب کي مفيد وي، ② يا به نه وي، که چيري هغه وصف داسي وي چي په هغه سره د وصف په اثر کي زياتوب نه راځي، نو دا وصف به هم زائد او لغوه وي او رجعي طلاق به واقع کيږي، لکه خاوند چي ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ أَحْسَنَ الطَّلَاقِ يا أَجْمَلَ الطَّلَاقِ، يا أَفْضَلَ الطَّلَاقِ، ښکاره خبره ده چي په دې اوصافو سره په نفسِ وصف کي هيڅ زياتوب نه راځي، لهذا د دوی ذکر کول او نه ذکر کول دواړه سره برابر دي، نو په داسي اوصافو سره به طلاقِ رجعي واقع کيږي.

او که هغه وصف داسي وي چي په هغه سره د وصف په أثر کي زياتوب او مضبوطي راځي، نو په دې صورت کي به هغه وصف مفيد وي او په هغه سره به طلاقِ بائن واقع کيږي، برابره ده مشبه بهٖ که هر ډول شی وي، همدارنګه برابره ده لفظ د عِظَم ذکر سوی وي، که نه وي، کله چي هم طلاق په داسي وصف سره موصوف کړی او تشبيه ورکول سي، نو هغه بائن ګرځي، ځکه چي نفسِ تشبيه مطلقاً د وصف د زياتوب تقاضا کوي (دا حکم او تفصيل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی).

او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي که په تشبيه کي لفظ د عِظَم ذکر سوی وي، نو طلاقِ بائن واقع کيږي، کنې نه واقع کيږي، هغه که مشبه بهٖ هر شی وي، ځکه چي کله نا کله فقط د يو والي او وحدانيت د ښکاره کولو لپاره تشبيه ورکول کيږي، لهذا د دې احتمال د ختمولو لپاره به لفظ د عِظَم ذکر کول ضروري وي.

امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي که مشبه به داسي شی وي کوم چي د خلکو په عُرف کي عظيم شمارل کيږي، نو په دې صورت کي به طلاقِ بائن واقع کيږي، کنې طلاقِ رجعي به واقع کيږي، برابره ده لفظ د عظم ذکر سوی وي، که نه وي. او په دې هکله د امام محمد رَحِمَهُ الله قول مضطرب دی، يو قول دا دی چي هغه د امام صاحب سره دی، او دويم قول دا دی چي هغه د امام ابو يوسف سره دی.

وبيانه إلخ: فرمايي چي د دې اختلاف ثمره په لاندې مثالو کې ښکاره کيږي: هغه دا چي که يو سړی خپلې ښځې ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ مِثْلَ رَأْسِ الإِبْرَةِ يا أَنْتِ طَالِقٌ مِثْلَ عَظْمِ رَأْسِ الإِبْرَةِ، نو څرنګه چي دلته د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز تشبيه موجوده ده، نو ځکه به په دې دواړو صورتونو کې د هغه په نيز طلاقِ بائن واقع کيږي، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز رأس الإِبْرَة (د ستنې سر) د خلکو په عرف کې عظيم نه شمارل کيږي، نو ځکه د هغه په نيز په دې دواړو صورتونو کې طلاقِ رجعي واقع کيږي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز په اول صورت کې طلاقِ رجعي واقع کيږي، ځکه چي په هغه کې لفظ د عظم ذکر سوی نه دی، لېکن په دويم صورت کې لفظ د عظم ذکر سوی دی، نو ځکه په هغه کې د امام ابو يوسف په نيز طلاقِ بائن واقع کيږي كما هو الأصل عنده.

همدا اختلاف په أَنْتِ طَالِقٌ مِثْلَ الْجَبَل يا مِثْلَ عَظْمِ الْجَبَل کې هم دی، يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په دواړو صورتونو کې طلاقِ بائن واقع کيږي، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز په اول صورت کې طلاقِ رجعي او په دويم صورت کې طلاقِ بائن واقع کيږي، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز هم په دې دواړو صورتونو کې طلاقِ بائن واقع کيږي، ځکه چي جَبَل له هغو شيانو څخه دی کوم چي د خلکو په عرف کې عظيم شمارل کيږي.

د طلاق په الفاظو کې د شدت کولو يو بل صورت

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ تَطْلِيقَةً شَدِيْدَةً أَوْ عَرِيْضَةً أَوْ طَوِيلَةً او که [خاوند] ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ تَطْلِيقَةً شَدِيْدَةً...[ته په سخت طلاق سره، يا په پراخ طلاق سره، يا په اوږده طلاق سره (پر ما) طلاقه يې] فَهِيَ وَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ نو دا به يو طلاقِ بائن وي لِأَنَّ مَا لَا يُمْكِنُ تَدَارُكُهُ يَشْتَدُّ عَلَيْهِ ځکه چي د کوم شي تدارک [اتلافي] چي ممکنه نه وي هغه شی پر خاوند سخت [او ګران] وي وَهُوَ الْبَائِنُ او هغه طلاقِ بائن دی وَمَا يَصْعُبُ تَدَارُكُهُ يُقَالُ فِيْهِ: لِهٰذَا الْأَمْرِ طُوْلٌ وَعَرْضٌ او د کوم شي تدارک چي مشکل وي د هغه په هکله [داسي] ويل کيږي: لِهٰذَا الْأَمْرِ طُوْلٌ وَعَرْض [دا کار اوږد او پراخ دی] وَعَنْ أَبِيْ يُوسُفَ[*]: أَنَّهُ يَقَعُ بِهَا رَجْعِيَّةٌ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي په دې [جملې] سره طلاقِ رجعي واقع کيږي لِأَنَّ هٰذَا الْوَصْفَ لَا يَلِيْقُ بِهِ ځکه چي دا وصف د طلاق لائق نه دی فَيَلْغُو نو ځکه به لغو کيږي وَلَوْنَوَى الثَّلَاثَ فِي هٰذِهِ الْفُصُوْلِ او که په دې [ټولو] صورتونو

---

[*] القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، كما قال العلامه ابن عابدين رَحِمَهُ الله : وعليه المتــون (ج: ٣، ص:٣٩١). [القــول الراجح ج:١، ص:٣٢٣]

كې خاوند د دريو [طلاقو] نيت وكړي صَحَّتْ نِيَّتُهُ نو د هغه نيت صحيح كيږي لِتَنَوُّعِ الْبَيْنُونَةِ د بينونت د منقسم كېدلو په وجه [يعني بينونت څو اقسام لري] عَلَىٰ مَا مَرَّ د هغه دليل په وجه كوم چې [مخكې] تېر سو وَالْوَاقِعُ بِهَا بَائِنٌ او په دې [الفاظو] سره به واقع سوى [طلاق] بائن طلاق وي.

اللغات: ﴿يَتَمَكَّنُ﴾ د افتعال مضارع ده: سختېدل، بوج كېدل، ګرانېدل. ﴿يَصْعُبُ﴾ د كرُم مضارع ده: مشكل كېدل، ستونزمن كېدل. ﴿فُصُوْل﴾ صورتونه. ﴿تَنَوُّع﴾ د تفعّل مصدر دى: قسما قسم كېدل، څو قسمه كېدل (منقسم كېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه خاوند ښځې ته د طلاق وركولو په وخت كې د طلاق سره د شَدِيْد (سخت) وصف ذكر كړي، يا د طَوِيْل (اوږد) يَا د عَرِيْض (پراخ) وصف ذكر كړي، نو په دې صورت كې طلاق بائن واقع كيږي؛ دليل دا دى چې پر خاوند به هغه طلاق سخت، اوږد او مشكل وي چې تر هغه وروسته ر نه سي جعت كېداى، او طلاقِ بائن له همدغه قبيلې څخه دى، لهذا په شديد او سخت وصف سره به طلاقِ بائن واقع كيږي.

ومايصعب إلخ: د دې حاصل دا دى چې څرنګه د سخت او ګران كار لپاره شِدَّة استعماليږي، همداسې طُوْل او عَرْض هم د سخت او ګران لپاره استعماليږي (مثلاً د سختې معاملې په هكله ويل كيږي چې دا معامله ډېره اوږده ده، يا داسې نور...).

وعن أبي يوسف إلخ: له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دى چې په دې الفاظو (شَدِيْدَةٌ او داسې نورو) سره طلاقِ رجعي واقع كيږي؛ دليل دا دى چې دا أوصاف (يعني شدت او داسې نور) د طلاق سره مناسب نه دي؛ ځكه چې دغه أوصاف د أجسامِ انسانيه وو له قبيلې څخه دي، او طلاق د أعراضو له قبيلې څخه دى، لهذا كله چې د طلاق سره دغه أوصاف ذكر سي، نو دا به لغو كيږي او فقط أَنْتِ طَالِقٌ به پاتې كيږي، او په أَنْتِ طَالِقٌ (صريح طلاق) سره طلاقِ رجعي واقع كيږي.

ولونوى: د دې حاصل هغه دى كوم چې تاسو ته بار، بار ذكر سو يعني له أَنْتِ طَالِقٌ بَائِنٌ او الْبَتَّةَ څخه تر دې ځايه پورې چې كوم صورتونه ذكر سول، له هغه ټولو صورتونو څخه كه په هر صورت كې خاوند د دريو طلاقو نيت وكړي، نو درې طلاقه واقع كيږي، ځكه چې د خاوند په كلام كې د دې احتمال هم سته، او څرنګه چې د بينونت پر دوه قسمه دى: ① غليظه، يعني درې طلاقه واقع كېدل، ② خفيفه، يعني يو طلاق واقع كېدل، نو د نيت نه كولو په صورت كې خو به أقل او بينونت خفيفه يعني يو طلاق واقع كيږي، او د دريو طلاقو د نيت كولو په صورت كې به فردِ كل او بينونتِ غليظه يعني درې طلاقه واقع كيږي.



فَصْلٌ فِي الطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُوْلِ

(دا) فصل تر دخول مخکې د طلاق ورکولو په بیان کې دی

تشریح: څرنګه چې نکاح له ښځې څخه د نفع اخيستلو (استمتاع) او دخول په خاطر مشروع سوې ده، نو ځکه طلاق قبل الدّخول يو عارض دی، او عارض تر اصل وروسته بيانيږي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله تر طلاق بعد الدخول وروسته طلاق قبل الدخول بيانوي.

ضروري يادونه: د غيرِ مدخول بها ښځې په باره کې دا پنځه خبرې په ياد لرئ!، تر نکاح وروسته چې د کومې ښځې سره تر اوسه وطي او جماع سوې نه وي، يا خلوت صحيحه ور سره سوې نه وي، داسې ښځې ته غيرِ مدخول بها وايي، او د کومې ښځې سره چې وطي او جماع سوې وي، هغې ته مدخول بها وايي: ①... که غيرِ مدخول بها ښځې ته پر يوه ځای درې طلاقه ورکول سي، نو درې سره طلاقه واقع کيږي، بيا د مخکني خاوند سره د هغې نکاح له "حلاله" (تحليل) څخه بغير حرامه ده، ②... او که هغې ته په متفرقه توګه درې طلاقه ورکول سي، مثلاً أَنْتِ طَالِقٌ، أَنْتِ طَالِقٌ، نو اول طلاق واقع کيږي، او پاته دوه طلاقه لغوه کيږي، ③... پر غيرِ مدخول ښځې عدت نسته، لهذا کله چې هم طلاقه سي، نو بغير له عدت څخه تللای سي، ④... څرنګه چې پر هغې عدت نسته، نو په دې وجه خاوند هغې ته رجعت هم کولای نه سي، ⑤... او ګواکې د غيرِ مدخول بها ښځې په حق کې طلاقِ بائن واقع کيږي، نه طلاقِ رجعي. (په را روانو عبارتو کې به هم دا پنځه خبرې په تفصيل سره ذکر سي).

غيرِ مدخول بها ښځې ته درې طلاقه ورکول (تفصيلي حکم)

وَإِذَا طَلَّقَ رَجُلٌ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا قَبْلَ الدُّخُوْلِ بِهَا او کله چې سړی خپلې ښځې ته تر دخول مخکې درې طلاقه ورکړي وَقَعْنَ عَلَيْهَا نو هغه [ټوله] پر دغه [غيرِ مدخول بها] ښځې واقع کيږي لِأَنَّ الْوَاقِعَ مَصْدَرٌ مَحْذُوْفٌ ځکه چې واقع کېدونکی [طلاق] محذوف مصدر دی [يعني کوم طلاق چې واقع کيږي هغه مصدرِ محذوف دی] لِأَنَّ مَعْنَاهُ: طَلَاقًا ثَلَاثًا ځکه چې د هغه مفهوم دا دی: طَلَاقًا ثَلَاثًا عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکې] چې مورږ د دې بيان وکړی فَلَمْ يَكُنْ قَوْلُهُ أَنْتِ طَالِقٌ إِيْقَاعًا عَلَى حِدَةٍ نو دا خاوند دا قول أَنْتِ

طَالِقٌ به عليحده [جلا] د طلاق واقع کول نه وي فَيَقَعْنَ جُمْلَةً نو ځکه به هغه [تولې] پر يوه ځای واقع کيږي فَإِنْ فَرَّقَ الطَّلَاقَ او که خاوند طلاقونه سره جلا کړی [يعني په متفرقه توګه طلاق ورکړي] بَانَتْ بِالْأُولَى نو [دا غير مدخول بها] ښځه به په اول طلاق سره بائنه کرځي وَلَمْ تَقَعِ الثَّانِيَةُ وَالثَّالِثَةُ او دويم او دريم [طلاق] به نه واقع کيږي وَذٰلِكَ مِثْلُ أَنْ يَقُوْلَ: أَنْتِ طَالِقٌ طَالِقٌ طَالِقٌ او دا مثلاً خاوند [داسي] ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ، أَنْتِ طَالِقٌ، أَنْتِ طَالِقٌ لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدَةٍ إِيْقَاعٌ عَلَى حِدَةٍ ځکه چي [په دوی کي] هر يو عليحده [طلاق] واقع کول دي إِذَا لَمْ يَذْكُرْ فِي آخِرِ كَلَامِهِ مَا يُغَيِّرُ صَدْرَهُ [په دې شرط] چي کله خاوند د خپل کلام په آخر کي داسي شی ذکر کړی نه وي کوم چي شروع د کلام بدله کړي حَتّٰى يَتَوَقَّفَ عَلَيْهِ تر دې چي وقوع [د طلاق] پر هغه موقوفه سي فَتَقَعُ الْأُوْلٰى فِي الْحَالِ نو اول طلاق خو به في الحاله [پر غيرِ مدخول بها] واقع کيږي فَتُصَادِفُهَا الثَّانِيَةُ وَهِيَ مُبَانَةٌ او دويم طلاق به په داسي حالت کي د هغې سره مخامخ کيږي چي هغه بائنه ګرځېدلې وي وَكَذَا إِذَا قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَوَاحِدَةً او همدارنګه کله چي هغه [غيرِ مدخول بها] ښځي ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَوَاحِدَةً وَقَعَتْ وَاحِدَةٌ نو [هم] يو طلاق واقع کيږي لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّهَا بَانَتْ بِالْأُوْلٰى د هغه دليل په وجه کوم چي موږ [اوس] ذکر کړی چي دا ښځه په اول طلاق سره بائنه کيږي وَلَوْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً او که [خاوند] هغې ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً فَمَاتَتْ قَبْلَ قَوْلِهِ وَاحِدَةً او د خاوند تر وَاحِدَةً ويلو مخکي هغه مړه سي كَانَ بَاطِلًا نو دا [کلام] به باطل [او لغو] وي لِأَنَّهُ قَرَنَ الْوَصْفَ بِالْعَدَدِ ځکه چي [دلته] خاوند وصف [طَالِقٌ] د عدد سره متصل کړی فَكَانَ الْوَاقِعُ هُوَ الْعَدَدَ نو به عدد واقع کيږي [يعني په عدد سره به طلاق واقع کيږي] فَإِذَا مَاتَتْ قَبْلَ ذِكْرِ الْعَدَدِ [خو] کله چي د عدد تر ذکر کېدلو مخکي ښځه مړه سوه فَاتَ الْمَحَلُّ قَبْلَ الْإِيْقَاعِ نو [د طلاق] تر ايقاع مخکي لا محل فوت سو فَبَطَلَ نو ځکه به [ايقاع] باطل وي وَكَذَا لَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا او همدارنګه کله چي [خاوند] ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْنِ يا ثَلَاثًا [او تر ثِنْتَيْنِ يا ثَلَاثًا ويلو مخکي ښځه مړه سي، نو طلاق نه واقع کيږي] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ [اوس] ذکر کړی دی وَهٰذِهِ تُجَانِسُ مَا قَبْلَهَا مِنْ حَيْثُ الْمَعْنٰى او دا [دريم مسئلې] د معنیٰ له رويه د مخکنۍ مسئلې سره مشابه دي.

اللغات: ﴿تُصَادِفُ﴾ د مفاعلې مضارع ده: مخامخ کېدل، لاحق کېدل، (واقع کېدل)، ﴿تُجَانِسُ﴾ دا هم د مفاعلې مضارع ده: همجنسه کېدل، مشابه کېدل، ورته کېدل.

تشريح: په دې عبارت کې څو مسئلې بيان سوي دي، او ټولې به انشاء الله ستاسو مخته په ترتيب سره ذکر سي: (۱)... اوله مسئله دا ده که خاوند خپلې غيرِ مدخول بها ښځې ته په أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا سره درې طلاقه ورکړي، نو درې سره طلاقه پر هغې واقع کيږي؛ دليل مخکې تېر سو، هغه دا چې په أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا کې ثَلَاثًا مخکې مصدر محذوف دی، او عبارت داسې دی: أَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا ثَلَاثًا، او کله چې وصف د طلاق (يعني طَالِقٌ) د عدد (ثَلَاثًا او داسې نورو) سره ذکر سي، نو طلاق د عدد په ذريعه واقع کيږي، نه د وصف په ذريعه، لهذا دلته په دې أَنْتِ طَالِقٌ سره طلاق نه واقع کيږي، بلکې په طَلَاقًا ثَلَاثًا (عدد) سره طلاق واقع کيږي، ، نو ځکه به دلته درې سره طلاقه واقع کيږي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که خاوند ښځې ته درې طلاقه جلا، جلا ورکړي، مثلاً ورته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ، أَنْتِ طَالِقٌ، أَنْتِ طَالِقٌ، نو په دې صورت کې به دې ته کتل کيږي چې خاوند خپل د کلام په آخر کې يو شرط يا استثناء ذکر کړې ده، که نه، که چيرې خاوند د خپل کلام په آخر کې هيڅ شرط او استثناء ذکر کړې نه وي، نو په دې صورت کې پر ښځې درې طلاقه نه واقع کيږي، بلکې په اول أَنْتِ طَالِقٌ سره پر ښځې يو طلاق واقع کيږي، (لکه د باب په تشريح کې چې موږ ذکر کړه)، او څرنګه چې دا ښځه غيرِ مدخول بها ده، نو په همدغه يوه طلاق سره بائنه ګرځي، لهذا کله چې هغه بائنه سوه او علت هم پر نسته، نو ځکه به دويم او دريم طلاق نه پر واقع کيږي، ځکه چې هغه د دويم او دريم طلاق محل پاته نه سو، نو په دې وجه به دويم او دريم طلاق لغو او بېکاره وي.

لېکن که چيرې خاوند د خپل کلام په آخر کې يو شرط او استثناء ذکر کړي، مثلاً داسې ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ، أَنْتِ طَالِقٌ، أَنْتِ طَالِقٌ إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ، نو څرنګه چې د هغه د کلام په آخر کې (يعني تر دريم أَنْتِ طَالِقٌ وروسته) د إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ شرط موجود دی، او دغه شرط د خاوند د کلام معنیٰ او مفهوم وربدل کړی دی، نو ځکه به اوس درې سره أَنْتِ طَالِقٌ پر إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ موقوف وي، او کله چې هم دا شرط موجود سي (يعني ښځه کور ته داخله سي)، نو په يوه ځل به درې سره طلاقه پر ښځې واقع کيږي.

(۳)... دريمه مسئله دا ده كه خاوند خپلې غيرِ مدخول بها ښځې ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَ وَاحِدَةً (ته په يوه طلاق سره، او يوه طلاق سره پر ما طلاقه يې)، نو په دې صورت كې يو طلاقِ بائن واقع كيږي (يعني په دې صورت كې پر هغه غيرِ مدخول بها ښځې فقط يو طلاق واقع كيږي، او په همدې يو سره بائنه ګرځي، او د دويم طلاق محل نه پاتيږي).

(۴)... څلورمه مسئله دا ده كه خاوند دا اراده وكړه چې خپلې غير مدخول بها ښځې ته به أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً په ويلو سره طلاق وركووم، نو كله چې هغه خپلې ښځې ته وويل أَنْتِ طَالِقٌ نو ناڅاپه تر وَاحِدَةً ويلو مخكې هغه ښځه مړه سوه، يا مثلاً د خاوند دا اراده وكړه چې په أَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْنِ يا ثَلَاثًا سره به طلاق وركووم، او تر ثِنْتَيْنِ يا ثَلَاثًا ويلو مخكې هغه مړه سوه، نو په دې ټولو صورتونو كې هيڅ طلاق نه واقع كيږي، او د خاوند كلام لغو كيږي.

دليل هغه دى كوم چې لږ څه مخكې ذكر سو چې كله د طلاق وصف (يعني طَالِقٌ) د عدد (ثَلَاثًا او داسې نورو) سره ذكر سي، نو طلاق د عدد په ذريعه واقع كيږي، نه د وصف په ذريعه، او دلته ښځه د عدد تر ذكر كولو مخكې مړه سوه، نو د طلاق تر إيقاع مخكې محل د طلاق فوت سو، نو ځكه به د خاوند كلام لغوه او باطل وي، او طلاق به نه واقع كيږي.

<u>وهٰذا تجانس</u>: صاحب د هدايې فرمايي چې دا درې سره مسائل يعني أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً...إلخ (يعني چې په هغوى كې د عدد تر ذكر كېدلو مخكې د ښځې د مرګ مسئله بيان سوې ده، دا درې سره مسائل)، د معنىٰ له رويه د مخكې ذكر سوي مسئلې (يعني كله چې خاوند غيرِ مدخول بها ښځې ته قبل الدخول درې طلاقه وركړي) سره همجنسه او مشابه دي، دا خبره په ياد لرئ! چې د دوى په مينځ كې دا مجانست او مشابهت فقط په دې خبره كې دي چې دا ټوله مسئلې د طلاق په ايقاع كې پر عدد موقوفه او منحصره دي، يعني څرنګه چې په أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا كې په عدد ثَلَاثًا سره إيقاع د طلاق كيږي (يعني د ثَلَاثًا په ذريعه طلاق واقع كيږي)، همداسې په أَنْتِ طَالِقٌ وَاحَدَةً. وثِنْيتَيْنِ. وثَلَاثًا كې هم إيقاع د طلاق په عدد يعني په وَاحِدَةً او داسې نورو سره كيږي.

د دوى په مفهوم او حكم كې بالكل مجانست نسته، ځكه چې په أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا كې پر ښځې درې طلاقه واقع كيږي، ځكه چې "ثَلَاث" د هغې دژوند په حالت كې ذكر سوى دى. لېكن په دا

نورو دريو مسئله کې ښځه د عدد تر ذکر کېدلو مخکې مړه سوې ده، لهذا د مفهوم او حکم په اعتبار سره په دوی کې هيڅ مجانست نسته.

غيرِ مدخول بها ښځې ته د طلاق ورکولو په وخت کې د دوو کلمو د استعمالولو بيان

وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قَبْلَ وَاحِدَةٍ أَوْ بَعْدَهَا وَاحِدَةٌ او که [خاوند] ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قَبْلَ وَاحِدَةٍ أَوْ بَعْدَهَا وَاحِدَةٌ [ته تر يوه طلاق مخکې په يوه طلاق سره طلاقه يې يا تر يوه طلاق وروسته په يوه طلاق سره طلاقه يې] وَقَعَتْ وَاحِدَةٌ نو [په دې صورت کې] يو طلاق واقع کيږي وَالْأَصْلُ: أَنَّهُ مَتَى ذَكَرَ شَيْئَيْنِ وَأَدْخَلَ بَيْنَهُمَا حَرْفَ الظَّرْفِ او أصول دا دی: چې کله خاوند دوه شيان ذکر کړي او د دوی په مينځ کې د ظرف حرف [قَبْل يا بَعْد] داخل کړي إِنْ قَرَنَهَا بِهَاءِ الْكِنَايَةِ [نو] که چيرې هغه دا حرفُ الظرف د هاءِ کنايه [يعني د ةُ يا د هَا د ضمير] سره متصل کړي كَانَ صِفَةً لِلْمَذْكُورِ آخِرًا نو دا حرفُ الظرف به د هغه جملې صفت وي کوم چې په آخر کې [يعني تر حرفُ الظرف وروسته] ذکر سوې وي كَقَوْلِهِ: جَاءَنِي زَيْدٌ قَبْلَهُ عَمْرٌو لکه يو څوک چې ووايي: جَاءَنِي زَيْدٌ قَبْلَهُ عَمْرٌو [ما ته زيد راغلی مخکې تر هغه عمر وو، يعني تر زيد مخکې عمر راغلی] وَإِنْ لَمْ يَقْرِنْهَا بِهَاءِ الْكِنَايَةِ او که حرفُ الظرف د هاءِ کنايه سره متصل نه کړي كَانَ صِفَةً لِلْمَذْكُورِ أَوَّلًا نو دا حرفُ الظرف به په شروع کې د ذکر سوې جملې صفت وي كَقَوْلِهِ: جَاءَنِي زَيْدٌ قَبْلَ عَمْرٍو لکه د هغه دا قول: جَاءَنِي زَيْدٌ قَبْلَ عَمْرٍو [ما ته زيد تر عمر مخکې راغلی] وَإِيقَاعُ الطَّلَاقِ فِي الْمَاضِي إِيقَاعٌ فِي الْحَالِ او په ماضي کې د طلاق واقع کول [داسې دي لکه] په حال کې د طلاق واقع کول لِأَنَّ الْإِسْنَادَ لَيْسَ فِي وُسْعِهِ ځکه چې [د ماضي و طرف ته د طلاق] نسبت کول د خاوند په وس کې نه دي فَالْقَبْلِيَّةُ فِي قَوْلِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قَبْلَ وَاحِدَةٍ صِفَةٌ لِلْأُولَى نو به قبليت د هغه په دې قول: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قَبْلَ وَاحِدَةٍ کې د مخکنۍ جملې صفت وي فَتَبِينُ بِالْأُولَى نو په اول طلاق سره به دا [غيرِ مدخول بها] ښځه بائنه وګرځي فَلَا تَقَعُ الثَّانِيَةُ لهذا دويم طلاق به نه واقع کيږي وَالْبَعْدِيَّةُ فِي قَوْلِهِ: بَعْدَهَا وَاحِدَةٌ صِفَةٌ لِلْأَخِيرَةِ او د خاوند په دې قول: [أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً] بَعْدَهَا وَاحِدَةٌ کې به بعديّت د آخري [وروستنۍ] جملې صفت وي فَحَصَلَتِ الْإِبَانَةُ بِالْأُولَى نو په همدا اول طلاق سره به إبانت حاصل سي وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قَبْلَهَا وَاحِدَةٌ او که [خاوند] ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قَبْلَهَا

وَاحِدَةٌ تَقَعُ ثِنْتَانِ نو دوه طلاقه واقع كيږي لِأَنَّ الْقَبْلِيَّةَ صِفَةٌ لِلثَّانِيَةِ لِاتِّصَالِهَا بِحَرْفِ الْكِنَايَةِ ځکه چي د حرفِ كنايه سره د متصل كېدلو په وجه قبليّت د دويم [وَاحِدَةً] صفت دى فَاقْتَضَى إِيقَاعَهَا فِي الْمَاضِي لهذا هغه په ماضي كي د دې [دويم وَاحِدَةً] د واقع كېدلو تقاضا كوي وَإِيقَاعُ الْأُولَى فِي الْحَالِ او په حال كي د اول [وَاحِدَةً] د واقع كېدلو تقاضا كوي غَيْرَ أَنَّ الْإِيقَاعَ فِي الْمَاضِي إِيقَاعٌ فِي الْحَالِ أَيْضًا خو دا چي په ماضي كي إيقاع په حال كي إيقاع هم ده ايمني كوم طلاق چي په ماضي كي واقع كرى سي هغه به اوس فى الحاله واقع كيږي] فَيَقْتَرِنَانِ فَيَقَعَانِ نو ځکه به دواړه [واقع سوي طلاقونه يعني يو د ماضي طلاق او يو د حال طلاق] سره يو ځاى كيږي او [پريو ځاى به] واقع كيږي وَكَذَا إِذَا قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً بَعْدَ وَاحِدَةٍ او همدارنګه كله چي [خاوند] ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً بَعْدَ وَاحِدَةٍ تَقَعُ ثِنْتَانِ نو [هم] دوه طلاقه واقع كيږي لِأَنَّ الْبَعْدِيَّةَ صِفَةٌ لِلْأُولَى ځکه چي بعديت د اول [وَاحِدَةً] صفت دى فَاقْتَضَى إِيقَاعَ الْوَاحِدَةِ فِي الْحَالِ وَإِيقَاعَ الْأُخْرَى قَبْلَ هٰذِهِ نو هغه تقاضا كوي د اول [وَاحِدَة] د واقع كېدلو فى الحاله او د دويم [وَاحِدَةً] د واقع كېدلو تر دې مخكي [يعني د دې تقاضا كوي چي اول وَاحِدَةً اوس فى الحاله واقع سي او دويم وَاحِدَةً دي تر دې مخكي واقع سي] فَيَقْتَرِنَانِ نو ځکه به دواړه سره متصل كيږي [او دوه طلاقه به واقع كيږي] وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً مَعَ وَاحِدَةٍ أَوْ مَعَهَا وَاحِدَةً او كه [خاوند] ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً مَعَ وَاحِدَةٍ يا مَعَهَا وَاحِدَةً تَقَعُ ثِنْتَانِ نو [هم] دوه طلاقه واقع كيږي لِأَنَّ كَلِمَةَ مَعَ لِلْقِرَانِ ځکه چي كلمه د "مَعَ" د اتصال لپاره ده وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ❁ فِي قَوْلِهِ مَعَهَا وَاحِدَةً: أَنَّهُ تَقَعُ وَاحِدَةٌ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه د خاوند د دې قول [أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً] مَعَهَا وَاحِدَةً په هكله نقل سوي دي: چي [په دې سره] يو طلاق واقع كيږي لِأَنَّ الْكِنَايَةَ تَقْتَضِي سَبْقَ الْمَكْنِيِّ عَنْهُ لَا مَحَالَةَ ځکه چي كنايه خامخا [په هر حال كي] له مكني عنهُ څخه د وړانديتوب تقاضا كوي وَفِي الْمَدْخُولِ بِهَا تَقَعُ ثِنْتَانِ فِي الْوُجُوهِ كُلِّهَا او پر مدخول بها ښځي په ټولو صورتونو كي دوه طلاقه واقع كيږي لِقِيَامِ الْمَحَلِّيَّةِ بَعْدَ وُقُوعِ الْأُولَى ځکه چي تر اول طلاق واقع كېدلو وروسته [د هغې] محل كېدل قائم [او باقي] وي.

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله أنه تقع ثنتين فى هذه الصورة، كما ذكر فى رد المحتار (ج:٢، ص:٤٩٦)، وكذا فى الهندية (ج:١، ص:٣٧٣)، وقال الأستاذ المفتى غلام قادر النعمانى: إذا كان مع الإمام واحد من صاحبيه فقولهما راجح. [القول الراجح ج:١، ص:٣٢٦]

اللغات: ﴿قَرَنَ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: يو شی د بل شي سره يو ځای کول، متصل کول، جمع کول، تړل. ﴿هَاء الكِنَايَة﴾ د ضمير "ه"، ﴿مَكْنِيٌّ عنه﴾ د ضرب اسم مفعول دی: د ضمير مرجع.

تشريح: دا توله عبارت فقط پر دوو قاعدو او أصولو مبني دی، په هغه قاعدو چي تاسو ځان پوه کړي، نو بغير له تشريح څخه به هم تاسو په عبارت پوه سئ! تر تولو مخکي دا خبره په ياد لرئ! چي ددې عبارت تولي مسئلې د غيرمدخول بها ښځي سره تعلق لري، او د هغې حكم مخكي ذكر سو چي هغه په يوه طلاق سره بائنه کرځي، او عدت نه پر واجبيږي، او محل د طلاق نه پاتيږي.

اوس أصولو ته ګورئ: ①... اول أصول دا دی چي که خاوند د طلاق د إيقاع لپاره (يا مثلاً يو بل څوک د يو شي لپاره) دوې جملې استعمال کړي، او د هغه دواړو جملو تر مينځ د ظرف په حرف يعني په قَبْل او بَعْد سره فصل وکړي، نو اوس به دې ته کتل کيږي چي دا د ظرف حرف (يعني قَبْل يا بَعْد) د ضميرِ كنايه سره (يعني د "هُ" يا "هَا" سره) متصل دي کنه دي، که چيري د ظرف حرف د ضميرِ كنايه سره متصل وي، نو دا ظرف د هغه جملې (يا كلمې) صفت واقع کيږي کوم چي تر ظرف وروسته ذكر سوې وي، مثلاً جَاءَنِيْ زَيْدٌ قَبْلَهُ عَمْرٌو، دلته ضميرِ كنايه يعني "هُ" د ظرف يعني د قَبْلَ سره متصل دی، نو ځکه به ظرف د وروسته کلمي يعني د "عَمْرٌو" صفت وي، او د دې عبارت مطلب به داوي چي "تر زيد مخکي ما ته عمر راغلی".

②... دويم أصول دا دی چي که يو سړی حالاً يعني نن ورځ په ماضي کي طلاق واقع کړي مثلاً ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ بِالأَمْس، نو دا طلاق په ماضي کي نه، بلکي په حال او موجوده زمانه کي واقع کيږي، ځکه چي په ماضي کي د طلاق إيقاع د انسان په وس او قدرت کي نه دي، ځکه چي طلاق د يو مباح شي (إستمتاعُ المرأة) د ختمولو لپاره دی، او کوم مباح شی چي په ماضي کي انسان حاصل کړی وي، د هغه ختمول او ردول د انسان په وس کي نه دي، خلاصه دا چي إيقاع في الماضي به إيقاع في الحال وي.

لوس دا دوه أصول او د غيرِ مدخول بها ښځي حكم مختنه كښېږدئ! او د عبارت حاصل او خلاصه ته ګورئ!

د عبارت حاصل دا دی چي کله خاوند خپلي غيرِ مدخول بها ښځي ته په دې الفاظو سره طلاق ورکړي؛ أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قَبْلَ وَاحِدَةٍ يا أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً بَعْدَهَا وَاحِدَةٌ، نو په دې دواړو صورتونو کي د هغه پر ښځي فقط يو طلاق واقع کيږي، ځکه چي په اول صورت يعني په أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قَبْلَ وَاحِدَةٍ

کي د ظرف کلمه (قَبْل) د ضمیرِ کنایه سره متصل نه دی، نو ځکه به هغه خپل د ماقبل (اول أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً) صفت وي، او په أَنْتِ طَالِقٌ وَاحَدةً سره به پر ښځي یو طلاق واقع کیږي، او په همدې سره به هغه بائنه ګرځي، ځکه چي قَبْل دلته د اول وَاحِدةً یعني د أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً صفت دی. او د دې عبارت مطلب دا دی چي إِيقَاعِ أُوْلىٰ (یعني د اول طلاق واقع کېدل) مخکي دي، او د همدغه اول طلاق په واقع کېدلو سره ښځه بائنه ګرځي، ځکه چي هغه غیرِ مدخول بها ده فلا تبقٰی محلًا للثانیة.

او څرنګه چي په دویم صورت یعني په أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً بَعْدَهَا وَاحِدَةً کي ظرف (بَعد) د ضمیرِ کنایه (هَا) سره متصل دی، نو ځکه به دلته ظرف د دویم وَاحِدةً صفت وي، او د عبارت مطلب دا دی چي ته په یوه طلاق سره پر ما طلاقه يې او تر هغه وروسته (هم) په یوه طلاق سره پر ما طلاقه یې، خو څرنګه چي دا (غیرِ مدخول بها ښځه) په اول طلاقه سره بائنه ګرځي، نو ځکه به د محل د فوتېدلو په وجه تر بَعْد وروسته والا طلاق (یعني دویم وَاحِدَةً) پر هغې نه واقع کیږي.

او کله چي خاوند غیرِ مدخول بها ښځي ته په أَنْتِ طَالِقٌ وَاحَدَةً قَبْلَهَا وَاحِدَة سره طلاق ورکړي، نو په دې صورت کي پر هغې دوه طلاقه واقع کیږي، ځکه چي دلته ظرف (قَبْل) د ضمیر کنایه (هَا) سره د متصل کېدلو په وجه د خپل ما بعد لپاره صفت دی، او د عبارت مطلب دا دی: چي ته په یوه طلاق سره پر ما طلاقه يې او تر هغه مخکي (هم) په یوه طلاق سره پر ما طلاقه يې، یعني یو طلاق خو اوس فی الحاله (اوس) درکوم، او تر هغه مخکي (هم) په تېره (ماضي) زمانه کي طلاق درکوم، او تاسو ته په دویم أُصول کي دا خبره ذکر سوه چي إِيقَاع فی الماضي به إِيقَاع فی الحال وي، لهذا دلته به هم د ماضي إِيقَاع، د فی الحال إِيقَاع وي، او د ماضي طلاق به د اوسني (فی الحاله) طلاق سره یو ځای کیږي او پر یوه ځای به دوه طلاقه واقع کیږي.

همدارنګه کله چي خاوند خپلي ښځي ته په أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً بَعْدَ وَاحِدَةً سره طلاق ورکړي، نو په دې صورت کي هم دوه طلاقه واقع کیږي، ځکه چي دلته ظرف (بَعد) د ضمیرِ کنایه سره د نه اتصال په وجه د ما قبل صفت دی، او د عبارت مطلب دا دی چي: تا ته تر یوه طلاق وروسته یو طلاق دی، ښکاره خبره ده چي تر یوه طلاق وروسته والا طلاق خو د فی الحال إِيقَاع لپاره دی، خو تر دې مخکي چي کوم په بَعْدَ وَاحِدَة سره طلاق ورکول سوی دی، هغه د إِيقَاع فی الماضي لپاره دی، لهذا د دویم أُصول مطابق به دواړه سره یو ځای کیږي، او دوه طلاقه به پر یوه ځای واقع کیږي.

ولوقال أنت طالق واحدة مع إلخ: تر دې ځايه خو عبارت د مخکښې دوو أصولو سره مربوط او متعلق وو، اوس له دې ځای څخه بله مسئله بيانيږي، هغه دا چې که خاوند خپلې غيرِ مدخول بها ښځې ته په دې الفاظو سره طلاق ورکړي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً مَعَ وَاحِدَةٍ يا أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً مَعَهَا وَاحِدَةٌ. نو په دې دواړو صورتونو کې هم پر ښځې دوه طلاقه واقع کيږي، ځکه چې دلته خاوند د دوو جملو په مينځ کې "مَعَ" داخل کړی دی، او د "مَعَ" کلمه د اتصال او قِران (يو ځای والي) لپاره راځي، لهذا پر يوه ځای به دواړه طلاقه واقع کيږي.

ليکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا نقل سوی دی چې د أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً مَعَهَا وَاحِدَةٌ په صورت کې به فقط يو طلاق واقع کيږي، ځکه چې په مَعَهَا کې ضمير د کنايه يعني "هَا" موجود دی، او دا ضمير د دې تقاضا کوي چې مکنی عنه (يعني مرجع) دې په هر حال کې مخکې وي (يعني د دې تقاضا کوي چې کوم شي ته دا ضمير راجع کيږي، هغه به خامخا مخکې په وجود کې راغلی وي)، لهذا تر مَعَهَا وَاحِدَةٌ مخکې چې کوم أَنْتِ طَالِقٌ وَاحَدَةً دی، په هغه سره به يو طلاق واقع کيږي، او څرنګه چې دا ښځه په يوه طلاق سره بائنه ګرځي، نو ځکه به تر مَعَهَا وروسته دويم وَاحَدَةٌ (دويم طلاق) پر هغې نه واقع کيږي.

وفي المدخول بها: د دې حاصل دا دی چې که په مخکنيو پنځو صورتونو کې ښځه مدخول بها وي، نو پر هغې دوه طلاقه واقع کيږي؛ ځکه چې هغه د اول طلاق تر وقوع وروسته هم د طلاق محل پاتيږي. نو ځکه به دويم طلاق هم پر هغې واقع کيږي.

په پورتني صورت کې د تعليق کولو بيان

> **وَلَوْ قَالَ لَهَا: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَوَاحِدَةً** او که [خاوند] [غيرِ مدخول بها] ښځې ته ووايي: که ته [دغه] کور ته ننوتې نو په يوه طلاق او يوه طلاق سره [پر ما] طلاقه يې **فَدَخَلَتْ** او ښځه ننوځي **وَقَعَتْ عَلَيْهَا وَاحِدَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ** نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغې يو طلاق واقع کيږي **وَقَالَا: تَقَعُ ثِنْتَانِ** ❁ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې دوه طلاقه واقع کيږي **وَلَوْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَوَاحِدَةً إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ** او که هغې ته ووايي: ته په يوه طلاق او يوه طلاق سره [پر ما] طلاقه

❁ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله ، قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله بعد تفصيل المسئلة: وقولهما راجح (فتح القدير ج:٣، ص:٢٩٦)، وكذا في رد المحتار (ج:٢، ص:٤٩٦). [القول الراجح ج:١، ص: ٣٢٦]

يې كه چيرې [دغه] كور ته ننوتې [يعني د طلاق خبره مخكې كړې او د شرط خبره وروسته كړې] فَدَخَلَتْ او هغه ننوځي طُلِّقَتْ ثِنْتَيْنِ بِالإِجْمَاعِ نو بالاتفاق په دوو طلاقو سره طلاقيږي لَهُمَا: أَنَّ حَرْفَ الْوَاوِ لِلْجَمْعِ الْمُطْلَقِ د صاحبينو دليل دا دی: چې د "واو" حرف د مطلق جمع لپاره دی فَيَقَعْنَ جُمْلَةً نو ټوله [يعني دواړه] طلاقونه به واقع كيږي كَمَا إِذَا نَصَّ عَلَى الثِّنْتَيْنِ أَوْ أَخَّرَ الشَّرْطَ لكه په هغه صورت كې [چې دواړه واقع كيږي] كله چې [خاوند] د دوو طلاقونو صراحت وكړي يا شرط وروسته كړي وَلَهُ: أَنَّ الْجَمْعَ الْمُطْلَقَ يَحْتَمِلُ الْقِرَانَ وَالتَّرْتِيبَ د امام صاحب دليل دا دی: چې مطلق جمع د اتصال او ترتيب دواړو احتمال لري فَعَلَى اعْتِبَارِ الأَوَّلِ تَقَعُ ثِنْتَانِ نو د اول شي [اتصال] پر اعتبار به دوه طلاقه واقع كيږي وَعَلَى اعْتِبَارِ الثَّانِي لَا تَقَعُ إِلَّا وَاحِدَةٌ او د دويم شي [ترتيب] پر اعتبار به فقط يو طلاق واقع كيږي كَمَا إِذَا نَجَّزَ بِهٰذِهِ اللَّفْظَةِ لكه په هغه صورت كې چې كله په دې لفظ سره في الحاله طلاق [منجز طلاق] وركړي فَلَا يَقَعُ الزَّائِدُ عَلَى الْوَاحِدَةِ بِالشَّكِّ نو د شک په وجه تر يوه زايد طلاق نه واقع كيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَخَّرَ الشَّرْطَ په خلاف د هغه صورت كله چې خاوند شرط وروسته كړی وي لِأَنَّهُ مُغَيِّرٌ صَدْرَ الْكَلَامِ ځكه چې [په دې صورت كې] هغه د كلام د صدر [يعني د كلام د اولي حصې] بدلونكی دی فَيَتَوَقَّفُ الأَوَّلُ عَلَيْهِ لهذا اول طلاق [وَاحِدَة] به پر هغه [شرط] موقوف وي فَيَقَعْنَ جُمْلَةً نو ټوله [دواړه] طلاقونه به واقع كيږي وَلَا مُغَيِّرَ فِيمَا إِذَا قَدَّمَ الشَّرْطَ او په هغه صورت كې [صدر د كلام لره] هيڅ بدلونكی نشته كله چې خاوند شرط مخكې كړی وي فَلَمْ يَتَوَقَّفْ نو [په هغه صورت كې] طلاق [پر شرط] نه موقوف كيږي وَلَوْ عَطَفَ بِحَرْفِ الْفَاءِ او كه [خاوند] د "فاء" په ذريعه عطف وكړي فَهُوَ عَلَى هٰذَا الْخِلَافِ فِيمَا ذَكَرَ الْكَرْخِيُّ نو هغه [هم] پر دغه اختلاف دې په هغه صورت كې كوم چې امام كرخي رَحِمَهُ الله ذكر كړی دی وَذَكَرَ الْفَقِيهُ أَبُو اللَّيْثِ: أَنَّهُ يَقَعُ وَاحِدَةً بِالِاتِّفَاقِ او فقيه ابو الليث رَحِمَهُ الله [دا] ذكر كړي دي: چې بالاتفاق يو طلاق واقع كيږي لِأَنَّ الْفَاءَ لِلتَّعْقِيبِ ځكه چې فاء د تعقيب لپاره وَهُوَ الأَصَحُّ او همدا [قول د اتفاق] زيات صحيح دی.

اللغات: ﴿جُمْلَةً﴾ ټوله، مجموعه، ﴿نَجَّزَ﴾ د افعال ماضي ده: سمدستي يو كار كول، فوراً كول، ﴿مُغَيِّر﴾ د تفعيل اسمِ فاعل دی: بدلونكی، ﴿تَعْقِيب﴾ وروسته راوړل، وروسته كول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند دوه یا درې طلاقه پر شرط معلق کړي، او یو پر بل د حرف "واو" په ذریعه سره عطف کړي، نو د دې دوه صورتونه دي، شرط به یا مقدم (مخکې) وي، یا به مؤخر (وروسته) وي، که شرط مؤخر وي، مثلاً: خاوند غیرِ مدخول بها ښځې ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةٌ وَ وَاحِدَةٌ إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ، او بیا ښځه کور ته داخله سي، نو بالاتفاق دواړه طلاقه واقع کیږي، او که شرط مقدم وي، مثلاً خاوند خپلې غیرِ مدخول بها ښځې ته ووايي: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةٌ وَ وَاحِدَةٌ، او غیر مدخول بها ښځه کور ته داخله سي، نو د صاحبینو په نېز په دې صورت کې دوه طلاقه واقع کیږي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز یو طلاق واقع کیږي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چې د "واو" حرف مطلقاً د جمع لپاره راځي، نو دواړه طلاقه به سره جمع کیږي او پر یوه ځای به واقع کیږي، لکه څرنګه چې د إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْن د ویلو په صورت کې دواړه طلاقه پر یوه ځای واقع کیږي همداسې به دلته هم دواړه پر یوه ځای واقع کیږي، او برابره ده خاوند شرط مقدم کړی وي، که نه وي، ځکه کله چې د شرط د مؤخر کولو په صورت کې ستاسو په نېز هم دوه طلاقه واقع کیږي، نو د مقدم کولو په صورت کې به هم دوه طلاقه واقع کیږي، او په تقدیم او تأخیر سره به د طلاق په شمېر کې هیڅ فرق نه کیږي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چې صحیح ده (موږ دا خبره منو) چې "واو" مطلقاً د جمع لپاره راځي خو مطلقاً جمع د اتصال او ترتیب دواړو احتمال لري، نو که د جمع د اتصال د معنیٰ لحاظ وسي، نو دواړه طلاقه به واقع کیږي، او که د ترتیب د معنیٰ لحاظ یې وسي، نو یو طلاق به واقع کیږي، او د غیرِ مدخول بها کېدلو په وجه هغه ښځه په یوه طلاق سره بائنه ګرځي، لکه څرنګه چې په هغه صورت کې غیرِ مدخول بها ښځه په یوه طلاق سره بائنه ګرځي کله چې خاوند هغې ته طلاقِ مُنجز ورکړي (یعني کله چې خاوند طلاق پر شرط معلق نه کړي بلکې فی الحاله [فوراً] یې واقع کړي)، لهذا په مطلقاً جمع کې دوه احتماله سته، او دا خبره تسلیم سوې ده چې محض په احتمال سره طلاق نه واقع کیږي، نو ځکه به د شرط د تقدیم په صورت کې فقط یو طلاق واقع کیږي.

هاا د شرط د تأخیر په صورت کې به دوه طلاقه واقع کیږي، ځکه چې د شرط د مؤخر کېدلو په وجه به صدر د کلام یعني أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةٌ وَ وَاحِدَة د شرط پر وجود موقوف او معلق وي، او کله چې هم شرط موجود سي، نو پر یوه ځای به دواړه طلاقه واقع کیږي، او داسې نه سي کېدلای چې یو دې واقع سي او بل دې نه واقع کیږي.

ولامغير إلخ: د دې په خلاف د شرط د تقديم په صورت کې صدر د کلام پر يو شي نه موقوف کيږي، نو ځکه به د کلام په صدر يعني په أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً سره فقط يو طلاق واقع کيږي، او ښځه به د غير مدخول بها کيدلو په وجه د دويم طلاق محل پاتې نه سي.

ولوعطف إلخ: او که خاوند د "واو" پر ځاى "فاء" استعمال کړه، يعني د "فاء" په ذريعه يو طلاق پر بل طلاق عطف کړي، او داسې ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً فَوَاحِدَةً، نو د امام کرخي رَحِمَهُ الله د بيان مطابق دا هم مختلف فيه دي، يعني په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز يو طلاق واقع کيږي، او د صاحبينو په نيز دوه طلاقه واقع کيږي، ګواکې امام کرخي رَحِمَهُ الله عطف بالواو او عطف بالفاء سره برابر کړي دي، حالانکې دا صحيح نه دي.

په دې هکله صحيح او معتبر قول د فقيه ابو الليث سمرقندي رَحِمَهُ الله دى، هغه دا دى چې د عطف بالفاء صورت کې بالاتفاق يو طلاق واقع کيږي، ځکه چې فاء د تعقيب او ترتيب لپاره ده، نو د ترتيب په خاطر به په أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً سره يو طلاق واقع کيږي، او په همدغه يوه طلاق سره به ښځه بائنه ګرځي.

د کناياتو بيان

وَأَمَّا الضَّرْبُ الثَّانِي او کوم چې دويم قسم دى وَهُوَ الْكِنَايَاتُ لَا يَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ إِلَّا بِالنِّيَّةِ أَوْ بِدَلَالَةِ الْحَالِ او هغه کنايات دي چې په هغوى سره طلاق نه واقع کيږي مګر په نيت سره يا په دلالت د حال سره لِأَنَّهَا غَيْرُ مَوْضُوعَةٍ لِلطَّلَاقِ ځکه چې کنايات د طلاق لپاره وضع کړل سوي نه دي بَلْ تَحْتَمِلُهُ وَغَيْرَهُ بلکې د طلاق او غير طلاق [دواړو] احتمال لري فَلَا بُدَّ مِنَ التَّعْيِينِ أَوْ دَلَالَتِهِ نو ځکه [په نيت سره د هغوى] تعيين يا دلالت د تعيين ضروري دى.

اللغات: ﴿الضَّرْب﴾ قسم، نوع.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله چې کله د اول قسم يعني د "صريح طلاق" له بيان څخه فارغ سو، نو اوس د دويم قسم يعني د کنايو بيان کوي، **کنايه**: هغه لفظ ته وايي چې مراد يې پټ او مخفي وي، او د کنايه حکم دا دى چې پر هغه عمل کول واجب نه دي، خو دا چې کله نيت موجود سي، يا د نيت قائم مقام يعني دلالت د حال موجود سي (يعني حالت دا تقاضا کوي چې خاوند طلاق ورکول غواړي)، دليل دا دى چې د کنايه الفاظ فقط د طلاق لپاره نه دي وضع سوي، بلکې د طلاق او غيرِ طلاق دواړو احتمال

لري، لهذا په نيت سره د طلاق احتمال له غير طلاق څخه جلا کول او متعين کول يا په دلالت د حال سره د طلاق احتمال متعين کېدل ضروري دي.

د کنايات رجعيه وو بيان

قَالَ: وَهِيَ عَلَى ضَرْبَيْنِ فرمايي: او کنايات پر دوه قسمه دي مِنْهَا ثَلَاثَةُ أَلْفَاظٍ يَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ له هغوی څخه درې الفاظ داسې چې طلاقِ رجعي په واقع کيږي وَلَا يَقَعُ بِهَا إِلَّا وَاحِدَةٌ او فقط يو طلاق په واقع کيږي وَهِيَ قَوْلُهُ: اعْتَدِّي وَاسْتَبْرِئِي رَحِمَكِ وَأَنْتِ وَاحِدَةٌ او هغه د خاوند دا قول دی: اِعْتَدِّی [ته يې شمار کړه] اِسْتَبْرِئِيْ [خپل د رحم استبراء وکړه، خپل رحم صفا کړه] أَنْتِ وَاحِدَةٌ [ته يوه يې] أَمَّا الْأُوْلَى فَلِأَنَّهَا تَحْتَمِلُ الِاعْتِدَادَ عَنِ النِّكَاحِ کوم چې اوله جمله [اِعْتَدِّی] ده نو ځکه چې دا جمله د نکاح د شمارلو احتمال [هم] لري [يعني د أيامِ عدت د شمارلو احتمال هم لري] وَتَحْتَمِلُ اعْتِدَادَ نِعَمِ اللهِ تَعَالَى او د الله د نعمتونو د شمارلو احتمال [هم] لري فَإِنْ نَوَى الْأَوَّلَ تَعَيَّنَ بِنِيَّتِهِ لهذا که [خاوند] د اول نيت وکړی نو هغه د ده په نيت سره متعين سو فَيَقْتَضِيْ طَلَاقًا سَابِقًا نو به د مخکني طلاق تقاضا کوي وَالطَّلَاقُ يُعَقِّبُ الرَّجْعَةَ او طلاق [تر ځان] وروسته رجعت ثابتوي [يعني تر طلاق وروسته ښځې ته رجوع کېدای سي] وَأَمَّا الثَّانِيَةُ فَلِأَنَّهَا تُسْتَعْمَلُ بِمَعْنَى الِاعْتِدَادِ او کوم چې دويمه جمله [اِسْتَبْرِئِیْ] ده نو ځکه چې [کله] د عدت په معنیٰ سره استعماليږي لِأَنَّهُ تَصْرِيْحٌ بِمَا هُوَ الْمَقْصُوْدُ مِنْهُ ځکه دا [اِسْتَبْرِئِیْ] د هغې معنیٰ تصريح ده کوم چې له عدت [اعتداد] څخه مقصود ده فَكَانَ بِمَنْزِلَتِهِ نو به د عدت په درجه کې وي وَتَحْتَمِلُ الِاسْتِبْرَاءَ لِيُطَلِّقَهَا او د استبراء [هم] احتمال لري چې خاوند هغه طلاقه کړي وَأَمَّا الثَّالِثَةُ فَلِأَنَّهَا تَحْتَمِلُ أَنْ تَكُوْنَ نَعْتًا لِمَصْدَرٍ مَحْذُوْفٍ کوم چې دريمه جمله [أَنْتِ وَاحِدَةٌ] ده نو ځکه چې هغه د محذوف مصدر د صفت جوړېدلو احتمال [هم] لري مَعْنَاهُ: تَطْلِيْقَةٌ وَاحِدَةٌ چې د هغه [محذوف مصدر] مفهوم دی: تَطْلِيْقٌ وَاحِدَةٌ [يعني تر وَاحِدَةٌ مخکې تَطْلِيْقَةٌ مصدر محذوف دی] فَإِذَا نَوَاهُ جُعِلَ كَأَنَّهُ قَالَهُ نو کله چې [خاوند] د دې [مصدر، يعني د يوه طلاق] نيت وکړي نو داسې سو لکه هغه چې [په خوله] ويلی وي وَالطَّلَاقُ يُعَقِّبُ الرَّجْعَةَ او طلاق [تر ځان] وروسته رجعت ثابتوي وَتَحْتَمِلُ غَيْرَهُ او دا [دريمه جمله] [د محذوف مصدر له صفت څخه بغير] د بل احتمال [هم] لري

وَهُوَ: أَنْ تَكُوْنَ وَاحِدَةً عِنْدَهُ أَوْ عِنْدَ قَوْمِهِ او هغه احتمال دا دى: چي دا ښځه د خاوند په نېز يا د هغه د قوم په نېز يوه ده [يعني ته زما يا زما د قوم په نېز يکتا او لاثاني ښځه يې] وَلَمَّا احْتَمَلَتْ هٰذِهِ الْأَلْفَاظُ الطَّلَاقَ وَغَيْرَهُ او کله چي دا الفاظ د طلاق او غير طلاق [دواړو] احتمال لري تَحْتَاجُ فِيهِ إِلَى النِّيَّةِ نو په دې کي به د نيت ضرورت وي وَلَا تَقَعُ إِلَّا وَاحِدَةٌ او فقط يو طلاق به واقع کيږي لِأَنَّ قَوْلَهُ: أَنْتِ طَالِقٌ فِيهَا مُقْتَضًى أَوْ مُضْمَرٌ ځکه چي په دې الفاظو کي د خاوند دا قول: إِنْتِ طَالِقٌ مقتضىٰ دى يا مضمر دى [يعني أَنْتِ طَالِقٌ يا په دې الفاظو کي اقتضاء او د تقاضا په توګه دى يا په دوى کي پټ دى] وَلَوْ كَانَ مُظْهَرًا لَا تَقَعُ بِهَا إِلَّا وَاحِدَةٌ که چيري مظهر واى نو په هغوى سره به [هم] فقط يو طلاق واقع کېداى فَإِذَا كَانَ مُضْمَرًا أَوْلَى لهذا کله چي هغه مضمر وي نو په طريقه اولىٰ سره به [په هغوى يو طلاق واقع کيږي] وَفِي قَوْلِهِ: وَاحِدَةٌ وَإِنْ صَارَ الْمَصْدَرُ مَذْكُورًا او د خاوند په دې قول: وَاحِدَةٌ کي که څه هم مصدر ذکر سوى دى لٰكِنَّ التَّنْصِيصَ عَلَى الْوَاحِدَةِ يُنَافِي نِيَّةَ الثَّلَاثِ ليکن د وَاحِدَةٌ يوه طلاق] صراحت د دريو طلاقو د نيت منافي دى وَلَا مُعْتَبَرَ بِإِعْرَابِ الْوَاحِدَةِ عِنْدَ عَامَّةِ الْمَشَايِخِ او د زياتره مشايخو په نېز د وَاحِدَةٌ اعراب لره هيڅ اعتبار نسته هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح خبره ده لِأَنَّ الْعَوَامَّ لَا يُمَيِّزُونَ بَيْنَ وُجُوهِ الْإِعْرَابِ ځکه چي عوام د اعراب د صورتونو تر مينځ توپير نه سي کولاى.

اللغات: ﴿رَحِم﴾ رِحْم: بچه داني، زيلانځه، د ښځي په نس کي هغه ځاى چي اولاد پکي وي، ﴿مُضْمَر﴾ پټ کړى سى، ﴿تَنْصِيص﴾ د تفعيل مصدر دى: صراحت کول، په الفاظو کي ذکر کول، ﴿وُجُوْه﴾ صورتونه، شکلونه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي څرنګه د طلاق إيقاع پر دوه قسمه ده: صريح او کنايه، همداسي کنايه هم پر دوه قسمه ده: يو قسم هغه کنايه ده چي په هغه سره فقط يو طلاق رجعي واقع کيږي، دويم قسم هغه کنايه ده چي په هغه سره طلاقِ بائن واقع کيږي.

په کومه کنايه چي سره طلاقِ رجعي واقع کيږي، د هغې لپاره درې الفاظ دي: (١)... اِعْتَدِّيْ: دا کلمه له الفاظِ کنايه وو څخه ده، او په دې سره طلاقِ رجعي واقع کيږي، ځکه چي د اِعْتَدِّيْ معنىٰ ده: شمارل، او په دې معنىٰ کي دوه احتماله دي: ① د عدت ورځي شمار کړه!، ② د الله نعمتونه شمار کړه!، څرنګه چي په دې کي دوه احتمال دي، لهذا د طلاق د وقوع لپاره د نيت يا دلالت حال

موجودېدل ضروري دي، اوس که خاوند په دې سره د اولي معنیٰ یعني "د أيّام عدت د شمارلو" نيت وکړي، نو همدغه احتمال به متعين کيږي، او د عدت ورځي شمارل هغه وخت کېدای سي کله چي تر هغه مخکي طلاق واقع سوي وي، نو ځکه به تر هغه مخکي د طلاق وقوع منل کيږي (يعني دلته به د طلاق لفظ محذوف منل کيږي او عبارت به داسي وي: أَنْتِ طَالِقٌ فَاعْتَدِّیْ)، او عدت تر طلاقِ رجعي وروسته ثابتيږي، نو ځکه به په دې سره يو طلاقِ رجعي واقع کيږي.

وأمّا الثانية: (۲)... دريم لفظ او تعبير اِسْتَبْرِئِیْ رَحِمَكِ، په دې سره هم طلاقِ رجعي واقع کيږي، ځکه چي دا هم د دوو معناوو احتمال لري: ① د عدت ورځي شمار کړه!، ځکه چي د اِسْتَبْرِئِی معنیٰ ده: ته خپل رحم صفا کړه!، او ښکاره ده چي د رحم صفايي په عدت تېرولو سره کيږي، نو ګواکي خاوند د اِسْتَبْرِئِیْ په ويلو سره د عدت معنیٰ مراد کړه، لهذا د خاوند اِسْتَبْرِئِیْ ويل به د اِعْتَدِیْ ويلو په معنیٰ سره وي، ② دويم احتمال دا دی چي د اِسْتَبْرِئِیْ په خپله معنیٰ يعني استبراء مراد کړی سي، او د دې مطلب به دا وي چي ته رحم صفا کړه! چي زه تا ته د سنت طريقې مطابق طلاق درکړم. اوس دلته که خاوند په دې سره د اولي معنیٰ يعني د اِعْتَدِّیْ نيت وکړي، نو پر ښځي به طلاق واقع کيږي، لأن الاعتداد يقتضي وجود الطلاق ووقوعه سابقًا، كما قلنا، او که په دې سره د دويمي معنیٰ نيت وکړي، نو بيا في الحاله طلاق نه واقع کيږي.

وأما الثالثة: (۳)...دريم لفظ أَنْتِ وَاحِدَةٌ دی، په دې کي هم دوه احتماله دي: ① يو دا چي دا به د محذوف مصدر تَطْلِيْقَةٌ صفت وي او د دې مفهوم به دا وي: أَنْتِ تَطْلِيْقَةٌ وَاحِدَةٌ، ② دويم احتمال دا دی چي د وَاحِدَةٌ مطلب به دا وي چي په دې سره خاوند د ښځي تعريف کوي چي ته زما په نېز په ټوله ښار يا په ټوله قوم کي يوه ښځه يې، ستا په مثل ښځه هيڅ ځای نسته. اوس که خاوند د اول احتمال (يعني د محذوف مصدر د صفت) نيت وکړي، نو پر ښځي يو طلاقِ رجعي واقع کيږي، ځکه چي أَنْتِ تَطْلِيْقَةٌ د طلاق د اِيقاع لپاره صريح لفظ دی.

ولما احتملت إلخ: فرمايي کله چي دا درې سره الفاظ د طلاق او غيرِ طلاق دواړو احتمال لري، نو ځکه به په دوی کي د يوه احتمال د تعيين او ټاکلو لپاره نيت هم ضروري وي، او په دې الفاظو سره واقع کېدونکی طلاق به يو وي، ځکه چي له دې الفاظو څخه په اولو دوو الفاظو يعني په اِعْتَدِّیْ او اِسْتَبْرِئِیْ

رَخَنَکِ سره خو اقتضاءً طلاق ثابت دی، د اقتضاءً ثابتېدلو مطلب دا دی چې په دې الفاظو کې فقط د نیت په وخت کې د علت تېرولو مفهوم پیدا کیږي، او علت هغه وخت بنځه تېروي کله چې تر هغه مخکې طلاق واقع او ثابت وي، لهذا د دې دوارو الفاظو د اختیارولو په صورت کې خو به اقتضاءً طلاق واقع کیږي، او په دریم لفظ أَنْتِ وَاحِدَةٌ کې طلاق مخفي او مضمر دی، که چیرې په دې صورت کې طلاق ظاهر او څرګند وای، او خاوند أَنْتِ تَطْلِيْقَةٌ وَاحِدَةٌ ویلي وای (یعني تَطْلِيْقَةٌ یې هم ذکر کړي وای)، نو بیا به هم فقط یو طلاق واقع کېدای، لهذا د مخفي کېدلو په صورت کې به په طریقه اولیٰ سره فقط یو طلاق واقع کیږي.

وفي قوله واحدة إلخ: په دې سره د یو مقدر سوال جواب ورکوي کوم چې د دریم لفظ یعني د أَنْتِ وَاحِدَةٌ په باره کې دی، سوال دا دی چې کله په أَنْتِ وَاحِدَةٌ کې مصدر یعني تَطْلِقَيةٌ موجود دی، نو څرنګه چې په دې سره خاوند د فردِ حقیقي یعني د یوه طلاق نیت کولای سی، همداسي د هغه لپاره د فردِحکمي یعني د دریو طلاقو نیت هم باید صحیح وای؟ صاحب د کتاب د دې په جواب کې فرمایي چې دلته که څه هم مصدر موجود دی، خو د مصدر سره د وَاحَدَةٌ صراحت هم سوی دی، او واحِدَةٌ (یو طلاق) د دریو طلاقو د نیت منافي دی، نو ځکه به په دې سره د دریو طلاقو نیت صحیح نه وي.

ولا معتبر إلخ: صاحب د هدایې فرمایي چې په أَنْتِ وَاحِدَةٌ کې د وَاحِدَةٌ اعرابي حالت لره هیڅ اعتبار نسته، یعني برابره ده هغه که مرفوع وویل سي، که منصوب وویل سي، او که مسکون وویل سي، په ټولو صورتونو کې طلاق واقع کیږي، د عامو مشائخو همدغه رایه ده او همدا صحیح دي، او د ځینیو مشائخو رایه دا ده چې که وَاحِدَةٌ منصوب وویل سي، نو بغیر له نیت کولو څخه به هم طلاق واقع کیږي، او که مرفوع وویل سي، نو د نیت کولو باوجود به هم طلاق نه واقع کیږي، او که په سکون سره وویل سي، نو بیا به نیت ته کتل کیږي، صحیح اول قول دی، ځکه چې عوام د اعراب په اشارو او صورتونو واقف نه دي او نه د هغوی تر مینځ توپیر کولای سي، نو په دې وجه به په هر صورت کې طلاق واقع کیږي.

د کنایاتو دویم قسم

قَالَ: وَبَقِيَّةُ الْكِنَايَاتِ إِذَا نَوَى بِهَا الطَّلَاقَ فرمايي: او په پاته کناياتو سره چي کله [خاوند] د طلاق نيت وکړي كَانَتْ وَاحِدَةً بَائِنَةً نو هغه به يو بائن [طلاق] وي [يعني د نيت کولو په صورت کي په هغوی سره يو طلاقِ بائن واقع کيږي] وَإِنْ نَوَى ثَلَاثًا او که د دريو [طلاقو] نيت وکړي كَانَتْ ثَلَاثًا نو هغه به دري [طلاقه] وي وَإِنْ نَوَى ثِنْتَيْنِ او که د دوو [طلاقو] نيت وکړي كَانَتْ وَاحِدَةً نو هغه به يو [طلاق] وي وَهَذَا مِثْلُ قَوْلِهِ: أَنْتِ بَائِنٌ او دا [کنايات] مثلاً خاوند [داسي] ووايي: ته جلا يې وَبَتَّةٌ او ته غوڅونکې [پرېکونکې] يې [يا ته پرېکړی سوې يې، يا ته عليحده يې] وَحَرَامٌ ته حرامه يې وَحَبْلُكِ عَلَى غَارِبِكِ ستا رسی ستا پر غاړه ده وَالْحَقِي بِأَهْلِكِ د خپل خاندان [کورني] سره يو ځای سي [خپل کور ته ولاړه سه] وَخَلِيَّةٌ ته فارغه يې [يا ته پرېښوول سوې يې، يا ته يوازي يې] وَبَرِيَّةٌ ته خلاصه يې [يعني له نکاح څخه خلاصه يې] وَوَهَبْتُكِ لِأَهْلِكِ ما ته ستا وخاندان ته هبه کړې يې [ما ته خپل خاندان ته دالی کړې يې] وَسَرَّحْتُكِ ما ته پرېښوولې وَفَارَقْتُكِ زه ستا څخه جلا سوم وَأَمْرُكِ بِيَدِكِ ستا معامله ستا په لاس کي ده [ته پوه سه! خپل کار پوه سه!] وَاخْتَارِي ته يې اختيار کړه وَأَنْتِ حُرَّةٌ ته آزاده يې وَتَقَنَّعِي ته نقاب وکړه [پرده وکړه] وَتَخَمَّرِي ته پوړنی پر سر کړه [چادري وکړه] وَاسْتَتِرِي ته پټه سه [ته غلې سه!] وَاعْزُبِي [زما څخه] ليري سه وَاخْرُجِي ته ووځه وَاذْهَبِي ته ولاړه سه وَقُومِي ته ولاړه سه وَابْتَغِي الْأَزْوَاجَ خاوندان تلاش کړه [د ځان لپاره مېړه وګوره] لِأَنَّهَا تَحْتَمِلُ الطَّلَاقَ وَغَيْرَهُ ځکه چي دا الفاظ د طلاق او غير طلاق دواړو احتمال لري فَلَا بُدَّ مِنَ النِّيَّةِ لهذا [په دوی کي د طلاق] نيت ضروري دی.

اللغات: ﴿بَتَّةٌ﴾ د ضرب د باب اسمِ مرة دی: بَتَّ يَبِتُّ بَتًّا: غوڅول (پرېکول)، نافذول، پخه اراده کول. ﴿غَارِب﴾ غاړه، اوږه. ﴿خَلِيَّةٌ﴾ د نصر له باب څخه د صفتِ مشبه صيغه ده. خَلَا يَخْلُو خَلْوَةً: يوازي کېدل، ديو کار لپاره فارغېدل. خَلَا يَخْلُو خُلُوًّا: خالي کېدل، يوازي کېدل، بېزاره کېدل، د تفعيل له باب څخه د "پرېښوولو" او "آزادولو" په معنیٰ سره راځي. ﴿بَرِيَّةٌ﴾ د سمع له باب څخه د صفتِ مشبه صيغه ده: نجات تر لاسه کول، خلاصېدل، ليري کول. ﴿تَقَنَّعِي﴾ د تفعل له باب څخه د واحد أمرِ حاضر مؤنث صيغه ده: دا په اصل کي "نقاب کولو" ته وايي، ځکه چي د دې معنیٰ ده: ته قِنَاع وکړه، او قِنَاع په عربي ژبه کي نقاب

(Mask) ته وايي (يعني د ښځو د مخ پټولو پرده)، صاحب د معجم لغة الفقهاء يې داسي تعريف کړی دی: مَا يُسْتَرُ بِهِ الْوَجْه (معجم لغة الفقهاء، ص۰ ۳۷۰)، او صاحب د معجم الوسيط يې داسي تعريف کړی دی: مَا تُغَطِّي بِهِ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا...وَمَا يُسْتَرُ بِهِ الْوَجْه، نو په دې اعتبارله دې څخه مراد "پوړني" دی، لکه څرنګه چي زياتره شارحينو همدغه معنیٰ څني مراد کړې ده، خلاصه دا چي د دې لفظ اصلي مطلب دا دی چي: ته پرده وکړه، که چيري په دې سره د خاوند دا نيت وي چي زما څخه پرده وکړه، نو په دې سره طلاق واقع کيږي، ځکه چي دا د طلاق پر معنیٰ دلالت کوي، او که دغه نيت دا وي چي له نورو خلکو څخه پرده کوه، نو طلاق نه واقع کيږي، ﴿وَاعْزُبِي﴾ د واحد أمر حاضر مؤنث صيغه، دا صيغه له څو بابونو څخه راتلی سي، که د نصر له باب څخه راسي نو معنیٰ يې راځي: ته جلا سه، ته ليري سه، ته پرديسه سه (بل وطن ته ولاړه سه)، او که د کرُم له باب څخه راسي، نو معنیٰ يې ده: ته پټه سه، او که د إفعال له باب څخه راسي، نو معنیٰ يې ده: ته لوېديځ (مغرب) ته ولاړه سه (يعني تر توره تېره سه).

تشريح: د کناياتو له اول قسم څخه تر فارغه کېدلو وروسته اوس مصنف رَحِمَهُ الله له دې ځای څخه د کناياتو دويم قسم بيانوي، حاصل د عبارت دا دی له مخکنيو دريو الفاظو څخه بغير د کنايه په نورو الفاظو کي ديوه يا دوو طلاقو په نيت سره يو طلاقِ بائن واقع کيږي، او د دريو طلاقو په نيت سره دري طلاقه واقع کيږي، په عبارت کي چي څومره الفاظِ کنايه بيان سوي دي، په ټولو کي د طلاق او غيرِ طلاق احتمال سته، نو په دې وجه د طلاق د معنیٰ متعينولو لپاره نيت ضروري دی، او له هر لفظ څخه د دوو احتمالاتو را ايستل مشکل نه دي، لکه په تَقَنَّعِيْ کي چي موږ دوه احتمال پورته (په لغاتو کي بيان کړه)، او مثلاً په آخري کلمه وَابْتَغِي الأَزْوَاجَ کي يو احتمال دا دی چي ته خپلي همزولي ښځي تلاش کړه چي د هغوی سره ګپه شپه وکړې (او د هغوی سره دي سات تېر سي)، او دويم احتمال پکښې دا دی چي ته د ځان لپاره خاوند تلاش کړه، په دې سره طلاق واقع کيږي، او دريم احتمال پکښې دا دی چي ته له اوس څخه د خاوند تلاش کوه، وروسته زه طلاق درکوم، نو په دې احتمال سره اوس طلاق نه واقع کيږي، لنډه دا چي په دې ټولو الفاظو کي د طلاق او غيرِ طلاق دواړو احتمال سته، لهذا په دې ټولو کي به د خاوند نيت ته کتل کيږي.

د طلاق احوال او د کنايي (کنايه) الفاظ

قَالَ: إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي حَالِ مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ فرمايي: خو دا چي [د دې الفاظو د ويلو په وخت کي] خاوند د طلاق د مذاکرې [خبرو اترو] په حالت کي وي فَيَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ فِي الْقَضَاءِ نو [بيا] په دې الفاظو سره قضاءً طلاق واقع کيږي وَلَا يَقَعُ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَى لېکن فيما بينه وبين الله [دیانتاً] طلاق نه واقع کيږي إِلَّا أَنْ يَنْوِيَهُ خو دا چي [خاوند] د طلاق نيت وکړي قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سَوَّى بَيْنَ هٰذِهِ الْأَلْفَاظِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي امام قدوري رَحِمَهُ الله دا [قوله]الفاظ سره برابر کړي دي ايعني پر ټولو الفاظو يې يو حکم جاري کړی دی] وَهٰذَا فِيمَا لَا يَصْلُحُ رَدًّا [لېکن] دا د خاوند قول به په هغو الفاظو کي صحيح وي کوم چي د ردّ [انکار] صلاحيت نه لري وَالْجُمْلَةُ فِي ذٰلِكَ أَنَّ الْأَحْوَالَ ثَلَاثَةٌ او په دې هکله خلاصه د کلام دا ده چي حالات درې [قسمه] دي حَالَةٌ مُطْلَقَةٌ وَهِيَ حَالَةُ الرِّضَا ① مطلق حالت، او دا د رضا حالت دی وَحَالَةُ مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ ② او د طلاق د مذاکرې [خبرو اترو] حالت وَحَالَةُ الْغَضَبِ ③ او د غضب [او غصې] حالت وَالْكِنَايَاتُ ثَلَاثَةُ أَقْسَامٍ او کنايات [هم] پر درې قسمه دي مَا يَصْلُحُ جَوَابًا وَرَدًّا ① [يو] هغه [کنايات دي] کوم چي د جواب او ردّ دواړو صلاحيت [الياقت] لري ايعني جواب او ردّ دواړه کېدای سی] وَمَا يَصْلُحُ جَوَابًا لَا رَدًّا ② او هغه کوم چي [فقط] د جواب صلاحيت لري، نه د ردّ وَمَا يَصْلُحُ جَوَابًا وَسَبًّا وَشَتِيمَةً ③ او هغه کوم چي د جواب او د پېغور او ښکنځا [دواړو احتمال لري فَفِي حَالَةِ الرِّضَا لَا يَكُونُ شَيْءٌ مِنْهَا طَلَاقًا إِلَّا بِالنِّيَّةِ نو د رضا [خوښۍ] په حالت کي له دې الفاظو څخه هېڅ شی طلاق نه ګرځي مګر په نيت ايعني د رضا په حالت کي له نيت څخه بغير په دې الفاظو کي په يوه لفظ سره هم طلاق نه واقع کيږي] فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ فِي إِنْكَارِ النِّيَّةِ او د نيت د انکار په هکله به د خاوند قول معتبر وي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَفِي حَالَةِ مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ لَا يُصَدَّقُ فِيمَا يَصْلُحُ جَوَابًا وَلَا يَصْلُحُ رَدًّا فِي الْقَضَاءِ او د مذاکرهٔ طلاق په حالت کي به د هغو الفاظو په باره کي د خاوند تصديق نه کيږي کوم چي [فقط] د جواب صلاحيت لري او د ردّ صلاحيت نه لري مِثْلُ قَوْلِهِ: خَلِيَّةٌ بَرِيَّةٌ بَائِنٌ بَتَّةٌ حَرَامٌ اعْتَدِّي أَمْرُكِ بِيَدِكِ اخْتَارِي لکه د خاوند دا قول: خَلِيَّةٌ. بَرِيَّةٌ. بَائِنٌ. بَتَّةٌ. حَرَامٌ. اِعْتَدِّي. أَمْرُكِ بِيَدَكِ او اِخْتَارِي لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ مُرَادَهُ الطَّلَاقُ عِنْدَ سُؤَالِ الطَّلَاقِ

ځکه چې ښکاره همدغه ده چې د طلاق د مطالبې [اغوښتنې] په وخت کې [په دې الفاظو سره] د خاوند مراد طلاق دی وَيُصَدَّقُ فِيمَا يَصْلُحُ جَوَابًا وَرَدًّا او په هغو الفاظو کې به د هغه تصديق کيږي کوم چې د جواب او دواړو صلاحيت لري مِثْلُ قَوْلِهِ: اذْهَبِيْ اُخْرُجِيْ قُوْمِيْ تَقَنَّعِيْ تَخَمَّرِيْ لکه د خاوند دا قول: اِذْهَبِيْ، اُخْرُجِيْ، قُوْمِيْ، تَقَنَّعِيْ، تَخَمَّرِيْ وَمَا يَجْرِي هٰذَا الْمَجْرٰى [يا] هغه الفاظ کوم چې د دې قائم مقام وي لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ الرَّدَّ ځکه چې دا د ردّ احتمال لري وَهُوَ الْأَدْنٰى او ردّ ادنیٰ درجه ده فَحُمِلَ عَلَيْهِ نو پر هغه [ردّ] به حمل کيږي وَفِي حَالَةِ الْغَضَبِ يُصَدَّقُ فِي جَمِيْعِ ذٰلِكَ او د غضب په حالت کې به په ټولو صورتونو کې [د خاوند] تصديق کيږي لِاحْتِمَالِ الرَّدِّ وَالسَّبِّ ځکه چې [د غضب په حالت کې] د ردّ او ښکنځا دواړو احتمال سته إِلَّا فِيمَا يَصْلُحُ لِلطَّلَاقِ وَلَا يَصْلُحُ لِلرَّدِّ وَالشَّتْمِ مګر په هغو الفاظو کې [به د خاوند تصديق نه کيږي] کوم چې [فقط] د طلاق صلاحيت لري او د رد او ښکنځا صلاحيت نه لري كَقَوْلِهِ: اعْتَدِّيْ وَاخْتَارِيْ وَأَمْرُكِ بِيَدِكِ لکه د خاوند دا قول: اِعْتَدِّيْ، اِخْتَارِيْ، أَمْرُكِ بِيَدِكِ فَإِنَّهُ لَا يُصَدَّقُ فِيهَا نو په دې الفاظو کې به د خاوند تصديق نه کيږي لِأَنَّ الْغَضَبَ يَدُلُّ عَلٰى إِرَادَةِ الطَّلَاقِ ځکه چې غضب [په دې الفاظو سره] د طلاق پر اراده دلالت کوي وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ فِيْ قَوْلِهِ: لَا مِلْكَ لِيْ عَلَيْكِ وَلَا سَبِيْلَ لِيْ عَلَيْكِ وَخَلَّيْتُ سَبِيْلَكِ وَفَارَقْتُكِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی د خاوند په دې قول کې: لَا مِلْكَ لِيْ عَلَيْكِ [زما پر تا هيڅ ملکيت نسته] لَا سَبِيْلَ لِيْ عَلَيْكِ [زما پر تا هيڅ لاره نسته] خَلَّيْتُ سَبِيْلَكِ [ما ستا لاره پرېښوول] او فَارَقْتُكِ [زه ستا څخه جلا سوم، يا ما ته جلا کړې] أَنَّهُ يُصَدَّقُ فِيْ حَالَةِ الْغَضَبِ چې [په دې جملو کې به] د غضب په حالت کې [هم] د خاوند تصدق کيږي لِمَا فِيهَا مِنِ احْتِمَالِ مَعْنَى السَّبِّ ځکه چې په دې الفاظو کې د ښکنځلو د معنیٰ احتمال [هم] سته.

اللغات: ﴿مُذَاكَرَة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: په خپل مينځ کې بحث او مباحثه کول، خبري اترې سره کول. ﴿سَبّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: سخته ښکنځا (درانه ښکنځل)، پېغور. ﴿شَتِيْمَة﴾ د نصر او ضرب دواړو څخه د صفت صيغه ده: ښکنځا، ښکنځل، پوچ ورد.

تشريح: دا عبارت د مخکني عبارت سره مربوط او متعلق دی، په تېر عبارت کې دا خبره ذکر سوه چې د کنايي (کنايه) په الفاظو سره هغه وخت طلاق واقع کيږي، کله چې خاوند د طلاق نيت وکړي، په دې عبارت کې له همدغه نيت کولو څخه د يو صورت استثناء کوي فرمايي چې که د خاوند او

ښځي په مينځ کي د طلاق خبري اتري او مذاکره جاري وي (مثلاً ښځه د طلاق مطالبه ځني کوي يا داسي نوري د طلاق خبري شروع وي)، او په همدغه حالت کي خاوند له کنايي الفاظو ځخه يو لفظ استعمال کړي، نو په دې صور کي د طلاق واقع کېدلو لپاره د نيت هيڅ ضرورت نسته، بلکي له نيت ځخه بغير قضاءً طلاق واقع کيږي، که څه هم دياتنا (فيما بينه وبين الله) له نيت ځخه بغير طلاق نه واقع کيږي (ځکه چي د خاوند او د الله ﷻ په مينځ کي همدغه حکم دئ چي که خاوند نيت کړی وي نو طلاق واقع کيږي، او که هغه نيت نه وي کړی نو طلاق نه واقع کيږي).

قال رضي الله عنه إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چي امام قدوري رَحِمَهُ الله د طلاق د مذاکرې په حالت کي له نيت ځخه بغير د طلاق واقع کېدلو په باره کي ټوله کنايي الفاظ برابر کړي دي، حالانکي دا حکم مطلق نه دئ، بلکي فقط په هغه الفاظو کي دا حکم دئ کوم چي د ردّ (ترديد) صلاحيت نه لري، او د دې تفصيل دا دئ چي حالات پر درې قسمه دي: ① مطلق حالت، يعني د رضا او خوښۍ حالت، ② د طلاق د مذاکرې (خبرو اترو) حالت، مثلاً ښځه له خپل خاوند ځخه د طلاق مطالبه يا پوښتنه کوي، يا يو بل سړی له خاوند ځخه د دغه ښځي د طلاق په هکله پوښتنه کوي، ③ د غضب او خښم حالت، يعني له دواړو طرفو ځخه د خښم او غصې خبري شروع وي.

همدارنګه کنايات هم پر درې قسمه دي: ① يو هغه الفاظ کنايه دي چي کوم چي د جواب صلاحيت هم لري او د ردّ صلاحيت هم لري، يعني د ښځي له طرفه چي کوم د طلاق مطالبه سوې ده، دا لفظ د هغه جواب هم کېدای سي، او د هغې د مطالبې ردّ هم کېدای سي، ② بل هغه الفاظ دي چي د جواب صلاحيت خو لري، لېکن د رد صلاحيت نه لري، ③ بل هغه الفاظ دي چي هغه د جواب صلاحيت هم لري، او ښکنځا (او سپکتيا) هم کېدای سي.

تر دې تفصيل وروسته اوس د دوی احکامو ته ګورئ! فرمايي چي د رضا او خوښۍ په حالت کي به له نيت ځخه بغير په دې کنايي الفاظو کي په يوه لفظ سره هم طلاق نه واقع کيږي، او که خاوند د نيت انکار وکړي، نو د نيت په انکار کي به د هغه خبره منل کيږي او د هغه قول به معتبر وي، ځکه چي دا ټوله الفاظ د طلاق او د غيرِ طلاق دواړه احتمال لري، لهذا د يوه احتمال د متعينولو لپاره د خاوند نيت ضروري دئ.

او که د طلاق د مذاکرې په حالت کي خاوند هغه الفاظ استعمال کړي، کوم چي فقط د ښځي د مطالبې د جواب صلاحيت لري، او د ردّ صلاحيت نه لري، نو په دې صورت کي به په دغه اتو (٨) الفاظو کي قضاءً د خاوند د قول تصديق نه کيږي: أَنْتِ خَلِيَّةٌ، أَنْتِ بَرِيَّةٌ، أَنْتِ بَتَّةٌ، أَنْتِ حَرَامٌ، اِعْتَدِّيْ، أَمْرُكِ بِيَدِكِ، اِخْتَارِيْ، دليل دا دئ چي کله ښځه د طلاق مطالبه يا پوښتنه وکړي، او خاوند

په دې اته الفاظو کې په يو لفظ سره جواب ورکړي، نو ښکاره ده چې په دې سره به د ښځې د مطالبې يا پوښتنې جواب مراد وي، او يو طلاقِ بائن به واقع کيږي، او که خاوند په دې اته الفاظو کې د طلاق د نيت انکار وکړي، نو قضاءً به د هغه تصديق نه کيږي، ځکه چې دا الفاظ د طلاق د مطالبې او پوښتنې په جواب کې ښکاره او څرګند دي، او مُفتي او قاضي د ظاهري حالت مطابق په فتوىٰ ورکولو سره مکلف دي.

ويصدق إلخ: او کوم الفاظ چې جواب او ردّ دواړه کېداى سي (يعني د دواړو صلاحيت لري)، په هغه الفاظو کې به د نيت په انکار کې قضاءً هم د خاوند تصديق کيږي، او هغه اووه (٧) الفاظ دي: اِذْهَبِيْ، اُخْرُجِيْ، قُوْمِيْ، تَقَنَّعِيْ، تَخَمَّرِيْ، اُغْرُبِيْ، اِسْتَتِرِيْ، دليل دا دی چې دا الفاظ د غيرِ طلاق احتمال هم لري، او ردّ ادنىٰ او أسهل شي دی، او د ادنىٰ کېدلو په وجه مُتيقن دی، لهذا که خاوند د ردّ او انکار دعوىٰ کوي، نو د هغه خبره به منل کيږي، او دا الفاظ به پر ردّ حمل کيږي.

وفي حالة الغضب إلخ: او د غضب په حالت کې به په ټولو کنايي الفاظو کې د نيت د انکار په هکله د خاوند تصديق کيږي، ځکه چې په دې کې د غضب او خښم په وجه فقط يا د ردّ احتمال سته، يا د ښکنځلو.

خو کوم الفاظ چې فقط د طلاق لپاره وضع سوي دي، او د رد او ښکنځا صلاحيت نه لري، په هغه الفاظو کې به د نيت د انکار په هکله د خاوند تصديق نه کيږي، او هغه درې الفاظ دي: اِعْتَدِّيْ، اِخْتَارِيْ، اَمْرُكِ بِيَدِكِ، دليل دا دی چې د غصې او غضب په وجه سره په دې الفاظو کې د طلاق د اِيقاع اړخ غالب دی، لهذا په دې سره به يو طلاقِ بائن واقع کيږي، او د نيت د انکار په هکله به د خاوند خبره نه منل کيږي.

وعن أبي يوسف إلخ: له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې که خاوند د غضب په حالت کې ووايي: لَا مِلْكَ لِيْ عَلَيْكِ، يا لَا سَبِيْلَ لِيْ عَلَيْكِ، يا خَلَّيْتُ سَبِيْلَكِ، يا فَارَقْتُكِ، او بيا ووايي چې ما په دې سره د طلاق نيت نه دي کړی، نو د هغه تصديق به کيږي، ځکه چې په دې الفاظو کې د ښکنځا د معنىٰ احتمال هم موجود دی، په لَا مِلْكَ لِيْ عَلَيْكَ کې د ښکنځا د معنىٰ احتمال په دې توګه دی چې ته ډېره رذيله او خسيسه ښځه يې او د دې لائق نه يې چې زه يو چا ته ووايم چې دا زما ماينه ده او پر دې زما ملکيت ثابت دی (ليري سه! زما د مخه)، او په لَا سَبِيْلَ لِيْ عَلَيْكَ کې د ښکنځا احتمال په دې توګه دی چې ته دومره بد اخلاقه او بد چلنده ښځه يې چې ستا سره د ژوند تېرولو او ګزاره کولو هيڅ لاره نه

جوړيږي (ستا سره خو نه توري خوړل کيږي، نه سپيني، څخله سه!)، او په خَلَّيْتُ سَبِيْلَكِ کي په دې توګه دا احتمال موجود دی چي ستا د نافرمانۍ او سرکښۍ په وجه ما اوس ستا لاره خالي کړه.

يعني اوس زما تر وس وتلې يې، زه هيڅ کار نه در لرم. او په فَارَقْتُكِ کي په دې توګه د ښځې احتمال سته چي ستا دګندګۍ او مردار خورۍ په وجه يا ستا د نافرمانۍ په وجه ما ته له خپلي بستري څخه جلا کړي (اوس داسي نه وايم چي ته زما مينه يې!).

په کنايي الفاظو سره د واقع کېدونکي طلاق حيثيت

ثُمَّ وُقُوْعُ الْبَائِنِ بِمَا سِوَى الثَّلَاثَةِ الْأُوَلِ مَذْهَبُنَا بيا له اولو دريو [جملو] څخه بغير په نورو سره د طلاق بائن واقع کېدل زموږ مذهب دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَقَعُ بِهَا رَجْعِيًّا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په هغوی [ټولو الفاظو] سره [هم] طلاق رجعي واقع کيږي لِأَنَّ الْوَاقِعَ بِهَا طَلَاقٌ ځکه چي په هغوی سره يو طلاق واقع کيږي لِأَنَّهَا كِنَايَاتٌ عَنِ الطَّلَاقِ ځکه چي دا الفاظ له طلاق څخه کنايه [کنايت] دي وَلِهٰذَا تُشْتَرَطُ النِّيَّةُ او له همدې وجهي [په هغوی کي] د نيت شرط لګول کيږي وَيَنْتَقِصُ بِهَا الْعَدَدُ او په هغوی سره [د طلاق] يو شمېر کميږي وَالطَّلَاقُ مُعَقِّبٌ لِلرَّجْعَةِ او [په دې الفاظو سره ورکول سوی] طلاق [تر ځان] وروسته رجعت ثابتوي كَالصَّرِيْحِ لکه صريح طلاق [يعني لکه تر صريح طلاق وروسته چي رجعت ثابتيږي او خاوند لره د رجعت اختيار ورکول کيږي] وَلَنَا: أَنَّ تَصَرُّفَ الْإِبَانَةِ صَدَرَ مِنْ أَهْلِهِ مُضَافًا إِلَى مَحِلِّهِ عَنْ وِلَايَةٍ شَرْعِيَّةٍ زموږ دليل دا دی: چي د بائن جوړولو تصرف له خپل أهل څخه صادر سوی دی [او] د خپل محل وطرف ته منسوب دی [او تصرف کونکي ته] شرعي ولايت هم [حاصل] دی وَلَا خَفَاءَ فِي الْأَهْلِيَّةِ وَالْمَحَلِّيَّةِ او په اهل کېدلو او محل کېدلو کي هيڅ پټوالی نسته وَالدَّلَالَةُ عَلَى الْوِلَايَةِ: أَنَّ الْحَاجَةَ مَاسَّةٌ إِلَى إِثْبَاتِهَا او پر ولايت دلالت دا دی [يعني د ولايت دليل دا دی] چي حاجت مجبوره کونکی دی د ولايت و ثابتولو ته [يا دا چي "د ولايت د ثابتولو ضرورت متحقق او موجود دی"، يا دا چي " د ولايت ثابتولو ته سخت ضرورت دی"] كَيْلَا يَنْسَدَّ عَلَيْهِ بَابُ التَّدَارُكِ د دې لپاره چي پر خاوند د تلافۍ دروازه بنده نه سي وَلَا يَقَعُ فِي عُهْدَتِهَا بِالْمُرَاجَعَةِ مِنْ غَيْرِ قَصْدٍ او د دې لپاره چي [خاوند بېله ارادې په مراجعت کولو سره د ښځي په ذمه کي واقع نه سي وَلَيْسَتْ كِنَايَاتٍ عَلَى التَّحْقِيقِ او دا الفاظ حقيقي کنايات نه دي لِأَنَّهَا عَوَامِلُ فِي حَقَائِقِهَا ځکه چي دا په خپلي حقيقي معانيو کي

عمل کونکي [استعمل] دي وَالشَّرْطُ تَعْيِيْنُ أَحَدِ نَوْعَيِ الْبَيْنُوْنَةِ دُوْنَ الطَّلَاقِ او شرط د بینونت له دواړو قسمونو څخه د یوه قسم متعینول دي، نه طلاق ورکول وَانْتِقَاصُ الْعَدَدِ لِثُبُوْتِ الطَّلَاقِ او [د طلاق] د شمېر کمېدل د طلاق [بائن] د ثابتېدلو په وجه دي بِنَاءً عَلَى زَوَالِ الْوُصْلَةِ د تعلق پر زائلېدو باندې په بناء کولو سره وَإِنَّمَا تَصِحُّ نِيَّةُ الثَّلَاثِ فِيهَا لِتَنَوُّعِ الْبَيْنُوْنَةِ إِلَى غَلِيظَةٍ وَخَفِيفَةٍ او په دې الفاظو کې د دریو [طلاقو] د نیت صحیح کېدل د بینونت د منقسم کېدلو په وجه دي د غلیظه او خفیفه وطرف ته وَعِنْدَ انْعِدَامِ النِّيَّةِ يَثْبُتُ الْأَدْنٰى او د نیت د نشتوالي په صورت کې به ادنیٰ ثابتیږي وَلَا تَصِحُّ نِيَّةُ الثِّنْتَيْنِ عِنْدَنَا او زموږ په نېز د دوو [طلاقو] نیت کول نه صحیح کیږي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله لِأَنَّهُ عَدَدٌ ځکه چې هغه [ثِنْتَيْن] عدد دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ او مخکې موږ د دې بیان کړی دی.

اللغات: ﴿مُعَقِّب﴾ د تفعیل له باب څخه د اسم فاعل صیغه ده: عَقَّبَ يُعَقِّبُ تَعْقِيْبًا: یو شی تر بل شي وروسته کول، (ترځان) وروسته راوړل، وروسته ثابتول (مراد ځني دا دی چې طلاق صریح تر ځان وروسته رجعت ثابتوي او طلاق رجعي واقع کوي)، ﴿مَاسَّة﴾ د مونث اسم فاعل صیغه ده، له سمع او نصر دواړو څخه راځي، مسه کول، رسېدل، لاحق کېدل، مجبوره کول، حَاجَةٌ مَاسَّةٌ: سخت حاجت، کله چې یې په صله کې "إِلیٰ" راسي، لکه دلته چې راغلي دي، نو بیا د "مجبوره کولو" په معنیٰ سره راځي، لکه عرب چې وایي: مَسَّتْنِي إِلىٰ كَذَا (زه دې ته حاجت مجبوره کړم)، ﴿لَا يَنْسَدُّ﴾ د انفعال له باب څخه د نفي صیغه ده: بندېدل، ﴿التَّدَارُك﴾ تلافي، جبران، د نقصان عوض (د تاوان بدله)، ﴿إِنْتِقَاص﴾ د افتعال مصدر دی: کمېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې له اِعْتَدِّي، اِسْتَبْرِئِي رَحِمَكِ او أَنْتِ وَاحِدَةٌ څخه بغیر په نورو کنایي الفاظو سره د طلاق بائن واقع کېدل زموږ مذهب دی، کنې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز چې څرنګه په اِعْتَدِّي، اِسْتَبْرِئِي رَحِمَكِ او أَنْتِ وَاحِدَةٌ سره طلاق رجعي واقع کیږي، همداسې په نورو کنایي الفاظ مثلاً په خَلِيَّةٌ، بَرِيَّةٌ... او نورو سره هم طلاق رجعي واقع کیږي، همدا د امام احمد رَحِمَهُ الله یو روایت او د امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک دی.

د امام شافعي دلیل: دا دی چې په دې الفاظو سره هم طلاق واقع کیږي، ځکه چې دا الفاظ کنایات دي (یعني له طلاق څخه کنایه دي)، او د کنایه عن الطلاق کېدلو په وجه په دوی کې نیت کول او د نیت وجود شرط او ضروري دي، او څرنګه چې د صریح طلاق په ورکولو د طلاق شمېر کمیږي (مثلاً

که ښځه آزاده وي، نو تر صريح طلاق وروسته د دوو طلاقو محل پاتېږي، او مینځه د یوه طلاق محل پاتېږي)، او تر هغه وروسته د رجعت اختيار ثابتېږي، همداسي په دې الفاظو سره واقع کېدونکی طلاق هم د طلاق شمېر کموي، او تر طلاق وروسته رجعت ثابتوي، او د رجعت ثبوت په طلاقِ رجعي سره کیږي، لهذا په دې الفاظو سره د رجعت د ثابتېدلو مطلب همدغه دی چي په دې الفاظو سره به واقع کېدونکی طلاق، طلاقِ رجعي وي.

زموږ دليل: دا دی چي کله دلته د إبانت تصرف له خپل أهل (يعني له خاوند) څخه صادر سوی دی او د خپل محل يعني د ښځي وطرف ته منسوب دی، او خاوند ته د دې تصرف شرعي ولايت هم حاصل دی، نو اوس د دې په وقوع کي خنډ او مانع اچول پکار نه دي، ځکه کله چي شريعت خاوند ته په ولايت ورکولو سره د داسي تصرفاتو اختيار ورکړی دی، نو بيا د دې په وقوع که هيڅ خبره نسته.

ولاخفاء إلخ: فرمايي چي په أهليت او محليت کي خو هيڅ خفاء نسته، يعني په دې خبره کي خو هيڅ ابهام او پټوالی نسته چي خاوند د طلاق واقع کولو (إيقاع) أهل دی، او ښځه د طلاق واقع کېدلو (وقوع) محل ده، او د شرعي ولايت ليل دا دی چي خاوندانو ته د داسي تصرف ورکولو حاجت او ضرورت متحقق دی، ځکه چي کله نا کله خاوند د ښځي له چلند او بد اخلاقۍ څخه ډېر تنګ سي او داسي اقدام کول غواړي چي په هغه سره نه د ده لپاره ښځه حرامه سي، او نه په آسانۍ سره هغې ته د رجعت او رجوع کولو ګنجايش وي، او د داسي اقدام کولو لپاره د طلاقِ بائن څخه بغير بله هيڅ چاره نسته، ځکه چي په طلاقِ رجعي کي خو فقط په مچولو او داسي نورو سره هم رجعت ثابتېږي، او په طلاقِ مغلظ کي بالکل د رجعت دروازه بندېږي او له شرعي "حلاله" څخه بغير خاوند بيا د ښځي سره نکاح کولای نه سي، لهذا د إفراط او تفريط تر مينځ يوازي د طلاقِ بائن لاره سته، چي په هغه کي نه محض په مچولو او داسي نورو سره رجعت ثابتېږي، او نه د نکاح لپاره د "حلاله" ضرورت پيدا کيږي، نو ځکه زموږ په نېز له پورتنيو دريو صورتونو څخه بغير په ټولو کنايي الفاظو طلاقِ بائن واقع کيږي.

وليست بكنايات إلخ: مخکي امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايلي وو چي دا الفاظ کنايات دي، په دې عبارت سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د هغه قول ترديد کوي فرمايي چي دا الفاظ خو له کناياتو څخه دي، لېکن حقيقي کنايات نه دي، بلکي دا خو په خپلي حقيقي معنیٰ کي استعمال سوي دي، او په حقيقي معنیٰ کي استعمال سوي الفاظو ته کنايات نه ويل کيږي.

والشرط تعيين إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې الفاظو سره د طلاق د وقوع لپاره نيت شرط ګرځولی وو. په دې عبارت سره د هغه ترديد کوي فرمايي چې دلته نيت د طلاق د وقوع لپاره شرط نه دی، بلکې د بينونت چې کوم دوه قسمونه دي يعني: خفيفه، او غليظه، په دې قسمونو کې د يوه قسم د تعيين لپاره نيت شرط دی.

وانتقاص العدد إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايلي وو چې په دې الفاظو سره د طلاق شمېر کمېږي (لکه څرنګه چې په صريح طلاق سره د طلاق شمېر کمېږي)، نو ځکه به په دې سره طلاقِ رجعي واقع کيږي، په دې عبارت سره د هغه ترديد کوي، حاصل يې دا دی چې د طلاق په انتقاص (کمېدلو) او طلاقِ بائن کې هيڅ منافات نشته، بلکې څرنګه چې په طلاقِ رجعي سره د طلاق په شمېر کې کمي راځي، همداسې په طلاقِ بائن سره هم د طلاق په شمېر کې کمي راځي، ځکه چې طلاق د ښځې او خاوند د تعلق ختمېدلو ته وايي، لهذا په دې سره دليل نيول او د طلاقِ رجعي قائل کېدل صحيح نه دي.

وإنما تصح إلخ: فرمايي چې په دې کنايي الفاظو کې د دريو طلاقو نيت کول ځکه صحيح دی چې په دوی سره طلاقِ بائن واقع کيږي، او بينونت پر دوه قسمه دی: ① خفيفه يعنې يو طلاق، ② غليظه، يعني دوه يا درې طلاقه، لهذا کوم قسم چې هم خاوند په خپل نيت سره متعين کړي، هغه قسم به واقع کيږي، برابره ده خفيفه وي او که غليظه وي، خو د نيت د نه کولو په صورت کې به د بينونت له دوارو قسمونو څخه هغه ادنیٰ قسم (خفيفه) ثابتيږي، او ادنیٰ (خفيفه) يو طلاق دی، ځکه چې ادنیٰ او أقل خو په دې الفاظو کې خامخا (په هر حال کې) متعين او متيقن وي، ها! که خاوند د دوو طلاقو نيت وکړي، نو په دې صورت کې به د هغه نيت صحيح نه وي، ځکه چې دلته دوه عدد دی، او دلته د عدد نيت کول او د هغه مرادول صحيح نه دي، لکه مخکې چې هم د دې بحث تېر سو.

د طلاقِ کنايي يو صورت

وَإِنْ قَالَ لَهَا: اِعْتَدِّيْ اِعْتَدِّيْ اِعْتَدِّيْ او که [خاوند] ښځې ته [درې واره] ووايي: ته عدت تېر کړه، ته عدت تېر کړه، ته عدت تېره کړه **وَقَالَ: نَوَيْتُ بِالْأُوْلٰى طَلَاقًا وَبِالْبَاقِيْ حَيْضًا** او ووايي: چې په اول لفظ [اِعْتَدِّيْ] سره ما د طلاق نيت وکړی او په پاته [دوو] سره مې د حيض [نيت وکړی] **دُيِّنَ فِي الْقَضَاءِ** نو قضاءً به [د هغه] تصديق کيږي **لِأَنَّهُ نَوٰى حَقِيْقَةَ كَلَامِهٖ** ځکه چې هغه خپل د کلام د حقيقت نيت کړی دی **وَلِأَنَّهُ يَأْمُرُ امْرَأَتَهٗ فِي الْعَادَةِ بِالْاِعْتِدَادِ بَعْدَ الطَّلَاقِ** او په دې وجه [هم] چې خاوند په عامه توګه تر طلاق وروسته ښځې ته د عدت تېرولو حکم کوي **فَكَانَ الظَّاهِرُ شَاهِدًا لَهٗ** نو ظاهري حال [هم] د

هغه په حق کي ګواه دی وَإِنْ قَالَ: لَمْ أَنْوِ بِالْبَاقِيْ شَيْئًا او که [خاوند] ووايي: چي ما په پاته [دوو] سره هيڅ نيت نه دي کړی فَهِيَ ثَلَاثٌ نو هغه به درې [طلاقه] وي لِأَنَّهُ لَمَّا نَوَى بِالْأُوْلَى الطَّلَاقَ ځکه کله چي هغه په اول لفظ د طلاق نيت وکړی صَارَ الْحَالُ حَالَ مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ نو دغه حالت د طلاق د مذاکرې حالت وګرځيدی فَتَعَيَّنَ الْبَاقِيَانِ لِلطَّلَاقِ بِهٰذِهِ الدَّلَالَةِ نو پاته دوه لفظونه [هم] په دې دلالت سره د طلاق لپاره متعين سول فَلَا يُصَدَّقُ فِي نَفْيِ النِّيَّةِ نو ځکه د نيت د نفي په هکله [د خاوند] تصديق نه کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: لَمْ أَنْوِ بِالْكُلِّ الطَّلَاقَ په خلاف د هغه صورت کله چي خاوند ووايي: ما په ټولو الفاظو سره د طلاق نيت نه دي کړی [يعني په يوه لفظ سره مي هم د طلاق نيت نه دي کړی] حَيْثُ لَا يَقَعُ شَيْءٌ نو [په دې صورت کي] يو طلاق [هم] نه واقع کيږي لِأَنَّهُ لَا ظَاهِرَ يُكَذِّبُهُ ځکه چي [هيڅ] ظاهري حال د هغه تکذيب نه وي وَبِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: نَوَيْتُ بِالثَّالِثَةِ الطَّلَاقَ دُوْنَ الْأُوْلَيَيْنِ او په خلاف د هغه صورت کله چي [خاوند] ووايي: چي ما په دريم لفظ سره د طلاق نيت وکړی، نه په اولو دوو سره حَيْثُ لَا يَقَعُ إِلَّا وَاحِدَةٌ نو [په دې صورت کي] فقط يو طلاق واقع کيږي لِأَنَّ الْحَالَ عِنْدَ الْأُوْلَيَيْنِ لَمْ تَكُنْ حَالَ مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ ځکه چي [په دې صورت کي] د اولو دوو لفظونو حالت د طلاق د مذاکرې حالت نه دی وَفِي كُلِّ مَوْضِعٍ يُصَدَّقُ الزَّوْجُ عَلَى نَفْيِ النِّيَّةِ إِنَّمَا يُصَدَّقُ مَعَ الْيَمِيْنِ او هر هغه ځای چي د نيت د نفي په هکله د خاوند تصديق کيږي هلته به د قسم سره [د هغه] تصديق کيږي لِأَنَّهُ أَمِيْنٌ فِي الْإِخْبَارِ عَمَّا فِي ضَمِيْرِهِ ځکه چي خاوند أمين [امانتدار] دی د هغه شي په خبر ورکولو کي کوم چي د هغه په زړه کي دی وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْأَمِيْنِ مَعَ الْيَمِيْنِ او د أمين قول د قسم سره معتبر وي.

اللغات: ﴿لَمْ أَنْوِ﴾ د ضرب له باب څخه د جحد صيغه ده، په اصل کي لَمْ أَنْوِيْ وو: نيت کول، اراده کول. ﴿يُكَذِّبُ﴾ د تفعيل مضارع ده: دروا غ ګڼل، درواغجن کول. ﴿يُصَدَّقُ﴾ د تفعيل مضارع مجهوله ده: تصديق کول، رېښتونی ګڼل، د يو چا خبره ور سره منل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته درې واره "اِعْتَدِّيْ" ووايي، او بيا ووايي چي په اول "اِعْتَدِّيْ" سره ما د طلاق نيت کړی دی او په دويم او دريم سره مي د حيض (يعني د عدت تېرولو) نيت کړی دی، نو قضاءً به د هغه تصديق کيږي، همدا قول د امام شافعي، امام مالک او

امام احمد رَحِمَهُمَا الله دی؛ دليل دا دی چي دغه سړي په دويم او دريم لفظ سره د خپل کلام د حقيقي معنیٰ نيت کړی دی، او په اول لفظ سره يې د خپل کلام د احتمالي معنیٰ نيت کړی دی، نو په دې وجه به دواړه نيتونه قضاءً معتبر وي، دويم دليل دا هم دی چي په عامه توګه خاوند تر طلاق ورکولو وروسته ښځي ته د عدت تېرولو حکم کوي، لهذا دلته د طلاق واقع کېدل ظاهراً هم ثابت سو، او د ظاهر په هکله قاعده دا ده چي أَنَّ مَنْ سَاعَدَهُ الظَّاهِرُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ (يعني ظاهري حال چي د چا موافقت وکړي، نو قول به د هغه معتبر وي)، او څرنګه چي دلته د خاوند قول د ظاهري حال موافق دی، نو ځکه به د هغه قول معتبر وي.

وإن قال لم إلخ: او که خاوند ووايي چي په دويم او دريم لفظ (اِعْتَدِّيْ) سره ما هيڅ نيت نه دي کړی، نو په دې صورت کي به درې طلاقه واقع کيږي؛ ځکه کله چي خاوند په اول لفظ سره د طلاق نيت وکړی، نو دا حالت به د طلاق د مذاکرې (خبرو اترو) حالت وي، نو دويم او دريم لفظ به هم په دې قرينه سره (يعني د طلاق د مذاکرې د حالت په وجه سره) پر طلاق حمل کيږي، او درې طلاقه به واقع کيږي، او د نيت په انکار کي به د هغه تصديق نه کيږي.

بخلاف ما إذا قال إلخ: او که خاوند ووايي چي ما په دې دريو سره الفاظو سره هيڅ نيت نه دي کړی، نو طلاق به نه واقع کيږي، ځکه چي په اول طلاق کي د نيت نه کولو په وجه د طلاق د مذاکرې حالت موجود نه سو، لهذا کله چي د طلاق د مذاکرې حالت موجود نه سو، نو په پاته دوو لفظونو کي د طلاق د متعينولو هيڅ قرينه او دلالت موجود نه سو، او ظاهري حال هم د خاوند تکذيب نه کوي، نو ځکه به په دې صورت کي هيڅ طلاق نه واقع کيږي.

لېکن که خاوند ووايي چي په دريم لفظ سره ما د طلاق نيت کړی دی، او په اولو دوو لفظو سره مي هيڅ نيت نه دي کړی، نو بيا به فقط يو طلاق واقع کيږي؛ ځکه چي د نيت د نشتوالي په وجه د اولو دوو لفظو د اداء کولو وخت د طلاق د مذاکرې حالت نه وو، نو ځکه به فقط يو طلاق واقع کيږي.

وفي كل موضع إلخ: د نيت د انکار په هکله د خاوند د تصديق کولو په سلسله کي صاحب د کتاب يوه قاعده بيان کړې ده، هغه دا ده چي په کوم ځای کي چي هم د نيت د انکار په هکله د خاوند د خبري تصديق کيږي هلته به د قسم سره د هغه خبره منل کيږي؛ ځکه چي نيت يو پټ شی دی کوم چي د خاوند په زړه کي مخفي وي، او په زړه کي د پټو شيانو په څرګندولو او خبر ورکولو کي انسان أمين (امانتدار) وي، او قسم د دې امانتدارۍ لپاره مضبوط مُهر دی، لهذا کله چي هم د نيت د انکار په حق کي د خاوند تصديق کيږي، نو په قسم سره به د هغه تصديق کيږي، او همدا قاعده هم ده: اَلْقَوْلُ قَوْلُ الأَمِيْنِ مَعَ الْيَمِيْنِ.



بَابُ تَفْوِيْضِ الطَّلَاق

(دا) باب د طلاق د ور سپارلو (په بيان کي) دی

تشريح: مخکي تر دې صاحب د کتاب د هغه طلاق بحث او بيان وکړی کوم چي يې انسان په خپله (بذات خود) واقع کوي، اوس له دې ځای څخه د هغه طلاق بيان کوي، کوم چي يې انسان د بل چا په واسطه واقع کوي، ځرنګه چي په هر شي کي د انسان په خپله (بذات خود) تصرف کول اصل دی، او د بل چا په واسطه کار او تصرف کول فرع دي، نو ځکه يې مخکي اصل بيان کړی، او اوس د هغه قائم مقام او نائب بيانوي.

په دې باب کي درې فصلونه بيان سوي دي: ① فصل فى الاختيار، ② فصل فى الأمر باليد، ③ فصل فى المشية.

﴿فَصْلٌ فِي الْاِخْتِيَار﴾

(دا) فصل په (بيان د) اختيار ورکولو کي دی

د "خيارِ مجلس" بيان

وَإِذَا قَالَ لِامْرَأَتِهِ: اخْتَارِيْ يَنْوِيْ بِذٰلِكَ الطَّلَاقَ او كه [خاوند] خپلي ښځي ته ووايي: اِخْتَارِی [ته يې اختيار کړه] حال دا چي په دې سره هغه د طلاق نيت وکړي أَوْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ يا ښځي ته ووايي: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ [ته خپل ځان ته طلاق ورکړه] فَلَهَا أَنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا مَا دَامَتْ فِيْ مَجْلِسِهَا ذٰلِكَ نو ښځي لره دا اختيار سته چي خپل ځان ته طلاق ورکړي تر څو چي ښځه په خپل دغه مجلس کي پاته وي فَإِنْ قَامَتْ مِنْهُ أَوْ أَخَذَتْ فِيْ عَمَلٍ آخَرَ لېکن كه ښځه له مجلس څخه ولاړه سي يا په يو بل کار اخته سي خَرَجَ الْأَمْرُ مِنْ يَدِهَا نو دا اختيار د هغې د لاس څخه ووتی لِأَنَّ الْمُخَيَّرَةَ لَهَا الْمَجْلِسُ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ ځکه چي اختيار ورکول سوي ښځي لره د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په اجماع سره [اختيار د] مجلس ثابت دی وَلِأَنَّهُ تَمْلِيْكُ الْفِعْلِ مِنْهَا او په دې وجه [هم] چي اختيار ورکول [په اصل کي] ښځه د فعل [طلاق] مالكه جوړول دي وَالتَّمْلِيْكَاتُ تَقْتَضِيْ جَوَابًا فِي الْمَجْلِسِ او تمليكات په مجلس

كي د جواب تقاضا كوي كَمَا فِي الْبَيْعِ لكه څرنګه چي په بيع كي كيږي لِأَنَّ سَاعَاتِ الْمَجْلِسِ اُعْتُبِرَتْ سَاعَةً وَاحِدَةً ځكه چي د [يوه] مجلس ټوله ساعتونه د يوه ساعت [په څير] شمارل كيږي إِلَّا أَنَّ الْمَجْلِسَ تَارَةً يَتَبَدَّلُ بِالذِّهَابِ عَنْهُ خو دا چي كله له مجلس څخه د تللو په وجه مجلس بدليږي وَتَارَةً بِالِاشْتِغَالِ بِعَمَلٍ آخَرَ او كله په يو بل د مشغولېدلو په وجه [مجلس بدليږي] إِذْ مَجْلِسُ الْأَكْلِ غَيْرُ مَجْلِسِ الْمُنَاظَرَةِ وَمَجْلِسُ الْقِتَالِ غَيْرُهُمَا ځكه چي د خوراک مجلس د بحث او مباحثې له مجلس څخه جلا دی او د جنګ [او نښتي] مجلس له دې واړو څخه جلا دی وَيَبْطُلُ خِيَارُهَا بِمُجَرَّدِ الْقِيَامِ او محض په ولاړېدلو سره د ښځي خيار باطليږي لِأَنَّهُ دَلِيلُ الْإِعْرَاضِ ځكه چي ولاړېدل د اعراض كولو دليل دی بِخِلَافِ الصَّرْفِ وَالسَّلَمِ لِأَنَّ الْمُفْسِدَ هُنَاكَ الِافْتِرَاقُ مِنْ غَيْرِ قَبْضٍ ، په خلاف د بيع صرف او بيع سلم، ځكه چي هلته بغير له قبضې څخه جلا كېدل مفسد [فاسدونكي] دي ثُمَّ لَا بُدَّ مِنَ النِّيَّةِ فِي قَوْلِهِ: اخْتَارِيْ بيا د خاوند په دې قول: اِخْتَارِيْ كي نيت ضروري دی لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ تَخْيِيرَهَا فِي نَفْسِهَا ځكه چي دا [قول] ښځي ته په خپل نفس كي د اختيار وركولو احتمال [هم] لري وَيَحْتَمِلُ تَخْيِيرَهَا فِي تَصَرُّفٍ آخَرَ غَيْرِهِ او په يو بل كار كي د تصرف د اختيار وركولو احتمال [هم] لري.

اللغات: ﴿مَا دَامَتْ﴾ له افعال ناقصه وو څخه يو فعل دی، د دې معنیٰ ده: تر څو چي هغه پاته وي، ﴿أَخَذَتْ﴾ د نصر له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده، كله چي د دې باب په صله كي "فِيْ" يا "يو فعل" نو بيا د "شروع كولو" په معنیٰ سره راځي، لكه څرنګه چي په عربي كي ويل كيږي: أَخذ فِي الأَمر وَأَخذ يَفْعَله. أَي شَرَعَ فِيهِ. ﴿مُخَيَّرَةٌ﴾ د تفعيل مؤنث اسم مفعول دی: اختيار وركول سوې ښځه. ﴿تَمْلِيْك﴾ د تفعيل مصدر دی: مالک جوړول. ﴿إِعْرَاض﴾ د افعال مصدر دی: مخ اړول، توجه نه كول. ﴿صَرْف﴾ په نغدو سره د نغدو بيع. ﴿سَلَم﴾ په نغدو سره د ځنډمن شي (مؤجل) بيع. ﴿إِفْتِرَاق﴾ د افتعال مصدر دی: جلا كېدل، بېلېدل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی كه خاوند د طلاق په نيت خپلي ښځي ته په اِخْتَارِيْ نَفْسَكِ يا طَلِّقِيْ نَفْسَكِ (يا په داسي نورو الفاظو) سره د طلاق اختيار وركړي، نو په دې صورت كي چي تر څو دا ښځه په خپل مجلس (يعني د اختيار وركولو په مجلس) كي پاته وي، تر هغه وخته پوري به د

هغې اختيار پاته وي، او هغې ته به دا حق او اختيار وي چې خپل ځان ته طلاق ورکړي؛ ځکه که څه هم دا مسئله د قياس مخالفه ده، خو د صحابه وو د اجماع په وجه قياس پرېښوول کيږي. ځکه چې خلفاءِ ثلاثه وو يعني حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علي، همدارنګه حضرت ابن مسعود، ابن عمر او داسې نورو سترو صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ پر دې خبره اجماع کړې ده چې کله خاوند خپلې ښځې ته اختيار ورکړي، نو ښځې لره تر هغه وخته پورې اختيار ثابتيږي، تر څو چې هغه خپل په دې مجلس کې موجوده وي، او کله چې هغه ولاړه سي، نو د هغې اختيار ختميږي، لهذا د صحابه وو په دې اجماع سره د ښځې لپاره خيار (اختيار) هم ثابت سو او دا هم ثابته سوه چې دا خيار به د مجلس سره خاص وي.

دا مسئله ځکه د قياس مخالفه ده چې انسان چې د کوم شي ملکيت نه لري، هغه د دې شي تمليک نه سي کولای (يعني انسان چې په خپله د کوم شي مالک نه وي، هغه بل څوک د داسې شي مالک نه سي جوړولای)، او په پورتنی الفاظو مثلاً په اِخْتَارِیْ سره که انسان په خپله طلاق ورکړي، نو طلاق نه واقع کيږي، نو کله چې انسان يوه ښځه په دې الفاظو سره د طلاق مکلفه جوړه کړي، او بيا ښځه ځان ته طلاق ورکړي، نو د قياس له رويه په داسې طريقه سره طلاق واقع کېدل پکار نه دي، خو د سترو صحابه وو د اجماع په وجه دلته قياس پرېښوول سوی دی.

ولأنه تمليك إلخ: مخکې په اجماع سره دا ثابته سوه چې ښځې ته به خيار ورکول کيږي، او تر څو چې ښځه له مجلس څخه ولاړه سوې نه وي يا په يو بل کار مشغوله سوې نه وي، تر هغه وخته به ښځې لره دا اختيار ثابت وي، په دې عبارت سره د دې مسئلې دويم (عقلي) دليل بيانوي چې ښځې ته د طلاق اختيار ورکول په حقيقت کې هغه د طلاق مالکه جوړل دي، او په تمليکاتو کې اُصول دا دی چې تمليکات په مجلس کې د جواب تقاضا او انتظار کوي، لکه څرنګه چې په بيع کې اُصول دا دی چې په کوم مجلس کې ايجاب وسي، په هغه مجلس کې د قبول موجودېدل شرط دي، ځکه چې د مجلس ټوله ساعتونه د يوه ساعت په درجه کې دي، همدا وجه ده که په يوه مجلس کې د سجدې آيت بار، بار (بيا، بيا) وويل سي، نو يوه سجده واجبيږي، لهذا تر څو چې ښځه په مجلس کې وي، هغې ته به د طلاق ورکولو خيار وي، او کله چې هم مجلس بدل سي، د هغې دا خيار به ختميږي.

او د مجلس بدلېدلو دوه صورتونه دي: يو دا چې ښځه له مجلس څخه ولاړه سي، نو په دې سره هم مجلس بدليږي، دويم دا چې ښځه په دغه مجلس کې په يو بل کار مشغوله سي چې په هغه سره دا معلومه سي چې دا ښځه دااختيار وطرف ته توجه نه کوي، بلکې له هغه څخه اعراض کوي، نو بيا هم مجلس بدليږي، او د ښځې اختيار ختميږي، مثلاً د خوراک او ډوډۍ مجلس وي، او خاوند ښځې ته

د طلاق اختيار ورکړي، او بيا دوی په همدغه مجلس کي په مناظره يا په جنګ او نبنته مشغول سي، نو که څه هم دلته ښځه په هغه مجلس کي ده، لېکن دقاعدې په اعتبار سره د هغې مجلس په دې شيانو سره بدل سو.

ويبطل خيارها بمجرد إلخ: فرمايي چي محض د ښځي په ولاړېدلو (پورته کېدلو) سره هم مجلس ختمېږي؛ ځکه چي دا هم د اعراض دليل دی، لېکن په بيع سلم او بيع صرف کي محض د مجلس څخه په ولاړېدلو مجلس نه ختمېږي، ځکه چي په بيع سلم او صَرف کي أصلاً هغه وخت مجلس ختمېږي، کله چي دواړه عاقدين له قبضې څخه بغير سره جلا سي (يعني په دواړو عاقدينو کي يو عاقد بېله قبضې د مجلس څخه بل ځای ولاړ سي، په مجلس کي دننه په اعراض کولو سره مجلس نه بدلېږي، او په اختيار کي فقط په اعراض سره مجلس بدلېږي).

ثم لا بد إلخ: د اِخْتَارِیْ لفظ کنايه ده، ځکه چي دا لفظ دوه احتمال لري، يو دا چي "ته ځان اختيار کړه" (دا د طلاق پر معنیٰ دلالت کوي،)، او بل دا چي "تا ته په هر کار کي د تصرف کولو اختيار سته"، نو ځکه د خاوند لپاره دا ضروري دي چي د دغه لفظ د ويلو په صورت کي "ښځي ته د نفس او د طلاق د اختيار ورکولو" نيت وکړي، او که دا نيت نه وکړي، نو بيا طلاق نه واقع کېږي.

په "اِخْتَارِیْ" سره د طلاق واقع کېدلو بحث

وَإِنِ اخْتَارَتْ نَفْسَهَا فِي قَوْلِهِ اِخْتَارِیْ او که د خاوند د اِخْتَارِیْ ويلو په صورت کي ښځي خپل ځان اختيار کړی كَانَتْ وَاحِدَةً بَائِنَةً نو هغه به په يوه طلاق سره بائنه وي [يعني په دې صورت کي پر هغې يو طلاق بائن واقع کېږي] وَالْقِيَاسُ: أَنْ لَا يَقَعَ بِهٰذَا شَيْءٌ وَإِنْ نَوَى الزَّوْجُ الطَّلَاقَ او قياس دا دی: چي په دې لفظ سره هيڅ طلاق واقع نه سي که څه هم خاوند د طلاق نيت کړی وي لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ الْإِيْقَاعَ بِهٰذَا اللَّفْظِ ځکه چي [په خپله] خاوند په دې لفظ سره د طلاق واقع کولو مالک نه دی فَلَا يَمْلِكُ التَّفْوِيْضَ إِلٰى غَيْرِهِ لهذا بل چا ته به د دې د ورسپارلو مالک [هم] نه وي إِلَّا أَنَّا اِسْتَحْسَنَّاهُ لِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ لېکن موږ دا د صحابه وو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ د اجماع په وجه استحساناً منلی دی وَلِأَنَّهُ بِسَبِيْلٍ مِنْ أَنْ يَّسْتَدِيْمَ نِكَاحَهَا أَوْ يُفَارِقَهَا او ځکه چي خاوند ته دا اختيار سته چي هغه د ښځي نکاح قائم وساتي يا ښځه جلا کړي [او ښځه پرېږدي] فَيَمْلِكُ إِقَامَتَهَا مَقَامَ نَفْسِهِ فِي حَقِّ هٰذَا الْحُكْمِ نو د دغه حکم په حق کي به هغه د دې ښځي د خپل قائم مقام جوړولو مالک [هم] وي ثُمَّ الْوَاقِعُ بِهَا بَائِنٌ بيا به دې لفظ سره واقع

کېدونکي طلاق، طلاقِ بائن وي لِأَنَّ اِخْتِيَارَهَا نَفْسَهَا بِثُبُوْتِ اخْتِصَاصِهَا بِهَا ځکه چي د ښځي خپل ځان اختیارول د نفس سره د ښځي د خاص کېدلو په وجه دي وَذٰلِكَ فِي الْبَائِنِ او [اختصاص] په طلاقِ بائن کي وي وَلَا يَكُوْنُ ثَلَاثًا وَإِنْ نَوَى الزَّوْجُ ذٰلِكَ او دري [طلاقه] نه [واقع] کېږي که څه هم خاوند د دريو [طلاقو] نيت وکړي لِأَنَّ الْاِخْتِيَارَ لَا يَتَنَوَّعُ ځکه چي اختيار نه منقسم کېږي [او دوو قسمونو ته] بِخِلَافِ الْإِبَانَةِ په خلاف د بائن جوړولو [بينونت] لِأَنَّ الْبَيْنُوْنَةَ قَدْ تَتَنَوَّعُ ځکه چي بينونت منقسم کېږي [او دوو قسمونو ته: خفيفه، غليظه]

اللغات: ﴿إِيْقَـاع﴾ د افعال مصدر دی: واقع کول، ﴿تَفْـوِيْض﴾ د تفعيل مصدر دی: ور سپارل، ﴿يَسْتَدِيْمُ﴾ د استفعال مضارع ده: پاتېدل، قائم ساتل، ﴿اِخْتِصَاص﴾ د افتعال مصدر دی: خاص کېدل، ﴿إِبَانَة﴾ د افعال مصدر دی: بائن کول (بائن جوړول).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که د خاوند تر "اِخْتَارِیْ" ويلو وروسته ښځه په هغه مجلس کي خپل نفس (ځان) اختيار کړي، نو پر هغې يو طلاقِ بائن واقع کېږي.

والقياس أن لا يقع إلخ: له دې ځای څخه هغه دليل بيان سوی دی کوم چي په تېر عبارت کي په تفصيلي توګه بيان سو چي د قياس له رويه په داسي الفاظو سره طلاق نه واقع کېږي، لېکن موږ فقط د صحابه وو د اجماع په وجه استحساناً په داسي الفاظو سره طلاق واقع کوو.

ثم الواقع إلخ: د دې حاصل دا دی چي په لفظ د اِخْتَارِیْ سره په دې وجه يو طلاقِ بائن واقع کېږي، چي د ښځي لپاره خپل نفس (ځان) اختيارول هغه وخت ثابتيږي، کله چي د نفس سره د ښځي اختصاص ثابت سي، يعني د هغې له نفس څخه د خاوند ملک زائل سي، او هغه په خپله د خپل نفس مالکه سي، او ښکاره ده چي دا خبره فقط په طلاقِ بائن سره حاصليږي، نه په طلاق رجعي سره.

او که خاوند په اِخْتَارِیْ سره د دريو طلاقو نيت وکړي، نو دري طلاقه نه واقع کېږي، ځکه چي اختيار اقسام نه لري او نه تقسيميږي (دريو طلاقو او يوه طلاق ته)، د دې په خلاف د بينونت، ځکه چي بينونت د غليظه (دريو طلاقو) او خفيفه (دوو طلاقو) وطرف ته تقيسميږي (لکه مخکي چي موږ وويل)، لهذا د بينونت په صورت کي خو د دريو طلاقو نيت کول صحيح دي، لېکن د اختيار په صورت د دې نيت کول صحيح نه دي.

د "نفس" د لفظ د شرطيت بحث

قَالَ: وَلَا بُدَّ مِنْ ذِكْرِ النَّفْسِ فِي كَلَامِهِ أَوْ فِي كَلَامِهَا فرمايي: چي د خاوند يا د ښځي په كلام كي د "نفس" [د لفظ] ذكر كول ضروري دی حَتَّى لَوْقَالَ لَهَا: اخْتَارِيْ تر دې كه [خاوند] ښځي ته [فقط] اِخْتَارِیْ وايي فَقَالَتْ لَهُ: اخْتَرْتُ او ښځه هم [فقط] اِخْتَرْتُ وو ايي فَهُوَ بَاطِلٌ نو دا [كلام] باطل دي لِأَنَّهُ عُرِفَ بِالْإِجْمَاعِ ځكه چي دا په اجماع سره معلوم سوي دی وَهُوَ فِي الْمُفَسَّرَةِ مِنْ أَحَدِ الْجَانِبَيْنِ او اجماع په هغه كي ده چي په دواړو طرفونو كي له يو طرف څخه [د نَفْس] تفسير [او وضاحت] سوی وي وَلِأَنَّ الْمُبْهَمَ لَا يَصْلُحُ تَفْسِيْرًا لِلْمُبْهَمِ الْآخَرِ او ځكه چي يو مبهم د بل مبهم د تفسير جوړېدلو صلاحيت نه لري وَلَا تَعْيِيْنَ مَعَ الْإِبْهَامِ او د ابهام سره هيڅ تعيينكېدلای نه سي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي كله خاوند ښځي ته د اِخْتَارِیْ په كلمه سره د طلاق اختيار وركوي، نو د ښځي يا د خاوند په كلام كي د اِخْتَارِیْ د كلمې سره د "نَفْس" د لفظ صراحت كول او ذكر كول يا د هغه قائم مقام (مثلاً تَطْلِيْقَة) ذكر كول ضروري دي (په لنډه توګه دا چي د اختيار د لفظ سره د ښځي يا د خاوند له طرفه د "نفس" لفظ يا د "نفس" قائم مقام لفظ ذكر كول هم ضروري دي)؛ دليل دا دی چي په اِخْتَارِیْ نَفْسَكِ سره د طلاق واقع كېدل خلافُ القياس د صحابه وو په اجماع سره ثابت دي، او څرنګه چي په اجماع كي د "نَفْس" لفظ مشهور، متعارف او موجود دی، نو ځكه به د خاوند يا ښځي په كلام كي د هغه وجود او ذكر كېدل ضروري وي.

دويمه خبره دا ده چي كه خاوند د "نفس" د لفظ څخه بغير اِخْتَارِیْ وو ايي نو هغه به مبهم وي، او كله چي ښځه هم د "نفس" څخه بغير اِخْتَرْتُ وو ايي، نو هغه به هم مبهم وي، او مبهم د مبهم وضاحت او تفسير نه سي كولای، نو په دې وجه هم د خاوند د يا د ښځي په كلام كي د "نفس" د لفظ وجود او ذكر كېدل ضروري دي، د دې لپاره چي فيصله د "نفس" د اختيارولو په هكله وكړی سي، او كله چي په دواړو طرفونو كي ابهام او اخفاء وي، نو ښكاره ده چي بيا په نيت سره هم طلاق متعين كېدلای نه سي، ځكه چي ابهام او تعيين سره منافي دي.

په "إِخْتَارِيْ نَفْسَكِ" سره د واقع کېدونکي طلاق حيثيت

وَلَوْقَالَ لَهَا: اِخْتَارِي نَفْسَكِ او که [خاوند] ښځي ته وايي: إِخْتَارِيْ نَفْسَكِ [ته خپل نفس اختيار کړه] فَقَالَتْ: اِخْتَرْتُ او ښځه ووايي: إِخْتَرْتُ [ما اختيار کړی] تَقَعُ وَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ نويو طلاق بائن واقع کيږي لِأَنَّ كَلَامَهُ مُفَسَّرٌ ځکه چې د خاوند کلام مفسر دی [يعني د تفسير سره واقع سوی دی] وَكَلَامُهَا خَرَجَ جَوَابًا لَهُ او د ښځي کلام د خاوند د جواب په توګه را وتلی دی [يعني د ښځي کلام د خاوند په جواب کي صادر سوی دی] فَيَتَضَمَّنُ إِعَادَتَهُ نو [د ښځي کلام] به د خاوند د کلام راګرځولو ته متضمن [شامل] وي وَكَذَالَوْقَالَ: اِخْتَارِيْ اِخْتِيَارَةً او همدارنګه که [خاوند] ووايي: إِخْتَارِيْ إِخْتِيَارَةً [ته يې اختيار کړه يو وار اختيارول] فَقَالَتْ: اِخْتَرْتُ او ښځه ووايي: إِخْتَرْتُ [ما اختيار کړی] لِأَنَّ الْهَاءَ فِي الْاِخْتِيَارَةِ تُنْبِئُ عَنِ الْاِتِّحَادِ وَالْاِنْفِرَادِ ځکه چې د إِخْتِيَارَة ها [تاء] د متحد او منفرد کېدلو خبر ورکوي وَاخْتِيَارُهَا نَفْسَهَا هُوَ الَّذِي يَتَّحِدُ مَرَّةً وَيَتَعَدَّدُ أُخْرَى او د ښځي خپل نفس اختيارول کله متحد [يو] کيږي او کله متعدد [څو شمېره] کيږي فَصَارَ مُفَسَّرًا مِنْ جَانِبِهِ نو د خاوند له طرفه دا [کلام] مفسر سو وَلَوْقَالَ: اِخْتَارِيْ او که [خاوند] ووايي: إِخْتَارِيْ [ته يې اختيار کړه] فَقَالَتْ: قَدِاخْتَرْتُ نَفْسِيْ او ښځه ووايي: إِخْتَرْتُ نَفْسِيْ [ما خپل ځان اختيار کړی] يَقَعُ الطَّلَاقُ نو طلاق واقع کيږي إِذَا نَوَى الزَّوْجُ [په دې شرط] چي کله خاوند نيت کړی وي لِأَنَّ كَلَامَهَا مُفَسَّرٌ ځکه چي [دلته] د ښځي کلام مفسر دی وَمَا نَوَاهُ الزَّوْجُ مِنْ مُحْتَمَلَاتِ كَلَامِهِ او خاوند چي د کوم شي نيت کړی دی هغه د خاوند د کلام له محتملاتو [احتمالي معنی] څخه دی.

اللغات: ﴿إِعَادَة﴾ د افعال مصدر دی: راګرځول، ﴿إِنْفِرَاد﴾ د انفعال مصدر دی: يو کېدل، مفرد کېدل.

تشريح: په تېر عبارت کي دا خبره ذکره سوه چي که د خاوند له طرفه يا د ښځي له طرفه د اختيار د لفظ سره د "نَفْس" لفظ ذکر نه سي، نو په دې صورت کي له دواړو طرفونو څخه د ابهام په وجه پر ښځي طلاق نه واقع کيږي.

په دې عبارت کي د هغه مسئلې نوره تشريح کوي، حاصل يې دا دی چي که فقط د يوه له طرفه د "نَفْس" لفظ ذکر سي، مثلاً که خاوند ووايي: إِخْتَارِيْ نَفْسَکِ، او د دې په جواب کي ښځه فقط

إِخْتَرْتُ ووايي، نو بيا يو طلاق بائن واقع كيږي، ځکه چي د "نَفس" د ذکر کولو په وجه د خاوند کلام مُفسر سو او په يوه طرف کي ابهام ختم سو، او د ښځي کلام د خاوند د جواب په توګه صادر سوی دی، نو ځکه به د هغې کلام د خاوند ټوله کلام لره شامل وي، ځکه چي د جواب په هکله قاعده دا ده چي "الجَوَابُ يَتَضَمَّنُ إِعَادَةَ مَا فِي السُّؤَال"، يعني په جواب کي بيرته د سوال عبارت او مفهوم راګرځي، او کوم مطالب او معاني چي په سوال کي وي جواب هم هغه مطالبو لره شامل وي، مثلاً که يو څوک له يو عالم څخه پوښتنه وکړي چي "آيا په ټي سره اودس ماتيږي"، او هغه ورته ووايي: هو!، نو اوس دا د "هو!" لفظ "اودس ماتيږي" لره شامل دی، لهذا د ښځي د جواب حاصل به دا وي چي "تا (خاوند) چي په خپل اختيار سره ما ته د کوم شي حکم کړی دی، هغه ما اختيار کړی"، او خاوند د "نفس" اختيار ورکړی وو، نو په دې توګه به د ښځي په جواب کي هم د "نفس" ذکر کېدل ثابت سي.

وكذالو قال الخ: دويمه مسئله دا ده که خاوند د "نفس" لفظ ذکر نه کړي، بلکي د هغه قائم مقام لفظ إِخْتِيَارَةً ذکر کړي، مثلاً ووايي: إِخْتَارِيْ إِخْتِيَارَةً، او په جواب کي ښځه إِخْتَرْتُ ووايي، نو په دې صورت کي هم طلاق واقع کيږي، د دې مسئلي دليل دا دی چي خاوند چي کوم لفظ (يعني إِخْتِيَارَة) ذکر کړی دی، په هغه کي "ة" موجوده ده، او دا تاء کله د انفراد لپاره راځي او کله د جمع او تعدّد لپاره راځي، او د ښځي خپل "نفس" اختيارول پر دې دواړو شيانو دلالت کوي، مثلاً که ښځه يو طلاق اختيار کړي نو دا انفراد دی، او که هغه درې طلاقه اختيار کړي نو دا تعدّد دی، خلاصه دا چي د "نَفس" د لفظ په څير د "إِخْتِيَارَة" لفظ هم مفسر دی، او په يوه طرف کي واقع دی (يعني د خاوند له طرفه ذکر سوی دی)، نو ځکه به په دې سره يو طلاق واقع کيږي.

ولو قال لها الخ: د دې حاصل دا دی که خاوند فقط إِخْتَارِيْ ووايي، او ښځه په جواب کي إِخْتَرْتُ نَفْسِيْ ووايي، او خاوند د طلاق نيت کړی وي، نو په دې صورت کي هم يو طلاق بائن واقع کيږي: دليل دا دی چي د ښځي کلام خو مفسر دی، او خاوند چي د کوم شي (يعني د طلاق) نيت کړی دی، هغه د خاوند د کلام احتمالي معنیٰ ده، ځکه مخکي موږ وويل چي په إِخْتَارِيْ کي د طلاق د معنیٰ احتمال هم سته، او انسان لره د خپل کلام د احتمالي معنیٰ د نيت کولو پوره حق او اختيار سته.

په مضارع (أَخْتَارُ نَفْسِيْ) سره خاوند ته د جواب ورکولو بحث

وَلَوْقَالَ: اخْتَارِيْ او که [خاوند] ووايي: إِخْتَارِيْ [ته يې اختيار کړه!] فَقَالَتْ: أَنَا أَخْتَارُ نَفْسِيْ او ښځه ورته ووايي: أَنَا أَخْتَارُ نَفْسِيْ [زه خپل ځان اختياروم] فَهِيَ طَالِقٌ نو هغه مطلقه ده ايعني په دې صورت کې هم هغه طلاقيږي] وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا تُطَلَّقَ او قياس دا دی چې هغه طلاق نه سي لِأَنَّ هٰذَا مُجَرَّدُ وَعْدٍ ځکه چې دا خو فقط وعده ده أَوْ يَحْتَمِلُهُ يا د وعدې احتمال لري فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ لَهَا: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ فَقَالَتْ: أَنَا أُطَلِّقُ نَفْسِيْ نو داسي سو لکه [خاوند] چې ښځي ته ووايي: ته خپل ځان ته طلاق ورکړه! او ښځه ووايي: زه خپل ځان ته طلاق ورکوم وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: حَدِيْثُ عَائِشَةَ رضي الله عنها [1] فَإِنَّهَا قَالَتْ: لَا بَلْ أَخْتَارُ اللهَ وَرَسُوْلَهُ د استحسان دليل د حضرت عائشې رضي الله عنها حديث دی، ځکه چې [عائشې رضي الله عنها] وفرمايل: چې نه! بلکې زه الله او د هغه رسول [ﷺ] اختياروم اعْتَبَرَهُ النَّبِيُّ ﷺ جَوَابًا مِنْهَا او نبي کريم ﷺ دا حضرت هغې له طرفه جواب وشمېرى وَلِأَنَّ هٰذِهِ الصِّيْغَةَ حَقِيْقَةٌ فِي الْحَالِ وَتَجُوْزُ فِي الِاسْتِقْبَالِ او په دې وجه [هم] چې دا لفظ [أَخْتَارُ] په حال کې حقيقت دی او په استقبال کې مجاز دی كَمَا فِيْ كَلِمَةِ الشَّهَادَةِ وَأَدَاءِ الشَّهَادَةِ لکه د شهادت په کلمه او د ګواهۍ په اداء کولو کې [چې د مضارع له صيغې څخه د حال معنیٰ اخيستل کيږي] بِخِلَافِ قَوْلِهَا: أُطَلِّقُ نَفْسِيْ لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ حَمْلُهُ عَلَى الْحَالِ په خلاف د ښځي د دې قول: أُطَلِّقُ نَفْسِيْ، ځکه چې دا قول پر حال حمل کول ناممکن دي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِحِكَايَةٍ عَنْ حَالَةٍ قَائِمَةٍ ځکه چې دا د يو ثابت سوي حالت حکايت نه دی وَلَا كَذٰلِكَ قَوْلُهَا: أَنَا أَخْتَارُ نَفْسِيْ او د ښځي دا قول: أَخْتَارُ نَفْسِيْ داسي نه دی لِأَنَّهُ حِكَايَةٌ عَنْ حَالَةٍ قَائِمَةٍ ځکه چې دا د يو ثابت سوي حالت حکايت دی وَهُوَ اخْتِيَارُهَا نَفْسَهَا او هغه [ثابت سوی حالت] د ښځي خپل ځان اختيارول دي.

اللغات: «مُجَرَّد» تنها، فقط، صرف، محض.

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الطلاق، باب من خير أزواجه، حديث رقم: ۵۲۶۲. وابن ماجه في كتاب الطلاق، بـاب الرجل يخير امراته، حديث رقم:۲۰۵۳.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که سړی خپلې ښځې ته ووايي: اِخْتَارِيْ، او ښځه په جواب کې ورته ووايي: أَنَا أَخْتَارُ نَفْسِيْ، نو په دې سره استحساناً پر ښځې يو طلاقِ بائن واقع کيږي، او د قياس تقاضا دا ده چې پر هغې دې طلاق واقع نه سي، د قياس دليل دا دی چې دلته ښځې د فعلِ مضارع صيغه يعني د "أَخْتَارُ" استعمال کړې ده، او فعلِ مضارع د حال او استقبال دواړو احتمال لري، لهذا که د ښځې مراد استقبال وي نو دا به محض وعده وي، او محض د طلاق په وعده سره طلاق نه واقع کيږي، او که د ښځې مراد حال وي نو بيا هم په دې کې د استقبال احتمال پاتيږي، نو دا مسئله داسې ده لکه خاوند چې خپلې ښځې ته طَلِّقِيْ نَفْسَكِ ووايي، او ښځه يې په جواب کې أَنَا أُطَلِّقُ نَفْسِيْ ووايي نو په دې سره طلاق نه واقع کيږي، لهذا په أَنَا أَخْتَارُ نَفْسِيْ سره هم طلاق واقع کېدل پکار نه دي.

د استحسان دليل دا دی چې کله دا آيت "أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا" نازل سو، نو نبي کريم ﷺ حضرت عائشې رضي الله عنها ته وفرمايل: إِنِّيْ أُرِيْدُ أَنْ أَعْرِضَ عَلَيْكِ أَمْرًا أُحِبُّ أَنْ لَا تَعْجَلِيْ فِيْهِ حَتّٰى تَسْتَشِيْرِيْ أَبَوَيْكِ. يعني زه تا په يو حکم خبروم، په دې باره کې تلوار مه کوه! او د خپل مور او پلار له مشورې څخه بغير جواب مه راکوه!، بيا نبي کريم ﷺ حضرت عائشې رضي الله عنها ته تول حکم بيان کړی، نو حضرت عائشې رضي الله عنها فوراً جواب ورکړی: فَفِيْ هٰذَا أَسْتَامِرُ أَبَوَايَ، لَا، بَلْ أَخْتَارُ اللهَ وَرَسُوْلَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةِ، يعني په دې باره کې به زه هيڅکله هم د خپل مور و پلار څخه مشوره نه اخلم، بلکې زه الله او د هغه رسول... اختياروم. (بخاري ومسلم)

په دغه حديث سره په دې توګه دليل نيول کيږي چې حضرت عائشې رضي الله عنها په خپل جواب کې د أَخْتَارُ فعلِ مضارع استعمال کړې ده او نبي ﷺ د هغې د جواب اعتبار کړی دی او د هغې جواب يې اختيار منلی دی، نو معلومه سوه چې په فعلِ مضارع سره هم اختيار ثابتيږي.

د استحسان دويم دليل دا دی چې أَخْتَارُ يعني د مضارع صيغه د حال لپاره حقيقت ده او د استقبال لپاره مجاز ده، لکه د شهادت په کلمه کې يعني أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ...إلخ کې چې هم د مضارع صيغه موجوده ده، او هلته هم د حال په معنىٰ سره ده، ځکه چې د "أَشْهَدُ" معنىٰ ده "زه ګواهي ورکوم"، نه دا چې "زه به ګواهي ورکړم"، ځکه که دلته د استقبال معنىٰ مراد سي، نو بيا به هيڅوک هم مسلمان پاته نه سي، بلکې د ټولو ايمان به پر وعدې معلق او موقوف وګرځي، همدارنګه کله چې

په يوه مسئله کي په اَشْهَدُ سره ګواهي ورکول کيږي نو هلته هم دا صيغه پر حال حمل کيږي، لهذا کله چي دا ثابته سوه چي په مضارع کي حال حقيقت دی او دا هم ثابته سوه چي په زياتره ځايو کي د مضارع صيغه پر حال حمل کيږي، نو ځکه به دلته هم پر حال حمل کيږي او استحساناً به پر ښځي يو طلاق بائن واقع کيږي.

بخلاف قولها إلخ: په دې عبارت سره د قياس جواب ورکوي، فرمايي چي أَنَا اخْتَارُ نَفْسِيْ پر أَنَا أُطَلِّقُ نَفْسِيْ قياسول صحيح نه دي، ځکه چي أُطَلِّقُ د حال پر معنیٰ حمل کول ناممکن دي، او أَخْتَارُ د حال پر معنیٰ حمل کول ناممکن نه دي، وجه يې دا ده چي طلاق ورکول د ژبې عمل دی، نه د زړه، او د يو شي اختيارول د زړه عمل دی، او بل دا چي حکايت د محکي عنهٔ د وجود تقاضا کوي. يعني د کوم شي حکايت چي کيږي، هغه تر حکايت کولو مخکي موجودېدل پکار دي، نو أُطَلِّقُ پر حال حمل کول ځکه ناممکن دي چي کـه چيري دا د حال پر معنیٰ حمل کړی سی، نو دا به حکايت وي، حالانکي دا د يو شي حکايت کېدای نه سي، ځکه چي د دې لفظ تر تلفظ او تکلم مخکي يو داسي شي موجود نه دی چي هغه محکي عنهٔ جوړ سي، ځکه چي تر دې مخکي د ښځي له طرفه د طلاق په هکله هيڅ خبره نه ده سوې چي هغه محکي عنهٔ جوړه کړی سي نو ځکه دا صيغه پر حال حمل کول ناممکن دي، د دې په خلاف أَنَا أَخْتَارُ پر حال حمل کېدای سي، په دې توګه چي اختيار د زړه عمل او ارادې ته وايي، لهذا د أَخْتَارُ نَفْسِيْ د ويلو په وخت کي به دغه د زړه اراده محکي عنهٔ جوړيږي او دا صيغه به پر حال حمل کيږي.

درې واره د "اِخْتَارِيْ" ويلو بحث

> **وَلَوْقَالَ لَهَا: اِخْتَارِيْ اِخْتَارِيْ اِخْتَارِيْ** او که [خاوند] ښځي ته وايي: ته يې اختيار کړه. ته يې اختيار کړه، ته يې اختيار کړه [درې واره] **فَقَالَتْ: قَدِ اخْتَرْتُ الْأُوْلٰى وَالْوُسْطٰى وَالْأَخِيْرَةَ** او ښځه ووايي: ما اول او مينځنی او آخر [درې سره] اختيار کړل **طُلِّقَتْ ثَلَاثًا فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ** نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په قول کي [پر هغې] درې طلاقه واقع کيږي **وَلَا يُحْتَاجُ إِلٰى نِيَّةِ الزَّوْجِ** او [په دې صورت کي] د خاوند نيت لره ضرورت نسته **وَقَالَا**[*]: **تَطْلُقُ وَاحِدَةً** او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي هغه په يوه طلاق سره

[*] القول الراجح: قول أبی حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن عابدين (رد المحتار ج:٢، ص:٥٢١)، وكذا فی الهندية (ج:١، ص:٣٨٩). [القول الراجح ج:١، ص:٣٢٨]

طلاق كيږي وَإِنَّمَا لَا يُحْتَاجُ إِلَى نِيَّةِ الزَّوْجِ لِدَلَالَةِ التَّكْرَارِ عَلَيْهِ او د خاوند نيت لره ځكه ضرورت نسته چې تكرار [د اِخْتَارِیْ] پر تكرار دلالت كوي إِذْ الْاِخْتِيَارُ فِي حَقِّ الطَّلَاقِ هُوَ الَّذِيْ يَتَكَرَّرُ ځكه چې اختيار د طلاق په حق كي مكرر كېدای سي لَهُمَا: أَنَّ ذِكْرَ الْأُوْلٰى وَمَا يَجْرِيْ مَجْرَاهُ إِنْ كَانَ لَا يُفِيْدُ مِنْ حَيْثُ التَّرْتِيْبِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي د اُولٰی ذكر كول يا د هغه د قائم [ذكر كول] كه څه هم د ترتيب په حيثيت سره فايده نه وركوي يُفِيْدُ مِنْ حَيْثُ الْإِفْرَادِ [لېكن] د إفراد په حيثيت سره فايده وركوي فَيُعْتَبَرُ فِيْمَا يُفِيْدُ نو په كوم ځای كي چي فايده وركوي د هغه اعتبار به كيږي وَلَهُ: أَنَّ هٰذَا وَصْفٌ لَغْوٌ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي دا [د ترتيب والا] وصف لغو دی لِأَنَّ الْمُجْتَمِعَ فِي الْمِلْكِ لَا تَرْتِيْبَ فِيْهِ ځكه چي هغه شی [طلاقونه] كوم چي په ملكيت كي جمع سوي وي په هغه كي هيڅ ترتيب نسته كَالْمُجْتَمِعِ فِي الْمَكَانِ لكه په يوه ځای كي [چي په] جمع سوي [اخلكو كي هيڅ ترتيب نه وي] وَالْكَلَامُ لِلتَّرْتِيْبِ او كلام د ترتيب لپاره راځي وَالْإِفْرَادُ مِنْ ضَرُوْرَاتِهِ او إفراد د ترتيب د لوازماتو څخه دی فَإِذَا لَغَا فِيْ حَقِّ الْأَصْلِ لَغَا فِيْ حَقِّ الْبِنَاءِ نو كله چي د أصل په حق كي كلام لغو سو نو د بناء په حق كي به [هم] لغو كيږي [يعني كوم چي پر اصل مبني دی (يعني إفراد) نو د هغه په حق كي به هم لغوه كيږي] وَلَوْ قَالَتْ: اِخْتَرْتُ اِخْتِيَارَةً او كه ښځه ووايي: اِخْتَرْتُ اِخْتِيَارَةً [يعني د اِخْتَرْتُ سره مصدر اِخْتِيَارَةً ذكر كړي] فَهِيَ ثَلَاثٌ فِيْ قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا نو دا د ټولو په قول كي درې طلاقه دي [يعني زموږ د ټولو امامانو په نېز درې طلاقه واقع كيږي] لِأَنَّهَا لِلْمَرَّةِ ځكه چي لفظ د اِخْتِيَارَةً د مَرَّةً [يوه وار] لپاره دی فَصَارَ كَمَا إِذَا صَرَّحَتْ بِهَا نو داسي سو لكه ښځه چي [په خپل كلام كي] د مَرَّةً تصريح وكړي وَلِأَنَّ الْاِخْتِيَارَةَ لِلتَّأْكِيْدِ او په دې وجه [هم] چي اِخْتِيَارَةً د تأكيد لپاره دی وَبِدُوْنِ التَّأْكِيْدِ تَقَعُ الثَّلَاثُ او بغير له تأكيد څخه [هم] درې [طلاقه] واقع كيږي فَمَعَ التَّأْكِيْدِ أَوْلٰى نو د تأكيد سره خو به په طريقه اولٰی درې [طلاقه] واقع كيږي وَلَوْ قَالَتْ: قَدْ طَلَّقْتُ نَفْسِيْ أَوْ اخْتَرْتُ نَفْسِيْ بِتَطْلِيْقَةٍ او كه ښځه ووايي: قَدْ طَلَّقْتُ نَفْسِيْ [ما خپل ځان طلاق كړی] يا اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ بِتَطْلِيْقَةٍ [ما په يوه طلاق سره خپل ځان اختيار كړی] فَهِيَ وَاحِدَةٌ نو دا يو طلاق دی يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ چي خاوند به [په هغه كي] د رجعت مالك وي لِأَنَّ هٰذَا اللَّفْظَ يُوْجِبُ الْاِنْطِلَاقَ بَعْدَ انْقِضَاءِ الْعِدَّةِ ځكه چي دا لفظ [تَطْلِيْقَة] تر عدت تېرېدلو

ورووسته پرېښوول واجبوي ايعني په دې لفظ سره تر عدت تېرېدلو وروسته طلاق بائن واجبېږي، او د رجعت امکان ختمېږي او ښځه بالکليه پرېښوول کېږي] فَكَأَنَّهَا اخْتَارَتْ نَفْسَهَا بَعْدَ الْعِدَّةِ نو داسې سو لکه ښځې چې تر عدت وروسته خپل ځان [طلاق] اختيار کړی وي وَإِنْ قَالَ لَهَا: أَمْرُكِ بِيَدِكِ فِي تَطْلِيقَةٍ أَوِ اخْتَارِيْ تَطْلِيقَةً او که خاوند ښځې ته ووايي چې: د يوه طلاق په حق کې ستا معامله ستا په لاس کې ده يا په يوه طلاق سره [خپل ځان] اختيار کړه فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا او ښځه خپل ځان اختيار کړي فَهِيَ وَاحِدَةٌ يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ نو دا يو طلاق دی چې خاوند به [په هغه کې] د رجعت مالک وي ايعني په دې صورت کې يو طلاقِ رجعي واقع کېږي] لِأَنَّهُ جَعَلَ لَهَا الِاخْتِيَارَ ځکه چې [خاوند] هغې ته اختيار ورکړی دی لٰكِنْ بِتَطْلِيقَةٍ مګر په تَطْلِيقَةٌ سره ايعني خاوند خو ښځې ته اختيار ورکړی دی لېکن د تطليقه اختيار يې ورکړی دی] وَهِيَ مُعَقِّبَةٌ لِلرَّجْعَةِ او تَطْلِيقَة [تر ځان] وروسته رجعت ثابتوي ايعني په تطليقه سره طلاق رجعي واقع کېږي، ځکه چې دا له صريحو الفاظو څخه دی].

اللغات: ﴿مَرَّة﴾ يو وار، ﴿إِنْطِلَاق﴾ د انفعال د باب مصدر دی، د دې باب خپله معنیٰ ده: تلل (ذهاب)، او مجازاً د "خلاصېدلو" او "پرېښوولو" په معنیٰ سره هم راځي (تكملة المعاجم العربية ج:٧، ص:٧٢)، ﴿إِنْقِضَاء﴾ د انفعال مصدر دی: تېرېدل، ختمېدل.

تشريح: په دې عبارت کې ښځې ته د اختيار ورکولو په هکله څو مسئلې بيان سوي دي، چې هغه به انشاء الله په ترتيب ستا سو مخته ذکر سي: (۱)... اوله مسئله دا ده که خاوند خپلې ښځې ته درې واره دا لفظ ووايي: اِخْتَارِيْ، او ښځه يې په جواب کې ووايي: اِخْتَرْتُ الْأُوْلٰى وَالْوُسْطٰى وَالْأَخِيْرَة، نو په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز درې طلاقه واقع کېږي، برابره ده که خاوند نيت کړی وي، که نه وي او د "نَفْس" لفظ يې ذکر کړی وي، که نه وي، او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې يو طلاق واقع کېږي، برابره ده که خاوند نيت کړی وي، که نه وي (يعني په دې مسئله کې د ټولو په نېز نيت ضروري نه دی).

د نيت د نه ضروري کېدلو دليل دا دی چې دلته د اختيار د لفظ تکرار (يعني د اخْتَارِيْ تکرار) د طلاق پر معنیٰ دلالت کوي، ځکه کله چې هم خاوند اختيار مکرر کړي نو هغه د طلاق په باره کې مکرر وي (يعني کله چې خاوند ښځې ته درې واره د طلاق اختيار ورکوي، نو دا پر دې خبره دليل دی چې هغه د طلاق اختيار ورکوي، د جامې، سينګار يا داسې نورو شيانو اختيار نه ورکوي، ځکه چې درې واره فقط طلاق مکرر کېږي)، نو کله چې دلته د طلاق پر معنیٰ قرينه موجوده ده، نو ځکه به د خاوند لپاره نيت ضروري نه وي.

د صاحبينو دليل: د صاحبينو د دليل حاصل دا دی چي د ښځي په جواب کي چي کوم الفاظ ذکر سوي دي، يعني أُوْلىٰ، وُسْطىٰ، او أُخِيْرَةٌ، د دې الفاظو دوه حيثيته دي: ① ... يو دا چي دا الفاظ به يا د ترتيب فايده ورکوي او د ښځي د جواب مطلب به دا وي چي اول ما أُوْلىٰ (يعني اول اِخْتَارِیْ) اختيار کړی، بيا مي وُسْطىٰ اختيار کړی او بيا مي أُخِيْرَةٌ اختيار کړی (يعني دری سره مي په ترتيب سره اختيار کړل)، ② ... او د دې الفاظو دويم حيثيت دا دی چي يا دا الفاظ به د إفراد فايده ورکوي (د إفراد مطلب دا دی چي ما يو، يو اختيار کړی، يعني د أُولىٰ په لفظ سره به و أُول (اِخْتَارِیْ) ته اشاره وي، او د وُسطىٰ په لفظ سر به و دويم ته اشاره وي، او د أُخيرة په لفظ سره به و دريم ته اشاره وي)، او دلته د دې الفاظو دويم حيثيت ممکن دی، ځکه چي دا د اختيار محل دی او د اختيار محل د ترتيب محل نه دی، لهذا دا کلمات به د ترتيب فايده نه ورکوي، بلکي د افراد فايده به ورکوي، او د ښځي د قول مطلب به دا وي چي ما هغه شی اختيار کړی کوم چي د أُولىٰ په لفظ سره (يعني په اول اِخْتَارِیْ) سره ما ته وسپارل سو، او د أُولىٰ په لفظ سره چي کوم شی هغې ته سپارل سوی دی، هغه يو طلاق دی، نو ځکه به يو طلاق واقع کيږي، او څرنګه دا (د اختيار) محل، د ترتيب محل نه دي، نو ځکه به پاته دوه الفاظ به پر اول لفظ نه مرتب کيږي، او کله چي پاته دوه الفاظ پر هغه نه مرتب کيږي، نو نور طلاقونه به هم نه واقع کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي وصف يعني اولیٰ، وسطیٰ او أُخيرة لغو دي، ځکه کوم دری طلاقونه چي د خاوند په ملک کي جمع دي، په هغوی کي هيڅ ترتيب نسته، لکه په يو ځای کي چي دېر خلک جمع سي، نو په هغو کي هيڅ ترتيب نه چليږي او هٰذَا أَوَّلُ وهٰذَا آخِرُ نه ويل کيږي، او قاعدا ده چي هر هغه شی په کوم کي چي ترتيب نه وي، د هغه شي په باره کي هغه کلام لغو کيږي کوم چي د ترتيب لپاره وي، او دلته اولیٰ، وسطیٰ او أُخيرة د ترتيب لپاره دي، او إفراد د ترتيب د لوازماتو څخه دی، نو کله چي د اصل يعني د ترتيب په حق کي دا الفاظ لغو سول، نو پر هغه چي کوم مبني دی يعني إفراد، د هغه په حق کي به هم لغو کيږي، او فقط د ښځي دا قول اِخْتَرْتُ به پاتيږي، او دا خبره تسليم سوې ده چي که ښځه د خاوند د درې وارو اِخْتَارِیْ په جواب کي فقط يو وار اِخْتَرْتُ ووايي، نو پر هغې درې طلاقه واقع کيږي، نو دلته به هم درې طلاقه واقع کيږي.

ولوقال إلخ: دريمه مسئله دا ده که چيري ښځه د درې واره اِخْتَارِیْ په جواب کي اِخْتَرْتُ اِخْتِيَارَةً ووايي، نو بالاتفاق درې طلاقه واقع کيږي، دليل دا دی چي د اِخْتِيَارَة تاء د مَرَّة لپاره ده، نو دا د اِخْتَرْتُ نَفْسِیْ مَرَّةً ويلو په څير سو (يعني ما يو وار خپل ځان اختيار کړی)، او په دې کلام سره درې طلاقه واقع کيږي، دويم دليل دا دی چي اِخْتِيَارَة د تأکيد لپاره دی، او دلته له تأکيد څخه بغير هم درې طلاقه واقع کيږي، نو د تأکيد په صورت کي خو به په طريقه اولیٰ درې طلاقه واقع کيږي.

ولو قالت إلخ: دريمه مسئله دا ده كه چيرې ښځه د درې واره إِخْتَارِئ په جواب كې طَلَّقْتُ نَفْسِيْ يا اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ بِتَطْلِيْقَةٍ ووايي، نو يو طلاق رجعي واقع كيږي، دليل دا دى چې دا لفظ تر عدت تېرېدلو وروسته بينونت ثابتوي (يعني په دې لفظ سره تر انقضاء عدت وروسته طلاق بائن واقع كيږي)، ځكه چې لفظ د طَلَّقْتُ او تَطْلِيْقَةً له صريحو الفاظو څخه دي، او صريح الفاظ تر عدت تېرېدلو وروسته بينونت واجبوي، او په كوم لفظ سره چې تر عدت تېرېدلو وروسته بينونت واجبيږي، په هغه لفظ سره واقع كېدونكى طلاق، طلاقِ رجعي وي، او همدا رجعي طلاق تر عدت تېرېدلو وروسته بائن كيږي، نو ځكه به دلته طلاقِ رجعي واقع كيږي.

لكنها اختارت إلخ: په دې سره د يو اعتراض جواب وركوي، اعتراض دا دى چې د اِخْتَارِئ په لفظ سره طلاقِ بائن واقع كيږي، نه طلاقِ رجعي، (ځكه چې دا كنايي لفظ دى او په كنايي الفاظو سره طلاقِ بائن واقع كيږي)، جواب دا دى چې دلته گواكي ښځې خپل ځان تر عدت وروسته اختيار كړى او (گواكي) تر عدت وروسته يې ځان ته طلاق وركړى (ځكه چې رجعي طلاق هم تر عدت وروسته بائن جوړيږي، كه څه هم درې مياشتې په مينځ كې راسي، نو دلته پر ښځې د طلاق رجعي واقع كېدل داسې سو، لكه پر هغې چې طلاقِ بائن واقع سي). (د صحيح روايت مطابق په دغه دريمه مسئله كې له كاتب څخه سهو سوې ده چې د تشريح په آخر كې به د هغه يادونه وسي).

وإن قال إلخ: څلورمه مسئله دا ده چې كه خاوند خپلې ښځې ته داسې ووايي: أَمْرُكِ بِيَدِكِ فِيْ تَطْلِيْقَةٍ يا اِخْتَارِئ تَطْلِيْقَةً، او بيا ښځه خپل ځان اختيار كړي، نو په دې صورت كې پر هغې يو طلاقِ رجعي واقع كيږي، ځكه چې دلته خاوند د تَطْلِيْقَةً په لفظ سره طلاق وركړى دى، او د تَطْلِيْقَةً په لفظ سره وركول سوى طلاق رجعي وي، نو ځكه به دلته هم طلاقِ رجعي واقع كيږي.

يادونه: په دريمه مسئله كې صاحب د هدايې وفرمايل چې كله ښځه د درې واره اِخْتَارِئ په جواب كې قَدْ طَلَّقْتُ نَفْسِيْ ووايي، نو فَهِيَ وَاحِدَةٌ يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ، يعني په دې صورت كې يو طلاقِ رجعي واقع كيږي، خو په دې باره كې د هدايې د سترو شارحينو مثلاً د علامه ابن الهمام او علامه عيني او داسې نورو تحقيق دا دى چې د وَاحِدَةٌ او يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ په مينځ كې له كاتب څخه د "لَا" لفظ هېر سوى دى، اصل عبارت داسې دى: فَهِيَ وَاحِدَةٌ لَا يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ (يعني دلته طلاقِ بائن واقع كيږي)، لكه څرنگه چې په مبسوط، زيادات او جامعِ صغير كې هم په دغه الفاظو سره دا مسئله ذكر سوې ده، او همدا د قياس مطابق دي، ځكه چې ښځه د اِخْتَارِئ په جواب كې طلاق اختيار كړى دى، او اِخْتَارِئ كنايي لفظ دى، او په كنايي الفاظو سره طلاقِ بائن واقع كيږي، نه طلاقِ رجعي (لكه مخكې چې په دې هكله تفصيلي بحث تېر سو).



فَصْلٌ فِي الْأَمْرِ بِالْيَدِ

(دا) فصل په (بيان د) أَمْرِ بِالْيَدِ کي دی

په "أَمْرُكِ بِيَدِكِ" سره د طلاق واقع کېدلو بحث

وَإِنْ قَالَ لَهَا: أَمْرُكِ بِيَدِكِ يَنْوِيْ ثَلَاثًا او که [خاوند] ښځي ته ووايي چي: ستا معامله ستا په لاس کي ده او [په دې سره خاوند] د دريو [طلاقو] نيت وکړي فَقَالَتْ: قَدِ اخْتَرْتُ نَفْسِيْ بِوَاحِدَةٍ او ښځه ووايي: چي ما په يوه سره خپل ځان اختيار کړی [يعني يو وار مي خپل ځان اختيار کړی] فَهِيَ ثَلَاثٌ نو دا درې [طلاقه] دي لِأَنَّ الْاِخْتِيَارَ يَصْلُحُ جَوَابًا لِلْأَمْرِ بِالْيَدِ ځکه چي اختيار د أمر بالید لپاره د جواب جوړېدلو صلاحيت لري لِكَوْنِهِ تَمْلِيكًا كَالتَّخْيِيْرِ ځکه چي أمر باليد [هم] د تخيير په څېر تمليک دی [يعني د تخيير په څېر أمر باليد هم د مالک جوړولو صلاحيت لري] وَالْوَاحِدَةُ صِفَةٌ لِلْاِخْتِيَارَةِ او وَاحِدَة د اِخْتَارَة صفت دی فَصَارَ كَأَنَّهَا قَالَتْ: اخْتَرْتُ نَفْسِيْ بِمَرَّةٍ وَاحِدَةٍ نو داسي سو لکه ښځي چي [داسي] ووېل: ما [فقط] يو وار خپل ځان اختيار کړی وَبِذٰلِكَ يَقَعُ الثَّلَاثُ او په دې سره درې طلاقه واقع کېږي.

اللغات: ﴿تَمْلِيْک﴾ د تفعيل مصدر دی: مالک جوړول. ﴿تَخْيِيْر﴾ مخکني صيغه ده: اختيار ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته په دې الفاظو سره د طلاق اختيار ورکړي: أَمْرُكِ بِيَدِكِ (چي ستا معامله ستا په لاس کي ده)، او په دې سره خاوند د دريو طلاقو نيت وکړي، او ښځه په جواب کي ورته ووايي: اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ بِوَاحِدَةٍ (چي ما يو وار خپل ځان اختيار کړی)، نو په دې صورت کي درې طلاقه واقع کېږي. دليل دا دی چي ښځي د أمر باليد په جواب کي د اختيار (اِخْتَرْتُ) صيغه ذکر کړې ده، او اختيار دأمر باليد لپاره جواب جوړېدای سي، ځکه څرنګه چي په "اختيار ورکولو" کي د تمليک "مالک جوړولو" معنیٰ موجوده ده، همداسي په أمر

باليد كي دا معنیٰ موجوده ده، او په اِخْتَارِیْ سره د اختيار وركولو په صورت كي طلاق واقع كيږي، لهذا دلته به هم طلاق واقع كيږي.

پاته سوه دا خبره چي په اختيار وركولو كي د دريو طلاقو نيت كول صحيح نه دي. نو دلته څرنګه صحيح دی، د دې جواب دا دی چي دلته ښځي د وَاحِدَة لفظ استعمال كړی دی. او دا لفظ په حقيقت كي د محذوف موصوف يعني اِخْتِيَارَة صفت دی، او اِخْتِيَارَة د مَرَّة په معنیٰ سره دی. لهذا اصل تقدير د عبارت داسي سو: اِخْتَرْتُ نَفْسِیْ بِمَرَّةٍ وَاحِدَة (ما يو وار خپل ځان اختيار كړی). او په داسي جملې سره درې طلاقه واقع كيږي، نو په دې مسئله كي به هم درې طلاقه واقع كيږي. په دې شرط چي خاوند د دريو طلاقو نيت كړی وي (د دې مسئلې نور تفصيل به په راتلونكي عبارت كي بيان سي).

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوْقَالَتْ: قَدْ طَلَّقْتُ نَفْسِیْ بِوَاحِدَةٍ أَوْ اخْتَرْتُ نَفْسِیْ بِتَطْلِيْقَةٍ او كه ښځه ووايي: ما په يوه طلاق سره خپل ځان ته طلاق وركړی يا ما په يوه طلاق وروسته خپل ځان اختيار كړی فَهِيَ وَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ نو دا يو بائن [طلاق] دی لِأَنَّ الْوَاحِدَةَ نَعْتٌ لِمَصْدَرٍ مَحْذُوْفٍ وَهُوَ فِي الْأُوْلٰى الْاِخْتِيَارَةُ وَفِي الثَّانِيَةِ التَّطْلِيْقَةُ ځكه چي وَاحِدَة د محذوف مصدر دی چي هغه په اول صورت كي اِخْتِيَارَة دی او په دويم كي تَطْلِيْقَة دی إِلَّا أَنَّهَا تَكُوْنُ بَائِنَةً خو دا به بائن طلاق وي لِأَنَّ التَّفْوِيْضَ فِي الْبَائِنِ ضَرُوْرَةُ مِلْكِهَا أَمْرَهَا ځكه چي د ښځي د خپل ملک د مالک كېدلو د ضرورت په خاطر تفويض په بائن كي كيږي وَكَلَامُهَا خَرَجَ جَوَابًا لَهٗ او د ښځي كلام د خاوند [د كلام] د جواب په توګه صادر سوی دی فَتَصِيْرُ الصِّفَةُ الْمَذْكُوْرَةُ فِي التَّفْوِيْضِ مَذْكُوْرَةً فِي الْإِيْقَاعِ نو كوم صفت چي په تفويض كي ذكر سوی وي هغه به په إيقاع كي هم مذكور وي وَإِنَّمَا تَصِحُّ نِيَّةُ الثَّلَاثِ فِي قَوْلِهٖ: أَمْرُكِ بِيَدِكِ او د خاوند په دې قول: أَمْرُكِ بِيَدِكِ كي د دريو [طلاقو] نيت په دې وجه صحيح دی لِأَنَّهٗ يَحْتَمِلُ الْعُمُوْمَ وَالْخُصُوْصَ ځكه چي دا جمله د عموم او خصوص دواړو احتمال لري وَنِيَّةُ الثَّلَاثِ نِيَّةُ التَّعْمِيْمِ او نيت د دريو [طلاقو] نيت د تعميم [او عموم] دی بِخِلَافِ قَوْلِهٖ: اِخْتَارِیْ په خلاف د خاوند د دې قول: اِخْتَارِیْ لِأَنَّهٗ لَا يَحْتَمِلُ الْعُمُوْمَ ځكه چي دا د عموم احتمال نه لري وَقَدْ حَقَّقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ او مخكي موږ دا [خبره] ثابته كړه.

اللغات: ﴿حَقَّقْنَا﴾ د تفعيل له باب څخه د جمع متكلم ماضي صيغه ده: څېړل، ثابتول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو سړی خپلې ښځې ته د أَمْرُكِ بِيَدِكِ په الفاظو سره اختيار وركړي، او ښځه يې په جواب كې طَلَّقْتُ نَفْسِيْ بَوَاحِدَة ووايي، يا اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ بِوَاحِدَةٍ ووايي، نو په دې دواړو صورتونو كې يو طلاق بائن واقع كيږي.

د دې مسئلې دليل دا دی چې د ښځې په الفاظو كې چې كوم د وَاحِدَة لفظ راغلی دی، هغه د محذوف مصدر صفت دی، او دا محذوف مصدر په اوله جمله يعني په طَلَّقْتُ نَفْسِيْ بِوَاحِدَةٍ كې تَطْلِيْقَةً دی، او تقدير د عبارت داسې دی: طَلَّقْتُ نَفْسِيْ تَطْلِيْقَةً وَاحِدَةً، او په دويمه جمله يعني په اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ كې دا محذوف مصدر اِخْتِيَارَةً دی، او تقدير د عبارت داسې دی: اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ اِخْتِيَارَةً وَاحِدَةً، نو ځكه به دلته يو طلاق بائن واقع كيږي.

إِلَّا أَنَّهَا إلخ: په دې سره د يو مقدر سوال جواب وركوي، سوال دا دی چې طَلَّقْتُ نَفْسِيْ...الخ خو له صريحو الفاظو څخه دي، او په صريحو الفاظو سره طلاق رجعي واقع كيږي، نو دلته څرنګه طلاق بائن واقع كيږي؟

د دې په جواب كې صاحب د هدايې فرمايي چې په دې صورتونو كې د طلاقِ بائن د واقع كېدلو وجه دا ده چې دلته خاوند د أَمْرُكِ بِيَدِكِ په ذريعه ښځې ته اختيار وركړی دی، او أَمْرُكِ بِيَدِكِ لكه كنايي الفاظو څخه چې په هغوی سره طلاقِ بائن واقع كيږي، ځكه چې د أَمْرُكِ بِيَدِكِ په ذريعه د طلاق ورسپارل (تفويض) د دې تقاضا كوي چې ښځه په خپله د خپلې معاملې مالكه سي (او ټوله ملكيت د ښځې لاس ته راسي)، او ښكاره ده چې دا تقاضا او مطلب هغه وخت پوره كيږي كله چې پر ښځې طلاقِ بائن واقع سي (ځكه چې په طلاق رجعي كې د رجعت د حق په وجه په پوره توګه د خپل ځان ملكيت د ښځې په لاس كې نه راځي)، او څرنګه چې د ښځې دغه الفاظ (طَلَّقْتُ نَفْسِي...) هم د خاوند د كلام (أَمْرُكِ بِيَدِكِ) په جواب كې واقع سوي دي، او د خاوند په كلام كې د بينونت صفت ذكر سوی دی (ځكه چې أمر هغه وخت د ښځې لاس ته راځي كله طلاقِ بائن واقع سي)، نو په دې وجه به د ښځې په كلام كې هم دغه صفت ذكر سوی وي او پر ښځې به طلاقِ بائن واقع كيږي، د دې لپاره چې د ښځې او خاوند دواړو كلمات يو د بل مطابق او موافق سي.

وإنما تصح الخ: له دې ځاى څخه د دريو طلاقونو د نيت په هكله د أَمْرُكِ بِيَدِكِ او اِخْتَارِیْ نَفْسِكِ تر مينځ فرق بيانوي فرمايي چي په أَمْرُكِ بِيِدِك كي ځكه د دريو طلاقو نيت كول صحيح دیْ چي لفظ د أمر عام دی كوم چي پر هر فعل صادقېداى سي، نو ځكه به پر طلاق هم صادقيږي او د أَمْرُكِ بِيَدِكِ معنیٰ به وي: طَلَاقُكِ بِيَدِكِ، او طلاق مصدر دی كوم چي د عموم او خصوص دواړو احتمال لري، لهذا كله چي خاوند د يوه طلاق نيت كړی وي نو دا (مصدر) به پر خصوص حمل كيږي، او كه د دريو نيت يې كړی وي نو پر عموم به حمل كيږي.

د دې په خلاف د اِخْتَارِیْ په لفظ كي فقط د خصوص احتمال سته، نه د عموم، لهذا په اِخْتَارِیْ سره د عموم يعني د دريو طلاقو نيت كول صحيح نه دي، په دې سره فقط د خصوص يعني د يوه طلاق نيت كېداى سي، صاحب د هدايي فرمايي چي د فصل فى الاختيار په ضمن كي موږ دا خبره څېړلې ده (چي اختيار نه تقسيميږي [او دريو طلاقو ته...لكه څرنګه چي بينونت تقسيميږي...]) فلا نعيدها ههنا.

د مؤقت تفويض يو صورت

وَلَوْ قَالَ لَهَا: أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ وَبَعْدَ غَدٍ او كه [خاوند] ښځي ته ووايي چي: ستا معامله نن ستا په لاس كي ده او سبا نه بل سبا [يعني نن او سبا نه بل سبا تا ته د طلاق اختيار دی] لَمْ يَدْخُلْ فِيهِ اللَّيْلُ نو په دې [اختيار] كي شپه نه داخليږي وَإِنْ رَدَّتْ الْأَمْرَ فِي يَوْمِهَا او كه ښځي په نن ورځ كي أمر [اختيار] رد كړی بَطَلَ أَمْرُ ذَلِكَ الْيَوْمِ نو د دغه ورځي أمر [اختيار] باطل سو وَكَانَ الْأَمْرُ بِيَدِهَا بَعْدَ غَدٍ او سبا نه بل سبا [بيا] د هغې په لاس كي أمر [اختيار] وي لِأَنَّهُ صَرَّحَ بِذِكْرِ وَقْتَيْنِ بَيْنَهُمَا وَقْتٌ مِنْ جِنْسِهِمَا ځكه چي خاوند دوه داسي وختونه په صراحت سره ذكر كړي دي چي د دوی په مينځ كي د دوی د جنس يو وخت دی [يعني غد] لَمْ يَتَنَاوَلْهُ الْأَمْرُ چي هغه ته أمر [اختيار] شامل نه دی إِذْ ذِكْرُ الْيَوْمِ بِعِبَارَةِ الْفَرْدِ لَا يَتَنَاوَلُ اللَّيْلَ ځكه چي فقط د يَوْم ذكر كول لَيْلَ لره نه شامليږي فَكَانَا أَمْرَيْنِ نو دواړه دوه أمره [او اختياره] سول فَبِرَدِّ أَحَدِهِمَا لَا يَرْتَدُّ الْآخَرُ نو به د يوه [اختيار] په ردّ سره بل [اختيار] نه ردّ كيږي وَقَالَ زُفَرُ: هُمَا أَمْرٌ وَاحِدٌ بِمَنْزِلَةِ قَوْلِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ الْيَوْمَ وَبَعْدَ غَدٍ امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دوی دواړه يو أمر [اختيار] دی [او] د خاوند د دې قول په درجه كي دی: أَنْتِ طَالِقٌ الْيَوْمَ وَبَعْدَ غَدٍ [نن او سبا نه بل

سبا ته (پر ما) طلاقه يې] قُلْنَا: اَلطَّلَاقُ لَا يَحْتَمِلُ التَّأْقِيْتَ موږ [ورته] وايو: چې طلاق د يو وخت سره د خاصولو احتمال نه لري وَالْأَمْرُبِالْيَدِ يَحْتَمِلُهُ او أمر باليد [اختيار] د دې احتمال لري فَيُوَقَّتُ الْأَمْرُبِالْأَوَّلِ وَيُجْعَلُ الثَّانِي أَمْرًا مُبْتَدَأً نو به أمر باليد په اول [يَوْم] سره مؤقت کيږي او دويم [بَعْدَ غَد] به له نوي سره [مستقل] أمر باليد ګرځول کيږي.

اللغات: ﴿تَأْقِيْت﴾ د تفعيل مصدر دی: وخت ټاکل، وخت مقرر کول، د وخت سره خاصول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته په دې الفاظو سره اختيار ورکړي: أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ وَبَعْدَ غَدٍ، (يعني نن او سبا نه بل سبا معامله ستا په لاس کې ده، يعني يو نن تا ته اختيار دی او بل سبا نه بل سبا)، نو په دې جمله کې ګواکې خاوند ښځې ته دوه اختيار ورکړي دي، يو اختيار يې نن ورکړی دی، او دويم اختيار يې سبا نه بل سبا ورکړی دی، او د دواړو په مينځ کې د سبا (غد) ورځ له اختيار څخه خالي ده، لهذا کله چې د سبا ورځ له اختيار څخه خالي ده، نو په دې وجه به را روانه شپه يعني د نن ورځې (الْيَوْم) شپه هم له اختيار څخهٔ خالي وي، او څرنګه چې يې دوه اختيار ورکړي دي، نو په دې وجه که ښځه د نن ورځې اختيار رد کړي، نو دويم اختيار يعني د سبا نه بل سبا اختيار به پاته وي.

لأَنَّهُ صَرَّحَ إلخ: په صورت د مسئلې کې دوې خبرې ذکر سوې، په دې عبارت سره د هغه دوو خبرو عقلي دليل بيانوي: يوه خبره دا ذکر سوه را روانه شپه په دغه اختيار (أمر باليد) کې نه داخليږي، او دويمه دا چې که ښځه نن اختيار ردّ کړي، نو دويم اختيار نه ختميږي، نو د دويمې خبرې دليل دا دی چې د يَوْم او بَعْدَ غَد په مينځ کې (يعني د نن او سبا نه بل سبا ورځې په مينځ کې) يو داسې وخت سته کوم چې د دې دواړو وختونو له جنس څخه دی چې هغه د سبا ورځ (غَد) ده، او په هغه کې اختيار نسته، نو په دې وجه د نن ورځې اختيار او د سبا نه بل سبا ورځې اختيار سره جلا سول، نو ځکه به د يوه اختيار په ردولو سره دويم اختيار نه رديږي، او د اولې خبرې دليل دا دی چې خاوند په صراحت يَوْم (ورځ) يوازې ذکر کړی دی، او کله چې يَوْم يوازې ذکر سي، نو په هغه کې لَيْل (شپه)، نه داخليږي نو ځکه به دلته هم په نن ورځ کې شپه نه داخليږي، لهذا که چيرې ښځه د شپې ځان ته طلاق ورکړي، نو پر هغې به طلاق نه واقع کيږي، ځکه چې په شپه کې هغې لره اختيار ثابت نه دی.

وقال زفر الخ: امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي په أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ وبَعْدَ غَدٍ کي ښځه ته دوه اختيار نه دي ورکول سوي، بلکي يو اختيار ورکول سوی دی (ځکه چي اَلْيَوْمَ او بَعْدَ غَدٍ دواړه سره معطوف او معطوف عليه دي)، او دا جمله داسي ده لکه خاوند چي ښځي ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ الْيَوْمَ وَبَعْدَ غَدٍ. او په دې سره يو اختيار ثابتيږي او يو طلاق واقع کيږي، لهذا دلته به هم يو اختيار ثابتيږي او يو طلاق به واقع کيږي.

موږ جواب ورکوو چي أمر بِالْيَدِ پر طلاق قياسول صحيح نه دي، ځکه چي طلاق د تأقيت يعني د يو وخت سره د خاصولو (او د تأخير) احتمال نه لري، همدا وجه ده کومي ښځي ته چي نن په طَالِقٌ يا داسي بل لفظ سره طلاق ورکول سي، هغه به په نورو ورځو کي هم مطلقه وي، د دې په خلاف أمر بالید کي د تأقيت او اختصاص بالوقت احتمال سته، او دا ممکن دي چي په يوه وخت کي دي أمر او اختيار د ښځي په لاس کي وي، او په بل وخت کي دي نه وي، لهذا د ښځي لپاره به په أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ سره يو أمر او اختيار ثابت وي، او په بَعْدَ غَدٍ سره به دويم أمر او اختيار ثابت وي، او تقدير د عبارت به داسي وي: أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ. و أَمْرُكِ بِيَدِكِ بَعْدَ غَدٍ، نو ځکه به دلته دوه جلا اختياره ثابتيږي.

د مؤقت تفويض يو بل صورت

وَلَوْقَالَ: أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ وَغَدًا او که [خاوند] ووايي چي: ستا معامله نن ستا په لاس کي ده او سبا يَدْخُلُ اللَّيْلُ فِي ذٰلِكَ نو په دې کي شپه [هم] داخليږي فَإِنْ رَدَّتِ الْأَمْرَفِي يَوْمِهَا او که چيري ښځه په دغه ورځ [يَوم] أمر [اختيار] رد کړي لَا يَبْقَى الْأَمْرُفِي يَدِهَا فِي غَدٍ نو سبا د هغې په لاس کي أمر [اختيار] نه پاتيږي لِأَنَّ هٰذَا أَمْرٌوَاحِدٌ ځکه چي دا أمر دی لِأَنَّهُ لَمْ يَتَخَلَّلْ بَيْنَ الْوَقْتَيْنِ الْمَذْكُورَيْنِ وَقْتٌ مِنْ جِنْسِهِمَا لَمْ يَتَنَاوَلْهُ الْكَلَامُ ځکه چي د دغه دوو ذکر سوو وختونو تر مينځ يو داسي بېلونکی وخت نسته چي هغه لره کلام [اختيار] شامل نه وي وَقَدْ يَهْجُمُ اللَّيْلُ وَمَجْلِسُ الْمَشُوْرَةِ لَا يَنْقَطِعُ او کله ناکله شپه راسي او مجلس د مشورې لا ختم سوی نه وي فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: أَمْرُكِ بِيَدِكِ فِي يَوْمَيْنِ نو داسي سو لکه [خاوند] چي ووايي: په دوو ورځو کي ستا معامله ستا په لاس کي ده [يعني تر دوو ورځو پوري تا ته اختيار دی] وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهَا إِذَا رَدَّتِ الْأَمْرَفِي الْيَوْمِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه

روايت دی: چي کله په نن ورځ [يَوْم] کي اختيار رد کړي لَهَا أَنْ تَخْتَارَ نَفْسَهَا غَدًا نو [هم] په سبا هغې لره د خپل ځان د اختيارولو اختيار [پاته] وي لِأَنَّهَا لَا تَمْلِكُ رَدَّ الْأَمْرِ ځکه چي ښځه د أمر باليد د ردولو مالکه نه ده كَمَا لَا تَمْلِكُ رَدَّ الْإِيقَاعِ لکه څرنګه چي هغه [د طلاق] د إيقاع د ردولو مالکه نه ده وَجْهُ الظَّاهِرِ: أَنَّهَا إِذَا اخْتَارَتْ نَفْسَهَا الْيَوْمَ لَا يَبْقَى لَهَا الْخِيَارُ فِي الْغَدِ د ظاهر روايت دليل دا دی: چي که چيري ښځه نن ورځ خپل ځان اختيار کړی نو سبا به د هغې لپاره اختيار نه پاتيږي فَكَذَا إِذَا اخْتَارَتْ زَوْجَهَا بِرَدِّ الْأَمْرِ نو همداسي به [هغې لره اختيار نه پاتيږي] کله. چي هغه د أمر باليد د ردولو په ذريعه خپل خاوند اختيار کړي لِأَنَّ الْمُخَيَّرَ بَيْنَ الشَّيْئَيْنِ لَا يَمْلِكُ إِلَّا اخْتِيَارَ أَحَدِهِمَا ځکه کوم چا ته چي په دوو شيانو کي اختيار ورکول سوی وي هغه په دې دواړو شيانو کي فقط د يوه د اختيارولو مالک وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ إِذَا قَالَ: أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ وَأَمْرُكِ بِيَدِكِ غَدًا الخ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چي کله [خاوند] ووايي: ستا معامله نن [هم] ستا په لاس کي ده او ستا معامله سبا [هم] ستا په لاس کي ده أَنَّهُمَا أَمْرَانِ نو دا دوه أمره [اختياره] دي لِمَا أَنَّهُ ذَكَرَ لِكُلِّ وَقْتٍ خَبَرًا عَلَى حِدَةٍ ځکه چي [دلته] خاوند د هر وخت لپاره جلا خبر ذکر کړی دی بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه [مسئلې] کوم چي [اوړځه] مخکي ذکر سوه.

اللغات: ﴿يَهْجُمُ﴾ د نصر مضارع ده: ناڅاپه راتلل، ﴿لَا يَنْقَطِعُ﴾ د انفعال له باب څخه نفي صيغه ده: ختمېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته په دې الفاظو سره اختيار ورکړي: أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ وَغَدًا، (يعني نن او سبا تا ته د طلاق اختيار دی)، نو په دغه اختيار (أَمر بِالْيَد) کي د نن ورځي شپه هم داخليږي، او که ښځه د نن ورځي (يَوْم) اختيار رد کړي، نو د سبا (غَد) په ورځ کي به د هغې اختيار نه پاتيږي، دليل دا دی چي دا دواړه يو اختيار (أَمر بِالْيَد) دی، ځکه چي دلته دواړو وختونو په مينځ کي يو داسي فاصل وخت نسته چي هغه د دې دواړو همجنسه وي او اختيار لره شامل نه وي، لهذا دواړه وختونه (يعني نن او سبا ورځ) سره متصل دي، او اکثره وخت هم داسي کيږي چي خلک په ورځ (يَوْم) کي د يو بحث او مشورې لپاره کښيني، او په دغه ناسته کي پر هغو شپه راسي او هغه مشوره او بحث لا ختم سوي نه وي (او شپه په ورځ کي داخله او شامله ګڼل

کيږي)، لهذا دا جمله داسي سوه لکه خاوند چي ښځي ته ووايي: أَمْرُكِ بِيَدِكِ فِيْ يَوْمَيْنِ (تا ته تر دوو ورځو پوري د طلاق اختيار دی)، او په دې سره يو اختيار ثابتيږي، نو دلته به هم يو اختيار ثابتيږي.

او په يوه حصه (يَوْم) کي به د اختيار په ردولو سره په دويمه حصه (غَد) کي اختيار ختميږي.

له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا نقل سوی دی چي په نن ورځ (يَوْم) کي به د اختيار په ردولو سره په سبا ورځ (غَد) کي اختيار نه ختميږي، بلکي سبا ورځ به هم ښځي لره اختيار پاته وي، دليل دا دی چي څرنګه ښځه د إِيقَاعُ الطلاق (طلاق واقع کولو) د ردولو قدرت نه لري همداسي به د أمر باليد (اختيار) د ردولو قدرت هم نه لري، مثلاً که خاوند ښځي ته أَنْتِ طَالِقٌ ووايي، نو پر ښځي خامخا طلاق واقع کيږي، هغه که ښځه طلاق قبول کړي يا نه کړي، همداسي به د أمر بِالْيَد په ويلو او اختيار ورکولو سره به هم اختيار ثابتيږي، که څه هم ښځه هغه قبول نه کړي، لهذا کله چي د ښځي په ردولو سره اختيار او أمر باليد نه ختميږي، نو ځکه به سبا ورځ هم هغې لره (د ځان اختيارولو) اختيار پاته وي.

وجه الظاهر إلخ: د ظاهر روايت دليل دا دی چي که چيري ښځه دلته نن ورځ ځان اختيار کړي (يعني ځان ته نن ورځ طلاق ورکړي)، نو دا ښکاره خبره ده چي سبا بيا هغې ته اختيار او أمر باليد نه حاصليږي بلکي د هغې اختيار ختميږي، لهذا څرنګه چي نن ورځ د ځان اختيارولو په وجه سبا د هغې اختيار ساقطيږي، همداسي په نن ورځ کي به هم د اختيار په ردولو او د خاوند په اختيارولو سره د هغې اختيار او أمر باليد ختميږي، ځکه همدا قاعده ده چي: الْمُخَيَّرُ بَيْنَ الشَّيْئَيْنِ لَا يَمْلِكُ إِلَّا اخْتِيَارَ أَحَدِهِمَا، يعني کوم چا ته چي د دوو شيانو اختيار ورکول سوی وي، هغه په دواړو شيانو کي فقط يو شی اختيارولای سي، نه دواړه. (لېکن صاحب د أحسنُ الهدايهِ وايي چي د ظاهر روايت دغه دليل زما زړه سم نه تسليموي، ځکه چي مسئله د دوو شيانو د اختيار او عدمِ اختيار په هکله نه ده، بلکي په يَوْم او غَد کي د اختيار د بقاء او عدمِ بقاء په هکله ده، والله أعلم)

وعن أبي يوسف إلخ: له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي که خاوند ښځي ته أَمْرُكِ بِيَدِكِ الْيَوْمَ وَ أَمْرُكِ بِيَدِكِ غَدًا ووايي، نو په دې صورت کي د ښځي لپاره دوه اختيار (أمر باليد) ثابتيږي، ځکه چي دلته دوې جلا، جلا جملې دي، او د دواړو جملو خبر سره جلا دی، نو ځکه به دوه اختياره ثابتيږي او د اولي ورځي د اختيار په ردولو سره به د دويمي ورځي اختيار نه ختميږي، په خلاف د مخکنۍ مسئلې ځکه چي په هغه کي د دواړو جملو لپاره يو خبر دی نو هغه يوه جمله سوه، نو ځکه به هلته يو اختيار ثابتيږي، او د اولي ورځي د اختيار په ردولو سره به په دويمه ورځ کي هم اختيار ختميږي.

شمس الائمه رَحِمَهُ الله د امام ابو يوسف دغه روايت ته صحيح ويلي دي، او قاضي خان همدې ته أصلُ الرواية او متفق عليه ويلي دي.

د "تخييرِ معلق" بيان

وَإِنْ قَالَ: أَمْرُكِ بِيَدِكِ يَوْمَ يَقْدَمُ فُلَانٌ او كه [خاوند] ووايي: ستا معامله ستا په لاس كي ده په كومه ورځ چي فلانكى راسي فَقَدِمَ فُلَانٌ بيا فلانكى راسي وَلَمْ تَعْلَمْ بِقُدُومِهِ حَتَّى جَنَّ اللَّيْلُ او ښځه د هغه په راتګ خبره نه سي تر دې چي شپه راسي فَلَا خِيَارَ لَهَا نو د ښځي لره به اختيار نه وي ايعني په دې صورت كي د ښځي اختيار ختميږي] لِأَنَّ الْأَمْرَ بِالْيَدِ مِمَّا يَمْتَدُّ ځكه چي أمر باليد له هغه شيانو څخه دى كوم چي اوږديږي [او وخت غواړي، يعني أمر باليد او اختيار د فعلِ ممتد له قبيلې څخه دى] فَيُحْمَلُ الْيَوْمَ الْمَقْرُونَ بِهِ عَلَى بَيَاضِ النَّهَارِ لهذا حمل كيږي به هغه يَوْم [ورځ] كوم چي د أمر باليد سره متصل وي د ورځي پر سپينوالي [رڼا] وَقَدْ حَقَّقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ او مخكي موږ دا [خبره] ثابته كړه [يعني بيان كړه] فَيَتَوَقَّتُ بِهِ نو ځكه به أمر باليد په بياضِ نهار سره مؤقت كيږي ثُمَّ يَنْقَضِي بِانْقِضَاءِ وَقْتِهِ بيا به د بياضِ نهار په ختمېدلو سره دا أمر باليد [هم] ختميږي وَإِذَا جَعَلَ أَمْرَهَا بِيَدِهَا أَوْ خَيَّرَهَا او كله چي [خاوند] د ښځي معامله هغې ته وسپاري يا هغې ته اختيار وركړي فَمَكَثَتْ يَوْمًا لَمْ تَقُمْ بيا ښځه يوه ورځ [په مجلس كي] پاته سي او [له مجلس څخه] ولاړه نه سي فَالْأَمْرُ فِي يَدِهَا مَا لَمْ تَأْخُذْ فِي عَمَلٍ آخَرَ نو اختيار به د هغې په لاس كي تر څو چي يې په بل كار شروع كړي نه وي لِأَنَّ هٰذَا تَمْلِيكُ التَّطْلِيقِ مِنْهَا ځكه چي دا ښځه د طلاق مالكه جوړول دي لِأَنَّ الْمَالِكَ مَنْ يَتَصَرَّفُ بِرَأْيِ نَفْسِهِ ځكه چي مالک هغه كس وي كوم چي په خپله رايه سره تصرف كوي وَهِيَ بِهٰذِهِ الصِّفَةِ او دا ښځه په هغه صفت سره [متصف] ده وَالتَّمْلِيكُ يَقْتَصِرُ عَلَى الْمَجْلِسِ او تمليک [هم] پر مجلس منحصر كيږي وَقَدْ بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ او مخكي موږ دا [خبره] بيان كړې ده.

اللغات: ﴿يَقْدَمُ﴾ د سمع له باب څخه مضارع ده: راتلل، واپس راتلل، ﴿جَنَّ﴾ د نصر ماضي ده، كله چي د "لَيْل" سره ذكر سي نو معنىٰ يې راځي: شپه راتلل، شپه غوړېدل، ﴿يَمْتَدُّ﴾ د افتعال مضارع ده: اوږدېدل، كشېدل، ﴿بَيَاض﴾ سپينوالى، ﴿مَكَثَتْ﴾ د نصر مضارع ده: پاتېدل، درنګ كول، وخت تېرول، ﴿يَقْتَصِرُ﴾ د افتعال مضارع ده: منحصر كېدل.

تشريح: په دې عبارت كي دوې مسئلې بيان سوي دي: (١)... اوله مسئله دا ده كه يو سړى خپلي ښځي ته د طلاق اختيار وركړي او دا ورته ووايي چي په كومه ورځ فلانكى سړى راسي، په هغه ورځ

تا ته اختيار دی، نو اوس که فلانکی سړی په هغه ورځ راسي، خو ښځه په دې خبره نه سي تر دې چي شپه راسي، او په شپه کي ښځي ته خبر ورسيږي چي فلانکی راغلی دی، نو په دې صورت کي د ښځي اختيار ختميږي، او هغې لره د خپل نفس د اختيار ولو اختيار نه پاتيږي؛ دليل دا دی چي أمر باليد (اختيار) فعلِ ممتد دی (يعني له هغه افعالو څخه دی کوم چي وخت غواړي)، او مخکي دا خبره تېره سوه چي که يَوْم د فعلِ ممتد سره متصل سي، نو بيا له يَوْم څخه بياضِ نهار مراديږي، نه مطلق وقت (له بياض نهار څخه مراد د ورځي د رڼا حالت دی کوم چي له سهار وختي څخه شروع کيږي او تر لمر لوېدلو پوري پاتيږي)، نو په دې وجه به دلته أمر باليد تر ورځي پوري خاص وي، او د ورځي په تېرېدلو سره به أمر باليد ختميږي.

(٢)... دويمه مسئله دا ده که خاوند د طلاق معامله ښځي ته په لاس ورکړي يعني أَمْرُكِ بِيَدِكِ ورته ووايي، يا هغې ته د طلاق اختيار ورکړي مثلاً اِخْتَارِيْ نَفْسَكِ ورته ووايي، بيا دا ښځه په هغه مجلس (د اختيار) کي يوه ورځ پاته سي او (ټوله ورځ) له مجلس څخه ولاړه نه سي، نو تر څو چي دا ښځه په هغه مجلس کي په يو بل کار اخته سوې نه وي، تر هغه وخته پوري د دې ښځي اختيار پاتيږي؛ دليل دا دی چي ښځي ته د طلاق اختيار ورکول (أمر باليد) په حقيقت کي د ښځي تمليک دی يعني اختيار ورکول په حقيقت کي ښځه د طلاق مالکه جوړل دي، ځکه چي مالک هغه کس ته وايي چي په خپله رايه سره تصرف کوي، او دا ښځه هم په دغه صفت سره متصفه ده (چي په خپله رايه سره ځان ته طلاق ورکوي)، او تمليکات پر مجلس منحصر او موقوف وي، لهذا دلته به هم د مجلس اعتبار کيږي.

د "خيارِ مجلس" وضاحت

ثُمَّ إِنْ كَانَتْ تَسْمَعُ بيا که ښځي [د خاوند کلام] اورېدی يُعْتَبَرُ مَجْلِسُهَا ذٰلِكَ نو د ښځي د هغه مجلس اعتبار به کيږي وَإِنْ كَانَتْ لَا تَسْمَعُ او که يې نه اورېدی فَمَجْلِسُ عِلْمِهَا وَبُلُوغِ الْخَبَرِ إِلَيْهَا نو د ښځي د خبرېدلو د مجلس يا هغې ته د خبر رسېدلو [د مجلس] اعتبار کيږي لِأَنَّ هٰذَا تَمْلِيْكٌ فِيْهِ مَعْنَى التَّعْلِيْقِ ځکه چي دا داسي تمليک دی چي په هغه کي د تعليق معنیٰ [هم] سته فَيَتَوَقَّفُ عَلٰى مَا وَرَاءَ الْمَجْلِسِ نو ځکه به، پر ما وراء د مجلس [هم] موقوف کيږي وَلَا يُعْتَبَرُ مَجْلِسُهٗ او د خاوند د مجلس اعتبار به نه کيږي لِأَنَّ التَّعْلِيْقَ لَازِمٌ فِيْ حَقِّهٖ ځکه چي تعليق د هغه په حق کي لازم [سوی] دی بِخِلَافِ الْبَيْعِ لِأَنَّهٗ تَمْلِيْكٌ مَحْضٌ لَا يَشُوْبُهُ التَّعْلِيْقُ په خلاف د تعلق، ځکه چي هغه فقط تمليک دی

[او] په هغه کي د تعليق څه کډون نسته وَإِذَا أُعْتُبِرَ مَجْلِسُهَا او کله چي د ښځي د مجلس اعتبار وسي فَالْمَجْلِسُ تَارَةً يَتَبَدَّلُ بِالتَّحَوُّلِ وَمَرَّةً بِالْأَخْذِ فِي عَمَلٍ آخَرَ نو مجلس کله په منتقل کېدلو سره بدليږي او کله د بل په شروع کولو سره [بدليږي] عَلَى مَا بَيَّنَّا فِي الْخِيَارِ لکه په بابُ الْخيار کي چي موږ د دې بيان وکړی وَيَخْرُجُ الْأَمْرُ مِنْ يَدِهَا بِمُجَرَّدِ الْقِيَامِ او محض په ولاړېدو سره اختيار د ښځي د لاس څخه وځي لِأَنَّهُ دَلِيْلُ الْإِعْرَاضِ ځکه چي ولاړېدل د اعراض دليل دی إِذِ الْقِيَامُ يُفَرِّقُ الرَّأْيَ ځکه چي ولاړېدل رايه منتشر کوي بِخِلَافِ مَا إِذَا مَكَثَتْ يَوْمًا لَمْ تَقُمْ وَلَمْ تَأْخُذْ فِي عَمَلٍ آخَرَ په خلاف د هغه صورت چي کله ښځه يوه ورځ [په مجلس کي] پاته سي نه ولاړه سي او نه په يو بل کار شروع وکړي لِأَنَّ الْمَجْلِسَ قَدْ يَطُولُ وَقَدْ يَقْصُرُ ځکه چي مجلس کله اوږديږي او کله مختصر کيږي فَيَبْقَى إِلَى أَنْ يُوجَدَ مَا يَقْطَعُهُ نو به مجلس تر هغه وخته باقي وي تر څو چي [د ښځي له طرفه] داسي شی موجود سي کوم چي مجلس ختموي أَوْ مَا يَدُلُّ عَلَى الْإِعْرَاضِ يا کوم چي پر اعراض دلالت کوي وَقَوْلُهُ: مَكَثَتْ يَوْمًا لَيْسَ لِلتَّقْدِيْرِ بِهِ او [په جامع صغير کي] د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول: فَمَكَثَتْ يَوْمًا [کوم چي د تېر عبارت په متن کي ذکر سو] د تحديد لپاره نه دی وَقَوْلُهُ: مَا لَمْ تَأْخُذْ فِي عَمَلٍ آخَرَ يُرَادُ بِهِ عَمَلٌ يُعْرَفُ أَنَّهُ قَطْعٌ لِمَا كَانَ فِيهِ او د هغه له دې قول: مَا لَمْ تَأْخُذْ فِي عَمَلٍ آخَرَ څخه داسي عمل مراد دی چي هغه پېژندل کيږي چي د مجلس ختمونکی [عمل] دی لَا مُطْلَقَ الْعَمَلِ نه مطلق عمل [يعني له عَمَلٍ آخَر څخه مراد مطلق عمل نه دی].

اللغات: ﴿بُلُوْغ﴾ د نصر مصدر دی: رسېدل، ﴿لَا يَشُوْبُهُ﴾ د نصر نفي صيغه ده: ګډېدل، ور سره يو ځای کېدل، ﴿تَحَوّل﴾ د تفعّل مصدر دی: د حالت بدلېدل، ﴿يُفَرِّق﴾ د تفعيل مضارع ده: جلا کول (منتشر کول).

تشريح: په دې عبارت کي صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د دې خبري نور وضاحت کوي چي "د ښځي اختيار پر مجلس منحصر او موقوف دی"، فرمايي که خاوند خپلي ښځي ته اختيار ورکړي (يعني په أَمْرُكِ بِيَدِكِ سره يا په اِخْتَارِيْ او داسي نورو الفاظو سره د طلاق اختيار ورکړي). نو د دې دوصور تونه دي: ① ښځه به د خاوند خبري او کلام اوري، ② يا به يې نه اوري، که چيري ښځي د خاوند کلام اورېدلی، نو د ښځي د هغه مجلس اعتبار به کيږي په کوم مجلس کي چي يې د خاوند

کلام اوربدلی وي، يعني که له هغه مجلس څخه ولاړه سي يا په يو بل کار اخته سي، نو د هغې اختيار باطليږي، او پر ما وراء د مجلس اختيار نه موقوف کيږي.

لېکن که چيري ښځي د خاوند کلام نه اورېدی، نو بيا چي په کوم مجلس کي ښځه د خاوند کلام واوري يا په کوم مجلس کي چي هغې ته خبر ورسيږي، نو د هغه مجلس اعتبار به کيږي؛ دليل دادی چي أمر بِالْيَد تمليک دی، ځکه چي د أَمْرُکِ بِيَدِکِ معنیٰ دا ده: إِنْ أَرَدْتِ الطَّلَاقَ فَأَمْرُكِ بِيَدِكِ (يعني که ته د طلاق اراده لرې نو ستا معامله ستا په لاس کي ده). لېډه دا چي په أمر باليد کي تمليک او تعليق دواړه سته. او دا خبره ثابته ده چي تمليک د مجلس سره خاص وي پر ماوراء د مجلس نه موقوف کيږي او تعليق پر ما وراء د مجلس موقوف کيږي، نو په أمر بِالْيَد کي د تمليک د معنیٰ تقاضا دا ده چي أمر باليد د مجلس سره خاص سي او د تعليق د معنیٰ تقاضا دا ده چي د مجلس سره خاص نه سي، بلکي پر ما وراء د مجلس هم موقوف سي (لکه په إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ کي چي پر ما وراء د مجلس موقوف کيږي)، لهذا کله چي دلته تمليک او تعليق هر يو جلا تقاضا کوي، نو ځکه به حتی الإمکان د دواړو رعايت کيږي، او د دې رعايت غوره او بهتره صورت همدغه دی چي کله ښځه د خاوند کلام اوري، نو په دې صورت کي به د تمليک رعايت کيږي او د ښځي اختيار به نقط د مجلس سره خاص وي، او که ښځي د خاوند کلام نه اورېدی، نو په دې صورت کي به د تعليق رعايت کيږي، او تر مجلس وروسته به هم هغې لره د طلاق اختيار پاته وي.

ولايعتبر إلخ: فرمايي چي د اختيار په پاتېدلو او نه پاتېدلو کي د خاوند مجلس معتبر نه دی. لهذا که خاوند ولاړ سي او ښځه ناسته وي، نو بيا هم د ښځي اختيار پاتيږي؛ دليل دا دی چي کله خاوند ښځي ته اختيار ورکړي، نو اختيار د خاوند په حق کي لازم او ثابت سي، بيا خاوند نه هغه ختمولای سي او نه له هغه څخه رجوع کولای سي، د دې په خلاف په بيع کي د مشتري او بائع دواړو مجلس معتبر دی، لهذا د بيع معامله به فقط د مجلس سره خاص وي، او په بائع او مشتري کي چي هر يو هم د مجلس تر پوره کېدلو مخکي ولاړ سي، نو بيع باطليږي.

وإذا اعتبر إلخ: فرمايي چي کله دا خبره ثابته سوه چي د اختيار په سلسله کي د ښځي مجلس معتبر دی، نو اوس دا په ياد لرئ! چي تر څو ښځه په هغه (د اختيار په) مجلس کي وي، د هغې اختيار به پاته وي، او که هر وخت ښځه له مجلس څخه ولاړه سي يا په مجلس کي دننه په يو بل کار مشغوله سي، نو په دې دواړو صورتونو کي د هغي اختيار ختميږي، ځکه چي له مجلس څخه ولاړېدل د إعراض کولو علامه ده. او بل دا چي تر څو انسان په يو مجلس کي وي. د هغه مجلس خبري د ده په

ذهن کي ګرځي راګرځي، لېکن هر کله چي له مجلس څخه ولاړه سي، نو خيال او سوچ يې نورو شيانو ته واوړي، او ذهن يې منتشر سي، نو په دې وجه هم له مجلس څخه ولاړېدل د ښځي اختيار ختموي.

بخلاف ما إذا مكثت إلخ: فرمايي چي د متن له دې قول مَكَثَتْ يَوْمًا څخه تحديد مراد نه دى، بلکي که ښځه د اختيار په مجلس کي تر يوې ورځي زياته پاته سي، او په يو بل کار مشغول نه سي، نو هم د هغې اختيار پاتېږي.

وقوله ما لم تأخذ إلخ: او د تېر عبارت په متن کي له دې قول مَا لَمْ تَأْخُذْ فِيْ عَمَلٍ آخَر څخه هم مطلق عمل مراد نه دى، بلکي داسي عمل او کار ځني مراد دى کوم چي عليحده او جلا عمل وي او چي له هغه څخه دا معلومه سي چي ښځه له اختيار څخه إعراض کوي، لېکن که چيري ښځه فقط په هغه مجلس کي جامي واغوندي، يا د قرآن کريم په تلاوت يا په لمانځه يا په خوراک مشغوله سي، نو په دې شيانو سره د هغې اختيار نه باطلېږي، ځکه چي دا شيان د انساني ژوند خاصه او د ايمان يوه حصه ده.

د "خيارِ مجلس" وضاحت

وَلَوْ كَانَتْ قَائِمَةً فَجَلَسَتْ او که ښځه ولاړه وي او [بيا] کښېني فَهِيَ عَلٰى خِيَارِهَا نو هغه پر خپل اختيار [پاته] ده لِأَنَّهُ دَلِيْلُ الْإِقْبَالِ ځکه چي کښېنستل د متوجه کېدلو دليل دى فَإِنَّ الْقُعُوْدَ أَجْمَعُ لِلرَّأْيِ ځکه ناسته د رايي لپاره زيات جمع کونکى دى [يعني په ناستي سره د انسان فکر او ذهن ډېر يو ځاى کېږي] وَكَذَا إِذَا كَانَتْ قَاعِدَةً فَاتَّكَأَتْ أَوْ مُتَّكِئَةً فَقَعَدَتْ او همدارنګه [د ښځي اختيار پاتيږي] کله چي هغه ناسته وي او [بيا] تکيه [ځنګ] ولګوي يا يې تکيه کړي وي او [بيا] کښېني لِأَنَّ هٰذَا انْتِقَالٌ مِنْ جَلْسَةٍ إِلٰى جَلْسَةٍ ځکه چي دا له يوې ناستي [حالت] څخه بلي ناستي [حالت] ته نقل کېدل دي فَلَا يَكُوْنُ إِعْرَاضًا لهذا دا به [دليل د] إعراض نه وي كَمَا إِذَا كَانَتْ مُحْتَبِيَةً فَتَرَبَّعَتْ لکه [هغه صورت چي هم دليل د إعراض نه دى] کله چي ښځه د احتباء په ډول [يعني زنګنونه يې درلوي وي پر کوناټو] ناسته وي او [بيا] چارزانو کښېني قَالَ ﷺ: هٰذَا رِوَايَةُ الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا د جامع صغير روايت دى وَذُكِرَ فِيْ غَيْرِهِ: أَنَّهَا إِذَا كَانَتْ قَاعِدَةً فَاتَّكَأَتْ او له جامع صغير څخه په علاوه [مبسوط] کي دا ذکر سوي دي: چي که ښځه ناسته وي او [بيا] هغه تکيه ولګوي لَا خِيَارَ لَهَا نو هغې له به اختيار نه وي لِأَنَّ الْاِتِّكَاءَ إِظْهَارُ التَّهَاوُنِ بِالْأَمْرِ ځکه چي تکيه لګول د أمر باليد د

سپکاوي [او لا پرواهي] څرګندول دي فَكَانَ إِعْرَاضًا نو دا به هم [دليل د] إعراض وي وَالْأَوَّلُ هُوَ الْأَصَحُّ [لېكن] اول قول زيات صحيح دی وَلَوْ كَانَتْ قَاعِدَةً فَاضْطَجَعَتْ او كه ښځه ناسته وي او [بيا] پر اړخ پرېوځي فَفِيهِ رِوَايَتَانِ عَنْ أَبِي يُوسُفَ نو په دې كي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي وَلَوْ قَالَتْ: ادْعُوا لِي أَسْتَشِيرُهُ أَوْ شُهُودًا أُشْهِدُهُمْ او كه ښځه ووايي: چي زه پلار راغواړم مشوره ورسره كوم يا ګواهان [را غواړم] هغوی ګواهان جوړوم فَهِيَ عَلَى خِيَارِهَا نو هغه به پر خپل اختيار [پاته] وي لِأَنَّ الِاسْتِشَارَةَ لِتَحَرِّي الصَّوَابِ ځكه چي مشوره اخيستل د صحيح [او غوره] رايي د لټون [او معلومولو] لپاره وي وَالْإِشْهَادَ لِلتَّحَرُّزِ عَنِ الْإِنْكَارِ او ګواه جوړول له انكار څخه د ځان ساتلو لپاره وي فَلَا يَكُونُ دَلِيلَ الْإِعْرَاضِ نو ځكه به دا د إعراض دليل نه وي وَإِنْ كَانَتْ تَسِيرُ عَلَى دَابَّةٍ أَوْ فِي مَحْمَلٍ فَوَقَفَتْ او كه ښځه پر يو سورلي يا په كجاوه كي روانه وي او [بيا] سورلي ودرېږي فَهِيَ عَلَى خِيَارِهَا نو [هم] هغه پر خپل اختيار [پاته] ده وَإِنْ سَارَتْ بَطَلَ خِيَارُهَا او كه سورلي روانه سي نو د هغې خيار باطلېږي لِأَنَّ سَيْرَ الدَّابَّةِ وَوُقُوفَهَا مُضَافٌ إِلَيْهَا ځكه چي د سورلۍ روانېدل او د هغه درېدل د ښځي و طرف ته منسوب دي وَالسَّفِينَةُ بِمَنْزِلَةِ الْبَيْتِ او كښتۍ د كور په څېر ده لِأَنَّ سَيْرَهَا غَيْرُ مُضَافٍ إِلَى رَاكِبِهَا ځكه چي د كښتۍ روانېدل د سپور كس و طرف ته منسوب نه دي أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَا يَقْدِرُ عَلَى إِيقَافِهَا آيا نه ګوري! چي [د كښتۍ] سپور د كښتۍ پر درولو قدرت نه لري وَرَاكِبُ الدَّابَّةِ يَقْدِرُ او پر سورلۍ سپور [د دې] قدرت لري.

اللغات: ﴿إِقْبَال﴾ د افعال مصدر دی: متوجه كېدل، مخ ور اړول، ﴿مُحْتَبِيَة﴾ د افتعال مؤنث اسم فاعل دی، إِحْتِبَاء هغه ناستي ته وايي چي انسان پر كوناټو كښېني او دواړي پښې ودروي او لاسونه پر را وګرځوي (لكه دژور فكر او سوچ په وخت كي چي څرنګه خلك كښېني)، ﴿تَحَرِّي﴾ د تفعل مصدر دی: طلب الأحرٰى: د غوره شي لټون كول، تلاش او طلب كول، غور او فكر كول، ﴿صَوَاب﴾ صحيح والی، دراستي، راستي، ﴿مَحْمَل﴾ كجاوه، ﴿سَفِينَة﴾ كښتۍ (سمندري جهاز)، ﴿إِيقَاف﴾ د افعال مصدر دی: روان شی درول (راګرځول).

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی كه يو سړی خپلي ښځي ته په أَمْرُكِ بِيَدِكِ يا داسي نورو الفاظو سره د طلاق اختيار وركړي، او په كوم وخت كي چي اختيار وركړي، په هغه وخت كي ښځه ولاړه وي، او تر هغه وروسته كښېني، نو په دې سره د ښځي اختيار نه ختمېږي، دليل دا دی چي كښېنستل د متوجه كېدلو دليل

دی، ځکه چې د ناستې په حالت کې دیو شي په هکله غور او فکر کول دولاړې په نسبت بهتره او غوره دی، همدارنګه که ښځه ناسته وي، او تر اختیار ملاوېدلو (حاصلېدلو) وروسته تکیه ولګوي او ځنګ ووهي، یا یې ځنګ وهلی وي او تر اختیار وروسته کښېني، نو په دې صورتونو کې هم د هغې اختیار نه ختمیږي؛ دلیل دا دی چې له یوه حالت څخه بل حالت ته نقل کېدل د إعراض دلیل نه دی، او دا صورتونه داسې دي لکه ښځې چې د اختیار په وخت کې دواړه زنګنونه درولي وي (پر کوناتو) ناسته وي، او تر اختیار وروسته چارزانو کښېني، نو په دې سره د ښځې اختیار نه ختمیږي، لهذا په دغه مذکوره صورتونو کې به هم د هغې اختیار نه ختمیږي.

قال ﷫ إلخ: فرمايي چې له یوه حالت څخه و بل حالت ته د انتقال په باره کې چې کوم حکم بیان سو، هغه د جامع صغیر روایت دی، لېکن د مبسوط روایت دا دی چې که د اختیار په وخت کې ښځه ناسته وي، او تر اختیار وروسته ځنګ او تکیه ولګوي، نو د هغې اختیار باطلیږي، ځکه چې تکیه او ځنګ لګول د "اختیار" وطرف ته د توجه او التفات نه کولو دلیل دی، نو ځکه به تکیه او ځنګ لګول هم إعراض شمارل کیږي. لېکن زیات صحیح او معتبر د جامع صغیر روایت دی.

ولو كانت قاعدة إلخ: او که ښځه د اختیار په وخت کې ناسته وي، بیا تر اختیار وروسته پرېوځي، نو په دې باره کې له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه دي: ① حسن بن زیاد له هغه څخه دا روایت نقل کړی چې په دې صورت کې هم د ښځې اختیار نه باطلیږي، ② و حسن بن أبي مالک دا روایت نقل کړی دی چې د هغې اختیار باطلیږي، او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول هم دی.

ولو قالت إلخ: مسئله دا ده که د خاوند تر اختیار ورکولو وروسته ښځه ووايي چې زه خپل پلار راغواړم مشوره ور سره کوم یا څو کسان راولم ګواهان یې جوړوم (یا ته زما پلار را وغواړه! چې مشوره ور سره وکړم، یا ګواهان حاضر کړه!) نو په دې صورت کې هم د هغې اختیار نه باطلیږي، ځکه چې مشوره د صحیح او غوره رایې د معلوملو لپاره کیږي، او ګواهان ځکه درول کیږي چې خاوند بیا انکار ونه کړي، لهذا دا هم د څه إعراض دلیل نه دی.

او که ښځه پر یو سورلۍ سپره وي روانه وي (مثلاً په آس... یا موټر کې سپره وي)، او تر اختیار ورکولو وروسته سورلۍ ودروي، نو تر څو چې هغه ولاړه وي، د هغې اختیار به پاته وي، لېکن کله چې هم روانه سي نو د هغې اختیار ختمیږي؛ ځکه چې د سورلۍ درول او روانول د سپاره کس (ښځې) وطرف ته منسوب کیږي، او د ښځې په روانېدلو او تللو سره اختیار باطلیږي، نو د سورلۍ په روانولو سره به هم باطلیږي.

والسفينة إلخ: فرمايي چې کښتۍ د کور په حکم کې ده، یعني که کښتۍ روانه سي، نو د هغې اختیار نه باطلیږي، ځکه چې د کښتۍ روانېدل د سپاره کس وطرف ته نه منسوب کیږي، همدا وجه ده چې په کښتۍ کې هر سپور کس نه کښتۍ چلولی سي، او نه یې درولی سي، لېکن د سورلۍ پر درولو او رانولو سپور کس قادر وي، نو ځکه به د کښتۍ په روانېدلو سره اختیار نه ختمیږي.

د "طَلِّقِيْ نَفْسَكِ" بحث

وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهٖ: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ او كوم څوک چي خپلي ښځي ته ووايي: ته خپل ځان ته طلاق وركړه! وَلَانِيَّةَ لَهٗ أَوْ نَوٰى وَاحِدَةً او د هغه كس هيڅ نه وي يا يې ديوه [طلاق] نيت كړى وي فَقَالَتْ: طَلَّقْتُ نَفْسِيْ نو ښځه ووايي: ما خپل ځان ته طلاق وركړى فَهِيَ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ نو دا يو رجعي طلاق دى وَإِنْ طَلَّقَتْ نَفْسَهَا ثَلَاثًا او كه ښځه خپل ځان ته درې طلاقه وركړي وَقَدْ أَرَادَ الزَّوْجُ ذٰلِكَ او خاوند [هم] د دې اراده كړې وي وَقَعْنَ عَلَيْهَا نو درې سره [طلاقونه] پر ښځي واقع كيږي وَهٰذَا لِأَنَّ قَوْلَهٗ طَلِّقِيْ مَعْنَاهُ: اِفْعَلِيْ فِعْلَ التَّطْلِيْقِ ځكه چي د خاوند د دې قول طَلِّقِيْ معنىٰ ده: اِفْعَلِيْ فِعْلَ الطَّلَاقِ اد طلاق كار وكړه] وَهُوَ اسْمُ جِنْسٍ او طلاق [مصدر] اسم جنس دى فَيَقَعُ عَلَى الْأَدْنٰى مَعَ احْتِمَالِ الْكُلِّ كَسَائِرِ أَسْمَاءِ الْأَجْنَاسِ نو د نورو اسماء جنس په څير هغه [لفظ د طلاق] هم د كُل [ثَلَاث] د احتمال سره پر ادنى [وَاحِدَة] واقع كيږي فَلِهٰذَا تَعْمَلُ فِيْهِ نِيَّةُ الثَّلَاثِ او له همدې وجهي به په هغه كي د دريو [طلاقو] نيت عمل [أثر] كوي وَيَنْصَرِفُ إِلَى الْوَاحِدَةِ عِنْدَ عَدَمِهَا او د نيت د نشتوالي په وخت كي به د يوه [طلاق] وطرف ته راجع كيږي وَتَكُوْنُ الْوَاحِدَةُ رَجْعِيَّةً او [هغه] يو [طلاق] به رجعي وي لِأَنَّ الْمُفَوَّضَ إِلَيْهَا صَرِيْحُ الطَّلَاقِ ځكه چي سپارل سوى و ښځي ته صريح طلاق دى وَهُوَ رَجْعِيٌّ او هغه رجعي [طلاق] دى لَوْ نَوَى الثِّنْتَيْنِ او كه هغه په دې سره د دوو [طلاقو] نيت وكړي لَا يَصِحُّ نو نه صحيح كيږي لِأَنَّهٗ نِيَّةُ الْعَدَدِ ځكه چي دا د عدد [شمېر] نيت دى إِلَّا إِذَا كَانَتِ الْمَنْكُوْحَةُ أَمَةً خو دا چي [د هغه] منكوحه ښځه مينځه وي لِأَنَّهٗ جِنْسٌ فِيْ حَقِّهَا ځكه چي دوه [طلاقه] د مينځي په حق كي جنس [فردِ حكمي] دى.

اللغات: ﴿سَائِر﴾ ټوله. ﴿مُفَوَّض﴾ د تفعيل اسم مفعول دى: سپارل سوى شى.

تشريح : صورت د مسئلې : دا دی که خاوند خپلي ښځي ته طَلِّقِيْ نَفْسَكِ ووايي او په دې سره هيڅ نيت نه وکړي، يا ديوه طلاق نيت وکړي، بيا ښځه په جواب کي طَلَّقْتُ نَفْسِيْ ووايي، نو يو طلاق رجعي واقع کيږي، او که ښځه پر خپل ځان درې طلاقه واقع کړي او خاوند هم د دريو طلاقو نيت کړی وي، نو بيا پر هغې درې طلاقه واقع کيږي، د دې دواړو صورتونو دليل دا دی چي خاوند دا قول طَلِّقِيْ (يعني دامر صيغه) مصدر لره متضمن ده او د خاوند د کلام معنیٰ دا ده: اِفْعَلِيْ فِعْلَ الطَّلَاق. او تاسو ته معلومه ده چي مصدر اسمِ جنس دی، لهذا څرنګه چي په نورو اسماء اجناسو کي د فرد حقيقي او فردِ حکمي دواړو احتمال وي، همداسي به دلته هم د فرد حقيقي (يوه طلاق) او فردِ حکمي (دريو طلاقو) دواړو احتمال وي، که چيري خاوند نيت کړی نه وي، نو په دې صورت کي به فردِ حقيقي يعني يو طلاق واقع کيږي، او هغه به هم رجعي وي، ځکه چي ښځي ته د طَلِّقِيْ په ذريعه طلاق سپارل سوی دی کوم چي له صريحو الفاظو څخه دی، او په صريحو الفاظو سره طلاق رجعي واقع کيږي، او که خاوند د دريو طلاقو نيت کړی وي، نو بيا به فردِ حکمي يعني درې طلاقه واقع کيږي، او څرنګه چي په دې (طَلِّقِيْ) کي د فردِ حکمي احتمال هم سته، نو ځکه به د دريو نيت کول هم صحيح او مؤثر (اغېزمن) وي.

ولونوى الثنتين إلخ: او که خاوند په دې سره د دوو طلاقو نيت وکړي، نو د هغه نيت صحيح نه دی؛ ځکه چي دوه عدد دی، او په مصدر سره د عدد نيت کول او عدد مرادول صحيح نه دي (لکه مخکي چي په دې هکله بحث تېر سو)، لېکن که د هغه ښځه مينځه وي، نو په دې سره د دوو طلاقو نيت کول هم صحيح دي، ځکه چي د نبوي فرمان طَلَاقُ الأَمَةِ ثِنْتَيْن په وجه دوه طلاقه د مينځي په حق کي جنس يعني فردِ حکمي دي، او په مصدر سره د فردِ حکمي نيت کول صحيح دی (کما في الزوجة الحرُّ).

د "مشيت" په جواب کي د ښځي له طرفه ځيني ويل سوي الفاظ

وَإِنْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَكِ او که [خاوند] ښځي ته ووايي: ته خپل ځان ته طلاق ورکړه قَالَتْ: أَبَنْتُ نَفْسِي او ښځه ووايي: ما خپل ځان بائنه کړی طُلِّقَتْ نو هغه مطلقه ګرځي وَلَوْ قَالَتْ: قَدِ اخْتَرْتُ نَفْسِي او که ښځه ووايي: ما خپل ځان اختيار کړی لَمْ تَطْلُقْ نو هغه طلاقيږي لِأَنَّ الْإِبَانَةَ مِنْ أَلْفَاظِ الطَّلَاقِ ځکه چي إبانت [بائنه کول] د طلاقو له الفاظو څخه دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: أَبَنْتُكِ يَنْوِي بِهِ

الطَّلَاقَ آيا ته نه ګورې! چې که خاوند د طلاق په نيت خپلې ښځې ته ووايي: ما ته بائنه کړې أَوْ قَالَتْ: أَبَنْتُ نَفْسِي يا ښځه ووايي: ما خپل ځان بائنه کړی فَقَالَ الزَّوْجُ: قَدْ أَجَزْتُ ذٰلِكَ او خاوند [ورته] ووايي: ما د دې اجازه درکړه [يعني زما له طرفه اجازه ده] بَانَتْ نو ښځه بائنه کيږي فَكَانَتْ مُوَافَقَةً لِلتَّفْوِيضِ فِي الْأَصْلِ لهذا إبانت [بائنه کول] په أصل طلاق کې د تفويض مواق سو إِلَّا أَنَّهَا زَادَتْ فِيهِ وَصْفًا ليکن ښځې په دې کې يو وصف زيات کړی وَهُوَ تَعْجِيلُ الْإِبَانَةِ او هغه [وصف] په إبانت کې تلوار کول دي فَيَلْغُو الْوَصْفُ الزَّائِدُ وَيَثْبُتُ الْأَصْلُ لهذا زائد [اضافي] وصف به لغو کيږي او أصل [طلاق] به ثابتيږي كَمَا إِذَا قَالَتْ: طَلَّقْتُ نَفْسِي تَطْلِيقَةً بَائِنَةً لکه په هغه صورت کې چې [يو طلاق واقع کيږي] کله چې ښځه ووايي: ما خپل ځان ته يو بائن طلاق ورکړی وَيَنْبَغِي أَنْ تَقَعَ تَطْلِيقَةٌ رَجْعِيَّةٌ او مناسب دا ده چې طلاق رجعي واقع سي بِخِلَافِ الِاخْتِيَارِ لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَلْفَاظِ الطَّلَاقِ په خلاف د اختيار، ځکه چې هغه د طلاق له الفاظو څخه نه دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: اخْتَرْتُكِ أَوِ اخْتَارِي يَنْوِي الطَّلَاقَ آيا نه ګورې که خاوند د طلاق په نيت سره خپلې ښځې ته ووايي: ما ته اختيار کړې [اما ته مختاره کړې]، يا ته [يې] اختيار کړه لَمْ يَقَعْ نو [هيڅ طلاق] نه واقع کيږي وَلَوْ قَالَتْ ابْتِدَاءً: اخْتَرْتُ نَفْسِي او که ښځه ابتداءً ووايي [يعني ښځه اول په کلام شروع وکړي او ووايي]: ما خپل ځان اختيار کړی او خاوند [ورته] ووايي: ما اجازه درکړې ده لَا يَقَعُ شَيْءٌ نو هيڅ شی نه واقع کيږي إِلَّا أَنَّهُ عُرِفَ طَلَاقًا بِالْإِجْمَاعِ إِذَا حَصَلَ جَوَابًا لِلتَّخْيِيرِ خو [د صحابه وو] په اجماع سره دا معلومه سوه چې اختيار [اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ] طلاق دی کله چې د تخيير [اِخْتَارِيْ] په جواب کې واقع سي وَقَوْلُهُ طَلِّقِي نَفْسَكِ لَيْسَ بِتَخْيِيرٍ او د خاوند دا قول: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ تخيير نه دی فَيَلْغُو نو ځکه به لغو کيږي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ لَا يَقَعُ شَيْءٌ بِقَوْلِهَا: أَبَنْتُ نَفْسِي او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې د ښځې په دې قول: أَبَنْتُ نَفْسِيْ سره هيڅ شی نه واقع کيږي لِأَنَّهَا أَتَتْ بِغَيْرِ مَا فَوَّضَ إِلَيْهَا ځکه چې [دلته] ښځې د هغه شي په غير [علاوه] سره راتګ وکړی کوم چې خاوند هغې ته سپارل سوی دی [يعني خاوند چې کوم طلاق رجعي ښځې ته سپارلی وو، ښځې له هغه څخه بغير بل شی يعني طلاق بائن اختيار کړی] إِذِ الْإِبَانَةُ تُغَايِرُ الطَّلَاقَ ځکه چې إبانت د طلاق مغاير دی [او له طلاق څخه بېل او عليحده دی].

اللغات: ﴿أَبَنْتُ﴾ د افعال له باب څخه د واحد متکلم ماضي صیغه ده: بائنه کول، جلا کول. ﴿أَجَزْتُ﴾ د افعال له باب څخه مخکنۍ صیغه ده: اجازه ورکول، جائز ګرځول. ﴿تَخْيِير﴾ د تفعیل مصدر دی: اختیار ورکول.

تشریح: په دې عبارت کې د "مشیت" په هکله بحث کیږي.

صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته طَلِّقِيْ نَفْسَكِ ووایي، او ښځه په جواب کې أَبَنْتُ نَفْسِيْ ورته ووایي، نو په دې صورت کې پر ښځې یو طلاق رجعي واقع کیږي. او که ښځه په جواب کې اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ ورته ووایي، نو طلاق نه واقع کیږي، د دې دواړو په مینځ کې وجه د فرق دا ده چې إبانت د طلاق له الفاظو څخه یو لفظ دی، همدا وجه ده که خاوند ښځې ته د طلاق په نیت أَبَنْتُكِ ووایي، یا ښځه أَبَنْتُ نَفْسِيْ ووایي، او خاوند په جواب کې أَجَزْتُ ذٰلِکَ ورته ووایي، نو په دې سره ښځه بائنه ګرځي، نو معلومه سوه چې د إبانت لفظ د طلاق له الفاظو څخه دی، لهذا د ښځې کلام أَبَنْتُ نَفْسِيْ د خاوند د کلام طَلِّقِيْ نَفْسَكِ سره په اصل طلاق کې موافق سو، خو ښځې په خپل جواب کې یو زائد وصف یعني بینونت هم اضافه کړی، نو اصل طلاق (طلاقِ رجعي) به ثابتیږي. او زائد وصف به لغو کیږي، او دا صورت داسې دی لکه ښځه چې د طَلِّقِيْ نَفْسَكِ په جواب کې طَلَّقْتُ نَفْسِيْ تَطْلِيْقَةً بَائِنَةً ووایي، نو په دې صورت کې هم طلاقِ رجعي واقع کیږي (ځکه چې په أصل کې خو د ښځې جواب د خاوند د کلام سره موافق دی، مګر په وصف کې مخالف دی، لهذا أصل به اخیستل کیږي او وصف به د ښځې پر مخ وهل کیږي).

بِخلاف الاختیار إلخ: په خلاف د اختیار، ځکه چې لفظ د اختیار د طلاق له الفاظو څخه نه دی. همدا وجه ده که خاوند خپلې ښځې ته د طلاق په نیت اِخْتَرْتُكِ یا اِخْتَارِيْ ووایي، یا ښځه ابتداءً اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ ووایي، او خاوند په جواب کې أَجَزْتُ ورته ووایي، نو په دې ټولو صورتونو کې طلاق نه واقع کیږي، ځکه د اختیار لفظ د صحابه وو په اجماع سره خلافُ القیاس هغه وخت طلاق ګرځي کله چې د تخییر په جواب کې واقع سي، یعني خاوند اِخْتَارِيْ ورته ووایي، او ښځه په جواب کې اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ ووایي، او څرنګه چې دلته د خاوند دا قول طَلِّقِيْ نَفْسَكِ د تخییر له قبیلې څخه نه دی، نو د خاوند د کلام (طَلِّقِيْ نَفْسَكِ) سره به د نه موافق کېدلو په وجه د ښځې کلام (اِخْتَرْتُ نَفْسِيْ) لغو کیږي.

ومن أبي حنيفة إلخ: او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه په دې سلسله کي دا نقل سوي دي چي که د طَلِّقِيْ نَفْسَکِ په جواب کي ښځه اَبَنْتُ نَفْسِيْ ووايي، نو په دې سره هم طلاق نه واقع کيږي. ځکه په دې صورت کي هم د ښځي کلام د خاوند د کلام سره نه موافق کيږي، ځکه چي د خاوند ورسپارلی طلاق دی، او ښځي واقع کړی ابانت دی، او ښکاره خبره ده چي إبانت د طلاق مغاير دی. ځکه چي إبانت د طلاق د لفظ څخه بغير هم واقع کېدای سي، لهذا د خاوند او ښځي په کلام کي د مطابقت نه راتلو په وجه به د ښځي کلام لغو کيږي، او پر ښځي به هيڅ طلاق نه واقع کيږي.

له "مشيت" څخه وروسته د رجوع کولو بيان

وَإِنْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ او که [خاوند] ښځي ته ووايي: خپل ځان ته طلاق ورکړه [يعني د طلاق کار ښځي ته وسپاري] **فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَرْجِعَ عَنْهُ** نو خاوند ته دا حق نسته چي له هغه څخه رجوع وکړي **لِأَنَّ فِيهِ مَعْنَى الْيَمِيْنِ** ځکه چي په دې [سپارلو] کي د يمين معنیٰ سته **لِأَنَّهُ تَعْلِيْقُ الطَّلَاقِ بِتَطْلِيْقِهَا** ځکه چي دا د ښځي پر طلاق ورکولو طلاق معلق کول دي **وَالْيَمِيْنُ تَصَرُّفٌ لَازِمٌ** او يمين يو لازمي تصرّف دی **وَلَوْ قَامَتْ عَنْ مَجْلِسِهَا** او که [په دې صورت کي] ښځه له مجلس څخه ولاړه سي **بَطَلَ** نو [مشيت] باطليږي **لِأَنَّهُ تَمْلِيْكٌ** ځکه چي دا تمليک دی **بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ لَهَا: طَلِّقِيْ ضَرَّتَكِ** په خلاف د هغه صورت کله چي [خاوند] ښځي ته [داسي] ووايي چي: ته خپل بَنْ ته طلاق ورکړه **لِأَنَّهُ تَوْكِيْلٌ وَإِنَابَةٌ** ځکه چي دا وکيل او نائب جوړول دي **فَلَا يَقْتَصِرُ عَلَى الْمَجْلِسِ** نو ځکه به پر مجلس نه منحصر کيږي **وَيَقْبَلُ الرُّجُوْعَ** او رجوع به [هم] قبلوي.

اللغات: ﴿ضَرَّة﴾ بَنْ (د يوه سړي دوې ښځي يوه د بلي بَن ده)، ﴿إِنَابَة﴾ د افعال مصدر دی: نائب جوړول (قائم مقام کول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته طَلِّقِيْ نَفْسِکِ ووايي او د ښځي پر خوښه او مشيت طلاق موقوف کړي، نو اوس خاوند لره دا حق نسته چي له خپل قول څخه رجوع وکړي؛ دليل دا دی چي خاوند د طلاق کار ښځي ته سپارلی دی يعني په طَلِّقِيْ نَفْسَکَ سره يې د طلاق وقوع د ښځي پر إيقاع معلق کړې ده او دا د يمين مفهوم او معنیٰ لري، او يمين لازمي او ضروري تصرف دی چي نه له هغه څخه خلاصون سته او نه په هغه کي د رجعت گنجائش سته. لهذا دلته به هم خاوند لره د رجوع کولو حق او اختيار نه وي.

ولوقامت إلخ: فرمايي که د خاوند د طَلِّقِيْ نَفْسَكِ تر ويلو وروسته ښځه له مجلس څخه ولاړه سي او هيڅ جواب نه ورکړي، نو د خاوند له طرفه ورکول سوی مشيت باطليږي؛ ځکه چي دا تمليک دی، او تمليکات پر مجلس موقوف او منحصر کيږي، لهذا دلته به هم مشيت پر مجلس منحصر وي، او د ولاړېدلو او تللو په وجه به سمدستي مشيت او اختيار باطليږي.

د دې په خلاف که خاوند ښځي ته داسي ووايي چي: ته خپل ځان ته طلاق ورکړه، او تر جواب ورکولو مخکي ښځه له مجلس څخه ولاړه سي، نو په دې سره د ښځي مشيت نه باطليږي؛ ځکه چي په دې صورت کي وبل چا ته د طلاق ورکولو معامله ده کوم چي د توکيل او إنابت څخه عبارت ده (يعني دلته خاوند خپله يوه ښځه بلي ښځي ته د طلاق ورکولو وکيله او نائبه جوړې کړې ده)، او توکيل يا إنابت پر مجلس نه موقوف کيږي، بلکي په ما وراء د مجلس کي هم د هغه أثر قائم او باقي وي، او بيا دا له هغه أُمورو څخه دی کوم چي رجعت هم قبلوي، نو ځکه به د مجلس څخه تر ولاړېدلو وروسته د ښځي وکالت او نيابت هم پاتيږي، او خاوند لره به دا حق هم حاصل وي چي له خپل قول څخه رجوع وکړي.

د "مشيت" يو څو صورتونه

وَإِنْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَكِ مَتٰى شِئْتِ او که [خاوند] ښځي ته وايي: کله چي ته وغواړې نو خپل ځان ته طلاق ورکړه. فَلَهَا أَنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا فِي الْمَجْلِسِ وَبَعْدَهُ نو ښځي لره [دا] اختيار سته چي په مجلس کي [دننه] او تر مجلس وروسته [په دواړو ځايو کي] خپل ځان ته طلاق ورکړي لِأَنَّ كَلِمَةَ مَتٰى عَامَّةٌ فِي الْأَوْقَاتِ كُلِّهَا ځکه چي کلمه د مَتٰى په ټولو وختونو کي عام ده [يعني ټولو وختونو لره شامل ده] فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: فِي أَيِّ وَقْتٍ شِئْتِ نو داسي سو لکه [خاوند] چي [داسي] ووايي: په کوم وخت کي چي ته وغواړې [ځان ته طلاق ورکړه] وَإِذَا قَالَ لِرَجُلٍ: طَلِّقْ امْرَأَتِيْ او کله چي [خاوند] يو سړي ته ووايي چي: زما ښځي ته طلاق ورکړه فَلَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فِي الْمَجْلِسِ وَبَعْدَهُ نو هغه سړي لپاره په مجلس کي او تر مجلس وروسته [په دواړو ځايو کي] د طلاق ورکولو اختيار سته وَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ او خاوند لره دا اختيار [هم] سته چي [د خپل قول څخه] رجوع وکړي لِأَنَّهُ تَوْكِيْلٌ وَاسْتِعَانَةٌ ځکه چي دا وکيل جوړول او د مدد طلب کول [مرسته اخيستل] دي فَلَا يَلْزَمُ وَلَا يَقْتَصِرُ عَلَى الْمَجْلِسِ لهذا نه به لازميږي او نه به پر مجلس منحصر کيږي بِخِلَافِ قَوْلِهِ لِامْرَأَتِهِ: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ په خلاف د خاوند د دې قول وخپلي ښځي

ته: خپل ځان ته طلاق ورکړه لِأَنَّهَا عَامِلَةٌ لِنَفْسِهَا ځکه چي [په دې صورت کي] ښځه د خپل ځان لپاره عمل کونکې ده فَكَانَ تَمْلِيكًا لَا تَوْكِيلًا نو دا به تمليک وي، نه توکيل وَلَوْ قَالَ لِرَجُلٍ: طَلِّقْهَا إِنْ شِئْتَ او که [خاوند] يو سړي ته ووايي: که ته وغواړې نو [زما] ښځي ته طلاق ورکړه فَلَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فِي الْمَجْلِسِ خَاصَّةً نو هغه سړي لپاره خاص په مجلس کي طلاق ورکول جائز دي وَلَيْسَ لِلزَّوْجِ أَنْ يَرْجِعَ او [په دې صورت کي] خاوند لره [د خپل قول څخه] د رجوع کولو حق نسته وَقَالَ زُفَرُ: هٰذَا وَالْأَوَّلُ سَوَاءٌ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا او اول صورت [دواړه] سره برابر دي لِأَنَّ التَّصْرِيحَ بِالْمَشِيئَةِ كَعَدَمِهِ ځکه چي [دلته] د مشيت صراحت کول د صراحت نه کولو په څير دی [يعني مشيت ذکر او نه ذکر کول دواړه سره برابر دي] لِأَنَّهُ يَتَصَرَّفُ عَنْ مَشِيئَتِهِ ځکه چي انسان په خپل مشيت [خوښه] سره تصرف کوي فَصَارَ كَالْوَكِيلِ بِالْبَيْعِ نو د بيع دوکيل په څير سو إِذَا قِيلَ لَهُ: بِعْهُ إِنْ شِئْتَ کله چي هغه ته وويل سي: که ته وغواړې [او ستا خوښه وي] نو دا [شی] خرڅ کړه! وَلَنَا أَنَّهُ تَمْلِيكٌ او زموږ دليل دا دی: چي [د خاوند] دا قول تمليک دی لِأَنَّهُ عَلَّقَهُ بِالْمَشِيئَةِ ځکه چي خاوند دغه قول پر مشيت معلق کړی دی وَالْمَالِكُ هُوَ الَّذِي يَتَصَرَّفُ عَنْ مَشِيئَتِهِ او مالک هغه دی کوم چي په خپل مشيت [خوښه] سره تصرف کوي وَالطَّلَاقُ يَحْتَمِلُ التَّعْلِيقَ او طلاق د تعليق احتمال لري بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بيع لِأَنَّهُ لَا يَحْتَمِلُهُ ځکه چي بيع د تعلق احتمال نه لري.

اللغات: ﴿إِسْتِعَانَةٌ﴾ د استفعال مصدر دی: مرسته غوښتل، د مدد طلب کول، مرسته اخيستل، ﴿تَصْرِيحٌ﴾ د تفعيل مصدر دی: په وضاحت سره ذکر کول، ﴿بِعْ﴾ د ضرب له باب څخه د أمر صيغه ده: خرڅول، بيع کول.

تشريح: په دې عبارت کي د "مشيت" په هکله څو مسئلې بيان سوي دي، چي هغه به انشاء الله په ترتيب سره ستاسو په مخ کي ذکر سي: (۱)... اوله مسئله دا ده که خاوند خپلې ښځي ته ووايي: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ مَتَى شِئْتِ (کله چي ستا خوښه سي ځان ته طلاق ورکړه)، نو ښځي لره دا اختيار سته چي په دغه مجلس کي ځان ته طلاق ورکړي، يا تر مجلس وروسته ځان ته طلاق ورکړي؛ دليل دا دی چي کلمه د مَتَى عام، ټولو اوقاتو ته شامل او داخل ده، لهذا دا جمله داسي سوه لکه خاوند چي ښځي ته

ووايي: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ فِيْ وَقْتٍ شَاءَ، نو د عمومُ الوقت په وجه به ښځي ته هر وخت اختيار حاصل وي. که په مجلس کي ځان ته طلاق ورکوي يا تر مجلس وروسته.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که يو خاوند يو سړي ته داسي ووايي: طَلِّقْ اِمْرَأَتِيْ (زما ښځه طلاق کړه)، نو د دې سړي (وکيل) لپاره اختيار دی که په هغه مجلس کي ښځي ته طلاق ورکوي يا تر مجلس وروسته، او خاوند لره د خپل قول څخه رجوع کول هم جائز دي؛ دليل دا دی چي دلته خاوند په طَلِّقْ اِمْرَأَتِيْ سره بل سړی د طلاق ورکولو وکيل جوړ کړی دی، او د طلاق په إيقاع (واقع کولو) کي يې له هغه څخه مدد غوښتی دی، او توکيل نه پر مجلس منحصر کيږي او نه د انسان پر ذمه لازميږي. نو ځکه به وکيل لره اختيار وي که په مجلس کي طلاق ورکوي او که تر مجلس وروسته، او خاوند لره به د رجوع اختيار وي.

د دې په خلاف که خاوند خپلي ښځي ته طَلِّقِيْ نَفْسَكِ ووايي، نو د ښځي دا اختيار د مجلس سره خاص کيږي، او په دې صورت کي خاوند لره د رجوع حق نسته، د دې دواړو په مينځ کي د فرق وجه دا ده چي د خاوند دا قول طَلِّقِيْ نَفْسَكِ تمليک دی، ځکه چي دلته ښځه خپل د ځان لپاره عمل کوي، او وکيل هغه چا ته وايي چي د بل چا لپاره عمل کوي، او مخکي دا خبره ذکر سوه چي د تمليک په صورت کي خاوند لره د رجوع حق او اختيار نه پاتيږي، او دا خبره هم تېره سوه چي تمليک پر مجلس موقوف او منحصر کيږي.

(۳)... دريمه مسئله دا ده که يو خاوند يو سړي ته داسي ووېل: طَلِّقْهَا إِنْ شِئْتَ (زما ښځي ته طلاق ورکړه که چيري ته وغواړې)، نو په داسي صورت کي د دې سړي (وکيل) لپاره فقط په مجلس کي د طلاق ورکولو اختيار سته، نه تر مجلس وروسته، او خاوند لره د خپل قول څخه د رجوع کولو حق هم نسته.

لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي دا قول طَلِّقْهَا إِنْ شِئْتَ او مخکنی قول طَلِّقْ اِمْرَأَتِيْ دواړه په حکم کي برابر دي؛ دليل دا دی چي مشيت (إِنْ شِئْت) صراحتاً ذکر کول او نه ذکر کول دواړه سره برابر دي، ځکه خاوند چي کوم سړی وکيل جوړ کړی دی، ښکاره خبره ده چي هغه د تصرف أهل دی او هغه په خپل مشيت (خوښی) سره تصرف کوي، نو په دې وجه د مشيت ذکر او نه ذکر کول دواړه سره برابر دي، لکه څرنګه چي د بيع په وکالت کي هم د مشيت ذکر کول او نه ذکر کول دواړه برابر دي. يعني که يو څوک بل سړی د يو شي د خرڅولو وکيل جوړ کړي او داسي ورته ووايي: بِعْهُ إِنْ شِئْتَ. نو په دې (بيع) کي د مشيت ذکر کول او نه ذکر کول دواړه برابر دي، همدارنګه په دې کي توکيل د مجلس سره

نه مقيد کيږي، او مؤکل لره د رجوع حق هم حاصليږي، نو همداسي به دلته هم د طلاق ورکولو اختيار د مجلس سره نه مقيد کيږي، او مؤکل يعني خاوند لره به د خپل قول څخه د رجوع کولو اختيار هم حاصل وي.

ولنا الخ: زموږ دليل دا دی چي دويم قول طَلِّقْهَا إِنْ شِئْتَ يو داسي تمليک دی چي په هغه کي د تعليق معنیٰ هم شته، نو د تمليک د معنیٰ په اعتبار سره به دا اختيار د مجلس سره مقيد کيږي. او د تعليق (يمين) د معنیٰ په اعتبار سره به دا تصرف لازميږي، او خاوند لره به د خپل قول څخه د رجوع هيڅ حق او اختيار حاصل نه وي.

والطلاق يحتمل الخ: په دې سره د امام زفر رَحِمَهُ الله د قياس جواب ورکوي، حاصل د جواب دا دی چي طلاق پر بيع قياسول صحيح نه دي، ځکه چي په طلاق کي د تعليق احتمال شته، لېکن په بيع کي د تعليق هيڅ احتمال نشته، لهذا کله چي د تعليق په احتمال کي د طلاق او بيع تر مينځ مغايرت او فرق شته، نو يو پر بل قياسول صحيح نه دي.

د "مشيت" يو څو صورتونه

وَلَوْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَكِ ثَلَاثًا او که [خاوند] ښځي ته ووايي چي: ته خپل ځان ته درې طلاقه ورکړه! فَطَلَّقَتْ وَاحِدَةً [لېکن] هغه [خپل ځان ته] يو طلاق ورکړي فَهِيَ وَاحِدَةٌ نو هغه يو طلاق دی [يعني په دې صورت کي پر ښځي يو طلاق واقع کيږي] لِأَنَّهَا مَلَكَتْ إِيقَاعَ الثَّلَاثِ ځکه چي ښځه د دريو طلاقو د واقع کولو مالکه سوه فَتَمْلِكُ إِيقَاعَ الْوَاحِدَةِ ضَرُورَةً نو په بديهي توګه به د يوه طلاق د واقع کولو [هم] مالکه وي [يعني کله چي د دريو طلاقو مالکه سوه، نو د هغه په ضمن کي به د يوه طلاق هم مالکه وي]

وَلَوْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَكِ وَاحِدَةً او که [خاوند] ښځي ته ووايي: ته خپل ځان ته يو طلاق ورکړه فَطَلَّقَتْ نَفْسَهَا ثَلَاثًا [لېکن] ښځي خپل ځان ته درې طلاقه ورکړي لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❀ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هيڅ شی نه واقع کيږي وَقَالَا: تَقَعُ وَاحِدَةٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي يو طلاق واقع کيږي لِأَنَّهَا أَتَتْ بِمَا مَلَكَتْهُ وَزِيَادَةٍ ځکه چي ښځي د زيات [او اضافي] سره په هغه شي راتک وکړی د کوم چي ښځه مالکه سوه فَصَارَ كَمَا إِذَا طَلَّقَهَا الزَّوْجُ أَلْفًا نو داسي سو

❀ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله (فتح القدير ج:٣، ص:٤٣١)، وكذا في الدر المختار (ج:٢، ص:٥٢٩). [القول الراجح ج:١، ص:٣٢٨]

لکه خاوند چي ښځي ته زر طلاقه ورکړي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهَا أَتَتْ بِغَيْرِ مَا فَوَّضَ إِلَيْهَا د امام صاحب دليل دا دی: چي ښځي په هغه شي راتګ وکړی کوم چي يې هغې ته سپارلی نه دی فَكَانَتْ مُبْتَدِئَةً نو ښځه به [په خپل کلام] شروع کونکې وي [يعني ښځه به ابتداءً خپل ځان ته طلاق ورکونکې وي] وَهَذَا لِأَنَّ الزَّوْجَ مَلَّكَهَا الْوَاحِدَةَ او دا ځکه چي [دلته] خاوند ښځي [فقط] د يوه طلاق مالکه جوړې کړې ده وَالثَّلَاثُ غَيْرُ الْوَاحِدَةِ او درې له يوه څخه بغير [او عليحده] دی لِأَنَّ الثَّلَاثَ اسْمٌ لِعَدَدٍ مُرَكَّبٍ مُجْتَمِعٍ ځکه چي درې د مرکب [او] مجتمع عدد نوم دی وَالْوَاحِدَةُ فَرْدٌ لَا تَرْكِيبَ فِيهِ او يو [عدد] فرد دی چي په هغه کي ترکيب نسته فَكَانَتْ بَيْنَهُمَا مُغَايَرَةٌ عَلَى سَبِيلِ الْمُضَادَّةِ لهذا د يوه او دريو په مينځ کي به د تضاد په توګه مغايرت وي بِخِلَافِ الزَّوْجِ لِأَنَّهُ يَتَصَرَّفُ بِحُكْمِ الْمِلْكِ په خلاف د خاوند، ځکه چي هغه د ملکيت په حکم سره تصرف کوي [يعني ځکه چي هغه د خپل ملکيت په اعتبار سره تصرف کوي] وَكَذَا هِيَ فِي الْمَسْأَلَةِ الْأُولَى او همدارنګه ښځه هم په اوله مسئله کي [د ملکيت په حکم تصرف کونکې ده] لِأَنَّهَا مَلَكَتِ الثَّلَاثَ ځکه چي [هلته] هغه د دريو [طلاقو] مالکه سوه أَمَّا هُهُنَا لَمْ تَمْلِكْ الثَّلَاثَ لېکن دلته هغه د دريو [طلاقو] مالکه نه سوه وَمَا أَتَتْ بِمَا فُوِّضَ إِلَيْهَا او کوم شی چي [دلته] ښځي ته سپارل سوی وو هغه يې نه راوړی [يعني هغه يې پوره نه کړی] فَلَغَا نو ځکه [د هغې تصرف] الغو سو.

اللغات: ﴿إِيقَاع﴾ د افعال مصدر دی: واقع کول، ﴿فُوِّضَ﴾ د تفعيل ماضي مجهوله ده: سپارل. ﴿مَلَّكَ﴾ بل څوک د يو شي مالک جوړول.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... د اولي مسئلې حاصل دا دی چي که خاوند خپلي ښځي ته د دريو طلاقو د إيقاع اختيار ورکړي (طَلِّقِيْ نَفْسَكِ ثَلَاثًا)، او ښځه پر خپل ځان يو طلاق واقع کړي، نو په دې صورت کي يو طلاق واقع کيږي؛ دليل دا دی چي کله ښځه د دريو طلاقو مالکه ده، نو د دريو په ضمن کي به د يوه طلاق هم مالکه وي.

(۲)... دويمه مسئله د اولي مسئلې برعکس ده، حاصل يې دا دی چي که خاوند خپلي ښځي ته د يوه طلاق اختيار ورکړي (طَلِّقِيْ نَفْسَكِ وَاحِدَةً)، او ښځه بيداري وکړي پر خپل ځان درې طلاقه واقع کړي، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هيڅ طلاق نه واقع کيږي، همدا د امام زفر او

امام مالک قول دی، او د صاحبینو په نېز یو طلاق واقع کیږي، همدا د امام شافعي او امام احمد قول دی.

د صاحبینو دلیل: دا دی چې خاوند دا ښځه فقط د یوه طلاق د واقع کولو مالکه جوړه کړې ده. لېکن ښځې د خپل ځان له طرفه پر هغه دوه طلاقه نور اضافه کړل، نو دا اضافه به لغو کیږي. او څرنګه چې ښځه فقط د یوه طلاق مالکه جوړه سوې ده، نو فقط هغه یو طلاق به واقع کیږي. او دا مسئله داسې ده لکه خاوند چې خپلې ښځې ته زره (۱۰۰۰) طلاقه ورکړي، نو په دې صورت کې پر ښځې فقط درې طلاقه واقع کیږي، ځکه چې خاوند فقط د دریو طلاقو مالک دی، او پاته (۹۹۷) طلاقونه به لغو کیږي، صاحب د بنایې او عنایې د دې مسئلې یو بل ښه مثال داسې بیان کړی دی چې دا مسئله داسې ده لکه خاوند چې ښځې ته ووايي: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ، او ښځه خپل ځان ته هم طلاق ورکړي او خپل بَنْ ته هم طلاق ورکړي، نو په دې صورت کې پر ښځې خپل طلاق واقع کیږي، ځکه چې هغه خپل د طلاق مالکه ده، لېکن د هغې پر بَنْ طلاق نه واقع کیږي، ځکه چې هغه د دې مالکه نه ده. نو دغه بل زائد طلاق به لغو کیږي.

د امام صاحب: دلیل دا دی چې خاوند دا ښځه فقط د یوه طلاق مالکه جوړه کړې ده او فقط د یوه طلاق اختیار یې ورکړی دی، مګر ښځې د هغه مخالفت وکړی او له هغه شخصه بغیر یې درې طلاقه پر ځان واقع کړه. او درې له یوه شخصه بغیر او علیحده دي، ځکه چې درې داسې عدد ته ویل کیږي کوم چې مرکب او مجتمع وي، د دې په خلاف واحد فرد دی، په هغه کې د ترکیب هیڅ احتمال نسته. نو دیوه او دریو په مینځ کې تضاد دی، ځکه چې یو غیر مرکب دی او درې مرکب دی. لهذا کله چې ښځې د خاوند مخالفت وکړی او د یوه طلاق غیر یې پر ځان واقع کړی، نو هغه ابتداءً (له نوي سره) خپل ځان ته طلاق ورکونکې سوه، او ښځه چې کله ابتداءً خپل ځان ته طلاق ورکړي نو پر ښځې هیڅ طلاق نه واقع کیږي، مګر دا چې کله خاوند اجازت ورکړي.

بخلاف الزوج إلخ: په دې سره د صاحبینو د قیاس جواب ورکوي، فرمايي چې د دې په خلاف که خاوند خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړي، نو درې واقع کیږي، ځکه چې خاوند د دریو طلاقو مالک دی، لهذا د شومره عدد چې خاوند مالک وي، په هغومره عدد کې به د هغه تصرف صحیح او معتبر وي، او دلته (په دغه پورتني صورت کې) خو ښځه مالکه نه ده، او بیا هم هغې د دریو عدد (درې طلاقه) اختیار کړي دي، نو د هغې تصرف به څرنګه صحیح سي!؟ لهذا د هغې تصرف به لغو وي. خو څرنګه چې په اوله مسئله کې خاوند په طَلِّقِيْ نَفْسَكِ ثَلَاثًا سره ښځه د دریو طلاقو مالکه جوړه کړې ده، نو ځکه به هلته په دریو طلاقو کې هم د هغې تصرف صحیح وي، او په یوه طلاق کې به هم صحیح وي، لکه په دغه صورت کې چې پر هغې یو طلاق واقع سوی دی.

د طلاق په وصف کې د خاوند مخالفت کول

وَإِنْ أَمَرَهَا بِطَلَاقٍ يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ او که [خاوند] ښځې ته د داسې طلاق حکم وکړي چې [په هغه کې خاوند] د رجعت ملکيت لري فَطَلَّقَتْ بَائِنَةً او ښځه [خپل ځان ته] طلاق بائن ورکړي أَوْ أَمَرَهَا بِالْبَائِنِ فَطَلَّقَتْ رَجْعِيَّةً يا [خاوند] هغې ته د طلاقِ بائن حکم وکړي او ښځه [خپل ځان ته] طلاقِ رجعي ورکړي وَقَعَ مَا أَمَرَ بِهِ الزَّوْجُ نو [په دې دواړو صورتونو کې] هغه طلاق واقع کيږي د کوم [طلاق] چې خاوند حکم کړی وي فَمَعْنَى الْأَوَّلِ أَنْ يَقُولَ لَهَا الزَّوْجُ: طَلِّقِي نَفْسَكِ وَاحِدَةً أَمْلِكُ الرَّجْعَةَ نو د اول صورت مطلب دا دی چې خاوند ښځې ته [داسې] ووايي: ته خپل ځان ته يو داسې طلاق ورکړه! چې [په هغه کې] زه د رجعت مالک يم فَتَقُولُ: طَلَّقْتُ نَفْسِي وَاحِدَةً بَائِنَةً او ښځه [په جواب کې] ووايي: ما خپل ځان ته يو طلاقِ بائن ورکړی فَتَقَعُ رَجْعِيَّةً نو [په دغه صورت کې] يو طلاقِ رجعي واقع کيږي لِأَنَّهَا أَتَتْ بِالْأَصْلِ وَزِيَادَةِ وَصْفٍ ځکه چې [دلته] ښځې په أصل او د وصف په زياتوب [دواړو] سره راتګ کړی دی كَمَا ذَكَرْنَا لکه مونږ چې [اوس] ذکر کړه فَيَلْغُو الْوَصْفُ وَيَبْقَى الْأَصْلُ نو ځکه به وصف لغو کيږي او أصل به پاتيږي وَمَعْنَى الثَّانِي أَنْ يَقُولَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَكِ وَاحِدَةً بَائِنَةً او د دويم صورت مطلب دا دی چې [خاوند] ښځې ته [داسې] ووايي: ته خپل ځان ته طلاقِ بائن ورکړه! فَتَقُولُ: طَلَّقْتُ نَفْسِي وَاحِدَةً رَجْعِيَّةً او ښځه [په جواب کې] ووايي: ما خپل ځان ته يو طلاقِ رجعي ورکړی فَتَقَعُ بَائِنَةً نو [په دې صورت کې] طلاقِ بائن واقع کيږي لِأَنَّ قَوْلَهَا: وَاحِدَةً رَجْعِيَّةً لَغْوٌ مِنْهَا ځکه چې د ښځې دا قول: وَاحِدَةً رَجْعِيَّةً د هغې له طرفه يو لغو حرکت دی لِأَنَّ الزَّوْجَ لَمَّا عَيَّنَ صِفَةَ الْمُفَوَّضِ إِلَيْهَا ځکه کله چې خاوند ښځې ته د ورسپارل سوي طلاق وصف متعين کړی فَحَاجَتُهَا بَعْدَ ذَلِكَ إِلَى إِيقَاعِ الْأَصْلِ دُونَ تَعْيِينِ الْوَصْفِ نو تر هغه وروسته د ښځې حاجت د أصل [طلاق] واقع کولو ته دی، نه د وصف متعينولو ته [يعني د خاوند تر تعيين وروسته اوس د ښځې کار أصل طلاق واقع کول دي، نه د وصف متعينول] فَصَارَ كَأَنَّهَا اقْتَصَرَتْ عَلَى الْأَصْلِ نو داسې سو لکه ښځه چې پر أصل [طلاق] اکتفاء وکړي فَيَقَعُ بِالصِّفَةِ الَّتِي عَيَّنَهَا الزَّوْجُ بَائِنًا أَوْ رَجْعِيًّا نو ځکه به [طلاق] په هغه صفت سره واقع کيږي کوم چې خاوند متعين کړی وي [برابره ده] هغه که بائن او که رجعي وي.

اللغات: ﴿عَيَّنَ﴾ د تفعيل ماضي ده: متعينول، ټاکل، معلومول. ﴿اِقْتَصَرَتْ﴾ د افتعال ماضي مجهوله ده: اکتفاء کول.

تشريح: دا عبارت د طلاق په وصف کې د ښځې د مخالفت کولو په هکله دی.

صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته د طلاق رجعي حکم وکړي، او ښځه پر ځان طلاق بائن واقع کړي، يا خاوند ښځې ته د طلاق بائن اختيار ورکړي، او هغه طلاق رجعي واقع کړي (يعني ښځه د طلاق په وصف کې د خاوند مخالفت وکړي)، نو په دې دواړو صورتونو کې هغه طلاق واقع کيږي د کوم طلاق حکم چې خاوند کړی وي.

لمعنیٰ الأول إلخ: صاحب د هدايې د دواړو صورتونو وضاحت کوي فرمايي چې کله خاوند ښځې ته په طَلِّقِيْ نَفْسَكِ وَاحِدَةً رَجْعِيةً سره د طلاق رجعي حکم وکړی، نو د دې معنیٰ او مطلب دا دی چې خاوند داسې ويل غواړي چې "ته پر خپل ځان داسې طلاق واقع کړه! چې په هغه کې ما ته د رجعت حق هم حاصل وي"، او ښکاره خبره ده چې د رجعت حق په طلاق رجعي کې خاوند ته حاصليږي. نو ځکه به په دې صورت کې طلاق رجعي واقع کيږي. او د أصل طلاق يعني د طَلَّقْتُ نَفْسِيْ سره چې ښځې کوم د بائنة وصف اضافه کړی دی، هغه وصف به لغو کيږي.

ومعنیٰ الثانية إلخ: او په دويم صورت کې چې کله خاوند خپلې ښځې ته په طَلِّقِيْ نَفْسَكِ وَاحِدَةً بَائِنَةً سره د يوه طلاق حکم وکړی، نو د دې معنیٰ او مطلب دا دی چې "ته خپل ځان ته داسې طلاق ورکړه! چې سمدستي زما څخه جلا او بائنه سې"، مګر ښځې په وصف کې د خاوند طلاق مخالفت وکړی او طلاق رجعي يې اختيار کړی، نو د هغې دا مخالفت به د هغې پر مخ وهل کيږي او کوم چې د خاوند مراد دی يعني طلاق بائن به واقع کيږي. ځکه کله چې خاوند په اول دويم صورت کې د أصل طلاق سره وصف د طلاق هم متعين کړی دی. نو ښکاره خبره ده چې اوس د ښځې کار فقط طلاق واقع کول دي، نه د وصف متعين کول، نو که سربېره پر دې ښځه په خپله خوښه وصف متعين کړي او د خاوند مخالفت وکړي، نو دا به ګڼل کيږي چې ښځې فقط پر أصل طلاق اکتفاء کړې ده. او داسې يې ويلي دي: طَلَّقْتُ نَفْسِيْ، او څرنګه چې د خاوند له طرفه په دواړو صورتونو کې د طلاق وصف ذکر سوی دی، نو د ښځې طَلَّقْتُ نَفْسِيْ به په هغه (د خاوند په) وصف سره متصف کيږي او په اول صورت کې به طلاق رجعي او په دويم صورت کې به طلاق بائن واقع کيږي.

د طلاق په عدد کي د خاوند مخالفت کول

وَإِنْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَكِ ثَلَاثًا إِنْ شِئْتِ او که [خاوند] ښځي ته ووايي: ته خپل ځان ته درې طلاقه ورکړه! که چيري ته وغواړې [يعني که ستا خوښه وي] فَطَلَّقَتْ نَفْسَهَا وَاحِدَةً [ليکن] ښځه خپل ځان ته يو طلاق ورکړي لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ نو هيڅ شی نه واقع کيږي لِأَنَّ مَعْنَاهُ: إِنْ شِئْتِ الثَّلَاثَ ځکه چي د دې [جملې] معنیٰ ده: که چيري ته درې [طلاقه] وغواړې [يعني که چيري ستا درې سره طلاقه خوښ وي] وَهِيَ بِإِيقَاعِ الْوَاحِدَةِ مَا شَاءَتِ الثَّلَاثَ او ښځي د يوه طلاق په واقع کولو سره درې طلاقه خوښ نه کړل فَلَمْ يُوجَدِ الشَّرْطُ نو شرط موجود نه سو انو ځکه به هيڅ شی هم نه واقع کيږي] وَلَوْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَكِ وَاحِدَةً إِنْ شِئْتِ او که [خاوند] ښځي ته [داسي] ووايي: که چيري ته وغواړې نو خپل ځان ته يو طلاق ورکړه! فَطَلَّقَتْ ثَلَاثًا ليکن هغه [خپل ځان ته] درې طلاقه ورکړي فَكَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو همدارنګه [هيڅ طلاق نه واقع کيږي] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز لِأَنَّ مَشِيئَةَ الثَّلَاثِ لَيْسَتْ بِمَشِيئَةٍ لِلْوَاحِدَةِ ځکه چي د دريو طلاقو غوښتل [خوښول] د يوه طلاق غوښتل نه دي كَإِيقَاعِهَا لکه څرنګه چي د دريو طلاقو واقع کول [يو طلاق واقع کول نه دي] وَقَالَا: تَقَعُ وَاحِدَةٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي يو طلاق واقع کيږي لِأَنَّ مَشِيئَةَ الثَّلَاثِ مَشِيئَةٌ لِلْوَاحِدَةِ ځکه چي د دريو مشيت د يوه مشيت [هم] دی [يعني ځکه چي د دريو طلاقو په خوښولو کي د يوه طلاق خوښول هم سته] لِمَا أَنَّ إِيقَاعَهَا إِيقَاعٌ لِلْوَاحِدَةِ ځکه چي د دريو إيقاع د يوه إيقاع ده [يعني لکه څرنګه چي د دريو طلاقو په واقع کولو کي د يوه طلاق واقع کول سته] فَوُجِدَ الشَّرْطُ لهذا شرط موجود سو.

اللغات: ﴿فَوُجِدَ﴾ د ضرب له باب څخه ماضي مجهوله ده: پيدا کيدل، موجوديدل.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي، اوله مسئله متفق عليها ده او دويمه مختلف فيها ده: (۱)... د اولي مسئلې حاصل دا دی که يو سړی خپل ښځي ته داسي ووايي چي "که چيري ته وغواړې او ستا خوښه وي نو خپل ځان ته درې طلاقه ورکړه! (يعني درې طلاقه واقع کړه!)"، او ښځه خو طلاق خوښ کړي، ليکن د دريو پر ځای يو طلاق خوښ او اختيار کړي او فقط يو طلاق

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة قاضيخان رَحِمَهُ الله (العناية ج:۳، ص:۴۳۱)، وكذا في الدر المختار (ج:۲، ص:۵۲۹)، كذا في الهندية (ج:۱ ص:۴۰۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۳۰]

ځان ته ور کړی، نو په دې صورت کې پر ښځې يو طلاق هم نه واقع کيږي؛ ځکه چې د خاوند دا قول إِنْ شِئْتِ د شرط په درجه کې دی، او د هغه مطلب او مفهوم دا دی چې "که چيرې ته درې طلاقه غواړې نو ځان ته يې ور کړه! کنې ځان ته طلاق مه ور کوه"، لهذا کله چې ښځې يو طلاق اختيار کړی، نو ښکاره خبره ده چې درې طلاقه هغه نه غواړي او د هغې خوښه نه ده چې ځان ته درې طلاقه ور کړي، نو د إِنْ شِئْتِ الثَّلَاث شرط موجود نه سو، نو ځکه به مشروط يعني وقوع د طلاق به هم نه موجوديږي، ځکه چې همدا د فقهي مشهوره قاعده ده: إِذَا فَاتَ الشَّرطُ فَاتَ المَشرُوط.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که خاوند ښځې ته ووايي "که ته وغواړې نو يو طلاق پر ځان واقع کړه!"، او ښځه درې طلاقه پر ځان واقع کړي، نو په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې د اولې مسئلې په څير دلته هم پر ښځې هيڅ طلاق نه واقع کيږي. لېکن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې دلته پر ښځې يو طلاق واقع کيږي.

د امام صاحب دليل دا دی چې څرنګه زموږ په نيز د دريو طلاقو په اختيار او إيقاع کې د يوه طلاق إيقاع موجوده نه ده، همداسې به د دريو طلاقو په مشيت (خوښې) کې هم د يوه طلاق مشيت شامل نه وي، او دلته خاوند د يوه طلاق پر مشيت د ښځې إيقاع مشروط کړې ده. لېکن ښځې د يوه پر ځای د دريو مشيت اختيار کړی او د خاوند مخالفت يې وکړی، نو ځکه به د دې هيڅ اعتبار نه کيږي، او هسې هم په وَاحِدَة او ثَلَاث کې څرګند توپير او مغايرت سته.

د دې په خلاف د صاحبينو په نيز چې څرنګه د دريو طلاقو په إيقاع کې د يوه طلاق إيقاع شامله ده، همداسې به د دريو طلاقو په مشيت کې د يوه طلاق مشيت هم شامل او داخل وي، لهذا دلته که څه هم د ښځې د خاوند د وصف مخالفت کړی دی او د دريو مشيت يې اختيار کړی دی، لېکن د دې باوجود په اصل طلاق کې د خاوند د طلاق سره د ښځې طلاق موافق دی، نو په دې وجه به پر ښځې يو طلاق واقع کيږي.

د "مشيت" په جواب کې "مشيت معلقه" ذکر کول

وَلَوْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ إِنْ شِئْتِ او که [خاوند] ښځې ته ووايي چې: که ته وغواړې [او ستا خوښه وي] نو ته طلاقه يې فَقَالَتْ: شِئْتُ إِنْ شِئْتَ او [په جواب کې] ښځه [خاوند ته] ووايي: که ته غواړې نو زه [هم] غواړم [يعني که ستا خوښه وي نو زما هم خوښه ده چې طلاقه سم] فَقَالَ: شِئْتُ يَنْوِي الطَّلَاقَ نو خاوند [په جواب کې ورته] ووايي: زه غواړم [زما خوښه ده] او نيت يې د طلاق وي بَطَلَ الْأَمْرُ نو أمر [اختيار]

باطلیږي لِأَنَّهُ عَلَّقَ طَلَاقَهَا بِالْمَشِيئَةِ الْمُرْسَلَةِ ځکه چي [دلته] خاوند د ښځي طلاق پر مشیتِ مُرسله ایمني د ښځي پر خوښه] معلق کړی دی وَهِيَ أَتَتْ بِالْمُعَلَّقَةِ [لیکن] ښځي په مشیتِ معلقه سره راتګ وکړی [یمني ښځي د خاوند پر خوښه طلاق معلق کړی] فَلَمْ يُوجَدِ الشَّرْطُ نو شرط پیدا نه سو [نو ځکه به طلاق نه واقع کیږي] وَهُوَ اشْتِغَالٌ بِمَا لَا يَعْنِيهَا او هغه په بې مقصده کار مشغولېدل دي ایمني په داسي کار مشغولېدل چي د هغه حکم خاوند نه دي کړی] فَخَرَجَ الْأَمْرُ مِنْ يَدِهَا نو په دې وجه اختیار د ښځي د لاس څخه ووتی وَلَا يَقَعُ الطَّلَاقُ بِقَوْلِهِ: شِئْتُ وَإِنْ نَوَى الطَّلَاقَ او د خاوند په دې قول: شِئْتُ [زما خوښه ده] سره طلاق نه واقع کیږي که څه هم هغه [په دې سره] د طلاق نیت وکړي لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي كَلَامِ الْمَرْأَةِ ذِكْرُ الطَّلَاقِ لِيَصِيرَ الزَّوْجُ شَائِيًا طَلَاقَهَا ځکه چي د ښځي په کلام کي د طلاق ذکر نسته چي خاوند د هغه د طلاق غوښتونکی [خوښونکی] سي وَالنِّيَّةُ لَا تَعْمَلُ فِي غَيْرِ الْمَذْكُورِ او نیت په نا ذکرسوي [طلاق] کي عمل نه کوي [یعني په کوم کلام کي چي طلاق ذکر نه سي، په هغه کي نیت عمل نه کوي] حَتَّى لَوْ قَالَ: شِئْتُ طَلَاقَكِ تر دې که [خاوند] ووایي: شِئْتُ طَلَاقَكِ [زه ستا طلاق غواړم] يَقَعُ إِذَا نَوَى نو [په دې سره] د نیت کولو په وخت کي طلاق واقع کیږي لِأَنَّهُ إِيقَاعٌ مُبْتَدَأٌ ځکه چي دا ابتداءً [طلاق] واقع کول دي إِذِ الْمَشِيئَةُ تُنْبِئُ عَنِ الْوُجُودِ ځکه چي مشیت د وجود خبر ورکوي بِخِلَافِ قَوْلِهِ: أَرَدْتُ طَلَاقَكِ په خلاف د خاوند د دې قول: أَرَدْتُ طَلَاقَكِ [زه ستا د طلاق اراده لرم] لِأَنَّهُ لَا يُنْبِئُ عَنِ الْوُجُودِ ځکه چي اراده د وجود خبر نه ورکوي وَكَذَا إِذَا قَالَتْ: شِئْتُ إِنْ شَاءَ أَبِي او همدارنګه که ښځه ووایي: زه غواړم [په دې شرط] که زما پلار وغواړي أَوْ شِئْتُ إِنْ كَانَ كَذَا یا زه غواړم که چیري [فلانی کار] داسي سوی وي لِأَمْرٍ لَمْ يَجِئْ بَعْدُ د داسي کار لپاره چي هغه تر اوسه سوی نه وي [یعني که ښځه خپل په مشیت کي داسي کار ذکر کړي چي هغه تر اوسه سوی نه وي، نو څه طلاق نه واقع کیږي، مثلاً خاوند ورته ووایي: که ستا خوښه وي نو ته پر ما طلاقه یې، او ښځه په جواب کي ورته ووایي چي: زما خوښه ده که چیري زید واده کړی وي، او زید واده نه وي کړی...] لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ الْمَأْتِيَّ بِهِ مَشِيئَةٌ مُعَلَّقَةٌ د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی چي په کوم شي سره چي راتګ سوی دی هغه مشیتِ معلقه دی فَلَا يَقَعُ الطَّلَاقُ نو ځکه به طلاق نه واقع کیږي وَبَطَلَ الْأَمْرُ او اختیار به [هم] باطلیږي وَإِنْ قَالَتْ: قَدْ شِئْتُ إِنْ كَانَ كَذَا او که ښځه ووایي: زه غوام که

چيري [فلانۍ كار] داسي سوی وي لِأَمْرٍ قَدْ مَضٰى د داسي كار لپاره كوم تېر سوی وي [يعني د داسي كار لپاره كوم چي سوی وي، مثلاً ښځه ووايي: زما خوښه ده كه چيري زيد واده كړی وي، او زيد مخكي لا واده كړی وي....] طُلِّقَتْ نو [سمدستي] ښځه طلاقيږي لِأَنَّ التَّعْلِيْقَ بِشَرْطٍ كَائِنٍ تَنْجِيْزٌ ځكه چي پر تېر سوي شرط [طلاق] معلق كول تنجيز دی [يعني كه پر كړل سوي كار طلاق معلق كړی سي نو په دې سره سمدستي (في الحاله) طلاق واقع كيږي].

اللغات: ﴿لَا يَخْفٰى﴾ بې مقصده، ﴿مَشِيْئَةٌ مُرْسَلَه﴾ د ښځي خپل مشيت (مشيئت) او خوښي ته وايي، او د خاوند پر مشيت او خوښه طلاق معلق كولو ته مَشِيْئَةٌ مُعَلَّقَةٌ وايي، ﴿شَائِيًا﴾ د فتح د باب اسم فاعل دی: غوښتونكی، ﴿تُنْبِئُ﴾ د افعال مضارع ده: خبر وركول، ﴿تَنْجِيْز﴾ د تفعيل مصدر دی: فوراً (سمدستي) د يو كار كول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو سړی د خپلي ښځي پر مشيت (خوښه) طلاق معلق كړی او ښځي ته ووايي: "كه ته غواړې او ستا خوښه وي نو ته طلاقه يې"، او په جواب كي ښځه خپل مشيت د خاوند پر مشيت موقوف كړي او داسي ووايي: "كه ستا خوښه وي نو زما هم خوښه ده"، او تر دې وروسته خاوند د طلاق په نيت سره ورته ووايي چي: زما خوښه ده (شِئْتُ)، نو په دغه صورت كي طلاق هم نه واقع كيږي، او د ښځي د لاس څخه أمر باليد هم وځي؛ دليل دا دی چي دلته خاوند د ښځي طلاق پر مشيتِ مُرسله يعني پر غيرِ معلق مشيت موقوف كړی دی، لېكن ښځه را ولاړه سوه دغه مشيتِ مرسله يې د خاوند پر مشيت معلق كړی، نو ځكه د خاوند شرط ګواكي مفقود سو، يعني خاوند چي كوم شی پر مشيت مرسله معلق كړی وو، ښځه له هغه څخه بغير په بل شي يعني په مشيتِ معلقه كي مشغوله سوه او هغه شی يې ضايع كړی، نو ځكه به أمر باليد د ښځي د لاس څخه وځي، او هيڅ طلاق به نه واقع كيږي.

همدارنګه وروسته چي كله خاوند شِئْتُ ووايي، په هغه سره هم طلاق نه واقع كيږي كه څه هم هغه د طلاق نيت وكړي؛ ځكه چي د ښځي جواب فقط د إِنْ شِئْتَ شِئْتُ سره خاص دی او په دې كلام كي د طلاق هيڅ ذكر نسته، نو ځكه به د خاوند وروسته شِئْتُ ويل پر طلاق نه حمل كيږي، كه څه هم هغه نيت كړی وي، ځكه چي نيت په هغه شي كي أثر او عمل كوي كوم چي له مخكي څخه موجود او مذكور وي، او دلته مخكي د طلاق هيڅ ذكر او وجود نسته، نو ځكه به نيت هم هيڅ عمل نه كوي.

د دې په خلاف که خاوند د شِئْتُ سره د طَلَاقَكِ اضافه هم وکړي او د طلاق نيت هم وکړي، نو په دې صورت کې طلاق واقع کيږي، په دې وجه نه چې دا د ښځې د کلام جواب دی، بلکې په دې وجه دلته طلاق واقع کيږي چې په شِئْتُ طَلَاقَكِ کې له نوي سره (ابتداءً) د طلاق إيقاع موجوده ده، ځکه چې شِئْتُ له شئ څخه مأخوذ دی او د "شئ" معنیٰ ده "موجود"، نو شِئْتُ طَلَاقَكِ د أَوْجَدْتُ طَلَاقَكِ په معنیٰ سره سو، او إيجاد او إيقاع دواړه په يوه معنیٰ سره دي، نو ځکه به په دې لفظ سره طلاق واقع کيږي، لېکن که خاوند أَرَدْتُ طَلَاقَكِ ووايي او نيت هم وکړي، نو طلاق نه واقع کيږي، ځکه چې أَرَدْتُ له إِرَادَة څخه مشتق دی، چې په هغه کې د "طلب" معنیٰ سته، نه د "وجود"، او د أَرَدتُ طَلَاقَكِ مطلب دا دی: طَلَبْتُ طَلَاقَكِ، او د طلاق په اراده يا د طلاق په طلب سره طلاق نه واقع کيږي، نو ځکه به په دې سره هم طلاق نه واقع کيږي.

وكذا إلخ: د دې حاصل دا دی چې څرنګه د ښځې د "شِئْتُ إِنْ شِئْتَ" ويلو په صورت کې طلاق نه واقع کيږي، همدارنګه که ښځه "شِئْتُ إِنْ شَاءَ أَبِيْ يا شِئْتُ إِنْ كَانَ كَذَا..." ووايي، او خپل مشيت د خپل پلار پر مشيت يا د يو کار پر نه کېدلو معلق کړي، نو په دې صورتونو کې هم طلاق نه واقع کيږي، ځکه چې دلته خاوند د ښځې و طرف ته مشيتِ مُرسله منسوب کړی دی، او په جواب کې ښځې مشيتِ معلقه اختيار کړی دی، نو په دې وجه به طلاق هم نه واقع کيږي، او أمر باليد هم د ښځې د لاس څخه وځي.

وإن قالت إلخ: او که ښځه د خاوند په جواب کې خپل مشيت پر داسې کار معلق کړي کوم چې په تېره زمانه کې سوی وي، نو په دې صورت کې پر ښځې فوراً طلاق واقع کيږي؛ ځکه کوم طلاق چې پر داسې شرط معلق کړی سي کوم چې مخکې موجود دي، هغه طلاق مُنَجَّز ګرځي يعنې فی الحاله او فوراً واقع کيږي، لهذا دلته به هم فوراً او سمدستي طلاق واقع کيږي.

د "مشيت" د يو څو ځانګړو الفاظو حکم

وَلَوْقَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا شِئْتِ أَوْإِذَا مَا شِئْتِ أَوْ مَتٰى شِئْتِ أَوْ مَتٰى مَا شِئْتِ او که [خاوند] ښځې ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا شِئْتِ [کله چې ستا خوښه وي تا ته طلاق دی] يا [أَنْتِ طَالِقٌ] إِذَا مَا شِئْتِ يا [أَنْتِ طَالِقٌ] مَتٰى شِئْتِ [کوم وخت چې ستا خوښه وي تا ته طلاق دی] يا [أَنْتِ طَالِقٌ] مَتٰى مَا شِئْتِ فَرَدَّتِ الْأَمْرَ او ښځه أمر [اختيار] ردّ کړي لَمْ يَكُنْ رَدًّا نو دا به ردّ نه وي [يعني په دې صورت کې د ښځې په ردولو سره اختيار نه رديږي] وَلَا يَقْتَصِرُ عَلَى الْمَجْلِسِ او نه [دا اختيار] پر مجلس منحصر کيږي أَمَّا كَلِمَةُ مَتٰى وَمَتٰى مَا فَلِأَنَّهُمَا لِلْوَقْتِ پاته سو مَتٰى او مَتٰى مَا نو ځکه چې دا دواړه د وخت لپاره دي وَهِيَ عَامَّةٌ فِي الْأَوْقَاتِ كُلِّهَا او دا په ټولو وختونو کې عام دي كَأَنَّهُ قَالَ: فِي أَيِّ وَقْتٍ شِئْتِ نو ګواکې خاوند [داسې] وويل: [أَنْتِ طَالِقٌ] فِيْ أَيِّ وَقْتٍ شِئْتِ [په کوم وخت کې چې ستا خوښه وي تا ته طلاق دی] فَلَا يَقْتَصِرُ عَلَى الْمَجْلِسِ بِالْإِجْمَاعِ نو به په اتفاق سره دا پر مجلس نه منصر کيږي وَلَوْ رَدَّتِ الْأَمْرَ او که ښځې أمر باليد [اختيار] رد کړی لَمْ يَكُنْ رَدًّا نو هغه [هم] نه رديږي لِأَنَّهُ مَلَّكَهَا الطَّلَاقَ فِي الْوَقْتِ الَّذِي شَاءَتْ ځکه چې خاوند ښځه په داسې وخت کې د طلاق مالکه جوړه کړې ده کله چې ښځه وغواړي فَلَمْ يَكُنْ تَمْلِيكًا قَبْلَ الْمَشِيئَةِ حَتّٰى يَرْتَدَّ بِالرَّدِّ نو تر مشيت مخکې تمليک طلاق نه سو چې [د ښځې] په ردولو سره هغه رد سي وَلَا تُطَلِّقُ نَفْسَهَا إِلَّا وَاحِدَةً او [په دې صورت کې] ښځه خپل ځان ته طلاق نه سي ورکولای مګر يو طلاق لِأَنَّهَا تَعُمُّ الْأَزْمَانَ دُونَ الْأَفْعَالِ ځکه چې کلمه د مَتٰى د زمانې لپاره عام ده، نه د افعالو لپاره فَتَمْلِكُ التَّطْلِيقَ فِي كُلِّ زَمَانٍ وَلَا تَمْلِكُ تَطْلِيقًا بَعْدَ تَطْلِيقٍ لهذا ښځه به په هره زمانه کې [خپل ځان ته] د طلاق ورکولو مالکه وي [ليکن] تر يوه طلاق وروسته به د بل طلاق ورکولو مالکه نه وي وَأَمَّا كَلِمَةُ إِذَا وَإِذَا مَا فَهُمَا وَمَتٰى سَوَاءٌ عِنْدَهُمَا او کوم چې کلمه د إِذَا او إِذَا مَا ده نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دا دواړې کلمې او مَتٰى [په حکم کې] سره برابري دي وَعِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَإِنْ كَانَ يُسْتَعْمَلُ لِلشَّرْطِ كَمَا يُسْتَعْمَلُ لِلْوَقْتِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز که څه هم [دا دواړې کلمې] د شرط لپاره استعماليږي لکه څرنګه چې د وقت لپاره استعماليږي [يعني د امام صاحب په نيز که څه هم دا دواړې کلمې د وخت په څير د شرط لپاره هم استعماليږي] لٰكِنَّ الْأَمْرَ صَارَ بِيَدِهَا خو [څرنګه چې] أمر باليد

اختيار ا د ښځي لاس ته ا په يقيني توګه ا رسېدلی دی فَلَا يَطْرَأُ بِالشَّكِّ نو ځکه به د شک په وجه اد هغې دلاس څخه انه وځي وَقَدْ مَرَّمِنْ قَبْلُ او دا ابحث ا مخکي تېر سوی دی.

اللغات: ﴿لَا يَقْتَصِرُ﴾ دافتعال نفي صيغه ده: .اکتفاء کول، منحصر کېدل. ﴿مَلَّكَ﴾ د تفعيل ماضي ده: بل څوک د يو شي مالک جوړول، مالک کول (مالک ګرځول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا شِئْتِ ووايي، يا د إِذَا پر ځای إِذَمَا مَايَا مَتٰى يا مَتٰى مَا استعمال کړي، او ښځي ته د طلاق اختيار ورکړي، او ښځه د طلاق واقع کولو پر ځای اختيار (أمر باليد) رد کړي نو دا نه رديږي، بلکي تر دې وروسته هم ښځه خپل ځان ته طلاق ورکولای سي، او بالاجماع دلته أمر باليد د مجلس سره نه خاص کيږي، بلکي که څه هم ښځه له مجلس څخه ولاړه سي، يا په مجلس کي دننه په يوه بل کار مشغوله سي، نو بيا هم خپل ځان ته طلاق ورکولای سي.

صاحب د هدايې په دليل کي فرمايي دلته خاوند څلور کلمې استعمال کړي دي: ① إِذَا، ② إِذَا مَا، ③ مَتٰى، ④ مَتٰى مَا، په دې کي مَتٰى او مَتٰى مَا د وخت لپاره راځي، او دا دواړه لفظونه په ټولو اوقاتو کي عام دي (يعني ټولو اوقاتو ته شامل دي)، لهذا مَتٰى شِئْتِ يا مَتٰى مَا شِئْتِ به د فِيْ أَيِّ وَقْتٍ شِئْتِ په درجه کي وي، نو د وخت د عموم په وجه به دا پر مجلس نه منحصر کيږي.

او که ښځه خپل دغه أمر باليد (اختيار) رد کړي، نو نه به رديږي؛ ځکه چي دلته خاوند په هغه وخت کي ښځه د طلاق مالکه جوړه کړې ده په کوم وخت کي چي ښځه (پر ځان) طلاق واقع کول وغواړي، لهذا تر څو چي ښځي د طلاق إيقاع غوښتې نه وي نو تر هغه وخت پوري ښځه د طلاق مالکه نه ګرځي، او تر څو چي ښځه مالکه نه وي، نو د هغې په ردولو سره به اختيار هم نه رديږي.

ولاتطلق إلخ: او په دې صورت کي ښځه خپل ځان ته يو طلاق ورکولای سي؛ دليل دا دی چي مَتٰى او مَتٰى مَا د زمانې د عموم لپاره راځي، نه د افعالو د عموم لپاره، نو زمانې د عموم په وجه به دغه ښځي ته تر يو طلاق وروسته د دويم طلاق اختيار نه وي.

او إِذَا او إِذَا مَا د صاحبينو په نېز د مَتٰى په حکم سره دي، يعني کوم حکم چي د مَتٰى دی هغه حکم د إِذَا او إِذَا مَا هم دی، لېکن د امام صاحب په نېز چي څرنګه إِذَا او إِذَا مَا د وخت لپاره راځي، همداسي د شرط لپاره هم راځي، نو د شرط تقاضا دا ده چي په دې صورت کي اختيار د مجلس سره

خاص سي، او د وخت تقاضا دا ده چې له مجلس څخه د ولاړېدلو په وخت کې سملستي اختيار د ښځې د لاس څخه ووځي، لهذا کله چې په دې دواړو کلمو کې د وخت او شرط دواړو معنیٰ سته. او دلته معلومه نه ده چې دوی د کومې معنیٰ لپاره مستعمل دي نو ځکه په دوی کې شک پیدا سو. او څرنګه چې د خاوند له طرفه ښځې ته په يقيني توګه اختيار ورکول سوی دي، نو د شک په وجه به هغه د ښځې د لاس څخه نه وځي (لأن اليقين لا يزول بالشک).

وقد مرمن قبل: فرمايي چې په فصل في إضافة الطلاق کې د دې حروفو پوره بحث سوی دی. د نور وضاحت لپاره هغه ته رجوع وکړئ!

د "أَنْتِ طَالِقٌ كُلَّمَا شِئْتِ" بحث

وَلَوْقَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ كُلَّمَا شِئْتِ او که [خاوند] ښځې ته ووايي: هر کله چې ته وغواړې طلاقه يې **فَلَهَا أَنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا وَاحِدَةً بَعْدَ وَاحِدَةٍ حَتّٰى تُطَلِّقَ نَفْسَهَا ثَلَاثًا** نو ښځې ته [دا] اختيار سته چې خپل ځان ته تر يوه [طلاق] وروسته بل [طلاق] ورکړي تر دې چې خپل ځان ته درې طلاقه ورکړي **لِأَنَّ كَلِمَةَ كُلَّمَا تُوجِبُ تَكْرَارَ الْأَفْعَالِ** ځکه چې کلمه د كُلَّمَا د افعالو تکرار واجبوي [ثابتوي] **إِلَّا أَنَّ التَّعْلِيقَ يَنْصَرِفُ إِلَى الْمِلْكِ الْقَائِمِ** خو دا چې تعليق د موجود ملک وطرف ته راجع کيږي **حَتّٰى لَوْعَادَتْ إِلَيْهِ بَعْدَ زَوْجٍ آخَرَ فَطَلَّقَتْ نَفْسَهَا** تر دې که ښځه له دويم خاوند څخه وروسته اول خاوند ته واپس راسي او خپل ځان ته طلاق ورکړي **لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ** نو هيڅ طلاق نه واقع کيږي **لِأَنَّهُ مِلْكٌ مُسْتَحْدَثٌ** ځکه چې دا نوی ملکيت دی **وَلَيْسَ لَهَا أَنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا ثَلَاثًا بِكَلِمَةٍ وَاحِدَةٍ** او د ښځې لپاره په يوه کلمه سره خپل ځان ته د دريو طلاقو ورکولو اختيار نسته **لِأَنَّهَا تُوجِبُ عُمُومَ الْاِنْفِرَادِ لَا عُمُومَ الْاِجْتِمَاعِ** ځکه چې کلمه د كُلَّمَا د فرد عموم واجبوي، نه د اجتماع عموم **فَلَا تَمْلِكُ الْإِيقَاعَ جُمْلَةً وَجَمْعًا** نو په دې وجه به ښځه پر يوه ځای د ټولو طلاقونو د واقع کولو مالکه نه وي.

اللغات: ﴿كُلَّمَا﴾ هر کله چې، کله چې هم ﴿مُسْتَحْدَثٌ﴾ نوی پېښېدونکی شی. ﴿جُمْلَةً﴾ ټوله (په يوه وار). ﴿جَمْعًا﴾ پر يوه ځای.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته په داسې الفاظو سره د طلاق اختيار ورکړي: أَنْتِ طَالِقٌ كُلَّمَا شِئْتِ"، نو اوس ښځې ته اختيار دی که يو طلاق وغواړي، نو يو طلاق دې پر

ځان واقع کړي، او که وغواړي چې یو تر بل وروسته (پرلپسې) واقع کړي، نو همداسې دي وکړي تر دې چې درې طلاقه واقع کړي؛ دلیل دا دی چې کلمه د کُلَّمَا په افعالو کې د تکرار لپاره وضع سوې ده او تکرار ثابتوي، نو ځکه به ښځې ته د دریو طلاقو دإیقاع حق او اختیار وي.

إلّا أن التعليق: په دې سره د یو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې کله ستاسو په وینا کُلَّمَا په افعالو کې تکرار ثابتوي، نو که چیرې ښځه درې طلاقه واقع کړي، بیا د دویم خاوند سره نکاح وکړي (د حلاله لپاره یا هسې نکاح ور سره وکړي)، او د دویم خاوند تر طلاق وروسته هغه بیرته د اول په خاوند په نکاح کې راسي، نو بیا د کُلَّمَا په وجه سره هغې ته د طلاق دإیقاع حق او اختیار حاصلېدل پکار دي، حالانکې داسې نه ده.

صاحب د هدایې د دې په جواب کې فرمایي چې دلته خاوند طلاق معلق کړی دی، او تعلیق د قائم او موجود ملک و طرف ته راجع کیږي، نو د کُلَّمَا شِئْتِ معنیٰ به دا وي چې "زما په ملکیت کې چې څومره طلاقونه دي، ته چې کله وغواړې هغه واقع کړه)، او څرنګه چې د خاوند په ملکیت درې طلاقه دي، نو ځکه به ښځه فقط د دریو طلاقو دإیقاع حقداره وي، او د دویم خاوند تر طلاق وروسته چې هغه بیرته د اول خاوند په نکاح راسي، نو اول خاوند به په نوي (جدید) ملکیت سره د دریو طلاقو مالک وي، او په کُلَّمَا شِئْتِ سره د اختیار ورکولو په وخت کې دغه نوی (جدید) ملکیت معدوم وو، لهذا کُلَّمَا شِئْتِ به پر دغه ملکیت نه جاري کیږي، او په اول ملکیت کې به په ورکول سوي اختیار (کُلَّمَا شِئْتِ) سره د جدید ملکیت په طلاق کې د تصرف اجازه نه وي.

وليس لها إلخ: او ښځې ته دا اختیار نسته چې د خاوند د کُلَّمَا شِئْتِ په جواب کې پر یوه ځای درې طلاقه پر ځان واقع کیږي؛ ځکه که څه هم کُلَّمَا د افعالو تکرار ثابتوي، خو هغه دإفراد په توګه د افعالو تکرار ثابتوي، نه دإجتماع په توګه، نو په دې وجه به ښځې ته پر یوه ځای او په یو وار د دریو طلاقو د إیقاع اختیار نه وي.

د "مشیت" یو څو الفاظ

وَلَوْقَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ حَيْثُ شِئْتِ أَوْ أَيْنَ شِئْتِ او که [خاوند] ښځې ته [داسې] ووایي: ته طلاقه یې په کوم ځای کې چې ته وغواړې یا چیرې چې ته وغواړې لَمْ تَطْلُقْ حَتّٰى تَشَاءَ نو هغه نه طلاقیږي تر دې چې [طلاق] وغواړي [یعني په دې صورت کې چې تر څو ښځه طلاق خوښ نه کړي، تر هغه وخته پر ښځې طلاق نه واقع کیږي] وَإِنْ قَامَتْ مِنْ مَجْلِسِهَا او که [په دې صورت کې] ښځې له مجلس څخه ولاړه

سي فَلَا مَشِيئَةَ لَهَا نو د هغې لپاره مشيت نه پاتيږي لِأَنَّ كَلِمَةَ حَيْثُ وَأَيْنَ مِنْ أَسْمَاءِ الْمَكَانِ ځکه چې کلمه د حَيْثُ او أَيْنَ له اسماء مکان څخه دي وَالطَّلَاقُ لَا تَعَلُّقَ لَهُ بِالْمَكَانِ او د طلاق تعلق د هيڅ مکان سره نسته فَيَلْغُو نو ځکه به [د مکان ذکر] لغوه کيږي وَيَبْقَى ذِكْرُ مُطْلَقِ الْمَشِيئَةِ او مطلق د مشيت ذکر به پاتيږي فَيَقْتَصِرُ عَلَى الْمَجْلِسِ او هغه [مشيت] به پر مجلس منحصر کيږي بِخِلَافِ الزَّمَانِ لِأَنَّ لَهُ تَعَلُّقًا بِهِ په خلاف د زمانې، ځکه چې د زمانې سره د طلاق تعلق سته حَتَّى يَقَعَ فِي زَمَانٍ دُونَ زَمَانٍ تر دې چې په يوه زمانه کې طلاق واقع کيږي، نه په بله زمانه کې [يعني همدا وجه ده چې په يوه زمانه کې طلاق واقع کيږي او په يوه زمانه کې نه واقع کيږي] فَوَجَبَ اعْتِبَارُهُ خُصُوصًا وَعُمُومًا نو ځکه د خصوص او عموم په اعتبار سره د زمانې اعتبار کول ضروري دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته داسي ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ حَيْثُ شِئْتِ يا أَنْتِ طَالِقٌ أَيْنَ شِئْتِ، نو په دې صورت کې چې تر څو ښځه طلاق نه وغواړي او طلاق خوښ نه کړي، تر هغه وخته پورې طلاق نه واقع کيږي، هغه که ښځه هر چيري وي، او که هر څنګه وي، همدارنګه که ښځه د طلاق تر خوښولو مخکې له خپل ځای څخه ولاړه سي، نو دا د إعراض دليل دی، او په دې سره د ښځې مشيت ختميږي.

د دې دواړو حکمونو دليل دا دی چې دلته خاوند د ښځې مشيت د حَيْث او أَيْنَ سره متصل کړی دی، او دا دواړه کلمې د مکان سره خاص دي، حالانکې طلاق د مکان او مقام سره خاص نه دی، بلکې کله چې هم طلاق واقع سي، نو هغه په هر، هر مکان او مقام کې واقع کيږي، نو ځکه به د أَيْنَ او حَيْث ذکر لغو کيږي، او فقط أَنْتِ طَالِقٌ إِنْ شِئْتِ به پاتيږي، او د أَنْتِ طَالِقٌ إِنْ شِئْتِ د ويلو په وخت کې د ښځې طلاق پر مشيت هم موقوف کيږي، او هم د مجلس سره خاص کيږي، لهذا دلته به هم طلاق د ښځې پر مشيت موقوف وي، او تر څو چې ښځه نه وغواړي، تر هغه وخته به طلاق نه واقع کيږي، همدارنګه د مجلس څخه د ولاړيدلو په صورت کې به د ښځې مشيت ختميږي.

بخلاف الزمان إلخ: د دې حاصل دا دی چې د طلاق د تعليق په هکله د زمان او مکان تر مينځ فرق سته، او هغه دا دی چې طلاق د مکان سره نه خاص کيږي (لکه اوس چې تاسو وويل)، لېکن د زمانې

سره د طلاق تعلق او ربط سته، او طلاق د زمانې سره خاص کيږي، همدا وجه ده که يو څوک داسې ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ فِيْ غَدٍ (ته سبا طلاقه يې)، نو دغه پر ښځې نن طلاق نه واقع کيږي، بلکې سبا واقع کيږي.

او که داسې ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ فِيْ أَيِّ وَقْتٍ شِئْتِ (په کوم وخت چې هم ته وغواړې، طلاقه يې)، نو په دې صورت کې طلاق د يوم او غد سره نه، بلکې د زمانې د هر کړي او هري لمحې سره خاص کيږي، او کله چې هم ښځه طلاق وغواړي، نو پر هغې طلاق واقع کيږي، لهذا د زمان او مکان تر مينځ فرق پيژندل ضروري دي، او د زمان سره د طلاق د متصل کېدلو په صورت کې د زمان د عموم او خصوص رعايت کول هم ضروري دي.

د "مشيت" يو څو نور الفاظ

وَإِنْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ كَيْفَ شِئْتِ او که [خاوند] ښځې ته ووايي: ته طلاقه يې څرنګه چې ته وغواړې طُلِّقَتْ تَطْلِيْقَةً يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ نو [په دې صورت کې] ښځه په يوه طلاق سره طلاقيږي [چې په هغه کې به] خاوند د رجعت مالک وي [يعني يو طلاقِ رجعي واقع کيږي] وَمَعْنَاهُ: قَبْلَ الْمَشِيْئَةِ او د دې معنیٰ ده: چې تر مشيت مخکې [هم يو طلاقِ رجعي واقع کيږي] فَإِنْ قَالَتْ: قَدْ شِئْتُ وَاحِدَةً بَائِنَةً أَوْ ثَلَاثًا وَقَالَ الزَّوْجُ ذٰلِكَ نَوَيْتُ او که ښځه ووايي: ما يو طلاقِ بائن يا درې طلاقه وغوښتل [خوښ مې کړل] او خاوند ووايي: چې ما [هم] دغه نيت کړی دی فَهُوَ كَمَا قَالَ نو هغه به د خاوند د قول مطابق وي [يعني څرنګه چې د خاوند نيت وي، هغسې طلاق به واقع کيږي] لِأَنَّ عِنْدَ ذٰلِكَ تَثْبُتُ الْمُطَابَقَةُ بَيْنَ مَشِيْئَتِهَا وَإِرَادَتِهٖ ځکه چې په دې وخت کې د ښځې په مشيت او د خاوند په اراده کې مطابق ثابتيږي أَمَّا إِذَا أَرَادَتْ ثَلَاثًا وَالزَّوْجُ أَرَادَ وَاحِدَةً بَائِنَةً أَوْ عَلَى الْقَلْبِ ليکن کله چې ښځه د دريو [طلاقو] اراده وکړي او ښځه د يو طلاقِ بائن اراده وکړي يا د دې برعکس تَقَعُ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ نو يو طلاقِ رجعي واقع کيږي لِأَنَّهٗ لَغَا تَصَرُّفُهَا لِعَدَمِ الْمُوَافَقَةِ ځکه چې د موافقت د نشتوالي په وجه د ښځې تصرف لغو سو فَبَقِيَ إِيْقَاعُ الزَّوْجِ نو [فقط] د خاوند إيقاع باقي پاته سوه وَإِنْ لَمْ تَحْضُرْهُ النِّيَّةُ تُعْتَبَرُ مَشِيْئَتُهَا فِيْهَا قَالُوْا جَرْيًا عَلٰى مُوْجِبِ التَّخْيِيْرِ او که خاوند ته نيت حاضر نه سي [يعني خاوند هيڅ نيت نه وکړي] نو د ښځې د مشيت اعتبار

به کیږي لکه څرنګه چي فقهاؤ ويلي دي، د تخيير پر موجب په عمل کولو سره قَالَ ﷺ: وَقَالَ فِي الْأَصْلِ هٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ ✽ صاحب د هدايې فرمايي: چي [امام محمد رَحِمَهُ الله] په مبسوط کي ويلي دي: چي دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی وَعِنْدَهُمَا لَا يَقَعُ مَا لَمْ تُوقِعِ الْمَرْأَةُ او د صاحبينو په نېز چي تر څو ښځه په خپله [طلاق] واقع نه کړي، [طلاق] نه واقع کيږي فَتَشَاءُ رَجْعِيَّةً أَوْ بَائِنَةً أَوْ ثَلَاثًا [برابره ده] ښځه که رجعي [طلاق] وغواړي يا بائن [طلاق وغواړي] يا درې [طلاقه وغواړي] وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ الْعِتَاقُ او پر همدغه اختلاف آزادېدل هم دي [يعني د عتاق په مسئله کي هم دغه اختلاف دی] لَهُمَا: أَنَّهُ فَوَّضَ التَّطْلِيقَ إِلَيْهَا عَلَى أَيِّ صِفَةٍ شَاءَتْ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي خاوند طلاق ښځي ته سپارلی دی پر کوم صفت چي ښځه وغواړي فَلَا بُدَّ مِنْ تَعْلِيقِ أَصْلِ الطَّلَاقِ بِمَشِيئَتِهَا لهذا أصل طلاق د ښځي پر مشيت معلق کول ضروري دي لِيَكُونَ لَهَا الْمَشِيئَةُ فِي جَمِيعِ الْأَحْوَالِ: أَعْنِي قَبْلَ الدُّخُولِ وَبَعْدَهُ د دې لپاره چي د ښځي مشئيت په ټولو حالاتو کي وي: يعني تر دخول مخکي [هم] او تر دخول وروسته [هم] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ كَلِمَةَ كَيْفَ لِلِاسْتِيصَافِ او د امام صاحب دليل دا دی: چي کلمه د کَيْفَ د وصف د طلاق لپاره راځي يُقَالُ: كَيْفَ أَصْبَحْتَ [لکه چي] ويل کيږي: كَيْفَ أَصْبَحْتَ [تا څرنګه سهار کړی، يعني تا په کوم صفت سره سهار کړی] وَالتَّفْوِيضُ فِي وَصْفِهِ يَسْتَدْعِي وُجُودَ أَصْلِهِ او تفويض د طلاق په وصف کي د أصل طلاق د موجودګۍ تقاضا کوي وَوُجُودُ الطَّلَاقِ بِوُقُوعِهِ او د طلاق موجودګي د طلاق په وقوع سره وي [يعني طلاق په واقع کېدلو سره موجوديږي، نو ځکه به مخکي طلاق واقع کيږي].

اللغات: ﴿عَلَى الْقَلْبِ﴾ برعکس، چپه، ﴿عِتَاق﴾ آزادي (آزادېدل)، ﴿اِسْتِيصَاف﴾ د استفعال د باب مصدر دی: د وصف طلب کول، حال پوښتل، ﴿يَسْتَدْعِي﴾ د استفعال مضارع ده: تقاضا کول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو سړی خپلي ښځي ته د أَنْتِ طَالِقٌ كَيْفَ شِئْتِ په الفاظو سره طلاق وسپاري او د طلاق اختيار ورکړي، نو د دې څه حکم دی؟ آيا پر ښځي طلاق واقع کيږي، که نه؟ او که واقع کيږي، نو کله واقع کيږي؟ د ښځي تر مشيت مخکي، که وروسته؟

✽ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن نجيم المصرى رَحِمَهُ الله: والحق قول الإمام لانتقاض قاعدتهما كما بيناه فى شرح المنار (البحر الرائق ج:۳، ص:۵۹۱)، كذا فى الدر المختار (ج:۲، ص:۵۳۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۳۲]

صاحب د کتاب فرمايي چي په دې مسئله کي زموږ د امامانو اختلاف دی، د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي دلته که ښځه طلاق غواړي، که نه غواړي (يعني طلاق خوښ کړي، که نه)، په هر صورت کي پر هغې يو طلاقِ رجعي واقع کيږي.

اوس که ښځه خپل د مشيت إظهار وکړي او دا ووايي چي ما يو طلاقِ بائن وغوښتی (يعني ما يو طلاقِ بائن خوښ کړی)، يا مي درې طلاقه وغوښتل، نو کتل کيږي به چي خاوند د دې نيت کړی دی، که نه، که چيري خاوند ووايي چي ستا د مشيت مطابق ما نيت کړی دی، نو په دې صورت کي د خاوند او ښځي مشيت (خوښه) يو د بل موافق سو، لهذا د کوم طلاق نيت چي سوی وي، هغه طلاق به واقع کيږي.

ليکن که د خاوند او ښځي په مشيت کي موافقت نه وي، مثلاً ښځه درې طلاقه وغواړي (خوښ کړي) او خاوند د يوه طلاق نيت وکړي، يا خاوند د دريو طلاقو نيت وکړي او ښځه يو طلاق وغواړي، نو د خاوند د نيت سره د ښځي د مشيت د نه موافق کېدلو په وجه به په دې صورت کي د ښځي تصرف لغو کيږي، او فقط د خاوند إيقاع به پاتيږي، او په أَنْتِ طَالِقٌ سره به يو طلاقِ رجعي واقع کيږي.

وإن لم تحضره الخ: د دې حاصل دا دی که په پورتني صورت کي خاوند نيت نه وکړي، نو بيا به د ښځي د مشيت (خوښي) اعتبار کيږي؛ ځکه چي خاوند په كَيْفَ شِئْتِ سره ښځي ته د تخيير اجازت ورکړی دی، او کله چي خاوند نيت نه وکړي، نو ښکاره خبره ده چي بيا به د تخيير پر موجب عمل کيږي، او د تخيير پر موجب باندي عمل کول دا دي چي د ښځي د مشيت او رضا مطابق د طلاق د وقوع فيصله وسي. دا ټوله تفصيل د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نيز دی.

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک په دې مسئله کي دا دی چي دلته د طلاق د وقوع دار ومدار د ښځي پر مشيت موقوف دی، او تر څو چي ښځي نه وغواړي، هيڅ طلاق نه واقع کيږي، او کوم طلاق چي ښځه وغواړي، هغه به واقع کيږي، هغه که رجعي طلاق وغواړي، يا که بائن او مغلظ طلاق وغواړي، د امام صاحب او صاحبينو په مينځ کي دا اختلاف د إعتاق په مسئله کي هم دی، مثلاً که يو مالک خپل غلام ته داسي ووايي: أَنْتِ حُرٌّ كَيْفَ شِئْتَ، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا غلام فوراً آزاديږي، او د صاحبينو په نيز چي تر څو غلام خپل ځان آزادېدل نه وغواړي، نه آزاديږي.

لهما الخ: د صاحبينو دليل دا دی چي خاوند ښځي ته د هغې د مشيت پر صفت طلاق سپارلی دی (يعني کله چي ستا خوښه وي، نو ته طلاقه يې)، نو اوس أصل طلاق هم پر مشيت معلق کول ضروري دي، ځکه چي وصف د أصل شخه بغير نه ثابتيږي، لهذا تر څو چي أصل د ښځي پر مشيت معلق نه سي، تر هغه وخته ښځه وصف غوښتلای (او خوښولای) نه سي. او څرنګه چي كَيْفَ هم د مطلقاً سوال عنِ الحال لپاره راځي،

نو په دې وجه هم أصل طلاق د ښځې پر مشيت معلق کول ضروري دي، د دې لپاره چې په ټولو احوالو کې د ښځې لپاره مشيت ثابت سي، او کله چي أصل طلاق د ښځې پر مشيت معلق سي، نو ښکاره خبره ده چي بيا د هغې له مشيت څخه بغير هيڅکله طلاق واقع کېداى نه سي، که څه هم خاوند نيت وکړي.

ولأبي حنيفة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي خاوند د کَيْفَ په کلمه سره ښځې ته طلاق سپارلی دی، او په کَيْفَ سره د يو شي د وصف په باره کي پوښتنه کيږي، لکه څرنګه چي ويل کيږي کَيْفَ أَصْبَحْتَ، او د دې معنیٰ دا ده چي تا په کوم وصف سره سهار کړی (يعني په کوم وصف سره سهار درباندي راغلی، د سهار په وخت کي دي طبيعت برابر وو، که نه...)، لهذا د کَيْفَ په وجه به دلته تفويض د طلاق په وصف کي وي، او د طلاق په وصف کي تفويض دأصل طلاق دوجود تقاضا کوي، ځکه که چيري أصل موجود نه وي، نو وصف به پر هغه څرنګه مرتب سي، او أصل يعني "طلاق" په وقوع سره په وجود کي راځي، نو ځکه امام صاحب وايي چي أصل طلاق خو به د ښځې تر مشيت مخکي واقع کيږي، د دې لپاره چي وروسته وصف پر مرتب کړی سي او د هغه طلب وکړی سي.

د "مشيت" يو څو نور الفاظ

> وَإِنْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ كَمْ شِئْتِ أَوْ مَا شِئْتِ او که [خاوند] ووايي: ته طلاقه يې څومره چي ته غواړې يا کوم څه چي ته غواړې طَلَّقَتْ نَفْسَهَا مَا شَاءَتْ نو ښځه چي څومره طلاقونه وغواړي هغه خپل ځان ته ورکولای سي لِأَنَّهُمَا يُسْتَعْمَلَانِ لِلْعَدَدِ ځکه چي كَمْ او مَا د عدد لپاره استعماليږي فَقَدْ فَوَّضَ إِلَيْهَا أَيَّ عَدَدٍ شَاءَتْ او [خاوند] ښځې ته وسپارى هر هغه عدد کوم چي ښځه غواړي انو په دې وجه څومره طلاقونه چي ښځه وغواړي هغه ځان ته ورکولای سي] فَإِنْ قَامَتْ مِنَ الْمَجْلِسِ او که ښځه له مجلس څخه ولاړه سي بَطَلَ نو [اختيار] باطليږي وَإِنْ رَدَّتِ الْأَمْرَ او که چيري ښځې دغه أمر [اختيار] رد کړي كَانَ رَدًّا نو دا به ردّ وي [يعني د ښځې په ردولو سره دا اختيار رديږي] لِأَنَّ هٰذَا أَمْرٌ وَاحِدٌ ځکه چي دا أمرِ واحد دی وَهُوَ خِطَابٌ فِي الْحَالِ او هغه فی الحاله خطاب دی فَيَقْتَضِي الْجَوَابَ فِي الْحَالِ نو ځکه د في الحاله [اوسني] جواب تقاضا کوي.

اللغات: ﴿رَدَّتْ﴾ د نصر له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: ردّ کول (ردول)، واپس کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند په دې الفاظو سره ښځې ته طلاق وسپاري: أَنْتِ طَالِقٌ كَمْ شِئْتِ يَا مَا شِئْتِ، نو په دې صورتونو کي طلاق د ښځې پر مشيت موقوف کيږي، او ښځې ته به د

يوه، دوه او درېو طلاقونو د واقع کولو اختيار وي، ځکه چې کَمْ او مَا دواړه د عدد لپاره راځي چې د هغه ښکاره مطلب همدغه دی چې خاوند ښځې ته عدد سپارلی دی، او د عدد د تفويض (سپارلو) په صورت کې ښځې ته د درېو طلاقونو د اِيقاع حق حاصليږي، لهذا دلته به هم ښځې ته د هغه حق حاصل وي.

قوله: قامت إلخ: فرمايي که چېرې په دغه پورتنې صورت کې د طلاق تر اِيقاع مخکې ښځه له مجلس څخه ولاړه سي، نو د خاوند له طرفه ور سپارل سوی طلاق (تفويض) باطليږي، همدارنګه که ښځه دغه تفويض رد کړي، نو هم رديږي او ختميږي.

له مجلس څخه د ولاړېدلو په صورت کې د تفويض د باطلېدلو وجه دا ده چې دا تفويض د خاوند له طرفه تمليک دی، او تاسو ته معلومه ده چې تمليک پر مجلس موقوف او منحصر کيږي، او څرنګه چې ولاړه د اِعراض دليل دی، نو په دې وجه به له مجلس څخه د ولاړېدلو په وجه تفويض باطليږي.

او د ښځې په رد کولو سره د تفويض د ردېدلو دليل دا دی چې د خاوند دا قول أَنْتِ طَالِقٌ كَمْ شِئْتِ يا مَا شِئْتِ دواړه أمرِ واحد (يو شی) دی، او د كُلَّمَا په څېر په دوی کې تکرار نسته، همدارنګه دوی دواړه د في الحاله خطاب لپاره راځي، د إِذَا او مَتَىٰ په څېر د مطلق وخت لپاره نه راځي، لهذا دوی د في الحاله جواب تقاضا کوي (يعني د دې تقاضا کوي چې په مجلس کې دننه فوراً د دوی جواب ورکول سي)، او څرنګه چې دوی أمر واحد دي نو په دې وجه د واحد جواب تقاضا کوي چې په سوال او جواب کې مطابقت راسي، لهذا په دې صورتونو کې به په مجلس کې دننه د ښځې له طرفه د "هو!" يا "نه" ويل ضروري وي، کنې مشيئت باطليږي.

د "مشيت" يو څو نور الفاظ

وَإِنْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَكِ مِنْ ثَلَاثٍ مَا شِئْتِ او که [خاوند] ښځې ته ووايي: په درېو طلاقو کې چې څومره ته غواړې خپل ځان ته طلاق ورکړه فَلَهَا أَنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا وَاحِدَةً أَوْ ثِنْتَيْنِ نو هغې ته دا اختيار سته چې خپل ځان ته يو يا دوه طلاقه ورکړي وَلَا تُطَلِّقَ ثَلَاثًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ✿ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله هغه [خپل ځان ته] درې طلاقه نه سي ورکولای وَقَالَا: تُطَلِّقُ ثَلَاثًا إِنْ شَاءَتْ او صاحبين رَحِمَهُمَا

✿ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: و قول الإمام أظهر. (الدر المختار ج:٢، ص:٥٣٣)، كذا في البحر الرائق (ج:٣، ص:٥٩٢). وقال الاستاذ المفتي غلام قادر النعماني: ولو حملت هذه المسئلة على العرف والعادة لكان أنسب، لأن العوام لا يميزون بين التبعيض والبيان، بل يتكلّمون على عادالهم و محاورالهم.

الله فرمايي: چي که ښځه وغواړي نو [خپل ځان ته] دري طلاقه ورکولای سي لِأَنَّ كَلِمَةَ مَا مُحْكَمَةٌ فِي التَّعْمِيمِ ځکه چي کلمه "مَا" د تَعْمِيمِ لپاره يقيني ده وَكَلِمَةَ مِنْ قَدْ تُسْتَعْمَلُ لِلتَّمْيِيزِ او کلمه د مِنْ کله د تمييز لپاره استعماليږي فَتُحْمَلُ عَلَى تَمْيِيزِ الْجِنْسِ نو ځکه به د جنس پر تمييز حمل کيږي كَمَا إِذَا قَالَ: كُلْ مِنْ طَعَامِي مَا شِئْتَ أَوْ طَلِّقْ مِنْ نِسَائِي مَنْ شَاءَتْ لکه په هغه صورت کي چي کله ايو څوک بل سړي ته داسي] ووايي: كُلْ مِنْ طَعَامِي مَا شِئْتَ [زما له خوراک څخه چي څومره ستا خوښه وي ويې خوره!] يا طَلِّقْ مِنْ نِسَائِي مَنْ شَاءَتْ [زما په ښځو کي چي کومه يوه طلاق غواړي هغې ته طلاق ورکړه!] [نو په دې صورت کي دا سړی هغه ټوله خوراک خوړلای سي، او که ټولي ښځي طلاق وغواړي، نو ټولو ته طلاق ورکولای سي] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ كَلِمَةَ مِنْ حَقِيقَةٌ لِلتَّبْعِيضِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي کلمه د "مِنْ" د تبعيض لپاره حقيقت دی وَمَا لِلتَّعْمِيمِ او [کلمه د] "مَا" د تعميم لپاره ده فَعُمِلَ بِهِمَا نو په دواړو به عمل کيږي وَفِيمَا اسْتَشْهَدَا بِهِ تُرِكَ التَّبْعِيضُ بِدَلَالَةِ إِظْهَارِ السَّمَاحَةِ او په کوم شي سره چي صاحبينو دليل نيولی دی په هغه کي د سخاوت د اظهار په دلالت سره تبعيض پرېښوول سوی دی أَوْ لِعُمُومِ الصِّفَةِ يا [په هغه کي] د صفت د عموم په وجه سره [تبعيض پرېښوول سوی دی] وَهِيَ الْمَشِيئَةُ او د صفت عموم مشيئت دی حَتَّى لَوْ قَالَ: مَنْ شِئْتَ همدا وجه ده که خاوند ووايي: [طَلِّقْ مِنْ نِسَائِي] مَنْ شِئْتَ كَانَ عَلَى هٰذَا الْخِلَافِ نو هم به پر دغه اختلاف وي.

اللغات: ﴿مُحْكَمَةٌ﴾ د افعال له باب څخه مؤنث اسم مفعول دی: پوخ، مضبوط، يقيني. ﴿كُلْ﴾ د نصر له باب څخه د واحد مذکر أمر صيغه ده: خوړل. ﴿تَبْعِيض﴾ د تفعيل مصدر دی: بعض کېدل، بعضيت ښوول. ﴿سَمَاحَة﴾ سخاوت.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته داسي ووايي: طَلِّقِي نَفْسَكِ مِنْ ثَلَاثٍ مَا شِئْتِ (په دريو طلاقو کي چي څو طلاقه ستا خوښېږي، هغه واقع کړه)، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز ښځي ته اختيار دی که پر خپل ځان يو طلاق واقع کوي او که دوه طلاقه، لېکن هغې ته د دريو طلاقو اجازه نسته. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هغې ته د دريو طلاقو د واقع کولو اختيار هم سته.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د "مَاَ" کلمه د تعميم لپاره قطعي (محکم) او يقيني ده، او د مَنْ کلمه کله د تميز يعني د بيان لپاره راځي، لکه په دې آيت کي چي د بيان لپاره راغلې ده: فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ، او کله د تبعيض لپاره راځي، او کله له دې دواړو څخه بغير د بل شي لپاره راځي (يعني کله له تميز او تبعيض څخه پرته نور احتمالات هم پکښي وي)، نو دلته د خاوند په کلام کي محکم او محتمل دواړه سره جمع سول، نو د يُحْمَلُ الْمُحْتَمَلُ عَلَى الْمُحْكَمِ په قاعدې سره به محتمل پر محکم حمل کيږي، او "مِنْ" به بيانيه ګرځول کيږي (او د تعميم معنیٰ به ځني مراديږي)، او د خاوند د کلام مطلب به دا وي چي "ته څومره طلاقونه وغواړې، هغه واقع کړه، يعني درې)، نو ځکه به ښځي ته د دريو طلاقو د واقع کولو اختيار هم وي.

او د دې مثال دا دی لکه يو سړی چي ووايي: كُلْ مِنْ طَعَامِيْ... "يعني څومره چي ستا خوښه وي، هغومره زما ډوډۍ وخوره، يا زما په ښځو کي چي کومه ښځه طلاق غواړي، هغې ته طلاق ورکړه"، نو په دې دواړو صورتونو کي مِنْ بيانيه منل کيږي، يعني که مأمور وغواړي، نو ټوله ډوډۍ خوړلای سي، همدارنګه که د آمِر (مؤکِل) هره ښځه طلاق غواړي، نو مأمور هري ښځي ته طلاق ورکولای سي، لهذا څرنګه چي په دې دوو مثالو کي مِنْ پر بيان حمل کيږي (او د تعميم معنیٰ ځني مراديږي) او د تبعيض معنیٰ پرېښوول کيږي، نو د کتاب په مسئله کي به هم مِنْ د بيان لپاره وي (او د تعميم معنیٰ به ځني مراديږي)، او ښځي ته به د دريو طلاقو اختيار وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي مِنْ په تبعيض کي حقيقت دی (يعني دا حرف په حقيقت کي د تبعيض لپاره راځي)، او مَاَ په تعميم کي حقيقت دی، او قاعده دا ده چي تر څو پر حقيقت عمل کول ممکن وي، تر هغه وخته به نه د مجاز وطرف ته رجوع کيږي، او نه به حقيقت پرېښوول کيږي، او دلته د مِنْ او مَاَ پر حقيقت عمل ممکن هم دی، په دې توګه چي د عام بعض مراد کړی سي، يعني ښځي ته د دوو طلاقو اختيار ورکول سي، او د دوو عدد همداسي دی (يعني د عام بعض دی)، ځکه چي د يوه (وَاحِد) په اعتبار سره د دوو عدد عام دی، او د دريو (ثَلاث) په اعتبار هغه د عام بعض دی،

لهذا کله چي دلته د مِنْ پرحقيقت عمل کول ممکن دي، نو پر حقيقت به عمل کيږي. او محتمل به پر محکم نه حمل کيږي.

وليها استشهدا به إلخ: صاحبينو چي په خپل تائيد کي کوم دوه مثالونه ذکر کړي وه، په دې عبارت سره د هغه جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي په هغه دواړو مثالو کي د تبعيض د معنیٰ پر تَرْک او پرېښوولو قرينه موجوده ده، په اول مثال کي قرينه دا ده چي په داسي کلام (كُلْ مِنْ طَعَامِي...) سره د سړي مقصود دا وي چي د مېلمنو مخته خپل د سخاوت او د پراخ نيت اظهار وکړي، او پراخ نيت او سخاوت هغه وخت ثابتيږي، کله چي داسي کلام (كُلْ مِنْ طعَامِيْ...) پر عموم حمل کړی سي. لهذا په دې مثال کي د دغه قرينې په وجه د بيان او تعميم معنیٰ پيدا سوې ده. نه ستاسو د ذکر سوي قاعدې په وجه.

په دويم مثال کي قرينه دا ده چي په طَلِّقْ مِنْ نَسِائِيْ مَنْ شَاءَتْ کي مِنْ نکره موصوف دی. او مشيت (شَاءتْ) د هغه صفت دی، او مشيت صفتِ عامه دی، او قاعده دا ده چي کله نکره په صفتِ عامه سره متصف سي، نو په نکره کي عموم پيدا کيږي، لهذا په دې مثال کي د تعميم وجه ستاسو قاعده نه ده بلکي همدغه قاعده ده چي اوس موږ بيان کړه.

همدا وجه ده که خاوند د طَلِّقْ مِنْ نِسَائِيْ مَنْ شَاءَتْ پر ځای مَنْ شِئْتَ ووايي. نو په دې صورت کي هم دغه پورتنی اختلاف دی، يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د مِنْ پر حقيقت (تبعيض) بانلدي د عمل کولو لپاره کم از کم يوه ښځه غيرِ مطلقه پاتېدل ضروري دي، او څرنګه چي د صاحبينو په نيز په مِنْ نِسَائِيْ کي مِنْ د بيان لپاره دی، لهذا که مأمور وغواړي نو ټولو ښځو ته طلاق ورکولای سي.



بَابُ الْأَيْمَانِ فِي الطَّلَاقِ

(دا) باب دأيمان في الطلاق (داحكامو په بيانكي) دى

تشريح: مخكي تر دې صاحب د كتاب رَحِمَهُ الله مُنجّز طلاق د خپلو ټولو اقسامو (صريح او كنايه) سره بيان كړى. اوس تر هغه وروسته مُعَلّق طلاق بيانوي، طلاق معلق ځكه تر طلاق منجز وروسته بيانوي چي: ① منجز أصل دى، او معلق فرع دى، او فرع تر اصل وروسته وي، ② او بل دا چي منجز مفرد دى، او معلق مركب دى (ځكه چي طلاق معلق له حرف شرط او طلاق دوو شيانو څخه مركب دى)، او مركب تر مفرد وروسته وي، نو په دې وجه صاحب د كتاب طلاق معلق تر منجز طلاق وروسته كړى دى.

أيمان: جمع د يَمِيْنٌ، يَمِيْن په لغت كي "قوت" ته وايي، او راسته لاس ته هم يَمِيْن وايي، ځكه چي په راسته لاس كي د چپه لاس په نسبت زيات قوت وي، او قسم ته هم يَمِيْن وايي، ځكه چي په قسم سره د انسان خبره قوي كيږي، او د طلاق په باب كي چي كله د يَمِيْن لفظ استعمال سي، نو بيا د يَمِيْن مطلب او مفهوم دا وي چي: طلاق پر داسي شي معلق كول چي په هغه كي د شرط او جزاء معنىٰ پيدا سي. (أحسن الهداية ج:۲، ص:۲۵۰)

د نكاح پر شرط طلاق معلق كول

وَإِذَا أَضَافَ الطَّلَاقَ إِلَى النِّكَاحِ او كله چي [خاوند] د نكاح وطرف ته د طلاق نسبت وكړي وَقَعَ عَقِيْبَ النِّكَاحِ نو تر نكاح وروسته به طلاق واقع كيږي مِثْلُ أَنْ يَقُوْلَ لِامْرَأَةٍ: إِنْ تَزَوَّجْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ مثلاً [يو سړى] يو ښځي ته [داسي] ووايي: كه چيري ما ستا سره نكاح وكړه نو ته [پر ما] طلاقه يې! أَوْ كُلُّ امْرَأَةٍ أَتَزَوَّجُهَا فَهِيَ طَالِقٌ يا [ووايي] د هري ښځي سره چي زه نكاح وكړم نو هغه [پر ما] طلاقه ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَقَعُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي طلاق نه واقع كيږي لِقَوْلِهِ عليه السلام [1]: لَا طَلَاقَ قَبْلَ النِّكَاحِ ځكه چي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: تر نكاح مخكي طلاق نسته وَلَنَا: أَنَّ هٰذَا تَصَرُّفُ يَمِيْنٍ

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الطلاق، باب لا طلاق قبل النكاح، حديث رقم: ۲۰۴۸، ۲۰۴۹.

لِوُجُوْدِ الشَّرْطِ وَالْجَزَاءِ زموږ دليل دا دی: چې د شرط او جزاء د وجود په سبب دا د قسم تصرف [تصرف يمين] دی فَلَا يُشْتَرَطُ لِصِحَّتِهٖ قِيَامُ الْمِلْكِ فِي الْحَالِ نو ځکه به د هغه د صحيح کېدلو لپاره في الحاله د ملکيت قائمېدل شرط نه وي لِأَنَّ الْوُقُوْعَ عِنْدَ الشَّرْطِ ځکه چې [د طلاق] واقع کېدل د شرط په وخت کې دي وَالْمِلْكُ مُتَيَقَّنٌ بِهٖ عِنْدَهٗ او په هغه وخت کې خو ملکيت يقيني دی وَقَبْلَ ذٰلِكَ أَثَرُهُ الْمَنْعُ او د شرط تر وجود مخکې د يمين أثر منع [ځان ساتل] دي اله مشروط او جزاء څخه] وَهُوَ قَائِمٌ بِالْمُتَصَرِّفِ او هغه [ځان ساتل] په متصرف [قسم کونکي] سره قائم دي وَالْحَدِيْثُ مَحْمُوْلٌ عَلٰى نَفْيِ التَّنْجِيْزِ او حديث د طلاقِ منجز پر نفي حمل کړی سوی دی وَالْحَمْلُ مَأْثُوْرٌ عَنِ السَّلَفِ كَالشَّعْبِيِّ وَالزُّهْرِيِّ وَغَيْرِهِمَا او دا حمل کول [محمول کول] له سلفو مثلاً د امام شعبي او زهري او داسې نورو څخه نقل سوی دی.

اللغات: ﴿أَضَافَ﴾ د افعال ماضي ده: يو شي ته د بل شي نسبت کول، منسوبه کول (موقوفه کول. ﴿يَمِيْن﴾ قسم، ﴿مُتَيَقَّن﴾ د تفعّل اسم مفعول دی: يقيني، ﴿تَنْجِيْز﴾ د تفعيل مصدر دی: يو کار فوراً (سمدستي) کول، فوراً واقع کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی طلاق پر نکاح معلق کړي او داسې ووايي: كُلُّ اِمْرَأَةٍ أَتَزَوَّجُهَا فَهِيَ طَالِقٌ، يا مثلاً يو ښځې ته ووايي: إِنْ تَزَوَّجْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ، نو په دې صورت کې زموږ په نېز تر نکاح وروسته سمدستي طلاق واقع کېږي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې نه واقع کېږي.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی: لَا طَلَاقَ قَبْلَ النِّكَاحِ (يعني تر نکاح مخکې طلاق نسته)، له دې حديث څخه دا معلومېږي چې تر نکاح مخکې طلاق نه واقع کېږي.

زموږ دليل: دا دی چې دلته خاوند د ښځې طلاق د هغې پر نکاح معلق کړی دی، نو د خاوند دا قول تَزَوَّجْتُكِ شرط دی او فَأَنْتِ طَالِقٌ جزاء ده، او د شرط او جزاء په سبب دا کلام تصرفِ يمين (د قسم تصرف) دی، او په تصرفِ يمين کې دا ضروري نه دي چې حالف (قسم کونکي) لره به د تعليق په وخت کې ملکيت ثابت وي، بلکې په تصرفِ يمين کې د حالف لپاره د شرط موجودېدلو په وخت کې د ملکيت ثابتېدل ضروري دي، او ښکاره خبره ده چې کله (په دې صورت کې) خاوند د ښځې سره نکاح وکړي نو په هغه وخت کې خاوند لره د طلاق ملکيت يقيناً ثابتېږي، نو به د هغه په ملکيت کې طلاق واقع سي، نو ځکه به دلته د خاوند تعليق صحيح وي (او د حديث مخالفت به نه راځي)، او

د شرط تر وجود وروسته به د خاوند معلق کړی سنوي طلاق واقع کيږي (زموږ د دليل په لنډه توګه داسي هم ويل کېدای سي چي د شرط ويلو په وخت کي د نکاح موجودېدل ضروري نه دي، بلکي کله چي طلاق واقع کيږي، په هغه وخت کي د نکاح موجودېدل ضروري دي، او دلته خاوند د نکاح پر شرط طلاق ور کړی دی، نو د طلاق په وخت کي به يقيناً نکاح (او ملکيت) ثابت وي، لهذا په دې وخت کي به د طلاق په وقوع سره د حديث مخالفت نه راځي، ځکه چي تر نکاح مخکي طلاق نسته، او دلته خو د نکاح په وخت کي طلاق واقع کيږي).

وقوله ذلك إلخ: او د شرط تر وجود مخکي يمين (قسم) هيڅ أثر نه کوي، بلکي د شرط تر وجود مخکي د هغه أثر فقط دومره دی چي قسم کونکي (حالف) چي د کوم شي قسم اخيستی دی، له هغه شخه به ځان ساتي، او دا ځان ساتل د قسم کونکي کار دی، د طلاق واقع کېدل د هغه سره هيڅ تعلق نه لري.

والحديث إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديث جواب ور کوي، فرمايي چي دا حديث پر طلاق منجز محمول دی، يعني که تر نکاح مخکي څوک طلاق ورکول وغواړي، نو طلاق نه واقع کيږي، او د حديث مطلب دا نه دی چي د شرط تر وجود وروسته او د نکاح تر وجود وروسته هم طلاق نه واقع کيږي، لکه څرنګه چي له حضرت شعبي او حضرت زهري رَحِمَهُمَا الله څخه د حديث همدغه تأويل منقول دی: عن الشعبي أنه سئل عن رجل قال لامرأته: كل امرأة تزوجتها عليكِ فهي طالق. قال: فكل امرأة يتزوجها عليها فهي طالق (مصنف ابن أبي شيبة ج:۴، ص:۶۶، رقم:۱۷۸۳۲)، عن الزهري في رجل قال: كل امرأة اتزوجها فهي طالق، وكل أمة أشتريها فهي حرة. قال: كما قال. (مصنف عبد الرزاق، ج:۶، ص:۳۲۵، رقم:۱۱۵۱۹)

د طلاق معلق بالشرط حکم

وَإِذَا أَضَافَهُ إِلَى شَرْطٍ او کله چي [خاوند] طلاق دیو شرط وطرف ته منسوب کړي وَقَعَ عَقِيبَ الشَّرْطِ نو تر شرط وروسته [طلاق] واقع کيږي مِثْلَ أَنْ يَقُولَ لِامْرَأَتِهِ: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ مثلاً خپلي ښځي ته [داسي] ووايي: که چيري ته کور داخله سوې نو [پر ما] طلاقه يې وَهٰذَا بِالِاتِّفَاقِ او دا [مسئله] متفق عليها ده لِأَنَّ الْمِلْكَ قَائِمٌ فِي الْحَالِ ځکه چي [په دغه صورت کي] في الحاله [اوس] ملکيت قائم دی وَالظَّاهِرُ بَقَاؤُهُ إِلَى وَقْتِ وُجُودِ الشَّرْطِ او ظاهر د هغه بقاء ده د شرط د وجود تر وخته پوري [يعني دا ښکاره خبره ده چي د شرط تر موجودېدلو پوري به ملکيت قائم او موجود وي] فَيَصِحُّ يَمِينًا أَوْ

إِيقَاعًا لهذا يميناً [د شرط په اعتبار سره] او د واقع کولو په اعتبار سره [د هغه معلق کول] صحيح دي وَلَا تَصِحُّ إِضَافَةُ الطَّلَاقِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْحَالِفُ مَالِكًا أَوْ يُضِيفَهُ إِلَى مِلْكٍ او طلاق منسوبه کول صحيح نه دي خو دا چې قسم کونکی مالک وي یا هغه طلاق د خپل ملکیت وطرف ته منسوب کړي لِأَنَّ الْجَزَاءَ لَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ ظَاهِرًا ځکه چې د جزاء ښکاره کېدل ضروري دي لِيَكُونَ مُخِيفًا د دې لپاره چې هغه [جزاء] بېرونکې وګرځي فَيَتَحَقَّقُ مَعْنَى الْيَمِينِ وَهُوَ الْقُوَّةُ وَالظُّهُورُ بِأَحَدِ هَذَيْنِ نو په دې دواړو [صورتونو] کې به ديوه په ذريعه د يمين معنیٰ ثابته سي چې هغه قوت او د قوت ښکاره کېدل دي وَالْإِضَافَةُ إِلَى سَبَبِ الْمِلْكِ بِمَنْزِلَةِ الْإِضَافَةِ إِلَيْهِ او د ملکیت د سبب وطرف ته [د طلاق] نسبت کول داسې دي لکه د ملکیت وطرف ته [د طلاق] نسبت کول لِأَنَّهُ ظَاهِرٌ عِنْدَ سَبَبِهِ ځکه چې جزاء د ملکیت د سبب په وخت ښکاره کېږي فَإِنْ قَالَ لِأَجْنَبِيَّةٍ: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ او که [يو سړی] يو پردۍ ښځې ته [داسې] ووايي: که ته کور ته داخله سوې نو تا ته طلاق دی ثُمَّ تَزَوَّجَهَا بیا هغه د دې [پردۍ ښځې] سره نکاح وکړي فَدَخَلَتِ الدَّارَ او دا ښځه کور ته داخله سي لَمْ تَطْلُقْ نو نه طلاقېږي لِأَنَّ الْحَالِفَ لَيْسَ بِمَالِكٍ ځکه چې قسم کونکی نه د ښځې مالک دی وَلَا أَضَافَهُ إِلَى الْمِلْكِ أَوْ سَبَبِهِ او نه يې طلاق د ملکیت یا د هغه د سبب وطرف ته منسوب کړی دی وَلَا بُدَّ مِنْ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حال دا چې [د نسبت او تعلیق د صحت لپاره] په دې دواړو کې يو ضروري دی.

اللغات: ﴿حَالِف﴾ د ضرب له باب څخه اسم فاعل دی، حَلَفَ يَحْلِفُ حَلْفًا و حِلْفًا: قسم کول، په يو شي قسم خوړل.

تشريح: په دې عبارت کې څو مسئلې بيان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که خاوند د خپلې ښځې طلاق پر يو شرط معلق کړي، نو کله چې هم هغه شرط موجود سي، طلاق واقع کېږي، مثلاً خاوند خپلې ښځې ته ووايي: "که ته کور ته داخل سوې، نو پر ما طلاقه يې"، يا مثلاً "که ته بيا بازار ته ولاړې، نو پر ما طلاقه يې"، نو کله چې هم شرط موجود سي يعني ښځه کور ته داخله سي، يا بازار ته ولاړه سي، نو سمدستي طلاق واقع کېږي.

دا مسئله متفق عليها ده، دليل دا دی چې په دې مسئله کې چې حالف (خاوند) په کوم وخت کې شرط لګولی دي، په هغه وخت کې د ده (خاوند) ملکيت قائم دی، يعني ښځه د ده په نکاح کې ده (پردۍ ښځه نه ده)، او ښکاره خبره ده چې د ده دا ملکيت به د شرط د موجودېدلو تر وخته پوري

پاتېږي، نو طلاق به هم د ملکیت په وخت کې (او په ملکیت کې دننه) واقع سي، نو ځکه دا مسئله متفق علیها ده او د ټولو په نېز د خپلې ښځې طلاق پر یو شي معلق کول جائز دي.

﴿ د تعليق قاعدهٔ كليه ﴾

(۲) ... دریمه مسئله (کوم چې په حقیقیت کې د کُلي قاعدې حیثیت لري)، دا ده چې د طلاق تعلیق (معلق کول) په دوو صورتونو کې صحیح دي: ① یو صورت دا چې په کوم وخت کې چې حالف شرط لګوي، په هغه وخت کې به د حالف ملکیت قائم او موجود وي، نو په دې صورت کې د هغه شرط لګول صحیح دي، ② دویم صورت دا چې که د حالف ملکیت قائم نه وي نو بیا به د خپل ملکیت وطرف ته نسبت کوي او شرط به لګوي (یعني د خپل ملکیت د سبب وطرف ته به جزاء نسبت کوي او شرط به لګوي)، مثلاً داسې به وایي: "کله چې زه ستا سره نکاح وکړم، نو ته ما پر ما طلاقه یې"، نو په دې صورت کې هم شرط لګول صحیح دي، او که په دې دواړو کې یو صورت نه وي، نو نه شرط صحیح کېږي، او نه طلاق واقع کېږي.

لأن الجزاء إلخ: پورتني دوه صورتونه ځکه صحیح دي چې یمین په لغت کې "قوت" ته وایي، او په قسم کولو سره د حالف (خاوند) مقصد دا وي چې مخاطب (ښځه) د جزاء له واقع کېدلو څخه وبیرېږي، او قوت په دوو صورتونو ښکاره کېدای سي: ① یا دا چې مخاطب (ښځه) د حالف په ملکیت کې وي (یعني د حالف ملکیت موجود وي)، ② یا دا چې د ملکیت و طرف ته د جزاء نسبت وکړي (یعني د ملکیت وسبب ته د طلاق نسبت وکړي)، د دې لپاره چې کله جزاء واقع کېږي، نو په هغه وخت کې مخاطب په ملکیت کې وي، او د دې جزاء له واقع کېدلو څخه وبیرېږي.

والإضافة إلخ: فرمایي چې د ملکیت د سبب (یعني که زه ستا سره نکاح وکړم نو ته پر ما طلاقه یې) وطرف ته نسبت کول داسې دي لکه د ملکیت وطرف ته نسبت کول، ځکه چې د ملکیت د سبب په وخت کې (یعني د نکاح کولو په وخت) کې جزاء ښکاره کېږي، تر هغه مخکې نه ښکاره کېږي، نو ځکه موږ وایو چې کله ملکیت قائم نه وي او ښځه د خاوند په نکاح کې نه وي، نو د هغې پر نکاح به طلاق معلق کول صحیح وي.

(۳)... دریمه مسئله پر پورتنی قاعدې متفرع ده، حاصل یې دا دی چې که یو سړی پردی ښځې (أجنبیه) ته ووایي: "که ته کور ته داخله سوې نو پر ما طلاقه یې"، او بیا هغه سړی د دغه ښځې سره نکاح وکړي، او دا کور ته داخله سي، نو طلاق نه واقع کېږي، ځکه په قاعده کې تاسو وویل چې تعلیق او اضافت هغه وخت صحیح کېږي چې کله د حالف ملکیت قائم وي، یا حالف د ملکیت د سبب وطرف ته نسبت وکړي، او دلته دواړه صورتونه نسته، ځکه چې ښځه د هغه په ملکیت کې نه

ده، او هغه د نکاح وطرف ته د طلاق نسبت هم کړی نه دی، بلکې د دُخُولُ الدَّار وطرف ته يې نسبت کړی دی کوم چې د ملکيت د سبب سره هيڅ تعلق نه لري، نو ځکه به نه دا تعليق صحيح وي، او نه به طلاق واقع کيږي.

د شرط الفاظ

وَأَلْفَاظُ الشَّرْطِ إِنْ وَإِذَا وَإِذَا مَا وَكُلُّ وَكُلَّمَا وَمَتٰى وَمَتٰى مَا او [په عربي کې] د شرط الفاظ دا دي: إِنْ، إِذَا، إِذَا مَا، كُلُّ، كُلَّمَا، مَتٰى او مَتٰى مَا لِأَنَّ الشَّرْطَ مُشْتَقٌّ مِنَ الْعَلَامَةِ ځکه چې شرط له علامت څخه مشتق دی وَهٰذِهِ الْأَلْفَاظُ مِمَّا تَلِيهَا أَفْعَالٌ او دا الفاظ داسې دي چې د دوی سره افعال متصل کيږي فَتَكُونُ عَلَامَاتٍ عَلَى الْحِنْثِ نو هغوی به پر حانثېدلو [او جزاء واقع کېدلو] علامات [نښې] وي ثُمَّ كَلِمَةُ إِنْ صِرْفٌ لِلشَّرْطِ بيا کلمه د إِنْ خالص د شرط لپاره ده لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهَا مَعْنَى الْوَقْتِ ځکه چې په کلمه د إِنْ کې د وخت معنیٰ نشته وَمَا وَرَاءَهَا مُلْحَقٌ بِهَا او له إِنْ څخه بغير نور الفاظ د إِنْ سره ملحق دي وَكَلِمَةُ كُلِّ لَيْسَتْ شَرْطًا حَقِيقَةً او کلمه د كُلِّ حقيقتاً د شرط لپاره نه ده لِأَنَّ مَا يَلِيهَا اِسْمٌ ځکه چې د كُلِّ سره اسم متصل کيږي وَالشَّرْطُ مَا يَتَعَلَّقُ بِهِ الْجَزَاءُ او شرط هغه وي چې د هغه سره جزاء متعلق کيږي وَالْأَجْزِيَةُ تَتَعَلَّقُ بِالْأَفْعَالِ او جزاګاني د افعالو سره متعلق کيږي إِلَّا أَنَّهُ أُلْحِقَ بِالشَّرْطِ لِتَعَلُّقِ الْفِعْلِ بِالِاسْمِ الَّذِي يَلِيهَا لېکن دا کلمه [بيا هم] ځکه د شرط سره لاحقه کړی سوه چې فعل د هغه اسم سره متصل کيږي کوم اسم چې د دغه کلمې سره متصل وي [نو ځکه دا کلمه (كُلّ) د شرط په معنیٰ سره وګرځول سوه او د شرط د الفاظو څخه وشمارل سوه] مِثْلُ قَوْلِكَ كُلُّ عَبْدٍ اِشْتَرَيْتُهُ فَهُوَ حُرٌّ لکه ستا دا قول: هر هغه غلام چې زه يې رانيسم نو هغه آزاد دی قَالَ: فَفِي هٰذِهِ الْأَلْفَاظِ إِذَا وُجِدَ الشَّرْطُ اِنْحَلَّتْ وَانْتَهَتِ الْيَمِينُ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: په دې الفاظو چې کله هم شرط پيدا سي [موجود سي] نو قسم پوره کيږي او ختميږي لِأَنَّهَا غَيْرُ مُقْتَضِيَةٍ لِلْعُمُومِ وَالتَّكْرَارِ لُغَةً ځکه چې دا الفاظ د لغت په اعتبار سره د عموم او تکرار تقاضا نه کوي فَبِوُجُودِ الْفِعْلِ مَرَّةً يَتِمُّ الشَّرْطُ لهذا يو وار د فعل په موجودېدلو سره شرط پوره کيږي وَلَا بَقَاءَ لِلْيَمِينِ بِدُونِهِ او له شرط څخه بغير يمين باقي نه پاتيږي إِلَّا فِي كَلِمَةِ كُلَّمَا مګر په کلمه د كُلَّمَا کې فَإِنَّهَا تَقْتَضِي تَعْمِيمَ الْأَفْعَالِ ځکه چې دا کلمه د افعالو د عموم تقاضا کوي قَالَ اللهُ تَعَالٰى كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ [النساء: ٥٦] الله تعالیٰ فرمايلي دي: هر کله چې پاخه سي [وسوځيږي] پوستکي د دوی

[په اُور کې نو موړ بلل‌لوو د هغوی پوستکي په نورو پوستکو سره] وَمِنْ ضَرُورَةِ التَّعْمِيمِ التَّكْرَارُ او د تعميم له ضرورت څخه تکرار دی [نو ځکه به بار، بار جزاء واقع کيږي]

اللغات: ﴿يَلِيْ﴾ د ضرب مضارع ده: متصل کېدل، څرمه کېدل، نژدې کېدل. ﴿حِنْث﴾ د سمع مصدر دی: قسم ماتېدل(قسم خوړل). ﴿صِرْفٌ﴾ خالص، سوچه، ويل کيږي: شَرَابٌ صِرْف: خالص شراب چې بل د هيڅ ګډون پکښې نه وي (مصباح اللغات: ۴۴۷). ﴿اُلْحِقَتْ﴾ د افعال ماضي مجهوله ده: لاحق کول، يو ځای کول. ﴿اِنْحَلَّتْ﴾ د انفعال ماضي ده: خلاصېدل. ﴿نَضِجَتْ﴾ د سمع د باب ماضي ده: پخېدل (د غوښې يا مېوې د پخېدو لپاره راځي). ﴿جُلُوْدٌ﴾ جمع د جِلد ده: پوست (پوستکي)، څرمن.

تشريح: په دې عبارت کې د شرط کلمات بيانيږي، صاحب د کتاب ځکه دا کلمات په الفاظُ الشرط سره نومولي دي، چې په دې کلماتو کې فقط د إنْ کلمه حرف ده، نور ټوله کلمې اسماء دي، نو د ټولو د رعايت کولو په خاطر يې الفاظُ الشرط ورته ويلي دي (نه حروفُ الشرط)، د دې لپاره چې کلام اسماء او حروفو دواړو ته شامل سي.

د الفاظُ الشرط وجه تسميه: صاحب د هدايې فرمايي چې شرط د علامت څخه مشتق دی (يعني د هغه شرط څخه مشتق دی چې هغه د علامت او نښې په معنیٰ سره دی، ځکه چې د شرط دوې معناوي دي: ① شرط لګول، ② علامت او نښه، او دلته له دويمې معنیٰ څخه مشتق دی)، او دغه د شرط الفاظ او حروف چې د کوم فعل څخه مخکې يا وروسته راسي، نو د هغه فعل لپاره دوی علامت او نښه وي چې تر شرط لګېدلو وروسته کېدای سي چې هغه (شرط لګونکی) حانث سي، نو څرنګه چې کله نا کله دا الفاظ د حانث کېدلو علامت او نښه وي، نو ځکه دوی ته د شرط الفاظ او حروف ويل کيږي. (أثمار الهداية)

ثم کلمة إن إلخ: فرمايي چې په دې ټولو الفاظو کې د شرط لپاره تر ټولو أصلي او يقيني د "إنْ" کلمه ده، ځکه چې په "إنْ" کې د وخت څه شبهه هم نسته، لهذا د أصل شرط لپاره همدغه کلمه متعين ده، او له دې څخه بغير نور ټوله الفاظ د "إنْ" د کلمې سره لاحق دي، ځکه چې په هغوی کې هم د شرط معنیٰ سته.

وکلمة کل إلخ: فرمايي چې د "کُل" کلمه په حقيقت کې د شرط لپاره نه ده، ځکه چې دا کلمه د اسم سره متصل کيږي او شرط جوړيږي، او د فعل سره نه متصل کيږي، او د شرط سره جزاء متعلق کيږي، او

جزاء د افعالو سره متعلق کيږي، نه د اسماؤ سره، لهذا دا کلمه په حقيقت کي د شرط لپاره نه ده، خو ځرنګه چي دا کلمه د هغه اسم سره متصله وي د کوم اسم سره چي فعل په لازمي توګه متصل وي، نو په دې وجه دا کلمه د شرط سره لاحق سوه او د شرط له الفاظو ځخه وشمېرل سوه، مثلاً په كُلُّ عَبْدٍ اِشْتَرَيْتُهٗ فَهُوَ حُرٌّ کي كُلُّ د عَبْد اسم سره متصل دی، او اِشْتَرَيْتُ فعل د دې اسم (عَبْدٍ) سره په داسي توګه ور سره متصل دی چي ګواکي د كُلُّ او اِشْتَرَيْتُ تر مينځ هيڅ فصل او بېلتون نسته.

قال الشيخ: فرمايي کله چي تاسو ته معلومه سوه چي إِنْ او إِذَا او داسي نور الفاظ د شرط لپاره استعماليږي، نو اوس د دوی حکم هم په ياد لرئ!، حکم دا دی چي په دوی کي چي هر لفظ هم د شرط لپاره استعمال سي، او بيا شرط موجود سي، نو قسم پوره کيږي او ختميږي او بس! (نو که دوباره شرط پيدا سي، نو بيا دوباره طلاق نه واقع کيږي).

دليل دا دی چي د كُلَّمَا ځخه بغير نور ټوله د شرط الفاظ د عموم او تکرار تقاضانه کوي، نو يو وار د فعل په واقع کېدلو سره شرط پوره کيږي، او له شرط ځخه بغير يمين باقي نه پاتيږي، لهذا په هغه اول وار يمين هم ختميږي.

او ځرنګه چي د كُلَّمَا کلمه په افعالو کي د تعميم تقاضا کوي، لکه د قرآن دا آيت چي د دې ګواهي ورکوي: كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ، او د تعميم لپاره تکرار لازم دی، ځکه چي تکرار د تعميم دلوازماتو ځخه دی، نو په دې وجه به د كُلَّمَا په کلمه کي د شرط تر موجودېدلو وروسته هم يمين باقي پاته وي (او هغه وخت به د كُلَّمَا د تکرار تقاضا ختميږي، کله چي درې واره شرط موجود سي، او درې واره طلاق واقع سي).

د "كُلَّما" د لفظ نور وضاحت

قَالَ: فَإِنْ تَزَوَّجَهَا بَعْدَ ذٰلِكَ اَيْ بَعْدَ زَوْجٍ آخَرَ فرمايي: بيا که [خاوند] د ښځي سره تر هغه يعني له دويم خاوند ځخه [تر حلاله کولو] وروسته نکاح وکړي وَتَكَرَّرَ الشَّرْطُ او شرط مکرر سي لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ نو هيڅ شی نه واقع کيږي لِأَنَّ بِاسْتِيفَاءِ الطَّلَقَاتِ الثَّلَاثِ الْمَمْلُوْكَاتِ فِيْ هٰذَا النِّكَاحِ لَمْ يَبْقَ الْجَزَاءُ ځکه چي په دې نکاح کي د مملوکه درېو طلاقو تر حاصلولو وروسته جزاء باقي پاته نه سوه وَبَقَاءُ الْيَمِيْنِ بِهٖ

وَبِالشَّرْطِ حالانکې د قسم باقي پاتېدل په جزاء او شرط سره دي وَفِيهِ خِلَافُ زُفَرَ او په دې کې د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف [هم] دی وَسَنُقَرِّرُهُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى چې هغه به موږ انشاء هم وروسته بیان کړو.

اللغات: ﴿إِسْتِيفَاء﴾ د استفعال مصدر دی: خپل حق پوره اخيستل، حاصلول.

تشريح: په تېر عبارت کې دا خبره ذکر سوه چې د شرط په الفاظو کې كُلَّمَا د تعميم او تکرار تقاضا کوي، په دې عبارت کې پر هغه تفريع کوي، حاصل د عبارت دا دی که د خاوند د كُلَّمَا کلمه استعمال کړي، مثلاً ښځې ته ووايي: كُلَّمَا دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ، او بیا درې واره شرط موجود سي، يعني درې واره ښځه کور ته داخله سي، نو اوس ښکاره خبره ده چې پر هغې درې طلاقه واقع کېږي او مغلظه ګرځي، لېکن که تر دې وروسته هغه د دويم خاوند سره نکاح وکړي او تر "حلاله" وروسته د دويم خاوند څخه طلاق واخلي او بيرته د اول خاوند سره نکاح وکړي، او بيا کور ته داخله سي، نو اوس څلورم وار پر ښځې طلاق نه واقع کېږي؛ ځکه په اوله نکاح کې چې خاوند د کومو دريو طلاقونو مالک وو، هغه خاوند حاصل کړل او پوره سول، لهذا جزاء هم پاته نه سوه، ځکه چې جزاء د اول ملکيت (اولې نکاح) درې طلاقه وه، نو کله چې جزاء منتفي سوه، نو قسم هم ختم سو (په طلاق کې له قسم څخه مراد همدغه د شرط او جزاء معنیٰ ده)؛ او کله چې قسم ختم سو، نو بيا به څرنګه شرط او جزاء موجود سي!، نو ځکه موږ وايو چې په دې صورت کې طلاق نه واقع کېږي.

لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې كُلَّمَا د تکرار تقاضا کوي، لهذا که تر "حلاله" وروسته بيا شرط پيدا سي، نو بيا به هم طلاق واقع کېږي.

د "كلما" د لفظ يو بل صورت

وَلَوْ دَخَلَتْ عَلَىٰ نَفْسِ التَّزَوُّجِ او که [كُلَّمَا] خودې پر تزوّج [نکاح کولو] داخله سي بِأَنْ قَالَ: كُلَّمَا تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً فَهِيَ طَالِقٌ په دې توګه چې [خاوند داسې] ووايي: کله چې هم زه د يو ښځې سره نکاح وکړم نو هغه [پر ما] طلاقه ده يَحْنَثُ بِكُلِّ مَرَّةٍ وَإِنْ كَانَ بَعْدَ زَوْجٍ آخَرَ نو [خاوند] په هر وار [نکاح کولو] سره حانثيږي که څه هم [نکاح کول] تر دويم خاوند وروسته وي لِأَنَّ انْعِقَادَهَا بِاعْتِبَارِ مَا يَمْلِكُ عَلَيْهَا مِنَ الطَّلَاقِ بِالتَّزَوُّجِ ځکه چې د قسم منعقد کېدل په دې وجه سره دي چې خاوند د نکاح کولو په ذريعه

پر ښځې د طلاق مالک سوی دی وَذٰلِكَ غَيْرُمَحْصُوْرٍ او دا نکاح غیرِ محدود [ناشمېره] ده انو به طلاق هم غیرِ محدود او ناشمېره وي]

اللغات: ﴿زَوَالٌ﴾ د نصر مصدر دی: زائلېدل، ختمېدل، لیري کېدل (ملکیت د لاسه وتل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی د کُلَّمَا په کلمه سره قسم وکړي او داسې ووايي: "هر کله چې هم زه د یو ښځې سره نکاح کوم هغه پر ما طلاقه ده"، نو دا سړی هر وار حانث کیږي، یعنې کله چې هم نکاح کوي، په خپل قسم کې حانث کیږي، او د هغه پر ښځې طلاق واقع کیږي، هغه که جدیده (نوې) ښځه وي، او که د ده خپله ښځه وي او د دویم خاوند سره تر نکاح (او حلاله) وروسته بیرته د ده په نکاح کې راغلې وي؛ دلیل دا دی چې دلته خاوند د کُلَّمَا په ذریعه طلاق د نکاح پر شرط معلق کړی دی، لهذا هر وار په نکاح کولو سره قسم منعقد کیږي او خاوند د طلاق مالک کیږي، او نکاح کول غیرِ محدود (لا متناهي) او ناشمېره دي، لهذا د نکاح پر شرط به معلق سوی طلاق هم غیرِ محدود او ناشمېره وي، او هر وار چې نکاح کوي، طلاق به واقع کیږي.

په پورتنې صورت کې د نکاح کولو حیله: په پورتنۍ مسئله کې یعنې کله چې سړی په کُلَّمَا سره قسم وکړي او وايي "چې هر کله او هر وار چې زه د یو ښځې سره نکاح کوم، هغه پر ما طلاقه ده"، نو په داسې صورت کې ځینې علماؤ د نکاح پاتېدلو دا حیله لیکلې ده چې دغه قسم کونکي سړی دې نه په خپله نکاح کوي، او نه دې بل څوک د نکاح وکیل جوړوي، بلکې یو مخلص ملګری دې د ده له اجازې څخه بغیر د ده نکاح وکړي، او دئ (قسم کونکي) دې نکاح په ژبه سره نه قبلوي، بلکې هدیه (سوغات) یا یو شی دې ښځې ته واستوي، او د دلالت په توګه دې له نکاح څخه راضي سي، نو ځینې حضرات وايي چې په دغه طریقه سره د داسې سړي نکاح صحیح کیږي، او طلاق نه واقع کیږي، ځکه چې په دې صورت کې هغه په خپله نکاح کونکی او په خپله د نکاح ترونکی نه دی.

د شرط د حکم نور وضاحت

قَالَ: وَزَوَالُ الْمِلْكِ بَعْدَ الْيَمِيْنِ لَا يُبْطِلُهَا فرمايي: چې تر قسم وروسته د ملکیت زائلېدل قسم نه باطلوي لِأَنَّهُ لَمْ يُوجَدِ الشَّرْطُ فَبَقِيَ ځکه چې شرط موجود نه سو نو به شرط باقي وي وَالْجَزَاءُ بَاقٍ لِبَقَاءِ مَحَلِّهِ او د محل د بقاء په وجه سره جزاء [هم] باقي ده فَبَقِيَ الْيَمِيْنُ نو ځکه به یمین [هم] باقي وي ثُمَّ إِنْ وُجِدَ الشَّرْطُ فِي مِلْكِهِ بیا که د حالف [خاوند] په ملکیت کې شرط موجود سي انْحَلَّتِ الْيَمِيْنُ وَوَقَعَ الطَّلَاقُ نو قسم پوره کیږي او طلاق واقع کیږي لِأَنَّهُ وُجِدَ الشَّرْطُ وَالْمَحَلُّ قَابِلٌ لِلْجَزَاءِ ځکه چې شرط

په داسې حال کې موجود سو چې محل د جزاء قابل دی فَيَنْزِلُ الْجَزَاءُ نو به جزاء نازله سي [ثابته سي] وَلَا يَبْقَى الْيَمِينُ او يمين به پاته نه سي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه كوم چې موږ ذكر كړی وَإِنْ وُجِدَ فِي غَيْرِ الْمِلْكِ او كه له ملكيت څخه په علاوه [غيرِ ملكيت] كې شرط موجود سي انْحَلَّتِ الْيَمِينُ لِوُجُودِ الشَّرْطِ نو قسم به پوره كيږي د شرط د موجودېدلو په وجه وَلَمْ يَقَعْ شَيْءٌ لِانْعِدَامِ الْمَحَلِّيَّةِ او هيڅ شي به نه واقع كيږي د محل د نشتوالي په وجه.

تشريح: د دې عبارت مسئله پر يوه قاعده متفرع ده، قاعده دا ده چې كه تر يمين وروسته ملكيت زائل سي، نو هم يمين باقي پاتېږي، او د ملكيت په زوال سره يمين نه باطلېږي.

صورت د مسئلې: دا دی كه يو سړی د خپلې ښځې طلاق پر دُخُولُ الدَّار معلق كړي او داسې ورته ووايي: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ، او د شرط تر موجودېدلو مخكې (يعني كور ته د ښځې تر دخول مخكې) خاوند هغې ته په أَنْتِ بَائِنٌ سره طلاق منجز وركړي، او هغه بائنه وګرځي، او د خاوند ملكيت له ښځې څخه زائل سي، نو اوس په دې صورت كې د ملكيت په زوال سره يمين نه باطلېږي، دليل دا دی چې د يمين بقاء په شرط او جزاء سره ده، او شرط موجود سوی نه دی، لهذا شرط باقي پاته سو، او د محل د بقاء په وجه سره جزاء هم باقي ده (ځكه چې خاوند ښځې ته طلاق بائن وركړی دی، درې طلاقه يې نه دي وركړي چې هغه دې د طلاق محل پاته نه سي)، لهذا كله چې شرط او جزاء دواړه باقي دي، نو يمين به هم باقي وي.

ثُمَّ إِنْ وُجِدَ إلخ: د دې حاصل دا دی چې كله شرط او جزاء دواړه پاته دي، نو يو وخت نه يو وخت خو شرط موجودېږي، اوس د دې دوه صورتونه دي: ① يو صورت دا دی چې شرط د (حالف) خاوند په ملكيت كې موجود سي، يعني خاوند دويم ځل د ښځې سره نكاح وكړي، او بيا ښځه د هغه په نكاح كې كور ته داخله سي،② دويم صورت دا دی چې شرط د خاوند په ملكيت كې موجود نه سي، يعني تر دويم ځل نكاح كولو مخكې ښځه كور ته داخله سي.

نو اوس په اول صورت كې طلاق واقع كيږي، او يمين پوره كيږي، طلاق خو ځكه واقع كيږي چې شرط (كور ته داخلېدل) د خاوند په ملكيت كې موجود سو، لهذا جزاء (طلاق) به هم واقع كيږي، ځكه چې جزاء د شرط سره متعلق ده، او يمين ځكه پوره كيږي چې د خاوند په كلام كې د إِنْ لفظ پر تكرار دلالت نه كوي، لهذا تر يو وار شرط موجودېدلو وروسته به يمين هم پوره كيږي.

او په دوېم صورت کې خو يمين پوره کيږي ځکه چې شرط موجود سو. لېکن طلاق نه واقع کيږي، ځکه چې محل معدوم دی. يعني ښځه د خاوند په ملکيت کې نه ده، لهذا په دې صورت کې ښځه د جزاء (طلاق) قابل نه سوه. نو ځکه به طلاق نه واقع کيږي.

په شرط کې د اختلاف کولو په صورت کې د معتبر قول بيان

وَإِنِ اخْتَلَفَا فِي الشَّرْطِ او که د شرط [په وجود] کې خاوند او ښځه دواړه اختلاف وکړي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الزَّوْجِ نو [په دې باره کې] به د خاوند قول معتبر وي إِلَّا أَنْ تُقِيمَ الْمَرْأَةُ الْبَيِّنَةَ خو دا چې ښځه ګواه ونړوي لِأَنَّهُ مُتَمَسِّكٌ بِالْأَصْلِ ځکه چې خاوند په أصل سره [دليل] نيونکی دی وَهُوَ عَدَمُ وُجُودِ الشَّرْطِ او هغه د شرط نه موجودېدل دي وَلِأَنَّهُ يُنْكِرُ وُقُوعَ الطَّلَاقِ وَزَوَالَ الْمِلْكِ او ځکه چې خاوند د طلاق واقع کېدل او د ملکيت زائلېدلو انکار کوي وَالْمَرْأَةُ تَدَّعِيهِ او ښځه د دې [دواړو] دعویٰ کوي.

اللغات: ﴿مُتَمَسِّكٌ﴾ د تفعّل اسم فاعل دی: نيونکی (لاس نيونکی)، تَمَسَّكَ يَتَمَسَّكُ تَمَسُّكًا: پر يو شي ځان نيول، ټينګېدل، منښتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند او ښځه د شرط په موجودېدو کې اختلاف وکړي، مثلاً خاوند ووايي چې شرط نه دي موجود سوی او طلاق نه دي واقع سوی، او ښځه ووايي چې شرط موجود سوی دی او طلاق واقع سوی دی، نو په دې صورت کې که د ښځې سره ګواهان موجود نه وي، نو د خاوند قول به معتبر وي، لېکن که د ښځې سره ګواهان وي، نو بيا به د ښځې ګواهي قبليږي: دليل دا دی چې د خاوند قول د اصل موافق دی، ځکه چې اصل عدمِ شرط دی. او د کوم چا قول چې د اصل موافق وي، هغه ته مدعیٰ عليه وايي، نو ښځه مدعيه او خاوند مدعیٰ عليه سو. او په حديث کې ذکر سوي دي چې که د مدعي سره بينه نه وي، نو د مدعی عليه قول به معتبر وي.

دوېم دليل دا دی چې خاوند د طلاق د وقوع او د ملکيت د زوال منکر دی. او ښځه د دې شيانو مدعيه ده. او د ګواهۍ د نشتوالي په صورت کې د منکر قول معتبر کيږي. نو ځکه موږ وايو چې که د ښځې سره ګواهان نه وي، نو بيا به د خاوند قول معتبر وي.

په شرط کې د اختلاف کولو په صورت کې د معتبر قول بيان

فَإِنْ كَانَ الشَّرْطُ لَا يُعْلَمُ إِلَّا مِنْ جِهَتِهَا بيا که شرط يو داسي شی وي چې هغه فقط د ښځې له طرفه معلومېدای سي فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا فِي حَقِّ نَفْسِهَا نو د خپل نفس په حق کې د ښځې خبره منل کيږي مِثْلُ أَنْ يَقُولَ: إِنْ حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَفُلَانَةٌ مثلاً [خاوند داسي] ووايي: که چيري تا ته حيض راسي نو تا او

فلانۍ ښځه [بَنْ] ته طلاق دی **فَقَالَتْ: قَدْحِضْتُ** بيا ښځه ووايي: ما ته حيض راغلی **طَلُقَتْ هِيَ وَلَمْ تَطْلُقْ فُلَانَةُ** نو [فقط] هغه طلاقيږي او پر فلانۍ ښځې طلاق نه واقع کيږي **وَوُقُوعُ الطَّلَاقِ اسْتِحْسَانًا** او [دلته] د طلاق واقع کېدل د استحسان پر بناء دي **وَالْقِيَاسُ: أَنْ لَا يَقَعَ** او قياس دا دی: چې طلاق دې واقع نه سي **لِأَنَّهُ شَرْطٌ** ځکه چې دا [هم] يو شرط دی **فَلَا تُصَدَّقُ** نو ځکه به [د ښځې] تصديق نه کيږي **كَمَا فِي الدُّخُولِ** لکه [کور ته] په داخلېدلو کې چې [د ښځې] تصديق نه کيږي **وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّهَا أَمِينَةٌ فِي حَقِّ نَفْسِهَا** د استحسان دليل دا دی: چې دا ښځه د خپل نفس په حق کې امانتداره ده **إِذْ لَا يُعْلَمُ ذٰلِكَ إِلَّا مِنْ جِهَتِهَا** ځکه چې د حيض علم فقط د ښځې له طرفه کېدای سي **فَيُقْبَلُ قَوْلُهَا كَمَا قُبِلَ فِي حَقِّ الْعِدَّةِ وَالْغَشَيَانِ** نو د دې ښځې قول به منل کيږي لکه څرنګه چې د عدت او وطي په حق کې د ښځې قول منل کيږي **لٰكِنَّهَا شَاهِدَةٌ فِي حَقِّ ضَرَّتِهَا بَلْ هِيَ مُتَّهَمَةٌ** لېکن دا ښځه د خپل بَنْ په حق کې ګواه ده بلکې متهمه ده **فَلَا يُقْبَلُ قَوْلُهَا فِي حَقِّهَا** نو ځکه به د دې ښځې قول د بَنْ په حق کې نه منل کيږي.

اللغات: ﴿جِهَةٌ﴾ طرف، خوا، ﴿غِشْيَانٌ﴾ د سمع مصدر دی: راتلل، جماع کول، د دې باب په صله کې که "عَلَىٰ" راسي، نو بيا د "بې هوښه کېدلو" په معنیٰ سره راځي، ﴿ضَرَّةٌ﴾ بَنْ.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که طلاق پر يو داسې شرط معلق سوی وي چې په هغه فقط ښځه خبرېدای سي، بل څوک په هغه نه سي خبرېدای، نو د داسې شرط په وجود کې به د ښځې قول فقط د هغې د ذات په حق کې معتبر او منل کيږي، د بل چا په حق کې به معتبر نه وي، همدا قول د امام شافعي، امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمُ الله دی، مثلاً يو سړی دوې ښځې لري، او په يوې ښځې ته ووايي: إِنْ حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَفُلَانَةُ (له فُلَانَةُ څخه مراد د ښځې بَنْ ده، يعني که تا ته حيض راغلی نو تا او ستا بَنْ ته طلاق دی)، او بيا دا ښځه ووايي: حِضْتُ (چې ما ته حيض راغلی)، نو هغه طلاقيږي، او پر فُلَانة يعني د هغې پر بَنْ طلاق نه واقع کيږي.

دا خبره په ياد لرئ! چې د هغې پر بَن په هغه صورت کې طلاق نه واقع کيږي، کله چې خاوند د ښځې د قول "حِضْتُ" تکذيب وکړي، لېکن که خاوند د هغې د قول تصديق وکړي، نو بيا پر دواړو ښځو طلاق واقع کيږي.

و وقوع الطلاق الخ: په دې مسئله کي د طلاق واقع کېدل استحساناً دي. او د قیاس تقاضا دا ده چي طلاق نه واقع کیږي، ځکه چي په اِنْ حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ کي حیض شرط دی، او ښځه د دې شرط د وجود دعویٰ کوي، او خاوند د دې انکار کوي، او د مدعي سره که چیري بَیِّنَه نه وي، نو بیا د منکر قول معتبر کیږي، نو ځکه به دلته د ښځي قول معتبر نه وي او د هغې تصدیق به نه کیږي، لکه څرنګه چي په داسي صورت کي هم د ښځي تصدیق نه کیږي کله چي خاوند ښځي ته ووايي: اِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ، او ښځه وايي چي شرط (دخولُ الدّار) موجود سو (یعني زه کور ته داخله سوم)، او خاوند د دې انکار وکړي، نو څرنګه چي په دې صورت کي د ښځي تصدیق نه کیږي، همداسي به دلته هم د ښځي تصدیق نه کیږي او د هغې قول به معتبر نه وي، بلکي د خاوند قول به معتبر وي.

د استحسان دلیل دا دی چي ښځه د خپل ذات په حق کي أمانتداره (امانت ساتونکې) ده، ځکه د ښځي په رحم کي چي کوم کوچنی وي، ښځه د هغه په ښکاره کولو کي امانتداره هم ده او د هغه حکم هم ور ته سوی دی، الله تعالیٰ فرمایي: لَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللهُ فِيْ أَرْحَامِهِنَّ. او په دې وجه هم ښځه امنتداره ده چي حیض یو داسي شرط دی چي په هغه فقط ښځه خبرېدای سي، بل څوک د ښځي په حیض خبرېدای نه سي، او قاعده دا ده چي د أمین قول به د هغه په حق کي معتبر او منل کیږي، نو ځکه به د ښځي دا قول (چي ما ته حیض راغلی) د هغې په حق کي معتبر او منل کیږي، لکه څرنګه چي د عدت او وطي په حق کي د ښځي قول منل کیږي، د عدت په حق کي د قول منل کېدلو مطلب دا دی چي که ښځه ووايي چي "زما عدت پوره سو یا پوره نه سو"، نو په دې هکله به د ښځي قول منل کیږي، نه د خاوند، او د وطي په حق کي د قول منل کېدلو دوه مطلبه دي: ① یو دا چي که بائنه مغلظه ښځه (یعني هغه ښځه چي درې طلاقه ور کول سوي وي) ووايي چي "زما عدت پوره سو، او بیا ما د دویم خاوند سره نکاح وکړه او هغه دخول هم وکړی"، نو د دویم خاوند د دخول په هکله به د ښځي قول منل کیږي، ② دویم مطلب یې دا دی چي که خاوند د خپلي ښځي سره جماع کول وغواړي، نو د ښځي د پاکوالي یا حائضه کېدلو په حق کي به د ښځي قول منل کیږي.

ولکنها الخ: فرمايي چي په دې مسئله کي به د ښځي قول فقط د هغې په حق کي معتبر وي، او د هغې د بَنْ په حق کي به د هغه اعتبار نه کیږي، او پر بَنْ به طلاق نه واقع کیږي، ځکه که څه هم هغه په خپل قول (یعني د حیض په دعویٰ) سره د خپل بَنْ په حق کي ګواه جوړیږي، لېکن هغه متهمه ده، ځکه د بَن په حق کي هغه امانتداره نه ده، ځکه چي د بنو په مینځ کي فطري دښمني وي، خلاصه دا چي دا

مطلقه ښځه د خپل بَن په حق کي متهمه ده، او قاعده دا ده: قَوْلُ الْمُتَّهَمِ لَيْسَ بِحُجَّةٍ (چي د متهم قول حجت نه ګرځي)، نو ځکه به د دې ښځي قول د بَن په حق کي حجت نه وي او پر هغې به طلاق نه واقع کیږي.

د طلاق معلق یو صورت

وَكَذٰلِكَ لَوْ قَالَ: إِنْ كُنْتِ تُحِبِّيْنَ أَنْ يُعَذِّبَكِ اللهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَعَبْدِي حُرٌّ همدارنګه که [خاوند خپلي ښځي ته] ووايي: که چیري ته دا خوښوې چي الله تا ته د دوږخ په اُور کي عذاب درکړي، نو ته [پر ما] طلاقه يې او زما غلام آزاد دی فَقَالَتْ أُحِبُّهُ او ښځه ووايي: چي دا خوښوم أَوْ قَالَ: إِنْ كُنْتِ تُحِبِّيْنِيْ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَهٰذِهٖ مَعَكِ يا [خاوند داسي] ووايي: که چيري ته زما سره محبت لرې نو ته [پر ما] طلاقه يې او دا ښځه [بَنْ] هم ستا سره ده [يعني که ته زما سره مينه او محبت کوې نو تا او ستا ملګري دواړو ته طلاق دی] فَقَالَتْ: أُحِبُّكَ او ښځه ووايي: چي زه ستا سره محبت لرم طُلِّقَتْ هِيَ وَلَمْ يُعْتَقِ الْعَبْدُ وَلَا تَطْلُقُ صَاحِبَتُهَا نو [فقط] دا ښځه طلاقیږي او نه غلام آزادیږي او د نه هغې ملګرې مطلقه ګرځي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَلَا يُتَيَقَّنُ بِكَذِبِهَا او د ښځي په دروغجن کېدو يقين نه سي کېدای لِأَنَّهَا لِشِدَّةِ بُغْضِهَا إِيَّاهُ قَدْ تُحِبُّ التَّخْلِيْصَ مِنْهُ بِالْعَذَابِ ځکه چي د خاوند سره د سخت بغض [او عناد] په وجه کله نا کله د عذاب په بدله کي له هغه څخه خلاصون خوښوي وَفِي حَقِّهَا أَنْ تَعَلَّقَ الْحُكْمُ بِإِخْبَارِهَا وَإِنْ كَانَتْ كَاذِبَةً او د دې ښځي په حق کي دا دي چي [د طلاق] حکم د دې د خبر ورکولو [قول] سره تعلق لري که څه هم دا دروغجنه وي [يعني که څه هم هغه دروغجنه وي خو د هغې سره د طلاق حکم متعلق کېدل د هغې د خبر ورکولو په وجه دي] فَفِيْ حَقِّ غَيْرِهَا بَقِيَ الْحُكْمُ عَلَى الْأَصْلِ لهذا له دې ښځي څخه بغير [د بل چا] په حق کي به حکم پر خپل اصل پاتیږي وَهِيَ الْمَحَبَّةُ او هغه دی [حقيقي] محبت.

اللغات: ﴿يُعَذِّبُكَ﴾ د تفعيل مضارع ده: عذاب ورکول. ﴿بُغْض﴾ عناد، کينه، نفرت. ﴿تَخْلِيْص﴾ د تفعيل مصدر خلاصول (ځان خلاصول، خلاصون تر لاسه کول).

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... **صورت د مسئلې:** دا دی چي څرنګه د حيض، عدت او وطي په سلسله کي د ښځي قول خاص د ښځي په حق کي منل کيږي، همداسي که خاوند ښځي ته ووايي: "که چيري ته دا خبره

خوښوي چي الله تعالیٰ تا ته د دوږخ په اُور کي عذاب درکړي، نو ته پر ما طلاقه یې، او زما غلام آزاد دی"، بیا ښځه ووایي چي زه د دوږخ اُور خوښوم، نو په دې صورت کي به د ښځي دا قول فقط د هغې په حق کي منل کیږي او طلاق به واقع کیږي، لېکن د غلام په حق کي به د ښځي د قول اعتبار نه کیږي او غلام به نه آزادیږي.

(۲)... دویمه مسئله دا ده که خاوند ښځي ته داسي ووایي: "که چیري ستا زما سره محبت وي نو ته او ستا ملګرې (بنٍ) دواړو ته طلاق دی"، او بیا ښځه ووایي چي زما ستا سره محبت دی، نو په دې صورت کي هم فقط پر دغه اولي ښځي طلاق واقع کیږي، د هغې پر بَنْ طلاق نه واقع کیږي: دلیل په اوله مسئله کي تېر سو چي دا ښځه په خپل حق کي امانتداره ده، او د اُمین قول به فقط په خپل حق کي معتبر وي، نه د بل چا په حق کي.

ولایتیقن إلخ: په دې سره د یو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چي د ښځي قول فقط د هغې په حق کي په دې وجه معتبر او منل کیږي چي هغه په خپل قول کي ریښتونې (صادقه) ده، لېکن د دوږخ د اُور خوښولو په باره کي د هغې خبر ورکول یقیني درواغ دي، ځکه چي دا د عقل خلاف خبره ده چي یو مسلمان دي د دوږخ اُور خوښ کړي، لنډه دا چي کله د دې ښځي درواغجن کېدل یقیني دي، نو د هغې قول بالکل منل پکار نه دي.

په جواب کي صاحب د هدایې فرمایي چي د ښځي پر درواغجن کېدلو یقین نه سي کېدای او نه د هغې پر درواغجن کېدلو یقین کول پکار دي، ځکه چي ښځه هسي هم ناقصُ العقل ده، او برسېره پر دې جاهله هم ده، او دا خبره هم ده چي کله نا کله د خاوند له طرفه پر ښځي داسي ظلم او تجاوز کیږي چي هغه ښځه د خاوند له ظلم او تجاوز څخه د خلاصون لپاره د دوږخ اُور هم خوښوي، لهذا د ښځي درواغجن کېدل یقیني نه دي، او کله چي یقیني نه دي نو د دې ښځي په حق کي به حکم د هغې د خبر او قول سره متعلق وي که څه هم هغه خبر او قول درواغ وي، لېکن د بل چا په حق کي به د هغې خبر او قول معتبر نه وي او حکم به پر خپل أصل یعني پر محبت او پر خوښولو پاتـه وي؛ ځکه چي محبت یا د دواړخ اُور خوښول ښځي په خپل ذاتي قول او خبر سره ښکاره کړي دي، په یو بل واضح او څرګند دلیل سره دا نه دي ښکاره سوي چي د بل چا په حق کي هم حجت او دلیل ومنل سي (او د بل چا یعني د بَنْ په حق کي به د ګواهۍ په ذریعه سره دا ثابتیږي چي هغه په صحیح معنیٰ د خاوند سره محبت کوي، کنه؟، او د محبت کولو په صورت کي به طلاق واقع کیږي، کنې نه به واقع کیږي).

پر حيض طلاق معلق كول

وَإِذَا قَالَ لَهَا: إِذَا حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ او كه [خاوند] ښځي ته ووايي: كله چي تا ته حيض راسي نو ته [پر ما] طلاقه يې فَرَأَتِ الدَّمَ او [بيا ښځه] وينه ووينې لَمْ يَقَعِ الطَّلَاقُ حَتَّى يَسْتَمِرَّ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ نو طلاق نه واقع كيږي تر دې چي وينه تر دريو ورځو پوري جاري پاته سي لِأَنَّ مَا يَنْقَطِعُ دُونَهَا لَا يَكُونُ حَيْضًا ځكه كومه وينه چي له دريو ورځو څخه په كم وخت كي بنده سي هغه حيض نه وي فَإِذَا تَمَّتْ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ حَكَمْنَا بِالطَّلَاقِ مِنْ حِينَ حَاضَتْ لهذا كله چي درې ورځي پوره سي نو موږ د دې ښځي د حائضه كېدلو له وخت څخه د طلاق [واقع كېدلو] حكم كوو لِأَنَّهُ بِالِامْتِدَادِ عُرِفَ أَنَّهُ مِنَ الرَّحِمِ ځكه چي [تر دريو ورځو پوري د وينې] په اوږدېدلو [او جاري كېدلو] سره دا معلومه سوه چي هغه له رحم څخه ده فَكَانَ حَيْضًا مِنَ الِابْتِدَاءِ نو ځكه به له ابتداء څخه د حيض وينه وي وَلَوْ قَالَ لَهَا: إِذَا حِضْتِ حَيْضَةً فَأَنْتِ طَالِقٌ او كه چيري [خاوند] ښځي ته ووايي: كله چي تا ته حيض راسي نو ته [پر ما] طلاقه يې لَمْ تَطْلُقْ حَتَّى تَطْهُرَ مِنْ حَيْضِهَا نو هغه نه طلاقيږي تر دې چي له حيض څخه پاكه سي لِأَنَّ الْحَيْضَةَ بِالْهَاءِ هِيَ الْكَامِلَةُ مِنْهَا ځكه چي په هاء [ة] سره حَيْضَة كامل [بشپړ] حيض وي وَلِهٰذَا حُمِلَ عَلَيْهِ فِي حَدِيثِ الِاسْتِبْرَاءِ [1] او له همدې وجهي د استبراء په حديث كي [حَيْضَة] پر كامل حيض حمل كړی سوی دی وَكَمَالُهَا بِانْتِهَائِهَا او د حيض كاملېدل د حيض په ختمېدلو سره دی وَذٰلِكَ بِالطُّهْرِ او د حيض ختمېدل په پاكېدلو سره دي.

اللغات: ﴿يَسْتَمِرّ﴾ د استفعال مضارع ده: جاري كېدل، ﴿يَنْقَطِع﴾ د انفعال مضارع ده: بندېدل، درېدل، ﴿اِمْتِدَاد﴾ د افتعال مصدر دی: اوږدېدل، غوړېدل، كشېدل، ﴿اِسْتِبْرَاء﴾ د حيض په ذريعه د رحم د خالي والي (نه حامله كېدلو) خبر تر لاسه كول.

تشريح: په دې عبارت كي دوې مسئلې بيان سوي دي او دواړي ډېري آسانه دي: (۱)...اوله مسئله دا ده كه خاوند خپلي ښځي ته ووايي: "كله چي تا ته حيض راسي، نو ته پر ما طلاقه يې"، او بيا ښځه وينه ووينې، نو محض د وينې په ليدلو سره پر هغې طلاق نه واقع كيږي، بلكي پر دغه ښځي هغه وخت طلاق واقع كيږي كله چي هغه مسلسل تر دريو ورځو پوري وينه ووينې؛ دليل دا دی چي زموږ

[1] تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب النكاح، باب في وطء السبايا، حديث رقم:۲۱۵۷ ۲۱۵۸.

په نېز د حيض کم (أقل) مودت درې ورځې دی، که چيرې تر دريو ورځو مخکې وينه بنده سي، نو هغه د حيض وينه نه ده، بلکې د استحاضې وينه ده، لهذا کله چې تر دريو ورځو پورې وينه جارې وي، نو دا خبره به يقيني سي چې هغه له رحم څخه راځي، او له رحم څخه راتلونکې وينه د حيض وي، نو که چيرې د دې ښځې وينه پوره درې ورځې وبهيږي او پوره درې ورځې هغه خپله وينه وويني، نو له کوم وخت څخه چې وينه شروع سوې وي، له هغه وخت څخه به د طلاق واقع کېدلو حکم کيږي، ځکه چې تر درې ورځو وروسته معلومه سوه چې دا د رحم وينه ده، لهذا د أول وخت څخه به دا حيض شمارل کيږي. (په عبارت کې د حَتّٰى يَسْتَبِرَّ مطلب دا نه دی چې درې ورځې به مسلسل او پرلپسې وينه جارې وي، کنې ښځه به تر شفاخانې او هديرې پورې ورسيږي، له دې څخه مراد تر دريو ورځو پورې د وينې تګ راتګ دی، يعني چې تر دريو ورځو پورې به وينه يو وخت او بل وخت جارې وي).

(۲)... دويمه مسئله دا که خاوند خپلې ښځې ته ووايي: إِذَا حِضْتِ حَيْضَةً فَأَنْتِ طَالِقٌ، نو په دې صورت کې چې تر څو د ښځې حيض ختم سوی او هغه پاکه سوې نه وي، تر هغه وخته پر ښځې طلاق نه واقع کيږي، يعني د طهر په شروع کې پر هغې طلاق واقع کيږي؛ دليل دا دی چې حَيْضَةً په "ة" سره کامل او بشپړ حيض ته وايي، او حيض په ختمېدلو سره کامل کيږي، نو ځکه مونږ وايو چې د طهر په شروع کې به طلاق واقع کيږي، تر هغه مخکې به نه واقع کيږي.

ولهذا الخ: صاحب د هدايې اوس ووېل چې "ة" د کمال او بشپړتيا لپاره ده، دلته د هغه په دليل کې د ابو داؤد يو حديث ذکر کوي، فرمايي: همدا وجه ده چې د استبراء په حديث کې هم حَيْضَةً پر کامل حيض حمل کړی سوی دی، د استبراء له حديث څخه مراد دا حديث دی: عن أبي سعيد الخدري: أَنَّهُ قَالَ... : لَا تُوْطَأُ حَامِلٌ حَتّٰى تَضَعَ وَلَا غَيْرُ ذَاتِ حَمْلٍ حَتّٰى تَحِيْضَ حَيْضَةً (ابو داؤد شريف، ص: ۳۱۱، حديث شمېره: ۲۱۵۷)، په دې حديث کې له حَيْضَةً څخه مراد کامل حيض دی، او تر کامل حيض مخکې به صحابه د مينځو له وطي څخه منع کېدل، لهذا دلته به هم له حَيْضَةً څخه مراد کامل حيض وي.

د روژې پر نيولو طلاق معلق کول

وَإِذَا قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا صُمْتِ يَوْمًا او که [خاوند] ووايي: کله چې ته يوه ورځ روژه ونيسې نو [پر ما] طلاقه يې طُلِّقَتْ حِيْنَ تَغِيْبُ الشَّمْسُ فِي الْيَوْمِ الَّذِي تَصُوْمُ نو په کومه ورځ چې روژه ونيسي د هغه ورځې د لمر لوېدلو په وخت کې طلاقيږي لِأَنَّ الْيَوْمَ إِذَا قُرِنَ بِفِعْلٍ مُمْتَدٍّ يُرَادُ بِهِ بَيَاضُ النَّهَارِ ځکه کله چې يَوْم د ممتد فعل سره متصل سي نو له هغه ځخه د ورځې سپينوالی [رڼا] مراديږي بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ إِذَا صُمْتِ په خلاف د هغه صورت کله چې [خاوند] ووايي: [أَنْتِ طَالِقٌ] إِذَا صُمْتِ يعني يَوْم ذکر نه کړي، نو په دې صورت کې که ښځه ديو څو دقيقو لپاره روژه ونيسي نو هم طلاق واقع کيږي] لِأَنَّهُ لَمْ يُقَدِّرْهُ بِمِعْيَارٍ ځکه چې [دلته] خاوند روژه په يو معيار سره اندازه کړې نه ده وَقَدْ وُجِدَ الصَّوْمُ بِرُكْنِهِ وَشَرْطِهِ او روژه د خپل رکن او د خپل شرط سره موجوده سوه.

اللغات: ﴿بَيَاض﴾ سپينوالی، رڼا، ځلا. ﴿لَمْ يُقَدِّرْ﴾ د تفعيل له باب ځخه د جحدِ معلوم صيغه ده: اندازه کول، مقدار ټاکل (اندازه معلومول).

تشريح: دا قاعده مخکې تېره سوه چې که لفظ د يَوْم د فعلِ ممتد سره متصل او مقرون وي، نو بيا به له يَوْم ځخه مراد بياضِ نهار وي، نه مطلق وخت، او دلته روژه فعلِ ممتد دی (يعني داسي فعل دی چې پوره يوه ورځ غواړي، په لږ ګړي نه پوره کيږي)، نو ځکه به دلته د يَوْم ځخه بياضِ نهار مراد وي، او د طلاق د وقوع لپاره به تر لمر لوېدو پوري ټوله ورځ روژه نيول شرط وي، او کله چې هم شرط پوره سي (يعني ښځه تر لمر لوېدلو پوري روژه ونيسي)، نو طلاق به واقع کيږي، او د أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا صُمْتِ صَوْمًا هم دغه حکم دی.

د دې په خلاف که خاوند أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا صُمْتِ ووايي، او لفظ د يَوْم ذکر نه کړي، نو په دې صورت کې که ښځه د روژې په نيت د لږ ګړي لپاره هم روژه ونيسي، نو بيا هم طلاق واقع کيږي، ځکه چې دلته خاوند روژه په يو معيار يعني په يَوْم او داسي نورو سره اندازه کړې نه ده، بلکې مطلقاً روژه يې ذکر کړې ده، لهذا کله چې هم مطلقاً روژه د خپل رکن او شرط سره ونيول سي، نو سمدستي به پر دغه ښځې طلاق واقع کيږي، د روژې رکن خوراک اُو څښاک پرېښوول دي، او د روژې شرط نيت او د حيض او نفاس ځخه پاکېدل دي.

د کوچني پر پيدا ينبت د طلاق معلق کولو يو صورت

وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: إِذَا وَلَدْتِ غُلَامًا فَأَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً او کوم سړی چې خپلې ښځې ته ووايي: که چيرې ته هلک وزېږوې نو په يوه [طلاق] سره [پرما] طلاقه يې وَإِذَا وَلَدْتِ جَارِيَةً فَأَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْنِ او که چيرې ته نجلۍ وزېږوې نو په دوو [طلاقو] سره طلاقه يې فَوَلَدَتْ غُلَامًا وَجَارِيَةً او ښځې هلک او نجلۍ دواړه وزېږول وَلَا يَدْرِي أَيُّهُمَا أَوَّلُ او دا معلومه نه وه چې اول کوم يو دی [يعني چې اول کوم يو پيدا سو] لَزِمَهَا فِي الْقَضَاءِ تَطْلِيقَةٌ وَفِي التَّنَزُّهِ تَطْلِيقَتَانِ نو قضاءً پر دغه ښځې يو طلاق لازم سو او تورّعاً دوه طلاقه [پر لازم سو] وَانْقَضَتِ الْعِدَّةُ او عدت [هم] پوره کيږي لِأَنَّهَا لَوْ وَلَدَتِ الْغُلَامَ أَوَّلًا وَقَعَتْ وَاحِدَةٌ ځکه که چيرې ښځه اول هلک وزېږوي نو يو طلاق به واقع کيږي وَتَنْقَضِي عِدَّتُهَا بِوَضْعِ الْجَارِيَةِ او د نجلۍ په زېږولو سره به د هغې عدت پوره کيږي ثُمَّ لَا تَقَعُ أُخْرَى بِهِ بيا د دغه [دويم حمل زېږولو] په به [پر هغې] بل طلاق نه واقع کيږي لِأَنَّهُ حَالُ انْقِضَاءِ الْعِدَّةِ ځکه چې دا د عدت پوره کېدلو [ختمېدلو] وخت دی وَلَوْ وَلَدَتِ الْجَارِيَةَ أَوَّلًا او که چيرې اول نجلۍ وزېږوي وَقَعَتْ تَطْلِيقَتَانِ نو دوه طلاقه به واقع کيږي وَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا بِوَضْعِ الْغُلَامِ او د هلک په زېږولو [پيدا ينبت] سره به د هغې عدت پوره کيږي ثُمَّ لَا يَقَعُ شَيْءٌ آخَرُ بِهِ بيا به د دغه په وجه بل شی نه واقع کيږي لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّهُ حَالُ انْقِضَاءِ الْعِدَّةِ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی چې دا د عدت پوره کېدلو [ختمېدلو] وخت دی فَإِذَا فِي حَالٍ تَقَعُ وَاحِدَةٌ وَفِي حَالٍ تَقَعُ ثِنْتَانِ نو اوس [په دې صورت کي] په يوه حالت [د هلک پيدا کېدلو په حالت] کي يو طلاق واقع کيږي او په بل حالت [د نجلۍ پيدا کېدلو په حالت] کي دوه طلاقه واقع کيږي فَلَا تَقَعُ الثَّانِيَةُ بِالشَّكِّ وَالِاحْتِمَالِ نو دويم طلاق به د شک او احتمال په وجه نه واقع کيږي وَالْأَوْلَى أَنْ تَأْخُذَ بِالثِّنْتَيْنِ تَنَزُّهًا وَاحْتِيَاطًا او غوره دا ده چې موږ د تورّع او احتياط په خاطر دوه طلاقه اختيار کړو وَالْعِدَّةُ مُنْقَضِيَةٌ بِيَقِينٍ او عدت خو په يقيني توګه پوره سوی [او ختم سوی] دی لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿غُلَام﴾ په عربي ژبه کي "غُلَام" هلک ته وايي، هغه که کوچنی وي او که غټ وي، جمع: غِلْمَة. ﴿جَارِيَة﴾ په اصل کي مېنځې ته وايي، همدارنګه پېغلي ښځې او کوچنۍ نجلۍ ته هم وايي،

جمع: جَوَارِيْ. ﴿التَّحَرُّزُ﴾ د تفعّل مصدر دی: پرهېز کول، احتیاط کول. ﴿إِنْقَضَتْ﴾ د انفعال ماضي ده: تېرېدل، ختمېدل، پوره کېدل.

تشريح: **مسئله:** دا ده که خاوند خپلي ښځي ته داسي ووايي: إِذَا وَلَدْتِ غُلَامًا فَأَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَإِذَا وَلَدْتِ جَارِيَةً فَأَنْتِ طَالِقٌ ثِنْتَيْنِ، او تر دې وروسته ښځه هلک او نجلۍ دواړه وزېږوي، نو صاحب د فتح القدير او داسي نورو د دې مسئلې څلور صورتونه ذکر کړي دي:

①... که چیري هلک مخکي پیدا سي، نو یو طلاق واقع کیږي، او د دې ښځي عدت د نجلۍ په پیدایښت سره پور کیږي، ځکه چي د حاملې ښځي عدت وضعُ الحمل (د پاته حمل زېږول) دي، او تر هلک وروسته د نجلۍ په پیدایښت سره طلاق نه واقع کیږي.

②... او که نجلۍ مخکي پیدا سي، نو دوه طلاقه واقع کیږي.

③... او که خاوند او ښځه اختلاف وکړي، مثلاً خاوند وايي چي هلک مخکي پیدا سوی دی، او ښځه وايي چي نجلۍ مخکي پیدا سوې ده، نو په دې هکله به د خاوند قول معتبر وي، ځکه چي هغه د طلاق د زیادت مُنکر دی

④... څلورم صورت (کوم چي په کتاب کي په تفصیل سره ذکر سوی دی) دا دی چي که معلومه نه وي، چي په هلک او نجلۍ کي څوک مخکي پیدا سو، نو قضاءً یو طلاق واقع کیږي، ځکه چي د یوه طلاق واقع کېدل ثابت دي، او د بل په واقع کېدلو کي شک دی، لېکن دیانتاً او احتیاطاً به دوه طلاقه واقع کیږي.

د څلورم صورت دلیل دا دی چي که چیري اول غلام پیدا سوی وي، نو یو طلاق واقع کیږي، او د نجلۍ په پیدایښت سره د ښځي عدت ختمیږي، ځکه چي تر هلک پیدا کېدلو وروسته دا ښځه حامله پاته سوه، او د حاملې عدت وضعُ الحمل (د حمل زېږول) دی، او تر هلک وروسته د نجلۍ په پیدا کېدلو سره پر دغه ښځي هیڅ طلاق نه واقع کیږي، ځکه چي دا وخت د عدت پوره کېدلو او ختمېدلو وخت دی، یعني د نجلۍ په پیدایښت سره سمدستي د ښځي عدت ختم سو، او هغه د خاوند په نکاح کي پاته نه سوه، نو په دې وجه پر هغې بل طلاق نه سي واقع کېدای.

او که چیري نجلۍ اول پیدا سوې وي، نو دوه طلاقه واقع کیږي، او د هلک په پیدایښت سره د ښځي عدت ختمیږي، او د هلک په پیدایښت سره بل طلاق نه واقع کیږي د مخکني دلیل په وجه چي دا د عدت ختمېدلو وخت دی، خلاصه دا چي په یوه حالت کي یو طلاق واقع کیږي، او په بل حالت کي دوه طلاقه واقع کیږي، نو د یوه طلاق واقع کېدل خو یقیني دي، او د بل طلاق په واقع

کېدلو کې شک او احتمال دی، او د شک په وجه سره طلاق نه واقع کیږي، نو ځکه به په دې ځلورم صورت کې قضاءً یو طلاق واقع کیږي، او احتیاط او تقویٰ دا ده چې دوه طلاقه واقع سي.

والعدة الخ: فرمایي چې که یو طلاق واقع سي یا دوه طلاقه، په هر صورت کې د دویم کوچني په پیدایښت سره عدت پوره کیږي او ختمیږي، ځکه چې د اول کوچني تر پیدایښت وروسته ښځه حامله پاته سي، او د حاملې عدت په وضعُ الحمل سره متعین او متیقن دی.

د تعلیق یو صورت

وَإِنْ قَالَ لَهَا: إِنْ كَلَّمْتِ أَبَا عَمْرٍو وَأَبَا يُوسُفَ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا او که [خاوند] خپلې ښځې ته [داسې] ووایي: که چیرې ته د ابو عمر او ابو یوسف سره خبرې وکړې نو ته په دریو [طلاقو] سره [پر ما] طلاقه یې ثُمَّ طَلَّقَهَا وَاحِدَةً فَبَانَتْ بیا [خاوند] هغې ته یو طلاق ورکړی او هغه بائنه سوه وَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا او عدت یې پوره سو فَكَلَّمَتْ أَبَا عَمْرٍو او هغې [په دغه وخت کې] د ابو عمرو سره خبرې وکړې ثُمَّ تَزَوَّجَهَا بیا [خاوند] د هغې سره نکاح وکړه فَكَلَّمَتْ أَبَا يُوسُفَ او بیا ښځې د ابو یوسف سره خبرې وکړې فَهِيَ طَالِقٌ ثَلَاثًا مَعَ الْوَاحِدَةِ الْأُولَى نو دا ښځه اول [مخکني] طلاق سره په دریو [طلاقو] سره طلاقه ده [یعني په دې صورت کې به پر دغه ښځې د اول طلاق سره درې طلاقه واقع کیږي] وَقَالَ زُفَرُ: لَا يَقَعُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي چې [هیڅ طلاق] نه واقع کیږي وَهٰذِهِ عَلَى وُجُوهٍ او دا مسئله پر څو صورتونو [مشتمله] ده إِمَّا إِنْ وُجِدَ الشَّرْطَانِ فِي الْمِلْكِ [۱] یا به دواړه شرطونه په ملکیت کې موجود سوي [پیدا سوي] وي [یعني یا به ښځې د ابو عمر او ابو یوسف دواړو سره د خاوند په ملکیت (د نکاح په حالت) کې خبرې کړې وي)

فَيَقَعُ الطَّلَاقُ نو [په دې صورت کې] طلاق واقع کیږي وَهٰذَا ظَاهِرٌ او [په دې صورت کې واقع کېدل] ښکاره دي أَوْ وُجِدَا فِي غَيْرِ الْمِلْكِ [۲] یا به دواړه شرطونه له ملکیت ځخه په علاوه [غیر ملکیت] کې پیدا سوي وي فَلَا يَقَعُ نو [طلاق] نه واقع کیږي أَوْ وُجِدَ الْأَوَّلُ فِي الْمِلْكِ وَالثَّانِي فِي غَيْرِ الْمِلْكِ [۳] یا به اول شرط په ملکیت کې پیدا سوی وي او دویم به په غیر ملکیت کې [پیدا سوی وي] فَلَا يَقَعُ أَيْضًا نو هم [طلاق] نه واقع کیږي لِأَنَّ الْجَزَاءَ لَا يَنْزِلُ فِي غَيْرِ الْمِلْكِ ځکه چې په غیر ملکیت کې جزاء نه ثابتیږي [نه واقع کیږي] فَلَا يَقَعُ نو ځکه به [طلاق] نه واقع کیږي أَوْ وُجِدَ الْأَوَّلُ فِي غَيْرِ الْمِلْكِ وَالثَّانِي فِي الْمِلْكِ [۴] یا به اول شرط په غیر ملکیت کې پیدا سوی وي او دویم شرط په غیر ملکیت کې وَهِيَ

مَسْأَلَةُ الْكِتَابِ الْخِلَافِيَّةُ او همدا د متن مختلف فيه مسئله ده لَهُ اِعْتِبَارُ الْأَوَّلِ بِالثَّانِيْ د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل پر دويم شرط د اول شرط قياسول دي إِذْ هُمَا فِي حُكْمِ الطَّلَاقِ كَشَيْءٍ وَاحِدٍ ځکه چي د طلاق په حکم دواړه د يوه شي په شان دي وَلَنَا: أَنَّ صِحَّةَ الْكَلَامِ بِأَهْلِيَّةِ الْمُتَكَلِّمِ او زموږ دليل دا دی: چي د کلام صحيح کېدل د متکلم د اهليت په وجه سره دي إِلَّا أَنَّ الْمِلْكَ يُشْتَرَطُ حَالَةَ التَّعْلِيقِ خو د تعليق په حالت کي ملکيت [ځکه] شرط کيږي لِيَصِيْرَ الْجَزَاءُ غَالِبَ الْوُجُوْدِ لِاسْتِصْحَابِ الْحَالِ چي د استصحابُ الحال په وجه جزاء غالبُ الوجود سي فَتَصِحُّ الْيَمِيْنُ نو به قسم صحيح سي وَعِنْدَ تَمَامِ الشَّرْطِ لِيَنْزِلَ الْجَزَاءُ او چي د شرط په پوره کېدلو په وخت کي جزاء ثابته سي لِأَنَّهُ لَا يَنْزِلُ إِلَّا فِي الْمِلْكِ ځکه چي جزاء فقط په ملکيت کي ثابتيږي وَفِيْمَا بَيْنَ ذٰلِكَ الْحَالُ حَالُ بَقَاءِ الْيَمِيْنِ او په دې مينځ کي چي کوم وخت دی هغه د يمين د بقاء وخت دی فَيَسْتَغْنِيْ عَنْ قِيَامِ الْمِلْكِ نو [په دې مينځوي وخت کي] به يمين د ملکيت د وجود څخه مستغني وي إِذْ بَقَاؤُهُ بِمَحَلِّهِ ځکه چي د يمين بقاء په خپل محل سره ده وَهُوَ الذِّمَّةُ او محل [د قسم کونکي (حالف)] ذمه ده.

اللغات: ﴿كَلَّمْتِ﴾ د تفعيل له باب څخه د واحد مؤنث مخاطب ماضي صيغه ده: خبري کول، ﴿اِنْقَضَتْ﴾ ختمېدل، تېرېدل، پوره کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي د بيان سوي مسئلې څو صورتونه دي، خو څرنګه چي هغه ټوله د يوې مسئلې بناخونه او شکلونه دي، نو ځکه د اصل مسئلې مفهوم ته ګورئ! مسئله دا ده که خاوند خپلې ښځي ته داسي ووايي: إِنْ كَلَّمْتِ أَبَا عَمْرٍو وَ أَبَا يُوْسُفَ فَأَنْتِ طَالِقٌ (که تا د ابو عمر او ابو يوسف سره خبري وکړې، نو پر ما طلاقه يې)، او بيا خاوند هغې ته د ابو عمر... سره تر خبري کولو مخکي طلاق ورکړي او تر عدت پوره کېدلو وروسته هغه بائنه سي او د خاوند له نکاح څخه ووځي، او په دغه حالت کي ښځه د ابو عمر سره خبري وکړي، بيا خاوند د دې ښځي سره دويم وار نکاح وکړي، نو که اوس دا ښځه د هغه په نکاح کي د ابو يوسف سره خبري وکړي، نو په دې صورت کي د اول طلاق سره زموږ په نيز پر دغه ښځي درې طلاقه واقع کيږي، او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي يو طلاق هم نه واقع کيږي.

د دې مسئلې ټوله څلور صورتونه دي: ① اول دا چي دواړه شرطونه د خاوند په ملکيت کي موجود سي (يعني ښځه د خاوند په نکاح کي وي، او د ابو عمر او ابو يوسف دواړو سره خبري وکړي)، نو په دې صورت کي د ټولو په نيز طلاق واقع کيږي، ځکه چي د طلاق واقع کېدلو شرط (يعني

خبري کول) د خاوند په ملکيت کي موجود سو. ② دويم دا چي اول شرط په ملکيت کي او دويم په غيرِ ملکيت کي موجود سي (يعني ښځه د نکاح په حالت کي د يوه سړي سره خبري وکړي، او تر نکاح وروسته د طلاق په حالت کي د بل سره خبري وکړي)، نو په دې صورت کي د ټولو په نيز طلاق نه واقع کيږي. ③ دريم دا چي اول شرط په ملکيت کي موجود سي (يعني ښځه د اوبو عمر سره د نکاح په حالت کي خبري وکړي)، او دويم شرط په غيرِ ملکيت کي موجود سي، نو په دې صورت کي هم هيڅ طلاق نه واقع کيږي؛ دليل دا دی چي خاوند د دوو خلکو پر خبرو شرط معلق کړی، لهذا تر څو چي ښځه د نکاح په حالت کي (يعني د خاوند په ملکيت کي) د دواړو سره خبري نه وکړي، تر هغه وخته پوري شرط نه پوره کيږي يعني جزاء نه واقع کيږي، او څرنګه دلته دويم شرط په غيرِ ملکيت (د طلاق په حالت کي) موجود سوی دی، نو ځکه به جزاء يعني طلاق نه واقع کيږي.

④ څلورم صورت دا دی چي اول شرط په غيرِ ملکيت کي موجود سي، او دويم شرط په ملکيت کي موجود سي، همدا صورت په متن کي بيان سوی دی، او زموږ او د امام زفر په مينځ کي مختلف فيه دی، يعني په دې صورت کي زموږ په نيز دري طلاقه واقع کيږي، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز يو طلاق هم نه واقع کيږي.

د امام زفر دليل: قياس دی، يعني هغه اول شرط پر دويم شرط قياسوي، علامه اترازي رَحِمَهُ الله فرمايي چي پر دويم شرط د اول شرط قياسولو مطلب دا دی چي که څيري دويم شرط په غيرِ ملکيت کي موجود سي، نو جزاء نه واقع کيږي، لهذا همداسي که اول شرط هم په غيرِ ملکيت کي موجود سي، نو هم جزاء واقع کېدل پکارنه دي، ځکه کله چي په يوه شرط کي ملکيت شرط دی، نو په بل کي به هم ملکيت شرط وی.

او علامه تاجُ الشريعه رَحِمَهُ الله فرمايي چي د امام زفر د قياس مطلب دا دی چي کله د دويم شرط د موجودېدلو په وخت کي د طلاق د وقوع لپاره ملکيت شرط دی، نو د اول شرط د موجودېدلو په وخت کي به هم د طلاق د وقوع لپاره ملکيت شرط وي، او څرنګه چي دلته اول شرط په غيرِ ملک کي موجود سوی دی، نو ځکه به طلاق نه واقع کيږي. (عنايه)

زموږ دليل: دا دی چي د کلام د صحيح کېدلو دار ومدار د متکلم پر أهليت وي، او څرنګه چي دلته خاوند عاقل، بالغ او د کلام د تصرف أهل دی، لهذا د هغه پر کلام معلق کړی سوی يمين به صحيح وي، او د دغه يمين محل د حالف ذمه ده (يعني دا يمين د قسم کونکي پر ذمه قائم او باقي دی).

إلا أن الملك إلخ: په دې سره د يو مقدّر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي کله د خاوند دا کلام صحيح دی او د يمين لپاره کافي دی، بيا د تعليق په وخت کي ملکيت ولي شرط کړی سو؟ نو د دې

جواب دا دی چي د تعلیق په وخت کي د ملکیت شرط کېدلو وجه دا ده چي د استصحابُ الحال په وجه سره جزاء غالب الوجود سي، د دې جملې واضح مطلب دا دی چي که د تعلیق په حالت کي د خاوند ملکیت قائم او پر خپل حال پاته سي، نو همدغه د ملک قائمېدل به د جزاء ثابتېدلو په وخت کي علت او دلیل جوړېږي او له هغه څخه به دا ګنل کیږي چي کله په هغه وخت کي (د تعلیق په وخت کي)-د خاوند ملکیت موجود دی، نو غالب ګومان همدغه دی چي د شرط تر موجودېدو او د جزاء تر پاتېدلو پوري به د هغه دا ملکیت پاته او قائم وي (همدې ته استصحابُ الحال وایي)، لهذا دې مسئله کي د خاوند تعلیق او د هغه یمین صحیح دی.

بیا که یو څوک سوال وکړي چي د شرط تر موجودېدو پوري ملکیت پاتېدل ولي ضروري دي، نو د دې جواب دا دی چي تر شرط پوره کېدلو وروسته سمدستي جزاء ثابتیږي، او د جزاء د ثابتېدلو او واقع کېدلو لپاره ملکیت ضروري دی، ځکه چي جزاء په غیرِ ملکیت کي نه واقع کیږي، نو په دې وجه د شرط په ابتداء کي هم ملکیت ته ضرورت سته، او د شرط په انتهاء کي هم ملکیت ته ضرورت سته، لېکن د ابتداء او انتهاء په مینځ کي چي کوم حالت دی (یعني تر شرط لګولو وروسته د جزاء تر واقع کېدلو پوري چي کوم وخت دی)، هغه د یمین د بقاء وخت دی، او د یمین د بقاء لپاره د ملکیت وجود او د یمین محل یعني د حالف ذمه ضروري ده، او د ملکیت وجود او بقاء په خپل محل سره وي، او دلته د ملکیت محل یعني د حالف ذمه هر ګړی او هره لمحه موجوده ده، لهذا د یمین د بقاء د ملکیت وجود ضروري نه دی (یعني د ابتداء او انتهاء په مینځ کي چي کوم وخت دی، هغه د یمین د بقاء وخت دی، او هغه د قسم کونکي پر ذمه باقي پاتیږي، نو ځکه په دغه مینځوي (منځني) وخت کي ملکیت پاتېدل ضروري نه دي، لهذا که په دې مینځوي وخت کي مطلقه ښځه د ابو عمر سره خبري وکړي، او اول شرط موجود سي، نو هیڅ حرج نسته، ځکه چي د دویم شرط په وخت کي [یعني د ابو یوسف سره د خبرو کولو په وخت کي] ملکیت موجود دی، نو طلاق لپاره همدومره ملکیت کافي دی).

د تعلیق یو بل صورت

وَإِنْ قَالَ لَهَا: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا او که [خاوند] خپلي ښځي ته [داسي] وویل: که چیري ته کور ته داخله سوې نو په دریو [طلاقو] سره [پر ما] طلاقه یې فَطَلَّقَهَا ثِنْتَيْنِ بیا [خاوند] دغه ښځي ته دوه طلاقه ورکړه وَتَزَوَّجَتْ زَوْجًا آخَرَ وَدَخَلَ بِهَا او دې ښځي د بل خاوند سره نکاح وکړه او [دویم خاوند] په دې دخول [هم] وکړی ثُمَّ عَادَتْ إِلَى الْأَوَّلِ بیا دا ښځه [بیرته] اول خاوند ته را

وګرځېدل [يعني بيرته د اول خاوند په نکاح کې واپس راشله] فَدَخَلَتِ الدَّارَ او کور ته داخله سوه طُلِّقَتْ ثَلَاثًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ نو د شيخينو رَحِمَهُمُ الله په نيز دا ښځه په دريو [طلاقو] سره طلاقېږي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: هِيَ طَالِقٌ مَا بَقِيَ مِنَ الطَّلَقَاتِ* او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې هغه طلاقه ده په هغه طلاق سره کوم چې له [مخکني دريو] طلاقو څخه پاته دي [يعني د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز پر دې ښځې هغه يو باقي طلاق واقع کيږي] وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی وَأَصْلُهُ: أَنَّ الزَّوْجَ الثَّانِيَ يَهْدِمُ مَا دُوْنَ الثَّلَاثِ عِنْدَهُمَا او د دې [اختلاف] اصل دا دی: چې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دويم خاوند تر دريو کم [طلاقونه] له منځه وړي [ساقطوي] [يعني هغه مخکني طلاقونه داسې ګرځوي لکه ګرسره چې واقع سوي نه وي] فَتَعُوْدُ إِلَيْهِ بِالثَّلَاثِ نو دا ښځه به اول خاوند ته په دريو [طلاقو] سره را وګرځي [يعني په دريو طلاقو سره به د اول خاوند په نکاح کې راسي] وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ وَزُفَرَ لَا يَهْدِمُ مَا دُوْنَ الثَّلَاثِ او د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نيز [دويم خاوند] تر دريو کم [طلاقونه] له منځه نه وړي [نه ساقطوي] فَتَعُوْدُ إِلَيْهِ مَا بَقِيَ نو دا ښځه به د هغه وطرف ته په پاته سوي طلاق سره را وګرځي وَسَنُبَيِّنُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او وروسته به موږ انشاء الله د دې [مسئلې] بيان وکړو.

اللغات: ﴿عَادَتْ﴾ د نصر ماضي ده: دويم ځل راتلل، راګرځېدل (واپس راتلل)، ﴿يَهْدِمُ﴾ د ضرب مضارع ده: نړول، خرابول، مراد ځني ساقطول او له منځه وړل دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته داسې ووايي: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا، او بيا د شرط تر وجود يعني تر دخولُ الدّار مخکې خاوند هغې ته دوه طلاقه ورکړي. او ښځه تر عدت پوره کېدلو وروسته د دويم خاوند سره نکاح وکړي او دويم خاوند په هغې دخول هم وکړي، بيا هغه له دويم خاوند څخه طلاق واخلي او تر عدت پوره کېدلو وروسته بيرته د اول خاوند په نکاح کې راسي، نو اوس که د اول خاوند په نکاح کې هغه کور ته داخله سي، نو د شيخينو په نيز پر هغې درې طلاقه واقع کيږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز ما بقی (پا ته طلاق) يعني يو طلاق واقع کيږي همدا د امام زفر، امام شافعي، امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمُ الله قول دی.

* القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وعند محمد رَحِمَهُ الله وباقي الائمة بما بقي وهو الحق (رد المحتار ج:٢، ص:٥٨٩)، وكذا في فتح القدير (ج:٤، ص:٣٦). [القول الراجح ج:١، ص:٣٣٤]

د اختلاف بنياد دا دی چې د شيخينو په نيز دويم خاوند ملغي الثلاث (تر دريو کم طلاقونه) ساقطوي او بالکل يې ختموي، نو دا ښځه به (چې هره يا يو طلاق وو کول سوي وي) بيرته د دريو طلاقو سره د اول خاوند په نکاح کي راسي (نو ځکه به دري طلاقه پر واقع کيږي). او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز دويم خاوند ما دون الثلاث نه ساقطوي، لهذا د امام محمد په نيز دا ښځه د ملبقي (پاته طلاق) سره د اول خاوند په نکاح کي راځي (نو ځکه د هغه په نيز يو طلاق واقع کيږي). دا مسئله به انشاء الله وروسته په تفصيل سره بيان سي.

د تعليق يو بل صورت

وَإِنْ قَالَ لَهَا: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا ثَلَاثًا او که [خاوند] خپلي ښځي ته وويل؛ که چيري ته کور ته داخله سوې نو په دريو [طلاقو] سره [پر ما] طلاقه يې ثُمَّ قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا بيا خاوند هغې ته [د شرط ذکر کولو څخه بغير] وويل: ته په دريو [طلاقو] سره [پر ما] طلاقه يې فَتَزَوَّجَتْ غَيْرَهُ وَدَخَلَ بِهَا او [بيا] دې ښځي د بل خاوند سره نکاح وکړه او [دويم خاوند] په دې ښځي دخول وکړی ثُمَّ رَجَعَتْ إِلَى الْأَوَّلِ بيا دا ښځه [بيرته] د اول خاوند [په نکاح کي] واپس راغله فَدَخَلَتِ الدَّارَ او کور ته داخله سوه لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ نو هيڅ شی نه واقع کيږي وَقَالَ زُفَرُ: يَقَعُ الثَّلَاثُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دري طلاقه واقع کيږي لِأَنَّ الْجَزَاءَ ثَلَاثٌ مُطْلَقٌ لِإِطْلَاقِ اللَّفْظِ ځکه چي د لفظ د مطلق کېدلو په وجه جزاء مطلق دري [طلاقه] دي وَقَدْ بَقِيَ احْتِمَالُ وُقُوعِهَا او د هغوی [د دريو طلاقو] د واقع کېدلو احتمال باقي دی فَيَبْقَى الْيَمِينُ نو يمين به [هم] باقي پاته وي وَلَنَا: أَنَّ الْجَزَاءَ طَلَقَاتُ هَذَا الْمِلْكِ زموږ دليل دا دی: چي جزاء د دې ملکيت طلاقونه دي لِأَنَّهَا هِيَ الْمَانِعَةُ ځکه چي همدغه [له دخولُ الدّار] څخه منع کونکي دي لِأَنَّ الظَّاهِرَ عَدَمُ مَا يَحْدُثُ ځکه چي د نوي ملکيت عدمِ حدوث ښکاره دی [يعني ظاهرا د بلي نکاح کېدل معدوم دي، مطلب دا چي په دې صورت کي ښکاره همدا خبره ده چي بله نکاح به نه وسي] وَالْيَمِينُ تَنْعَقِدُ لِلْمَنْعِ أَوِ الْحَمْلِ او يمين [له يو کار څخه] د منع کولو يا [پر يو کار] د اماده کولو لپاره منعقد کيږي وَإِذَا كَانَ الْجَزَاءُ مَا ذَكَرْنَاهُ لهذا کله چي جزاء هغه ده کوم چي موږ ذکر کړه وَقَدْ فَاتَ بِتَنْجِيزِ الثَّلَاثِ الْمُبْطِلِ لِلْمَحَلِّيَّةِ او حال دا دی چي د محليت د باطلونکو دريو [طلاقو] په سملستي واقع کېدلو سره جزاء فوت سوه فَلَا يَبْقَى الْيَمِينُ نو ځکه به يمين [هم] باقي نه پاتيږي

بِخِلَافِ مَا إِذَا أَبَانَهَا په خلاف د هغه صورت کله چې [خاوند] ښځه بائنه کړي لِأَنَّ الْجَزَاءَ بَاقٍ لِبَقَاءِ مَحَلِّهِ ځکه چې [په دې صورت کې] د محل د بقاء په وجه سره جزاء باقي ده.

اللغات: ﴿يَحْدُثُ﴾ د نصر مضارع ده: پیښېدل، نوی شی پیدا کېدل، ﴿حَمْل﴾ د ضرب د باب مصدر دی، د دې باب ډیرې معناوې دي، دلته یې معنی "پاړول" او "اماده کول" دي، ﴿تَنْجِيز﴾ د تفعیل مصدر دی: یو کار سمدستي (فوراً) کول، فوراً واقع کول، له څه تعلیق او شرط څخه بغیر واقع کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته ووايي: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا، او بیا تر دخولُ الدّار مخکې هغې ته أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا ووايي (یعني بیا له شرط ذکر کولو څخه بغیر درې طلاقه ورکړي)، او ښځه تر عدت وروسته د دویم خاوند سره نکاح وکړي، او دویم خاوند دخول هم په وکړي، بیا هغه د دویم خاوند څخه طلاق واخلي او تر عدت وروسته بیرته د اول خاوند په نکاح کې راسي، نو که په دغه حالت کې کور ته داخله سي، نو زموږ د دریو علماؤ په نېز هیڅ طلاق نه واقع کیږي، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز درې طلاقه واقع کیږي.

د امام زفر دليل: دا دی چې خاوند چې تر إِنْ دَخَلْتِ الدَّارِ وروسته چې کومه جزاء ذکر کړې ده یعني فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا، دا جزاء مطلق ده، ځکه چې لفظ د ثَلَاث مطلق دی، نو د خاوند دا کلام به مطلقاً دریو طلاقو ته شامل وي، هغه (درې طلاقونه) که فی الحاله د خاوند په ملکیت کې وي، یا وروسته د هغه په ملکیت کې راسي، او مطلق لفظ مقیّد لره نه شاملیږي، ځکه چې مقیّد د مطلق ضد دی، لهذا مطلق درې طلاقه به د موجود ملکیت په قید سره نه مقید کیږي، او کله چې هم خاوند په نکاح کې راسي، نو پر هغې به درې طلاقه واقع کیږي، ځکه چې د دریو طلاقو د وقوع احتمال پاته دی (یعني بیرته پر دې ښځې درې طلاقه واقع کېدل ممکن دي)، په دې توګه چې دا ښځه د دویم خاوند سره نکاح وکړي او "حلاله" وکړي او تر هغه وروسته د اول خاوند سره وکړي (یعني په دې توګه چې د دویم خاوند سره تر نکاح کولو وروسته بیرته د اول خاوند په نکاح کې راسي)، لهذا کله چې جزاء (فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا) مطلق ده، او په هغه کې د فی هذا النکاح یا فی هذا الملک قید نسته، همدارنګه تر "حلاله" وروسته د رجعت امکان هم پاته دی، نو یمین یعني د إِنْ دَخَلْتِ الدَّارِ شرط به باقي پاته وي، او کله چې هم ښځه کور ته داخله سي، نو د دریو طلاقو د وقوع حکم به کیږي.

زموږ دليل: دا دی چې جزاء مطلق درې طلاقه نه دي، بلکې د هغه په ملک کې موجود درې طلاقه دي، ځکه چې جزاء داسې شی وي کوم چې شرط د وجود څخه مانع وي، یا د شرط پر وجود اماده

کونکې وي، ځکه چې يمين د همدغه دوو مقصدونو لپاره منعقد کيږي (يعني په قسم اخيستلو سره د خاوند هدف همدغه وي چې ښځه له جزاء [طلاق] څخه ويريږي او ځني منع سي، يا پر جزاء اماده سي). او دلته د دخولُ الدار څخه منع کونکي شی د همدغه ملکيت درې طلاقونه دي، نه وروسته پيداسوی طلاقونه، او کوم طلاقونه چې د دويم خاوند تر ملکيت وروسته پيدا کيږي، هغه په ښکاره معدوم او نيستي دي، لنډه دا چې دا ثابته سوه چې جزاء د همدغه ملکيت طلاقونه دي، او د دې ملکيت درې سره طلاقه خاوند ښځې ته ورکړي دي، لهذا يمين باقي پاته نه سو، ځکه چې د يمين بقاء په شرط او جزاء سره ده، او جزاء (يعني فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا) کوم چې د يمين يوه حصه ده هغه فوت سوه، او قاعده دا ده چې د جزاء په فوتېدلو سره شرط فوتيږي، لهذا دلته يمين فوت سو، نو کله چې يمين فوت او ختم سو، نو په دخولُ الدّار سره به پر ښځې هيڅ طلاق نه واقع کيږي.

بخلاف إلخ: د دې په خلاف که خاوند د إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ تر ويلو وروسته ښځه په يوه يا دوو طلاقو سره بائنه کړي، او دا ښځه د دويم خاوند سره تر نکاح وروسته بيرته د اول خاوند په نکاح کي راسي، نو په دې صورت کي هغه مخکني يمين نه فوتيږي، بلکي باقي پاتيږي، ځکه چې د خاوند په يوه يا دوو طلاقو سره محليت نه باطليږي، او د محل د بقاء په وجه سره جزاء باقي پاتيږي، نو ځکه به په دې صورت کي په دخولُ الدّار سره پر ښځې درې طلاقه واقع کيږي.

پر وطي او جماع د طلاق معلق کولو تفصيل

وَلَوْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: إِذَا جَامَعْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا او که [خاوند] خپلې ښځې ته ووايي: کله چې زه ستا سره جماع [کوروالی] وکړم نو [بيا] ته په دريو طلاقو سره [پر ما] طلاقه يې فَجَامَعَهَا بيا [خاوند] د هغې سره جماع وکړي فَلَمَّا الْتَقَى الْخِتَانَانِ طُلِّقَتْ ثَلَاثًا نو کله چې هم د دواړو د ختنې ځايونه [فرجونه] سره ولګيږي نو ښځه په دريو طلاقو سره طلاقيږي وَإِنْ لَبِثَ سَاعَةً لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ الْمَهْرُ او که خاوند څه کړی [د همدغه جماع په حالت کي] پاته سي نو پر هغه مهر نه واجبيږي وَإِنْ أَخْرَجَهُ ثُمَّ أَدْخَلَهُ وَجَبَ عَلَيْهِ الْمَهْرُ او که خاوند خپل ذکر [د تناسل آله] راوباسي او بيرته يې [په فرج] دننه کړي نو پر هغه مهر واجبيږي وَكَذَا إِذَا قَالَ لِأَمَتِهِ: إِذَا جَامَعْتُكِ فَأَنْتِ حُرَّةٌ او همدارنګه کله چې [مالک] خپلې

مينځي ته داسي ووايي: كله چي زه ستا سره جماع وكړم نو ته آزاده يې وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ أَوْجَبَ الْمَهْرَ فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ أَيْضًا ❁ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دا دى چي هغه په اول صورت كي هم مهر واجب كړى دى لِوُجُودِ الْجِمَاعِ بِالدَّوَامِ عَلَيْهِ په دوام سره د جماع د موجود والي په وجه ايعني څكه چي په اول صورت كي په دوام سره جماع موجوده سوه] إِلَّا أَنَّهُ لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْحَدُّ لِلِاتِّحَادِ لېكن [د جماع] د اتحاد په وجه پر هغه حد نه واجبيږي وَجْهُ الظَّاهِرِ: أَنَّ الْجِمَاعَ إِدْخَالُ الْفَرْجِ فِي الْفَرْجِ د ظاهر روايت دليل دا دى: چي جماع په فرج كي د فرج داخلول دي وَلَا دَوَامَ لِلْإِدْخَالِ او د داخلولو لپاره دوام نسته [نو ځكه به مهر نه واجبيږي] بِخِلَافِ مَا إِذَا أَخْرَجَ ثُمَّ أَوْلَجَ په خلاف د هغه صورت كله چي [خاوند خپل ذكر] راوباسي [او] بيا يې داخل كړي لِأَنَّهُ وُجِدَ الْإِدْخَالُ بَعْدَ الطَّلَاقِ ځكه چي [په دې صورت كي] تر طلاق وروسته داخلول موجود سو إِلَّا أَنَّ الْحَدَّ لَا يَجِبُ بِشُبْهَةِ الِاتِّحَادِ بِالنَّظَرِ إِلَى الْمَجْلِسِ وَالْمَقْصُودِ خو مجلس او مقصود ته په نظر كولو سره د اتحاد د شبهي په وجه حد نه واجبيږي وَإِذَا لَمْ يَجِبِ الْحَدُّ وَجَبَ الْعُقْرُ او كله چي حد واجب نه سي نو مهر به واجبيږي إِذِ الْوَطْءُ الْمُحَرَّمُ لَا يَخْلُو عَنْ أَحَدِهِمَا ځكه چي حرام وطي په دې دواړو كي له يوه څخه خالي نه وي وَلَوْ كَانَ الطَّلَاقُ رَجْعِيًّا او كه طلاق رجعي وي يَصِيرُ مُرَاجِعًا بِاللُّبْثِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د پاتېدلو [درنګ كولو] په وجه سره [خاوند] رجعت كونكى ګرځي خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ په خلاف د امام محمد رَحِمَهُ الله لِوُجُودِ الْمَسَاسِ د مسه كولو د موجود والي په وجه وَلَوْ نَزَعَ ثُمَّ أَوْلَجَ او كه [خاوند خپل ذكر] را وكاږي [او] بيا يې داخل كړي صَارَ مُرَاجِعًا بِالْإِجْمَاعِ نو په اتفاق سره رجعت كونكى ګرځي لِوُجُودِ الْجِمَاعِ د جماع د موجود والي په وجه ايعني ځكه چي په دې صورت كي دوباره جماع ثابته سوه].

اللغات: ﴿الخِتَانَانِ﴾ تثنيه د خِتَانٌ ده: د سنت كېدلو ځاى، مراد ځني فرج (شرمګاه) ده. ﴿لَبِثَ﴾ د سمع ماضي ده: پاتېدل، درنګ كول، وخت تېرول. ﴿إِدْخَال﴾ د افعال مصدر دى: ننه كول، داخلول.

❁ القول الراجح: په دې مسئله كي راجح قول ظاهر روايت دى كوم چي قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دى چي "د جماع په حالت كي په څه وخت تېرولو سره مهر مثل نه واجبيږي". قال العلامة داماد افندى رَحِمَهُ الله : وهذا عند محمد، وهو مختار أصحاب المتون (مجمع الأنهر ج:١، ص:٤٢٥). ولكن قال العلامة ابن عابدين: وينبغي تصحيح قول أبي يوسف لظهور دليله. وقال الاستاذ غلام قادر النعماني: ولأن مبنا قول أبي يوسف على الاحتياط...(الخ). [القول الراجح ج:١، ص:٣٣٥]

اچول، ﴿اللُّبَاث﴾ په فتحه د لام سره د سمع د باب اسم مصدر دی: پاتېدل، وخت تېرول، ﴿أَوْلَجَ﴾ د افعال ماضي ده: داخلول، ﴿نَزَعَ﴾ د فتح ماضي ده: کښل، را يستل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته داسې ووايي: إِذَا جَامَعْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا، بيا خاوند د ښځې سره جماع وکړي، نو کله چې هم د خاوند ذکر د ښځې د فرج سره ولګيږي (يعني پکښې داخل سي)، نو شرط پوره کيږي او پر ښځې درې طلاقه واقع کيږي، او که خاوند د جماع په حالت کې څه ګړی پاته سي يعني څه وخت د جماع په حالت کې تېر کړي، خوند او لطف حاصل کړي، نو که څه هم په دغه حالت کې پاتېدل او درنګ کول حرام دي، لېکن د دې پاتېدلو او درنګ کولو په وجه نه پر هغه مهرِ مثل (عقر) واجبيږي، او نه پر هغه څه حد جاري کيږي، همدا ظاهر روايت دی، لېکن که تر يو وار إدخال وروسته خاوند بيا خپل ذکر را وباسي او بيا يې په فرج دننه کړي، نو په دې صورت کې هغه فقط له حد څخه ساتل کيږي، او د حرام وطي په وجه مهرِ مثل (عقر) پر واجبيږي.

وكذا إلخ: او همدارنګه په هغه صورت کې هم پر مالک د پاتېدلو او درنګ کولو په وجه مهر نه واجبيږي، کله چې مالک خپلې مينځې ته داسې ووايي: إِذَا جَامَعْتُكِ فَأَنْتِ حُرَّةٌ، او که تر يو وار دخول وروسته بيا دخول وکړي، نو بيا مهر پر واجبيږي.

او په نوادر کې له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې په اول صورت (يعني په إِدخَال مِن غَيرِ إِخرَاج) کې هم مهر واجبيږي؛ د امام ابو يوسف دليل دا دی چې تر دخول وروسته څه ګړی پاتېدل د ابتدائي دخول په څېر دی (يعني داسې دی لکه تر طلاق واقع کېدلو وروسته چې دوباره خاوند د ښځې سره جماع وکړي)، نو ګواکې دې سړي د دريو طلاقو تر وقوع وروسته د ښځې سره جماع وکړه، او دا ښکاره خبره ده چې کومې ښځې ته درې طلاقه ورکول سي او مغلظه وګرځي، د هغې سره وطي کول حرام دي، او د حرام وطي په وجه مهر واجبيږي، نو په دې وجه به دلته هم مهرِ مثل واجبيږي.

إلا أنه إلخ: په دې سره د يو سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې کله د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د جماع په حالت کې څه ګړی پاتېدل د حرام وطي او دخول په درجه کې دي، او په حرام وطي سره د زنا حد واجبيږي، لهذا دلته هم پر دې سړي د زنا حد واجبېدل پکار دي، لېکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دې صورت کې هم حد نه واجبوي، د دې څه وجه ده؟

د دې په جواب کې فرمايي چې بېله شکه د زنا حد واجبېدل پکار دي، لېکن دلته د جماع د اتحاد (يو والي) په وجه سره شبهه پيدا سوه، يعني حرام دخول او حرام لُبث (پاتېدل) د مقصود (يعني په يوه جماع سره د شهوت پوره کولو) په اعتبار سره متحد سول، نو جماع خو يوه جماع ده، او دلته د جماع اوله حصه نه موجِب د مهر ده، او نه موجب د حد ده، لېکن د جماع آخره حصه هم د حد موجب ده، او هم د مهر، او څرنګه چې جماع يوه ده، او په دواړو حصو کې يې هيڅ امتياز او توپير نسته، نو څکه يوه حصه د بلې حصې سره ګډه سوه، او د

حد په وجوب کي شبه پيدا سوه، او د حد په سلسله کي قاعده دا ده چي "اَلْحُدُوْدُ تَنْدَرِءُ بِالشُّبُهَاتِ" (په شبهې سره حدود ساقطيږي)، لهذا دلته به هم حد ساقطيږي.

وجه الظاهر إلخ: ځرنګه چي په ظاهر روايت کي د دُخُول من غير إخرَاج په صورت کي مهر مثل نه واجبيږي، نو د هغه دليل دا دی چي د جماع معنیٰ دا ده چي سړی له دباندي (خارج) څخه د ښځي په فرج کي ذکر داخل کړي، او د دخول لپاره هيڅ دوام نسته چي پر هغه د ابتدائي وطي حکم ولګول سي، ځکه چي دخول کول يعني د ښځي په فرج ذکر دننه کول د يوه ګړي کار دی يعني په يوه ثانيه کي دخول پوره کيږي، او تر دريو طلاقو وروسته د جماع معنیٰ پيدا نه سوه، نو ځکه به د حرام وطي د نشتوالي په وجه مهر مثل نه واجبيږي.

لېکن که دا سړی يو وار خپل ذکر را وباسي، او بيا دخول وکړي، نو بيا تر دريو طلاقو وروسته د جماع معنیٰ پيدا سوه او حرام وطي ثابت سوې، نو ځکه به په دې صورت کي پر خاوند مهر مثل واجبيږي، لېکن د زنا حد په دې صورت کي هم نه واجبيږي، ځکه چي د إدخال او إخراج په مينځ کي د اتحاد شبهه سته، ځکه چي د إدخال او إخراج مجلس هم يو دی، او مقصود (يعني قضاءُ الشهوة) هم يو دی (يعني له يوه جماع څخه شهوت پوره سوی دی)، لهذا کله چي په دې صورت کي حد نه واجبيږي، نو مهر مثل به يقيناً واجبيږي، ځکه چي د حرام وطي په وجه په دې دواړو شيانو کي خامخا يو شی واجبيږي.

ولوكان الطلاق رجعيا إلخ: او که خاوند خپل ښځي ته داسي ووايي: إِذَا جَامَعْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً، او تر دې وروسته جماع ور سره وکړي، نو په دې صورت کي پر ښځي يو طلاق رجعي واقع کيږي، اوس که خاوند د دغه جماع په حالت کي څه ګړی پاته سي، نو هم د امام ابو يوسف په نيز رجعت ثابتيږي، او هم د امام محمد په نيز، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز خو ځکه چي د هغه په نيز څه ګړی پاتېدل د ابتدائي وطي (دوباره جماع کولو) په څير دی، او په جماع سره رجعت ثابتيږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز که څه هم په دې صورت کي دوباره جماع ثابته نه سوه، خو ښځه په شهوت سره مسه کول ثابت سو، نو د دغه مسه کولو په وجه د هغه په نيز رجعت ثابتيږي. د خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ همدغه مطلب دی (او شارح د أحسن الهدايه فرمايي چي لِوُجُوْدِ الْمَسَاسِ هم د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دی، يعني په دې صورت کي فقط د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز رجعت ثابتيږي، نه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز، ځکه چي د هغه په نيز د رجعت د ثبوت لپاره ابتدائي دخول [دوباره جماع] ده. والله أعلم)

ولو نزع إلخ: ها! که په دې صورت کي خاوند ذکر دباندي را وباسي، او بيا دخول وکړي، نو بيا د ټولو په نيز په يوه وجه رجعت ثابتيږي، چي هغه دوباره جماع کول دي (يعني تر طلاق واقع کېدلو وروسته له خارج څخه د ښځي په فرج کي ذکر داخلول).



فَصْلٌ فِي الْإِسْتِثْنَاءِ

(دا) فصل په (بیان د حکم د) استثناء کي دی

تشریح: د استثناء معنیٰ ده: تَكَلُّمٌ بِالْبَاقِيْ بَعْدَ الثُّنْيَاء (یعني تر استثناء کولو وروسته باقي مانده خبره پوره کول)، همدارنګه که څوک یو خبره وکړي بیا هغه د الله پر غوښتني (إنشاء الله) موقوفه کړي، یا یو عدد (شمېر) بیان کړي، بیا د "إِلَّا" په ذریعه له هغه څخه څه عدد کم کړي، دې ته هم استثناء وایي، تر استثناء وروسته چي کوم کلام او کوم مقدار باقي پاته سي، حکم پر هغه جاري کیږي.

صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله مخکي د تعلیق په هکله بیان وکړی، او اوس د استثناء بیان کوي، د تعلیق بیان یې ځکه تر استثناء مخکي کړی چي تعلیق د ټوله کلام (کُل کلام) لپاره مانع وي، او استثناء د بعض کلام لپاره مانع وي، او ښکاره خبره ده چي کُل تر بعض زیات قوي دی، نو ځکه یې اول د أقویٰ بیان وکړی، اوس له دې ځای څخه د استثناء تفصیل بیانوي.

او څرنګه چي "إِنْشَاء الله" صورتاً د تعلیق په څېر ده، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په دې فصل کي اول د "إِنْشَاء الله" مسئله بیانوي، د دې لپاره چي د تعلیق د بیان سره د دې مسئلې بیان نژدې سي.

او په دې باره کي اختلاف دی چي "إِنْشَاء الله" د مخکني کلام (کلامِ سابق) لپاره تعلیق ده او که مخکنی کلام باطلوي، امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چي مخکنی کلام باطلوي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي د مخکني کلام لپاره تعلیق ده.

تر طلاق وروسته "انشاء الله" ویل

وَإِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِامْرَأَتِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى مُتَّصِلًا او کله چي خاوند خپلي ښځي ته وواي: ته [پر ما] طلاقه یې إنشاء الله متصلاً [انشاء الله ووایي] لَمْ يَقَعِ الطَّلَاقُ نو طلاق نه واقع کیږي لِقَوْلِهِ ﷺ ❶ ځکه چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي مَنْ حَلَفَ بِطَلَاقٍ أَوْ عَتَاقٍ وَقَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى مُتَّصِلًا بِهِ فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ څوک چي [د ښځي] طلاقولو یا [د غلام] آزادولو قسم وکړي او د هغه سره متصل

❶ تخریج: أخرجه الترمذی فی کتاب النذور والأیمان، باب ما جاء فی الاستثناء فی الیمین، حدیث رقم: ١٥٣١.

إِنْشَاءَ اللهُ وايي نو پر هغه هيڅ حانثېدل نشته ايمني په دې صورت کې د هغه قسم نه ماتيږي. او قسم خوړه نه ګرځي) وَلِأَنَّهُ أَتَى بِصُورَةِ الشَّرْطِ او ځکه چې خاوند (خپل دغه کلام) د شرط په صورت سره ذکر کړی دی فَيَكُونُ تَعْلِيقًا مِنْ هٰذَا الْوَجْهِ نو په دې اعتبار سره به هغه تعليق وي وَأَنَّهُ إِعْدَامٌ قَبْلَ الشَّرْطِ او تعليق تر شرط مخکې معلوم کول دي ايمني تعليق د شرط تر وجود مخکې کلام معدوم کوي. يعني کوم کلام چې پر يو شرط معلق کړی سوي وي هغه د شرط تر وجود مخکې بالکل معدوم او نيستي وي) وَالشَّرْطُ لَا يُعْلَمُ هٰهُنَا او شرط (د الله مشيئت) دلته نه معلوميږي فَيَكُونُ إِعْدَامًا مِنَ الْأَصْلِ نو دا به له شروع څخه (د کلام) معدوم کول وي وَلِهٰذَا يُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ مُتَّصِلًا بِهِ بِمَنْزِلَةِ سَائِرِ الشُّرُوطِ او له همدې وجهې دا شرط لګول کېږي چې دا استثناء (إنشاء الله) به د نورو شرطونو په څېر د کلام سره متصل وي وَلَوْ سَكَتَ او که (خاوند تر أَنْتِ طَالِقٌ وروسته) چپ پاته سي يَثْبُتُ حُكْمُ الْكَلَامِ الْأَوَّلِ نو (په دې صورت کې) به داول کلام (د کلام داولي حصې) حکم ثابتيږي فَيَكُونُ الِاسْتِثْنَاءُ أَوْ ذِكْرُ الشَّرْطِ بَعْدَهُ رُجُوعًا عَنِ الْأَوَّلِ لهذا تر هغه وروسته استثناء کول يا شرط کول به له اول کلام څخه رجوع کول وي قَالَ: وَكَذَا إِذَا مَاتَتْ قَبْلَ قَوْلِهِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او همدارنګه (طلاق نه واقع کېږي) کله چې د خاوند تر إِنْشَاء الله ويلو مخکې ښځه مړه سي لِأَنَّ بِالِاسْتِثْنَاءِ خَرَجَ الْكَلَامُ مِنْ أَنْ يَكُونَ إِيجَابًا ځکه چې د استثناء په وجه سره کلام د ايجاب (موجب) جوړېدلو څخه ووتی وَالْمَوْتُ يُنَافِي الْمُوجِبَ دُونَ الْمُبْطِلِ او مرګ د موجب منافي دی، نه د مبطل بِخِلَافِ مَا إِذَا مَاتَ الزَّوْجُ په خلاف د هغه صورت کله چې (تر إِنْشَاء الله ويلو مخکې) خاوند مړ سي لِأَنَّهُ لَمْ يَتَّصِلْ بِهِ الِاسْتِثْنَاءُ ځکه چې (په دې صورت کې) هغه داول کلام سره استثناء متصل نه کړه.

اللغات: ﴿عَتَاق﴾ په فتحه د عين سره د ضرب مصدر دی: آزادېدل، آزادي (مصباح اللغات)، ﴿حِنْث﴾ د سمع مصدر دی: حانث کېدل، قسم ماتېدل (قسم خوړل)، ﴿إِعْدَام﴾ د افعال مصدر دی: ختمول، له منځه وړل، نيست ونابود کول، ﴿مُبْطِل﴾ د افعال اسم فاعل دی: باطلونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلې ښځې ته داسې ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ إِنْشَاء الله تَعَالَى، او لفظ د إِنْشَاء الله د أَنْتِ طَالِقٌ سره متصل او سمدستي ووايي، نو په دې صورت کې طلاق نه واقع کېږي؛ دليل د کتاب حديث دی يعني ”کوم څوک چې د طلاق ورکولو يا د غلام آزادولو قسم

وکړي، او بيا متصلاً إنشاء الله ور سره ووايي، نو هغه په خپل قسم کي نه حانثيږي". يعني نه د هغه پر ښځي طلاق واقع کيږي، او نه غلام آزاديږي.

دويم عقلي دليل دا دی چي خاوند (حالف) دغه کلام د شرط په شکل سره کړی دی، نو په دې اعتبار سره به دا کلام تعليق وي، او د تعليق قاعده دا ده چي د شرط تر وجود مخکي ګواکي بالکل د کلام هيڅ وجود نه وي، او دلته د شرط هيڅ خبر نسته، ځکه چي دلته د الله په مشيت او خوښه خبريدل د خاوند په وس او طاقت کي نه دي چي د الله کوم څه خوښ دي؟ نو ځکه به دلته له شروع او ابتداء څخه کلام معدوم وي، همدا وجه ده چي د نورو شرطيه کلامونه په څير انشاء الله هم د کلام سره متصل ذکر کول ضروري دي.

ولو سکت إلخ: او که خاوند د أَنْتِ طَالِقٌ تر ويلو وروسته چپ پاته سي، تر هغه وروسته انشاء الله ووايي، نو په دې صورت کي د اول کلام حکم (يعني طلاق واقع کېدل) ثابتيږي (يعني پر ښځي طلاق واقع کيږي)، ځکه چي د جمهورو په نيز استثناء منفصل صحيح نه ده، ځکه چي تر سکوت وروسته استثناء (د امام محمد په قول) او شرط (د امام ابو يوسف په قول) ذکر کول د اول کلام څخه د رجوع لپاره دي، نو ځکه به استثناء باطل وي، او طلاق به واقع کيږي (يعني تر چپېدلو وروسته د إنْشاء الله ويلو مطلب دا دی چي هغه له خپل قول څخه رجوع کول غواړي، نو ځکه به د هغه خبره نه منل کيږي او طلاق به واقع کيږي).

قال إلخ: همدارنګه که خاوند ښځي ته أَنْتِ طَالِقٌ ووايي او تر إنْشَاء الله ويلو مخکي ښځه مړه سي، نو طلاق نه واقع کيږي: دليل دا دی چي په أَنْتِ طَالِقٌ سره خاوند د کلام ايجاب کړی وو، خو بيا د استثناء کولو په وجه سره دا کلام ايجاب پاته نه سو، او ايجاب باطل سو، لهذا کله چي ايجاب باطل سو، نو حکم (د طلاق وقوع) به هم باطليږي.

والموت ينافی الموجب إلخ: په دې سره د يو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي دلته د ايجاب (موجب) يعني أَنْتِ طَالِقٌ د ښځي په ژوند کي موجود سو، او استثناء تر هغه وروسته موجوده سو، نو د عدم محل په وجه سره خو استثناء باطله سوه، او کله چي استثناء باطله سوه، نو ايجاب صحيح سو، لهذا طلاق واقع کېدل پکار دي.

د دې په جواب کي صاحب د هدايې فرمايي چي مرګ فقط د موجب يعني د أَنْتِ طَالِقٌ نمنافي دی، د مبطل يعني د استثناء، شرط او داسي نورو منافي نه دی، ځکه چي د موجب لپاره خو د محل بقاء ضروري ده، مګر د مبطل لپاره د محل بقاء ضروري نه ده، نو که د أَنْتِ طَالِقٌ تر پوره کېدلو مخکي،

مخکې ښځه مړه سي، نو موجب (ایجاب) خو باطليږي، لېکن مبطل يعني استثناء يا شرط په مرګ سره نه باطليږي. بيا دا خبره هم ده چي مرګ هم مبطل دی او استثناء هم مبطل ده. او مبطل خو د موجب لپاره مبطل کېدلای سي مګر د مبطل لپاره مبطل کېدلای نه سي.

بخلاف إلخ: د دې په خلاف که تر أَنْتِ طَالِقٌ ويلو وروسته او تر إِنْشَاء الله ويلو مخکې خاوند مړ سي، نو طلاق واقع کيږي؛ ځکه چي دلته د أَنْتِ طَالِقٌ سره استثناء متصل نه سوه. يعني دلته فقط ايجاب پاته سو، مُبطل بالکل د خاوند تر خوله هم راوتلی نه دی. او په ايجاب (أَنْتِ طَالِقٌ) سره طلاق واقع کيږي، نو ځکه به دلته طلاق واقع کيږي (شارح د أحسن الهدايې فرمايي چي که په عبارت کې د لَمْ يَتَّصِلْ بِهِ الإِسْتِثْنَاء پر ځای لَمْ يُوْجَدِ الإِسْتِثْنَاء ووېل سي، نو دا به د دليل لپاره زيات واضح او مناسب عبارت وي).

د استثناء بيان

وَإِنْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا إِلَّا وَاحِدَةً او که [خاوند] ووايي: تا ته درې طلاقه دي مګر يو طُلِّقَتْ ثِنْتَيْنِ نو ښځه په دوو طلاقو سره طلاقيږي وَإِنْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا إِلَّا ثِنْتَيْنِ او که [خاوند] ووايي: تا ته دوه طلاقه دي مګر دوه طُلِّقَتْ وَاحِدَةً نو [په دې صورت کې] ښځه په يوه طلاق سره طلاقيږي وَالأَصْلُ: أَنَّ الإِسْتِثْنَاءَ تَكَلُّمٌ بِالْحَاصِلِ بَعْدَ الثُّنْيَا او أصول دا دی: چي استثناء په هغه مقدار سره تکلم کول دي کوم چي تر استثناء کولو وروسته حاصل سوی وي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده وَمَعْنَاهُ: أَنَّهُ تَكَلَّمَ بِالْمُسْتَثْنَى مِنْهُ او د دې مطلب دا دی: چي استثناء کونکي په مستثنیٰ منه سره تکلم وکړی إِذْ لَا فَرْقَ بَيْنَ قَوْلِ الْقَائِلِ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ دِرْهَمٌ وَبَيْنَ قَوْلِهِ: عَشَرَةٌ إِلَّا تِسْعَةً ځکه چي د يو سړي په دې قول: لِفُلَانَ عَلَيَّ دِرْهَمٌ کې او د هغه په دې قول: [لِفُلَانٍ عَلَيَّ] عَشَرَةٌ إِلَّا تِسْعَةً کې هيڅ فرق نسته فَيَصِحُّ اسْتِثْنَاءُ الْبَعْضِ مِنَ الْجُمْلَةِ نو له کُل څخه د بعض استثناء کول صحيح دي لِأَنَّهُ يَبْقَى التَّكَلُّمُ بِالْبَعْضِ بَعْدَهُ ځکه چي [په دې صورت کې] تر استثناء وروسته د بعض تکلم باقي پاتيږي وَلَا يَصِحُّ اسْتِثْنَاءُ الْكُلِّ مِنَ الْكُلِّ [لېکن] له کُل څخه د کُل استثناء کول صحيح نه دي لِأَنَّهُ لَا يَبْقَى بَعْدَهُ شَيْءٌ لِيَصِيْرَ مُتَكَلِّمًا بِهِ وَصَارِفًا لِلَّفْظِ إِلَيْهِ ځکه چي [په دې صورت کې] تر استثناء وروسته هيڅ شی باقي نه پاتيږي چي په هغه سره [استثناء کونکی کس] تکلم کونکی وګرځي او د هغه وطرف ته د لفظ ګرځونکي [وګرځي]

وَإِنَّمَا يَصِحُّ الِاسْتِثْنَاءُ إِذَا كَانَ مَوْصُولًا بِهِ او استثناء هغه وخت صحيح کیږي کله چي [استثناء] د مستثنیٰ منه سره متصله وي كَمَا ذَكَرْنَا مِنْ قَبْلُ لکه مخکي چي موږ [دا خبره] ذکر کړه وَإِذَا ثَبَتَ هٰذَا فَفِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ ثِنْتَانِ او کله چي دا [قاعده] ثابته سوه نو په اول صورت کي مستثنیٰ منه دوه دي فَيَقَعَانِ نو ځکه به هغه دواړه [طلاقه] واقع کیږي وَفِي الثَّانِي وَاحِدَةٌ او په دويم صورت کي [مستثنیٰ منه] یو دی فَتَقَعُ وَاحِدَةٌ نو ځکه به یو [طلاق] واقع کیږي وَلَوْ قَالَ: إِلَّا ثَلَاثًا او که [خاوند] ووايي: [أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا] إِلَّا ثَلَاثًا يَقَعُ الثَّلَاثُ نو [په دې صورت کي] دري طلاقه واقع کیږي لِأَنَّهُ اِسْتِثْنَاءُ الْكُلِّ مِنَ الْكُلِّ ځکه چي دا له کُل څخه د کُل استثناء ده فَلَمْ يَصِحَّ الِاسْتِثْنَاءُ نو استثناء صحيح نه سوه. وَاللّٰهُ أَعْلَمُ

اللغات: ﴿الثُّنْيَا﴾ والثَّنْوٰى: استثناء (استثناء کول)، ﴿صَارِفًا﴾ د ضرب اسم فاعل دی: ګرځونکی، صَرَفَ يَصْرِفُ صَرْفًا: ګرځول، واپس کول.

تشریح: په دې عبارت کي بیان سوې مسئله پر یوه أصول مبني ده، أصول دا دی چي تر استثناء وروسته چي کوم مقدار باقي پاته سي، په هغه سره تکلم کولو ته استثناء وايي (لکه د فصل په شروع کي چي موږ دا خبره ذکره کړه)، يعني د مستثنیٰ منه چي کوم مقدار باقي پاته سي، په هغه تکلم کولو ته استثناء وايي، حاصل دا چي په استثناء کي له مستثنیٰ منه څخه پاته سوی مقدار مطلوب او مقصود وي، مثلاً که یو سړی داسي ووايي چي "لِفُلَانٍ عَلَيَّ دِرْهَمٌ" (د فلانکي پر ما یو درهم [باندي] دی)، نو ښکاره خبره ده چي پر هغه یو درهم واجب دي، همدارنګه که هغه د یوه درهم بیانولو لپاره د استثناء صورت اختیار کړي او داسي ووايي چي "لِفُلَانٍ عَلَيَّ عَشَرَةٌ إِلَّا تِسْعَةً" (د فلانکي پر ما لس درهمه دي له نهو درهمو څخه بغیر)، نو د دې مطلب هم دغه دی چي د فلانکي پر ما یو درهم (باندي) دی، ځکه کله چي له مستثنیٰ منه (عَشَرَة) څخه مستثنیٰ يعني تِسْعَة جلا او مستثنیٰ کړی سي، نو ښکاره ده چي فقط "یو" پاتیږي.

دویمه خبره دا ده چي له کُل څخه د بعض استثناء کول صحيح دي، لیکن له کُل څخه د کُل استثناء کول صحيح نه دي، ځکه چي د کُل تر استثناء کولو وروسته هیڅ داسي شی او مقدار باقي نه

پاتېږي چې په هغه تکلم وکړی سي، دريمه خبره دا ده چې د استثناء صحيح کېدلو لپاره د مستثنیٰ منه سره د مستثنیٰ متصل کېدل او ملحق کېدل ضرري دي، دا يو څو بنيادي خبري په ذهن کي خوندي کړئ! او صورت د مسئلې ته ګوری.

صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا إِلَّا وَاحِدَةً، نو په دې صورت کي دوه طلاقه واقع کيږي، او که خاوند ورته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا إِلَّا وَاحِدَةً، نو بيا يو طلاق واقع کيږي، ځکه چي په دې دوارو صورتونو کي د استثناء صحيح کېدلو ټوله شرطونه موجود دي، يعني له کُل څخه د بعض استثناء سوې ده، مستثنیٰ د مستثنیٰ منه سره متصل او ملحق ده، لهذا دا استثناء صحيح ده، او په اول صورت کي خاوند له ثَلَاث څخه فقط د وَاحِدَة استثناء کړي، نو به له ثَلَاث څخه يو طلاق کميږي، او پر ښځي به له مستثنیٰ منه څخه پاته سوی مقدار يعني دوه طلاقه واقع کيږي، او په دیوم صورت کي خاوند له مستثنیٰ منه يعني له ثَلَاث څخه د ثِنْتَيْن استثناء کړې ده، نو له ثَلَاث څخه به دوه طلاقه کميږي، او پر ښځي به فقط يو طلاق واقع کيږي.

لېکن که خاوند ښځي ته داسي ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا إِلَّا ثَلَاثًا، نو په دې صورت کي استثناء باطليږي، او پر ښځي درې سره طلاقونه واقع کيږي؛ ځکه چي دلته له کُل (ثَلَاث) څخه د کُل (ثَلَاث) استثناء سوې ده، او له کُل څخه د کُل استثناء صحيح نه ده، لهذا کله چي دلته استثناء صحيح نه سوه، نو استثناء به ساقطيږي او د أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا په وجه به پر ښځي درې طلاقونه واقع کيږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ طَلَاقِ الْمَرِيْضِ

(دا) باب د مريض (ناروغه) د طلاق (په بيان کي) دی

تشريح: مخکي تر دې مصنف رَحِمَهُ الله د صحيح او روغ انسان طلاق او د هغه اقسام بيان کړل، اوس له دې ځايه د ناروغ او مريض انسان د طلاق احکام بيانوي، څرنګه چي مرض (ناروغي) عارض دی او صحت (روغتيا) أصل دی، او دا خو تاسو ته معلومه ده چي أصل پر عارض مخکي وي، نو ځکه اول د روغ انسان د طلاق احکام بيان سول، او تر هغه وروسته د مريض د طلاق احکام بيانيږي.

د مرګ په مرض (مرضُ الموت) کي د واقع کړی سوي طلاق حکم

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ طَلَاقًا بَائِنًا او کله چي خاوند خپل د مرګ په مرض کي خپلي ښځي ته طلاقِ بائن ورکړي فَمَاتَ وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ او بيا هغه مړ سي حال دا چي ښځه [تر اوسه] په عدت کي وي وَرِثَتْهُ نو ښځه د هغه وارثه جوړيږي وَإِنْ مَاتَ بَعْدَ انْقِضَاءِ الْعِدَّةِ او که سړی [د ښځي] تر عدت تېرېدلو مخکي مړ سي فَلَا مِيرَاثَ لَهَا نو [په دې صورت کي] د ښځي لپاره ميراث نسته وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تَرِثُ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي ښځه به په دواړو صورتونو کي ايعني هم تر عدت مخکي او هم تر عدت وروسته] وارثه نه ګرځي لِأَنَّ الزَّوْجِيَّةَ قَدْ بَطَلَتْ بِهَذَا الْعَارِضِ ځکه چي [د ښځي] مابينه والی [زوجه کېدل] د دغه عارض [طلاقِ بائن] په وجه ختم سو وَهِيَ السَّبَبُ او همدغه مابينه والی [د ميراث] سبب دی وَلِهَذَا لَا يَرِثُهَا إِذَا مَاتَتْ او همدا وجه ده که ښځه مړه سي نو [خاوند] د هغې مالک نه ګرځي وَلَنَا أَنَّ الزَّوْجِيَّةَ سَبَبُ إِرْثِهَا فِي مَرَضِ مَوْتِهِ زموږ دليل دا دی: چي د خاوند د مرګ په مرض کي مابينه والی [زوجه کېدل] د ښځي د وارث کېدلو سبب دی وَالزَّوْجُ قَصَدَ إِبْطَالَهُ او خاوند د هغه د باطلولو اراده کړې ده فَيُرَدُّ عَلَيْهِ قَصْدُهُ نو ځخه به د خاوند [دا] اراده پر هغه ردول کيږي بِتَأْخِيرِ عَمَلِهِ إِلَى زَمَانِ انْقِضَاءِ الْعِدَّةِ د عدت د زماني تر تېرېدلو [ختمېدلو] پوري د هغه [طلاق] د عمل په ځنډولو سره دفْعًا لِلضَّرَرِ عَنْهَا له ښځي څخه د ضرر ليري کولو لپاره وَقَدْ أَمْكَنَ او

دا [د هغه ځنډول] ممکن [هم] دي لِأَنَّ النِّكَاحَ فِي الْعِدَّةِ يَبْقَى فِي حَقِّ بَعْضِ الْآثَارِ ځکه چي په عدت کي دننه د ځيني آثارو په حق کي نکاح باقي پاته وي فَجَازَ أَنْ يَبْقَى فِي حَقِّ إِرْثِهَا عَنْهُ نو جائز دي چي د خاوند [د ميراث (مال)] څخه د ښځي د وارثه کېدلو په حق کي هم نکاح باقي پاته سي بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الِانْقِضَاءِ په خلاف د عدت تر ختمېدلو وروسته لِأَنَّهُ لَا إِمْكَانَ ځکه چي [په هغه وخت کي د وراثت] امکان نسته وَالزَّوْجِيَّةُ فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ لَيْسَتْ بِسَبَبٍ لِإِرْثِهِ عَنْهَا. او په دغه [د مرضُ الموت] په حالت کي زوجيت د ښځي [د ميراث] څخه د خاوند د وارث کېدلو سبب نه دی فَتَبْطُلُ فِي حَقِّهِ خُصُوصًا إِذَا رَضِيَ بِهِ نو د خاوند په حق کي به [د إرث سبب] باطلېږي خصوصاً [په هغه صورت کي] کله چي خاوند په هغه راضي [هم] سي.

اللغات: ﴿وَرِثَتْهُ﴾ د حسب له باب څخه د ماضي صيغه ده: وارث کېدل، وارث ګرځېدل، وارث جوړېدل (ميراث خوره جوړېدل)، د ميراث حقداره جوړېدل. ﴿إِنْقِضَاء﴾ د انفعال مصدر دی: تېرېدل، ختمېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند په داسي مرض مبتلا وي چي بيا يې د ژوند اُميد نه وي (يعني د مرګ او مړيني په مرض مبتلا وي چي هغه ته په عربي کي مرضُ الموت وايي)، او په همدغه حالت کي خپلي ښځي ته د هغې له رضا څخه بغير طلاقِ بائن ورکړي. او بيا هغه په داسي وخت کي مړ سي چي تر اوسه لا ښځه په عدت کي وي، نو په دې صورت کي ښځه د خاوند وارثه ګرځي (يعني داسي ښځي ته به د خاوند په ميراث کي خپله حصه ورکول کيږي)، او طلاق په وجه سره به دا ښځه د خاوند له ميراث څخه نه محرومېږي. لېکن که چيري تر عدت تېرېدلو وروسته خاوند مړ سي، نو بيا دا ښځه د خاوند ميراث حقداره نه ګرځي.

يادونه: که دا پنځه شرطونه پوره سي، نو بيا دا (مطلقه) ښځه د مريض خاوند وارثه ګرځي: ① مريض خاوند به ښځي ته طلاقِ بائن ورکړی وي، ځکه که طلاقِ رجعي وي، نو بيا په هر صورت کي ښځه د هغه وارثه ګرځي، ځکه چي د طلاقِ رجعي په عدت کي ښځه په پوره توګه د خاوند زَوْجَه (ماينه) وي، ② په کوم مرض کي چي خاوند طلاق ورکړی وي، په هغه مرض کي به خاوند مړ سوی وي، ځکه که چيري خاوند يو وار جوړ سي، او بيا مړ سي، نو ښځه د ميراث حقداره نه ګرځي. ③ د ښځي له رضا څخه بغير به يې طلاق ورکړی وي، ځکه که ښځه په طلاق راضي وي، نو بيا وارثه نه ګرځي، ځکه چي په دې صورت کي ښځه په خپله د خپل حق په ساقطولو راضي ده. ④ ښځه به د

وارثت مستحقه وي، یعني مینځه او کتابیه به نه وي، ⑤ خاوند به د ښځې په عدت کې مړ سوی وي، ځکه که تر عدت تېرېدلو وروسته خاوند مړ سي، نو ښځه وارثه نه ګرځي.

وقال الشافعي إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په پورتني صورت کې نه ښځه تر عدت مخکې وارثه ګرځي، او نه تر عدت وروسته.

د امام شافعي دليل: دا دی چې د وراثت سبب زوجیت (مابینه کېدل) دي، او د طلاقِ بائن په وجه ښځه له خاوند څخه جلا کیږي، یعني تر طلاقِ بائن وروسته بیا ښځه د خاوند مابینه (زوجه) نه پاتیږي، او کله چې د طلاقِ بائن په وجه هغه د خاوند مابینه نه پاتیږي، نو د خاوند وارثه به هم نه ګرځي، همدا وجه ده که عدت په وخت کې دا مطلقه بائنه ښځه مړه سي، نو خاوند د هغې وراث نه ګرځي، لهذا ښځه به هم د خاوند وارثه نه ګرځي.

زموږ نقلي دليل: صاحب د هدایې فقط پر عقلي دلیل اکتفاء کړې ده، نقلي دلیل یې نه دی ذکر کړی، تر نقلي دلیل مخکې تاسو د اِمْرَأَةُ الفَارّ په معنیٰ ځان پوه کړئ! د فَارّ معنیٰ ده: تښتېدونکی سړی، کوم خاوند ته چې د مرض په وجه د مرګ یقین سي (چې زه خامخا مړ کېږم)، یا د رجم او قصاص په وجه یې د مرګ یقین سي، او په همدغه حالت کې ښځې ته طلاق ورکړي د دې لپاره چې ښځه له وراثت څخه محرومه سي، داسې خاوند ته فَارّ ویل کیږي، او د هغه ښځې ته اِمْرَأَةُ الفَارّ ویل کیږي، او داسې طلاق ته طَلَاقُ الفَار ویل کیږي، اوس نقلي دلیل ته ګورئ! د نقلي دلیل حاصل دا دی چې اِمْرَأَةُ الفَارّ د صحابه وو په اجماع سره د وراثت حقداره ده، ځکه کله چې عبد الرحمان بن عوف ﷺ د مرضُ الموت په حالت کې خپلې ښځې "تماضر" ته طلاقِ بائن ورکړی، او بیا د هغې په عدت کې وفات سو، نو حضرت عثمان رَحِمَهُ الله هغه (تماضر) د عبد الرحمان بن عوف ﷺ وارثه جوړه کړه، او په هغه وخت کې هیڅ صحابي هم د حضرت عثمان ﷺ پر دې فیصله نکیر نه وکړی، لهذا دا سکوتي اجماع سوه، او د حضرت عائشې ﷺ څخه هم دا روایت سوی دی: إِنَّ اِمْرَأَةَ الْفَارِ تَرِثُ (بېشکه اِمْرأةُ الفَار د خپل خاوند وارثه ګرځي)، نو ځکه موږ وایو چې پورتنۍ ښځه به د خاوند وارثه ګرځي.

زموږ عقلي دليل: دا دی چې کله د خاوند د مرګ په مرض کې هم ښځه د خاوند مابینه (زوجه) وي، نو دا د وراثت سبب دی، ځکه چې د خاوند د مرګ په مرض کې د خاوند د مال سره د ښځې حق متعلق کیږي (او بل دا چې کومه ښځه د ژوند تر آخري وخته پورې د خاوند مابینه وي، نو د هغې په هکله دا پوره اُمید وي چې هغه به د خاوند وارثه وګرځي)، لېکن خاوند په خپل آخري عمر کې په طلاق بائن

ور کولو سره د هغې د حق باطلولو اراده وکړه (او د هغې سره يې ظلم وکړي)، نو ځکه به دا لړله د هغه پر مخ وهل کيږي، او د طلاق عمل او اثر به د عدت تر ختمېدو پورې ځنډول کيږي، د دې لپاره چې ښځه له ضرر او تاوان څخه وساتل سي (يعني چې له وراثت څخه محرومه نه سي).

وقد أمكن إلخ: فرمايي چې د عدت تر ختمېدو او تېرېدو پورې د طلاق عمل مؤخر کول ممکن هم دي، ځکه چې په عدت کې دننه د خاوند او ښځې تر مينځ د ځيني وجوهاتو په اعتبار سره نکاح پاتې وي، مثلاً: ① ښځه په عدت کې د خاوند له اجازې څخه بغير نه سي وتلای، ② ښځه عدت د خاوند لپاره تېروي، ③ که چيري په عدت کې کوچنی پيدا سي، نو د هغه نسب د خاوند سره ثابتيږي. ④ په عدت کې د ښځې نفقه او سکنیٰ د خاوند پر ذمه وي، دا ټوله د دې خبرې دليل دی چې دا ښځه اوس هم د خاوند مابينه (زوجه) ده، لهذا معلومه سوه چې د عدت تر ختمېدو پورې د طلاق عمل ځنډول ممکن دي، نو ځکه به دا ښځه تر عدت ختمېدو پورې د خاوند وارثه ګرځي، لېکن څرنګه چې تر عدت ختمېدلو وروسته په هر اعتبار سره نکاح ختميږي، نو ځکه به تر عدت وروسته د خاوند د مړه کېدلو په صورت کې ښځه د هغه وارثه نه ګرځي.

والزوجية في هذه إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب ورکوي (هغه فرمايلي وو چې د مطلقه بائنه ښځې د مړه کېدلو په صورت کې خاوند د هغې وارث نه ګرځي، نو ځکه به ښځه هم د خاوند وارثه نه ګرځي)، د جواب حاصل دا دی چې د مرګ په مرض کې د ښځې خاوند کېدل (زوجيت) د دې سبب نه دی چې خاوند د ښځې وارث وګرځي، ځکه چې د خاوند د مرګ په مرض کې د خاوند حق د ښځې د مال سره نه متعلق کيږي، بلکي د ښځې حق د هغه د مال سره متعلق کيږي (همدا وجه ده چې پر ښځې عدت سته، پر خاوند عدت نسته)، لهذا په طلاق ورکولو سره به د خاوند په حق کې د وراثت سبب باطليږي او هغه به د ښځې د ميراث حقداره نه ګرځي، خصوصاً په هغه صورت کې کله چې خاوند په خپله د خپل حق په ساقطولو راضي سي او ښځې ته طلاق ورکړي.

په مرضُ الموت کې د طلاق ورکولو درې بېلابېل صورتونه (او د هغوی حکمونه)

وَإِنْ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا بِأَمْرِهَا او که [خاوند] د ښځې په حکم سره هغې ته درې طلاقه ورکړي أَوْ قَالَ لَهَا: اِخْتَارِيْ فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا يا ښځې ته ووايي: ته يې اختيار کړه او ښځې خپل ځان اختيار کړی أَوِ اخْتَلَعَتْ مِنْهُ يا ښځه له خاوند څخه خلع وکړي ثُمَّ مَاتَ وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ بيا [خاوند] مړ سي حال دا چې ښځه [تر اوسه] په عدت کې وي لَمْ تَرِثْهُ نو دا ښځه د خاوند وارثه نه ګرځي لِأَنَّهَا رَضِيَتْ بِإِبْطَالِ حَقِّهَا ځکه چې [دلته] ښځه [په خپله] د خپل حق [ميراث] په باطلولو راضي سوه وَالتَّأْخِيْرُ لِحَقِّهَا حال دا

چي [تر عدت پورې د طلاق عمل ځنډول] د هغې د حق په وجه دي وَإِنْ قَالَتْ: طَلِّقْنِيْ لِلرَّجْعَةِ او که ښځه ووايي: ما ته طلاقِ رجعي راکړه! [يعني له خاوند څخه د طلاقِ رجعي غوښتنه وکړي] فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا [ليکن] خاوند هغې ته درې طلاقه ورکړي وَرِثَتْهُ نو [په دې صورت کې] هغه د خاوند وارثه ګرځي لِأَنَّ الطَّلَاقَ الرَّجْعِيَّ لَا يُزِيْلُ النِّكَاحَ ځکه چي طلاقِ رجعي نکاح نه زائلوي فَلَمْ تَكُنْ بِسُؤَالِهَا رَاضِيَةً بِبُطْلَانِ حَقِّهَا نو دا ښځه به د طلاقِ رجعي د غوښتني په وجه سره د خپل حق په باطلولو راضي نه شمارل کيږي.

اللغات: ﴿إِخْتَلَعَتْ﴾ د افتعال ماضي ده: خلع کول، ﴿رَضِيَتْ﴾ د سمع ماضي ده: راضي کېدل، ﴿إِبْطَال﴾ د افعال مصدر دی: باطلول (ساقطول).

تشريح: په دې عبارت کي درې صورتونه بيان سوي دي: ①... يو صورت دا چي ښځه په خپله له خاوند څخه د دريو طلاقو غوښتنه وکړي او خاوند په مرضُ الموت کي هغې ته درې طلاقه ورکړي، ②... دويم دا چي خاوند په مرضُ الموت کي خپلي ښځي ته اختيار ورکړي او ښځه خپل ځان اختيار کړي، ③... دريم دا چي ښځه د خپل خاوند په مرضُ الموت کي له هغه څخه خلع وکړي.

د دې ټولو صورتونو حکم دا دی چي که خاوند د ښځي د عدت په زمانه کي مړ سي، نو دا ښځه د خاوند وارثه نه ګرځي.

دليل دا دی چي په دې صورتونو کي ښځه د خپل حق په باطلولو راضي ده، ځکه په اول صورت کي خو په خپله هغې د دريو طلاقو غوښتنه کړې ده، او په دويم صورت کي يې د خپل ځان په اختيارولو سره فرقت واقع کړی دی کوم چي د رضا دليل دی، او په دريم صورت کي يې د فرقت واقع کولو لپاره د خلع په ذريعه پر خپل ځان مال لازم کړی دی، او دا هم د رضا څرګند دليل دی.

او دا تاسي ته معلومه ده چي د طلاق عمل د ښځي د حق په وجه (د عدت تر ختمېدلو پورې) مؤخر کيږي، ليکن کله چي ښځه د خپل حق (ميراث) په باطلولو راضي سوه، نو بيا هم د هغې د حق حفاظت کول لازم پاته نه سو.

وإن قالت إلخ: او که ښځه له خپل خاوند څخه د طلاقِ رجعي غوښتنه وکړي، ليکن خاوند په خپل مرضُ الموت کي هغې ته درې طلاقه (طلاقِ مغلظ) ورکړي، نو په دې صورت کي ښځه د هغه وارثه ګرځي، دليل دا دی چي طلاقِ رجعي نکاح نه ختموي (ځکه چي په طلاقِ رجعي کي په پوره توګه

نکاح پاتـه وي فقط رجعت تـه بائـه غـواړي). لهـذا دا بـه نـه وېـل کېـږي چـې دا ښـځه د طلاقِ رجعـي پـه غوښتنې سره د خپل حق په باطلولو راضي سوه.

په مرضُ الموت کې د طلاق یو بل صورت

وَإِنْ قَالَ لَهَا فِي مَرَضِ مَوْتِهِ: كُنْتُ طَلَّقْتُكِ ثَلَاثًا فِي صِحَّتِيْ وَانْقَضَتْ عِدَّتُكِ او که [خاوند] خپل د مرګ په مرض کي ښځې ته [داسي] ووايي: ما تا ته خپل په صحت [روغتیا] کي درې طلاقه درکړي وه او ستا عدت هم تېر سو فَصَدَّقَتْهُ او ښځې د خاوند [د دغه خبرې] تصدیق وکړی ثُمَّ أَقَرَّ لَهَا بِدَيْنٍ أَوْ أَوْصٰى لَهَا بِوَصِيَّةٍ بیا [خاوند] د هغې لپاره [پر خپله ذمه] د قرض اقرار وکړی، یا یې د هغې لپاره یو وصیت وکړی فَلَهَا الْأَقَلُّ مِنْ ذٰلِكَ وَمِنَ الْمِيْرَاثِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ ❁ نو په میراث او په هغه [اقرار یا وصیت] کي چي کوم یو کم [لږ] وي هغه به د ښځې لپاره وي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَجُوْزُ إِقْرَارُهٗ وَوَصِيَّتُهٗ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چي د هغه [مریض] اقرار او وصیت جائز دی وَإِنْ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا فِيْ مَرَضِهٖ بِأَمْرِهَا او که [خاوند] په خپل مرضُ الموت کي ښځې ته د هغې په حکم درې طلاقه ورکړي [او عدت هم پاته وي] ثُمَّ أَقَرَّ لَهَا بِدَيْنٍ أَوْ أَوْصٰى لَهَا بِوَصِيَّةٍ او بیا [خاوند] د هغې لپاره د یو قرض اقرار وکړي، یا د هغې لپاره یو وصیت وکړي فَلَهَا الْأَقَلُّ مِنْ ذٰلِكَ وَمِنَ الْمِيْرَاثِ فِيْ قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا نو په میراث او په هغه [اقرار یا وصیت] کي چي کوم کم وي هغه به د ښځې لپاره وي [زموږ] د ټولو امامانو په قول کي إِلَّا عَلٰى قَوْلِ زُفَرَ مګر د امام زفر رَحِمَهُ الله پر قول فَإِنَّ لَهَا جَمِيْعَ مَا أَوْصٰى وَمَا أَقَرَّ بِهٖ ځکه چي [د امام زفر په نېز به] د ښځې لپاره هغه ټوله [مقدار] وي د کوم چي خاوند وصیت او اقرار کړی وي لِأَنَّ الْمِيْرَاثَ لَمَّا بَطَلَ بِسُؤَالِهَا ځکه کله چي د ښځې [د طلاق] په غوښتني سره د هغې [حق] د میراث باطل سو زَالَ الْمَانِعُ مِنْ صِحَّةِ الْإِقْرَارِ وَالْوَصِيَّةِ نو د اقرار او وصیت د صحیح کېدلو چي کوم مانع وو هغه زائل سو وَجْهُ قَوْلِهِمَا فِي الْمَسْأَلَةِ الْأُوْلٰى: أَنَّهُمَا لَمَّا تَصَادَقَا عَلَى الطَّلَاقِ وَانْقِضَاءِ الْعِدَّةِ او په اوله مسئله کي صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د قول وجه دا ده: چي کله [دلته] خاوند او ښځې پر طلاق او د عدت پر تېرېدلو اتفاق وکړی صَارَتْ أَجْنَبِيَّةً عَنْهُ نو دا ښځه له هغه څخه پردۍ سوه حَتّٰى

❁ القول الراجح: قول أبی حنيفه رَحِمَهُ الله ، كما فی الدر المختار (ج:٢، ص:٥٧٠)، وكذا هندية (ج:١، ص:٤٦٤). [القول الراجح ج:١، ص:٣٣٥]

جَازَ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ أُخْتَهَا همدا وجه ده چې د خاوند لپاره د دې ښځې د خور سره نکاح کول جائز دي فَانْعَدَمَتْ التُّهْمَةُ نو تهمت ختم سو أَلَا تَرَى أَنَّهُ تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ لَهَا آيا ته نه ګورې! چې د دې ښځې په حق کې د خاوند ګواهي [هم] قبليږي وَيَجُوزُ وَضْعُ الزَّكَاةِ فِيهَا او [همدارنګه د خاوند لپاره] دغه ښځې ته طلاق ورکول جائز دي بِخِلَافِ الْمَسْأَلَةِ الثَّانِيَةِ په خلاف د دويمې مسئلې لِأَنَّ الْعِدَّةَ بَاقِيَةٌ وَهِيَ سَبَبُ التُّهْمَةِ ځکه چې [هلته] عدت پاته دی او همدا [عدت] د تهمت سبب دی وَالْحُكْمُ يُدَارُ عَلَى دَلِيلِ التُّهْمَةِ او د حکم دار ومدار د تهمت پر دليل دی وَلِهَذَا يُدَارُ عَلَى النِّكَاحِ وَالْقَرَابَةِ او له همدې وجهې پر نکاح او قرابت د حکم دار ومدار دی وَلَا عِدَّةَ فِي الْمَسْأَلَةِ الْأُولَى او په اوله مسئله کې عدت [پاته] نه دی وَلِأَبِي حَنِيفَةَ فِي الْمَسْأَلَتَيْنِ: أَنَّ التُّهْمَةَ قَائِمَةٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل په دواړو مسئلو کې دا دی: چې تهمت پاته دی لِأَنَّ الْمَرْأَةَ قَدْ تَخْتَارُ الطَّلَاقَ لِيَنْفَتِحَ بَابُ الْإِقْرَارِ وَالْوَصِيَّةِ عَلَيْهَا فَيَزِيدَ حَقُّهَا ځکه چې کله نا کله ښځه [د دې غرض لپاره] طلاق اختياروي چې د اقرار او وصيت دروازه پر هغې راخلاصه سي او د هغې حق زيات سي وَالزَّوْجَانِ قَدْ يَتَوَاضَعَانِ عَلَى الْإِقْرَارِ بِالْفُرْقَةِ وَانْقِضَاءِ الْعِدَّةِ او کله خاوند او ښځه دواړه د فرقت پر اقرار او د عدت پر تېرېدلو اتفاق [او موافقت] کوي لِيَبَرَّهَا الزَّوْجُ بِمَالِهِ زِيَادَةً عَلَى مِيرَاثِهَا د دې لپاره چې خاوند د خپل مال په ذريعه د هغې سره تر ميراث هم زيات احسان وکړي وَهَذِهِ التُّهْمَةُ فِي الزِّيَادَةِ او دا تهمت په زياتوب کې دی [يعني دا تهمت په هغه صورت کې سته کله چې خاوند د ښځې لپاره د ميراث څخه د زيات مال اقرار يا وصيت کړی وي] فَرَدَدْنَاهَا نو ځکه موږ زياتوب ردّ کړی وَلَا تُهْمَةَ فِي قَدْرِ الْمِيرَاثِ او د ميراث په مقدار کې هيڅ تهمت نسته فَصَحَّحْنَاهُ نو ځکه موږ د ميراث مقدار صحيح وګرځوی وَلَا مُوَاضَعَةَ عَادَةً فِي حَقِّ الزَّكَاةِ وَالتَّزَوُّجِ وَالشَّهَادَةِ او په عامه توګه د زکاة، نکاح او ګواهۍ په حق کې اتفاق نه کيږي فَلَا تُهْمَةَ فِي حَقِّ هَذِهِ الْأَحْكَامِ لهذا د دې احکامو په حق کې هيڅ تهمت نسته.

اللغات: ﴿تَصَادَقَا﴾ د تفاعل ماضي ده: يو د بل تصديق کول. ﴿يُدَارُ﴾ د فتح مضارع مجهوله ده: مدار کېدل، دائر کېدل. ﴿يَتَوَاضَعَانِ﴾ د تفاعل له باب څخه د تثنيه مذکر غائب مضارع صيغه ده، د دې باب څو معناوي دي، يو معنیٰ يې دا ده: اتفاق کول، موافقت کول. او د مُوَاضَعَة هم دغه معنیٰ ده.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... که خاوند خپلې ښځي ته ووايي: زه چي کله جوړ او روغ وم، نو ما تا ته درې طلاقه درکړې وه، او تا د هغو طلاقونو عدت هم پوره کړی، او ښځي د خپل خاوند تصديق وکړی، بيا خاوند تر دې وروسته د دغه ښځي لپاره د قرض اقرار وکړی، يعني خاوند ووېل: چي پر ما د دې ښځي مثلاً لس زره (۱۰۰۰۰) روپۍ باندي دي، يا خاوند د دې ښځي لپاره په خپل ميراث کي د څه مال ورکولو وصيت وکړی.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که ښځه له خپل خاوند څخه د هغه په مرض الموت کي د درېو طلاقو غوښتنه وکړي او خاوند هغې ته درې طلاقه ورکړي، او بيا خاوند په عدت کي د دغه ښځي لپاره د قرض اقرار وکړي يا د څه مال وصيت وکړي.

نو په دې دواړو مسئلو کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي دلته به د ښځي د ميراث حصې ته کتل کيږي چي هغه د اقرار يا وصيت تر مال زياته ده او که کمه ده، که چيري د ښځي د ميراث حصه تر هغه کمه وي، نو د ميراث حصه به ورکول کيږي، او که د ميراث حصه زياته وي، او د اقرار يا وصيت مال کم وي، نو بيا به د قرض يا وصيت مال ورکول کيږي (مثلاً که د وصيت مال ۵۰۰۰ زره روپۍ وي او د ميراث حصه ۶۰۰۰ زره روپۍ وي، نو د وصيت مال به ورکول کيږي).

او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دواړو مسئلو کي به هغه مقدار ورکول کيږي د کوم مقدار چي خاوند اقرار يا وصيت کړی وي برابره ده هغه مقدار د ميراث له حصې څخه کم وي او که زيات وي.

او د صاحبينو په نېز په اوله مسئله کي هغه حکم دی کوم چي د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز دی او په دويمه مسئله کي هغه حکم دی کوم چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی.

د امام زفر دليل: دا دی چي د دې ښځي په حق کي د اقرار يا وصيت د صحيح کېدلو لپاره د هغې وارث کېدل مانع وو (يعني دا ښځه د خاوند وارثه (د ميراث حقداره) وه، او د وارثت په وجه د هغې لپاره د خاوند اقرار يا وصيت کول صحيح نه وو [ځکه چي د خپلې ښځي لپاره اقرار يا وصيت کول صحيح نه دي])، لېکن په اوله مسئله کي چي کله ښځي د خاوند تصديق وکړی او په دويمه مسئله کي يې د طلاق غوښتنه وکړه، نو د ښځي ميراث باطل سو، لهذا د قرار او وصيت د صحيح کېدلو مانع زائل سو، او کله چي مانع زائل سو، نو د ښځي لپاره د خاوند اقرار او وصيت کول صحيح سو، نو ځکه به د خاوند تر مرګ وروسته ښځه فقط د هغه مقدار حقداره وي، د کوم مقدار چي خاوند اقرار يا وصيت کړی وي، هغه که د ميراث له حصې څخه کم وي، او که زيات وي.

د صاحبينو دليل: په اوله مسئله کي د صاحبينو دليل دا دی چي کله خاوند او ښځي د طلاق پر قوع او د عدت پر پوره کېدلو اتفاق وکړی، نو دا ښځه له خاوند څخه اجنبيه (پردۍ) سوه، او په هر اعتبار سره

د دوی نکاح ختمه سوه. همدا وجه ده ① چي خاوند اوس د هغې د خوږ سره نکاح کولای سي، نو دا تهمت اوس نه سي کېدای چي خاوند د هغې د فایدې لپاره طلاق ورکوي چي بیا د هغې لپاره د زیات مقدار اقرار یا وصیت وکړي (ځکه دا تهمت به هغه وخت پاته وای کله چي په هر اعتبار سره نکاح ختمه نه وای. بلکي په یوه اعتبار (مِنْ وَجْه) نکاح پاته وای)، ② او په هر اعتبار سره د نکاح ختمېدلو او د ښځي د اجنبي کېدلو دویمه وجه دا ده چي اوس خاوند د هغې په حق کي ګواهي ورکولای سي. ③ او هغې ته خپل زکاة ورکولای سي. له دې درېو دلیلونو څخه ثابته سوه چي اوس دا ښځه بالکل پردۍ او اجنبیه ده. لهذا څرنګه چي د نورو اجانبو (پردیو کسانو) لپاره اقرار او وصیت کول صحیح دي، همداسي به د دې ښځي لپاره هم د خاوند اقرار او وصیت کول صحیح وي.

په خلاف د دویمي مسئلې، ځکه چي په دویمه مسئله کي د ښځي په حکم سره طلاق ورکول سوی دی، او په دویمه مسئله کي پر ښځي عدت هم پاته دی. لهذا په یوه اعتبار سره (مِنْ وَجْه) نکاح پاته سوه. نو دا عدت او مِنْ وَجْه نکاح پاتېدل د تهمت سبب دی چي خاوند په طلاق ورکولو سره د هغې لپاره له میراث څخه د زیات مال اقرار یا وصت کوي (یعني د هغې د فایدې لپاره طلاق ورکوي). او د حکم دار ومدار د تهمت پر دلیل دی (ځکه چي تهمت یو پټ شی دی، او په پټ شي خبرېدل ناممکن دي، نو ځکه به د پټ شي پر دلیل حکم کیږي، چي هغه دلته عدت دی، ځکه چي د عدت په وجه مِنْ وَجْه نکاح پاته ده، او د همدغه مِنْ وَجْه نکاح پاتېدلو په وجه د خاوند په باره کي تهمت کیږي)، لهذا د تهمت د دلیل (عدت) په وجه په دویمه مسئله کي تهمت ثابت سو، نو ځکه به د ښځي لپاره د خاوند اقرار او وصیت کول جائز نه وي.

ولهذا يُدار إلخ: فرمایي همدا وجه ده چي په نکاح او قرابت کي د تهمت په وجه سره پر نکاح او قرابت د حکم دار ومدار دی. یعني که خاوند او ښځه یو د بل په حق کي ګواهي ورکول وغواړي، نو ګواهي نه سي ورکولای، ځکه چي د دوی په مینځ کي نکاح پاته ده، او نکاح د تهمت دلیل دی چي دوی به د یوه او بل د فایدې لپاره ګواهي ورکوي. نه د نقصان لپاره. همدارنګه یو ورور د بل ورور لپاره ګواهي نه سي ورکولای. ځکه چي قرابت د تهمت دلیل دی چي هغه به د خپل ورور د فایدې لپاره ګواهي ورکوي. نو همداسي عدت هم د تهمت دلیل دی چي خاوند به د ښځي لپاره د زیات مال وصیت یا اقررار کوي، او نورو وارثانو ته به تاوان ورسوي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي په دواړو مسئلو کي تهمت موجود دی، په دویمه مسئله کي خو د ټولو په نېز تهمت موجود دی. او په اوله مسئله کي که څه هم ښځي د طلاق او د عدت تصدیق کړی دی خو بیا هم دا تهمت سته چي ښځي به د دې لپاره د خاوند تصدیق کړی وي چي د هغې لپاره د

اقرار او وصيت دروازه خلاصه سي، يا دا چي خاوند او ښځي به دواړو د طلاق او عدت تېرېدلو پلان جوړ کړی وي او اتفاق به يې کړی وي د دې لپاره چي خاوند د اقرار يا وصيت په وجه هغې ته تر ميراث زيات مقدار ورکړي، او دا تهمت په هغه مقدار کي سته کوم چي تر ميراث زيات وي (يعني کوم مقدار چي د ښځي د ميراث له حصې څخه زيات وي)، نو ځکه موږ د ميراث له حصې څخه د زيات مال اقرار او وصيت ردّ کړی، او د ميراث د حصې څخه په کم مقدار کي تهمت نسته، نو ځکه مو هغه جائز وګرځوی.

ولا مواضعة عادة إلخ: په دې سره صاحبينو ته جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چي د ميراث په حق کي دا خبره عادتاً ممکنه ده چي خاوند او ښځي به دواړو اتفاق کړی وي او د طلاق او عدت پوره کېدلو پلان او بانه به يې جوړه کړې وي، لېکن ښځي ته د زکاة ورکولو لپاره يا د هغې د خور سره د نکاح کولو لپاره يا يو د بل په حق کي د ګواهۍ ورکولو لپاره عادتاً داسي پلان نه جوړېږي او د دې شيانو لپاره ښځه او خاوند پر طلاق او عدت اتفاق نه کوي، نو ثابته سوه چي په دغه احکامو کي تهمت نسته، لهذا د صاحبينو لپاره په خپل دليل او قياس کي دغه احکام ذکر کول صحيح نه دي.

په مرضُ الموت کي د طلاق قاعده او أصول

قَالَ: وَمَنْ كَانَ مَحْصُوْرًا أَوْفِي صَفِّ الْقِتَالِ او کوم څوک چي کلا بند وي [يعني په قلعه کي محاصره کړی سوي وي] يا د جنګ په صف کي وي فَطَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا او [په همدغه حالت کي] خپلي ښځي ته درې طلاقه ورکړي [او بيا مړ سي] لَمْ تَرِثْهُ نو ښځه د هغه وارثه نه ګرځي وَإِنْ كَانَ قَدْ بَارَزَ رَجُلًا أَوْ قُدِّمَ لِيُقْتَلَ بِقِصَاصٍ أَوْ رَجْمٍ او که هغه ديو سړي سره د مقابلې لپاره [مخته] راوتلی وي، يا هغه په قصاص يا رجم کي د قتل کېدلو لپاره پېش کړی سي وَرِثَتْ إِنْ مَاتَ فِي ذٰلِكَ الْوَجْهِ أَوْ قُتِلَ نو که هغه په دې باره کي مړ سو يا قتل کړی سو نو ښځه [د هغه] وارثه ګرځي وَأَصْلُهُ مَا بَيَّنَّا أَنَّ امْرَأَةَ الْفَارِّ تَرِثُ اسْتِحْسَانًا او د دې أصل هغه دی کوم چي موږ بيان کړی چي [د ميراث څخه] د تښتېدلونکي سړي ښځه استحساناً وارثه ګرځي وَإِنَّمَا يَثْبُتُ حُكْمُ الْفِرَارِ بِتَعَلُّقِ حَقِّهَا بِمَالِهِ او د فرار [تښتېدلو] حکم هغه وخت ثابتېږي کله چي د ښځي حق د خاوند د مال سره متعلق سي وَإِنَّمَا يَتَعَلَّقُ بِمَرَضٍ يُخَافُ مِنْهُ الْهَلَاكُ غَالِبًا او [د خاوند د مال سره د ښځي حق] په داسي مرض سره متعلق کېږي چي له هغه مرض څخه غالباً د هلاکت [مړه کېدلو] بېره وي كَمَا إِذَا كَانَ صَاحِبَ الْفِرَاشِ مثلاً کله چي هغه د بسترې خاوند وي وَهُوَ أَنْ يَكُونَ بِحَالٍ لَا يَقُومُ بِحَوَائِجِهِ كَمَا يَعْتَادُهُ الْأَصِحَّاءُ او هغه دا چي مريض په داسي حالت کي وي چي د صحت

مندو [روغو] خلکو په څیر عادتاً خپل ضروریات پوره کولای نه سي وَقَدْ يَثْبُتُ حُكْمُ الْفِرَارِ بِمَا هُوَ فِي مَعْنَى الْمَرَضِ فِي تَوَجُّهِ الْهَلَاكِ الْغَالِبِ او کله نا کله د فرار حکم ثابتیږي په هغه شي سره کوم چي په غالب هلاکت کي د مرضُ الموت په معنیٰ سره وي [يعني له کوم شي څخه چي د مرګ غالب ګومان وي (لکه څرنګه چي په مرض الموت کي د مرګ غالب ګومان وي) نو په هغه شي سره هم د فرار حکم ثابتیږي] وَمَا يَكُونُ الْغَالِبُ مِنْهُ السَّلَامَةَ لَا يَثْبُتُ بِهِ حُكْمُ الْفِرَارِ او له کوم شي څخه چي سلامتي غالب وي نو په هغه سره د فرار حکم نه ثابتیږي فَالْمَحْصُورُ وَالَّذِي فِي صَفِّ الْقِتَالِ الْغَالِبُ مِنْهُ السَّلَامَةُ نو کوم کس چي کلا بند وي او [همدارنګه] هغه کس کوم چي چي د جنګ په صف کي وي له هغه څخه سلامتي غالبه ده لِأَنَّ الْحِصْنَ لِدَفْعِ بَأْسِ الْعَدُوِّ وَكَذَا الْمَنَعَةُ ځکه چي قلعه خو د دښمن د ضرر [او هلاکت] دفع کولو لپاره وي او همدارنګه لښکر دی فَلَا يَثْبُتُ بِهِ حُكْمُ الْفِرَارِ نو په دې سره به د فرار حکم نه ثابتیږي وَالَّذِي بَارَزَ أَوْ قُدِّمَ لِيُقْتَلَ الْغَالِبُ مِنْهُ الْهَلَاكُ او کوم څوک چي د مقابلې لپاره [مخته] راوتلی وي یا د قتل کېدلو لپاره پېش کړی سي نو له هغه څخه هلاکت غالب دی فَيَتَحَقَّقُ بِهِ الْفِرَارُ نو په هغه سره به د فرار حکم ثابتیږي وَلِهَذَا أَخَوَاتٌ تُخَرَّجُ عَلَى هَذَا الْحَرْفِ او د دې [مسئلې] نور مثالونه [هم] سته چي هغوی پر همدغه اُصول را ایستل کیږي وَقَوْلُهُ: إِذَا مَاتَ فِي ذَلِكَ الْوَجْهِ أَوْ قُتِلَ او د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول: إِنْ مَاتَ فِي ذَلِكَ الْوَجْهِ أَوْ قُتِلَ دَلِيلٌ عَلَى أَنَّهُ لَا فَرْقَ بَيْنَ مَا إِذَا مَاتَ بِذَلِكَ السَّبَبِ أَوْ بِسَبَبٍ آخَرَ [دا قول] پر دې خبره دلیل دی چي په دې کي هیڅ فرق نسته چي [که خاوند] په هغه سبب سره مړ سي یا په بل سبب سره كَصَاحِبِ الْفِرَاشِ بِسَبَبِ الْمَرَضِ إِذَا قُتِلَ لکه د مرض په وجه صاحبُ الفراش چي کله قتل کړی سي [نو بیا هم ښځه دهغه وارثه ګرځي]

اللغات: ﴿مَحْصُوْرٌ﴾ له ضرب او نصر دواړو څخه اسمِ مفعول دی: کلا بند (هغه سړی چي په یوه قلعه یا په یو ځای کي محاصره او ایسار کړی سي)، ﴿بَارَزَ﴾ د مفاعلې ماضي ده: مقابله کول، ﴿فَارٌّ﴾ د ضرب اسم فاعل دی: فرار کونکی، تېښته کونکی (تښتېدونکی)، ﴿حِصْن﴾ قلعه، کلا، جمع: حُصُوْن، ﴿بَأْس﴾ حرج، ضرر، تاوان، ﴿الحَرْف﴾ طرز، طریقه.

تشریح: **صورت د مسئلې:** دا دی که یو سړی په قلعه (کلا) کي بندي وي او دښمنانو قلعه محاصره کړې وي یا هغه د جنګ په صف کي وي، او په دغه حالت کي خپلې ښځې ته درې طلاقه وکړي، او

بیا مړ سي. نو په دې صورت کي ښځه د هغه وارثه نه ګرځي. او که یو سړی د دښمن د مقابلې لپاره د جنګ له صف څخه مخته راووځي یا هغه د رجم یا د قصاص په بدله کي د قتل کېدلو لپاره میدان ته راوستل سي. او په دغه حالت کي خپلې ښځي ته درې طلاقه وکړي، او بیا په هغه سبب سره قتل کړی سي (یعني له صف څخه د راوتلو یا د رجم او قصاص په سبب سره قتل کړی سي) یا په یو بل سبب سره قتل کړی سي، نو په دې صورت کي ښځه د هغه وارثه ګرځي.

د دې مسئلې اصل او بنیاد د باب تر اول عبارت لاندي موږ بیان کړی چي اِمْرَأَةُ الفَارّ استحساناً وارثه ګرځي، نه قیاساً، او د استحسان دلیل هم موږ هلته بیان کړی چي د هغې پر وارث کېدلو صحابه وو اجماع کړې ده.

د قیاس دلیل دا دی چي د وراثت سبب د مرګ په وجه سره د نکاح ختمېدل دي، او څرنګه چي دغه سړي په دریو طلاقو سره تر مرګ مخکي نکاح ختمه کړې ده، نو ځکه د وراثت سبب موجود نه سو، او بغیر له سبب څخه وراثت نه ثابتیږي، نو ځکه به دا ښځه د خپل خاوند وارثه نه ګرځي.

پاته سوه دا خبره چي د فرار (طلاقُ الفارّ) حکم به کله ثابتیږي، نو په دې هکله صاحب د هدایې فرمایي چي کله د ښځي حق د خاوند د مال سره متعلق سي نو د فرار حکم به ثابتیږي یعني که په دې وخت کي خاوند خپلې ښځي ته طلاقِ بائن ورکړي، نو دا به طلاقُ الفار وي، او د ښځي حق د خاوند د مال سره هغه وخت متعلق کیږي، کله چي خاوند په مرضُ الموت مبتلا سي یعني په یو داسي مرض مبتلا سي چي غالب ګومان همدا وي چي خاوند به په هغه مرض کي مړ سي. مثلاً خاوند صاحبُ الفراش وګرځي، او له صاحبُ الفراش څخه مراد هغه کس دی چي بالکل د سمو (روغو) خلګو په څیر خپل ضروریات نه سي پوره کولای، مثلاً د لمانځه لپاره بالکل مسجد ته نه سي تللای. او قضاءِ حاجت ته د تللو قدرت نه لري، همدارنګه دوکان او بازار ته د تګ قدرت نه لري.

او که مریض په داسي مرض مبتلا وي چي د کور دننه ضروریات خو پوره کولای سي، مثلاً بیتُ الخلاء ته تللای سي، لېکن دباندي نه سي وتلای او دباندیني ضروریات نه سي پوره کولای، نو داسي مرض هم د بُخارا د عامو مشائخو په نېز د مرضُ الموت په حکم کي دی، او د بلخ د عامو مشائخو په نېز د مرضُ الموت په حکم کي نه دی.

وقد یثبت إلخ: صاحب د هدایې فرمایي چي د فرار حکم فقط د مرض سره خاص نه دی. بلکي هر هغه شی چي له هغه څخه د مرګ غالب ګومان وي، هغه د مرضُ الموت په حکم سره دی، او په هغه سره د فرار حکم ثابتیږي، مثلاً که یو سړی په کښتۍ کي سپور وي، او د دریاب په څپو کي دومره جوش او

مستي پيدا سي چي د کښتي د غرقېدلو غالب ګومان سي، نو که په دغه حالت کي هغه خپلي ښځي ته طلاقِ بائن ورکړي، نو د فرار حکم ثابتيږي (او کوم حکم چي د اِمْرَاَةُ الفَارّ دی، هغه حکم به د دغه سړي د ښځي هم وي).

او که داسي عارض پيدا سي چي له هغه څخه د خلاصېدلو او سلامتي غالب ګومان وي، نو په داسي عارض سره د فرار حکم نه ثابتيږي.

لهذا څرنګه چي د هغه سړي خلاصون غالب دی کوم چي په قلعه کي محاصره کړی سوي وي يا د جنګ په صف کي وي، ځکه چي قلعه د دښمن له حملو څخه د حفاظت لپاره جوړه سوې وي، همدارنګه د جنګ په صف کي له هغه سړي څخه بغير يو کامل او بشپړ لښکر ولاړ وي کوم چي هر ساعت د خپلو ملګرو څارنه کوي، نو په دې وجه به د داسي سړي په طلاق سره د فرار حکم نه ثابتيږي، او ښځه به د هغه وارثه نه ګرځي.

او کوم سړی چي د مقابلې لپاره له صف څخه دباندي راووځي، يا د قتل کېدلو لپاره راوستل سي، نو د هغه د هلاکت او مړ کېدل غالب دي، نو ځکه به په دې صورت کي د فرار حکم ثابتيږي او ښځه به د هغه وارثه ګرځي.

ولهذا أخوات إلخ: او د دې مسئلې (يعني چيري چي هلاکت او مرګ غالب وي او چيري چي هلاکت غالب نه وي) نور مثالونه هم سته، چي هغوی پر همدغه پورتني اُصول او قاعدې را ايستل کيږي (چي غالب شي ته به کتل کيږي)، مثلاً حامله ښځه د روغ رمټ کس په درجه کي ده، لېکن کله چي د هغې د لنګوالي درد شروع سي، نو هغه د مريضي او ناروغي ښځي په حکم سره ګرځي.

وقوله إذا مات إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول "چي که خاوند په هغه سبب سره مړ سي نو د فرار حکم به ثابتيږي" دا قول او دا عبارت شرط نه دی، بلکي د دې قول وضاحت دا دی چي د ښځي د وارثه کېدلو لپاره د خاوند مړ کېدل شرط دي، برابره ده خاوند که په هر سبب سره مړ سي، لکه يو سړی چي صاحبُ الفراش وي يعني سخت مريض وي لېکن په يوه بله وجه سره هغه قتل کړی سي، نو که څه هم هغه په خپل (خدايي) مرګ سره نه دي مړ سوی، لېکن بيا به هم پر هغه د خپل (خدايي) مرګ حکم کيږي، يعني که هغه په دغه حالت کي (يعني د صاحبُ الفراش والي په حالت کي) خپلي ښځي ته طلاق ورکړی وي، نو د هغه پر ښځي به د اِمْرَاَةُ الفَارّ حکم جاري کيږي او ښځه به د هغه وارثه ګرځي.

د مرضُ الموت په وخت کې د طلاق د شرط موجودېدلو تفصيلي بيان

وَإِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِامْرَأَتِهِ وَهُوَ صَحِيحٌ او که خاوند خپلې ښځې ته ووايي [په داسې حال کې چې] هغه روغ وي "إِذَا جَاءَ رَأْسُ الشَّهْرِ أَوْ إِذَا دَخَلْتِ الدَّارَ أَوْ إِذَا صَلَّى فُلَانٌ الظُّهْرَ أَوْ إِذَا دَخَلَ فُلَانٌ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ" "کله چې د مياشتې سر [اوله ورځ] راسي، يا کله چې فلانکی د ماپښين لمونځ وکړي. يا کله چې فلانکی کور ته داخل سي نو ته [پر ما] طلاقه يې" فَكَانَتْ هَذِهِ الْأَشْيَاءُ وَالزَّوْجُ مَرِيضٌ او [بيا] دغه شيان په وجود کې راغلل [په داسې حال کې] چې خاوند مريض وو لَمْ تَرِثْ نو ښځه [د هغه] وارثه نه ګرځي وَإِنْ كَانَ الْقَوْلُ فِي الْمَرَضِ او که [د خاوند] قول [يعني معلق کول] د مرض په حالت کې وي وَرِثَتْ نو ښځه وارثه ګرځي إِلَّا فِي قَوْلِهِ: "إِذَا دَخَلْتِ الدَّارَ" مګر د خاوند په دې قول کې: "کله چې ته کور ته داخله سې [نو پر ما طلاقه يې]"، په دې صورت کې ښځه وارثه نه ګرځي] وَهَذَا عَلَى وُجُوهٍ او دا [مسئله] پر څو صورتونو ده إِمَّا أَنْ يُعَلِّقَ الطَّلَاقَ بِمَجِيءِ الْوَقْتِ [١] يا دا چې [خاوند] طلاق د يو وخت پر راتګ معلق کړي أَوْ بِفِعْلِ الْأَجْنَبِيِّ [٢] يا يې د يو پردي سړي پر فعل [معلق کړي] أَوْ بِفِعْلِ نَفْسِهِ [٣] يا يې د خپل ځان پر فعل [معلق کړي] أَوْ بِفِعْلِ الْمَرْأَةِ [٤] يا يې د ښځې پر فعل [معلق کړي] وَكُلُّ وَجْهٍ عَلَى وَجْهَيْنِ او د هر صورت [بيا] دوه صورتونه دي أَمَّا إِنْ كَانَ التَّعْلِيقُ فِي الصِّحَّةِ وَالشَّرْطُ فِي الْمَرَضِ يا به تعليق [يعني د طلاق معلق کول] د صحت په حالت کې وي او شرط [يعني د شرط موجودېدل] به په مرضُ الموت کې وي أَوْ كِلَاهُمَا فِي الْمَرَضِ يا به دواړه په مرضُ الموت کې وي أَمَّا الْوَجْهَانِ الْأَوَّلَانِ وَهُوَ مَا إِذَا كَانَ التَّعْلِيقُ بِمَجِيءِ الْوَقْتِ بِأَنْ قَالَ إِذَا جَاءَ رَأْسُ الشَّهْرِ فَأَنْتِ طَالِقٌ کوم چې اول دوه صورتونه دي [١] او هغه دا چې تعليق [معلق کول] د وخت پر راتګ وي، مثلاً خاوند ووايي: کله چې د مياشتې سر راسي نو ته [پر ما] طلاقه يې أَوْ بِفِعْلِ لِأَجْنَبِيِّ بِأَنْ قَالَ: إِذَا دَخَلَ فُلَانٌ الدَّارَ أَوْ صَلَّى فُلَانٌ الظُّهْرَ يا [تعليق] د أجنبي پر فعل وي، مثلاً خاوند ووايي: کله چې فلانی کور ته داخل سي يا فلانی د ماپښين لمونځ وکړي [نو ته پر ما طلاقه يې] وَكَانَ التَّعْلِيقُ وَالشَّرْطُ فِي الْمَرَضِ او معلق کول او شرط [الکول] دواړه د مرضُ الموت په حالت کې وي فَلَهَا الْمِيرَاثُ نو د ښځې لپاره به ميراث وي لِأَنَّ الْقَصْدَ إِلَى الْفِرَارِ قَدْ تَحَقَّقَ مِنْهُ ځکه چې [په دې صورتونو کې] د خاوند له طرفه د فرار [تېښتې] اراده کول ثابت سو [يعني کله چې خاوند په خپل مرضُ الموت کې پر دغه شيانو (مجيء الوقت أو فعل الأجنبي)

طلاق معلق کړی نو له دې څخه دا ثابته سوه چي خاوند د ښځي له ميراث څخه ځان خلاصوي او د فرار لاره اختياروي، ځکه چي په مرض الموت کي د هغه د مال سره د ښځي حق متعلق سو| بِمُبَاشَرَةِ التَّعْلِيقِ فِي حَالِ تَعَلُّقِ حَقِّهَا بِمَالِهِ په داسي حالت کي [د طلاق] د معلق کولو په وجه چي [په هغه کي] د ښځي حق د خاوند د مال سره متعلق سو وَإِنْ كَانَ التَّعْلِيقُ فِي الصِّحَّةِ وَالشَّرْطُ فِي الْمَرَضِ او که تعليق د صحت په حالت کي وي او شرط [موجودېدل] په مرضُ الموت کي وي لَمْ تَرِثْ نو [په دې صورت کي] ښځه وارثه نه ګرځي وَقَالَ زُفَرُ: تَرِثُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي وارثه ګرځي لِأَنَّ الْمُعَلَّقَ بِالشَّرْطِ يَنْزِلُ عِنْدَ وُجُودِ الشَّرْطِ كَالْمُنَجَّزِ ځکه کوم طلاق چي پر شرط معلق کړی سوی وي هغه د شرط موجودېدلو په وخت کي داسي واقع کيږي لکه مُنجّز [غيرِ معلق] طلاق [چي واقع کيږي] فَكَانَ إِيقَاعًا فِي الْمَرَضِ نو دا به په مرضُ الموت کي [د طلاق] واقع کول وي وَلَنَا أَنَّ التَّعْلِيقَ السَّابِقَ يَصِيرُ تَطْلِيقًا عِنْدَ الشَّرْطِ حُكْمًا لَا قَصْدًا او زموږ دليل دا دی: چي مخکني تعليق د شرط موجودېدلو په وخت کي حکماً تطليق [طلاق ورکول] ګرځي نه قصداً وَلَا ظُلْمَ إِلَّا عَنْ قَصْدٍ او ظلم نه ثابتيږي مګر په قصد [اراده] سره فَلَا يُرَدُّ تَصَرُّفُهُ نو ځکه به د خاوند تصرف نه ردول کيږي وَأَمَّا الْوَجْهُ الثَّالِثُ وَهُوَ مَا إِذَا عَلَّقَهُ بِفِعْلِ نَفْسِهِ او کوم چي دريم صورت دی او هغه دا چي کله [خاوند] پر خپل فعل طلاق معلق کړي فَسَوَاءٌ كَانَ التَّعْلِيقُ فِي الصِّحَّةِ وَالشَّرْطُ فِي الْمَرَضِ أَوْ كَانَا فِي الْمَرَضِ نو برابره ده تعليق د صحت په حالت کي وي او شرط [موجودېدل] په مرضُ الموت کي وي، يا دواړه په مرضُ الموت کي وي وَالْفِعْلُ مِمَّا لَهُ مِنْهُ بُدٌّ أَوْ لَا بُدَّ لَهُ مِنْهُ او [برابره ده] فعل داسي شی وي چي له هغه څخه د خاوند چاره وي، يا له هغه څخه د خاوند چاره نه وي [يعني برابره ده د فعل کول پر خاوند ضروري وي او که نه وي] يَصِيرُ فَارًّا لِوُجُودِ قَصْدِ الْإِبْطَالِ نو [په دې صورت کي] خاوند [د ښځي د حق] د باطلولو د ارادې په وجه [په هر حال کي] فرار کونکی ګرځي إِمَّا بِالتَّعْلِيقِ يا خو [په مرض الموت کي] د تعليق کولو په وجه أَوْ بِمُبَاشَرَةِ الشَّرْطِ فِي الْمَرَضِ يا په مرضُ الموت کي د شرط د [ارتکاب] کولو په وجه وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مِنْ فِعْلِ الشَّرْطِ بُدٌّ او که څه هم [په دغه صورت کي] د شرط له کولو څخه د خاوند هيڅ چاره نه وي [يعني که څه هم په دغه صورت کي د فعل کول پر خاوند ضروري دي] فَلَهُ مِنَ التَّعْلِيقِ أَلْفُ بُدٍّ خو د هغه لپاره له تعليق کولو

ښځه [بغير نوري] زر چاري [او لاري] سته فَيَرُدُّ تَصَرُّفَهُ دَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنْهَا نو ځکه به د هغه تصرف ردول کيږي له ښځې ښځه د ضرر ليرې کولو لپاره وَأَمَّا الْوَجْهُ الرَّابِعُ وَهُوَ مَا إِذَا عَلَّقَهُ بِفِعْلِهَا او کوم چې څلورم صورت دی او هغه دا چې کله [خاوند] د ښځې پر فعل طلاق معلق کړي فَإِنْ كَانَ التَّعْلِيقُ وَالشَّرْطُ فِي الْمَرَضِ نو که معلق کول او شرط [موجودېدل] دواړه په مرضُ الموت کي وي وَالْفِعْلُ مِمَّا لَهَا مِنْهُ بُدٌّ او فعل له هغه شيانو ځخه چې له هغه ځخه د ښځې چاره کيږي كَكَلَامِ زَيْدٍ وَنَحْوِهِ لکه د زيد سره خبري کول او داسي نور لَمْ تَرِثْ نو [په دې صورت کي] ښځه وارثه نه ګرځي لِأَنَّهَا رَاضِيَةٌ بِذٰلِكَ ځکه چې هغه په دې [طلاق] سره راضي ده وَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ مِمَّا لَا بُدَّ لَهَا مِنْهُ او که فعل له هغه شيانو ځخه وي چې د ښځې هيڅ چاره ځني نه وي كَأَكْلِ الطَّعَامِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ وَكَلَامِ الْأَبَوَيْنِ لکه خوراک کول او [مثلاً] د ماپښين لمونځ کول او د مور و پلار سره خبري کول تَرِثُ نو [په دې صورت کي] ښځه وارثه ګرځي لِأَنَّهَا مُضْطَرَّةٌ فِي الْمُبَاشَرَةِ ځکه چې هغه [د دې فعل] په کولو کي مجبوره ده لِمَا لَهَا فِي الِامْتِنَاعِ مِنْ خَوْفِ الْهَلَاكِ فِي الدُّنْيَا أَوْ فِي الْعُقْبٰى ځکه چې اله دغه فعل ځخه] په منع کېدلو کي د هغې لپاره يا په دنيا کي د هلاکت بېره سته يا په آخرت کي وَلَا رِضَا مَعَ الِاضْطِرَارِ او د مجبورۍ سره هيڅ رضا نسته [يعني رضا او مجبوري بالکل نه سي سره جمع کېدای] وَأَمَّا إِذَا كَانَ التَّعْلِيقُ فِي الصِّحَّةِ وَالشَّرْطُ فِي الْمَرَضِ او که معلق کول په صحت کي وي او شرط [موجودېدل] په مرضُ الموت کي وي فَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ مِمَّا لَهَا مِنْهُ بُدٌّ نو که فعل له هغه شيانو ځخه وي چې د ښځې چاره ځني کيږي فَلَا إِشْكَالَ أَنَّهُ لَا مِيرَاثَ لَهَا نو په دې کي هيڅ مانع نسته چې [په دغه صورت کي به] د هغې لپاره ميراث نه وي وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا بُدَّ لَهَا مِنْهُ او که فعل له هغه شيانو ځخه وي چې د ښځې هيڅ چاره ځني نه وي فَكَذٰلِكَ الْجَوَابُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ ● نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز همدغه حکم دی [چې ښځه وارثه نه ګرځي] وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّهُ لَمْ يُوجَدْ مِنَ الزَّوْجِ صُنْعٌ بَعْدَمَا تَعَلَّقَ حَقُّهَا بِمَالِهِ ځکه چې [په دې صورت کي] د خاوند د مال سره د ښځې د حق تر متعلق کېدلو وروسته د خاوند له طرفه

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله ، كما في رد المحتار (ج:٢، ص:٥٦٩)، وقال فخر الإسلام: وهو الصحيح، لكـن مختـار أصحاب المتون هو الأول أى قول الشيخين (مجمع الأنهر ج:١، ص:٤٣١). [القول الراجح ج:١، ص:٣٣٦]

هیڅ عمل موجود [واقع] نه سو وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ تَرِثُ [لیکن] د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز [په دې صورت کې] ښځه وارثه ګرځي لِأَنَّ الزَّوْجَ أَلْجَأَهَا إِلَى الْمُبَاشَرَةِ ځکه چې دا ښځه د فعل پر کولو خاوند مجبوره کړې ده. فَيَنْتَقِلُ الْفِعْلُ إِلَيْهِ نو [د ښځې] فعل به د خاوند وطرف ته منتقل کیږي كَأَنَّهَا آلَةٌ لَهُ ګواکې دا ښځه [په هغه فعل] کې د خاوند آله ده كَمَا فِي الْإِكْرَاهِ لکه په إکراه کې چې [داسې] کیږي.

اللغات: ﴿رَأْس﴾ سر، مراد ځنې د میاشتې شروع (اوله ورځ) ده، ﴿مَجِيْء﴾ مصدرِ میمي دی: راتلل، راتګ، ﴿مُبَاشَرَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: په خپله یو کار کول، ﴿مُضْطَرَّة﴾ د افتعال د باب مؤنث اسمِ مفعول دی: مجبوره، ﴿إِمْتِنَاع﴾ د افتعال مصدر دی: له یو کار څخه منع کېدل، پرهېز کول، ﴿صُنْع﴾ کار، کار کول (کار وایي)، ﴿أَلْجَأَهَا﴾ د افعال ماضي ده: بل څوک مجبوره کول (اړ ایستل).

تشریح: په دې عبارت کې د تعلیق څلور صورتونه بیان سوي دي:

①... یو صورت دا چې خاوند د صحت په زمانه کې خپلې ښځې ته داسې ووایي: إِذَا جَاءَ رَأْسُ الشَّهْرِ فَأَنْتِ طَالِقٌ.

②... یا داسې ورته ووایي: إِذَا دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ.

③... یا ورته وایي: إِذَا صَلَّى فُلَانٌ الظُّهْرَ فَأَنْتِ طَالِقٌ.

④... یا ورته ووایي: إِذَا دَخَلَ فُلَانٌ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ. له "فَأَنْتِ طَالِقٌ" څخه طلاقِ بائن مراد دی، ځکه چې د فرار حکم فقط په طلاقِ بائن سره ثابتیږي.

د دې څلورو صورتونو حکم دا دی چې که شرط د خاوند په مرضُ الموت کې موجود سي، نو ښځه د خاوند وارثه نه ګرځي، او که چیرې د خاوند معلق کول هم د مرضُ الموت په وخت کې وي (یعني که خاوند د مرضُ الموت په زمانه کې په پورتنیو څلورو جملو سره خپلې ښځې ته طلاق ورکړي)، نو له إِذَا دَخَلْتِ الدَّارَ څخه بغیر په نورو دریو صورتونو کې ښځه وارثه ګرځي.

خلاصه دا چې د مصنف رَحِمَهُ الله د بیان سوي مسئلې څلور صورتونه دي: ①... اول دا چې خاوند طلاق د یو وخت پر راتګ معلق کړي، ②... دویم دا چې د یو اجنبي (پردي) کس پر فعل یې معلق کړي، ③... دریم دا چې پر خپل فعل یې معلق کړي، ④... څلورم دا چې د ښځې پر فعل یې

معلق کړي؛ بيا په دې کي د هر صورت دوه، دوه صورتونه دي، يو دا چي معلق کول د صحت په حالت کي وي او شرط په مرضُ الموت کي موجود سي، دويم چي دواړه په مرضُ الموت کي موجود سي.

پاته سو دا صورت چي کله معلق کول په مرضُ الموت کي وي او شرط د صحت په حالت کي موجود سي، يا داسي چي معلق کول او شرط دواړه په صحت کي موجود سي، نو په دې دوو صورتونو کي ښځه شکه طلاقه واقع کيږي او ښځه وارثه نه ګرځي، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دا دوه صورتونه پرې ايښي دي (کوم چي مونږ ذکر کړل) او پورتني څلور صورتونه يې ذکر کړي دي.

دغه پورتني څلورو صورتونو ته که په دوو صورتونو کي ضرب ورکول سي نو ټول اته (۸) صورتونه جوړيږي، چي د هغوی تفصيل په دې توګه دی چي که په اولو دوو صورتونو کي (يعني کله چي خاوند د وخت پر راتګ طلاق معلق کړي مثلاً ووايي: إِذَا جَاءَ رَأْسُ الشَّهْر... يا د يو اجنبي کس پر فعل طلاق معلق کړي، مثلاً ووايي: إِذَا دَخَلَ فُلَانُ الدَّارَ يَا صَلَّى فُلَانُ الظُّهر...، نو که په دې دواړو صورتونو کي) معلق کول او شرط دواړه د خاوند د مرضُ الموت په حالت کي موجود سي، نو ښځه د خاوند وارثه ګرځي او د خاوند په ميراث کي به حصه ورکول کيږي؛ دليل دا دی چي په دغه دوو صورتونو کي د خاوند له طرفه د فرار قصد او اراده سوې ده؛ ځکه چي هغه د مرضُ الموت په حالت کي د ښځي طلاق معلق کړی دی حال دا چي په دې حالت کي د هغه د مال سره د ښځي حق متعلق سوی دی، لهذا کله چي دلته د خاوند "فَارّ" کېدل ثابت سو، نو د هغه طلاق به "طَلَاقُ الفَار" وي او د هغه ښځه به اِمْرَأَةُ الفَار وايي، او امرأةُ الفار زمونږ په نېز وارثه ګرځي، نو دغه ښځه به هم وارثه ګرځي او خپل ميراث به ورکول کيږي.

او که معلق کول د صحت په حالت کي وي او شرط د مرضُ الموت په حالت کي موجود سي، نو په دې صورت کي ښځه وارثه نه ګرځي، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي وارثه ګرځي.

د امام زفر دليل دا دی چي کوم طلاق چي معلق بالشرط وي، هغه طلاق د شرط د وجود په وخت کي داسي فوراً واقع کيږي لکه طلاقِ مُنجّز (غَيرِ مُعلّق طلاق) چي فوراً واقع کيږي، لهذا دغه طلاق داسي سو لکه خاوند چي ګواکي د مرضُ الموت په حالت کي طلاق ورکړی وي، او په مرضُ الموت کي ورکول سوی طلاق "طلاقُ الفَار" وي، لهذا دغه طلاق به هم طلاقُ الفار وي او د طلاقُ الفار په صورت کي ښځه وارثه ګرځي، نو ځکه به په دې صورت کي هم ښځه وارثه ګرځي.

زمونږ دليل دا دی چي مخکني تعليق (سابق تعليق) د شرط د وجود په وخت کي حکماً تطليق ګرځي، نه قصداً تطليق، او زمونږ دا خبره په دوو مسئلو سره ثابتيږي، يوه مسئله دا چي که يو عاقل بالغ سړی د خپلي ښځي طلاق پر شرط معلق کړي بيا شرط په داسي حالت کي موجود سي چي د هغه

عقل کار پرې ایښی وي او مجنون وي، نو طلاق واقع کیږي، سره د دې چې د مجنون طلاق نه واقع کیږي، نو ثابته سوه چې سابق تعلیق د شرط په وخت کي حکماً تطلیق گرځي، نه قصداً تطلیق.
دویمه مسئله دا چي که یو سړی د خپلي ښځي طلاق پر یو شرط معلق کړي او تر هغه وروسته د طلاق نه ورکولو قسم وکړي او بیا شرط موجود سي، نو هغه سړی نه حانث کیږي، لهذا کله چي سابق تعلیق د شرط د وجود په وخت کي حکماً تطلیق گرځي، نه قصداً، او دا تاسي ته معلومه ده چي له قصد او ارادې څخه بغیر ظلم نه ثابتیږي، نو ځکه به په دې صورت کي د خاوند تصرف نه ردول کیږي، لهذا کله چي د خاوند تصرف نه ردول کیږي، نو گواکي هغه د صحت په حالت کي طلاق ورکړی، نو ځکه به د هغه ښځه دِامْرَأَةُ الفَارّ نه کېدلو په وجه وارثه نه گرځي.

فأما الوجه الثالث: او کوم چي دویم صورت دی یعني کله چي خاوند طلاق پر خپل ذاتي فعل معلق کړي، نو په دې کي دواړه صورتونه سره برابر دي، یعني برابره ده که معلق کول په صحت کي وي او شرط په مرضُ الموت کي موجود سي یا دواړه په مرضُ الموت کي موجود سي، او برابره ده که له هغه فعل څخه د خاوند چاره وي یا نه وي، یعني د هغه فعل کول پر خاوند ضروري وي او که نه وي، د غیر ضروري فعل مثال لکه د زید سره خبري کول (یعني خاوند د زید سره پر خبرو کولو طلاق معلق کړي)، ضروري فعل لکه فرض لمونځ کول یا خوراک کول یا قضاء حاجت او داسي نور، لنډه دا چي په هر حال کي په دغه دریم صورت کي خاوند "فَارّ" گرځي، لهذا ښځه به د هغه وارثه گرځي؛ ځکه چي دلته خاوند په مرضُ الموت کي د ښځي د طلاق په معلق کولو سره یا په مرضُ الموت کي د شرط په موجودېدلو سره د ښځي د حق باطلولو اراده کړې ده، نو ځکه به د خاوند تصرف ردّ کیږي چي له ښځي څخه ضرر دفع سي او له میراث څخه محرومه نه سي.

وإن لم یکن له إلخ: په دې سره د یو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چي که خاوند پر یو داسي فعل طلاق معلق کړی وي چي له هغه څخه د خاوند چاره نه وي یعني پر خاوند د هغه کول ضروري وي مثلاً فرض لمونځ کول، نو په دې صورت کي خو خاوند د فعل پر کولو مجبوره دی، لهذا د هغه د تصرف ردول پکار نه دي.

د جواب حاصل دا دی چي دا خبره صحیح ده چي له دغه فعل څخه د خاوند هیڅ چاره نسته او د دې فعل پر کولو خاوند مجبوره دی، خو په نه معلق کولو کي خاوند لره هر ډول چاره حاصله وه یعني داسي نور افعال هم ول چي پر خاوند د هغوی کول ضروري نه وو او له هغوی څخه د خاوند چاره وه، نو خاوند باید پر هغوی طلاق معلق کړي وای، پر دغه فعل د طلاق معلق کولو هیڅ ضرورت نه وو، نو په دې وجه به د هغه تصرف ردّ کیږي.

وأما الوجه الرابع إلخ: او څلورم صورت يعني کله چې خاوند د ښځې پر فعل طلاق معلق کړي، نو د دې حکم دا دی چې که معلق کول او شرط دواړه په مرضُ الموت کې موجود سي. او فعل داسې (شرط) وي چې د هغه کول ضروري نه وي يعني غيرِ ضروري فعل وي او له هغه څخه د ښځې چاره وي (مثلاً خاوند په مرض الموت کې خپلې ښځې ته ووايي "که چيري تا د زيد سره خبري وکړې نو ته پر ما طلاقه يې". او بيا ښځه د خاوند په مرض الموت کې د زيد سره خبري وکړي)، نو په دې صورت کې ښځه د خاوند وارثه نه ګرځي؛ دليل دا دی چې دلته د غيرِ ضروري فعل د کولو په وجه (يعني د خاوند په مرضُ الموت کې د زيد سره د خبرو کولو په وجه) ښځه په خپله د خپل حق په ساقطولو راضي سوه، نو ځکه به هغه له ميراث څخه محرومه کيږي.

او که فعل داسې وي چې د هغه له کولو څخه د ښځې چاره نه وي بلکې د هغه کول ضروري وي (مثلاً خوراک کول، د ماپښين لمونځ کول او داسې نور)، نو که په دې صورت کې ښځه د خاوند په مرضُ الموت کې هغه کار وکړي، نو پر هغې طلاق واقع کيږي او که د ښځې په عدت کې خاوند مړ سي نو دا ښځه د هغه وارثه ګرځي؛ دليل دا دی چې ښځې د دغه فعل پر کولو مجبوره ده، ځکه که ښځه دا فعل نه وکړي نو د ښځې د هلاکت خطره سته په دنيا کې يا په آخرت کې، او د مجبورۍ سره رضا نه ثابتيږي، لهذا په دې صورت کې داسې نه سي ويل کېدای چې ښځه د خپل حق په ساقطولو راضي سوه.

او که چيري په څلورم صورت کې معلق کول د صحت په حالت کې وي او شرط د مرضُ الموت په حالت کې موجود سي، نو اوس که فعل داسې وي چې د هغه کول ضروري نه وي او له هغه څخه د ښځې چاره وي (مثلاً دخولُ الدار) نو په دې صورت کې خو پر ښځې طلاق واقع کيږي لېکن وارثه نه ګرځي، او که فعل داسې وي چې له هغه څخه د ښځې چاره نه وي بلکې د هغه کول ضروري وي، نو د امام محمد او امام زفر په نيز په دې صورت کې هم دغه حکم دی يعني ښځه وارثه نه ګرځي: دليل دا دی چې په دې صورت کې چې کله خاوند طلاق معلق کړی وو په هغه وخت کې د خاوند د مال سره د ښځې حق متعلق نه وو. او کله چې (په مرضُ الموت) کې د خاوند د مال سره د ښځې حق متعلق سو نو په دې وخت کې د خاوند له طرفه هيڅ عمل (طلاق) موجود نه سو. نو ځکه په دې صورت کې پر خاوند دا تهمت نه سي لګول کېدای چې هغه په طلاق سره د ښځې د حق باطلولو اراده کړې ده (ځکه چې هغه خو د صحت په حالت کې طلاق معلق کړی دی)، لهذا د هغه ښځه به "اِمْرَءَةُ الفَار" نه وي. او کله چې ښځه اِمْرَأَةُ الفَار نه ده. نو وارثه به هم نه ګرځي.

او د شيخينو مذهب دا دی چې هغه وارثه ګرځي؛ دليل دا دی چې دا يو ضروري فعل دی چې د هغه پر کولو ښځه مجبوره ده، نو دغه فعل به د خاوند وطرف ته منسوب کيږي ځکه چې خاوند هغه

پر دې فعل مجبوره کړې ده، نو ګواکي ښځه په دې فعل کي د خاوند آله ده لهذا دغه فعل به د خاوند وطرف منتقل کيږي، لکه په إکراه کي چي هم داسي کيږي، مثلاً که خالد د يو چا د مال پر هلاکولو زيد مجبوره کړي او زيد هغه مال هلاک کړي، نو د دې ضمان پر خالد واجبيږي، يعني د مُکرَه (زيد) فعل د مُکرِه (خالد) وطرف ته منتقل کيږي، نو همداسي به دلته هم د ښځي فعل د خاوند وطرف ته منتقل کيږي، ګواکي خاوند په مرضُ الموت کي دغه فعل کړی دی، لهذا د هغه ښځه به "اِمْرَأَةُ الفَارّ" وي او د خاوند وارثه به ګرځي. (عنايه، عيني)

په عام مرض کي طلاق ورکول او بيا مړ کېدل (حکم او اختلاف)

قَالَ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي] فرمايي وَإِذَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا وَهُوَ مَرِيْضٌ او که [خاوند] ښځي ته دري طلاقه ورکړي [په داسي حال کي چي] هغه مريض وي ثُمَّ صَحَّ ثُمَّ مَاتَ بيا جوړ سي [او] بيا مړ سي لَمْ تَرِثْ نو ښځه [د هغه] وارثه نه ګرځي وَقَالَ زُفَرُ: تَرِثُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [د هغه] وارثه ګرځي لِأَنَّهُ قَصَدَ الْفِرَارَ حِيْنَ أَوْقَعَ فِي الْمَرَضِ ځکه چي هغه د مرض په حالت کي په طلاق واقع کولو سره د فرار اراده وکړه وَقَدْ مَاتَ وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ او [بيا] هغه [په داسي حالت کي] مړ سو چي ښځه په عدت کي ده وَلٰكِنَّا نَقُوْلُ: اَلْمَرَضُ إِذَا تَعَقَّبَهُ بُرْءٌ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الصِّحَّةِ لېکن موږ وايو: چي کله تر مرض وروسته صحت راسي نو هغه د صحت په درجه کي دی لِأَنَّهُ يَنْعَدِمُ بِهِ مَرَضُ الْمَوْتِ ځکه چي د صحت راتللو په وجه [بالکل] مرضُ الموت ختميږي [نيستي کيږي] فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ لَا حَقَّ لَهَا يَتَعَلَّقُ بِمَالِهِ نو ښکاره سوه چي د ښځي لپاره هيڅ داسي حق نسته چي هغه د خاوند د مال سره متعلق سي فَلَا يَصِيْرُ الزَّوْجُ فَارًّا نو ځکه به دغه خاوند فرار کونکی نه وي.

اللغات: ﴿تَعَقَّبَ﴾ د تفعّل ماضي ده: وروسته کېدل، وروسته راتلل (تر شا راتلل)، ﴿بُرْء﴾ روغتيا، صحت، جوړښت، ﴿فَارّ﴾ د ضرب د باب اسمِ فاعل دی: فرار کونکی (فرار اختيارونکی)، تښتېدونکی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته د مرض په حالت کي درې طلاقه ورکړي او بيا خاوند روغ رمټ سي، لېکن يو څو ورځي وروسته مړ سي، نو دا ښځه د هغه وارثه نه ګرځي، امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي وارثه ګرځي.

د امام زفر دليل: دا دی چي دلته خاوند د خپل مرض په حالت کي په طلاق ورکولو سره د فرار قصد او اراده کړې ده، او خاوند هم د ښځي په عدت کي مړ سوی دی، نو دا ښځه به اِمْرَأَةُ الفَار وي. او اِمْرَأَةُ الفَار د خپل خاوند وارثه کيږي، لهذا دا ښځه به هم د هغه وارثه ګرځي، او کومه روغتيا او صحت چي د طلاق او مرګ په مينځ کي واقع سوی دی هغه به غير معتبر وي.

ليکن زمونږ له طرفه هغه ته جواب دا دی چي تر کوم مرضُ الموت وروسته چي صحت راسي هغه د صحت په درجه کي دی، ځکه چي د صحت په وجه سره خو بالکل مرضُ الموت معدوم سو. نو دا خبره ښکاره سوه چي د خاوند د مال سره د ښځي متعلق نه سو، لهذا دغه خاوند فَارّ (فرار کونکی) نه سو، نو د ده ښځه به هم اِمْرَأَةُ الفَار نه وي، او کومه ښځه چي اِمْرَأَةُ الفَار نه وي هغه وارثه نه ګرځي. نو دا ښځه به هم د خاوند وارثه نه ګرځي.

په مرضُ الموت کي تر طلاق ورکولو وروسته د ښځي د مرتد کېدلو بيان

وَلَوْ طَلَّقَهَا فَارْتَدَّتْ وَالْعِيَاذُ بِاللهِ او که [خاوند] ښځي ته [په مرضُ الموت کي] طلاق ورکړي او [بيا] عياذ بالله ښځه مرتده سي ثُمَّ أَسْلَمَتْ بيا اسلام راوړي ثُمَّ مَاتَ الزَّوْجُ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ بيا خاوند په خپل [هغه] مرضُ الموت کي مړ سي وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ حال دا چي ښځه [تر اوسه] په عدت کي وي لَمْ تَرِثْ نو دا ښځه [د هغه] وارثه نه ګرځي وَإِنْ لَمْ تَرْتَدَّ بَلْ طَاوَعَتْ اِبْنَ زَوْجِهَا فِي الْجِمَاعِ او که مرتده نه سي بلکي په جماع کي د خاوند د زوی اطاعت وکړي [يعني د خپل ناسکه زوی سره جماع وکړي] وَرِثَتْ نو وارثه ګرځي وَوَجْهُ الْفَرْقِ: أَنَّهَا بِالرِّدَّةِ أَبْطَلَتْ أَهْلِيَّةَ الْإِرْثِ او [په مرتد کېدلو او د ناسکه زوی د جماع په اطاعت کولو کي] وجه د فرق دا ده: چي دغه ښځي په مرتد کېدلو سره د ميراث أهليت باطل کړی إِذِ الْمُرْتَدُّ لَا يَرِثُ أَحَدًا ځکه چي مرتد د هيچا وارث کېدلای نه سي وَلَا بَقَاءَ لَهُ بِدُونِ الْأَهْلِيَّةِ او له أهليت څخه بغير وراثت باقي نه پاتيږي وَبِالْمُطَاوَعَةِ مَا أَبْطَلَتِ الْأَهْلِيَّةَ او [په جماع کي د ناسکه زوی] په اطاعت کولو سره دې ښځي [د وراثت] أهليت باطل نه کړی لِأَنَّ الْمَحْرَمِيَّةَ لَا تُنَافِي الْإِرْثَ ځکه چي مَحرم کېدل د وراثت منافي نه دي وَهُوَ الْبَاقِي او وراثت پاته دی بِخِلَافِ مَا إِذَا طَاوَعَتْ فِي حَالِ قِيَامِ النِّكَاحِ په خلاف د هغه صورت کله چي ښځه د نکاح د بقاء [او موجود والي] په حالت کي [د هغه] اطاعت وکړي لِأَنَّهَا تُثْبِتُ الْفُرْقَةَ ځکه چي [د نکاح د موجود والي په حالت کي] اطاعت کول فرقت ثابتوي فَتَكُوْنُ رَاضِيَةً

بِبُطْلَانِ السَّبَبِ نو ښځه به [د وراثت] د سبب په باطلولو راضي وي وَبَعْدَ الطَّلْقَاتِ الثَّلَاثِ لَا تَثْبُتُ الْحُرْمَةُ بِالْمُطَاوَعَةِ او تر دريو طلاقو وروسته د مطاوعت په وجه سره حرمت نه ثابتيږي لِتَقَدُّمِهَا عَلَيْهَا پر اطاعت باندې د حرمت د مخکيوالي په وجه فَافْتَرَقَا نو دواړه صورتونه سره جلا سول [يعني په دواړو صورتونو کې فرق ثابت سو].

اللغات: ﴿اِرْتَدَّتْ﴾ د افتعال له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: مرتد کېدل، له دين اسلام څخه بل ناحق دين ته اوښتل. ﴿فُرْقَة﴾ جدايي، بېلتون. ﴿مُطَاوَعَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: مراد څني (په جماع کې د ناسکه زوی) اطاعت کول او د هغه سره جماع کول دي (أحسن الهداية).
﴿مَحْرَمِيَّة﴾ يو کس د بل کس مَحْرَم کېدل (مَحرم هغه قريب ته وايي چې نکاح ورسره حرامه وي، نو فرمايي چې دا د وراثت منافي نه دي چې يو کس د بل کس مَحرم وي ځکه چې د مَحرمو خلکو په مينځ کې هم وراثت جاري کيږي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند په خپل مرضُ الموت کې ښځې ته درې طلاقه ورکړي يا يو طلاقِ بائن ورکړي، بيا (معاذ الله!) ښځه مرتده سي او بيا دوباره اسلام راوړي، او تر دې وروسته خاوند د دغه ښځې په عدت کې د هغه مرضُ الموت په وجه مړ سي، نو دا ښځه د هغه وارثه نه ګرځي.
او که دا ښځه مرتده نه سي، بلکې د خپل خاوند د زوی (ميرزي زوی) سره جماع وکړي، نو په دې صورت کې هغه وارثه ګرځي.
په دواړو مسئلو کې د فرق جه دا ده چې د مرتد کېدلو په وجه د وراثت أهليت باطليږي؛ ځکه چې مرتد د هيڅ وارث کېدلای نه سي (يعني د دې أهل نه دی چې وارث وګرځي) او له أهليت څخه بغير وراثت باقي نه پاتيږي، نو ځکه موږ وايو چې د ارتداد په صورت کې ښځه وارثه نه ګرځي، لېکن د اِبْنُ الزّوج په اطاعت سره أهليت باطليږي، ځکه چې محرميت د وراثت منافي نه دی، بلکې د نکاح منافي دی، لکه په مور او خور کې چې محرميت د نکاح منافي دی، لېکن د وراثت منافي نه دی، لنډه دا چې د اِبْنُ الزّوج د اطاعت په صورت کې وراثت باقي پاتيږي، نو ځکه موږ وايو چې په دې صورت کې ښځه وارثه ګرځي.

بخلاف ما إلخ: لېکن که خاوند ښځې ته طلاق ورکړی نه وي بلکې ښځه د خاوند په نکاح کې موجوده وي او بيا په دې وخت کې ښځه د خاوند د زوی سره جماع وکړي، نو په دې صورت کې بالکل ښځه وارثه نه ګرځي:
دليل دا دی چې په دې صورت کې د اِبْنُ الزّوج په اطاعت سره فرقت ثابت سو او نکاح ماته سوه (ځکه چې دغه ښځه اوس د خپل خاوند مړور وګرځېده)، نو ځکه به اوس هغه د خاوند وارثه نه ګرځي، ځکه چې هغه په خپله د طلاق په واقع کېدلو او د نکاح په ماتېدلو راضي سوه، نو ځکه به په ميراث کې حصه نه ورکول کيږي.

وبعد الطلقات إلخ: او که خاوند په خپل مرضُ الموت کي ښځي ته درې طلاقه ورکړي، بيا ښځه د اِبْنُ الزّوج سره جماع وکړي او تر دې وروسته خاوند په هغه مرض کي د ښځي په عدت کي مړ سي، نو په دې صورت کي ښځه وارثه ګرځي؛ دليل دا دی چي دلته خاوند د دريو طلاقو په وجه د ښځي تر مطاوعت مخکي نکاح ماته کړې ده او ښځه مخکي لا د خاوند وارثه ګرځېدلې ده، او د هغې د مطاوعت په وجه نکاح نه ده ماته سوې، نو ځکه به په دې صورت کي هغه وارثه ګرځي.

د صحت په حالت کي د تهمت لګولو او په مرضُ الموت کي د لعان کولو بيان

وَمَنْ قَذَفَ اِمْرَأَتَهُ وَهُوَ صَحِيْحٌ وَلَاعَنَ فِي الْمَرَضِ او کوم څوک چي د صحت په حالت کي پر خپلي ښځي د زنا تهمت [تور] ولګوي او په مرضُ الموت کي لعان وکړي وَرِثَتْ نو [د شيخينو په نيز] ښځه [د هغه] وارثه ګرځي وَقَالَ مُحَمَّدٌ ❁: لَا تَرِثُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي وارثه نه ګرځي وَإِنْ كَانَ الْقَذْفُ فِي الْمَرَضِ او که تهمت لګول [هم] په مرضُ الموت کي وي وَرِثَتْهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا نو د ټولو په قول کي ښځه د هغه وارثه ګرځي وَهٰذَا مُلْحَقٌ بِالتَّعْلِيقِ بِفِعْلٍ لَا بُدَّ لَهَا مِنْهُ او دا مسئله ملحقه ده پر داسي فعل [د طلاق] د معلق کولو سره چي له هغه فعل څخه د ښځي چاره نه وي [يعني مخکي چي د ضروري فعل په هکله کوم صورت تېر سو، دا مسئله د هغه صورت سره متعلقه او ملحقه ده] إِذْ هِيَ مُلْجَأَةٌ إِلَى الْخُصُوْمَةِ لِدَفْعِ عَارِ الزِّنَا عَنْ نَفْسِهَا ځکه چي [دلته هم] ښځه له خپل ځان څخه د زنا د پېغور ختمولو لپاره خصومت ته مجبوره ده وَقَدْ بَيَّنَّا الْوَجْهَ فِيهِ او مونږ مخکي د دې [صورت] دليل بيان کړی دی.

اللغات: ﴿قَذَفَ﴾ د ضرب ماضي ده: پر يو چا د زنا تهمت (تومت) لګول. ﴿عَار﴾ پېغور، شرمندګي.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو سړی د روغتيا او صحت په حالت کي پر خپلي ښځي د زنا تهمت ولګوي، بيا په مرضُ الموت مبتلا سي او په همدغه حالت کي لعان وکړي او له ښځي څخه جلا سي، او بيا د ښځي د عدت په زمانه کي مړ سي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د هغه ښځه وارثه ګرځي، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز وارثه نه ګرځي.

ها! که د زنا تهمت لګول او لعان کول دواړه د مرضُ الموت په حالت کي وي، نو په دې صورت کي د ټولو په نيز د هغه ښځه وارثه ګرځي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا مسئله د هغه صورت سره متعلقه ده چي په هغه کي د ښځي کار پر يو داسي فعل معلق سوی وي چي د ښځي هيڅ چاره ځني نه وي يعني هغه فعل

❁ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما في الدر المختار (ج:۲، ص:۵۶۸)، وكذا في الهندية (ج:۱، ص:۴۶۴).
[القول الراجح ج:۱، ص:۳۳۸]

کول د ښځې لپاره ضروري وي (لکه مخکې چې دا صورت ذکر سو)؛ ځکه چې په دغه مسئله کې هم ښځه دې ته مجبوره او مضطره ده چې د قاضي په عدالت کې خپله مسئله پېش کړي او له ځان څخه د زنات تهمت لیري کړي، حاصل دا چې په دغه فرقت کې د ښځې د رضا هیڅ دخل نسته، ځکه چې رضا د مجبورۍ سره نه ثابتیږي (یعني رضا او مجبوري دواړه سره جمع کېدلای نه سي)، نو ځکه به دا ښځه وارثه ګرځي.

د دې مسئلې دلیل، اختلاف او پوره تفصیل څه مخکې د دې عبارت په تشریح کې بیان سو: وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا بُدَّ لَهَا مِنْهُ فَكَذٰلِكَ الْجَوَابُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ...(الخ)، د بیا کتنې لپاره هلته رجوع وکړئ!.

د مرضُ الموت په دوران کې د ایلاء پوره کېدلو بیان

وَإِنْ آلَى امْرَأَتَهُ وَهُوَ صَحِيحٌ او که چیري [خاوند] د صحت په حالت کې د خپلې ښځې سره ایلاء وکړي ثُمَّ بَانَتْ بِالْإِيلَاءِ وَهُوَ مَرِيضٌ [او] بیا ښځه د خاوند د مرضُ الموت په حالت کې د ایلاء په وجه بائنه سي لَمْ تَرِثْ نو دا ښځه [د هغه] وارثه نه ګرځي وَإِنْ كَانَ الْإِيلَاءُ أَيْضًا فِي الْمَرَضِ او که ایلاء کول هم په مرض کې وي وَرِثَتْ نو دا ښځه وارثه ګرځي لِأَنَّ الْإِيلَاءَ فِي مَعْنَى تَعْلِيقِ الطَّلَاقِ بِمُضِيِّ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ خَالِيَةٍ عَنِ الْوِقَاعِ ځکه چې ایلاء په داسې څلورو میاشتو باندي د طلاق معلق کولو په معنیٰ سره ده چې هغه [میاشتې] له جماع څخه خالي وي فَيَكُونُ مُلْحَقًا بِالتَّعْلِيقِ بِمَجِيءِ الْوَقْتِ نو دا [ایلاء] به د وخت پر راتګ د [طلاق] معلق کولو سره ملحق وي وَقَدْ ذَكَرْنَا وَجْهَهُ او د دې دلیل [هم] مونږ [مخکې] ذکر کړی دی.

اللغات: ﴿إِيْلَاء﴾ د افعال مصدر دی: إيلاء دې ته وايي چې خاوند قسم وکړي چې زه به خپلې ښځې ته څلور میاشتې (یا زیات) نه ور نژدې کېږم (وطي به نه ور سره کوم)، نو که هغه خپل قسم پوره کړی او ښځې ته څلور میاشتې نژدې نه سي، نو څلور میاشتې وروسته ښځه بائنه ګرځي، ﴿مُضِيّ﴾ د ضرب د باب مصدرِ میمي دی: تېرېدل، ختمېدل (پوره کېدل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی د صحت په زمانه کې د خپلې ښځې سره ایلاء وکړي (یعني قسم وکړي چې زه به څلور میاشتې ستا سره وطي نه کوم)، بیا هغه خپل قسم پوره کړی یعني څلور میاشتې د ښځې سره وطي نه وکړي، او دا څلور میاشتې په داسې حالت کې پوره سي چې (د پوره کېدلو په وخت کې) خاوند په مرضُ الموت مبتلا وي، نو د دې څلورو میاشتو په پوره کېدلو سره ښځه بائنه کیږي (یعني طلاقِ بائن پر واقع کیږي)، لېکن د خاوند وارثه نه ګرځي؛ دلیل دا دی چې دلته بینونت د خاوند د ایلاء وطرف

ته منسوب دی، او په مرضُ الموت کي د خاوند له طرفه هيڅ عمل واقع سوی نه دی، نه د علت عمل او نه د شرط عمل، نو ځکه به خاوند فَارّ نه وي، لهذا د هغه ښځه به د اِمْرَأَةُ الفَارّ نه کېدلو په وجه وارثه نه ګرځي.
(عيني شرح هدايه)

او که خاوند د مرضُ الموت په زمانه کي ايلاء وکړي او بينونت هم په مرضُ الموت کي واقع سي او بيا خاوند د ښځي د عدت په زمانه کي مړ سي، نو دغه ښځه وارثه ګرځي؛ ځکه چي د ايلاء معنیٰ دا ده: "تر څلور مياشتو پوري د ښځي سره پر جماع نه کولو طلاق معلق کول"، نو ايلاء د هغه صورت سره متعلق او ملحق سوه چي په هغه کي د وخت پر راتګ (مجيء الوقت) طلاق معلق سوی وي، او د مخکني مسئلې په څير د دغه صورت دليل او تفصيل هم څه مخکي بيان سو، هلته يې مطالعه کړئ!.

طلاقِ رجعي د وراثت مانع نه دی

قَالَ ﷺ: وَالطَّلَاقُ الَّذِي يَمْلِكُ فِيهِ الرَّجْعَةَ مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي: او په کوم طلاق کي چي [خاوند] د رجعت مالک ګرځي تَرِثُ بِهِ فِي جَمِيعِ الْوُجُوهِ د هغه په ټولو صورتونو کي [د خاوند] ښځه وارثه ګرځي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ لَا يُزِيلُ النِّكَاحَ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ [مخکي] بيان کړی چي طلاقِ رجعي نکاح نه ختموي حَتَّى يَحِلَّ الْوَطْءُ همدا وجه ده چي [په طلاقِ رجعي کي] وطي روا دي فَكَانَ السَّبَبُ قَائِمًا لهذا [په هغه کي په وراثت] سبب [يعني نکاح] پاته وي وَكُلُّ مَا ذَكَرْنَا أَنَّهَا تَرِثُ إِنَّمَا تَرِثُ إِذَا مَاتَ وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ او هر هغه ځای چي موږ دا خبره ذکر کړه چي ښځه وارثه ګرځي هلته هغه وخت ښځه وارثه ګرځي کله چي خاوند د هغې په عدت کي مړ سوی وي وَقَدْ بَيَّنَّاهُ او دا [مسئله هم] موږ [مخکي] بيان کړې ده.

اللغات: ﴿يَمْلِكُ﴾ د ضرب د باب مضارع ده: مالک کېدل (مالک جوړېدل)، پر يو شي د انسان ملکيت ثابتېدل.

تشريح: په دې عبارت کي دوې خبري بيان سوي دي: ①... او له خبره دا چي د طلاقِ رجعي په ټولو صورتونو کي ښځه د خپل خاوند وارثه پاتېږي؛ ځکه چي په طلاقِ رجعي سره نکاح نه ختمېږي، همدا وجه ده چي تر طلاقِ رجعي وروسته د ښځي سره وطي کول حلال او روا وي، او دغه وطي رجعت شمارل کېږي، لهذا کله چي په طلاقِ رجعي کي نکاح باقي پاته ده، او دا تاسي ته معلومه ده چي وراثت سبب د نکاح بقاء ده، نو ښکاره خبره ده چي ښځه به وارثه ګرځي.

②... دويمه خبره دا ده چي هر ځای د ښځي د وراثت لپاره (يعني چيري چي هم مطلّقه ښځه د خاوند وارثه ګرځي، هلته) دا شرط او ضروري دي چي خاوند به په داسي حالت کي مړ سوی وي چي ښځه تر اوسه په عدت کي وي؛ ځکه چي تر عدت وروسته په پوره توګه خاوند او ښځه يو له بل څخه جلا کېږي او په هر اعتبار سره نکاح ختمېږي، لکه د باب په شروع کي چي هم په دې هکله بيان سو. فقط والله أعلم وعلمه أتم

بَابُ الرَّجْعَةِ

(دا) باب د رجعت (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: څرنګه چې رجعت په طبعي توګه تر طلاق وروسته ثابتیږي، نو ځکه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په وضعي توګه هم "بَابُ الرّجعة" تر "كتَابُ الطلاق" وروسته بیان کړی دی، د دې لپاره چې په وضع او طبع کې مناسبت او موافقت راسي، وهکذا فی البنایة. (ج:۵، ص:۲۲۶)

الرَّجْعَةُ د "راء" په کسره او فتحه دواړو سره ویل کېدای سي، لېکن فتحه یې فصیح لغت دی. د رجعت لغوي معنیٰ ده: واپس کېدل، راګرځېدل، واپس کول، واپس راوستل، (یعني دا باب هم لازمي دی او هم متعدي دی)، او څرنګه چې خاوند په طلاقِ رجعي کې د رجوع کولو په ذریعه ښځه په خپله نکاح کې واپس راولي، نو ځکه هغه ته "طلاقِ رجعي" وایي، او د شریعت په اصطلاح کې د رجعت معنیٰ ده: اِسْتِدَامَةُ مِلْكِ النِّكَاحِ (یعني د نکاح ملکیت باقي ساتل).

صاحب د بنایې رَحِمَهُ الله لیکلي دي چې رجعت په پنځو شرطونو سره صحیح کیږي: ① خاوند به ښځي ته په صریح لفظ سره طلاق ورکړی وي یا په هغه کنایي لفظ سره به یې طلاق ورکړی وي کوم چې د صریح په معنیٰ سره وي، ② د طلاق په عوض کې به مال نه وي، ③ خاوند به درې طلاقه ورکړي نه وي، ④ ښځه به مدخول بها وي، ⑤ د ښځي عدت به پاته وي. (بنایة، ج:۵، ص:۲۲۶)

له طلاق څخه د رجوع کولو حیثیت او شرائط

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ اِمْرَأَتَهُ تَطْلِيقَةً رَجْعِيَّةً أَوْ تَطْلِيقَتَيْنِ او کله چې خاوند خپلې ښځي ته یو، یا دوه طلاقِ رجعي ورکړي فَلَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا فِي عِدَّتِهَا نو هغه ته دا اختیار سته چې په عدت کې [دننه] خپلې ښځي ته رجوع وکړي رَضِيَتْ بِذٰلِكَ أَوْ لَمْ تَرْضَ [برابره ده] ښځه په دې راضي وي یا راضي نه وي لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى: فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ [البقرة: ۲۳۱] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: نو تاسي دا ښځي وساتئ! په ښه طریقه سره [یعني رجوع ورته وکړئ] مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ [دا آیت] بغیر له څه تفصیل څخه [وارد سوی دی] وَلَا بُدَّ مِنْ قِيَامِ الْعِدَّةِ او عدت باقي پاتېدل ضروري دي لِأَنَّ الرَّجْعَةَ اِسْتِدَامَةُ الْمِلْكِ

ځکه چې رجعت [د نکاح] ملکیت باقي ساتل دي [یعني رجعت د مخکنی نکاح باقي ساتلو ته وایي] أَلَا تَرٰى أَنَّهُ سُمِّيَ إِمْسَاكًا آیا ته نه ګورې! چې [په قرآن کي] رجعت په إمساک سره نومول سوی دی وَهُوَ الْإِبْقَاءُ او إمساک باقي ساتل [پاته کول] دي [یعني إمساک هم باقي ساتلو ته وایي] وَإِنَّمَا يَتَحَقَّقُ الِاسْتِدَامَةُ فِي الْعِدَّةِ او باقي ساتل فقط په عدت کي ثابتېدای سي لِأَنَّهُ لَا مِلْكَ بَعْدَ انْقِضَائِهَا ځکه چې تر عدت تېرېدلو وروسته [د نکاح] ملکیت نه پاتیږي.

اللغات: ﴿مَعْرُوْف﴾ په ښه طریقه سره، د شرعي طریقې مطابق، ﴿إِسْتِدَامَة﴾ د استفعال مصدر دی: باقي ساتل، همېشه ساتل، ﴿إِمْسَاك﴾ د افعال مصدر دی: نیول، پاته کول (باقي ساتل)، راګرځول، ﴿إِبْقَاء﴾ باقي کول، باقي ساتل، پاته کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلي مدخول بها ښځي ته یو، یا دوه طلاقِ رجعي وکړي، نو خاوند ته دا پوره اختیار سته چې د عدت په زمانه کي ښځي ته رجوع وکړي او بیر ته ښځه خپل په نکاح کي راولي، برابره ده ښځه که په دې راضي وي او که نه وي؛ دلیل دا آیت دی: فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ أَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ. یعني کله چې مطلقاتِ رجعیه ښځي د عدت د اختتام وخت ته ورسیږي، نو تاسو ته اختیار دی، که تاسي رجعت کول وغواړئ نو د شرعي طریقې مطابق هغوی په خپله نکاح کي راولئ!، او که تاسي هغوی جلا کول وغواړئ نو له څه ضرر څخه بغیر هغوی جلا کړئ!.

په دې آیت کي د مراجعت (رجوع کولو) ذکر مطلق دی یعني د ښځي د رضا او ناراضی هیڅ تفصیل پکښي نسته. نو ځکه د رجعت حکم مطلق سوی دی (چې برابره ده ښځه په رجعت راضي او که نه وي، خاوند ته د هغه پوره اختیار سته).

ولا بد من قیام إلخ: فرمایي چې د رجعت د صحیح کېدلو لپاره د عدت بقاء ضروري ده؛ دلیل دا دی چې د رجعت معنیٰ ده: إِسْتِدَامَةُ مِلْكِ النِّكَاحِ. یعني د مخکنی نکاح ملکیت باقي ساتل (پاته کول)، لکه څرنګه چې په قرآن کریم کي هم رجعت ته "إِمْسَاک" ویل سوي دي، او إِمْسَاک هم "باقي ساتلو" ته وایي، او د نکاح ملکیت باقي ساتل فقط په عدت کي کېدای سي، ځکه چې تر عدت وروسته د نکاح ملکیت نه پاتیږي، نو هغه به څرنګه باقي وساتل سي!، نو ځکه موږ وایو چې د رجعت د صحت لپاره د عدت وجود او بقاء شرط او ضروري ده.

د رجوع طریقه

وَالرَّجْعَةُ أَنْ يَقُولَ: رَاجَعْتُكِ أَوْ رَاجَعْتُ امْرَأَتِي او رجعت دا دی چي [خاوند داسي] ووايي: ما تا ته رجعت وکړی. یاما خپلي ښځي ته رجعت وکړی وَهٰذَا صَرِيحٌ فِي الرَّجْعَةِ او دا [دوه الفاظ] د رجعت کولو لپاره صریح [الفاظ] دي وَلَا خِلَافَ فِيهِ بَيْنَ الْأَئِمَّةِ او په دې کي د امامانو هیڅ اختلاف نسته قَالَ: أَوْ يَطَأَهَا أَوْ يُقَبِّلَهَا أَوْ يَلْمِسَهَا بِشَهْوَةٍ أَوْ يَنْظُرَ إِلَى فَرْجِهَا بِشَهْوَةٍ فرمايي: يا [رجعت دا دی چي خاوند] د خپلي ښځي سره وطي وکړي. يا يې په شهوت سره مچ کړي. يا يې په شهوت سره مسه کړي. يا يې په شهوت سره فرج ته وګوري وَهٰذَا عِنْدَنَا او دا [حکم] زموږ په نيز دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تَصِحُّ الرَّجْعَةُ إِلَّا بِالْقَوْلِ مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَيْهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي رجعت [فقط] په قول سره صحيح کيږي پر قول د قدرت لرلو په صورت کي لِأَنَّ الرَّجْعَةَ بِمَنْزِلَةِ ابْتِدَاءِ النِّكَاحِ ځکه چي رجعت د نکاح د ابتداء په درجه کي دی [يعني رجعت داسي دی لکه له شروع څخه نکاح کول] حَتَّى يَحْرُمَ وَطْؤُهَا تر دې چي [د شوافعو په نيز] د هغې [مطلقه رجعيه] سره وطي کول حرام دي وَعِنْدَنَا هُوَ اسْتِدَامَةُ النِّكَاحِ عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ او زموږ په نيز رجعت د نکاح باقي ساتل دي لکه مخکي چي موږ دا [خبره] بيان کړه وَسَنُقَرِّرُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او نژدې به موږ انشاء الله دا ثابته [هم] کړو وَالْفِعْلُ قَدْ يَقَعُ دَلَالَةً عَلَى الِاسْتِدَامَةِ او فعل [هم] کله پر باقي ساتلو دليل واقع کيږي [يعني فعل هم ځيني وخت د باقي ساتلو دليل جوړيږي] كَمَا فِي إِسْقَاطِ الْخِيَارِ لکه د خيار شرط په ساقطولو کي [چي فعل دليل جوړيږي] وَالدَّلَالَةُ فِعْلٌ يَخْتَصُّ بِالنِّكَاحِ او د فعل دليل جوړېدل د نکاح سره خاص دي [يعني هغه فعل دليل جوړېدای سي کوم فعل چي د نکاح سره خاص وي] وَهٰذِهِ الْأَفَاعِيلُ تَخُصُّ بِهِ خُصُوصًا فِي الْحُرَّةِ او دا ټوله [ذکر سوي] افعال [يعني وطي کول، مچول...] د نکاح سره خاص دي په ځانګړې توګه د آزادي ښځي په حق کي بِخِلَافِ الْمَسِّ وَالنَّظَرِ بِغَيْرِ شَهْوَةٍ په خلاف د بېله شهوته مسه کولو او کتلو لِأَنَّهُ قَدْ يَحِلُّ بِدُونِ النِّكَاحِ ځکه چي دا کله له نکاح څخه بغير هم حلال وي كَمَا فِي الْقَابِلَةِ وَالطَّبِيبِ وَغَيْرِهِمَا لکه د دايي ښځي، ډاکټري ښځي او داسي نورو په حق کي وَالنَّظَرُ إِلَى غَيْرِ الْفَرْجِ قَدْ يَقَعُ بَيْنَ الْمُسَاكِنَيْنِ او له فرج څخه بغير [نورو اندامونو] ته کتل کله نا کله د دوو [هَمْ ځنګه] اوسېدونکو [ملګرو] په مينځ کي [هم] واقع کيږي وَالزَّوْجُ يُسَاكِنُهَا فِي الْعِدَّةِ او

خاوند د عدت په زمانه کې د ښځې سره اوسیږي فَلَوْكَانَ رَجْعَةً نو که الله فرج څخه بغير ته کتل ا رجعت وي [یعني که له فرج څخه بغير نورو اندامونو ته کتل هم رجعت وشمارل سي] لَطَلَّقَهَا نو [خاوند] به ښځې ته اوږم وار بیا] طلاق ورکړي فَتَطُوْلُ الْعِدَّةُ عَلَيْهَا او د ښځې عدت به [نور] اوږد سي.

اللغات: ﴿الْقَابِلَةِ﴾ دایي، دایه (هغه ښځه کوم چې د ولادت او لنګوالي په وخت کې د لنګي ښځې مدد کوي)، رضاعي مور (د شيدو مور)، ﴿مُسَاكِنَيْن﴾ د مفاعلې له باب څخه د اسم فاعل تثنيه صيغه ده. سَاكَنَ يُسَاكِنُ مُسَاكَنَةً: يو د بل سره نږدې اوسېدل، نو دلته مُسَاكِنْ څخه مراد هَمْ څنګه او همجواره ملګري دي.

تشريح: په دې عبارت کې د رجعت صورتونه او طريقې بيان سوي دي، حاصل يې دا دی چې زموږ په نېز قولي رجعت هم صحيح دی، او فعلي رجعت هم صحيح دی که څه هم خاوند پر قولي رجعت قادر دي، لېكن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې که خاوند پر قولي رجعت قدرت لري نو بيا د هغه لپاره فعلي رجعت کول صحيح نه دي او نه بيا په فعلي رجعت سره رجعت ثابتيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې ښځې ته رجعت کول داسي دي لکه د نوي سره (او له شروع څخه) نکاح کول، نو څرنګه چې د نوي نکاح لپاره په ژبه سره ايجاب او قبول کول ضروري دي، همداسي په رجعت کې هم په ژبه سره د رجعت الفاظ اداء کول ضروري دي او له څه عذر څخه بغير فعلي رجعت ته عدول کول صحيح نه دي، له همدې وجهي د شوافعو په نېز د مطلّقه رجعيه ښځې سره وطي کول روا نه دي ځکه چې د شوافعو په نېز مطلقه رجعيه ښځه د خاوند په حق کې د پردۍ ښځې (أجنبيه) په څير ده او پردۍ ښځې له نکاح څخه بغير نه حلاليږي، لهذا مطلقه رجعيه ښځه هم د شوافعو په نېز له قولي رجعت څخه بغير نه حلاليږي.

د دې په خلاف زموږ په نېز د مطلقه رجعيه ښځې سره وطي کول هم روا دي، او پر رجعتِ قولي باندې د قدرت لرلو په وخت کې رجعتِ فعلي کول هم صحيح دي.

زموږ دليل: دا دی چې رجعت د مخکنۍ نکاح باقي ساتلو ته وايي (له نوي سره نکاح کولو ته نه وايي لکه امام شافعي رَحِمَهُ الله چې فرمايي)، ځکه په قرآن کې هم د رجعت لپاره د "إِمْسَاک" لفظ ذکر سوی دی کوم چې "باقي ساتلو" ته وايي، لهذا هر داسي فعل کوم چې د نکاح پر "باقي ساتلو" دلالت کوي هغه به د رجعت لپاره کافي وي، ځکه کوم فعل چې هم د نکاح پر باقي ساتلو دلالت کوي په هغه سره نکاح باقي پاتيږي، لکه د خيارِ شرط په ساقطېدلو کې چې هم دغه تفصيل دی، مثلاً که زيد پر دې شرط له يو چا څخه آس رانيسي چې ما ته به درې ورځې اختيار وي، او بيا زيد پر

آس سپور سي، منظرې پر کوي او خپل کار ته پر ځي، نو په دې سره د زيد اختيار ختميږي او آس د زيد په ملکيت کي راځي، نو دلته که څه هم زيد په خپل قول او ژبه سره خيار (اختيار) نه دي ساقط کړی خو د زيد فعل يعني پر آس د هغه سپرېدل د اختيار (خيار) ساقطېدلو او ختمېدلو دليل دی، لهذا همداسي به د ښځي مسه کول، وطي ور سره کول او داسي نور هم د رجعت کولو دليل وي که څه هم خاوند قول او ژبه استعمال نه کړي.

والدلالة فعل إلخ: فرمايي چي هر هغه فعل د رجعت او د نکاح پر باقي ساتلو دليل جوړېدای سي کوم چي د خاوند او ښځي سره خاص وي او له نکاح څخه بغير جائز نه وي او چي هغه خصوصاً د آزادي ښځي په حق کي له نکاح څخه بغير جائز نه وي لکه وطي کول، مسه کول، مچول، ځکه چي دا کارونه د مينځي په حق کي د ملکيت په وجه له نکاح څخه بغير جائز دي.

بخلاف المس إلخ: او بېله شهوته مسه کول يا بېله شهوته فرج (شرمګاه) ته کتل له نکاح څخه بغير هم جائز دي؛ ځکه چي د ضرورت په وخت کي ډاکټر او دايي هم بېله شهوته فرج ته کتلای سي، نو په دې وجه بېله شهوته مسه کول يا فرج ته کتل د رجعت دليل نه دی.

والنظر إلى غير الفرج: او له فرج څخه بغير نورو اندامونو ته په نظر کولو (کتلو) سره رجعت نه ثابتيږي، ځکه چي عموماً دوه ملګري او دوه نږدې خلک هم يو د بل نور اندامونه په آساني سرهويني، او ښځه هم د عدت په حالت کي د خاوند سره نږدې اوسيږي، نو که نورو اندامونو ته په نظر کولو سره د رجعت د ثابتېدلو حکم وسي همدارنګه که بېله شهوته فرج ته په نظر کولو سره د رجعت د ثابتېدلو حکم وسي، نو بيا به په دې صورتونو کي د خاوند له اختيار څخه بغير رجعت ثابت سي (ځکه چي پر دغه اندامونو بېله اختياره د انسان نظر پرېوځي)، او د خاوند دا خوښه نه ده چي رجعت وکړي ځکه چي د هغه اراده د طلاق او د ښځي د جلا کولو ده، لهذا کله چي بېله اختياره رجعت ثابت سي، نو خاوند به بيا ښځي ته طلاق ورکړي او پر ښځي به بېله څه وجهي عدت نور اوږد سي، او په دې کي د ښځي لپاره ضرر او حرج دی وَالحَرَجُ مَدْفُوْعٌ فِي الشّرع، نو ځکه به له شهوت څخه بغير همدارنګه له فرج څخه بغير د نورو اندامونو په مسه کولو او هغوی ته په نظر کولو سره رجعت نه ثابتيږي.

د رجوع کولو په وخت کي د ګواهۍ حکم

قَالَ: وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يُشْهِدَ عَلَى الرَّجْعَةِ شَاهِدَيْنِ فرمايي: او مستحب دي چي خاوند پر [خپل] رجعت دوه خلک ګواهان جوړ کړي **فَإِنْ لَمْ يُشْهِدْ** او که خاوند [هيڅ] ګواه جوړ نه کړي **صَحَّتِ الرَّجْعَةُ** نو [هم] رجعت صحيح دی **وَقَالَ الشَّافِعِيُّ فِي أَحَدِ قَوْلَيْهِ: لَا تَصِحُّ وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ** او امام شافعي په خپل يوه

قول کي فرمايلي دي: چې [له ګواهۍ څخه بغير] رجعت نه صحيح کيږي او همدا د امام مالکبرَحِمَهُ الله قول دی لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَأَشْهِدُوا ذَوَىْ عَدْلٍ مِنْكُمْ [الطلاق: ٢] ځکه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: او تاسي له خپل طرف څخه دوه عادله خلک ګواهان جوړ کړئ! وَالْأَمْرُ لِلْإِيْجَابِ او امر د وجوب لپاره راځي [نو ځکه به دوه خلک ګواهان جوړول واجب وي] وَلَنَا إِطْلَاقُ النُّصُوْصِ عَنْ قَيْدِ الْإِشْهَادِ او زموږ دليل د ګواه جوړولو له قيد څخه د آيتونو مطلق کېدل دي وَلِأَنَّهُ اِسْتِدَامَةٌ لِلنِّكَاحِ او ځکه چې رجعت د نکاح باقي ساتل دي وَالشَّهَادَةُ لَيْسَتْ شَرْطًا فِيهِ فِي حَالَةِ الْبَقَاءِ او په نکاح کي د بقاء په حالت کي ګواهي شرط نه ده كَمَا فِي الْفَيْءِ فِي الْإِيلَاءِ لکه په فيء او ايلاء کي [چې ګواهي شرط نه ده] إِلَّا أَنَّهَا تُسْتَحَبُّ لِزِيَادَةِ الِاحْتِيَاطِ خو [بيا هم] د زيات احتياط لپاره ګواهي مستحب ده كَيْ لَا يَجْرِيَ التَّنَاكُرُ فِيهِمَا د دې لپاره چې په دې کي انکار [او ناګاري] جاري نه سي [يعني که وروسته خاوند يا ښځه ځان ناګاره واچوي يا مثلاً خاوند انکار وکړي، نو ګواه به يې مخ نيسي] وَمَا تَلَاهُ مَحْمُوْلٌ عَلَيْهِ او کوم آيت چې [امام شافعي] تلاوت کړی دی هغه پر استحباب حمل کړی سوی دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ قَرَنَهَا بِالْمُفَارَقَةِ آيا ته نه ګورې! چې الله تعالیٰ رجعت د مفارقت سره متصل کړی دی وَهُوَ فِيهَا مُسْتَحَبٌّ او ګواه جوړول په مفارقت کي مستحب دي [نو په رجعت کي به هم مستحب وي] وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يُعْلِمَهَا كَيْ لَا تَقَعَ فِي الْمَعْصِيَةِ او مستحب دي چې خاوند ښځي ته د رجعت خبر [اطلاع] ورکړي د دې لپاره چې ښځه په ګناه کي واقع نه سي..

اللغات: ﴿يُشْهِدُ﴾ د افعال مضارع ده: بل څوک ګواه جوړول (په بل چا ګواهي ورکول)، ګواه درول، ﴿ذَوَىْ عَدْلٍ﴾ دوه د عدل او انصاف خاوندان، ﴿اِسْتِدَامَةٌ﴾ د استفعال مصدر دی: باقي ساتل، ﴿فَيْء والإِيْلَاء﴾ که خاوند داسي قسم وکړي چې زه به څلور مياشتي ښځي ته نه نژدې کېږم، نو دې ته خو "ايلاء" وايي (لکه مخکي چې موږ د دې تعريف وکړی)، او که قسم مات کړي او تر څلورو مياشتو مخکي وطي وکړي، نو دې ته له ايلاء څخه "فيء" کول وايي، ﴿تَنَاكُر﴾ ځان ناخبره اچول، ناګاره کېدل (عارفانه تجاهل)، انکار کول، ﴿يُعْلِمَهَا﴾ د افعال مضارع ده: بل څوک خبرول، اطلاع ورکول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چې کله يو خاوند خپلي ښځي ته رجعت کول وغواړي نو هغه ته پکار دي چې پر خپل رجعت دوه عادلان خلک ګواهان جوړ کړي، زموږ په نيز دغه ګواهي مستحب

ده، لېکن د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په يوه قول کي دا ګواهي واجب او ضروري ده.

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چي الله په دې آيت: "فَإِذَا بَلَغْنَ.....وَأَشْهِدُوا ذَوَىْ عَدْلٍ مِنْكُمْ" کي د أمر په صيغه (أَشْهِدُوا) سره د رجعت او مفارقت پر موقع د ګواهۍ حکم کړی دی(يعني که تاسو خپلو ښځو ته رجعت کول غواړئ يا هغوی جلا کول غواړئ، نو په دې صورت کي تاسو دوه عادله خلک ګواهان جوړ کړئ!)، او د أمر صيغه د وجوب لپاره راځي، نو ځکه به د رجعت په وخت کي ګواهي واجب او ضروري وي.

زموږ دليل: د ګواهۍ پر استحباب زموږ دليل هغه ټوله آيتونه دي کوم چي د إِشْهَاد (ګواه جوړولو) له قيد څخه خالي دي، مثلاً د قرآن کريم دا آيتونه: ① فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ. ② فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ. ③ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ او داسي نور، دغه ټوله آيتونه فقط پر رجعت دلالت کوي او د رجعت لپاره د ګواهۍ د وجوب په هکله هيڅ تفصيل پکښي نسته، اوس که موږ دلته ګواهي واجب کړو نو پر دې آيتونو او نصوصو به زياتوب ثابت سي، کوم چي صحيح نه دی.

په رجعت کي د ګواهۍ نه واجبېدلو عقلي دليل دا دی چي رجعت د نکاح بقاء (پاتېدلو) ته وايي، او د نکاح د بقاء لپاره ګواهي (ګواهان درول) شرط نه دي، لهذا د رجعت لپاره به هم ګواهي شرط نه وي، لکه څرنګه چي په فَيْء او إِيْلَاء کي هم د نکاح بقاء مطلوب ده او د فَيْء او إِيْلَاء لپاره هم ګواهي شرط نه ده. ها! د زيات احتياط لپاره په رجعت کي ګواهي مستحب او ښه کار دی، د دې لپاره چي بيا خاوند د يو مشکل سره مخامخ نه سي او د خلکو له بدګومانۍ څخه وساتل سي.

<u>وما تلاه إلخ</u>: امام شافعي رَحِمَهُ الله چي کوم آيت په خپل دليل کي پېش کړی هغه پر استحباب محمول دی، ځکه چي په هغه آيت کي رجعت د مفارقت (تفريق) سره متصل بيان سوی دی. الله تعالىٰ فرمايي: " فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا... ". او په تفريق کي د ټولو په نېز ګواهي مستحب ده. لهذا په رجعت کي به هم ګواهي مستحب وي. واجب او ضروري به نه وي.

<u>ويستحب أن يعلمها إلخ</u>: فرمايي: خاوند ته پکار دي چي په خپل رجعت کولو ښځه خبره کړي (چي ما تا ته رجعت کړی دی يا زه تا ته رجعت کوم)؛ ځکه کله چي ښځي ته د رجعت خبر نه وي، نو کېدای سي چي ښځه به تر عدت وروسته د بل خاوند سره د خپل واده بندوبست وکړي او د هغه سره به وطي وکړي او په ګناه او معصيت به مبتلا سي، نو په دې وجه مخکي خبرول غوره او مستحب دي.

تر عدت وروسته د "رجوع في العدة" دعوىٰ كول

وَإِذَا انْقَضَتِ الْعِدَّةُ او كله چې عدت ختم سي فَقَالَ: كُنْتُ رَاجَعْتُهَا فِي الْعِدَّةِ او [خاوند] ووايي: چې ما خپلې ښځې ته په عدت كې رجوع كړې وه فَصَدَّقَتْهُ او ښځه د هغه تصديق وكړي فَهِيَ رَجْعَةٌ نو دا رجعت دى وَإِنْ كَذَّبَتْهُ او كه ښځه د هغه تكذيب وكړي فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا نو قول به د ښځې معتبر وي لِأَنَّهُ أَخْبَرَ عَمَّا لَا يَمْلِكُ إِنْشَاءَهُ فِي الْحَالِ ځكه چې [دلته] خاوند د داسې شي خبر وركړى دى چې خاوند في الحاله د هغه د پيدا كولو مالك نه دى [يعني دلته خاوند د داسې كار خبر وركړى دى چې خاوند اوس هغه كار نه سي كولاى] فَكَانَ مُتَّهَمًا لهذا هغه به متهم [تورن] وي إِلَّا أَنَّ بِالتَّصْدِيقِ تَرْتَفِعُ التُّهْمَةُ خو [د ښځې] په تصديق سره تهمت ليرې كيږي وَلَا يَمِينَ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او [په دې صورت كې] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر ښځې قسم نسته وَهِيَ مَسْأَلَةُ الِاسْتِحْلَافِ فِي الْأَشْيَاءِ السِّتَّةِ او دا په شپږو شيانو كې د قسم د طلب كولو مسئله ده وَقَدْ مَرَّ فِي كِتَابِ النِّكَاحِ او په كتابُ النكاح كې [د دې بيان] تېر سو.

اللغات: ﴿مُتَّهَمْ﴾ د افتعال اسم مفعول دى: تورن، تهمتي (تومتي)، هغه كس چې تهمت پر ولګول سي. ﴿إِسْتِحْلَاف﴾ د استفعال مصدر دى: له بل چا څخه د قسم طلب كول، په بل چا قسم كول (په بل چا قسم خوړل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه خاوند د عدت تر تېرېدلو او ختمېدلو وروسته خپلې ښځې ته ووايي چې ما خو ستا په عدت كې تا ته رجعت كړى وو، او ښځه د هغه تصديق وكړي. نو دا به رجعت شمارل كيږي. او كه ښځه د هغه تكذيب وكړي، نو دا به رجعت نه شمارل كيږي بلكې د ښځې قول به معتبر وي: دليل دا دى چې دلته خاوند د يو داسې شي خبر وركړى دى چې خاوند هغه نه سي كولاى. نو خاوند به په خپل خبره كې متهم وي. خو كله چې ښځه د هغه تصديق وكړي. نو له خاوند څخه دا تهمت ليرې كيږي. نو ځكه به د ښځې د تصديق په صورت كې رجعت ثابتيږي.

ولايمين عليها إلخ: او كله چې ښځه د هغه تكذيب او انكار وكړي. نو كه څه هم پر منكر قسم اخيستل ضروري دي (ځكه كله چې د مدعي [خاوند] سره بَيِّنَه نه وي. نو د منكر قول هغه وخت معتبر كيږي كله چې قسم واخلي)، خو بيا هم په دې مسئله كې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر

ښځي قسم نه لازميږي، ځکه چي په شپږو مسئلو کي د امام صاحب په نيز پر منکر قسم نه لازميږي چي له هغوی څخه يوه دا مسئله هم ده.

وقد مرفی کتاب النکاح: فرمايي چي په کتابُ النکاح کي د دې شپږو مسئلو بيان تېر سو، خو صاحب د بنايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د مصنف دا دعویٰ صحيح نه ده، ځکه چي په کتابُ النکاح کي دغه شپږي مسئلې نه دي بيان سوې بلکي فقط معمولي اشاره ورته سوې ده، او د دې پوره بحث او تفصيل به انشاء الله په کِتَابُ الدَّعوَات کي ذکر سي. (بنايه ج:۵، ص:۲۳۳)

تر عدت وروسته د "رجوع فی العدة" دعویٰ کول

وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ: قَدْ رَاجَعْتُكِ او کله چي خاوند [خپلي ښځي] ته ووايي: چي ما تا ته رجعت کړی دی **فَقَالَتْ مُجِيبَةً لَهُ: قَدْ انْقَضَتْ عِدَّتِي** او ښځه هغه ته په جواب کي ووايي: چي زما عدت تېر سوی دی **لَمْ تَصِحَّ الرَّجْعَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ** ❁ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز رجعت نه صحيح کيږي **وَقَالَا: تَصِحُّ الرَّجْعَةُ** او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي رجعت صحيح کيږي **لِأَنَّهَا صَادَفَتِ الْعِدَّةَ** ځکه چي [دلته] رجعت په عدت کي وارد سوی دی [يعني رجعت او عدت دواړه سره يو ځای سوي دي] **إِذْ هِيَ بَاقِيَةٌ ظَاهِرًا إِلَى أَنْ تُخْبِرَ** ځکه چي ظاهراً د ښځي د خبر ورکولو تر وخته پوري عدت پاته دی [يعني ظاهري حالت دا دی چي تر اوسه د ښځي عدت پاته دی] **وَقَدْ سَبَقَتْهُ الرَّجْعَةُ** او رجعت [د ښځي] تر خبر ورکولو مخکي سوی دی **وَلِهَذَا لَوْ قَالَ لَهَا طَلَّقْتُكِ فَقَالَتْ مُجِيبَةً لَهُ: قَدْ انْقَضَتْ عِدَّتِي** او له همدې وجهي که خاوند خپلي ښځي ته ووايي: چي ما تا ته طلاق درکړی دی او ښځه په جواب کي ورته ووايي: چي زما عدت خو پوره سوی دی **يَقَعُ الطَّلَاقُ** نو طلاق واقع کيږي **وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهَا صَادَفَتْ حَالَةَ الِانْقِضَاءِ** د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي رجعت د عدت تېرېدلو په حالت کي وارد سوی دی **لِأَنَّهَا أَمِينَةٌ فِي الْإِخْبَارِ عَنِ الِانْقِضَاءِ** ځکه چي ښځه د [عدت] تېرېدلو په خبر ورکولو کي امانتداره وي **فَإِذَا أَخْبَرَتْ دَلَّ ذَلِكَ عَلَى سَبْقِ الِانْقِضَاءِ** لهذا کله چي ښځه [د عدت تېرېدلو] خبر ورکړي نو دا د دې

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما في الهندية: والصحيح قول أبي حنيفة، كذا في المضمرات (الهندية ج:۱، ص:۲۷۰). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۲۹]

خبري دليل دی چي [د عدت] تېرېدل [پر رجعت] مخکي دي وَأَقْرَبُ أَحْوَالِهِ حَالُ قَوْلِ الزَّوْجِ او د عدت تېرېدلو له حالاتو څخه تر ټولو نژدې د خاوند د قول حالت دی انو به عدت د خاوند تر قول لږ مخکي تېر سوی وي، نو په دې وجه رجعت نه صحيح کيږي] وَمَسْأَلَةُ الطَّلَاقِ عَلَى الْخِلَافِ او د طلاق مسئله پر اختلاف ده وَلَوْ كَانَتْ عَلَى الِاتِّفَاقِ او که [بيا هم] پر اتفاق سي فَالطَّلَاقُ يَقَعُ بِإِقْرَارِهِ بَعْدَ الِانْقِضَاءِ نو طلاق تر عدت تېرېدلو وروسته د خاوند په اقرار سره واقع کيږي وَالْمُرَاجَعَةُ لَا تَثْبُتُ بِهِ او رجعت په اقرار سره نه ثابتيږي.

اللغات: ﴿صَادَقَتْ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: واردېدل، مخامخ کېدل، واقع کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته ووايي چي ما تا ته رجعت کړی دی. لېکن ښځه سمدستي جواب ورکړي چي زما خو عدت لا پوره سوی دی (او ته اوس د رجعت خبره کوې)، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز رجعت نه صحيح کيږي، همدا د امام احمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله مسلک دی، او د صاحبينو په نېز رجعت صحيح کيږي او دا ښځه د خاوند په نکاح کي راځي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د خاوند "رَاجَعْتُكِ" ويل د دې خبري علامه ده چي رُجعت د عدت په زمانه کي واقع سوی دی، ځکه چي ظاهري حال هم دغه دی چي د رجعت کولو په وخت کي د ښځي عدت پاته وو او ښځه په عدت کي وه، او د عدت تېرېدل (انْقِضَاءِ عِدَّة) د هغې په خبر ورکولو سره معلوميږي، لېکن دلته خاوند د هغې له خبر ورکولو څخه مخکي د رجعت خبر ورکړی دی، نو ځکه به د خاوند قول معتبر وي، ځکه چي د خاوند قول (خبر) د ښځي د عدت تېرېدلو له خبر څخه مخکي دی، همدا وجه ده که خاوند خپلي ښځي ته ووايي: چي ما تا ته طلاق درکړی دی، او ښځه په جواب کي ورته ووايي چي سرېه! زما خو عدت لا پوره سوی دی (او ته اوس د طلاق خبره کوې)، نو په دې صورت کي هم طلاق واقع کيږي، ځکه چي د طلاق ورکولو قول او خبر د هغې د عدت تېرېدلو له خبر څخه مخکي دی.

د امام صاحب دليل: په دې سلسله کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي دلته د خاوند قول يعني د رجعت خبر ورکول له عدت تېرېدلو څخه مخکي نه دی بلکي د عدت تېرېدلو د حالت سره متصل دي، او څرنګه چي دغه ښځي د خاوند د قول سره يو ځای د عدت تېرېدلو خبر ورکړی دی، نو په دې وجه د ښځي خبر د خاوند تر خبر (رجعت) مخکي کېدای هم سي، ځکه چي د انقضاء عدت

په خبر ورکولو کي ښځه أمينه (امانتداره) ده او قول د أمين معتبر وي، لهذا د ښځي خبر ورکول د دې خبري دليل دی چي د هغې عدت د خاوند له رجعت څخه مخکي ختم سوی دی او څرنګه چي د انقضاءِ عدت (عدت تېرېدلو) په حالاتو کي تر ټولو نژدې حالت د خاوند د قول حالت دی (يعني څرنګه چي د اِنْقَضَتْ عِدَّتِیْ د جملې سره تر ټولو نژدې جمله د خاوند د رَاجَعْتُكِ قول او جمله ده)، نو ځکه به هغه د خاوند له قول (رَاجَعْتُكِ) څخه لږ مخکي تېر سوی وي، نو اوس به يې حاصل دا وي چي عدت مخکي تېر سو او رجعت وروسته راغلی، او کوم رجعت چي تر عدت تېرېدلو وروسته وي، هغه نه صحيح کيږي، نو په دې وجه دلته د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د خاوند رجعت نه صحيح کيږي.

ومسألة الطلاق إلخ: په دې سره د صاحبينو د قياس جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چي په دليل کي چي صاحبينو کومه د طلاق مسئله ذکر کړې ده هغه هم رجعت د مسئلې په څېر مختلف فيها ده، او که بيا هم هغه د طلاق مسئله متفق عليها ومنل سي، نو جواب دا دی چي تر عدت تېرېدلو وروسته خو د خاوند په اقرار سره طلاق واقع کېدای سي لېکن تر عدت تېرېدلو وروسته د خاوند په اقرار سره رجعت نه سي ثابتېدای، ځکه چي په دې کي د بل چا په حق کي د تصرف کولو په وجه تهمت سته، نو معلومه سوه چي په دې دواړو مسئلو کي فرق دی، او قياس مع الفارق صحيح نه دی، نو ځکه به دلته د صاحبينو قياس صحيح نه وي.

په پورتنی مسئله کي د مينځي حکم

وَإِذَا قَالَ زَوْجُ الْأَمَةِ بَعْدَ انْقِضَاءِ عِدَّتِهَا: قَدْ كُنْتُ رَاجَعْتُهَا او که د مينځي خاوند د هغې تر عدت تېرېدلو وروسته ووايي: ما تا ته رجعت کړی وو وَصَدَّقَهُ الْمَوْلٰى وَكَذَّبَتْهُ الْأَمَةُ او [بيا] مالک د خاوند تصديق وکړي [لېکن] مينځه د هغه تکذيب وکړي فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ۞ نو [په دې صورت کي] به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مينځي قول معتبر وي وَقَالَا: الْقَوْلُ قَوْلُ الْمَوْلٰى او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د مالک قول به معتبر وي لِأَنَّ بُضْعَهَا مَمْلُوكٌ لَهٗ ځکه چي د مينځي بضع د مالک په ملکيت کي ده فَقَدْ أَقَرَّ بِمَا هُوَ خَالِصُ حَقِّهٖ لِلزَّوْجِ نو مالک د خاوند لپاره د داسي شي اقرار وکړی کوم چي خالص د مالک حق دی فَشَابَهَ الْإِقْرَارَ عَلَيْهَا بِالنِّكَاحِ نو دا [صورت] پر مينځي د نکاح د اقرار

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في الهندية (ج:١، ص:٤٧١). [القول الراجح: ٣٤٠]

کولو سره مشابه سو [یعني دا صورت داسي سو لکه مالک چي د مینځي د نکاح اقرار وکړي] وَهُوَيَقُولُ: حُكْمُ الرَّجْعَةِ يَبْتَنِيْ عَلَى الْعِدَّةِ او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د رجعت حکم پر عدت مبني دی وَالْقَوْلُ فِي الْعِدَّةِ قَوْلُهَا او د عدت په باره کي د ښځي [مينځي] قول معتبر وي فَكَذَا فِيمَا يَبْتَنِيْ عَلَيْهَا لهذا په هغه شي کي به هم د ښځي قول معتبر وي کوم چي پر عدت مبني کيږي وَلَوْكَانَ عَلَى الْقَلْبِ او که معامله د دې برعکس وي فَعِنْدَهُمَا الْقَوْلُ قَوْلُ الْمَوْلَى نو [په دې صورت کي] به د صاحبينو په نېز د مالک قول معتبر دی وَكَذَا عِنْدَهُ فِي الصَّحِيحِ او همدارنګه به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په صحيح روايت کي [هم د مالک قول معتبر دی] لِأَنَّهَا مُنْقَضِيَةُ الْعِدَّةِ فِي الْحَالِ ځکه چي دغه مينځي فی الحاله [اوس] عدت تېر کړی [پوره کړی] دی وَقَدْ ظَهَرَ مِلْكُ الْمُتْعَةِ لِلْمَوْلَى او د مالک لپاره ملک متعه [د تمتع ملکيت] ښکاره سوی دی فَلَا يُقْبَلُ قَوْلُهَا فِي إِبْطَالِهِ لهذا د ملک متعه د باطلولو په حق کي به د مينځي قول نه منل کيږي بِخِلَافِ الْوَجْهِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت لِأَنَّ الْمَوْلَى بِالتَّصْدِيقِ فِي الرَّجْعَةِ مُقِرٌّ بِقِيَامِ الْعِدَّةِ عِنْدَهَا ځکه چي [هلته] مالک د رجعت د تصديق په کولو سره د رجعت په وخت کي د عدت پاتېدلو اقرار کړی دی [یعني هلته مالک په خپل تصديق کولو سره دا اقرار کړی دی چي د خاوند د رجعت کولو په وخت کي عدت موجود وو] وَلَا يَظْهَرُ مِلْكُهُ مَعَ الْعِدَّةِ او د عدت سره د هغه ملکيت ښکاره کېدای نه سي [یعني په عدت کي دننه د مالک ملکيت نه سي ثابتېدای. نو په دې وجه به هلته د مينځي خبره منل کيږي] وَإِنْ قَالَتْ قَدِ انْقَضَتْ عِدَّتِي او که مينځه ووايي: چي زما عدت تېر سوی دی وَقَالَ الزَّوْجُ وَالْمَوْلَى: لَمْ تَنْقَضِ عِدَّتُكِ او خاوند او مالک [ورته] ووايي: چي ستا عدت [تر اوسه] نه دی تېر سوی فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا نو [په دې صورت کي] به د مينځي قول معتبر وي لِأَنَّهَا أَمِينَةٌ فِي ذَٰلِكَ ځکه چي هغه په دې سلسله کي امانتداره ده إِذْ هِيَ الْعَالِمَةُ بِهِ ځکه چي [فقط] هغه د عدت په تېرېدلو [په پوره توګه] خبره ده.

اللغات: ﴿اِنْقِضَاء﴾ د انفعال مصدر دی: تېرېدل، ختمېدل (عدت پوره کېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مينځه د يو سړي په نکاح کي وي او هغه سړی مينځي ته طلاق رجعي ورکړي، بيا چي کله د مينځي عدت تېر سي، نو سړی (خاوند) ورته ووايي چي ته اوس هم زما په نکاح کي يې!، ځکه چي په عدت کي ما تا ته رجعت کړی وو. نو په دې مسئله کي څلور صور تونه جوړېږي: ① يو صورت دا چي د مينځي مالک او مينځه دواړه د دې سړي (خاوند) تصديق

وکړي، ② يا دواړه د خاوند تکذيب وکړي، ③ يا يې مالک تصديق وکړي او مينځه يې تکذيب وکړي، ④ يا د مخکني صورت برعکس وي، يعني مالک يې تکذيب وکړي، او مينځه يې تصديق وکړي.

په اول صورت کې د ټولو په نيز رجعت صحيح دی، او په دويم صورت کې د ټولو په نيز رجعت صحيح نه دی، مګر دا چې کله خاوند بَيِّنَه پيش کړي.

او په دريم صورت کې که د خاوند سره بَيِّنَه نه وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به د مينځې قول معتبر کيږي، همدا د امام زفر، امام شافعي او نورو قول دی، او د صاحبينو په نيز به د مالک قول معتبر کيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې تر عدت تېرېدلو وروسته د بضع منافع د مالک په ملکيت (حق) کې راځي، نو د مالک تصديق او اقرار کول خالص د خپل حق اقرار کول دي، لهذا هغه نه سي ردّ کېدلای، او دا صورت داسې سو لکه مالک چې د خپلې مينځې د نکاح اقرار وکړي، مثلاً مالک ووايي: چې ما د فلانکي سړي سره د خپلې مينځې نکاح کړې ده، نو په دې اقرار کې د مالک قول معتبر کيږي، نو همداسې به دلته هم د مالک قول معتبر وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې د رجعت حکم د عدت پر بقاء او انقضاء مبني دی (يعني که عدت باقي وي نو رجعت ثابتيږي، او که عدت تېر سي نو رجعت نه ثابتيږي)، او د عدت په بقاء او انقضاء کې د ښځې قول معتبر دی، لهذا کوم شی چې پر عدت مبني وي يعني رجعت، په هغه کې به هم د ښځې (مينځې) قول معتبر وي.

ولوکان على القلب: څلورم صورت يعني کله چې مينځه د خاوند تصديق وکړي او مالک د هغه تکذيب وکړي، نو په دې صورت کې به د صاحبينو په نيز د مالک قول معتبر کيږي؛ د صاحبينو دليل: دا دی چې منافع د بعض خالص د مالک حق دی، او خاوند پر مالک د هغه دعوىٰ کړې ده، نو خاوند مدعي سو او مالک منکر سو، او قول د منکر معتبر وي (په دې شرط چې د مدعي سره بيّنه نه وي).

او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه هم صحيح روايت دا دی چې په دې صورت کې به د مالک قول معتبر کيږي؛ ځکه چې مينځه فی الحاله په داسې حالت کې ده چې د عدت ورځې تيرې سوې دي، او ظاهراً د مالک لپاره له خپلې مينځې څخه د تمتع حاصلولو ملکيت ثابت سوی دی، لهذا که د مينځې په اقرار سره رجعت ثابت سي، نو د مالک د تمتع ملکيت به باطل سي، حالانکې د بل چا د حق په باطلولو کې محض د يو چا اقرار نه منل کيږي، لهذا دلته به هم د مينځې قول د مالک د حق په باطلولو کې نه منل کيږي، بلکې د مالک قول به منل کيږي.

په خلاف د اول صورت يعني کله چي مالک د خاوند تصديق کړی وي او مينځې يې تکذيب کړی وي، نو په هغه صورت کي به د امام صاحب په نيز د مينځي قول معتبر کيږي؛ ځکه کله چي مالک د رجعت په خبره کي د خاوند تصديق وکړی، نو په دې سره مالک د دې خبري اقرار وکړی چي د خاوند د رجعت په وخت کي عدت موجود وو، او د عدت په وجود او بقاء کي د مالک لپاره د تمتع ملکيت نه سي ثابتېدلی، لهذا په دې اول صورت کي د مينځي د قول په منلو سره د مالک د حق باطلېدل نه لازميږي، نو ځکه به دلته د مينځي قول معتبر وي، نه د مالک.

وإن قالت إلخ: او که مينځه ووايي چي زما عدت تېر سوی دی، حال دا چي ظاهراً د طلاق له زماني څخه دومره ورځي نه وي تيري سوي چي په هغوی کي عدت تېر کړی سي (يعني په ښکاره د عدت په اندازه ورځي تيري سوي نه وي)، او مالک او خاوند دواړه ووايي چي ستا عدت تېر سوی نه دی، نو په دې صورت کي به هم د ښځي قول معتبر کيږي، ځکه چي مينځه د عدت تېرېدلو په سلسله کي أمينه (اماتنداره) ده، او فقط مينځي (ښځي) ته د دې پوره خبره سته چي زما عدت تېر سوی دی، که نه؟ نو ځکه به د مينځي قول منل کيږي.

عدت او د رجوع حق کله ختميږي؟ (تفصيلي بيان)

وَإِذَا انْقَطَعَ الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ لِعَشَرَةِ أَيَّامٍ او کله چي د دريم حيض وينه په لسمه ورځ ودريږي [بنده سي] اِنْقَطَعَتِ الرَّجْعَةُ نو رجعت ختميږي وَإِنْ لَمْ تَغْتَسِلْ که څه هم ښځي غسل کړی نه وي وَإِنِ انْقَطَعَ لِأَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ أَيَّامٍ او که تر لسو ورځو په کم وخت کي [يعني تر لسو ورځو مخکي] وينه ودريږي لَمْ تَنْقَطِعِ الرَّجْعَةُ حَتَّى تَغْتَسِلَ أَوْ يَمْضِيَ عَلَيْهَا وَقْتُ صَلَاةٍ كَامِلٍ نو رجعت نه ختميږي تر دې چي ښځه غسل وکړي يا پر هغې د پوره لمانځه وخت تېر سي لِأَنَّ الْحَيْضَ لَا مَزِيدَ لَهُ عَلَى الْعَشَرَةِ ځکه چي تر لسو ورځو زيات حيض نه راځي فَبِمُجَرَّدِ الِانْقِطَاعِ خَرَجَتْ مِنَ الْحَيْضِ لهذا [تر لسو ورځو وروسته] محض د ويني په درېدلو [بندېدلو] سره ښځه له حيض څخه ووتله فَانْقَضَتِ الْعِدَّةُ نو عدت پوره سو وَانْقَطَعَتِ الرَّجْعَةُ او رجعت [هم] ختم سو وَفِيمَا دُونَ الْعَشَرَةِ يَحْتَمِلُ عَوْدُ الدَّمِ او تر لسو ورځو په کم وخت کي [د ويني بندېدلو صورت کي] د ويني د بيا راتللو احتمال سته فَلَا بُدَّ أَنْ يَعْتَضِدَ الِانْقِطَاعُ بِحَقِيقَةِ الِاغْتِسَالِ لهذا [په هغه صورت کي] په غسل کولو سره انقطاع [د ويني بندښت] ته قوت ورکول ضروري دي أَوْ بِلُزُومِ حُكْمٍ مِنْ أَحْكَامِ الطَّاهِرَاتِ يا [پر دغه ښځي] د پاکو ښځو د يو حکم په

لازمولو سره انقطاع ته قوت ورکول ضروري دي(بِمُضِيِّ وَقْتِ الصَّلَاةِ (مثلاً) د لمانځه د وخت په تېرېدلو سره بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتْ كِتَابِيَّةً په خلاف د هغه صورت کله چې ښځه کتابي وي لِأَنَّهُ لَا يُتَوَقَّعُ فِي حَقِّهَا أَمَارَةٌ زَائِدَةٌ ځکه چې د هغې په حق کې د يو زائد علامت توقع نه سته فَاكْتُفِيَ بِالِانْقِطَاعِ نو د هغې په حق کې ابه د وينې پر انقطاع اکتفاء کيږي وَتَنْقَطِعُ إِذَا تَيَمَّمَتْ وَصَلَّتْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او رجعت ختميږي کله چې ښځه تيمم وکړي او لمونځ وکړي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ *: إِذَا تَيَمَّمَتْ انْقَطَعَتْ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې کله ښځه (محض) تيمم وکړي نو رجعت ختميږي وَهَذَا الْقِيَاسُ او دا قياس دی لِأَنَّ التَّيَمُّمَ حَالَ عَدَمِ الْمَاءِ طَهَارَةٌ مُطْلَقَةٌ ځکه چې تيمم د اوبو د نشتوالي په صورت کې طهارتِ مطلقه دی حَتَّى يَثْبُتَ بِهِ مِنَ الْأَحْكَامِ مَا يَثْبُتُ بِالِاغْتِسَالِ تر دې چې د تيمم په ذريعه هغه ټوله احکام ثابتيږي کوم چې د غسل په ذريعه ثابتيږي فَكَانَ بِمَنْزِلَتِهِ نو (تيمم) به د غسل په درجه کې وي (او په غسل کولو سره عدت ختميږي، نو په تيمم کولو سره به هم عدت ختميږي) وَلَهُمَا: أَنَّهُ مُلَوِّثٌ غَيْرُ مُطَهِّرٍ او د شيخينو دليل دا دی: چې تيمم چټلونکی (خيرنونکي) دی، پاکونکی نه دی ايعني د هغه په وجه د انسان مخ او داسي نور په خاورو ککړ کيږي) وَإِنَّمَا اُعْتُبِرَ طَهَارَةً ضَرُورَةَ أَنْ لَا تَتَضَاعَفَ الْوَاجِبَاتُ (ليکن) هغه د دې ضرورت په وجه طهارت منل سوی دی چې واجبات (او فرائض) څو چنده نه سي وَهَذِهِ الضَّرُورَةُ تَتَحَقَّقُ حَالَ أَدَاءِ الصَّلَاةِ او دا ضرورت د لمانځه اداء کولو په حالت کې ثابتيږي لَا فِيمَا قَبْلَهَا مِنَ الْأَوْقَاتِ نه تر لمانځه په مخکي وختونو کې وَالْأَحْكَامُ الثَّابِتَةُ أَيْضًا ضَرُورِيَّةٌ اقْتِضَائِيَّةٌ او (د تيمم په ذريعه) ثابت سوي احکام هم د ضرورت په وجه او (د لمانځه) د تقاضا په وجه دي (يعني د لمانځه د جواز د ضرورت په وجه دي) ثُمَّ قِيلَ: تَنْقَطِعُ بِنَفْسِ الشُّرُوعِ عِنْدَهُمَا بيا ويل سوي دي: چې د شيخينو په نيز محض د لمانځه په شروع کېدلو سره رجعت ختميږي وَقِيلَ: بَعْدَ الْفَرَاغِ او ويل سوي دي: چې (د لمونځ څخه) تر فارغه کېدلو وروسته (رجعت ختميږي) لِيَتَقَرَّرَ حُكْمُ جَوَازِ الصَّلَاةِ د دې لپاره چې د لمانځه د جواز (جائز کېدلو) حکم ثابت سي.

اللغات: ﴿مُجَرَّد﴾ برابر، محض، فقط. ﴿مُضِيّ﴾ د ضرب مصدر ميمي دی: تېرېدل، ختمېدل. ﴿مُلَوِّث﴾ د تفعيل اسمِ فاعل دی: چټلونکی (خيرونکی، ککړونکی). ﴿ضَرُورِيَّة﴾ هغه شی چې د ضرورت او مجبوری په وجه ثابت وي. ﴿اِقْتِضَائِيَّة﴾ هغه چې د يو شي د تقاضا پر بناء ثابت وي.

* القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:۲، ص:۵۷۹). [القول الراجح ج:۱، ۳۴۲]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی کله چې يو ښځې ته طلاقِ رجعي ورکول سوی وي (يعني مطلقه رجعيه وي) او د عدت په تېرولو هغه مصروفه وي نو هر کله چې د هغې دوه حيضه په عدت کې تېر سي او د دريم حيض په لسمي ورځې يې وينې بندې سي (يعني لسمه ورځ پوره سي او د هغې وينې بندې سي)، نو په دغه ګړې د ښځې عدت هم ختميږي او د خاوند د رجعت حق هم ختميږي که څه هم دا ښځه غسل نه وکړي. او که د دريم حيض د لسمي ورځې څخه مخکي (مثلاً په نهمه ورځ) د ښځې وينې بندې سي. نو بيا محض د وينو په بندېدلو سره عدت او رجعت نه ختميږي. بلکې کله چې هغه غسل وکړي يا پر هغې ديوه لمانځه پوره وخت تېر سي، نو بيا عدت او رجعت ختميږي.

دليل دا دی چې د رجعت ختمېدل موقوف دي د عدت پر تېرېدلو (ختمېدلو)، او د عدت تېرېدل موقوف دي د دريم حيض پر ختمېدلو، او د دريم حيض ختمېدل موقوف دي د طهارت پر حاصلولو (يعني د ښځې پر پاکېدلو)، نو که چيري د ښځې د حيض وخت او نېټه پوره لس ورځې وي، نو تر هغه وروسته محض د وينې په بندېدلو سره طهارت حاصليږي، ځکه چې حيض د لسو ورځو څخه زيات احتمال نه لري. لهذا کله چې لس ورځې پوره سي او د ښځې وينه ودريږي، نو د هغې حيض ختم سو نو عدت يې هم تېر سو او د رجعت حق هم ختم سو، برابره ده که دغه ښځه غسل وکړي او که يې نه وکړي.

او کله چې د لسو ورځو څخه په کم وخت کې وينه ودريږي، نو څرنګه چې په دې صورت کې دا احتمال سته چې وينه به بيرته راسي، نو ځکه په دغه صورت کې د وينې د انقطاع او بندښت د معلومولو لپاره يو داسي ځانګړی مضبوط علامت ضروري دی چې په هغه سره د وينې د راتګ احتمال ختم سي او ښځه پاکه وشمارل سي، او دا ځانګړی علامت خو يا غسل دی يا د يوه لمانځه پوره وخت د ښځې وينه بندېدل دي، نو کله چې دغه علامت موجود سي. يعني ښځه غسل وکړي يا د يوه لمانځه پوره وخت پر تېر سي. نو د هغې پاکوالي ته به ترجيح ورکول کيږي او هغه به د طاهراتو په صف کې شامليږي او په همدې وخت کې به د هغې عدت او د رجعت حق ختميږي.

د دې په خلاف که ښځه يهودي يا نصراني وي او د لسو ورځو څخه په کم وخت کې د هغې وينه بنده سي، نو له غسل څخه بغير همدارنګه د لمانځه له وخت تېرېدلو څخه بغير محض د وينې په بندېدلو سره د هغې عدت او رجعت ختميږي؛ ځکه چې د هغې په حق کې د يو داسي زائد علامت توقع نسته چې په هغه علامت سره د هغې د وينې د راتګ احتمال ختم سي، ځکه چې پر کتابي ښځې نه لمونځ واجب دی او نه غسل، نو ځکه به د هغې په حق کې محض د وينې پر بندېدلو اکتفاء کيږي.

وتنقطع إلخ: او كه د مطلقه رجعيه ښځې وينه د دريم حيض د لسو ورځو څخه مخكې بنده سي او بيا هغه تيمم وكړي او فرضي يا نفلي لمونځ وكړي، نو د شيخينو په نيز د هغې عدت او رجعت ختميږي، يعني په تيمم او لمونځ دواړو سره د هغې عدت او رجعت ختميږي (نه يوازي په تيمم سره)، همدا د استحسان تقاضا ده، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې محض په تيمم كولو سره عدت او رجعت ختميږي، همدا د امام زفر او امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی، او همدا د قياس تقاضا ده.

د امام محمد دليل دا دی چې كله انسان پر اوبو قدرت نه لري نو په هغه وخت كې تيمم طهارت مطلقه دی، ځكه چې په هغه وخت كې په تيمم سره هغه ټوله احكام ثابتيږي كوم چې په غسل سره ثابتيږي، مثلاً مسجد ته داخلېدل، قرآن لوستل، لمونځ اداء كول، سجده تلاوت كول او قرآن مسه كول، نو تيمم د غسل په څير سو، لهذا كوم حكم چې د غسل وي، هغه حكم به د تيمم وي، او د ښځې په غسل سره رجعت (يعني د رجعت حق) ختميږي، نو محض د هغې په تيمم سره به هم رجعت ختميږي.

د شيخينو دليل دا دی چې تيمم په حقيقت كې مُلوّث دی، نه مُطهّر (يعني د تيمم په وجه د انسان اندامونه په خاورو لړل كيږي، پاكيږي نه) لېكن شريعت د ضرورت په وجه د هغه مُطهّر شمارلی دی، د ضرورت مطلب دا دی چې كله يو څو ورځې اوبه نه وي او د شريعت له طرفه د تيمم اجازه هم نه وي، نو ورځ په ورځ به د انسان پر ذمه فرائض او واجبات پاتيږي او په آخر كې به څو چنده فرائض او واجبات د هغه پر ذمه پاته سي چې اداء كول به يې پر انسان ډېر مشكل وي، نو د دغه ضرورت په وجه تيمم مشروع سوی دی، او ضرورت فقط د لمانځه د اداء كولو په وخت كې متحقق كيږي، نه تر لمانځه مخكې، نو معلومه سوه چې كه تر تيمم كولو وروسته لمونځ وسي نو تيمم به طهارت شمارل كيږي، كنې طهارت به نه شمارل كيږي، نو ځكه موږ وايو چې كه ښځه تيمم وكړي او بيا لمونځ هم وكړي، نو په دغه صورت كې به د عدت او د رجعت د حق ختمېدلو حكم كيږي، نه تر هغه مخكې.

والأحكام الثابتة إلخ: په دې سره امام محمد رَحِمَهُ الله ته جواب وركوي، هغه په خپل دليل كې دا خبره وكړه چې كوم احكام په غسل سره ثابتيږي هغه ټوله په تيمم سره هم ثابتيږي، نو د هغه په جواب كې صاحب د هدايې فرمايي چې په تيمم سره د دغه احكامو ثبوت د لمانځه د جواز د ضرورت په وجه دی، ځكه چې قرآن لوستل د لمانځه ركن دی او مسجد د لمانځه مكان دی او سجدهٔ تلاوت د قرائت له توابعو څخه ده او د قرآن مسه كولو ته هم كله نا كله په لمانځه كې ضرورت پيښيږي (يعني په هغه صورت كې كله چې تر مَا يَجُوزُ بِهِ الصَّلَاة قرائت كولو مخكې د لمونځ گزار څخه سورت هېر سي نو په داسې

صورت کې خلمخا د قرآن مسه کولو ضرورت پېښېږي)، نو دا ټوله شيان دلمانځه د ضرورت په وجه په تيمم سره جائز دي، لهذا أصلاً تيمم دلمانځه داداء کولو د ضرورت په وجه مُطهِر جوړ سوی دی (يعني تيمم دلمانځه په وجه مُطهّر [پاکونکی] ګرځول سوی دی). نو ځکه موږ وايو چې عدت او رجعت به هغه وخت ختمیږي کله چې ښځه لمونځ وکړي، کنې نه به ختمیږي.

ثم قيل إلخ: د شيخينو مسلک اوس تېر سو چې د هغو په نيز په لمونځ کولو سره عدت او رجعت ختمیږي، نو اوس پوښتنه دا ده چې د لمانځه په شروع کېدلو سره عدت او رجعت ختمیږي او که د لمانځه تر ختمېدلو وروسته دا شيان ختمیږي، نو په دې هکله دوه قولونه دي: ①... يو قول دا دی چې محض د لمانځه په شروع کېدلو سره عدت او رجعت ختمیږي، ②... لېکن معتبر او معتمد قول دا دی چې تر لمانځه وروسته عدت او رجعت ختمیږي (يعني کله چې لمونځ ختم سي او ښځه د لمانځه څخه فارغه سي)؛ ځکه چې په تيمم سره د لمانځه د جواز حکم تر لمانځه وروسته ثابتیږي، نو ځکه به تر لمانځه وروسته عدت او رجعت منقطع کيږي، نه محض د لمانځه په شروع کېدلو سره.

د مطلقهٔ رجعيه ښځي د طهر په غسل کي د بدن د څه حصې هېرېدلو بيان

وَإِذَا اغْتَسَلَتْ وَنَسِيَتْ شَيْئًا مِنْ بَدَنِهَا لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءُ او کله چې ښځه غسل وکړي او د خپل بدن يوه حصه څني هېره سي [او] هغه ته اوبه نه ورسیږي فَإِنْ كَانَ عُضْوًا فَمَا فَوْقَهُ نو که هغه حصه يو اندام وي يا تر يوه اندام زياته وي لَمْ تَنْقَطِعِ الرَّجْعَةُ نو رجعت نه ختمیږي وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ او که هغه تر يوه اندام کمه وي اِنْقَطَعَتْ نو رجعت ختمیږي قَالَ ﷺ: وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا استحسان دی وَالْقِيَاسُ فِي الْعُضْوِ الْكَامِلِ: أَنْ لَا تَبْقَى الرَّجْعَةُ او په پوره اندام کي قياس دا دی: چې رجعت پاته نه سي لِأَنَّهَا غَسَلَتِ الْأَكْثَرَ ځکه چې [دلته] ښځي [د بدن] اکثره حصه پرېولې ده وَالْقِيَاسُ فِيمَا دُونَ الْعُضْوِ: أَنْ تَبْقَى او له يوه اندام څخه په کم کي [بيا] قياس دا دی: چې [رجعت] پاته سي لِأَنَّ حُكْمَ الْجَنَابَةِ وَالْحَيْضِ لَا يَتَجَزَّأُ ځکه چې حکم د جنابت او حيض نه متجزي کيږي [يعني د پاکی او ناپاکی حکم حصه حصه اوجزء جزء نه سي کېدای] وَوَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ وَهُوَ الْفَرْقُ او د استحسان دليل او همدا [د قياس او داستحسان په مينځ کي] فرق هم دی، دا دی أَنَّ مَا دُونَ الْعُضْوِ يَتَسَارَعُ إِلَيْهِ الْجَفَافُ لِقِلَّتِهِ چې له يوه اندام څخه کمي حصې ته د هغې د کموالي [او لږوالي] په وجه ډېر ژر

وچوالي رسيږي فَلَا يَتَيَقَّنُ بِعَدَمِ وُصُوْلِ الْمَاءِ إِلَيْهِ لهذا هغې ته د اوبو نه رسېدلو يقين نه سي کېداى فَقُلْنَا بِأَنَّهُ تَنْقَطِعُ الرَّجْعَةُ نو ځکه موږ وويل چي رجعت ختميږي وَلَا يَحِلُّ لَهَا التَّزَوُّجُ او د ښځي لپاره ادويم خاوند سره انکاح کول روا نه دي اهم د کامل اندام د هېرېدلو په صورت کي او هم له يوه اندام څخه د کمي حصې د هېرېدلو په صورت کي ا أَخْذًا بِالْاِحْتِيَاطِ فِيْهِمَا په احتياط باندي په عمل کولو سره په دواړو [صورتونو] کي بِخِلَافِ الْعُضْوِ الْكَامِلِ لِأَنَّهُ لَا يَتَسَارَعُ إِلَيْهِ الْجَفَافُ په خلاف د پوره اندام. ځکه چي هغه ته ژر وچوالى نه رسيږي وَلَا يُغْفَلُ عَنْهُ عَادَةً او په عامه توګه له هغه څخه غفلت نه کيږي فَافْتَرَقَا نو دواړه سره جلا سول ايعني په کامل اندام او ناقص اندام کي فرق راغلى] وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّ تَرْكَ الْمَضْمَضَةِ وَالْاِسْتِنْشَاقِ كَتَرْكِ عُضْوٍ كَامِلٍ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دى: چي مضمضه او استنشاق پرېښوول [په حکم کي] د پوره اندام د پرېښوولو په څير دي وَعَنْهُ وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِ: بِمَنْزِلَةِ مَا دُوْنَ الْعُضْوِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دويم روايت چي هغه د امام محمد رَحِمَهُ الله قول هم دى. دا دى: چي [مضمضه او استنشاق] له يوه اندام څخه د کم په مرتبه کي دي لِأَنَّ فِي فَرْضِيَّتِهِ اِخْتِلَافًا ځکه چي د دوى په فرضيت کي اختلاف دى بِخِلَافِ غَيْرِهِ مِنَ الْأَعْضَاءِ په خلاف د نورو اندامونو.

اللغات: ﴿يَتَسَارَعُ﴾ د تفاعل مضارع ده: تيزي کول. ژر رسېدل. ﴿جَفَافٌ﴾ مصدر دى. له ضرب او سمع دواړو بابونو څخه راځي: وچېدل (وچوالى). ﴿مَضْمَضَةٌ﴾ د فَعْلَلَةٌ د باب مصدر دى: په خوله اوبه رغړول (چي په عامه اصطلاح کي "خوله پرېولل" ورته وايي). ﴿اِسْتِنْشَاقٌ﴾ د استفعال د باب مصدر دى: پزي ته اوبه کشول. په پزه کي اوبه اچول (چي په عامه اصطلاح کي "پزه پرېولل" ورته وايي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى که د مطلقه رجعيه ښځي وينې په دريم حيض کي تر لسو ورځو مخکي بندي سي او هغه غسل وکړي لېکن په غسل کي د بدن څه حصه ځني هېره سي او وچه پاته سي، نو کومه حصه چي دله ښځي څخه هېره سوې وي که هغه يو کامل (پوره) اندام يا تر اندام زيات وي. نو بيا د ښځي غسل نه صحيح کيږي. لهذا د خاوند د رجعت حق هم نه ختميږي. لېکن که هغه حصه تر يوه اندام کمه وي. نو هغه لره هيڅ اعتبار نسته غسل هم صحيح کيږي او د رجعت حق هم ختميږي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا د استحسان تقاضا ده. او په کامل اندام کي د قياس

تقاضا دا ده چي رجعت ختم سي، يعني كه د غسل په دوران كي يو كامل اندام پاته سي. نو د قياس تقاضا دا ده چي غسل پوره او ثابت سي او د رجعت او عدت معامله ختمه سي؛ د قياس دليل دا دی چي كه څه هم يو كامل اندام پاته سوی دی لېكن له هغه څخه بغير ښځي نور ټوله بدن پرېولی دی. او ټوله بدن تر كامل اندام ډېر زيات دی، او قاعده دا ده چي لِلأَكْثَرِ حُكْمُ الْكُل. نو په دې وجه به رجعت ختميږي، صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليكلي دي چي دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قياس دی. او د امام محمد رَحِمَهُ الله قياس دا دی چي محل د قياس مَا دُوْنَ الْعُضْو دی، يعني كه له يوه اندام څخه كمه حصه په غسل كي پاته سي، نو هم غسل نه صحيح كيږي، ځكه په دې صورت كي هم حدث (ناپاكي) نه ختميږي، ځكه چي په پاكي او ناپاكي كي تجزی او تقسيم نه سي كېدای سي (يعني داسي نه سي كېدای چي د يوه اندام څه حصه دي له حيض او جنابت څخه پاكه وګرځي او بله حصه دي ناپاكه پاته سي، لهذا حدث [ناپاكي] به پاته وي) او تر څو چي حدث پاته وي، تر هغه وخته پوري غسل نه صحيح كيږي، او كله چي غسل نه صحيح كيږي، نو ښكاره خبره ده چي رجعت او عدت به هم نه ختميږي.

ووجه الاستحسان: د استحسان دليل دا دی چي تر يوه اندام كمه حصه ډېره لږ او معمولي غوندي وي، نو كېدای سي چي پر هغه حصې به اوبه تيري سوي وي لېكن هغه حصه به د خپل كموالي (او لږ والي) په وجه بيرته ژر وچه سوې وي، او داسي معمولي حصې ته د انسان هيڅ توجه هم نه كيږي، بلكي انسان دا ګومان كوي چي دا لږ حصه به خامخا پرېول سوې وي، لهذا احتياطاً به دلته دا حكم كيږي چي تر يوه اندام كمي حصې ته اوبه رسيدلي دي، نو ځكه به رجعت او عدت ختميږي، لېكن كه پوره اندام وچ پاته سوی وي، نو دا ګومان نه سي كېدای چي پر ټوله اندام دي اوبه تيري سوي وي او بيرته دي هغه وچ سوی وي، او په عامه توګه په كامل اندام كي غفلت هم نه كيږي يعني كامل اندام ته د انسان توجه كيږي، نو غالب ګومان همدغه دی چي دغه كامل اندام له شروع څخه وچ پاته سوی دی، نو ځكه به د كامل اندام پاتېدلو په صورت كي رجعت او عدت نه ختميږي.

او څرنګه چي په دواړو صورتونو كي دا خطره هم سته چي رجعت به ختم سوی نه وي، نو ځكه په دغه دواړو صورتونو كي احتياطاً د ښځي لپاره د بل خاوند سره نكاح كول صحيح نه دي.

وعن أبي يوسف إلخ: په دې عبارت سره دا رابښيي چي كه له ښځي څخه د غسل په وخت كي د خولې يا د پزې پرېولل (مضمضه او استنشاق) هېر سي، نو د هغې د غسل څه حكم دی؟ په دې سلسله كي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي: ①... اول روايت د هشام دی، او هغه دا دی چي

مضمضه او استنشاق پرېښوول هم د کامل اندام د پرېښوولو په څېر دي، يعني قياساً په دې صورت کي هم د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز رجعت ختميږي د مخکني قاعدې په وجه (يعني د لِلْأَكْثَرِ حُكْمُ الْكُلِّ د قاعدې په وجه)، لېکن استحساناً رجعت نه ختميږي. ④... او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دويم روايت امام کرخي نقل کړی دی، او هغه دا دی چي مضمضه او استنشاق پرېښوول هم د مَا دُوْنَ الْعُضْو د پرېښوولو په درجه کي دی (يعني داسي دي لکه تر يوه اندام چي کمه حصه پرېښوول سوې وي)، ځکه چي د دې دواړو په فرضيت کي اختلاف دی، ځکه د امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله په نيز مضمضه او استنشاق فرض نه دي، بلکي سنت دي، نو د دغه اختلاف په وجه دا دواړه مَا دُوْنَ الْعُضْو په حکم کي دی، نو ځکه به د مضمضه او استنشاق د هېرېدلو په صورت کي هم غسل پوره کېږي او د رجعت ختمېدلو حکم به کېږي.

د جماع د انکار په صورت کي حاملې ښځي ته د خاوند د رجوع کولو بيان

وَمَنْ طَلَّقَ اِمْرَأَتَهٗ وَهِيَ حَامِلٌ أَوْ وَلَدَتْ مِنْهُ او کوم خاوند چي خپلي ښځي ته طلاق ورکړي په داسي حال کي چي ښځه حامله وي يا يې له خاوند څخه کوچنی پيدا سوی وي وَقَالَ: لَمْ أُجَامِعْهَا او [بيا] هغه ووايي: چي ما د دې ښځي سره جماع نه ده کړې فَلَهُ الرَّجْعَةُ نو د هغه لپاره د رجعت حق سته لِأَنَّ الْحَبَلَ مَتٰى ظَهَرَ فِيْ مُدَّةٍ يُتَصَوَّرُ أَنْ يَكُوْنَ مِنْهُ ځکه کله چي حمل په داسي مودت کي ښکاره سي چي [د هغه په هکله] دا تصور کېدای سي چي دا حمل به له خاوند څخه وي جُعِلَ مِنْهُ نو هغه به د خاوند [حمل] ګرځول کېږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ ❶: اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي بچی د [صاحب] فراش لپاره دی وَذٰلِكَ دَلِيْلُ الْوَطْءِ مِنْهُ او دا له خاوند څخه د وطي دليل دی وَكَذَا إِذَا ثَبَتَ نَسَبُ الْوَلَدِ مِنْهُ او همدارنګه کله چي د خاوند سره د کوچني نسب ثابت سو جُعِلَ وَاطِئًا نو خاوند وطي کونکی وګرځېدی وَإِذَا ثَبَتَ الْوَطْءُ او کله چي وطي [جماع] ثابته سوه تَأَكَّدَ الْمِلْكُ نو ملکيت مؤکد سو وَالطَّلَاقُ فِيْ مِلْكٍ مُتَأَكِّدٍ يُعَقِّبُ الرَّجْعَةَ او په مؤکد ملکيت کي طلاق [تر ځان] وروسته رجعت ثابتوي وَيَبْطُلُ زَعْمُهٗ بِتَكْذِيْبِ الشَّرْعِ او د شريعت په تکذيب سره د خاوند ګومان باطليږي أَلَا

---

❶ تخريج: أخرجه الائمة الستة كلهم فى كتبهم، البخارى فى كتاب الفرائض، باب الولد للفراش حديث رقم:٦٧٥٠، ومسلم فى كتاب الرضاع حديث رقم:٣٨، وابو داؤد فى كتاب الطلاق حديث رقم:٢٢٧٤.

تَرٰى أَنَّهٗ يَثْبُتُ بِهٰذَا الْوَطْءِ الْإِحْصَانُ آيا ته نه ګورې! چې په دغه وطي سره إحصان ثابتيږي فَلَأَنْ تَثْبُتَ بِهِ الرَّجْعَةُ أَوْلٰى نو په دې سره به رجعت په طريقه اولیٰ سره ثابتيږي وَتَأْوِيْلُ مَسْأَلَةِ الْوِلَادَةِ: أَنْ تَلِدَ قَبْلَ الطَّلَاقِ او [په متن کې] د ولادت د مسئلې تأويل دا دی: چې ښځه تر طلاق مخکې کوچنی وزيږوي [يعني د أَوْ وَلَدَتْ مِنْهُ مطلب دا دی چې د کوچني پيدا کېدل تر طلاق مخکې وي] لِأَنَّهَا لَوْ وَلَدَتْ بَعْدَهٗ ځکه که چيرې دا ښځه تر طلاق وروسته کوچنی وزيږوي تَنْقَضِي الْعِدَّةُ بِالْوِلَادَةِ نو په ولادت [زيږولو] سره به عدت پوره سي فَلَا تُتَصَوَّرُ الرَّجْعَةُ نو د رجعت هيڅ تصور به کېدای نه سي [ځکه چې تر عدت پوره کېدلو وروسته د رجعت هيڅ امکان نسته].

اللغات: ﴿تَأَكَّدَ﴾ د تفعّل ماضي ده: مؤکّد کېدل، مضبوطېدل. ﴿زَعْمٌ﴾ ګومان، خيال.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي خپلې ښځې ته په داسې حالت کې طلاق ورکړې چې هغه حامله وي يا د کوچني له پيدايښت (زيږولو) څخه وروسته طلاق ورکړي او بيا ووايي: چې ما د دې ښځې سره جماع نه ده کړې (يعني د جماع انکار وکړي)، نو تر دغه انکار وروسته هم خاوند ته د رجعت حق حاصل دی؛ دليل دا دی چې په اول صورت کې (يعني د حمل په صورت کې) ښځه د خپل حمل په وجه تر طلاق وروسته او د کوچني تر پيدايښت (وضعُ الحمل) مخکې د خاوند په عدت کې ده، او د عدت په وخت کې ښځې ته رجوع کول صحيح دي، او په دويم صورت کې (يعني د کوچني د پيدايښت په صورت کې) ښځې د خاوند تر طلاق مخکې د هغه په نکاح کې کوچنی زيږولی دی، لهذا تر انکار وروسته به هم د هغه لپاره د رجعت کولو حق حاصل وي، ځکه کله چې ښځه په دومره مودت کې کوچنی وزيږوي چې په هغه مودت کې کوچنی د خاوند حمل شمارل ممکن وي نو هغه کوچنی به د خاوند حمل شمارل کيږي (او هغه مودت شپږ مياشتې دی يعني که تر طلاق وروسته په شپږو مياشتو کې دننه ښځه کوچنی وزيږوي نو هغه به د خاوند (طلاق ورکونکي) بچی شمارل کيږي).

ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې د ښځې کوچنی د صاحبُ الفراش حمل شمارل کيږي، او څرنګه چې دغه ښځه د کوچني (حمل) تر زيږولو مخکې د خپل خاوند ښځه ده نو ځکه به دا کوچنی هم د خاوند وي، او کله چې کوچنی د خاوند دی نو خاوند به واطي (وطي کونکی) ګرځول کيږي (چې د هغې سره خاوند وطي کړې دي او دا بچی د خاوند حمل دی)، او د وطي د ثابتېدلو په صورت کې پر دغه ښځې د خاوند ملکيت مؤکد کيږي او ښځه مدخول بها شمارل کيږي، او په مؤکد ملکيت کې تر طلاق وروسته رجعت ثابتيږي، نو ځکه به دلته د خاوند لپاره رجعت کول صحيح وي، پاته سوه د خاوند دا ګومان او انکار چې "ما د دې ښځې سره جماع نه ده کړې"، نو هغه لره هيڅ اعتبار نسته. ځکه چې

دلته د خاوند د انکار په مقابله کې د شریعت اقرار سته او شریعت په دلالة الحال سره د کوچنی نسب د دغه خاوند سره ثابت کړی دی، او د شریعت اقرار د خاوند تر انکار ډېر قوي دی، نو ځکه به د شریعت اقرار د خاوند پر انکار غالب وي، او د خاوند انکار لره به هیڅ اعتبار نه وي.

ألا يرىٰ إلخ: صاحب د کتاب څه مخکي دا خبره وکړه چي په مؤکد ملکیت کي تر طلاق وروسته رجعت ثابتیږي، دلته د هغه خبري نور وضاحت کوي فرمايي چي د خاوند په دغه وطي سره (يعني کله چي ښځه حامله وي يا يې کوچنی زېږولی وي او خاوند له وطي څخه انکار وکړي نو په دغه حمل او کوچني سره) إحصان ثابتيږي، لهذا کله چي په دې سره إحصان ثابتيږي نو رجعت خو به په طريقه اولیٰ په دې سره ثابتيږي (ځکه چي إحصان د عقوبت په وجوب کي مؤثر دی لیکن رجعت د عقوبت د وجوب سره هیڅ تعلق نه لري، نو ځکه به په دغه حمل او کوچني سره په درجه اولیٰ رجعت ثابتیږي). (عنايه، بنايه ج: ۵، ص: ۲۴۲)

وتأويل مسألة إلخ: په متن کي ذکر نسوه: أَوْ وَلَدَتْ مِنْهُ، صاحب د هدايې فرمايي چي د دغه جملې مطلب دا دی چي ښځه تر طلاق مخکي د خاوند په نکاح کي کوچنی وزېږوي او وروسته خاوند طلاق ورکړي (نو په دې صورت کي خاوند رجعت کولای سي)، لیکن که ښځه تر طلاق وروسته کوچنی وزېږوي نو د کوچني په زېږولو سره د ښځي عدت پوره کيږي (ځکه چي د حاملې عدت وضعُ الحمل دی) لهذا په دې صورت کي بالکل د رجعت امکان ختمیږي، نو ځکه به په دغه جمله کي د رجعت د إمکان لپاره دا تأويل کيږي چي له دې څخه تر طلاق مخکي د کوچني زېږول مراد دي.

تر خلوت وروسته د جماع په انکار سره د رجوع ساقطېدلو بيان

فَإِنْ خَلَا بِهَا وَأَغْلَقَ بَابًا أَوْ أَرْخَى سِتْرًا او که [خاوند] د ښځي سره خلوت وکړي او دروازه بنده کړي يا پرده وځړوي وَقَالَ: لَمْ أُجَامِعْهَا او [بيا] ووايي: چي ما د هغې سره جماع نه ده کړې ثُمَّ طَلَّقَهَا بيا هغې ته طلاق ورکړي لَمْ يَمْلِكِ الرَّجْعَةَ نو [په دې صورت کي خاوند] د رجعت مالک نه ګرځي لِأَنَّ تَأَكُّدَ الْمِلْكِ بِالْوَطْءِ ځکه چي د ملکيت مؤکد کېدل په وطي سره دي وَقَدْ أَقَرَّ بِعَدَمِهِ حال دا چي خاوند د وطي نه کولو اقرار کړی دی فَيُصَدَّقُ فِي حَقِّ نَفْسِهِ نو به د هغه د ذات په حق کي [د هغه د اقرار] تصديق کيږي وَالرَّجْعَةُ حَقُّهُ او رجعت د هغه حق دی وَلَمْ يَصِرْ مُكَذَّبًا شَرْعًا او شرعاً هغه دروغجن نه دي ګڼل سوی بِخِلَافِ الْمَهْرِ لِأَنَّ تَأَكُّدَ الْمَهْرِ الْمُسَمّٰى يَبْتَنِيْ عَلٰى تَسْلِيْمِ الْمُبْدَلِ په خلاف د مهر، ځکه چي د متعين [ټاکلي] مهر مؤکد کېدل د مبدل پر تسليمولو مبني دي لَا عَلَى الْقَبْضِ نه د مبدل پر قبضه

کولو بِخِلَافِ الْفَصْلِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت [کوم چې په تېر عبارت کې بیان سو. یعني کله چې ښځه حامله وي یا یې له خاوند څخه کوچنی پیدا سوی وي] فَإِنْ رَاجَعَهَا بیا که [خاوند] ښځې ته رجعت وکړي مَعْنَاهُ: بَعْدَمَا خَلَا بِهَا وَقَالَ لَمْ أُجَامِعْهَا یعني وروسته تر دې چې د ښځې سره خلوت وکړي او ووايي چې ما د هغې سره جماع نه ده کړې ده ثُمَّ جَاءَتْ بِوَلَدٍ لِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ بِيَوْمٍ بیا ښځه له دوو کالو څخه په یوه ورځ کم کوچنی راوړي صَحَّتْ تِلْكَ الرَّجْعَةُ نو دغه رجعت صحیح دی لِأَنَّهُ ثَبَتَ النَّسَبُ مِنْهُ ځکه چې نسب د خاوند سره ثابت سو إِذْ هِيَ لَمْ تُقِرَّ بِانْقِضَاءِ الْعِدَّةِ ځکه چې دې ښځې د عدت تېرېدلو اقرار نه دی کړی وَالْوَلَدُ يَبْقَى فِي الْبَطْنِ هٰذِهِ الْمُدَّةَ او تر دغه مودت پورې [یعني تر دوو کالو پورې] کوچنی په نس کې پاتېدای سي فَأُنْزِلَ وَاطِئًا قَبْلَ الطَّلَاقِ دُونَ مَا بَعْدَهُ نو ځکه به [خاوند] تر طلاق مخکې وطي کونکی ګرځول کیږي، نه تر طلاق وروسته لِأَنَّ عَلَى اعْتِبَارِ الثَّانِي يَزُولُ الْمِلْكُ بِنَفْسِ الطَّلَاقِ ځکه چې پر دویم اعتبار [یعني چې خاوند تر طلاق وروسته واطئ وګرځول سي نو] به په نفس طلاق سره ملکیت ختمیږي لِعَدَمِ الْوَطْءِ قَبْلَهُ ځکه چې [په دې صورت کې] به تر طلاق مخکې وطي نه وي [نو ښځه به غیر مدخول بها وي او په طلاق سره به بائنه وګرځي] فَيَحْرُمُ الْوَطْءُ نو [د هغې سره] وطي کول به حرام وي وَالْمُسْلِمُ لَا يَفْعَلُ الْحَرَامَ او مسلمان حرام کار نه کوي.

اللغات: ﴿مُکَذَّبٌ﴾ د تفعیل اسم مفعول دی: دروغجن ګڼل سوی. کَذَّبَ يُکَذِّبُ تَکْذِیْبًا: دروغجن ګڼل، تکذیب کول (دروغجن کول).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند د خپلې ښځې سره خلوت وکړي او د خونې (کمرې) دروازه بنده کړي یا پردې وځړوي، وروسته ووايي چې "ما د ښځې سره جماع نه ده کړې" او بیا هغې ته طلاق ورکړي، نو په دې صورت کې خاوند ته د رجعت حق نسته؛ دلیل دا دی چې ملکِ نکاح په وطي سره مؤکد کیږي، حال دا چې دلته خاوند د وطي نه کولو اقرار کړی دی، نو د خاوند په حق کې به د هغه د اقرار تصدیق کیږي، او رجعت د خاوند حق دی، لهذا د رجعت د حق په باطلولو کې به د هغه قول معتبر وي (او بل دلیل دا چې غیرِ مدخول بها ښځه په طلاق سره بائنه ګرځي، او په بائنه ښځه کې خاوند ته د رجعت هیڅ حق نه حاصلیږي، لهذا په دغه صورت کې به هم خاوند ته د رجعت حق نه وي)

ولم يصر مكذبا إلخ: په دې سره ديو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چې د شريعت له طرفه هم د دغه سړي (خاوند) تکذيب سوی دی، ځکه چې شريعت پر دغه سړي کامل مهرِ مسمیٰ واجب کړی دی، او کامل مهر د طلاق بعد الدخول په صورت کي واجبيږي، نه د طلاق قبل الدخول په صورت کي، نو پر هغه د کامل مهر واجبېدل د دې خبري دليل دی چې په شريعت کي د هغه دا قول "ما جماع نه ده کړې" معتبر نه دی بلکي شريعت يې تکذيب کړی دی، لهذا کله چې هغه په خپل دغه قول کي شرعاً دروغجن دی نو ګواکي تر جماع وروسته طلاق واقع سوی دی، او تر جماع وروسته د طلاق واقع کېدلو په صورت کي د رجعت حق پاتيږي، لهذا په دغه صورت کي هم د هغه لپاره د رجعت حق پاتېدل پکار دي.

په جواب کي صاحب د هدايې فرمايي چې د مهرِ مسمیٰ مؤکد کېدل د مبدل يعني د بضع پر سپارلو موقوف دي، نه پر قبضه (وطي) کولو. او په خلوت سره د بضع سپارل ثابت سو، لهذا په خلوت سره د مهرِ مسمیٰ مؤکد کېدل د دغه سړي پر واطي کېدلو دلالت نه کوي، نو ثابته سوه چې شريعت د هغه د دې قول چې "ما جماع نه ده کړې" تکذيب نه دي کړی (بلکي شريعت د خلوت پر بناء پر هغه کامل مهرِ مسمیٰ واجب کړی دی).

د دې په خلاف په مخکني صورت کي د نسب د ثبوت معامله ده، او نسب له وطي څخه بغير نه ثابتيږي، نو ځکه به هلته شرعاً د خاوند د دغه خبري تکذيب کيږي چې "ما جماع نه ده کړې"، کنې حمل به له وطي څخه بغير ثابت سي کوم چې صحيح نه دي، او په دې کي نور هم ډيري خرابياني دي.

قوله راجعها إلخ: د دې حاصل دا دی که تر خلوت وروسته خاوند ووايي چې "ما د ښځي سره جماع نه ده کړې" او بيا ښځي ته طلاق ورکړي او تر هغه وروسته رجعت هم وکړي او بيا ښځه له دوو کالو څخه په يوه ورځ کم کوچنی وزېږوي، نو دا رجعت هم صحيح کيږي او د کوچني نسب هم د خاوند سره ثابتيږي؛ د دوو کالو اعتبار به د طلاق له ورځي څخه کيږي، نه د رجعت له ورځي څخه، د رجعت د صحيح کېدلو دليل دا دی چې د دغه کوچني نسب د خاوند سره ثابتيږي، نه د بل چا سره، ځکه چې ښځي د عدت تېرېدلو اقرار نه دي کړی، او (کله نا کله) کوچنی د مور په نس کي دوه کاله هم پاتيږي، لهذا د کوچني نسب د دې سړي سره ثابتيږي، او د نسب ثابتېدل د دې خبري دليل دی چې دغه سړی د خپلي ښځي سره (تر طلاق مخکي) جماع کړې ده. (لهذا دا ښځه مدخوله بها سوه، نو ځکه به هغې ته د خاوند رجعت صحيح کيږي)

دلته که څه هم دوه احتماله سته، يعني دا احتمال هم سته چې طلاق به تر وطي وروسته وي (يعني خاوند به تر طلاق وروسته جماع کړې وي) او دا احتمال هم سته چې طلاق به تر وطي مخکي

وي، خو موږ دا پر وطي قبل الطّلاق حمل کوو، ځکه که دا پر وطي بعد الطّلاق حمل کړی سي نو دا وطي به حرام وي، ځکه کله چي دلته تر طلاق مخکي وطي نه وي سوي نو هغه ښځه به غیرِ مدخول بها وي او په نفس طلاق سره به بېله عدّته بائنه وګرځي او تر هغه وروسته به وطي حرام وي. او مسلمان د حرام فعل ارتکاب نه کوي، نو ځکه به دا وطي پر قبل الطّلاق حمل کیږي د دې لپاره چي د مسلمان فعل پر صلاح حمل کړی سی (ځکه چي په دې هکله فقهي قاعده دا ده: اَلْأَصْلُ أَنَّ أُمُوْرَ الْمُسْلِمِيْنَ تُحْمَلُ عَلَى السَّدَادَ وَالصَّلَاحِ حَتّٰى يَظْهَرَ غَيْرُهُ، چي حتی الامکان به د مسلمانانو اُمور او معاملات پر سموالي او صِحت حمل کیږي).

په طلاقِ معلق کي د رجوع کولو یو صورت

فَإِنْ قَالَ لَهَا: إِذَا وَلَدْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ او که [خاوند] خپلي ښځي ته [داسي] ووایي: کله چي ته بچی وزیږوې نو تا ته طلاق دی [یعني کله چي ستا بچی پیدا سي نو له هغه وخت څخه پر ما طلاقه یې!] فَوَلَدَتْ ثُمَّ أَتَتْ بِوَلَدٍ آخَرَ بیا ښځي بچی وزیږوی [او] بیا یې بل بچی وزیږوی [یعني تر اول کوچني شپږ میاشتي یا زیات وروسته ښځه بیا حامله سوه او بل بچی یې پیدا سو، که څه هم دوه کاله وروسته بل بچی پیدا سي] فَهِيَ رَجْعَةٌ نو دا دویم ولادت رجعت دی [یعني کله چي هم دویم بچی پیدا سي، نو خاوند ښځي ته رجوع کونکی ګرځي په دې شرط چي ښځي د عدت ختمېدلو اقرار کړی نه وي، ځکه چي په اول بچي سره پر ښځي طلاق واقع سو او عدت پر واجب سو، لېکن کله چي ښځه تر اول بچي وروسته بیا حامله سوه، نو دا د دې خبري دلیل سو چي خاوند تر طلاق وروسته بیا د هغې ښځي سره په عدت کي وطي کړي دي (ځکه چي هغې د عدت ختمېدلو اقرار نه دی کړی)، او دا تاسي ته معلومه ده چي که خاوند په عدت کي وطي وکړي نو رجعت ثابتیږي، نو ځکه به د دویم بچي پیدایښت رجعت ګرځول کیږي که څه هم خاوند په ژبه سره اقرار نه وکړي ځکه چي د دویم بچي پیدایښت د رجعت قوي علامت دی. نو ځکه به خاوند هغې ته رجعت کونکی ګرځي، اوس د مصنف رَحِمَهُ الله تشریح ته ګورئ!] مَعْنَاهُ: مِنْ بَطْنٍ آخَرَ [د دویم کوچني زیږولو] مطلب دا دی: چي له بل نس [حمل] څخه وي وَهُوَ أَنْ يَكُوْنَ بَعْدَ سِتَّةِ أَشْهُرٍ او هغه [دویم حمل] دا دی چي تر شپږ میاشتي وروسته وي وَإِنْ كَانَ أَكْثَرَ مِنْ سَنَتَيْنِ که څه هم تر دوو کالو زیات وي إِذَا لَمْ تُقِرَّ بِانْقِضَاءِ الْعِدَّةِ [په دې شرط] کله چي ښځي د عدت ختمېدلو اقرار نه وي کړی لِأَنَّهُ وَقَعَ الطَّلَاقُ عَلَيْهِ بِالْوَلَدِ الْأَوَّلِ ځکه چي [دلته] په اول بچي سره پر ښځي طلاق واقع سو وَوَجَبَتِ الْعِدَّةُ او [پر هغې] عدت واجب سو فَيَكُوْنُ الْوَلَدُ الثَّانِي مِنْ عَلُوْقٍ حَادِثٍ مِنْهُ فِي الْعِدَّةِ نو دویم بچی به له هغه حمل څخه وي کوم حمل چي د خاوند [په وطي سره] په

عدت کې پيدا سوی وي [يعني تر اول بچي وروسته به د دويم بچي پيدا کېدل د دې خبرې دليل وي چې خاوند د دې ښځې سره په عدت کې وطي کړي دي] لِأَنَّهَا لَمْ تُقِرَّ بِانْقِضَاءِ الْعِدَّةِ ځکه چې ښځې د عدت ختمېدلو اقرار نه دی کړی فَيَصِيرُ مُرَاجِعًا لهذا خاوند به رجوع کونکی وګرځي.

اللغات: ﴿بَطْن آخَر﴾ دويم نس، مراد ځنې دويم حمل دی (يعني چې د دويم وار حامله کېدلو په وجه بل بچی پيدا سي)، ﴿عُلُوْق﴾ د سمع د باب مصدر دی: په رحم کې نطفه قرار نيول. ښځه حامله کېدل (حملداره کېدل)، په وطي سره حامله کول.

تشريح: مسئله د ترجمې په ضمن کې تشريح سوه.

په طلاقِ معلق کې د رجوع کولو يو بل صورت

وَإِنْ قَالَ: كُلَّمَا وَلَدْتِ وَلَدًا فَأَنْتِ طَالِقٌ او که [خاوند] ووايي: هر کله چې ته بچی زېږوې نو تا ته طلاق دی [يعني که خاوند په "كُلَّمَا" سره قسم وکړي او ووايي: چې د هر بچي د پيدا کېدلو په وخت کې ته پر ما طلاقه يې!] فَوَلَدَتْ ثَلَاثَةَ أَوْلَادٍ فِي بُطُوْنٍ مُخْتَلِفَةٍ بيا ښځي په بېلا بېلو نسونو [حملونو] کې دري بچيان وزېږول [يعني هر بچی يې په جلا حمل سره پيدا سو] فَالْوَلَدُ الْأَوَّلُ طَلَاقٌ وَالْوَلَدُ الثَّانِي رَجْعَةٌ وَكَذَا الثَّالِثُ نو اول بچی طلاق دی، او دويم او همدارنګه دريم بچی رجعت دی [يعني کله چې اول بچی پيدا سي، نو يو طلاقِ رجعي واقع کيږي او ښځه به عدت تېروي، او بيا چې کله دويم وار ښځه حامله سي او دويم بچی پيدا سي، نو په دويم کوچني سره رجعت ثابتيږي او بل (دويم) طلاقِ رجعي هم واقع کيږي (ځکه چې خاوند په "كُلَّمَا" سره د طلاق ورکولو قسم کړی دی)، او بيا چې کله دريم بچی پيدا سي، نو په دې سره هم رجعت ثابتيږي او دريم طلاقِ رجعي هم واقع کيږي، او په دغه دريم طلاقِ رجعي سره ښځه مغلظه ګرځي] لِأَنَّهَا إِذَا جَاءَتْ بِالْأَوَّلِ وَقَعَ الطَّلَاقُ وَصَارَتْ مُعْتَدَّةً ځکه کله چې ښځي اول کوچنی راوړی نو طلاق واقع سو او ښځه عدت تېرونکې وګرځېده وَبِالثَّانِي صَارَ مُرَاجِعًا او په دويم بچي سره [خاوند] رجعت کونکی وګرځېدی لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ يُجْعَلُ الْعُلُوْقُ بِوَطْءٍ حَادِثٍ فِي الْعِدَّةِ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی چې [تر اول کوچني وروسته د ښځي] حامله کېدل به په داسې وطي سره وي کوم چې په عدت کې پېښ سوي وي وَيَقَعُ الطَّلَاقُ الثَّانِي بِوِلَادَةِ الْوَلَدِ الثَّانِي او د دويم بچي په پيدايښت سره دويم طلاق [رجعي] واقع کيږي لِأَنَّ الْيَمِيْنَ مَعْقُوْدَةٌ بِكَلِمَةِ كُلَّمَا ځکه چې قسم د "كُلَّمَا" په کلمه سره منعقد سوی دی وَوَجَبَتِ الْعِدَّةُ او عدت واجبيږي [او خاوند رجعت کونکی ګرځي] وَبِالْوَلَدِ الثَّالِثِ صَارَ مُرَاجِعًا لِمَا ذَكَرْنَا او د دريم بچي

[په پيدايښت] سره [هم خاوند] رجعت کونکی ګرځي د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی [يعني په دويم او دريم بچي دواړو سره خاوند رجعت کونکی ګرځي. دليل هغه دی کوم چي مخکي ذکر سو او هغه دا چي تر دويم او دريم کوچني وروسته د ښځي بيا حامله کېدل د دې خبري دليل دی چي خاوند د هغې سره په عدت کي وطي کړي دي، او په عدت کي وطي د رجعت سبب دی، نو ځکه به خاوند رجعت کونکی وي] وَتَقَعُ الطَّلْقَةُ الثَّالِثَةُ بِوِلَادَةِ الثَّالِثِ او د دريم کوچني په پيدايښت سره دريم طلاق واقع کيږي وَوَجَبَتْ الْعِدَّةُ بِالْأَقْرَاءِ او عدت واجبيږي په حيضونو سره لِأَنَّهَا حَامِلٌ مِنْ ذَوَاتِ الْحَيْضِ حِيْنَ وَقَعَ الطَّلَاقُ ځکه چي د طلاق واقع کېدلو [يعني د کوچني د پيدا کېدلو] په وخت کي دا حامله ښځه له ذوات الحيض څخه ده [يعني کله چي د دغه حاملې ښځي دريم بچی پيدا سي او دريم طلاق پر واقع سي او ښځه مطلقه مغلظه وګرځي. نو بيا به ښځه خپل عدت د حيض په شمار سره تېروي، ځکه چي تر دريم کوچني وروسته هغه حيض والا وګرځېده. او د حائضې ښځي عدت په حيض سره شمارل کيږي].

اللغات: ﴿كُلَّمَا﴾ هر کله چي، هر وخت چي.

تشريح: مسئله د ترجمې په ضمن کي تشريح سوه.

د مطلقهٔ رجعيه ښځي احکام

وَالْمُطَلَّقَةُ الرَّجْعِيَّةُ تَتَشَوَّفُ وَتَتَزَيَّنُ او مطلقه رجعيه به سينګار کوي او ښکلا به اختياروي لِأَنَّهَا حَلَالٌ لِلزَّوْجِ ځکه چي هغه د خپل خاوند لپاره حلاله ده إِذِ النِّكَاحُ قَائِمٌ بَيْنَهُمَا ځکه چي د دوی دواړو په مينځ کي اتر اوسه] نکاح پاته ده ثُمَّ الرَّجْعَةُ مُسْتَحَبَّةٌ بيا رجعت کول مستحب دي وَالتَّزَيُّنُ حَامِلٌ عَلَيْهَا او ښکلا اختيارول پر رجعت آماده کونکی دی [يعني د ښځي سينګار او ښکلا خاوند ځان ته را جلبوي او رجعت ته يې آماده کوي] فَيَكُوْنُ مَشْرُوْعًا نو ځکه به مشروع [او روا] وي وَيُسْتَحَبُّ لِزَوْجِهَا أَنْ لَا يَدْخُلَ عَلَيْهَا حَتَّى يُؤْذِنَهَا أَوْ يُسْمِعَهَا خَفْقَ نَعْلَيْهِ او مستحب دي د مطلقه رجعيه ښځي خاوند لره چي داخل نه سي پر هغې تر دې چي له هغې څخه اجازت واخلي يا د خپلو څپليو کنبهاری په واوروي مَعْنَاهُ: إِذَا لَمْ يَكُنْ مِنْ قَصْدِهِ الْمُرَاجَعَةُ د دې مطلب دا دی: چي کله د خاوند اراده د رجعت کولو نه وي لِأَنَّهَا رُبَّمَا تَكُوْنُ مُتَجَرِّدَةً فَيَقَعُ بَصَرُهُ عَلَى مَوْضِعٍ يَصِيرُ بِهِ مُرَاجِعًا ځکه چي کله نا کله ښځه لڅه وي نو د خاوند نظر به پر داسي ځای پرېوځي چي په هغه سره به خاوند رجعت کونکی وګرځي ثُمَّ يُطَلِّقُهَا او بيا به هغې ته طلاق ورکړي فَتَطُوْلُ الْعِدَّةُ عَلَيْهَا او د ښځي عدت به [نور] اوږد سي وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُسَافِرَ بِهَا حَتَّى يُشْهِدَ عَلَى رَجْعَتِهَا او جائز نه دي خاوند لره چي مطلقه رجعيه ښځه په سفر بوځي تر دې چي د هغې پر رجعت [يو څو ک] ګواه جوړ کړي وَقَالَ زُفَرُ: لَهُ ذَلِكَ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د

خاوند لپاره دا جائز دي لِقِيَامِ النِّكَاحِ ځکه چي نکاح پاتې ده [يعني ځکه چي تر طلاقِ رجعي وروسته نکاح باقي پاتېږي] وَلِهَذَا لَهُ أَنْ يَغْشَاهَا عِنْدَنَا او له همدې وجهې د خاوند لپاره د هغې سره وطي کول زموږ په نيز جائز دي وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالَى: لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ [الطلاق: ۱] او زموږ دليل دا الله تعالىٰ دا فرمان دی: تاسو مه باسئ! دغه ښځې له خپلو کورو څخه وَلِأَنَّ تَرَاخِيَ عَمَلِ الْمُبْطِلِ لِحَاجَتِهِ إِلَى الْمُرَاجَعَةِ او ځکه چي د مبطل [طلاق] د عمل مؤخر کېدل د رجعت وطرف ته د خاوند د ضرورت په وجه دي فَإِذَا لَمْ يُرَاجِعْهَا حَتَّى انْقَضَتِ الْعِدَّةُ لېکن کله چي خاوند د عدت تېرېدلو [پوره کېدلو] تر وخته پوري رجعت نه وکړی ظَهَرَ أَنَّهُ لَا حَاجَةَ لَهُ نو ښکاره سوه چي هغه ته د رجعت ضرورت نسته فَتَبَيَّنَ أَنَّ الْمُبْطِلَ عَمَلَ عَمَلَهُ مِنْ وَقْتِ وُجُودِهِ نو څرګنده سوه چي مبطل [طلاق] د خپل وجود [واقع کېدلو] له وخت څخه خپل عمل وکړی وَلِهَذَا تُحْتَسَبُ الْأَقْرَاءُ مِنَ الْعِدَّةِ او له همدې وجهې [د طلاق تر واقع کېدلو وروسته] حيضونه له عدت څخه شمارل کيږي فَلَمْ يَمْلِكِ الزَّوْجُ الْإِخْرَاجَ نو په دې وجه به خاوند اله کور څخه د ښځې] د ايستلو مالک نه وي إِلَّا أَنْ يُشْهِدَ عَلَى رَجْعَتِهَا خو دا چي د هغې پر رجعت [څوک] ګواه جوړ کړي فَتَبْطُلُ الْعِدَّةُ نو [په هغه وخت کي] به عدت باطليږي وَيَتَقَرَّرُ مِلْكُ الزَّوْجِ او د خاوند ملکيت به مؤکد کيږي وَقَوْلُهُ: حَتَّى يُشْهِدَ عَلَى رَجْعَتِهَا مَعْنَاهُ الِاسْتِحْبَابُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله د دې قول: "حتى يُشْهِدَ عَلَى رَجْعَتِهَا" مطلب [د إِشْهَاد] مستحب کېدل دي [يعني پر رجعت ګواه جوړول مستحب دي] عَلَى مَا قَدَّمْنَاهُ لکه مخکي چي موږ د دې بيان وکړی.

اللغات: ﴿الْمُطَلَّقَةُ الرَّجْعِيَّةُ﴾ هغه ښځه چي طلاقِ رجعي ورکول سوی وي.

تشريح: په دې عبارت کي د مطلقه رجعيه ښځې او د هغې د خاوند په هکله درې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده چي مطلقه رجعيه ښځې ته پکار دي چي د عدت په دوران کي دي خپل ځان ښکلی او سينګار ساتي او هر وخت دي پاکه او تياره اوسيږي، د دې لپاره چي د خاوند زړه مائل سي او هغې ته رجعت وکړي؛ د مطلقه رجعيه په حق کي د سينګار او ښکلا د جواز دليل دا دی چي دا ښځه د خپل خاوند لپاره حلاله ده، ځکه چي اوس هم د دواړو نکاح پاتې ده، ځکه چي په طلاقِ رجعي سره نکاح نه ختميږي، او بل دا چي رجعت کول هم يو مستحب او غوره کار دی، او سينګار او ښکلا خاوند په رجعت باندي أماده کوي، نو ځکه به سينګار او ښکلا مشروع او غوره کار وي.

ويستحب لزوجها إلخ: (۲)... دويمه مسئله د مطلقه رجعيه ښځې د خاوند په هکله ده، حاصل يې دا دی که چيري تر طلاقِ رجعي وروسته د خاوند د رجعت کولو اراده نه وي، نو هغه ته پکار دي چي په کومه خونه (او

کمره) کي ښځه اوسيږي، هغه خوني ته بايد د ښځي له اجازت او خبر ورکولو څخه بغير داخل نه سي، بلکي له ښځي څخه بايد اجازت واخلي، يا دي د څپليو په کښهاري يا په بله طريقه سره د خپل راتګ خبر ورکړي، ځکه کېدای سي چي ښځي به په دغه حالت کي خپل ستر او عورت ښکاره کړی وي، او خاوند به ناڅاپه په شهوت سره د هغې فرج ته وګوري او رجعت به ثابت سي، حالانکي خاوند د رجعت اراده نه ده کړې، نو ځکه به بيا طلاق ورکړي او بيله څه وجهي به د دغه ښځي عدت نور اوږد سي، او دا د ښځي په حق کي ډېر نقصان دی، نو په دې وجه مخکي اطلاع ورکول او اجازت اخيستل مستحب او غوره کار دی.

ولیس له الخ: (۳).... دريمه مسئله هم د خاوند سره تعلق لري، حاصل د مسئلې دا دی چي تر څو خاوند خپلي ښځي ته رجعت نه وکړي او پر دې رجعت څوک ګواه جوړ نه کړي، تر هغه وخته پوري دا ښځه د خپل ځان سره په سفر نه سي بېولای، همدا د جمهورو احنافو مسلک دی، د دې په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي پر رجعت له ګواه جوړولو څخه بغير هم خاوند ښځه په سفر بېولای سي، په دې کي هيڅ حرج نسته.

د امام زفر دليل: دا دی چي په طلاقِ رجعي کي تر عدت ختمېدلو مخکي نکاح باقي پاته وي، همدا وجه ده چي زموږ په نېز د ښځي سره وطي کول جائز دي (نو د وطي روايښت او جواز د دې خبري دليل دی چي نکاح پاته ده)، لهذا څرنګه چي منکوحه ښځه د ځان سره په سفر بېول شرعاً صحيح دي، همداسي به په دې ښځي هم سفر کول صحيح وي.

زموږ دليل: زموږ د جمـــهـــورو احنافو دليل دا آيت دی: وَلَا تُخۡرِجُوهُنَّ مِنۡ بُيُوتِهِنَّ، دا آيت د طلاقِ رجعي په سلسله کي نازل سوی دی، او ترجمه يې دا ده چي "مه باسئ! هغه ښځي چي طلاق رجعي ورکول سوی وي له خپلو کورو څخه"، نو له دې آيت څخه ثابته سوه چي د خاوند لپاره د مطلقه رجعيه ښځي ايستل جائز نه دي.

ولأن تراخي الخ: زموږ عقلي دليل دا دی چي طلاق داسي شی دی کوم چي نکاح باطلوي او له منځه يې وړي، لهذا مناسب خو دا ده چي د طلاق د وجود په وخت کي فوراً نکاح باطله سي، خو د طلاق عمل په دې وجه تر عدت ختمېدلو پوري مؤخر سوی دی چي که خاوند رجعت کول وغواړي نو رجعت به کولای سي. لېکن کله چي خاوند رجعت نه وکړی او عدت ختم سو، نو دا خبره ښکاره سوه چي خاوند ته د رجعت هيڅ ضرورت نسته، او کله چي هغه ته د رجعت ضرورت نسته، نو ښکاره سوه چي د طلاق عمل له هغه وخت څخه دی په کوم وخت کي چي طلاق واقع سو (يعني کله چي عدت پوره سو او خاوند ښځي ته رجعت نه وکړی نو طلاق د خپل وقوع [واقع کېدلو] له وخت څخه عامل وګرځېدی، نه د عدت پوره کېدلو له وخت څخه)، همدا وجه

ده چې هغه حیضونه کوم چې تر عدت پوره کېدلو (ختمېدلو) مخکې تېر سوي وي (او تر طلاق وروسته راغلي وي)، هغوی له عدت څخه شمارل کیږي، او په هغوی سره عدت پوره کیږي (نو که د طلاق عمل د عدت ختمېدلو او پوره کېدلو له څخه وای، نو کوم حیضونه چې تر عدت پوره کېدلو مخکې تېر سوي دي، هغوی به له حیض څخه نه شمارل کېدای، بلکې کوم حیضونه چې تر عدت پوره کېدلو وروسته دي، هغوی به له عدت څخه شمارل کېدای، او په هغوی سره به عدت پوره کېدای، حال دا چې حکم داسې نه دی، او نه داسې ممکنه ده). لهذا کله چې د طلاق واقع کېدلو له وخت څخه نکاح ختمه سوه، نو دا ښځه به له هغه وخت څخه بائنه شمارل کیږي، او د مطلقه بائنه ښځې سره سفر کول جائز نه دي، نو همداسې به د دغه ښځې سره هم سفر کول جائز نه وي. ها! که خاوند دغه ښځې ته رجعت وکړي او پر رجعت کولو څوک ګواه جوړ کړي، نو بیا عدت باطلیږي او پر ښځې د خاوند ملکیت مؤکد کیږي، لهذا په داسې صورت کې ښځه د ځان سره په سفر بیول بالکل صحیح او جائز دي.

وقوله حتّٰی إلخ: فرمایي چې په متن کې د امام محمد رَحِمَهُ الله د دې قول حَتّٰی یُشْهِدَ عَلٰی رَجْعَتِهَا مطلب او مفهوم دا دی چې د خاوند لپاره پر خپل رجعت ګواه جوړول مستحب او مندوب دي، نه واجب، لهذا که هغه له ګواه جوړلو څخه بغیر ښځې ته رجعت وکړي نو هم رجعت صحیح کیږي، لکه د باب په اولو عُباراتو کې چې هم د دې بیان وسو.

په طلاقِ رجعي سره وطي نه حرامیږي

وَالطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ لَا يُحَرِّمُ الْوَطْءَ او طلاق رجعي وطي [جماع] نه حراموي [یعني کله چې خاوند ښځې ته طلاق رجعي ورکړي نو تر هغه وروسته د خاوند لپاره وطي جائز دي، او هر کله چې وطي ور سره وکړي نو سمدستي رجعت ثابتیږي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُحَرِّمُهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې [طلاقِ رجعي] وطي حراموي لِأَنَّ الزَّوْجِيَّةَ زَائِلَةٌ لِوُجُوْدِ الْقَاطِعِ وَهُوَ الطَّلَاقُ ځکه چې [په طلاقِ رجعي کې] زوجیت ختم سوی دی [د نکاح د ختمونکي شي د وجود په وجه او هغه [د نکاح ختمونکی شی] طلاق دی [یعني د طلاق په وجه سره ښځه د خاوند زوجه (مانینه) نه پاتیږي، نو ځکه به تر طلاق وروسته د ښځې سره وطي کول حرام وي، هغه که هر طلاق وي] وَلَنَا: أَنَّهَا قَائِمَةٌ او زموږ دلیل دا دی چې زوجیت پاته دی [یعني زموږ دلیل دا دی چې په طلاقِ رجعي کې نکاح پاته ده، ختمه سوې نه ده] حَتّٰی يَمْلِكَ مُرَاجَعَتَهَا مِنْ غَيْرِ رِضَاهَا همدا وجه ده چې د ښځې له رضا څخه بغیر خاوند هغې ته د رجعت کولو مالک دی [یعني په طلاقِ رجعي کې خاوند د ښځې له رضا څخه بغیر هغې ته رجعت کولای سي، نو معلومه سوه چې نکاح پاته ده، ځکه که پاته نه وای نو بیا به د ښځې رضا او ګواهي ضروري وای] لِأَنَّ

حَقَّ الرَّجْعَةِ ثَبَتَ نَظَرًا لِلزَّوْجِ ځکه چې [په عدت کې] د رجعت حق د خاوند د شفقت [او مصلحت] په خاطر ثابت سوی دی لِيُمْكِنَهُ التَّدَارُكُ عِنْدَ اعْتِرَاضِ النَّدَمِ د دې لپاره چې د پښېمانه کېدلو په وخت کې خاوند لره [د طلاق] تدارک کول ممکن وي [يعنې پر خاوند د شفقت کولو لپاره هغه ته د رجعت حق ورکول سوی دی. يعني که چیرې خاوند تر طلاق ورکولو وروسته پر خپل حرکت (طلاق ورکولو) پښېمانه سي او د شرمندګۍ سره مخامخ سي، نو له دې څخه د ځان ساتلو لپاره به هغه ته د رجعت لاره خلاصه وي] وَهٰذَا الْمَعْنٰى يُوْجِبُ اِسْتِبْدَادَهُ بِهٖ او دغه معنیٰ [يعني د شفقت په خاطر د رجعت ثابتېدل] د رجعت سره د خاوند مستقل کېدل واجبوي [يعني "د شفقت په خاطر خاوند ته د رجعت حق حاصلېدل" د دې خبري دليل دی چې خاوند د رجعت په سلسله کې مستقل دی (يعني د ښځې له رضا څخه بغير او له ګواهۍ څخه بغير رجعت کولای سي) کنې بيا شفقت نه ثابتيږي. نو معلومه سوه چې د ښځې له رضا څخه بغير خاوند د رجعت مالک دی. او دا د نکاح د پاتېدلو دليل هم دی] وَذٰلِكَ يُؤْذِنُ بِكَوْنِهٖ اسْتِدَامَةً لَا اِنْشَاءً، اِذِ الدَّلِيْلُ يُنَافِيْهِ او دا [په رجعت کې د خاوند مستقل کېدل] د نکاح باقي ساتلو خبر ورکوي، نه د نوي سره د نکاح کولو ، ځکه چې دليل د إنشاء منافي دی [يعني په رجعت کې د خاوند مستقل کېدل د دې خبري علامت دی چې رجعت د مخکښې نکاح باقي ساتلو ته وايي. له شروع څخه د نکاح کولو ته نه وايي (لکه څرنګه چې امام شافعي فرمايي)، ځکه چې دليل (يعني د شفقت په خاطر د رجعت حق ثابتېدل) د إنشاء منافي دی يعني دا دليل د دې خبري منافي دی چې "رجعت له شروع څخه نکاح کول" دي، ځکه که چيري رجعت له شروع څخه نکاح کول وي نو بيا به د ښځې رضا ضروري وي او دا به هم ضروري وي چې خاوند بل څوک ګواه جوړ کړي (ځکه چې د نکاح په شروع کې دا دواړه شيان ضروري دي) لهذا شفقت به ثابت نه سي، حالانکې رجعت د شفقت په خاطر ثابت سوی دی. او دا د نکاح پاتېدلو بل دليل دی. او ثابته سوه چې په طلاق رجعي کې نکاح پاته ده. نو ځکه به طلاق رجعي وطي نه حراموي. بلکې د خاوند لپاره به وطي جائز وي] وَالْقَاطِعُ أُخِّرَ عَمَلُهٗ اِلٰى مُدَّةٍ اِجْمَاعًا او د قاطع [طلاق] عمل بالاتفاق تر يو مودت پوري مؤخر کړی سوی دی أَوْ نَظَرًا لَهٗ [او] يا پر خاوند د شفقت کولو په خاطر [د طلاق عمل مؤخر کړی سوی دی]. [په دې سره امام شافعي ته جواب ورکوي. هغه وويل چې په طلاق سره زوجيت (نکاح) ختمه سوه. نو په جواب کې فرمايي چې تر اوسه په طلاق سره نکاح نه ده ختمه سوې بلکې پر خاوند د شفقت کولو په خاطر تر عدت تېرېدلو پوري د طلاق عمل ځنډول سوی دی. او کله چې عدت تېر سي نو بيا نکاح ختميږي] عَلٰى مَا تَقَدَّمَ لکه مخکې چې ذکر سوه [چې پر خاوند د شفقت کولو په خاطر د رجعت حق ثابت سوی دی (او د طلاق عمل مؤخر سوی دی)].

اللغات: ﴿قَائِمَةٌ﴾ د نصر مؤنث اسمِ مفعول دی: ولاړ، باقي، پاته. ﴿نَظَرًا﴾ شفقت، مصلحت (ښېګڼه).

تشريح: مسئله په پوره تفصيل سره د ترجمې په ضمن کې تشريح سوه.



فَصْلٌ فِيْمَا تَحِلُّ بِهِ الْمُطَلَّقَةُ

دا فصل په (بیان د) هغو طریقو کي دی چې مطلقه ښځه حلاله په کرځي

تشريح: کله چې مصنف رَحِمَهُ الله د هغه صورتونو له بیان څخه فارغ سو چې په هغوی سره د طلاقِ رجعي تلافي او تدارک کېدای سي. اوس له دې ځای څخه هغه صورتونه بیانوي چې د هغوی په ذریعه له طلاقِ رجعي څخه بغیر د نورو طلاقونو تدارک کېدای سي.

يادونه: مطلقه (طلاقه سوې) ښځه په کومو طريقو سره حلالیږي؟ د هغه خلاصه دا ده: ①... که ښځې ته یو یا دوه طلاقِ رجعي ورکول سوي وي نو ښځه فقط په رجعت سره حلالیږي. د نکاح هیڅ ضرورت نسته. ②... او که ښځې ته یو یا دوه طلاقِ بائن ورکول سوي وي نو بیا ښځې ته رجعت نه سي کولای. بلکي د هغې سره به په عدت کي دننه یا تر عدت وروسته نکاح کوي. په دې صورت کي د "حلاله" (تحليل) ضرورت نسته. ③... او که ښځې ته درې طلاقه ورکول سوي وي. نو دې ته طلاقِ مغلظ وايي، په دې کي له "حلاله" څخه بغیر ښځه نه حلالیږي چې د هغه طريقه به انشاء الله په دې فصل کي بیان سي.

د طلاقِ بائن بحث

وَإِذَا كَانَ الطَّلَاقُ بَائِنًا دُونَ الثَّلَاثِ او کله چې طلاقِ بائن وي [او] له دریو طلاقو څخه کم وي فَلَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا فِي الْعِدَّةِ وَبَعْدَ انْقِضَائِهَا نو خاوند ته اختيار سته چې د ښځې سره نکاح وکړي په عدت کي او د عدت له تېرېدلو څخه وروسته لِأَنَّ حِلَّ الْمَحَلِّيَّةِ بَاقٍ ځکه چې [د بَائِن دُون الثلاث په صورت کي [د محل حلال کېدل [تر اوسه] پاته دي لِأَنَّ زَوَالَهُ مُعَلَّقٌ بِالطَّلْقَةِ الثَّالِثَةِ ځکه چې د محل زوال پر دریم طلاق معلق دي فَيَنْعَدِمُ قَبْلَهُ نو تر دریم طلاق مخکي به [د محل زوال] معلوم وي [یعني کله چې د محل زائلېدل پر دریم طلاق معلق دي نو په دې وجه به تر دریم طلاق مخکي محل نه زائلیږي] وَمَنْعُ الْغَيْرِ فِي الْعِدَّةِ لِاشْتِبَاهِ النَّسَبِ او په عدت کي [له خاوند څخه بغير] بل څوک [له نکاح څخه] منع کول د نسب د مشتبه کېدلو په وجه دي [یعني د عدت په دوران کي له خاوند څخه بغیر د بل چا سره د ښځې د نکاح ممانعت د نسب د اشتباه په وجه دی] وَلَا اشْتِبَاهَ فِي إِطْلَاقِهِ او [د خاوند سره د نکاح] په اجازه ورکولو کي هیڅ اشتباه نسته.

اللغات : ﴿اِشْتِبَاه﴾ مشتبه کېدل، شکمن کېدل.

تشريح : مسئله : دا ده که يو سړی خپلې ښځې ته يو طلاق بائن يا دوه طلاقِ بائن ورکړي، نو هغه ته اختيار دی، د عدت په دوران کې هم د ښځې سره نکاح کولای سي او تر عدت وروسته هم...؛ ځکه تر اوسه ښځې ته فقط دوه طلاقه ورکول سوي دي، طلاقِ مغلظ نه دي ورکول سوی، ځکه چې ښځه په دريم طلاق سره مغلظه ګرځي، لهذا تر څو چې ښځې ته دريم طلاق ورکول سوي نه وي، تر هغه وخته به د محل حِلت پاته وي، او د خاوند لپاره به د هغې سره نکاح صحيح او جائز وي.

ومنع الغير الخ : په دې سره د يو مقدر اعتراض جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چې د عدت په دوران کې نکاح کول صحيح نه دي، ځکه چې په دې آيت "وَلَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ أَجَلَهٗ" [سورة البقرة:۲۳۵] سره د عدت په دوران کې د ښځې سره نکاح کول ممنوع دي، لهذا په عدت کې د نکاح اجازه ورکول او نکاح جائز ګرځول صحيح نه دي.

د دې اعتراض په جواب کې فرمايي چې په عدت کې د نکاح ممانعت له خاوند څخه بغير د بل سړي په حق کې دی، ځکه چې د بل چا سره په نکاح کولو کې د نسب د اشتباه او اختلاط خطره سته، او د خپل خاوند سره په نکاح کولو کې د نسب د اشتباه هيڅ خطره نسته، لهذا د عدت په دوران کې فقط له خاوند څخه بغير د بل سړي سره نکاح کول ممنوع دي لېکن د خپل خاوند سره نکاح کول جائز دي.

د دريو طلاقونو د حُرمت بيان او د "حلاله" طريقه

وَإِنْ كَانَ الطَّلَاقُ ثَلَاثًا فِي الْحُرَّةِ أَوْ ثِنْتَيْنِ فِي الْأَمَةِ او که د آزادې ښځې په حق کې درې طلاقه وي يا د مينځې په حق کې دوه طلاقه وي لَمْ تَحِلَّ لَهٗ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ نِكَاحًا صَحِيحًا نو ښځه د اول خاوند لپاره نه حلالېږي تر دې چې هغه له اول خاوند څخه بغير د يو بل سړي سره صحيح نکاح وکړي وَيَدْخُلَ بِهَا ثُمَّ يُطَلِّقَهَا أَوْ يَمُوْتَ عَنْهَا او [بيا دا بل سړی] په هغې دخول وکړي بيا وهغې ته طلاق ورکړي يا مړ سي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهٗ تَعَالٰى: فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ [البقرة: ۲۳۰] او اصل په دې باره کې د الله تعالیٰ دا فرمان دی: او که خاوند ښځې ته دريم طلاق ورکړي نو دا ښځه د هغه لپاره نه حلالېږي تر دې چې ښځه له هغه څخه بغير د يو بل سړي سره نکاح وکړي وَالْمُرَادُ الطَّلْقَةُ الثَّالِثَةُ او له [فَإِنْ طَلَّقَهَا څخه] مراد دريم طلاق دی وَالثِّنْتَانِ فِي حَقِّ الْأَمَةِ كَالثَّلَاثِ فِي حَقِّ الْحُرَّةِ او د

مينځي په حق کي دوه طلاقه داسي دي لکه د آزادي ښځي په حق کي چي درې طلاقه دي لِأَنَّ الرِّقَّ مُنَصِّفٌ لِحِلِّ الْمَحَلِّيَّةِ عَلَى مَا عُرِفَ ځکه چي رقيت [غلامتوب] نيمونکی دی د محليت حلت لره لکه څرنګه چي [د أصولو په کتابو کي دا خبره] پېژندل سوې ده ثُمَّ الْغَايَةُ نِكَاحُ الزَّوْجِ مُطْلَقًا بيا [د حَتَّىٰ تَنكِحَ...إلخ] غايت د دويم خاوند سره مطلقاً نکاح کول دي وَالزَّوْجِيَّةُ الْمُطْلَقَةُ إِنَّمَا تَثْبُتُ بِنِكَاحٍ صَحِيحٍ او مطلق زوجيت فقط په صحيح نکاح سره ثابتيږي وَشَرْطُ الدُّخُولِ ثَبَتَ بِإِشَارَةِ النَّصِّ او د دخول شرط په اشارةُ النص سره ثابت سوی دی وَهُوَ أَنْ يُحْمَلَ النِّكَاحُ عَلَى الْوَطْءِ او هغه دا چي نکاح پر وطي حمل کړی سي حَمْلًا لِلْكَلَامِ عَلَى الْإِفَادَةِ دُونَ الْإِعَادَةِ پر إفاده باندي د کلام په حمل کولو سره نه پر إعاده باندي إِذِ الْعَقْدُ اُسْتُفِيدَ بِإِطْلَاقِ اسْمِ الزَّوْجِ ځکه چي عقد د لفظ زَوْج په تلفظ سره مستفاد سوی [حاصل کړی سوی] دی أَوْ يُزَادُ عَلَى النَّصِّ بِالْحَدِيثِ الْمَشْهُورِ يا به په حديثِ مشهور سره پر [دغه پورتني] آيت زياتوب کيږي وَهُوَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ[1]: لَا تَحِلُّ لِلْأَوَّلِ حَتَّىٰ تَذُوقَ عُسَيْلَةَ الْآخَرِ او حديثِ مشهور د نبي ﷺ دا قول دی: نه حلاليږي ښځه د اول خاوند لپاره تر دې چي د بل خاوند مزه وڅکي رُوِيَ بِرِوَايَاتٍ [دا حديث] په څو رواياتو سره نقل سوی دی وَلَا خِلَافَ لِأَحَدٍ فِيهِ سِوَى سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ * او له سعيد بن مسيب څخه بغير په دې کي بل د هيچا اختلاف نسته وَقَوْلُهُ غَيْرُ مُعْتَبَرٍ او د سعيد بن مسيب رَحِمَهُ الله قول معتبر نه دی حَتَّىٰ لَوْ قَضَى بِهِ الْقَاضِي لَا يَنْفُذُ تر دې که قاضي پر هغه فيصله وکړي نو [هم] به نه نافذيږي وَالشَّرْطُ الْإِيلَاجُ دُونَ الْإِنْزَالِ او شرط دخول کول [او وطي کول] دي نه إنزالبدل لِأَنَّهُ كَمَالٌ وَمُبَالَغَةٌ فِيهِ ځکه چي إنزال په دخول [او وطي] کي کمال او مبالغه ده وَالْكَمَالُ قَيْدٌ زَائِدٌ او کمال يو زائد [اضافي] قيد دی.

---

[1] تخريج: أخرجه الائمة الستة كلهم في كتبهم، ابو داؤد في كتاب الطلاق باب المبتوتة لا يرجع إليها زوجها حديث رقم: ٢٣٠٩، والبخاري في كتاب الطلاق حديث رقم: ٥٢٦١، ومسلم في كتاب النكاح حديث رقم: ١١٥.

* أثر: د سعيد بن المسيب رَحِمَهُ الله أثر دا دی: عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ. قَالَ: أَمَّا النَّاسُ فَيَقُولُونَ حَتَّىٰ يُجَامِعَهَا. وَأَمَّا أَنَا فَإِنِّي أَقُولُ: إِذَا تَزَوَّجَهَا تَزْوِيجًا صَحِيحًا لَا يُرِيدُ بِذَلِكَ إِحْلَالًا لَهَا. فَلَا بَأْسَ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا الْأَوَّلُ. (سنن سعيد بن منصور، باب المرأ تطلق ثلاثا...(الخ) ج:٢، ص:٤٩، رقم:١٩٨٩)، په دې أثر کي ذکر سوي دي چي له وطي څخه بغير هم "حلاله" جائز ده.

اللغات: ﴿قُرْبَـان﴾ د سمع د باب مصدر دی، قَـرِبَ يَقْـرَبُ قُرْبًـا و قُرْبَانًـا و قِرْبَانًـا: نږدې کېدل (نږدې راتلل)، ﴿تَصْحِيْح﴾ د تفعيل مصدر دی: صحيح کول، سمول.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو سړی خپلې آزادې ښځې ته درې طلاقه ورکړي، يا خپلې منکوحه مينځې ته دوه طلاقه ورکړي، نو دغه آزاده ښځه او مينځه هغه وخت د دې سړي لپاره حلاليږي کله چې تر عدت تېرولو وروسته د بل سړي سره نکاح وکړي او هغه سړی په دې آزادې ښځې يا مينځې دخول هم وکړي او بيا طلاق ورکړي يا تر طلاق ورکولو مخکې مړ سي، همدې ته "حلاله" وايي: د بل سړي (يعني د دويم خاوند) سره د نکاح کولو دليل دا آيت دی: فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَـهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ"، په دې آيت کې له "فَإِنْ طَلَّقَهَا" څخه مراد دريم طلاق دی، او د آيت مطلب دا دی چې: که خاوند تر دويم طلاق وروسته خپلې ښځې ته دريم طلاق هم ورکړي نو ښځه د هغه لپاره حراميږي، او تر څو چې دا ښځه د بل سړي سره نکاح نه وکړي او طلاق نه ورکړي تر هغه وخته د اول خاوند لپاره نه حلاليږي.

والثنتان إلخ: د مينځې په حق کې دوه طلاقه داسې دي لکه د آزادې ښځې په حق کې چې درې طلاقه دي، يعني لکه څرنګه چې آزاده ښځه په دريو طلاقو سره مغلظه کيږي همدارنګه مينځه صرف په دوو طلاقو سره مغلظه کيږي؛ ځکه مخکې ذکر سوه چې د رقيت (غلامتوب) په وجه د مينځې او غلام په حق کې نعمت هم نيم (نصف) ګرځي او عقوبت (سزا) هم نيمه ګرځي، او د بضع حلال کېدل يو ستر نعمت دی، لهذا مينځه به د آزادې ښځې په نيم طلاق سره مغلظه کيږي چې هغه يو نيم طلاق کيږي، خو څرنګه چې طلاق نه نيمايي کيږي، نو ځکه به په دوو طلاقو سره مغلظه کيږي، د الرِّق مُنَصِّفُ لِحِلِّ المَحَلِيَّة همدغه مطلب دی.

ثم الغاية إلخ: د دې حاصل دا دی چې په پورتني آيت يعني په "فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَـهُ حَتّٰى تَـنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ" کې مطلق د نکاح حکم سوی دی يعني د صحيح او فاسدې نکاح هيڅ قيد پکښې نسته، او حکم چې کله مطلق ذکر سي نو له هغه څخه فرد کامل مراديږي، او د نکاح فردِ کامل صحيح نکاح ده، لهذا "حلاله" فقط په صحيح نکاح سره کول ضَروري دي، په فاسدې نکاح سره "حلاله" کول صحيح نه دي.

وشرط الدخول إلخ: د دې حاصل دا دی چې د "حلاله" لپاره فقط نکاح ضروري نه ده، بلکې له نکاح څخه وروسته د دويم خاوند دخول کول هم شرط او ضروري دي، او دا شرط که څه هم په دلالةُ النص سره ثابت نه دی، مګر په اشارة النص سره ثابت دی او هغه دا چې په دغه آيت کې دوه الفاظ ذکر سوي

دي؛ يو "حَتّٰى تَنۡكِحَ" او بل "زَوۡجًا". نو ځکه به "تَنۡكِحَ" د وطي پر معنیٰ محمول کيږي يعني له "تَنۡكِحَ" څخه به وطي مراديږي، د دې لپاره چي دا آيت پر "إفاده" بلندي حمل کړی سي، ځکه چي له "زَوۡجًا غَيۡرَهٗ" څخه په خپله د نکاح معنیٰ فهمول کيږي، نو اوس که "تَنۡكِحَ" هم د نکاح پر معنیٰ محمول کړی سي، نو بيا به د نکاح "إعاده" لازم سي، او په إعاده کي هيڅ فايده نسته، نو ځکه به دا پر "إفاده" حمل کيږي او له "تَنۡكِحَ" څخه به د وطي معنیٰ مراديږي.

أو يزاد على النص إلخ: د دې حاصل دا دی چي په "حلاله" کي د دخول شرط به له پورتني آيت څخه يا په اشارة النص سره ثابت وي، يا به پر دې آيت په حديثِ مشهور سره اضافه او زياتوب کيږي، او په حديثِ مشهور سره پر کتابُ الله اضافه کول جائز دي، او حديثِ مشهور دا حديث دی: لَا تَحِلُّ لِلۡأَوَّلِ حَتّٰى تَذُوۡقَ عُسَيۡلَةَ الۡآخَرِ (يعني تر څو چي دا ښځه د بل خاوند مزه نه وڅکي، تر هغه وخته پوري د اول خاوند لپاره نه حلاليږي)، صاحب د هدايې فرمايي چي دا حديث په بېلابېلو طريقو او راويانو سره نقل سوی دی او په هغه ټولو فقط په آخر کي وطي په پوره کيږي)، لهذا دا يو زائد قيد سو، نو په دې وجه به دغه قيد په "حلاله" کي شرط او ضروري نه وي.

په "حلاله" کي د مُراهق خاوند حکم

وَالصَّبِيُّ الۡمُرَاهِقُ فِي التَّحۡلِيۡلِ كَالۡبَالِغِ او بلوغ ته نژدې هلک په "حلاله" کولو کي د بالغ په څېر دی لِوُجُوۡدِ الدُّخُوۡلِ فِيۡ نِكَاحٍ صَحِيۡحٍ په صحيح نکاح کي د دخول د موجودوالي په وجه وَهُوَ الشَّرۡطُ بِالنَّصِّ او همدا [دخول په صحيح نکاح کي] شرط دی په آيت سره وَمَالِكٌ يُخَالِفُنَا فِيۡهِ او امام مالک رَحِمَهُ الله په دې سلسله کي زموږ مخالف دی وَالۡحُجَّةُ عَلَيۡهِ مَا بَيَّنَّاهُ او د امام مالک په خلاف هغه دليل حجت دی کوم چي موږ [مخکي] بيان کړی وَفَسَّرَهُ فِي الۡجَامِعِ الصَّغِيۡرِ وَقَالَ: غُلَامٌ لَمۡ يَبۡلُغۡ وَمِثۡلُهُ يُجَامِعُ او امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي د مراهق تفسير بيان کړی دی او فرمايلي يې دي: چي هغه هلک کوم چي [تر اوسه] بالغ سوی نه وي [لېکن] د هغه په شان هلک جماع کولای سي جَامَعَ امۡرَأَةً [او که] هغه د ښځي سره جماع وکړي وَجَبَ عَلَيۡهَا الۡغُسۡلُ نو پر ښځي غسل واجبيږي وَأَحَلَّهَا عَلَى الزَّوۡجِ الۡأَوَّلِ او هغه دا ښځه د اول خاوند لپاره حلاله کوي وَمَعۡنٰى هٰذَا الۡكَلَامِ: أَنۡ تَتَحَرَّكَ آلَتُهٗ وَيَشۡتَهِيۡ او د دې کلام معنیٰ دا ده: چي د هغه ذکَر ښوريږي خوځي او اشتهاء لري وَإِنَّمَا وَجَبَ الۡغُسۡلُ عَلَيۡهَا لِالۡتِقَاءِ

الْخِتَانَيْنِ او پر ښځي د التقاء ختانين په وجه غسل واجبيږي وَهُوَ سَبَبٌ لِنُزُوْلِ مَائِهَا او همدا التقاء ختانين د ښځي د مني د نزول سبب دی وَالْحَاجَةِ إِلَى الْإِيْجَابِ فِيْ حَقِّهَا او [د غسل] واجبولو ضرورت د ښځي په حق کي دی أَمَّا لَا غُسْلَ عَلَى الصَّبِيِّ ليکن پر هلک غسل واجب نه دی وَإِنْ كَانَ يُؤْمَرُ بِهِ تَخَلُّقًا که څه هم د عادت کېدلو [روږدېدلو] لپاره به هغه ته [هم] د غسل حکم کيږي.

اللغات: ﴿مُرَاهِقٌ﴾ هغه هلک چي بلوغ ته نږدې وي، همداسي هلک ته "غُلَامٌ لَمْ يَبْلُغْ" وايي. ﴿يَتَحَرَّكُ﴾ د تفعّل مضارع ده: حرکت کول، ښوربش کول. ﴿يَشْتَهِيْ﴾ د افتعال مضارع ده: اشتهاء کېدل، شهوت راتلل. ﴿إِلْتِقَاء﴾ د افتعال مصدر دی: دوه شيان سره يو ځای کېدل (لګېدل، جوختېدل). ﴿خِتَانَيْنِ﴾ تثنيه د خِتَانٌ ده: د سنت کېدلو ځای، مراد ځني فرج او ذکر دي. ﴿تَخَلُّق﴾ د تفعّل مصدر دی: مراد ځني د غسل سره عادت کېدل (اموخته کېدل) دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو خاوند خپلي ښځي ته دري طلاقه ورکړي، او بيا خاوند د "حلاله" لپاره د هغې نکاح د يو مراهق هلک سره وکړي، او هغه هلک په دې ښځي دخول وکړي او طلاق ورکړي، نو زموږ په نيز په دغه دخول سره "حلاله" ثابتيږي او دا ښځه د اول خاوند لپاره حلاليږي؛ ځکه مخکي ذکر سوه چي د "حلاله" لپاره په صحيح نکاح کي فقط دخول شرط دی او هغه شرط دلته موجود دی، نو ځکه به د مُراهق "حلاله" صحيح او معتبره وي، ليکن د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز د مراهق "حلاله" معتبره نه ده، ځکه چي د هغه په نيز د حلاله لپاره انزال شرط دی، او په مراهق کي د انزال امکان نسته، نو ځکه به د هغه حلاله هم معتبره نه وي، ليکن د امام مالک په خلاف هغه دليل حجت دی کوم چي مخکي بيان سو چي انزال يو زائد قيد او د وطي نتيجه ده. او د حلاله لپاره زائد قيد شرط نه دی بلکي فقط په دخول سره هم کار کيږي.

وفسره إلخ: فرمايي چي امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي د مراهق تعريف داسي کړی دی چي مراهق هغه هلک ته وايي کوم چي بلوغ ته نږدې وي او چي د هغه آله (ذَکَر) متحرک کيږي. او اشتهاء او رغبت لري او د جماع لذت احساسوي؛ نو که داسي هلک د يو ښځي سره جماع وکړي نو پر ښځي غسل واجبيږي او د هغه په جماع سره ښځه د اول خاوند لپاره حلاليږي.

پر ښځي د التقاء الختانين په وجه غسل واجبيږي، ځکه په کتابُ الطهارات کي دا خبره تېره سوه چي که د ښځي ختنه د نارينه د ختنه سره ولګيږي نو غسل واجبيږي (ځکه چي د ښځي مني د ننه وي، نو د هغې په حق کي التقاءُ الختانين د انزال قائم مقام دی)، او دا غسل خصوصاً پر ښځي

واجبيږي، ځکه چې هغه بالغه ده، او د هغې د انزال پېدلو غالب ګومان دی، او په مراهق غسل نه واجبيږي، ځکه چې په مراهق کې د انزال امکان نشته، ليکن بيا به هغه ته د غسل حکم کيږي د دې لپاره چې هغه د غسل سره عادت شي او له شروع څخه په دې احکامو خبر شي.

د "حلاله" يو څو احکام

قَالَ: وَوَطْءُ الْمَوْلَى أَمَتَهُ لَا يُحِلُّهَا فرمايي: او د خپلې مينځې سره د مالک وطي کول هغه نه حلالوي لِأَنَّ الْغَايَةَ نِكَاحُ الزَّوْجِ ځکه چې غايت د زَوج [دويم خاوند] نکاح ده وَإِذَا تَزَوَّجَهَا بِشَرْطِ التَّحْلِيلِ فَالنِّكَاحُ مَكْرُوهٌ او که [يو سړی] د ښځې سره د تحليل [حلاله کولو] پر شرط نکاح وکړي نو نکاح مکروه ده [او امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز] لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: ❶ لَعَنَ اللهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې الله لعنت کړی دی پر حلاله کونکي او د چا لپاره چې حلاله کيږي وَهٰذَا هُوَ مَحْمَلُهُ او همدا د دې حديث محمل دی فَإِنْ طَلَّقَهَا بَعْدَمَا وَطِئَهَا بيا که هغه تر وطي کولو وروسته دغه ښځې ته طلاق ورکړي حَلَّتْ لِلْأَوَّلِ نو دا ښځه د اول خاوند لپاره حلاله ګرځي لِوُجُوْدِ الدُّخُوْلِ فِي نِكَاحٍ صَحِيْحٍ په صحيح نکاح کې د دخول د موجودوالي په وجه إِذِ النِّكَاحُ لَا يَبْطُلُ بِالشَّرْطِ ځکه چې نکاح په [فاسد] شرط سره نه باطليږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يُفْسِدُ النِّكَاحَ ❁ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې نکاح فاسديږي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْمُؤَقَّتِ فِيهِ ځکه چې دا د هغه نکاح په معنیٰ سره ده چې په هغې کې وخت ټاکل شوي وي [يعني د تحليل پر شرط نکاح کول د نکاحِ مؤقت په معنیٰ سره ده] وَلَا يُحِلُّهَا عَلَى الْأَوَّلِ لِفَسَادِهِ او دا [نکاح] د فاسد والي په وجه د اول خاوند لپاره ښځه نه حلالوي وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يَصِحُّ النِّكَاحُ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې نکاح صحيح کيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی وَلَا يُحِلُّهَا عَلَى الْأَوَّلِ [ليکن] دا نکاح د اول خاوند لپاره ښځه نه حلالوي لِأَنَّهُ اسْتَعْجَلَ مَا أَخَّرَهُ الشَّرْعُ ځکه کوم شی چې شريعت وروسته کړی دی [شرط لګونکي

---

❶ تخريج: أخرجه الترمذى فى كتاب النكاح باب ما جاء فى المحلل والمحلل له، حديث رقم: ۱۱۲۰. والنسائى فى كتاب الطلاق، باب إحلال المطلقة ثلاثا حديث رقم:۳۴۲۵.

❁ القول الراجح: هو قول أبى حنيفة أن النكاح بشرط التحليل مكروه، كما ذكر فى فتح القدير (ج:۴، ص:۲۴). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۴۲]

کس] په تلوار سره د هغه طلب وکړي فَيُجَازَى بِمَنْعِ مَقْصُوْدِهٖ نو بدله به ورکول کيږي د هغه د مقصود په منع کولو سره كَمَا فِي قَتْلِ الْمُوَرِّثِ لکه د مُورث په قتل کولو کي چي داسي کيږي.

اللغات: ﴿غَايَةٌ﴾ انتهاء، آخري، ﴿تَحْلِيْل﴾ د تفعيل مصدر دی: حلالول (يعني د اول خاوند لپاره ښځه حلاله او روا گرځول)، ﴿مُؤَقَّت﴾ د تفعيل اسم مفعول دی: وخت ورکول سوی، تاکلي وخت والا، نېټه دار، ﴿إِسْتَعْجَلَ﴾ په تلوار سره د يو شي طلب کول (تلوار پکښي کول)، ژر د يو شي غوښتنه کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مينځه د يو سړي په نکاح کي وي او هغه دوه طلاقه ورکړي او له خپل نکاح څخه يې وباسي، بيا د مينځي مالک د هغې سره وطي وکړي، نو په دې وطي سره "حلاله" نه ثابتيږي، يعني په دې وطي سره دا مينځه د هغه سړي (خاوند) لپاره نه حلاليږي؛ دليل دا دی چي په مخکني آيت "حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ" کي د ښځي د حلالېدلو علت زَوْج (دويم خاوند) گرځول سوی دی او مالک زَوْج نه دی، نو ځکه به د هغه په وطي سره حِلت نه ثابتيږي.

وَإِذَا تَزَوَّجَهَا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو سړی د مطلقه مغلظه ښځي سره د "حلاله" (تحليل) پر شرط نکاح وکړي، يا مثلاً مطلقه مغلظه ښځه د يو سړي سره د "حلاله" پر شرط نکاح وکړي (يعني د نکاح په وخت کي په ښکاره لفظو سره مثلاً دا شرط ولگوي چي زه ستا سره پر دې شرط نکاح کوم چي د اول خاوند لپاره حلاله سم او ته به ما ته بيرته طلاق راکوې)، نو په داسي نکاح سره خو "حلاله" ثابتيږي، لېکن داسي نکاح کول (يعني د "حلاله" پر شرط نکاح کول) مکروه دي (د امام صاحب په نيز)؛ ځکه چي په حديث کي پر "حلاله" کونکي او د چا لپاره چي "حلاله" کيږي لعنت سوی دی، او دا لعنت په هغه صورت کي دی کله چي د حلاله پر شرط نکاح وسي، نو په دې وجه حکم دا دی چي سړی او ښځه دي دواړه فقط په زړه کي د "حلاله" نيت وکړي او د نکاح په وخت کي دي د "حلاله" اظهار نه کوي د دې لپاره چي د لعنت څخه وساتل سي.

لنډه دا چي کله يو سړی يا ښځه د حلاله پر شرط نکاح وکړي او تر وطي کولو وروسته سړی او ښځه طلاق سره واخلي، نو دا وطي مُحلِّل (حلاونکي) گرځي او ښځه د اول خاوند لپاره حلاليږي، ځکه چي د حِلت لپاره په صحيح نکاح کي وطي کول شرط دي او دا شرط دلته موجود دی. او پاته سو د "حلالهَ" (تحليل) شرط لگول، نو په هغه سره د نکاح پر صحت هيڅ اثر نه پرېوځي. ځکه مخکي ذکر سوه چي نکاح په شروطِ فاسده وو سره نه فاسديږي.

ومن أبي يوسف إلخ: او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دا روايت سوى دى چي د حلاله (تحليـل) پر شرط نكاح فاسده ده، ځكه چي دا نكاح د نكاحِ مؤقت په معنىٰ سره ده، او نكاح مؤقت (يعني تر معلوم وخته پوري نكاح كول) فاسده نكاح ده، نو د حلاله پر شرط نكاح به هم فاسده وي، لهذا كله چي نكاح فاسده ده، نو د دې نكاح په وطي سره به ښځه هم حلاله نه ګرځي، ځكه چي د حلاله (تحليـل) لپاره صحيح نكاح شرط ده، وهو لم يُوجد.

ومن محمد إلخ: په دې سلسله كي له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دى چي د حلاله (تحليـل) پر شرط خو نكاح صحيح ده، ځكه چي په شروطِ فاسده وو سره نكاح نه باطليږي، لېكن په دې نكاح سره حلاله نه ثابتيږي، ځكه چي شريعت دائمي او ابدي نكاح روا كړې ده، او د دويم خاوند پر مرګ يې حلاله موقوفه كړې ده او د هغه تر مرګه پوره يې مؤخر كړې ده، لېكن د حلاله د شرط په لګولو سره دغه موقوفه او مؤخره نكاح مقدمه او مخكي ګرځي، نو ځكه به د شرط لګونكي دا شرط او عمل رد كيږي او هغه به له حلاله څخه محروميږي، لكه يو سړى چي د ژر ميراث حاصلولو لپاره خپل مورث قتل كړي نو هغه له ميراث څخه محروميږي، ځكه كه څه هم هغه د ميراث مستحق دى خو د هغه استحقاق د مورث تر فطري مرګ (خدايي مرګ) وروسته دى، لېكن قتل كونكي وارث د هغه د ژر حاصلولو كوښښ وكړى او د شريعت تر ټاكلي وخت يې مقدم كړى، نو د هغه دا كوښښ به ضايع او بېكاره وي، همداسي به په دې مسئله كي هم د شرط لګونكي نكاح خو صحيح وي لېكن د حلاله (تحليل) شرط به ضايع او بېكاره وي، او حلت به نه په ثابتيږي.

مسئلةُ الهدم (د "هدم" مسئله)

وَإِذَا طَلَّقَ الْحُرَّةَ تَطْلِيقَةً أَوْ تَطْلِيقَتَيْنِ او كه [خاوند] آزادي ښځي ته يو يا دوه طلاقه وركړه وَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا او د هغې عدت پوره سو وَتَزَوَّجَتْ بِزَوْجٍ آخَرَ او [بيا] هغې د دويم خاوند سره نكاح وكړه ثُمَّ عَادَتْ إِلَى الزَّوْجِ الْأَوَّلِ [او بيا [بيرته] د اول خاوند وطرف ته را واپس سوه [يعني بيرته دا اول خاوند په نكاح كي راغله] عَادَتْ بِثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ نو [اوس] هغه په دريو طلاقو سره را واپس سوه [يعني اوس هغه د دريو طلاقو د ملكيت سره د اول خاوند په نكاح كي راغله، مطلب دا چي خاوند اوس هم هغې ته د دريو طلاقو د وركولو ملكيت او اختيار لري] وَيَهْدِمُ الزَّوْجُ الثَّانِي مَا دُونَ الثَّلَاثِ كَمَا يَهْدِمُ الثَّلَاثَ او دويم خاوند تر دريو طلاقو نو

کم داسي ساقطوي [له منځه وړي] لکه څرنګه چي درې طلاقونه ساقطوي **وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ** او دا [حکم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی **وَقَالَ مُحَمَّدٌ : لَا يَهْدِمُ مَا دُونَ الثَّلَاثِ** او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دويم خاوند تر دريو طلاقونو کم نه ساقطوي **لِأَنَّهُ غَايَةٌ لِلْحُرْمَةِ بِالنَّصِّ** ځکه چي دويم خاوند د آيت په وجه سره د حرمت [غليظه] غايت دی **فَيَكُونُ مُنْهِيًا** نو هغه به د حرمت [غليظه] ختمونکی وي **وَلَا إِنْهَاءَ لِلْحُرْمَةِ قَبْلَ الثُّبُوتِ** او تر حرمت ثابتېدلو مخکي حرمت نه سي ختم کېدای [يعني د حرمت ختمول د حرمت تر ثبوت مخکي نه سي کېدای] **وَلَهُمَا قَوْلُهُ ﷺ: لَعَنَ اللهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ** او د شيخينو دليل د نبي کريم ﷺ دا حديث دی: لعنت کړی دی الله پر حلالونکي [حلاله کونکي] او د چا لپاره چي حلاله کيږي **سَمَّاهُ مُحَلِّلًا** [په دې حديث کي] نبي کريم ﷺ دويم خاوند په مُحلل [حلالونکي] سره نوموړی دی **وَهُوَ الْمُثْبِتُ لِلْحِلِّ** او مُحلل هغه دی [يعني مُحلل هغه سړي ته وايي] چي حلالوالي ثابتوي.

اللغات: ﴿يَهْدِمُ﴾ د ضرب مضارع ده: نړول، ساقطول، له منځه وړل.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی خپلي آزادي ښځي ته تر دريو طلاقو کم يعني يو، يا دوه طلاقه ورکړي او تر عدت تېرېدلو وروسته دا ښځه ديو بل سړي سره نکاح وکړي او بيا هغه بل سړی طلاق ورکړي او تر عدت تېرېدلو وروسته واپس د اول خاوند په نکاح کي راسي، نو د شيخينو په نيز اوس دغه ښځه په دريو طلاقو سره (د خاوند په نکاح کي) را واپس کيږي، يعني دغه اول خاوند به بيرته د دريو طلاقو مالک وي او تر څو چي درې طلاقه نه ورکړي تر هغه وخته به دا ښځه مُطلّقهٔ مُغلّظه نه ګرځي، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي اوس به اول خاوند فقط له مخکني نکاح څخه د مَا بَقِيَ (پاته) طلاقونو مالک وي، يعني که اول خاوند په اوله نکاح کي ښځي ته دوه طلاقه ورکړي وي نو اوس به هغه ديوه طلاق مالک وي، او که مخکي هغه يو طلاق ورکړی وي نو اوس به د دوو طلاقو مالک وي.

د امام محمد دليل: دا دی چي که څه هم دويم خاوند درې طلاقه منهدم کوي او ساقطوي لېکن مَا دُون الثّلاث نه ساقطوي، ځکه چي په دې آيت "فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ" کي د "فَلَا تَحِلُّ لَهُ" په ذريعه دويم خاوند د حُرمتِ غليظه غايت ګرځول سوی دی، او د غايت

سره يو ځاى مغيا هم ختميږي، لهذا دويم خاوند به فقط د حرمتِ غليظه يعني د دريو طلاقو ساقطونکى او ختمونکى وي.

لېکن په دې مسئله کې خاوند تر دريو کم طلاقونه ورکړي دي، لهذا دلته حرمت غليظه ثابت نه و. او کله چې حرمت غليظه ثابت نه دى نو هغه به څرنګه دويم خاوند ختم کړي (ځکه چې يو شى هغه وخت ختميږي، کله چې يو وار ثابت سي)، نو ځکه به د يوه يا دوو طلاقو په صورت کې اول خاوند فقط د مَابقي طلاقونو مالک وي.

د شيخينو دليل : دا حديث دى: "لَعَنَ اللهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ"، په دې حديث سره شيخين په دې توګه دليل نيسي چې نبي ﷺ په دې حديث کې دويم خاوند مُحلّل (حلالونکى) ګرځولى دى، او د مُحلّل مطلب دا دى چې دويم خاوند دا اول خاوند لپاره ښځه حلالوي، او په دې حديث کې دا قيد نسته چې که يو طلاق وي يا درې طلاقه وي نو بيا دويم خاوند مُحلّل دى، لهذا کله چې دا ډول هيڅ قيد نسته نو په دې وجه به هغه په هر حال کې مُحلّل او حِلّت ثابتونکى وي، لهذا ښځه به هم په هر حال کې په دريو طلاقو سره اول خاوند ته را واپس کيږي يعني په هر حال کې به اول خاوند د دريو طلاقو مالک وي. (اثمار الهداية ج:۵، ص:۱۵۳)

که مطلقهٔ مغلظه ښځه د خپل ځان پاکېدلو (حلاله کولو) دعوىٰ وکړي نو څه حکم دى؟

وَإِذَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا او که [خاوند] ښځي ته درې طلاقه ورکړل فَقَالَتْ: قَدِ انْقَضَتْ عِدَّتِي بيا ښځي وويل: چې زما عدت پوره سو وَتَزَوَّجْتُ او [بيا] ما اد دويم خاوند سره] نکاح وکړه وَدَخَلَ بِي الزَّوْجُ وَطَلَّقَنِي او [دويم] خاوند په ما دخول وکړى او [بيا] يې طلاق راکړى وَانْقَضَتْ عِدَّتِي او زما [دويم] عدت [هم] پوره سو وَالْمُدَّةُ تَحْتَمِلُ ذٰلِكَ او مودت [هم] د دې احتمال لري جَازَ لِلزَّوْجِ أَنْ يُصَدِّقَهَا إِذَا كَانَ فِي غَالِبِ ظَنِّهِ أَنَّهَا صَادِقَةٌ نو د [اول] خاوند لپاره جائز دي چې د هغې تصديق وکړي کله چې د هغه غالب ګومان وي چې دا ښځه [په خپله دعوىٰ کې] رېښتونې ده لِأَنَّهُ مُعَامَلَةٌ أَوْ أَمْرٌ دِينِيٌّ ځکه چې نکاح يو معامله ده يا يو ديني أمر دى لِتَعَلُّقِ الْحِلِّ بِهِ ځکه چې د نکاح سره حِلّت متعلق دى وَقَوْلُ الْوَاحِدِ فِيهِمَا مَقْبُولٌ او په معامله او ديني أمر کې د يوه سړي قول [هم] قبليږي وَهُوَ غَيْرُ مُسْتَنْكَرٍ إِذَا كَانَتِ الْمُدَّةُ تَحْتَمِلُهُ او د ښځي دغه دعوىٰ [او خبر] د انکار قابل نه دى کله چې مودت د دې احتمال لري وَاخْتَلَفُوا فِي أَدْنَى هٰذِهِ

الشُّذُّ لږه دي [موده] په ادنیٰ مودت کي فقهاؤ اختلاف کړی دی وَسَنُبَيِّنُهَا فِي بَابِ الْعِدَّةِ او هغه به موږ [انشاء الله] په بابُ العدت کي بيان کړو.

اللغات: ﴿مُسْتَنْكَرٌ﴾ د استفعال مصدر دی: د انکار قابل (د انکار وړ). د انکار تقاضا لرونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي خپلي ښځي ته درې طلاقه ورکړل او ښځه يو څه وخت وروسته بيرته اول خاوند ته راغله او ورته وويل چي ما ستا عدت تېر کړی. او بيا مي د بل خاوند سره نکاح وکړه هغه زما سره جماع وکړه او بيا هغه هم ما ته طلاق راکړی او اوس د هغه عدت هم پوره سو، نو که ستا زړه غواړي، راسه! بيا نکاح سره وکړو!. نو په دې صورت کي حکم دا دی چي که دغه اول خاوند ته د ښځي د رښتياوالي يقين وي چي ښځه رښتيا وايي يا يې غالب گومان وي چي هغه رښتيا وايي، او رښتيا هم دومره وخت تېر سوی وي چي دا ټوله معاملې پکښي پوره کېدای سي (چي هغه د صاحبينو په نېز ټولي ټرونيوي ۹۳ ورځي کيږي. تفصيل به د تشريح په آخر کي ذکر سي)، نو اول خاوند ته دا حق سته چي د هغې تصديق وکړي او دويم ځل نکاح ور سره وکړي: دليل دا دی چي په شرعي توگه د نکاح دوه حيثيته دي: ① ... يو دا چي نکاح يو معامله ده. ځکه چي په نکاح کي د ښځي پر بضع (شرمگاه) قبضه کيږي، نو په دې اعتبار سره نکاح معامله ده. ② دويم دا چي نکاح يو ديني أمر او عقد دی، ځکه چي د نکاح په ذريعه خاوند او ښځه يو د بل لپاره حلاليږي، او په معامله کي د شخصِ واحد (يوه کس) گواهي هم قبليږي (هغه که ښځه وي او که نارينه وي). همدارنگه په أمرِ ديني کي هم د يوه کس گواهي قبليږي، نو ځکه به دلته د دغه ښځي دعویٰ او قول منل کيږي او د اول خاوند لپاره به دويم ځل د هغې سره نکاح کول صحيح او حلال وي. او خصوصاً کله چي دومره مودت تېر سوی وي چي په هغه کي دا ټوله شيان ممکن وي، نو بيا به له څه وجهي څخه بغير د دغه ښځي قول او دعویٰ نه رد کيږي. بلکي که د خاوند زړه مطمئن وي نو هغه ته پکار دي چي د دې ښځي ارمانونه پوره کړي او بيا نکاح ور سره وکړي.

واختلفوا إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي " د ښځي د قول د منلو لپاره د هغې د طلاق او د هغې د قول او دعوې تر مينځ بايد څومره مودت فاصله وي؟ په دې باره کي د فقهاؤ مختلف أقوال دي.

او دا به موږ انشاء الله په بابُ العدة کي بيان کړو": ليکن معلومه نه ده چي صاحب د هدايې ولي دغه أقوال په بابُ العدة کي نه دي بيان کړي، شايد خپله وعده به ځني هېره سوي وي. خو بيا هم عربي شارحينو د دې خلاصه داسي بيان کړې ده چي:

① ... د صاحبينو په نېز دغه مودت (۹۳) ورځي دی. ② ... د امام اعظم صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پوره دوې مياشتي يعني (۶۰) ورځي دی. ③ ... د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د دغه مودت ادنیٰ مقدار (۳۲) ورځي دی (د دې مطلب دا دی چي نهه دېرش ۳۲ ورځي به د اول خاوند عدت شمارل

کیږي، او ۳۲ ورځې به د دویم خاوند عدت شمارل کیږي، او ۱۵ ورځې به د هغه طهر ور سره جمع کیږي چې په هغه کې بنځې د دویم خاوند سره نکاح کړې وي). ④... د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز د دې مودت ادنیٰ مقدار (۴۰) ورځې دی، ④... او د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ الله په نېز د دې مودت ادنیٰ مقدار (۲۹) ورځې دی. (عناية، بناية ج:۵، ص:۲۶۶)

یادونه: د صاحبینو په نېز څکه دغه مُودت درو نیوي (۹۳) ورځې کیږي چې هغوی د هر خاوند د عدت ادنیٰ مودت (۳۹) ورځې شماري، په دې توګه چې د حیض ادنیٰ مودت (۳) ورځې دی، نو د دریو حیضو (۹) ورځې سوې، او د دوو حیضونو ترمینځ کم از کم (۱۵) ورځې مودت دی (یعني کم از کم هر طهر ۱۵ ورځې وي) او د دریو حیضو په مینځ کې دوه طهره راځي نو د دوو طهرو (۳۰) ورځې سوې، نهه (۹) او دېرش (۳۰) چې سره جمع کړل سي نو (۳۹) ورځې کیږي، دا د اول خاوند عدت سو، تر دې وروسته بل طهر راځي چې په هغه کې به بنځې د دویم خاوند سره نکاح کړې وي او طهر (۱۵) ورځې وي نو (۱۵) ورځې د دغه طهر سوې، تر دې وروسته به بنځه (۳۹) ورځې د دویم خاوند عدت تېروي، نو د ټولو مجموعه (۹۳) ورځې سوې، چې د هغه نقشه په لاندې ډول ده:

د اول خاوند د عدت ورځې	=	حیض	طهر	حیض	طهر	حیض	مجموعه
	=	۳	۱۵	۳	۱۵	۳	۳۹
د دویم خاوند سره د نکاح کولو او د هغه د عدت ورځې	طهر	حیض	طهر	حیض	طهر	حیض	مجموعه
	۱۵	۳	۱۵	۳	۱۵	۳	۵۴
د دواړو عدتونو مجموعه	۳۹ + ۵۴ = ۹۳ درو نیوي ورځې						

خلاصه دا چې کله دغه بنځه د اول خاوند د طلاق له وخت څخه (۹۳) ورځې وروسته راسي، نو د صاحبینو په نېز خاوند ته دا حق سته چې د هغې تصدیق وکړي او دویم ځل نکاح ور سره وکړي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَأَهْلِ بَيْتِهٖ وَعِتْرَتِهٖ أَجْمَعِيْنَ.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِشَارِحِهٖ وَلِوَالِدَيْهِ وَلِأَسَاتِذَتِهٖ وَلِمَنْ سَعٰى فِيْهِ. آمین

احقر حبیب الرحمن مدني



